تفسیر

معارف القرآن

په قندهاري پښتو

تالیف

مفتی اعظم پاکستان مولانا محمد شفیع

پښتو ترجمه کوونکی ابوصدیق احمد مولوی نصیر احمد حقانی

تصحیح او سمون: مولوی نصیر احمد حقانی او مولوی امین الله حقانی

مکتبه حنفیه
گانسی روډ۔ کوټه



Maktaba Tul Ishaat .com



تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کررہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
تمام فنون		

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

Maktaba Tul Ishaat.com

تفسیر

معارف القرآن

په قندهاري پښتو کې

(تالیف)

مفتی اعظم پاکستان مولانا محمد شفیع رحمة الله علیه

پښتو ترجمه کوونکي (ابو صدیق احمد .... مولوی نصیر احمد حقّانی)

تصحیح اوسمون... مولوی نصیر احمد (حقّانی) او مولوی آمین الله (حقّانی)

دکمپوز او ترجمي چارې .... الدین العلم کمپوزنگ (۰۳۰۱۳۷۸۴۹۵۶)

جلد اوّل پاره (۱) ..... (۲) ..... (۳)

خپرونکي

مکتبہ حنفیہ

کانسي روډ حاجي غیبي چوک کوئټه

فون نمبر (۲۶۶۲۵۱۰)

چاپ ځای .... لاهور

مضمون	فهرست تفسیر معارف القرآن	مخ

اللهم اختم لنا بالخیر والسعادة والبشارة والایمان

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ۝

﴿ســــريــــزه﴾

دپلار محترم حضرت مولانامفتی محمّد شفیع صاحب مدّظلهم تفسیرمعارف القرآن ته الله ﷻ په عوامو او خواصو کی غیر معمولی مقبولیت ورکړی دی او د اول جلد اولنی چاپ لاس په لاس کی ختم سو. د دوهم چاپ دطباعت پروخت حضرت مصنّف مدّظلهم په اول جلد په مکمل توګه سره نظرثانی وفرمایله او کافی ترمیم او زیاته تبدلی او اضافه په کی په عمل کی راغله. ددې سره دحضرت موصوف غوښتنه وه چی دبل چاپ په وخت کی د اول جلد په شروع کی دعلوم قرآن اوصول تفسیر متعلق یوه مختصره مقدمه هم تحریر وفرمایی چی دتفسیردمطالعی څخه دمخه ویونکي ددغوضروري معلوماتونه فائده واخلی لیکن دمتواترو مرضونو اوکمزوری په بنادموصوف دپاره پخپله ددې مقدمې تصنیف مشکل وو. دارنګه حضرت موصوف دا ذمه واری احقرته وسپارله.

احقر دحکم دتعمیل او دسعادت حاصلولو دپاره دا کارشروع کی نودا مقدمه ډیره اوږده سوه. او دعلوم قرآن پرموضوع دخاص مفصل کتاب صورت جوړسو. دغه پوره کتاب دمعارف القرآن په شروع کی په شکل دمقدمی شاملول مشکل وو په دی وجه دحضرت والدصاحب مدّظلهم په اشاره باندې احقر ددغه مفصل کتاب تلخیص وکی او یوازی هغه بحثونه باقی پریښوول سول دکومو مطالعه چی دتفسیر معارف القرآن دمطالعه کوونکو دپاره ضروري وه او کوم چی دیوعام قاری دپاره دزړه ښه کیدو باعث کېدای سی. دمعارف القرآن دا تلخیص د اول جلد ترنظر لاندې چاپ سره په توګه دمقدمی شاملولای سی. الله ﷻ دی دا دمسلمانانودپاره نفع منده او فائده منده وګرځوي. او ددې عاجزه بنده دپاره دې ذخیره د آخرت ثابته کړی. په دې موضوعاتو به مبسوط علمی بحثونه په مفصل کتاب کی پیدا کیږي کوم چی به انشاء الله عنقریب (ډیرژر) چاپ سي که څوك يې شوق لری په هغه کی دی وګوری.

وَمَا تَوۡفِيۡقِيۡٓ اِلَّا بِاللّٰہِ ؕ عَلَيۡہِ تَوَكَّلۡتُ وَاِلَيۡہِ اُنِيۡبُ .

دارالعلوم کورنګی — احقر محمّد تقی عثمانی

کراچی ۱۴ — ۲۳ ربیع الاول سـ ۱۳۹۴ سـنـه هـ

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ وَكَفٰى وَسَلَامٌ عَلٰى عِبَادِہِ الَّذِيۡنَ اصۡطَفٰى

وحی او ددې حقیقت

قرآن شریف چونکه پر سرورکائنات حضرت محمّد ﷺ باندې دوحی په ذریعه نازل کړل سوی دی. په دی وجه دټولو څخه مخکی دوحی په باره کی په څو ضروري خبرو باندې پوهیدل په کار دی.

﴿دوحی ضرورت﴾

هرمسلمان پوه دی چی الله ﷻ انسان دی دنیاته دامتحان دپاره را لیږلی دی او دده پرذمه یی څه فرائض

لازم کړي دي او ټول کائنات يې دده په خدمت کې لګولي دي ، په دې وجه دنياته دراتلو څخه وروسته دانسان دپاره دوه کارونه ډېر ضروري دي ، يو دا چې هغه ددې کائناتوڅخه اوپه دې کې دپيدا سوو شيانو څخه صحيح کار واخلي ، او دوهم دا چې دا کائنات د استعمالولو سره دالله ﷻ احکام په نظرکې ساتي او يو داسې حرکت ونه کې کوم چې د الله ﷻ دخوښې خلاف وي.

ددې دواړو کارونو دپاره انسان ته دعلم ضرورت دی ، ځکه چې ترڅو پورې ده ته دا معلومه نه سي چې ددې کائناتو حقيقت څه دې ؟ ددې دکوم شي څه خاصيات دې ؟ ددې څخه فائده څنګه اخيستل کيږي ؟ تر دغه وخته پورې دی ددنيا هيڅ شي هم دخپلي فائدې دپاره نه سي استعمالولای ، دارنګه ترڅو پورې چې ده ته دا معلومه نه وي چې د الله ﷻ خوښې څه ده ؟ هغه کوم کارونه خوښوې او کوم نه خوښوي ؟ تر دغه وخته پورې دده دپاره د الله ﷻ دخوښې برابر ژوند تيرول ممکن نه دی.

دارنګه الله ﷻ انسان لره دپيداکولوسره درې شيان داسې پيداکړي دي دکوموپه ذريعه چې ده ته د ذکرسووخبروعلم حاصليږي ، يودانسان حواس ، يعني سترګې ، غوږونه ،خُله اولاسونه اوپښې ، دوهم عقل اودريم وحی ، دارنګه انسانته ډيرې خبرې دخپلوحواسو په ذريعه معلوميږي ، ډيرې دعقل په ذريعه او کومې خبرې چې په دې دواړو ذريعو سره نه سي معلومېدای دهغه علم دوحی په ذريعه ورکول کيږي.

دعلم په دې درو ذريعوکې ترتيب څه داسې دی چې دهر يوه خاص حد او مخصوص دائره دکار ده چې ددغه څخه مخکې دی کارنه سي ورکولای ، دارنګه کوم شيان چې انسان ته په خپلو حواسو سره معلوميږي دهغه علم يوازې په عقل سره نه سي کيدای ، مثلا که يو ديوال په سترګو وويني تاته به دا علم وسي چې ددې رنګ سپين دي ليکن که ته خپلي سترګې بندې کړې اويوازې دعقل په کومك سره ددې رنګ معلومول وغواړې نو دا ناممکنه ده ، دغه رنګه دکومو شيانو علم چې په عقل سره معلوميږي هغه يوازې په حواسو سره نه سی معلومېدای مثلاً که ته يوازې په سترګو سره ووينې يايې په لاسو مسه کړې نو دا درك نه سی لګولای چې دا ديوال يو انسان جوړکړی دی ، بلکه دې نتيجې ته درسيدو دپاره دعقل ضرورت دی.

غرض دا چې ترکومه پورې چې حواس خمسه کار کوی هلته عقل راهنمايی نه سی کولای اوکوم ځای چې حواس خمسه جواب ورکی ، هلته دعقل کار شروع کيږي، ليکن ددې عقل راهنمايی هم غيرمحدوده نه ده دی هم تريوحده پورې ولاړسی او ودريږي او ډيرې خبرې داسې دی چې علم يی نه په حواسوسره معلومېدای سی اونه دعقل په ذريعه ، مثلاًدهغه ديوال متعلق دا معلومول چې دا په څه رنګ استعمالولو سره الله ﷻ راضی او په څه رنګ استعمالولو سره به ناراضه وی. دا نه دحواسو په ذريعه ممکنه ده او نه دعقل په ذريعه ، ددې قسم سوالونو جواب انسان ته د ورکولو دپاره چې کومه ذريعه الله ﷻ مقرره فرمايلی ده دهغه نوم وحی ده ، او ددې طريقه دا وی ، چې الله ﷻ دخپلو بندګانو څخه يو څوك منتخب کی خپل پيغمبر يی جوړ کړی او پرده خپل کلام نازلوی دی کلام ته (وحی) ويل کيږي.

ددې څخه واضحه سوه چې وحی دانسان دپاره هغه اعلی ترينه ذريعه دعلم ده کومه چې ده ته ددې ژوند متعلق دهغوسوالونو جوابونه تيار وی کوم چې دعقل او دحواسو په ذريعه نه سی حل کېدای ، ليکن

ددې علم حاصلول ده لره ضروری دی . ددې څخه دا هم واضحه کیږي چی یوازی عقل اومشاهده دانسان دراهنمایی دپاره کافی نه دی ، بلکه دده دهدایت دپاره وحی الهی یو ناچاره ضرورت دی ، اوچونکه په بنیادي توګه دوحی ضرورت هغه ځای پیښیږي کوم ځای چی عقل کار نه کوی ، په دی وجه دا ضروری نه ده چی دوحی دهری یوې خبری ادراك دې په عقل سره وسی ، بلکه لکه څنګه چی دیو شي رنګ معلومول دعقل کارنه دی ، بلکه دحواسو کار دی ، دغه رنګه د ډیرو دیني عقیدوعلم ورکول هم دعقل پرځای دوحی منصب دی او ددې د ادراك دپاره یوازی په عقل باندی باورکول صحیح نه دی .

کوم سړی چی (معاذالله) دخدای ﷻ دوجود قائل نه وی ، دده سره خو دوحی پرمسئله خبره کول بالکل بی ګټی ده، لیکن کوم سړی چی د الله ﷻ په وجود او دده په قدرت کامله ایمان لری ، دده دپاره دوحی عقل ضرورت ، ددې امکام او حقیقي وجود ورلره ګڼل څه مشکل نه دی ، که ته په دی خبره ایمان لری چی دا کائنات یو قادر مطلق پیدا کړی دی ، هغه ددې مربوط او مستحکم نظام په خپل حکمت بالغه سره چلوی او دانسان دیوخاص مقصد ترمخه دلته را لیږلی دی ، نو بیاڅنګه ممکنه ده چی د انسان دپیداکولوڅخه وروسته دی بالکل په تاریکه کی پریښی وی او ده ته یي داقدر هم نه وی وربښوولی چی دی ولی دی دنیاته راغلی دی ؟ دلته دده څه فرائض دی ؟ دده منزل مقصودڅه دی ؟ او دی په څه شان سره خپل دژوند مقصد حاصلولای سی ؟ آیایو سړی دچاهوش اوحواس چی برابر وی داسی کولای سی چی خپل نوکرلره دیوخاص مقصد دپاره په یو سفر ولیږي او ده ته نه دتللو په وخت کی دسفر مقصد وروښیی اونه وروسته دیو پیغام په ذریعه په ده داواضحه کړی چی دی دکوم کار دپاره لیږل سوی دی ؟ او دسفر په دوران کی به دده وظیفه څه وی ؟ هرکله چی دیومعمولی عقل انسان هم داسی حرکت نه سی کولای نواٰخرخداوند قدوس په باره کی دا تصورڅنګه کیدای سی دچاپه حکمت بالغه سره چی دکائناتو دا ټول نظام چلیږي ؟ دا اخرڅنګه ممکنه ده چی یو ذات لمر، سپوږمی ، اسمان مځکه ، ستورو او سیاروغوندی عقل حیرانوونکي نظام پیدا کړی وی ، هغه دې خپلوبندګانوته دپیغام رسولو یو داسی انتظام هم ونه کړل سی دکوم په ذریعه چی انسانانو ته د دوی دژوند دمقصدمتعلق هدایات ورکړل سی ؟ که د الله ﷻ په حکمت بالغه باندی ایمان وی نو بیا به دا هم منل وی چی هغه خپل بندګان په تاریکه کی نه دي پریښی ، بلکه د دوی دراهنمایی دپاره یی څه باقاعده نظام ضرور جوړ کړی دی ، بس دراهنمایی ددې باقاعده نظام نوم وحی او رسالت دی .

په دی سره صفاواضحه کیږي چی (وحی) محض یوه دینی عقیده نه ده بلکه یوعقلی ضرورت دی دکوم څخه انکار چی په حقیقت کی دالله ﷻ دحکمت بالغه څخه انکار دی .

﴿ پر رسول الله ﷺ باندی دنزول دوحی طریقی ﴾

دوحی او رسالت دا مقدسه سلسله پر سردار دوعالم محمّد مصطفیٰ ﷺ باندی ختمه سوه اوس به نه پر یو انسان وحی نازله سی اونه ددې ضرورت سته پر رسول الله ﷺ به په مختلفو طریقو سره وحی نازلیده ، دصحیح بخاری په یوه حدیث کی حضرت عائشه ﵂ فرمایي چی یو وخت حضرت حارث بن هشام درسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چی پر تاوحی څنګه راځی ؟ نو رسول الله ﷺ وفرمایل چی کله وماته

درنګولی په ډول سره اواز او ریدل کیږي او دوحی دا صورت زما دپاره دټول څخه زیات سخت وی ، بیاچې کله دا سلسله ختمه سی ، نو څه چې دی اواز ویلی وی ماته یادسوی وی ، او کله ملائکه زما مخته دیو سړی په صورت کی راځی (صحیح بخاری ج ۱ صـ ۲)

په دی حدیث کی رسول الله ﷺ دوحی اوازته درنګولی دا واز سره چې کومه تشبیه ورکړی ده ، شیخ محی الدین عربی رحمه الله ددې مطلب دا بیان کړی دی چی یوخو دوحی اواز درنګولی په ډول مسلسل وی او په مینځ کی پریکیږي نه ، دوهم رنګوله چی کله مسلسل رغیږي ، نو په عامه توګه سره اوریدونکي ته ددې د اواز طرف متعین کول مشکل وی ، ځکه چی ددې اواز دهر طرف څخه راتلونکي محسوسیږي او دکلام الهی خصوصیت هم دا دی چی دده یو سمَت (طرف) نه وی ، بلکه دهرطرف څخه اواز اوریدل کیږي ، ددې دکیفیت صحیح ادراك خو بغیر دمشاهدی څخه ممکن نه دی ، لیکن دا خبره عامو ذهنونو ته دنژدی کولو دپاره رسول الله ﷺ دې ته درنګولې د اواز سره تشبیه ورکړی ده (فیض الباری ۱۹۱۱ و ۲۰)

چی کله به په دی طریقه سره پر ده ﷺ وحی نازلیده نو پر ده ﷺ به ډیر زیات تکلیف راتلی حضرت عائشه رضی الله عنها ددې حدیث په اخرکی فرمایی چی ما سخت یخ په ورځ پر ده ﷺ وحی نازلیدل لیدلی دی ، په داسی یخ کی به هم چی کله دوحی سلسله ختمه سوه نو دده ﷺ تندی مبارك دخولو څخه ډك وو ، په یو بل روایت کی حضرت عائشه رضی الله عنها فرمایی چی کله به پرده وحی نازلیده نو د دوی ﷺ ساه به بندیده ، نورانی مخ به یی متغیر سو ، دخرما دښاخ په ډول به ژړ سو ، دمخ غاښونه به یی دیخ څخه کړپیدل او دومره خوله به پر راتله چی دملغلرو په شان به ورڅخه ځاځکی څڅیدل (الاتقان ۱۱ ۴۶)

دوحی په دی کیفیت کی به کله دومره شدّت پیدا کیدی چی دی ﷺ به پرکوم ځاروی سپور وو ، هغه به د دوی ﷺ دبوج څخه تیټه سوه اوکښې به نستل ، او یو وخت ده ﷺ خپل سر مبارك د زید بن ثابت رضی الله عنه پرزنګون ایښی وو ، چی په دې حالت کی وحی نازلیدل شروع سوه ، په دی سره دحضرت زید رضی الله عنه په ورون باندې دومره دروندوالی راغی چی ماتیدی (زادالمعاد ۱۱ ۱۸ | ۱۹)

ځینی وخت به ددې وحی نری نری اواز نوروته به هم محسوسیدی حضرت عمر رضی الله عنه فرمایی چی کله به پر ده ﷺ وحی نازلیده نو د ده مخ مبارك ته به نژدی دشاتو دمچمچیو دبڼهاری پرډول اواز اوریدل شروع سول (بتویب مسند احمد کتاب السیرة النبویة ۲۰ | ۲۱۲)

دوحی بل صورت دا وو چی ملائکه به دیوه انسان په شکل کی ده ﷺ ته راغله او الله ﷻ پیغام به یی ورسوی په داسی ځایونو کی به عموماً جبرائیل علیه السلام دمشهور صحابی دِحیه کلبی رضی الله عنه په صورت کی تشریف راوړی ، البته ځینی وخت دبل چاپه صورت کی هم راغلی دی ، پر هرحال هرکله چی به حضرت جبرائیل علیه السلام په انسانی شکل کی وحی راوړه نو دوحی دنزول دا صورت به درسول الله ﷺ دپاره دټولو څخه اسانه وو (الاتقان ۱۱ ۴۶)

دوحی دریم صورت دا وو چی حضرت جبرائیل علیه السلام به دیوه انسان دشکل اختیارولو څخه بغیر په خپل اصلي صورت کی ښکاره کیدی ، لیکن داسی دده ﷺ په ټول عمرکی یوازی دری واره سوی دی ، یو وار هغه وخت کله چی ده ﷺ په خپله دحضرت جبرائیل علیه السلام په اصل شکل کی دلیدو خواهش ښکاره فرمایلی

وو ، دوهم وار په معراج کی ، او دریم وار دنبوت په بالکل ابتدائی زمانه کی دمکی مکرمی په مقام اجیاد باندي او لنی دوه وقعات خو په صحیح سند سره ثابت دی ، البته دا اخری واقعه دسند دکمزوری په وجه مشکوکه ده (فتح الباری ۱۸/۱ او ۱۹)

څلورم صورت سیده په سیده او بغیر دواسطی څخه دالله ﷻ سره هم کلامی دی داشرف نبی کریم ﷺ ته دبیداری په حالت کی یوازی یو وار یعني دمعراج په وخت کی حاصل سوی دی ، البته یو وار دی ﷺ په خوب کی هم دالله ﷻ سره هم کلام سوی دی (اتقان ۴۶/۱)

دوحی پنځم صورت دا وو چی حضرت جبرائیل علیه السلام به په یوه صورت کی مخ ته دراتلو څخه بغیر دده ﷺ په زړه مبارك کی یوه خبره واچوله ، دی ته په اصطلاح کی نفث فی الروع وایی (ایضًا)

دقران شریف دنزول تاریخ

قرآن شریف په اصل کی کلام الهی دی په دی وجه د اول څخه په لوح محفوظ کی موجود دی ، دقرآن شریف ارشاد دی ﴿ بَلْ هُوَ قُرْاٰنٌ مَّجِيْدٌ فِيْ لَوْحٍ مَّحْفُوْظٍ ﴾ (بلکه دا قرآن مجید شریف دی په لوح محفوظ کی) بیا دلوح محفوظ څخه دده نزول دوه واره سوی دی ، یو وار ټوله پوره په پوره ددنیا اسمان ته په بیت عزّت کی نازل سوی و،و بیتِ عزت (کوم ته چی بیت المعمور هم وایی) دکعبة الله په محاذات کي په آسمان کی دملائکو عبادت ځای دی ، دا نزول په لیلة القدر کی سوی وو ، بیا دوهم وار پر رسول الله ﷺ باندی لږ لږ دضرورت په اندازه نازلیدی ، تردی چی په درویشت (۲۳) کاله کی ددې تکمیل وسو ، دقرآن دنزول دا دوه صورتونه په خپله دقرآن شریف د اندازی بیان (اوطریقی) څخه هم روښانه دی ، ددې څخه علاوه نسائی ، بیهقی او اوحاکم وغیره دحضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنه څخه ډیر روایتونه نقل کړی دی دکومو خلاصه چی دا ده چی دقرآن شریف اولنی نزول په یو وار ددنیا اسمان ته وسو او دوهم نزول لږ لږ پر رسول الله ﷺ باندي (الاتقان ۴۱/۱)

دقرآن شریف اول وار ددنیا اسمان ته دنازلولو حکمت امام ابوشامه (رحمه الله) دا بیان کړی دی چی په دی سره دقرآن شریف رفعت شان ښکاره کول مقصود وو او ملائکو ته دا خبره ښوول وه چی دا دالله ﷻ اخری کتاب دی کوم چی په مځکه کی دخلکو دلارښوونې دپاره نازلیدونکی دی .

شیخ زر قانی دا نکته هم بیان کړی ده چی دغه رنګه په دوه واره نازلولو سره دا هم وریادول مقصود وو ، چی داکتاب دهرشك اوشبهی څخه بالاتر دی او درسول الله ﷺ دزړه څخه علاوه دی دوه ځایه نور هم محفوظ دی ، یو په لوح محفوظ کی او دوهم په بیت العزت کی (مناهل العرفان ۳۹/۱) والله ﷻ اعلم .

په دی باندي تقریبًا اتفاق دی چی دقرآن شریف دوهم تدریجی نزول کوم چی درسول الله ﷺ په زړه مبارك باندي وسو ، ددې شروع هغه وخت وسوه کله چی دده ﷺ عمر څلویښت (۴۰) کاله سو ، ددې نزول ابتداء هم دصحیح قول برابر په لیلة القدر کی سوی ده او دا هغه تاریخ وو په کوم کی چی څو کاله وروسته دبدر غزا پېښه سوه ، لیکن داشپه درمضان په کوم تاریخ کی وه ؟ په دی باره کی هیڅ یقینی خبره نسته ، په

ځينو روايتونوکی درمضان اوولسمه (۱۷) په ځينوکی نولسم (۱۹) اوپه ځينوکی اوويښتمه (۲۷) شپه معلوميږي (تفسيرابن جرير ۱۰\۷)

﴿ دټولو څخه اول نازل سوی ايت ﴾

صحيح قول دا دی چی پر رسول الله ﷺ باندی دقرآن شريف دټولوڅخه اول چی کوم ايتونه نازل سول هغه دسورة علق ابتدايی ايتونه دی ، په صحيح بخاری کی حضرت عائشه ﵂ ددې واقعه داسی بيان کړی ده ، چی پر رسول الله ﷺ باندي دوحی دنزول ابتداء خو دريښتينو خوبونوڅخه سوی وه ، ددې څخه وروسته دوی ته په خلوت کی دعبادت کولو شوق پيدا سو او په دی دوران کی دوی په غارحراء کی څو څوشپې تيری کړی اوپه عبادت کی به مشغول وو ، تردی چي يوه ورځ په دی غارکی ده ﷺ ته دالله ﷻ دطرف څخه ملائکه راغله اودی دټولوڅخه اول خبره دا وکړه چی ﴿ اِقْرَاْ ﴾ (يعني ووايه) رسول الله ﷺ وفرمايل چی (زه ويوونکي نه يم) ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ په خپله واقعه بيان کړه چي زما په دی جواب باندی ملائکی زه ونيولم اوماته يی دومره زور راکی چی په ما انتهايی سخته راغله ، بيا هغه زه پريښوولم ، او بيايی وويل چی ﴿ اِقْرَاْ ﴾ ماپه جواب کی وويل چی زه ويوونکي نه يم ملائکی زه بياونيولم اوبيايی په داسی زورسره کښيکښم چی دسختئ انتهاء را باندی وسوه بيايی زه پريښوولم اوراته يی وويل ﴿ اِقْرَاْ ﴾ ماجواب ورکی چی زه ويوونکی نه يم ، په دی باندي ملائکی زه په دريم وار ونيولم او زور يی را کی بيا يی پريښوولم اووي ويل .

﴿ اِقْرَاْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِيْ خَلَقَ (۱) خَلَقَ الْاِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ (۲) اِقْرَاْ وَرَبُّكَ الْاَكْرَمُ ﴾

(ووايه دخپل هغه ربّ په نامه سره کوم چی پيداکړل ، کوم چی انسان دکلکی سوی وينی څخه پيداکی ، ووايه اوستا پرور دګار ترټولو څخه زيات کريم دی)

دا په دوی نازل سوی اولنی آيتونه وو ددی څخه وروسته تر دروکاله پوری دوحی سلسله بنده وه ، دی زمانی ته (دفترت وحی) زمانه وايی بيا دری کاله وروسته دغه ملائکه کومه چی په غار حراء کی راغلی وه دوی ته دآسمان او مځکی په مينځ کی ښکاره سوه او سورة مدثر آيتونه يی ده ﷺ ته واورول ، ددې څخه وروسته دوحی سلسله جاری سوه .

﴿ مکی او مدنی ايتونه ﴾

تاسی به دقرآن شريف دسور تونو په عنوان کی ليدلی وی چی دځينو سورتونو سره مکی او دځينو سره مدنی ليکل سوی دی ، ددې په صحيح مفهوم پوهيدل ضروری دی ، دمفسرينو په اصطلاح کی دمکی ايت مطلب هغه ايت وی کوم چی پر ده ﷺ دمدينی طيّبی دهجرت څخه مخکی نازل سوی وی او دمدنی ايت مفهوم دا دی چی په ده ﷺ مدينی طيّبی ته دهجرت کولو څخه وروسته نازل سوی وی ځيني خلق دمکّی مطلب دا ګنړی چی دا دمکی مکرّمی په ښارکی نازل سوی دی او دمدنی دا چی دمدينې طيّبی په ښارنازل سوی دی . ليکن دا مطلب صحيح نه دی ، ځکه چی ډير آياتونه داسی دی کوم چی دمکی په ښارکی نه دی نازل سوی ليکن ترهجرت څخه مخکي نازل سوی وی ، په دی وجه دغو ته مکی ويل کيږي ، هم دارنګه کوم آياتونه په منی . عرفات ياپه سفر دمعراج کی نازل سوی دی ، دغو ته هم مکی ويل

کیږي ، تر دی چی کوم آیاتونه دهجرت دسفر په دوران کی دمدینې په لاره کی نازل سول هغو ته هم مکّی ویل کیږي دغه رنګه ډیرآیاتونه داسی دی کوم چی دمدینې منوّری په ښارکی نه دی نازل سوی ، مګر هغه مدنی دی ، هم دارنګه دهجرت څخه وروسته ده ﷺ ته ډیرسفرونه مخته راغلی دی ، په کوموکی چی دوی دمدینې منورې څخه په سوونو میله لیری هم تشریف وړی دی ، په دی ټولو مقاماتو باندې نازل سوو آیاتونوته مدنی وایی ، تردی چی هغو آیاتونو ته هم مدنې ویل کیږي ، کوم چی دمکی دفتح یاغزوه حدیبیې پرځای باندی خاص دمکې په ښار یاپه شاوخواکی نازل سول ، هم دارنګه دقرآن ایت ﴿ اِنَّ اللهَ یَاْ مُرُکُمْ اَنْ تُؤَدُّ وا الاَمَانَاتِ اِلٰی اَهْلِهَا﴾ مدنی دی ، حال دا دی چی دا په مکه مکرمه کی نازل سوی دی (البرهان ۱\۱۸۸ اومناهل العرفات ۱\ ۱۸۸)

بیاځینی سورتونه خو داسی دی چی دهغه پوره په پوره مکّی یاپوره په پوره مدنی دی ،لکه سورة مدثر ټول مکی دی او سورة آل عمران ټول مدنی ، لیکن ځینی وخت داسی هم سوی دی چی پوره سورة مکی وی مثلاً څو آیاتونه مدنی هم په کی را غلی وی او ځینی وخت ددې برعکس هم سوی دی ، مثلاً سورة اعراف مکی دی ، لیکن په دی کی ﴿ وَاسْئَلْهُمْ عَنِ الْقَرْيَةِ الَّتِيْ كَانَتْ حَاضِرَةَ الْبَحْرِ څخه تر ، وَ اِذْ اَخَذَ رَبُّكَ مِنْ بَنِيْ آدَمَ ﴾ پورې آیاتونه مدنی دی دغه رنګه سورة حج مدنی دی ، لیکن په دی کی څلورآیاتونه یعني د ﴿وَمَا اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَسُوْلٍ وَ لاَ نَبِیٍّ اِلاَّ اِذَا تَمَنّٰی څخه واخله دعَذَابَ یَوْمٍ عَقِیْم ﴾ پوری مکی دی.

ددې څخه دا هم ښکاره کیږي چی دیوه سورة مکی یامدنی کیدل عموماًدده د اکثرو آیاتونو په اعتبار سره وی اواکثره به داسی کیدل چی دکوم سورة ابتدایی آیاتونه دهجرت څخه مخکی نازل سوی دی هغه مکی مقررکړل سول که څه هم وروسته ددې ځینی آیاتونه دهجرت څخه وروسته نازل سوی وه (مناهل العرفان ۱\۱۹۲)

﴿ دمکی اومدنی اپاتونو خصوصیات ﴾

دتفسیر عالمانو دمکی اومدنی سورتونو استقراء (پلټنه) کړی ده او د دوی ځینی داسی خصوصیات یی بیان کړی دی دکومو څخه چی په اول نظر کی دا معلومیږي چی دا سورة مکی دی یامدنی ؟ په دوی کی ځینی خصوصیات دقاعدی کلیې حیثیت لری او ځینی اکثری دی قاعدی کلیی دا دی.

(۱) هرهغه سورة په کوم کی چی لفظ دکلاً (هیڅکله نه دی) را غلی دی هغه مکی دی دا لفظ په پنځلسو ۱۵ سورتونو کی درې دیرش (۳۳) واره استعمال سوی دی ، او دا ټول آیاتونه دقرآن شریف په آخری نیمایی برخه کی دی.

(۲) هر هغه سورة په کوم کی چی (دحنفی مسلك مطابق) (برابر) دسجدی یو آیت راغلی مکی دی.

(۳) دسورة بقره څخه ماسوا هر هغه سورة په کوم کی چی د آدم ﷺ او ابلیس واقعه ذکر ده، مکی دی (دا قاعده د اتقان او نورو څخه ماخوذه ده او دا دهغه قول مطابق خو صحیح ده دکوم په رو سره چی سورة حج مکی دی لیکن که دا مدنی وګڼل سی لکه چی ځینی صحابه ﷺ او تابعینو ﷺ څخه روایت دی نو سورة حج به ددې قاعدی څخه مستثنٰی وی . محمدتقی عثمانی)

(۴) هر هغه سورة په کوم کی چی دجهاد د اجازه یا دهغه احکام ذکر دی ، مدنی دی.

(۵) هر هغه آیت په کوم کې چې دمنافقینو ذکر را غلی دی ، مدنی دی .
او دالاندې خصوصیات عمومی او اکثری دی ، یعني کله کله ددی خلاف هم کیږي لیکن اکثره زیات داسې وی .
(۱) په مکی سورتونو کې عموماً ﴿ دَ يَاَ يَهَاالنَّاسُ ﴾ (ای خلکو) په الفاظو سره خطاب سوی دی او په مدنی سورتونو کې ﴿ دَ يَاَ يَهَاالَّذِيْنَ آمَنُوْ ا ﴾ (ای ایمان لرونکو) په الفاظو سره .
(۲) مکی آیاتونه اوسورتونه په عمومی ډول سره کوچنی کوچنی اومختصر (لنډ) دی اومدنی اوږده او مفصل دی .
(۳) مکی سورتونه زیات تر پرتوحید ، رسالت او اخرت په اثبات دحشر نشر په منظر بیانولو ، رسول الله ﷺ ته دصبراو تسلی تلقین او دتیرو امتونو په واقعاتو مشتمل دی او په دې کې احکام او قوانین لږ بیان سوی دی ددې برعکس په مدنی سورتونو کې خاندانی او تمدنی قوانین ، دجهاد او قتال احکام او حدود او فرائض بیان کړل سوی دی .
(۴) په مکی سورتونو کې زیات تر مقابله دبت پرستو سره ده اوپه مدنی سورتونو کې داهل کتابو او منافقانو سره .
(۵) دمکی سورتونو طریقه دبیان زیات خوندوره ده ، په دې کې استعاری او تشبیهات اوتمثیلونه ډیر دی او ذخیره دالفاظو ډیره فراخه ده ، ددې برخلاف دمدنی سورتونو اندازه نسبتًا ساده ده .
دمکی اومدنی سورتونو په انداز او اسلوب کې دا فرق په اصل کې دحالاتو ماحول او مخاطبو د اختلاف په وجه سره پیداسوی دی ، په مکی ژوندکی دمسلمانانو واسطه چونکه زیات تردعربو بُت پرستو سره وه اوڅه اسلامی ریاست په وجودکی نه وو را غلی په دې دورکی زیات زور دعقیدو پرصحت ، داخلاقو پر اصلاح دبت پرستو مدلّل تردید او دقرآن شریف دشان اعجاز په اظهار ورکړل سو ، ددې برخلاف په مدینه طیّبه کې یو اسلامی ریاست په وجود کې راغلی وو ، خلق ډلی ډلی د اسلام دسایې لاندې را تلل په علمی سطح دبت پرستی ابطال سوی وو ، او ټوله نظریاتي مقابله د اهل کتابو سره وه ، په دې وجه دلته احکام او قوانین او دحدودو او فرائضو او داهل کتابو په تردید زیاته توجّه ورکړه او ددې مناسبه طریقه بیان اختیارکړه سوه .

﴿دقران شریف تدریجی نزول﴾

مخکی تیرسوی دی چی پر رسول الله ﷺ قرآن شریف دفعةً او په یوه وار نه دی نازل سوی ، بلکه لږ لږ تقریبًا په دریښت (۲۳) کاله کې نازل کړل سو ، څینی وخت به جبرائیل ﷺ یو کوچنی شان آیت بلکه دآیت یو جزء سره تشریف را وړو اوځینی وخت به څوڅو آیاتونه په یو وخت نازلیدل ، دقرآن شریف دټولو څخه کوچنی حصه کومه چی مستقل نازله سوه هغه ﴿ غَيْرُ أُولِى الضَّرَرِ ﴾ نساء ۹۵ ده کومه چی دیو اوږد ایت ټوټه ده ، بل طرف ته ټول سورة انعام په یو وار نازل سوی دی (ابن کثیر ۱۲۲/۲)
دقرآن شریف په یو وار دنازلولو پر ځای لږ لږ ولی نازل کړل سو ؟ دا سوال په خپله دعربو مشرکانو د رسول الله ﷺ څخه کړی وو ، باری تعالی په خپله ددې سوال جواب په دې الفاظو کې ورکړی دی .

﴿ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْ لَا نُزِّلَ عَلَيْهِ الْقُرْاٰنُ جُمْلَةً وَّاحِدَةً كَذٰلِكَ لِنُثَبِّتَ بِهٖ فُؤَادَكَ وَرَتَّلْنٰهُ تَرْتِيْلًا ۝ وَلَا يَاْتُوْنَكَ بِمَثَلٍ اِلَّا جِئْنٰكَ بِالْحَقِّ وَ اَحْسَنَ تَفْسِيْرًا ﴾ الفرقان ۳۲، ۳۳

او کافرانو وویل چی پرتاقرآن ولی په یو وار نازل نه سو ؟ دغه ډول (مونږ قران شرف تدریجًا نازل کړی دی چی مونږ ستا زړه مطمئن کی او مونږ دی کرار کرار ویلی دی او دغه تاته څه خبره نه را وړی مگر مونږ تاته حق را وړو او (دده) اصلی تفسیر درته وړاندي کوو .

امام رازی ددې آیت په تفسیر کی دقرآن شریف دتدریجی نزول چی کوم حکمتونه بیان کړی دی دلته دهغه خلاصه ایزده کول کافی دی هغه فرمایی چی .

(۱) رسول الله ﷺ امّی وو لیکل ویل یې نه وه ایزده کړی ، په دی وجه که ټول قرآن شریف په یوځای نازل سوی وای نویا دول او په ضبط کی را وستل به یې گران وای ، ددې برخلاف حضرت موسی علیه السلام په لیکلو ویلو پوهیدی نو تورات ور باندي پر یوه ځای نازل کړل سو .

(۲) که پوره قرآن شریف په یوه ځای نازل سوی وای نو دټولو احکامو پابندی به دستی لازمه سوی وای او دا به ددې حکیمانه تدریج خلاف وه کومه چی په شریعت محمدی کی ملحوظ سوی دی .

(۳) رسول الله ﷺ ته به دخپل قوم دطرف څخه هره ورځ نوی تکلیفونه برداشتول ، دجبرائیل علیه السلام بار بار دقرآن شریف سره نازلیدل به ددې تکلیفونو مقابله اسانوله او دده ﷺ دزړه دتقویت سبب جوړي دی .

(۴) دقرآن شریف یوه غټه حصه دخلکو دسوالونو جواب او دمختلفو واقعاتو سره متعلق ده ، په دی وجه ددې آیاتونو نزول هغه وخت مناسب وو کوم وخت چی دغه سوالونه وسوه یادغه واقعات پیښ سول ، په دی سره دمسلمانانو بصیرت هم زیاتیدی او دقرآن شرف دغیبی خبرونو په بیانولو سره به دده حقانیت نور واضحه کیدی تفسیر کبیر ۶/۳۳۶

﴿ شان نزول ﴾

دقرآن شریف آیاتونه دوه قسمه دی . یو هغه آیاتونه دی کوم چی الله ﷻ دخپل طرف څخه نازل کړی دی یو خاص واقعه یایو سوال وغیره ددې دنزول سبب نه دی جوړ سوی ، دوهم هغه آیاتونه دی دکومو نزول چی دیو خاصی واقعی په وجه سره یادڅه سوال په جواب کی وسو ، کوموته چی ددغو آیاتونو وروسته منظر ویل په کار دی ، دی وروسته منظر ته دمفسّرینو په اصطلاح کی سبب دنزول یا ، شان نزول ، وایې ، مثلاً دسورة بقره ایت دی .

﴿ وَلَا تَنْكِحُوا الْمُشْرِكَاتِ حَتّٰى يُؤْمِنَّ وَلَاَمَةٌ مُّؤْمِنَةٌ خَيْرٌ مِّنْ مُّشْرِكَةٍ وَّلَوْ اَعْجَبَتْكُمْ ﴾

دمشرکو ښځو سره نکاح مه کوی ترڅو پوري چی هغوی ایمان را نه وړی او بیشکه یوه مومنه مینځه تر یوې مشرکی څخه بهتره ده خواه که مشرکه ستاسي خوښه وی .

دا آیت په یوه خاصه واقعه کی نازل سوی وو ، دجهالت په زمانه کی دحضرت مرثد غنوی رضی الله عنه دعناق په نامه یوې ښځی سره تعلقات وه ، د اسلام د راوړلو څخه وروسته دی مدینې منورې ته راغی او هغه په مکه مکرمه کی پاته سوه ، یو وار حضرت مرثد رضی الله عنه په یو کار پسی مکی مکرمی ته تشریف یوړی نو عناق ده ته دگناه دعوت ورکی ، حضرت مرثد رضی الله عنه صفا انکار وکی او وې فرمایل چی اسلام ستا او زما په په

مینځ کی حائل سوی دی لیکن که ته غواړی نو زه د رسول الله ﷺ ځخه دپوښتنې کولو ځخه وروسته ستاسره نکاح کولای سم ، مدینی منوری ته چی راغې نو دې سره دنکاح اجازه یې وغوښتل او دخپلې مینی اظهار یی وکی په دی دا آیت نازل سو اودمشرکو ښځوسره دنکاح ممانعت یې وکی (اسباب النزول للواحدی صـ ۳۸)

دا واقعه دلوړ آیت . شان نزول ، یا ، سبب نزول ، دی دقرآن شریف په تفسیرکی شان نزول ته ډیر اهمیت حاصل دی ، د ډیرو آیاتونو مفهوم ترهغه وخته پوری په صحیح توګه سره نه سی معلومېدای تر څوپوری چی شان نزول یې معلوم نه سی .

دقران شریف اووه حرفونه او قراتونه

الله ﷻ دقرآن شریف په تلاوت کی دآسانی پیدا کولو دپاره امّیت محمّدیه (علی صاحبها السّلام) ته یو آسانتیااوسهولت ورکړی دی چی ددې الفاظ یی په مختلفو طریقوسره دویلو اجازه ورکړی ده ، ځکه چی ځینی وخت به دیو سړی ځخه یو لفظ په طریقه سره نه سی ادا کیدای نو په بله طریقه یی ویلای سی ، دصحیح مسلم په یو حدیث کی دي چی رسول الله ﷺ یو وار دبنو غفار دتالاب په شاوخوا کی تشریف فرمایلی وو چی حضرت جبرائل ؑ را غی . ده ؑ وفرمایل چی الله ﷻ تاته حکم کړی دی چی ته خپل امّت ته حکم وکړه چی دوی قرآن شریف په یو حرف سره وایې ، ده ﷺ وفرمایل چی زه دالله ﷻ ځخه ددی معافی او مغفرت طلب کوم زماپه امت کی ددې طاقت نسته ، بیاحضرت جبرائل ؑ بیرته ده ﷺ ته راغی او وی فرمایل چی الله ﷻ تاته حکم کړی دی چی ته خپل امت ته قرآن شریف په دوو حرفونو وایه ، ده ﷺ وفرمایل چی زه دخدای ﷻ ځخه معافی او مغفرت غواړم زما امت کی ددی هم طاقت نسته ، بیاپه دریم وار راغی او وی فرمایل چی الله ﷻ تاته حکم کړی دی چی ته خپل امت ته قرآن شریف په درو حرفونو ووایه ده ﷺ وفرمایل چی زه دالله ﷻ ځخه معافی اومغفرت غواړم ، زماپه امت کی ددې هم طاقت نسته ، بیا په ځلورم وار راغی او وی فرمایل چی الله ﷻ تاته حکم کړی دی چی ته خپل امت ته قرآن شریف په اووه (۷) حرفونو باندی ووایه ، وروسته هغوی چی په دی کی په کوم حرف باندی وایې ، د دوی قرات به صحیح وی (بحواله مناهل العرفان ۱۱ ۳۳)

هم دارنګه په یوبل حدیث کی د رسول الله ﷺ ارشاد دی .

﴿انّ هٰذَ ا القُرْ ان اُنْزِلَ عَلٰی سَبْعَةِ اَحْرُفٍ فَاقْرَ ءُ وْ ا مَا تَیَسَّرَ مِنْهُ﴾ صحیح بخاری مع القسطلانی ۴۵۳۱۷ .

دا قرآن په اووه (۷) حرفونو نازل کړل سوی دی وروسته کوم چی په کی تاسوته آسانه وی په هغه سره یې وایاست .

د رسول الله ﷺ په دی ارشاد کی د اوو(۷) حرفونو ځخه څه مراد دی ؟ په دی باره کی دعلماؤ مختلف اقوال دی (۱) لیکن دمحققو علماؤ په نزد په دی کی راجح مطلب دا دی چی دقرآن شریف کوم قراتونه د الله ﷻ دطرفه ځخه نازل سوی دی په دی کی یو دبله فرق او اختلاف ټول پر اوو(۷) نوعیتونو مشتمل دی او دغه اووه (۷) نوعیتونه دا دي .

(۱) ددې اقوالو دتفصيل او مبسوط تحقيق دپاره وګورئ (علوم قرآن) داحقر مفصال کتاب.

﴿(۱) داسماو اختلاف﴾

په کومو کې چې د افراد، تثنيې، جمع، او تذکير او تانيث دوارو اختلاف دا خل دی، مثلاً په يو قرات کې ﴿تَمَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ﴾ دی او په بل قرات کې ﴿تَمَّتْ كَلِمَاتُ رَبِّكَ﴾

﴿(۲) دافعالو اختلاف﴾

چې په يو قرات کې صيغه دماضی ده، په بل کې دمضارع او په بل کې د امر مثلاً يو قرات کې ﴿رَبَّنَابَاعِدْ بَيْنَ اَسْفَارِنَا﴾ او په بل کې ﴿رَبَّنَابَعَّدَ بَيْنَ اَسْفَارِنَا﴾

﴿(۳) دوجوه اعراب اختلاف﴾

په کوم کې چې داعراب زور، زير، پيښ، فرق پيدا کولای سی مثلاً ﴿لَايُضَارَّ كَاتِبٌ﴾ پرځای ﴿لَا يُضَارُّ كَاتِبٌ﴾ او ﴿ذُوالْعَرْشِ الْمَجِيْدُ﴾ پرځای ﴿ذُوالْعَرْشِ الْمَجِيْدِ﴾

﴿(۴) دالفاظو دکموالي اوزياتوالي اختلاف﴾

چې په يوقرات کې يو لفظ کم او په بل کې زيات وی، مثلاً په يو قرات کې ﴿تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ﴾ او په بل کې ﴿تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ﴾

﴿(۵) دتقديم اوتاخير اختلاف﴾

چې په يو قرات کې يو لفظ مقدّم دی په بل کې موخر، مثلاً ﴿وَجَآءَتْ سَكْرَتُ الْمَوْتِ بِالْحَقِّ﴾ او ﴿وَجَآءَتْ سَكْرَتُ الْمَوْتِ بِالْمَوْتِ﴾

﴿(۶) دبدليت اختلاف﴾

چې په يو قرات کې يو لفظ دی او په بل قرات کې ددغه پرځای بل لفظ مثلاً ﴿نُنْشِزُهَا﴾ ﴿نُنْشُرُهَا﴾ دارنګه ﴿فَتَبَيَّنُوْا﴾ او ﴿فَتَثَبَّتُوا﴾ او ﴿طلح، اوطلع﴾

﴿(۷) دلهجو اختلاف﴾

په کوموکې چې دتفخيم، ترقيق، اماله، مدّ، قصر، همزه، اظهار او ادغام وغيره اختلافات دا خل دی، يعني په دی کې لفظ خو نه بدليږي، ليکن ددې دويلو طرقه بدليږي، مثلاً موسیٰ په يو قرات کې مُوْسٰی په شان ويلای سی.

پر هرحال دقرات د اختلاف ددې اوو(۷) نوعيتونو لاندی ډير قراتونه نازل سوی وه، او ددې دباهمی فرق په وجه سره په معنٰی کی هيڅ قابل ذکرفرق نه وو، يوازی دتلاوت دسهولت دپاره ددې اجازه ورکړل سوی وه.

په شروع کې چونکه خلق دقرآن شريف دطريقې سره په پوره شان عادی نه وه، په دی وجه په دغه اوه (۷) قسمه دائره کې د ډيرو قراتونو اجازه ورکړل سوی وه، ليکن درسول الله ﷺ عادت وو چې هرکال به په رمضان کې ده ﷺ دحضرت جبرائيل ؑ سره دقرآن شريف دورکولو په کوم کال چې د دوی وفات وسو، په دغه کال ده ﷺ دوه واره دور وفرمايي، دی دورته، عرصه اخيره، وايې په دی موقع ډير قراتونه منسوخ کړه سول او يوازی دوه قراتونه باقی پريښنول سول، کوم چې ننه پوری په تواتر سره محفوظ را روان دی

حضرت عثمان ﷜ دقرآن شریف دتلاوت په معالمه کی دغلط فهمیو دلیری کولو دپاره په خپل زمانه دخلافت کی دقرآن شریف اووه (۷) نسخې تیاری کړی او په دی اوو(۷) نسخوکی يې ټول قراتونه داسی جمع کړل چی دقرآن شریف په آیتونو باندی نقطی زور ، زیر ، او پیښ ونه غورځول چی د ذکر سوو قراتونو څخه په کوم قرات سره غواړی وواېې دغه ډول اکثره قراتونه په دی رسم الخط کی یوځای کړه سوه اوکوم قراتونه چی په رسم الخط کی یوځای نه سوه ، دهغو دمحفوظ کولو طریقه دوی دا اختیار وفرمایله چی یوه نسخه دوی دیو قرات مطابق ولیکله اوبله دبل قرات مطابق . امت په دی نسخو کی جمع سوو قراتونو دیادولو دومره اهتمام وکی چی علم قرات یو مستقل علم جوړ سو او په سوونو عالمانو قاریانو حافظانو ددې په حفاظت کی خپل عمرونه خرڅ کړل .

په اصل کی قصه داسی سوی وه چی څه وخت حضرت عثمان ﷜ دقرآن شریف اووه (۷) نسخې مختلفو اطرافو ته ولیږلی ، نو ددې سره یی داسی قاریان هم لیږلی وه کومو چی ددغو تلاوت ښوولی سو ، هم دارنګه دا قاریان حضرات کله چی مختلفو علاقو ته ورسیدل نو دوی دخپلو خپلو قراتونو مطابق خلقو ته دقرآن شریف تعلیم ورکی ، او دا مختلف قراتونه په خلقو کی خپاره سول ، پردې ځای ځینو حضراتو ددې مختلفو قراتونو دیادولو او نورو ته دښوولودپاره خپل ژوند وقف کی ، او دغه رنګه دعلم قرات بنیاد کښیښوول سو او دهری علاقی خلقو په دی علم کی دکمال حاصلولو دپاره دقرات امامانو ته رجوع کول شروع کړه ، چا یوازی قرات یادکی ، چا دوه ، چا دری ، چا اووه او چا ددې څخه هم زیات ، په دی سلسله کی یوه اصولی ضابطه په ټول امت کی مسلمه وه او هرځای به ددې مطابق عمل کیدی اوهغه دا چی یوازی هغه قرات به دقران شریف کیدو په حیثیت سره قبلولای سی په کوم کی چی دری شرطونه پیدا سی .

(۱) دمصاحف عثمانی په رسم الخط کی ددې امکان وی .

(۲) دعربی ژبی دقواعدو مطابق وی .

(۳) دغه د رسول الله ﷺ څخه په صحیح سند سره ثابت وی او په ائمه قرات کی مشهور وی .

په کوم قرات کی چی په دی کی یو شرط هم مفقود وی هغه به دقرآن شریف جز نه ګڼل کیږي ، دغه رنګه دمتواتر قراتونو یو لوی تعداد نسل په نسل نقل کیدی او دسهولت دپاره داسی هم وسوه چی یو امام یو یاڅو قراتونه اختیار کړه ، دهغوی تعلیم ورکول یی شروع کړل ، اوهغه قرات ددې امام په نامه سره مشهور سو ، بیا عالمانو ددغه قراتونو دجمع کولو دپاره کتابونه لیکل شروع کړل ، هم دارنګه دټولو څخه اول امام ابوعبید قاسم بن سلام رحمه الله امام ابوحاتم سجستانی رحمه الله قاضی اسمٰعیل رحمه الله او امام ابو جعفر طبری رحمه الله په دی فن کتابونه جوړه کړل په کوموکی چی ترشلو څخه زیات قراتونه جمع وه ، بیاعلامه ابوبکر ابن مجاهد (متوفی سنہ ۳۲۴ هـ) یو کتاب ولیکی په کوم کی چی یوازی د اووه (۷) قاریانو قراتونه جمع سوی وه ، د دوی دا تصنیف دومره مقبول سو چی ددې اوو(۷) قاریانو دا قراتونه ،دنوروقاریانو په مقابله کی زیات مشهور سول ، بلکه ځینی خلقو دا وګڼله چی صحیح او متواتر قراتونه یوازی دا دی حال دا چی واقعه دا ده چی علامه ابن مجاهد محض اتفاقًا دا اووه (۷) قراتونه جمع

کړی وه ، دهغوی منشاء هیڅکله نه وه ، چی ددې څخه ماسوا نور قراتونه غلط یاناقابل قبول دی ، دعلامه ابن مجاهد ددې عمل څخه نوری غلط فهمی دا هم پیدا سوی چی ځینو خلقو د (سبعة احرف) مطلب دا وګنی چی ددې څخه دا اووه (۷) قراتونه مراد دی کوم چی ابن مجاهدجمع کړی دی ، حال دا دی چی مخکې بیان سوی ده چی دا اووه (۷) قراتونه دصحیح قراتونو محض یوه برخه ده ، اوکه نه وی نو هرهغه قرات کوم چی په ذکرسوی لوړو درو شرطونو باندی پوره (برابر) سی صحیح قابل قبول او په دی اوو(۷) حرفونو کی دا خل دی په کوموکی چی قرآن شریف نازل سو .

﴿ اووه (۷) قاریان ﴾

پر هرحال دعلامه ابن مجاهد ددې عمل څخه خو اووه (۷) قاریان کوم چی زیات مشهور سول هغه دا دی .

(۱) عبدالله بن کثیر الداری رحمه الله (متوفی سنه ۱۲۰ هـ) دوی په اصحابو رضی الله عنهم کی دحضرت انس بن مالك ، عبدالله ابن زبیر، او ابو ایوب انصاری رضی الله عنهم زیارت کړی وو ، او دده قرائت په مکه مکرمه کی زیات مشهور سو او د دوی دقرائت په راویانو کی بزّی رحمه الله اوقنبل رحمه الله زیات مشهور دی .

(۲) نافع بن عبدالرحمٰن بن ابی نعیم (متوفی سنه ۱۶۹ هـ) دوی دداسی اویا (۷۰) تابعینو څخه استفاده کړی وه کوم چی سیده په سیده دحضرت ابی ابن کعب رضی الله عنه عبدالله ابن عباس رضی الله عنهما او ابو هریرة رضی الله عنه شاګردان وه د دوی قرائت په مدینه منوره کی زیات مشهور سو او د دوی په روایانوکی ابو موسیٰ قالون رحمه الله (متوفی سنه ۲۲۰ هـ) او ابوسعید ورش رحمه الله (متوفی سنه ۱۹۷ هـ)

(۳) عبدالله الحصبی رحمه الله کوم چی دابن عامر په نامه سره معروف دی (متوفی سنه ۱۱۷ هـ) دوی په اصحابو رضی الله عنهم کی دحضرت نعمان بن بشیر رضی الله عنه اوحضرت واثله بن اسقع رضی الله عنه زیارت کړی وو او دقرائت فن يې دحضرت مغیره بن شهاب محزومی رحمه الله څخه حاصل کړی وو ، کوم چی دحضرت عثمان شاګرد وو ، د دوی دقرات زیات رواج په شام کی وسو او د دوی دقرات په راوایانو کی هشام رحمه الله اوزکوان رحمه الله زیات مشهور دی .

(۴) ابوعمرو زبان بن العلاء رحمه الله (متوفی سنه ۱۵۴ هـ) دوی دحضرت مجاهد رحمه الله اوسعیدبن جبیر رحمه الله په واسطه سره دحضرت ابن عباس رضی الله عنه أوبی ابن کعب رضی الله عنه څخه روایت کړی دی او د دوی قرات په بصره کی ډیرمشهور سو ، د دوی دقرات په راویانوکی ابوعمر الدوری (متوفی سنه ۲۴۶ هـ) او ابوشعیب سوسی رحمه الله (متوفی سنه ۲۶۱ هـ) زیات مشهور دی .

(۵) حمزه بن خبیب الزّیات مولیٰ عکرمه بن ربیع التیمی رحمه الله (متوفی سنه ۱۸۸ رحمه الله) دی دسلیمان اعمش شاګرد وو، دی دیحییٰ بن وثاب رحمه الله دی درزّ ابن حبیش او دوی دحضرت عثمان رضی الله عنه حضرت علی رضی الله عنه اوعبدالله ابن مسعود رضی الله عنه څخه استفاده کړی وه د دوی په راویانوکی خلف بن هشام (متوفی سنه ۱۸۸ هـ) او خلادبن خالد رحمه الله (متوفی سنه ۲۲۰هـ) زیات مشهور دی .

(۶) عاصم بن ابی النجود الاسدی (متوفی سنه ۱۲۷هـ) دوی درزّ ابن حبیش رحمه الله په واسطه سره دحضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه او دابوعبدالرّحمٰن سلمٰی رحمه الله په واسطه سره دحضرت علی رضی الله عنه شاګرد دی د دوی دقرات په راویانوکی شعبه بن عیاش رحمه الله (متوفی سنه ۱۹۳هـ) اوحفص بن سلیمان رحمه الله (متوفی

سنه ۱۸۰ھ) زیات مشهور دی ، نن صباعموماً تلاوت ددی حفص بن سلیمان رحمہ اللہ د روایت مطابق کیږي.

(۷) ابوالحسن علی بن حمزة الکسایی رحمہ اللہ النحوی (متوفی سنه ۱۸۹ھ) د دوی په راویانوکی ابوالحارث مروزی (متوفی سنه ۲۴۰ھ) او ابوعمر الدروی (کوم چی دابوعمرو راوی هم دی) زیات مشهور دی ، د وروسته ذکرسوو درو حضراتو قرآئتونه زیات تر په کوفه کی رواج سول.

لیکن لکه چی مخکی ذکر سوی دی ددې اوو(۷) څخه علاوه نورهم څو قراتونه متوافر اوصحیح دی ، هم دارنګه وروسته هرکله چی دا غلط فهمیی پیدا سوه چی صحیح قراتونه په دی اوو(۷) کی منحصر دي نو دیرو عالمانو (مثلاً علامه شذائی(رحمہ اللہ) او ابوبکر بن مهران (رحمہ اللہ) د اوو(۷) پرځای لس (۱۰) قراتونه په یوکتاب کی جمع کړل ، هم دارنګه د ،قراءة عشره ، اصطلاح مشهوره سوه ، په دی لسو قراتونوکی پرلورو اوو(۷) ذکر سوو قاریانو څخه علاوه ددې درو حضراتو قرائتونه هم شامل سو.

(۱) یعقوب بن اسحٰق حضرمی (متوفی سنه ۲۰۵) د دوی قرائت زیات په بصره کی مشهور سو .

(۲) خلف بن هشام (رحمہ اللہ) (متوفی سنه ۲۰۵ھ) کوم چی دحمزه دقرائت هم راوی دي د دوی قرائت په کوفه کی زیات رواج وو .

(۳) ابوجعفریزیدبن القعقاع (رحمہ اللہ) (متوفی سنه ۱۳۰ھ) دکوم قرائت چی په مدینه طیّبه کی زیات رواج ؤ ددې څخه علاوه ځینی حضراتو دڅوارلسو قاریانو قرائتونه جمع کړی دی اوپه ذکرسوی لسو حضراتو یی دلاندنیو قاریانو دقرائتونو اضافه وکړه .

(۱) حسن بصری (رحمہ اللہ) (متوفی سنه ۱۱۰ ھ) چی دقرائت مرکزیې بصره وه .

(۲) محمّد بن عبدالرّحمٰن ابن محیض (رحمہ اللہ) (متوفی سنه ۱۲۳ ھ) چی مرکز یې په مکه مکرمه کی وو .

(۳) یحیٰی بن مبارك یزیدی (رحمہ اللہ) (متوفی سنه ۲۰۲ھ) کوم چی دبصری وسیدونکی وو.

(۴) ابو الفرج شنبوذی (رحمہ اللہ) (متوفی سنه ۳۸۸ھ) کوم چی دبغداد وسیدونکي وو .

ځینی حضراتو په څوارلسو قاریانوکی دحضرت شنبوذی پرځای دحضرت سلیمان اعمش نوم شمیرکړی دی ، په دې کی اولنی لس(۱۰) قرائتونه دصحیح قول مطابق متواتر دی او د دوی څخه پرته شاذ دی (مناهل العرفان بحواله منجد المقرئین لابن الجزری رحمہ اللہ)

تاریخ دحفاظت دقران شریف

﴿ درسالت په زمانه کی حفاظت دقران ﴾

قرآن شریف چونکه پوره په پوره یو وار نه دی نازل سوی ، بلکه ددې مختلف آیتونه دضرورت اوحالاتو په مناسبت سره نازلیدل ، په دی وجه درسالت په دور کی دا ممکنه نه وه چی دشروع څخه داپه ابتدایی شکل کی ولیکل سی اومحفوظ کړل سی ، هم دارنګه د اسلام په ابتداء کی دقرآن شریف دحفاظت دپاره دتولو څخه زیات زور پرحافظه ورکړل سو ، په شروع کی به چی کله وحی نازلیده نو ده ﷺ به په دغه وخت ددې الفاظ ګردانول چی په ښه ډول سره یادسی ، پر دی باندی دسورة قیامه په آیت کی الله ﷻ ده ﷺ ته

لاربنوونه وفرمایل چی دا قرآن شریف دیادولو دپاره تاته عین دوحی دنزول په وخت کی ژر ژر دالفاظو گردانولو ضرورت نسته ، الله ﷺ به په خپله په تاکی داسی حافظه پیداکړی چی دیو وار دوحی دنزول څخه وروسته به دا ستاڅخه هیر نه کړل سی ، هم دارنگه داسی وسوه چی دي خوا به پرده ﷺ دقرآن شریف آیت نازلیدی او بلی خوا به ده ﷺ ته یادیدی ، دغه رنگه دسردار دوعالم ﷺ سینه مبارکه دقرآن شریف دټولو څخه زیاته محفوظه خزانه وه ، په کومه کی چی د ادنٰی غلطی یاترمیم اوبدلون امکان نه وو ، بیا دوی دزیات احتیاط په توگه به هرکال درمضان په میاشت کی حضرت جبرائیل علیه السلام ته قرآن شریف اورَوی او په کوم کال چی دده ﷺ وفات وسو په دغه کال دوی دوه واره دحضرت جبرائیل علیه السلام سره دور وکی (صحیح بخاری مع فتح الباری ص ۳۶ ج ۹)

بیابه ده ﷺ اصحابو کرامو رضی الله عنهم ته یوازی دقرآن دمعانیو تعلیم نه ورکوی ، بلکه ددې الفاظ به یې ورته هم یادول اوپه خپله دصحابه کرامو رضی الله عنهم سره دقرآن شریف د زده کولو او یادولو دومره شوق وو چی دهر سړی سره به په دی معامله کی دبل څخه مخکي کیدو فکر وو ، ځینو ښځو به دخپلو خاوندانو څخه پر دی مهر نه طلب کوی چی دوی به دی ښځو ته دقرآن شریف تعلیم ورکوی ، په سوونو صحابه کرامو رضی الله عنهم خپل ځانونه دماسوا دغمونو ازاد کړی اوخپل ژوند یی ددې کار دپاره وقف کړی وو دوی به قرآن شریف څخه یوازی یادولو بلکه دشپی به یې په لمانځه کی گردانوی ، حضرت عباده بن صامت رضی الله عنه فرمايې چی کله به یوه سړی هجرت وکی دمکی مکرمی څخه به مدینی منوری ته راغی نوده ﷺ به پرمونږ انصاروکی یوتن ته حواله کوی چی دی ورته قرآن ازده کړی اوپه مسجدنبوی کی به دقرآن ازده کونکو اوښوونکو دومره شور جوړ وو چی رسول الله ﷺ به دا تاکید فرمایل چی خپل اوازونه کښته کړی چی څه مغالطه راپیښه نه سی (مناهل العرفان ۱\ ۲۳۴)

هم دارنگه په لږ زمانه کی دصحابه کرامو رضی الله عنهم یو دومره لوی جماعت تیارسو کوم ته چی قرآن شریف یعنی ټوله حفظ وو ، په دی جماعت کی دخلفاء راشدین څخه پرته حضرت طلحه رضی الله عنه حضرت سعد رضی الله عنه حضرت ابن مسعود رضی الله عنه حضرت حذیفه بن یمان رضی الله عنه حضرت سالم رضی الله عنه حضرت مولی ابی حذیفه رضی الله عنه حضرت ابوهریرة رضی الله عنه حضرت عبدالله ابن عمر رضی الله عنه حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنه حضرت عمرو بن عاص رضی الله عنه حضرت عبدالله ابن عمرو رضی الله عنه حضرت معاویه رضی الله عنه حضرت عبدالله ابن زبیر رضی الله عنه حضرت عبدالله ابن السائب رضی الله عنه حضرت عائشه رضی الله عنها حضرت حفصه رضی الله عنها حضرت ام سلمه رضی الله عنها وغیره په خاص توگه سره قابل ذکر دی (دنور تفصیل دپاره وگوری (علوم قرآن) د احقر مفصل کتاب)

غرض د اسلام په ابتدآء کی زیات زور پرحفظ قرآن ورکړه سو او ددغه وخت په حالاتوکی دا طریقه زیاته محفوظه اوقابل اعتمادوه ځکه چی په دغه زمانه کی دلیکونکو ویونکو تعداد ډیرکم وو، دکتابونو دشائع کولو دپاره دپریس او نوری ذریعی موجود نه وی ځکه چی که یوازی پرلیکلواعتماد سوی وای نو نه به دقرآن شریف په فراخه پیمانه اشاعت سوی وای او نه به یی قابل اعتماد حفاظت ددي پرځای الله ﷺ اهل عربو ته دحافظی داسي قوت ورکړی وو چی یو یو سړی ته به په زرگونو اشعار یاد وو او معمولی معمولی خلقو ته به دخپل اوخپل خاندان څخه چی دهغوی دآسونو پوری نسب نامی یادی وی ، په دي

وجه دقرآن شریف په حفاظت کی ددې قوّت حافظی څخه کار واخیستل سو او ددې په ذریعه دقرآن شریف آیتونه او سورتونه دعربوگوټ (کونج) گوټ (کونج) ته ورسیدل.

﴿ دوحی کتابت ﴾

دقرآن شریف دحفظ کولو څخه ماسوا رسول الله ﷺ دقرآن شریف دلیکلوهم خاص اهتمام کړی دی، حضرت زید بن ثابت رضی الله عنه فرمایي چی مابه ده ﷺ ته دوحی کتابت کوی، کله چی به پرده ﷺ وحی نازلیده نو سخته گرمی به یې کیده او دده ﷺ پرمبارك بدن به دخولی څاڅکی لکه دملغلرو څخیدل، بیاچی به دده ﷺ څخه کله دا کفیت ختم سو نو مابه د اوږی دهډوکی یادبل شي څه ټوټه را واخیسته په خدمت کی به حاضر سوم ده ﷺ به ویل او مابه لیکل تر دی چی کله به زه دلیکلو څخه فارغ سوم نو دقرآن نقل کولو دبوج څخه به ماته داسی محسوسیده لکه چی زماپښی ماتیږي، او زه به یوځای ته تللای هم نه سوم، پرهرحال چی کله به فارغ سوم نو ده ﷺ به وفرمایل وایه مابه وویل او ورته به می واوروی که څه به په کی پاته وو نو اصلاح به یې وفرمایله اوبیا به یې دغه دخلقو مخته را وړی (مجمع الزوائد ۱۱ ۲ هـ بحواله طبرانی)

دحضرت زید بن ثابت رضی الله عنه څخه پرته نورهم ډیر صحابه کرام رضی الله عنهم داسی وه چی دوحی دکتابت فرائض به ادا کول په کوموکی چی خلفاء راشیدین رضی الله عنهم حضرت ابی ابن کعب رضی الله عنه حضرت زبیر بن عوام رضی الله عنه حضرت معاویه رضی الله عنه حضرت مغیره بن شعبه رضی الله عنه حضرت خالد بن الولید رضی الله عنه ثابت بن قیس رضی الله عنه حضرت ابان بن سعید رضی الله عنه او نور پرخاص توگه سره قابل ذکر دی، (دتفصیل دپاره وگوری فتح الباری ۱۸\۹ او زادالمعاد ۳۰\۱)

حضرت عثمان رضی الله عنه فرمایي چی د رسول الله ﷺ عادت به دا وو چی کله به دقرآن شریف یوه برخه نازله سوه نو ده ﷺ به دوحی کاتب ته دا هدایت هم فرمایي چی دا دفلانی سورة دفلانی آیت څخه وروسته ولیکه (فتح الباری ۱۸\۹) په هغه زمانه کی چونکه په عربوکی کاغذکمیاب وو، په دی وجه دا قرآنی آیتونه به زیات تر د ډبرو پرنری پلنو ټوټو، دڅرمنی پرټوټو، دخرماوو پرشاخونو، دبانس په ټوټو، د درختی په بلگونو، دحیوانانو په هډوکو لیکل کیدل، البته کله کله دکاغذ ټوټی هم استعمال سوی دی (ایضاً ۱۱\۹)

دغه رنگه درسالت په زمانه کی دقرآن شریف یوه نسخه خو هغه وه کومه چی رسول الله ﷺ په خپله نگرانی کی لیکلی وه که څه هم دغه دمرتب کتاب په شکل کی نه وه بلکه دمتفرقو ټوټو په شکل کی وه ددې سره ځینو صحابه کرامو رضی الله عنهم هم دخپلو یاداشتونو دپاره دقرآن آیتونه دځان سره لیکل او دا سلسله داسلام د ابتدائی زمانی څخه جاری وه، هم دارنگه دحضرت عمر رضی الله عنه د اسلام را وړلو څخه مخکي دده خور او اخښی په یوه صحیفه کی دقرآن شریف آیتونه لیکلی وه (سیرت ابن هشام)

﴿ دحضرت ابوبکر رضی الله عنه په زمانه کی دقران شریف جمع کول ﴾

لیکن درسول الله ﷺ په زمانه کی چی دقرآن شریف څومره نسخی لیکل سوی وی دهغوی کیفیت دا وو چی یاخو په مختلفو شیانو لیکل سوی وی، ځینی آیتونه په څرمن، ځینی د درختو په بلگونو ځینی په هډوکو یادغه مکملی نسخی نه وی دیوه صحابی سره یوسورة لیکل سوی وو، دچاسره لس (۱۰) یاپنځه (۵) سورتونه اودچاسره یوازی څوآیتونه اودځینو اصحابو رضی الله عنهم سره دآیتونوسره تفسیری جملی هم لیکل سوی وی

په دی وجه حضرت ابوبکر ﷺ دخلافت په خپله زمانه کی دا ضروری وګڼله چی دقرآن دا پاشلی برخی په یو ځای یې جمع او محفوظی کړل سی ، دوی دا کار نامه دکومو محرکاتو لاندی اوڅنګه سرته ورسوله ، ددې تفصیل حضرت زیدبن ثابت ﷺ داسی بیان فرمایلی دی ، چی دجنګ یمامه څخه فوراً وروسته حضرت ابوبکر ﷺ یوه ورځ ماته پیغام راولیږی ، زه یې را وبللم چی زه راغلم نو هلته حضرت عمر ﷺ هم موجود وو حضرت ابوبکر ﷺ ماته وفرمایل چی عمر ﷺ اوس راغی ماته یی دا خبره وکړه چی په جنګ یمامه کی دقرآن شریف دحافظانو یولوی جماعت شهید سو اوکه په مختلفو مقاماتو دقرآن شریف حافظان دغه رنګه شهیدان کیږي نوزماسره بیره ده چی هسی نه دقرآن شریف یوه لویه حصه نایابه سی ، په دی وجه زمارایه دا ده چی ته په خپل حکم سره دقرآن شریف دجمع کولو کار شورع کړه ، ماعمر ﷺ ته وویل چی کوم کار رسول الله ﷺ په خپله نه دی کړی ، نو مونږ هغه څنګه وکو ؟

عمر ﷺ جواب ورکی چی په خدای ﷻ قسم دا کار بهتر او بهتر دی ، ددې څخه وروسته عمر ﷺ بار بار دا ویل تر دی چی زماهم ورته سینه خلاصه سوه او اوس زما رایه هم دغه ده کومه چی دعمر ﷺ ده ، ددې څخه وروسته حضرت ابوبکر ﷺ ماته وفرمایل چی ته ځوان اوپوه سړی یې ، زمونږستاپه باره کی بدګمانی نسته تاد رسول الله ﷺ په وړاندی دوحی دکتابت کار هم کړی دی په دی وجه ته دقرآن شریف آیتونه تلاش کوه او جمع کوه یې .

حضرت زید بن ثابت ﷺ فرمایی چی په خدای ﷻ قسم دی چې که دی حضراتو ماته دغره نړولو حکم کړی وای نو پرمابه دهغه دومره بوج نه وای څومره چی دقرآن شریف جمع کولو دکار وو ، مادوی ته وویل چی تاسی هغه کار څنګه کوی کوم چی رسول الله ﷺ نه دی کړی دوی ﷺ وفرمایل چی په خدای ﷻ قسم دا کار ډیر ښه دی او بیاحضرت ابوبکر ﷺ ماته باربار دا ویل ، تردی چی الله ﷻ زماسینه ددې رایی دپاره خلاصه کړه کومه رایه چی دحضرت ابوبکر ﷺ اوعمر ﷺ وه ، هم دارنګه مادقرآن شریف دآیتونو تلاش کول شروع کي او دخرماوو دښاخونو دډبرو دتوتو او دخلقو دسینو څخه می قرآن شرف جمع کی (صحیح بخاری کتاب فضائل القران)

په دی موقع دقرآن دجمع کولو په سلسله کی دحضرت زید بن ثابت دکار طریقه په ښه ډول سره پیژندل په کار دی ، لکه چی مخکی ذکر سوی دی چی دی په خپله دقرآن شریف حافظ وو نو ده په خپلو یاداښتو سره پوره قرآن شریف لیکلی سوای ، ددې څخه پرته په سوونو حافظان دغه وخت موجود وه ، د دوی یو جماعت یې جمع کولای ، او قرآن شریف یې لیکلای سوای .

دارنګه دقرآن شریف چی کومی نسخی درسول الله ﷺ په زمانه کی لیکل سوی وی ، حضرت زید ﷺ دهغو څخه هم قرآن شریف نقل کولای سوای ، لیکن د دوی د احتیاط ترمخه یوازی په یوه طریقه بس والی ونه کی بلکه دټولو ذریعو څخه یې په یو وخت کار واخیستي ترهغه وخته پوری یې یو آیت په خپلو صحیفو کی ونه لکي ترڅو پوری چی دهغه دمتواترکیدو تحریری او زبانی شهادتونه به پیدانه سوه ، ددې څخه ماسوا چی رسول الله ﷺ دقرآن شریف کوم آیتونه په خپله نګرانی کی لیکلی وه ، هغه دمختلفو اصحابو ﷺ سره محفوظ وه ، حضرت زید ﷺ دغه ټوله یې یوځای کړل چی نوی نسخه هم ددغو څخه نقل کړل سی

هم دارنگه داعام اعلان وسو چی دکوم سړی سره دقرآن شریف څومره آیتونه لیکلی وی ، هغه دحضرت زید ﷺ ته را وړی او کله چی به ده ته دقرآن شریف یو آیت چالیکلی را وړی نو به لاندینوڅلورو طریقو سره به یې دهغه تصدیق کوی .

(۱) د ټول څخه اول به یې په خپلو یادابنتو سره دهغه توثیق کوی .

(۲) بیا حضرت عمر ﷺ هم دقرآن حافظ وو او په روایتونو سره ثابته ده چی حضرت ابوبکر ﷺ دی هم په دې کار دحضرت زید ﷺ سره لګولی وو او کله چی به چاېو روایت را وړی نو دې دواړو به ورڅخه په شریکه وصول وی (فتح الباری ۹/۱۱ بحواله ابن ابی داود)

(۳) یو لیکلې سوی آیت به ترهغه وخته پوری نه سو قبلولای ترڅو چی به دوه قابل اعتبار شاهدانو ددې خبری شاهدی نه وه ورکړی چی دا آیت د رسول الله ﷺ په وړاندی لیکل سوی وه (اتقان ۱/ ۱۰)

(۴) ددې څخه وروسته به ددغو لیکل سوو آیتونو دهغو مجموعو سره مقابله کولای سوه کومی چی به مختلفو صحابه وو تیاری کړی وی (البرهان فی علوم القرآن للزرکشی رحمه الله ۱/ ۲۳۸) چی دحضرت ابوبکر ﷺ د زمانی دقرآن جمع کولو دا طریقه کار په ذهن کی وی نو دحضرت زید بن ثابت ﷺ ددې ارشاد مطلب په ښه شان په پوه کی را تلای سی چی ،دسورة براة اخری آیت ﴿لَقَدْ جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ الخ ﴾ ماته یوازی دحضرت ابوخزیمه ﷺ سره پیداسو دده څخه ماسوا دبل چاسره پیدا نه سو ، ددې مطلب دا هیڅکله نه دې چی دا آیتونه ماسوا دحضرت خزیمه ﷺ څخه بل چاته یاد نه وه ، یادبل چاسره لیکلی نه وه او د دوی څخه ماسوا بل چا ته ددې دقرآن جزء کیدل معلوم نه وو ، بلکه مطلب دا دې چی کومو خلقو د رسول الله ﷺ لیکل سوی آیتونه را وړل ، په دوی کی داآیتونه ماسوا دحضرت خزیمه ﷺ څخه دبل چاسره پیدا نه سول ، که نه وی ترڅوپوری چی ددې آیتونو دقرآن شریف جزء کیدو تعلق دی دا خبره په تواتر سره ټولو ته معلومه وه ځکه چی په سوونو اصحابو ﷺ ته یادهم وو او دکومو حضراتو سره چی دقرآن د آیتونو پوره سوی مجموعی وی دهغو سره لیکل سوی هم وه ، لیکن د رسول الله ﷺ په نګرانی کی جلا لیکل سوی یوازی دحضرت خزیمه ﷺ سره پیداسو دبل چاسره نه (البرهان ۱/ ۲۳۴، ۲۳۵)

پر هرحال حضرت زیدبن ثابت ﷺ د دومره زبردست احتیاط سره دقرآن آیتونه جمع کړل ، دکاغذ په صحیفو یې په مرتب شکل کی ولیکل (اتقان ۱/۶۰) لیکن هرسورة پرجلاصحیفه ولیکل سو، په دې وجه دا نسخه په ډیرو صحیفو مشتمله وه په اصطلاح کی دغه نسخی ته ، اُمْ ، ویلای سی ، او ددې خصوصیات دا وه .

(۱) په دې نسخه کی دقرآن شریف آیتونه خو د رسول الله ﷺ دښوول سوی ترتیب مطابق مرتب وه لیکن سورتونه مرتب نه وه ، بلکه هر سورة جلا جلا لیکل سوی وو (اتقان حواله بالا)

(۲) په دې نسخه کی دقرآن اووه حرفونه (دکوم ذکرچی پورته سوی دی جمع وو (مناهل العرفان ۱/ ۲۴۶تاریخ القرآن للکردی رحمه الله صـ ۲۸)

(۳) په دې کی هغه ټول آیتونه جمع سوی دی دکومو تلاوت چی منسوخ سوی نه وو .

(۴) ددې نسخی دلیکلو مقصد دا وو چی یوه مرتبه نسخه دټول امت د اجماعی تصدیق سره تیاره سی

چی دضرورت راتلو په وخت ورته رجوع کولای سی.
دحضرت ابوبکر ﷺ لیکل سوی دا صحیفی د دوی په ژوندکی د دوی سره وی بیادحضرت عمر ﷺ سره دحضرت ﷺ دشهادت څخه وروسته یې دا ام المؤمنین حضرت حفصی رضی الله عنها ته منتقل کړی، بیا دحضرت حفصی رضی الله عنها د انتقال څخه وروسته مروان بن الحکم دغه په دی خیال سره وسوزلی، چی دغه وخت دحضرت عثمان ﷺ تیارکړل سوی مصاحف تیار سوی وو، او په دې خبره د امت اجماع منعقده سوی وه، چی درسم الخط اوسورتونو دترتیب په لحاظ سره ددې مصاحفو پیروی لازمه ده، مروان بن الحکم فکر وکی چی اوس څه داسی نسخه پاته کول نه دی په کار کومه چی ددې رسم الخط او ترتیب څخه خلاف وی (فتح الباری ۱۲۱۹)

﴿ دحضرت عثمان ﷺ په زمانه کی دقران شریف جمع کول ﴾

هرکله چی حضرت عثمان ﷺ خلیفه سو نو اسلام دعربو څخه وتلی وو او دروم او ایران لیرې لیرې علاقو ته رسیدلی وو، دهری نوی علاقی خلق چی به مسلمانیدل نوهغوبه دهغو مجاهدینو څخه یادهغو تاجرانو څخه قرآن شریف زده کوی دکومو په برکت چی به دوی ته د اسلام دولت حاصل سوی وو مخکی تاسو ویلی دی، چی قرآن شریف په اووه حرفونو نازل سوی وو اومختلفو اصحابو ﷺ دا د رسول الله ﷺ څخه په مختلفو قراتونو سره زده کړی وو، په دې وجه هرصحابی ﷺ به خپلو شاگردانو ته ددغه قرائت برابر ور ایزده کوی دکوم مطابق چی به ده په خپله درسول الله ﷺ څخه ایزده کړی وو، دغه رنگه دقراتونو دا اختلاف لیرې لیرې ملکونو ته ورسیدی، ترکومه پوری چی خلق ددې حقیقت څخه خبر وو چی قرآن په اوو(۷) حرفونو باندی نازل سوی دی، ترهغه پوری ددې اختلاف څخه څه خرابی نه وه پیدا سوی، لیکن هرکله چی دا اختلاف لیرې ملکونو ته ورسیدی او دا خبره په هغو کی پوره مشهوره نه کړل سوه چی قرآن شریف په اوو(۷) حرفونو باندې نازل سوی دی نو دغه وخت په خلقوکی جنگونه پیدا کیدل شروع سول څینو خلقو به خپل قرائت ته صحیح ویل او دبل هغی ته غلط، ددې جنگو څخه یوه طرف ته خو دا خطره وه چی خلق به دقرآن شریف متواتر قراتونو ته غلط وایی، او په سخته غلطی کی به اخته سی، بل طرف ته ماسوا دحضرت زید ﷺ دلیکل سوی یوې نسخی ته کومه چی په مدینه منوره کی موجود وه په ټول عالم اسلام کی بله داسی معیاری نسخه موجوده نه وه کومه چی دټول امت دپاره حجت جوړسي. څکه چی نوری نسخی په انفرادی توگه سره لیکل سوی وی او د اوو(۷) حرفونو دجمع کولو په کی څه اهتمام نه وو په دی وجه ددې جنگونو دفیصله کولو قابل اعتماد صورت دا وو چی داسی نسخی په ټوله عالم اسلام کی خپری کړل سی په کوموکی چی اووه (۷) حرفونه جمع وی او ددغه په لیدو دافیصله کولای سي چی کوم قرائت صحیح اوکوم غلط دی، حضرت عثمان ﷺ دخلافت په خپل دورکی دا عظیم الشانه کارنامه وکړه.

ددی کار نامی تفصیل دحدیث درروایتونو څخه دا معلومیږي چی حضرت حذیفه بن یمان ﷺ دارمینیا او اذر بائجان په محاذ په جهادکی مشغول وو، هلته دوی ولیدل چی په خلقوکی دقرآن شریف دقرائتونو په باره کی اختلاف کیږي، هم دارنگه مدینې طیبې ته دبیرته را رسیدو سره سم حضرت عثمان ﷺ ته

ورسیدی اوعرض یې وکی چې امیرالمؤمنین مخکی ددې څخه چې دا امت دالله ﷻ دکتاب په باره کی دیهودو اونصاراوو په شان د اختلافاتو ښکارسی ته ددې علاج وکړه ، حضرت عثمان ﷛ پوښتنه وکړه چې خبره څه ده ؟ حضرت حذیفه ﷛ وویل چې زه د ارمینیا په محاذ په جهاد کی شامل وم ، هلته ماولیدل چې خلق دشام دأبی ابن کعب ﷛ قرائت وایې کوم چې به عراقیانو نه وی اوریدلی او دعراق خلق دعبدالله ابن مسعود ﷛ قرائت وایې کوم چې به دشام خلقو نه وی اوریدلی ددې په نتیجه کی یو بل ته کافر وایې.

حضرت عثمان ﷛ په خپله هم ددې خطرې مخکې احساس کړی وو ، دوی ته دا خبره پیدا سوی وه ، چې په خپله په مدینه منوره کی داسی واقعات راپیښ سوی دی چې دقرآن شریف یومعلم خپلو شاګردانو ته دیو قرائت مطابق قرآن وویل او بل دبل قرائت مطابق ، دغه رنګه چې دمختلفو استاذانو شاګردان چې کله به دیو بل سره یوځای سول نو اختلاف به په کی جوړ سو او ځینی وخت به دا اختلاف استاذانو ته ورسیدی او هغو به هم دیوبل قرائت ته غلط ویل ، کله چې حضرت حذیفه ﷛ هم دی خطری طرف ته د دوی توجه را وګرځوله نوحضرت عثمان ﷛ جلیل القدر صحابه را جمع کړل او د دوی ﷛ سره یې مشهوره وکړه او وې فرمایل چې (ماته دا اطلاع پیدا سوی ده چې ځیني خلق دیو بل سره دا قسم خبري کوی چې زما قرائت ستا دقرائت څخه بهتر دی او دا خبره دکفر حدته رسیدلای سی نوستاسی ددې خلقو په باره کی څه رایه ده ؟ اصحابو ﷛ په خپله دحضرت عثمان ﷛ څخه پوښتنه وکړه چې ، تاسی څه فکر کړی دی ؟ دوی ﷛ وفرمایل چې ، زما رایه دا ده چې مونږ ټول خلق په یو مصحف باندی جمع کو ، چې څه اختلاف او افتراق راپیښ نه سی ، اصحابو ﷛ دا رایه خوښه کړه او دحضرت عثمان ﷛ تائد یې وکی.

هم دارنګه حضرت عثمان ﷛ خلق جمع کړل او یوه خطبه یې ورکړه او وې فرمایل چې تاسی په مدینه منوره کی زماپه څنګه کی دقرآن شریف دقرائتونو په باره کی دیو بل تکذیب او دیوبل اختلاف کوی ، نو ددې څخه ښکاره ده چې کوم خلق زماڅخه لیرې دی هغو خو به ډیر زیات تکذیب او اختلاف کوی نو ټول راجمع سی او دقرآن شریف یوه داسی نسخه تیاره کړی چې دټولو دپاره واجب الاقتداء وی.

ددې غرض دپاره حضرت عثمان ﷛ حضرت حفصی رض ته پیغام ولیږې چې ستاسره (دحضرت ابوبکر ﷛ تیاره کړی) کومه نسخه موجوده ده هغه مونږ ته را ولیږه چې مونږ نقل ورڅخه وکوو نو تاته به یې بیرته درکو ، حضرت حفصی رض هغه صحیفی حضرت عثمان ﷛ ته ولیږل ، حضرت عثمان ﷛ دڅلورو اصحابو ﷛ یوه ټولی جوړه کړه کوم چې پرحضرت زیدبن ثابت ﷛ حضرت عبدالله ابن زبیر ﷛ حضرت سعیدبن العاص ﷛ اوحضرت عبدالرحمٰن بن حارث بن هشام ﷛ باندی مشتمل وو ، دا ټولی یې په دی کار باندې مأموره کړه چې دوی دحضرت ابوبکر ﷛ دصحیفو څخه نقل وکړی او داسی مصاحف تیارکړی په کومو کی چې سورتونه هم مرتب وی ، په دی څلورو سره صحابو ﷛ کی حضرت زید ﷛ انصاری وو اوپاته دري سره قریشي وو ، په دې وجه حضرت عثمان ﷛ دوی ته وفرمایل چې کله ستاسی او دحضرت زید ﷛ دقرآن په یوه برخه کی اختلاف وی یعني داسی اختلاف وی چې کوم لفظ څنګه ولیکل سی ، نو دقریشو دژبی مطابق یې لیکي ځکه چې قرآن شریف د دوی په ژبه کی نازل سوی دی.

په بنیادی توګه خو دا کار دي ذکرسوی څلورو حضراتو ته وسپارل سو لیکن بیا ورسره نور صحابه کرام

ﷺ هم د دوی دمدد دپاره ولګول سو (فتح الباری صـ ۱۳ صـ ۱۵ ج ۹) دی حضراتو دقرآن شریف دکتابت په سلسله کی لاندینی کارونه وکړل.

(۱) دحضرت ابوبکر ﷺ په زمانه کی چی کومه نسخه تیاره سوی وه په هغه کی سورتونه مرتب نه وه، بلکه هر سورة جلا جلا لیکل سوی وو، دي حضراتو ټول سورتونه په ترتیب سره په یو مصحف کی ولیکل (مستدرك ۲۲۹|۲)

(۲) دقرآن شریف آیتونه یې داسی ولیکل چی په رسم الخط کی یې ټول متواتر قراءتونه ځای سی، په دي وجه یې په دې نه نقطی ولګولی او نه حرکات (یعني زور، زیر، پیښ) چي دټولو متواترو قراءتونو مطابق ویلای سی، مثلاً (ننسرها) یې ولیکی چي (نُنْشِزُهَا او نَنْشُرُهَا) په دواړو و دوارو سره ویل کیدای سی، ځکه چی دا دواړه قراءتونه صحیح دی (مناهل العرفان ۱| ۲۵۳، ۲۵۴)

(۳) تر اوسه دقرآن شریف مکمله معیاری نسخه کومه چي دټول امت په اجتماعی تصدیق تیاره سوی وی، یوازی یوه وه، دی حضراتو ددې نوی تیار سوی مصحف دیوه څخه زیات نقلونه تیارکړل، په عامه توګه سره مشهوره دا ده چي حضرت عثمان ﷺ پنځه مصاحف تیارکړی وو، لیکن د ابو حاتم سجستانی ارشاد دي چي ټولی اووه (۷) نسخي تیاری سوی وی په کوموکی چی یوه مکی مکرّمی، یوه شام یوه یمن، یو بحرین یوه بصری اویوه کوفی ته ولیږل سوه او یوه په مدینه منوره کی محفوظه کښېښوول سوه (فتح الباری ۱۷|۹)

(۴) دپورته ذکرسوی کار کولو دپاره دی حضراتو په بنیادی توګه خو هغه صحیفی په مخکی کښېښوولی کومی چی دحضرت ابوبکر ﷺ په زمانه کی لیکل سوی وی لیکن ددې سره دزیات احتیاط دپاره یې هغه طریقه کار اختیارکی کوم چی دحضرت ابوبکر ﷺ په زمانه کی اختیار کړل سوی وه، هم دارنګه درسول الله ﷺ دزمانې چی کوم مختلف تحریرونه دمختلفو صحابه کرامو ﷺ سره محفوظ وو، هغه یې بیرته را وغوښتل او دنوی سره یې ددغو سره مقابله وکړه، دا نسخې یې تیاری کړی، په دې پیره دسورة احزاب یو آیت ﴿مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ رِجَالٌ صَدَقُوْا مَاعَاهَدُوا اللهَ عَلَيْهِ﴾ یوازی لیکلی سوی او یوازی دحضرت خذیمه ﷺ انصاری سره پیدا سو، مخکی مونږ لیکلی دی چی ددې مطلب دا نه دي چی دا آیت بل چاته یاد نه وو، ځکه چی حضرت زید ﷺ په خپله فرمایي چي دمصحف لیکلو په وخت کی دسورة احزاب هغه آیت پیدانه سو کوم چی به ما د رسول الله ﷺ څخه او ریدی، ددې څخه صفاښکاره ده چی دا آیت حضرت زید ﷺ او نورو اصحابو ﷺ ته ښه یاد وو، دغه شان ددې مطلب دا هم نه دي چي دا آیت چیري بل ځای لیکلی نه وو ځکه چی دحضرت ابوبکر ﷺ په زمانه کی کومی صحیفی ولیکل سوی ښکاره ده چی دا آیت په هغه کي موجود وو، دارنګه دنورو صحابوؤ سره چی دقرآن شریف کوم په انفرادی توګه لیکل سوی نسخی موجودی وی په هغو کی دا آیت هم شامل وو، لیکن چونکه دحضرت ابوبکر ﷺ دزمانی په شان دا وار هم هغه ټول مختلف تحریرونه جمع کړل سوی وو کوم چی دصحابه کرامو ﷺ سره لیکل سوی وو، په دی وجه حضرت زید ﷺ وغیره په دی مصاحفوکی یو آیت ترهغه وخته پوري ونه لیکی، ترڅوچی په دغو تحریرونو کی به هم هغه پیدا نه سو، دغه رنګه نور آیتونه خودبې

شمیر اصحابو ﷺ سره جلا لیکل سوی هم یوځای سول لیکن دسورة احزاب دا آیت ماسوا دحضرت خزیمه ﷺ څخه بل چاسره جلا لیکل سوی پیدا نه سو .

(۵) دقرآن شریف بې شمیره معیاری نسخې تیارولو څخه وروسته حضرت عثمان ﷺ دغه ټولې انفرادی نسخې وسوځلې کومې چې دمختلفو صحابه ؤ سره موجود وې چې درسم الخط دمسلمه قرائتونو اجتماع او دسورتونو دترتیب په اعتبار سره ټول مصاحف یو شان او اختلاف په کې باقي پاته نه سي .

دحضرت عثمان دې کارنامې ته ټول امت د استحسان په نظر وکتل او ټولو اصحابو ﷺ په دې کار کې دده تائید او حمایت وفرمایې ، یوازې حضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ ته په دې معامله کې لږ خفګان وو چې دتفصیل یې دا موقع نه ده (۱) حضرت علي ﷺ فرمایي دعثمان ﷺ په باره کې هیڅ خبره بغیر دهغه دښه والي څخه مه وایاست ځکه چې په الله ﷻ قسم هغه چې دمصاحفو په معامله کې چې کوم کار وکې هغه یې زمونږ دټولو په موجودګۍ کې په مشهوره سره وکی (فتح الباری ۱۹\ ۱۵)

﴿په تلاوت کې داسانۍ پیداکولو اقدامات﴾

دحضرت عثمان ﷺ دپورته بیان سوی کارنامې څخه وروسته د امت په دې اجماع وسوه چې قرآن شریف درسم عثماني خلاف په بله طریقه لیکل جائزنه دی هم دارنګه ددې څخه وروسته ټول مصاحف ددې طریقې مطابق ولیکل سول او اصحابو ﷺ او تابعینو رحمهم الله دمصاحف عثماني نقلونه تیار کړل او دقرآن شریف خپریدل یې په لویه پیمانه وکړه .

لیکن تر اوسه دقرآن شریف نسخې چونکه دنقطو زور ، زیر ، پیښ څخه خالي وې په دې وجه عجمیانو ته ددې ویل ګران وو ، نو هرکله چې اسلام په عجمي ملکونوکې زیات خپور سو نو ددې خبرې ضرورت محسوس سو چې په دې دنقطو اوحرکتونو اضافه وکړل سي چې ټول خلق یې په آساني سره تلاوت وکي، ددې مقصد دپاره مختلف اقدامات وسول چې تاریخ یې داسې دی .

﴿ نقطې یعنې ټکې ﴾

په عربوکې ابتداءً په حرفونو دنقطو لګولو رواج نه وو ، او ویونکې ددې طرز دومره عادی وو چې بغیر دنقطو څخه دلیکلو په ویلوکې ورته څه ګرانوالې نه وو ، او دسیاقي (وروسته) اوسباق (مخکې) په مدد سره به ورته مشتبه حرفونوکې امتیازهم آسانه وو، په خاص توګه سره دقرآن شریف په معامله کې خو د اشتباه څه امکان ځکه نه وو چې ددې دحفاظت مدار پرکتابت نه بلکه پرحافظه باندې وو اوحضرت عثمان ﷺ چې کومې نسخې دعالم اسلام مختلفو برخو ته لیږلې وې دهغه سره یې قاریان هم لیږلي وو کوم چې ددې ویل خلقو ته ازده کوی .

په دې کې روایتونه مختلف دی چې دقرآن شریف په نسخو تر ټولوځخه اول چانقطې واچولې ؟ ځینې روایتونه وایي چې دا کار نامه دټولو څخه مخکې حضرت ابوالاسود ولی رحمه الله پوره کړه (البرهان ۱\۲۵۰) دځینو وینا ده چې دوی دا کار دحضرت علي ﷺ تلقین لاندې وکی (صبح الاعشی ۳\۱۵۵) اوځینې وایي چې دکوفې ګورنر زیاد بن ابي سفیان په ده دا کار وکی او یو روایت دا هم دې چې دا کار نامه حجاج بن یوسف دحسن بصري رحمه الله یحیی بن یعمر رحمه الله او نصر بن عاصم لیثي رحمه الله په ذریعه

سره سرته ورسوله (تفسیر القرطبی ۱\ ۶۳)

﴿ حرکات ﴾

دنقطو په ډول سره په شروع کی پرقرآن شریف حرکات (زور ، زیر ، پیښ) هم نه وو او په دی کی هم د روایتونو لوی اختلاف دی چی دتولو څخه اول حرکات چاکښیښول ؟ دځینو حضراتو وینا ده چی دا کار ترټولو څخه مخکی ابوالاسود ولی رحمه الله وکی ، ځینی وایی چی داکار حجاج بن یوسف په یحیی بن یعمر رحمه الله او نصر بن عاصم لیثی رحمه الله باندی وکی (قرطبی ۱\ ۶۳)

په دی سلسله کی دټولو روایتونو ترمخه داسی معلومیږی چی حرکات دټولوڅخه اول ابوالاسود ولی رحمه الله وضع کړل ، لیکن دا حرکات داسی نه وو لکه چی نن دی بلکه د زور دپاره دحرف لوړ یوه نقطه (ـَ) دزیر دپاره دحرف لاندی یوه نقطه (.) او دپیښ دپاره دحرف په مخکی یوه نقطه (ـــ ٠) او دتنوین دپاره دوې نقطې (ـً یا ـٍ یا ـٌ) مقرر کړی وروسته خلیل بن احمد رحمه الله دهمزه اوتشدید علامې وضع کړی (صبح الا عشی ۳\ ۱۲۰ ، ۱۶۱) ددې څخه وروسته حجاج بن یوسف پریحیی بن یعمر رضی الله عنه نصر بن عاصم لیثی اوحسن بصری رحمه الله باندی یو وخت پرقرآن شریف دنقطو او حرکاتو لګولو حکم وکی ، په دی موقع دحرکاتو د اظهار دپاره دنقطو پرځای د زیر ، زور ، پیښ موجوده صورتونه مقررکړل سول چی دحروفو د ذاتی نقطو سره د دوی التباس راپیښ نه سی ، والله سبحانه وتعالی اعلم .

﴿ احزاب یامنزلونه ﴾

د اصحابو رضی الله عنهم او تابعینو رحمهم الله عادت وو چی په هره هفته کی به یی قرآن شریف ختموی ددې مقصد دپاره دوی د روزانه تلاوت دپاره یومقدار مقرر کړی وو ، چی (جزب) یا(منزل) به ورته ویل کیږي ، دغه ډول ټول قرآن شریف به اوو(۷) حزبونو باندی تقسیم سوی وو (البرهان ۱\ ۲۵۰)

﴿ اجزاء یا پارې (سیپارې) ﴾

نن صباقرآن شریف په دیرشو (۳۰) اجزاو باندی تقسیم دی کوموته چی دیرش (۳۰) پارې وایی (سیپارې) وایی ، دا تقسیم دپاره دمعنی په اعتبار سره نه دی ، بلکه کوچنیانو ته دویلو د آسانی دپاره یې په دیرشو مساوی برخو باندی تقسیم کړل سو هم دارنګه ځینی اوقات بالکل په پرنیمګړی خبره باندی پاره ختمه سی په یقین سره دا خبره کول مشکل دی چی دا د دیرشو پارو تقسیم چا کړی دی ؟ دځینو حضراتو خیال دی چی حضرت عثمان رضی الله عنه دمصاحفو نقل کولو په وخت دوی رضی الله عنه په دیرشو مختلفو صحیفو کی لیکلی وو ، په دی وجه دا تقسیم دهغوی رضی الله عنه د زمانی دی ، لیکن دمتقدمینو په کتابونوکی ددې هیڅ دلیل احقر ته نه دی پیداسوی البته علامه بدرالدین زرکشی رحمه الله لیکلی دي چی دقرآن شریف دیرش (۳۰) پارې را روانی دي اودمدرسوپه قرآني نسخوکی ددې رواج دي ، (البرهان ۱\ ۲۵۰ مناهل العرفان ۱\ ۴۰۲) په ظاهره داسی معلومیږي چی دا تقسیم د اصحابو رضی الله عنهم د دور څخه وروسته دتعلیم د آسانی دپاره سوی دی ، والله اعلم .

﴿ اخماس او اعشار ﴾

دقرون اولی په قرانې نسخو کی دیو بلی نښانې رواج وو ، او هغه دا چی دهرو پنځو آیتونوڅخه وروسته

پرحاشیه لفظ د (خُمس) یا(خ) او دهرولسو آیتونو څخه وروسته لفظ د (عشر) یا(ع) لیکلی سو ، اول قسم علاموته اخماس ، او دوهم قسم ته به اعشار ویلای سو (مناهل العرفان ۴۰۳\۱) په متقدمینوعلماؤ کی دا اختلاف هم راغلی دی چی ځینو حضراتو به دا علامې جائز او ځینو مکروه ګڼل ، په یقین سره دا ویل مشکل دی چی دا علامې تر ټولو څخه اول چا ولګول یو قول دا دي چی ددې موجّد حجاج بن یوسف وو ، او بل قوا دا دي چی ترټولو څخه مخکی عباس خلیفه مامون ددې امر کړی وو ، (البرهان ۲۵۱\۱) لیکن دا دواړه قولونه ځکه صحیح نه معلومیږي چی په خپله داصحابو ﷺ په زمانه کی د اعشارو تصور پیداکیږي، هم دارنګه حضرت مسروق رحمه الله فرمایي چی حضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ به په مصحف کی د اعشارو نښان اچول مکروه ګڼل (مصنف ابن ابی شیبه ۴۹۷\۳)

﴿ رکوع ﴾

داخماسو او اعشارو علامی خو وروسته پریښوول سول لیکن یوه بله علامه کوم چی ترننه پوری رواج ده د رکوع علامه ده او ددې تعین دقرآن شریف دمضامینو په لحاظ سره سوی دی ، یعني کوم ځای چی یوه سلسله دکلام ختمه سوه ، هلته یې په حاشیه د (ع) علامه جوړه کړه ، احقرته دپلټنی باوجود په مستند توګه سره دا معلومه نه سوه چی درکوع ابتداء چا او په کوم دورکی وکړه ؟ البته دا خبره تقریباً یقینی ده چی ددې علامه مقصد د آیتونو دیو داسی متوسط مقدار تعین دي چی په یوه رکعت کی وویل سی او دی ته (رکوع) ځکه وایی چی په لمانځه کی دی ته اورسیږي ، چی رکوع وکړی ، په پوره قرآن شریف کی ۵۴۰ رکوع ګانی دی (په فتاوٰی عالمګیریه کی دبخارٰی دمشائخو په حواله سره درکوع ګانو تعداد ۵۴۰ بیان کړل سوي دي لیکن چی کله مونږ دقرآن شریف په مروجه نسخو کی په خپله شمیر وکی نو درکوع ګانو تعداد مو ۵۵۸ پیدا کی ، او ځینو دوستانو مونږ ته په خط کی ولیکل چی دهغوی دشمیر مطابق درکوع ګانو تعداد ۵۶۷ دی . کیدای سی چی د رکوع علامه لګولو کی هم په مختلفو نسخو کی څه اختلاف وی . والله تعالی اعلم ازناشر ۱۶\۱۲\۱۴۱۲ هـ) دغه رنګه که دتروایحو پر هر رکعت کی یوه رکوع ووایي نو په اوه ویښتمه شپه قرآن شریف ختمیږي (فتاوٰی عالمګیریه فصل التراویح ۹۴\۱)

﴿رموز اوقاف﴾

دتلاوت اوتجوید دآسانی دپاره یو بل مفید کار دا وسو چی په مختلفو قرآنی جملو باندی داسی اشاری ولیکل سوی دکومو څخه چی دا معلومه سی چی دلته وقف کول (ساه اخیستل) څنګه دی ؟ دی اشاراتو (رموز اوقاف) وایی اومقصدیې دا دي چی یوغیرعربی دان انسان هم چی کله تلاوت کوی نو چی پرصحیح مقام وقف وکړل سی او په غلط ځای دساه په اخیستو څه تبدلی پیدا نه سی په دی کی اکثره رموز ترټولو څخه مخکی علامه ابوعبدالله محمدبن طیفور سجاوندی رحمه الله وضع کړل (النشرفی القرات العشر ۲۲۵\۱) ددې رموزو تفصیل دا دی .

ط : دا د (وقف مطلق مخفف دی او ددې مطلب دا دی چی دلته خبره پوره سوه نو دلته وقف کول بهتره دی)

ج :دا د (وقف جائز) مخفف دی او مطلب یې دا دي چی دلته وقف کول جائز دی .

ز: دا د (وقف مجوز) مخفف دی چی مطلب یې دا دی چی دلته وقف کول صحیح خو دی لیکن ښه دا ده چی وقف ونه کړل سی.
ص: دا د (وقف مرخَص) مخفف دی او ددې مطلب دا دی چی دلته خبره خو پوره نه سوه لیکن جمله چونکه اوږده سوه په دې وجه دساه اخیستلو دپاره د نورو ځایونو پرځای دلته وقف کول په کار دی (المنح الفکریه صـ ۶۳)
م: دا د (وقف لازم) مخفف دی او ددې مطلب دا دی چی دلته که وقف ونه سی نو دایت په معنیٰ کی دفحش غلطی امکان دی، په دی وجه دلته وقف کول زیات ښه دی ځینی حضرات دی ته وقف واجب هم وایې لیکن ددې څخه مراد فقهی واجب نه دی چی په پرېښوولو یې ګناه وی بلکه مقصد یوازی دا دی چی په ټولو اوقافو کی دلته وقف کول زیات بهتره دی (النشر ۱۱ ۶۳)
لا: دا د (لاتقف) مخفف دی، مطلب یې دا دی چی دلته مه درېږه لیکن منشاء یې دا نه ده چی دلته وقف کول ناجائز دی، بلکه په دی کی دیر ځایونه داسی دی کوم ځای چی په وقف کولو کی څه تکلیف نسته او ددې څخه وروسته والا لفظ څخه ابتداء کول هم جائز دی. په دی وجه ددې صحیح مطلب دا دی چی که دلته وقف وسی نو ښه دا ده چی دوهم وار بیرته پر راوګرځی اووې وایی دمخکښی لفظ څخه شروع کول ښه نه دی (النشر صـ ۲۳۳ ج)
ددې رموز په باره کی خو په یقیني توګه سره ثابته ده چی دا علامه سجاوندی وضع کړی دی. ددې څخه ماسوا هم ځیني رموز دقرآن شریف په نسخو کی موجود دی مثلاً.
مع: دا د (معانقه) مخفف دی دا علامه هغه ځای لیکل کیږي کوم ځای چی په یوه آیت کی دوه تفسیرونه ممکن دی، دیوه تفسیر مطابق وقف یوځای وی او دبل مطابق بل ځای، په دی وجه په دغه کی یوځای وقف کولای سی لیکن دیوه ځای وقف کولو څخه وروسته بل ځای وقف کول صحیح نه دی، مثلاً ذَالِكَ مَثَلُهُمْ فِی التَّوْرٰاةِ، وَمَثَلُهُمْ فِی الْاِنْجِیْلِ، کَزَرْعٍ اَخْرَجَ شَطْاَهُ الخ په دی کی که په (اَلتَّورٰة) وقف وسو نو په انجیل وقف کول صحیح نه دی او که په انجیل وقف کول وی نو په التوراة وقف صحیح نه دی، البته که دواړه ځایه وقف ونه کړی نو صحیح ده ددې یو نوم (مقابله) هم دی او ددې ترټولو څخه اول نخښه امام ابو الفضل رازی فرمایلی ده (النشر صـ۲۳۷ ج ۱ والاتقان صـ۸۸ج ۱)
سکته: دا دسکتی علامه ده او ددې مقصد دا دی چی دلته دریدل په کار دی لیکن چی ساه بنده نه سی دا عموماً هغه ځای را ورلای سی کوم ځای چی په متصل ویلو سره دغلط فهمی بیره وی.
وقفه: دلته ترسکتی څخه لږ زیات دریدل په کار دی لیکن چی ساه دلته هم بنده نه سی.
ق: دا د (قِیْلَ عَلَیْهِ الْوَقْف) مخفف دی مطلب دا دی چی دځینو په نزد دلته وقف دی او دځینو په نزد نه دی.
قف: دا لفظ قِفْ دی چی معنیٰ یې ده و دریږه او دا هغه ځای راورلای سی کوم ځای چی ویونکی ته دا خیال کیدای سی چی دلته وقف صحیح نه دی.
صلی: دا د (اَلْوَصْلُ اَوْلیٰ) مخفف دی چی معنیٰ یې ده متصل ویل ښه دی.

صل : دا د (قَدْ يُوْصَلُ) مخفف دی یعنی دلته څینی خلق دریږي او څینی متصل ویل ښه بولی .
وقف النبی ﷺ : دا په هغه ځایونو کی لیکل کیږي کوم ځای چي دیوه روایت په روسره دا ثابته ده چی رسول الله ﷺ دتلاوت کولو په وخت کی دلته وقف کړی وو .

﴿ دقران شریف طباعت ﴾

ترڅو چی پریس ایجاد سوی نه وو ، دقرآن شریف ټولی نسخی په قلم لیکل سوي او په هر دور کی دداسی کاتبانو لوی جماعت موجود پاته سوی دی چی دقرآن شریف دکتابت څخه ماسوا بله مشغله نه وه . دقرآن شریف حرفونه ترښه څخه په ښه انداز کی دلیکلو دپاره مسلمانانو چی کوم محنتونه وکړل او ددې عظیم کتاب سره یې چی څنګه دخپل شغل اظهار وکی ددې یو لوی مفصل اودلچسپ تاریخ دی چی مستقل تصنیف غواړی دلته یې دتفصیل امکان نسته .
بیاچی کله پریس ایجاد سو نو ترټولو څخه اول دهیمبرګ په مقام سـ۱۱۱۳ـنه کی قرآن شریف طبع سو چی یوه نسخه یې تر اوسه په دارالکتب المصریة کی موجود ده ، ددې څخه وروسته ډیرو مستشرقینو دقرآن شریف نسخي طبع کړی لیکن په اسلامی دنیاکی ورته مقبولیت حاصل نه سو ، بیاپه مسلمانانوکی تر ټولو څخه اول مولای عثمان د روس په ښار سینټ پیټرس برګ کی په سـ۱۷۸۷ـنه کی دقرآن شریف یوه نسخه طبع کړه ، دغه رنګه قازان کی هم یوه نسخه چاپ سوه په سـ۱۸۲۸ـنه کی دایران په تهران ښار کی په ګټه طبع کړل سو ، بیا دا نسخي په ټوله دنیا کی خپری سوی (دتفصیل دپاره تاریخ القرآن للکر دی رحمه الله صـ ۸۶ اوعلوم القرآن د ډاکټر صبحی صالح اردو ترجمه دغلام احمد حریری صـ۱۴۲ وګوره)

دتفسیر علم

اوس دتفسیر دعلم متعلق څینی ضروری معلومات په خدمت کی دی په عربي ژبه کی دتفسیر لفظی معنی ده (ښکاره کول) او په اصطلاح کی علم تفسیر هغه علم ته وابی په کوم کی چی دقرآن شریف معنی بیان کړل سی او احکام او حکمونه یې په ډاګه واضح کړل سی (البرهان) په قرآن شریف کی رسول الله ﷺ ته خطاب کوی ارشاد فرمایی .
﴿وَاَنْزَلْنَا اِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَانُزِّلَ اِلَيْهِمْ﴾
او مونږ قرآن شریف پرتا نازل کی چي ته خلګو ته هغه خبری په وضاحت سره بیان کړی کومی چی دوی ته نازلی کړل سوی دی .
دارنګه دقرآن شریف ارشاد مبارك دی .
﴿لَقَدْ مَنَّ اللّٰهُ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ اِذْ بَعَثَ فِيْهِمْ رَسُوْلاً مِّنْ اَنْفُسِهِمْ يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ آيٰتِهٖ وَيُزَكِّيْهِمْ وَ يُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ﴾
بیشکه الله ﷻ پرمسلمانانو لوی احسان کړی دی چی د دوی په مینځ کی یې د دوی څخه یو رسول الله ﷺ ولیږي چی دوی ته د الله ﷻ آیتونه تلاوت کړی او دوی پاك صاف کړی او دوی ته دالله ﷻ دکتاب اوپوهی دخبرو تعلیم ورکړی .

هم دارنگه رسول الله ﷺ صحابه کرامو ؓ ته یوازی دقرآن شریف الفاظ نه ور ازده کول ، بلکه ددې پوره تفصیل به یې بیان فرمایی ، دا وجه ده چې صحابه کرامو ؓ ته به دیوه یوه سورة په ویلو کی څینی وخت څو څو کلونه لګېدل چې تفصیل به یې انشاء الله تعالی وروسته راسی .
ترڅو پوری چې رسول الله ﷺ په دنیا کی تشریف فرماوو ، ترهغه وخته دیوه آیت تفسیرمعلومول څه مشکل نه وو ، صحابه کرامو ؓ ته چې به کوم ځای څه مشکل پیښ سو نو ده ﷺ ته به یې رجوع کوله او زړه ارامونکی جواب به ورته ورسیدی ، لیکن دده ﷺ څخه وروسته ددې خبری ضرورت وو چې دقرآن شریف تفسیر دیو مستقل علم په صورت کی محفوظ کړل سی چې د امت دپاره دقرآن شریف دالفاظو سره سره د دوی معنیٰ هم محفوظه سی او دملحدو اوګمراه خلګو دپاره ددې دمعنوی تحریف امکان باقی پاته نه سی ، دارنګه دالله ﷻ په فضل اوتوفیق سرهٔ دی امت دا کارنامه په داسی حسن اوخوبی سره سرته ورسوله چې نن مونږ دا خبره له خوفه او تردیده ویلای سو چې دالله ﷻ ددې اخری کتاب یوازی الفاظ محفوظ نه دی بلکه ددې هغه صحیح تفسیر او تشریح هم محفوظ ده ، کومه چې د رسول الله ﷺ څخه تر دوی دځان قربانوونکو صحابه ؓ په ذریعه مونږ ته را رسیدلی ده .
علم تفسیر دی امت په څه ډول سره محفوظ کی ؟ په دی لاره کی دوی څنګه تکلیفونه برداشت کړه او دا کوشش دڅومره مرحلو څخه تیر سو ؟ ددې یو اوږد او دلچسپ تاریخ دی دکوم چې دلته موقع نه ده (۱) لیکن دلته په لنډه دا ښوول دی چې دقرآن شریف دتفسیر ماخذ څه څه دی ؟ او په علم تفسیر چې کوم بې شمیره کتابونه په هره ژبه کی رسیږي ، دوی دقرآن شریف په تشریح کی دکومو سرچشمونه استفاده کړی ده دغه رنګه سر چشمی تولی شپږ دی .

(۱) دی دپاره علوم قرآن کی د احقر مفصل کتاب وګوری .

﴿ (۱) قران شریف ﴾

دعلم تفسیر اول ماخذ قرآن شریف دی دارنګه داسی ډېرکیږي چې په یو آیت کی څه خبره مجمله اوتشریح طلب وی نو دقرآن شریف بل آیت ددې مفهوم واضح ، مثلاً دسورة فاتحه په دعا کی دا جمله موجوده ده چې (صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ) یعنی مونږ ته دهغو خلګو دلاری لارښوونه وکړی په کومو چې ستا انعام وسو ، اوس دلته دا خبره واضحه نه ده چې هغه کوم خلګ دی په کومو چې الله ﷻ انعام وکی ، لیکن په یو بل آیت کی دا په واضح توګه سره متعین کړل سوه دارنګه ارشاد دی .

﴿ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللهُ عَلَيْهِمْ مِّنَ النَّبِيّٖنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَآءِ وَالصّٰلِحِيْنَ ﴾

دا هغه خلګ دی په کومو چې الله ﷻ انعام کړی دی یعنی انبیاء صدیقن شهداء او صالحین خلګ ، دارنګه مفسرین کرام کله دیو ایت تفسیر کوی نو ترټولو څخه اول دا ګوری چې ددې ایت تفسیر په خپله په قرآن شریف کی بل ځای سته اوکه نه ؟ که موجود وی نو ترټولو څخه اول دغه اختیار وی .

﴿ (۲) حدیث ﴾

حدیث درسول الله ﷺ اقوالو او افعالو ته وایي اولکه چې مخکی بیان سوی دی چې الله ﷻ دقرآن شریف سره څکه ده ﷺ مبعوث کړی وو چې خلګو ته دقرآن شریف تشریح ښکاره ښکاره بیان کړی دارنګه دوی

په خپل قول او عمل دواړو سره دا فرض په ښه ډول پوره کي او په حقيقت کي د دوی پوره ژوند مبارك دقرآن عملي تفسير دی ، په دی وجه مفسرينو په قرآن شريف دپوهيدو دپاره په دوهمه درجه کي ترټولو ځخه زيات زور په حديث ورکړی دی او ډحديثو په رڼا کي يی دقرآن شريف معنی متعين کړی ده ، ليکن په حديثوکی دصحيح ضعيف اوموضع هرقسم روايات موجود دی ، په دی وجه محققين مفسرين ترهغه وخته يو روايت قابل اعتماد نه ګني ترڅو چی دغه روايتونه دتنقيد په اصولو پوره نه سی نوکوم روايت چی چيري په نظر راسی دهغه په ليدو دقرآن شريف تفسير متعين کول صحيح نه دی ځکه چی دغه روايت ضعيف او دنورو مضبوط روايتونو خلاف هم کيدای سی او په حقيقت کي دا معامله ډيره نازکه ده اوقدم ايښوول په کښی دهغو خلګو کار دی چاچی خپل عمرونه په دی قسم علمونو حاصلولو کی خرڅ کړی دی .

﴿ (۳) داصحابو ﷺ اقوال ﴾

صحابه کرامو ﷺ دقرآن شريف تعليم سېده په سېده د رسول الله ﷺ ځخه حاصل کړی وو ، ددې ځخه علاوه دوحی دنزول په وخت کی دوی په خپله موجود وو او دقرآن شريف دنزول ماحول او وروسته منظر يی په خپله ليدلی وو ، په دی وجه په فطری توګه دقرآن شريف په تفسيرکی ددی حضراتو اقوال چی څومره مستند او قابل اعتماد کېدای سی ، وروسته خلقو ته دغه مقام نه سی حاصليدای ، په دی وجه دکومو آيتونو تفسير چی دقرآن شريف اوحديث ځخه نه سی معلومېدای ، په دغوکی ترټولو ځخه زيات اهميت دصحابه کرامو ﷺ اقوالو ته حاصل دی ، دارنګه که ديو ايت په تفسير باندی داصحابو ﷺ اتفاق وی نو مفسرين کرام دغه اختيار وی او ددغه خلاف بل تفسير بيانول جائز نه دی ، البته که ديوه آيت په تفسير کی دصحابه کرامو ﷺ اقوال مختلف وی نو وروسته مفسرين دنورو دليلونو په رڼا کی دا ګوری چی کوم تفسير له ترجيح ورکړی ؟ په دی معامله کی اهم اصول او قواعد دفقه اصول دحديث اصول او دتفسير اوصول کی مدوّن دی دلته يې دتفصيل ځای نه دی .

﴿ (۴) دتابعينو اقوال ﴾

د اصحابو ﷺ ځخه وروسته دتابعينو رحمهم الله درجی راجی داهغه حضرات دی کوموچی دقرآن شريف تفسير دصحابه کرامو ﷺ ځخه ازده کړی دی ، په دی وجه د دوی اقوال هم په علم تفسيرکی دلوی اهميت لرونکې دی که څه هم په دی معامله کی دعلماؤ اختلاف دی چی دتابعينو اقوال په تفسيرکی دليل دی او که نه دی ؟ (الاتقان ۱۷۹۱۲) ليکن داهميت ځخه يی انکار نه سی کيدی .

﴿ (۵) دعربو لغت ﴾

قرآن شريف چونکه په عربی ژبه کی نازل سوی دی په دی وجه دقرآن شريف دتفسير دپاره په دی ژبه مکمل عبور حاصلول ضروری دی ، دقرآن شريف ډير آيتونه داسی دی چی ددې وروسته کوم شان نزول ياځه بله فقهی ياکلامی مسئله نه وی، په دی وجه ددغوپه تفسيرکی درسول الله ﷺ يااصحابو ﷺ ياتابعينو رحمهم الله اقوال منقول نه دی ، هم دارنګه دهغو دتفسير ذريعه يوازی لغت دعربو وی او دلغت په بنياد باندی ددغو تشريح کيدای سی ، ددې ځخه ماسوا که ديوه ايت په تفسيرکی څه

اختلاف وي نو دمختلفو رايو په محاکمه کي دلغت دعلم څخه کار اخيستل کيږي .

﴿ (۶) تدبر او استنباط ﴾

دتفسير اخري ماخذ (تدبر او استنباط) دی دقرآن شريف نکتي او اسرار يو داسی نايابه درياب دی چی هيڅ حد او نهايت او پاي يی نسته ، هم دارنګه کوم سړی ته الله ﷻ په اسلامی علوموکی بصيرت ورکړی وی ، هغه چی څومره په دی کی غور او فکر کوی ، دومره په دی کی نوی رازونه اونکتی مخ ته راځی هم دارنګه مفسرين کرام رحمهم الله دخپل تدبر نتيجی هم په خپلو تفسيرونو کی بيان کړی دی ، ليکن دا رازونه او نکتی هغه وخت قبليدو قابلی وی کله چی ددغو ذکر سوو لوړو پنځوماخذو سره يی ټکر نه وی ، نوکه چا دقرآن شريف تفسيرکی څه داسی نکته يا اجتهادبيان کی کوم چی دقرآن شريف اوسنت اجماع لغت يا صحابه رضی الله عنهم اوتابعينو رحمهم الله د اقوالو څخه خلاف وی يادیوبل شرعی اصول سره ټکر خوری ، نو ددې هيڅ اعتبار نسته ، ځينی صوفيانو په تفسير کی ددې قسم رازونو اونکتی بيانول شروع کړی وه ليکن د امت محققو عالمانو دغه قابل اعتبار نه دی ګڼلی ځکه چې دقرآن شريف اوسنت او شريعت بنيادی اصولو خلاف ديو شخصی رايی ظاهره ده چی هيڅ حيثيت نه لری (اتقان ۲\ ۱۸۴)

﴿ اسرائلياتو حکم ﴾

اسرائليات . هغو روايتونو ته وايی کوم چی داهل کتابو يهودو اونصاراؤ څخه مونږ ته را رسيدلی دی ، په اوله زمانه کی دمفسرينو عادت وو چی دوی به ديوه ايت لاندی هرهغه قسم روايتونه ليکل کوم چی به دوی ته په سند سره رسيدلی وو ، په دی کی به ډير روايتونه د اسرائلياتو هم وه په دی وجه ددغو دحقيقت څخه واقف کيدل هم ضروری دی ، ددې حقيقت دا دی چی ځينی اصحابو رضی الله عنهم او تابعينو رحمهم الله اول د اهل کتابو دمذهب سره تعلق ساتی بيا چی کله دوی په اسلام مشرف سول او دقرآن شريف تعليم يی حاصل کی نو دوی ته په قرآن شريف کی دتيرو سوو امتو ډير هغه واقعات په نظر راغلل کوم چی دوی دتيرو مذهبونو په کتابونوکی ويلی وه ، هم دارنګه هغوی به دقرآنی واقعاتوپه سلسله کی هغه تفصيلات مسلمانانوته بيانول کوم چی به دوی دخپل مذهب په کتابونوکی ليدلی وه دا داسرائلياتو په نامه سره دتفسير په کتابونوکی داخل سوی دی حافظ ابن کثير رحمه الله کوم چی دغتو محققو مفسرينو څخه دی دوی ليکلی دی چی د اسرائلياتو دری (۳) قسمونه دی .

(۱) هغه روايتونه دکومو صداقت چی په قرآن سنّت اونورو دلائلو سره ثابت دی ، مثلاً دفرعون غرقيدل او دحضرت موسٰی علیه السلام کوه طور ته تشريف وړل .

(۲) هغه روايتونه دکومو دروغوالی چی په قرآن سنّت اونورو دلائلو سره ثابت دی مثلاً په اسرائلی روايتونوکی دا ذکر دی چی حضرت سلَيمان علیه السلام په خپل اخری عمرکی (معاذالله) مرتدسوی وو ، ددې ترديد په قرآن شريف سره ثابت دی ارشاد دی ﴿ وَمَا كَفَرَ سُلَيْمَانُ وَلَكِنَّ الشَّيَاطِينَ كَفَرُوا ﴾ (او سليمان علیه السلام کافر سوی نه وو ، بلکه شيطانانو کفر کړی وو) دغه رنګه په اسرائلی روايتونوکی دی چی (معاذالله) حضرت داود علیه السلام دخپل قوماندان اوريا دښځی سره زنا وکړه يايی په مختلفو تدبيرونو سره مړکی او ده دښځی سره يی نکاح وکړه ، دا ښکاره دروغ دی اوغلط يی ګڼل په کار دی .

(۳) هغه روایتونه دکومو په باره کی چی قرآن شریف سنت اونورشرعی دلیلونه پته دی لکه دتورات احکام وغیره ، دداسی روایتونو په باره کی درسول الله ﷺ تعلیم دا دی چی ددې په باره کې ... سکوت اختیار کړل سی ، نه دی ددې تکذیب کول کیږي . اونه ددې تصدیق ، البته په دی مسئله کی دعلماؤ اختلاف دی چی ایا داسی روایتونه نقل کول جائز هم دی اوکه نه ؟ حافظ ابن کثیر رحمه الله یی قول فیصل دا بیان کړی دی چی نقل کول یی جائز خو دی لیکن فائده په کی نسته ځکه چی په شرعی اعتبار سره دغه حجت نه دی (مقدمه ابن کثیر)

دقران دتفسیر په باره کی یوه سخته غلط فهمی

دپورته ذکر سوی تفصیل ځخه به دا خبره واضحه سوی وی چی دقرآن شریف تفسیر یوانتهایی نازك او مشکل کار دی ، دکوم دپاره چی یوازی دعربی ژبی پیژندل کافی نه دی ، بلکه پرټولو متعلقه علوموکی مهارت ضروري دی هم دارنگه علماؤ لیکلی دی چی دمفسر قرآن دپاره ضروري ده چی دعربی ژبی دنحو ، صرف او بلاغت او ادب ځخه ماسوا دعلم حدیث ، اصول فقهه او تفسیر اوعقائد اوکلام وسیع اوژور علم لری ځکه چی ترڅوپوری ددې علوموسره یی مناسبت نه وی انسان دقرآن شریف په تفسیرکی صحیح نتیجی ته نه سی رسیدای .

افسوس دی چی دځه مودی ځخه وروسته په مسلمانانوکی دا خطرناکه وبا چلیدلی ده چی ډیرو خلقو یوازی عربی ویل دقرآن دتفسیر دپاره کافی گڼلی ده ، نو چی کوم سړی معمولی عربی ژبه هم ووایی ، هغه دقرآن شریف په تفسیر کی رایه وهل شروع کړی ، بلکه ځینی وخت خو داسی هم لیدی سی ، چی دعربی ژبی څه ډیر معمولی شُدبُدلرونکی چی په عربی یی مکمل عبورهم نه وی ، نه یوازی په من مانه طریقه دقرآن شریف تفسیر شروع کوی ، بلکه دپخوانیو مفسّرینو په غلطو را ایستو پسی سی ، تر دی چی ځینی ستم ظریف خو یوازی دترجمی مطالعه وکړی اوخپل ځان دقرآن شریف عالم گڼی او په لویو لویو مفسرینو باندی دتنقید کولو ځخه نه بیریږي .

ښه پوهیدل په کار دی چی دا انتهائی خطرناکه طریقه عمل دی کوم چی ددین په معالمه کی نهایت هلاکونکی گمراهی طرف ته بیول کوی ، ددنیوی علومو اوفنونو په باره کی هر سړی په دی پوهیږي چی که یوسړی یوازی دانگریزی ژبه ازده کړی ، دمیډیکل سائنس کتابونه وگوری ، نو ددنیا یو هوښیار به هم دی ډاکټر تسلیم نه کړی او نه خپل ځان ده ته حواله کولای سی ترڅو پوری چی ده باقاعده په میډیکل کالج کی تعلیم اوتربیت حاصل کړی نه وی ، ځکه چی د ډاکټر جوړیدو دپاره یوازی انگریزی زده کول کافی نه دی بلکه د ډاکټری باقاعده تعلیم اوتربیت حاصلول ضروری دی " دغه رنگه که یو انگریزی پوه سړی د انجینیرنگ کتابونه وگوری اونجینیر جوړیدل وغواړی نو ددنیا یوباخبره انسان به هم دی انجینیر تسلیم نه کړی ځکه چی دا کار یوازی په انگریزی زده کولو سره نه کیږي ، بلکه ددې دپاره دماهرو استاذانو په تربیت کی پاته کیدل باقاعده دفن زده کول ضروری دی هرکله چی د ډاکټر او انجینیر جوړیدو دپاره دا سخت شرطونه ضروری دی نو اخر دقرآن اوحدیث په معامله کی یوازی عربی

ژبه زده کول ځنګه کافي کیدای سی د ژوند په هره شعبه کی هرڅوك دا اصول پیژني اوعمل په کوي چي دعلم اوفن د زده کولو دپاره یوه خاص طریقه اومخصوص شرطونه سول ، دکومو دپوره کولوڅخه بغیر چي په دغه علم اوفن کی دده رایه معتبره نه سی ګڼلای نو اخر قرآن او سنت دومره لاوارثه ځنګه کیدای سی چي دتشریح اوتفسیر دپاره به يي دڅه علم او فن حاصلولو ضرورت نه وي او چي څوك وغواړي رایه زني دي په کښي کولای سی .ځيني خلګ وايي چي قرآن شریف په خپله ارشاد فرمایلی دي چي .

﴿ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ ﴾

بیشکه مونږ قرآن شریف دنصیحت دپاره آسانه کړی دی .

اوهرکله چي قرآن یو آسانه کتاب دی نو ددې دتشریح دپاره د اوږد پلن علم اوفن ضرورت نسته ، لیکن دا استدلال یوه سخته مغالطه ده کومه چي په کم فهمي اوسطحیت باندي بناء ده ، واقعه دا ده چي دقرآن شریف آیتونه دوه قسمه دي یو دعام نصیحت آیتونه سبق زده واقعات او دعبرت اوموعظت مضامین په کی بیان سوي دي لکه ددنیا ناپائیداري دجنت دوږخ حالات ، بیره دخدای ﷻ ، او دفکر اخرت پیدا کونکي آیتونه او دژوند نور ساده حقیقتونه ددې قسمه آیتونه بلاشبهه آسانه دي اوڅوك چي دعربي ژبي څخه واقف وي هغه په پوهیدي اونصیحت ورڅخه حاصلولای سی ، په پورته ذکر سوي ایت کی ددې قسمه تعلیماتو په باره کی دا ویل سوي دي چي دا مونږ آسانه کړي دي په خپله په دي ایت کی لفظ د (للذکر دنصیحت دپاره) په دي دلالت کوي .

ددي برخلاف نورقسم آیتونه هغه دي کوم چي په احکامو ، قوانینو ، عقائدو اوعلمي مضامینومشتمل دي،په دي قسم آیتونوکماحقه پوهیدل اواحکام اومسائل ورڅخه را ایستل دهرسړي کارنه دی ترڅو چي په اسلامي علومو کی بصیرت اوپوخ والی حاصل نه وي ، ذاوجه ده چي داصحابو ﷺ مورني ژبه که څه هم عربي وه اودعربي زده کولودپاره دوي ته دڅه تعلیم حاصلولوضرورت نه وو ،لیکن درسول الله ﷺ څخه دقرآن شریف په تعلیم حاصلولوکی به يي اوږدي مودي صرف کولي ، علامه سیوطي رحمه الله دامام ابوعبدالرحمٰن سلمي رحمه الله څخه نقل کړی دي چي کومو حضراتو اصحابو ﷺ د رسول الله ﷺ څخه دقرآن شریف باقاعده تعلیم حاصل کړی دی ، مثلاً عثمان بن عفان ﷺ اوعبدالله ابن مسعود ﷺ وغیره ، دوی مونږته وویل چي کله به دوی درسول الله ﷺ څخه دقرآن شریف لس (۱۰) آیتونه زده کړل نوترهغه به مخکې نه تلي ترڅو چي به ددغو آیتونومتعلق دټولوعلمي اوعملي خبرو احاطه ونه کړه ، دوی به فرمایل .

﴿ لَتَعَلَّمْنَا الْقُرْاٰنَ وَالْعِلْمَ وَالْعَمَلَ جَمِيْعًا ﴾

مونږ قرآن اوعلم اوعمل یوځای زده کړي دي (اتقان ۱۷۶/۲)

هم دارنګه په موطاء امام مالك کی روایت دي چي حضرت عبدالله بن عمر ﷺ یوازي دسورة بقره په یادولو کی اته (۸) کاله صرف کړل او په مسند احمد کی حضرت انس ﷺ فرمایي چي په مونږکی به چاسورة بقره او سورة آل عمران وویل ، زمونږ په نظرونو کی به دهغه مرتبه ډیره لوړه وه (اتقان ۱۷۲/۲نوع ۷۷)

دفکر خبره دا ده چي صحابه ﷺ دچاچي مورنۍ ژبه عربي وه او په شعر او ادب کی يې مهارت تامه درلو دی اوچاته چي غټي غټي قصیدي په معمولي توجه سره یادیدي هغوی ته دقرآن شریف په یادولو او په

معانیو یي دخان پوهولو دپاره د دومره اوږدې مودې څه ضرورت وو چي اته کاله یې یوازې دیوه سورة په ویلوکې خرخ سی ؟ ددې وجه یوازې دا وه چي دقرآن شریف او ددې دعلومو دزده کړې دپاره یوازې دعربي ژبې مهارت کافي نه وو ، بلکه ددې دپاره د رسول الله ﷺ دصحبت اوتعلیم څخه ګټه اخیستل ضروري وه ، اوس ظاهره ده چي هرکله صحابه کرامو ؓ ته دعربي ژبې مهارت او دنزول وحی سیده په سیده دمشاهدې کولو باوجود د(عالم قرآن) جوړیدو دپاره باقاعده درسول الله ﷺ دتعلیم حاصلولو ضرورت وونو دقرآن دنزول څخه په سوونو کاله وروسته دعربي دمعمولي شدبُد پیداکولو یوازې دترجمې په کتلو دمفسر قرآن جوړیدو دعوه څومره دلویه زړه ورتیااو دعلم دین سره څومره افسوسناك مذاق دی ؟ داسې خلګو ته کوم چي داسې زړه ورتیاکوي درسول الله ﷺ دا ارشاد په ښه ډول سره یادول په کار دي.

(مَنْ قَالَ فِي الْقُرْآنِ بِغَيْرِ عِلْمٍ فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ فِي النَّارِ)

څوك چي دقرآن په معامله کې بغیر دعلم څخه خبرې وکړي ، خپل ځان دپاره دې په جهنم کې ځای جوړ کړي (ابوداود از اتقان ۱۷۹\۲)

او (مَنْ تَكَلَّمَ فِي الْقُرْآنِ بِرَأْيِهِ فَأَصَابَ فَقَدْ أَخْطَأَ)

څوك چي دقرآن په معامله کې محض په خپله رایه سره خبرې کوي او صحیح خبره وکړي بیا یې هم غلطي وکړه (ابوداود نسائي از اتقان ۱۷۹\۲)

مشهوره تفسیرونه

درسالت دزماني څخه وروسته دقرآن شریف بې شمیره تفسیرونه لیکل سوي دي بلکه ددنیا دیوه کتاب هم دومره خدمت نه دی سوی څومره چي دقرآن شریف سوي دي ددې ټولو تفسیرونو تعارف په یوه مفصل کتاب کې هم ممکن نه دی ، دا لاڅه کوي چي په دې مختصره ډول په مقدمه کې ددې اراده وسي لیکن دلته مونږ دهغو مهمو تفسیرونو لنډ ډول سره تعارف کول غواړو کوم چي دمعارف القرآن خاص ماخذ دي اوچي حواله یې وار وار په معارف کې راغلې ده که څه هم دمعارف دتصنیف په دوران کې ډېر تفسیرونه او سوونو کتابونه ترکتلو لاندې راغلي دي لیکن دلته تذکره یوازې دهغو مقصود ده دکومو حوالې چي ډېرې راغلي دي.

﴿ تفسیر ابن جریر ﴾

ددې تفسیر اصل نوم (جامع البیان) دی اودا دعلامه ابوجعفر محمدبن جریر طبري رحمه الله (متوفی سنه ۳۱۰ هـ) تالیف دی دپورته درجې مفسر محدّث اومورّخ دی ، منقول دي چي دی ترڅلویښتو کالو پورې مسلسل په لیکلوکې مشغول وو او روزانه به یې څلویښت پاڼې لیکل (البدایه والنهایه صـ ۱۴۵ جـ ۱۱) ځینو حضراتو په ده دشیعه کیدو الزام لګولی دی ، لیکن محققینو ددې الزام تردیدکړی دی اوحقیقت هم دا دی چي دی داهل سنت جلیل القدر عالم دی بلکه د دوی شمیر په ائمه مجتهدینو کې کیږي.

دده تفسیر په دیرشو (۳۰) جلدونو کې دی او وروسته تفسیرونو دپاره دبنیادي ماخذ حیثیت لري ، دی دآیتونو په تفسیرکې دعلماؤ مختلف اقوال نقل کوي اوبیاچي کوم قول دده په نزد راجح وي ، هغه په

دلائلو سره ثابتوی ، البته دده په تفسیرکی صحیح او سقیم هر ډول روایتونه جمع سوی دی ، په دی وجه دده په بیان سوی هر روایت اعتماد نه سی کیدای ، په اصل کی ددې تفسیر څخه دده مقصد دا وو ، چی دقرآن دتفسیر په باره کی څومره روایتونه ده ته په لاس ورسی ، هغه ټول جمع کړی چی ددې جمع سوو موادو څخه کار واخیستل سی ، البته دوی دهر روایت سره دده سند هم ذکر کړی دی چی که څوك غواړی دراویانو تحقیق وکړی او د روایت دصحیح یاغلط کیدو فیصله وکړی.

﴿ تفسیر ابن کثیر ﴾

دا دحافظ عمادالدین ابوالفداء اسماعیل بن کثیر دمشقی شافعی رحمه الله (متوفی ۷۷۵ هـ) تصنیف دی کوم چی داتمی صدی دممتاز او محققو عالمانو څخه دی دده تفسیر په څلورو جلدونو کی چاپ سوی دی په دی کی زیات زور پرتفسیری روایتونو دی اوخاص خبره دا ده چی مصنف په روایتونو محدثانه تنقید هم کوی او په دی لحاظ سره دا کتاب په ټولو کتابونو دتفسیر کی ممتاز مقام لری.

﴿ تفسیر القرطبی ﴾

ددې پوره نوم (الجامع الاحکام القرآن) دی داندلس دمشهور اومحقق عالم علامه ابوعبدالله محمد بن احمد بن ابی بکر بن فرح القرطبی (متوفی سنه ۶۷۱ هـ) تصنیف دی کوم چي په فقه کی دامام مالك دمسلك پیروی وو او په عادت او زهدکی اوښارونو کی مشهور وو ، په اصل کی ددې کتاب بنیادی موضوع خو دقرآن شریف دفقهی احکامو اومسئلو استنباط وو ، لیکن په دی ضمن کی دوی دآیتونو تشریح ، دمشکل الفاظو تحقیق ، اعراب او بلاغت او متعلقة روایتونه هم په تفسیر کی ښه جمع کړی دی دا کتاب په دوولسو(۱۲) جلدونو کی دی او وار وار چاپ سوی دی.

﴿ تفسیرکبیر ﴾

دا د امام فخرالدین رازی (متوفی ۶۰۶ هـ) تصنیف دی او ددی اصلی نوم (مفاتیح الغیب) دی خو دتفسیر کبیر په نامه سره مشهوردی . امام رازی د اسلام دمتکلمینو امام دی ، په دی وجه دده په تفسیرکی عقلی اوکلامی بحثونه او دباطلو فرقو په تردید زور ورکړل سوی دی ، لیکن حقیقت دا دی چی دحل قرآن په لحاظ سره هم دا تفسیرخپل مثل په خپله دی او په دی کی چی په کوم زړه کښښونکی انداز کی دقرآن شریف دمعانیو وضاحت او دقرآنی آیتونو دیو دبله ربط تشریح سوی ده ، دغه ډیره قابل وړ ده غالبه دا ده چی امام رازی رحمه الله سورة فتح پوری تفسیر په خپله لکلی دی ، ددې څخه وروسته دوی دا پوره نه کي . هم دارنگه دسورة فتح څخه تر اخره پوری حصه قاضی شهاب الدین خلیل الخولی الدمشقی (متوفی ۶۳۹ هـ) یاشیخ نجم الدین احمد بن محمد القمولی (متوفی سنه ۷۷۷ هـ) مکمل کړی ده (کشف الظنون ۲/۴۷۷)

امام رازی رحمه الله دخپلی زمانې دضرورت مطابق پرکلامی بحث او دباطلو فرقو پر تردید خاص زور ورکړی دی او په دی ضمن کی ددې بحثونه په ډیرو ځایونوکی ډیر اوږده سوی دی ، په دی وجه ځینی حضراتو دده په تفسیر داسی تبصره کړی ده (فِیْهِ کُلّ شَیْ ءٍ اِلاَّ التَّفْسِیْر) (په دی کی دتفسیر څخه ماسوا هرڅه سته) لیکن دا تبصره پرتفسیرکبیر لوی ظلم دی ، حقیقت دا دی کوم چی لوربیان سو چی دحل قرآن

په لحاظ سره هم ددې تفسير پايه ډيره لوړه ده ، البته په يوځومقاماتوباندې دوی دجمهور امت دلارې ځخه يوې خواته سوی دقرآنی آيتونوتفسيرکړی دی ليکن دامقامات داتو(۸) ضخيموجلدونوپه دې کتاب کی خال خال دی.

﴿ تفسيرالبحر المحيط ﴾

دا دعلامه ابوحيان غرناطی اندلسی (متوفی سنه ۷۵۴ هـ) تصنيف دی چاچی د اسلامی علومو ځخه علاوه په علم نحو اوبلاغت کی خصوصی مهارت درلودی ، هم دارنګه دده په تفسيرکی دنحو اوبلاغت رنګ ښکاره دی. دی دهر آيت د الفاظو تحقيق دترکيبونو اختلاف او دبلاغت دنکتو په بيانولو باندی خاص زور ورکړی دی.

﴿ احکام القران للجصّاص ﴾

دا دامام ابوبکر جصاص رازی (متوفی سنه ۳۷۰ هـ) تصنيف دی ، کوم چی په احنافو فقهاؤ کی ډير ممتاز مقام حاصل دی ، د دوی ددې کتاب موضوع دقرآن شريف دفقهی احکامو استنباط دی او دوی دمسلسل آيتونو دتفسير پرځای يوازی دهغو آيتونو فقهی تفصيلات بيان کړی دی ، کوم چی په فقهی احکامو مشتمل دی ، په دی موضوع دوی نور هم ډيرکتابونه ليکلی دی ليکن دا په کی ترټولو ځخه ممتاز دی.

﴿ تفسيرالدر المنثور ﴾

دا دعلامه جلال الدين سيوطی رحمه الله (متوفی سنه ۹۱۱ هـ) تصنيف دی او ددی پوره نوم (الدرالمنثور فی التفسير بالماثور) دی په دې، کی علامه سيوطی رحمه الله دهغو ټولو روايتونو ديوه ځای کيدو کوشش کړی دی کوم چی دقرآن دتفسير متعلق ده ته رسيدلی دی ددې ځخه مخکی ډيرو محدثينو مثلاً حافظ ابن جرير رحمه الله امام بغوی رحمه الله ابن مردويه رحمه الله ابن حبان رحمه الله او ابن ماجه او نورو په خپل خپل توګه دا کار کړی دی ، البته علامه سيوطی رحمه الله ددې ټولوبيان کړی روايتونه په دی کتاب کی جمع کړی دی ، البته ده درروايتونو سره دهغو دپوره سند د ذکر کولو پرځای يوازی دهغه مصنف په نامه ذکر کولو باندی بس والی کړی دی کوم چی دا روايت په خپل سند سره بيان کړی دی چی په وخت دضرورت ده ته رجوع وسی ، او دسند تحقيق وسی ، چونکه دده مقصد درواياتو ذخيره يوځای کول وو ، په دی وجه په دی کتاب کی هم صحيح اوسقيم هر دول روايتونه جمع سوی دی او دسند دتحقيق کولو ځخه بغيرده بيان کړی هر روايت ور اعتماد نه سی کېدلی ، علامه سيوطی رحمه الله ځينی وخت هر روايت سره دا هم ښايی چی ددې سند دکومی درجی دی ليکن چونکه دحديثو په تنقيد کی دی خاص متساهل مشهور دی په دی وجه پرده هم اعتماد کما حقه نه سی کيدای.

﴿ تفصيرمظهری ﴾

دا دعلامه قاضی ثناء الله صاحب رحمه الله پانی پتی (متوفی سـ ۱۲۲۵ سـنه هـ) تصنف دی او دوی دخپل شيخ طريقت مرزا مظهر جان جانان دهلوی رحمه الله په نامه سره ددې تفسير نوم تفسير مظهری ايښی دی د دوی دا تفسير ډير ساده او واضح دی او د اختصار سره دقرآنی آيتونو دتشريح معلومولو دپاره ډير

مفید دی دوی دقرآنی آیتونو دتشریح سره متعلقه روایتونه هم په کافی تفصیل سره ذکر کړی دی او دنورو تفسیرونو په مقابله کی یې د زیات پلټنې کولو کوشش کړی دی.

﴿روح المعانی﴾

ددې پوره نوم «روح المعانی فی تفسیرالقرآن العظیم والسبع المثانی» دی اودا دبغداد د اخری دور دمشهورعالم علامه محمود آلوسی رحمه الله (متوفی سـ ۱۲۷ـسنه هـ) تصنیف دی اوپه دیرشو(۳۰) جلدونو باندی مشتمل دی دوی دخپل دی تفسیرترلوی حده پوری دجامع جوړولوکوشش کړی دی دلغت نحو ادب اوبلاغت څخه ماسوا، دفقه، عقائدو، کلام، فلسفه اوهیئت، تصوف اومتعلقه روایتونوباندی هم مبسوط بحثونه کړی دی اوکوشش یې دا کړی دی چی د ایت متعلقه څه علمی کنج تش پاته نه سی، دحدیث دروایتونو په معامله کی هم ده دنورو مفسرینو په مقابله کی احتیاط کړی دی، په دی لحاظ سره دا لوی جامع تفسیر دی او اوس دقرآن دتفسیر په سلسله کی هیڅ کار هم دده دکومك څخه بی نیازه کیدی نه سی.

﴿تمهید﴾

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَدَدَ خَلْقِهِ وَ زِنَةَ عَرْشِهِ وَمِدَادَ كَلِمَاتِهِ وَرِضٰى نَفْسِهِ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى صَفْوَةِ رُسُلِهِ وَخَيْرِ خَلْقِهِ سَيِّدِنَامُحَمَّدٍ وَّ اٰلِهِ وَصَحْبِهِ وَجَمِيْعِ الْاَ نْبِيَاءِ وَالْمُرْ سَلِيْنَ ﴾

اَمَّابَعْدُ

﴿ ددنیا ترټولو څخه لوی نعمت قران شریف دی ﴾

قرآن شریف په دی دنیاکی هغه گران قیمته نعمت دی چی ترټول جهان آسمان اومځکه او په دی کی پیدا کیدونکی مخلوقات ددې بدل نه سی جوړیدای، د انسان ترټولو څخه لوی سعادت اوخوش نصیب دخپل وس مطابق په قرآن شریف کی اشتغال او ددې حاصلول دی او تر ټولو څخه لویه بدبختی او بدنصیبی ددې څخه اعراض او ددې پرینښوول دی، په دی وجه هر مسلمان ته ددې فکر خو فرض عین او ضروری دی چی قرآن شریف دلفظی صحت سره دویلو او اولادته د زده کولو کوشش وکی او بیا چی څومره ممکنه وی ددې معانیو اواحکامو دزده کولو اوعمل کولوپه فکرکی اوسی او دا دخپل ټول عمروظیفه جوړه کی اودخپلی حوصلی اوهمت مطابق ددې چی کومه حصه هم نصیبه سی هغه ددې جهان ترټولو څخه لوی نعمت وګڼی.

دمصنف رحمه الله دژوند مختصرحالات

ناکاره دمخلوقاتو، بنده محمدشفیع زوی دمولانا محمدیٰسین صاحب ددې نعمت شکرنه سی ادا کولای چی الله ﷻ دده ځای دپیدائښت او وطن د اسلامی علمونو مرکز دیو بند جوړ کی او دداسی پلار محترم

په غیږکی یی ورلره دتربیې ځای ورکی ځوك چی دحافظ قرآن او عالم دین کیدو سره د دارالعلوم دیوبند هم عمر وو د دارالعلوم دیوبند دبانیانو علماء ربّانیینو دمجلسونو څخه دفیض پیدا کولو موقعی دوی ته همیشه حاصلی وی ، د دوی وجود ددغو بزرگانو ژوندی تذکره وه او د دوی ژوند دکوچنیوالی څخه تر وفاته پوری په دارالعلوم دیوبند کی پوره سو ، هلته یی تعلیم حاصل کی او هلته مدرس سو ، ټول عمر یی دتعلیم په خدمت کی تیر کی.

د احقر دتعلیم قرآن ابتداء دپلار محترم په غوښتنی سره د دارالعلوم دقرآن د استاذانو حافظ عبدالعظیم صاحب رحمه‌الله او حافظ نامدار خان صاحب رحمه‌الله سره وسو اوبیاپه خپله دپلار محترم په خدمت کی د اردو فارسی حساب او د ابتدایی عربی تعلیم حاصل سو ، بیاپه سـ ۱۳۳۱ـنه ھ کی می د دارالعلوم دعربی په درجه کی دا خله واخیسته ، ترسنه ۱۳۳۵ ھ پوری د درس نظامی نصاب دهغو ماهر فن استاذانو په خدمت کی پوره کی دکومو مثال چی نن ددنیاپه یوکُونج کی پیداکول مشکل دی ، دکوچنیوالی څخه می دعربی ترمتوسط تعلیم پوری دشیخ العرب والعجم سیّدی حضرت مولانامحمودالحسن صاحب شیخ الهند قدس سرّه په خدمت کی حاضری ورکړه ، کله کله به د درس بخاری غیر رسمی حاضری نصیب کیده ، دمالټاجیل څخه دبیرته راتلو څخه وروسته دده پرحق پرست باندی بیعت طریقت نصیب سو او دعربی دعلومو باقاعده تعلیم دلاندینو حضراتو څخه حاصل سو ، حافظ حدیث جامع العلوم حضرت مولانامحمد انور شاه صاحب کشمیری ، عارف بالله حضرت مولانامفتی عزیزالرحمٰن صاحب ، عالم ربانی حضرت مولانا سیّداصغرحسین صاحب ، شیخ الاسلام حضرت مولاناشبیراحمدصاحب عثمانی ، شیخ الادب والفقه حضرت مولانامحمد اعزاز علی صاحب رحمة الله علیهم اجمعین ، او دماهرعلوم معقول اومنقول حضرت علامه مولانامحمد ابراهیم صاحب او دحضرت مولانا محمد رسول خان صاحب څخه افسوس دی چی ددې کرښو دلیکلو په وخت د اخر ی ذکر سوو دوو صاحبانو څخه ماسوا نورو ټولو ددې دارفانی څخه رحلت کړی دی ، الله ﷻ دی د دوی دواړو بزرگانو سایی ترډیره (۲۳ شعبان سـ ۱۳۹۲ ـنه ھ کله چی په معارف القرآن دنظر ثانی کار شروع سو نو دا دواړه بزرگان هم ددې فانی دنیاڅخه رخصت سول ، الله ﷻ دې دوی ته په جوارکی درحمت ځای ورکړی اولوړی درجی دې یی نصیب سی (آمین ثم آمین ثم آمین) په عافیت سره قائم ساتی ، او اهل علمو لره دی ددی څخه دفیض پیداکیدو زیاتی موقعی ورکړی.

د دارالعلوم د استاذانو اومشرانو دشفقت اوعنایت نظر د اول څخه پردې ناکاره باندی ښندل سوی وو ، په سـ ۱۳۳۶ ـنه ھ کی احقر دفنونو باقی کتابونه قاضی اومیر زاهد او امور عامه وغیره ویل شروع کړی وو چی په دی کال کی مشرانو د دارالعلوم احقرته څه سبقان بل چاته دویلودپاره ورکړل ، دغه رنګه سـ ۱۳۳۶ـنه ھ زما دتعلیم او تعلم مشترك کال وو ، په سـ ۱۳۳۷ ـنه ھ کی یی باقاعده په دارالعلوم کی دتدریس په خدمت ولګولم ، دولس کاله مسلسل می دمختلفو علومو او فنونو دمتوسط او اعلی کتابونو د درس خدمت وکی ، په سـ ۱۳۴۹ ـنه ھ کی یی ماته دصدرمفتی په حیثیت سره د دارالعلوم دفتوٰی منصب وسپاری ددې سره څه کتابونه دتفسیر او دحدیث هم زیر درس وو او اخر په سـ ۱۳۶۲ ـنه

هـ کی دتحریك پاکستان دجد اوجهد اودځه نورو اسبابو په وجه د دارالعلوم دیوبند څخه می استعفی ورکړه ،
په دارالعلوم کی شپږویشت (۲۶) کاله خدمت د درس او فتوی سره پرخاصو خاصو موضوعاتو دتصنیف سلسله هم جاري وه ددي ټولو مشاغلو او د دارالعلوم دبزرگانو په صحبت دخپلی حوصلی مطابق دقرآن او حدیث سره ځه مناسبت جوړ سوی وو ، حضرت مجدد الملة حکیم الامت سیدی حضرت مولانا اشرف علی تهانوی قدس سره په خدمت کی دحاضری شرف خو دطالب علمی په زمانه کی هم کیدی مگر دسـ ۱۳۴۶ ـنه هـ دتجدید دبیعت سره دمسلسل حاضری شرف حاصل سو کوم چی تقریباً ترشل (۲۰) کاله دحضرت اقدس دوفات رجب سـ ۱۳۶۲ ـنه هـ پوری جاری وو ، حضرت اقدس ته الله ﷻ په ټولو علومو او فنونوکی کامل مهارت ورکړی وو ، اوپه دغوکی خصوصاًتفسیر اوتصوف د دوی مخصوص فن وو ، په دی دواړو علوموکی د دوی تصانیف بیان القرآن اوالتکشف اوالتشرف او نوری رسالی دتصوف په دی کافي شاهد دی ، حضرت قدس سره په خپل اخری عمرکی دا ضرورت محسوس وفرمایل چی په احکام القرآن باندی ځه داسی کتاب ولیکل سی په کوم کی چی دموجوده زمانی مسائل هم ځومره چی دقرآن شریف څخه ثابتیږي ، واضح کړل سی ، دا کار یی د ژر پوره کولو په خیال سره په ځوملګرو کی تقسیم وفرمایی ، ددي یوه برخه احقر ته هم وسپارل سوه چی دهغه یوه برخه خو دحضرت په ژوندکی د دوی په نگرانی کی ولیکل سوه باقی دحضرت دوفات څخه وروسته په کومك سره د الله ﷻ پوره سوه او په دوه جلدونوکی چاپ سوی هم ده دا مجموعه په عربی ژبه کی ده .
دی سلسلی دحضرت په برکت سره بحمدالله چی دقرآن شریف سره یومخصوص تعلق اوطلب پیداکی ، ددي څخه وروسته په قضا اوقدر سره په ژوندکی دیو نوی انقلاب دروازه خلاصه سوه ، په سـ ۱۳۶۵ ـنه هـ یعني سـ ۱۹۴۶ ـنه کی دپاکستان تحریك قوی سو اوپه ټول ملك کی خپورسو دحضرت په مخکنی ایشاری او دموجوده اکابرو په ارشاد می په دی تحریك کی برخه واخسته او دوه کاله شپه او ورځ په دی جدوجهد کی ولیگیدل ، دمدارس څخه ترپیبنور پوری او په مغرب کی تر کراچی پوری دملك دوري وسوې ، دا تحریك پاکستان او ددي جدو جهد اخر د دارالعلوم دیوبندڅخه په استعفی ورکولو پای ته ورسیدی او اخر الله ﷻ دمسلمانانو داځندنی تمناپوره کړه چی هندوستان تقسیم سو او دمسلمانانو دپاره خالص د اسلام په نامه ددنیا ترټولو څخه لوی اسلامی سلطنت دپاکستان په نامه سره په وجود کی راغی.
داسلامی سلطنت ، اسلامی نظام او اسلامی قانون زړی تمناگانی اوس د امید په صورت کی بدلیدل شروع سوی او ددي سره دوطن مالوف ترك کول اوپاکستان وطن جوړولو کشمکش په زړه کی په څپو وو چی اصلی وطن دیوبند د اسلامی علومو مرکز او د امت دمنتخبو علماؤ مرجع کیدو ته چی به نظر تلی نو سعد شیرازی ﷺ دا شعر به رایادیدی .

﴿ تولائی مردان این پاك بوم ﴾ ﴿ برانگیختم خاطر ازشام وروم ﴾

سر پرستی دځوانمردانو ددي پاك ملك پورته کی زړه زمادشام اوروم څخه .

لیکن هرکله چی دملك سیاسی حالات او په هندوستان کی دمسلمانانو او د دوی د ادارو په مستقل نظر تللو نو یو خاص روښانه اړخ مخته نه راتلی ، ددې خلاف په پاکستان کی دهر قسم صلاح او فلاح امید په ظاهری اسبابو سره په نظر راتلی ، دی خواته دا کشمکش جاری وو اوبل طرف ته په پوره ملك کی دبدامنی قتل او لوټ ماری قیامت جوړونکي واقعی راپوته سوې ، په هندوستان کی په مسلمانانو دژوند صحنه تنگ کړل سوه ، په لکاؤ مسلمانان په جبر سره پاکستان ته را وشړل سول او بیا تلونکو ته په عافیت سره دتللو موقع هم ورنه کړل سوه ، ځای پرځای قتل عام ، خون ریزی لوټ مار او داغوا کولو روح ویلی کونکی نظاری وی دچا صحیح سلامت پاکستان ته رسیدل یوه عجوبه یاکرامت گڼل کیدی ، اته میاشتی وروسته دا هنگامه لږ سره سوه ، نو زما استاذ محترم او داکازوی شیخ الاسلام مولانا شبیراحمد عثمانی او څو عمائدینو دکراچي دا اراده وکړه چی دپاکستان دپاره د اسلامی دستور یوه خاکه مرتب کول او حکومت ته ایښوول په کار دی چي دکوم مقصد دپاره پاکستان جوړ سوی دی هغه دی ژر تر ژره په کار را وستل سی ، ددې تجویز دپاره منجمله دنورو عالمانو څخه احقر ته هم دهندوستان څخه کراچی ته دراتلو دعوت ورکړل سو .

۲۰ جمادی الثانی سـ ۱۳۶۷ ـنه هـ اوله دمی سـ ۱۹۴۸ ـنه زماپه عمرکی دعظیم انقلاب ورځ وه په کومه کی چی وطن مالوف مرکز علوم دیوبند ته خیرباد وویل ، یوازی دکوچنی ماشومانو او د دوی دمور سره می پاکستان ته مخ کی ، مور محترمه او اکثر اولاد اوتولو عزیزانو او کور اوهرڅه پرېښوولو زړه ویلی کیدونکی صحنه.اوکوم طرف ته چی څم هلته دیومسافر په ډول دوخت تیرولو دمشکلاتو سره دیو نوی اسلامی حکومت وجود او په دی کی ددینی رجحاناتو په کار راتلو خوشحاله کونکی امیدونه ، دا گډوډ فکرونه او تصورات په زړه او ښتل را وښتل .

په دهلی او څو ځایونوکی کښته کیدو څخه وروسته (۲۶) جمادی الثانی سـ ۱۳۳۷ ـنه هـ (۶) می سـ ۱۰۴۸ ـنه ته الله ﷻ دپاکستان حدودوته را ورسولو اوکراچی په غیر اختیاری توگه سره خپل وطن جوړ کړل سو ، دلته دراتلو څخه تر دی وخته پوری دری میاشتي سربیره پنځلس کاله پوره کیږي ، په دی کی څه وکړل او څه ولیدل ددې سرگذشت ډیر اوږد دی دا ځای دهغه دلیکلو نه دی دکومو مقاصدو دپاره چی پاکستان محبوب اومطلوب وو او دکوم دپاره چی هرڅه قربان کړی وو ، دحکومتونو انقلابونو دهغو حیثیت دیو خوند ور خوب څخه پاته نور څه نه پرېښوول .

﴿بلبل همه تن خون شد وگل شد همه تن چاك ﴾ ﴿ ای وای بهاری اگرنیست بهاری ﴾

دبلبل بدن ټول وینی سو اوگل بدن ټول څیری سو افسوس په دی پسرلی که پسرلی داسی وی داخو پسرلی نه دی .

دحکومت دطرف څخه دیو دینی انقلاب او دښکاره اصلاح امیدونه خواب او خیال کیدل شروع سول ، خو بیاهم په عامو مسلمانانوکی دینی بیداری او ددینی کارونو احساس بحمدالله تر اوسه دژوند سرمایه جوړه سوی ده ، په دوی کی د اهل اصلاح اوتقوٰی الحمدلله خاص تعداد موجود دی ، دی احساس دلته ددینی خدمتونو لاری خلاصی کړی دی .

دحکومت په پیمانه د اصلاحی کوششونو څخه ماسوا په عامه توگه سره اصلاحی جد وجهد او ددې

دپاره دځه ادارو قیام کوم چې دشروع څخه په پام کې وو ، ددې ابتداء سـ ۱۳۷۰ سنه هـ سـ ۱۹۵۰ سنه کې داسې وسوه چې ارام باغ کراچې ته متصل په مسجد باب الاسلام کې هره ورځ دسهار څخه وروسته درس دقرآن شریف شروع سو او دهر طرف څخه دراغلو سوالونو په جواب کې چې کومې فتوٰی مسلسل لیکلې کیدې او بغیر دنقل به لیږلې سوې اوس ددې انتظام په دې مسجدکې دیوې دارالافتاء دقیام په صورت کې په عمل کې راغله ، دا درس قرآن شریف د امید څخه زیات مفید او موثر ثابت سو ، د اوریدونکو په ژوند کې دانقلاب نخښې ولیدل سوې ، احقر ناکاره ته تر ژوند یوه ښه مشغله پیدا سوه ، وروسته دسهار ترلمانحه څخه روزانه دیوه ساعت دکار څخه په اووه کاله کې الحمدالله دا درس قران مکمل سو .

تر دې چې تمهید صفر سـ ۱۳۸۳ سنه هـ کې هغه وخت لیکل سوی وو کله چې دتفسیر معارف القرآن په کتابې شکل کې دراوړو اراده سوې وه ، بیا دسـ ۱۳۸۸ سنه هـ پورې دا سلسله ودرول سوه دسـ ۱۳۸۸ سنه څخه په دې کار شروع سو کوم چې تر سـ ۱۳۸۸ سنه هـ پورې په پنځو کالو کې بحمدالله مکمل سو . ددې تمهید مخکې راتلونکې برخه دتفسیر دتکمیل څخه وروسته په سـ ۱۳۹۲ سنه هـ کې ولیکل سوه .

دمعارف القران تصنیف دقدرتي اسبابو څخه

داحقر ناکاره ګناهګاره بې علمه اوبې عمله څخه دا دلاوری یوځای نه سوې کیدای چې دقرآن شریف دتفسیر لیکلو اراده یې کړې وای ، مګر دقدرت په ارادو سره ددې اسباب داسې شروع سول چې د راډیو پاکستان څخه روزانه دنشر کیدونکې درس قرآن شریف متعلق ماته فرمائش وسو کوم چې دځو عذرونو په بناماقبول نه کې ، بیا دوی یو بل تجویز پیش کې چې د روزانه درس دسلسلې څخه جلایوه هفته درس په نامه دې معارف القرآن جاري کړل سي په کوم کې چې دټول قرآن تفسیر په پام کې نه وي بلکه دعامو مسلمانانو دموجوده ضرورت ترمخه دخاصو خاصو آیتونو انتخاب وسي او دهغه تفسیر اومتعلقه احکام بیانیږي ، احقر دا په دې شرط سره منظوره کړه چې درس به هیڅ معاوضه نه اخلم ، اوځه داسې پابندي به هم نه قبلوم کومه چې زما په نزد د درس قرآن مناسب نه وي ، دا شرط منظور کړل سو .

په نامه دخدای ﷻ سره دا درس دمعارف القرآن په نامه ۳شوال سـ ۱۳۷۳ سنه هـ ۲) جولائي سـ ۱۹۵۴ سنه څخه شروع سو او تقریبًا یولس (۱۱) کاله په پابندی سره جاري وو ، تر دې چې جون سـ ۱۹۶۴ سنه کې راډیو پاکستان دځپلې نوې پالیسي ترمخه دا درس ختم کې ، دا درس دمعارف القرآن د دیارلسمی ۱۳ پاری (سپاری) په سورة ابراهیم ختم سو په کوم کې چې ددې دیارلسو پارو مکمل تفسیر نه وو ، بلکه دمنتخب آیتونو تفسیر وو ، احقر داسې درمیاني آیتونه په دې کې نه وو شامل کړي کوم چې په خالص علمي مضامینو باندې مشتمل وو ، او درېدیائي تقریر په ذریعه ددې دعوامو ذهین نشین کول مشکل وو او یا هغه آیتونه کوم چې مکرر وه .

څه وخت چې مې دا کار شروع کې ، ددې لیرې لیرې سوچ هم نه وو چې دا به څه وخت په کتابي صورت کې دیو مستقل تفسیر په انداز چاپ سي ، مګر وسوه دا چې کله دا درس نشر کیدل شروع سو نو دپاکستان دټولو علاقو څخه او ددې څخه زیات دغیر ممالکو افریقه ، یورپ وغیرکې د اوسیدونکو

مسلمانانو دطرف څخه بې شميره خطونه دپاکستان راديو ته او په خپله احقر ته وصول سول دکومو څخه چې معلومه سوه چې ډېر ديندار او نوی تعليم يافته مسلمانان دی درس سره ډېر محبت لري ، په افريقه کی چونکه دا درس دشپې په اخر يابالکل دصبح صادق پروخت رسيږي لهذا هلته خلګو دا ټيپ رکارډ په ذريعه محفوظ کی او وروسته يې ټولو ته وار وار د اورولو اهتمام کړی دی او دخای ځای څخه ددې غوښتنه وسوه چې دا درس دې په کتابی صورت کی چاپ سی دعامو مسلمانانو دی شوق ددې ناکاره همت زيات کی او دمرضونو اوضعف باوجود يوولس (۱۱) کالو پوری دا سلسله په ډيره پابندی سره جاري وساتله په سـ ۱۲۸۳ سنه هـ اوسـ ۱۹۶۴ سنه کی چی کله د درس دا سلسله بنده سوه نو ډيرو حضراتو دطرف څخه دا غوښتنه وسوه چی څومره سوی دی دا دې په کتابی صورت کی چاپ کړل سی ، او په مينځ کی چی کوم ايتونه پرينبوول سوی دی دهغو دې هم پوره والی وسی ، دخدای ﷻ په نامه می دا اراده وکړه چی په موجوده نظرثانی او په مينځ کی دباقيمانده آيتونو دپوره والی کار دې شروع کړل سی هم دارنګه ۱۶ صفر سـ ۱۲۸۳ سنه هـ کی دسورة الفاتحه په تفسير نظرثانی مکمل سو او په سورة بقره کار شروع سو په دی کی د احکامو مشکل آيتونه ډير دی کوم چی دراديو په نشری تقريرکی نه وو راغلی ، دا کار د ډير محنت اومشقت او فرصت متقاضی وو . ډيرو شغلونو مرضونو ددې فرصت را نه کی او دا کار تقريبًا په ذهول کی ولويدی .

﴿ دتقرير په چمونويوه سخته او اوږده مريضي دتفسير دتکميل سبب جوړه سوه ﴾

دکال ۱۳۸۸ هـ په شعبان کی داحقر دبدن په لاندی برخه کی ديوې دانی شکل ښکاره سو اوکرارکرار زياتيدی اخر چی په روژه کی د دريدو څخه معذوره کړم ، اخری اته روژی هم قضا سوی مګر په ناستی به می لمونځ کوی ، دې سره په پښوکی نِقْرس پخوانی درد هم شروع سو ددې چی به کوم علاج مخکی کارګر کوی هغه هم کامياب نه سو او د دوارو پښو څخه معذور سوم تقريبًا لس (۱۰) مياشتی دغسی دمريضی او معذوری سره دمرګ او ژوند په کشمکش کی تيری سوی ، هرکله چی دګرځيدو اوهرکارڅخه معذوره سوم او دژوند اميدهم کمزوری سو نو اوس په دی افسوس راغی چی داتفسير پانی چی څومره سوی وی په هغو نظرثانی اوتکميل هم ونه سو نو اوس به دا پانی هم دغسی ضائع کيږي . الله ﷻ په زړه همت راکی او دشوال کال ۱۳۸۸ هـ په اخر کی دمريضی په بستری الله ﷻ راباندی دا کار شروع کی او ۲۵ دذالقعدی کال ۱۳۸۸ هـ دسورة بقره تکميل وسو ، او دکتابت اوطباعت دپاره ورکړل سو ، ددې څخه وروسته عينی ناجوړی اومعذوری په حالت کی دا کار په تدريجی تګ سره چليدی الله ﷻ ددې په برکت سره لس (۱۰) مياشتي وروسته معذوری هم دفع کړه ، نو رجب کال ۱۳۸۹ هـ څخه کارڅه قدرتيزسو ، مګرددې سره په ملك کی نوی انتخاباتو دسياسی هنګامو يو طوفان راپورته کی ، زه که څه هم ددير وخت څخه دسياست څخه بالکل يوطرف ته سوی ووم ، مګر دی انتخاباتو په پاکستان کی دخالص اسلامی حکومت په ځای دکميونزم اوسوشلزم خپريدو خطرې قوی کړی اوسو شلزم دعين اسلام باورکولو دپاره جدوجهد او جلسی جلسونه عام سول ، ددې مسئلی نزاکت بيادی ته تيارکړم چی کم ترکم داسلام اوسوشلزم کی دفرق او دسوشلزم دخطر ناکو نتيجوڅخه قوم لره دخبر دارولو ترحده پوری

په دی سیاسی میدان کی دي برخه واخلم ، ددې دپاره تحریری مقالی هم ولیکل سوې اودمشرقی اومغربی پاکستان په اهمو موقعو باندی په جلسوکی شرکت هم وکړل سو ، دمسئلی وضاحت خو دوس مطابق پوره سو مگر دسیاست په میدان کی دمسائلو اوحقائقوڅخه زیات زور (طاقت) او زر (دولت) کارکوی ، دانتخاباتو نتیجه بالکل خلاف او برعکس ووتله ، ددې په اثر چی پر پاکستان کوم زوال را تلل وو هغه راغی لِلّٰهِ الاَ مْرُ مِنْ قَبْلُ وَ مِنْ بَعْد .

دانتخاباتوڅخه وروسته احقربیادسیاست څخه مستعفی سو ، خپل داکاریی شروع کی اوالحمدلله علٰی کرمهِ چی درجب کال ۱۳۹۰ ھ پوری په دیارلسو(۱۳) پارو باندی نظرثانی اوپه مینځ کی دپرینبوولو سوو آیتونو تفسیر هم پوره سو او دسورة ابراهیم څخه تر سورة نحل پوری د دوو پارو نورتفسیرهم ولیکل سو اوس قرآن شریف نیمایی ته نژدې سو نو الله ﷻ همت راکی او دباقیمانده قرآن تفسیر لیکل می شروع کي ، ددې دغه وخت هیڅ تصور(فکر) نه وو چی دپنځه اویا (۷۵) کالوعمرطاقت غورځیدلی ، ددې سره دمختلف قسم مرضونو په تسلسل کی به دا تفسیر پوره سی مگر دا می وګڼله چی قرآن شریف ختم کول مقصود نه دی په قرآن شریف کی خپل عمر ختمول دی نو دالله ﷻ په نامه می دا سلسله شروع کړه دشعبان کال ۱۳۹۰ ھ څخه دسورة بنی اسرائل تفسیر شروع سو او۲۳ صفر کال ۱۳۹۱ ھ دقرآن څلورم منزل سورة فرقان پاره ۱۹ پوری پوره (مکمل) سو .

مخکی دقرآن شریف دری منزلونه یعنی تقریبًا دریمه برخه قرآن شریف پاته وو ، دعمر ضعف دمختلف قسم مرضونو په بنا دا خیال راغی چی ددې تول پوره والی به شاید زماڅخه ونه سی مگر د درمیانی پنځم اوشپږم منزلو تفسیراحقر کی به عربی کی لیکلی دی کوم چی چاپ سوی هم دی او که مالیکلای نه سو نو زما څخه وروسته به هم څوك دالله ﷻ بنده د احکام القرآن تفسیر په اردوکی منتقل او ترجمه کی . دا برخه به پوره کی او ددې وصیت می هم څوحضراتو ته وکی او دا دوه منزلونه می په مینځ کی پرینبوول او اخری اووم منزل می دسورة (ق) څخه شروع کی ، دالله ﷻ کومك لاس راکی او۱۲ دربیع الاول کال ۱۳۹۱ ھ څخه شروع وسوه ، دشوال کال ۱۳۹۱ ھ پوری دا اخری منزل پوره سو ، یوازی معوذتین یعنی اخری دوه سورتونه پرینبوول سول .

اوس درمیانی دوه منزلونه دسورة شعراء څخه تر سورة حجرات پوریُ پاته وو دالله ﷻ په نامه سره دغه هم شروع سو ، په دی کی سورة ص ، (صافآت) زخرف خو زماپه گران زوی مولوی محمدتقی سلمه باندی ولیکل سول اوپه خپله می نظرثانی وکی اومکمل سو ، پاته سورتونه می په خپله لیکل شروع کړل اودقرآن مجید تقریبًایوه نیمه پاره باقی پاته وه چی په ۲۴ربیع الثانی کال ۱۳۹۲ ھ ۸ جون سہ ۱۹۷۳ نه ناڅاپه راته دزړه یوسخت مرض راپیښ سو چی دمرگ نقشه می دسترگو په مخکی راغله ، لیدونکو دلږ وخت میلمه گڼلم ، دبی هوښی په حالت کی دکراچی دزړه دمرضونو هسپتال ته ورسول سوم ، دری ورځي وروسته ډاکټرانو دخه اطمنان اظهار وکی چی په هوښ کی راغلم نو دباقیمانده تفسیر خیال راته یو افسوس جوړ سو ، زماگران زوی مولوی محمد تقی سلمه ته می وصیت وکی چی باقی به ته پوره کی ، دغه رنګه د زړه څه بوج می سپك سو ، دالله ﷻ زرهاوو زرهاوو شکر چی ده ددې مرض څخه صحت هم

راكى او درى مياشتي وروسته دومره طاقت وسو چى دځه ليكلو ويلو همت پيداسو مګر په لږ كاركولو سره به دماغ زره اونظر ټول ستړى سول ، محض دالله ﷻ فضل اوكرم وو چى ده په دې حالت كى داباقيمانده تفسير ۲۱ شعبان سـ ۱۳۹۳ـنه هـ په ورځ دشنبى مكمل كى اودحسن اتفاق څخه دا ورځ سـ ۱۳۱۴ سنه هـ كى زمادپيدائش ورځ وه په دى ورځ زمادعمر اووه اويا (۷۷) منزولونه پوره سول او اته اويايم (۷۸) شروع سو.

ددې تفسيرشروع په سـ ۱۳۸۸ سنه هـ كى دسختى ناجوړى په حالت كى وسو اوخاتمه يى پنځه كاله وروسته سـ۱۳۹۲ـنه هـ كى دسختى ناجوړى څخه وروسته وسوه ، دا پنځه كاله د اخر عمرطبعى ضعف دمختلف قسم مرضونو تسلسل دفكرونو هجوم اوپه ملك كى دانقلاب هنګاموكال وو ، په دې كى الله ﷻ ددې تفسيرتقريبًا اووه زره (۷۰۰۰) صفحى [۱]ددى ناكاره په قلم سره وليكل او دا خبره يى په سترګو سره وښودله چى [۱] دا هم په داسى حال كى چى ددارالعلوم انتظامى ذمه وارى اودفتواوو دمستقلو خدمتونو ماسوا په نورو مهمو موضوعاتو لس (۱۰) مختصر اومفصل كتابونه نورهم وليكل سول ، كوم چى چاپ دى (۱) احكام الحج (كوم چى مختصر سليس او ټولو ضرورى احكامو لره جامع هم دى) (۲) اليواقيت فى احكام المواقيت (دميقاتونو دحج اودجدى څخه داحرام ترلو تحقيق) (۳) منهج الخير فى الحج عن الغير (يعنى دحج بدل احكام) (۴) مقام صحابه ﷺ (دمشاجرات صحابه ﷺ اوعدالت صحابه) مكمل بحث اوسلف صالحينو دعمل طرز (۵) اسلامى ذبيحه (دذبيحى مفصل شرعى احكام ديهودو اونصاراوو دذبيحې بحث دتحريفاتو ترديد) (۶) دانسانى اعضاو پيوندكارى (۷) بيمه ژوند (۸) پراوډنټ فنډ (۹) اسلام اوسوشلزم (۱۰) په اسلامى نظام كى اقتصادى اصلاحات . فَلِلّٰه الحمد والمنّة) منه

﴿ اِنَّ الْمَقَادِيْرَ اِذَا سَاعَدَتْ ﴾ ﴿ اَلْحَقَتِ الْعَاجِزَ بِلْقَادِرِ ﴾

يعنى هركله چى تقدير الٰهى كومك وكى نو عاجزه دقادر سره يوځاى كوى .

علم اوعمل مخكى خويوازى په نامه وو دى ضعف اوپيرى اومرضونو اومشغلو دغه هم رخصت كى ، په دى حالاتوكى دځه تصنيف خوصوصًا دقرآن شريف دتفسيراراده كول هم يوه لويه دلاورى وه ، اطمنانو خو په دى ووچى په دى كى زماخپل څه شى نسته دمشرانو عالمانو اوسلف صالحينو تفسير لره په آسانه ژبه كى دخلكومزاجونوته نژدى جوړول زما دټول محنت حاصل وو ما داخر عمر پنځه كاله دا سخت محنت په دى تمناكى صرف كى چى دنوې زمانى مسلمانان كوم چى عمومًا دعلمى اصطلاحاتو اوعلمى ژبى څخه بيګانه سوى دى چى د اكابرو تفسير د دوى فهم ته نژدى كړم ، نوشايد ددې زمانى مسلمانانو ته به ددې څخه نفع ورسيږي او زمادپاره به داخرت توښه سى ، محقيقين علماء دخپل علمى تحقيقاتوكمالات نبيى دى ناكاره خپله بى علمى په دى پرده كى پټه كړى ده الله ﷻ دى زماسره دخپل سترمعامله وكى او ددې عاجزه بنده خدمت دې قبول كى آمين ، په كوم كى چى دځه علمى كمال خوهيڅ دخل نسته ، البته خپل ځان مى ستړى كى ضرور دى او دا سړى كيدل هم دالله ﷻ په توفيق سره وو او كه نه وى نو ديوه قدم تللوڅه طاقت سته ، كاشكى الله ﷻ زمادى ستړى كيدوته وګورى اوزماتقصيرات كوم چى ددې كتاب كريم په حقوقو ادا كولو كى سوى دى ، معاف وفرمايى اوشرف دقبوليت ورته وركړى .

﴿نه بحرف ساخته سرخوشم﴾ ﴿نه به نقش بسته مشو شم﴾
﴿نفسي بيادتومی زنم﴾ ﴿چه عبارت وچه معانیم﴾

نه په جوړو حرفونو خوشحالي کوونکی یم اونه په نقش ترلی سوی څه پریشانی کونکی یم ، الله ﷻ زه خوستا په یاد ژوند تیرووم زما به څه عبارتونه اوڅه معانی وی.

دتصنیف دکتاب دا اوږده قصه د احقر دپاره خو دیادانبت او شکر گذاری دپاره یوه تذکره ده ، مگر دعامو خلقو د ذوق شي نه دی ، ددې باوجود ځکه ولیکل سوه چی خلقوته زماد جسارت عذر معلوم سی ، لکه چی مخکی می عرض کړی دی چی دقرآن شریف په تفسیر دمستقل تصنیف دپاره ددلاوری کولو زما دپاره لیري لیري هم څه احتمال نه وو ، مگر په غیر ارادی توگه ددې اسباب تیاریدل ، البته د اوږدی زمانی څخه یوه تمنا زماپه زړه کی وه چی دحکیم الامت مجدد الملت سیدی حضرت مولانا اشرف علی صاحب تهانوی قدس سره تفسیر بیان القرآن کوم چی یو بی مثله مختصرمگر جامع تفسیر او دسلف صالحین دتفسیرونو لب لباب دی لیکن دغه په علمی ژبه اوعملی اصطلاحاتو لیکل سوی دی، دنن صباعوام ددې څخه د استفادی کولوڅخه قاصر سوی دی چی ددې مضامین په آسانه ژبه کی پیش کړل سی ، مگر دی کارهم کافی محنت اوفرصت غوښتی ، پاکستان ته دراتلو څخه مخکی څه شروع می هم کړی وه خو بیا پاته سوه دمعارف القرآن دی تحریر بحمد الله دغه ارزو هم پوره کړه ، ځکه چی ددې تفسیر بنیاد احقر بیان القرآن جوړ کړی دی چی تفصیل یی مخ ته راځی.

دمعارف القران خصوصیات اوالتزامات

(۱) دقرآن تفسیرکوم چی دعربی څخه ماسوا په بله ژبه کی وی ، په دی کی ترټولو څخه مهم اود احتیاط شي دقرآن ترجمه ده ، ځکه چی دغه دالله ﷻ دکلام حکایت دی په دی کی ادنی شان کمښت زیاتوب هم دخپل طرف څخه روا نه دی ، په دی وجه ما په خپله دڅه ترجمی لیکلو همت ونه کی او ددې ضرورت هم نه وو ، ځکه چی مشرانو عالمانو په ډیر احتیاط سره دا کار کړی دی ، په اردو ژبه کی دا خدمت ترټولو څخه مخکی دحضرت شاه ولی الله دهلوی رحمه الله دوه زامنو حضرت شاه رفیع الدین رحمه الله اوحضرت شاه عبدالقادر رحمه الله په خپل خپل طرز باندی کړی دی ، په اول الذکر ترجمه کی بالکل تحت اللفظ ترجمه اختیار کړل سوی ده داردو محاوری هم زیات رعایت په کی نه دی سوی او په لوی کمال سره یی دقرآن الفاظ په اردو کی منتقل فرمایلی دی ، اوپه دویمه ترجمه کی دتحت اللفظ سره د اردو دمحاوری رعایت هم دی کومه چی حضرت شاه عبدالقادر رحمه الله څلویښت کاله په مسجد کی داعتکاف کولو سره پوره کړی ده تردی چی د دوی جنازه هم دمسجدڅخه ووتله ، د دارالعلوم دیوبند اولنی صدر مدرس حضرت مولانا محمد یعقوب صاحب فرمایی چی بیشکه دا ترجمه الهامی ده د انسان دوس خبره نه ده چی داسی ترجمه وکړل سی شیخ العرب والعجم سیدی حضرت مولانا محمود الحسن صاحب رحمه الله چی هرکله ولیدل چی په خپل وخت کی اوس د ډیرو محاورو دبدلیدو په وجه په ځینی مقاماتوکی دترمیم ضرورت دی نو دوی ددې ترجمی داخدمت وکی کومه ترجمه چی دشیخ الهند په ترجمه سره مشهور سوه

اومعروفه ده احقر دقرآن شريف زيرمتن هم دغه ترجمه واخسته .
(۲) سيدی حضرت حکيم الامت تهانوی رحمه الله قدس سره اصل تفسير بيان القرآن په داسی طريقه کی ليکلی دی چی دقرآن دمتن دترجمی سره سره يی دد‌ې تفسير اوتوضيح دقوسينو په مينځ کی کړی دی دترجمی پرسر ي‌ې ليکه راکش کړی ده اوتفسير بين القوسين ليکلو سره يی ممتازکړی دی ، دغه رنګه په خط کش سوو الفاظوکی ترجمه دقرآن ده اوبين القوسين يی تفسير دی، ډيرو خلقو داخط کش سوی ترجمه جلا کړی ده ، اودقرآن شريف زير متن ترجمه يی دحکيم الامت په نامه سره په خپله دحضرت په زمانه کی چاپ کړی هم وه .
ماته چونکه دبيان القرآن د آسانه کاردمخکی څخه وړاندی په پام کی وو دا وخت احقر دحضرت دی تفسير لره په نامه د(لنډتفسير) په شروع کی بعينه يوازی ديوه تصرف سره نقل کړی دی ، هغه دا چی په د‌ې تفسير کی کوم ځای چی خاص اصطلاحی اومشکل الفاظ راغلی وه ، هلته می هغه په اسانو لفظونوکی نقل کړل اونوم يی (لنډتفسير) کښېښول سو څکه مناسبه دا وه چی په خپله حضرت په خطبه دبيان القرآن کی دد‌ې متعلق فرمايلی دی چی دی ته تفسيرمختصر (لنډتفسير) ياترجمه موطوله (اوږده ترجمه) ويل کيږي .
اوکه څه مضمون خالص علمی اومشکل وو ، نوهغه می دد‌ې ځای څخه جلا کی اوپه معارف ومسائل (معلومات اومسئلی) کی می په خپل آسانه عبارت کی وليکی ، چی مشغول سړی که زيات نه سی کتلی نو دد‌ې لنډتفسير څخه به هم کم څخه کم دقرآن شريف پوره مفهوم زده کړی ، دد‌ې دواړو شيانو التزام د اول جلد په طبع اول کی دپاره الم په اول ربع ايت (۴۲) پوری نه وو سوی اوس په طبع ثانی کی می هم دا برخه مکمله کړه او دپوره تفسير سره مطابق کړل سوه ، البته يو التزام کوم چی دجلد ثانی څخه شروع سو چی دقرآن دمتن څخه لاندی ترجمه دشيخ الهند وليکل سی ، دا په اول طباعت په ټول جلدکی نه وه ، په طبع ثانی کی دا هم تحت المتن وليکل اودټولومطابق کړل سو ، دا دواړه کارونهٔ خو داکابرو عالمانو وه .
(۳) دريم کار کوم چی احقر طرف ته منسوب دی هغه د (معلومات اومسائلو) عنوان دی ، په دی کی هم چی غور وکړل سی نو د احقر يوازي اردوعبارت دی ، مضامين ټوله دسلفو عالمانو دتفسيرونو څخه اخيستل سوی دی ، چی حوالی يی هرځای ليکل سوی دی ، په دي کی احقر دځو شيانو التزام کړی دی .
دعلماؤ دپاره دقرآن په تفسيرکی دټولوڅخه اولنی اومهم کار دلغاتو تحقيق نحوی ، ترکيب دفن بلاغت نکتی او د اختلاف دقراتونو بحثونه دی کوم چی بلاشبهه دعالمانو دپاره دقرآن په فهمولوکی دملاتير حيثيت لری ، دد‌ې په ذريعه دقرآن صحيح مفهوم پيداکولای سی ، ليکن عوام خو عوام دی ، نن صبا ډير اهل علم هم په دي تفصيلاتوکی حرج محسوسوي ، خاص کر دعوامو دپاره خودا بحثونه د دوی دفهم څخه بالا اوپه اصل مقصد کی تاوان جوړيږي ، هغوی پوه سی چی دقرآن شريف زده کول مشل کار دی ، حال دا دی چی دقرآن شريف کوم اصل مقصد دی چی د انسان تعلق دخپل ربّ سره قوی وی او دد‌ې په نتيجه کی مادی تعلقات پراعتدال راسی چی ددين په لاره کی بنديز جوړنه سی ، ددنيا څخه زيات داخرت فکر پيداسی اوانسان په خپل هر قول اوفعل کی ددی سوچ عادی سی چی په دی کی څه

شي دالله ﷺ اودهغه درسول ﷺ دخوښې خلاف خو نه دی ، دا شي قرآن دومره آسانه کړی دی چې که معمولي تعليميافته يي په خپله وګوري يابالکل بي تعليمه يي واوري هم فائده ورڅخه حاصلولای سی ، قرآن شريف په خپله ددې اعلان فرمايلی دی ﴿ ولَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ ﴾ د(معارف القرآن) په تفسيرکی دعوامو دسهولت ترمخه ددغو علمي اواصطلاحي بحثونه تفصيل نسته ، بلکه دائمه تفسير په اقوالوکی کوم چې جمهورو راجح ګڼلی دی ، ددغه مطابق تفسير اخيستل سوی دی اوکوم کوم ځای چې په ضرورت سره دا بحث ليکل سوی دی ، نو هلته هم ددې لحاظ سوی دی چې خالص علمي اصطلاحات اوغيرمعروف او مشکل الفاظ را نه سی ، او په دی وجه داسی علمي بحثونه هم پرينبوول سوی دی ، کوم چې دعوامو دپاره غير ضروري او د دوی ترسطحی څخه لوړ دی .

(ب) دمستندو اومعتبرو تفسيرونو څخه داسی مضامين په اهميت سره نقل کړل سوی دی ، کوم چې د انسان په زړه کی دقرآن عظمت او دالله ﷺ او دهغه درسول الله ﷺ عظمت او محبت زيات کړی او په قرآن عمل او دخپل عملونو اصلاح طرف ته يي مائل کړی .

(ج) په دی خو دمومن ايمان دی چې قرآن شريف ترقيامته پوری دراتلونکو نسلونو دهدايت دپاره نازل سوی دی اوترقيامته پوری دپيدا کيدونکو ټولو مسئلوحل په دی کی موجود دی ، په دی شرط چې قرآن د رسول الله ﷺ دبيان اوتشريح په رڼا کی وکتل او وويل سی ، او په دی کی دپوره تدبر څخه کار واخيستل سی ، په دی وجه دهری زمانی علماؤ دتفسير په خپلو خپلو تفسيرونوکی پر دغو نوو مسئلو اوبحثونو زيات زور ورکړی دی کومی چې د دوی په زمانه کی پيدا سوی يادملحدينو اهل باطلو دطرف څخه دشکونو اوشبهو په صورت کی پيداکړل سوی وی ، په دی وجه دقرون متوسطه تفسيروڅخه دمعتزله جهميه ، صفوانيه وغيره فرقو دترديد او د دوی دشبهاتو دليری کولو څخه ډك په نظر راځی ، احقر ناکاره هم ددې اصولو لاندی داسی مسئلو اومباحثو لره اهميت ورکړی دی کوم چې ياخوددې زمانی ماشيني دور نوی پيداکړی دی اويا ددې زمانی ملحدينو اويهوديانو اونصرانيانو مستشرقينو دمسلمانانو په زړه کی دشکونو اوشبهاتو پيدا کولو دپاره جوړکړی دی ، دجديدو مسئلو دحل دپاره تر اوسه ددې کوشش سوی دی چې دقرآن اوسنت يافقهاو د امت په اقوالو کی دی څه ثبوت پيداسی يا کم څخه کم څه مثل يي پيداسی اوالحمدلله په دی کی کاميابی هم وسوه ، په داسی مسئلوکی دنوروعالمانو دعصرڅخه دمشوری اخيستو هم التزام سوی دی اودملحدانه شکونو اوشبهاتو هم تر وسه ددې کوشش سوی دی چې جواب زړه مطمئن کونکی وی او ددې دجواب ورکولو دپاره په اسلامي مسئلو کی ادنیٰ ترميم هم نه دی را وستل سوی لکه چې د دور حاضر نورو ځينو مفسرينو ددې په جواب ورکولوکی په خپله په اسلامي مسئلوکی دترميمونو اوتاويلونو طريقه اختيارکړی ده ، دا هرڅه دخپلو معلوماتو اودخپل کوشش ترحده دی . په کوموکی چې د ډيرو خطاګانو او تيروتونو احتمال دی ، الله ﷺ دې معافي وکی او ددې داصلاح لاردی را وباسی .

پورته ذکر سوو التزاماتو معارف القرآن دلاندينو درج سوو شيانو جامع جوړ کړی دی .

(۱) دقرآن شريف ددې مستندی ترجمې ، يوه دشيخ الهند کومه چې په اصل کی دشاه عبدالقادر صاحب

ترجمه ده ، دویمه دحکیم الامت تهانوی ترجمه .
(۲) لنډ تفسیر کوم چې په حقیقت کې دبیان القران خلاصه سره آسانه دی ، کوم چې جلا هم دقرآن شریف په حاشیه طبع کړل سی نو دلږ فرصت والو دپاره دفهم قرآن مستند اوبهتره ذریعه ده ، دی یو بل ضرورت پوره کی ، چې دکوم طرف ته ماته اخی فی الله مولانابدرعالم صاحب مهاجر مدینه منوره دعلامه فرید وجدی یو مختصر تفسیر پرحاشیه دقرآن ماته وښووی او زما توجه یې ورته وګرځوله چې کاشکې په اردو کې هم څه داسې تفسیر وی کوم چې داسې مختصر او آسانه وی ، الله ﷻ په دې سره دا ارزو هم پوره کړه ، دا دواړه شیان خو داکابرو عالمانو مستند او معروف دی .
(۳) دریم شی (معلومات اومسائل) دی کوم چې زما طرف ته منسوب دی او زما دکار دمحنت محور دی ، الحمدلله چې په دې کې هم زماخپل څه نسته ، ټول د اسلافو د امت څخه را اخیستل سوی دی ، دنن صبا اهل علم اواهل قلم اکثره په دې فکرکې وی چې خپل څه تحقیق اودخپل طرف څخه څه نوې شی پیش کړی په دی د الله ﷻ شکر ګذار یم چې په دی ټول کار کې زما خپل هیڅ نسته .

﴿ این همه گفتیم ولیك اندر پسیچ ﴾ ﴿ بی عنایت خدا هیچ وهیچ ﴾

والله سبحانه وتعالی اسئل الصواب والسداد فی المبدا والمعاد وبه استعین من زلة القدم فیماعملت ومالا اعلم وایاه اسئل این یجعله خالصًا لوجهه الکریم وان یتقبله منی کماتقبل من صالحی عباده وان ینفعنی به یوم لاینفع مال ولابنون وله الحمد اولاً واخرا وراهراً وباطنا وصلی الله تعالی علی خیرخلقه وصفوة رسُلِه خاتم انبیائه وعلی اله واصحابه اجمعین وبارك وسلم تسلیمًا کثیراً .

بنده ضعیف وناکاره محمدشفیع خادم دارالعلوم کراچی (۲۵) شعبان سه ۱۳۹۲ سنه هـ

ترجمه کونکي مولوی نصیراحمدحقانی

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

(سورة الفاتحة)

دا مکی سورة دی او په دی کی اووه آیاتونه دی .

(دسورة فاتحی فضائل او خصوصیات)

په قرآن شریف کی سورة فاتحی ته ډیرخصوصیات حاصل دی . اول دا چې قرآن شریف دسورة فاتحي څخه شروع کیږی . لمونځ هم په فاتحه سره شروع کیږی . او دنازلیدو په اعتبار سره مکمل سورة چې اول وار نازل سوی دی . هغه سورة فاتحه ده او ددې وجی څخه ورلره دفاتحة الکتاب نوم ورکړل سوی دی .
دوهم خصوصیت یې دا دی چې فاتحه په یو ډول دټول قرآن متن دی او پاته قرآن ددې دشرحې حیثیت لری . ځکه چې دقرآن شریف ټول مضمونونه د ایمان او دعمل صالح دبیان څخه نه دی وتلی او ددې دواړو مضمونونو بنیادی اصول په فاتحه کی بیان کړل سوی دی (تفصیل دپاره روح المعانی دعلامه الوسی ج ۱ صـ ۳۵، ۳۶ چاپ بیروت ، دارالاحیاء وګوره) دهم دی وجی څخه دی ته په صحیح احادیثوکی د ام القرآن ، ام الکتاب اوقرآن عظیم نوم ورکړل سوی دی(قرطبی) دعبیدالله محمدبن احمدالقرطبی ج۱ صـ ۱۰۸ طبعه ثانیه القاهره دارالکتب المصریة ۱۳۵۳ هـ)

يادی ته دمتن اوپاته قرآن ته . ددې دشرح رنګ په دی وجه حاصل دی چی په دی سورة کی هغه سړی ته چی دقرآن تلاوت ، يامطالعه شروع کوی ، يوخاص لاربنوونه کړل سوی ده ، چی دا سړی دی دخپل ذهن څخه مخکی ټول خيالونه اوفکرونه اوباسي اوخالص دحق دطلب دپاره دي قرآن ووايي ،او دخدای ﷻ څخه دي دسېده لاری دلاربنوونی پيداکولو خواست وکی نو ددې سوال دجواب دپاره (يعني قبلولو دپاره) ټول قرآن دی چي د (آلم ذلك الكتب) څخه شورع کيږی ، يعني انسان چی دالله ﷻ څخه دسيده لاری خواست کړی وو ، نو ددي په جواب کی په (ذلك الكتاب) سره دا اشاره وکړل سوه ، چي ته څه غواړی هغه په دي کتاب کی سته .

رسول الله ﷺ فرمايلی دی چی زمادی په هغه ذات قسم وي چی دهغه قدرت کی زماروح دی دفاتحی په مثل سورة نه په تورات کی نازل سوی دی اونه په انجيل او زبورکی اونه په قرآن شريف کی څه بل سورة ددې مثل کيدای سی (ددې حديث روايت ترمذی دابی هريرة ﷺ څخه کوی او وايی چی دا حديث حسن صحيح دی اوحاکم ددې حديث په باره کی وايې چی دا حديث صحيح ، اومسلم په شرط پوره دی (مظهری (د محمد ثناء الله جـ ۱ صـ ۱۱ طبع اشاعت العلوم حيدر آباد دکن) او په بيهقی شعب الايمان کی دی چی ، رسول الله ﷺ فرمايلی دی ، چی سورة الفاتحه دهری ناجوړی دپاره شفاده .

په حديث کی دسورة فاتحی يونوم شفاء هم راغلی دی (قرطبی) او په صحيح بخاری کی دانس ﷺ په روايت کی دی ، چی رسول الله ﷺ فرمايلی دی چی دقرآن شريف په ټولو سرتونوکی ډيرعظيم الشان سورة (الحمدلله رب العٰلمين دی) قرطبی جـ ۱ صـ ۱۰۸ ليکن په قرطبی کی خو دا دی چی بخاری دا حديث د ابی سعدبن المعلی څخه روايت کړی دی او دا حديث چی په بخاری کی په کوم ځای کی را غلی دی هغه ټول ځايونه ماوکتل خو په يوه کی هم راته انس ﷺ ښکاره نه سو البته په ترمذی کی دی چی ددې حديث روايت دانس ﷺ څخه هم سته .

﴿ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ ﴾

﴿ بسم الله دقران شريف يوايت دی ﴾

په دی دټولو مسلمانانو اتفاق دی چی بسم الله دسورة نمل يو جزء دی او په دی يی هم اتفاق دی چی ماسوا دسورة توبه څخه دهر يوه سورة په سرکی بسم الله ليکل سوي ده ، البته په دی کی دمجتهدينو امامانو اختلاف دی چی بسم الله دفاتحی يادنورو سورتونو جزء دی اوکه نه ؟ د امام ابوحنيفه رحمه الله دا مسلك دی، چی بسم الله ما سوا دسورة نمل څخه دبل يوه سورة جزء نه دی ، بلکه دا يو مستقل جلا ايت دی او د دوو سورتونو په مينځ کی دجلاوالی او امتياز دظاهرولو دپاره نازل سوی دی .

﴿ دقران شريف تلاوت او دهر مهم کار دشروع حکم په بسم الله په کار دی ﴾

دجاهليت دزمانی دخلقو دا عادت وو چی هغو به دخپلو کارونو شروع دبتانو په نامه کوله ، ددغه جاهلی عادت دختمولو دپاره دقرآن شريف اولنی آيت دجبرائل امين په واسطه نازل سو چی هغه (اِقْرَاْ بِسْمِ رَبِّكَ الخ) دی چی په دی کی د الله ﷻ په نامه سره دقرآن شريف دشروع کولو حکم ورکړل سوی دی .

علامه سیوطی رحمه الله لیکلی دی چی قرآن څخه ماسوا نور ټول آسماني کتابونه هم په بسم الله شروع سوي دي ، اوبعضی علماء دا وایي چي بسم الله الرحمن الرحیم دقرآن شریف او دامت محمدیه دخصوصیاتو څخه ده ، ددې دواړو اقوالو تطبیق داسی کیدای سی چی دالله ﷻ په نامه سره دټولو آسماني کتابونو شروع یومشترکه خبره ده ، البته فرق یوازی دا دی چي دبسم الله الرحمن الرحیم الفاظو سره شروع دقرآن خصوصیت دی لکه چی په بعضی روایتونو کی دي چی رسول الله ﷺ اول دهر کار شروع (باسمك اللهم) سره کوله اولیکل یی ، چی هرکله دبسم الله الرحمن الرحیم آیت نازل سو نو بیایی دغه الفاظ دهرکار شروع کولو دپاره خوښ کړل او دغه دول دا همیشه دپاره سنت جاریه وګرځیدل (قرطبی وروح المعان) ج ۱ صـ ۹۷ ، ۹۸ .کی خای پرخای دا هدایت کړل سوی دی . چی هر یوکار دالله ﷻ په نامه سره شروع کړل سی او رسول الله ﷺ فرمایلی دی چی کوم کار دالله ﷻ په نامه اخیستو سره شروع نه سی ، هغه بی برکته وی .

یوحدیث کی دی چی دکور د دروازی بندولو په وخت بسم الله وایست که څراغ مړکوی نو بسم الله وایاست که لوښی پټول وی نو هم بسم الله وایاست ، دخوراك په وخت کی ، دابو چیښلو په وخت کی ، دسپریدلو په وخت کی او دسپرلی څخه دکښته کیدولو په وخت کی دبسم الله دویلو حکم په قرآن اوحدیث کی راغلی دی قرطبی ج ۱ صـ ۹۷ ، ۹۸ .

﴿ په بسم الله سره دهر کار دشروع کولو حکمت ﴾

په اسلام کی دهرکار دشروع کولو په وخت کی بسم الله ویل ددې وجی څخه مقررکړل سوی دی چی په داسی کولو سره به مسلمان په هرګړی کی دخپل دی حلف (قسم) وفاداری تجدید وکی ، چی دهغه وجود او دهغه هرکار دالله ﷻ د ارادی څخه بغیر نه سی کیدای .

دا کارکه هر څومره کوچنی وی او نه دومره وخت په کی لګیږي اونه په کی څه مشقت ته ضرورت وی ، لیکن فائده (ګټه) یی څومره کیمیایی اولویه ده ؟ چی دنیوی کاریی ددین کارګرځی ، یوکافرهم دوډۍ خوری اومسلمان هم ، لیکن یو مسلمان دخپلی دوډۍ څخه مخکی چی بسم الله ووایی نو دا اقرار وکی چی په دی دوډۍ باندی دمخکی څخه دپیداکیدو دوخت څخه دپخیدو پوری دمځکی او دآسمان دستورو او هوا دمخلوقاتو اوبیاپه لکونو انسانان څومره ډیر محنت سوی دی دداسی دوډۍ حاصلول زما په قدرت کی نه وو ، دا خو دالله ﷻ ذات دی چی دا دوډۍ تر داسی مرحلو څخه تیره کړه اوبیایی ماته را کړه . مومن اوکافر دواړه بیده کیږي او دخوب څخه راکښینی ګرځی راګرځی ، لیکن مومن دبیده کیدو څخه مخکی او دویښیدو په وخت کی ، چی بسم الله ووایی نو خدای ﷻ سره دخپل تعلق نوی کیدل وکی او دغه دول کولو سره دا ټول دنیوی او د ژوند ضرورتونه ، دخدای ﷻ ذکر اوعبادت وګرځی ، مومن چی په سپرلۍ سپریږي او بسم الله ووایی نو دی دا شاهدی ورکوی ، چی ددې سپرلی پیداکول ، او بیا دا زما په اختیار کی را کول د انسان دوس څخه وتلی شی دی ، دا خو دالله ﷻ دمضبوط نظام کار دی چی کوم خای یی لرګی کوم خای اوسپنه اوکوم خای څخه یی قسم قسم ویلی کیدونکی مواد ، او یو خای یی کار یګران ، او یو خای یی چلونکی زماپه خدمت کی اخته کړی دی ، که چیری زه په لږ

پیسو دالله ﷻ دا دومره ډیر مخلوق په خپل خدمت کی را ولم نو داپیسی خو مادخپل ځان سره څه دبل ځای څخه نه دی را وړی بلکه دا هم دهغه ذرائعو څخه حاصلی کړل سوی دی چی هغه الله پیداکړی دی ، فکر وکی چی داسلام دی لړ لنډ تعلیم سره انسان دکوم ځای څخه کوم ځای ته رسیږي نو ددې وجی څخه دا ویل بالکل صحیح دی چی بسم الله یوه نسخه کیمیایی ده چی په دی سره مس خو لا څه کوی چی خاوره سره زرکیږي ، فلله الحمد علی دین الاسلام وتعلیماته .

مسئله : دقرآن شریف دتلاوت شروع کولو په وخت کی اول (أعُوذُبِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، اوبیابِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ) ویل سنت دی او دتلاوت په مینځ کی هم دسورة براء ت څخه ماسوا دهر سورة په سرکی بسم الله ویل سنّت دی ، دلوړ ذکر سوی تمهید څخه وروسته دبسم الله الخ تفسیر وګوری .

﴿ دبِسْمِ اللهِ الخ تفسیر﴾

بسم الله دا کلمه د درو الفاظو څخه جوړه ده ، یو حرف (باء) دویم (اسم) دریم (الله) عربی ژبه کی دحرف باء ډیری معنٰی ګانی دی ، چی په هغوی کی دری معناوی دلته مناسبی دی او اخیستل کیدای سی .

اول دمصاحبت په معنٰی : یعني دیوه شي دبل شي سره متصل کیدل .

دوهم د استعانت په معنٰی : یعني دیو شي څخه کومك اخیستل .

دریم دتبرك په معنٰی : یعني دیو شي څخه برکت حاصلول .

د الله لفظ ، دخدای ﷻ په نومونو کی ، ترټولو څخه غټ او جامع نوم دی ، ځینی علماء دی ته (اسم اعظم) وایی او دا نوم دخدای ﷻ څخه ماسوا بل چاته نه ویل کیږي ، هم دا وجه ده چی ددې لفظ تثنیه او جمع راتلی نه سی ، ځکه چی خدای ﷻ یو دی او ده لره هیڅ څوك شریك نسته ، مطلب دا دی چی الله ﷻ دهغه ذات نوم دی چی هغه ترټولو کمالی صفاتو چینه ده او دغه ذات بی مثل او بی نظیره دی .

نو دبسم الله معنٰی ، دحرف باء ددغه درو معناوو په وجه داسی ده .

دخدای ﷻ په نامه سره دخدای ﷻ په کومك سره ، دخدای ﷻ دنامه په برکت سره ، لیکن په دی درو سره صورتونو کی دا خبره خرګنده ده ، چی ترڅو پوری دهغه کار ذکر ونه کړل سی چی دالله ﷻ په نامه سره یادهغه په برکت سره ددغه کارکول مقصود دی ، ترهغه پوری دا کلام مکمل نه دی ، نو په دی وجه دنحوی دقاعدی برابر دلته یو داسی کار چی دمقام سره مناسب دی ، محذوف دی مثلاً شروع کوم یا وایم دالله په نامه سره .

اوښه خودا ده چی دا کار وروسته وګڼل سی او دا دی غرض دپاره چی بالکل شروع دخدای ﷻ دنامه څخه وسی اوهغه کارمحذوف دالله ﷻ دنامه څخه مخکی را نه سی ، البته دحرف باء دالله ﷻ لفظ څخه مخکی را تلل دعربی ترژبی یو نه ختمیدونکی ضرورت دی .

اوپه مصحف عثمانی کی دصحابو په اجماع ، حرف باء د اسم سره یوځای کول اوهمزه داسم لفظ څخه ایستل په دی غرض سوی دی ، چی شروع د اسم الله ﷻ څخه وسی ، که دا مقصد نه وی نو بیا درسم الخط دقاعدی مطابق حرف باء د اسم لفظ د الف سره یوځای کول په کار وو ، چی دهغه شکل داسی کیږي باسم الله دغه وجه ده چی نورو ځایونوکی دغه الف نه دی حذف سوی او درسم الخط مطابق یوازی

باء سره یوځای کړل سوی دی لکه ﴿اقْرَ أْبِاسْمِ رَبِّكَ﴾ کی.
﴿الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ﴾ دا دواړه دالله ﷻ صفات دی درحمٰن معنٰی عام الرحمت ده، اورحیم معنٰی تام الرّحمت ده، دعام الرّحمت مطلب دا دی چی الله ﷻ هغه ذات دی چی دهغه رحمت پرټولو کائناتو چی هغه اوس پیدادی یابه پیدا کیږي، خپور دی او دتام الرحمت مطلب دا دی چی دهغه رحمت کامل مکمل دی، هم دا وجه ده چی (رحمٰن) لفظ الله ﷻ پوری خاص دی او مخلوق ته رحمٰن ویل روانه دی ځکه چی دالله ﷻ څخه ماسول داسی څوك کیدای نه سی چی دهغه رحمت څخه دجهان یو شي خالي نه وی او دغه وجه د الله دلفظ په شان درحمن دلفظ تثنیه او جمع نه سی را تلی، ځکه چی دا لفظ دیو ذات سره خاص دی، د دویم او دریم په دی کی امکان نسته (قرطبی) په خلاف درحیم لفظ څخه، ځکه چی دهغه په معنٰی کی داسی څه شي نسته، چی هغه په مخلوق راتله ممکن نه وی، ځکه چی کیدای سی، چی یو سړی دبل سړی سره پوره پوره درحمت معامله وکی، دغه وجه ده چی رحیم لفظ د انسان دپاره کیدای سی په قرآن شریف کی رسول الله ﷺ دپاره ویل سوی دی لکه ﴿بِالْمُؤْمِنِیْنَ رَءُوْفٌ رَّحِیْمٌ﴾
مسئله: ددې څخه دا معلومه سوه چی نن صبا چی خلق عبدالرحمٰن او فضل الرحمٰن کی لنډوالی کوی او دچاچی دا نومونه وی هغه ته په رحمٰن اواز کوی، دا ښه خبره نه ده بلکه گناه ده.
حکمت: په بسم الله کی دالله ﷻ داسماء حُسنٰی اوکمالی صفاتو څخه، یوازی دوه صفته ذکر سوی دی او دا دواړه درحمت دلفظ څخه وتلی دی او دا دواړه دالله ﷻ په فراخ اوکامل رحمت باندی دلالت کوی په دی تخصیص کی دی خبری ته اشاره ده چی دعالم مخکی اسمان، او دټولو کائناتو پیدا کول او دوی پالل یوازی دالله ﷻ درحمت منشاده، الله ﷻ ته د دوی دپیدا کولو نه څه ضرورت وو، اونه چا الله ﷻ د دوی په پیداکولو مجبوره کړی وو، دا یوازی دالله ﷻ درحمت غوښتنه ده چی دا ټول کائنات یی پیدای کړی دی او د دوی دپاللو انتظام یی کړی دی.
احکام ومسائل: مسئله دتعوذ، دتعوذ معنٰی ده ﴿اَعُوْذُبِاللهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ﴾ ویل په قرآن شریف کی حکم دی ﴿فَاِ ذَا قَرَ اْتَ الْقُرْ آنَ فَاسْتَعِذْ بِاللهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّ جِیْمِ﴾ (النحل ۸۹) یعني چی کوم وخت ته تلاوت کوی نو درټلی شیطان دشرڅخه په خدای ﷻ سره امان غواړه.
دقرآن شریف دتلاوت څخه مخکی خواه دا تلاوت په لمانځه کی وی یا ترلمانځه څخه دباندی داعُوْذُبالله ویل په اجماع دامت سره سنت دی، اَعُوْذُ بالله ویل دقرآن شریف دتلاوت سره خاص دی دتلاوت څخه ماسوا دنورو کارونو په سرکی یوازي بسم الله وویل وی اواعوذ بالله ویل سنت نه دی (عالمگیری باب رابع من الکراهیة (جـ ۵ صـ ۱۲۰ مطبع مصطفائی دهلی ۱۲۷۸ هـ) چی دقرآن شریف تلاوت کول وی، نو اول به اعوذ بالله، بیا به بسم الله ویل وی دتلاوت په مینځ کی چی یو سورة ختم سی او بل سورة شروع سی نو دسورة برأت څخه ماسوا دهر سورة په سرکی بسم الله ویل دی او اعوذبالله ویل نه دی که چیرې سورة برأت دتلاوت په مینځ کی راسی، نو دده په سرکی بسم الله نه وایی اوکه چیری دتلاوت شروع دسورة څخه کوی نو ددې په سرکی به اعوذ بالله اوبسم الله دواړه وایی (عالمگیری عن المحیط مخکنی کتاب اوحواله)

دبسم الله احکام

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ دسورة نمل ديو آيات جزء دی اوپه ټولوځايونو کی د دوو سورتونو په مينځ کی يو مستقل آيت دی ، ددې کبله ددې احترام دقرآن شريف دنورو آياتونو په ډول دی ، بغير د اودس څخه دې ته لاس وروړل روانه دی ، دجنابت ، حيض او نفاس په حالت کی ددې وينا ، دتلاوت په اراده جائز نه ده البته دخه کارپه شروع ، لکه خوړل چيښل وغيره کی ددعا په توګه يی ويل ګناه نه ده (شرح منيه الصغير د ابراهيم بن محمد الحلبی ص ۳۱ لاهور ، مطبع هوپ ۱۲۷۹ هـ)

مسئله : په اول کی داعوذ بالله څخه وروسته بسم الله ويل سنت دی اختلاف يوازی په دی خبره کی دی چی په زوره ويل سنت دی اوکه کرار ، امام ابوحنيفه رحمه الله او دير نور امامان يی کرار ويل ښه ګنی .

د اول رکعت څخه وروسته په نورو رکعتونو کی دبسم الله ويلو په سنت کيدو دټولو اتفاق دی اوپه بعضی رواياتو کی دبسم الله ويل په هر کعت کی واجب ښوولی سوی دی .

مسئله : په لمانځه کی ترفاتحی څخه وروسته اودسورة ويلوڅخه مخکی دبسم الله ويل نه په جهری لمونځو کی اونه په سرّی کی درسول الله ﷺ څخه ثابت دی او نه دخلفاؤ راشدينو څخه ثابت دی دمنيه په شرح کی دا دامام ابو حنيفه رحمه الله او ابو يوسف رحمه الله قول ليکلی دی ، ليکن دامام محمد رحمه الله يو قول داسی دی چی سرّی لمونځو کی ددې وينا ښه ده او په بعضو رواياتو کی دا قول امام صاحب ته منسوب سوی هم دی اوپه شامی (ابن عابدين په حواله دمحيط جـ ۱ صـ ۳۲۹ دارالطباعة المصرية ۱۲۸۲هـ) کی دبعضی فقهاؤ څخه نقل دی چی دبسم الله ويل په سرّی لمانځه کی ښه کار دی .

سُوْرَةُ الفَاتِحَةِ

وَرُكُوعُهَا وَاحِدٌ	سُوْرَةُ الْفَاتِحَةِ مَكِّيَّةٌ	ايَا تُـــهَا سَبْعٌ
او يوه رکوع ده	سورة فاتحه په مکه کی نازل سو	په دی کی اووه آيتونه دی

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع کوم په نامه دخدای ﷻ چی بيحده مهربان دير رحم والا دی .

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ○ لا الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○ لا مٰلِكِ

ټولې ثناګانې الله ﷻ لره دی چی پالونکی دټولو جهانونو دی ، بی اندازی مهربان او کامل رحم والا دی مالک

يَوْمِ الدِّيْنِ ۝ اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ ۝ اِهْدِنَا الصِّرَاطَ

د ورځې دجزاء دى ، بس مونږ يوازى ستا بندگى کوو ، اوبس له تاڅخه مدد غواړو ، مونږ ته سيده لار

الْمُسْتَقِيْمَ ۝ صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ ۝ غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ

وښيې، دهغه کسانولاره چې په هغوى باندى تافضل او کرم کړى دى او چې په هغوى باندى ستاغضب سوى نه دى

وَلَا الضَّآلِّيْنَ ۝

او چې هغوى گمراه سوى نه دى.

لنډتفسير : الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ : تولى ثنا گانى الله ﷻ لره ښايي چې پالونکى دهر جهان دى ، دمخلوقاتو جلاجلا ، اجناسو اوقسمونو ته جلاجلا عَالَمْ ويل کيږي ، مثلاً دملائکو عالم ، دانسانانو عالم دپيرانانو عالم ، مَالِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ د ورځې دجزا څخه مراد دقيامت ورځ ده ځکه چې دى ورځ کى به هر سړى ته دعمل بدله ورکيداى سي دسيده لارې څخه مراد ددين لاره ده دانعام اوفضل څخه مراد ددين انعام دى ﴿غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّآلِّيْنَ﴾ نه لاره دهغه کسانو چې هغوى باندى ستا غضب سوى دى او نه دهغو لاره چې هغوى لاره ورکه کړى ده.

دهدايت دلارې پرېښوول د دوو وجو څخه کيداى سي يو ددې وجې څخه چې ددې لارې دپاره پوره کوشش ونه کړل سي اوضَّآلِّيْنَ څخه دا قسم خلق مراد دى او بل ددې وجې څخه چې دکوشش سره په دى عمل ونه کړل سي اوغَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ څخه دغه خلق مراد دى ځکه چې سره دپوهى څخه بياهم دهغه خلاف کول او په هغه عمل نه کول دخداى ﷻ دناراضه کېدو سبب گرځي.

﴿ علوم او مسئلې ﴾

سورة فاتحه کى اووه (۷) آياتونه دى په اولنى درى آيتونوکى دالله ﷻ حمد اوثنا ده اوپه وروسته دروکى د انسان دطرف څخه دعا او دخواست مضمون دى او ددې دواړو په مينځنى آيات کى دا دواړه شيان گډ او شريك دى څه په کى دحمد او ثناء اړخ دى اوڅه په کى دعا او خواست دى.

په صحيح مسلم کى دحضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ فرمايلى دى چې الله ﷻ وايى چې لمونځ (يعني فاتحه) زما او زما دبنده په مينځ کى په دوو برخو ويشل سوى ده ، نيمه برخه زما دپاره ده او نيمه برخه زمادبنده دپاره ده اوڅه چې بنده غواړي هغه به هغه ته ورکړل سي ، بيارسول الله ﷺ وفرمايل چې کوم وخت بنده ووايى ﴿ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴾ نو خداى ﷻ وايى زمابنده زماحمدبيان کى

اوچی کوم وخت بنده ﴿ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ ﴾ ووايي نو خداى ﷻ وايي ، چی زمابنده زماصفت او ثنابيان کړه او چی کوم وخت بنده﴿مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ ﴾ ووايي نوخداى ﷻ وايي چی زمابنده زمالويي بيان کړه ، اوچی کوم وخت بنده ﴿إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ﴾ ووايي نوخداى ﷻ وايي، چی دا ايت زمااوزمادبنده په مينځ کی شريك دی ، ځکه چی دی کی يو اړخ دخداى ﷻ دحمد اوثنادی او دويم اړخ دبنده ددعا او خواست دی او ور سره خداى ﷻ دا هم وايي چی زمابنده ته به هغه شي رسيږي چی هغه يی غواړی بياچی کوم وخت آخره پوری ووايي نوخداى ﷻ وايي ، چی داټول زمادبنده دپاره دی ، چی کوم شي هغه غواړی دا به هغه ته ورکېداى سی (مظهری)

د﴿الْحَمْدُ لِلَّهِ﴾ معنٰی دا ده ، چی ټول تعريفونه اوثناګانی الله ﷻ دپاره دی يعني په دنيا کی که چيری ديوشي صفت کيږي هغه په اصل کی دالله ﷻ صفت کول دی ځکه چی په دی رنګ اوبوی والا دنيا کی چی کوم په زرهاوو ښائسته منظری او په کروړونو دفائدی شيان که انسان دلمنی ځخه رانيسی اوخپل ځان ته يی را کاږی اوپه خپل صفت يی مجبوره کوی که ژور فکر وکړل سی نو دا به معلومه سی چی ددې ټولو شيانو په پرده کی بس ديو قدرت لاس کار کوونکی دی او په دنيا کی که چيرې ديو شي صفت کيږي ددې حقيقت بس داسی دی لکه چی ديو نقش بيا تصور (عکس) يادکاريګری صفت وکړل سی چی هغه په اصل کی دنقش جوړونکی او دمصوّر او دکاريګر صفت او تعريف دی .

په دی جمله کی دکثرت او ډېر والی په موجونوکی را ګير انسان ته ديو حقيقت دروازه خلاصه سوه او ورته دا وښوول سو چی دا ټول کثرتونو او ډيروالي يو وحدت سره تړلی دی او دا ټول تعريفونه اوصفتونه په حقيقت کی ددغه يوقادرمطلق دی اوداظاهره خبره چی هرکله په ټولوکائناتوکی دحمد وړ په حقيقت کی يوذات دی، نوبيادعبارت وړ بس هم دغه ذات کيداى سی ددې ځخه دامعلومه سوه چی که څه هم دحمدثنا دپاره راوړل سوی ده، ليکن په بغل کی ورسره په معجزانه ډول کی دمخلوق پرستی بنيادختم کړل سوی دی اوپه تاثيری طريقی سره دتوحيدتعليم چی دايمان دټولوځخه اولنی رکن دی ، تعليم ورکړل سوی دی .

رب العالمين . درَبّ لفظ په عربی ژبه کی پالونکی ته وايي اوپالنه دی ته وايي چی يوشي کرار کرار داسی لوی کړل سی چی هغه دخپل کمال حدته ورسيږي او دده په تدريجی لويولوکی دده دټولو ګټو خيال وکړل سی ، دا لفظ يوازی د الله ﷻ د ذات دپاره خاص دی بل چاته د اضافت ځخه بغير ربّ ويل روانه دی ځکه هر يو مخلوق په خپله دپالنی محتاج دی ، نو هغه به دبل څه پالنه وکړی .

العلمين . دعالم جمع ده اوعالمين کی ددنيا ټول اجناس اواقسام ، مثلاً آسمان ، سپوږمی ، لمر ، او ټول ستوری ، هوا فضا ، بريښنا ،باران ، ملائکی پيرانان ، مځکه او په مځکه کی ټول پيداوښت حيوانات نباتات ، جمادات او انسانان دا خل دی ، نو په دی وجه درَبّ الْعٰلَمِيْنَ معنٰی دا سوه چی الله ﷻ دکائناتو دټولو اجناسو او اقسامو پالونکی او تربيت کوونکی دی .

او دا هم کيداى سی لکه چی ځرنګه دا دنيا چی په کی مونږ په کښی اوسو ، اوچی ددې نظام شمسی ، برق او باران او ددې مځکی په لکونو مخلوقات چی مونږ يی وينو او ګورو ،دا دي يوعالم وی او دغه

رنګه په زرهاوو لکاوو نور عالمونه دي وی ، چې هغه ددې عالم څخه دباندی په خلا کی موجود وی ، امام رازی په خپل تفسیر کبیر (ج ۱ صـ ۱۴۴ لبنان مطبع آفست ۱۳۹۸ هـ) کی لیکی چې (ددې عالم څخه دباندی یو نه خلاصیدونکی خلا په عقلی دلیلونو سره ثابته ده او دا هم ثابته خبره ده چې الله ﷻ په هر یوه شي باندی قدرت لری ، نو په دی وجه دا څه ګرانه نه ده چې په دغه نه خلاصیدونکی خلا کی زمونږ دنظر څخه لاندی دعالم په شان ، سره نور په زرهاوو او لکاوو عالمونه وی)

دحضرت ابوسعید خدری ﷺ څخه نقل دی چې (عالمونه څلویښت زره دی دا دنیا دمشرق څخه ترمغرب پوری یوعالم دی ، پاته نور ددې څخه ماسوا دی . هم دغه رنګه د امام التفسیرحضرت مقاتل څخه منقول دی چې عالمونه اتیا (۸۰) زره دی (قرطبی ج ۱ صـ ۱۳۸)

او چې کومه شبهه په دی باندی کیدای سوه چې په خلا کی د انسان دمزاج موافق هوا نسته او هلته انسان یایو بل حیوان ژوندی پاته کیدای نه سی . نو امام رازی (دا خبره زماپه تفسیرکی نه ده پیدا کړی) ددې جواب کړی دی چې دا خو ضروری نه ده چې ددې عالم څخه دباندی په خلاکی د اوسیدونکو مزاج دې زمونږ دعالم د اوسیدونکو په شان وی چې بغیر دهوا څخه ژوندی نه سی پاته کېدای دا ولی نه سی کېدای چې دهغوی مزاج او غذا او غیره زمونږ داوسیدونکو څخه بالکل جلا وی .

دا مضمون اووه سوه (۷۷۰) اویا کاله مخکی اسلامی فلسفی امام رازی هغه وخت لیکلی دی چې کوم وخت کی دخلااوفضا سامان ایجاد سوی نه وو ، نن سبا دراکټونو وغیره په کومك سره دخلاسفر کوونکو چې څه ښوولی دی ددې څخه څه زیات نه دی چې ددې عالم څخه دباندی دخلاڅه حد او انتها نسته اوهیڅ نه سی ویلای چې په دی نه خلاصیدونکې خلا کی څه موجود دی ، دی دنیا ته دټولو څخه نژدی سیارو یعني دسپوږمی او مریخ دآبادی متعلق چې کوم تخمینونه دنن سبا ماهرین دسائنس کوی ، هغه هم بس دغه دی چې که چیري په سیارو کی څه خلق آباد دی . نو دا ضروری نه ده چې دهغوی مزاج او طبیعت دې داسی وی لکه چې په دی عالم کی انسانان ، حیوانات او بوټی یې لري بلکه ډیره عقل ته نژدی دا ده چې دهغوی مزاج او دهغوی خوراك او نور ضروریات دی ددې عالم دمخلوق څخه بالکل جلا وی نو په دې وجه ددې عالم په مخلوقاتو باندی دهغوی دقیاس کولو دپاره څه وجه نسته .

په دی لړ کی دنوی معلوماتو دپاره او د امام رازی دتائید دپاره هغه مقاله کافی ده چې هغه اوس وخت کی یو امرکایی خلایی مسافر (جان ګلین) دخلا دسفر کولو څخه وروسته چاپ کړی ده ، په دی مقاله کی دیو (بربینایی) دشعاعی کال په نوم دیوې اوږدې مودې اومسافت پیمانه جوړه کړی ده اودهغه په ذریعه دخپل فکر دفراخی دحدپوری دخلاڅه اندازه یې لګولی ده او بیا یی دا اقرار کړی دی چې دا هیڅ نه سی ویلای چې دخلا فراخی څومره ده او ترکمه ځایه پوری ده .

دقرآن په دی لنډی دوول جملی سره اوس په ټول عالم او دهغه په کائناتو نظر واچوی او دزړه په سترګو ورته وګوری چې الله ﷻ دعالم دپاللو او تربیت څه عجیبه مضبوط نظام جوړکړی دی ، دآسمانونو څخه واخله تر عناصرو پوری ، دسیارو ستورو څخه واخله تر ذرو پوری هر یو شي ددغه نظام په زنځیر کی تړل سوی دی او دحکم مطلق دخاص حکمت دلاندی هر یو شي خپل خپل کار کی لګیدلی دی ، یوه ګوله

چې انسان یې خپلې خولې ته را پورته کوي، که چیرې ددې په پوره حقیقت غور وکړل سي نو دا به معلومه سي چې ددې په تیارې کې دمځکې او آسمان ټول قوتونه اود زرګونو لکونو انسانانو او حیواناتو کوششونه شامل دي او دا ټول ددې دپاره دي چې انسان په دې غور اوفکر وکي اوپوه سي چې الله ﷻ دمځکې څخه واخله ترآسمانه پورې ټول مخلوقات دانسانانو په خدمت کې مقررکړي دي نوچې کومه هستې دمخلوقاتو مخدومه ګرځول سوې ده، هغه بې کاره، بې مقصده کیدلای نه سي دهغه هم څه کار وي دهغه پرذمه به هم څه خدمت وي.
دغه کار او دغه خدمت چې ددې هستې په ذمه دي دقرآن شریف په دې آیت کې واضح کړل سوی دی.
﴿وَمَاخَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونَ﴾ (الذاریات ۵۶)
مونږ پیران او انسان دیو بل کار دپاره پیدا کړي نه دي بلکه یوازې دي دپاره مو پیدا کړي دي چې زما عبادت وکي.
دې مځکنې بیان څخه دا معلومه سوه چې رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ په یوه ډول دمځکنې جملې اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ دلیل دی، هغه داسې چې هرکله ترټولو مخلوقاتو دپاللو ذمه واریو ذات د الله ﷻ وي نو دثنا او صفت حقیقي حقدار بس دغه ذات کېدای سي نو په دې وجه اول آیت ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ﴾ کې ثنا او صفت سره سره د ایمان دټولو څخه اول رکن توحید باري تعالی بیان په تاثرکونکې طریقې سره وکړل سو.
په دویم ایت کې درحمت دصفت ذکر، درحمٰن ذکر او درحیم، په الفاظو کړل سوی دي او دا دواړه الفاظ دمبالغې صغې دي، او دخدای ﷻ درحمت پرا ختیا اوکمال بیانوي ددې صفت په ذکرکولوکې دلته شاید دې خبرې ته اشاره ده چې ددې ټولو مخلوقاتو پالنه اوتربیت چې الله ﷻ په خپله ذمه اخیستل دي، داهغه دخپل یو ضرورت اومجبورې دوجې څخه اخیستل نه دي بلکه دا ټول دهغه دفراخ رحمت غوښتنه ده ځکه که چیرې دا ټول مخلوقات نه وي نو هغه ته په کې یو نقصان (تاوان) نسته اوکه چیرې وي نو په هغه باندې څه بوج هم نسته.
﴿مَالِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ﴾ دمالك لفظ دملكَ څخه را وتلی دی او دملك معنی دا ده چې په یوشي باندې داسې قبضه وي چې هغه په دې باندې دتصرف کولو جائز قدرت لري (قاموس دفیروز آبادي ج۳ ص ۳۲۰ مصر دارالمامون ۱۳۵۷ھ) دلفظ دین معنی ده جزا ورکول نو﴿مَالِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ﴾ لفظي ترجمه مالك دورځې دجزا یعنې دجزا په ورځ کې دملکیت خاوند، اوس دا خبره چې ملکیت به پرڅه شي وي دهغه ذکرنه دی سوې او په نه ذکرکولوکې عموم ته اشاره ده یعنې دجزاء په ورځ دټولوکائناتو او ټولو شیانو ملکیت یوازې دخدای ﷻ به وي (کشاف د الزمحشري ج ۱ ص ۱۳ القاهره مطبع الاستقامة ۱۳۶۵ھ)

﴿دجزاء د ورځې حقیقت او دهغه عقلي ضرورت﴾

دجزاء ورځ دکومې ورځې نوم دی؟ او ددې حقیقت څه دی؟ پرټولو کائناتو باندې دالله ﷻ ملکیت چې څه رنګه دقیامت په ورځ به وي، دغه رنګه دا ملکیت نن هم دی نو بیاپه ټولوکائناتوباندې دملکیت دپاره دقیامت دورځې دخاص کولو وجه څه ده؟ دا دوې داسې خبرې دي چې ددې وضاحت په کار دی.
دمځکنې خبرې وضاحت دا دی چې دجزاء ورځ دهغه ورځې نوم دی، چې په هغه کې به الله ﷻ دښه او بد

عملونو بدله ورکوی نو ﴿ مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ﴾ (د ورځی دجزاء مالك) يوه فائده دا سوه ، چی دنيا دجزاء ځای نه دی بلکه دا دعمل او دفرضو د ادا کولو ځای دی او دجزاء دپاره بل وخت اوبل ځای دی په دنياکی ديو سړی په عيش اوعشرت کی کيدل دا ددې دليل نه دی ، چی دا سړی خدای ﷻ ته ډير محبوب دی اويا په غم اوتکليف کی اخته کيدل ، ددې خبری علامه نه ده چی دا سړی دخدای ﷻ خوښ نه دی ، البته کله کله په دنيا کی دځه عمل دجزاء ياسزا يوه سپکه غوندی نمونه ښکاره کيږي ، خو هغه ددې عمل پوره بدله نه وی يوازی دآګاهي او بيداري دپاره يوه نمونه وی لکه ددې متعلق دقرآن شريف وينا ده .

﴿وَلَنُذِيقَنَّهُم مِّنَ الْعَذَابِ الْأَدْنَىٰ دُونَ الْعَذَابِ الْأَكْبَرِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ۝﴾ (السجده)

مونږ خلقو ته دآخرت ځخه مخکی (کله) دنيا کی ديو نژدی عذاب خوند وروڅکوو ، هرکله چی دا معلومه سوه چی دښه اوبدعمل پوره پوره سزا اوجزا په دی دنيا نه حاصليږي او دعقل ، عدل اوانصاف دا تقاضاده چی ښه اوبد برابر نه دی بلکه دهرعمل جزاء اوسزا حاصليدل په کار دی ، نو ددې وجی ځخه دا ضروری سوه چی ددې عالم ځخه وروسته دې يو داسی عالم وی چی په هغه کی دهر کوچنی ، اولوی دښه اوبد عمل حساب کتاب وی او په انصاف سره دهغه جزاء اوسزا وی ، دی ته دقرآن په ژبه کی يَوْمُ الدِّين (دجزا ورځ) قيامت او آخرت ويل کيږي ، دا مضمون پخپله قرآن شريف په سورة مومن کی په داګه داسی بيان کړی دی . ارشاد دی .

﴿ وَمَا يَسْتَوِي الْأَعْمَىٰ وَالْبَصِيرُ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَلَا الْمُسِيءُ ۚ قَلِيلًا مَّا تَتَذَكَّرُونَ (۵۸) إِنَّ السَّاعَةَ لَآتِيَةٌ لَّا رَيْبَ فِيهَا وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يُؤْمِنُونَ﴾

ړانده اوليدونکي اوهغه خلق چی ايمان يی را وړی دی اوښه عملونه يی کړی دی اوهغه خلق چی بدعمله دی ، ديو بل برابر نه دی ، تاسی خلق ډيرلږ پوهيږي قيامت به خامخا راځی (دی دپاره چی دهرعمل بدله پوره پوره ورکړل سی) دقيامت په راتلو کی ځه قسم شك نسته ليکن اکثر خلق نه پوهيږي .

د دويمی خبری وضاحت دا دی چی دټولو کائناتو د ذری ذری حقيقی مالك هغه پاك ذات دی چاچی دا کائنات پيدا کړی دی ، لوی کړی يی دی او پاللی يی دی او چی دهغه ملکيت په دی کائناتو باندی مکمل دی په ظاهره هم په باطنه هم په ژوندی هم په مړی هم ، او چی دهغه دملکيت ابتداء او انتها نسته ، په خلاف د انسان دملکيت ځخه چی هغه دا رنګه نه دی چی دهغه په دائره کی ابتداء او انتهاسته او چی هغه په ظاهر دی او په باطن نه دی ، په ژوندی دی او پرمړنه دی نو ددې ځخه دبصيرت دخاوندانو په نزد نه يوازی دورځی دا جزاء بلکه دنيا کی ترټولو کائناتو حقيقی مالك يوازی خدای ﷻ دی ، نو بيا دالله ﷻ دمالکيت دپاره دجزاء د ورځی په خاص کولو کی ځه حکمت دی ؟ هغه حکمت دا دی چی په ﴿مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ﴾ (يعني په دی تخصيص سره) الله ﷻ مغرور انسان آګاه کوی چی په دنيا کی که تاته زماد کوم ځخه ځه ناقص ملکيت په مال او دولت ، مځکی ، جائداد وغيره درکړل سوی دی . په دی غرور مه [illegible] ورځو ملکيت دی ، يو داسی ورځ راتلونکی ده چی په هغه کی به په ځه شي دا ناقص ملکيت هم [illegible] نه سی او ترټولو کائناتو ملك او مُلك به يوازی د الله ﷻ وی او قرآن شريف پخپله ﴿مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ﴾ [illegible]

تفسير دسورة مومن په دى آياتونوكى كړى دى.

﴿يَوْمَ هُمْ بَارِزُونَ لَا يَخْفَى عَلَى اللَّهِ مِنْهُمْ شَيْءٌ لِمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ لِلَّهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ (۱۶) الْيَوْمَ تُجْزَى كُلُّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ لَا ظُلْمَ الْيَوْمَ إِنَّ اللَّهَ سَرِيعُ الْحِسَابِ﴾

په كومه ورځ چى ټول خلق (دخداى ﷻ) په مخكى حاضر سى چى دهغوى څه خبره (صورة) هم دخداى ﷻ څخه به پټه پاته نه سى، ددغه ورځى حكومت به دچاوى؟ بس يوازى دخداى ﷻ به وى چى هغه يو او غالب دى په دغه ورځ به هرسړى ته بدله وركړل سى، په دغه ورځ به په چاظلم نه كيږي اوالله ﷻ ډير ژر حساب اخيستونكى.

﴿إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ﴾ لكه چى څرنگه مونږ مخكى ويلى وو چى يو اړخ دحمد او ثنا دى او بل اړخ يى ددعا او خواست دى، (نَعْبُدُ) دعبادت دلفظ څخه وتلى دى او دعبادت معنٰى دا ده چى په نهايت تعظيم او محبت سره دچاپه مخكى دنهايت عاجزى اوفرمانبردارى اظهار وكړل سى، (نَسْتَعِينُ) د استعانت دلفظ څخه وتلى دى او د استعانت معنٰى ده، دچا څخه كومك غوښتل.

﴿دإِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ربط مخكنيو اياتونو سره﴾

پر انسانانو دري حالتونه تيريږي ماضى حال او مستقبل د اولو درو آياتونو څينى په آيت ﴿الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ اوآيت الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ﴾ كى انسانانو ته دا خبردارى وركړل سوه چى انسان پخپل ماضى اوحال كى يوازى دالله ﷻ محتاج دى الله ﷻ دى په ماضى كى دنيست څخه هسته كى او په ټولو كائناتو كى يى ده لره ښه شكل اوصورت او عقل او پوه وركړه او په حال كى دالله ﷻ دطرفه دده پالنه روانه (جارى) ده او (په مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ) كى يى ورته دا وښوول، چى په مستقبل كى دى دالله ﷻ محتاج دى، دجزا په ورځ كى ده ته دالله ﷻ څخه ماسوا څوك كومك وركولاى نه سى، هركله چى په دى درو آياتونوكى دا څرگنده سوه چى انسان پخپلو دغه دري سره حالتونوكى د الله ﷻ څخه بى نيازه نه دى نو ددې خبرى عقلى اوطبعى غوښتنه دا سوه چى عبادت دي هم يوزاى ددغه ذات وكړل سى او په خپلو كارونو كى كومك دې يوازى ددغه ذات څخه وغوښتل سى چى د، إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ : معنى او مطلب دى.

غرض دا چى دى خلورم آيت كى (۱) يو خو دالله ﷻ ثنا صفت داسى بيان سوى دى چى دعبادت كولو او كومك غوښتلو لايق ذات يوازى الله ﷻ دى (۲) بل په كښى د انسان دعا او خواست داسى ذكر دى چى الله ﷻ دي زمونږ كومك وكى (۳) اړخ په كښى د ا دى چى بنده ته دا ښوونه كړل سوى ده چى الله ﷻ څخه ماسوا دى دبل هيچاعبادت نه كوى او نه دى دهغه څخه ماسوا بل څوك حقيقى حاجت ادا كونكى گڼى چى دسوال دپاره دهغه په مخكى خپل لاسونه خپاره كى البته دالله ﷻ څخه دسوال او دعا كولو په وخت كى يو نبى ياولى لره يوازى وسيله جوړول بدوالى نه لرى.

په دى آيت كى يوازى الله ﷻ څخه كومك غوښتل سوى دى اوهغه كارنه دى ټاكلى سوې كوم دپاره چى كومك غوښتلاى سى. جمهورمفسرين رحمهم الله ددې وجه دا بيان نوى چى په هريوكاركى دالله ﷻ څخه كومك غوښتل ضرورى دى كه دغه څه دينى يا دنوى مراد نه وى او كه طاعت او عبادت وى.

عبادت یوازې لمونځ روژې ته نه ویل کیږي بلکه امام غزالی رحمه الله په خپل کتاب اربعین کی دعبادت لس (۱۰) قسمونه ذکر کړی دی (۱) لمونځ (۲) زکوٰة (۳) روژه (۴) حج (۵) دقرآن شریف تلاوت (۶) هر هر حال کی دالله ﷻ ذکر کول (۷) حلال رزق دپاره کوشش کول (۸) همسایه اوملګری حقوق ادا کول (۹) خلقو ته دنیکو کارونو حکم کول او دبدو څخه منع کول (۱۰) او درسول الله ﷺ په سنتو (سنت طریقو) عمل کول.

په دی بناء دالله ﷻ سره دشرك نه کولو مطلب دا سو چی په محبت کی د الله ﷻ سره څوك برابر نه کی، دهغه په شان بیره یی هم دبل چا څخه نه وی، دبل چاڅخه یی طمع امید دهغه په شان نه وی، دهغه په شان تکیه په بل چا نه لری دبل چاخدمت ګذاری او فرمانبرداری هم دومره ضروری نه ګنی څومره چی دهغه عبادت ګنی، دالله ﷻ څخه بغیر دبل چاپه نامه نذرکوی او نه به دبل چا په مخکی دومره ځان ذلیل کوی څومره چی دالله ﷻ په مخکی یی ذلیل کوی او داسی کارونه به هم نه کوی چی دبیحده ذلیل کیدو نښانی دی یعنی رکوع اوسجده به هم دبل چا په مخکی (ماسوا دالله ﷻ څخه) نه کوی.

هغه دری آخری آیتونه چی په هغه کی انسانانوته دیو خاص قسم دعا تلقین او تعلیم سوی دی، هغه دا دی.

اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ (٦) صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ: ددې آیاتونو ترجمه مخکی تیره سوی ده دلته دیوڅو مهمو خبرو ذکر کول غوارو.

﴿ اول دهدایت د درجو تفصیل ﴾

دا خبره دغور کولو وړ ده چی دصراط مستقیم دهدایت دغوښتلو دپاره چی په دی آیت کی کوم تعلیم ورکړل سوی دی، دا تعلیم د انسانانو دیو خاص طبقی پوری خاص نه دی، بلکه په دی تعلیم چی څه رنګه عام خلق مخاطب دی، دغه رنګه انبیاء اولیاء هم مخاطب دی، دا ځکه چی دتخصیص دپاره دلته هیڅ علامه او دلیل نسته، او دا هم معلومه خبره ده چی انبیاء علیهم السلام خو هدایت یافته دی او بل دپاره دهدایت په هکله سرچشمه دی، نو بیا د انبیاؤ ددغه حاصل سوی هدایت دپاره ددعا کولو مطلب او مقصد څه شي دی؟ ددې خبری او شبهی جواب په دی خبره باندی موقوف دی چی دهدایت حقیقت په تفصیل سره بیان کړل سی او په دغه تفصیل سره دهدایت متعلق نوری هغه شبهی به هم ختمی سی چی کومی دهدایت متعلق قرآن شریف کی عموماً مخکی راځی اوهغه تضاد او اختلاف به هم ختم سی چی دهدایت متعلق آیاتونو کی په دغه تفصیل باندی ناخبرو خلکو ته را وړاندی کیږي.

دهدایت دلفظ ښاسته تشریح امام راغب اصفهانی په مفردات القرآن (ص ۵۶ مصر مصطفیٰ البالی ۱۳۲۴ هـ) کی کړی ده، چی دهغه خلاصه دا ده.

دهدایت اصلی معنیٰ ده. یو سړی ته په مهربانی سره دمنزل مقصود طرف ته راهنمایی او ښوونه کول او هدایت کول په حقیقت کی یوازی دخدای ﷻ کار دی، چی مختلفی درجی یی دی.

یوه درجه دهدایت عامه ده چی دکائناتو ټولو قسمونوته یعنی جمادات نباتات حیوانات وغیره ته شامله ده ددې هدایت عامه ذکردقرآن شریف په دی آیت کی سوی دی، أَعْطَىٰ كُلَّ شَيْءٍ خَلْقَهُ ثُمَّ هَدَىٰ:

یعنی الله ﷻ هر شي ته دهغه پیدا کیدل ورکړی دی او بیایی دهغه مناسب هدایت کړی دی .
او دغه مضمون په سورة اعلی کی په دی الفاظو بیان سوی دی .
سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى (١) الَّذِي خَلَقَ فَسَوَّى (٢) وَالَّذِي قَدَّرَ فَهَدَى (٣) .
یعنی چی هغه دټولو مخلوقاتو دپاره خاص مزاجونه او خاص خاص کارونه مقرر کړه او بیا یی هریوه ته دهغه مناسب هدایت ورکی .
دا دهغه دهدایت نتیجه ده چی دکائنات عالم ټول اقسام ، خپل خپل سپارل سوي کار په داسی ښه طریقه سره کوی چی عقل ورته حیرانیږي .
دلته کی یو سوال دا راپورته کیږي چی هر کله دهدایت عامه دکائنات عالم ټولو اقسامو ته شامل سو نو دکائنات عالم په اقسامو کی بعضی قسمونه خو داسی دی چی هغه نه روح لری او نه شعور نو دداسی بی روحه او بی شعوره قسم مخلوق دهدایت سره کارڅه دی ؟ ددې سوال جواب دا دی چی دقرآنی تعلیماتو په رڼاکی دکائناتو ټول قسمونه او دهغه ذره ذره دخپلی درجی مطابق ژوند ، احساس ، عقل او شعور لری ، دا بله خبره ده چی دا په بعضو خبرو کی کم او په بعضوکی زیات دی او دغه وجه ده چی په کوموکی ډیرکم دی هغو بی روحه بی شعوره ګڼل کیږي او الهی احکامو کی د دوی دشعور دکمزوری دومره اثر وکړل سو چی دوی په الهی احکامو مکلف نه کړل سو او په کومو کی چی دژوند اثار خو څرګند وی لیکن عقل او شعور په کی څرګند نه وی ، هغوی ته حیوان ویل کیږي ، او په کومو کی چی دژوند دڅرګندوآثاروسره سره دعقل اوشعورآثارهم څرګندوی هغوی ته دعقل خاوندان ویل کیږی ، ددغه عقل اوشعور دکمی او زیاتی په وجه پرټولو کائناتو کی دشرعی احکامو مکلف یوازی انسان او پیریان دی ، څکه چی په دوی کی عقل اوشعور مکمل دی ، لیکن ددې دا مطلب نه دی چی د انسان او پیریانو څخه ماسوا دکائناتو په اقساموکی ژوند احساس او شعور بالکل نسته ، څکه چی د الله ﷻ ارشاد دی .
وَإِنْ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهِ وَلَكِنْ لَا تَفْقَهُونَ تَسْبِيحَهُمْ : سورة بنی اسرائل ۴۴
داسی یوشي نسته چی هغه دخدای ﷻ دثناسره دهغه پاك (په قال یا په حال) نه بیانوی ، لیکن تاسی د دوی په پاکی بیانولو باندی نه پوهیږي .

أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يُسَبِّحُ لَهُ مَنْ فِي السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ وَالطَّيْرُ صَافَّاتٍ كُلٌّ قَدْ عَلِمَ صَلَاتَهُ وَتَسْبِيحَهُ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِمَا يَفْعَلُونَ.
آیا تاته معلومه نه ده چی په مځکه او آسمانونو کی چی څه مخلوقات دی دالله ﷻ پاکی بیانوی او(خاص کر) مرغان چی په غوړولو د وزرو سره الوزی را الوزی ، ټولو ته خپله خپله دعا او تسبیح معلومه ده او الله ﷻ ته د دوی ټول کارونه معلوم دی .
او دا معلومه خبره ده چی د الله ﷻ ثنا او صفت او پاکی بیانول د الله ﷻ دپیژندګلوی سره اړه لری او دا هم معلومه خبره ده چی د الله ﷻ معرفت او پیژندګلوی ترټولو څخه ډیر لوی علم دی او دا علم دعقل او شعور څخه بغیر حاصلیدای نه سی ، نو ددې آیاتونو څخه دا ثابته سوه چی ټولو کائناتو کی روح هم سته ،ادراك او احساس هم سته ، عقل او شعور هم سته لیکن په بعضی کائناتو کی دا جوهر دومره ډیر کم اوپټ دی چی عام کتونکی ته ددې احساس کیدای نه سی نو ددې وجی څخه په عرف کی دوی ته بی ساه

یابی عقله ویل گیږي او هم په دې وجه دوی په شرعی احکامو مکلف کړل سوي نه دی ، دا دقرآن شریف دهغه وخت خبره ده چې په دنیاکی نه یو ځای یو فلسفي وو او نه یو فلسفه مدونه سوې وه ، بیا وروسته راتلونکو فلسفیانو پخپل وخت کی ددې تصدیق کړی دی ، چی زړه فلسفه کی ددې نظر یی بعضی خلګ تیر سوی دی او دنوی فلسفی او دسائنس ماهرینو خو دا په ډیر وضاحت سره ثابته کړی ده ، دهدایت دویمه درجه مخکنی درجی په مقابله کی خاصه ده چی یوازی هغه شیانو پوری خاصه ده چی هغه ته په عرف کی دعقل خاوندان وایی یعني انسانان او پیرنان او دا هدایت دپیغمبرانو په ذریعه هر یو انسان ته ورکړل کیږي ، که چا دا هدایت قبول کی نو هغه مومن او مسلمان ګڼل کیږي ، او که چا قبول نه کی هغه کافر ګڼل کیږي .

دریمه درجه دهدایت ددې مخکی درجی څخه هم خاصه ده ، چی هغه یوازی مومنانو او متقیانو پوری خاص ده ، دا قسم هدایت دالله ﷻ دطرفه بغیر دیو واسطی څخه چی انسان کیږي او ددې هدایت دویم نوم (توفیق) دی ، یعني داسی اسباب او حالات پیدا کول چی دهغه په وجه دقرآن په هدایت باندی عمل کول آسان سی او دهغه خلاف کول ګران سی ددې دریمی درجی دفراخی څه حدنسته او ددې درجی یی هم نه ختمیدونکی دی ، او دغه قسم هدایت د انسان دترقی میدان دی او دنیکو عملونو په کولو سره په دی کی زیات والی کیږي دقرآن په ډیرو آیاتونوکی ددغه زیات والی ذکرسوی دی مثلاً .

وَالَّذِينَ اهْتَدَوْا زَادَهُمْ هُدًى (محمد ۱۷) چاچی هدایت قبول کی الله ﷻ دهغوی هدایت کی زیاتوالی کوی .

وَمَنْ يُؤْمِنْ بِاللَّهِ يَهْدِ قَلْبَهُ (التغابن ۱۱) څوك چی په الله ﷻ ایمان را وړی الله ﷻ دهغه زړه ته هدایت کوی .

وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا (العنكبوت ۶۹) څوك چی زمونږ په لاره کی کوشش کوی مونږ هغه ته دخپلو لارو نور زیات هدایت کوو .

دا هغه میدان دی چی په کښی لوی څخه لوی نبی او رسول او ولی الله دخپل عمر تر آخره پوری دهدایت دزیاتوالی او توفیق طلب کوونکی ښکاری ، دهدایت د درجو تفصیل څخه وروسته دا معلومه سوه چی هدایت یو داسی شي دی چی ټولو ته حاصل دی او ددې نورو درجو حاصلولو څخه لوی لوی بندګان بی پرواه نه دی دغه وجه ده چی دسورة فاتحه مهم ترینه دعا دهدایت غوښتل ګرځول سوی دی چی دیو ادنٰی مومن دپاره هم مناسبه ده او دلوی نبی او ولی دپاره هم دغه رنګه ضروری ده ، دغه وجه ده چی درسول الله ﷺ په اخری عمرکی په سورة فتح کی دفتح مکی دفائدو په بیانولوکی دا ارشاد وسو ، ويهديك صراطًا مستقيماً یعني مکه ستا په لاس څکه فتح کړل سوه چی تاته دصراط مستقیم هدایت وکړل سی دا ښکاره خبره ده چی رسول الله ﷺ مخکی څخه هدایت یافته وو او دنورو خلګو دپاره یو مجسم هدایت وو نو بیا په دې ځای کی ده ته دهدایت کیدلو ، ددې څخه ماسوا څه بل مطلب نسته چی دهدایت څه ډیر لوړ مقام دوی ته په دی وخت کی حاصل سو .

دهدایت په دی تشریح سره تاسی ته به دقرآن په فهم کی ډیری فائدی حاصل سوی وی .

اول دا چی په قرآن شریف کی یوځای خو هدایت دهر مومن او کافر بلکه ترټولو مخلوقاتو دپاره بیان کړل سوی دی او یوځای یوازی متقیانو سره خاص کړل سوی دی چی ددې څخه ناواقف ته په قرآن کی

دتعارض شبه پيداکيږي خو دهدايت دعام اوخاص درجو معلوميدو څخه وروسته دا شبهه پخپله ختميږي ، چې يوه درجه دهدايت عامه ده او ټولو ته شامله ده اوبله درجه خاصه ده او يوازې متقيانو ته شامله ده ، دويم دا چې په قرآن کې خو يو اړخ ته دا ارشاد دی چې الله ﷻ ظالمانو ته يافاسقانو ته هدايت نه کوي اوبل طرف ته په وار وار دا ارشاد دی چې الله ټولو ته هدايت کوي ددې جواب د درجو دتفصيل څخه واضح سو چې هدايت عامه ټولوته کيدای سي اودهدايت دريمه خاص درجه دظالمانوفاسقانوپه برخه کې نسته ، دريم دا چې دهدايت په درو درجوکې اوله اودريمه درجه بغيرديو واسطې څخه دالله ﷻ کاردی په دوی کې ديونبي يارسول يودخل نسته دپيغمبرانو کاريوازې دهدايت دويمی درجې سره دی په قرآن کې که يوځای پيغمبرانو ته هاديان ويل سوی دی هغه ددې دويمی درجې په اعتبار سره ويل سوی دی او چيرې چې دا ارشاد دی .

إِنَّكَ لَا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ (القصص ۵۶) يعني ته هغه چاته هدايت نه سی کولای چې کوم ته خوښوی ، نو دلته دهدايت دريمه درجه مراد ده يعنی ته هغه ته دهدايت قبلولو توفيق ورکولای نه سی .

مطلب داچې ، اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ : يوه جامعه او ډيره مهمه دعا ده چې انسان ته ښوول سوی ده ددې څخه ددنيايوفردبې پرواه نه دی ، دين او دنيا دواړو کی دصراط مستقيم څخه بغيرکاميابی ممکنه نه ده .

دا صراط مستقيم کومه لاره ده ؟ ددې ښوونه د ، اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ : څخه وروسته په دوو آياتونو کی ، صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ : کړل سوې ده يعنی دهغو خلقو لاره چې هغوی باندی تا انعام کړی دی اوهغه خلک چې الله ﷻ انعام پرکړی دی ، دهغوی تفصيل په بل ايت کی داسی سوی دی ، الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِم مِّنَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصَّالِحِينَ (النساء ۶۹) يعني هغه خلک چې هغوی باندی د الله ﷻ انعام سوی دی او دالله ﷻ په دربارکی مقبول دی دڅلورو درجو خلق دی (پيغمبران (۲) صديقين (۳) شهداء (۴) او صالحين .

صديقن هغه خلق دی چې دپيغمبرانو څخه وروسته په امت کی ترټولو څخه دزياتی مرتبی خاوندان دی چې په هغوی کی باطنی کمالات هم دی په عرف کی دوی ته اولياء ويل کيږي ، شهدا هغه خلق دی چې هغوی ددين په مينه کی خپل ځانونه ورکړی دی ، اوصالحين هغه کسان دی چې دشريعت پوره پوره تابعداری کونکی وی ، په واجبوکی هم اومستحبو کی هم چې په عرف کی دوی ته ديندار ويل کيږي .

په دې آيت کی اول په ايجابی اومثبت طريقې سره دصراط مستقيم تعين سوی دی چې ددغه څلورو طبقوخاوندانو په لاره تګ صراط مستقيم دی او ددې څخه وروسته د ايت په آخره برخه کی سلبی اومنفی طريقی سره دصراط مستقيم تعين کړل سوی دی ، غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ : يعنی نه دهغوی خلکو لاره چې په هغوی باندی ستاغضب کړل سوی دی او نه دهغوی لاره چې لاره يې ورکه کړی ده .

د ، مَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ : څخه مرادهغه کسان دی چې هغوی ددين د احکامو دپيژندګلوی باوجود دشرارت ، خو دغرضی اوخواهش نفسانی په وجه خلاف ورزی کوی ، په نوروالفاظوکی داسی سوه چې دالله ﷻ د احکامو په تعميل کی کوتاهی کوی لکه چې په عامه توګه سره به يهودو کوله او ددنيا دذليل مفاد دپاره

به يې دين پرېښووى او نبيانو توهين (سپکاوى) به يې کوى ، او (ضالين) څخه مراد هغه کسان دي چې دجهالت اودناواقفتيا په وجه ددين په معامله کې په غلطه لاره روان سوي وي او د دين دمقرره حدودوڅخه وتلي وي او په افراط اوغُلو کې اخته سوي وي لکه چې په عامه توگه سره دنصاراؤ دا حال وو چې دنبي په تعظيم (عزت) کې دومره دحد څخه ووتل چې هغه ته يې خداى وويل .

د آيت مطلب دا سو چې مونږ هغه لاره نه غواړو چې هغه دهغو بدعملو لاره ده چې دين کې دخپل نفساني مرضونو په وجه دا کوتاهي کوى او نه هغه لاره غواړو چې دجاهلانو او په دين کې دتجاوز کوونکو لاره ده بلکه لاره غواړو چې درميانه لاره ده چې په هغه کې نه افراط سته او نه تفريط او چې دخواهشاتو نفسانيو دتابعداري او دفاسدو عقيدو څخه بالکل پاکه ده .

دسورة فاتحې د اووم ايت تفسير ختم سو ، ددې سورة خلاصه او مطلب دا دعاده چې اى خدايه مونږ ته صراط مستقيم را وښيه اوپه دنياکې دصراط مستقيم پيژندګلوى ډيرلوى علم اولويه کاميابي ده او ددې په پيژندګلوى کې دغلطيدو په وجه ددنياډير قومونه تباه سوي دي . ګنې دخدا طلبي دپاره کوشش کول ډيرو کافرانو هم کړي دي ، په دغه وجه قرآن شريف دصراط مستقيم ايجاد اوسلبي دواړه اړخونه سره واضحه کړل .

﴿ صراط مستقيم دكتاب الله اورجال الله دواړو په جمع كيدو سره حاصليږي ﴾

دلته يوه خبره دغور وړ ده او په دى كې په غوركولوسره دعلم يوه لويه دروازه خلاصيږي هغه دا چې دصراط مستقيم دتعين دپاره څرګنده صفا خبره دا وه چې صراط الرسول يا صراط القرآن يې ويلى واى چې دا مختصر هم وو او واضح هم ځكه چې پوره قرآن په حقيقت كې دصراط مستقيم تشريح ده او درسول الله ﷺ ټول تعليمات ددې تفصيل دى ، ليكن دقرآن په دى لنډ غوندى سورة كې دلنډوالى او وضاحت دا اړخ پرېښوول سو او دصراط مستقيم دتعين دپاره الله ﷻ په مستقلو دوو آياتونوكې په مثبت اومنفي دواړو اړخونو سره دصراط مستقيم تعين داسې وكې كه چيرې سيده لاره غواړى نو هغه خلق تلاش كې او دهغو لاره واخلى ، قرآن شريف په دى ځاى كې دا ونه ويل چې دقرآن شريف لاره غوره كړى ځكه چې يوازى كتاب د انسان دترتيب دپاره كافي نه دى او نه يې داسې وويل چې درسول لاره غوره كړى ځكه چې درسول الله ﷺ بقاپه دى دنيا كې هميشه نه ده او ددې څخه وروسته يوبل رسول اونبي نسته نو په دى وجه صراط مستقيم چې دكومو خلكو په ذريعه حاصليداى سى په هغوى كې د انسانانو څخه ماسوا داسې خلګ شامل كړل سوي دي چې ترقيامته پورې به هميشه پيداكيداى سى مثلاً صديقين ، شهداء او صالحين .

مطلب دا چې الله ﷻ دسيده لارى دمعلومولو دپاره دخه خلقو او انسانانو درك وركړه ، دخه كتاب حواله يې ورنه كړه ، په يو حديث كې دي چې كوم وخت رسول الله ﷺ صحابوته دا خبر وركې چې دمخكنيو امتونو په شان زما امت به هم اويا(۷۰) فرقې كيږي او يوازې يو جماعت به په حق وي ، نو صحابو پوښتنه وكړه ، دا كوم جماعت دى ؟ نو رسول الله ﷺ په جواب كې وفرمايل مَاأنَاعَلَيْهِ وَاَصْحَابِى يعني دا هغه جماعت دى چې زما او زما دصحابو په طريقه وي په دى خاص طرز كې شايد دى طرف ته اشاره وي

چې د انسان تعلیم او تربیت یوازې په کتابونو او روا یتونو سره کیدای نه سي بلکه دماهرو خلقو دصحبت او د دوی څخه په زده کړه حاصلیږي یعني په اصل کې د انسان مربی او معلم بس انسان کیدای سي ، یوازې کتاب معلم اومربی کیدای نه سي .
دا حقیقت ددنیا په ټولو کارونو کې څرګند دی نه یوځای جامې ګنډل یوازې دکتاب دمطالعې څخه ازده کیږي نه ډوډۍ پخول نه یوځای یو ډاکټر یوازې د ډاکټر دکتاب په کتلو ډاکټر سوی دی ، هم دغه رنګه دقرآن شریف او حدیث یوازې مطالعه کول د انسان دتعلیم او د اخلاقو دتربیت دپاره کافي کیدای نه سي ترڅو چې دا دیو ماهر څخه باقاعده حاصل نه سي که چیري یوازې کتاب کافي کیدای سوای نو بیا دپیغمبرانو لیږلو ته څه ضرورت نه وو ، کتاب (قرآن) رسول دمعلم په توګه لیږل او دصراط مستقیم دمعین کولو دپاره دخپلو مقبولو بندګانو فهرست ورکول ددې خبرې دلیل دی چې یوازې دکتاب مطالعه دتعلیم او تربیت دپاره کافي نه ده بلکه دیو ماهر څخه ددې زده کړه ضروري ده .
ددې خبرو څخه دا معلومه سوه چې د انسان د اصلاح او فلاح دپاره دوه شیان ضروري دي ، یو کتاب الله چې په دې کې د انسان دژوند دهر اړخ احکام موجود دي او دویم رجال الله یعني الله والا خلق ، مطلب دا چې دکتاب الله په مقصد باندې ځان پوه کول اوبیا په هغه باندې عمل کولو کې درجال الله څخه کار اخیستل ضروري دي .

﴿ دسورة فاتحه په باره کې مسئلې او احکام ﴾

په سوره فاتحه کې اول دالله ﷻ حمد او ثناده ، بیایوازې د الله ﷻ دعبادت کولو اقرار دی او ددې خبرې اظهار دی چې مونږ د الله ﷻ څخه ماسوا بل څوک خپل حاجت پوره کوونکی نه ګڼو دا یو قسم دوفا داری قسم دی چې انسان یې دخپل پروردګار سره کوي ددې څخه وروسته یوه مهمه دعاده چې د انسان ټولو مقاصدو او ضروریاتو باندې مشتمله ده ، په سورة فاتحه کې ددغه لوړو خبرو څخه ماسوا ډیری ضمني فائدې او مسئلې هم راغلې دي ، دلته دځو مهمو مسئلو ذکر کول په کار دی .

﴿ ددعا کولو طریقه ﴾

دکلام په دې خاص طریقه سره چې سورة فاتحه کې ده انسان ته الله ﷻ ددعا کولو دا تعلیم ورکړی دی چې هرکله انسان دالله ﷻ څخه څه غواړي نوهغه لره په کار دی چې اول دالله ﷻ حمد اوثناوکي اوبیا ددې خبرې دوفاداری قسم وکړي چې دالله ﷻ څخه ماسواڅوك لائق دعبادت نه دی اونه څوك په حقیقت کې دچا مشکل کشااوحاجت روا دی او بیا دې دخپل مطلب دعاوکړي په داسې طریقه سره چې کومه دعا وکړل سي نو هغه خامخا قبلیږي (احکام القرآن دابو بکر جصاص ج ۱ ص ۲۴ مصر المطبعة البهیه ۱۳۴۷ھ) او په دعا کې داسې جامع دعاوکړي چې سره دلندوالي څخه په هغه کې د انسان ټول مقصدونه داخل سي ، لکه دصراط مستقیم هدایت غوښتل ، ځکه چې دا یو داسې شي دی که چیري د انسان په دنیوي او دیني هرکار کې راسې نو هغه به هیڅ کله نقصان نه کړي پیدا .

﴿ (۲) د انسان دفطرت تقاضاده چې انسان دې د الله ﷻ حمد او ثنا ووایي ﴾

ددې سورة په مخکې جمله کې دالله ﷻ دحمدبیانولوتعلیم اوترغیب دی لیکن حمد دځه نعمت یادیو صفت

په وجه کول کیږي اودلته دځه نعمت اوصفت ذکرنسته نوپه دی کی دی خبری ته اشاره ده چی دالله ﷻ نعمتونه بی حسابه دی، یوانسان په دغه نعمتونوباندی احاطه کولای نه سی لکه دقرآن شریف ارشاددی.
وَإِنْ تَعُدُّوا نِعْمَةَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَا : یعني که چیري تاسی دالله ﷻ دنعمتونو شمیرل وغواړی نو وبه نه کړل سی انسان که چیري دا ټول عالم پرېږدی او یوازی پرخپل ځان نظر واچوی نو ده ته به دا معلومه سی چی دی پخپله یوکوچنی عالم دی اودلوی عالم ټولی نمونی په کښی سته. دهغه بدن دمځکی په ډول دی او ویښته یی دبوټو په شان دی اوهډوکی یی دغرونو په شان دی او دهغه رګونه چی په وینه په کښی ځی راځی په مځکه کی دننه دچینو او نهرونو په شان دی.
انسان د دووشیانوڅخه جوړ دی، یو بدن او بل روح او دا هم ښکاره خبره ده چی دقدر اوقیمت په اعتبار روح اصل، اعلی او بهتر دی، بدن یوازی د روح تابع دی اوادنی اجزاء په باره کی طبیبان او دتشریح الابدان خلق داسی وایی چی په دی کی الله ﷻ تقریباًپنځه زره مصلحتونه اوفائدی ایښی دی، په دی کی تر دری سوه زیات پیوندونه الله ﷻ په خپل کامل قدرت سره داسی مضبوط جوړکړی دی چی په هر وخت کی دحرکت کولو سره هم نه سولیږي اونه یوځای دمرمت کولو ضرورت پیښیږي عادةً دانسان عمرشپیته اویا کاله وی، ټول عمر دده دغه نرم اونازك اندامونه او دوی پیوندونه په اکثرو وختونوکی په داسی حرکت کی وی که چیري ددې په ځای فولاد وی نوهغه به سولیدلی وای لیکن الله ﷻ فرمایی.
نَحْنُ خَلَقْنَاهُمْ وَشَدَدْنَا أَسْرَهُمْ . مونږ انسان پیداکړی دی او د دوی پیوندونه مومضبوط کړی دی.
دا ددغه قدرتی مضبوطیا اثر دی چی دعام عادت مطابق دا پیوندونه تر اویاوو (۷۰) څخه زیات کالو پور کارکوی، دانسان په اندامونوکی یوازی یوې سترګی ته وګوری چی په دی کی الله ﷻ کوم حکمتونه ایښی دی، انسان که چیري ټول عمر ولګوی نو دا حکمتونه به سرته رسوی بیا ددې دیو وار عمل ته وګوری او دا حساب ولګوی چی ددې دیوې دقیقی په عمل او کار کی د الله ﷻ څومره نعمتونه کار کوی نو حیران به پاته سی ځکه چی دسترګی په غړیدو کی او دځه شي په لیدو کی چی څومره دا دځلی قوتونه په کار اخته دی دومره بهرنی مخلوقات هم په کار اخته دی که چیري دلمر رڼا نه وی نو دسترګی دننه رڼا کار کولای نه سی بیادلمردپاره دقضاضرورت دی ددې څخه دا معلومه سوه چی دسترګی په یو وار لیدل کولو کی دټول عالم قوتونه کارکوی داخو دیو وار عمل دی بیاسترګه په ورځ کی څو واری کتل کوی اوکال کی څو واری اوعمر کی څو واری، دا یوه داسی سلسله ده چی ددې شمیر د انسان دطاقت څخه دباندی وتلی دی.
دغه رنګه دغوږ، دژبی، دلاس او دپښو چی څومره کارونه دی په هغوی کی دټول عالم قوتونه شامل دی دا خو هغه نعمت دی چی په دی کی دشاه اوګدا هیڅ فرق نسته، د الله ﷻ ټول لوی لوی نعمتونه داسی دی چی دهغه څخه هر یو انسان فائده اخلی، دمځکی او آسمان څخه او په دوی کی ترټولو کائناتو څخه لکه سپوږمی، لمر، ستوری، هوا او فضا سوه، هر ژوندی سره فائده اخلی.
ددې څخه وروسته دالله ﷻ خاص نعمتونه دی چی هغه الله ﷻ د انسان افرادوته دخپل حکمت په وجه په داسی طریقه ورکړی دی چی بعضوته یی ډیر ورکړی دی اوبعضوته لږ، اودغه نعمتونه مال دی، دولت

دی. عزت دی ، مرتبه ده ، ارام دی ، راحت دی ، داخبره بالکل واضحه ده چی دالله ﷻ عام نعمتونه چی هغه کی ټول انسانان برابر شریك دی دخاص نعمتونو په مقابله کی ډیر زیات مهم ، اوشرف دی لیکن ناپوه انسان ددغه عام نعمتونو په باره کی څه توجه نه کوی او یوازی دده نظر په دغه خاصو معمولی نعمتونو متبلی.

بهرحال دا دهغه نعمتونو سر سری نمونه دده چی په هروخت کی په هرانسان باندی دالله ﷻ دطرف څخه کیږي نو ددې دا لازمی نتیجه سوه چی انسان دې دخپل طاقت برابر ددغو احساناتو او انعاماتو کوونکی حمد اوثنا ووایی او وایی دی او ددغه فطري غوښتنی دتلقین دپاره دقرآن دټولوڅخه د اول سورة په اول آیت کی اوله کلمه (الحمد) را ورل سوه او دخدای ﷻ حمد اوثنا ته په عبادت کی لویه درجه ورکرل سوه رسول الله ﷺ فرمایلی دی چی هر کله بنده ته دخدای ﷻ دطرفه څه نعمت ورکړل سی او دا بنده په هغه باندی الحمدلله ووایی نو دا داسی سوه چی گویا ده چی څه اخیستی دی دهغه څخه یی ډیر ښه شي ورکی (قرطبی ج ١ ص ١٣١)

په یو بل حدیث کی دی که چیري دټولی دنیا نعمتونه یو سړی ته حاصل سی او هغه په دی باندی اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه ووایی نو دا اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه ددغه ټولو دنوی نعمتونو څخه ښه او بهتره ده (قرطبی دغه په مخکنی حواله) دبعضی عالمانو څخه نقل کړی دی چی ددې مطلب دا دی چی اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه په ژبه ویل هم دالله ﷻ یو نعمت دی او دا نعمت دټولو دنیوی نعمتونو څخه افضل دی په یو صحیح حدیث کی دی چی په اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه سره دعمل دتلی نیمه پله ډکیږي ، او دحمد حقیقت حضرت شقیق بن ابراهیم دا بیان کړی دی چی هر کله الله ﷻ تا ته څه شي درکی نو اول یی ورکونکی او پیژنه بیا یی چی څه درکړی دی په هغه باندی راضی سه او بیاستاپه بدن کی ترڅومره پوری هغه قوت اوطاقت موجود دی ، چی هغه هم ده درکړی دی دده نافرمانی مه کوه (قرطبی ج ١ ص ١٣۴)

دویمه کلمه ﴿لله﴾ ده په دی کلمه کی الله ﷻ سره دلام حرف لگول سوی دی او دی لام ته دعربی په قواعدو کی د اختصاص لام ویل کیږي چی دڅه حکم یاوصف په خاص کولو باندی دلالت کوی ، دلته کی ددې معنی دا سوه چی یوازی دا نه ده چی دالله ﷻ حمد اوثنا دانسان فریضه ده بلکه دی سره ددې کلمی څخه دا هم معلومه سوه چی په حقیقت کی دالله ﷻ څخه ماسوا په دنیا کی بل څوك دحمد اوثنا مستحق نه سی کیدای البته دا هم دالله ﷻ انعام دی چی انسان ته تهذیب اخلاقو دښوونی دپاره دا حکم کړی دی چی زما نعمت او احسان تاته دکومو واسطو څخه حاصل سی نو ددغه واسطو هم شکر کوه ، ځکه چی کوم انسان دخپل انسانی محسن شکر کونکی نه وی نو هغه د الله ﷻ شکر هم ادا کولای نه سی.

﴿(٣) یو انسان ته خپله مدحه پخپله کول روانه دی﴾

دقرآن شریف ارشادی ، فَلَا تُزَكُّوا أَنفُسَكُمْ هُوَ أَعْلَمُ بِمَنِ اتَّقَىٰ : (النجم ٣٢)

تاسی دخپلو ځانونو دپاکی او صفایی دعوه مه کوی الله ﷻ هغه خلق ښه پیژنی چی دچا شعار تقوی ده.

مطلب دا دی چی انسان دصفت اوثنامدارپه تقوی دی او ددی حال الله ﷻ ته معلوم دی چی دچاتقوی دڅومره درجی ده او الله ﷻ که خپل ثنا صفت بیان کړی دی ددې وجه دا ده چی عاجز انسان طاقت نه

درلودي چي د الله ﷻ ثنااوصفت څرنګه وکړي اودهيڅاطاقت نسته چي هغه دالله ﷻ دشان لائق ثنا اوصفت وکړي رسول الله ﷺ فرمايلي دي ﴿لَآ اُحْصِيْ ثَنَاءً عَلَيْكَ﴾ زه ستا دشان موافقه ثنانه سم ويلای . نو په دي وجه الله ﷻ پخپله انسان ته دثنا او دصفت طريقه وښووله .

﴿ (۴) درب لفظ الله پوري خاص دی بل چاته رب ويل روانه دي ﴾

رب هغه چاته ويل کيږي چي هغه دڅه شي مالك وي او ددغه شي تربيت ، اصلاح هم پوره پوره کوي او دا ښکاره ده چي ترټولوکائناتو اومخلوقاتو دغه رنګه ربّ دالله ﷻ څخه ماسوا کيدای نه سي ددې وجي څخه ددې لفظ اطلاق الله ﷻ پوري خاص دی او غيرالله ته رب ويل روانه دي ، دصحيح مسلم په حديث کي دي چي يونوکر ياغلام دې خپل مالك اوآقا ته رب نه وايي هغه يوخاص شي ته د اضافت په وخت کي درب لفظ ويل انسان وغيره دپاره روا دي مثلاً رب المال ، رب الدار (قرطبی ج ۱ صـ ۱۳۷)

﴿ (۵) د استعانت دمعني وضاحت او دوسيلي دمسئلي تحقيق ﴾

دقرآن مفسرحضرت عبدالله بن عباس ﷺد، اِيَّاكَ نَعْبُدُوَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ : معنیٰ داسي کړی ده چي مونږستاعبادت کوو. ستاڅخه ماسوا دبل چاڅخه کومك نه غواړو(تفسيرابن جريرابن ابی خاتم ج ۱ صـ ۵۲ مصرمطبع مينه)

بعضی سلف صالحينو فرمايلي دي چي سورة فاتحه دټول قرآن راز خلاصه ده او، اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ : دټولي سورة فاتحي دراز خلاصه ده ، ځکه چي ددې په اولني جمله کي دشرك څخه دبيزاره کيدو اعلان دی او په دويمه جمله کي دخپل قوت اوقدرت څخه دبيزاره کيدو اظهار دی ، چي لاچاره بنده دالله ﷻ دکومك څخه بغيرهيڅ کولای نه سی ، اوددې مطلب ، خپل ټول کارونه الله ﷻ ته سپارل دي او ددې هدايت په قرآن شريف کي ځای پرځای راغلي دی ، فَاعْبُدْهُ وَتَوَكَّلْ عَلَيْهِ، قُلْ هُوَ الرَّحْمٰنُ آمَنَّا بِهٖ وَعَلَيْهِ تَوَكَّلْنَا ، رَبُّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ فَاتَّخِذْهُ وَكِيْلًا.

ددې ټولوآياتونوڅخه دامعلومه سوه چي مومن دې پخپل هرقسم کاراوعمل کي بروسه اوتکيه يوازي په الله ﷻ باندي کوی پخپل قابليت يادبل چاپه کومك دې باوراوتيکه نه کوی ددې آياتونو څخه دوه بنيادی مسئلي دعقائدو ثابتي سوې اول دا چي دعبادت دهغه معنیٰ ترمخه چي مخکی تيره سوه ، دا واضحه سوه چي شرك يوازي دی ته نه وايي چي دبت پرستو په شان دخدای ﷻ داختياراتو مالك وګڼل سی

﴿ دالله ﷻ څخه ماسوا دبل چا عبادت روانه دی دهغه په عبادت کی بل څوک شريکول حرام او ناقابل معافی ګناه ده ﴾

دعبادت معنیٰ پورته ذکر سوه چي ديو ذات د انتهائی عظمت اومينی په وجه دهغه په مخکی دخپلی عاجزی اوتذلل اظهار ته عبادت ويل کيږي نو دالله ﷻ څخه ماسوا بل چاسره داسی معامله اختيارولو ته شرك ويل کيږي، شرك هم فقط دی ته نه وايي چي دبت پرستوغوندی دکاني يوبت دې دخدايي داختياراتو مالك وګڼل سی ، بلکه چاته دمحبت ، اطاعت اوعظمت هغه درجه ورکول چي فقط الله ﷻ سره لائقه وی ، په شرك جلي کي داخل دی په قرآن شريف کي ديهودو اونصاراؤ دشرك دبيان په سلسله کي ارشاد فرمايي اِتَّخَذُوْا اَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ اَرْبَابًا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ: يعني دوی دخپلو دينی عالمانو اوراهبانوڅخه خدايان جوړکړی ؤ .

حضرت عدی ﷛ بن حاتم چې تر اسلاراوړلو څخه مخکې نصرانی وو ، هغه ددې آیت په باره کې رسول الله ﷺ ته عرض وکې چې مونږ خو دخپلو عالمانو عبادت نه دی کړی ، بیا قرآن شریف څنګه په مونږ دا الزام لګوی ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل چې ایا ډاسی نه ده چې ستاسی عالمانو ډیرو داسی شیانو ته حلال وایی چې هغه الله ﷻ حرام کړی دی اوتاسی دخپلو علماو په ویناهغه حرام ګڼی او ډیر شیان داسی دی چې هغه الله ﷻ حرام کړی دی اوستاسی علماؤ هغه حلال کړی دی اوتاسی دهغوی دویناپیروی کوی ، عدی بن حاتم ﷛ وویل چې بیشکه داسی خو ده رسول الله ﷺ وفرمایل چې بس هم دغه د دوی عبادت دی ددې څخه دا معلومه سوه چې دیوشي حرامول او حلالول یوازی دالله ﷻ په اختیارکې دی ، کوم سړی چې الله ﷻ سره په دې معامله کې بل څوك شریکوی دحلال اوحرام په باره کې دالله ﷻ داحکامو څخه دخبر داری باوجود دبل چاقول داتباع اوتابعداری لائق ګڼی نو داسی سوه لکه چې دی دهغه عبادت کوی او په شرك کې اخته دی ، عام مسلمانان چې دقرآن شریف څخه پخپله دشرعی احکامو را ایستل نه سی کولای او دیو امام مجتهد ، عالم اومفتی په ویناعمل کوی هغوی ددغه حکم لاندی نه راځی ځکه چې دا په حقیقت کې په قرآن اوسنت عمل دی اودالله ﷻ داحکامو تابعداری ده قرآن شریف پخپله ددې خبری ارشاد کړی دی ، فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ (النحل ۴۳)که چیرې تاسی پخپله الهی احکام نه پیژنی نو دعالمانو څخه پوښتنه کوی .څرنګه چې دحلالو اوحرامو په احکامو کې الله ﷻ سره څوك شریکول شرك دی ، هم دغه رنګه دیوچاپه نامه نذر کول او دالله ﷻ څخه ماسوا بل څوك حاجت ادا کونکی اومشکل حل کونکی ګڼل او دهغه څخه په دعا کې غوښتل شرك دی ځکه چې په حدیث کې دی چې دعادعبادت مغز دی هم دغه رنګه هغه اعمال او افعال کول چې هغه دشرك نښانی ګڼل کیږي ، شرك کې حسابیږي لکه چې حضرت عدی بن حاتم ویلی دی چې زه دمسلمان کیدلو څخه وروسته درسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سوم او زما په غاړه کې صلیب ځړیدی ، نو رسول الله ﷺ وفرمایل چې (دا بت دخپلی غاړی څخه وباسه) که څه هم په دغه وخت دحضرت عدی بن حاتم ﷛ عقیده دصلیب په هکله نه وه چې کومه نصرانیان دصلیب متعلق لری لیکن دشرك دعلامو څخه ځان ساتل هم ضروري دی نو ددې وجی څخه دغه هدایت ورته وکړل سو چې دا بت دغاړی څخه وباسه ، هم دغه رنګه چاته رکوع کول ، یعني کښته کیدل اوسجده کول ، یا دبیت الله څخه ماسوا دبل شي پرشاوخوا را ګرځیدل ټول دشرك نښانی دی . او اِيَّاكَ نَعْبُدُ کې ددې خبری تلقین دی چې ددې ټولو څخه څنګه کول لازمی دی .

دویمه مسئله دا ده چې کومك غوښتل یوازی دالله ﷻ څخه لازمی دی ، دبل چا څخه کومك غوښتل ناروا دی . ددې مسئلی لپ تفصیل کول ضروري دی ، دا ځکه چې یو قسم کومك (اسبابو لاندی) هر یو انسان دبل انسان څخه اخلی ، دداسی قسم کومك څخه بغیر ددنیا نظام چلیدای نه سی ، ګوره یوصنعت کار دخپل صنعت په ذریعه دټول مخلوق خدمت اوکومك کوی ، مزدور ،بنا ، نجار ، اوپښن دټول مخلوق په کومك کې اخته دی او هر یو سړی د دوی څخه په کومك اخیستلو مجبور دی او دا هم ښکاره خبره ده چې دا یو دین اوشریعت کې ناروا نه دی ، نو دغه کومك په هغه کومك کې دا خل نه دی چې کوم الله ﷻ پوری خاص دی ، هم دغه شان دغیر مادّی اسبابو په ذریعه دنبی یا ولی څخه ددعا په ذریعه په داسی ډول

کومک غوښتل چی دا نبی یاولی دی کومک غوښتونکی دپاره دالله ﷻ څخه وغواړی یا کومک غوښتونکی خپل کومک دنبی یادولی په واسطه وغواړی ناروا نه دی اوپه هغه کومک غوښتلوکی نه داخلیږي چی کوم اللهﷻ پوری خاص دی اودغیرالله دپاره حرام اوشرك دی، هغه داده چی یوه ملائکه، نبی یاولی یایوانسان داللهﷻ په شان قادرمطلق اومختار مطلق گڼل ، اودهغه څخه خپل حاجت غوښتل ، دا شرك اوکفر دی چی عامو مشرکانو اوبت پرستوبه هم کفرگڼلو اوخپل بتان به یی دالله ﷻ په شان قادر مطلق او مختار مطلق نه گڼل .

بل قسم کومك غوښتنه ده چی کافران یی غواړی او قرآن او اسلام هغه ته باطل اوشرك وایی ، او هغه دا چی بت پرست ، دا عقیده لری چی قادرمطلق که څه هم الله ﷻ دی اومکمل اختیارات که څه هم دالله ﷻ دی خوبیا سره ددې یی دخپل قدرت او اختیار یو څه برخه یی یوفلانی دیو تاته ورکړی ده چی هغه کی دغه دیوتا مکمل خود مختار دی نو په دی ددغه دیوتاڅخه کومك غوښتل په کار دی .

نو په (اِیَّاكَ نَسْتَعِیْن) کی ددغه شان عقیدی دلاندی دکومك غوښتلو نفی وکړل سوه ، دا خبره چی الله ﷻ ددنیادنظام ډیرکارونه دخپلوملائکوپه لاس کوی یانبیان اوولیان ډیر داسی کارونه کوی ، چی هغه دعام خلقو دقدرت څخه دباندی وتلی وی ، اوچی هغه ته معجزات اوکرامات ویلای سی ، ددې خبری دلیل نه سی کیدلای ، چی الله ﷻ ددغه کارونو قدرت اواختیار دغه ملائکو نبیانو او ولیانو ته ورکړی دی او دوی په کی بالکل خود مختاره دی ، بلکه په حقیقت کی دا ټول کارونه دالله ﷻ کارونه دی یوازی د دوی ښکاره کیدل دنبی او ولی په لاس ددې وجی څخه کیږي چی په دی سره دنبی یاولی عظمت ثابت کړل سی ، او دا نه چی ددې کارونو کیدل دنبی یادولی په اختیار کی دی ، په قرآن کی ددې بی شمیره شواهد موجود دی مثلاً (وَمَارَمَیْتَ اِذْ رَمَیْتَ وَ لٰکِنَّ اللّٰهَ رَمٰی) (الانفال) کی د رسول الله ﷺ ددې معجزی ذکر دی چی رسول الله ﷺ یوموټ شگی ددښمن دلښکر په طرف وغورځولی او دالله ﷻ په قدرت دا دټول لښکر په سترگوکی ولویدی ، نو ددې متعلق ارشاد دی چی دا تا غورځولی نه وی بلکه الله ﷻ غورځولی وی ددې څخه دا معلومه سوه چی کومه معجزه دنبی څخه صادره سی هغه په حقیقت کی دالله ﷻ فعل او کار وی .

هم دغه رنگه چی کوم وخت نوح ﷺ ته دهغه قوم وویل که چیری ته رېښتینی یاست نو هغه عذاب را وبله چی دکوم څخه ته مونږ بیروی ، نوح ﷺ وفرمایل (اِنَّمَا یَاْتِیْکُمْ بِهِ اللّٰهُ اِنْ شَآءَ) دمعجزی په توگه آسمانی عذاب را وستل زماپه اختیار کی نه دی ، که الله ﷻ وغواړی نو دا عذاب به راسی . او بیابه تاسی ددې څخه ونه تښتیدای سی .

په سورة ابراهیم کی دپیغمبرانو دیوې دلی دا وینا ذکر سوې ده .

(وَمَا کَانَ لَنَا اَنْ نَّاْتِیَکُمْ بِسُلْطَانٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ : دیوې معجزی صادریدل زمونږ په لاس کی نه دی دالله ﷻ د ارادی او اذن څخه بغیرڅه کیدای نه سی ، رسول الله ﷺ او نورو پیغمبرانو څخه مشرکانو ډیری معینی معجزی طلب کړی وی ، لیکن چی دکومو الله ﷻ ښکاره کیدل غوښتل ، ښکاره سوې اوچی دکومو ښکاره کول یی نه غوښتل ښکاره نه سوې ، په قرآن شریف کی ددی ډیر شهادتونه موجود دی ، دمعجزو او کراماتو په باره کی چی دا په حقیقت کی دالله ﷻ فعل اوکار دی ، محسوس مثال دا دی چی ته په یوه

خونه کی ناست یی چی په هغه کی دبرق رڼا دبلب په واسطه ، اوهوا دپنکې په ذریعه تاته رسیږي لیکن دا بلب او پنکی په دغه رڼا اوهوا رسولو کی بالکل خپل واك نه لری بلکه هر وخت هغه کنکشن ته محتاج دی چی دتار په ذریعه دوی ته حاصل دی ، که چیري یوه ثانیه دا کنکشن ختم سی نو بیابلب څخه تاته رڼا رسول کیږي او نه پنکې تاته هوارسولای سی ځکه چی په حقیقت کی دا کار دبلب او دپنکې نه دی ، بلکه دا دبرق او دهغو دپرزو کار دی چی دپاورهاوس څخه دلته خونی ته رسیږي ، پیغمبران ، ولیان ، ملائکی په هرکار کی په هروخت کی الله ﷻ ته محتاجه دی د الله ﷻ په قدرت او ارادی سره تول کارونه کیږي که څه هم د دوی ښکاره کیدل دبلب او پنکې په شان دنبیانو او ولیانو په لاس کیږي.

ددې مثال څخه دا هم په ډاگه سوه چی ددې شیانو په صادریدلو ، کیدلو کی که څه هم دنبیانو اوولیانو اختیار نسته ، لیکن بیا هم د دوی وجود لره په دغه شیانو کی دخل سته ، لکه چی څرنگه دبلب اودپنکې بغیر تاته رڼا اوهوا نه رسیږي هم دغه شان دا معجزی اوکرامتونه بغیر دنبیانو او ولیانو څخه نه سی کیدلای ، البته دمعجزو او دذکر سوې مثال یوازی یو فرق سته ، هغه دا چی پوره صحیح فیتینگ او کنکشن سره سره دبلب اوپنکې څخه بغیرتاته رڼااوهوا حاصلیدل عادةً ممکن نه دی اومعجزو اوکرامتونو کی داسی نه ده ، بلکه الله ﷻ په دی قادر دی چی بغیر دنبی او ولی څخه ددې معجزو اوکرامتونو ښکاره کیدل وکی ، لیکن دالله ﷻ عادت دغه دی چی د دوی ښکاره کول بغیر دنبیانو اوولیانو څخه نه کوی ، ددې تولوخبروڅخه دا معلومه سوه چی دا عقیده لرل ضروری اولازمی ده چی هرڅه دالله ﷻ په اراده اوحکم کیږي او ورسره ورسره د انبیاؤ او اولیاؤ دعظمت اوضرورت اقرار کول ضروري دی ، ځکه چی ددې څخه بغیر دالله ﷻ رضا او دالله ﷻ د احکامو د اطاعت څخه محرومه کیدل دی ، صحیح دغه شان لکه چی یو سړی دبلب اودپنکې قدر ونه کړی او دا ضائع کوی نو دا سړی درڼا او هوا څخه محرومه کیږي ، دوسیلی استعانت او استمداد په مسئله کی ډیرو خلقو ته اشکال مخکی کیږي امید دی چی دی تشریح سره به حقیقت واضحه سوی وی او دا هم واضحه سوه چی نبیان او ولیان نه مطلقًا وسیله جوړول روا دی او نه مطلقًا نا روا دی بلکه که دوی مختار مطلق وګڼل سی او وسیله کړای سی نوشرك دی او روا نه دی اوکه یوازی واسطه او ذریعه وګڼل سی نو روا ده.

﴿ (۶) دصراط مستقیم هدایت ددین او دنیا دواړو کامیابیو دپاره کیلی ده ﴾

په اصل تفسیرکی دا خبره په وضاحت سره تیره سوی ده چی قرآن شریف په هرحالت کی هرکاردپاره هرچا ته چی دکومی دعاتلقین کړی دی هغه دصراط مستقیم دهدایت دعاده او دا ځکه چی څرنگه د اخرت کامیابی په صراط مستقیم باندی موقوفه ده هم دغه رنگه ددنیا دتولو کارونو په کامیابی باندی که چیري فکر وکړل سی نو په صراط مستقیم کی ده ، په کوم کار کی که چیري هغه اسباب او ذ رائع وا خیستل سی چی په هغوی باندی دمقصد حاصلیدل عادةً لازمی دی نوکامیابی عادةً لازمی ده اوکه چیري یو انسان په خپل مقصد کی کامیاب نه سی نو که فکر وکړل سی نو دا به معلومه سی چی د انسان ددې مقصد په لړکی دسیده لاری څخه کښته سوی دی او دا سیده لار چی ده ددې مقصد په حاصلولو کی ددی اسباب او ذرائع پریښی دی ، مطلب دا چی دصراط مستقیم هدایت ددین او د اخرت دکارونو

سره خاص نه دی ددنیا ترټولو کارونو کامیابی هم په دی باندی موقوفه ده نو په دی وجه دا دعا داسی دعاده چی مومن دپاره په هروخت کی دځان ساتنی جوړولو قابله ده خو شرط یوازی دا دی چی په حضور او نیت سره وکړل سی ، دخدای ﷻ په فضل اوکومك دسورة فاتحی تفسیر پای ته ورسیدی و لله الحمد اوله وآخره وظاهره وباطنه .

﴿ سورة البقره ﴾

﴿ نوم او د ایاتونو شمیر ﴾

ددې سورة نوم سورة بقره دی او ددې نامه ذکرپه حدیث او دصحابه وو ﷺ په آثاروکی سوی دی په کوم روایت کی چی دی سورة ته سورة بقره ویل منع کړل سوی دی . دا روایت صحیح نه دی (دتفصیل دپاره وګوری الدارالمنثور دسیوطی رحمه الله ج ۱ص ۱۷ بیروت دارالمعرفة) اوددې سورة آیاتونه دوه سوه شپږ اتیا دی اوکلمی یی شپږ زره دوه سوه یوویشت دی اوحروف یی پنځه ویشت زره پنځه سوه دی (ابن کثیر)

﴿ دنازلیدو وخت ﴾

داسورة مدنی دی ، یعني مدینې ته دهجرت کولوڅخه وروسته نازل سوی دی که څه هم ددې بعضی آیاتونه په مکه مکرمه کی دحج په وخت کی نازل سوی دی ، لیکن هغه هم دمفسرینو په اصطلاح کي مدنی دی .

سورة بقره په قرآن شریف کي ترټولو څخه لوی سورة دی او په مدینه منوره کی ترټولو مدنی سورتونو څخه مخکی اول ددې سورة نازلیدل شروع سوه او په مختلفو اوقاتو کی ددې مخلف آیاتونه نازلیدل ، تر دی پوری چی دسُود متعلق آیاتونه درسول الله ﷺ دعمرپه آخری حصه کی دمکې دفتح څخه وروسته نازل سوی دی او ددې سورة یو آیت ، وَاتَّقُوا يَوْمًا تُرْجَعُونَ فِيهِ إِلَى اللَّهِ (البقره ۲۸۱) خو بالکل اخری آیت دی چی په (۱۰) هجری کی دمنٰی په مقام کی نازل سوی دی او دا هغه زمانه وه چی په هغه کی درسول الله ﷺ دحجة الوداع دفرائضو په ادا کولو اخته وو (قرطبی ج ۱ص ۱۵۲ددې حدیث روایت امام مسلم دابی امامه څخه کړی دی) او ددې څخه اتیا(۸۰) یانوی (۹۰) ورځی وروسته رسول الله ﷺ وفات سو او دالهی وحی سلسله دتل دپاره بنده سوه .

﴿ دسورة بقره فضائل ﴾

سورة بقره په ډیرو احکامو مشتمله ده ، رسول الله ﷺ فرمایلی دی چی سورة بقره وایاست ځکه چی ددې ویلوکی برکت دی او ددې په پرېښوولوکی افسوس اوبدنصیبی ده او اهل باطل په دی باندي کنټرول نه سی را وستلای ، قرطبی دحضرت معاویه څخه نقل کوی چی دی ځای کی داهل باطل څخه مراد جادوګر دی ، مطلب دا چی ددې سورة ویونکی باندی به دچا جادو نه چلیږي (ج ۱ ص ۱۵۲) او داسی هم یوحدیث دی چی په کوم کورکی سورة بقره ویل کیږي ، شیطان دهغه ځای څخه تښتي (ابن کثیر ج ۱ص ۵۸) دحضرت ابوهریره ﷺ یوحدیث دی چی په دي سورة کی داسی آیت دی چی دقرآن دټولو آیاتونو څخه بهتره دی او دغه آیت ، آیت الکرسی ده (ابن کثیر مخکنی حواله اومخکنی صفحه) دحضرت عبدالله بن

مسعود ﷺ څخه روایت دی چي په سورة بقره کی لس داسی آیاتونه دی که چیري یوسړی یی دشپی
ووایی نو په دغه شپه کی به پیریان اوشیطان دهغه کور ته دا خل نه سی اودهغه اهل اوعیال ته به څه
آفت ، مرض غم وغیره را نه سی اوکه چیري دا لس آیاتونه په یولیونی چف کړل سی نوهغه ته به آرام
حاصل سی ، دغه لس آیاتونه دا دی څلور آیاتونه دبقره په سرکی ، بیادري آیاتونه دبقره په مینځ کی
یعني آیة الکرسی او ددې څخه وروسته دوه آیاتونه او بیا په اخر دبقره کی دری آیاتونه .

﴿ احکام او مسائل ﴾

دمضامینو او مسائلو په اعتبار سره سورة بقره ته یوخاص امتیاز حاصل دی، ابن عربی وایی، چی ما دخپلو
بزرگانو څخه اوریدلی دی چی په سورة بقره کی ، زرامرونه ، زرنهیی ، زرحکمونه ، زرخبرونه ، اوقصی
دی (قرطبی وابن کثیر) دغه وجه ده چی حضرت عمر ﷺ دسورة بقره په پوهی اوتفسیرسره ویلو کی دولس
(۱۲) کاله لګولی وو ، اوحضرت عبدالله بن عمر ﷺ دا سورة په (۸) اتو کالو کی په تفسیرسره ویلی وو .

﴿ ربط یی دسورة فاتحی سره ﴾

سورة فاتحه په اصل کی دټول قرآن خلاصه ده او ددې بنیادی مضمونونه دری دی (۱) دالله ﷻ ربوبیت
یعني دټولو جهانونو دپالونکی بیان (۲) دا چی الله ﷻ یوازی دعبادت حقدار دی بل څوك دده څخه
ماسوا دعبادت حقدار نه دی (۳) دهدایت طلب کول .

نودسورة فاتحی آخری مضمون دصراط مستقیم دهدایت غوښتنه ده اوپه اصل کی ټول قرآن ددغه
غوښتنی جواب دی ، مطلب دا چی چوك صراط مستقیم غواړی نو دا به ده ته په قرآن کی حاصل سی ،
نو په دغه وجه دسورة فاتحی څخه وروسته اول سورة ، سورة بقره کښیښوول سو اوپه ذٰلك الكتاب سره
شروع کړل سو او دا دی پاره چی کوم صراط مستقیم تاسی لټوی ، هغه دا کتاب دی ، او بیا ددې څخه
وروسته په دی سورة کی اول د ایمان بنیادی اصول ، توحید ، رسالت آخرت په اجمالی توګه سره ، او
دسورة په آخرکی په تفصیل سره بیان سوی دی اوپه مینځ کی دژوند دهر اړخ متعلق ، یعني عبادت ،
معاملات معاشرت ، اخلاق ، اصلاح ، ظاهر وباطن ، دبنیادی اصولوهدایات بیان کړل سوی دی او
ورسره ورسره ډیر ضمنی جزئیات بیان سوی دی .

رُكُوعُهَا ۴۰	سُوْرَةُ الْبَقَرَةِ مَدَنِيَّةٌ	اٰيَاتُهَا ۲۸۶

سورة بقرة مدني دي ، په دي کې ۲۸۶ آيتونه او ۴۰ رکوعات دي

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه دخداي چې بخښونکې او مهربانه دي

الٓمّٓ ۝۱ ذٰلِكَ الْكِتٰبُ لَا رَيْبَ ۛ فِيْهِ ۛ هُدًى لِّلْمُتَّقِيْنَ ۝۲ الَّذِيْنَ

په دي کتاب کې څه شك نسته لاربښوونکې دي پرهيزګارانو ته ، هغه چې

يُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ وَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ۝۳

يقين کوي په ناليدلو سوشيانو او قائموي لمونځ او کومه روزي چې مونږ دوي ته ورکړي ده دهغه څخه دوي خرڅ کوي

وَالَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ وَمَآ اُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ ۚ وَبِالْاٰخِرَةِ

او هغه خلق چې ايمان يې راوړي وي په هغه څه چې په تاباندي نازل کړل سوي دي او په هغه څه چې ستاڅخه مخکې نازل کړل سوي دي ، او په آخرت باندي .

هُمْ يُوْقِنُوْنَ ۝۴ اُولٰٓئِكَ عَلٰى هُدًى مِّنْ رَّبِّهِمْ ۗ وَ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۝۵

يقين لري، دغه خلق پس دخپل پروردګارله طرف څخه په هدايت باندي دي او دغه خلق بس مقصد ته رسيدونکې دي

لنډتفسير: دا کتاب داسې کتاب دي چې په دي کې هيڅ شك نسته (يعني دا خبره چې دا قرآن دالله ﷻ دطرفه نازل سوي دي په دي کې دڅه شك کولو ځاي نسته دا جلا خبره ده که يوناپوه دخپلې ناپوهي په وجه په ده کې څه شك لري ، دا دهغه تاوان اوناپوهي ده دا نه چې قرآن کې دشك کولو ځاي سته) دالله ﷻ څخه بيره لرونکوته لاره ورښيي چې يقين لري پرپټو شيانو باندي ، (يعني هغه شيان چې د دوي دحواسو اوعقل څخه پټ دي ، يوازي دالله ﷻ او درسول ﷺ دوينا په وجه يې مني) او قائموي لمونځ (دقائمولو مطلب دا دي چې لمونځ په پابندي سره په خپل خپل وخت کې تولو شرطونو او ارکانو سره کوي) او څه چې ما دوي ته ورکړي دي دهغه څخه خرچ کوي ، (يعني په ښه کارونوکې) او دا خلق داسې دي چې يقين لري په هغه کتاب باندي چې په تاباندي نازل سوي دي ، او په هغه کتابونو باندي هم چې ترتامخکې نازل

سوی دی ، (مطلب دا چی دهغوی ایمان په قرآن باندی هم وی او په اولو کتابونو باندی هم او ایمان رښتیاګڼرلو ته وایی ، عمل کولو ته نه وایی عمل کول بله خبره ده ، څومره کتابونه چی الله ﷻ پرمخکنیو پیغمبرانو نازل کړی دی هغه رښتیا ګڼل ، فرض او د ایمان شرط دی ، یعني دا ګڼل چی څه رنګه دالله ﷻ نازل کړی وو هغه صحیح دی اوکومی تبدیلی چی په دوی کی خودغرضو خلقو کړی دی هغه غلطی دی پاته سو په دوی عمل کول ، نو هغه یوازی په قرآن باندی دی ، مخکنی کتابونه ټول منسوخ دی او په دوی عمل کول روا نه دی) او په اخرت باندی هم دا خلق یقین لری نو بس دغه خلق په سمه لاره دی چی دوی ته دخپل پروردګار دخوا څخه حاصله سوی ده اودغه خلق مکمل کامیاب دی ، (یعني داسی خلقو ته په دنیا کی خو دا نعمت حاصل سو چی دحق لاره یی پیداکړه او په اخرت کی به هر قسم کامیابی هم د دوی وی)

دلغاتوحل ، ذٰلِكَ : دیو لیري شی په لور د اشاری دپاره استعمالیږي ، رَیْبَ : شك اوشبهی ، هُدًی دهدایت څخه جوړ سوی دی او دهدایت معنی لاره ښوول دی . متقین چا کی چی دتقوٰی صفت وی ، دتقوٰی لفظی معنٰی ساتل کیدل دی ، دلته مراد دالله ﷻ دنافرمانی څخه خلاصیدل دی ، غیب لفظی معنٰی ده هرهغه شي چی دانسان دحواسوڅخه وتلی وی ، یقیمون د اقامت څخه جوړ دی چی معنٰی یی سیده کول دی او دلمونځ دسیده کولومراد دا دی چی په ادابو اوخشوع خضوع سره اداکړل سی، رزقنٰهم درزق څخه جوړ دی چی معنٰی یی روزی اوګذاری شیان ورکول دی ، ینفقون د انفاق څخه جوړ دی او خرڅ کولو په معنٰی کی استعمالیږي ، اخرة په لغت کی وروسته راتلونکی شي ته وایی ، دلته ورڅخه مراد دعالم دنیا په مقابله کی عالم اخرت ته وایی یوقنون د ایقان څخه دی ، او ایقان دیقین څخه جوړ دی او یقین دی ته وایی چی په هغه کی دیوشك او شبهی ځای نه وی ، مفلحون دفلاح څخه جوړ دی او دفلاح معنٰی ده مکمله کامیابی .

﴿ علوم او مسائل ﴾

﴿ حروف مقطعات چی دکومو سورتونو په سرکی راځی دهغه تحقیق ﴾

د ډیرو سورتونو په سرکی دځو حرفونو څخه مرکبه یوه کلمه چی را وړل سوي ده ، لکه الٓمّٓ ، حٰمٓ ، آلٓمٓصٓ وغیره دوی ته په اصطلاح کی حروف مقطعات وایی او دا ځکه چی هر یو حرف جلا جلا ساکن ویل کیږي ، الف ، لام ، میم ، ددې حروف مقطعاتو په هکله بعضی مفسرین وایی چی ، دا دهغه سورتونو نومونه دی چی دکومو په سرکی دا راغلی دی اوبعضی علماء وایی چی دا دالٰهی اسماؤ رموز دی ، لیکن دجمهورو صحابو ، تابعینو اوعلماؤ په نزد ښه خبره دا ده چی دا حروف رمز او اسرار دی او ددې علم د الله ﷻ څخه ماسوا بل چاته ورکړل سوې نه دی او دا هم ممکنه ده چی رسول الله ﷺ ته ددې راز علم ورکړل سوی وی او امت ته تبلیغ یی منع کړل سوی وی نو په دی وجه درسول الله ﷺ څخه ددې حرفونو په تفسیر او تشریح کی څه نه دی نقل سوې اوقرطبی په خپل تفسیرکی دغه رایه خوښه کړی ده ، لاندی مونږ دهغه تفسیر خلاصه وړاندی کوو .

عامرشعبی ، سفیان ثوری او دمحدثینو یوه ډله وایی ، چی په هرآسمانی کتاب کی دالله ﷻ څه خاص

رمزونه او اسرار دي نو دغه ډول دا حروف مقطعات په قرآن شريف کې دالله ﷻ رمزونه او اسرار دي، په دې وجه دا دغه متشابهاتو ځينې دي چې دهغه علم يوازې الله ﷻ ته حاصل دی، په دوی کی بحث او خبرې کول روا نه دي، ليکن سره ددې څخه دا زمونږ دفائدې څخه خالي نه دي اول دا چې په دوی باندې ايمان را وړل، بيا د دوی ويل زمونږ دپاره لوی ثواب دی، دويم دا چې د دوی په ويلو کی معنوی برکتونه او فائدې دي، که څه هم هغه مونږ ته معلوم نه دي، ليکن په غيبو مونږ ته را رسيږي، بياقرطبي وايي. چې دحروف مقطعاتو په حقله دحضرت ابوبکر ؓ حضرت عمر ؓ حضرت عثمان ؓ حضرت علي ؓ اوحضرت عبدالله بن مسعود ؓ وغيره جمهورو صحابو دا عقيده وه چې دا دالله ﷻ اسرار دي، مونږ له په دې باندې دا ايمان را وړل ضرورت دی، چې دا دالله ﷻ دطرفه دي اوچې څرنګه راغلي دي هغه ډول يې تلاوت کول په کار دي، ليکن دمعنٰی معلوملو پسې لګيدل ښه نه دي (ج ١ ص ١٥٤)

ابن کثير هم دقرطبي دغه رايې ته ترجيح ورکړې ده او دکومو لويو عالمانو څخه که ددې معنٰی منقولې دي هغه يوازې تمثيل اوتنبيه ده دا نه چې دابس د دوی څخه دالله ﷻ مراد دی، نو په دې وجه دغه معناوو ته غلط ويل هم دعلماو دتحقيق څخه خلاف ده.

(١) د ابن کثير دمطالعه کولو څخه خو دترجيح خبره صراحة نه معلوميږي، البته دومره خبره ده چې ابن کثير دغه رايه دنورو رايو څخه وړاندې ذکر کړې ده وګورئ ج ١ ص ٦٤.

ذٰلِكَ الْكِتٰبُ لَا رَيْبَ فِيْهِ: ذٰلِكَ دليرې شي په لورې اشاره کولو دپاره راغلي دي اوکتاب څخه مراد قرآن دی او دريب معنٰی شك اوشبه ده، معنٰی دا سوه، چې دا کتاب داسې دی چې په ده کې دشك اوشبهې کولو ځای نسته نو دا ځای او موقع دليرې د اشارې دپاره نه ده ځکه چې اشاره دغه قرآن ته ده چې دخلقو په مخکې دی، نو په دې ليرې اشارې کولو سره دې خبرې ته اشاره ده چې په سورة فاتحه کې چې دکوم صراط مستقيم دپاره غوښتنه سوې وه، دا ټول قرآن ددې غوښتنې دقبوليت په شکل کې جواب دی او دصراط مستقيم تشريح او تفصيل دی چې ددې مطلب دا دی چې مونږ دا دعا واوريده او قرآن شريف مو را وليږي چې دهدايت لمر دی کوم سړی چې هدايت غواړي، هغه دې دا قرآن شريف وايې، ځان دې په پوه کړي او دهغه په مقتضادی عمل وکي.

هُدًى لِّلْمُتَّقِيْنَ: هدايت دی دالله ﷻ دطرفه څخه دبيريدونکو دپاره يعني خاص هدايت چې دآخرت دخلاصون دپاره ذريعه ګرځي، دمتقيانو برخه ده که څه هم دقرآن هدايت نه يوازې دانسانانو دپاره دی بلکه دټولو کائناتو دعالم دپاره دی، دسورة فاتحې په تفسير کې بيان سوې دې چې دهدايت درې درجې دي يوه درجه هدايت دټولو انسانانو دپاره بلکه دټولو حيواناتو وغيره دپاره او بله درجه مومنانو پورې خاصه ده او دريمه درجه مقربينو پورې خاصه ده اوبيا ددې درجې څه حد او انتها هم نسته دقرآن شريف په مختلفو ځايونو کې يو ځای دعام هدايت ذکر راغلي دی او يو ځای دخاص هدايت ذکر او دلته دخاص هدايت ذکر دی نو په دې وجه دمتقيانو تخصيص وکړل سو نو دلته شبهه کول په کار نه دي چې دهدايت زيات محتاجه هغه خلق دي چې متقيان نه دي، ځکه ددې لوړ تحقيق څخه معلومه سوه چې په دې ځای کې دمتقيانو دتخصيص څخه دا نه لازميږي چې قرآن دغير متقيانو دپاره هدايت نه دی.

﴿ دمتقیانو خاص صفتونه ﴾

ددې څخه وروسته دمتقیانو خاص صفتونه او نښانې بیان سوې دي او دا ښوول سوي دي چې دغه ډلې هدایت موندلې دي او د دوی لاره صراط مستقیم ده ، چې څوك سیده لاره غواړي نو په دې ډله کې دې شامل سي او ددې ډلې عقیده ، اعمال او اخلاق دې خپل کړي ، دمتقیانو صفتونه چې په دې دوو (۲) آیاتونو کې بیان سوي دي ، په هغوی کې د ایمان اجمالي تعریف او دهغه بنیادي اصول راغلي دي او دښه عمل اصول هم ، نو په دې وجه ددغو صفتونو لږ شان وضاحت ضروري دی .

په اولني آیت ، الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِالْغَيْبِ وَيُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُونَ : کې دمتقینو درې صفتونه بیان سوي دي ، په غیب ایمان لرل ، لمونځ قائمول ، دالله ﷻ په لاره کې خرڅ کول ، ګویا دا آیت په درې مهمو مسئلو مشتمل دی .

﴿ اولنی مسئله د ایمان تعریف ﴾

د ایمان تعریف قرآن شریف د يُؤْمِنُونَ بِالْغَيْبِ په دوو لفظونو سره کړی دی چې هغه ایمان اوغیب دی ، او د ایمان اوغیب په معنیٰ باندې دپوهیدلو څخه د ایمان پوره حقیقت اوتعریف په ډاګه کیږي نو په دې وجه ددې دوو تکو وضاحت ضروري سو .

په لغت کې ایمان دې ته وایي چې دچاخبره په هغه باندې د اعتماد په وجه په یقین سره ومنل سي ، دغه وجه ده چې په محسوساتو او مشاهداتو کې دچاخبره په یقین سره منلو ته ایمان نه وایي ، دمثال په ډول یوسړی سپین ټوکی ته سپین او تور ټوکی ته تور وایي او بل سړی دده دا خبره په یقین مني نو دې ته به تصدیق وویل سي خو ایمان نه ، ځکه په دې یقین منلو کې دویونکي د اعتماد څه دخل نسته بلکه دا په یقین سره منل دمشاهدې په وجه دي او دشرع په اصطلاح کې دپیغمبر خبره بغیر دمشاهدې څخه یوازې په پیغمبر باندې د اعتماد کولو په وجه یقین سره منلو ته ایمان وایي دغیب لفظ په لغت کې داسې شي ته ویل کیږي چې هغه انسان ته نه دعقل په بداهت اونه په حواس خمسه (لیدلو، اوریدلو، بویولو ، چیښلو اولاس لګولو سره معلوم وي)

په قرآن شریف کې دغیب څخه مراد هغه ټول شیان دي چې دهغه خبر رسول الله ﷺ ورکړی دی او چې هغه دعقل په بداهت او یا په پنځو حواسو سره معلوم نه دي ، نو په دې کې دالله ﷻ ذات او صفات ، تقدیري شیان ، جنت ، او دوږخ ، قیامت او دقیامت واقعات ، ملائکې ، ټول آسماني کتابونه او ټول مخکني پیغمبران اجمالي توګه سره راغله چې دا په تفصیل سره دسورة بقره په آخر کې اٰمَنَ الرَّسُوْلُ الخ آیت کې بیان سوي دي . ګویا دلته د ایمان مجمل بیان دی او په اخري آیت کې د ایمان مفصل بیان ، نو اوس د ایمان بالغیب معنیٰ دا سوه چې رسول الله ﷺ چې کوم هدایات او تعلیمات را وړي دي ، هغه ټول په یقین سره منل ، نو یو شرط دا دی چې ددې تعلیماتو درسول الله ﷺ څخه نقل کیدل په یقیني توګه سره ثابت وي دجمهورو اهل اسلام په نزد د ایمان دغه تعریف دی ، (عقیده طحاوي ، عقائد نسفي)

په دې تعریف کې منلو ته ایمان ویل سوي دي ، نو ددې څخه دا معلومه سوه چې یوازې پوهیدلو ته ایمان نه وایي ، ځکه چې ډیرکافران په دې پوهیدل چې رسول الله ﷺ په خپلو تعلیماتو کې رښتیني دی

لیکن دی یی نه منی ، نو ددې وجی څخه دوی مومنان نه دی .

﴿ دویمه مسئله ده لمونځ قائمول ﴾

داقامة صلوة معنیٰ یوازی لمونځ کول نه دی بلکه لمونځ په هرلحاظ او ارخ سره په صحیح طریقه سره کول اقامة صلوة دی ، چی په دی کی دلمانځه ټول فرائض واجبات مستحبات اوبیا په دوی باندی همیشه والی داخل سو ، اوصحیح خبره دا ده چی دلته دلمانځه څخه مرادخاص لمونځ نه دی . بلکه فرض ، واجب اونفلی ټول لمونځونه په پابندی سره دشریعت دقواعدو مطابق کول او دلمونځونو اداب پوره پوره ادا کول دی .

﴿ دریمه مسئله دالله ﷻ په لاره کی خرڅ کول ﴾

په دی کی هم صحیح خبره چی هغه عامو مفسرینوخوښه کړی ده دا ده چی په دی خرڅ کی زکوٰة واجبی صدقات ، نفلی صدقات اوخیراتونه دا خل دی ، ځکه چی په قرآن شریف کی یوځای چی دانفاق لفظ استعمال سوی دی هغه عام توګه سره په نفلی صدقوکی یاپه عامه معنیٰ کی استعمال سوی دی ، فرض زکوٰة دپاره عام توګه باندی دزکوٰة لفظ استعمال سوی دی ، په دی آیت کی دمتقیانو دصفتونو په بیان کی اول د ایمان بالغیب ذکر وکړل سو بیا د اقامت صلوٰة او دالله ﷻ په لاره کی دخرڅ کولو ذکر وکړل سو ، د ایمان اهمیت خو ټولو ته معلوم دی چی دا دټولو ښه عملونو دقبلیدو دپاره شرط دی دښو عملونو شمیر خو ډیر اوږد دی نو په دی کی یوازی د دوو عملونو یعنی دلمونځ او دمال خرڅ کولو په ذکر باندی دلته دبس والی راز څه دی ؟ په دی کی غالبًادی ته اشاره ده چی څومره عملونه په انسان باندی فرض یاواجب دی ، دهغوی تعلق یاخو د انسان د ذات اوبدن سره دی او یا خو دهغه دمال سره دی په بدنی اوذاتی عبادتونو کی دټولو څخه مهم لمونځ دی نو ددې وجی څخه دده په ذکر کولو باندی اکتفاء وکړل سوه او مالی عبادتونه ټول د انفاق په لفظ کی دا خل دی ، نو په دی بنا په حقیقت کی دا د دوو عملونو ذکر نه دی بلکه ټول عملونه اوعبادتونه په دی کی راغلی دی او دټول آیت معنیٰ دا سوه چی متقیان هغه خلق دی چی دهغوی ایمان هم کامل وی اوعمل هم ، او د ایمان او دعمل مجموعی ته اسلام ویل کیږي ، ګویا په دی آیت کی د ایمان مکمل تعریف کولو سره د اسلام مفهوم ته هم اشاره وسوه نو په دی وجه دا مناسبه ده چی دلته ددې خبری وضاحت وکړل سی چی په ایمان او اسلام کی څه فرق دی ؟

﴿ په ایمان او اسلام کی فرق ﴾

په لغت کی ایمان دیوشي په زړه سره منلوته وایی او اسلام اطاعت او تابعداری ته وایی ، د ایمان ځای زړه او د اسلام ځای زړه او ټول اندامونه هم دی لیکن په شرع کی ایمان لره اسلام څخه بغیر او اسلام لره ایمان څخه بغیرڅه اعتبار اوقیمت نسته یعني دالله ﷻ او درسول الله ﷺ یوازي په زړه سره منل شرعًا ترهغه وخته پوری معتبرنه دی چی ترڅو پوری په ژبه ددې دمنلو اظهار ، او د اطاعت اوفرمانبرداری اقرار ونه کړل سی اوهم دغه شان په ژبه باندی دمنلو اظهار او دفرمانبرداری اقرار ترهغه وخته پوری معتبرنه دی چی ترڅو پوری په زړه کی دالله ﷻ او دهغه درسول الله ﷺ منل نه وی ، لنده دا چی دلغت دمخه ایمان جلا جلا معنیٰ اومفهوم لری اوقرآن اوحدیث کی دغه لغوی مفهوم په وجه داېمان او داسلام

دفرق ذکر هم دی لیکن شرعًا ایمان داسلام څخه بغیر اواسلام دایمان څخه بغیر معتبر نه دی هرکله چی اسلام (یعني ظاهری اقرار اوفرمانبرداری) سره په زړه کی ایمان نه وی نودی ته دقرآن په اصطلاح کی نفاق ویل کیږي ، او دا دځرګند کفر څخه ډیر زیات جرم او ګناه ده چی په سزا کی یی الله ﷻ فرمایی .

إِنَّ الْمُنَافِقِينَ فِي الدَّرْكِ الْأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ.

بی شکه منافقان به دجهنم ترټولو طبقو څخه په لاندینی طبقه کی وی ، هم دغه شان ایمان یعني تصدیق قلبی سره که چیرې اقرار او اطاعت نه وی نو دی ته هم دقرآن په اصطلاح کی کفر وایی .

يَعْرِفُونَهُ كَمَا يَعْرِفُونَ أَبْنَاءَ هُمْ .

یعني دا کافران رسول الله ﷺ او دده برحقه پیغمبر کیدل داسی په یقین سره پیژنی څرنګه چی دوی خپل زامن پیژنی ، په بوبل ځای کی فرمایی .

وَجَحَدُوا بِهَا وَاسْتَيْقَنَتْهَا أَنْفُسُهُمْ ظُلْمًا وَعُلُوًّا.

داخلق زما د آیاتونو څخه انکار کوی ، او حال دا دی چی د دوی په زړونو کی په دی باندی کامل یقین دی او دا انکار یوازی دظلم او تکبر دوجی څخه کوی .

زمامحترم استاذ حضرت علامه سید محمدانور شاه کشمیری رحمه الله دا مضمون به داسی بیانولو چی د ایمان او د اسلام مسافت یو دی ، جلاوالی او فرق یوازی په ابتداء او انتهاء کی دی یعني ایمان دزړه څخه شروع کیږي اوپه ظاهری عمل باندی مکمل کیږي او اسلام دظاهری عمل څخه شروع کیږي ، اوچی زړه ته ورسیږي نومکمل ګڼل کیږي که چیرې تصدیق قلبی ظاهری اقرار او اطاعت ته ونه رسیږي ، دغه تصدیق قلبی د ایمان دپاره معتبر نه دی ، هم دغه شان که چیرې ظاهری اطاعت او اقرار تصدیق قلبی ته ونه رسیږي نو دغه اسلام معتبر نه دی .

دامام غزالی رحمه الله او دامام سبکی رحمه الله هم دغه تحقیق دی او ابن همام په مسامره کی په دی تحقیق باندی دټول اهل حقو اتفاق ذکر کړی دی .

وَالَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ وَبِالْآخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ .

یعني متقیان هغه دی ، چی ایمان لری په هغه کتاب چی په تاباندی نازل سوی دی او په هغه کتابونو هم چی ترتامخکی نازل سوی دی او په آخرت باندی هم یقین لری ، په دی آیت کی دمتقیانو دپاته صفتونو بیان دی او ورسره دایمان بالغیب څه تفصیل هم دی ، چی هغه دورځی دآخرت ذکردی ددی آیت په تفسیر کی حضرت عبدالله بن مسعود اوحضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهم وایی چی درسول الله ﷺ په زمانه کی متقیانو دوه قسمه وو. یو هغه چی مخکی مشرکان وو او بیا په اسلام باندی مشرف سول ، دویم هغه چی مخکی اهل کتاب ، یهود یانصارئ وو ، بیا مسلمانان سول ددې آیت څخه په مخکنی آیت کی دمخکنی طبقی بیان وو ، او په دی آیت کی ددې دویمی طبقی ذکر دی ، نو په دی وجه په دی آیت کی په قرآن شریف باندی دایمان را وړلو سره په مخکنیو کتابونو باندی د ایمان راوړلو په ډاګه وینا وکړل سوه ، چی دا کسان دحدیث دوینا مطابق د دوچند ثواب حقداری دی ، یو دمخکنیو کتابونو په زمانه کی په هغوی باندی دعمل کولو دثواب ، او دویم دقرآن په زمانه کی په قرآن باندی دعمل کولو دثواب ، په

مخکنیو کتابونو باندی ایمان لرل نن هم مسلمان دپاره لازمی دی ، فرق بس دومره دی چی نن په دی کتابونو باندی ایمان لرل داسی دی ، چی څه الله ﷻ په دی کتابونوکی نازل کړی وو ، هغه ټول حق دی اوهغه زمانی دپاره واجب العمل وو لیکن دقرآن دنازلیدلو څخه وروسته چی هرکله مخکنی کتابونه اوشریعتونه ټول منسوخ سول نو اوس عمل یوازی په قرآن به وی .

﴿ دختم نبوت دمسئلی یو واضح دلیل ﴾

دآیت دبیان د ډول څخه یوه مهمه بنیادی مسئله هم را ووتله هغه دا چی رسول الله ﷺ اخری پیغمبردی او ده ته چی کومه وحی سوې وه ، هغه اخری وحی ده او داځکه که چیري دقرآن څخه وروسته یوبل کتاب او وحی نازلیدونکی وی نو لکه چی څرنګه په دی آیت کی په مخکنیوکتابونو او وحی باندی ایمان را وړل لازمی ګرځول سوی دی نو هم دغه رنګه په راتلونکی نازلیدونکی کتاب باندی د ایمان را وړلو ذکر سوی وو ، بلکه ددې ضرورت زیات وو ځکه چی په تورات او انجیل او نورو ټولو مخکنیو کتابونو باندی ایمان را وړل خو دمخکی څخه جاری او معلوم وو ، که چیري درسول الله ﷺ څخه وروسته هم وحی سلسله او نبوت جاری وی نو بیاضروری وه چی ددې کتاب اونبی ذکر په ډیر زیات اهتمام سره کړل سوی وی ، چی ددې متعلق چاته شك او شبهه پاته سوې نه وې .

لیکن په قرآن کی چی یوځای د ایمان ذکر سوی دی نو درسول الله ﷺ څخه مخکی نازل سوو کتابونو او دپیغمبرانو ذکر سوی دی ، او دده څخه وروسته نه څه وحی ، کتاب او نه دڅه نبی دراتلو قطعًا ذکر سوی دی ، دا مضمون په قرآن کی څلویښت یاپنځوس ځایه راغلی دی چی هغه ټولو ځایونوکی درسول الله ﷺ څخه مخکی دنورو پیغمبرانو اوکتابونو ذکر دی اوپه یوآیت کی یوځای دومره غوندی اشاره هم نسته چی د رسول الله ﷺ څخه وروسته څه وحی یانبی راتلونکی دی او په هغه باندی ایمان راوړل ضروری دی مثلاً .

وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ (النحل ۴۳) وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ (الروم ۴۷)

دختم نبوت او دوحی دسلسلی دختمیدو په باره کی که چیري نور صحیح آیاتونه ، نه وی نو دقرآن شریف دا قسم بیان ، دختم نبوت ددلیل دپاره کافی وو ، دختم نبوت دمسئلی دپاره زما دهغه رسالی ویل کافی دی چی هغه کی ددې مسئلی په باره کی دقرآن شریف تصریحات او احادیث متواتر شهادتونه او د اجماع امت ذکر ډیرښه په تفصیل سره سوی دی .

﴿ په اخرت باندی ایمان را وړل یوه انقلابی عقیده ده ﴾

د ایمان بالغیب په لفظ کی په آخرت باندی ایمان را وړل راغلی وو لیکن دایی صراحتًادې وجی څخه بیان کړل چی دا دایمان په اجزاؤ کی یو مهم جزء دی او دا ځکه چی ایمان بالاخرة دوجی څخه دعمل کولو جذبه په انسان کی پیداکیږي ، او په اسلامی عقیده کی دا هغه انقلابی عقیده ده چی ددنیارخ یې بدل کړی دی او په آسمانی تعلیم باندی عمل کوونکو ته یی اول په اخلاقو او عملونو کی او بیا یی ددنیا په سیاست کی په ټولو قومونو باندی یو جلا مقام ورکړی دی او دا هغه عقیده ده چی دتوحید او رسالت په شان دټولو پیغمبرانو په شریعتونوکی را روا نه ده ، وجه څرګنده ده چی دکومو خلقو مقصد یوازی ددنیا

ژوند او ددنیا عیش وعشرت وی ، او دآخرت دژونداو دعملونو دحساب وکتاب عقیده یې نه وی نو هغوی چې بیاد درواغو رښتیاوحلالو، حرامو په مینځ کې جلاوالی کول خپل عیش وعشرت کې خلل گڼی نوهیڅ شي داسی خلق دگناهونو اوجرائمو کولوڅخه منع کولای نه سی دا یوازې دآخرت عقیده او دخدای ﷻ څخه بیره ده چې انسان په ظاهره اوباطنه دواړه حالتونوکی دجرائمو اوگناهونو کولوڅخه منع کوی ، اوپه دغه عقیده باندی دپوره عمل کولو په وجه د اسلام په اولو ورځو کی یو داسی مثالی او پاکه معاشره پیداسوی وه چې ددغه معاشری دخلقو په لیدو سره نور خلق به دومره متاثر کیدل چی پخپله به یې ایمان را وړی .

دلته دا خبره هم دفکر کولو قابله ده چی په دی آیت کی د آخرت سره یومنون لفظ ویل سوی نه دی ، بلکه یوقنون ویل سوی دی ددې وجه دا ده چی د ایمان مقابله تکذیب دی او د ایقان مقابل شك اوتردد دی نو دیوقنون په لفظ کی دی خبری ته اشاره وسوه چی یوازی دآخرت په ژوند باندی تصدیق کولو سره مطلب نه پوره کیږي ، بلکه په دي باندی داسي یقین کول ضروري دی لکه چی یو شي دسترگو مخکی وی .

نو دمتقیانو صفت دا دی چی په هروخت کی د دوی په وړاندی په ورځ د آخرت کی الله ﷻ ته حاضریدلو او دحساب اوکتاب او دجزا او سزا نقشه وی ، هغه سړی چی دنورو حق غصب کوی او ددې دپاره درواغجنی مقدمی اوشهادتونه جوړ وی ، او دالله ﷻ دحکم خلاف دحرامو په گټلو اوخوړلو کی اخته وی یا ددنیا بی کاره مقصدونو حاصلولو دپاره خلاف شرع ذرائعو څخه انکار اخلی ، هغه که زر واره دا اقرارو کی چی زما دآخرت په ورځ ایمان دی دغه سړی ته به ظاهری شریعت کی مومن وویل سی ، لیکن قرآن چی دده څخه دآخرت په باره کی دکوم ایقان طلب کوی ، هغه په ده کی نسته ، هغه ایقان چی دانسانانو په ژوند کی انقلاب را ولی اوهغه چی په نیتجه کی یې دکامیابی انعام ورکړل سوی دی .

اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ ءَاَنْذَرْتَهُمْ اَمْ لَمْ

بیشکه چی کوم خلق کافران سوی دی (د دوی په حق کی) دا برابره ده که ته دوی وبیروی اوکه یې ونه

تُنْذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ۝۶ خَتَمَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ

بیروی دوی به ایمان را نه وړی ، الله پاك مهر لگولی دی د دوی په زړونو باندی

وَعَلٰى سَمْعِهِمْ ۭ وَعَلٰٓى اَبْصَارِهِمْ غِشَاوَةٌ ۡ وَّلَهُمْ

او په غوږونو باندی ، او د دوی په سترگو باندی پرده ده او دوی دپاره

عَذَابٌ عَظِيْمٌ ۝۷ ع

عذاب دی لوی .

لنډتفسير: بې شکه چې کوم خلق کافران سوي دي د دوي په باره کي دا برابره ده کی ته دوی وبيروی يانه وبيروی دوی به ايمان را نه وړی «دا خبره دهغو کافرانو په باره کې ده چې دهغوی په هکله الله ﷻ ته دا علم دی چې د دوی خاتمه به پرکفر وی ددې څخه عام کافر مراد نه دی ، ځکه چې په دوی کی ډير خلق وروسته مسلمانان سوی وو» مهر لګولی دی الله ﷻ د دوی په زړونو باندی او د دوی په غوږونو باندی او د دوی په سترګو باندی پرده ده او دوی دپاره لويه سزا ده .

﴿ علوم او مسئلی ﴾

﴿ دمضمون خلاصه سره دربط ﴾

دسورة بقری په مخکی پنځو آياتونو کی دا ذکر وو چې قرآن شريف دهدايت کتاب دی او په دی کی څه شك نسته او ددې هدايت څخه پوره فائده متقيان اخلی او ددې متقيانو علامی او نښانی دا دی چې په غيب يې ايمان وی او لمونځ قائموی اوچې الله ﷻ ورلره څه ورکړی دی دهغه څخه دالله ﷻ په لاره کی خرڅ کوی اوپه دی کتاب اوپه مخکنی نازل سووکتابونو ايمان لری اوپه ورځ دآخرت کلك يقين لری ، اوددې څخه وروسته په پنځلسو آياتونو کی دهغو خلقو بيان دی چې کومو دعناد په وجه دا هدايت قبول نه کی او دا خلق دوې ډلی وو ، يوه هغه چې بالکل په ډاګه يې د انکار اومخالفت لاره اخيستی وه، دی ډلی ته دقرآن شريف په اصطلاح کی کافر ويل سوی دی ، او دويم هغه خلق وو چې دوی ددنيا دبی کارو اغراضو او اخلاقو کمزوری په وجه دومره جرات نه لری چې دخپل ضمير د آواز دعقيدی برملا اظهار وکی چې مسلمانانو سره به مخ سو نو هغوی ته به يی دا ويل چې مونږ مسلمانان يو او دقرآن هدايات او تعليمات منو او په زړه کی به کافر وو او چې دکافر و مجلسونو ته به ورغلل نو هغوی ته به يی دا ويل چې زمونږ عقيده ستاسی عقيده ده اومونږ تاسی سره يو ، اومونږ مسلمانانو سره يوازې ددې دپاره کښينو او ولاړيږو چې دهغوی راز معلوم کو او دوکه ورته ورکو ؟

ددې فرقی نوم دقرآن په ژبه کی منافق دی ، دغه پنځه آياتونه چې دنه منونکو په حقله نازل سوی دی ، ددې په دوو آياتونو کی دهغه کافرانو ذکر دی دکومو کفر چې بالکل په ډاګه وو ، او د دوی څخه وروسته راتلونکو ديارلس ۱۳ آياتونوکی دمنافقانو او د دوی دعلامو او د انجام ذکر دی ، پردی ټولو آياتو باندی په يو وار نظر اچولو څخه دا معلوميږي چې قرآن دهدايت او ارشاد دپاره سر چينه ده او ددنيا ټول خلق دقرآن دهدايت په قبلولو اونه قبلولو په وجه په دوو برخو کی تقسيم سوی دی ، يو هدايت يافته ، چې هغه متقيان اومومنان دی اوبل هغه چې ددې هدايت څخه مخ اړ وی او انکار کوی نو دا کافران يامنافقان دی ، دقرآن شريف ددې تعليم څخه يوه بنيادی مسئله را ووته ، هغه دا چې ددنيا دقومونو که چيري تقسيم او حصي جوړيږي نو هغه يوازې د اصولو او نظريو په بنياد جوړيداې سی نسب ، وطن ، ژبه ، رنګ ، او جغرافيايی حالتونه داسی نه دی چې ددې په بنياد ددنيا قومونه تقسيم اوحصی سی .

په دغه مخکنيو ذکر سوو دوو آياتونوکی الله ﷻ دهغه کافرانو ذکر کړی دی چې دوی په خپل کفر او انکار کی ضد اوعناد ته رسيدلی وو ، او ددغه ضد په وجه دځه حق خبرې او ريدو او دواضح دليل

ليدلو ته هم تيار نه وي نو دداسي خلقو په باره کې دالله ﷻ سنت دا دی چې دوی ته يوه نغده سزا په دې جهان کې ورکوي هغه دا چې د دوی په زړونو مهر لګول کيږي، غوږونه او سترګې يې دحق دقبلولو څخه بنديږي د دوی حالت دحق په حقله کې داسې ګرځي چې ګويا دوی سره دحق دمعلومولو دپاره عقل نسته او دحق دليدلو دپاره سترګې نسته او دحق د اوريدلو غوږونه يې نسته .
دآيت په اخر کې دا ښوول سوي دي چې داسې خلقو دپاره لوی عذاب دی .

﴿ دکفر تعريف ﴾

دکفر لفظي معنیٰ پټول دي ، ناشکري ته هم کفر په دې وجه ويل کيږي چې په دې کې د احسان کوونکي ، احسان پټول دي ، دشريعت په اصطلاح کې کفر دې ته وايي چې ديو داسې شي څخه انکار وکړل سي چې په هغه باندې ايمان لرل ضروري او فرض وي ، مثلاً د ايمان خلاصه دا ده چې رسول الله ﷺ چې څه د الله ﷻ دطرفه څخه را وړي دي او دهغه ثبوت قطعي اويقيني وي دهغه په زړه سره منل او حق يې ګڼل ايمان دی ، او په دوی کې ديوه څخه انکار کول او حق نه ګڼل کفر دی .

﴿ دانذار معنیٰ ﴾

انذار داسې خبر ورکولو ته وايي چې دهغه څخه بيره پيداکيږي لکه چې ابشار داسې خبر ورکولو ته وايي چې دهغه څخه خوشحالي پيداکيږي ليکن د انذار معنیٰ مطلق بيرول نه دي ، بلکه داسې بيرول دي چې هغه دشفقت او رحمت په وجه وي ، لکه چې يو پلار اولاد د اور مار او لړم څخه وبيروي د ډاکو ، غل او دظالم بيرولو ته انذار نه سي ويلای ، ځکه چې په دې بيرولو کې شفقت اورحم نسته پيغمبرانو ته دنذر لقب ددې وجې څخه ورکړل سوی دی چې دوی دشفقت په وجه خلق دراتلونکو مصيبتونو څخه وبيروي ، او پيغمبرانو ته ددې لقب ورکولو په وجه دې خبرې ته اشاره ده چې مصلح اومبلغ دپاره ضروري ده چې هغه دې مخاطب دخير خواهي او همدر دی دپاره تبليغ کوي .
په دې آيت کې رسول الله ﷺ ته دتسلي ورکولو دپاره دا ښوول سوي دي چې دا ضدي او عنادي کافران ، چې دحقيقت دپيژندلو سره په کفر او انکار کې بوخت دي يا دخپل تکبر په وجه دځه حق خبرې اوريدو ته او روښانه دليلونو ته تيار نه دي ، د دوی د اصطلاح او ايمان را وړلو دپاره چې کوم کوشش ته کوی دا په دوی باندې هيڅ اثر نه کوي بلکه د دوی په هکله کوشش کول نه کول دواړه برابردي او ددې وجه يې ددې څخه په وروسته آياتونو کې ښوول سوي ده ، چې الله ﷻ د دوی په زړونو او غوږونو باندې مهر لګولی دی او د دوی په سترګو باندې پرده پرته ده دفکر او پوهې ټولې لارې پردوی باندې بندې دي نو ددې وجې څخه د دوی د اصلاح طمع کول دسر درد دی .
په يو شي باندې دمهر لګولو غرض دا دی چې ددباندې څخه يوشي دې ته دا خل نه سي نو د دوی په زړونو اوغوږونو باندې مهر لګولو مطلب دا دی چې دوی دحق دقبلولو څه امکان اوځای نه لري .
د دوی دغه حالت دبيانولو دپاره په زړونو اوغوږونو باندې مهر لګولو سره تعبيروکړل سو ، په دې فرق کې حکمت څه دی ؟ حکمت دا دی چې په زړونو کې يو راتلونکې مضمون ياخيال او فکر ديو طرفه څخه نه راځي بلکه دهرطرف څخه را تلای سي ، هم دغه رنګه غوږونو ته رسيدونکې اواز دهر طرف څخه را

تلای سی ، نو د دوی بندیدل هلته کیدای سی چی په دوی باندی مهر ولګول سی په خلاف دسترګو څخه چی هغه لیدل یوازی دیوه طرفه څخه یعنی دمخکی څخه کولای سی ، او چی دسترګو مخکی پرده واچول سی نو دسترګو لیدل ختم کړل سی (مظهری دثناء الله ج ۱ صـ ۲۴ حیدرآباد)

﴿ توفیق نه ورکول دګناهونو دنیوی سزا ده ﴾

ددې دوو آیاتونو څخه دا معلومه سوه چی دکفر او دهری ګناه سزا خو به په آخرت کی ورکیدای سی لیکن دبعضی ګناهونو څه سزا په دنیا کی هم ورکول کیږي بیا دا دنیاوی سزا کله داسی شکل جوړ کړی چی دګناه کونکی څخه د اصلاح حال توفیق دسرڅخه واخیستل سی او دیوې ګناه څخه وزی او په بله ګناه کی ننوزی تر دی پوری چی زړه یی تور سی او دښه او دبد جلاوالی بالکل ختم سی .

په حدیث کی دی چی هرکله یو انسان ګناه کوی نو دده پر زړه باندی یو تور داغ ولګیږي لکه چی څرنګه په سپینه کپړه باندی تور داغ انسان ته ښه نه ښکاره کیږي هم دغه ډول دګناه اولنی داغ سره د انسان زړه پریشانه کیږي ، که چیرې ده دغه ګناه څخه توبه ونه کښل او بله ګناه یی وکړه نو یو بل تور داغ پرلګیږي او هم دغه شان تور داغونه پرلګیږي لګیږي تردی چی ټول زړه یی تك تور سی او دی حالت ته ورسیږي چی دښه اوبد فرق یی دزړه څخه ووزی (دتفصیل دپاره وګوری ابن کثیر ج ۱ صـ ۸۱) بیارسول الله ﷺ ددغه توروالی په باره کی فرمایلی دی چی ددغه توروالی نوم په قرآن شریف کی (ران یارین) راغلی دی (وګوری ابن کثیر ج ۱ صـ ۸۱) لکه چی الله ﷻ فرمایی .

كَلَّا بَلْ رَانَ عَلَى قُلُوبِهِمْ مَا كَانُوا يَكْسِبُونَ .

په ترمذی کی دحضرت ابوهریره ﷺ په روایت صحیح حدیث دی چی رسول الله ﷺ فرمایلی دی ، چی کوم وخت انسان ګناه وکی نو دهغه زړه تورسی بیاکه چیرې ده توبه وکښل نو زړه یی سپین سی (وګوری ابن کثیر ج ۱ صـ ۸۲)

﴿ (۲) او ریدونکی که نصیحت قبول کړی یاقبول نه کړی خودا نصیحت دنصیحت کوونکی دپاره فائده ورکوی﴾

په دی آیت کی درسول الله ﷺ ازلی کافرانو ته نصیحت کول اونه کول دواړه برابر کړل سوی دی ، لیکن ورسره د(علیهم) په قید لګولو سره دا ښوول سوی دی چی دا برابری دکافرانو په حقله ده ، د رسول الله ﷺ په حقله نه ده بلکه هغوی ته دتبلیغ او دتعلیم ثواب به په هرحالت کی ورکیدای سی ، هم دغه وجه ده چی په ټول قرآن شریف کی داسی یو آیت نسته چی په هغه کی رسول الله ﷺ دداسی خلقوتبلیغ اوتعلیم څخه منع کړل سوی وی ، چی هغه خلق ازلی کافران دی او د دوی نصیحت قبلونکی نه وی نو ددې څخه دا معلومه سوه چی کوم سړی ددعوت دین او د اصلاح کار کوی ، ده ته به په هرحالت کی ثواب ورکیدای سي ، خواه دده دغه تبلیغ موثر وی اوکه موثر نه وی .

﴿ دیوې شبهی جواب ﴾

ددې آیت مضمون او مطلب هم هغه دی ، چی کوم دسورة مطففین دآیت دی ،كَلَّا بَلْ رَانَ عَلَى قُلُوبِهِمْ مَا كَانُوا يَكْسِبُونَ . یعني داسی نه ده بلکه د دوی په زړونو باندی د دوی دعملونو زنګ ناست دی ، په دی آیت کی حقیقت په ډاګه کړل سوی دی ، چی بس د دوی بد عملونه اوسرکښیانی د دوی دزړونو زنګ

گرخیدلی دی او ددغه زنګ تعبیر په ذکر سوی آیت دبقره کی په مهر او پردی سره کړل سوی دی نو په دی وجه دا شبه نه سی کیدلای ، چی هرکله الله ﷻ د دوی په زړونو باندی مهر ولګوی او د دوی حواس یی خراب کړل نو بیا دوی پخپل کفر کولو کی معذور سوه ، نوبیا عذاب دوی ته څنګه ورکیدلای سی ، وجه دا ده چی دی خلقو دخپل شرارت اوعناد په وجه ، خپل استعداد برباد کړی دی نو په دی وجه ددغه استعداد دتباهی مسبب دوی پخپله دی البته الله ﷻ په دی حیثیت چی دی دبندګانو ترټولو کارونو خالق دی، دلته کی دمهر لګولو نسبت یی ځان ته وکی ، صلاحیت او استعداد یی په خپل اختیار سره تباه کول وغوښتل نو دسنت الهیة مطابق مونږ ددغه بد استعداد کیفیت د دوی په زړونو او حواسو کی پیدا کی .

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّقُوْلُ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَبِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَمَا هُمْ بِمُؤْمِنِيْنَ ﴿۸﴾

او په خلقو کی څه داسی دی چی وایی مونږ ایمان راوړی دی په الله پاك او دقیامت په ورځ او دوی هرګزمؤمنان نه دی

يُخٰدِعُوْنَ اللّٰهَ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۚ وَمَا يَخْدَعُوْنَ اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ

توکی کوی دالله پاك سره او مؤمنانو سره او په اصل کی دوی توکی نه کوی دهیچا سره مګر دخپلو ځانونو سره

وَمَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۹﴾ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ ۙ فَزَادَهُمُ اللّٰهُ

لیکن دوی فکر نه کوی ، د دوی په زړونو کی مرض دی نو الله پاك د دوی دا مرض زیات کی

مَرَضًا ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۢ بِمَا كَانُوْا يَكْذِبُوْنَ ﴿۱۰﴾

او دوی دپاره دردناك عذاب دی په دی وجه چی دوی درواغ ویل

وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ لَا تُفْسِدُوْا فِي الْاَرْضِ ۙ قَالُوْٓا اِنَّمَا

چی کوم وخت وویل سی دوی ته چی په مځکه کی فساد مه کوی نو دوی وایی چی مونږ چی

نَحْنُ مُصْلِحُوْنَ ﴿۱۱﴾ اَلَآ اِنَّهُمْ هُمُ الْمُفْسِدُوْنَ

مونږ خو اصلاح کونکی یُو ، خبر سه دوی بس خرابی او فساد کونکی دی

وَلٰكِنْ لَّا يَشْعُرُوْنَ ﴿۱۲﴾ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ اٰمِنُوْا كَمَآ اٰمَنَ

لیکن پوهیږي نه ، او چی کوم وخت دوی ته وویل سی چی ایمان راوړی چی څرنګه

النَّاسُ قَالُوْٓا اَنُؤْمِنُ كَمَآ اٰمَنَ السُّفَهَآءُ ۭ اَلَآ اِنَّهُمْ هُمُ

ایمان راوړی دی خلقو نودوی وایی آیا مونږ ایمان راوړو چی څرنګه ایمان راوړی دی بیوقوفانو ، خبر سه دوی بس

السُّفَهَآءُ وَلٰكِنْ لَّا يَعْلَمُوْنَ ﴿١٣﴾ وَاِذَا لَقُوا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

بیوقوفان دی لیکن نه پوهیږي ، اوچی کله دوی مخ سی دهغه کسانو سره چی هغوی ایمان

قَالُوْٓا اٰمَنَّا ۚ وَاِذَا خَلَوْا اِلٰى شَيٰطِيْنِهِمْ ۙ قَالُوْٓا اِنَّا مَعَكُمْ ۙ اِنَّمَا

راوړی دی ،نو دوی وایی چی مونږ ایمان راوړی دی چی کوم وخت دوی یوازی سی خپلو شیطانانوسره نو دوی

نَحْنُ مُسْتَهْزِءُوْنَ ﴿١٤﴾ اَللّٰهُ يَسْتَهْزِئُ بِهِمْ وَيَمُدُّهُمْ فِيْ

بیشکه مونږستاسی سره یُو مونږخو(مسلمانانو) پوری خندا کوو ، الله خندا کوی په دوی پوری او دوی ته د دوی

طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُوْنَ ﴿١٥﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اشْتَرَوُا الضَّلٰلَةَ

په سرکښی کی مهلت ورکوی اوحالت دا دی چی دوی (دعقل) رانده دی دا هغه کسان دی چی دوی گمراهی

بِالْهُدٰى ۠ فَمَا رَبِحَتْ تِّجَارَتُهُمْ وَمَا كَانُوْا مُهْتَدِيْنَ ﴿١٦﴾

اخیستی ده دهدایت په بدله کی نو گټمن نه سو د دوی سوداگران او نه دوی هدایت کوونکی دی

مَثَلُهُمْ كَمَثَلِ الَّذِى اسْتَوْقَدَ نَارًا ۚ فَلَمَّآ اَضَآءَتْ مَا

د دوی مثال دهغه سړی په شان دی چی هغه اور بل کړی چی کوم وخت اور دده شاوخوا روښانه کی نو الله پاك

حَوْلَهٗ ذَهَبَ اللّٰهُ بِنُوْرِهِمْ وَتَرَكَهُمْ فِيْ ظُلُمٰتٍ

دده روښنایی ختمه او دوی یی په تیاروکی پرېښوولهٔ چی دوی

لَّا يُبْصِرُوْنَ ﴿١٧﴾ صُمٌّۢ بُكْمٌ عُمْيٌ فَهُمْ لَا يَرْجِعُوْنَ ﴿١٨﴾ اَوْ كَصَيِّبٍ

هیڅ نه لیده ، کاڼه دی گونگیان دی اوړانده دی نو دوی بیرته رجوع نه کوی ، یا د دوی مثال

مِّنَ السَّمَآءِ فِيْهِ ظُلُمٰتٌ وَّرَعْدٌ وَّبَرْقٌ ۚ يَجْعَلُوْنَ اَصَابِعَهُمْ

داسی دی چی په زور سره دآسمان څخه نه باران اوریږي او په هغه کی تیاری وی غرزهاری اوبریښنا وی نودوی

فِيْٓ اٰذَانِهِمْ مِّنَ الصَّوَاعِقِ حَذَرَ الْمَوْتِ ۭ وَاللّٰهُ مُحِيْطٌۢ

خپلی گوتی کی په خپلو غوږونو کی دتندرونو څخه دمرگ دبیری څخه نته باسی ، او الله پاك پرکافرانو باندی

بِالْكٰفِرِيْنَ ﴿۱۹﴾ يَكَادُ الْبَرْقُ يَخْطَفُ اَبْصَارَهُمْ ۭ كُلَّمَآ اَضَاۗءَ

احاطه کوونکی دی ، نژدې ده چې برېښنا د دوی سترګې (نظر) وتښتوي ، چې کوم وخت دوی ته برېښنا وسي

لَهُمْ مَّشَوْا فِيْهِ ڎ وَاِذَآ اَظْلَمَ عَلَيْهِمْ قَامُوْا ۭ وَلَوْ شَاۗءَ اللّٰهُ

نو دوی په دی رڼا کی په تلوسی او چی کوم وخت تیاره سی نو دوی ودرېږي ، او که الله پاک وغواړی

لَذَهَبَ بِسَمْعِهِمْ وَاَبْصَارِهِمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰي كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۲۰﴾

نو بوبه زی د دوی غوږونه او سترګی بیشکه الله پاک پر هرشی باندی قادر دی.

لنډتفسیر: په خلقو کی بعضی داسی دی ، چی وایی مونږ ایمان را وړی دی پر الله ﷻ باندی او پر آخری ورځ باندی حال دا دی چی دوی بالکل ایمان راوړونکی نه دی ، بلکه چم کوی الله ﷻ سره او هغه خلقو سره چی هغو ایمان راوړی دی (اوپه واقع کی) دچاسره چم نه کوی مګر دخپل ځان سره او دوی ددې شعور نه لری (یعني ددغه چمو بد انجام بس دوی به پورته کوی) د دوی په زړونو کی لوی مرض دی نو الله ﷻ نور لوی کی د دوی مرض (په دی مرض کی د دوی بد اعتقادی ، د اسلام او د مسلمانانو دترقی په لیدلو باندی په حسد کی سوزیدل او په هر وخت کی دخپل کفر په ظاهریدلو کی فکر مند کیدل شامل دی ، دمسلمانانو دترقی څخه د دوی دحسد مرض نور زیاتیدل په ډاګه خبره ده) او دوی دپاره دردناکه سزا ده ددې وجی څخه چی درواغ یی ویل (یعني د ایمان درواغجنه دعوٰی یی کوله) او چی کوم وخت دوی ته ویل کیږي چی فساد مه کوی پرمځکه کی نو دوی وایی مونږ خو اصلاح کوونکی یو (یعنی چی کوم وخت د دوی دوراني څخه کومی فتنی او فسادونه پیداسی او یو خیر خواه یی پوه کی ، چی داسی کارونه دفساد سبب دی ، دا پریږ دی نو په جواب کی دوی وایی چی مونږ فساد کوونکی نه یو اصلاح کونکی یو ، یعني خپل فساد اصلاح ګڼی) یاد لره بی شکه دا خلق فسادیان دی لیکن دوی ددې شعور نه لری ، دا د دوی دجهالت او غباوت بیان دی چی خپل عیب بس هنر بولی ، وروسی دبل جهالت بیان دی ، چی دنورو خلقو هنر (یعني یعني خالص ایمان عیب اوحقیر ګڼی) اوچی کوم وخت دوی ته وویل سی تاسی هم داسی ایمان را وړی چی څنګه نورو خلقو ایمان راوړی دی ، نو وایی چی آیامونږ ایمان را وړو لکه چی څنګه ایمان را وړی دی ، بي عقلانو ، یاد لره چی بی شکه دوی بیوقوفان دی لیکن دوی ته ددې علم نسته (دی منافقانو به داسی په ډاګه خبره دغریبو مسلمانانو په مخکی کوله ، چی دهغوی څخه دوی ته څه خطره نه وه ، که نه وی نو په عام توګه سره دوی به خپل کفر پټوی) اوچی کوم وخت منافقانو ایمان راوړونکو سره مخ سی نو وایی چی مونږ ایمان راوړی دی اوکوم وخت چی خپلو شریرو سردارانو سره یوازی سی ، نو وایی چی بیشکه مونږ تاسی سره یو مونږ خو (مسلمانانوسره) یوازی خندا کوو (یعني مونږ مسلمانانو ته دمسخری په توګه وایو چی مونږ ایمان راوړی دی که نه وی نو مونږ خو هم ستاسی

پر دول فکر لرونکی يو. دی پسی د دوی ددغه استهزاء جواب دی چی، الله ﷻ استهزاء کوی په دوی سره اومهلت ورکوی دوی ته چی دوی په خپله سرکشی کی حیرانه او سرگردانه وی (دالله ﷻ استهزاء دا ده چی دوی ته مهلت ورکول کیږي کوم وخت چی دوی په کفر کی کامل سی او جرم یی محکمه سی نو دغه وخت به ناڅاپه ونیول سی هر کله چی دالله ﷻ دا کار د دوی د استهزاء په مقابله کی وو نو ددی وجی څخه دی ته استهزاء وویل سوه) دا هغه خلق دی چی دوی دهدایت پرځای گمراهی اخیستی ده نو د دوی دا تجارت گټمن نه سو او نه دوی پرصحیح لاره باندی ولاړل (یعني په دوی کی دتجارت سلیقه نه وه چی دهدایت غوندی قیمتي شي یي په گمراهی بدل کی) د دوی حالت دهغه سړی په شان دی چی هغه او ربل کړی وی اوکله چی دا اور ددې سړی شاوخوا روښانه کی نو په داسی حالت کی الله ﷻ د دوی روښنایی ختمه کی او دوی په داسی تیاروکی پریږ دی چی بالکل څه نه وینی (نوځرنگه چی دا سړی او دده ملگری درناڅخه وروسته په تیاره کی پاته سول دغه ډول منافقان دحق تر واضحه کیدلو وروسته په تیارو کی ومبتلا او ځرنگه چی د اور بلوونکو سترگی غوړونه اوژبی په تیاره کی بی کاره سوی. هم دغه شان دگمراهی په تیاره کی تر گیریدلو وروسته ددی منافقانو دا حالت سو چی گویا) دوی کانی دی، گونگیان دی ړانده دی نو دوی څخه وروسته کیږي (چی د دوی حواس دحق دلیدلو، او ریدلو، او پوهیدلو دپاره قابو نه دی پاته سوی، دا مثال دهغه منافقانو دپاره دی چی هغوی په کفرکی کلك وه او هیڅکله یی د ایمان خیال په زړه کی نه را تلی ددي څخه دهغه منافقانو دمثال بیان دی چی هغوی په حقیقت کی په ترددکی وو. کله به یي چی د اسلام تاند ولیدی نو اسلام ته به مائله سوه بیاچی به ورباندی دنفسانی اغراضو غلبه وسوه نودا میلان به یي بدل سو) یاددې منافقانو داسی مثال دی لکه چی د آسمان دطرف څخه باران وی او په هغه کی تیاره هم وی اوگرزهار او پریښناهم، کوم خلق چی په دی باران کی روان وی نو هغه ننباسی خپلی گوتي په خپلو غوږونو کی دمرگ دبیری څخه، دتالاندی په وجه، اوالله ﷻ په کافرانو باندی احاطه کړي ده، دبریښنا دا حالت دی چی نژدی ده چی هغه د دوی نظر ختم کړی، کوم وخت چی لږ غوندی دوی ته دبریښنا په وجه ښکاره سی نو دوی تلل شروع کی اوچی کوم وخت تیاره سی نودوی ولاړ پاته سی اوکه چیري الله ﷻ غوښتلای نو د دوی غوږونه اوسترگی به یی لیري کړی وای (یعنی لکه چی ځرنگه داخلق په طوفان اوبادوباران کی کله دتلوڅخه پاته کیږی اوکله چی موقع پیدا کی، نو روانیږی، هم دغه شان حال ددغه متردد و منافقانو دی)

علوم او مسئلي

(د آیتونو ترون یو دبل سره)

لکه چی مخکی دا خبره بیانه سوي ده دسورة بقره په سرکی ددي خبری بیان دی چی قرآن دشك او شبهی څخه بالاتردی او تردي وروسته په شلو آیاتونوکی دقرآن دمنونکو او نه منونکو بیان دی. ددغه شلو آیاتو څخه په مخکنی پنځوآیاتونوکی دقرآن دمنونکو بیان دمتقیانو په عنوان سره سوي دی بیاتردی وروسته په دوو آیاتونو کی دقرآن دداسی نه منونکو ذکردی چی په ډاگه یي دقرآن څخه انکارکوی. او تردی وروسته په دیارلسو آیاتونوکی دداسی منکرانو اوکافرا نو ذکر دی چی په ظاهره به یي ځان ته

مومن مسلمان وایه لیکن په حقیقت کی مومنان او مسلمانان نه وه اودوی ته قرآن کریم دمنافقانو نوم ورکړي دی ددي دیارلسو آیاتونو په مخکنی دوو آیاتونوکی دمنافقانو په متعلق الله ﷻ فرمایی چی په خلقوکي بعضی داسی هم دی چی وایی مونږ ایمان راوړي دی په الله ﷻ باندی حال دا دی چی هغوی بالکل ایمان والا نه دی . بلکی دوی دالله ﷻ او دمومنانو سره فریب او دوکه کوی او په حقیقت کی دا دچاسره فریب او دوکه کول نه دی بلکی دخپل ځان سره دوکه کول دی لیکن دا خلق دديږ شعورنه لری .

په دی یی د دوی دایمان دعوٰی درواغجنه کړي ده اودایی ښوولی ده چی د دوی دا دعوٰی یوازی فریب او دوکه ده اوداظاهره خبره ده چی الله ﷻ ته څوك دوکه نه سی ورکولی اوغالبًا دی خلکو هم داسی نه گنڼل چی مونږ الله پاك ته دوکه ورکولای سو لیکن درسول ﷺ او دمسلمانانو سره چل اودوکه کول دالله ﷻ سره یوقسم دوکه اوچل کول دی ، نو په دی وجه ددی نتیجه داسوه چی داکم عقله دخپل ځان څخه ماسوا دبل چاسره دوکه نه کوی ، ځکه چی الله ﷻ دهری دوکی اوفریب څخه بالاتردی اودهغه رسول اومومنان هم دوحی په وجه د دوکی اوفریب څخه خلاص دی ، څوك دوی ته نقصان نه سی رسولای البته د دوی د دوکی اوفریب وبال په دنیا اوپه آخرت کی هم پردوی دی ، په دریم آیت کی فرمایی چی ، د دوی په زړونو کی ډیرلوی مرض دی اوالله ﷻ د دوی دامرض نورهم لوی کی ، مرض دهغه حالت نوم دی چی په هغه سره انسانان دخپل اعتدال څخه وزی اوپه افعالو (یعنی کارونوکی یي) خلل راسی اوچی دهغه آخری نتیجه هلاکت اومرگ وی ، دقرآن اوحدیث په اصطلاح کی دنفس هغه کیفیاتوته مرض ویل کیږی چی کوم دنفس انسانی په کمال کی خلل اچوی اوچی دهغوی په وجه انسانان دخپل انسانی عملونو څخه محرومه کیږی اوآخری نتیجه یی روحانی مرگ اوهلاکت وی ، حضرت جنید بغدادی رحمه الله فرمایلی دی چی دزړونو مرضونه دخواهشاتو نفسانیه وو دتابعداری څخه پیداکیږی ، لکه چی دانسان په بدن کی مرض داخلاطو دبی اعتدالی څخه پیداکیږی ، په دی آیت کی داویل سوي دی چی ددوی په زړونوکی چی کوم کفر پټ دی هغه یوداسی مرض دی چی روحانی هم دی اوجسمانی هم روحانی ځکه چی دخپل پیداکونکی اوپالونکی ناشکری اودهغه دحکمونو څخه سرکښی کول دانسان دروح دپاره ترټولو لوی مرض اودانسانی شرافت دپاره داډیرخراب داغ دی اوبله داچی ددنیادکوم قیمته غرضونو دپاره دغه کفر پټول او دخپل زړه دعقیدی دظاهرولو دپاره جرات نه لرل داهم یوه کمزوری ده چی دروح دپاره ډیر لوی مرض دی اوجسمانی ځکه چی دمنافق په زړه کی همیشه داتك وی چی دده اصلی حالت ظاهرنه سی شپه او ورځ په دی فکرکی اوسیدل یوجسمانی مرض دی ، اوداخبره چی الله ﷻ ددوی دامرض نورزیات کی ددی مطلب دا دی چی دا خلق داسلام اومسلمانانو دترقی څخه سوزی اوالله ﷻ دوی ته داترقی ورکوی اومنافقان هروخت داترقی وینی نوپه دی وجه ددوی دامرض لوییږی او زیاتیږی ، په څلورم او پنځم آیت کی دمنافقانو ددی مغالطی ذکردی چی

دوی فساد اصلاح گڼی او خپلو ځانونو ته مصلحین وایی نو قرآن کریم واضح کړه چی فساداو اصلاح په زبانی دعوو باندی نه موجودیږی ځکه چی غل او ډاکه وهونکی خو هم ځان ته په ژبه مفسدنه وایی مصلح وایی ، که زبانی وینادفسادیادا اصلاح دموجودکیدلو دپاره کافی وای نوغل اوډاکه مار به په خپلی زبانی ویناسره مصلح سوی وای بلکی دفساد اواصلاح دموجود کیدلو مدارپه هغه کار باندی دی چی کوم کارکول کیږی که چیری هغه فسادوی نوکونکی یی مفسددي ، که څه هم دده په نیت کی فسادنه وی ، په شپږم آیت کی منافقانوته دصحیح ایمان معیار کښیښول سو چی ، اٰمِنُوْاکَمَآ اٰمَنَ النَّاسُ یعنی ایمان راوړی لکه چی نورو خلګو ایمان راوړي دی ، په دی آیت کی دمفسرینوپه اتفاق سره دالنَّاس څخه مرادصحابه کرام ﷺ دی ځکه چی داهغه خلق دی چی دقرآن دنازلیدوپه وخت کی یی ایمان راوړی وو. اوداللهﷻ په نزد یوازی هغه ایمان معتبردی چی دصحابه کرامو ﷺ دایمان په شان وی په کمو شیانوچی څرنګه ددوی ایمان دی ، هغه شان ایمان که دنورو خلګووی نوهغه ته به ایمان والا ویل کیږی اوکه داسی نه وی نوایمان والا ورته نه ویل کیږی ، معلومه سوه چی دصحابه کرامو ﷺ ایمان یوبنیاد دی چی په هغه سره دټول باقی اُمّت دایمان ضمانت اخیستل کیږی چی کوم یوپردغه بنیاد صحیح نه وو نوهغه ته په شرعه کی ایمان نه ویل کیږی ، ددی بنیادخلاف هرعمل اوعقیده که هغه په ظاهره کی ښه هم وی اوپه ښه نیت او ارادی هم وسی داللهﷻ په نزد ایمان نه دی ، دی خلګوصحابه کرامو ﷺ ته بی وقوفه وویل او داخو دهری زمانی دګمراهانو طریقه ده چی څوك دوی ته صحیح لار ښیی نودوی هغه ته بی وقوفه وایی ، لیکن قرآن کریم وښوول چی په حقیقت کی هغوی پخپله بی وقوفان دی چی په داسی واضحو اوظاهره نښانو باندی ایمان نه راوړی ، په اووم آیت کی دمنافقانو دنفاق اودوه مخیزتوب ذکرداسی سوي دی چی داخلق به کوم وخت دمسلمانانو سره یوازی سول نوویل به یی چی مونږ مسلمانان یو، اوکوم وخت چی به دکافرانو سره مخامخ سول نوویل به یی چی مونږخو ستاسی سره یواو ستاسی دقوم غړی یو اودمسلمانانوسره که مونږ یو ځای سوی وو هغه یوازی دهغوی سره دمذاق کولو اوپه هغوی پوری دخندا کولو دپاره یوځای سوی وو ، په اتم آیت کی ددی احمقانو ددی وینا، چی مونږ په مسلمانانو پوری خنداکوو اوپه داسی کولو سره دمسلمانانو بی وقوفی ښکاره کوو جواب دی چی په اصل کی په داسی عمل کولو سره دوی خپل ځانونه بی وقوفان ثابتوی ، په نهم آیت کی ددی حال ذکر دی چی دوی (یعنی منافقانو) اسلام دنږدی څخه ولیدی اودده خوندیی واخستی اوپه کفرکی خودمخکی څخه مبتلاوه نودکفر اواسلام د دواړو دلیدلو اوپری پوهیدلو څخه وروسته دوی ددنیا دذلیلو غرضونوپه وجه داسلام په بدله کی کفر خوښ کی ددوی دی کارته قرآن کریم دتجارت نوم ورکی چی دی خبری ته اشاره وسوه چی په دی خلګو کی دتجارت کولو سلیقه نه وه چی وګوری چی څرنګه قیمتی شی یعنی ایمان یی ورکی او خراب اوضرر ورکونکی شی

یی واخستی ، په آخری څلورو آیاتونوکی دمنافقانو دحالت دپاره دوه مثالونه ورکول سوي دی اودډی مثالونوغرض دا دی چی دمنافقانو دحالت څخه نفرت وسی اودوه مثاله یی په دی غرض ورکړي دی چی منافقان دوه قسمه وه یوهغه وه چی په خپل کفرکی پاخه وه ، دایمان ښکاره کول به یی صرف هغه ځای کی کول چی هلته کی به ددنیاګټه وه ، دایمان اواسلام سره د دوی څه غرض نه وو، دوهم هغه وه چی اسلام دحقانیت څخه به متاثره سوه نوکله کله به یی دصحیح مسلمان کیدلو اراده هم وکړه لیکن بیابه دنیوی لالچ ورته مخکی سواوددغه ارادی څخه به یی منع کړه نودغه شانی دتذبذب اوترددپه حالت کی به پاته سوه ، ددغه مضمون په ضمن کی دی ظالمانوته داخبر داری هم ورکړل سوی وه چی دوی ټول دالله پاك دقدرت دګیرڅخه دباندی نه دی هغه په هروخت اوپه هرحالت کی دوی هلاکولای سی اودلیدلو اوداوریدو طاقت ددوی څخه اخستی سی ، دا دیارلس ایتونه چی په کښی دمنافقانو دحالت اودمثال بیان دی په ډیرو مهمو مسئلو حکمونو اوهدایاتو باندی مشتمل دی .

﴿ آیانفاق دنبي ﷺ په زماني پوري خاص ووکه اوس هم سته ؟ ﴾

په دی باره کی صحیح خبره دا ده چی دمنافق نفاق پیژندل اوده ته منافق ویل د دوو طریقوڅخه کیږی یوه داچی الله ﷻ خپل رسول ته دوحی په ذریعه ښوولی وی چی فلانی سړی منافق دی اوپه زړه مسلمان نه دی ، دوهم داچی دهغه یوه خبره یاعمل داسی وی چی دهغه څخه داسلامی عقیدی یاد اسلام دمخالفت ښکاره کیدنه کیږی ، دنبی ﷺ تروصال وروسته دوحی په ذریعه دمنافقانو دپیژند ګلوی لاره خوبنده سوه مګر دا دوهمه لاره خو اوس هم آزاده اوخلاصه ده ، دکوم سړی وینا اوعمل که داسی وی چی په هغه کی داسلام دیقینی قطعیو عقیدو مخالفت وی یاپه دی وینا اوعمل سره ددغو عقیدو سپکاوی وی او دا سړی دایمان اواسلام هم دعوٰی کوی نوداسی سړی منافق دی اودغه قسم منافق ته دقرآن په اصطلاح کی مُلحِد وایی: اِنَّ الَّذِيْنَ يُلْحِدُوْنَ فِيْ اٰيَاتِنَا اوپه حدیث کی ده ته زندیق وایی لیکن هرکله چی دده کفرپه دلیل سره ثابت اوواضح سو نوپه دی وجه دده حکم دټولو کافرو دحکم په شان سو، دده دپاره کوم جلاحکم نسته ، دغه وجه ده چی دامت علماء وایی چی ترنبی ﷺ وروسته دمنافقانو مسئله ګرسره ختمه ده اوس چی څوك مومن نه وی نوهغه ته به کافرویل کیږی .

﴿ (۲) دایمان اوکفر حقیقت ﴾

په دی ذکرسوو آیاتونو باندی په فکر کولوسره دایمان اواسلام او دایمان دمقابل یعنی دکفر حقیقت ښه واضح کیږی اوداځکه چی په آیاتونوکی (اٰمَنَّابِاللّٰهِ) دمنافقانو دایمان ددعوی ذکردی اوپه ، مَاهُمْ بِمُؤْمِنِيْنَ سره قرآن کریم د دوی دا دعوٰی دایمان غلطه ثابتوی ، غرض دا چی دا دواړی داسی جملی دی چی په دی باندی دغورکولو دپاره په لاندینیو شیانو باندی سوچ کول ضروری دی هغه شیان دا دی په قرآن کریم کی چی دکومو منافقانو بیان سوي دی هغه په اصل کی یهودیان وه ، اوپه الله ﷻ اوپه

ورځ دقيامت باندې ايمان لرل ديهودوپه مذهب کې ثابت اومسلم دی اوکوم شی چې ددغو منافقانو په عقيده کې نه وو يعنی دنبی ﷺ نبوت منل نو دوی دهغه ذکرپخپل بيان کې ونه کې بلکې يوازې دوه شيان يې ذکر کړل ، ايمان بالله اوايمان باليوم الآخر دا دوه شيان داسې دي چې په دې کې دوی ته دروغجن نه ويل کيږي نوبيا په قرآن کريم کې دوی ته دروغجن ويل او د دوی دايمان څخه انکارکول په څه وجه دی؟

خبره دا ده چې هر رنګه دخدای په ذات اقرار اويا دآخرت په ورځ اقرار ايمان نه دی څکه داسې خو مشرکان هم په څه ناڅه طريقې سره الله ﷻ منی اوتر ټولويې لوی قادرمطلق ګڼی ، ليکن دقرآن په نظرکی دا ايمان نه دی دقرآن په نظرکې معتبرايمان هغه دی چې کوم دقرآن کريم اودنبی ﷺ دښوول سوو صفتونو اوبيانونو موافق وو ، اوداظاهره خبره ده چې يهودوپه دغه ښوول سوو صفتونوسره نه په الله ﷻ باندې ايمان درلودی اونه په ورځ دآخرت باندې څکه چې دوی يوه طرف ته حضرت عزيرؑ ته دالله ﷻ زوی وايه اودآخرت په حقله يې هم غلطه عقيده درلوده چې دانبياوو اولاد چې څه کوی هغه په هرحالت کې دالله ﷻ خوښ دی او د دوی څخه به په آخرت کې دڅه پوښتنه هم نه وی ، اوکه چيری څه عذاب وی نو هغه به ډيرلږ غوندې وی ، نوپه دغه وجه دقرآن په ژبه کې د دوی دا ويناچې مونږ په الله ﷻ اوپه ورځ دآخرت ايمان راوړي دی غلطه اودرواغ سوه .

((۳) دکفر اوايمان ضابطه)

دقرآن په اصطلاح اوژبه کې ايمان هغه شی دی چې دهغه ذکر لوړ دسورة بقرې په ديارلسم آيت کې راغلی دی ، وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ اٰمِنُوْا كَمَآ اٰمَنَ النَّاسُ : ددې آيت څخه دا معلوميږي چې دايمان ددعوٰی دصحت يا دغلطی دمعلومولو دپاره معيار دصحابه وو کرامو ﷺ ايمان دی ، کوم ايمان چې دصحابه وو ﷺ دايمان برابرنه وی هغه دالله ﷻ او درسول ﷺ په نزد ايمان نه دی ، که چيری يو سړی يوه قرآنی عقيده په داسې ډول منی چې دهغه مطلب اومفهوم دخپل خواهش مطابق اودقرآن کريم دښکاره وينا اودرسول ﷺ دتشريح څخه خلاف بيانوی نو دده دغه منل ددغه عقيدی په باره کې شرعًا معتبرنه دی بلکه دا داسې ده لکه چې ده دا عقيده منلی نه ده ، ددې مثال داسې دی لکه چې نن صبا قاديانيان وايی چې مونږ دختم نبوت عقيده منو ليکن دوی دختم نبوت دعقيدی چې کوم مفهوم دی هغه په داسې ډول بيانوی چې په هغه کې دمرزا غلام احمد (عَلَيْهِ اللَّعْنَة) نبوت ته ځای حاصل سی اودابيان هم داسې بيان دی چې دنبی ﷺ دواضحو ويناګانو تحريف دی اودصحابه کرامو ﷺ دايمان څخه بالکل مختلف دی ، نودا قاديانان دقرآن کريم ددې صراحت په وجه چې ، وَمَاهُمْ بِمُؤْمِنِيْنَ : مسلمانان نه دی ، لنډمطلب دا دی که چيری يو سړی ديوی عقيدې يو نوی داسې مطلب جوړکی چې هغه دصحابه کرامو ﷺ دايمان څخه خلاف وی او په دې باندې ټينګ پاته سی نو دا سړی مومن مسلمان نه دی ، که څه

هم داسې دمسلمانانو سره په لمونځونو روژوکې شریك کیږي.

(دیوی شبهې لیرې کول)

دحدیث اوفقهې دامشهوره مقوله چې، اهلِ قبله ته کافرنه ویل کیږي ددې مطلب ددغه مخکې ذکرسوې آیت له مخه دا دې چې هغه اهل قبله وو ته کافر ویل نه دي په کارچې هغوي ددین په ضروریاتوکې دیوه شي څخه هم منکرنه وي که چیرې داسې نه سي نو بیامنافقانو دنورو مسلمانانوپه شان قبلې ته لمونځونه کول لیکن یوازې مخ په قبله لمونځ کول د دوی دایمان دپاره په دې وجه کافي نه سو، چې د دوی ایمان دصحابه کرامو ﷺ په شان ددین په تولو ضروریاتو باندې نه وو.

((۴) درواغ ډېره سخته گناه ده)

دمنافقانوپه دې وینا، اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَبِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ: ترفکر کولو وروسته دامعلومه سوه چې دامنافقان سره ددې خبرې چې دوی غټ کافران وه پخپل دانست سره د درواغو ویلوڅخه لیرې اوسي، هغه داسې چې دایمان ددعوې دپاره یوازې په الله ﷻ او په ورځ دقیامت دایمان ذکرکوي اودایمان بالرسول ذکرځکه نه کوي چې درواغ نه سي ددې څخه دامعلومه سوه چې درواغ داسې خرابه گناه ده چې یوشریف سړی، برابره خبره ده که هغه کافر وي اوکه فاسق درواغ ویل نه خوښوي، دا بیله خبره ده چې ددې منافقانو دایمان باالله دعوه اودایمان بالآخره دعوه دقرآن داصطلاح خلاف ده نوځکه درواغجن سوه که دا نه وي نو د دوی په خیال کې دوی په دې کې رینښتیني دي.

((۵) دانبیاؤ او اولیاؤسره بده معامله کول دالله ﷻ سره بدې کول دي)

مخکې ذکرسوو آیاتونوکې دمنافقانو یوحال دابیان سوي دی چې داخلق الله ﷻ ته دوکه ورکوي، حال دا دی چې دمنافقانو په فرقه کې داسې یونفربه لاهم نه ووچې هغه الله ﷻ ته د دوکې ورکولو اراده کړې وي یایې داگنلې وي چې دې الله ﷻ ته دوکه ورکولای سي، بلکې حقیقت دا وو چې دې خلکوبه رسول ﷺ اومومنانوته دوکه ورکوله اوپه دې لړکې به یې بدحرکتونه کول الله ﷻ په دې آیت کې دا وښوولې څوك چې دیوه رسول یاولې سره کومه بدې کوي هغه په حقیقت کې دغه شان معامله دخدای ﷻ سره کوي، بل طرف ته په دې آيت کې دنبي ﷺ دشان لوړوالي ته اشاره وسوه هغه داچې دنبي ﷺ په شان کې څه گستاخي کول داسې جرم دی لکه چې څرنگه دالله ﷻ په شان کې گستاخي کول جرم دی.

((۶) ددرواغو وبال)

په مخکې ذکر سوو آیاتونو کې دمنافقانو دعذابِ الیم وجه وُ بِمَا كَانُوْا يَكْذِبُوْنَ: یعنی د دوی درواغ ویل مقرر سول حال دا دی چې په دوی کې نور هم غټ گناهونه وه لکه کفر نفاق دمسلمانانو سره حسد ساتل او دمسلمانانو خلاف سازشونه کول لیکن د دوی دعذابِ الیم وجه د دوی درواغ ویل مقررسول او په دې کې دې خبرې ته اشاره وسوه چې د درواغو ویلوعادت د دوی اصلي جرم وو، او دغه

بدعادت (یعني دروغو) دوی کفر اونفاق ته ورسول ، نو په دغه وجه که چیری کفر اونفاق دجرم په حیثیت لوی جرم دی لیکن ددی ټولوبدوبیخ اوبنیاد درواغ دی ، دغه وجه ده چی قرآن کریم د درواغ ویل دبت پرستی سره یوځای کړل او د دواړوڅخه یی منع وکړه ، فرمایی.

فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْأَوْثَانِ وَاجْتَنِبُوْا قَوْلَ الزُّوْرِ.

ځان وساتی دبت پرستی دپلیتی څخه اوددرواغو ویلوڅخه.

((۷) دصلاح اوفساد تعریف اودمصلح اومفسد پیژندنه)

په مخکنی ذکر سوو آیاتونوکی تیر سوی دی چی کوم وخت دی منافقانوته وویل سی چی دخپل نفاق په وجه په مځکه کی فساد مه خپروی نو دوی به په ډیر زور اوتاکیدسره ویل ، اِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُوْنَ دلته اِنَّمَا (چی دحصر دپاره دی) دهغه په وجه دجملی معنٰی داسی سوه ، چی مونږ خوبس مصلحان یو یعنی زمونږ دیوه عمل دفسادسره څه تعلق نسته ، لیکن قرآن کریم دوی ته په جواب کی وویل ، اَلَا اِنَّهُمْ هُمُ الْمُفْسِدُوْنَ وَلٰكِنْ لَّا يَشْعُرُوْنَ : یادلره چی دغه خلق بس فسادیان دی لیکن دوی ته ددی احساس نسته.

ددی څخه دوی خبری معلومی سوي ، یوه داچی دمنافقانو سرگرمیانی په واقع کی په مځکه کی دفتنی او فساد دخپرولو اسباب وی دوهمه خبره داچی منافقانو دا سرگرمیانی دفتنی اوفساد دخپرولوپه نیت نه کولی بلکی دوی ته دامعلومه هم نه وه چی ددی نتیجه فتنه اوفساد دی ، لکه چی دقرآن کریم تصریح ده ، وَلٰكِنْ لَّا يَشْعُرُوْنَ : وجه دا ده چی په مځکه کی چی فتنه اوفساد دکوموشیانو څخه خپرېږی په هغه کی څه داسی دی چی هغه هرسړی فتنه اوفسادگنی لکه قتل لوټ غلا دوکه چل اغواء کول زناکول اونور چی هر پوهیدونکی یی شر اوفساد گنی اوهرشریف ددی څخه ځان ساتی اوڅه داسی هم دی چی په ظاهره کی څه فتنه اوفسادنه وی لیکن دهغه په وجه دانسانانو اخلاق خرابیږی اود انسانانو داخلاقو په غورځیدو سره دفتنو اوفسادونو ټولی دروازی خلاصیږی ، ددی منافقانو هم دغه حال ووچی دغلا لوټماری او زناڅخه به یی ځان ساتی نو په دی وجه یی دخپل ځان څخه دمفسد نفی کول اودمصلح ثابتول به یی په ډیرو زوررورو الفاظو سره کول ، لیکن نفاق حسد اوددی په وجه دښمن خلاف سازشونه داسی شیان دی چی دانسان اخلاق داسی تباه کوی چی بیا انسان دډیرو حیوانانو ترمیدان لاندی رالویږی اوانسان چی کوم وخت خپل انسانی اخلاق ضائع کی نوبیا دانسان دژوندپه هره شعبه کی بس فساد اوفسادوی اوفساد بیادومره لوی چی دداسی فساد امیدنه ددرندگانو څخه کیدی سی اونه دلوټمارانو څخه اونه دغلوڅخه ، ځکه چی د دوی فساد خو په قانون اودحکومت په طاقت منع کیدی سی ، لیکن قانون خو انسان جاری کوی ، کله چی انسان پاته نه سی نو دقانون چی کوم حشر کیږی دهغه تماشه نن صباپه رغړیدلو سترگو هرسړی په هره محکمه او اداره کی کوی ، نن ددنیا تمدن مخ پرترقی دی دزده کړی اودښوونی دادارو جالونه کلی په

کلی خواره واره دی ، دتهذیب الفاظ دهر سړی په ژبه جاری دی ، دقانون سازی مجلسونه گرم دی ، دقانون جاری کولو بی شمیره اداری داربونو روپیوپه خرڅ باندی قائمی دی ، لیکن جرائم فسادونه اوفتنی ورځ په ورځ زیاتیږی ، ددی وجه ماسوا ددی څخه بله نه ده چی یوقانون هیڅکله پخپله چلیدونکی ماشین نه وی ، بلکه قانون انسان چلوی او کله چی انسان خپل انسانیت بربادکړی نوبیاددی فساد علاج نه په قانون سره کیدی سی اونه په حکومت اومحکمو سره ، دغه وجه وه چی دانسانیت ډیر لوی احسان کوونکی نبی ﷺ خپله ټوله توجه په دی راغونډه کړي ده چی انسان په صحیح معنٰی کی انسان جوړسی نوبیابه فساد جرائم پخپله ختم سی او ترکومه پوری چی ددنیاپه یوه برخه کی دنبی ﷺ په تعلیماتو عمل کیدی سی نوددنیا هغه امن وامان یی ولیدی چی دهغه مثال نه مخکی یوځای لیدل سوی دی اونه به دده ﷺ دتعلیماتو ترپریښوولو وروسته ولیدل سی ، دنبی کریم ﷺ په تعلیماتو باندی دعمل کولو روح ، دالله ﷻ څخه بیره ده او دقیامت دورځی دحساب اوکتاب فکر ددی څخه پرته قانون اودستور اوکومه محکمه اومدرسه اویایو پوهنتون انسان دجرائمو څخه نه سی منع کولی ، دنن صباپه دنیاکی چی دکومو خلگوپه لاس کی دواك او اختیار واگی دی هغوی دجرائمو دمنع کولو دپاره نوی نوی طریقی په فکرکی راولی ، لیکن کله چی په دوی کی هغه روح یعنی خوفِ خدا نسته نو دغه طریقی دجرائموپه ختمولوکی کامیابی نه سوی بلکه فسادونه اوفتنی نوری هم زیاتی سوي ، بلکه داصلاحِ حال کومی قاعدی چی حکیم خبیر په شریعت کی مقررکړي دی بس هغه طریقی کارکوونکی دی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱعۡبُدُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِي خَلَقَكُمۡ

ای خلقو ! بندگی کوی دخپل پروردگار چی هغه تاسی پیدا کراست او هغه خلق یی پیدا کړل

وَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ٢١ ٱلَّذِي جَعَلَ

چی ترتاسی مخکې وه ددې دپاره چی تاسی پرهیزگارسی ، دهغه ذات (بندگی) چی هغه

لَكُمُ ٱلۡأَرۡضَ فِرَٰشٗا وَٱلسَّمَآءَ بِنَآءٗ وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ

تاسی دپاره مځکه فرش او اسمان چت جوړ کی ، او داسمان څخه یی اوبه راکښته کړی

مَآءٗ فَأَخۡرَجَ بِهِۦ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ رِزۡقٗا لَّكُمۡۖ فَلَا تَجۡعَلُواْ

او بیا یی ستا سی دخوراك دپاره میوی را وکښلی ، نو الله پاك دپاره شوك

لِلّٰهِ اَنْدَادًا وَّ اَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۲۲﴾

مقابل مه گرځوی او تاسی خو پوهیږی.

تفسیر: ای خلګو! عبادت کوی دخپل پروردګارچی هغه تاسی پیداکړاست اوهغه خلګ هم چی ترتاسی مخکی وه عجیبه نه ده چی تاسی د دوږخ څخه خلاص سی (په شاهی ویناکی داعجیبه نه ده الفاظ دوعدی دپاره راځي) هغه پاك ذات داسی دی چی هغه ستاسی دپاره مځکه فرش اوآسمان چت جوړ کړی او دآسمان څخه یی اوبه اوروَلی بیایی (دعدم دپردی څخه) ددغه اوبوپه ذریعه دمیوڅخه خوراك ستاسی دپاره راوایستی، نو تاسی مه ګرځوی دالله ﷻ مقابل اوتاسی خوپوهیږی (یعنی دا درته معلومه ده چی داټول تصرفات اوکارونه دالله ﷻ څخه ماسوا بل څوك نه کوی نوبیادالله ﷻ په مقابله کی نور شیان معبودان ګرځول څنګه صحیح کارکیدی سی ؟)

علوم اومسئلي

دآیتونو دیوبل سره تړون : په مخکی شلو آیاتونوکی چی دکومو درو فرقو یعنی مومن متقی په ښکاره کافر اودمنافق ذکر وسو اوس په دی دوو آیاتونو یعنی یو ویشتم دوه ویشتم آیت کی دغه دروسره فرقوته خطاب دی اوهغه دعوت اوبلنه سوې ده چی دکومی دپاره قرآن نازل سوی دی په دی آیاتونوکی دمخلوق پرستی څخه منع اودیوه خدای پاك عبادت کول په داسی طریقی سره بیان سوي دی چی ددعوی سره سره دهغی روښانه دلائل هم سته داسی روښانه دلیلونه چی معمولی پوهه لرونکی که چیری غور وړباندی وکی نو دتوحیدپه اقرار به مجبورسی، دمخکنی آیت شروع په یٰاَیُّهَا النَّاسُ سره وسوه اوداَلنَّاسُ لفظ په عربی ژبه کی مطلق انسان ته وایی نوپه دی وجه په دی کی دا دری سره ذکر سوی ډلی داخلی سوی اودوی ته په اُعْبُدُوْا رَبَّکُمْ سره ارشاد اوحکم وسو، دعبادت معنٰی ده خپل ټول طاقت په مکمل فرمانبرداری کی خرڅ کول اودمعبود دلوی والی داسی احساس لرل اوده څخه داسی بیره کول چی بنده بیاپه خپل وس دهغه دنافرمانی څخه ځان ساتی (روح البیان ج ۱ ص ۷۴)

درب معنٰی ده پروردګار، او ددی پوره تشریح مخکی تیره سوې ده ، نو ترجمه داسی سوه چی ، عبادت کوی دخپل پروردګار دلته درب دلفظ په ځای الله یابل داسماءِ حسنٰی څخه یونوم لګیدی سوای ، لیکن په دوی کی یوازی درب دلفظ انتخاب ددی دځای دپاره ددی وجی څخه سوي دی چی درب په لفظ کی دمدعا دپاره یعنی دالله پاك عبادت کولو دپاره دلیل دی نوګویا درب په لګولو کی دلته ، غرض او مقصد دا دی چی مدعا سره دلیل راسی او لنډه جمله کی دواړه شیان په یو وار حاصل سی ، دلیل ددې وجی دی ، چی درب معنی ده، پالونکی، اوچی کوم ذات دانسان دپاللو ذمه اخیستی ده اوچی دیوه څاڅکی څخه یی غټ پټ او ریدونکی لیدونکی عاقل ماهرانسان جوړکړي دی اوبیایی

دبقا اودترقی دپاره هغه ته ذریعی ورکړي دي نودغه ذات بس دعبادت حقدار کیدی سی نه بل څوك.
اوپه دی هرسړی پوهیږی چی دغه دربوبیت شان دالله ﷻ دذات څخه ماسوابل چاته حاصل نه دی اوپرانسان باندی انعامات مربیانه نه دډیری څخه تراشل سوی بت کړي دی اونه یوه بل مخلوق اودوی به یی څرنگه وکی چی دوی په خپله په خپل وجوداوبقاء کی دغه یوه ذات ته محتاجه دی نویومحتاج به دبل محتاج څه حاجت پوره کی اوکه چیری په ظاهره څه وکی هم نوهغه په حقیقت اواصل کی دهغه ذات کاردی چی هغه ته دا دواړه محتاجه دی، خلاصه داسوه چی دلته درب دلفظ په راوړو سره دا واضحه سوه چی دالله ﷻ دذات څخه ماسوا بل ذات معبود څکه نه سی کیدی چی هغه پالونکی نه دی اومعبود هغه وی چی پالونکی وی، په دی جمله کی دری واړو ډلوته خطاب اووینااده او دهری یوی ډلی په اعتبار دجملی معنٰی اومطلب جلاجلا دی، یعنی دکافرو په حقله دخپل پروردگار دعبادت کولو مطلب دا دی چی مخلوق پرستی پریږدی اوتوحید اختیارکی او دمنافقانوپه حقله ددی جملی معنٰی دا ده چی نفاق پریږدی اواخلاص په خان کی پیداکی اودگنهگارو مسلمانانوپه حقله ددی جملی معنٰی دا ده چی په خپله فرمانبرداری اوعبادت باندی ټینګ اوسی اوپه دی کی دترقی اودزیات والی کوشش کوی (روح البیان).
تردی وروسته بیادرب دلفظ څه خاص صفتونه ذکرسوی دی اودا ددی دپاره چی ددی مضمون (یعنی دالله ﷻ دعبادت کولو) زیات وضاحت وسی، نوفرمایي: اَلَّذِیْ خَلَقَكُمْ وَالَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ یعنی ستاسی پالونکی هغه دی چی تاسی یی پیداکړاست اوهغه قومونه یی پیداکړه چی ترتاسی مخکی وه، په دی کی درب هغه صفت وښوول سوچی دچاپه وهم او خیال کی نه راځی چی دا دی دالله ﷻ څخه علاوه په بل کوم مخلوق کی هم راتلی سی، هغه دا چی دنیست څخه سته کول اوبیادمور دنس په تیارو اوگندگیو کی داسی ښائسته اوپاك انسان جوړول چی ملائکی هم دهغه په ډول پاکی دځان دپاره غواړی دالله ﷻ دذات څخه ماسوا بل څوك نه سی کولی، داسی ذات چی چاته محتاج نه دی اوټول ده ته محتاج دی، په دی آیت کی دخَلَقَكُمْ سره دَالَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ زیاتوالی سوي دی، په دی کی داښودنه وسوه چی ستاسی او ستاسی دپلرونوخالق اودټول بنی نوع انسان خالق اوپروردگاریودی، بله داچی یوازی دمِنْ قَبْلِكُمْ ذکریی وکی اودمِنْ بَعْدِكُمْ یعنی دوروسته پیداکیدونکو خلګو ذکریی ونه کی، نو په دی کی دی خبری ته اشاره ده چی ترامت محمدیه ورسته کوم بل دوهم امت او ملت به نه وی څکه چی ترخاتم النبین ﷺ وروسته نه بل کوم نبی راځی اونه به کوم نوی امت وی ، تردی وروسته ددی آیت آخری جمله ده ، لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ یعنی په دنیاکی دگمراهی څخه اوپه آخرت کی دعذاب څخه دخلاصیدو امید تاسی ته یوازی په دی شکل کی کیدی سی چی تاسی توحید اختیارکی اودشرك څخه منع سی، بیاپه بل آیت کی درب دنورو صفتونو ذکریی داسی وکی ، اَلَّذِیْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ فِرَاشًا وَّالسَّمَآءَ بِنَآءً

وَأَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجَ بِهِ مِنَ الثَّمَرَاتِ رِزْقًا لَّكُمْ . یعنی رب هغه ذات دی چی هغه ستاسی دپاره مځکه فرش پیداکړي ده او آسمان چت اودآسمان څخه یی باران اورولی دی اوبیایی په دغه اوبوسره دنیست دپردی څخه ستاسی دخوراك دپاره میوی راایستلی دی، تردی په مځکی آیت کی دهغو نعمتونو بیان ووچی دانسان دذات سره یی تعلق دی اوپه دی آیت کی دهغو نعمتونو ذکردی چی په انسان باندی دګیرچاپیره شیانوسره یی تعلق دی مطلب داچی په اولنی آیت کی دانفسی نعمتونو اوپه دوهم آیت کی دآفاقی نعمتونوپه ذکر کولو سره دټولو نعمتونو دقسمونوبیان راوستلی دی، په دغه آفاقی نعمتونوکی دمځکی دپیداکیدو ذکردی چی دایی دانسان دپاره فرش جوړکړي دی د اوبوپه شانی نرمه نه ده چی سړی نه پرتینګیږی اونه د اوسپنی اوکانی په شانی سخته ده چی مونږدا دخپلوحاجتونو پوره کولو دپاره په آسانه استعمالولی نه سو، بلکه دنرمی اوسختوالی په مینځ مینځ کی جوړه سوي ده چی هریوه انسان ته دژوندپه ضروریاتو کی په کارراځی ، دفراش دلفظ څخه دانه لازمیږی چی مځکه ګردی نه ده څکه چی دمځکی داعظیم الشانه کُره دګردی والی سره هم یوه هواره سطحه ښکاری اودقرآن عامه طریقه دبیان دا ده چی دی دهرشی هغه کیفیت بیانوی چی په هغه هر سړی پوهیدی سی برابره خبره ده که داسړی عالم وی اوکه جاهل وی ښاری وی اوکه دباندی اوسیدونکی، دوهم نعمت دا دی چی آسمان یی یوښائسته اونظر راکشونکی چت جوړکړی دی ، دریم نعمت دا چی دآسمان څخه یی اوبه اورولی دی ، دآسمان څخه داوبو اورولومطلب دا نه دی چی دا وریځی څخه باران نه اوریږی څکه چی دآسمان څخه مراد هر هغه شی دی چی ترسر لوړوی اووریځ هم ترسرلوړه ده، بلکه دقرآن په ډیرو ځایونوکی دوریځو څخه دباران دوریدو ذکرسوی دی، مثلاً.

ءَأَنتُمْ أَنزَلْتُمُوهُ مِنَ الْمُزْنِ أَمْ نَحْنُ الْمُنزِلُونَ (الواقعه) آیادباران دا اوبه دسپینو اوریځوڅخه تاسی را اورولی دی اوکه مونږ؟

اوپه بل ځای کی ارشاد دی ، وَأَنزَلْنَامِنَ الْمُعْصِرَاتِ مَاءً ثَجَّاجًا (النبآء) اومونږ دډکو اوریځوڅخه په شیبو شیبو باران وورولی دی.

څلورم نعمت ددی اوبوپه ذریعه میوه پیداکول اودمیوڅخه دانسانانوخوراك پیداکول دی، دپروردګارِ عالم په څلورو ذکرسوو صفتونوکی مځکنی دری خبری خوداسی دی چی په دوی کی د انسان عمل اوکوشش خولاپریږده چی کوم وخت مځکه اوآسمان پیداوه اووریځو اوبارانونو خپل خپل کارونه کول ، د دوی په اړوند یو بی وقوفه جاهل هم شك اوشبهه نه سی کولی چی داکارونه دالله ﷻ څخه ماسوا یوانسان یابت یاکوم بل مخلوق به کړی وی ، البته دمځکی څخه میوه پیداکول اودمیوی څخه دانسان خوراك پیداکول یوداسی شی دی چی په دی کی یوسرسری نظرلرونکی ته شك پیدا کیدی سی چی دا د انسان دسعی اوکوشش اوهوښیارانه تدبیرونو نتیجه ده چی دا قسم میوی پیدا

کیږي او د انسان دخوراك مسئله پرې حل کیږي ، لیکن قرآن کریم په نورو آیاتونوکي دا خبره هم صفا کړي ده چي دیوې درختي په زرغونولو کي یا په میوو را ایستلوکي دانسان دټولو تدبیرونو اومحنتونو حاصل په دې لړکي ددې څخه ماسوا بل څه نه دی چي ده دپیداکیدونکي درختي دلارې څخه خنډونه لیرې کړه ، فکر وکې چي مځکه کیندل په مځکه کي یوې کول اودمځکي څخه وچي درختي اوبې ثمره بوټي کښل په هغه کي تیش اچول اومځکه نرمول چي دزمیندارانو مځکي اواولني کار دی ددې مطلب ددې څخه ماسواڅه دی چي دتخم اودانې څخه نرمې تیغې دالله پاك په قدرت ووزې دمځکي سخت والې یاکمې لښتې اونورشیان ددغه نرمو تیغوپه لاره کي خنډ نه سي؟ دتخم څخه نرمې تیغې را ایستل اوپه هغه کي ګل اوپاڼې پیداکول دزمیندار دمحنت اثر نه دی په دې کي دزمیندار دمحنت هیڅ دخل نسته ، دغه شان دزمینداری دوهم کار په مځکه کي تخم اچول بیادې حفاظت کول بیاچي کمې تیغې رااوخیژي دهغه دګرمې یخ اودحیوان څخه حفاظت کول دې ددې حاصل ددې څخه ماسوابل څه دی؟ چي دالله ﷻ په قدرت سره پیداکیدونکي تیغونه دضائع کیدوڅخه وساتل سي ، دې ټولو کارونو لره دیوې ونې په را توکیدو کي یادهغې په لوییدوکي هیڅ دخل نسته ، البته دومره ده چي په دې کارونوسره د درختي په راتوکیدوکي چي څه خنډونه وه هغه لیرې سوه ، پاته سوه دونې پیداکیدل او دهغه لوییدل اوپه هغه کي پاڼې څانګې بیاګل اومیوه پیداکیدل داټول دالله ﷻ په قدرت کیږي، په دې کي هیچا ته دخل نسته ، دا مضمون قرآن کریم داسې بیان کړي دی ، أَفَرَأَيْتُم مَّا تَحْرُثُونَ ۞ أَأَنتُمْ تَزْرَعُونَهُ أَمْ نَحْنُ الزَّارِعُونَ ۞ وښیه چي کوم شیان تاسې کوې هغه تاسې زرغونوې او که یې موږ زرغونوو ؟

ددې تفصیل څخه دا معلومه سوه چي څرنګه دمځکي اوآسمان په پیدا ښت کي اودباران وریځې او دبریښناپه منظمه سلسله کارکي دانسان سعې اوکوشش ته څه دخل نسته ، هم دغه رنګه په زمینداری کي اودبوټوپه پیداکیدوکي اودهغوی څخه دګل اومیوې په راوتلوکي دانسان څه دخل نسته، اوکه څه دې هغه برای نام دي اوپه اصل کي داټول کارونه دالله ﷻ په قدرت کامله اوحکمت بالغه سره کیږي .

لنډه داچي په دې آیت کي دالله ﷻ دداسې څلورو صفتونو بیان دی چي بغیر دده څخه په بل چاکي نه موجودیږي اوکله چي ددې دوو آیاتونوڅخه دامعلومه سوه چي انسان دنیست څخه ستړ ته راوستل اوبیا دده دبقاء اوترقي اسباب دمځکي آسمان باران ګل اودمیوې په ذریعه پوره پوره ور رسول دالله ﷻ دذات څخه ماسوادبل چاکارنه دی نویو لږغوندي پوهه لرونکي انسان به په دې یقین کولو مجبور سي چي دعبادت اواطاعت حق دار یوازې دغه ذات دی او تردې به لوی ظلم کوم وي ؟ چي الله ﷻ انسان موجودکي اودهغه دبقاء اوارتقاء دپاره یې انتظام وکي اوغافل انسان دنوروپه وړاندې سجده کوي اودنورو شیانوپه بندګي مشغوله کیږي .

الله ﷻ خوانسان دخپلو ټولو مخلوقاتو سردار ددی دپاره جوړکړي دی چی ټول کائنات دده خدمت وکی اودی یوازی دکائناتو دپروردګار عبادت وکی لیکن غافل انسان پخپله کم عقلی سره چی کوم وخت الله ﷻ هیرکی نو دغه غافل انسان دیوه خدای دغلامی په ځای داویا کروړو خدایانوپه غلامی کی ونښتی ددی نورو دغلامی ځخه دخلاصی دپاره ددی آیت په آخرکی الله ﷻ فرمایي ، فَلَا تَجْعَلُوْا لِلّٰهِ اَنْدَادًا وَّاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ : نو اوس تاسی مه جوړوی دالله ﷻ مقابل اوتاسی خو پوهیږی یعنی کله چی تاسی په دی پوه سی چی ستاسی دنیست نه سته کوونکی اوستاسی تربیت کوونکی اوپالونکی اوستاسی داستوګنی دپاره دمځکی اونورو ضروریاتو دپاره آسمان پیداکوونکی اودآسمان ځخه باران اوروونکی د اوبوځخه میوه اودمیوی ځخه خوراك پیداکوونکی دالله ﷻ دذات ځخه ماسوا بل نسته نو دعبادت اوبندګی مستحق اوحقداربل څوك کیدی سی چی هغه دالله ﷻ مقابل یاحصه دار اوشریك وګڼل سی؟ که چیری لږغوندی فکر وسی نوپه دی دنیاکی تردی لوی ظلم بی وقوفی اوبی عقلی کیدی نه سی چی الله ﷻ پریښوول سی او په مخلوق باندی باور وکړل سی .

لنډه دا چی په دی دوو آیاتونوکی دهغه شی دعوت ورکول سوي دی چی دټولو آسمانی کتابونو او دټولو پیغمبرانوعلیهم السلام دلیږلو اصلی مقصد دی یعنی یوازی دیوه خدای عبادت اوبندګی، او ددی نوم توحیددی ، او دا هغه انقلابی نظریه ده چی دانسان په ټولو عملونو حالاتو اخلاقو او د ژوند دتیرولو په طریقو باندی ژور اثرکوی ، ځکه چی کوم سړی دا یقین وکی چی دټول عالم خالق اومالك او په ټول نظام عالم کی متصرف اوپه ټولو شیانوباندی قادر یوازی یوذات دی ، بغیرددہ دارادی ځخه نه یوه ذره حرکت کولی سی نه څوك چاته نفع اونقصان رسولی سی نو دهغه ټوله توجه په هر مصیبت او راحت کی او هری تنګی او فراخی کی یوازی په یوذات باندی به وی اوده ته به هغه بینایی حاصله سی چی دهغه په وجه به دی دظاهری اسبابو حقیقت وپیژنی چی داسبابو سلسله په حقیقت کی یوه پرده ده چی تردی وروسته دقدرت لاس کارکوونکی دی .

(دچاعمل دهغه دخلاصي اوپه جنت کي دداخلیدو یقیني سبب نه دی)

په لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ : جمله کی دلَعَلَّ لفظ استعمال سوي دی دلَعَلَّ معنی امیددی اوپه داسی ځایونوکی ویل کیږی چی هلته دیوکار کیدل یقینی نه وی ، دایمان اودتوحید په نتیجه کی خلاصون اودجنت حاصلیدل دالله ﷻ دوعدی موافق یقینی وی لیکن ددغه یقینی شی دامیدپه عنوان سره په بیانولوکی دا حکمت دی چی دانسان هیڅ یوعمل پخپله دخلاصون اودجنت قیمت جوړي دی نه سی بلکه ددی اصل سبب دالله ﷻ فضل دی ، دایمان اوعمل کولو توفیق ورکول ددی فضل خداوندی علامه ده سبب اوعلت یی نه دی .

(دتوحيد عقيده په دنياکي دامن وآمان سکون اواطمينان ضامنه ده)

دتوحيدعقيده چي داسلام ترټولو اوله بنيادي عقيده ده دايوه نظريه نه ده بلکه دانسان دپاره په صحيح معنیٰ کي دانسان جوړولو ذريعه ده اودا دانسان دټولو مشکلاتودپاره حل اوپه هرحالت کي دهغه دپاره دامن ځاي اوپه هرغم کي دهغه مددګاره او معاونه ده ، ځکه چي دتوحيد دعقيدي حاصل دادي چي دعناصرو دکون اوفساد او د دوي تغيرات بس ديوي هستي په اراده کيږي ، او ظاهره ده چي دچاپه زړه اودماغ باندي داعقيده خپره سي اودهغه داحال جوړسي نودادنيابه دهغه دپاره جنت سي ، ټولي جګړي اوفسادونه به ختم سي ددي عقيدي خاوند دټولي دنياڅخه بي نيازه وي ، په زړه کي بي دالله ﷻ څخه ماسوا دبل چاڅخه بيره نه وي ، دلاَاِلٰهَ اَلاَّ اللهُ دکلمي چي دي ته کلمه توحيد وايي هم دغه مطلب اومعنیٰ ده ليکن داظاهره ده چي دتوحيد دپاره زباني اقرارکافي نه دی بلکه ددي دپاره دزړه يقين هم ضروري دی، دلاَاِلٰهَ اَلاَّ اللهُ ويونکي خونن په دنياکي په کروړنو دي اودومره دي چي مخکي دغومره نه وه ليکن په عام طور دايوازي دژبي تکليف دي چي دوي بي کوي دتوحيد رنګ په دوي کي نسته ، که چيري داسي نه واي نو د دوي به هغه حال واي چي کوم دمخکنيو بزرګانوو، چي نه څه لوي طاقت دوي مرعوب کولي سواي اونه ديوه قوم دشمير زيات والي په دوي اثرغورځولي سواي د پيغمبرانووروسته صحابه اوتابعين چي په لږغوندي موده کي په دنياکي خپاره سوي وه ددوي دطاقت اوقوت حقيقي رازپه توحيدکي وو ، الله ﷻ دي مونږ ټولو مسلمانانوته دا دولت رانصيب کي ، آمين .

وَإِنْ كُنْتُمْ فِي رَيْبٍ مِمَّا نَزَّلْنَا عَلَىٰ عَبْدِنَا فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِنْ مِثْلِهِ

که چيري تاسي په شك کي ياست ددغه کلام په باره کي چي ماخپل بنده باندي نازل کړی دی نوتاسي يوسورة

وَادْعُوا شُهَدَاءَكُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ إِنْ كُنْتُمْ

دغه دول راوړی اودی دپاره راوبلی خپل مددګاران دالله پاك څخه ماسوا — که چيري تاسي

صَادِقِينَ ﴿٢٣﴾ فَإِنْ لَمْ تَفْعَلُوا وَلَنْ تَفْعَلُوا فَاتَّقُوا النَّارَ

صادقان ياست ، که چيري تاسي ونه کړل او هرګز به ونه کړل سي نو بيا ځان محفوظ کی دهغه اورڅخه

الَّتِي وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ ۖ أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ ﴿٢٤﴾

چي دهغه لرګی او خشاك انسانان او کاڼي دي — اوتيارکړل سوی دی کافرانو دپاره .

لنډتفسير: که چيري تاسي خلکو ته څه تر د دوي ددي کتاب په حقله چي مونږ په خپل خاص بنده باندي

نازل کړي دي نو بیاتاسي لږشاني برخه چي ددي کتاب په شاني وي ، جوړه کي او رايي وړي ، (ځکه چي ستاسي هم عربي ژبه زده ده او دعربي ژبي په نظم او نثر دواړوباندي ښه پوهیږي او ددي دواړو قسمونوتاسي مشقونه کړي دي ، پیغمبر ﷺ ددي څه مشق نه دی کړی خو ددي باوجود تاسي دقرآن دلږ غوندي برخي مثال جوړ ولی نه سی نو دانصاف تقاضا دا ده چي دامعجزه دالله ﷻ دطرفه ده اونبي ﷺ دالله ﷻ پیغمبردی) او را وغواړی خپل مددګاران چي تاسي دالله ﷻ څخه ماسوا مقررکړي دي که چیری تاسي په رښتیا یاست که چیری تاسي دا کارونه کی او ترقیامته به ونه سی نوبیا ځان خلاص کی دهغه دوږخ څخه چي دهغه خشاك انسان اوکاڼي دي اوتیارسوي دي دکافرانو دپاره .

علوم اومسئلي

(دآیاتونو تړون دمخکي آیاتونو سره او د دوی مضمون اودمضمون خلاصه)

ددي دوو آیاتونو مخکي په دوو آیاتونو کي دتوحید ثبوت وو اوپه دي دوو آیاتونوکي دمحمد ﷺ دپیغمبری ثبوت دی ، دقرآن کریم دهدایت دوې لوی لوی ستنی دي یو توحید اوبل رسالت په مخکي دوو آیاتونوکي دالله ﷻ دځوخاصو کارونو په ذکر کولو سره توحید ثابت سو او په دي دوو آیاتونو کي دالله ﷻ دکلام په مخکي کولو سره دنبي ﷺ رسالت ثابت سو ، او د دواړو دثابتولو طریقه یوه ده ، ځکه چي په مخکي دوو آیاتو کي دځو داسي شیانو ذکر سوی دي چي هغه دالله ﷻ څخه بغیربل څوك کولی نه سي ، مثلاً دمځکي اوآسمان پیدا کول دآسمان څخه اوبه را اورول او د اوبو څخه میوه اوګل پیدا کول داستدلال خلاصه دا وه چي کله داکارونه دالله ﷻ څخه ماسوا بل څوك کولی نه سی نو دعبادت حقدار دهغه څخه ماسوا بل هم کیدی نه سی ، اوپه دي دوو آیاتونوکي دیو دا سي کلام ذکر سوي دی چي دالله ﷻ څخه ماسوا دبل چاکیدلی نه سي اونه یوانسان یادیرانسانان ددي مثال را وړلی اوجوړولی سي څرنګه چي دمځکي اوآسمان دجوړولو څخه اودآسمان څخه دباران داورولو څخه او دباران څخه دمیوی دپیداکولو څخه انسان عاجزه دي او دا ددي خبری دلیل دي چي داکارونه یوازی دالله ﷻ دي نو هم دغه رنګه دکلامی الهي دمثل اونظیر جوړولو اومخکي کولوڅخه دټول مخلوق عاجزه کیدل ددي خبري دلیل دي چي داکلام دالله ﷻ کلام دي دکوم مخلوق کلام نه دی ، په دي آیت کي قرآن کریم دټولی دنیاانسانانوته خطاب کړي دي او ویلي یی دي که چیری تاسي داکلام دالله ﷻ کلام نه ګڼی بلکه دیوه انسان کلام یی ګڼی نوبیاتاسي هم انسانان یاست ، په کار دي چي تاسي هم په داسي کلام جوړولو باندي قادر وای ، ټول کلام خو پریږده ددي کلام دیوی کوچنی توټی مثال جوړ کي او وی ښیاست اوتاسي ته دا آساني هم درکیدي سي که چیري یی یوسړی یوازی نه سی جوړولی نو تاسي ته اجازت دي چي دټولی دنیاڅخه خپل مددګاران راجمع کی اوبین المللی غونډه وکی او ددي قرآن دیوه کوچنی غوندی سورت مثال جوړکی او رامخکي یی کی ، په دوهم آیت کي دوی ته یی

غیرت ورکی چی ستاسی طاقت نسبته چی داسی یو سورت جوړکی ، تردی وروسته دعذاب څخه یی وبیرول چی کله تاسی ددی کلام په شان کلام دجوړولو څخه خپل ځان عاجزه وینی چی داصفا دلیل ددی خبری دی چی دا دانسان کلام نه دی بلکه دیو داسی ذات کلام دی چی ترټول مخلوق بلند او بالاتردی اوچی دهغه قدرت په هرشی باندی خپور دی نو بیاپه دی باندی ایمان نه راوړل په خپل لاس خپل ځان په دوږخ کی اچول دی ددی څخه ځان وساتی .
حاصل دا دی چی په دی دوو آیتونوکی دا ښوونه سوې ده چی قرآن کریم دنبی ﷺ یوه لویه معجزه ده او قرآن شریف دنبی ﷺ درسالت او دده دریښتیاوالی ثبوت دی دنبی کریم ﷺ معجزی خو په زرګونو دی او داسی معجزی دی چی سړی ورته حیران پاته کیږی ، لیکن په دی ټولوکی په دی ځای کی یعنی دنبی کریم ﷺ درسالت دثبوت په موقع کی په قرآن باندی چی علمی معجزه ده بس والی ددی وجی څخه وسو چی دا وښوول سی چی دا دنبی کریم ﷺ ترټولو لویه معجزه ده او دی معجزی ته دنورو انبیاؤ علیهم السلام دعامو معجزو په مقابله کی دا خاصیت حاصل دی چی دا معجزه دنورو پیغمبرانو دمعجزوپه شان وقتی معجزه نه ده چی یو وخت وه او بیابه نه وی بلکه ترقیامته پوری به وی، وَاِنْ کُنْتُمْ فِیْ رَیْبٍ دریب دلفظ په معنٰی کی امام راغب رحمه الله (مفردات القرآن ص۲۰۴) لیکی چی ریب هغه شك تردد او وهم ته وایی چی دهغه څه بنیادنه وی او په معمولی سوچ اوفکرسره ختمیږی هم دغه وجه ده چی په قرآن کریم کی په بل ځای کی وایی چی اهل علم که څه هم دوی مسلمانان هم نه دی په قرآن کی شك نه کوی .
الله ﷻ فرمایي ، وَلَا یَرْتَابَ الَّذِیْنَ اُوْتُوا الْکِتٰبَ وَالْمُؤْمِنُوْنَ : اوهم دغه وجه ده چی دسورة بقره په اول کی دقرآن متعلق وفرمایل سول ، وَاِنْ کُنْتُمْ فِیْ رَیْبٍ : یعنی که څه هم قرآن کریم دخپلو واضحو اومعجزو دلیلونو په وجه دځه شك اوتردد شی نه دی بیاهم که چیری تاسی دخپل ناواقفیت په وجه څه تردد کوی نو بیا راوړی یو سورت دقرآن په شان ، دسورة دلفظ معنی ده ، محدوده ټوټه ، اودقرآن سورة دقرآن هغه خاصی حصی ته وایی چی دوحی په ذریعه جلاسوې ده ، په ټول قرآن کی دغه رنګه کوچنی اولوی یوسل څوارلس ۱۱۴ سورتونه دی اوپه دی آیت کی دسورة لفظ بغیر دالف لام په راوړلو کی دی خبری ته اشاره ده چی په دی حکم کی ترکوچنی لاکوچنی سورة هم شامل دی معنٰی دا سوه که چیری تاسی ته دقرآن په کلامی الهی کیدو کی څه شك وی اوکه ستاسی دا خیال وی چی دا نبی کریم ﷺ جوړکړي دی نو ددی فیصله خو ډیره آسانه ده هغه دا ده چی تاسی هم ددی قرآن دکوچنی غوندی سورة مثال جوړ کی او را وړاندی یی کی ، که چیری تاسی ددی په مثال جوړولو کی کامیاب سواست نوبی شکه تاسی به په حق یاست چی دا دانسان کلام دی اوکه چیری عاجزه سواست نو پوه سی چی دا دانسان ترطاقت دباندی خبره ده او دا خالص اوسو چی داالله ﷻ کلام دی .

دلته چادا هم ویلای سوای چی زمونږ عاجزه کیدل ددی خبری دلیل کیدی نه سی چی ټول انسانان عاجزان دی ، کیدی سی چی یو بل سړی یایوه بله ډله دا کار وکی نو په دی وجه ارشاد وسو ، وَادۡعُوۡا شُهَدَآءَكُمۡ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ : شهداء دشاهد جمع ده دشاهد معنٰی ده حاضر، گواه ته شاهد هم ددی وجی څخه ویل کیږی چی په عدالت کی دهغه حاضریدل ضروری دی ، په دی ځای کی دشهداء څخه مراد یاخو عام حاضرین دی ، نو معنٰی یی داسی سوه ، چی په ټول جهان کی چی دکوم کوم چا څخه تاسی کومك اخیستل غواړی اخستی یی سی اویا ددی څخه مراد د دوی بتان دی چی ددی بتانو په حقله د دوی دا خیال وو چی دقیامت په ورځ به دوی زمونږ دپاره شاهدی کوی ، په دوهم آیت کی دوی ته دا بیره ورکړل سوي ده که چیری تاسی دا کارونه کوی نوبیا دجهنم دهغه سخت اورڅخه دخلاصیدو دپاره انتظام وکی او دجهنم اور داسی دی چی دهغه پیلوزی به انسان اوکانی وی ، او دا جهنم ستاسی غوندی انکار کوونکو دپاره تیار سوي دی او ددی جملی په مینځ کی چی کومه واقعه کیدونکی ده دهغه خبریی هم ورکی ، وَلَنۡ تَفۡعَلُوۡا : یعنی که تاسی هرڅومره په انفرادی اواجتماعی طورسره زوروکی نو ستاسی دا طاقت نسته چی دقرآن مثال پیش کی، دلته فکرکول په کار دی چی کوم قوم داسلام او قرآن په مخالفت کي او دهغه په ختمولو کی دخپل سر اولاد مال عزت اوآبرو تیر وو دوی ته داآسانه موقع ورکول کیږی چی تاسی دقرآن یوکوچنی مثال جوړ کی او رایی وړی نوتاسی به په خپل مطلب کی کامیاب سی ، او دا ویناچی داکار به تاسی هیڅکله ونه کی ، د دوی غیرت په جوش کی را ولی لیکن په ټول قوم کی هیڅوك هم ددی کار دپاره رامخکی نه سوه ، ددی لوی د دوی دعاجز کیدلوبل کوم ثبوت کیدی سی؟ نه سی کیدی.

﴿ قرآن ترقیامته پاته کیدونکي ژوندی معجزه ده ﴾

دټولو پیغمبرانو علیهم السلام معجزی دهغوی د ژونده پوری وی لیکن دا یوازی دقرآن معجزه ده چی دنبی ﷺ دوصال وروسته ، هم هغه شان دمعجزی په حیثیت باقی دی چی څه رنګه دنبی ﷺ په زمانه کی وو، نن هم یو معمولی مسلمانان دټولی دنیاعالمانو اوپوهانوته په دعوه سره ویل کیږي چی دده مثال نه چامخکی راوړی دی اونه یی نن څوك راوړی سی اوپه چاکی که طاقت وی نوپیش دی کی، جلال الدین سیوطی رحمه الله په خپل کتاب خصائص کبرٰی کی دحدیث په حواله دنبی ﷺ د دوو معجزو متعلق دا لیکلی دی چی دا به ترقیامته وی په هغو دوو کی یوه دقرآن معجزه ده اوبله دا چی حضرت ابوسعیدِخدری رضی الله عنه دنبی کریم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چی ای دخدای پیغمبره! دحج په ورځوکی په درو جمرو (شیطانانو) باندی په لکونو خلق دری ورځی پرلپسی ډبری غورځوی ، بیا خو دلته څوك نه دی لیدل سوی چی هغه ددغو ډبرو کوټی ددی ځای څخه وړی وی اوپه بل ځای کی یی اچولی وی اویو وار غورځول سوی ډبری بیا استعمالول هم منع دی ، ددی وجی څخه هر چاچی دخپل ځان دپاره ډبری

دمزدلفی ځخه را وړی ، په کار خو دا ده چې دجمرو دی خواوشاته په یوه کال کې یوه غونډی جوړه سی او جمره دی په کښی پټه سی اوپه یو څوکالوکی دی غر جوړ سی نو نبی کریم ﷺ وفرمایل چې هو! لیکن الله ﷻ خپلی ملائکی مقرری کړی دی چې هغوی دهغه ډبری پورته کوی چې دچاحج قبول سوی وی ، نو اوس په دی ځای کی یوازی دهغوکم بختو ډبری پاته کیږی چې دچا حج قبول سوی نه وی ، دغه وجه ده چې په دی ځای کی دډبروکوټه کومه ښکاره کیږی که چیری داسی نه وای نو دلته به یو غر ولاړ وای ، دا روایت په سنن بیهقی کی سته .

دا یوداسی حدیث دی چې ددی په ذریعه دنبی ﷺ درښتیاوالی تصدیق په هرکال اوهره زمانه کی کیږی ځکه چې دا حقیقت دی چې په حج کی په لکونو خلق هرکال جمع کیږی اوهرسړی هره جمره هره ورځ په اوو ۷ ډبرو باندی ولی اوبعضی جاهلان خو یی په لویو لویو کانو ولی اوداهم په یقین سره معلومه ده چې ددغه ډبرو ددغه ځای ځخه دروزانه پورته کولو انتظام نه حکومت کوی اونه یوجماعت ، اوځرنګه چې دپخوا راسی دا دستور را روان دی چې ددی ځای ځخه دی ډبری نه پورته کیږی دا ددی خبری تقاضا کوی چې دا ډبری به په راتلونکی کال کی دوه چنده سی په دریم کال کی به دری چنده سی او یو څو کاله وروسته به دمخکی داحصه سره دجمروپه دغه ډبروکی پټه سی اودجمرو په ځای به یولوی غر ودریږی ، خو مشاهده ددی برعکس ده اودا مشاهده په هره زمانه کی پرنبی ﷺ باندی دتصدیق کولو او ایمان راوړلو دپاره کافی ده ، او ریدلی می دی چې اوس ددغه ځای ځخه د ډبرو دلیری کولویو انتظام سوي دی ، لیکن ددی دیارلس سووکالونو دا عمل هم ددی مضمون دپاره کافی دی ، دغه شان قرآن کریم یوهمیشه باقی پاته کیدونکی معجزه ده ځنګه چې دنبی ﷺ په زمانه کی ددی مثال پیش نه سو نن هم نه سی پیش کیدی .

(دقرآن دمعجزوالي تشریح)

ددی اجمالی بیان وروسته دا پېژندل په کاردی چې په څه وجه قرآن کریم دنبی ﷺ دپاره معجزه مقرره سوي ده او ددی اعجاز وجی څه دی؟ اوتوله دنیاددی دمثال جوړولو ځخه ولی عاجزه سوي ده ؟ دوهمه دا چې دا مسلمانان دا دعوه کوی چې قرآن کریم پوره څوارلس سوه کاله خلګ خپلی مقابلی کولو ته را بللی دی لیکن سره ددی یی دده دیوی توټی مثل هم وړاندی نه کړای سو، دا خبره په تاریخی حیثیت سره څومره وزن لری ؟ دا دواړی خبری اوږدی دی اوتفصیل کولو قابلی دی .

(دقرآن دمعجزوالي وجي)

مخکی خبره چې قرآن ولی معجزه ده ؟ او دا څه وجه ده چې دهغه دمخه توله دنیادقرآن دمثال جوړولو ځخه عاجزه ده، په دی خبره باندی زرو اونوو عالمانو مستقل کتابونه لیکلی دی ، اوهریوه مفسرپه خپل خپل طرز سره دغه مضمون بیان کړي دی ، زه به په دی حقله دیوڅو شیانوبیان په ډیره لنډه طریقه

وکړم ، دلته دټولو زیاته دفکر قابله دا خبره ده چی داعجیب اوغریب دټولو علمونو جامع کتاب په کوم ځای کی اوپه کوم ماحول کی نازل سوی وو ؟ آیاهلته څه علمی شیان وه؟ چی دهغوی په وجه داسی جامع اوبی نظیره کتاب تیارسی چی هغه دمخکنیو اوآخرنیو علمونو مجموعه وی اوچی دانسان دژوند دهری څانگی په باره کی که هغه انفرادی ژوند وی یااجتماعی پوډیربښه هدایت وړاندی کی داسی هدایت چی په هغه کی دانسان د دواړو قسمونو روحانی او جسمانی دتربیت مکمل قواعد اوضوابط وی ، او دتدبیر منزل څخه واخله ترملك چلولو پوری په کی ښه اصول وی ، په کومه مځکه اوپه کوم ذات باندی چی داپاك کتاب نازل سوی دی دهغه دجغرافیایی اوتاریخی کیفیت اوحالت په بیان کی به داسی ووایم چی دقرآن نزول په داسی ملك کی سوی وو چی هغه ملك نه دکروندی ملك وو نه دصنعت اوحرفت ملك وو اونه ددی ملك آب اوهوا ښه وه چی دهغه په وجه خلق ددباندی څخه دلته دراتلو رغبت اومینه وکی او نه یی لاری هواری وی ، دا ملك داکثری دنیا څخه یوه جلاسوی جزیره نماوه چی په کښی دوچو اوګرمو شګو څخه ماسوابل څه نه ښکاریدل .

په دی ټول ملك کی څه لوی ښارونه هم نه وه کوچنی کوچنی کلی وه اواوسیدونکوبه یی د اوښانو پسونو او بزو په پاللو باندی ګذاره کوله ، دصحرا اوباڼدو خو څه کوی ددی ملك برای نام ښارونه چی کوم وه په هغه کی کومه دعلم اوتعلیم چرچه نه وه ددغه ملك اوسیدونکو ته الله ﷻ په پیدایښتی دول سره دفصاحت اوبلاغت داسی فن ورکړی ووچی په دی کی یی دټولی دنیاڅخه نمبر وړی وو ، لیکن دا ټول د دوی فطری اوپیدائشی فن وودا په کومه مدرسه یاپوهنتون یادارالعلوم کی زده کیدی نه سوای او نه دفن اسباب موجود وه ، په دی خلکو کی څه خلک دښاری ژوندڅخه لړشان خبروه هغه دا چی تجارت د دوی کسب وو ، اودمختلفو اجناسو ډوډلو اوراوړلو کاروبار یی کوی ، ددغه ملك په زوړښار مکه کی په شریفه کورنی کی هغه پاك ذات پیداسو چی دوحی دنازلیدو دپاره مقررسو ، ددغه پاك ذات پلار دده ترپیداکیدومخکی مړ سو ، دغه ذات لا د اوو کالو نه ووچی مور یی هم مړه سوه ، دمور دغیږی څانګو یی هم نصیب نه سوه دپلار اودنیکه دبی مثله سخاوت په وجه په کورکی دومره څه نه وه چی په هغه ددی یتیم دپالنی دپاره څه بندوبست وسی انتهایی دتنګی ژوندوو ، دمور او پلار سایه یی پرسر نه وه په دغه حالاتو کی دی لوی سو او دعمر مخکنی رومبنی حصه چی دتعلیم اوتعلم اصلی وخت دی ، داسی تیره کړه ، په مکه کی په دغه وخت کی دتعلیم اوتعلم څه ځایونه لکه مدرسی سکولونه کالجونه دارالعلومونه نه وه ، اوکه چیری وی هم نو د دوی حالت داسی ووچی دوی ته یی دزده کړی اجازه نه ورکوله ، دغه وجه وه چی دی ټول عرب قوم ته امیان ویل کیدل ، په قرآن کریم کی هم دده متعلق دالفظ استعمال سوی دی نو ددی لازمی نتیجه دا سوه چی دی دهرقسم تعلیم اوتعلم څخه بی خبره پاته سو ، هلته داسی یولوی عالم هم نه ووچی دهغه څخه داعلوم حاصل سوی وی چی

کوم په قرآن کریم کی دی، بیاالله ﷺ خو یو فوق العادة معجزه ښوول غوښتل نو ددی وجی څخه هغه لږ او معمولی غوندی ویل اولیکل چی هغه دلته خال خال په نظراتله دوی ته نصیب نه سوه اوبالکل امی محض چی خپل نوم قدر یی هم نه سوای لیکلی پاته سو دعربو خاص فن یعنی شعر او شاعری چی دهغه په باره کی به میلی لګیدی اومشاعری به کیدی الله ﷺ دی دهغه څخه لیری وساتی او داسی مزاج یی ورلره ورکی چی ددی شیانو سره یی مینه نه وه.

البته دومره وه چی دخالص امی کیدلو سره دکوچنیوالی څخه په ده کی دښواخلاقو دپوهی دامانت او دیانت نښی اونښانی هر وخت لیدل کیدای سوی چی دهغه په نتیجه کی دعربو لویو سردارانو به دده عزت اواحترام کوی اوپه ټوله مکه کی دامین په لقب سره یادیدی.

دا سوچه اُمّی ترڅلویښتو کالو پوری په مکه کی په خپل قوم کی اوسیدی یوځای دبل ملك سفر یی هم نه وو کړی، چی دهغه څخه دا خیال پیداسی چی په سفرکی داعلمونه حاصل کړي دی، یوازی دشام دملك دوه تجارتی سفرونه یی کړی دی اوهغه هم یوڅو ورځی چی په هغه کی ددی هیڅ امکان کیدی نه سی چی په دی سفرکی یی دا علمونه زده کړی وی، دی سوچه اُمّی خپل څلویښت کاله ژوند په مکه کی په خپل قوم کی داسی تیرکی چی نه په کښی ده یو وخت قلم په لاس کی واخستی اونه کتاب اونه یی په یوه مجلس کی کومه قصیده یانظم ووایه، پوره ترڅلویښتو کالو وروسته دده ﷺ په مبارکه ژبه هغه کلام شروع سو چی دهغه نوم قرآن دی اوچی دلفظی فصاحت اوبلاغت په لحاظ سره اودمعنوی علومو او فنونو په اعتبارسره عقلونه حیرانوی، که چیری یوازی دومره وی نوهم یوه انصاف پسندته دقرآن په معجزه کیدلوکی شك اوشبهه نه پاته کیږی لیکن ددی باوجود قرآن کریم ټولی دنیاته په هسکه غاړه وویل که څوك په دی کی شك لری چی قرآن دالله ﷺ کتاب نه دی نوهغه دی دخپل ځان څخه دقرآن په شانی یو کوچنی غوندی سورت جوړ کی او را وړاندی دی یی کړی، اوس یوطرف ته دقرآن مقابلی ته رابلنه اوبل طرف ته دټولی دنیا مخالف طاقتونه چی هغوی داسلام اوپیغمبر اسلام په ختمولو کی په خپل سر مال اواولاد اړنه وه لیکن د دومره کار کولو دهیچاهم طاقت نه ووچی دقرآن دیوه کوچنی سورت غوندی بل سورت جوړکی، فرض کړه که چیری داکتاب بی مثله اوبی نظیره هم نه وای بیاهم دیوه سوچه اُمّی دژبی څخه ظاهریدل دقرآن کریم دمعجزه کیدلو دپاره کم نه دی اوپه دی خبره باندی عالم اوجاهل دواړه ښه پوهیږی.

(دقرآن دمعجزوالی دوهمه وجه)

دقرآن دمعجزوالی دوهمه وجه دا ده چی قرآن او دده حکمونه دټولی دنیادپاره راغلی دی، لیکن ددی قرآن اولنی اونیغ په نیغه مخاطب عرب وه، هغه عرب چی هغوی ته بل څه علم اوفن زده وو یانه لیکن فصاحت اوبلاغت دهغوی فطری هنر اوپیدائش صفت ووچی په دی کی دوی ددنیا دټولو قومونوڅخه

جلا ګټل کېدل قرآن دوی مخاطب کوي اودوی را بولي که چیري تاسي زمادالله ﷻ په کلام کېدلوکي څه شك کوي نو تاسي زمادیوه سورت مثال جوړ کي اووښیاست که چیري دقرآن رابلنه مقابلي ته په دی اعتبار وي چي په دی کی حکیمانه اصول اوعلمي اسرار اومعارف وي نوبیابه دی سوچه اُمّي قوم ته عذر وای چي مونږ امي قوم یو، دعلومو اومعارفو څخه خالي یو نو مونږ څرنګه دداسي قرآن مقابله وکو، لیکن قرآن یوازي دمعنوي حسن په باره کي چیلنج نه دی ورکړی بلکه دلفظي فصاحت اوبلاغت په اعتبارسره یي هم تولي دنیاته چیلنج ورکړي دی او ددي چیلنج دقبلولو دپاره په اقوام عالم کي تر ټولو زیات حقدار عرب وه که چیري په حقیقت کي دا کلام دبشر دقدرت دباندي ته وي نوبیاعربو بلیغانو ته څه مشکله وه چي دیوه سوچه اُمّي دکلام مثال بلکه تردي ښه کلام فوراً پیش کي اوکه چیري یویادوه نفره دا کارکولای نه سي نو قرآن دوی ته داآساني هم ورکړي ده چي ټول قوم رایوځای سي او داسي یي جوړکي ، لیکن دقرآن ددي لوړي دعوي سره اوبیا دقسم قسم غیرت ورکولو سره هم دعربو غیرت مند قوم ټول چپ چاپ دی او دمقابلي دپاره یوڅوکرښي هم نه سي پیش کولي .

دعربو سردارانو داسلام اوپیغمبر اسلام دختمولو دپاره خپل کوم طاقتونه مصرف کړي دی هغه دچا څخه پټ نه دی ، په اول کي نبي ﷺ او دهغه یوڅو ملګروته یي قسم قسم تکلیفونه ورکړل چي دوی اسلام پرېږدي لیکن چي ورته معلومه سوه چي داسلام دانشه داسي نشه ده چي په تریخوالي باندي یي نه کښته کېږي نوبیایي دښه ګذاري اړخ غوره کي ، دعربو سردارانو عتبه بن ربیعه دقوم نمائنده سو اونبي ﷺ ته ولاړی او ورته یي دا وویل چي داسلام تبلیغ پرېږده مونږ به تاته دعربو دولت اوحکومت اوښائسته انجلي درکو، نبي ﷺ ورته په جواب کي دقرآن یوڅو آیاتونه تلاوت کړل هرکله چي دی تدبیر کارونه کي ، نو دجنګ اومقابلي دپاره تیار سول ، ترهجرت مخکي اوترهجرت وروسته قریشو دنبي ﷺ اودمسلمانانو دمقابلي دپاره پخپل سر او په مال اوپه اولاد اوپه آبروهڅه وکړه ، لیکن هیچا دا ونه کړای سوای چي دقرآن چیلنج یي قبول کړي وای اویوڅو کرښي یي دمقابلي دپاره وړاندي کړي وي ، آیاپه د،سي حالاتوکي دټولو عربو دقرآن په مقابله کي چپ والي اوعاجزي ددي خبري واضح او ښکاره شهادت نه دي چي دا د انسان کلام نه دی بلکه دالله ﷻ کلام دی چي دهغه دکار یادکلام نظیر انسان څه کوي چي دټول مخلوق ترطاقت وتلي دی ، بیاصرف دومره هم نه چي عرب دده دمقابلي څخه چپ پاته سوه بلکه دوی ټولو په خپلو خاصو خاصو مجلسونو کي ددي دبي مثل اوبي نظیره کېدو اقرار هم وکي اوچي کوم په دوی کي منصف مزاجه وه هغوی ددي اقرار برملاهم وکي بیاپه دوی کي بعضي مسلمانان سول اوبعضي دخپلو آبایي رسمونو دپابندي یابني عبدمناف سره دضدپه وجه داسلام قبلولو څخه محرومه پاته سول ، دقریشوتاریخ ددي واقعاتو شاهدی دی ، زه دلته دهغه څخه څو واقعات بیانومه چي دهغه څخه دا درك ولګیږي چي ټول عرب ددي کلام دبي مثله اوبي نظیره کېدو

اقرارکوی اوددی مثال وراندی کول یی په دی خیال پربښووی چی په دی کی دوی خپله رسوایی لیدله ، هرکله چی درسول ﷺ او دقرآن شهرت ترمکی دباندی دحجازپه نورو ځایونوکی وسو اودحج موسم راغی نو دمکی قریش په غم کی سوه چی اوس به دعربو داطرافو څخه حاجیان راځی او د رسول ﷺ څخه به داکلام اوری نولیونیان به سی اوغالب گمان دی چی مسلمانان به سی ، ددی دانسداد دتدبیر دلتولو دپاره قریشو اجلاس وکی په دی اجلاس کی دقریشو لوی لوی سردران موجودوه ، په هغوی کی ولید بن مغیره په عمر او په عقل کی ترټولو لوی گڼل کیدی ټولو ولیدبن مغیره ته دامشکل وراندی کی چی اوس به دملك داطرافوڅخه خلک راسی او زمونږڅخه به دمحمد ﷺ په حقله پوښتنه کوی نو مونږ به څه وایو؟ مونږ ته یوه داسی خبره وښیه چی مونږ ټول هغه خبره کوو، داسی نه چی زمونږ په بیانونو کی اختلاف راسی ، ولیدبن مغیره وویل چی تاسی وښیاست چی څه ویل په کار دی؟ خلګو وویل چی زمونږ په خیال کی مونږ به ټول دا ووایو چی محمد ﷺ معاذ الله لیونی دی ، دده کلام دلیونیو گډی وډی دی ولیدبن مغیره وویل چی داسی هیڅکله مه وایاست ځکه چی کوم وخت خلق دده ته راسی او دده سره ملاقات اوخبری وسی او دوی دی یوفصیح عاقل انسانووینی نو ددی خلګو به یقین راسی چی تاسی درواغ ویلی وه بیاځینو خلګوویل چی ښه مونږ به هغوی ته دا ووایو چی دی شاعر دی ولید ددی څخه هم منع کړل او ورته وی وویل چی خلق چی کله دده کلام واوری نویقین به وکی چی داشعر نه دی او نه دی شاعر دی نتیجه به یی داسی چی داټول خلق به تاسی درواغجن وگڼی، بیا څه خلګو دا وویل چی بیابه مونږ خلګوته داووایوچی دی کاهن دی چی شیطانانو اوپیریانوته غوږ ایږدی اودغیبو خبری کوی ، ولید وویل چی دا هم غلطه ده ځکه چی خلق چی کله دده کلام واوری نو ورته معلومه به سی چی دا کلام دکوم کاهن نه دی نو داخلق به بیاتاسی درواغجن وګڼی ، تردی وروسته دقرآن په باره کی چی دولیدکوم تاثرات وو هغه یی په دی الفاظوسره بیان کړل ، په خدای می دی قسم وی په تاسی کی یوسړی دشعر اوشاعری په باره کی ترما زیات پوهه نسته ، په خدای می دی قسم وی چی په دی کلام کی خاص خوږوالی دی اوپه دی کی یوخاص رونق اوښایست دی چی مادکوم بلیغ شاعر په شعریادفصیح اودبلیغ په کلام کی نه دی لیدلی ، بیاقوم ورته وویل ، چی اوس ته ورایه چی مونږ څه وکو ؟ او دده په باره کي به خلګو ته څه وایو؟ ولید وویل ، چی زه به ترفکر کولو وروسته جواب درکرم ، بیایی تر ډیر فکر وروسته وویل ، که چیری څه ویل وی نوتاسی، دده ته ساحر وایاست چی دی دخپل جادوپه اثر دپلار او زوی اودخاوند اوښځی په مینځ کی جلاوالی راولی .

قوم په دی باندی متفق اومطمئن سو اوټولو دا وینا شروع کړه لیکن دالله ﷻ شمعه کله په پُف کیدو مړه کیدونکی وه ، دعربو داطرافو څخه خلق راغله قرآن یی واوریدی اوډیر په کښی مسلمانان سول اودعربوپه اطرافوکی اسلام په خپریدوسو (خصائص کبری)

هم دغه رنګه یو قریشي سردار نضربن حارث یو وار خپل قوم ته وویل ای قریشو انن تاسي په یوه مصیبت کې مبتلی یاست چي تردې مخکې هیڅ وخت تاسي په داسي مصیبت کې ګیرسوی نه واست چي محمد ﷺ ستاسي دقوم یو ځلمی وو تاسي ټول دهغه دعادتونو او اخلاقو بنه ګنونکې واست او په خپل قوم کې هغه تاسي ډیر ربنتوني او امانتدار ګڼی ، اوس چي کله دهغه په سرکی سپین وربنتان راغله او هغه یوبی مثاله کلام دالله ﷻ دطرفه څخه وړاندی کې نو تاسي هغه ته جادوګر ویل شروع کړل په الله ﷻ می دی قسم وی چي دی جادوګرنه دی مونږ خو جادوګران لیدلی دی ، دهغوی پشان بالکل نه دی او کله تاسي ده ته کاهن وایاست، په الله ﷻ می دی قسم وی دی کاهن نه دی ، مونږ خو ډیر کاهنان لیدلی دی او دهغوی کلام مو اوریدلی دی خو د دوی دکلام دمحمد ﷺ دکلام سره هیڅ مناسبت نسته او کله تاسي ده ته شاعر وایاست په الله ﷻ می دی قسم وی دی شاعرنه دی مونږ خو په ښه دشعر او شاعری ټول اقسام پیژنو او دلویو لویو شاعرانو کلام مونږ ته یاد دی دشاعرانو دکلام او دده دکلام هیڅ مناسبت نسته، بیا تاسي کله ده ته لیونی وایاست په خدای قسم چي دی لیونی نه دی، مونږ خو ډیر لیونیان لیدلی دی او دهغوی بی ځایه خبری مو اوریدلی دی ، دلته خو داسي قسم خبره بالکل نسته . ای زما قومه ! تاسي په انصاف سره دده په معامله کې فکر وکی .

حضرت ابوذر صحابی ﷺ وایی چي زما ورور انیس یو وخت مکې معظمې ته ولاړ چي بیرته راغلی نو ماته یې وویل چي په مکه کې یو سړی دی او هغه وایی زه دخدای ﷻ استازی یم ما دخپل ورور څخه پوښتنه وکړه چي دهغه خای خلق دده په باره کې څه رایی لری ؟ نو ورور راته وویل چي څوك ورته شاعر وایی څوك ورته کاهن وایی څوك ورته جادوګر وایی ، زما ورور انیس چي په ښه غټ شاعر او دکهانت او نورو سره آشنا هم وو، ماته یې وویل چي څومره چي زه فکر کړی ددی خلګو داټولی خبری غلطي دی ، څکه چي دده کلام نه شعر دی نه کهانت دی او نه دلیوني خبری دی بلکه ماته خو دا کلام صادق ښکاری ، ابوذر ﷺ وایی چي د ورور څخه می دا خبره واوریده نومکې ته روان سوم او په مسجد حرام کې می اوسیدنه اختیار کړه دیرش ورځی مادا ډول تیری کړی چي د زمزم د اوبو څخه ماسوا زما نس ته کوم بل شی کښته نه سو، په دومره موده کې نه مادلوږی تکلیف محسوس کی او نه می دځه کمزوری احساس وکی ، ابو ذر ﷺ چي بیرته راغی نو خلګو ته یې وویل چي ما دروم او فارس دفصیحانو او بلیغانو کلامونه ډیر اوریدلی دی او دکاهنانو خبری او دحمیر مقالی می ډیری اوریدلی دی خو دمحمد ﷺ دکلام مثال ماترننه پوری هیڅ ځای اوریدلی نه دی ، تاسي ټول زما خبره ومنی چي دده تابعداری وکی ، هم دغه وجه ده چي دفتح مکې په کال دده دټول قوم تقریبًا یوزر ۱۰۰۰ کسان مکې ته راغلل او مسلمانان سوه .

داسلام او دنبی ﷺ ترټولو لوی دښمن ابوجهل او اخنس بن شریق وو، دخلګو څخه یې په پټه قرآن او

ریدی او دقرآن دعجیب او غریب بی مثله اوبی نظیره اثراتوځخه به متاثرکیدل ، لیکن چی کله دقوم څه خلګو ورته وویل چی تاسی دومره ددی قرآن څخه متاثریاست نوبیا ولی نه مسلمانیږی نو دابو جهل جواب بس دا وو چی تاسی ته معلومه ده چی دبنی عبدمناف او زمادقوم په مینځ کی ددیرمخکی څخه رقابت دښمنی راروانه ده، هغوی چی په کوم کارکی مخکی کیدل غواړی مونږهم دهغه جواب ورکوو اوس چی کله مونږ اوهغوی دیوی برابری درجی خاوندان یو نواوس به هغوی دا ووایی چی په مونږ کی یو نبی پیدا سوې دی چی په هغه باندی دآسمان څخه وحی راځی نو مونږ په دی کی د دوی څه رنګه مقابله وکو ، زه خوبه هیڅ کله ددی اقراارونه کړم.

خلاصه دخبری دا ده چی دقرآن په دی چیلنج اودعوه باندی یوازی دا ونه سوه چی تولو عربو شکست ومنلی اوچپ سوه بلکه دده دبی مثله اوبی نظیرکیدو اودخپل عاجز کیدلو برملا اقرار یی هم کړې دی که چیری دا دیوه انسان کلام وای نو بیا ددی څه وجه نه وه چی تول عرب بلکه توله دنیادده دمثال را وړلو څخه عاجزه سوی وای ، دقرآن اوپیغمبر اسلام سره په مقابله کی دوی دخپل مال ځان اولاد آبرو دهر څه قربانولو ته تیاروه ، لیکن ددی دپاره څوك مخکی نه سو چی دقرآن چیلنج قبول کړی او یو دوې دوې کرښی ددی په مقابله کی ولیکی ، ددی وجه دا وه چی دا خلق سره دجاهلانه اعمالو منصف مزاجه وه درواغوته به نه نژدی کیدل ، کله چی دوی قرآن واوریدی اوپوه سوه چی په حقیقت کی دده مثل دوی نه سوای را وړی نو بیایوازی په درواغو باندی څه کلام پیش کول دوی دخپل ځان دپاره عارګنی ، ځکه چی دوی پوهیدل که مونږڅه پیش هم کونو دتولو عربو فصیحان اوبلیغان به مونږپه دی مقابله کی ناکام کړی او رسوا به سو نو په دی وجه تولوچپ کیدل خوښ کړل اوچی کوم په کښی زیات منصف مزاجه وه نو هغوی په ډاګه وویل چی داکلام دبشرکلام نه دی.

ددغه سلسلی یوه واقعه دا ده چی دعربو سردار اسعدبن زراره دنبی ﷺ د اکاحضرت عباس ﷺ په مخکی دا اقراروکی چی ، مونږ خامخا دمحمد ﷺ په مخالفت کولوخپلی خپلوی اوتعلقات خراب کړي دی زه په یقین سره وایم چی دی بیشکه دالله ﷻ پاك استازی دی هیڅکله درواغجن نه دی چی کوم کلام ده راوړی دی هغه دبشرکلام کیدی نه سی ، (الخصآئص ج ۱ صـ۱۱۶)

دا اقرار اومنل یوازی دهغوخلګو څخه منقول نه دی چی هغوی دنبی ﷺ په معامله کی غیر جانبدار وو بلکه دهغو خلګومتعلق راویتونه دی چی هغوی دهمیشه دپاره دنبی ﷺ مخالف وه اوهغوی هم دغه رنګه اقرارونه کړي دی ، دابوجهل او داخنس بن شریق واقعات دخصائص په حواله تاسی مخکی وویل دهغه څخه ښه معلومیږی چی ابوجهل هم په دی اقرار کولو مجبور ووچی قرآن دبشرکلام نه دی.

دریمه وجه: دریمه وجه دقرآن دمعجزوالی دا ده چی په قرآن کی دغیب اوپه راتلونکو ورځوکی دپیښیدونکو واقعاتو خبرونه دی او دا واقعات هغه شان سوې دی څرنګه چی قرآن ددی خبر ورکړی

وو، مثلاً قرآن خبر ورکوی چې دروم اوفارس په مقابله کې اول به اهل فارس غالب کیږي اوروميان به مغلوب کیږي لیکن ورسره یې داخبره وکړه چې لس کاله به لاتیرنه وي چې بیابه رومیان پرفارس باندې غالب سي، دمکې سردارانو دقرآن په دې خبر باندې دحضرت ابوبکر صدیق ﷺ سره دګټلو اوبایللو شرط ولګوی، اوبیابالکل دقرآن دخبر مطابق رومیان غالب سوه نوټولو خپل شکست دابوبکر ﷺ په مخکې ومنی او په شکست خوړنکو باندې چې کوم مال ورکول وو هغه نبي ﷺ قبول نه کې ځکه چې دا یوقسم خُمار وو هم دغه رنګه نور ډیر واقعات اوخبرونه دي چې دغیبي شیانوپه باره کې په قرآن کریم کې دي اوچې دهغوی ربښتینوالی دړنا او ورځ په شان څرګندسوی دی.

څلورمه وجه: څلورمه وجه دقرآن دمعجزوالی دپاره دا ده چې په قرآن کې دمخکې امتونو او د دوی دشریعتونو اوتاریخي حالاتو داسې صفا تذکره سوي ده چې ددغه زمانې لوی لوی علماء یهود او نصاراؤ ته چې دمخکې کتابونو ماهران ګڼل کیدل دومره معلومات نه وو اونبي ﷺ خونه په یوه مدرسه کې ښنه اینې وه اونه یې دیوه عالم سره څه وخت تیرکړی وو اونه یې کوم یوکتاب په لاس کې اخیستی وو، بیا دا ددنیا د اول څخه واخله ترخپلې زمانې پوری دټولو اقوام عالم تاریخي حالات او دهغوی دشریعتونو تفصیلات بیانول بغیر ددې څخه نه کیږي چې دا دالله پاك كلام دى اوالله پاك ده ته خبرورکړي دی.

پنځمه وجه: دا ده چې دقرآن په ډیرو آیاتونو کې دخلګو دزړونو دخبرو خبرداري ورکړل سوي دی اوبيا ددغو خلګو داقرارڅخه ثابته سوي ده چې دغه خبره صحيح اوربښتيا وه، دا کارخوهم عالم الغيب والشهادة کولای سي یوانسان ته عادةً ممکنه نه ده، ددغه قسم آیاتونو څخه یوآیت مثلاً دا دی، اذ هَمَّتْ طَّآئِفَتَانِ مِنكُمْ اَنْ تَفْشَلاَ: هرکله چې ستاسې څخه دوو ډلو په زړه کې دواپس کیدو اراده وکړه. اومثلاً دا ارشاد. وَيَقُوْلُوْنَ فِيْ اَنْفُسِهِمْ لَوْلاَ يُعَذِّبُنَا اللهُ بِمَا نَقُوْلُ: دا خلق په خپلو زړونوکې وايي چې زمونږ د انکار کولو څخه الله ﷻ مونږ ته عذاب ولې نه راکوی، دا ټولې خبرې داسې دي چې نبي ﷺ ته چا ظاهري نه وې کړې بلکه قرآن کريم ورته دخلګو دزړونو دخبرو انکشاف کړی وو.

شپږمه وجه: شپږمه وجه دا ده چې هغه آیاتونه چې په هغه کې قرآن دیوه قوم یادیوه سړي په باره کې پیش ګویي کړي ده چې دی به فلانی کار ونه کړل سي اوبیادغه خلګو دظاهري قوت سره هم دغه کارونه کړی سو، لکه چې دیهودو په اړوند قرآن وښووله که چیری دوی په حقیقت کې خپل ځان دخدای دوستان ګڼی نو بیا دوی ته په کار دی چې الله پاك ته دټلو دپاره دی په زړه کې مینه لری او ددې دپاره دی دمرګ آرزو لری لیکن داسې نه ده، ارشاد دی، وَلَنْ يَّتَمَنَّوْهُ اَبَدًا دوی به هیڅکله دمرګ آرزو ونه کړی، دمرګ آرزو دچادپاره مشکله نه وه اوخاص کر دهغه خلګو دپاره چې هغوی به قرآن درواغ ګڼی، دقرآن د ارشادپه وجه د دوی دپاره څه وجه نه وه چې دوی دمرګ دتمنا کولوڅخه

وبیریږي ، دیهودو دپاره خو دا موقع دمسلمانانو دشکست دپاره ډیرلوی غنیمت ووچي فوراً یې په هر مجلس کې دمرګ دآرزو اعلان کړی وای لیکن یهودو یامشرکانو خوپه ژبه هرڅومره چي قرآن شریف دروغجن بللی، خو دننه په زړه کې پوهه وه چي قرآن رښتیادی ، دده خبره دروغ نه ده که چیري دمرګ تمنا مونږ په دې وخت کې وکړه نو فوراًبه مړه سو نو په دي وجه دقرآن شریف په دې په داګه چلینج باندي هم دهیڅ یهودي داهمت ونه سو چي یووار خو یوازي په ژبه دمرګ دآرزو کولو څرګندول وکړي .

اوومه وجه: هغه خاص کیفیت اوحالت دی چي دقرآن په اوریدو سره په هرخاص وعام مومن اوکافر باندي خپریږي ، لکه چي حضرت جبیربن مطعم ﷺ ته داسلام راوړلو مخکي پېښ سوی وو، هغه دا چي ده دنبي ﷺ څخه دماښام په لمانځه کې سورهٔ طور واوریدی کله چي نبي ﷺ آخري آیاتونوته ورسیدی نوجبیر ﷺ وایي چي زمازړه په الوتو سو اودا دتولو مخکني ورځ وه چي زماپه زړه کې اسلام ځای ونیوی هغه آیتونه دا دي .

أَمْ خُلِقُوا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ أَمْ هُمُ الْخَالِقُونَ ۞ أَمْ خَلَقُوا السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بَل لَّا يُوقِنُونَ ۞ أَمْ عِندَهُمْ خَزَائِنُ رَبِّكَ أَمْ هُمُ الْمُصَيْطِرُونَ ۞ .

آیادوی بغیردڅه شي څخه جوړسوي دي اوکه دوی بس جوړوونکي دي اوکه دوی مځکه اوآسمان جوړ کړي دي هیڅ نسته بلکه دوی یقین نه لري آیا د دوی سره ستا درب خزاني دي اوکه دوی ددې واکداران دي .

اتمه وجه: اتمه وجه دا ده چي دقرآن شریف په وار وار ویناسره زړونه نه تنګیږي بلکه چي څومره زیات ویل کیږي دغومره دویلوشوق زیاتیږي ، ددنیا دټولو ډیرمرغوب کتاب را واخله خوپه یوه او دوه واره ویلو ورڅخه زړه موړ سي ، دا یوازي دقرآن خاصه ده چي څومره یې وایې دومره به دې شوق زیاتیږي ، او دا ددې خبرې دلیل دی چي قرآن دخدای تعالی کلام دی .

نهمه وجه: نهمه وجه دا ده چي قرآن اعلان کړي دی چي دده دحفاظت ذمه خدای اخستی ده اودی به ترقیامته پوري بغیر دتغییر اوترمیم اوتبدیله پاته وي الله ﷻ خپله دا وعده داسي پوره کړه چي دکوم وخت څخه قرآن نازل سوي دی نن څوارلس سوه کاله نژدې کیدونکي دي اوپه هري پیړۍ کې په لکونو انسانان داسي دي او وي به چي دهغوی په سینوکي قرآن محفوظ دی اومحفوظ به وي اومحفوظ بیا داسي چي دزور زیر دغلطۍ امکان نسته ، په هره زمانه کي ددې په محافظانوکي سړي ښځي واړه اوبوډاګان پیداکیږي ، ددنیا دمذهبونو یومذهبي کتاب هم دقرآن شریف په شان مثال نه سي پیش کولای ، بلکه دده دلسمي حصې مثال هم نه سي پیش کولی ، دډیرو مذهبي کتابونو خو نن صبا دا پته لګول ګران دي چي دا په اصل کې په کومه ژبه کې راغلي وو او ددې څومره جلدونه وه ، په کتابي شکل کې په هري پیړۍ او زمانه کې چي څومره اشاعت دقرآن شریف سوی دی دومره اشاعت دبل

یو کتاب نه دی سوی حالانکی تاریخ گواه دی چی په هره زمانه کی دمسلمانانو شمیر په دنیاکی دکافرو په نسبت ډیرکم راغلی دی او دنشر اواشاعت ذریعی هم چی څومره دکافرانو سره وی هغومره دمسلمانانو سره نه وی ، مګرددی ټولو خبرو سره سره دهیڅ قوم دمذهبی کتاب په دنیاکی دومره اشاعت نه دی سوی څومره چی دقرآن شریف سوي دی بیا دقرآن حفاظت الله پاك یوازی په کتابونو اوصحیفو باندی نه دی موقوفه کړی چی دهغوی دسوځیدو اومحوکیدو امکان دی بلکه دخپلو بندګانو په سینو کی یی هم محفوظ کی ، که چیری (خدای نخواسته) ددنیا ټول قرآنونه ختم سی نو دالله پاك داکتاب به دغه رنګه محفوظ وی یوځو حافظان به سره کښینی اوپه څوساعتو کی به بیاټول ولیکل سی ، دابی مثله حفاظت هم یوازی دقرآن خاصه ده او ددی خبری ښکاره ثبوت دی چی قرآن دالله پاك کلام دی څرنګه چی دالله پاك ذات دهمیشه دپاره پاته کیدونکی اوپه هغه باندی دهیچا تصرف نه چلیږی ، دغه شان دده کلام به هم همیشه دټولو مخلوقاتو ترتصرف وتلی وی اودهمیشه دپاره به باقی وی ، دقرآن شریف داپیش ګویی دڅوارلس سوو ۱۴۰۰ کالو راهیسی په مشاهده کی راغلی ده اوترقیامته به په مشاهده کی راځی تردی واضحی معجزی وروسته دقرآن دکلام الهی په کیدوکی څه دشك اوشبهی ځای کیدی سی ؟ نه سی کیدی .

لسمه وجه: لسمه وجه هغه علمونه اومعارف دی چی په هغه باندی ترننه پوری یو کتاب هم احاطه نه ده کړی اونه یی په راتلونکی وخت کی امکان سته چی په دومره کوچنی حجم کی اوپه محدودو الفاظو کی دی دومره علوم اوفنون جمع سی چی دټولو کائناتو په ضروریاتو باندی خاوی دانسان دژوند دهری څانګی اوحال متعلق پوره مرتب اوښه نظام پیش کړل سی ، دشخصی اوخاندانی ژوند څخه واخله ترقبائلی اوښاری ژونده پوری اوبیا دعمرانیاتو اجتماعیاتو اوسیاست ممالك پرهر ارخ باندی حاوی نظام پیش کړی، بیا یوازی په نظری اوعلمی طورسره نظام پیش کول نه په عملی طورسره ددی رواج پیداکول اوددنیا پرټولو نظامونو باندی غالب کیدل ددنیا دقومونوپه مزاج اخلاقو اعمالو معاشرت اوتمدن کی داسی لوی انقلاب راوستل چی دهغه مثال نه په مخکی زمانوکی سته اونه په راتلونکوکی ، دا حیرانوونکی انقلاب آیا دانسان دقدرت اوده دحکمت عملی نتیجه کیدی سی خاص کرچی هغه انسان امی هم وی اوقوم یی هم امی وی .

دا هغه حیرانه کوونکی تاثیرونه دی چی ددی په وجه هر یو سړی مجبوره دی چی قرآن ته کلامی الهی ووایی ، په دی شرط چی دهغه عقل اوبصیرت تعصب اوعناد بربادکړی نه وی ، تردی پوری چی ددی ماده پرستی په دورکی چی کومو مسیحی مصنفینوپه قرآن کی دفکر اوسوچ کولو څخه کار اخیستی دی نوهغوی هم بی اختیاره په وینا سوي دی چی دقرآن مثل اونظیر نسته .

دفرانس مشهور مستشرق ډاکټر مادریس چی هغه دفرانس دحکومت لخوا څخه دقرآن کریم د دوو

شپیتو ۶۲ سورتونو په ترجمه کولو باندی مقرر سوی وو دا اقرار یی کړي دی.
بی شکه دقرآن طرزِ بیان دخالق طرزِ بیان دی اوبی شکه چی په کومو حقائقو اوعلمونو باندی داکلام مشتمل دی بس هغه یوکلامي الهی کیدی سی ، اوواقعه داسي ده چی کله په ده شك اوشبهه کوونکی دده داغښ تاثیر ووینی نوهغه هم په اقرار کولو اومنلو باندی مجبوره کیږی پنځوس کروړه مسلمانان چی دمځکی پرمخ په هره حصه کی خپاره دی په دوی کی دقرآن خاص اثرپه لیدوسره مسیحی مشن بالاتفاق دااقراکوی اومنی چی یوه واقعه هم داسي پیښه سوی نه ده چی کوم مسلمان په قرآن اواسلام باندی پوه سوی وی هغه بیامرتد سوی دی یادقرآن څخه منکر سوي دی.
په مسلمانانو باندی دقرآن کریم داثر کولو اقرار ددی مسیحی مستشرق څخه په داسی زمانه کی کیږی چی کوم وخت مسلمان پخپله داسلام اوقرآن څخه ناآشنا اودهغه دتعلیماتو څخه لیری اودهغه دتلاوت څخه غافل سوي دی ، افسوس چی دی مصنف داسلام اوقرآن هغه دور لیدلی وی چی دمسلمانانو دژوند په هره څانگه کی په قرآن عمل وو اوپر ژبویی دقرآن آیاتونه وه، هم دغه شان نورو عیسائی مصنفینو هم چی دانصاف خاوندان دی داسی قسم اقرار کړي دی ، مسترولیم میور په خپل کتاب (حیات محمد ﷺ) کی په ډاگه ددی مننه کړي ده اوډاکتر شبلی شمیل په دی یوه جلا مقاله لیکلی ده ، قرآن کلام الهی اودنبی ﷺ دپاره معجزه ده په دی حقله تاسی دالس وجی واوریدی.
په آخرکی یواجمالی نظر په دی واچوی چی محمد ﷺ دپیدا کیدوپه وخت کی یتیم وو ، تمام عمر یی یوځای په مدرسه اومکتب کی پښه نه وه ایښی قلم اوکتاب ته یی لاس نه وو وروړی، خپل نوم یی هم نسوای لیکلی، په دغه حالت کی ځوانیږی په طبیعت کی یی جلا پسندی ده لوبو تماشو جنسی ته تللو عادت یی نه درلودی، دشعر اوشاعری سره یی څه دلچسپی نه وه په کومه قومی غونډه کی یی دخطبی اوتقریر کولو تمام عمراتفاق نه وو سوی، دځلوېښتو کالو وروسته چی عادتًاپه دغه وخت کی دزده کړی وخت ختمیږی ، دده ﷺ په ژبه یو داسی حیرانوونکی جامع الحقائق دفصاحت اوبلاغت په لوړه درجه مشتمل یوکلام راتلل شروع کیږی چی ترلوی لالوی ماهر عالم بلیغ ته هم ممکنه نه وه او ددی کلام په ذریعه دی دعربو لوی لوی فصیحانو اوبلیغانو ته خطاب کوی اودهغوی جلسوته ځی ، خطبی ورکوی اوټولی دنیاته عمومًا اوعربو ته خصوصًا داچیلنج ورکوی چی څوك په دی کی شك کوی چی داکلام الهی نهِ دی نو هغه دی ددی کوچنی غوندی سورت په شان دخپل ځان څخه ددی مثال پیش کی ټول قوم چی مځکی به یی ده ته امین وایه او دده عزت به یی کوی دده مخالف کیږی او ددی کلام دتبلیغ څخه دمنع کولو دپاره ده ته دولت حکومت اودهر انسانی خواهش دشیانو پیش کش کوی ، دی ددی شیانو څخه هیڅ شی نه قبلوی نوبیا ټول قوم دده اودده دملگرو دښمن کیږی ، ده ته تکلیفونه رسوی ، دی دا ټوله برداشت کوی لیکن ددی کلام تبلیغ نه پریږدی ، قوم دده دقتل سازشونه کوی ،

تردی چی دی خپل وطن پریږدی اومدینی ته ځی لیکن دا قوم یی هلته هم په آرام نه پریږ دی ټول عرب او اهل کتاب دده په مخالفت کولو اتفاق کوی هره ورځ په مدینه باندی حملی کیږی ، دده مخالفین دا ټول کارونه کوی خو دقرآن چلینج نه قبلوی چی دقرآن په شان یو لنډ غوندی سورت دځان څخه جوړ کی ، قرآن دوی ته غیرت ورکوی ، په دی هم د دوی دغیرت وینه په جوش کی نه راځی یوازی دا نه چی ټول عرب دقرآن دمثال دپیش کولو څخه عاجزه سوه ، بلکه پخپله هغه پاك ذات چی په هغه باندی قرآن نازل سوی وو دخپل طرفه څخه دقرآن مثال نه سوای پیش کولی ، دهغه ټول کلام یعنی حدیث شریف چی څرنگه دی دقرآن کلام یقینًا دهغه څخه جلا دی دقرآن کریم ارشاددی ، قَالَ الَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ لِقَآءَنَا ائْتِ بِقُرْآنٍ غَيْرِ هٰـذَآ اَوْ بَدِّلْهُ قُلْ مَا يَكُوْنُ لِيْ اَنْ اُبَدِّلَهُ مِنْ تِلْقَآءِ نَفْسِيْ . کوم خلق چی په آخرت کی زماپه وړاندی دراتلو څخه منکر دی دا وایی ، چی دغه رنگه یوبل قرآن جوړکړه یادا بدل کړه، ته ورته ووایه ، چی دا زما دپاره ممکنه نه ده چی زه دخپل طرفه څخه دی بدل کړم .

یوه طرف ته خو دقرآن دا واضحی معجزی دی ، چی هغه دده دکلامی الهی په کیدلو باندی شاهدی ورکوی اوبلی خواته که دده په مضمونونو حقائقو اوعلومو باندی فکر وسی نوهغه لازیات سړی حیرانوی ، دقرآن دنازلیدو دابتدایی دور څوکاله په دی حالت کی تیرسوه چی دقرآن تعلیمات په ډاگه مخکی کول ممکن اوآسانه نه وه ، نبی ﷺ به پټه باندی دقرآن داصولو دعوت خلگوته ورکوی ، بیاسره دډیرو خنډونو اومخالفتونو یی څه په ډاگه دعوت ورکول هم شروع کړل ، لیکن دقرآن کریم دمقرر قانون دنافذولو څه امکان نه وو، دمدینی ترهجرت وروسته لس کاله داسی لاس ته راغله چی هغه دمسلمانانو دپاره دآزادی زمانه گڼل کیده اوپه هغه کی دقرآنی نظام مکمل تعلیم اونافذولو کوشش اونور تعمیری کار کیدی سوای ، لیکن په دغو لسو کالو کی هم که چیری تاسی پرتاریخ اسلام باندی نظر واچوی تاسی ته به معلومه سی چی اولنی شپږ کاله داسی وه چی ددښمنانو دحملو او دمدینی دیهودو او منافقانو دسازشونو چاته فرصت نه ووچی څه تعمیری کار یی کړی وای اویاداسی نظام چی ددنیا دټولو نظامونو څخه جلا وی په عملی طور سره یی نافذ کړی وای دمسلمانانو خلاف لوی لوی معرکی په دغه شپږو کالوکي سوي دی دهجرت په شپږم کال دلسو کالو دپاره دصلح حدیبیی صلح وسوه، یوازی تریوه کاله پوری قریش په دی وعده باندی قائم پاته سوه دهغه وروسته هغوی دا وعده ماته کړه اوبیادجنگ اوجهاد سلسله شروع سوه .

په ظاهری اسبابوکی یوازی دا یودوه کاله دی چی نبی ﷺ ته دکار دپاره لاس ته راغلی دی چی دقرآن دعوت عام سی او دده دنظام دنافذولو کوشش وسی په دغه وخت کی نبی ﷺ ددنیا لویو بادشاهانوته خطونه ولیکل ، دقرآن دعوت یی هغوی ته ورسوی، دقرآن دنظام قائمولو اوخپرولو کوشش یی وکی ، دنبی ﷺ دآخری عمر مبارك پوری دآزادی څلورکاله کیدل چی په دی کی دفتح مکه جهاد هم راغی او

مکه مکرمه هم فتح سوی وه .
اوس ددغو څلوروکالو لږ وخت ته وګوری او دقرآن دی اثر اوتاثیرته نظر وکی چی دنبی ﷺ دوفات پوری په ټوله جزیرة العرب باندی دقرآن حکومت وو ، یو طرف سر حدیی دروم سره بل خواته یی سرحد دعراق سره او دریم خواته یی سرحد دعدن سره لګیدلی وو ، که چیری ددی څخه هم نظرقطع سی چی نبی ﷺ امی وو اوداهم دنظره لیری کړل سی چی دده قوم یوداسی قوم وو چی هیڅکله یی دیوه باچا اطاعت قبول کړی نه وو او دا هم دزړه څخه ویستل سی چی ټوله دنیادنبی ﷺ خلاف وه اومشرکین عرب یهود اونصارٰی ټول دده اودقرآن په ختمولوپسی لګیدلی وه ، یعنی مطلب داچی بالفرض دا ومنل سی چی فضا بالکل سازګاره اوموافقه وه نوبیا دیونوی نظام دپاره یعنی دهغه دتدوین اوترتیب دپاره بیا دهغه دتعلیم دپاره اوبیا دهغه عملی قانون نافذکولو دپاره اوبیادده په ذریعه دیوی پاکی معاشری جوړولو دپاره اوپه وطن کی دامن اوسکون پیداکولو دپاره دڅومره مودی دڅومره سرمایی او دڅومره سړو ضرورت دی ؟آیادانبی ﷺ اودهغه صحابه وو رضی الله عنهم ته حاصل وو؟ دنن صبانظامونه مخ ته کښیږدی ئوحساب ولګوی نویو ډیرکم فهمه به هم پوه سی چی دقرآن دا اثر اوتاثیر دقدرت الهیه څخه پرته څرنګه ظاهریدی سی ؟ نه سی ظاهریدی داعجازقرآنی دټولو وجهوبیان اوتفصیل یونهایتی اوږد بحث دی د امت علماؤ په دی باندی مستقل کتابونه لیکلی دی ، په هره زمانه کی په مختلفو ژبو کی په دی کی تصنیفات سوي دی «دتفصیل دپاره وګوری کتاب اعجاز القرآن دعبد الخطیب»
دټولوڅخه مخکی په دریمه صدی هجری کی جاحظ دنظم القرآن په نوم یو مستقل کتاب ولیکی، بیا دڅلورمی صدی په شروع کی ابوعبدالله واسطی د اعجاز القرآن په نوم یوکتاب ولیکی ، بیاهم په دی صدی کی ابن عیسٰی ربانی یوه مختصره رساله د اعجاز القرآن په نوم ولیکله ، قاضی ابوبکر باقلانی دپنځمی صدی په شروع کی د اعجاز القرآن په نوم یوتفصیلی کتاب لیکلی دی ، علامه جلال الدین سیوطی په اتقان اوخصائص کبرٰی کی امام رازی په تفسیرکبیرکی قاضی عیاض په شفا کی ډیرپه شرح اوبسط سره ددی مضمون تفصیل ولیکی ، په آخری دورکی مصطفٰی صادق رافعی د اعجاز القرآن په نوم اوجناب سیدرشید رضامصری د الوحی المحمدی په نوم مستقل جامع اووسیع کتابونه ولیکل ، په اوردو ژبه کی استاد محترم شیخ الاسلام حضرت مولانا شبیراحمد عثمانی داعجاز القرآن په نوم یوه رساله ولیکله ، دا هم دقرآن مجیدپه خصوصیاتوکی دی چی دده په یوه یوه مسئله باندی په مکملو تفسیرونو سر بیره مستقلی رسالی اوکتابونه دومره لیکل سوي دی چی ددی مثال ملاویدل ګران دی ، عرض کول دا دی چی دا مضمون په خپل پوره تفصیل سره خودلته نه سی بیانیدی دلته چی څومره بیان سوي دی هغه هم دیومنصف مزاج انسان دمجبوره کولو دپاره کافی دی چی قرآن دالله پاک کلام اودنبی ﷺ یوه لویه معجزه ده .

(يوځو شبهې او دهغو جوابونه)

دبعضو خلګو دطرفه څخه دا ويل کيږي چې ديره ممکنه ده چې دقرآن په مقابله کې کتابونه اومقالې ليکل سوي وي خوهغه محفوظ پاته سوي نه وي ، که چيري دلږ انصاف څخه کار واخيستل سي نو ددې وهم به ګرسره امکان پاته نه سي ځکه چې دنياته معلومه ده چې دکوم وخت څخه قرآن نازل سو بالکل دهغه وخت څخه تراوسه پورې په ټوله دنياکې دقرآن منونکي کم اومنکران يې زيات دي اودا هم معلومه خبره ده چې دنشر اواشاعت ټومره ذريعې چې دقرآن منکرانوته حاصلې دي دقرآن منونکوته حاصلې نه دي ، قرآن دومره په لوړ آوازسره دخپلو مخالفينوپه مخکې دعوه کوي هغوی ته چيلنج ورکوی غيرت ورته دروی اومخالفين دده په مقابله کې دځان مال اولاد هرڅه نه تيريږي که چيرې دوی دقرآن چيلنج قبول کړی وای اوڅه شی يې دمقابلې دپاره مخکې کړی وای نوبياڅرنګه ممکنه وه چې هغه دې په ټوله دنياکې شائع نه سي اوپه هره زمانه کې دې يې منکران دمسلمانانوپه مقابله کې پيش نه کړی اودمسلمانانو دطرفه څخه دې وربانديٰ دجرح اوتنقيد په سلګونو کتابونه ونه ليکل سي .

داسلام په اولنی پيړۍ کې يوازې دمسيلمه کذاب يمامی يوه واقعه مخ ته راغلې ده چې هغه دبې حيايي څه کوږ وږې کلمې وليکلې اودايې وويل چې دا وحی آسمانی دقرآن پشانی ده ، ليکن دنياته معلومه ده چې ددغه کلمو څه حشر وسو ، پخپله دده قوم دغه کلمې دده په مخ ور وويشتلې ، هغه کلمې داسې دبې حيايي اوقچرې کلمې وې چې په يوه مهذبه معاشره کې دهغه بيانول مشکل وو ، په هرحال څه رنګه چې هغه ترننه پورې په کتابونوکې کيږي ، که چيرې يوبل سړي څه ښه کلام دقرآن په مقابله کې جوړکړی وای نوڅه وجه نه وه چې ددنيا تاريخ دې دابالکل هيرکې اومنکرين دقرآن دې ددې دمحفوظ ساتلو دپاره دهر قيمت کوشش ونه کې ، هغه خلق چې ، دقرآن مقابلې ته هروخت دول په لاس ولاړ وه ، دقرآن ددې چيلنج په جواب کې هغوی قسم قسم خبرې کړي دي چې هغه يې نقل کړي دي او دهغه جواب يې ورکړي دی ، ليکن داسې يوه واقعه نسته چې کوم کلام دې مقابلې ته پيش سوی وی او دغه کلام دې دقرآن مثل ګڼل سوی وی ، يو رومی غلام چې په مدينه کې يې پښتوب کړی اوڅه انجيل اوتورات يې ويلی وو ، کله کله به نبي ﷺ ته راتلې دعربو ځوجاهلانو دتعصب اوعنادپه وجه دا مشهوره کړه چې نبي ﷺ ته دقرآن دا مضمونونه ده ښوولی دی قرآن د دوی دااعتراض نقل کی اوبيايې جواب ورکی چې دکوم سړي په باره کې دوی وايي چې دقرآن مضمونونه نبي ﷺ ته ده ښوولی دی هغه په خپله عجمی دی قرآن (چې په عربی کې بې حده بليغ کتاب دی) خو پريږده دی خو دعربی ژبې بلاغت دسره نه پيژني .

دسورة نحل آيت نمبر ۱۰۳ وګوری .

وَلَقَدْ نَعْلَمُ أَنَّهُمْ يَقُولُوْنَ إِنَّمَا يُعَلِّمُهُ بَشَرٌ لِّسَانُ الَّذِي يُلْحِدُونَ إِلَيْهِ أَعْجَمِيٌّ وَهٰـذَا لِسَانٌ عَرَبِيٌّ مُّبِيْنٌ .

مونږ پوهیږو چې د اسلام مخالفین دا وایي چې تاته داقرآن یو سړی درښیي حال دا دی چې دوی کوم سړي ته نسبت کوي هغه عجمي دی اوقرآن خویو بلیغ په عربي ژبه کې دی ، څه خلکو دقرآن دچیلنج په جواب کې دا ویل چې ، لَوْ نَشَآءُ لَقُلْنَا مِثْلَ هٰذَآ که چیرې مونږ وغواړو نوموږهم دقرآن پشان کلام ویلی سو، لیکن که چیرې څوك د دوی څخه دا پوښتنه وکي چې بیاتاسې ولې داسې ونه غوښتله ؟ دقرآن دمقابلې دپاره خوبې ټول زور ولګوی دځان اومال قرباني ورکول وسوه که چیرې تاسې ته ددی پشاني دکلام دلیکلو یاویلو قدرت وای نودقرآن تردی چیلنج وروسته تاسې ولې دقرآن پشان کلام جوړ نه کی اودفتح خیره مو ولې پرسر کښینښول ، لنډه دا ده چې دقرآن ددې دعوی څخه وروسته مخالفو خلکو څه شریفانه چپوالي ونه کی ، بلکه چې څه دوی ته په خوله ورتله دده په مقابله کې به یې ویل لیکن بیاهم چاویلي نه دي چې زمونږ فلاني سړي دقرآن په شاني کلام لیکلی دی نوپه دې وجه دقرآن دیوازي یاست دعوه (معاذ الله) غلطه ده ، بعضي عناد کوونکوته که چیرې په زړه کې دا رسیږي چې نبي ﷺ دنبوت مخکې دخو ورځو دپاره شام ته تللی وو اوپه لاره کې دبحیرا راهب سره یې ملاقات سوی وو ، بحیرا دتورات ماهروو دهغه څخه به نبي ﷺ علوم زده کړي وي ، لیکن دداسې سړي څخه دا پوښتنه کول په کار دي چې آیا دیوې ورځې په ملاقات سره ددې علومو اومعارفو دډیرو قسمو فصاحت اوبلاغت داخلاقو دتربیت دنظام خانګي اودنظام مملکت زده کړه کیدی سی ؟ هیڅکله نه ، نن صبا بعضي اعتراض کوونکي دا وایي چې دیوکلام مثل نه جوړیدل ددې خبرې دلیل نه سي کیدی چې دا کلام دخدای کلام دی اویا معجزه ده ، ځکه چې ممکنه ده چې دیوې اعلی درجې ماهرِ بلاغت څه نثریا نظم داسې ولیکي چې بل سړی یې نظیرنه سي را وړي ، دسعدي شیرازي ګلستان دفیضي تفسیر بغیر دټکو څخه په عام طور سره بی مثله او بی نظیره کتابونه ګڼل کیږي نوآیا داکتابونه هم معجزې دي؟ لیکن که لږ فکر وسي نو داسې ویونکي ته به معلومه سي چې دسعدي اوفیضي سره دتعلیم اسباب څومره قدروه تر څومره وخت پورې دوی تعلیم حاصل کړی وو ، په کلونو په مدرسوکې پراته وه ، شپې یې سباکړي وي، دلویو لویو علماؤ شاګر دي یې کړي وه ، دکلونو دمحنتونوپه نتیجه کې که چیرې بالفرض فیضي یابل چاته په عربي ژبه کې اوسعدي ته په فارسي ژبه کې اوملټن ته په انګریزي ژبه کې یا هومرته په یوناني ژبه کې یاکالي داس ته په سنسکرت کې دومره مهارت حاصل سي چې دنورو ترکلام ډیر لوړسي نوداځه دتعجب خبره نه ده، ځکه چې دمعجزې تعریف دا دی چې هغه دمتعارفو اسبابو دواسطې څخه پرته سوی دی ، آیاددې خلکو باقاعده داستاذانو سره اوږده ملګرتیا دعلمونو دحاصلولو دپاره اوډیره مطالعه اسباب نه دي؟ که چیرې د دوی کلام دنورو څخه ممتاز وی نو په دې کې دتعجب څه خبره ده دتعجب خبره خو دا ده چې چاکله هم کتاب اوقلم په لاس

کی اخیستی نه وی ، اوهغه داسی کتاب دنیا ته وړاندی کړی چی په زړګونو سعدیان اوپه لکونو فیضیان په دی باندی قربانیدل خپل فخر ګڼی اوچی دوی ته کوم علم اوحکمت حاصل سوی دی ، هغه هم دغه ذات دفیضِ تعلیم اثرګڼی داسی کتاب دتعجب کولو وړدی اوداسی کتاب بس بل څه نه سی کیدی بلکه معجزه کیدی سی ، بیادقرآن پوازی بلاغت اوفصاحت اونظم ترکیب بی مثاله نه دی دخلګو په زړونو اومزاجونو باندی دده اثرهم بی مثاله دی او چی دده په وجه دخلګو مزاج بدل سو دعربو سخت خویه صحرایان دعلم اواخلاقو اودعلم اوحکمت استاذان ومنل سوه، ددغه عجیبه انقلابی اثرونو اقرار پوازی مسلمانان نه کوی دموجوده زمانی په سلګونو کافرانوهم کړی دی ، دیورپ دمستشرقینو مقالی که چیری په دی باره کی جمع سی نو یومستقل کتاب به ورڅخه جوړسی اوحکیم الامت حضرت مولانااشرف علی تهانوی رحمه الله په دی موضع باندی یومستقل کتاب لیکلی دی ، ددی کتاب نوم ، شهادة الاقوام علی صدق الاسلام دی ، دلته مونږ پوازی دیوڅو مستشرقینو حوالی نقل کوو.

ډاکتر ګستاؤلی بان پخپل کتاب تمدن عرب کی په ښه وضاحت سره ددغه حیرت انګیزئ اقرار کړي دی ، دهغه دالفاظو ترجمه داسی ده «ددی پیغمبر اسلام ددی اُمّی نبی هم یو حیرت انګریز سرګزشت دا دی چی دهغه آواز یوداسی سرکښه قوم تابعدار کړی چی تردغه وخته پوری تریوه ملک ګیر حکومت لاندی نه وو راغلی اوداسی درجی ته یی ورسوی چی ددنیا لوی لوی بادشاهتونه یی لاندی باندی کړل ، او اوس هم دغه اُمّی نبی دخپل قبردتل څخه په لکونو بندګان داسلام په کلمه باندی قائم ساتلی دی» مسټرډول چی هغه دقرآن ترجمه پخپله ژبه کی کړي ده لیکی «څومره چی مونږ داکتاب «یعنی قرآن» اړوو را اړوو ګورو دومره قدر په مخکنی مطالعی کی دده ناخوالی دنوو نوو اړخونو خپل رنګ ګلکوی ، لیکن فوراً مونږ مسخر کوی اوحیرانوی اوپه آخرکی مونږ په دی مجبور وی چی دده تعظیم وکو دده دبیان طریقه دمضامینو اغراضوپه اعتبار پاکه عالیشانه زورنه وړکوونکی ده اوځای پرځای دده مضمونونه کلام دلوړوالی انتهاته رسوی ، غرض دا چی داکتاب په هره زمانه کی خپل اثر ښیی» یو فرانسی مستشرق مسټر کونټ دقرآن متعلق خپل تاثرات داسی بیانوی «عقل حیرانه دی چی داسی کلام دداسی سړی دخولی څخه ولی وزی چی هغه بالکل اُمّی دی ټول مشرق اقرار کړي دی چی انسان دده دنظیر پیش کولو څخه لفظاً اومعنًی عاجزه دی ، دا هغه کلام دی چی دده لوړی انشا پردازی حضرت عمر رضی الله عنه مطمئن کی، داهغه کلام دی چی کوم وخت دیحیی علیه السلام دولادت متعلقی جملی جعفربن ابی طالب دحبشی بادشاه په دربارکی وویلی نوهغه دسترګو څخه بی اختیاره اوښکی روانی سوی او بشپ چیغه کړه چی داکلام دهغه چینی څخه راوتلی دی چی دکومی چینی څخه دعیسی علیه السلام کلام را وتلی وو»

دانسائیکلوپیډیا برټانیکا ج ۱۲په ص ۵۹۹ کی دی «دقرآن دمختلفو حصو مطالب دیوبل څخه بالکل جلادی ، ډیرآیاتونه یې په دینی اواخلاقی خیالاتو باندی مشتمل دی مظاهرِ قدرت تاریخ دانبیاؤ دالهاماتوپه ذریعه په قرآن کی دخدای عظمت مهربانی او صداقت یادکړه سوي دی خاص کردحضرت محمد (ﷺ) په واسطه خدای واحد اوقادرِ مطلق ظاهرسوي دی ، بت پرستی اومخلوق پرستی بغیردخه فرق څخه ناروا ګرځول سوي ده ، دقرآن متعلق دابالکل په ځای وینا ده چی دټولی دنیاپه موجوده کتابونو کی دی (یعنی قرآن) زیات ویل کیږی»

ډاکترګبن دخپل مشهور تصنیف «دروم دسلطنت کښته کیدل اوزوال» په جلد ۵ باب ۵۰ کی لیکی ، «دقرآن په حقله داټلانټک څخه واخله ترګنګا سیندپوری منل سوی خبره ده چی دا دپارلیمنټ روح دی بنیادی قانون دی اویوازی دمذهب داصولو دپاره نه دی بلکه دتعزیرونو داحکامو دپاره دي اودهغه قوانینو دپاره هم دی چی پرهغوی باندی دنظام مداردی اوچی دهغوی سره دانسان ژوندتړلی دی او چی هغوی ته دانسان دژوندپه ترتیب کی زور تعلق دی ، حقیقت دا دی چی دحضرت محمد (ﷺ) شریعت په ټولو حاوی اومشتمل دی ، دا شریعت په داسی دانشمندانه اصولو اوپه داسی قانونی انداز کی مرتب سوي دی چی په ټول جهان کی ددی نظیر نه سی پیداکیدی»

دلته دیورپ دمستشرقینو داقوالو اوداقرارونو احاطه نه سی کیدلای ، ځکه چی ځای ددی خبری ګنجائش نه لری دنمونی په توګه څواقواله نقل سوه چی دهغه څخه داواضحه سوه چی دفصاحت اوبلاغت په اعتبار سره دقرآن دبی مثله اوبی نظیره کیدو اقرار یوازی مسلمانانونه دی کړی ، بلکه په هره زمانه کی منصف مزاجوغیر مسلمانانوهم کړي دی ، قرآن ټولی دنیاته دخپل مثال دراوړلو چیلنج ورکړی وو خوچامثال رانه وړی ، نن هم هرمسلمان ددنیا ماهرینِ علم اوسیاست ته په چیلنج ورکولو کی ویلی سی چی دټولی دنیاپه تاریخ کی یوه واقعه داسی وښیاست چی تریوه لوی لالوی ماهرحکیم فلسفی یوځای راپورته سوی وی اودټولی دنیا دعقائدو نظریاتو رسمونو اوعادتونو خلاف یې یونوی نظام وړاندی کړی وی اودهغه قوم هم جاهل وی ، بیاهغه په دومره لږ زمانه کی ددی تعلیم عام کی او په عملی ډول نافذولو کی یې دی حدته ورسوی چی دهغه نظیر دنن په مضبوطو نظامونو کی پیداکول ممکن نه وی ، ددنیاپه مخکی تاریخ کی که چیری ددی څه نظیرنسته نونن چی ددیری ړنا اوتیز رفتاری زمانه ده څوك دی ددی نظیر راوړی او ودی ښیی که چیری یوازی یې نه سی کولای نوخپل قوم بلکه دټولی دنیاقومونه دی جمع کی اوددی مثال دی جوړکی .

فَإِنْ لَّمْ تَفْعَلُوا وَلَنْ تَفْعَلُوا فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِي وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ .

که چیری تاسی ددی مثال رانه وړی سوای اوهیڅکله به یې رانه وړی سی نوبیا دهغه دوږخ د اور څخه

وَبَشِّرِ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ

او زيری ورکړه هغه خلقو ته چې ايمان يې راوړی دی او ښه کارونه يې کړي دي چې دوی دپاره باغونه دي

تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ۖ كُلَّمَا رُزِقُوا مِنْهَا مِنْ ثَمَرَةٍ رِزْقًا ۙ

چې بهيږي به دهغه تر درختو لاندې ولې کوم وخت چې دوی ته دهغه ځای څه ميوه دخوراك دپاره ورکړل سي

قَالُوا هَٰذَا الَّذِي رُزِقْنَا مِنْ قَبْلُ ۖ وَأُتُوا بِهِ مُتَشَابِهًا ۖ

نو دوی به ووايي چې دا خو هغه شی دی چې مونږ ته له دې څخه مخکې را کول سوي وو او رابه ورل سي

وَلَهُمْ فِيهَا أَزْوَاجٌ مُطَهَّرَةٌ ۖ وَهُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿٢٥﴾

دوی ته ميوه هم رنګه او دوی دپاره به هلته پاکې ښځې وي او دوی به هلته هميشه اوسيږي.

لنډتفسير: زيری واوروه ته هغو خلګو ته چې کومو ايمان راوړيدی او ښه عملونه يې کړي دي ددې خبرې چې بيشکه د دوی دپاره جنتونه دي چې بهيږي ترهغوی لاندې ولې او چې کوم وخت ورکړل سي خلګو ته ددې جنتونو دميوو څخه خوراك نو دوی به هر وار دا وايي چې دا خو هغه دی چې مونږ ته راکړل سوی وه مخکې او ورکول کيږي به دوی ته هروار يوشان ميوه اود دوی دپاره به په دې جنتونو کې بيبيانې ..ې چې صافې پاکې به وي اودا خلق به په دې جنتونوکې هميشه اوسيدونکې وي.

پ. هر وار کې يو ډول ميوه حاصليدل به دخوند دپاره وي څکه چې په دواړو واروکې دميوو شکل اوصورت يو وي نو دوی به دا خيال وکي چې دا خو مخکې قسم ميوه ده ليکن په خوړلوکې به يې خوندبل وي او دداسې کيدو دوچې څخه به خوند اوخوشحالي زياته سي

(دآيتونو ديوبل سره تړون)

ددې څخه په مخکې آيت کې دا بيان ووچې څوك قرآن نه مني . هغه دپاره عذاب دی اوپه دې آيت کې دقرآن منونکو ته زيری دی چې په هغه کې دجنت دعجيبو اوغريبو ميوو اودحورو ذکردی.

علوم اومسئلې: جنتيانوته مختلف قسمه ميوې په يوه شکل اوصورت کې د ورکولوڅخه مقصداو غرض دادی چې لذت خوند اوخوشحالي يې زياته سي اوبعضو مفسرينو دميوو دمتشابه کيدلو څخه دا مراداخيستی دی چې دجنت ميوې به په شکل کې ددنيادميووپشان وي چې کله جنتيانو ته ورکړل سي نودوی به ووايي چې داخوهغه ميوې دي چې مونږته به په دنياکې حاصليدې ليکن په خوندکې به دا داسې وي چې ددنياميوه به يې ګردته هم نه رسيږي يوازې دنوم اودشکل په اعتباربه دادواړه يوشان وي

په جنت کې دپاکو بیبیانو څخه مطلب دا دی چې دابیبیانې به ددنیادتولوظاهري او اخلاقي پلیتیو څخه پاکې وي لکه بولې ګندګي حیض نفاس اودهرهغه شي څخه به پاکې وي چې دکوم شي څخه دانسان نفرت کیږي اوداشان دبدخویۍ بې وفایي اودنورو باطني عیبونو څخه به هم پاکې وي، په آخرکې الله پاك وفرمایل چې دجنت نعمتونه ددنیا دنعمتونو په شان وختي اوفاني مه ګڼه چې دهغه فناکیدو یادواپس اخیستو هر وخت خطره وي بلکه دا خلق به په دې نعمتونو کې دهمیشه همیشه دپاره وي ، دلته چې مومنانوته دجنت زیرې ورکوي دایمان سره یې دعمل صالح قیدهم لګولې دی ، دا ځکه چې ایمان وي او ورسره عمل صالح نه وي نو سړي ددې زیرې حقدارنه سي کیدلی ، که څه هم یوازې ایمان هم دجهنم دهمیشه د اوسیدنې څخه دخلاصیدوسبب دی ، مومن که هرڅومره ګنهکاروي یو وخت به هغه دجهنم څخه راایستل کیږي اوجنت ته به ورسیږي ، لیکن دجهنم دعذاب څخه بیخي دخلاصون پیداکولو بغیردعمل صالح څخه هیڅ څوك نه سي حقدار کیدلی (قرطبی\روح البیان)

إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَسْتَحْىِۦٓ أَن يَضْرِبَ مَثَلًا مَّا بَعُوضَةً فَمَا فَوْقَهَا

بیشکه الله پاك شرم نه کوي چې بیان کړي څه مثال دماشي یا دداسې شي چې هغه دماشي څخه زیات وي ،

فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ فَيَعْلَمُونَ أَنَّهُ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّهِمْ

نو چې کوم خلق مؤمنان دي هغوی په یقین سره پیژني چې دا مثال صحیح دی او چې نازل سوی دی

وَأَمَّا ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ فَيَقُولُونَ مَاذَآ أَرَادَ ٱللَّهُ بِهَٰذَا مَثَلًا

د دوی دپروردګار دطرفه څخه او چې کوم کافران دي نو هغوی وایي چې څه مطلب وو د الله پاك ددې مثال څخه

يُضِلُّ بِهِۦ كَثِيرًا وَيَهْدِى بِهِۦ كَثِيرًا ۚ وَمَا يُضِلُّ بِهِۦٓ إِلَّا

ګمراه کوي الله پاك په دې مثال سره ډیر او هدایت کوي په دې سره ډیروته او ګمراه کیږي نه په دې مثال سره

ٱلْفَٰسِقِينَ ﴿٢٦﴾ ٱلَّذِينَ يَنقُضُونَ عَهْدَ ٱللَّهِ مِنۢ

مګر بد عمله ، هغه چې ماتوي دالله پاك وعده د

بَعْدِ مِيثَٰقِهِۦ وَيَقْطَعُونَ مَآ أَمَرَ ٱللَّهُ بِهِۦٓ أَن يُوصَلَ

هغه دمضبوطولو څخه وروسته او پریکوي هغه شي چې دهغه متعلق الله پاك دپیوست کولو حکم کړی دی

وَيُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ ۚ أُولَٰئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ ﴿٢٧﴾

او فساد کوی | په ملك کی | دغه خلق دی | دلوی زیان والا.

لنډتفسیر: (بعضو مخالفت کوونکو دقرآن په کلامی الهی کیدو باندی دااعتراض کوی چی په دی کی دډیرو سپکو حقیرو شیانو ذکر په مثالونوکی سوي دی لکه غوماشه مچ او نور، که چیری دا دالله پاك کلام وای نو ددی سپکو شیانو ذکر به په کښی نه وای، نو ددی اعتراض جواب ورکول سو چی) هو واقعی الله ﷻ خونه شرمیږی چی بیان کی څه مثال هم برابره خبره ده که هغه دغوماشی وی اوکه تردی هم زیات وی (یعنی په سپکوالی کی تر ماشی هم زیات وی) چی کوموخلکو ایمان راوړي دی (برابره خبره ده هرڅه چی وی) نوهغوی به دا یقین کوی چی بیشکه دامثال بالکل په ځای دی د دوی دپروردګار دطرفه څخه اوپاته سوه هغه خلق چی کوم کافران دی (هرڅه چی اوسی) هغوی بس دا وایی چی دا به کوم مقصد وی چی دهغه اراده به الله پاك کړی وی ددی سپك مثال څخه ګمراه کوی الله ددی مثال په وجه ډیر اوهدایت ورکوی ددی مثال په وجه ډیروته اوګمراه کوی نه الله پاك په دی مثال سره هیڅوك مګر یوازی نافرمانی کوونکو ته چی هغوی ماتوی هغه وعده چی دالله سره یی کړی وه دهغی ترمضبوطولو وروسته (یعنی دازل وعده چی په هغه کی ټولو روحونو دالله پاك درب کیدلو اقرار کړي دی) اوقطع کوی هغه تعلقات چی حکم ورکړی دی الله ﷻ دهغوی په پیوست کولو (په دی کی ټول شرعی تعلقات دا خل دی برابره خبره ده که داهغه تعلقات وی چی دبنده اودخدای په مینځ کی دی یاهغه چی دده او دده دخپلوانو په مینځ کی وی یادعامو مسلمانانوپه مینځ کی وی اوهغه چی دعاموانسانانو په مینځ کی دی) او فساد کوی په مځکه کی (کفر اوشرك هم پخپله فساد دی اوپه نورو باندی ظلم اوحق نه پیژندل چی دا دکفر سره لازم شی دی دا ټول په دی فسادکی دا خل دی) بس دغه خلق دی په مکمله خساره کی پریوتونکی (چی ددنیاراحت اودآخرت نعمت دواړه یی دلاسه ووتل څکه چی دحاسد دنیوی ژوندهم همیشه تریخ وی)

علوم اومسائل:

(دآیاتونو دیوبل سره تړون)

څوآیاتونه مخکی دقرآن کریم دا دعوه ذکرسوه چی په قرآن کریم کی دڅه شك اوشبهی ځای نسته اوکه چیری څوك دده په کلام الهی کیدو باندی شك کوی نوهغه دی دده دکوچنی غوندی سورت مثال جوړ کی او را مخکی دی کی او په دی آیاتونوکی دقرآن دمنکرینو دیوی بلی شبهی جواب ورکول سوي دی شبه دا وه چی په قرآن کی دمچ غوماشی په شان سپك ذلیل شی ذکر سوی دی او دا دالله پاك اودهغه دکلام دلوی والی سره سمون نه خوری که چیری دا دالله پاك کلام وای نوپه دی کی به دداسی سپکو

ذليلو شيانو ذكرنه واى څكه چې لوى خلق دداسې شيانو په ذكر كولو كې شرم كوى ، نو جواب دا ورکول سو چې کوم وخت ديو سپك او ذليل شى مثال وركول وى نو دداسې سپك او ذليل شى سره دهغه مثال وركول دعقل اوبلاغت دوارو تقاضاده ، نو په دى وجه ديو سپك شى ذكر كول دشرم او حيا سره قطعًابى سمونه نه دى ، نو ددى وجى څخه الله ﷻ دداسې شيانوپه ذكر كولوكې شرم نه كوى او دا هم ښيى چې داسې بې وقوفه شبهې يوازې هغوخلكوته ورورانډى كيږى چې دهغوى زړونه اومغز دكفرپه وجه دپوهې صلاحيت نه لرى ، ايماندار وته هيڅكله داقسم شبهې نه ورورانډى كيږى، اوددى څخه وروسته په دى ذكر كې يوبل حكمت يې وښووى ، هغه داچې په داسې مثالونو سره دخلكو امتحان اخيستل هم وى دسوچ اوفكر كونكوديپاره دامثالونه دهدايت ذريعې گرځى اودبې پرواوو او غافلو خلكو دپاره دنورى گمراهې سبب گرځى اوتردى يې وروسته دا هم وښووله چې دقرآن كريم په دى قسم مثالونوسره يوازې سركښه خلق گمراه كيږى چې هغوى دالله پاك سره كړى وعده ماتوى ، او چې دهغه نتيجه په مځكه كې فساد خپرول دى .

بَعُوۡضَةً فَمَا فَوۡقَهَا: ددى لفظى معنى ده چې غوماشه ياتردى هم زيات دلته دزيات څخه مراد دا دى چې په حقارت اوذلالت كې زيات وى (مظهرى) يُضِلُّ بِهٖ كَثِيۡرًا وَّيَهۡدِىۡ بِهٖ كَثِيۡرًا: دقرآن او دقرآن دمثالونو څخه ډيرو خلكوته دهدايت حاصليدل يوه څرگنده خبره ده ليكن ددى په ذريعه دډيرو خلكو دگمراه كيدلو مطلب څه دى ؟ مطلب دا دى چې څه رنگه قرآن دده دمنونكو اوپه ده دعمل كونكوديپاره دهدايت ذريعه ده ، هم دغه ډول دده دانكار كوونكو او مخالفت كوونكو دپاره دگمراهى ذريعه ده ،

وَمَا يُضِلُّ بِهٖۤ اِلَّا الۡفٰسِقِيۡنَ : فاسقين دفاسق څخه جوړ دى اودفسق لفظى معنى ده وتل اودشرعى په اصطلاح كې دالله ﷻ دطاعت څخه وتلو ته فِسق وايى اودطاعت الهيه څخه وتل دكفر او انكارپه ذريعه هم كيږى اوپه عملى نا فرمانى سره هم ، ددى وجى څخه دفاسق لفظ دكافر دپاره هم ويل كيدى سى ، په قرآن كې دفاسقين لفظ ډير دكافرانو دپاره استعمال سوي دى اومومن گناهكارته هم فاسق ويل كيږى دفقهاوو په اصطلاح كې په عام طور باندى دفاسق لفظ دمومن گناهگار دپاره استعمال سوي دى ، دفقهاؤ په اصطلاح كې فاسق دكافر مقابل او دهغه قسيم (ضد) دى، څوك چې گناه كبيره (لويه گناه) وكى او دهغه څخه توبه ونه كى ياپرصغيره (كوچنى) گناه باندى هميشه والى وكى او دا خپل عادت جوړكى نودى دفقهاؤ په اصطلاح كې فاسق دى (مظهرى) اوڅوك چې دفسق داكار اوگناه په فخر جهر اوپه جرات سره كوى هغه ته فاجر ويل كيږى دآيت معنى داسې سوه چې دقرآن دمثالونو څخه ډيرو خلكوته هدايت حاصليږى او ډيرو خلكوته گمراهى ليكن ددى مثالونو څخه يوازې هغه خلق گمراه كيږى چې فاسق يعنى داطاعتِ خداوندى څخه وتونكى وى اوپه څاكې چې يوڅه قدر دالله ﷻ څخه بيره وى نودهغوى دپاره داهدايت وركوى .

اَلَّذِيْنَ يَنْقُضُوْنَ عَهْدَ اللّٰهِ مِنْۢ بَعْدِ مِيْثَاقِهٖ: دمعاملي اودمعاهدي هغه صورت ته عهدوايي چي د دوو کسانو په مينځ کي فيصله په وسي اوميثاق داسي معاهدي ته وايي چي په قسم اوسوگند سره مضبوط سي، په دی آيت کی دمخکی آيت دمضمون زيات وضاحت او دقرآن دمنکرينو دبدانجام ذکردی چي دقرآن په دی مثالونو سره چي پرهغه باندی مشرکان اعتراض کوی يوازی هغه خلق گمراه کيږی چي هغوی دالله ﷻ داطاعت څخه سرکښی کوی اوددی سرکښی دوی وجی دی ، اول داچي داسي کونکی هغه ازلی معاهده ماتوی چي هغه ټولو انسانانو دخپل رب سره مضبوطه کړی وه اود اَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ په جواب کی يی بَلٰی ويلی وه چي ددی لازمی تقضادا ده چي انسان دی دهغه داطاعت څخه دوينبته برابر تجاوزنه کوی دا ازلی وعده دالله ﷻ او دانسان په مينځ کی وسوه اوس په دنياکی ترپيدا کيدلو وروسته ټول پيغمبران عليهم السلام اوآسمانی کتابونه ددغه وعدی دنوی کولو او ددی وعدی دياد گيرنی دپاره راغی ، چاچی دامعاهده ماته کړی وی دهغه څخه به څه اميدوسی چي هغه به ديوه پيغمبر ياآسمانی کتاب څخه فائده واخلی ؟ دوهمه وجه دا چي دی خلگو هغه ټول تعلقات مات کړي دی چي دهغوی دپيوند کولو حکم الله پاك ورکړي دی ، په دی تعلقاتوکی هغه تعلق هم داخل دی چي دبنده اوالله پاك په مينځ کی دی اوهغه تعلق هم چي دانسان دخپل مور اوپلار اونورو قريبانوسره دی اوهغه تعلق هم چي دانسان دخپلو همسايگانو او دکاروبار دشريکانوسره دی اوهغه تعلق هم چي دمسلمانانو يادعامو انسانانو سره دی ، ددی تعلقاتو پوره اومکمل حقونو اداکولوته اسلام ياشريعتِ اسلام وايی ، اوپه دوی کی دکوتاهی دکبله په ټوله مځکه کی فساد پيداکيږی ددی وجی تردی جملی وروسته يی وفرمايل: وَيُفْسِدُوْنَ فِي الْاَرْضِ يعنی داخلق په مځکه کی فساد خپروی ، دآيت په آخرکی يی د دوی دعاقبت ذکر داسی وکی چي داخلق په لويه خساره اوزيان کی دی .

(په مثال کي ديوه حقير (ذليل) ياشرمناک شي ذکر کول څه عيب نه دی)

اِنَّ اللّٰهَ لَايَسْتَحْيٖٓ څخه ثابته سوه چي ديوفائده مند مضمون دوضاحت دپاره يوحقيرسپك اوذليل شی ذکر کول نه څه عيب اونه څه گناه ده اونه دويونکی دعظمت اودلويی سره منافی ده قرآن اوسنت او دعلماؤ سلفو په اقوالوکی ډيرداسی مثالونه دی چي هغه عرفًا شرمناك گڼل کيږی، ليکن قرآن اوسنت ددغه عرفی شرم اوبی حيايی څه پروا ونه کړه او داصلی مقصد دوضاحت دپاره يی ددی مثالونو څخه پرهيز ونه کی ، دينْقُضُوْنَ عَهْدَ اللّٰهِ : څخه ثابته سوه چي دوعدی او عهدخلاف کول سخته گناه ده چي دهغه نتيجه داهم کيدی چي دغه مخالفت کوونکی دټولو نيکيو څخه محرومه سی .

(دتعلقاتو شرعي حقوق ادا کول واجب دی او ددی خلاف کول لويه گناه ده)

وَيَقْطَعُوْنَ مَآ اَمَرَاللّٰهُ بِهٖٓ اَنْ يُّوْصَلَ : څخه معلومه سوه چي دکومو تعلقاتو او روابطو دقائمولوحکم شريعت اسلامی ور کړي دی دهغوی قائمول ضروری اوشکول يی حرام دی ، که چيری فکر وسی نو

دین اومذهب نوم دی دهغه حدودو اوقیدونو چی هغه دحقوق الله اوحقوق العباد داداکولو دپاره مقرر سوي دی او ددی دنیا صلاح اوفساد ددغو تعلقاتو په صحیح لرلو اونه لرلو کی ده ، نو په دی وجه ددی تعلقاتو قطع کولو ته دیُفۡسِدُوۡنَ فِی الۡاَرۡضِ په الفاظو دعالم دفساد وجه ویل سوي ده ، په اُولٰٓئِكَ هُمُ الۡخٰسِرُوۡنَ کی خساری والا یوازی هغه کس ښوول سوي دی چی دمذکورو احکامو خلاف ورزی کوی اوپه دی کی دی خبری ته اشاره ده چی اصلی خساره اونقصان دآخرت دی ، ددنیا خساره اوتاوان څه قابلِ توجه شی نه دی .

كَيۡفَ تَكۡفُرُوۡنَ بِاللّٰهِ وَكُنۡتُمۡ اَمۡوَاتًا فَاَحۡيَاكُمۡ ثُمَّ

څرنگه کافرکیږئ په الله ﷻ حال دادی چی تاسی مړه واست بیا الله ﷻ تاسی ژوندی

يُمِيۡتُكُمۡ ثُمَّ يُحۡيِيۡكُمۡ ثُمَّ اِلَيۡهِ تُرۡجَعُوۡنَ ﴿۲۸﴾ هُوَ الَّذِیۡ

کړاست بیا به تاسی مړه کی بیا مو ژوندی کړی بیابه بیرته الله ﷻ ته رجوع کوی ، دا هغه دی چاچی

خَلَقَ لَكُمۡ مَّا فِی الۡاَرۡضِ جَمِيۡعًا ثُمَّ اسۡتَوٰٓی اِلَی السَّمَآءِ

تاسی دپاره پیداکړل هر هغه ټول شیان څه چی په مځکه کی دی ، بیایی قصدوکی دآسمان په طرف

فَسَوّٰىهُنَّ سَبۡعَ سَمٰوٰتٍ ؕ وَهُوَ بِكُلِّ شَیۡءٍ عَلِيۡمٌ ﴿۲۹﴾ ع

نو دایی اووه آسمانونه برابر کړه او الله ﷻ په هر شی خبر دی .

لنډتفسیر: گوره ! ولی ناشکری کوی دالله ﷻ څخه (چی دهغه احسانونه هیروی اودنورو کلمی وایاست) حال دا دی (چی په دی باندی واضح دلائل دی چی یوازی الله ﷻ دعبادت حقداردی مثلاً داچی) تاسی بی ساه واست (یعنی په نطفه کی تر روح اچولو مخکی) نو تاسی یی ژوندی کړاست بیابه تاسی مړه کړی اوبیابه مو ژوندی کړی (یعنی دقیامت په ورځ) بیابه هغه ته بوتلل سی (یعنی دقیامت په میدان کی دحساب اوکتاب دپاره به ضرور حاضر سی) دا ذاتِ پاك داسی دی چی هغه پیداکړي دی ستاسی دفائدی دپاره څه چی په مځکه کی موجود دی ټول (دافائده عامه ده که دخوراك اوچیښاك وی اوکه د اغوستلو استعمالولو وی اوکه دنکاح او د روح دتازه کولو دپاره وی ددی څخه دا معلومه سوه چی په دنیا کی داسی څه شی نسته چی دهغه څخه انسان ته څه فائده نه وی ، او ددی څخه دانه لازمیږی چی دهر شی استعمال دی حلال وی ، لکه زهر چی هغه دانسان دفائدی څخه خالی نه دی لیکن دهغوی

خوراك دعاقلانو په نزد منع دي) بيايي توجه وكړه دآسمان په طرف (يعني دهغه دتخليق اوتكميل په طرف) نو دا يې اووه آسمانونه صحيح جوړ كړه اوهغه خو دټولو شيانو پيژندونكى دى .

علوم اومسئلې

(دآيتونو ديوه اوبل سره تړون)

په مخكې آياتونو كې دالله پاك دوجود توحيد اودرسالت دواضحو دليلونو ذكر وو اودمنكرينو او مخالفينو دباطلو خيالاتو رد وو په دې دوو آياتونو كې دالله پاك داحسانونو اوانعامونو ذكر دى او ددې تعجب ظاهرول دي چې د دومره احسانونو سره څه رنګه داظالمان په كفر اوانكاركې مبتلادي ، په دې تعجب كولو كې دې خبرې ته هم اشاره ده كه چيرې داخلق په دليلونوكې دفكر كولو تكليف نه سي كولى نوكم ازكم داحسان كوونكي داحسان منل اودهغه تعظيم اواطاعت كول خو دهر شريف انسان طبعي اوفطري تقاضاده نو ددغه لارې تاسې دالله ﷻ اطاعت ته راسې .

په مخكې آيت كې دهغو خاصو نعمتونو ذكردى چې دهرانسان په ذات اونفس كې موجود دي چې اول هغه دبې روحه ذرو په شكل كې وو بيايې ده كې الله ﷻ ژوند وراچوى ، په دوهم آيت كې دهغو عامو نعمتونو ذكر دى چې دهغه څخه انسان اونور ټول مخلوقات فائده اخلي او چې د انسان دژوند اودبقا دپاره ضروري دي او دغه عام نعمتونه مځكه او دمځكې پيداوار دي چې ددې سره دانسان ډير نژدې تعلق دى اوبيا آسمانونه دي چې په دوى سره دمځكې ژوند اوپيداوار تړل سوى دى ، كَيۡفَ تَكۡفُرُوۡنَ بِاللهِ (څرنګه انكاركوئ دالله ﷻ څخه) دې خلګوكه په ظاهره دالله پاك څخه انكارنه وو كړى ليكن دخداى ﷻ دپيغمبر څخه انكاركول دخداى ﷻ څخه انكار كول وګڼل سو نوځكه داسې خطاب وسو ،

وَكُنۡتُمۡ اَمۡوَاتًا فَاَحۡيَاكُمۡ: اموات دميت جمع ده مړ اوبې روحه شي ته ميت ويل كيږي مراد دادى كه چيرې انسان په خپل اصلي حقيقت باندې سوچ وكې نوده ته به معلومه سي چې دانسان وجود په ابتداء كې هغه بې روحه ذرې وې چې څه دكلكوشيانوپه شكل كې اوڅه دبهيدونكوشيانوپه شكل كې اوڅه دخوراكونو په صورت كې په ټوله دنياكې خپرې وې ، الله پاك دغه بې روحه ذرې دكوم كوم ځاى څخه راټولې كړې اوبيايي په كښې ساه واچوله اوذرې يې ژوندې انسان كې، دا دانسان دپيدا ښت دابتداء ذكردى .

ثُمَّ يُمِيۡتُكُمۡ ثُمَّ يُحۡيِيۡكُمۡ، يعنې چې هغه اول وارستاسې بې روحه اوبې ساه ذرې راجمع كړې اوپه كښې يې ساه واچوله ، هغه به تاسې ته په دې دنياكې ترمقرر وخت تيرولو وروسته بيامرګ دركې اوبياڅه زمانه وروسته په قيامت كې به دغه ډول ستاسې ساه بدن اوخورې ورې ذرې به راجمع كې تاسې به ژوندې كې ، دغه شان يومرګ يعنې بې ساه كيدل ستاسې په ابتداء كې وو بيا الله پاك تاسې ژوندې كړاست ، دوهم مرګ په دنياكې ترعمر پوره كولو وروسته به وي او دوهمه زندګي به دقيامت په ورځ وي ، دمځكنى مرګ او ژوندون په مينځ كې څه فاصله نه وه نو ددې وجې څخه په دې كې دفآء حرف

استعمال سو فَاَحْيَاكُمْ اوكله چي ددنيا دژوند اومرگ په مينځ كي اوهم دا ډول ددغه مرگ اودقيامت دژوند په مينځ كي څه ډيره فاصله وه نو په دي وجه دلته د ثُمَّ لفظ واخيستل سو، ثُمَّ يُمِيْتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيْكُمْ ځكه چي دثُمَّ لفظ دنيتي دليري والي دپاره استعماليږي ثُمَّ اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ددي څخه مراد حشر نشر او دقيامت وخت دي ، په دي آيت كي الله ﷻ پرانسان چي كوم احسانونه كړي دي دهغه ذكر دي اوپه دغه احسانونو كي ژوند يو داسي انعام اواحسان دي چي دنورو انعامونو څخه فائده اخيستل يوازي ددغه انعام (يعني ژوند) په وجه دي يوه خبره دلته دفكر وړده چي په دي آيت كي چي كله دنعمتونو ذكرسوى دي نو دمرگ ذكر څرنگه وسو يعني مرگ نعمت څنگه كيدى سي هغه په دي وجه دنعمتونو په قطاركي راځي چي دامرگ ددائمي ژوند دپاره يوقسم دروازه ده نوپه دي وجه دامرگ هم يونعمت سو.

مسئله: ددغه آيت څخه دا معلومه سوه چي څوك دنبي ﷺ درسالت څخه منكروى يادقرآن دكلام الهى كيدلو څخه منكر وي ، هغه كه څه هم په ظاهره دخداى ﷻ دوجود اوعظمت څخه انكار ونه كي خو بيا هم دخداى ﷻ په نزد دخداى ﷻ دمنكرينو په قطاركي راځي .

(برزخي ژوند)

په دي آيت كي ددنيا دژوند اومرگ څخه وروسته ديوه ژوند ذكر دي ، چي دقيامت په ورځ به وي دقبر دژوند چي هغه دقبر دسوال اوجواب اوپه قبركي دثواب او عذاب ذريعه ده ، ذكر نسته .

وجه دا ده چي دا برزخي ژوند دهغه ژوندپه شان نه دي چي هغه انسان ته په دنياكي حاصل وو يا په آخرت كي ورته حاصليږي بلكه دا درمياني شكل لكه دخوب دژوندپه شان دي ، دي ته ددنيا دژوندون تكمله هم ويل كيږي اود آخرت دژوند مقدمه هم نو په دي وجه دا څه مستقل ژوندنه دي چي جلايي ذكر سوى واى .

هُوَ الَّذِىْ خَلَقَ لَكُمْ مَّافِى الْاَرْضِ جَمِيْعًا: په دي كي دهغه عام نعمت ذكر دي چي په هغه كي ټول انسانان بلكه حيوانات او نور هم شريك دي اوپه يوه لفظ سره دهغوى ټولو نعمتونو اجمالي ذكر وسو چي په دنيا كي يوه انسان ته حاصل سوي وي ياحاصليدي سي ، ځكه چي دانسان غذا ، لباس مكان او دوا او دآرام نور ټول سامان هم دمځكي پيداوار دي .

ثُمَّ اسْتَوٰى اِلَى السَّمَآءِ فَسَوّٰهُنَّ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ .

داستواء لفظي معنى سيده كيدل اونيغيدل دي دلته ورڅخه مراد دا دي چي دمځكي تر پيدا كولو وروسته الله ﷻ دآسمانونو دپيداكولو پوخ قصد وكي چي په هغه كي څوك حائل اومانع كيدى نه سواى ترهغه چي د اوو آسمانونو پيداكول يي مكمل كړل ، اوهغه په هرڅه باندي علم لرونكي دي ، نو په دي وجه دكائناتو پيدا كول هغه ته څه مسئله نه وه .

(ددنیا هریو شي نفع مند دی په دی کي څه شي بي فائدی نه دی)

په دی آیت کی دا بیان سوی دی چی دمځکی ټول شیان د انسان دپاره پیدا سوي دی نو ددی څخه یوه خبره دا معلومه سوه چی ددنیا یو شی هم داسی نسته چی دهغه څخه په څه طریقه انسان ته څه فائده نه وی ، برابره خبره ده دافائده په دنیاکی داستعمالولو په وجه وی یاد آخرت دپاره دعبرت او دنصیحت دحاصلولو دپاره وی ، ددیرو شیانو فائده خوانسان محسوسوی چی هغه براه راست دهغه په غذاء دوا یا نور استعمال کی راځی او ډیر داسی شیان هم سته چی انسان ته دهغه څخه فائده وی خوانسان ورڅخه خبر نه وی ، تردی پوری چی کوم شیان د انسان دپاره ضروری ګڼل کیږی لکه زهرجن شیان زهرجن حیوانات او نورکه چیری فکر وسی نو دا هم په څه طریقه انسان ته فائده ورکوی ، کوم شیان چی دانسان دپاره په یوه ډول حرام دی نوهغه په بله طریقه سره دهغه دپاره فائده مند کیدی سی .

عارف بالله ابن عطاء رحمه الله ددی آیت په هکله دا ویلی دی چی الله ﷻ ټول کائنات ستادپاره ددی وجی پیداکړي دی چی ټول کائنات ستاسی اوته دالله ﷻ دپاره سی نو په دی وجه دهوښیار کار دا دی چی کوم شی دهغه دپاره پیدا سوي دی هغه خو به ورته حاصلیږی ، په دی فکر بوختیدل دهغه ذات څخه غافله کیدل دی چی دکوم دپاره دغه فکر کوونکی پیدا سوی دی (بحرِ محیط)

(ددنیا په شیانو کي اصل اباحت دی که حرمت)

ددی آیت څخه بعضی عالمانو دا دلیل نیولی دی چی ددنیاپه ټولو شیانوکی اصل دانسان دپاره دده حلالوالی اومباح والی دی ، ځکه چی دا هم دده دپاره پیدا سوي دی په استثناء دهغه شیانوچی کوم په شریعت کی حرام سوي دی ، نوپه دی وجه چی ترڅو دیوشی حرمت دقرآن اوسنت څخه ثابت نه وی ، هغه حلال ګڼل کیږی ، ددی په مقابله کی بعضی علماؤ دا ویلی دی چی دانسان دفائدی دپاره دپیدا کیدلو څخه دیوشی حلالیدل نه ثابتیږی ، ځکه چی اصل په شیانوکی حرمت دی ترڅوچی دقرآن اوسنت څخه یی جواز ثابت نه وی ، نو هغه شی حرام ګڼل کیږی ، څه علماء غلی پاته سوي دی (یعنی نه یی دا ویلی دی چی اصل اباحت دی اونه یی دا ویلی دی چی اصل په شیانوکی حرمت دی)

ابن حیان رحمه الله دتفسیرِ بحرِمحیط خاوند وایی چی صحیح دا ده چی په دی آیت کی دمذکورو اقوالو دپاره دیوه قول هم دلیل نسته ځکه چی په ، خَلَقَ لَكُم کی لام دسببیت دپاره راغلی دی یعنی ستاسی په سبب داشیان پیداسوي دی ، ددی آیت څخه دشیانو دحلالیدو یاحرامیدو دپاره پرانسان باندی دلیل قائمیدی نه سی بلکه دحلالو او حرامو احکام ځان ته په قرآن اوسنت کی بیان سوی دی په هغه عمل کول ضروری دی ، په دی آیت کی د، ثُمَّ په لفظ سره دابیان سوي دی چی مځکه مخکی او آسمانونه وروسته پیدا سوي دی ، او دا صحیح ده اوپه سورة (النازعات ۱ ۷۹ ۳۰) کی چی ارشاد دی ، وَالْاَرْضَ بَعْدَ ذٰلِكَ دَحٰهَا : یعنی مځکه یی دآسمانونو ترپیداکولو وروسته خپره کړه ، ددی څخه دانه ثابتیږی

چي دمځکې پیدائش دآسمانونو څخه وروسته سوې دی ، بلکه ددی مطلب دا دی چي دمځکې رغونه اوددې څخه دپیداوار را ایستل اونور تفصیلي کارونه دآسمان تر پیدا ښت څخه وروسته وسوه ، که څه هم دمځکې دذات پیدا ښت ترآسمانونو مخکې سوی وو (بحرِ محیط اونور)

په دې آیت کې دآسمانونو شمیراووه دی ، ددې څخه معلومه سوه چي علم هیئت والاوو چي کوم شمیر نهه دآسمانونو ښوولی دی هغه غلط دی څه دلیل یې نسته یوازې پرخیالاتو باندې بناء دی .

وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلٰٓئِكَةِ إِنِّيْ جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ

او کوم وخت چي ستاسې پروردگار ملائکوته وویل چي زه جوړونکی یمه په مځکه کې

خَلِيْفَةً ۗ قَالُوْٓا أَتَجْعَلُ فِيْهَا مَنْ يُّفْسِدُ فِيْهَا

یو نائب ملائکو وویل آیا جوړوې ته په مځکه کې هغه څوک چي فساد به کوي په دې کې

وَيَسْفِكُ الدِّمَآءَ ۚ وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ

او وینه به تویوي ، اومونږ وایو ستا صفتونه اویاد وو ستا پاك ذات ،

لَكَ ۗ قَالَ إِنِّيْٓ أَعْلَمُ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۳۰﴾ وَعَلَّمَ آدَمَ الْأَسْمَآءَ

نوخدای پاك وفرمایل ، بیشکه ماته معلوم دي هغه چي تاسې ته معلوم نه دي ، اوو ښوول الله ﷻ آدم ﷺ ته نومونه

كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمْ عَلَى الْمَلٰٓئِكَةِ فَقَالَ أَنْۢبِئُوْنِيْ بِأَسْمَآءِ

دټولو شیانو بیایې وړاندې کړل دا ټول شیان ملائکوته بیا یې وویل وښایاست ماته نومونه د دوی

هٰٓؤُلَآءِ إِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۳۱﴾ قَالُوْا سُبْحٰنَكَ لَا عِلْمَ

که چیرې تاسې صادقان یاست ، هغوی وویل پاکي ده تالره مونږ ته څو معلوم نه دي

لَنَآ إِلَّا مَا عَلَّمْتَنَا ۗ إِنَّكَ أَنْتَ الْعَلِيْمُ الْحَكِيْمُ ﴿۳۲﴾ قَالَ

مګر هغه چي تا مونږ ته ښوولي دي بیشکه هم ته ښه پوهیدونکی او دحکمت خاوند یې ، الله ﷻ وویل

يٰٓاٰدَمُ اَنْۢبِئْهُمْ بِاَسْمَآئِهِمْ ۚ فَلَمَّآ اَنْۢبَاَهُمْ بِاَسْمَآئِهِمْ ۙ قَالَ

ای آدم ﷺ! وښيه ملائکو ته ددغو شيانو نومونه چې کوم وخت وښوول هغه د دوی نومونه نوالله ﷻ وفرمايل

اَلَمْ اَقُلْ لَّكُمْ اِنِّیْٓ اَعْلَمُ غَیْبَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۙ

آيا ما ويلي نه وه تاسي ته چې زه ښه پيژنم پټ شيان داسمانونو او دمځکي

وَاَعْلَمُ مَا تُبْدُوْنَ وَمَا كُنْتُمْ تَكْتُمُوْنَ ﴿۳۳﴾

او پيژنم هغه چې تاسي يې ښکاره کوئ او يا يې پټوی

تفسير: اوکوم وخت چې ارشاد وکې ستا پروردگار ملائکو ته (ددې دپاره چې هغوی ته دخپلې رايې اظهار وکې چې په دغه ظاهرولوکې حکمت اومصلحت وو، الله ﷻ خود مشورې اخيستو ضرورت نه لرې، مطلب دا چې الله ﷻ ملائکوته وفرمايل چې) ضرور زه په مځکه جوړومه يونائب (يعنې هغه به زمانائب وی اودشرعي احکامو دجاری کولو کار به دې کوی) ملائکې په ويناسوی آياته پيداکوی په مځکه کې داسې خلق چې هغوی به فساد کوی او وينې به تويوی او مونږ خو يو مخيز ستاتسبيح وايو او صفت او پاکي بيانوو (دملائکو دا عرض نه د اعراض په ډول وو اونه ددې دپاره ووچې په داسې وينا خپله حقداری څرګنده کې دخليفه توب دپاره، بلکه ملائکو ته په څه طريقه معلومه سوې وه چې کوم نوی مخلوق دمځکې خليفه جوړيږي په هغوی کې به ښه اوبد هرقسمه خلق وی بعضې خلق به د نيابت دغه کار نور هم خراب کې، نو په دې وجه په عاجزی يې عرض وکې چې مونږ ټول ددې خدمت دپاره حاضريو اودملائکوپه ډله کې څوك ګناه کوونکی هم نسته نو په دې وجه دنوو کارکوونکو زياتول او دنوی مخلوق دپيدا کولو ضرورت نسته خصوصًاچې په دې نوی مخلوق کې دا احتمال هم سته چې هغه به ستا درضا خلاف کار کوی چې په هغه به ته خوښ نه يې، مونږ دهرخدمت اوکار دپاره يو او زمونږ خدمت اوکار به ستا درضا مطابق وی) الله ﷻ وفرمايل چې زه پيژنم هغه شيان کوم چې تاسې يې نه پيژنې (يعنې چې کوم شې ستاسې په نظرکې دانسان دپيدا کولو څخه مانع دی چې په دوی کې به بعضې فساد خپروی، دغه شې په اصل کې دده دتخليق اوپيدا کولو اصلي سبب دی څکه چې دحکمونو جاری کول خوهغه وخت کيدې سې چې يوځای دروغې څخه ورانې ته تلونکې هم وی، دا مقصد يوازې دفرمان بردارو دجمع کيدلو څخه نه حاصليږي او د اعتدال څخه تجاوز کوونکې مخلوقات جنات (پيريان) دمځکې څخه وه دهغوی څخه يې داکار ددې وچې وانه خيستې چې ددې کار دپاره مناسب خلق هغه کيدې سې چې په هغه کې دشر اوفساد قوت خو وی ليکن غالب نه وی، په

پیریانو کی دا قوت غالب دی نو په دی وجه دآدم ﷺ دپیداکولو تجویز وسو، مخکی ددی حکمت الهی زیات وضاحت دارنګه وسو چی دالله ﷻ دنیابت دپاره دیوخاص علم ضرورت دی چی هغه دملائکو داستعداد څخه وتلی دی نو په دی وجه یی وفرمایل چی، علم ورکی الله ﷻ آدم ﷺ ته (هغه یی پیداکی) دټولو شیانو دنومونو (یعنی دټولو شیانو دنومونو اودهغوی دخاصیتونو اوداثرونو علم یی آدم ﷺ ته ورکی) بیادغه شیان یی ملائکوته وړاندی کړه او ورته یی وویل چی وښیاست ماته نومونه ددی شیانو (یعنی سره د دوی دخاصیتونو او اثرونو) که چیری تاسی په رښتیا یاست (یعنی که پخپله دی ویناکی په رښتیا یاست چی مونږ به دخلافت کارپه ښه طریقه سره ورسوو) ملائکو ﷺ عرض وکی چی ته خوپاك یی (د دی الزام څخه چی آدم ﷺ دی ددی شیانو علم ورکی اومونږ ته دی رانه کی څکه چی دیوه آیت یا روایت څخه داسی معلومه نه ده چی آدم ﷺ ته دنومونو دعلم ښوونه دملائکو څخه جلا ورکول سوی وه، ددی څخه ظاهره دا ده چی تعلیم اوښوونه دټولو مخکی یوشان سوی وه، لیکن دآدم ﷺ په فطرت کی ددی علم دحاصلولو صلاحیت وو نوهغه څکه حاصل کی اود ملائکو په طبیعت کی ددی صلاحیت نه وو، نو په وجه دوی ته داعلم حاصل نه سو) لیکن مونږ ته علم نسته بغیر دهغه څخه چی تامونږ ته دهغه علم راکړي دی بی شکه ته دلوی علم خاوندیی اوحکمت والایی (دومره علم اوفهم چاته ورکوی چی په څومره علم اوفهم کی دهغه مصلحت وی، ددی څخه دملائکو دا اقرار ثابت سو چی دوی دهغه کار کولو څخه عاجزه دی چی کوم کار نائب ته سپارل کیدونکی دی وړاندی الله ﷻ ته دا منظوره سوه چی ملائکو ته دا وښیی چی په آدم ﷺ کی ددی خاص علم مناسبت سته نو په دی وجه) الله ﷻ وفرمایل چی ای آدم ﷺ! وښیه دوی ته ددی شیانو نومونه (یعنی دحالاتو اوخاصیتونو سره کله چی آدم ﷺ دا ټول نومونه دملائکوپه مخکی وښوول نوملائکی دومره پوه سوی چی آدم ﷺ ددی علم ماهر سوي دی) نوکله چی یی وښووله دوی ته آدم ﷺ ددی شیانو نومونه نوالله ﷻ وفرمایل (وګوری) ماتاسی ته ویلی نه وه چی بیشکه زه پیژنم ټول پټ شیان دآسمانونو اودمځکی اوپیژنم ستاسی هغه کارچی تاسی یی ظاهروی اوهغه چی تاسی یی په زړه کی لری.

علوم اومسئلي

دآیتونو دیوه اوبل سره تړون : ددی څخه په مخکی آیاتونوکی الله ﷻ دخپلو خاصو اوعامو نعمتونو (چی په انسان یی کړی دی) ذکر وکی او انسان ته یی دناشکری او نافرمانی څخه دمحفوظ کیدلو هدایت وکی، اوس ددی آیت څخه درکوع ترآخره پوری په لسو آیاتونوکی دآدم ﷺ قصه هم په دغه لړ کی ذکر سوي ده څکه چی نعمت په دوه قسمه دی، یو صوری یعنی محسوس لکه خوراك څښناك مال مکان جایداد دوهم معنوی لکه عزت آبرو خوشحالي اوعلم، په مخکی آیاتونوکی دصوری اوظاهری

نعمتونو بیان وو اوپه دی یوولسو آیاتونو کی دمعنوی نعمتونو ذکر دی چی مونږ ستاسی پلار آدم ﷺ ته دعلم دولت ورکی او دا عزت مو ورکی چی ملائکو ورته سجده وکړه اوتاسی ته ددی فخر کولو موقع می درکړه چی تاسی دهغه په اولاد کی پیدا سوا ست.

دآیت دمضمون خلاصه دا ده چی الله ﷻ چی کله دآدم ﷺ دپیدا کولو او په دنیاکی دهغه دخلیفه کولو اراده وکړه نو په ظاهره دملائکو دامتحان اخیستو دپاره یی ددی ارادی ذکر وکی چی په هغه کی دی خبری ته اشاره ده چی دا ملائکی په دی معامله کی خپلی رایی څرګندی کړی ، ملائکو دا رایی پیش کړه چی په انسانانو کی خو داسی خلق به هم وی چی فساد به کوی او وینه به تویوی نو دوی ته دمځکی خلافت سپارل په فهم کی نه راځی ددی کار دپاره خوملائکی زیاتی مناسبی معلومیږی ځکه چی نیکی دهغوی مزاج دی بدخو دهغوی څخه ګرسره کیدی نه سی هغوی پوره فرمانبرداره دی ، ددنیا انتظامات به هم سم کی ، الله ﷻ د دوی رایی اول په حاکمانه طریقی سره غلطه وښووله ، هغه داسی چی دخلافت ارضی حقیقت او دهغه دضروریاتو څخه تاسی خبر نه یاست ددی څخه زه ښه خبر یم ، دوهم وار یی په حکیمانه طریقه غلطه ښکاره کړه ، په هغه کی په ملائکو باندی دآدم ﷺ برتری وښوول سوه او دا هم وښوول سوه چی دمځکی دخلافت دپاره دمځکی دټولو مخلوقاتو دنومونو او دهغوی اثرونو اوخاصیتونو پیژندل ضروری دی اودملائکو استعداد دومره نه وو چی هغوی دی ددنیا دټولو مخلوقاتو نومونه سره داثر او خاصیتونو زده کی.

(دملائکو سره دآدم ﷺ دپیدا کولو خبری په کوم مصلحت باندی بناء وی ؟)

دلته داخبره دغور اوفکر وړ ده چی الله ﷻ ددی خبری اظهار دملائکو په مجلس کی په کوم حیثیت کړی وو؟ آیا دهغوی څخه مشوره اخستل یی مقصود وو اوکه یوازی دوی ته خبر ورکول وو یاد ملائکو په ژبه دملائکو درایی څرګندول مراد وه ؟ دا خبره ظاهره ده چی دمشوری ضرورت خو په هغه ځای کی پیښیږی چیری چی دمشوری ټول اړخونه چاته واضح نه وی اوپه خپل علم اوبصیرت باندی مکمل اطمینان نه لری نو دنورو عاقلانو اوپوهانو سره مشوره کیدی سی یاپه داسی صورت کی چی هلته دنورو حقوق هم برابر وی نودهغوی درایی اخیستو دپاره مشوره کیږی لکه چی ددی دنیاپه عامو کونسلونو کی دا رائجه ده اودا خو په ډاګه ده چی دلته دواړه صورتونه نسته دی ، الله ﷻ دکائناتو خالق دی دذری ذری علم لری دهرشی ظاهر اوپټ دده دعلم اودنظریه واړندی دی ، نو داسی ذات ته دمشوری اخیستو څه ضرورت دی ؟ هم دغه رنګه داسی هم نه ده چی داخه پارلیمانی حکومت دی په کوم کی چی دټولو غړو برابر حقوق وی اودټولو څخه مشوره اخستل ضروری وی ځکه چی الله ﷻ دټولو خالق اومالك دی ، ملائکی دی که پیریان اوانسانان ټول دده مخلوق اوملکیت دی، دچاداحق نسته چی هغه دالله ﷻ څخه داپوښتنه وکی چی داکار تاولی کړی دی اوفلانی کار دی ولی کړی نه دی

لَا يُسْئَلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْئَلُوْنَ ، دالله ﷻ څخه دهغه دځه فعل متعلق پوښتنه نه سی کیدلی اودټولو څخه د دوی دعملونو په باره کې پوښتنه کیږی ، خبره دا ده چی په اصل کی دلته مشوره اخیستل مقصود نه وه او نه ددی ضرورت وو ، لیکن صورت یی دمشوری جوړ کی دا ددی دپاره چی مخلوق ته دمشوری دسنت او طریقی تعلیم وسی لکه چی رسول ﷺ ته په قرآن کی هدایت سوي دی چی دی دی دخپلو اصحابو څخه مشوره اخلی ، حال دا دی چی ده ﷺ ته به وحی الهی راتله ټولی معاملی اودهغوی هراړخ ده ﷺ ته دوحی په ذریعه ښوول کیدی لیکن دوی ته دمشوری کولو تاکید وسو، دا ددی دپاره چی دده ﷺ په ذریعه دمشوری طریقه جاری سی او امت یی زده کی ، مطلب دا چی دملائکو په مجلس کی ددی واقعی په اظهار سره یوه فائده خو دمشوری تعلیم ورکول وو چی هغه حاصل سو «روح البیان» دوهمه فائده په خپله دقرآن دالفاظو څخه دا معلومیږی چی دانسان دپیدا کیدو څخه مخکی ملائکو دا خیال کوی چی تر دوی زیات ښه اوپوهیدونکی مخلوق به الله ﷻ پیدا نه کی ، او د ابن جریر په تفسیرکی دحضرت عبدالله بن عباس ﷺ څخه په یوه روایت کی ددغه خبری وضاحت هم سته چی دآدم ﷺ ترپیدا کیدو مخکی ملائکو به په خپل مینځ کی داسی خبری کولی چی ، لَنْ يَّخْلُقَ اللهُ خَلْقًا اَكْرَمَ عَلَيْهِ مِنَّا وَلَاَ اَعْلَمَ «یعنی الله ﷻ به تر مونږ زیات غوره او زیات علم والا مخلوق پیدانه کی» دالله ﷻ په علم کی وه چی یو داسی مخلوق هم پیدا کول دی چی ترټولو مخلوقاتو زیات ښه زیات علم والا وی اوچی هغه ته دخپل خلافت اونیابت خلعت ورکی .

نوپه دی وجه دملائکو په مجلس کی دآدم ﷺ دپیدا کولو اوپه مخکه دنائب جوړولو ذکر وسو چی دا ملائکی دخپل خیال اظهار وکی ، نوملائکو دخپل علم اوبصیرت مطابق په عاجزی سره دراییی اظهار وکی چی کوم مخلوق ته پرمځکه خلیفه جوړ وی ، په هغه کی دشراوفساد ماده هم ده نوهغه به دنورو اصلاح او په مځکه کی د امن و آمان انتظام څه رنګه وکی چی هغه به پخپله وینی تویوی ددی په ځای ستا په ملائکو کی دشر اوفساد هیڅ ماده نسته دخطاګانو څخه پاکی دی اوهر وخت ستاپه تسبیح تقدیس اوعبادت کی اخته دی ، هغه په ښکاره سره داکارپه ښه طریقی سره کولی سی .

مطلب دا چی دا وینا دالله ﷻ په کار باندی اعتراض کول نه وه ، ځکه چی ملائکی دداسی خیالاتو او حالاتو څخه پاکی دی ، بلکه غرض یوازی دامعلومول وه چی دیوپاك جماعت سره دوهم ناپاك مخلوق پیدا کول اودا کار ورته سپارل اودغه مخلوق ته ترجیح ورکول آخرڅه حکمت لری ؟

نو ددی په جواب کی اول الله ﷻ اجمالاً وفرمایل: اِنِّیْ اَعْلَمُ مَالَا تَعْلَمُوْنَ ، یعنی تاسی دخلافتِ الٰهیه حقیقت او دهغه دلوازماتو څخه خبر نه یاست نو په دی وجه داخیال کوی چی یومعصوم اوپاك مخلوق دا کار سر ته رسولی سی ، ددی حقیقت هم مونږ پیژنو ، ددی څخه وروسته ملائکوته ددی څه تفصیلی علم د ورکولو دپاره دیوی خاصی واقعی اظهار وسو هغه دا چی دټولو کائناتِ عالم نمونه د دوی

خاصیتونه اواثرونه آدم ﷺ ته وښوول سوه ځکه په آدم ﷺ کی ددی شیانو دعلم صلاحیت اېښوول سوی وو، دملائکو په طبعیت اوفطرت کی ددی شیانو دعلم صلاحیت اېښوول سوی نه وو، ځکه چی دا د دوی دفطرت اوجبلت سره مناسبه نه وه، مثلاً ددنیا نفع ورکوونکی اوضرر ورکوونکی شیان او د دوی اثرونه اوخاصیتونه دهرحیوان او دهر قوم مزاج او دهغوی اثرونه، ددی شیانو دمعلومولو دپاره مَلَکی طبعیت موزون نه وو، ملائکه څه پوهیږی چی لوږه څه شی وی دتندی تکلیف څه وی دنفسیاتو دجذبې څه اثر وی دکوم شی نشه پیداکیږی اوڅنگه پیداکیږی، دمار اولړم زهر په بدن باندی اثر څنگه کوی ؟ مطلب دا چی دمځکی دمخلوقاتو دنومونو اواثرونو معلومول دملائکو دمزاج اوخاص طبعیت څخه بالکل جلاشی وو، دا علم یوازی آدم ﷺ ته ورښوول سوی وو اوده ته وښوول سو، بیا دقرآن دځه صراحت یاځه اشاری څخه ثابته نه ده چی آدم ﷺ ته دا تعلیم په تنهایی کی دملائکو څخه جلا ورښوول سوی وو، ځکه چی کیدی سی چی تعلیم دی دټولو دپاره عام وی لیکن ددی تعلیم څخه فائده اخیستل یوازی دآدم ﷺ په طبعیت کی وه نو هغه زده کی، دملائکو په طبعیت کی نه وو نوهغوی اِزده نه کی نو په دغه وجه دلته دتعلیم نسبت یی آدم ﷺ ته وکی، که څه هم تعلیم فی ذاته عام وو، آدم ﷺ اوملائکی دواړه په کښنی شاملی وه، او دا هم کیدی سی چی دظاهری تعلیم شکل اوصورت دلته پیښ سوی نه وو، بلکه دآدم ﷺ په فطرت کی ددی شیانوعلم دپیدا کیدو دوخت څخه اېښوول سوی وو، لکه چی کوچنی دزیږیدو سره دمور شیدی خوړل پیژنی دهیلی چیچی دپیدا کیدوسره لمبیدی سی، په دی کارونو کی دا کوچنی دڅه ظاهری تعلیم ضرورت نه لری.

اوس پاته سو دا سوال چی دالله ﷻ قدرت په هرڅه باندی ستر هغه خود ملائکو مزاج بدلولی سی او دوی ته یی داشیان ښوولی سوه نو دوی ته یی ولی په دی طریقه ښوونه ونه کړه، ددی سوال جواب دا دی چی په داسی طریقه سره ملائکو ته ښوونه ملائکی په خپل ملائکی والی کی نه پریږدی بلکه انسان ورځخه جوړیدی.

مطلب دا چی دمځکی دمخلوقاتو دنومونو او دهغوی دخاصیتونو او اثرونو علم آدم ﷺ ته ورکول سو، او دا علم دملائکو په توان کی نه وو، اوبیا دا مخلوق ملائکو ته وړاندی سو او دملائکوڅخه پوښتنه وسوه که چیری تاسی په خپل خیال کی رښتینی یاست چی تر تاسی زیات بل مخلوق به په علم اوپه نورفضیلت کی پیدا نه سی اوپه دی وجه تاسی دمځکی دخلافت دپاره دانسان په مقابله کی زیات موزون یاست نو ددی شیانو نومونه اوخاصیتونه وښیاست او دا هغه شیان دی چی په دوی باندی به دمځکی خلیفه حکومت کوی، دلته یوه فائده حاصله سوه چی حاکم ته ضرور دی چی هغه دی دخپل محکوم او رعیت دمزاج اوطبعیت او دهغه داثر اوخاصیت څخه پوره خبر وی، بغیر ددی څخه په دوی باندی دعدل اوانصاف حکومت دی نه سی کولی، کوم سړی ته چی دا معلومه نه وی چی لوږه

خنګه شي ده اوڅومره تکلیف په کښې وي ، که چیرې دداسې سړي په عدالت کې یوه دعوه دچا دلوړې لرلوپه باره کې وړاندې سي، یعنې یوسړی پربل سړي باندې دا دعوه وکې چې ده زه څوورځې وړې ساتلې یم نو دغه حاکم کوم ته چې لوړه دسره معلومه نه ده ددې دواړوپه مینځ کې به فیصله څنګه وکی ، مطلب دا چې په داسې کولو الله ﷻ ملائکوته داوښوولې چې دمځکې دخلافت دپاره دې ته کتل نه دې په کارچې داخلیفه معصوم اوپاك دې بلکه دې ته کتل په کار دي چې دی دمځکې دشیانو څخه بنه خبر دی او ددې شیانو داستعمال طریقې اوددې شیانو فائدې بنه پیژنې، که چیرې ستاسې داخیال صحیح وي چې ملائکې ددې خدمت دپاره زیاتې برابرې دي نوبیاددې شیانو نومونه اوخاصیتونه وښیاست ، دملائکو درایې څرګندول چې کله دځه اعتراض فخر اوغرور یاد خپل حق دثابتولو دپاره نه وه بلکه یوازې دخپل خیال اظهار یې دیوه تابعدارخادم په شان دخپلو خدمتونو دوړاندې کولو دپاره وو نو په دې وجه یې وویل .

سُبۡحٰنَكَ لَا عِلۡمَ لَنَاۤ اِلَّا مَا عَلَّمۡتَنَا ؕ اِنَّكَ اَنۡتَ الۡعَلِيۡمُ الۡحَكِيۡمُ .

(پاکي ده تاته زمونږعلم نسته مګرهغه چې تاراکړی دی ، بیشکه چې ته دلوی علم اوحکمت مالك یې) ددې مطلب دا دی چې دوی دخپل خیال څخه رجوع وکړه اودا اقرار یې وکې چې دزیات علم اوفضیلت خاوند مخلوق هم سته او هم دغه مخلوق دمځکې دنیابت دپاره موزون دی .

دوهم سوال دلته دا دی چې ملائکو ته څنګه معلومه سوه چې انسان به خونریزي کوي ؟آیا دوی ته علم غیب حاصل وو اوکه یوازې په اټکل یې دا خبره کړې وه؟ ددې جواب دجمهورو محقیقینوپه نزد دا دی چې الله ﷻ دوی ته ښوولې وه چې د انسان حالات او معاملات به داسې وي لکه چې په بعضې آثاروکې دي چې کله الله ﷻ ملائکو ته دا ذکر وکې چې دی ﷻ آدم ﷺ په مځکه کې خلیفه جوړ وي نوملائکو ورڅخه ددغه خلیفه دحال پوښتنه وکړه الله ﷻ دوی ته دده حال وښوی (روح المعاني)

ملائکو ته تعجب وسو چې کله د انسان حال دا دی چې هغه به فساد اوخون ریزي کوي نو بیادده دمځکې دنیابت دپاره په منتخب کولو کې څه دي ؟ ددې یوجواب خودالله ﷻ دطرفه څخه داسې وسو چې دآدم ﷺ علمي لوړوالی یې ظاهرکی او دفساد اوخون ریزي څخه چې کومه شبهه ددې خبرې پیدا کیده چې دی دنیابت حقدارنه دی ، دهغه جواب یې اجمالاً په ، اِنِّیۡۤ اَعۡلَمُ مَا لَا تَعۡلَمُوۡنَ سره یې وکی ، څکه چې په دې کې اشاره ده چې کوم شی تاسې دنیابت اوخلافت دپاره منافي ګڼې هغه په اصل کې ددغه خلافت اونیابت د اهلیت دپاره یو لوی سبب دی ، څکه چې په مځکه کې دنیابت ضرورت دفساد دلیرې کولو دپاره دی ، چې په کوم ځای کې فساد نه وي نوهلته دخلیفه اودنائب لیږلو ضرورت بالکل نه وي ، غرض دا چې دا وښوول سوه چې منشاء الهي دا ده چې څنګه الله ﷻ یو مخلوق چې دهغه څخه دګناه اوخطا کیدو امکان نسته چې هغه ملائکې دي اوچې څنګه یې شیطانان پیدا کړي دي چې

دهغوی څخه دنیکی امیدکیدی نه سی نو دغه رنګه یو داسی مخلوق پیدا کول منشاء الٰهی ده چی هغه دخیر اوشر نیکی او بدی یوګډه مجموعه وی اوپه هغه کی دخیر اوشر دوارو جذبه وی ، په هغه کی دشر جذبه مغلوبه وی اودخیر په میدان کی مخکی کیږی او دخدای ﷻ رضاحاصلوی .

(دژبو اولغاتو جوړوونکي الله ﷻ دی)

دآدم ﷺ په قصه کی داسماؤ دتعلیم دواقعی څخه دا هم ثابته سوه چی دژبی اولغت واضح او جوړوونکی الله ﷻ دی ، بیاپه دی ژبه کی دمخلوق دمختلفو استعمالاتو په وجه مختلف صورتونه او ژبی پیدا سوی ، امام اشعری رحمه الله ددی آیت څخه استدلال کړي دی چی واضع دلغت اوژبی په اصل کی الله ﷻ دی .

(دآدم ﷺ لوړوالي پرملائکو باندی)

په دی واقعه کی دقرآن دابلیغ الفاظ هم دفکر وړ دی چی کوم وخت ملائکوته وایی چی ددی شیانو نومونه وښیاست نود ، اَنۡبِئُوۡنِیۡ : لفظ وایی چی ماته یی وښیاست اوچی کوم وخت آدم ﷺ ته وایی چی ددی شیانو نومونه وښیه نود ، اَنۡبِئۡهُمۡ : لفظ وایی چی ملائکوته دانومونه وښیه .

ددی بیان څخه داپه ډاګه سوه چی آدم ﷺ ته دمعلم درجه ورکول سوه اوملائکوته دطالب علمانو ، او په داسی کولوسره دآدم ﷺ فضیلت اولوړوالی په یوه مهم شکل کی څرګندسو ، ددی واقعی څخه دا هم معلومه سوه چی دملائکوپه علومو اومعلوماتوکی هم کمی اوزیاتی راتلی سی ، ځکه چی دکومو شیانو علم دوی ته نه وو دآدم ﷺ په ذریعه په اجمالی طورسره ددی شیانوعلم دوی ته ورکړل سو .

(دمځکي دخلافت مسئله)

دمځکی دانتظام اوپه مځکه کی دالله ﷻ دقانون دچلولو دپاره دالله ﷻ دطرفه دیوه نائب مقرریدل ټول ددی آیتونو څخه معلوم سوه ، ددی څخه دمملکت ددستور یو مهم باب را ووتی هغه دا چی په ټولو کائناتو اوپه ټوله مځکه اقتدار اعلی یوازی دالله ﷻ دی لکه چی دقرآن مجید نور ډیر آیاتونه په دی شهادت ورکوی ، اِنِ الۡحُکۡمُ اِلَّا لِلّٰہِ ، لَہٗ مُلۡکُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ، او اَلَا لَہُ الۡخَلۡقُ وَالۡاَمۡرُ : اونور دمځکی د انتظام دپاره دالله ﷻ دطرفه نائبان راځی ، هغوی دالله ﷻ په حکم اواجازت په مځکه باندی حکومت کوی اودالله ﷻ دبندګانو دتعلیم اوتربیت کارکوی اواحکام الٰهیه نافذوی ، ددی خلیفه اونائب تقرر اومقررول بغیره واسطی الله ﷻ کوی ، په دی کی دچا دکسب اوعمل هیڅ دخل نسته ، دغه وجه ده چی دټول امت اجماعی عقیده ده چی نبوت کسبی شی نه دی (یعنی داسی شی نه دی چی دانسان په کسب او عمل سره انسان ته حاصلیږی) بلکه الله ﷻ پخپله دخپل علم اوحکمت په تقاضا خاص خاص کسان ددی کار دپاره خوښوی اوخپل نبی اواستاذی یی مقرر وی قرآن کریم ددی خبری ځای په ځای اظهار کړي دی ، ارشاد دی .

اَللّٰهُ يَصْطَفِىْ مِنَ الْمَلٰٓئِكَةِ رُسُلًا وَّمِنَ النَّاسِ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌۢ بَصِيْرٌ.

الله ﷻ په ملائکو کی دخپل رسول انتخاب کوی اوپه انسانانو کی هم بیشکه الله ﷻ اوریدونکی لیدونکی دی، په یوبل ځای کی ارشاد دی.

اَللّٰهُ اَعْلَمُ حَيْثُ يَجْعَلُ رِسَالَتَهٗ. الله ﷻ ته ښه معلومه ده چی خپله پیغمبری چاته ورکوی، دالله ﷻ داخلیفه بغیره واسطی دالله ﷻ احکام معلوموی اوبیاداپه دنیاکی جاری کوی، دا سلسله دخلافت اونیابت دآدم ﷺ څخه واخله ترخاتم الانبیاء ﷺ پوری په یوه طریقه وچلیده، تردی پوری چی حضرت خاتم الانبیاء ﷺ په دی مځکه کی دالله ﷻ آخری خلیفه سو او ډیر مهم خصوصیات یی دځانه سره راوړل.

یو خصوصیت خو دا وو چی دده څخه مخکی پیغمبران خاص خاص قومونو یاملکونو ته لیږل کیده، دهغوی دحکومت دائره هم دهغوی په قومونو اوملکونو کی محدوده وه ابراهیم ﷺ یوقوم اولوط ﷺ بل قوم ته لیږل سوی وو، حضرت موسیٰ ﷺ اوحضرت عیسیٰ ﷺ او د دوی په مینځ کی راغلی پیغمبران علیهم السلام بنی اسرائیلو ته لیږل سوی وه.

(نبي کریم ﷺ دالله ﷻ په مځکه کي آخری خلیفه دی او دده ﷺ خصوصیات)

نبی کریم ﷺ ټول عالم او دعالم دواړو قومونو انسانانو اوپیریانوته را واستول سو، دده ﷺ اختیار او اقتدار دټولی دنیا دوو قومو باندی احاطه کړي ده، قرآن کریم دده ﷺ دبعث اونبوت دعام کیدو اعلان په دی آیت کی کړي دی، الله ﷻ فرمایی.

قُلْ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنِّىْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ جَمِيْعًا ۨالَّذِىْ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ.

ته (ﷺ) ووایه چی ای خلکو! زه دالله ﷻ استاذی یم ستاسی دټولو دپاره، الله ﷻ هغه ذات دی چی دهغه په قبضه کی آسمانونه او مځکی دی.

او دصحیح مسلم په حدیث کی دی نبی ﷺ فرمایی چی ماته په ټولو پیغمبرانو باندی دشپږو شیانوپه وجه ښه والی راکړل سوي دی، په هغه کی یو داهم دی چی رسول ﷺ ټول عالم ته پیغمبر رالیږل سوي دی، دوهم دا چی دمخکی پیغمبرانو ﷺ خلافت او نیابت چی څه رنګه په خاص خاص ملکونو او قومونو کی محدود وو، او دخاصی زمانی دپاره وو چی ورپسی به بل نبی راغی نو دمخکی نیابت او خلافت به ختم سو، زمونږ پیغمبرخاتم الانبیاء ﷺ دا رنګه نه دی، دده خلافت اونیابت دیوخاص قوم ملك او زمانی دپاره نه دی، دا دهر قوم اوهرملك اوهری زمانی دپاره دی، دریم دا چی دمخکنیو پیغمبرانو تعلیمات اوشریعتونه تر یوی زمانی پوری به محفوظ وه اوچلیدل به اوکرارکرار به تحریفات په کښی کیدل اومعدومیدل به، حتیٰ چی بل پیغمبر اوشریعت به راغی.

زمونږ دپیغمبر ﷺ داخصوصیت دی چی دده دین اوشریعت به ترقیامته محفوظ وی قرآن مجیدچی په نبی ﷺ نازل سوي دی دهغه دالفاظو اومعناوو ټولو حفاظت الله ﷻ په خپله ذمه اخیستی دی الله ﷻ فرمایی

اِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَاِنَّا لَهٗ لَحَافِظُوْنَ .
مونږ قرآن نازل کړي دی او مونږ ددی ساتونکی یو ، هم دغه شان دنبی ﷺ تعلیمات او ارشادات چی هغه ته احادیث ویل کیږی ، دهغوی دحفاظت هم الله پاك یوخاص انتظام کړي دی چی ترقیامته پوری به یوه داسی ډله موجوده وی چی هغه ته به ترخپل ځان دنبی ﷺ تعلیمات او ارشادات ډیر خواږه وی او چی هغه به دنبی ﷺ دشریعت احکام خلکو ته صحیح صحیح رسوی او یوجماعت به یی هم ختمولی نه سی ، دالله ﷻ غیبی امداد به د دوی سره وی .
خلاصه دا چی دمخکنیو پیغمبرانو کتابونه اوصحیفی به محرف کیدلی «بدلیدلی» اوپه آخرکی به ددنیا څخه ورکیدی یابه ګډی وډی پاته کیدی ، نبی ﷺ ته ورکول سوی کتاب قرآن او دده بنوول سوی هدایات یعنی احادیث داتول به په خپل اصلی شکل او صورت کی ترقیامته محفوظ اوموجود وی ، نو په دغه وجه ترده ﷺ وروسته دبل نوی نبی او رسول ضرورت نسته اونه څه دبل «خلیفة الله» دپاره دلته څه ځای سته ، څلورم خصوصیت دنبی ﷺ دا دی چی دمخکنیو پیغمبرانو خلافت اونیابت چی دیوی خاصی زمانی دپاره وو ، دهرنبی اورسول څخه وروسته دالله ﷻ دطرفه یوبل رسول به مقرر کیدی او دنیابت کار به یی په لاس کی اخیستی .

(دنبي ﷺ وروسته دخلافت نظام)

دخاتم الانبیاء ﷺ دخلافت زمانه ترقیامته ده نو په دی وجه دوی ترقیامته پوری په مځکه کی دالله ﷻ خلیفه دی دده ﷺ تر وفات وروسته دنظام عالم دپاره چی کوم نائب به وی هغه به خلیفة الرسول وی ، دصحیح بخاری اومسلم حدیث دی چی نبی ﷺ وفرمایل .

كَانَتْ بَنُوْ اِسْرَائِيْلَ تَسُوْسُهُمُ الْاَنْبِيَاءُ كُلَّمَا هَلَكَ نَبِيٌّ خَلَفَهٗ نَبِيٌّ وَاِنَّهٗ لَا نَبِيَّ بَعْدِيْ وَسَيَكُوْنُ خُلَفَاءُ فَيَكْثُرُوْنَ .
دبنی اسرائیلو حکومت اوسیاست دهغوی پیغمبرانو کوی ، یو پیغمبر به چی وفات سو نو بل پیغمبر به را تلی اوخبر سی چی زما وروسته بل پیغمبر نسته البته زما خلیفه ګان به وی اوډیربه وی .
پنځم خصوصیت دنبی ﷺ دا دی چی دوی څخه وروسته دده ﷺ دامت مجموعی ته الله ﷻ هغه مرتبه ورکړه کومه چی یی پیغمبرانوته ورکړي ده یعنی د امت مجموعه یی معصومه «دګمراهی څخه پاکه» کړي ده چی دده ﷺ تول امت به په ګمراهی باندی نه راتولیږی ، دا پوره امت چی په کومه مسئله باندی اجماع اواتفاق وکی هغه دالله ﷻ دحکم مظهر ګڼل کیږی ، نو په دغه وجه ترکتاب الله اوسنت رسول ﷺ څخه وروسته په اسلام کی دریم حجت دامت اجماع ګرځول سوي ده ، دنبی ﷺ ارشاد دی .
لَنْ تَجْتَمِعَ اُمَّتِيْ عَلَى الضَّلَالَةِ «زما امت به هیڅ کله په ګمراهی راجمع نه سی»
ددی زیات تفصیل یی په حدیث شریف کی داسی فرمایلی دی چی زماپه امت کی همیشه یوجماعت به په حق قائم وی ، دنیاکه هرڅومره بدله سی اوحق که هرڅومره کمزوری سی، لیکن دا یوجماعت به

دحق حمایت همیشه کوی اوفتح اوغلبه به ددغه جماعت وی ، ددی څخه معلومه سوه چی ټول به هیڅکله هم په گمراهی اوغلطی جمع نه سی اوکله چی د امت مجموعه معصومه سوه نو د رسول ﷺ دخلیفه انتخاب هم دوی ته وسپارل سو اودخاتم الانبیاء ﷺ وروسته دمځکی دنیابت او دحکومت د انتظام دپاره دانتخاب طریقه روا اورائجه سوه ، دا امت چی څوك خلیفه منتخب کی هغه به دخلیفه رسول ﷺ په حیثیت دنظام عالم یوازی ذمه وار وی اوخلیفه دټولو کیدی سی .

دخلفاء راشدینو آخری زمانی پوری دخلافت دا سلسله په صحیح اصولو چلیده ، دغه وجه ده چی دهغو فیصلی یوازی دینی اووختی حیثیت نه لری ، بلکه دیوه مضبوط دستاویز اوامت دپاره دیوحجت او دلیل حیثیت لری ، څکه چی پخپله رسول د دوی په حقله فرمایلی دی علیکم بسنتی وسنة الخلفاء الراشدین (زماسنت او زمادخلفاء و راشدینوسنت ټینگ ونیسی)

(دخلافت راشده څخه وروسته)

دخلافت راشده څخه وروسته ، دڅه طوائف الملوکئ ابتداء وسوه ، په مختلفوعلاقوکی مختلف امیران جوړکړل سوه چی په هغوی کی یو هم دخلافت دنیادپاره حق دارنه وو اوکله چی ترټولی دنیا دمسلمانانو اتفاق په یوه سړی باندی گران سو او هرملك او دهرقوم جلاجلا امیر دجوړولو طریقه روانه سوه نو مسلمانانو دا تقرر تر هغو اسلامی نظریی لاندی جاری ولری چی دمسلمانانو اکثریت چی څوك امیر منتخب کی ، هغه به ددغه ملك امیر وی او) اولوالامر ، به بلل کیږی .

دقرآن مجید د ، وَأَمْرُهُمْ شُورَىٰ بَيْنَهُمْ. دعموم څخه په دې خبره دلیل جوړیدای سی .

(په مغربي جمهوريت اواسلامي شورايت کي فرق اوبيلتون)

اسمبلیانی ددغه طرز عمل یوه نمونه ده ، فرق یوازی دومره دی چی دعاموجمهوری ملکونو اسمبلیانی او دهغه غړی بالکل آزاد اوخود مختار وی یوازی پخپله رایه بنه یابدقانون جوړ ولی سی اسلام اسمبلی او دهغه غړی اومنتخب سوی امیر ټول ددی اصولو اوقانون پابند وی چی کوم دالله ﷻ دطرفه دوی ته دپیغمبر په ذریعه ورکولی سوي دي ددغه اسمبلی یادمجلس شوری ، درکنیت دپاره هم څه شرطونه دی او کوم سړی چي دا منتخب کی دهغه دپاره هم څه حدود اوقیدونه وی ، بیادهغوی قانون سازي دقرآن او دسنت داصولو په دائره کی کیږی او دقرآن او دسنت خلاف دڅه قانون جوړولو اختیار چاته حاصل نه دی لنډه دا چی الله ﷻ خپلی ملائکی مخاطبی کړی اودا ارشادیی ورته وکی چی زه په مځکه کی خپل نائب جوړ وونکی یم، ددی څخه دمملکت ددستور څو اهمی دفعی معلومی سوی ، اول دا چی په مځکه او اسمان کی اقتداراعلی دا لله ﷻ دی دوهم داچی په مځکه کی داالله دحکمونو چلولو دیاره، داالله ﷻ نائب ، دهغه رسول وی ، اوپه ضمنی طور دا هم واضحه سوه چی دخلافت الهیه سلسله کله چی په رسول ﷺ ختمه سوه نو اوس دخلا فت رسول سلسلی ددی ځای ونیوی او ددغه خلیفه ټاکل دملت دانتخاب په ذریعه مقرر کړل سوه .

وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَٰٓئِكَةِ ٱسْجُدُوا۟ لِءَادَمَ فَسَجَدُوٓا۟ إِلَّآ إِبْلِيسَ أَبَىٰ

او کوم وخت چې مونږ حکم وکې ملائکو ته چې سجده وکړی آدم ﷺ ته نو ټولې په سجده پریوتې مگر شیطان نه

وَٱسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٣٤﴾

هغه انکار وکې او تکبر يې وکې او وو دکافرانو څخه.

تفسیر: اوکوم وخت چې حکم وکې مونږ ټولو ملائکو ته) او پیریانو ته هم، لکه چې په بعضې روایاتو کې دحضرت ابن عباس ؓ څخه نقل دی مطلب دا چې دی ټولو ته دا حکم وسو) په سجده پریوځی دادم ﷺ په مخکې نو ټول په سجده پریوتل بغیر دابلیس چې هغه دا وینا ونه منله اوتکبر یې وکې او دکافرانو څخه سو.

علوم اومسئلې

(دایاتونو دیوبل سره تړون)

په اوله واقعه کې چې هر کله د ادم ﷺ غوره والی په ملائکو ظاهر سو اوپه دلیلونو دا خبره ثابته سوه چې دخلافت اونیابت دصلاحیت او اهلیت دپاره چې دکومو علمونو حاجت دی هغه ټول په آدم کې راجمع سوي دی اوملا ئکو ته ددی علمونوڅخه بعضې حاصل دی اوپیریانوته خو ډیرکم حاصل دی، او ددې خاص حیثیت له مخه چې دملا ئکو اوپیریانو د دواړو ډلو دعلمونو آدم جمع کوونکی وو نو دده ښه والی په دواړو ډلو ظاهر سو، اوس الله ﷻ ته منظوره دا وه چې دا خبره په معاملې اوعمل سره هم ظاهره کې نو ملائکو اوپیرانانوته یې د ادم دخاص قسم تعظیم کولو حکم وکی، چې ددی څخه دا ظاهره سی چې دی تر دواړوکامل اوجامع دی یعنی ادم په دغه خاص علمونوکی ترملائکو اوپیرانانوکامل دی او ددی دواړو علمونه اوقوتونه په ده کی جمع دی، ددغه تعظیم دپاره چې کوم عمل تجویز سو دهغه ذکر داسی فرمایی) مونږ ملائکو ته حکم وکې چې آدم ﷺ ته سجده وکی، ټولو ملائکو سجده وکړه مگر ابلیس دسجدې کولوڅخه انکار وکی اوتکبر یې وکی.

(ایادسجدې حکم پیریانوته هم سوی وو ؟)

په دې آیت کی چې کومه خبره په ډاګه ذکر ده هغه دا ده چې ادم ﷺ ته دسجدې کولوحکم ملائکوته سوی وو، لیکن تردی وروسته د ذکر سوی استثناء څخه چې ټولو ملائکو سجده وکړه مگر ابلیس ونه کړه، دا ثابته سوه، چې ادم (ته دسجدې کولو حکم په هغه وخت کی ټولو خاوندانو دعقل ته وو چې په هغه کې ملائکې اوپیریان ټول دا خل دی، لیکن ملائکو ته په حکم کولو اکتفا ددی وجی ده چې ملائکې ترټولو څخه ښه اواشرفی وی، نو دی اشرفو ته حکم ورکول، پیریانوته په سرکی څکه وو چې پیریان ترملائکو زیات (اشرف) نه دی.

(دتعظیم سجده په اولوامتونوکې روا وه په اسلام کې منع ده)

په دې ایت کی ملائکوته حکم ورکول سوی دی چې ادم ته سجده وکې اوپه سورة یوسف کی دی چې

هرکله دیوسف مور او پلار او ورونه مصرته ورسیدل نو دوی یوسف ته سجده وکړه (داخوظاهره خبره ده چې دا سجده دعبادت دپاره کیدای نه سی، ځکه چې دالله ﷻ څخه ماسوا دبل چاعبادت کول شرک او کفر دی، اوپه هیڅ وخت اوشریعت کی دا روانه ده، دپخوانیو پیغمبرانو په زمانه کی دتعظیم دسجدی هغه درجه وه کومه چې زمونږ په زمانه کی سلام، مصافحه، معانقه یالاس مچول لری.

امام جصاص په احکام القران کی دغه لیکلی دی، چې دمخکنیو پیغمبرانو په شریعتونوکی دمشرانو دتعظیم دپاره سجده کول روا وه، دا یوازی دشریعت محمدی خاصه ده چې دغه سجده منسوخه سوه اودلویو دتعظیم دپاره یې یوازی دسلام او دمصافحې اجازه ورکړه، درکوع سجدی، یادلمانځه په شان بنده ته لاس په نامه ودریدل ناروادی، ددی خبری وضاحت دا دی چې کفر، شرک اودغیر الله عبادت کول دایمان داصولو څخه خلاف دی، دا هیڅکله هم دچاپه شریعت کی رواکیدی نه سی، لیکن څه عملونه داسی دی چې په خپله خوشرک اوکفر نه دی لیکن دخلکو دناپوهی اوغفلت په وجه دغه افعال اواعمال دشرک اوکفر ذریعه جوړ یږی، داسی کارونه دمخکنیو پیغمبرانوپه شریعتونوکی مطلقا منع سوی نه وه بلکه ددی خبری څخه منع سوی وه چې دغه افعال اواعمال دکفراوشرک ذریعه جوړه نه سی، لکه دحیوانانو تصویر جوړول اواستعمالول په خپل ځای کی کفراوشرک چې نه دی نو ددی وجې په مخکی شریعتونوکی جائز وو لکه چې دحضرت سلیمان ﷷ په قصه کی دی.

يَعْمَلُونَ لَهُ مَا يَشَاءُ مِنْ مَحَارِيبَ وَتَمَاثِيلَ (پیریانو به دده دپاره لوی لوی محرابونه اوتصویرونه جوړول.

هم دغه شان تعظیمی سجده په مخکی شریعتونوکی رواوه لیکن اخر کار دخلکودجهالت په وجه دا شیان دشرک اوبت پرستی ذریعي جوړی سوی او ددغه لاری او خوا دپیغمبرانو په دین اوشریعت کی تحریف وسو، بیانورو پیغمبرانو اونوروشریعتونو دا ورکه کړه، هرکله چې شریعت محمدی ابدی دی، په رسول نبوت او رسا لت ختم دی او دهغه شریعت اخری شریعت دی، نو په دی وجه ددغه شریعت دساتلو دپاره دمسخ اوتحریف هرهغه لاره بنده کړه سوه، کوم چې شرک اوبت پرستی دراتلو بیره کیدای سوه نو په دی لړکی هغه ټول شیان په دې شریعت کی حرام کړل سوه کوم چې په یووخت کی دشرک اوبت پرستی ذریعی، گرځیدلی وی تصویر جوړول او دهغه استعمال، دتعظیم سجده په دی وجه حرامه سوه چې دا په یو وخت کی دشرک ذریعه جوړه نه سی هم دغه رنګه په هغه وختونوکی لمونځ کول حرام سوه، چې په کومه وختونوکی مشرکان اوکافران دخپلو معبودانو عبادت کوی، دا ځکه چې دا ظاهری مطابقت څه وخت دشرک ذریعه اولاره جوړه نه سی، دصحیح مسلم په حدیث کی دی چې رسول ﷺ مالکانو ته وفرمایل چې خپل غلام ته (عبد) یعنی خپل بنده مه وایاست، حال دا دی چې دلفظی معنی له مخه خو دعبد معنی ده غلام او درب معنی ده پالونکي اوتربیت کوونکی، دداسی الفاظومنع کول په کار نه وو لیکن یوازی په دی وجه چې په دی الفاظوکی دشرک وهم سته، نو په دی وجه ددی الفاظو استعمال منع سوچی دناپوهی دکبله دمالکانو دعبادت یوتکی هم نه موندې سی.

خلاصه داچې سجده تعظمی کومه چې دپخوانیوپیغمبرانوپه شریعتونوکي رواوه په شریعت محمدی کی په دی وجه منع سوه چې شریعت محمدی دکفراوشرک دبوی څخه هم پاك اومحفوظ پاته سی نوپه دی وجه

په شریعت محمدی کی دالله ﷻ څخه ماسوا بل چاته دتعظیم په اراده سجده یارکوع کول جائزنه سول .
بعضی عالمان وایی لمونځ اصل عبادت دی چی دځلورو کارونوڅخه جوړ دی ، ولاړه ناسته ، رکوع او سجده، په دوی کی مخکی دوه ، یعنی ولاړه اوناسته خو داسی کارونه دی ، چی عادة یی انسان دخپل حاجت دپاره هم کوی اوعبادت په لمانځه کی هم، لیکن رکوع اوسجده داسی کارونه دی ، چی دا انسان عادة نه کوی بلکه دا دواړه دعبادت سره خاص دی ، نو په دی وجه دا دواړه په شریعت محمدی کی دعبادت حکم او اثر ظاهر وی او دبل چا دپاره منع کړل سوی وی یو سوال دا پاته سو چی هر کله چی سجده تعظیمی جواز دقرآن ددغو ذکر سوواياتونو څخه په نوروشریعتونوکی ثابت سو نو په شریعت محمدی کی ددی دمنسوخ کیدلودلیل څه دی اوناسخ یی کوم دی ؟
ددی جواب دا دی چی درسول ﷺ دمتواتروحادیثوڅخه دتعظیم دسجدی حرمت ثابت دی ، رسول الله ﷺ فرمایلی دی که چیری مادالله ﷻ څخه ماسوا بل چاته دتعظیم سجده روا ګڼلی ، نو ما به ښځی ته حکم ورکړی وای چی هغه خپل خاوند ته سجده کوی (لیکن په دی حدیث کی دتعظیم سجده مطلقاحرامه ده نو په دی وجه هیچا له هیچاته روانه ده)
داحدیث صحابه کرامو ﷺ روایت کړي دی ،داصول حدیث په مشهورکتاب تدریب الراوی کی ذکردی چی دکوم حدیث روایت لسو صحابه وو ته ورسیږی نو هغه حدیث متواتر کیږی چی دقرآن په شان قطعی وی ، دلته خو دغه لوړحدیث شل صحابه ﷺ روایت کوی ، ددغه شلوصحابه وو ﷺ روایتونه حضرت حکیم الامت تهانوی دبیان القرآن په حاشیه کي جمع کړي دی .
مسئله : د ابلیس کفر اوکافرکیدل یوازی دعملی نافرمانی نتیجه نه وه ، ځکه دشریعت په اصولوکي فرض عملاً پرینښودل ، فسق اوګناه ده ، خو کفر نه دی ، د ابلیس دکافر کیدلو اصلی سبب ، دحکم رباني معارضه اومقابله کول وه ، معارضه په دی شکل چی تاچاته دسجدی کولوحکم ماته کړي دی ، هغه ددی قابل نه دی چي زه هغه ته سجده وکړم او دا معارضه بیشکه کفر دی .
مسئله : دا خبره دفکر او غور وړ ده ، چی ابلیس په علم او معرفت کی هغه درجه در لوده دکومی دوجی چي ده ته طاؤس الملائکة ویل کیدل نو سره ددی علم اومعرفت دده څخه داسي کارڅنګه وسو (بعضی عالمان وایی چی دده دتکبر په وجه الله ﷻ دده څخه خپل ورکړی معرفت اوعلم واخیستی ، ځکه یی دداسی جهالت کار وکي بعضی وایی حُبِّ جاه او خود پسندی په دی کي مبتلا کی ، په روح المعانی کی دی ، چی ددی آیت څخه دا ثابته سوه ، حي ایمان هغه معتبر دی چی داخر عمر او داخرت په مخکني پړاوکي سري سره وی ، په موجوده ایمان عمل اوعلم باندی مغروره کیدل په کار نه دی .
(اذَا لَمْ يَكُنْ عَوْنٌ مِّنَ اللهِ لِلْفَتىٰ) (فَاَوَّلُ مَا يَجْنِىْ عَلَيْهِ اجْتِهَادُهٗ)

وَقُلْنَا يٰٓاٰدَمُ اسْكُنْ اَنْتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ وَكُلَا مِنْهَا رَغَدًا حَيْثُ شِئْتُمَا وَلَا تَقْرَبَا

او مونږ وویل ای آدم ! اوسه ته ! او ستا ښځه په جنت کی او خوری په دی کی چی څه ستاسی خوښ سی او چیری

هٰذِهِ الشَّجَرَةَ فَتَكُوْنَا مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۳۵﴾ فَاَزَلَّهُمَا الشَّيْطٰنُ

چې مو خوبښ سي او مه ورنژدې کيږئ دې درختې ته بيا به تاسې سې زياتي كاران ، نو وښويول دوې شيطان

عَنْهَا فَاَخْرَجَهُمَا مِمَّا كَانَا فِيْهِ ۪ وَقُلْنَا اهْبِطُوْا بَعْضُكُمْ

دهغه ځای څخه اووې ايستل دوی دهغه عزت اوراحت څخه چې په هغه کې دوی وه او مونږ وويل تاسې ټول كښته

لِبَعْضٍ عَدُوٌّ ۚ وَلَكُمْ فِى الْاَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَّمَتَاعٌ اِلٰى حِيْنٍ ﴿۳۶﴾

سی تاسې به ديو بل دښمنان ياست اوتاسې دپاره په مځکه کې استوګنه اوفائده اخيستل دی ديو وخت پورې .

لنډتفسير : او مونږ حکم وکی چې ای آدم ﷺ اوس ته اوستا بی بی (چې هغه الله ﷻ په خپل کامل قدرت سره دآدم ﷺ دپښتنۍ دڅه مادې څخه پيدا کړی وه) په جنت کې خوری دواړه چې څه موخوبښ سي اوكوم ځای کې مو چې خوبښ سي اونژدی مه ځئ دغه درختې ته ګنې تاسې به هم په هغه خلګو شمارسې کومو چې خپل نقصان کړی دی (الله ﷻ ته پته ده چې دا درخته دڅه وه ليکن دهغه څخه دخوړلو منع يې کړی وه او بيا مالك ته خو اختيار وی چې دخپل کوردشيانوڅخه غلام ته دکوم شی داستعمال اجازه ورکوی او دکوم اجازه نه ورکوی) نو وښو يول آدم اوحوا شيطان دهغه درختې په وجه نو ليری يې کړل دهغه ژوند څخه چې په هغه کې دوی وه اومونږ وويل لاندی کښته سی ، په تاسې کې بعضې به دبعضې دښمنان وی اوتاسې لره په مځکه باندی ترڅه وخته پورې پاته کيدل دی اوکارکول اوچلول دی تر يو معلوم وخت پورې (يعني هلته په مځکه هم داستوګنی هميشگی نسته دڅه وخت ترتيرولو وروسته به دغه کور پريښوول به هم وی)

علوم اومسئلي : دا دآدم ﷺ دقصې تکمله ده چې په هغه کې دابيان سوي دی چې کوم وخت ملائکوته دآدم ﷺ غوره والي او دمځکې دپاره دخلافت صلاحيت ظاهر سو ، نو هغوی دا خبره ومنله اوابليس دخپل تکبر او عناد په وجه ونه منله ، او په دی وجه کافر سو او دهغه ځای څخه وايستل سو نوآدم او دهغه بی بی ته دا حکم (وکړل سو ، چې تاسې دواړه په جنت کې اوسيږئ او دجنت دنعمتونوڅخه فائده اخلئ ، ليکن يوی خاصې درختې ته مه ځئ او دهغه څخه خوراك مه کوی ، شيطان چې دآدم ﷺ په وجه مردود سوی وو ، په زړه کې يې آدم ﷺ ته اچولی وه ، په چل يې موقع پيدا کړه غلطی او درواغ فائدی يي آدم ﷺ اوحواته وروښوولی او دا دواړه يې ددغه درختې څخه خوراك كولو ته ولمسول ، په دغه غلطی کولو سره دوی ته حکم وسوچې اوس تاسې مځکې ته ولاړسی اوهلته اوسيږئ او دا هم ورته وښوول سوه چې دمځکې استوګنه دجنت په شان نه ده بلکه دمځکې په استوګنه کې به ديوبل ترمينځه اختلاف اودښمناني وی ، چې په هغه سره به دژوند لطف اوخوند نه وی .

وَقُلْنَا يَا آدَمُ اسْكُنْ اَنْتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ . او مونږ وويل چې ای آدم ﷺ ته اوستا ښځه په جنت کې اوسی ،

دا واقعه دحضرت ادم ﷺ ترپیداکیدلو، او ده ته دملائکو دسجدی کولوڅخه وروسته ده ، بعضی علماؤ ددی څخه دا نتیجه ایستلی ده چی دتخلیق او دسجدی واقعه دجنت څخه دباندی بل ځای سوی ده او تردی وروسته دوی جنت ته دا خل سوي دی لیکن په دی الفاظوکی دا مطلب اومفهوم یقینی نه دی بلکه دا هم کیدی سی چی تخلیق هم په جنت کی سوی وی او دسجدی واقعه هم په جنت کی پیښه سوی وی لیکن ترهغه وخته پوری دوی ته څه فیصله اوریدل سوی نه وه چی د دوی دپاته کیدو اوداستوګنی ځای به چیری وی ، تردی واقعی وروسته دا فیصله واورول سوه ، وَكُلَا مِنْهَا رَغَدًا حَيْثُ شِئْتُمَا . رَغَدًا : معنی په عربی لغت کی هغه نعمت او رزق دی ، چی دهغه په حاصلولو کی څه محنت او تکلیف نه وی ، او دومره ډیر هم وی چی دختمیدو بیره یی بالکل نه وی ، نومعنی دارنګه سوه چی آدم اوحوا ته وفرمایل سوه چی دجنت میوه په فراخي سره خوری ، تاسی ته به نه ددي په حاصلولوکي څه تکلیف وی اونه دا فکر چی دا یو وخت ختمه نه سی .

وَلَا تَقْرَبَا هَٰذِهِ الشَّجَرَةَ . یوی خاصی درختی ته تر اشاری کولوڅخه وروسته وویل سوه چی دی ته نژدی هم مه ځی اصل مقصد خو دا وو ، چی ددی میوه مه خوری لیکن دتاکید اوپوخوالي دپاره یی دا تعبیر غوره کی چی دی ته مه نژدی کیږی اومطلب ورڅخه دا دی چی دخوراك دپاره دی درختی ته نژدی مه ځی ، دا درخته کومه درخته وه ؟ قران دا متعینه کړی نه ده ، اونه څه په مستند اومعتبرحدیث کي ددی تعین سوي دی دتفسیر په امامانوکی بعضی دا درخته ، دغنمو درخته یعنی بوټی ګنی ، اوځوك یی د انګورو او ځوك یی انځیر ، لیکن چی کوم شی ، قرآن اوحدیث مبهم اوغیر معلوم پریښي وی دهغه په تعین کی څه فائده نه وی (قرطبی)

فَتَكُونَا مِنَ الظَّالِمِينَ . یعنی که چیری تاسی ددغه منع سوی درختی څخه خوراك وکی نو په ظالمانوکی به دا خل سی .

فَأَزَلَّهُمَا الشَّيْطَانُ عَنْهَا . د، زلة : معنی په عربی کي خطا اوښویدل دی اود ازلال معنی ده څوك ښویول ، معنی داسی سوه چی شیطان آدم او حوا وښویول دقرآن دا الفاظ په واضحه ډول دا ظاهر وی چی دحضرت آدم اوحوا داخلاف کول داسی نه وه لکه چی څنګه عام ګنهکا ران یی کوی ، بلکه ، شیطان داشتباه اچولوڅخه په دوکه کی په لویدوسره دداسی عمل کولوپیښه وسوه ، چی دکومې درختی څخه منع سوی وه دهغه میوه یي وخوړه، په عَنْهَا، کی دعن لفظ دسبب دپاره دی ، یعنی دهغه درختی په سبب او ذریعی شیطان آدم اوحواپه خطاکی مبتلا کړه .

دلته یوسوال دا پیدا کیږی چی کله شیطان دسجدی کولوڅخه دانکار په وجه دجنت څخه ویستل سو، نو دی دآدم اوحوا دخطا ایستلو دپاره جنت ته څنګه ورسیدی ، ددی صفاستره جواب دا دی چی دشیطان دخطا ایستلو دپاره او هلته درسیدلو دپاره ډیر صورتونه کیدای سی ، دا هم ممکنه ده ، چی دملاقات څخه بغیرشیطان دهغوی په زړه کی وسوسه اچولی وی اوداهم کیدی سی چی شیطان دپیریانو دنسله دی اوالله ﷻ پیریانوته په ډیروتصرفاتواوکار ونو باندی قدرت ورکړي دی ، چی په عام طور یي

انسان کولی نه سي ، دوی ته یې په مختلف شکل کیدلوقدرت ورکړي دی ، نوکیدی سی چی ده دخپل قوت جنیه په ذریعه دمسمریزم په صورت دادم احوا په ذهن اثرکړی وی ، او دا هم کیدی سی ، چی په څه دوهم شکل ، یعنی دمار یابل شی په شکل جنت ته دا خل سوی وی او شاید دغه وجه وه چی آدم ته دده ددښمنی خیال را نه غی ، دقرآن آیت ، وَقَاسَمَهُمَا إِنِّي لَكُمَا لَمِنَ النَّاصِحِينَ . څخه معلومیږي چی شیطان یوازي دوسوسی اوپه ذهن داثرکولوپه ذریعه کار کړی نه وو ، بلکه دآدم اوحوا سره مخامخ خبری یی کړی وی اوقسمونه یی ورته خوړلی وه .

فَأَخْرَجَهُمَا مِمَّا كَانَا فِيهِ . یعنی شیطان په دغه دوکه اوخطاسره آدم اوحوا دهغو نعمتونوڅخه را ویستل په کوم کی چی هغوی په آرام ژوند تیر وی دا را ایستل که څه هم چی دخدای په حکم سوی وه، لیکن سبب یی شیطان وو، نو په دی وجه د استلو نسبت یی شیطان ته وکړل سو .

وَقُلْنَا اهْبِطُوا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ . یعنی مونږ حکم وکی چی لاندی کښته سي داسی چی په تاسی کی به بعضی دبعضو دښمنان وی ، ددی حکم مخاطبین حضرت آدم اوحوا علیهماالسلام دی اوکه چیري شیطان تردی وخت پوری دآسمانوڅخه ایستل سوی نه وی ، نو هغه هم په دی خطاب کی شامل دی اوپه دی صورت کی دیو بل سره ددښمنی مطلب به دا وی چی دشیطان سره ستاسی ددښمنی سلسله به په دنیا کی هم جاری وی اوکه چیري دبعضی علما ؤ په وینا ، چی ددی واقعی څخه مخکی شیطان ایستل سوی وو ، نو بیا ددی کلام رخ ، یعنی خطاب حضرت ادم اوحوا او د دوی اولادته دی ، چی د زورني په دول یی دا وویل ، چی یوه سزا خو دا ده چی دجنت څخه په مخکی کی سوی ، دوهمه سزا دا ده چی ستا د اولاد په مینځ کی به دښمنانی وی ، او دا معلومه خبره ده چی د اولاد دیوبل سره په دښمنی ساتلو کي دمور او پلار د ژوند ټول خوند ختمیږي ، دا هم یو معنوی او روحانی سزا سوه (بیان القرآن)

وَلَكُمْ فِي الْأَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَمَتَاعٌ إِلَىٰ حِينٍ : یعنی آدم اوحوا ته دا ارشاد هم وسو، چی تاسی به ترڅه وخته پوری پرمځکه باندی استوګنه کوی اوترخاص معین وخته پوری به دمځکی کار چلوی ، مطلب دا چی په مځکه دتلو مطلب دا نه دی چی تاسی به هلته همیشه یا ست ، بلکه دڅه مودی تیرولو څخه وروسته به دا کور هم په پریږدی .

(د ذکرسوو ایاتونو څخه متعلقه مسائل اوا حکام را ایستل)

اسْكُنْ أَنتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ . کی ادم اوحوا دواړوته دا ارشاد دی چی جنت دځان دپاره داستوګنی ځای جوړ کی، یعنی تاسی دواړه په جنت کی اوسیږی نو ددی مقصد دپاره مختصر تعبیر دعربی ، أسكنا، سو خو دلته داسکنا ، په ځای داسکن انت وزوجك تعبیرپه غوره کولوکی مخاطب یوازی ادم ﷺ سو او ده ته یی وفرمایل، چی ستاښځه دی هم په جنت کی وی ، نو په داسی ویناکی دومسئلوته اشاره ده .

مسئله : اول داچی دښځی داستوګنی انتظام دخاوند په ذمه دی ، دوهم داچی ښځه په استوګنه کی دخاوند تابع ده ، چی په کوم مکان کی خاوند اوسیږی په هغه کی دی دا اوسیږي .

مسئله : د ، أسكُنْ : په لفظ کی هم اشاره ده چی په دغه وخت کی د دواړو دپاره په جنت کي استوګنه

عارضي وه ، دائمي استوګنه چې هغه دملکيت شان دی ، هغه نه وه ، ځکه چې د ، أسکن دلفظ معنی دا ده چې په دی مکان کي اوسه داسکن دامعنی نه ده چې دامکان تاته درکړل سو ، داستا مکان دی ، وجه دا ده چې دالله ﷻ په علم کي وه چې اتنده داسی حالات راتلونکی دی چې آدم اوحوا ته دجنت مکان پرېښودل راځي او ورسره دا هم ده چې دجنت دملکيت حقداري دايمان اوعمل صالح په عوض حاصلېږي ، چې هغه به دقيامت څخه وروسته وی ، ددی څخه فقهاؤ دا مسئله را ويستله چې که چيری يوسړی بل سړی ته دا وواييي چې زماپه کورکی اوسه ، ياداچې زما کورستا دا استوګنی ځای دی ، په دی وينادی سړی ته ددی مکان دملکيت حقداری نه حا صليږي (قرطبي)

(په غذا اوخوراک کي ښځه دخاوند تابع نه ده)

وَكُلَا مِنْهَا رَغَدًا ، يعنی تاسی دواړه ، دجنت څخه په ازادی خوراك کوی ، دلته دمخکنی طرز په ډول يوازی خطاب حضرت ادم ؑ ته ونه سو ، بلکه دواړوته يي په يوه لفظ کي په شريکه وفرمايل يعنی د ، کلا: په لفظ سره، په داسی کولوکی دی خبری ته اشاره ده چې په غذا اوخوراك کی ښځه دخاوند تابع نه ده ، هغه دخپل ضرورت او دخواهش په وخت کی دخپلی خوښی مطابق خوراك کولای سی .

(په هرځای کي ګرځيدو راګرځيدل انسان فطری حق دی)

رَغَدًا حَيْثُ شِئْتُمَا . درغداً ، لفظ په خوراکونو کی کثرت او وسعت ته اشاره ده ، چې څوك څومره غواړی خوری دی ماسوا ديوی درختی څخه اوپه څه شي کی بنديز نسته ، او دشئتما په لفظ کی دمقامونو فراخی ته اشاره ده ، يعنی په ټول جنت کی ، چې په کوم ځای کی غواړی اوځنګه چې غواړی خوری ، يوه علاقه هم داسی نسته چې هلته په تګ باندی بنديز وی، په دی کی اشاره دی خبری ته ده ، چې په تلو راتلو اوګرځيدو کی او راګرځيدوکی دمختلفو ځايونوڅخه خپل ضرورتونه پوره کول ، دانسان پيدائش حق دی ، په يوه معلوم اومحدود ځای کی که چيري دضرورت ټول شيان مهياسی ، ليکن دهغه څخه دباندی تلل بندسی نو دا هم يو قسم قيد دی نو په دی وجه حضرت آدم ؑ ته دخوراك ځښاك شيان په فراخی سره په ورکولو باندی بس والی ونه کړل سو بلکه ، دَحَيْثُ شِئْتُمَا: په ويناسره دوی ته دګرځيدو راګرځيدو اوهر ځای ته دتللو ازادی هم ورکړل سوه .

(د ذريعو دبنديز مسئله)

وَلَا تَقْرَبَا هَٰذِهِ الشَّجَرَةَ : يعنی دی درختي ته نژدی مه ورځی ، ظاهره ده چې ددی اصل مقصد خوداووچي دا درخته يادې ميوه مه خوری ، ليکن احتياطی حکم دا وسو چې دی ته نژدی مه ځی نو ددی څخه داصول فقه د(سدذرائع) مسئله ثابته سوه يعنی بعضی امور پخپله ناروا اومنع سوی نه دی ، ليکن چې کوم وخت دا خطره وی چې ددغه امورو څخه به په څه ناجائزه حرام کارکی اخته کيدل وی ، نو دغه جائز هم منع کول کيږي ، ليکن چې درختی ته نژدی کيدل دهغه دميوی اوخوړلو ذريعه ګرځيده نو دغه ذريعه يي منع کړه ، ددی نوم په اصول فقه کی (سدذرائع) دی .

(دپيغمبرانو دعصمت مسئله)

ددی واقعی څخه دا معلومه سوه چې حضرت آدم ؑ ديوی خاصی درختی څخه منع کړل سوی وو او

ددی خبري ورته خبر داري ورکولی سوی وو چی شیطان ستادښمن دی چی داسی ونه سی چی دی تاپه گناه کی اخته کی ددی باوجود آدم ددی درختی څخه خوراك وکی ، چی په ظاهره گناه ده اوحال دا دی چی پیغمبران دگناه کولو څخه پاك دي تحقیق دا دی چی دټولو پیغمبرانوپاکی دټولوگناهونوپه عقلی او نقلی دوارودلیلونوسره ثابته ده، دځلورو امامانو او دجمهورامت په دی اتفاق دی چي پیغمبران دټولو کوچنیو اولویو گناهونو څخه پاك اومحفوظ دی اوبعضی خلکو چی دا ویلی دی ، چی کوچنی گناهونه د دوی څخه کیدی سی دا خبره دجمهور امت په نزد صحیح نه ده (قرطبی)

وجه دا ده چی پیغمبران دخلکو دپاره مقتدی لیږل کیږی که چیري د دوی څخه هم څه دالله ﷻ درضا څخه خلاف ، خوا که کوچنی گناه وی یالویه صادره سی نو دویناگانو او افعالو د دوی به امن پورته سی او قابل اعتما د به پاته نه سی ، اوکله چی په پیغمبرانو باندی اعتماد پاته نه سی نو دین به دکوم ځای څخه راسی او ددین ځای به چیري وی ؟

البته دومره خبره ده چی دقرآن شریف په ډیرو آیاتونو کی د ډیروپیغمبرانو متعلق داسی واقعات ذکردی ، چی دهغه څخه دا معلومیږی چی د دوی څخه گناه سوي ده اودالله ﷻ دطرفه دوی ته عتاب او زورنه هم ورکړل سوي ده دحضرت ادم ﷺ دا قصه هم په دی کی دا خله ده .

دداسی واقعاتوحاصل دامت په اتفاق سره دا دی ، چی په څه غلط فهمی یاپه خطا اوپه هیره د دوی څخه دغه غلطی سوی دی ، یوپیغمبرسره دپوهی عمدا دالله ﷻ دڅه حکم خلاف عمل نه کوی ، غلطی، اجتهادی کیدی سی ، یادخطایي او دهیری په وجه دمعافی قابله وی ، اودغه شان غلطیانوته دشرع په اصطلاح کی گناه نه ویل کیږ ی، او دا دسهوی او دهیری غلطیانی دهغوی څخه په هغه کار ونو کی سوي دی ، چی دکوم تعلق دتبلیغ او دتعلیم سره نه وو ، بلکه دا سهوی اوهیری د دوی څخه په خپلو کارونو کي کیدلی (البحرالمحیط)

لیکن دالله ﷻ په نزد دپیغمبرانو مقام ډیر لوړ دی اود دوی کوچنی غوندی غلطی هم لویه شمیرل کیږی ، هم دا وجه ده چی په قران شریف کی داسی واقعاتوته گناه ویل سوي ده او په دی باندی زورنه هم ورکړل سوي ده ، که څه هم په حقیقت کی داگناه نه ده، دحضرت ادم ﷺ دواقعي متعلق مفسرینو ډیری توجیه گانی لیکلی دی ، چی په هغه کی یو څو دا دی .

یو دا چی کله حضرت ادمﷺ منع کړل سوی وو، نو دیوی خاصی درختی طرف ته اشاره کړل سوي وه او منع کړل سوی وو، چی دی ته به نژدی نه ورځی اومراد ورڅخه داخاصه معینه درخته نه وه ، بلکه ددی جنس ټولي درختی ورڅخه مراد وی ، لکه چی په حدیث شریف کی راغلی دی چی رسول دخدای یو وار دورېښمو کپړه او دسرو زرو یوه ټوټه په لاس کی واخسته او وی ویل ، چی دا دواړه شیان زما دامت په نارینوو حرام دی ظاهره خبره ده چی حرمت یوازی دهغه مخصوصی کپړی اوسروزرو سره متعلق نه وو، کومی چی درسول دخدای په لاس مبارك کی وی بلکه ترټولو وریښموکپړو اوسر وزرو دا حکم دی ، ولی دلته دا وهم کیدای سی چی دا منع یوازی دهغه کپړی اوسرو سره تړلی ده کومی چی هغه وخت درسول الله خدای په لاس مبارك کی وی ، دغه شان دحضرت آدم ﷺ دا خیال راغي چي دکومی درختی

په لور دمنع اشاره سوې ده هغه منع هم دې سره خاصه وه ، شیطان دا وسوسه دهغه په زړه کې واچوله اومضبوطه یې کړه اوقسمونه یې وخوړل اوهغوی ته یې دا یقین ورکې چې زه ستاخیرخواه یم ، تاته څه دداسې کار مشوره نه درکوم چې ستادپاره منع یاضرر رسوونکې وي دکومې درختې چې ممانعت سوې دی هغه بله ده ددې درختې ممانعت نسته ، او دا هم کیدی سې چې شیطان دا وسوسه ورلره په زړه کې اچولې وي چې ددې څخه منع کول یوازې ستا دپیدائش دابتداء دوخت سره مخصوص وه ، لکه چې ماشومان په اول عمرکې دقوي خوراك څخه منع کړل کیږي اوسپك خوراك ورکول کیږي او دقوت دپیداکیدو څخه وروسته دهرخوراك اجازه وي ، نو اوس ته قوي سوې ی نوهغه منع باقي پاته نه سوه.

اوداهم کیدای سې چې کله شیطان حضرت آدم ﷺ ته ددې درختې دخوراك فائدې وروښوولې چې ددې په خوراك به دهمیشه دپاره دجنت په نعمتونو کې داوسیدو اطمینان وسې دغه وخت هغه ته هغه منع په یاده پاته نه سوه کومه چې دپیدائش دابتداء څخه ددې درختې متعلق سوې وه دقرآن مجید آیت ، فَنَسِيَ وَلَمْ نَجِدْ لَهُ عَزْمًا ، یعنې آدم ﷺ څخه هیرسوه او مونږ په ده کې پخنګې پیدا نه کړه ددې احتمال تائیدکوي په هرحال ددې قسم بې شمیره احتمالات کیدی سې ، چې دهغه حاصل دا دی چې حضرت آدم ﷺ نافرمانې نه وه کړې ، بلکه ورڅخه هیرسوې وه یا اجتهادي خطا ورڅخه سوې وه کومه چې په حقیقت کې ګناه نه ده ولې دآدم ﷺ دشان دنبوت اودالله ﷻ سره دنږدیکیدو دلوی مقام سره دا خطا هم لویه وګڼل سوه ، او په قران کریم کې ددې څخه په ګناه تعبیر وسو اود آدم ﷺ دتوبې اوبخښنې غوښتوڅخه وروسته دده دمعاف کولو ذکر وسو.

او دا بحث بې فائدې دی چې هرکله شیطان دجنت څخه ویستل سو نو بیا هغه څنګه دآدم ﷺ دغلولو دپاره ، هلته ورسیدی ؟ ځکه چې دغلولو او وسوسې اچولو دپاره ضروري نه ده چې جنت ته دننه سې او وسوسه دې ور واچوي ، پیریانو اوشیطانانو ته الله ﷻ دا قدرت ورکړې دی چې دوی دلیرې څخه هم وسوسه اچولې سې اوکه چیرې دا ومنل سې ، چې شیطان ننوتلی وو اومخامخ یې خبرې کړې وي ، نو دهغه هم مختلف احتمالات کیدی چې دهغه په تحقیق کې لګیدل بې فائدې اوبې مطلبه بحث دی.

دغه شان دا سوال چې آدم اوحوا علیهما السلام مخکې الله ﷻ خبر کړې وو ، إِنَّ الشَّيْطَانَ لَكُمْ عَدُوٌّ. چې شیطان ستاسې دښمن دی هسې نه چې دی څه کار ستاسې څخه واخلي ، چې دهغه په وجه تاسې دجنت څخه ووزې ، بیاحضرت آدم ﷺ دده په دوکه کې څنګه راغی ، ددې جواب هم دغه دی چې الله ﷻ پیریانو اوشیطانانو ته په قسماقسم شکلونو کې دظاهریدو قدرت ورکړې دی ، ممکنه ده چې هغه په یو داسې شکل کې حضرت ادم ﷺ ته مخته راغلی وي چې په هغه شکل کې ادم ﷺ نه پیژندی چې دا شیطان دی.

فَتَلَقَّىٰ آدَمُ مِن رَّبِّهِ كَلِمَاتٍ فَتَابَ عَلَيْهِ ۚ إِنَّهُ

نو زده کړې آدم ﷺ دخپل پر وردګار څخه خوخبرې بیا متوجه سو الله پاك په ده باندې بیشکه

هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ﴿٣٧﴾ قُلْنَا اهْبِطُوْا مِنْهَا جَمِيْعًا فَاِمَّا

دی توبه قبلوونکی او مهربان دی، مونږ حکم وکی لاندی څی ددې ځخه تاسی ټول بیا که

يَاْتِيَنَّكُمْ مِّنِّيْ هُدًى فَمَنْ تَبِعَ هُدَايَ فَلَا خَوْفٌ

چیری تاسی ته زما د طرفه څه هدایت ورسیږي نو چی څوک زما هدایت تلل وکی نه به بیره وی

عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿٣٨﴾ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا

په هغوی باندی او نه به دوی غمجن وی، او کوم خلق چی منکر دی او زما نښانی یی دروغ ګڼلی

اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿٣٩﴾

دغه خلق دی چی دوږخ ته به ځی، او په دی کی به همیشه وی.

تفسیر: وروسته تردی حاصل کړه ادم ؑ دخپل پروردګار ځخه څو الفاظ (یعني دعذر دغوښتلو کلمی چی هغه هم دالله ﷻ ځخه حاصل سوی وی دحضرت ادم ؑ په پښیمانه کیدو دالله ﷻ رحمت متوجه سو او دده ته یی دعذر دغوښتلو الفاظ هم په خپله وښوول) نو الله ﷻ رحمت سره متوجه سو په دوی باندی (یعني توبه یی قبوله کړه) بیشکه هغه دی لوی توبه قبلوونکی اولوی مهربانه (او دحضرت حواء دتوبی بیان په سورت اعراف کی دی) قَالَا رَبَّنَا ظَلَمْنَا اَنْفُسَنَا : ددې ځخه معلومه سوه چی حضرت حضرت حوا هم په توبه کولو او دتوبی په قبلیدو کی حضرت ادم ؑ سره شریکه وه، لیکن دمعاف کولو ځخه وروسته هم مځکی ته دتلو حکم منسوخ نه سو، ځکه چی په دی کی په زرګونو حکمتونه او مصلحتونه پټ وو، البته ددې طرز او طریقه یې بدله کړه، چی مځکنی حکم مځکي ته راکښته کیدو دپاره (حاکمانه) دسزا په توګه وو، اوس دا حکم په حیمانه انداز کی داسی وسو، قُلْنَا اهْبِطُوْا مِنْهَا جَمِيْعًا الایه یعني مونږ حکم وکی چی لاندی ځی ددې جنته ټول بیا که چیری راسی تاسی ته زما طرفه څه قسم هدایت (یعني دوحی په ذریعه احکام شرعیه) نو کوم سړی چی پیروی وکی زما ددې هدایت نو نه څه غم به وی په دوی باندی اونه داسی خلګ به غمجن سي (یعني نه په دوی باندی څه خوفناکه واقعه راځی او دقیامت دهولناکو واقعاتو ځخه د دوی بیرول ددې منافی نه دی، لکه چی په صحیح احادیثو کی دی چی په ټولو به بیره وی حزن هغه کیفیت دی چی دڅه ضرر او مصیبت ځخه وروسته په زړه کی پیدا کیږي او خوف همیشه مځکی پیدا کیږي دلته الله ﷻ دبیری اودغم دواړو نفی وکړه ځکه چی په دوی باندی څه داسی آفت اوتکلیف راتلونکی نه وی چی هغه سبب دبیری او دغم ګرځی، بیاتردی وروسته دهغو خلګوبیان دي چی په دي هدایت عمل ونه کړی نو فرمایې چی) اوکوم خلګ چی کفر وکی او دروغجن

کی زما حکمونه ، دا خلک به وی ، دوزخ والا او دوی به په دی کي همیشه اوسیږي.

علوم اومسئلي

(دآیتونو دیوبل سره ترون)

په مخکی آیاتونوکی دشیطان دوسوسی اودحضرت آدم ﷺ دخطا او دهغه په نتیجه کی دجنت څخه وتل او مخکی ته دراتلوحکم ذکر وو ، حضرت آدم ﷺ د زورني داسی خطاب هیچکله نه وو اوریدلی ، اونه دومره دکلك زړه خاوند وو ، چی په دی یي پروانه راتله ، نو ضرور بی آرامه سو او فورا یي دمعافی التجاء کول شروع کړه ، لیکن دپیغمبرانه معرفت او په دی وجه انتهایی هیبت د زوره دژبی څخه یی څه خبره نه وتله یاددی وجی نه وتله چی بیره یی وه چی کوم ځای دمعافی التجاء خلاف شان نه وی چی دهغه په وجه دزیاتی زورنی سزا وار نه سو ژبه یي بالکل چپ چاپه وه الله ﷻ خو دزړونو دخبرو واقف دی او رحیم او کریم هم دی چي داحالت یی ولیدی پخپله یی دمعافی دپاره څوکلمی هغه ته وروښوولی ، ددی بیان په دی ایاتونوکی دی چی : آدم ﷺ حاصل کړل دخپل پر وردګارڅخه څوالفاظ نوالله ﷻ په دوی باندی په رحمت سره توجه وکړه (یعنی د دوی توبه یی قبوله کړه) بیشکه هغه دی لوی توبه قبلونکی اومهر بانه) لیکن مخکی ته په راتلوکی نور هم په زرګونوحکمتونه اومصلحتونه پټ وه مثلا د دوی دنسل څخه دملائکو اوپیریانوپه مینځ کی یو نوی قسم مخلوق انسان پیداکول او دوی ته یوقسم اختیار ورکول اوپه شرعی احکامو مکلف کول ، بیاپه دوی کی الهی خلافت قائمول ، دحدودو او دشرعی احکامو جاری کول ، ددی دپاره چی دا نوی مخلوق ترقی وکی او هغه ځای ته ورسی کوم ته چی ملائکی هم نه دی رسیدلی او ددغه مقصدونو ذکر دآدم ﷺ دپیداکولو څخه مخکي سوی ووچی ، إِنِّيْ جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً.

نوددی وجی دخطامعاف کولوڅخه وروسته هم مخکی ته دراکښته کیدوحکم منسوخ نه سو ، البته ددې حکم طرزبدل سوچی مخکی حاکمانه وواودسزاپه طور وه اواوس حکیمانه اودالهی خلافت داعزازسره سوپه دی وجه په وروستي آیتونو کی دهغو ذمه واریانو ذکر دی چی دالله ﷻ په یوخلیفه باندی لازمیږي نو په دغه وجه مخکی ته دکښته کیدو حکم یی مکرر بیان کی او وی ویل چی مونږ حکم وکی چی لاندی ځی ددی جنت څخه ټول بیاکه چیري تاسي څخه زمادطرفه څه هدایت (یعنی احکام شرعیه دوحی په ذریعه) راسی نو چی چاپیروی وکړه ، زماددی هدایت نوڅه بیره به نه وی په هغوی باندی او نه به دوی غمجن کیږی (یعنی دیو تیر سوی شي په فوت کیدلو به دوی ته غم نه وی اونه اننده دڅه تکلیف خطره)

تَلَقّٰى : دتلقی معنی ده په شوق اوپه مینه دچا استقبال کول اوهغه قبلول (روح ۱ کشاف) مراد دا دی چی دالله ﷻ دطرفه کله دوی ته دتوبی دکلمو ښوول وسوه نوحضرت ادم ﷺ دا په ډیر اهتمام قبول کی .

كَلِمٰتٍ : هغه کلمی چی حضرت ادم ﷺ ته دتوبی دپاره ښوول سوی وی هغه څه کلمی وی ؟ په دی کی دمفسرینو صحابه وو څخه ډیر روایتونه نقل دی ، مشهور قول دحضرت ابن عباس رضی الله عنه دی دا کلمی هغه دی چی په قران مجید کی په بل ځای کي نقل دی ، رَبَّنَا ظَلَمْنَا أَنْفُسَنَا وَإِنْ لَمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ :

یعنی تاب دتوبه اصل اصل معنی رجوع کول دی اوکله چی دتوبی نسبت بنده ته وسی نو دهغه معنی د

درو شیانو مجموعه وی ، اول چی کړئ ګناه ګناه ګڼي اوپه دی پښیمانه کیدل دوهم داچی ګناه پریښوول دریم دا چی دآئنده دپاره دنه کولو یی پوخ قصدکول که چیری په دی درو کی دیوه هم کمی وی ، نو دا توبه توبه نه ده ، معلومه سوه چی یوازی په ژبه ویل الله توبه) دخلاصی دپاره کافی نه وی ، ترڅوچی دا دری سره شیان جمع سوی نه وی ، تاب علیه ، دلته دتوبی نسبت الله ته سوي دی ددی معنی) توبه قبلول سوه دبعضی سلفوڅخه پوښتنه وسوه، چی دچاڅخه چی څه ګناه وسی، هغه ته څه کول په کار دی ؟ نو هڼوی وویل چی هغه کول په کار دی کوم چی دده مور اوپلار ادم اوحوا علیهما السلام دا کړی وو ، چی پخپل کړو پښیمانه سوه اودآئنده دنه کولو مضبوطه اراده یی وکړله ، الله ته دمعافی عرض یی وکي ،

رَبَّنَا ظَلَمْنَا أَنْفُسَنَا : ای زموږ پر وردګاره موږ په خپلو ځانونو باندی ظلم کړي دی که چیری ته موږ معاف نه کړئ اوموږ باندی رحم ونه کړی نوموږ به په سخت زیان کوونکوکی داخل سو . دغه شان حضرت موسیٰ ﷺ عرض وکی إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي فَاغْفِرْ لِي . ای زماپر وردګاره ! ما په خپل ځان ظلم کړي دی ، ته ماوبخښی او دحضرت یونس ﷺ څخه چی کله خطا وسوه نوعرض یی وکی ، لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِينَ : یعنی دالله ﷻ څخه ماسوا بل څوك دعبادت لائق نه دی ته دهری خرابی څخه پاك یی زه په ظلم کوونکوکی داخل سوی یم، (مطلب داچی پرمارحم وکړه) (قرطبی)

فائده : دحضرت ادم ﷺ اوحوا څخه چی کوم اجتهادی خطاسوی وه اول خوقرآن شریف دواړوته ددی خطانسبت کړي دی ، فَأَزَلَّهُمَا الشَّيْطَانُ عَنْهَا فَأَخْرَجَهُمَا : اومخکی ته درا کښته کیدوحکم هم دواړوته سوی دی ، څکه چی حواء د اهبطوا په لفظ سره ادم ﷺ سره په دی حکم کی شریکه ده ، لیکن وروسته تر توبی قبلیدو په موقع یوازی دمفرد لفظ سره دادم ﷺ ذکر راغی دحضرت حوا ذکرنسته ددی مقام څخه ماسوا هم ددی خطاء ذکر یوازی دآدم ﷺ په باره کی سوی دی لکه ، وَعَصَىٰ آدَمُ رَبَّهُ فَغَوَىٰ .

کیدی سی چی ددې وجه دا رعایت ووچی ښځه الله ﷻ پټه پیداکړی ده ددې وجی دپرده پوښی په توګه دګناه او زورنی په ذکرکي یی ددې ذکرصراحةً ونه کي اویو ځای ، رَبَّنَا ظَلَمْنَا أَنْفُسَنَا. په کی د دواړو دتوبی ذکر سوی دی دا دې دپاره چی چا ته داشبه پاته نه سي چی دحضرت حواقصور معاف سوی نه وو، ددې څخه علاوه هرکله چي ښځه په اکثروحالاتوکی دسړی تابع ده ، نوپه دی وجه ددی دمستقل ذکرضرورت ونه ګڼل سو (قرطبی)

(تواب اوتائب کي فرق)

امان قرطبی وایی چې دتواب لفظ بنده دپاره هم ویل کیږي لکه ، إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ . او دا الله ﷻ دپاره هم لکه په دی ایت کی ، هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ : کله چی بنده دپاره استعمال سی نو بیامعنی یی ده ، دګناه څخه د اطاعت لوری ته راګرځیدل ، اوکله چی الله ﷻ دپاره استعمال سی ، نو معنی یی ده توبه قبلوونکی ، دا یوازی د(تواب) دلفظ حکم دی ، په دی معنی بل لفظ تائب دی ددې استعمال دالله ﷻ دپاره روانه دی ، که څه هم دلغوی معنی په اعتبارهغه غلط هم نه دی لیکن دالله ﷻ په شان کی یوازی دهغه صفتونو اولقبونو استعمال جائزدی ، کوم چی په قران اوحدیث کي راغلی دی ، باقی نور الفاظ که

څه هم دمعنی په اعتبار صحیح هم وی لیکن په قرآن اوحدیث کي دهغه استعمال دالله ﷻ دپاره هم سوی نه وی ، دداسي الفاظواستعمال الله ﷻ دپاره صحیح نه دی .

(دګناه څخه دتوبي قبلولو اختیار دالله ﷻ څخه سوا بل چاته نسته)

ددې آیت څخه دا هم معلومه سوه چی دتوبی دقبلولو اودګناه عفوکولواختیار دالله ﷻ څخه ماسوا دبل چا نسته یهود اونصاری ددی قاعدی څخه دغفلت په وجه په سخته فتنه کی مبتلاسوی دی ، او پادریانو ته ورځی اوهغوی ته څه هدیه وغیره ورکوی اوخپل ګناهونه په معاف کوی ، او دا ګنی او خیال کوی ، چی دی پادریانو دا ګناه معاف کړه ، نوالله ﷻ یی هم معاف کوی ، نن هم دغه شان ډیر بی خبره مسلسانان داسی غلطی اوکچه عقیدی لری ، یو عالم او پیر دچا ګناه په خدای ﷻ باندی معاف کولی نه سی ، زیات تر زیات دومره کولی سی چی دعا وکی .

(دادم ﷺ مځکي ته کښته کیدل دسزا په توګه نه بلکه دیو مقصددپوره کولو دپاره وو)

قُلْنَا اهْبِطُوا مِنْهَا جَمِيعًا: دجنت څخه مځکی ته په راکښته کیدوحکم دی تردی په مخکی آیت کی راغلی دی ، دلته بیاپه دوباره را وړلو کی غالباحکمت دا دی چی په مخکی آیت کی مځکه ته درا کښته کولو ذکر دعتاب اوسزا په ذول راغلی وو نو په هغه کی دانسانانو دیو بل سره ددښمنی ذکر څکه وسو او دلته په مځکه باندی دراکښته کولو ذکرچی سوي دی ، دا دالهی خلافت دخاص مقصد دپوره کولو دپاره سوي دی اوپه عزت سره سوي دی ، او په دی وجه ددی سره دهدایت دلیږلو ذکر سوی دی ، چی هغه دالهی خلافت دمنصب دفرائضو څخه دی ، ددی څخه معلومه سوه چی مځکی ته دراکښته کیدوحکم په اول کی که څه هم دزورنی او دسزاپه طور وو لیکن وروسته چی کله خطامعاف سوه نودنورو مصلحتونو اوفائدو له مخی مځکی ته دلیږلو دحکم دغه مخکی حیثیت بدل سو او دمځکی دحاکم په حیثیت را ولیږل سو او دا هغه حکمت دی دکوم ذکر چی دآدم ﷺ دپیداکولو په وخت دملائکو سره سوی وو ، چی په مځکه کی دی خلیفه جوړول غواړی .

(دفکر اوغم څخه بیوازې هغه خلک خلاصون پیدا کوی چي دالله ﷻ فرمانبردار وی)

فَمَنْ تَبِعَ هُدَايَ فَلَاخَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَاهُمْ يَحْزَنُونَ : په دی آیت کی دآسمانی هدایت دتابعداری کوونکو دپاره د دوو انعامونو ذکر دی یو دا چی په دوی به څه بیره نه وی ، دوهم داچی دوی به غمجن نه وی .

(خَوْفٌ) دهغه تکلیف اومصیبت داندیښنی نوم دی کوم چی په اننده کی راتلونکی وی اوحزن هغه غم ته ویل کیږی چی دڅه مقصد اومراد دفوت کیدوڅخه پیداسی ، که چیري فکر وکړل سی نو معلومه به سی چی دراحت او ارام چی څه قسمونه دی هغه ټول یی په دووتکوکی جمع کړی دی او ددی دووتکو دراحت او ارام یو قسم هم دباندی پاته نه دی ، بیا ددی دوولفظونوپه تعبیرکی یوخاص فرق سوي دی ، هغه دا چی دخوف نفی خو په عام انداز سره سوي ده .

لیکن دحزن متعلق یی دانه دی ویلی چی ، وَلَاحُزْنٌ عَلَيْهِمْ بلکه وَلَاهُمْ يَحْزَنُونَ : یی وفرمایل په دی کی اشاره دی طرف ته ده چی دیو شی اومراد دفوت کیدلو دغم څخه خلاصون یوازی داولیا الله مقام دی ، کوم چی دالله ﷻ په ورکړل سوی هدایت پوره پوره عمل کوی اوهد دوی څخه ماسوا بل انسان ددی غمه

خلاصیدی نه سی ، برابره خبره ده که هغه داوو مخکو باشاهم وی ، ځکه چې په دوی کی داسی خلق دی چې خلپه اراده اورضایی دالله ﷻ په اراده اورضا کی فناکړی وی (یعنی چې څه الله ﷻ کوی په هغه راضی وی) نوپه دی وجه دوی ته دځه شي په فوت کیدوهیڅ غم نه وی ، قران مجیدپه بل ځای کی دا خبره هم ظاهره کړي ده ، چې خاص دجنتیانو به دا حالت وی ، چې جنت ته ورسیږی ، نو دالله ﷻ به شکر به ادا کړی چې د دوی څخه یې غم لیری کی ، الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي أَذْهَبَ عَنَّا الْحَزَنَ : ددی څخه دا معلومه سوه چې په دنیاکی څه ناڅه غم کول هریوانسان څخه یونه جلا کیدونکی شی دی ، بغیر دهغوکسانوچې دهغوی تعلق دالله ﷻ سره کلك اومضبوط وی .

په دی آیت کی دالله والوڅخه دبیری اوغم دلیری کولو مطلب دا دی چې ددنیاڅه تکلیف یادڅه خواهش او مراد په نه پیداکولو ، دوی ته به نه بیره وی اونه غم دآخرت فکر اوغم اودا لله هیبت اوجلال به په دوی ترټولو شیانو زیات وی ، په دی وجه درسول ﷺ په شان کی راغلی دی ، چې دوی به اکثره غمجن او فکر مند وو ، وجه دا ده چې د دوی دا فکر او غم دڅه دنیوی نعمت دفوت کیدو یادڅه مصیبت دبیری څخه نه وو ، بلکه دالله ﷻ هیبت اوجلال اود امت دحالاتو دوجی څخه وو دا هم ددی څخه لازمیږی چې کوم شی په دنیا کی خو فناك ګڼل کیږی ، دهغه څخه دانبیاؤ اولیاؤ انسانی توګه طبعی بیره دې نه وی ځکه چې کوم وخت دحضرت موسیٰ ﷺ په مخکي دلګړی څخه مار جوړ سو ، نو هغه وبیریدی لکه چې په قران شریف کی دی ، فَأَوْجَسَ فِي نَفْسِهِ خِيفَةً مُوسَىٰ : ځکه چې دا فطری او طبعی بیره په مخکی حالاتو وه ، چې کوم وخت ورته الله ﷻ وفرمایل لاتخف نو دا بیره بالکل ووته، اوداهم ویل کیږی چې دحضرت موسی ﷺ دابیره دعامو انسانانوپه شان په دی وجه نه وه چې دا مار به ده ته څه تکلیف ورسوی بلکه په دی وجه وه چې بني اسرائیل چیري ددی څخه په ګمراهی کی ګیر نه سی نو دا بیره یوقسم داآخرت بیره ، وه آخری ایت ، وَالَّذِينَ كَفَرُوا: څخه دانسوول سوی دی چې کوم خلګ دالله ﷻ درا استول سوی هدایت تابعداری نه کوی نوجهنم به دهغوی دپاره دهمیشه پاته کیدوځای وی او ددی څخه مراد هغه خلګ دی چې هغه دا هدایت هدایت نه ګڼی او ددی دتابعداری څخه انکار کوی یعني کافر اومومنان چې دا هدایت، هدایت ګڼی اومنی یې اوعملاچې هرڅومره ګنهګا ران وی دخپلوګناهونودسزا پورته کولوڅخه وروسته به دجهنم څخه ویستل سی ، والله اعلم .

يَٰبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ٱذْكُرُوا۟ نِعْمَتِىَ ٱلَّتِىٓ أَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَأَوْفُوا۟ بِعَهْدِىٓ

ای بنی اسرائلو ! یاد کړی زما هغه احسان چې ما په تاسی کړی دی او تاسی پوره کړی زما اقرار

أُوفِ بِعَهْدِكُمْ وَإِيَّٰىَ فَٱرْهَبُونِ ﴿٤٠﴾ وَءَامِنُوا۟ بِمَآ أَنزَلْتُ

نو زه به پوره کړم ستاسی اقرار او زما څخه وبیریږي ، او ایمان راوړی په هغه کتاب چې ما

مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَكُمْ وَلَا تَكُونُوا أَوَّلَ كَافِرٍ بِهِ وَلَا تَشْتَرُوا

نازل کړی دی رښتیا ښوونکی دی دهغه کتاب چی تاسی څخه دی او مه کیږئ سبب د اول منکر کیدو ددې او مه

بِآيَاتِي ثَمَنًا قَلِيلًا وَإِيَّايَ فَاتَّقُونِ ﴿۴۱﴾ وَلَا تَلْبِسُوا الْحَقَّ

اخلی زما په آیاتونو لږ پیسی او زما څخه خان ساتی، او مه ګډوی په صحیح کی

بِالْبَاطِلِ وَتَكْتُمُوا الْحَقَّ وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿۴۲﴾

غلط اومه پټوی رښتیا اوتاسی پوهیږې.

لنډتفسير: ای بنی اسرائیلو (یعني دحضرت یعقوب ﷺ اولاده) یادکړی تاسی خلک زما هغه احسانونه چی کړی دی ما په تاسی (ددی دپاره چی دنعمت حق وپیژنی او ایمان راوړل تاسی ته اسانه سی، وروسته ددی یادولو مراد ښیي) او پوره کړی زما وعده (یعني تاسی په تورات چی کومه وعده او عهد کړی وو چی دهغه بیان دقران په دی ایت کی دی، وَلَقَدْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ بَنِي إِسْرَائِيلَ وَبَعَثْنَا مِنْهُمُ اثْنَيْ عَشَرَ نَقِيبًا: پوره به کړمه زه ستاسی عهد (یعني ماچی کوم عهد تاسی سره کړی وو ستاسی دایمان راوړلو په صورت کی لکه چی دغه لوړ ذکر سوی ایت کې دی، لَأُكَفِّرَنَّ عَنْكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ: او یوازی زما څخه وبیریږئ (دخپلو عوامو عقید تمندو څخه مه بیریږئ چی دهغوی عقیدت به پرتاسی پاته نه سی او امدنی به بنده سي) او ایمان راوړئ په هغه کتاب چی ما نازل کړي دی (یعنی قران باندی) په داسی حال چی هغه رښتیا ښوونکی دی هغه هغه کتاب لره چی ستاسی څخه دی (یعنی دتورات دخدایی کتاب کیدو اقرار کوی او په دی کی چي کوم تحریفات سوي دی، هغه دتورات کیدو او انجیل کیدو څخه وتلی دی یعني هغه تورات او انجیل نه دی او دهغه تصدیق ددی څخه نه لازمیږی) او مه کیږي تاسی اول انکار کوونکی ددې قرآن (یعني چی تاسی نور خلک ووینی او انکار دقران په دی وجه وکی، چی تاسی کړی دی، نو تاسی به دکفر او انکار بانیان او سبب وګرځی او ترقیامته د دوی دکفر او انکار ګناه به ستاسی په عمل نامه کی درج کیږی) او مه اخلی بدله زما د حکمونو، حقیر او سپکه بدله او خاص زما څخه پوره پوره و بیریږئ (یعنی دعوام الناس څخه دذلیلی اولږ دنیا د حاصلولو دپاره زما حکمونه مه پریږدی، یا مه بدلوی یا مه پټوی لکه دا د دوی عادت وو، چی ددی تصریح وروسته راځی، وَلَا تَلْبِسُوا الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ: او مه ګډ وی حق د ناحق سره او مه پټوی حق، حال دا دی چی تاسی پوهیږي (چی حق پټول بد خبره ده)

علوم او مسئلې

(دا یاتونو دیوبل سره تړون)

دسورت بقره شروع دقران په ذکر وکړل سوه او دا وښوول سوه چی دقران هدایت که څه هم دټول مخلوق دپاره عام دی، لیکن ددی څخه فائده یوازی مومنان اخلی، ددی څخه وروسته دهغو خلګو د سخت عذاب

ذکر وسوچي هغوی په دی قران ایمان نه راوړی اوپه هغوی کی یوه طبقه په ډاګه دکافرانو او منکرانو وه ، دوهمه دمنافقانو، د دواړو ډلو او دهغوی دځه حالتونو او دغلطیانو ذکر وسو، ددی څخه وروسته مومنانو مشریکانو او منافقانو دري واړوته خطاب وسو اوټولو ته په کلکه وویل سو چی دیو خدای عبادت کوی اودقران مجید داعجازذکریی وکی ، ټولوته یی دایمان دعوت ورکی ، بیادادم ﷺ دپیداکولو ذکر وسوچی ددی څخه دوی ته دخپل اصلیت اوحقیقت اودا لله ﷻ دقدرت کامله پته ولکیږی اودالله ﷻ دنافرمانی څخه دخلاصیدوپه فکرکی سی .

بیا دکافرو په دغه دوو ډلو کی چی دهغه ذکر مخکی وسو، دوه قسمه خلګ وه ، یوبت پرست مشرکان چی محض دپلار اونیکه درسمونوپابندی به یی کوله ، دوی څخه نه زور علم وو اونه نوی عام طور سره دوی ته امی ویل کیدل لکه عام اهل مکه، دوهم هغه خلګ وه چی په مخکني پیغمبرانوباندی یي ایمان وو او دمخکی کتابو تورات انجیل اونور علم ورسره وو، دوی ته لوست خلګ ویل کیږی ، په دوی کی بعضو په حضرت موسی ﷺ ایمان درلودی نه په حضرت عیسی ﷺ دا یهود وه او بعضو په حضرت عیسی ﷺ ایمان درلودی اوحضرت موسی ﷺ یی په حیثیت دمعصوم پیغمبرنه منی، دوی ته نصاری ویل کیدل دی دواړوته په قرآن کی اهل کتاب په دی وجه ویل سوي دی چی دی دواړودالله ﷻ په آسمانی کتاب تورات یو انجیل ایمان درلودی داخلق دنوروخلګوپه نظرکی معززپه دی وجه وه چی دوی لوستونکی وه په خلګوباندی به د دوی خبرو اثر کوی د دوی په سمه لار راتلو سره دنورو خلګو دمسلمان کیدلو لوی امید وو، په مدینه او دمدینی په خوا اوشاکی ددی خلګو اکثریت وو، سورة بقره هرکله چی مدنی سورت دی ، نوپه دی وجه دمشرکانو اومنافقانو تربیان وروسته اهل کتابوته په خصوصیت اواهتمام سره خطاب سوي دی دځلویښتم ایت څخه واخله تریوسل درویشت ایاتونو پوری ددی خلګو سره مخاطبه ده چی په دی ایاتونوکی ددی خلګومانوس کولو دپاره اول د دوی دخاندان دشرافت او دوی ته په دنیاکی حاصل سوی عزت اوبیادالله ﷻ دمسلسلو نعمتونو ذکرسوی دی ، بیا د دوی دبی لاره کیدو ذکر سوی دی او ددرستی لاری دعوت ورته ورکړل سو دی ، ددې ایتونو په مخکی اوو ایاتونو کی اجمالی خطاب دی چی په درو کی دایمان دعوت دی او په څلوروکی دښه عملونودعوت دی ددی څخه وروسته په لوی تفصیل سره دوی ته خطاب کړل سوي دی، دتفصیلی خطاب په سرکی او بیابالکل په اخرکی داهتمام دپاره دیابني اسرائیل : دالفاظواعاده کړل سوي ده کوم چی په شروع کی ویل سوی وه دا څکه چی داسی کول دیوه مؤثر اوبلیغ کلام طریقه ده .

یٰبَنِي اِسۡرَآءِیۡلَ ، اسرائیل دعبرانی ژبی لفظ دی ددی معنی ده، عبدالله دخدای بنده دا دحضرت یعقوب ﷺ دوهم نوم دی بعضی علماء وایی چی درسول ﷺ څخه ماسوا دبل پیغمبر دیر نومونه نسته ، یوازی دحضرت یعقوب ﷺ دوه نومونه دی یعقوب اواسرائیل دلته په قران کی دوی ته خطاب وسو، په دی کی حکمت دا دی چی په خله دلقب او نوم څخه دوی ته دا پته ولکیږی چی دوی دالله ﷻ دسوچه بنده اولاد دی ، نو دوی ته هم دغه په کار دی چی هغه په نقش اوقدم ولاړسی ، په دی ایت کی بنی اسرائیلو ته ارشاد وسو چی پوره کړی تاسی زماعهد یعنی تاسی چی کوم عهد ماسره په تورات کی کړی وو اودهغه

بیان اوتفصیل او وضاحت دقتاده اومجاهد رحمهما الله په نزدپه دی آیت کی دی ، وَلَقَدْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ بَنِي إِسْرَائِيلَ الى قرضًا حسنًا (پاره ۶ سورة مائده رکوع ۳) په دی کی دټولوڅخه مهمه معاهده په ټولو پیغبرانو ایمان راوړل دی ، چی په هغه کی زمونږ پیغمبر په خصوصیت سره دا خل دی ، لمونځ زکوٰة او صدقات هم په دی وعده کی شامل دی او ددی وعده خلاصه ده په رسول ایمان راوړل او دده مکمله تابعداری کول نو په دی وجه حضرت ابن عباس ﷺ فرمایلی دی چی ددی عهد مراد محمد ﷺ تابعداری ده (ابن جریر)

پوره به کړم زه ستاسی عهد ، یعني په دغه ذکر سوی ایت کی الله ﷻ دا وعده کړی وه، چی کوم خلک دا وعده پوره کی نو زهغوی گناهونه به معاف سی او په جنت کی به دا خل کړل سی نو دوعدی مطابق به دا خلگ جنت په نعمتونو مالامال اوپوره کړل سی .

لنډه داچی ای بنی اسرائیلو! تاسی زماوعده یعنی دمحمد ﷺ تابعداری وکی، نو زه خپل عهدستاسی دبخښنی اودجنت به پوره کړم ، اویوازی زماڅخه وبیریږی اودعوام الناس څخه مه بیریږی چی دحق په تابعداری سره د دوی عقیده به زمونږ څخه پورته سی او امدنی به موبنده سی .

((۱) دامت محمدی ﷺ یوخاص فضیلت)

په تفسیر قرطبی کی دی چی الله ﷻ بنی اسرائیلوته خپل نعمتونه اواحسانونه یادکړه او دخپل اطاعت یي ورته دعوت ورکی اوامت محمدیه ته چی کوم وخت ددی کار دپاره دعوت ورکوی نو داحساناتو اوانعاماتو دذکر څخه بغیر یي ورکوی ارشاد کیږی ، فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ ، یعنی تاسی ما یاد کی زه به تاسی یادکړم ، په دی کی دامت محمدی خاص فضیلت ته ارشاره ده هغه دا چی د دوی تعلق دمنعم او محسن سره بغیر دځه واسطی دی دوی داحسان پیژندگلوی دمحسن په پیژندگلوی کوی ، په خلاف دنوروامتونو چی هغوی دمحسن پیژندگلوی داحساناتو په پیژندگلوی کوی .

((۲) دعهد پوره کول واجب اوعهد ماتول حرام دی)

ددی آیت څخه معلومه سوه چی دعهد اومعاهدی پوره کول ضروری دی او وعده ماتول حرام ده دسورة مائده په آیت کی تر دی څخه زیات وضاحت سره دامضمون راغلی دی ، أَوْفُوا بِالْعُقُودِ .

رسول ﷺ فرمایلی دی چی وعده ماتوونکوته په آخرت کی چی کومه سزا ورکول کیږی دهغه څخه مخکی به داسزا ورکول کیږی چی دمحشرپه میدان په کوم ځای کی چی ټول مخکنی او وروستنی خلگ به موجود وی په وعدی ماتوونکی باندی به دعلامی په ډول یوه جنډه ولگول سی اوچاچی څومره لویه وعده ماته کړی وی دومره لویه جنډه به دهغه وی په دی طریقه دغه وعده ماتوونکی دحشر په میدان کی به رسوا اوشرمنده کړل سی (صحیح مسلم)

((۳) څوک چي دځه گناه یادثواب سبب جوړ سي دهغه په عملنامه کي دکوونکو گناه یاثواب لیکل کیږي)

أَوَّلَ كَافِرٍ بِهِ : کافرکیدل برابره خبره ده که هغه اول وی اوکه وروسته په هرحالت کی دیرلوی ظلم اوجرم دی ، لیکن په دی آیت کی دا وفرمایل سوه چی اولنی کافرکیږی مه ، په دی کی اشاره دی خبری ته ده چی څوک اول کفر وکی وروسته چی څوك ده ته گوری اوکفرکوی ددی گناه چی په دی سړی باندی لویږي

په هغه مخکې کافر هم ددې گناه په پرېوزې دغه شان دامخکني کافر ترخپل کفرځخه زيات د وروسته راتلونکو خلگو دکفر سبب گرځي او دټولو دکفر دگناه ذمه وار کيږي اووده عذاب به څوڅوچنده کيږي.

فائده : ددې څخه معلومه سوه چې څوك په دنياكې دنورو دپاره په څه گناه کې دمبتلاكيدوسبب گرځي، ددې ترټولو گناه دغه خلگوته به هم وي او دغه کس ته به هم ، دغه شان چې څوك دنورو دپاره دڅه نيکي کولوسبب وګرځي نو څومره خلگ چې دده دوجې ښه عمل وکې ، دهغه ثواب لکه چې څه رنگه دغو خلگو ته به ورکيداى سى ، دغه کس ته به هم ورکيداى سى، دهغه په عملنامه کې به ليکل کيږي ، دقرآن مجيد په ډيروآيا تونوكي اوپه ډيرواحاديثوكې دا مضمون راغلى دى .

((۴) وَلَا تَشْتَرُوا بِآيَاتِي ثَمَنًا قَلِيلًا)

په دې آيت کي دا دى چي الله ﷻ دآياتونو په بدله کې دقيمت داخيستلو دممانعت مطلب هغه دى چي هغو دآيت دسياق څخه معلوميږي هغه داچې دخلگو درضا او دهغوى دغرضونو دپاره دالله ﷻ دآياتونو غلط مطلب ښوول ياپټول دامت په اجماع سره حرام کار دى .

((۵) دقرآن په ښولو باندي اجرت مزدري اخيستل جائز ده)

پاته سوداکارچې چاته دالله ﷻ آياتونه صحيح صحيح ښوول يا ويل اوپه هغه باندى اجرت اخيستل څنگه دى ؟ددې خبرى دذكرسوي آيت سره هيڅ تعلق نسته ، پخپله دا مسئله په خپل ځاى کې دغور او فکر کولو وړده چې دقرآن په تعليم باندى اجرت اوعوض اخيستل روا دى اوكه نه ؟ دامت دفقهاؤ په دې کې اختلاف دى ، امام مالك ، شافعي او احمدبن حنبل رحمهم الله روا گني او امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله او بعضي نور اماماں يې روانه گنى ، ځکه چې رسول ﷺ منع کړي ده چې قرآن دمعاش ذريعه جوړه سى .

ليکن متاخرينو احنافو هم ، کله چې دهغوحالاتومشاهده وکړه چې دقرآن کريم معلمينوته داسلامى بيت المال څخه دگذاری وظيفه ورکول کيده ، اوس په هرځاى کې په اسلامى نظام په مکمل طور دعمل نه کولو په وجه دغومعلمينوته په عام طورڅه نه ورکول کيږي ، که چيري دوى دخپل معاش دپاره په څه مزدورى وغيره کي ولگيږي نوکوچنيانوته دقرآن دتعليم سلسله به بالکل بنده سى ، په دې وجه دقرآن په تعليم باندي تنخواه اواجرت اخيستل دضرورت په وجه جائز سوه ، لکه چې دهدايه صاحب ويلى دى چى نن صباپه دې خبره فتوىٰ ورکول په کار دى چې دقران په تعليم باندى اجرت اخيستل روا دى ، دهدايې والا څخه وروسته راتلونکو نورو فقهاؤ بعضى نور داسې كارونه چې هغه دقرآن دتعليم په شان ددين دبقاء دپاره ضرورى دى لکه امامت اذان دحديث اوفقهي تعليم اونورسول ، په دې هم اجرت اخيستل جائز کړي دى (درمختار ى).

((۶) دثواب بخښلو اورسولو دپاره په ختم قرآن اجرت اخيستل په اتفاق سره روانه دى)

علامه شامي د درمختار په شرح کې اوپه خپلې رسالې شفاء العليل کې په ډيرتفصيل اوقوى دليلونو سره دا خبره واضحه کړي ده چې دقرآن په تعليم وغيره اجرت اخيستل کوم چې وروسته فقهاؤ روا کړي دى ، دهغه علت او وجه يو داسې ديني ضرورت دى ، چې كه چيري په هغه کې څه خلل راسى نو دټول دين په نظام کې به خلل راسى ، نو په دې وجه دا دضرورت په داسې مواقعو پورې محدود لرل ضرورى

دی ، نو مروته دثواب په غرض په اجرت دقرآن ختم کول یاځه بله وظیفه ویل حرام دی ځکه چی داځه عام دینی ضرورت نه دی ، اوکله چی په اجرت تلاوت حرام سو ، نوبیاویل اوپه دی اجرت ورکوونکی دواړه گناهکارسول ، اوکله چی ویونکو ته ځه ثواب حاصل نه سو نو مړي ته به ځه ثواب حاصل سی ، علامه شامی په دی خبره دفقهاؤ ډیر تصریحات نقل کړي دی لکه تاج الشریعة عینی شرح هدایه دبحرالرائق حاشیه دخیرالدین سوه اودخیرالدین رملی دا قول یی هم نقل کړي دي چی دثواب رسولو دپاره په قبر باندی قرآن په نورو ویل ، یاپه اجرت ورکولو سره دقرآن ختم کول نه دصحابه ؤ اونه دتابعینواونه داسلاف امت ځخه نقل دی ، بلکه دا بدعت دی (شامی)

(دحق خبره پټول یاپه هغه کي خلط ملط کول حرام دی)

دآیت وَلَا تَلْبِسُوا الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ الخ : ځخه ثابته سوه چی خبره دغلطوخبروسره کډول اوبیا داسی وړاندی کول ، چی دهغه مخاطب په مغالطه کی ولویږي ، روانه دی ، دغه شان دځه بیری یادځه طمعی په وجه حق خبره پټول حرام دی ، دا مسئله واضحه ده ، په دی کی دځه تفصیل کولو ضرورت نسته ، امام قرطبی په خپل تفسیرکی دحق پټولوځخه دپرهیزکولو یوه واقعه اوتفصیلی مکالمه دحضرت ابوحازم تابعی اوخلیفه سلیمان بن عبد الملك نقل کړي ده چی دا ډیرو فائدو په وجه د ذکرکولو وړ ده واقعه داده چی په مسند دارمی کی په سندسره ذکردی ، چی یو وارسلیمان بن عبدالملك مدینی منوری ته ورسیدی او څو ورځی یی هلته تیری کړی نو دخلگو ځخه یی پوښتنه وکړه چی په مدینه کی به اوس داسی یو سړی وی چی دهغه ملاقات دیوه صحابی سره سوی وی خلگو ورته وویل ، چی هو ابوحازم نومی یو سړی داسی سته ، سلیمان خپل سړی په ابوحازم پسی ورواستوله کله چی ابوحازم راغی ، نوسلیمان وویل چی ای ابوحازمه ایا دانه سړیتوب اوبی وفایی نه ده ؟ ابوحازم وویل ، چی تازما ځخه څه نه سړیتوب اوبی وفایی ولیده ؟ سلیمان وویل چی دمدینی ټول مشهور خلگ زماسره دملاقات کولو دپاره راغلی دی اوته را نه غلی ، نو ابوحازم وویل امیرالمومنین زه تادخدای ﷻ په امان اوپناه کی ورکوم چی ته داسی خبره ونه کړی چی هغه دواقع ځخه خلاف وی ، دنن ځخه مخکی نه ته زما ځخه خبر وی اونه ماته لیدلی وی ، په داسی حالاتو کی پخپله دملاقات کولو دپاره دراتللو سوال هم نه پیدا کیږی ، بیووفایی ځنگه سوه ؟ سلیمان چی جواب واوري دی ، نوابن شهاب زهری اونوروحاضرینوته یی مخ ورواړوی امام زهری وویل چی ابوحازم صحیح وایی تاسی غلطی کړي ده ، تردی وروسته سلیمان دخبرو مخ بدل کی ، څه پوښتنی یی شروع کړی اووی ویل ای ابوحازم ، دا څه خبره ده چی مونږ دمرگ ځخه بیریږو؟ ابوحازم وویل ، وجه دا ده چي تاخپل اخرت وران کړي دی او دنیادی آباده کړي ده ، نو په دی وجه دابادی ځخه ورانی ته تلل نه خوښوی سلیمان ومنله اوپوښتنه یي وکړه چی صباد الله ﷻ په مخکی حاضری به څه رنگ وی ؟ نو ابوحازم جواب ورکی چی ښه عمل کوونکی به دالله ﷻ مخ ته داسی ځی لکه چی یومسافر دسفر ځخه بیرته راسی او دخپل کور خلگوځخه ځی ، او بدعمل کوونکی به داسی راوړاندی کیږی ، لکه چی تختیدلی غلام ونیول سی اوبیادمالك مخ ته را وستل کیږی ، سلیمان چی دا واوري ده نوپه ژړاسو اووی ویل افسوس : که مونږ ته معلومه وای چی الله ﷻ زمونږ دپاره څه صورت مقررکړي دی ابوحازم

وویل خپل عملونه قران ته وراندی کړه نودرك به درته ولګیږی، سلیمان پوښتنه وکړه چې دقرآن دکوم آیت څخه به دامعلومه سی ابوحازم وویل چې ددی آیت إِنَّ الْأَبْرَارَ لَفِي نَعِيمٍ ° وَإِنَّ الْفُجَّارَ لَفِي جَحِيمٍ : څخه یعني بیشکه ښه عمل کوونکی به دجنت په خوندو کی وی اونافرمانه ګناهګار به په دوزخ کی وی ، سلیمان وویل چې دالله ﷻ رحمت خو لوی دی ، حتی چې بد کاروته هم دخدای ﷻ رحمت رسیږی ، نو ابوحازم وویل ، إِنَّ رَحْمَةَ اللَّهِ قَرِيبٌ مِّنَ الْمُحْسِنِينَ : ترجمه دالله ﷻ رحمت ښه عمل کوونکوته نژدی دی ، سلیمان پوښتنه وکړه ای ابوحازم دالله ﷻ په بندګانوکی ترټولوزیات عزت والا څوك دی ؟ ابوحازم ا وویل ، هغه خلګه دی چې عقل سلیم اومروت لری، بیایی دا پوښتنه وکړه چې کوم عمل ډیر غوره دی ؟ نو ابو حازم وفرمایل چې دفرضو او واجبو ادا کول او دحرامو څخه ځان ساتل ، بیایی پوښتنه وکړه چې کومه دعا زیاته قبلیږی؟ نووی فرمایل چې په کوم سړی احسان سوی وی ، نو دهغه دعاداحسان کوونکی دپاره قبلیدوته زیاته نژ دي ده ، بیایي پوښتنه وکړه چې صدقه کومه ډیره غوره ده ابوحازم وویل چې دخپل افلاس اوخواری سره سره یوداسی سائل ته ورکول چې په هغه مصیبت راغلی وی اوداسی خرڅ کول چې نه په هغه سره دمخکواحسان اښاتول وی اونه په هر کړی هغه ته تکلیف ورکول وی ، بیایی پوښتنه وکړه چې کوم کلام ډیرښه دی ؟ نو ابن حازم وفرمایل چې دکوم سړی څخه ستابیره وی ، یاهغه ته ستاڅه حاجت وی اوستاامید دهغه سره تړلی وی دداسی سړی په وړاندي بغیر دڅه رعایت څخه دحق خبره کول بهتره خبره ده ، بیایی پوښتنه وکړه چې کوم یو مسلمان دټولو زیات هوښیار دی ؟ ابوحازم وویل هغه سړی چې هغه دالله ﷻ دفرمان برداری دپاره کار کړی وی او نوروته یی دداسی کولو دعوت ورکړی وی ، بیایي پوښتنه وکړه چې په مسلمانانوکی کوم یو سړی ډیر زیات کم عقل دی؟ ابوحازم وفرمایل هغه سړی چې دخپل ورور دظلم کومك کوی ، ددی مطلب دا سو چې هغه دنورو خلګو ددنیادصحیح کولو او سمولو دپاره خپل ، دین خرڅ کړی وی ، سلیمان وویل چې صحیح دی وویل ، وروسته سلیمان په نورو واضحوالفاظوکی پوښتنه وکړه چې زمونږ په باره کی ستاسی څه رایه ده ؟ ابوحازم وفرمایل، چې ددی څخه ماسوا که مامعاف کي نو ډیر ښه به وی ، سلیمان وویل چې نه ، تاسی ضرورڅه دنصیحت کلمی وواياست ابوحازم وفرمایل چې ای امیرالمومنین ستاپلرونو اونیکونو دتوری په زور وخلګو تسلط حاصل کړی وو، اوپه زور یي دخلګو درضا څخه بغیر، په هغوی حکومت قائم کړی وو ، او ډیرخلګ یی قتل کړی وه ، او ددی ټولو کولو څخه وروسته هغه ټول ددی دنیاڅخه رخصت سوه ، کاشکی تاته معلومه وای ، چې مرګ وروسته به هغوی څه ووایی اوهغوی ته به څه وویل سی .
په نوکرانوکی یوه سړی (چې دباچادمزاج خلاف دابوحازم داپه ډاګه ویناواوري ده) وویل چې ای ابوحازم تا دا ډیره بده خبره کړي ده ، ابوحازم وویل ، چې ته غلط وایی بده خبره نه ده ویل سوی ، بلکه هغه خبره ویل سوي ده حي دکومی دویلو مونږ ته حکم دی ، څکه چې الله ﷻ دعلماؤ څخه وعده اوپیمان اخیستی دی چې حقه خبره به خلګو ته ښیی پټوی به یی نه . لَتُبَيِّنُنَّهُ لِلنَّاسِ وَلَا تَكْتُمُونَهُ .
دا هغه خبره ده چې دهغه دپاره دا اوږده قصه امام قرطبی دمذکوره آیت په تفسیرکی درج کړي ده ، سلیمان بیاپوښتنه وکړه چې ښه اوس زمونږ دصحیح کیدوڅه طریقه ده؟ ابوحازم وفرمایل تکبر پرېږ ده،

مروت په خان کی پیدا کړه اوحقداروته دهغوی حقونه په انصاف ورکړه ، سلیمان وویل چی ابوحازم آیاکیدای سی چی ته زمونږ سره پاته سی ابوحازم وویل چی په خدای ﷻ سره پناه غواړم، سلیمان پوښتنه وکړه چی ولې؟ ابوحازم وویل چی ددې وجې چی ماته خطره ده چی زه ستادمال دولت اوعزت طرف ته مائل نه سم چی دهغه په نتیجه کی ماته بیاعذاب تیرول وی ، بیاسلیمان وویل چی ښه که ستاڅه ضرورت وی ، نو وښایه چی مونږ یی پوره کړو ابوحازم وفرمایل ، او یو حاجت سته چی دجهنم څخه خلاصی راکه اوپه جنت کی می دا خل که سلیمان وویل چی دا زماپه اختیارکی نه دی ، نوابوحازم وویل چی بیازه ستاڅخه دبل څه حاجت پوره کول نه غواړم ، په اخرکی سلیمان وویل چی ښه زما دپاره دعاوکړه، نو ابوحازم دا دعا وکړه ای الله ﷻ که سلیمان تاته خوښ وی نوته دهغه دپاره ددنیا اواخرت دواړو دبهترکولو عملونه آسان کی ، اوکه چیري دی ستادښمن وی نودی تروربښتانو ونیسه دخپل رضا دکارونو په طرف یی را وګرځوه سلیمان وویل چی ماته څه وصیت وکړه ، نو ابوحازم وویل چی خلاصه دا ده چی دخپل پروردګارعظمت اوجلال په هغه درجه کی ساته چی هغه دی په هغه مقام کی ونه وینی دکوم څخه یی چی منع کړي ده او دهغه مقام څخه غیرحاضر نه سی کوم ته چی هغه دراتلوحکم کړي دی، سلیمان ددی مجلس دفارغ کیدوڅخه وروسته سل اشرفی ددالی په توګه ابوحازم ته ولیږلی ، ابوحازم دا دیو خط سره بیرته ورکړی او په خط کی یی دا لیکلی وو چی که چیري دا سل اشرفی زمادخبرو بدله وی ، نو دا زماپه نزد تر وینو، او خنزیر زیات بیکاره شي دی اوکه دا په دی وجه لیږل سوی وی چی په بیت المال کي زماحق سته ، نو زماپه شان په زرګونو عالمان او ددین خدمت ګاران سته ، که چیری تولوته تا دومره ورکړی وی ، نو زه هم اخیستی سم اوکه چیرنه ، نو بیا ماته ددی ضرورت نسته ، د ابوحازم ددي ارشاد څخه چي دخپل نصیحت دخبروعوض او اجرت اخیستل دوینی اوخنزیرپه شان دی په دی مسئله باندی هم رڼا لویږي ، چی دڅه طاعت اوعبادت معاوضه اخیستل دهغه په نزد روانه ده .

وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَارْكَعُوْا مَعَ الرّٰكِعِيْنَ ﴿٤٣﴾ اَتَاْمُرُوْنَ النَّاسَ

اوقائموی لمونځ او ورکوی زکوٰة اوکښته کیږي په لمانځه کی دکښته کیدونکو سره آیاحکم کوی

بِالْبِرِّ وَتَنْسَوْنَ اَنْفُسَكُمْ وَاَنْتُمْ تَتْلُوْنَ الْكِتٰبَ ۭ اَفَلَا

تاسی خلقو ته دښه کار او هیروی خپل ځان اوتاسی خو ویونکی یاست دکتاب بیا ولی

تَعْقِلُوْنَ ﴿٤٤﴾ وَاسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ ۭ وَاِنَّهَا لَكَبِيْرَةٌ

نه کوی فکر ، او کومك غواړی دصبر او دلمانځه په ذریعه او البته دا لمونځ ګران دی

اِلَّا عَلَى الْخٰشِعِيْنَ ﴿٤٥﴾ الَّذِيْنَ يَظُنُّوْنَ اَنَّهُمْ مُّلٰقُوْا

مګر په هغه عاجزی کوونکو نه ، چی دهغه خیال دی چی دوی به مخامخ کیدونکی وی خپل

رَبِّهِمْ وَاَنَّهُمْ اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ ﴿۴۶﴾

رب سره او دا چي دوي دهغه په طرف بيرته رجوع كوونكي دي.

لنډتفسير: اوقائموي تاسي خلق لمونځونه (يعني مسلمان كيدو سره) او وركوي زكوة اوعاجزي كوي دعاجزي كوونكو سره (دبني اسرائيلو دعالمانو بعضي خپلوان مسلمانان سوي وه كله به چي يي دوي سره خبري كولي، نوپه پټه به دي علماؤ دغه مسلمانانوته ويل چي بيشكه محمد ﷺ په حقه پيغمبر دي مونږ خلق دخه مصلحت په وجه مسلمانان سوي نه يو لكن تاسي دا اسلام مه پرېږدي نوپه دي وجه الله ﷻ فرمايي څه تعجب دي چي واياست نوروخلكوته دښه كاركولو (يعني په رسول الله ﷺ ايمان راوړلو او د رسول ﷺ دتابعداري كولو) اوخپل خبر نه اخلي حال دا دي چي تاسي واياست كتاب (يعني تورات چي په كي ځاي پرځاي دداسي عالم بي عمله بدي ذكردي) نوبياتاسي دومره نه پوهيږي اومد داخلي (يعني كه چيري تاسي ته دمال دمحبت اومرتبي دمحبت په وجه ايمان راوړل گران معلوميږي نومداخلي) په صبر اولمونځ (يعني ايمان راوړي، صبر كوي او لمونځ په ځان لازم كي، نو دا دمال دمحبت او دمرتبي محبت به مو دزړه څخه ووزي، كه چيري څوك ووايي چي په خپله لمونځ اوصبركول په ځان باندي لازمول ديرگران دي، نو واوره چي) هو بيشكه دغه لمونځ گران دي مگردچاړونوكي چي دالله ﷻ څخه بيره وي په هغوي باندي هيڅ گران نه دي دالله ﷻ څخه په زړه كي بيره لرونكي هغه خلگ دي چي دهغوي دا خيال وي چي د دوي بيشكه دخپل رب په طرف بيرته تلل دي (نوهغه وخت دهغه حساب كتاب به هم وركول وي، ددي دواړوخيالونو څخه به رغبت هم پيدا سي اوبيره هم او دا دوه شيان دهر عمل روح دي.

علوم اومسئلي

(دآياتونو ديوبل سره تړون)

بني اسرائلو ته الله ﷻ خپل نعمتونه او احسانونه وريادكړه اودايمان اوعمل صالح په طرف يي ورته دعوت وركي، په مخكني درو اياتونو كي دايمان اوعقائدومتعلق هدايات وو اوپه دي څلورو آياتونو كي داعمال صالحه ووتلقين دي اوپه دي كي چي كوم عملونه ترټولو زيات مهم دي، دهغوي ذكر دي، او داياتونو حاصل مطلب دا دي كه چيري تاسي ته دمال دمحبت اودمرتبي دمحبت په وجه ايمان راوړل گران معلوميږي، نو ددي علاج دا دي چي په صبر اولمانځه سره په دي لړكي مدد واخلي، په صبر سره به دمال محبت ختم سي، ځكه چي مال په دي وجه محبوب اومطلوب وي، چي دا مال ذريعه دلذتونو او شهوتو نو دپوره كولو دپاره ده او كله چي ددي لذتونو اوشهوتونو دمطلق العناني دشرېښولو دپاره څوك ملاوتړي، بيادېرمال دپيدا كولوضرورت پاته نه سي اونه ددي مال محبت داسي غالب كيږي چي څوك دخپل سوداوزيان څخه روندكي اولمونځ كولو سره دمرتبي اوجاه محبت كميږي، ځكه چي لمونځ په ظاهري اوباطني توگه سره دخپلي پستي اوعاجزي اظهار دي كله چي دصحيح لمونځ عادت په چاكي راسي، نودمرتبي محبت، تكبراوغروركم سي دفساد اصلي ريښه چي ددي په وجه ايمان راوړل مشكل دي، هغه دمال او دمرتبي محبت دي، كله چي دفساد دا ماده ختمه سي، نو ايمان راوړل به آسان سي.

اوس پوه سی چي په صبر کی دغیر ضروري خواهشونو اوشهوتونو پرینښوول دی او په لمانځه کی ډیر کارونه کول دی ، او ډیر جائز خواهشونه هم وختی طور سره پرینښوول دی ، مثلا خوراك چیښاك خبری کول ، گرځیدل راگرځیدل او نور انساني ضروریات چي کوم شریعت کی روا او مباح دی ، هغوی هم په لمانځه کی پرینښوول دی ، او دا لمونځ بیا پنځه وخته په پابندی سره کول دی.

دغیر ضروري خواهشاتو پرینښوولو که چیری انسان خپله ملا وتړی نو په ځو ورځو طبعي تقاضا به هم ختمه سی هیڅ مشکل به پاته نه سی ، لیکن دلمانځه دوختونو پابندی او دلمانځه دټولو شرطونو پابندی او په دی وختونو کی (یعنی دلمانځه) دضروري خواهشاتو څخه پرهیزکول ، دانسان په طبعیت ډیر زیات پتی دی په دی وجه دلته شبه کیدی سی چي دایمان آسانولو دپاره چي کومه نسخه مقررکړل سوی ده ، یعنی صبر اولمونځ ، دغه نسخه او ددی استعمال په خپله یو سخت شی دی ، خصوصاً دوخت پابندی ، نو ددې مشکل علاج به څه وی ؟ ارشاد وسو .

بیشکه دالمونځ گران ضرور دی ، لیکن دچا زړه کی چي خشوع وی په هغه څه گران نه دی په دی کی دلمونځ دآسانولو طریقه وښوول سوه .

حاصل داچي دلمونځ دسختي اوسبب په وجه که فکر وکړل سی نو معلومه به سی چي دانسان زړه دهر قسمه خیالونو دپاره میدان دی ، او دانسان زړه آموخته دی چي هرقسمه خیالونوکی بغیر دڅه منع ممانعت گرځی ، او دانسان نور ټول اندامونه دزړه تابع دی ، نو په دی وجه دزړه تقاضادا وی چي دده ټول تابع اندامونه د آزاد وی اولمونځ خو ټول ددې آزادی خلاف دی چي مه خانده ، مه وایه ، مه خوره ، مه چښه مه څه ، وغیره وغیره ، نو په دی وجه زړه ددې پابندیو څخه تنگیږي او دده تابع اندامونه هم ددې څخه تکلیف محسوسوی .

خلاصه دا سوه ، چي ددې سختی او دشواری سبب د زړه حرکت فکریه دی نو ددې علاج په سکون سره کول په کار دی ، نو په دی وجه خشوع یی دلمانځه دآسانو لو دپاره ذریعه وښوولہ ځکه چي دخشوع معنی ده سکون قلب ، اوس سوال دا پیدا کیږي چي سکون قلب یعنی خشوع څنگه حاصلیږي ، نو دا خبره په تجربی ثابته ده که چیري څوك دخپل زړه څخه مختلف فکرونه اوخیالونه بغیر دڅه واسطی او ذریعی وښکل غواړی ، نو دی کی ددې کس کامیابی ډیره گرانه ده ، بلکه دی دپاره دا تدبیر دی چي دانسان نفس ، هرکله چي دوو طرفونو ته په یووخت کی متوجه کیدی نه سی ، نو په دی وجه که چیری دا (زړه) په یو خیال او فکر کی ډوب کړل سی ، نو نور خیالات اوسوچونه به یی دزړه څخه پخپله ووزی ، نو په دی وجه دخشوع دتلقین څخه وروسته هغه خیالونه او فکر ښیی ، چي په هغه کی ډوبیدولو سره نور خیالونه دزړه څخه ووزی او ددغه خیالونو په ورکیدلو سره د زړه حرکت ختم سی او سکون ورته حاصل سی او دسکون په وجه په لمانځه کی ورته آساني حاصله سی او په لمانځه باندی همیشوالی او پابندی حاصله سی او ددغه پابندی سره کبر او غرور او دمرتبی محبت کم سی ، نو داسی دایمان په لاره کی چي کوم خنډ دی هغه لیری سی او ایمان کامل سی اوس ددی خیال تعین او تلقین یی دارنگه کړی دی .

دا خاشعین هغه خلق دي چې خیال لري ددې چې دوی بیشکه مخامخ کیدونکي دي خپل پروردګار سره ، نو په دغه وخت به ده ته ددغه خدمت بنه انعام ورکړل سي اوچې ددې خبرې خیال لري ، چې دوی دخپل پروردګار په طرف تلونکي دي او په دغه وخت کې هغه ته به حساب کتاب ورکوي ، ددې دواړو خیالونو څخه رغبت اورهبت یعني امید او بیره پیداکیږي او امید او بیره داسې شیان دي چې سړی په ښه کار باندې تیار وي .

اَقِیۡمُوا الصَّلٰوةَ : دصلوة لفظي معنی دعا ده ، او دشریعت په اصطلاح او ژبه کې دا یو خاص قسم عبادت دی ، په قرآن کې عموما څومره چې دلمانځه په باره کې تاکید سوی دی ، نو ،اقامة ، لفظ ورسره راغلی دی او داسې آیاتونه چې په هغه کي صرف دلمونځ کولو حکم وي ، هغه یو دوه آیاتونه دي ، په دې وجه دقامة صلوة حقیقت باندې ځان پوهول لازمي سو ، داقامة ، لفظي معنی ده نیغول او مضبوطول ، اوعادت دا دی چې کومه ستنه ، دیوال یا درخته چې سیده ولاړه وي ، دهغه دپرېوتو خطره کمه وي ، چې دا یو قسم ددې مضبوطوالی دی په دې وجه ، اقامة ، په معنی دهمیشه کولو او درولو هم راځي .

دقرآن اوسنت په اصطلاح کې ، داقامة صلوة معنی دا ده چې لمونځ په خپله وخت کې پابندې سره اوټولو آدابو اوشرائطوسره چې هغه د درست لمونځ دپاره مقرر دي وکړل سي ، صرف لمونځ کولو ته اقامة صلوة نه سي ویلای ، دلمانځه په باره کې چې څومره فضیلتونه اوبرکتونه قرآن اوحدیث کې راغلي دي داټول داقامة صلوة سره تړلي دي یعني داصرف لمونځ کولو سره نه حاصلیږي ، چې تر څو پورې لمونځ سره اقامت تړل سوي نه وي لکه دمثال په توګه قرآن کریم وایي .

اِنَّ الصَّلٰوةَ تَنۡهٰی عَنِ الۡفَحۡشَآءِ وَالۡمُنۡکَرِ.

ترجمه : بیشکه لمونځ انسان دهرې بې حیایي او بد کارې څخه منع کوي .

دلمونځ دا اثر هغه وخت ظاهریږي چې کوم وخت لمونځ سره اقامت پوځای کړل سي دغه وجه ده چې ډیر لمونځ ګذار لمونځونه کوي ، او بیا هم دبې حیایي په کارونو کې اخته وي ، ځکه چې ددغه لمونځ ګذارو په لمونځونو کې اقامت نسته .

اٰتُوا الزکوٰة : دزکوٰة دلفظ په لغت کې دوې معنی دي ، یو پاکیدل ، دویم زیاتیدل او دشریعت په اصطلاح کې زکوٰة دمال هغه برخې ته ویل کیږي ، چې دشریعت دحکمونو موافق دمال څخه ایستل کیږي او بیا دشریعت دحکم په جوړ ولګول سي .

دلته دا خطاب موجوده بني اسرائیلو ته دی ، نو په دې وجه ددې آیته دا نه ثابتیږي چې لمونځ او زکوٰة په بني اسرائیلو فرض وو . او دا عبادت داسلام څخه مخکې دبني اسرائیلو په دین کې هم وو ، لیکن په سورة مائده کې دآیت

وَلَقَدۡ اَخَذَ اللّٰهُ مِیۡثَاقَ بَنِیۡۤ اِسۡرَآءِیۡلَ وَبَعَثۡنَا مِنۡهُمُ اثۡنَیۡ عَشَرَ نَقِیۡبًا وَقَالَ اللّٰهُ اِنِّیۡ مَعَکُمۡ لَئِنۡ اَقَمۡتُمُ الصَّلٰوةَ وَاٰتَیۡتُمُ الزَّکٰوةَ .

نه ثابتیږي چې لمونځ اوزکوٰة په بني اسرائیلو فرض وو که څه هم ددې په طریقه اوشکل وغیره کې فرق وو

وَارۡکَعُوۡا مَعَ الرّٰکِعِیۡنَ . رکوع په لغت کې کښېته کیدو ته وایي ، او ددغه معنی په وجه سجدې دپاره

درکوع لفظ هم ویل کیږي ، څکه چي سجده دکښته کیدو هغه آخري درجه ده ، لیکن دشریعت په اصطلاح کي لمانځه کي هغه خاص کښته کیدو ته وایي چي هر لمونځ گذار ته معلوم دی .

دآیت معنٰی داسی ده چي رکوع کوی رکوع کوونکو سره ، یوه خبره دلته دغورکولو جوگه ده چي دلمونځ په ټولو ارکانو کي درکوع تخصیص ولی وسو ؟ ددی جواب دا دی چي دلته دلمونځ یو رکن ، چي هغه رکوع ده ، ذکر سوه او مراد ورڅخه کل ارکان دی ، یعني ذکر دجزء مراد ورڅخه کل ، لکه په قرآن کي په یو بل ځای کي فرمایي ، قُرْآنَ الْفَجْرِ او مراد ورڅخه دصبا لمونځ دی ، یعني ذکر دیوازي قرات ، چي دلمانځه جزء دی ، مراد نه دی ، بلکه ټول لمونځ ورڅخه مجازا مراد دی ، او بعضو احادیثو کي دسجدی لفظ ویل سوی دی او مراد ورڅخه پوره رکعت یا لمونځ دی ، نو په دی وجه دآیت مراد دا سو چي لمونځ کوی لمونځ کوونکو سره ، لیکن دا سوال بیا پاته کیږي ، چي دلمانځه په ډیرو ارکانو کي درکوع تخصیص کي حکمت څه دی ؟ یعني چي درکوع څخه مراد لمونځ دی ، نو دغه دلمونځ یو بل رکن مثلاً سجده ، قیام ، قرائت به ذکر سوی وو او مراد به ورڅخه لمونځ وو ، درکوع تخصیص ولی وکړل سو ؟

جواب دا دی چي دیهودو په لمانځه کي سجده وغیره ارکان وو لیکن رکوع نه وه رکوع ددین اسلام دلمانځه له خصوصیاتو ده ، نو په دی وجه د ، راکعین ، څخه مراد ، دامت محمد ﷺ لمونځ گذار دی چي دهغوی په لمانځه کي رکوع ده ، او دآیت معنی دا ده ، چي تاسی هم دامت محمدی دلمونځ گذارو په ډول لمونځ ادا کوی ، یعني اول ایمان راوړی او بیا په جمع لمونځ ادا کوی .

(دجمع دلمانځه احکام)

دلمونځ حکم او فرضیت داَقِیْمُوا الصَّلٰوۃَ څخه معلوم سوی وو ، دلته د ، مَعَ الرّٰکِعِیْنَ : دلفظ څخه په جمع دلمونځ کولو حکم ورکړل سوی دی . دا حکم دڅه درجي دی ؟ په دی کي دعلماؤ او فقهاؤ اختلاف دی ، دصحابوو او دتابعینو او دفقهائی امت یوه ډله ، جمع واجب گڼی اودجمع پرېښوول سخته گناه گڼی ، او بعضي صحابه خو هغه لمونځ روا هم نه گڼی چي بغیر دڅه شرعی عذر په امامت او جمع نه وی ادا سو ی ، دا آیت دظاهری الفاظو ترمخه دهغو صاحبانو دپاره دلیل دی ، چي جمع او امامتی واجبه گڼی .

ددي څخه علاوه داحادیثویو څورو ایتونه دی چي دهغه څخه دامامتی واجبیدل معلومیږي لکه یوحدیث دی لَاصَلٰوۃَ لِجَارِ الْمَسْجِدِ اِلَّا فِي الْمَسْجِدِ . (ابوداود) ترجمه مسجد ته نژدی وسیدونکی چي دی دهغه لمونځ دمسجد څخه بغیر په بل ځای کي روا نه دی .

او مسجد دلمانځه مطلب خو ظاهره خبره ده ، چي دامامتی لمونځ دی نو دحدیث دالفاظو مطلب دا سو چي څوك مسجد ته نژدی اوسیږي دهغه لمونځ دامامتی څخه بغیر روا نه دی .

او په صحیح مسلم کي دابی هریرة ﷺ په روایت کي دی چي یو ړوند صحابی نبی ﷺ ته راغی او عرض یی وکی چي ماسره څوك داسی سړی نسته چي هغه ما دلمانځه دپاره مسجد ته پوزی او هم می راولی ، په دی وجه که ستاسی اجازه وی نو زه به لمونځ په کور کي کوم ، نبی ﷺ ورته اول اجازه ورکړه ، خو چي کوم وخت دا سړی روان سو نو نبی ﷺ پوښتنه ورڅخه وکړه چي داذان اواز ستا کورته در رسیږي ، نو ده وویل چي د اذان اواز خو زه اورمه ، نو نبی ﷺ وفرمایل چي بیا ته مسجد ته راځه اوبعضو روایاتو کي

دی چی نبی ﷺ وفرمایل ، چی بیا تا دپاره بل څه لار او اجازه نسته (ابوداود)
اوحضرت عبدالله بن عباس ؓ وایی چی رسول الله ﷺ فرمایلی دی .
مَنْ سَمِعَ النِّدَاءَ فَلَمْ يُجِبْ فَلَاصَلٰوةَ لَهُ اِلَّا مِنْ عُذْرٍ ، ترجمه : کوم سړی چی داذان آواز آوری او جماعت ته نه راځی ، نو دده لمونځ نه کیږي ، مګر دا که چیری دده څه شرعی عذر وی (دا حدیث قرطبی صحیح ګڼی) ددې احادیثو په وجه حضرت عبدالله بن مسعود ؓ او ابوموسی اشعری ؓ صحابو ؓ دا فتوی ورکړی ده ، چی دچا کور مسجد ته دومره نژدی وی چی داذان اواز هلته رسیږي ، نوکه چیري دی سړی دڅه عذر شرعی څخه بغیر ، لمونځ په کور وکی نو دده لمونځ ونه سو (دآواز اوریدو څخه مطلب دا دی ، چی د درمیانه قسمه سړی آواز هلته رسیږي ، دلاوډ سپیکر آواز یا دداسی سړی آواز چی هغه ډیر لری لری پوری تللی سی ، څه اعتبار نسته ، یعنی مطلب دا که چیري دلاوډسپیکر آواز ، یا ددغه غیر معمولی سړی آواز یو کورکی او ریدی سی او د درمیانه قسم آواز هلته آوریدی نه سی ، نو ددې کور خاوند به دغه برنی ذکر سوی حدیث لاندی نه راځی .
دا ټول روایتونه دهغو حضراتو دلیلونه دی ، چی هغوی امامتی واجبه ګڼی لیکن دجمهور امت دعلماؤ فقهاؤ صحابه او تابعینو په نزد امامتی سنت مؤکده ده لیکن په سنت مؤکده کی دصبا دسنتو په شان ، چی دټولو څخه زیات مؤکده او وجوب ته نژدی دی ، او دغه خلقو دقرآن کریم امر ، وَارْكَعُوا مَعَ الرَّاكِعِينَ دنورو آیاتونو او روایتونوپه بنا تاکید ګرځولی دی .
اودکومو احادیثوڅخه چی دامعلومیږي چی دچاکورونه مسجد ته نژدی وی دهغوی لمونځ بغیر دامامتی څخه روانه دی، ددې مطلب دادی چی دداسی خلقولمونځ کامل او مقبول نه دی ، په دی باره کی دحضرت عبدالله بن مسعود ؓ بیان ډیر واضح اوکافی دی ، چی مسلم روایت کړی دی چی دهغه ترجمه دا ده .
فقیه الامت حضرت عبدالله بن مسعود ؓ فرمایی چی کوم سړی دا غواړی چی صبا (یعنی محشرکی) الله ﷻ سره مسلمان مخ سم نو دی سړی له په کار دی چی دپنځو لمونځونو ادا کولو پابندی دی هغه ځای کی وکړی کوم ځای کی چی ادا کیږي (یعنی مسجد) ځکه چی الله ﷻ ستا نبی ته څه دهدایت لاری ښوولی دی اوپنځه لمونځونه په جمع کول په دغه سنن هدی (یعنی دهدایت په لاروکی شامل دی ، اوکه چیری تا دا لمونځونه په خپل کور کی وکړه لکه دا دمسجد څخه جلا پاته کیدونکی چی خپل کورکی کوی (اشاره یی یوخاص سړی ته وکړه) نوتا دخپل نبی ﷺ سنت پرینښوول او که چیری تا دخپل نبی سنت پرینښوول نوته به ګمراه سی (اوکوم سړی چی اودس وکړی اوپه ښه طریقه ځان پاك کړی) اوبیا دمسجد په لوری روان سی ، نو الله ﷻ دده دهر قدم په عوض کی نیکی دده په عملنامه کی لیکی اودده یوه درجه زیاتوی (اویوګناه یی معاف کوی ، اومونږ خپله ډله خو داسی پیدا کړی ده ، چی دڅرګند منافق څخه سوا چا بی جمع لمونځ نه کوی ، تردی پوری چی بعضو حضراتو په ناجوړتیا کی په دوو کسو لاسونه اینښی وو ، مسجد ته به را تلل او په جمع به یی لمونځ کوی ، په دی بیان کی چی څنګه دامامت دا همیت او ضرورت ذکر دی ، ورسره یی ددی دا درجه هم بیان کړی ده چی دا په سنن هدای کی شامل دی اوسنن هدای ته فقهاء سنت مؤکده وایی نوکه چیری یو سړی دعذر شرعی څخه بغیر مثلاً مرض وغیره څخه

بغير ځان له لمونځ وکړي او امامتي سره يې ونه کړي ، نو دهغه لمونځ خو به وسي ، ليکن دسنت مؤکده په پريښوولو به دعتاب او زورني حق دارسي ، او که چيري دامامتي دپريښودو عادت يې جوړ کي نو سخت گناهکار به سي ، خصوصاً په داسي صورت کي چي مسجد وران پاته سي او خلق په کورونو کي لمونځونه کوي نودا ټول دسزاحقدار دي ، اوقاضي عياض وايي چي داسي خلق دپوه کولو څخه وروسته هم دخپل عادت څخه واپس نه سو دوي سره دي جنگ وکړل سي (قرطبي)

(دبې عمله واعظ مذمت)

أَتَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنْسَوْنَ أَنْفُسَكُمْ . په دي آيت کي خطاب که څه هم ديهودو علماؤ ته دي ، دوي ته ملا متيا ورکول کيږي چي دوي خپلو دوستانو او خپلوانو ته وايي او نصيحت کوي چي تاسي دمحمد ﷺ پيروي اوتابعداري کوي ، اوپه دين اسلام ټينگ اوسيږي (او دا خبره ددي علامه ده ، چي ديهودو عالمانو دين اسلام په يقني طورسره حق گڼولو) مگر په خپله دنفس له خواهشاتو دومره مغلوب وو چي اسلام قبلولو او راوړلو ته تيار نه وو ، ليکن په دي آيت کي دمعني په اعتبار سره دهر هغه سړي مذمت دي چي نورو ته خود نيکي کولو رغبت ورکوي ، ليکن پخپله عمل نه په کوي نور دالله ﷻ دعذاب څخه بيروي ليکن پخپله نه بيريږي ، دداسي سړي په باره کي په احاديثو کي ډير سخت وعيدونه راغلي دي ، دحضرت انس ؓ څخه روايت دي چي نبي ﷺ فرمايلي دي ، چي دمعراج په شپه زه په څه داسي خلقو تير سوم چي دهغوی شونډي او ژبي داور په قينچيانو پريکيدلی ما دجبريل ؑ څخه پوښتنه وکړه ، چي داڅوک دي ؟ جبريل ؑ وول ، چي داستا دامت مالداره واعظان دي چي خلقو ته به يې دنيکي حکم کولو او په خپله به يې عمل نه په کوي (ابن کثير)

ابن عساکر ذکر کړي دي چي نبي ﷺ فرمايلي دي ، چي بعضي جنتيان به بعضي دوږخيان په اورکي ويني نو پوښتنه به ورڅخه وکړي چي تاسي اورته ولي رسيدلي ياست ؟ حال دا دي چي په خداي مو دي قسم وي چي مونږ په هغه نيکو عملونو جنت ته تلي يو ، کوم چي تاسي مونږ ته ښوولي وو ، نو دوږخيان به ووايي ، مونږ په ژبه ضرور ويل ليکن په خپله مو عمل نه په کوي (ابن کثير ج ۱ ص ۱۵۰)

(آيافاسق وعظ اونصيحت کولي سي ؟)

ليکن ددغه مخکي ذکر سوي بيان څخه دا نه معلوميږي چي بې عمله اوفاسق بل ته وعظ اونصيحت کولي نه سي ، يعني هغه له روا نه دي چي بل ته وعظ اونصيحت وکړي ځکه چي نيك عمل کول جلا نيکي ده اوبنه عمل بل ته ښوول بله مستقله نيکي ده ، اوظاهره خبره چي ديوي نيکي په پريښودو دا ضروري نه ده چي بله نيکي دي هم پريښوول سي لکه چي څوك لمونځ نه کوي ، نو دا لازمه نه ده چي هغه دي روژه هم پريږدي ، بالکل دغه شان که چيري څوك لمونځ نه کوي نو دا ضروري نه ده چي هغه دي بل ته دلمونځ کولو دپاره وينا نه کوي ، دغه شان ديو نا جائز عمل کول جلا گناه ده اوخپل اثر لاندي خلق له دغه ناجائز فعل څخه نه منع کول جلا گناه ده او دگناه کولو څخه دا لازمه نه ده چي دويمه گناه دي هم ضرور وکړل سي (روح المعاني ج ۱ ص ۲۴۸)

امام مالك رحمه الله دحضرت سعيدبن جبير ؓ دا قول نقل کړي دي که چيري څوك په دي خيال امربالمعروف

اونهی عن المنکر پریږدی چی زه پخپله گناهگار یم ، کله چی گناهونو څخه پاك سم نو بیا به خلقو ته تبلیغ کوم ، نو دداسی خبری نتیجه به داسی چی څوك تبلیغ کوونکی به پاته نه سی ، ځکه چی داسی څوك دی چی دگناه هونو څخه بالکل پاك وی دحسن ؓ ارشاد دی چی شیطان خو دا غواړی چی خلق په دی غلط خیال کی دتبلیغ فریضه پریږدی (قرطبی)

بلکه حضرت حکیم الامت تهانوی رحمه الله به فرمایل چی کوم وخت ماته دخپل څه بد عادت پته ولګیږي نو زه ددې عادت مذمت په خپلو وعظونو کی په ظاهری طور سره بیانوم (دی دپاره چی دوعظ په برکت به زما دا عات ختم سی)

خلاصه دا چی د، أَتَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنسَوْنَ أَنفُسَكُمْ : ایت مطلب دا نه دی چی بی عمله انسان دپاره وعظ کول ښه کار نه دی ، بلکه ددې مطلب دا دی چی وا عظ ته بی عمله کیدل په کار نه دی اوپه دی دواړو خبرو کی ډیر فرق دی ، لیکن دلته یو سوال دا کیدی سی چی بی عمله کیدل نه واعظ له جائز دی اونه غیر واعظ له ، بیا دواعظ خاص کولو وجه څه ده ؟ جواب دا دی چی ناجائز خو دواړو دپاره ده ، لیکن دواعظ جرم دغیر واعظ په مقابله کی زیات دروند او زیات دملا متیاوړ دی ، ځکه چی واعظ جرم ، جرم گڼی اوبیا یی کوی ، نو ده څخه دا عذر نه وی چی ماته ددې جرم کیدلو علم نه وو ، په خلاف دغیر واعظ څخه ، چی که څه هم هغه دعلم څخه حاصلولو یو گناه ځان له کړی ده ، لیکن دگناه په کولو کی هغه څخه په څه درجه کی عذر وی ، دی څخه علاوه عالم او واعظ که چیری څه جرم کوی نو دا دین سره یو قسم خندا کول دی ، لکه چی حضرت انس ؓ څخه روایت دی چی رسول الله ﷺ فرمایلی دی چی الله ﷻ به دقیامت په ورځ دعلماؤ په مقابله کی بی علمه خلق زیات معاف کوی .

﴿ دوې نفسیاني ناروغیاني او دهغو علاج ﴾

دمال محبت اودمرتبی محبت دا دواړه دزړه داسی بیماری دی چی ددی په وجه دانسان ددنیااوداخرت دواړو ژوند بر بادیږی که فکر وکړل سی، نومعلومه به سی چی په انسانی تاریخ کی تراوسه چی څومره دانسانیت دشان سره غیرمناسب جنگونه سوی دی اوڅومره فسادونه سوی دی هغه اکثره اوزیات ددغو دوو بیماری په وجه سوی دی ، دمال دمحبت نتیجی دا دی .

(۱) دمال دمحبت څخه بخل اوکنجوسی پیداکیږی چی دهغه قومی نقصان خو دا دی ، حي دداسی مال څخه قوم ته څه فآئده نه رسیږی دوهم نقصان پخپله ددغه سړی ذات ته رسیږی ، ځکه چی په معاشره کی داسی سړی ته په ښه نظرنه کتل کیږی .

(۲) دمال دمحبت څخه خودغرضی پیداکیږی چی دمال دهوس دپوره کولو دپاره بیاسړی په شیانوکی گډون په تله ترازوکی کمی کوی رشوت اخلی دمکر او فریب او د دوکی نوی نوی طریقی راباسی اوخپله توبه ترمخکی دزیات ډکولو دپاره دنورو وینی چیښی ددی ټولو نتیجه دمالدارو او دمزدورو ترمینځ دجگړی په شکل کی ظاهریږي .

(۳) داسې سړی ته چی څومره مال حاصل سی ، بیاهم تردی زیات حاصلولوپه داسی فکر اوغم کی وی، چی ده ته دتفریح اوارام کولو وخت هم نه حاصلیږی دغه فکر اوغم دی خوری ، نتیجه یی داسی چی کوم

مال دده دآرام او راحت ذریعه گرځیده هغه دده دځان دپاره بلا سی.
(۴) حقه خبره چی خومره روښانه واضحه ده ته وړاندی راسی، خو دی ددې دمنلو همت نه لری ځکه چی دا دده دمال دهوس متصادم وی، او داشیان په اخرکی دټولی معاشری امن اوسکون برباد کړی.
که چیرې فکر وکړل سی نو دمرتبی دمحبت هم دغه حال دی ځکه چی دمرتبی دمحبت څخه تکبر، خود غرضی حقونه نه ورکول، داقتدار هوس، او داقتدار حاصلولو اوباقی ساتلو دپاره وینی تویول پیدا کیږی، او دا داسی شیان دی چی دژوند څخه عذاب جوړ وی.
ددې دواړومرضونوعلاج قران شریف دا وښووی چی، وَاسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلَاةِ (په صبر اولمانځه سره مدد اخلی) یعنی صبرکوی اوخپل لذتونه اوشهوتونه ټینګ کړی، په دی به دمال محبت کم سی، ځکه چی دمال محبت په دی وجه پیداکیږی، چی مال دخوندونو اوشهوتونو ذریعه ده او کوم وخت چی ددغه خوندونو اوشهوتونو په پټوسترګو تابعداری پرینښوول سی، که څه هم په اول کی به داګرانه وی، لیکن کرار، کرار داخواهشونه به اعتدال ته راسی، او اعتدال به ستاعادت سی، نو بیا به دمال زیاتوالی ته ضرورت پاته نه سی اونه دمال مینه به دومره غالبه سی، چې په سرې دخپل سود زیان څخه ړوند اوکوڼ کړی، او دلمونځ دبرکته به دمرتبی محبت کم سی، ځکه چی په لمانځه کی په ظاهره اوباطنه دواړوکی عاجزی اوټیټ والی دی، اوکوم وخت چی دصحیح لمونځ کولو عادت په چاکی پیداسی نو هر وخت هغه دالله ﷻ په مخکی دخپلی عاجزی اوټیټ والی تصور به کوی او ددغه تصور دکبله تکبر او غرور او دمرتبی محبت کمیږی.

(دخشوع حقیقت)

الاَّ عَلَى الْخٰشِعِيْنَ: په قرآن اوسنت کی چی هرځای دخشوع ترغیب راغلی دی ددې څخه په مراد دزړه سکون اوعاجزی ده چی دالله ﷻ دلوی والی په مخکی په خپل ځان باندی دسپك والی دعلم څخه پیداکیږی او دهغه نتیجه به دا وی، چی طاعت او فرمان برداری ورته آسانه وی اوکله ددې ښنبی پربدن باندی هم ظاهریدل شروع سی، هغه دا چی بیا دی مودب، متواضع اومات زړی ښکاری اوچی په زړه کی دالله ﷻ څخه بیره اوتواضع نه وی، نوهغه که څه هم په ظاهره خومره مؤدب اومتواضع ښکاری خوپه حقیقت کی دکاملی خشوع خاوندنه دی، البته دخشوع ښنبانی قصدا ظاهرول ښه کارنه دی، حضرت عمر ﷺ ویوځوان ولیدی چی سر یی ټیټ کړی وو اوناست وو نوحضرت عمر ﷺ ورته وفرمایل چی سر پورته کړه خشوع په زړه کی وی، دحضرت ابراهیم نخعی رحمه الله وینا ده چی خرابه جامه اغوستل خراب خوراك کول اوسرکښته نیول خشوع نه ده خشوع خو دا ده چی دحق په معامله کی ښه او بد دواړو سره یو شان سلوك وکړل سی اوالله ﷻ چی څه فرض کړي دی دهغه په اداکولوکی دالله ﷻ دپاره زړه خالی کړل سی دحضرت حسن ﷺ ارشاد دی چی کوم وخت به حضرت عمر ﷺ خبره کوله نو په زوره به یی کوله اوچی تګ به یی کولو نو ژر ژر به تلی، او چی وهل به یی کول نو په زوره به یی کول حال دا دی چی هغه دخشوع خاوندوو، لنډه دا چی خپل قصداو اختیارسره دخاشعینوغوندی شکل جوړول دشیطان اودنفس دوکه ده اوښه خبره نه ده البته که بی اختیاره داکیفیت څرګندسی نوباك نسته (قرطبی)

فائده: خشوع سره یوبل لفظ هم استعمالیږي چي په قرآن کي هم ځوځو واره راغلی دی دا دواړه لفظونه تقریبادیوی معنی الفاظ دی ، لیکن دخشوع لفظ داصل په اعتبار سره د اواز او دنظر دکښته والی اوعاجزی دپاره ویل کیږي، په دی شرط چي دامصنوعي جوړښت نه وي، بلکه دزړه دبیری اودتواضع نتیجه وي ، په قرآن شریف کي دی ، وَخَشَعَتِ الْاَصْوَاتُ : او دخضوع لفظ دجسم اوبدن دتواضع او انکساری اوعاجزی دپاره استعمالیږي، په قران حکیم کي دی ، فَظَلَّتْ أَعْنَاقُهُمْ لَهَا خَاضِعِيْنَ : ترجمه وروسته دهغوی ځتونه دهغه په مخکی تیټ سوه .

(په لمانځه کي دخشوع فقهي حیثیت)

په لمانځه کي دخشوع تاکید په قران اوسنت کي په ځوځو واره را غلی دی دقرآن حکیم ارشاد دی ، وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ لِذِكْرِي : ترجمه اولمونځ قائم کړه زما دیاد دپاره ، او دا ظاهره خبره ده چي غفلت دیاد ضد دی خوك چي په لمانځه کي دالله ﷻ څخه غافل سي ، نو هغه دالله ﷻ دیادولو فریضه ادا نه کړه ، په یوبل آیت کي ارشاد دی ، وَلَا تَكُنْ مِنَ الْغَافِلِيْنَ : ترجمه : او ته دغافلانو څخه مه کیږه ، درسول الله ﷺ ارشاد دی چي لمونځ خو بس ځان مسکین کول اوتوا ضع ده او ددی ظاهري مطلب دا دی ، چي کله ځان مسکین ګڼل اوتواضوع په زړه کي نه وي، نو هغه لمونځ نه دی ، په یوبل حدیث کي دی چي ، دچالمونځ چي هغه دبې حیایی اوبدوکاروڅخه منع نه کړي نوهغه دالله ﷻ څخه لیری کیږي، او دغافل لمونځ دبی حیایی اوبدوکارونو څخه منع نه کوی ، معلومه سوه چي دغفلت لمونځ کول دالله ﷻ څخه لیری کیدل دی

امام غزالی رحمه الله دغه مخکی ذکرسوی آیاتونه اور وایتونه اونور دلیلونه وړاندی کړي اوویلي دي چي خشوع دلمانځه دپاره شرط ده اودلمونځ صحت په دی نبنتی دی بیا امام غزالی رحمه الله وایی چي دسفیان ثوری رحمه الله حسن بصری رحمه الله اودمعاذبن جبل رضی الله عنه مذهب دغه وو چي دخشوع څخه بغیر لمونځ نه کیږي بلکه فاسددی ، لیکن څلور امامان اوجمهورفقهاؤ خشوع دلمانځه دپاره شرط نه ګڼی ، بلکه ددې باوجود چي خشوع دلمانځه روح دی ، دومره شرط کوی چي دتکبیر تحریمی په وخت کي زړه حاضر وي چي یوازی دالله ﷻ دپاره لمونځ کوم او دا یی په زړه کي وي چي الله ﷻ ته ولاړیم په نورلمانځه کي که چیري خشوع حاصله نه سی ، نو دی دفقهی له مخی تارك الصلوة نه دی اونه په ده دتارك الصلوة دتعزیر او نور احکام مرتب کیږي ، البته دومره خبره ده چي ده ته هغه ثواب نه حا صلیږي کوم چي هغه سړی ته حاصلیږي چي دهغه په ټول لمونځ کي خشوع وي ، امام غزالی رحمه الله ددی دا وجه ښوولی ده چي فقهاء په باطني احوالو او دزړه په کیفیاتو باندی حکم نه کوی بلکه دوی یوازی دظاهری اندامونو، ظاهری عملونو حکم کوی دا خبره چي دفلاني عمل ثواب به په اخرت کي ورکول کیږي یابه ورنه کړل سی دفقهی دحدونوڅخه وتلی ده ، څکه په باطني کیفیاتي باندی حکم لګول د دوی دبحث څخه دباندی دی او خشوع یو باطنی کیفیت دی ، نو په دی وجه دوی خشوع په ټول لمونځ کی شرط نه ګرځوی ، بلکه دخشوع معمولی او ادنی مرتبه یی شرط کړي ده اوهغه داچي کم ازکم تکبیر تحریمه په وخت یوازی دالله ﷻ عبادت او تعظیم نیت یی وي ، ددی خبري چي خشوع په ټول لمانځه کي شرط نه ده ، بل دلیل دا دی چي دقران په نورو ایاتونو کي داحکامو دتشریح دا واضح اوښکاره اصول ښوول سوي دی چي الله ﷻ

په انسانانو داسی یوشی نه فرض کوی چی هغه د دوی دطاقت څخه وتلی وی ، اوپه ټول لمانځه کی خشوع لرل ، ماسوا دیو څوکسانو څخه ، دطاقت څخه وتلی شی دی نو په دی وجه دلمانځه په سرکی خشوع شرط کړل سوه نه په ټول لمانځه کی .

(لمونځ دخشوع څخه بغیر هم بالکل فائدې نه دی)

په اخر کی امام غزالی رحمه الله وایی ، چی دخشوع دداسی اهمیت باوجود مونږ دالله ﷻ څخه امید لروچی په غفلت سره لمونځ کوونکی هم بیخی دتارك الصلوة په درجه کي نه دی ، ځکه چی دفرضو د ادا کولو اراده خو یی کړي ده ، او دلږی شیبی دپاره زړه دالله ﷻ دپاره خالی کړي دی، هغه داچی کم ازکم دنیت په وخت کی یي خیال یوازی الله ﷻ ته وو ، دداسی لمونځ کم ازکم فائده داضرورده، چی دده نوم دنافرمانو او بی لمانځو دفهرست څخه ووتی .

لیکن بلی خواته دابیره هم ده چی هسی نه دغافل حالت ترتارك دحالت زیات خراب نه وی ، ځکه چی کوم غلام داقاپه خدمت کی حاضر سی او اقاته یی څه توجه نه وی او دحقارت څخه په ډکي لهجی سره خبری کوی، نو دده حالت تر هغه غلام څخه ډیر زیات خراب دی چی هغه دسرڅخه دآقاخدمت ته حاضرسوی نه وی ، لنډه دا چی دا معامله دبیری او د امید ده ، دعذاب بیره هم ده او دبخښنی امید هم ، نو په دی وجه دغفلت او تساهل پرېښوولو دپاره دخپل وس موافق کوشش کول په کار دی .

يٰبَنِيْٓ اِسْرَاۗءِيْلَ اذْكُرُوْا نِعْمَتِيَ الَّتِيْٓ اَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَاَنِّىْ فَضَّلْتُكُمْ عَلَي الْعٰلَمِيْنَ (۴۷)

ای بنی اسرائیلو یادکی زما احسان چی ما په تاسی کړی دی اوهغه چی ماتاسی ته لوی والی درکړی دی په ټول

وَاتَّقُوْا يَوْمًا لَّا تَجْزِيْ نَفْسٌ عَنْ نَّفْسٍ شَـيْــــًٔـا وَّلَا يُقْبَلُ مِنْهَا

عالم باندی ، او وبیرېږی دهغه ورځی څخه چی په کار به ور نه سی یوسړی دبل څه قدر ، اوقبول به نه سی دهغه

شَفَاعَةٌ وَّلَا يُؤْخَذُ مِنْهَا عَدْلٌ وَّلَا ھُمْ يُنْصَرُوْنَ (۴۸)

دطرفه بدله سفارش او نه به واخستل سی دهغه دطرفه بدله ، او نه به دهغوی کومك كول کیږي .

لنډتفسیر: ای دیعقوب علیه السلام اولاده ، تاسی زما هغه نعمت یاد کړی (دی دپاره چی دشکر او د اطاعت حرکت پیداسی) چی ماتاسی ته په انعام کی درکړی وو (او هغه خبره یاده کړی) چی ماتاسی ته (په خاص خاص معاملوکی) په ټولی دنیا والوباندی لوړوالی درکړی وو (اویوه ترجمه داهم کیدی سی چی ماتاسی ته دمخلوق په یولوی برخی لوړوالی درکړی وو ، مثلا دهغه زمانی په خلگو باندی .

فائده : په دی آیت کی خطاب هغه یهودوته دی کوم چی درسول الله ﷺ په زمانه کی وو ، او عموماداسی کیږی چی په پلار اونیکه باندی کوم احسان وسی دهغه څخه دهغه اولاد هم فائده اخلی ، ددی خبری په عام طور سره مشاهده ده ، نو په دی وجه دوی هم په دی آیت کی مخاطب ګڼل کیږی .

اوبیرېږی دداسی ورځی څخه چی (هغه کی) نه یوڅوك دبل چادطرف څخه څه مطالب ادا کولی سی اونه

دیوچادپاره دبل دطرفه څه سفارش قبلیدی سی (بیاچی پخپله په دغه کس کی ایمان هم نه وی چی دکوم سفارش کول کیږی) اونه دیوسړی دطرفه څه بدله اخیستل کیږی اونه به ددغه خلګوطرف داری وکړل سی

فائده: په دی ایت کی چی دکومی ورځی ذکر دی دهغی څخه مراد دقیامت ورځ ده دمطالبی دادا کولو مطلب دا دی چی مثلا دچاپه ذمه لمونځ او روژه وی اوبل سړی دا ووایی چی زمالمونځ او روژه دی واخیستل سی او دده حساب دی په پوره سی اودمعاوضي مطلب دا چی څه مال وغیره دا خل کړل سی او دی خلاص سی یعنی دا دواړه خبری به نه وی اوبغیر دایمان څخه دسفارش دنه قبلیدوچی ویل سوی دی ، نونورو ایتونوڅخه معلومه سوي ده چي ددی صورت به دا وی چی دداسی خلګو به سفارش نه کیږی چی هغه دقبلیدو نه وی او دطرف داری صورت دا دی چی څوك زور دار حمایت وکی او په زور یی دعذاب څخه را وباسی ، غرض دا چی به دنیاکی دکومك چی څومره طریقی وی هغه به هلته دعذاب څخه دخلاصیدلو دپاره نه وی ، هو یوازی یوه طریقه سته چی هغه ایمان دی.

وَإِذْ نَجَّيْنٰكُم مِّنْ اٰلِ فِرْعَوْنَ يَسُوْمُوْنَكُمْ سُوْٓءَ الْعَذَابِ

او یاد کی هغه وخت چی خلاصی درکړه مونږ تاسی ته دفرعون دخلقو څخه چی کول به یی په تاسی باندی لوی

يُذَبِّحُوْنَ اَبْنَآءَكُمْ وَيَسْتَحْيُوْنَ نِسَآءَكُمْ ۚ وَفِىْ ذٰلِكُمْ

عذاب ، ذبح کول به یی ستاسی زامن ، اوژوندی به یی پریښوولی ستاسی ښځی او په دی کی

بَلَآءٌ مِّن رَّبِّكُمْ عَظِيْمٌ (۴۹)

ازمیښت وو ستاسی دپروردګار دطرفه لوی

لنډتفسیر: مخکی چی دکومو معاملوحواله ورکول سوي ده ددی ځایه دهغه تفصیل شروع سو، اولنی معامله خو دا ده چی او (هغه زمانه یاده کی) چي کوم وخت خلاصی درکړه مونږتاسی خلګو پلارانو نیکونو ته دفرعون دمتعلقینو څخه په فکر لګیدل وه ستاسی دزړه ازارولو دپاره مری به یی غوڅولی ستاسی د اولاد (نارینه) او ژوندی به پریښول ستاسی ښځی (انجلی به یی ژوندی پریښوولی نو هغه به لوی ښځی سوی) اوپه دی (واقعی) کی ستاسی دپر وردګار دطرفه ستاسی یولوی دروند امتحان وو.

فائده: چا فرعون ته پیش ګویی کړی وه چی په بنی اسرائیلوکی به یو داسی هلك پیدا کیږی چی دهغه دلاسه څخه به ستا باچهی ختمیږی ، په دی وجه چی به بنی اسرائیلو کی چی به کوم هلك پیدا سو هغه به ده مړ کوی او دانجونوڅخه خو یی بیره نه وه نو دوی ته به یی څه نه ویل او ژوندی به یی پریښوولی ، دوهمه خبره دا وه چی دی ښځو نه به ده دمینځو او دخدمت کاروکار اخیستل نو د دوی ژوندی پریښوول هم دخپل مقصد دپاره وو.

او په ، ذٰلِكُمْ: سره اشاره یاذبح اوقتل ته ده اوذبح اوقتل مصیبت دی اوپه مصیبت کي دصبر امتحان

وی یعنی دا معلومول وی چی دا سړی په دی مصیبت کی څومره صبرکوی یاپه ، ذٰلِکُمْ: سره اشاره خلاصی ته ده اوخلاصی خو یو نعمت دی او په نعمت کی دشکر امتحان وی یعنی دا ظاهرول وی چی دسړی په دی نعمت شکر کوی او که نه او ددی نجات اوخلاصی تفصیل یی وروسی بیان کی.

وَإِذْ فَرَقْنَا بِكُمُ الْبَحْرَ فَأَنْجَيْنَاكُمْ وَأَغْرَقْنَا آلَ فِرْعَوْنَ وَأَنْتُمْ تَنْظُرُونَ ﴿٥٠﴾

اوکوم وخت چی وشلوی مونږ ستاسی په وجه دریاب بیا خلاص کړاست مونږ تاسی اوډوب موکړه دفرعون خلق او

وَإِذْ وَاعَدْنَا مُوسَىٰ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً ثُمَّ اتَّخَذْتُمُ الْعِجْلَ مِنْ

تاسی کتل ، او کله چی مونږ وعده وکړه موسی ﷺ سره دڅلویښتو شپو بیا تاسی کلیکی جوړکی

بَعْدِهِ وَأَنْتُمْ ظَالِمُونَ ﴿٥١﴾

دموسی ﷺ څخه وروسته او تاسی ظالمان واست.

تفسیر: او (هغه زمانه یاده کی) چی کوم وخت وشلوو مونږ تاسی ته (دلاری ورکولو په وجه تریو) دریاب بیا مونږ (د ډوبیدو څخه) محفوظ کړای ست او غرق موکړل دفرعون متعلقین (سره دفرعونه) او تاسی (دا) کتل.

فائده: دا قصه هغه وخت وسوه چی موسی ﷺ پیدا سو ، بیا پیغمبر سو او تر ډیر وخته پوری یی فرعون پوهولو ، کوم وخت چی هغه په هیڅ صورت کی منلوته تیار نه سو نوموسی ﷺ ته حکم وکړل سو ، چی ته په پته بنی اسرائل دی ځای څخه بوزه . په لاره کی دریاب راغی او په دغه وخت کی د وروسته څخه فرعون سره دلښکره را ورسیدی دالله ﷻ په حکم دریاب لاری لاری سو اوبنی اسرائلوته دتیریدلو لاره پیدا سوه ، دوی خو پوری وتل ، دفرعون رسیدلو پوری دریاب دغه شان وو ، هغه هم دوی پسی دتګ په غرض په دریاب ورګډ سو ، نو په دغه وخت دټولو طرفونو څخه دریاب بیا را غونډ سو او په خپل اول حالت سو او دهغه ملګری ټول هلته غرق سول.

او (هغه زمانه یاده کړه) کوم وخت چی وعده وکړه مونږ موسی ﷺ سره (دتورات دورکولو دڅه مودی په تیریدو ، چی هغه کی دلسو شپو زیاتوالی وسو) دڅلویښتو شپو (زمانه سوی وه) بیا تاسی خلقو (دعبادت دپاره) تجویز کړو څخه دموسی (ﷺ دتلو) څخه وروسته اوتاسی (په دی تجویزکی صریح) ظلم ته ملا تړلی وه (چی دداسی بی ځایه خبری قائله سوی وی)

فائده: دا قصه هغه وخت وسوه چی کوم وخت دفرعون دغرقیدو څخه وروسته بنی اسرائل دبعضو په قول ، مصرته بیرته را غلل او یا په قول دبعضو په یو مقام کی دیره سول ، نوموسی ﷺ ته بنی اسرائیل وویل چی اوس مونږ بالکل په اطمینان یو ، که چیری څه شریعت اوقانون مونږ دپاره مقررکړل سی ، نو هغه به مونږ خپل دستور العمل جوړ کړو ، دموسی ﷺ په عرض کولو الله ﷻ وعده وکړه چی ته کوه طورته راسه یوه میاشت زمونږ په عبادت کی تیره کړه ، یوکتاب به مونږ تاته درکړو ، موسی ﷺ دغه شان وکړل

او تورات ده ته ورکړل سو ، لیکن دلسو ورځو په عبادت کی دتیرولو حکم په دی وجه ورکړل سو چی موسی ﷺ دیوی میاشتی د روژی نیولو څخه وروسته افطار کړی وو او الله ﷻ ته د روژه دار دخولی بوی خوښ دی نو په دی وجُه موسی ﷺ ته حکم وسو چی لس (۱۰) ورځی نوری روژی ونیسه چی هغه بوی بیاپیداسی ، نو داسی دا څلوېښت روژی پوره سوی ، موسی ﷺ خودلته وو ، او هلته یوسړی چی نوم یی سامری وو ، دسپینو یا سرو دیوسخی قالب جوړکی اوپه کی یی هغه خاوره واچوله چی کومه ده دجبرئیل ﷺ د اسپی دپښولاندی څخه اخستی وه اوځان سره یی محفوظه ساتلی وه ، په دغه سخی کی روح اوساه راغله اوجاهلو بنی اسرائیلو ددی عبادت شروع کی .

ثُمَّ عَفَوْنَا عَنْكُمْ مِّنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۵۲﴾

بیا مومعاف کړاست مونږ تاسی په دی هم دی دپاره چی تاسی احسان ومنی.

لنډتفسیر: بیا هم مونږ (ستاسی توبی کولو سره) عفووکړه تاسی ته دومره غټی خبری څخه وروسته په دی امید چی تاسی به ښیګړه ومنی.

فائده : ددې توبی بیان وروسته په دریم آیت کی ذکر دی ، دالله ﷻ ددې امیدلرلو مطلب نعوذبالله دا نه دی ، چی خدای ﷻ ته شك وو ، بلکه مطلب دا دی چی دا عفو داسی شي دی ، چی لیدونکو ته دشکر ګذاري دامید ګمان کیدای سی :

وَاِذْ اٰتَیْنَا مُوْسَی الْكِتٰبَ وَالْفُرْقَانَ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ﴿۵۳﴾

اوکوم وخت چی ورکی مونږموسی ته کتاب اودحق څخه جلاکوونکی حکمونه دی دپاره چی تاسی سیده لارپیداکی

لنډتفسیر : او (هغه زمانه یاده کړی) چی کوم وخت موسی ﷺ ته کتاب (تورات) مونږ ورکی او دفیصلی شی په دی امید چی تاسی په سیده لار روان اوسیږي .

فائده : دفیصلی شی یا خو هغه احکامو شرعیوته یی ویلی دی چی کوم په تورات کی لکلی دی څکه چی شرع سره دټولو اعتقادی او عملی اختلافونو فیصله کیږي یایی معجزوته ویلی دی ، څکه چی دوی سره دربنتیاؤ او د درواغو دعوو فیصله کیږي ، یا یی تورات ته ویلی دی ، چی په دی کی دکتاب صفت هم سته او دفیصلی کولو صفت هم .

وَاِذْ قَالَ مُوْسٰی لِقَوْمِهٖ یٰقَوْمِ اِنَّكُمْ ظَلَمْتُمْ اَنْفُسَكُمْ بِاتِّخَاذِكُمُ الْعِجْلَ فَتُوْبُوْٓا

او کوم وخت چی وویل موسی ﷺ خپل قوم ته ای قومه ! تاسی نقصان وکی دخپل ځان دسخوندرکی په جوړولو

اِلٰی بَارِىِٕكُمْ فَاقْتُلُوْٓا اَنْفُسَكُمْ ذٰلِكُمْ خَیْرٌ لَّكُمْ عِنْدَ بَارِىِٕكُمْ

نو اوس توبه وکړئ خپل پیداکوونکی ته او وژنی خپل خپل ځانونه دا غوره ده تاسی دپاره دپروردګار په نزد

فَتَابَ عَلَيْكُمْ إِنَّهُ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ﴿٥٤﴾

بیا متوجه سو په تاسی باندی، بیشکه هغه دی معاف کوونکی او ډیر مهربان.

تفسیر: او (هغه زمانه یاده کړه) هرکله چی موسی علیه السلام خپل قوم ته وویل چی ای زما قومه! بیشکه تاسی خپل لوی نقصان وکی دځخی دعبادت کولو په وجه اوتجویز سره، نو تاسی اوس دخپل خالق په طرف متوجه سی، بیا بعضی خلق (چی کومو دځخی عبادت نه وی کړی) بعضی هغه خلق (کوموچی دځخی عبادت کړی دی) قتل کړی دا (کار) تاسی دپاره به غوره وی، ستاسی دپیداکوونکی په نزد بیا به دی (کار کولو سره) الله جل جلاله ستاسی په حال متوجه سو، بیشکه هغه خو داسی دی چی توبه قبلوی اومهربانی کوی.

فائده: دا دهغه طریقی بیان دی چی د دوی دتوبی کولو دپاره تجویز سوه یعنی مجرم او گناهگا خلق دی قتل کړل سی لکه زمونږ په شریعت کی هم دبعضی گناهونو سزا باوجود دتوبی هم قتل اوهلاکول دی، مثلاً په قصداً قتل کی قتل دی اوچی دزنا ثبوت په شاهدانو سره وسی هلته رجم دی، ځکه چی دتوبی کولو سره دا سزا نه ساقطیږي نو دغو خلقو په دی عمل وکی، چی دهغه په وجه آخرت کی درحمت اومهربانی مستحق وگرځیدل.

وَإِذْ قُلْتُمْ يَٰمُوسَىٰ لَن نُّؤْمِنَ لَكَ حَتَّىٰ نَرَى ٱللَّهَ جَهْرَةً فَأَخَذَتْكُمُ

اوکوم وخت چی تاسی وویل ای موسی امونږ به هرگزیقین ونه کړو ستاچی ترڅوونه وینو الله په ډاگه بیاونیولاست

ٱلصَّٰعِقَةُ وَأَنتُمْ تَنظُرُونَ ﴿٥٥﴾

تاسی تندر او تاسی کتل

تفسیر: او (هغه زمانه یاده کړی) چی هرکله تاسی خلقو (داسی) وویل چی ای موسی علیه السلام مونږ ستاسی وینا به هیڅکله ونه منو، (چی دا دالله جل جلاله کلام دی) ترڅو چی مونږ (پخپله) الله جل جلاله په ډاگه ونه وینو نو (په دغه بی ادبی) په تاسی تندر پریوتو او تاسی (ددغه تندر پریوتل) په سترگو لیدل.

فائده: دا قصه داسی وسوه چی کوم وخت موسی علیه السلام دطورغر څخه بیرته راغی اوتورات یی ځان سره راوړی اووی ویل چی دا دالله جل جلاله کتاب دی نوځینو بی ادبو خلقو وویل، چی الله جل جلاله دی په خپله مونږ ته ووایی، چی دا زماکتاب دی نو بیابه زمونږ یقین راسی، موسی علیه السلام ورته دخدای په اجازه وویل چی طور غره ته درځی دا خبره به هلته وسی، بنی اسرائیلو دی کار دپاره اویا ۷۰ کسان منتخب کړل او دموسی علیه السلام سره طورغره ته ولیږل، هلته چی ورسیدل دالله جل جلاله کلام دی خلقو پخپله واوریدی، نو بیا بی دا وویل چی یوازی په کلام اوریدو سره مونږ ته قانع کیږو ترڅوچی مونږ خدای جل جلاله په سترگو لیدلی نه وی، ځکه چی بغیر دلیدلو څخه دخبرو په اوریدو زمونږ یقین په دی وجه نه سی راتلی چی خدای خبر دی چی خبری کوونکی به څوك وی اوکه خدای په سترگو ووینو، نوبیشکه زمونږ یقین به راسی کله چی

په دنیاکی خوك دالله ﷻ دليدو طاقت نه لري نو په دي وجه په دي بی ادبی په دوی باندی تندر را ولويدی اوټول هلاك سوه) دمتعلق بيان په ورپسی آيت کی دی .

ثُمَّ بَعَثۡنٰكُمۡ مِّنۡۢ بَعۡدِ مَوۡتِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُوۡنَ ﴿۵۶﴾

بيارا پورته کړاست مونږ تاسی دمړه کيدو څخه وروسته چی تاسی احسان ومنی .

تفسیر : بيا مونږ (دموسی په دعا) تاسی ژوندی کړاست ستاسی دمړکيدو څخه وروسته په دی اميد چی تاسی به احسان ومنی

فائده دموت دلفظ څخه په ښکاره دا معلوميږي چی دا خلق ددې تندر دغور ځيدو څخه مړه سوي وو ، د دوی د دوهم وار ژوندی کيدو قصه او واقعه داسی وسوه چی موسی ﷺ الله ﷻ ته دعا وکړه چی بنی اسرائيل خو هسی هم بدګمانه دی اوس به هغوی دا وګنی چی ما دوی يو ځای بوتلل او په څه حيلی او بهانی د دوی کار می ختم کی يعني مړه می کړل ای خدايه ما ددی تهمته وساتی الله ﷻ په خپل رحمت دوی بيا ژوندی کړل .

وَظَلَّلۡنَا عَلَيۡكُمُ الۡغَمَامَ وَاَنۡزَلۡنَا عَلَيۡكُمُ

او سايه وکړه مونږ په تاسی د ورځی اونازل مو کړل په تاسی باندی

الۡمَنَّ وَالسَّلۡوٰىؕ كُلُوۡا مِنۡ طَيِّبٰتِ مَا رَزَقۡنٰكُمۡؕ وَمَا

من او سلویٰ خوری پاك شيان چی مونږ تاسی ته درکړی دی او

ظَلَمُوۡنَا وَلٰـكِنۡ كَانُوۡۤا اَنۡفُسَهُمۡ يَظۡلِمُوۡنَ ﴿۵۷﴾

دوی زمونږ څه نقصان ونه کی بلکه خپل نقصان یی کوی .

تفسیر اوسايه وکړه مونږ په تاسی دوريځی (په ميدان تيه کی) او (غيبو دخزانو څخه) را ورسول مونږ تاسی ته ترنجبين او مرغۍ (اوتاسی ته مو اجازه وکړه چی) خوری ښه شيان چی مونږ تاسی ته درکړی دی (ليکن په دی کی هم دی خلقو مخالفت وکی) او (په دی) دوی زمونږ څه نقصان ونه کی بلکه خپل نقصان یی کوی .

فائده :دا دواړه قصی اوواقعی په تيه کی پيښی سوی دی ، دتيه دوادی حقيقت دا دی چی دبنی اسرائيلو اصلی وطن دشام ملك دی ، دحضرت يوسف ﷺ په وخت کی دوی مصرته راغلی وو او دلته پاته سوی وو او دشام په ملك باندی دعمالقه په نوم يوقوم قبضه کړی وه ، فرعون کله ډوب سو او دا خلك په آرام سوه نوالله ﷻ دوی ته ددې انکار دا سزا ورکړه چی څلويښت کاله په يوميدان کي سرګردانه

او پریشانه گرځیدل، کورته رسیدل یې هم نصیب نه سوه.
دا میدان څه لویه ټوټه نه وه، بلکه دمصر اوشام په مینځ کې پنځه شپږکوسه یعني تقریبا لس ۱۰ میله رقبه اوټوټه وه، روایت داسې دی، چې دې خلګو خپل وطن مصرته دتلو دپاره تمامه ورځ به سفرکوی او دشپې به یې په یوه پړاو ډیره واچوله، چې صبابه سو نو په هغه ځای کې به پراته وه چې دکوم ځای څخه به روان سوی وه، نو دغه شان څلوېښت کاله په دغه میدان کې سر ګردانه اوپریشانه ګرځیدل، په دې وجه دې میدان ته (تیه) ویل کیږي، دتیه معنی ده سرګرداني اوپریشاني.
دا دتیه وادي یوفراخ میدان ووچې په کې څه آبادي وه، نه درخته، چې ترهغه لاندې دلمر،ګرمي او یخ څخه سرې سر پناه کړي وای اونه په کې یوځای دخوراك اوچیښاك څه سامان وو، اونه داغوستلو دپاره څه شی وو، لیکن دمعجزې په ډول الله ﷻ حضرت موسی ﷺ په دعاپه دغه میدان کې ددې ټولو ضرورياتو انتظام وکې بنې اسرائیلو چې دلمر اوګرمې شکایت وکې نو الله ﷻ په دوی باندې دنرۍ سپینې وریځې را وستلې اودلوږې دختمولو دپاره یې وربانديې من اوسلوی نازل کړه، من یو خوږ شی دی چې په درختو باندې کیږي نو دغه من یې ډیر زیات ورکې او سلوی مرزانو ته وایي، دا بټیرې به د دوی خوا او شاته جمع کیدل او د دوی به څخه تښتیدل، دوی به دا رانیول او ذبحه کول به یې او خوړل به یې، او په دې طریقه به یې دا سپکه غذا اوخوراك کوی، هرکله چې دترنجبین دومره ډیروالی کوم چې دعادت څخه خلاف وو او د دوی خوا اوشا دبټیرو یوځای کیدل او د دوی وحشت نه کول هم خلاف عادت وو، نو په دې وجه دا دواړه شیان دغیبو دخزانې څخه وشمیرل سوه او د اوبو دپاره دا وسوه چې موسی ﷺ ته دا حکم وسوچې یو کاڼي په لښته ووهه، نو په وهلوسره به ددې کاڼي څخه چینې روانې سوې، لکه دا خبره په بل ایت کې ذکر ده، دې خلګو دشپې دتیارې شکایت وکې نوالله ﷻ د دوی دمحلې په مینځ کې دستنې په شکل یوه رڼا ودروله، او هم دښه شان په معجزانه طورد دوی دکالوانتظام الله پاك وکې، هغه داسې چې کوم لباس دوی اغوستی وو هغه نه خیرنیدی اونه څیرې کیدې او دکوچنیانو په غاړه چې کوم وو هغه به د دوی دلویدو سره لویدی (قرطبي)
او دې خلګو ته دا حکم سوی وو، چې دخرڅ او دضرورت په قدر یې اخلې او دراتلونکې وخت دپاره دجمع کولو په حیث مه اخلې، لیکن دې خلګو دحرص په وجه په دې کې هم مخالفت وکې، نوچې کومه غوښه به یې دراتلونکې وخت دپاره ایښې وه هغه به ډیره ژر وروسته کیده او دغه ته الله ﷻ ویلې دی چې دوی خپل نقصان کوی.

وَإِذْ قُلْنَا ادْخُلُوا هَٰذِهِ الْقَرْيَةَ فَكُلُوا مِنْهَا حَيْثُ شِئْتُمْ رَغَدًا وَادْخُلُوا

اوکوم وخت چې مونږ وویل چې دا خل سی دې ښارته او خورئ په دې کې چې کوم ځای کې ستاسې خوښه وي په

الْبَابَ سُجَّدًا وَقُولُوا حِطَّةٌ نَّغْفِرْ لَكُمْ خَطَايَاكُمْ ۚ وَسَنَزِيدُ الْمُحْسِنِينَ ﴿٥٨﴾

فراخی سره اوداخل سی په دروازه کې په سجده باندې اووایاست وبخښه نومعاف به کو مونږ ستاسې قصورونه

اوزیات به هم ورکی نیکوکارو ته .

لنډتفسیر: او (هغه زمانه یاده کړه) کله چې مونږ حکم وکې چې تاسې خلګ دې ابادۍ ته دننه ورسې بیا خوری ددې (دشیانو څخه) کوم ځای کې چې ستاسې خوښه وې بغیر دتکلیفه او (داحکم یې هم وکې چې کوم دننه ورځی نو) دروازه کې (په عاجزۍ) داخلیږي سرکښته او (په ژبه دا) وایاست چې توبه ده (توبه ده) مونږ به معاف کړو ستاسې (مخکنی) خطاګانی (ستاسې دټولو) اوپه دې باندې زیاتوب به نور درکو دزره څخه ښه کار کوونکوته .

فائده : دشاه عبد القادر دقول مطابق دا واقعه هم دتیه دزمانی ده هغه داسې چې هرکله دوی دمن اوسلوی دخوراك څخه تنګ سوه ، یعنی زړه یې ورڅخه موړ سو او دخپل معمولی خوراك درخواست یې وکې (لکه چې وروسته په څلورم ایت کې راځی) نو دوی ته یوښارته دتلوحکوم وکړل سو ، چې هلته به دخوراك چیښاك دعادت مطابق شیان پیداسی ، نو داحکم دغه ښارته دداخلیدو متعلق دی اوپه دې حکم کې دداخلیدو دپاره فعلی اوقولی ادب بیان سوي دی په دې قول (یعنی دشاه عبدالقادر رحمه الله په قول) که چیرې ډېر تر ډېر وویل سی ، نو هغه به یوازې دا وی چې دقصې په بیان کې مخکې والی او وروسته والی سوي دی ، چې وروستنی واقعه اوقصه مخکې بیان سوي ده اومخکې قصه او واقعه وروسته ذکرسوي ده ، لیکن داخبره او اشکال څه دومره اهمیت نه لری ځکه چې دقران شریف مقصد اصلی دقصوبیانول نه دی بلکه دقصوڅخه چې کوم نتائج راوزی هغه دقرآن مقصد اصلی دی ، نوکه چیرې دیوې قصې په اجزاووکې دهریوه جز نتیجه جلاجلاوی او ددغه نتیجو دڅه اثرپه وجه که مخکنی جز وروسته او وروستنی جز مخکې کړل سی ، نوپه دې کې څه قباحت اواشکال نسته .

نورو مفسرینو دا حکم دهغه ښارمتعلق ګڼلی دی دکوم دپاره چې دجهاد کولو حکم سوی وو ، او دتیه دزمانی څخه وروسته بیاپه دې باندې دجهاد کولو حکم وسو ، دغه وخت یو شع پیغمبر وو ، نو دا حکم دده په توسط او واسطی سره ددغه ښار په حقله سوی وو ، دمخکنی قول په بناپه مخکنیوخطاګانوکې هغه درخواست هم دا خلول په کار او مناسب دی په کوم کې چې من اوسلوی پریښوول اومعمولی خوراکونه غوښتل دی ، مطلب به داسې چې دا غوښتنه خو ګستاخی وه لیکن خیر اوس که چیري دا ادب او حکم پوره کړل سی نو هغوی به معاف کړل سی او په هر قول خو به دا معافی ټولو ویونکو دپاره عامه وی او کوم چې اخلاص سره ښه عملونه وکی دهغه انعام به دې څخه علاوه وی .

فَبَدَّلَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا قَوْلًا غَيْرَ الَّذِيْ قِيْلَ لَهُمْ فَاَنْزَلْنَا

بیا بدله کړه ظالمانو — خبره په خلاف دهغه چې ویل سوی وه دوی ته — بیا نازل کی مونږ

عَلَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا رِجْزًا مِّنَ السَّمَآءِ بِمَا كَانُوْا يَفْسُقُوْنَ ﴿٥٩﴾ ع

په ظالمانو باندې عذاب — دآسمان څخه — د دوی دحکم نه منلو په وجه .

لنډتفسیر : نوبدله کړه دې ظالمانو بیله کلمه چې خلاف وه دهغه کلمې دکومې (دوینا) چې دوی ته

حکم کړل سوي وو، په دي وجه مونږ نازل کي په دي ظالمانو باندي یو اسماني افت څکه چي دوي دحکم څخه غاړه وغړوله.

فائده: دا آیت دمخکي آیت دپاره تتمه ده، هغه مخالفه کلمه دا وه چي دحِطَّةٌ په ځای دخندا اومسخري دپاره ‹حَبَّةٌ فِي شَعْرَةٍ› ویل یی شروع کړل د‹حطة› معنی وه توبه او ‹حبة فی شعرة› معنی ده غله ده، دانه ده دوربشي په مینځ کي، او دا آفت سماوي طاعون وو، چي دا دیوحدیث دمخه دنافرمانو عذاب او دفرمانبردارو دپاره رحمت دی، ددې شرارت او نافرمانی دوی ته دا سزا ورکړل سوه چي دوی کي طاعون کډسو او ډیرخلک مړه سو، بعضو دهلاکیدونکو شمیر اویازرو ‹۷۰۰۰۰› پوری ښوولی دی ‹قرطبی ص ۴۱۱› او دا وینا ابن زید کړی ده.

علوم اومسئلي

﴿په کلام کي دلفظي تغیر اوتبدل شرعي حکم﴾

ددې ایت څخه دا معلومه سوه، چي بني اسرائیلو ته دا حکم سوی وو چي دی ښار ته ددا خلیدو په وخت کی ‹حطة› یعني توبه توبه ووایاست، نو دوی دشرارت په وجه دا الفاظ بدل کړل، او‹حنطة› ویل یی شروع کړه، چي ددې په وجه په دوی آسماني عذاب نازل سو، دا الفاظو دابدلول داسي وو، چي په هغه کی یوازي الفاظ بدل سوي نه وو، بلکه معنی هم بالکل بدله سوي وه د‹حطة› معنی وه توبه اود‹حنطة› معنی غنم چي ددې دهغه کلمي سره هیڅ سمون نسته چي دکومي کلمي دوی ته حکم سوي وو دالفاظو دا قسم تبدلي او بدلول، خواه هغه که په قران کي وی یاپه حدیث کي، یاخه بل امر الهی کي، نو دا بغیر دڅه شکه اوپه اتفاق سره حرام دی ځکه دا یو قسم خندا یا تحریف دی.

اوس پاته سو دا حکم چي معنی اومطلب باقي وی یوازي په الفاظو کي چي تبدلي راسي نودهغه څه حکم دی؟ امام قرطبی په خپل تفسیر کي ددې متعلق لیکي چي په بعضو کلمو او اقوالو کي دمعنی په شان الفاظ هم مقصود وی، او دعبادت د ادا کولو دپاره ضروری وی په داسي اقوالو کي لفظی تبدلی هم جائز نه ده لکه داذان دمقرر سوی الفاظو په ځای نور الفاظ ویل، چي هغه ددغه مقررسوو الفاظو معنی ادا کوی، روانه دی هم دغه شان په لمانځه کي چي کومی دعاګانی دی لکه سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ، التحیات دعاء قنوت یادرکوع اوسجدو اوتسبیح ګانی چي په کومو الفاظوسره نقل سوی دی، په هغه الفاظوکي یي ادا کول ضروری دی، په نورو الفاظوکی که څه هم معنی محفوظه ولی نه وی، ویل جائز نه دی، دغه شان دټول قران شریف دالفاظو دغه حکم دی، چي دقرآن شریف دتلاوت سره حکم احکام تړلی دی هغه یوازی ددغه الفاظو سره تړلی دی چي په کومو الفاظوکی قران شریف نازل سوی دی، که چیري ددی الفاظو ترجمه په نورو الفاظوکی وکړل سی په داسی طریقه سره چي معنی بالکل محفوظه وی نودی ته دشریعت په اصطلاح کی دقرآن تلاوت نه ویل کیږی اونه په دي باندی هغه ثواب پیدا کیدی سی چي کوم دقرآن ویلو مقرر سوی دی چي دیوحرف په ویلو لس نیکیانی لیکل کیږی ځکه چي قران یوازی دمعنی نوم نه دی، بلکه دمعنی او دنازل سوو الفاظو دمجموعي نوم قرآن دی.

په دی ذکر سوی آیت کی، فَبَدَّلَ الَّذِينَ ظَلَمُوا قَوْلًا غَيْرَ الَّذِي قِيلَ لَهُمْ: دالفاظو څخه په ظاهره دغه

معلومیږی ، چی دوی ته توبی دپاره کوم الفاظ دحطة ښوول سوی وه دغه الفاظ هم مامور به وو (یعني ددغه الفاظو دویلو دپاره دوی ته حکم کړل سوی وو) ددې بدلول پخپله هم گناه ده ، بیا بدلول یی داسی وکړل چی معنی یی بالکل بدله کړه نو په دی وجه دآسمانی عذاب لائق سو.

لیکن چی په کومو اقوالو اوکلموکی مقصود اصلي معنی وی ، الفاظ نه وی په دوی کی که چیري لفظی تبدیلی داسی وکړل سی چی په معنی کی یو فرق نه راځی او معنی بالکل تول محفوظه وی نو دجمهور محدثینو او دفقهاؤ په نزد دا تبدیلی روا ده ، بعضی محدثین حضرات درسول الله ﷺ په حدیث کی داسی لفظی تبدیلی هم روا نه گڼی ، قرطبی دامام مالك رحمه الله ، شافعی رحمه الله او امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله څخه نقل کوی چی په حدیث کی روایت بالمعنی (یعنی دحدیثوپه الفاظو کی تبدیلی کول چی معنی یی محفوظه وی) هم جائزدی لیکن یوشرط دی چی روایت کوونکی دعربی ژبی ماهر وی او دخطاب دمواقعو څخه (دځایونو څخه) او دهغه ماحول څخه چی په کوم کی حدیث راغلی وی ، په ښه طریقی سره خبردار وی دا ددی دپاره چی په معنی کی یی فرق رانه سی.

او دحدیث دامامانو یوه ډله چی څه رنگه دحدیث الفاظ یی اوریدل دی هغه شان نقل کول یی ضروری گڼی څه لفظی تغیر اوتبدیل روانه گڼی ، دمحمدبن سیرین قاسم بن محمد او نورو حضراتو هم دامسلك دی ، تردی چی په دوی کی دبعضو حضراتو تعامل دا دی که چیري دحدیث روایت کوونکی په یولفظ په نقل کولو کی څه لغوی غلطی هم کړی وی نو ده څخه اوریدونکی ته ضروری ده چی په دغه غلطی سره دی روایت کوی دخپل طرفه څخه دی څه تبدیلی نه کوی ، ورسره دی دا ظاهره کی چی زماخیال صحیح لفظ داسی دی لیکن ماته روایت داسی رسیدلی دی ، ددی حضراتو دلیل هغه حدیث دی چی په هغه کی رسول الله ﷺ یو سړی ته دا تلقین کړی وو ، چی کوم وخت دبیده کیدو دپاره کټ ته خیژي نو دا دعاوایه ، اٰمَنْتُ بِكِتَابِكَ الَّذِيْ اَنْزَلْتَ وَنَبِيِّكَ الَّذِيْ اَرْسَلْتَ ، نو دی سړی دنبیك په ځای رسولك وویل نو رسول ﷺ ورته بیاهدایت وکی دنبیك لفظ ووایه نو ددی څخه معلومه سوه چی لفظي تبدیلی هم روانه ده دغه شان په یوه حدیث کی رسول ﷺ فرمایی.

نَضَّرَ اللّٰهُ امْرَءً اَسْمِعَ مَقَالَتِيْ فَبَلَّغَهَا كَمَا سَمِعَهَا: ترجمه الله پاك دی هغه سړی سر سبز اوتازه لری چاچی زما کلام واوریدی اوبیایی امت ته هغه شان ورسوی ، څنگه چی یی اوریدلی وو.

ددې څخه هم ظاهره ده چی په کومو الفاظو یی اوریدلی وی په هغه الفاظو دی ورسوی لیکن دجمهورو محدثینو اوفقهاؤ په نزدکه څه هم غوره خودغه ده ، چی ترڅو پوری کیدای سی دحدیث روایت دی په هغه الفاظوسره نقل کوی چی په کومو الفاظوسره یی اوریدلی وی اوپه قصددی په کی بدلول رابدلول نه کوی ، لیکن که چیری دغه الفاظ ورته پوره یاد نه وی نو دهغه مفهوم اومعنی په خپلو الفاظوکی نقل کول هم روا دی ، او دحدیث ، بلغها کما سمعها: مطلب دا هم کیدی سی چی کوم مضمون یی اوریدلئ دی هغه دی بعینه نقل کی اوپه مفهوم کی دی فرق نه راولی ، او دالفاظو تبدیلی ددی څه منافی نه ده ، امام قرطبی ددی په تائید کی وایی چی پخپله دغه حدیث ددی دلیل دی چی دالفاظو تبدیلی دضرورت له مخی رواده ، ځکه چی خپله ددی حدیث روایت مونږ ته په مختلفو الفاظو رسیدلی دی.

او په مخکنی حدیث کې چې، رسولك: لفظ په ځای دنبیك، دلفظ دویلوحکم وکړل سو دهغه وجه دا هم کیدی سی چې دنبی په لفظ کې دمدح صفت په نسبت درسول زیات دی ځکه چې درسول لفظ دقاصد په معنی دنورو خلګو دپاره هم استعمالیږي، په خلاف دنبی دلفظ څخه چې دا دالله ﷻ دطرفه خپلو خاصو بندګانو ته دخطاب په طور ورکول کیږي، اودوهمه وجه دا هم کیدی سی چې په دعاګانو کې دنقل سوو الفاظو اتباع ددې وجه په کار ده چې ددغه الفاظو خاص اثر وي، کوم چې په دعاکې مقصود وي او په نورو الفاظو کې دغه خاصیت نه وي، دغه وجه ده عامل حضرات چې کوم تعویذونه ساختونه کوي، نو هغوی ددې خبرې ډیر خیال ساتي چې کوم الفاظ منقول دي په هغه کې څه تبدیلي رانه سي، په دې وجه ویل کیږي چې ماثوره دعا ګانې (یعنی نقل سوی دعاګانې) هم په مخکنی قسم کې دا خلې دي چې په هغه کې دمعنی سره دمخصوص الفاظو حفاظت مقصود وي، والله سبحانه وتعالی اعلم

وَاِذِ اسْتَسْقٰى مُوْسٰى لِقَوْمِهٖ فَقُلْنَا اضْرِبْ بِّعَصَاكَ الْحَجَرَ ؕ

او کوم وخت چې اوبه وغوښتې موسی دخپل قوم دپاره نو مونږ وویل وهه په خپله لکړه کاڼي

فَانْفَجَرَتْ مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا ؕ قَدْ عَلِمَ كُلُّ

نو وبهیدې ددې څخه دولس چینې وپیژنده هر قوم

اُنَاسٍ مَّشْرَبَهُمْ ؕ كُلُوْا وَاشْرَبُوْا مِنْ رِّزْقِ اللّٰهِ وَلَا

اوقبلی خپل ګودر خوری اوچښی دالله ﷻ روزی اومه ګرځی

تَعْثَوْا فِی الْاَرْضِ مُفْسِدِيْنَ ۝۶۰

په ملك کې فساد کوونکی.

لنډتفسیر: او (هغه زمانه یاده کې) چې کله (حضرت) موسی ﷺ د اوبو دعادخپل قوم دپاره وکړه نو په دې خبره مونږ (موسی ﷺ ته) حکم وکې چې په خپله لکړه (فلانی) ګاڼی ووهه (ددې څخه به اوبه راووزي) بس (دالکړې وهل وه) فورا دهغه څخه دولس چینې را ووتې (او دبنی اسرائیلو هم دولس خاندانو څخه وو) هر یو سړي دخپلو اوبو ځای معلوم کې (اومونږ ورته دا نصیحت وکې چې خوراك) خوری (او اوبه) چښی دالله ﷻ دررزق څخه اوترحد (داعتدال) څخه مه وزی فساد (فتنه) کوونکی په مخکه کې.

فائده: دا قصه او واقعه هم دوادی تیه ده هلته چې دوی تږی سوه نو اوبه یې وغوښتې موسی ﷺ دعا وکړه، نو دخاص کاڼی څخه دخدای ﷻ په قدرت سره دلکړې په وهلو دولس چینې روانی سوی او د دوی دولس خاندانونه داسې وه چې دحضرت یعقوب ﷺ دولس زامن وه، دهر یوه اولاد څخه یو یو خاندان جوړ سوی وو او د دوی انتظامی معاملات هم جلاجلا وه دټولو مشران هم جلاجلا وه، په دې وجه دولس

چیني وبهیدي ، خوراك څخه مراد من او سلوی دي او دچیښلوڅخه مراد دغه اوبه دي نافرماني کولو، حکومونو پریښودلو او وربانديعمل نه کولو ته یې فتنه اوفساد ویلی دي .

قاضي بیضاوي وایي چي دداسي معجزوڅخه انکارکول ډیره لویه غلطي ده ځکه چي هرکله په بعضو کانو کې الله ﷻ دعقل څخه ډیرلیري یوداسي اثرایښی دي چي هغه اوسپنه ځان ته راکښوي نوکه چیري په دي کاني کې یې دااثرایښی وي چي دمځکي څخه اوبه راکاږي اوبیاترده وزي نوداڅه گرانه اوناممکنه خبره نه ده زمونږ دوخت عاقلانوته په کاردي چي ددي بیان څخه دي فائده واخلي اوبیادامثال یوازي دسرسري نظر والاوو دپاره دي ، ځکه که چیري پخپله ددغه کاني په اجزاووکي اوبه پیداسي نو کوم محال به لازم سي؟ کوم خلگ چي داسي شیان محال گڼي نو خدایږو هغوی تر اوسه دمحال حقیقت نه دي پیژندلی .

علوم اومسئلې : په مذکوره ایت کی دا دی چي موسی ﷺ دخپل قوم دپاره داستسقاء دعا وکړه نوالله ﷻ د اوبو انتظام وکی چي په کاني بانديدلکړي په کذارسره یې رواني کړي ، ددي څخه دا معلومه سوه چي داستسقاء اصل بس دعاده ، دموسی ﷺ په شریعت کي یوازي په دعااکتفاء وسوه ، او امام ابوحنیفه رحمه الله فرمایي چي د استسقاء اصل د اوبو دپاره دعاکول دي او دا دعاکله داستسقاء دلمونځ په شکل کي سوي ده ، لکه چي په صحیح حدیث وي ، چي رسول داستسقاء دلمانځه دپاره عیدگاه ته تللی وو اولمونځ یې کړی وو، اوخطبه یې ورکړي وه ، اودعایي کړي وه ، اوکله داسي هم سوي دي ، چي بغیردخاص لمانځه څخه په دعا بس والي سوي دي لك په صحیح بخاري اوصحیح مسلم کي دحضرت انس ﷺ روایت دي چي دجمعې په خطبه کي نبي ﷺ دعاوکړه او الله ﷻ باران واوروی .

او دا خبره تول منی چي استسقاء برابره خبره ده که هغه دلمانځه په شکل کي وي اوکه یوازي ددعاپه شکل کي ، دا هلته موثر وي چي دگناهونو څخه توبه وکړل سي او دخپلي غریبی ، عاجزي بندگی څرگندول وکړل سي ، په الله ﷻ لازمه نه ده چي دداسي کسانو دعاقبوله کي ، چي هغوي دگناهونوڅخه مخ نه اړوي اودالله ﷻ نافرمانوته نه شاکوي، دا بله خبره ده که الله ﷻ په خپل کرم او فضل سره داسي دعا قبوله کړي ، ځکه چي دهغه قدرت په هرڅه سته .

وَإِذْ قُلْتُمْ يَا مُوسَىٰ لَن نَّصْبِرَ عَلَىٰ طَعَامٍ وَاحِدٍ فَادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُخْرِجْ لَنَا مِمَّا

اوکله چي وویل تاسي ای موسی مونږ هیڅکله به صبر ونه کړو په یو قسم خوراك نو وغواړه زمونږ دپاره دخپل پروردگارڅخه چي راوباسي زمونږ دپاره کوم چي .

تُنبِتُ الْأَرْضُ مِن بَقْلِهَا وَقِثَّائِهَا وَفُومِهَا وَعَدَسِهَا

مځکه یې شنه کوي سبز اوبادرنگ اوغنم اومسور

وَبَصَلِهَا قَالَ أَتَسْتَبْدِلُونَ الَّذِي هُوَ أَدْنَىٰ بِالَّذِي

اوپیاز موسی وویل ایاتاسي اخلي هغه شي چي هغه ادني دي

هُوَ خَيْرٌ ۭ اِهْبِطُوْا مِصْرًا فَاِنَّ لَكُمْ مَّا سَاَلْتُمْ ۭ وَضُرِبَتْ

په مقابله دهغه شی کی چی ښه او اعلی دی کښته سی یو ښار ته نو تاسی ته به حاصل سی چی کوم تاسی یی غواړی

عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ وَالْمَسْكَنَةُ ۤ وَبَاۗءُوْ بِغَضَبٍ مِّنَ اللّٰهِ ۭ

او واچول سوه په دوی باندی ذلت او محتاجی او راواپس سو چی دخدای غضب یی اخیستی وو،

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَانُوْا يَكْفُرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَيَقْتُلُوْنَ

او دا په دی وجه وسو چی دوی نه منل دخدای حکمونه او وژل یی

النَّبِيّٖنَ بِغَيْرِ الْحَقِّ ۭ ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا وَّكَانُوْا يَعْتَدُوْنَ (۶۱) ع

پیغمبران په ناحقه اودا په دی وجه چی دوی نافرمانه وه او ترحد یی تجاوز کوی ،

تفسیر: او (هغه وخت یاد کی) کوم وخت چی تاسی خلګو (داسی) وویل چی ای موسی ﷺ (روزانه) مونږ هم په یو قسم خوراك صبر نه کوو (یعنی من او سلوی) ته زمونږ دپاره دعا وکه چی هغه زمونږ دپاره داسي شیان پیدا کړی چی مځکه شنه کوی لکه سابه ، بادرنګ ، غنم ، مسور او پیاز، موسی ﷺ وویل آیا تاسی اخلی د ادنی درجی شیان داعلی درجی شیان په بدله کی (ښه که چیري نه منی) یو ښار ته (لاړسی) کښته سی (هلته) ضرور تاسی ته دغه شي به حاصل سی کوم چی تاسی یی غواړی (او د داسی بی ادبو په وجی دځه زمانی په تیریدو دنقش په شان) کلك سو په دوی باندی ذلت (چی دنورو خلګو په نظر کی د دوی قدرپاته نه سو) او محتاجی او نیټوالی (ځکه چی پخپله ددوی مزاج عزم او همت پاته نه سو) او حقدار سو دخدای دغضب (او) دا (ذلت او غضب) ددې وجی (وسو) چی دی خلګو به انکار کوی دالهی احکامو او قتلول به یی پیغمبران (چی دا قتل به په خپله د دوی په نزد هم) په ناحقه (وو) او (هم) دا (ذلت او غضب) ددې وجی (وسو) چی دې خلګو فرمانبرداری ونه کړه او (دفرمانبرداری) د دائری څخه به وتل .

فائده : دا قصه هم دوادی تیه ده ، دمن او سلوی څخه یی زړه تور سو ، ددې سبز وغلو غوښتنه یی وکړه ددې میدان په حدودو کی دننه یو ښار آباد وو ، دغه ښار ته دتللو حکم وسو چی هلته ولاړ سی او هلته کری اوریبی ، خوری اوګټی او دذلت او خواری دا هم ده چی دقیامت ته نژدی کیدو پوری دیهودو سلطنت جوړول اخیستل سوی دی البته چی قیامت په نژدی کیدو سی ، ددجال یهودی حکومت به یوازی څلویښت ورځو دپاره وی ، لیکن دی ته به یو عاقل سلطنت او حکومت ونه وایی .

او دوی ته دحضرت موسی ﷺ په واسطی دا خبره وښوول سوه که چیری تاسی نافرمانی وکړه نو همیشه دپاره به دنورو خلګو محکوم یاست ، لکه چی په سورة اعراف کی دی ، وَاِذْ تَاَذَّنَ رَبُّكَ لَيَبْعَثَنَّ عَلَيْهِمْ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ مَنْ يَّسُوْمُهُمْ سُوْۗءَ الْعَذَابِ (دموجوده اسرائلی حکومت حیثیت هم دامریکی او برطانیی ترغلامی

څخه زيات نه دی، او ډېر پیغمبران دیهودو دلاسه په مختلفو وختونو کی قتل سوی دی چی دغه قتل به دی خلګو په خپلو زړونو کی په ناحقه هم ګڼی لیکن ضد او عناد رانده کړی وو .

علوم اومسئلي

(په یهودو باندی دابدی ذلت مطلب اوداسرائیلو دموجوده حکومت دشبهي جواب)

په ذکر سوی آیت کی دابیان سوی دی چی دیهودو سزا په دنیاکی همیشه ذلت اومسکنت دی او په دنیا او آخرت کی دخدای ﷻ غضب دی ، د دوی ددائمی ذلت اوخواری مطلب صحابو اوتابعینو څخه چی کوم دتفسیر دامامانو څخه نقل دی دهغه لنډیز دابن کثیر په الفاظو کی دا دی چی ، لَايَزَالُونَ مُسْتَذَلِّيْنَ مَنْ وَجَدَ هُمْ اِسْتَذَلَّهُمْ وَضَرَبَ عَلَيْهِمُ الصَغَارَ : يعني دوی که څومره مالدارهم سی ، همیشه دپاره به په ټولو قومونو کی ذلیل اوخوار اوحقیر ګڼل کیږي چی دچا لاس پر برکیږي ، هغه به یی ذلیل کوی اوپه دوی به دغلامی نښانی لګوی .

دتفسیر امام ضحاك بن مزاحم دحضرت عبد الله بن عباس ؓ څخه د دوی دذلت اومسکنت دا مفهوم نقل کړی دی چی هم اهل اقبالات یعني الجزية .

مطلب دا دی چی یهود به همیشه دبل په غلامی کی وی اوبل ته به ټیکس (قلنګ) اونور ورکوی او په خپله به دوی ترهیڅ قوت او اقتدارحاصل نه وی .

ددی مضمون یو ایت په سورة آل عمران کی دیوزیات والی سره دارنګه راغلی دی .

ضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ اَيْنَمَا ثُقِفُوا اِلَّا بِحَبْلٍ مِنَ اللهِ وَحَبْلٍ مِنَ النَّاسِ .

کلکه سوي ده په دوی باندی بی قدری او ذلت اوکوم ځای چی دوی ځی ، البته یو خو داسی ذریعی سره چی دالله ﷻ دطرفه وی یاداسی ذریعی سره چی دخلګو دطرفه وی دالله ﷻ د ذریعی مطلب دا دی چی کومو خلګو ته الله ﷻ په خپل قانون کی امن ورکړی وی، لکه نابالغ کوچنۍ، ښځی یاداسی عبادت کوونکی ته چی دمسلمانانو سره جنګ نه کوی ، نو هغه محفوظ اومامون وی ، او دخلګو د ذریعی څخه مراد دصلحی معاهده ده ، چی دهغه یوصورت خو دا دی چی مسلمانانو سره دصلحی معاهده وکړل سی یاجزیه ورکړل سی دهغوی په ملك کی دوسیدوسی ، لیکن دقرآن په الفاظوکی مِنَ النَّاسِ ویل سوي دی من المسلمین ، نه ، نو په دی وجه ددی صورت هم احتمال دی چی دنوروغیر مسلمو سره دصلحی دوعدی پیمان په وجه دهغوی په پشت پناهی کی راسی نو په امن پاته کیدی سی ، بیادا استثناء د، حَبْلٍ مِنَ اللهِ ، اود، حَبْلٍ مِنَ النَّاسِ ، که چیري په قول دصاحب کشف استثناء متصله سی نو معنی به دارنګه سی چی یهود به هرځای کی خوار او ذلیل وی بغیر د دوو صورتونو، چی یادالله ﷻ په وعده د دوی کوچنی اوښځی اونور ددی ذلت اوخواری څخه ووزی ، یادصلحی په عهد اوپیمان سره دوی خپل دذلت اوخواری څخه وساته اولکه چی څنګه مخکی لیکل سوی دی چی دعهد اوپیمان په ذریعه دذلت او خواری څخه دوتلو یوصورت داکیدلای سی چی دمسلمانانو سره دصلحی وعده وپیمان وکی او دا هم احتمال دی چی دنورو قومونوسره دمعاهدی په ذریعه ځان محفوظ کولی سی .

داټول بیان داستثناء متصلی په تقدیر دی او ډیر ومفسرینو حضراتو دا استثناء منقطع ګرځولی ده نو په

دی تقدیر به مطلب داسی چی دا خلق خو به خپل ذاتي اولسی حیثیت سره ذلیل اوخوار وی ، که څه هم دقانون الهی په فراخي کی دراتلو په وجه د دوی بعضی کسان به ددې څخه خلاص وی یا دنورو خلقو په کومك ، په خپلی خواری او ذلت باندی به پرده واچوی .

په دی طریقه دسورة بقره دایت وضاحت دسورة آل عمران په آیت سره وکړل سو او په دی سره هغه ټولی شبهی اوشکونه لیری کړل سو ، چی نن صبا په فلسطین کی د یهودو دحکومت په قائمیدو ډیرو مسلمانانو ته را وړاندی کیږي ، چی دقران قطعی ارشاداتو څخه خو دا معلومیږي چی دیهودو حکومت به کله هم قائم نه کړل سی او واقعه خو دا ده چی په فلسطین کی د دوی حکومت قائم سوی دی .

جواب په ډاګه دی چی په فلسطین کی دیهودو دموجوده حکومت څخه چی څوك خبر دی هغوی ته ښه معلومه ده چی دا حکومت په اصل کی دیهودونه دی بلکه دامریکی او دبرطانیی دیوی چهاؤنی څخه زیات څه حیثیت نه لری ، دوی په خپل ذاتي طاقت سره یوه میاشت هم ژوندی نه سی پاته کیدی ، یورپی طاقتونو داسلامی بلاك دکمزوری کولو دپاره د دوی په مابین کی داسرائیلو په نامه یو چهاؤنی جوړه کړی ده ، او اسرائیل د دوی په نظر کی د دوی دفرمانبردار غلامانو څه زیات حیثیت نه لری ، یوازی دقرآن شریف دارشاد مطابق بِحَبْلٍ مِّنَ النَّاسِ ، په اعتبار د دوی سته والی قائم دی ، هغه هم په ذلت سره ، نو په دی وجه داسرائیلو موجوده حکومت په بنادقران شریف په څه ارشاد باندی معمولی غوندی شبه هم نه سی کیدی .

ددی څخه علاوه داخبره هم دغور اوفکر وړده چی په یهودونصاراؤ اومسلمانانو کی ترټولومخکی یهود دی ، چی دهغوی شریعت اوتهذیب ترټولومخکی دی که چیری په ټوله دنیا کی دفلسطین په کوچنی غوندی قصبی باندی د دوی تسلط یو زنګ راسی هم نو دټولی دنیاپه نقشه کی دابرخه تر یوی نقطی (ټکی) څخه زیات حیثیت نه لری ، ددی په مقابل کی دنصاراؤ سلطنتونه اودمسلمانانو دتنزل د دورسلطنتونه دبت پرستو سلطنتونه ځای پرځای دمشرق ترمغربه خواره دی ، اوس د دوی په مقابله کی پرنیم فلسطین باندی دیهودو تسلط ، او هغه بیا دامریکی او دبرطانیی ترسایی لاندی ددی خبری جواب کیدی سی ، چی الله ﷻ په ټول یهودی قوم باندی همیشه ذلت اوخواری لګولی ده ؟

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَالَّذِينَ هَادُوا وَالنَّصَارَىٰ وَالصَّابِئِينَ

بیشکه چی کوم خلک مسلمانان دی اوکوم خلګ چی یهود دی اونصاری اوصابئین

مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَهُمْ

چی ایمان یی راوړی د دوی څخه په الله ﷻ باندی اوپه ورځ دقیامت باندی اوکارونه یی وکړه ښه نو د دوی دپاره

أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٦٢﴾

د دوی ثواب دی د دوی دپروردګار څخه اونه به وی پردوی باندی څه بیره او نه به دوی غمجن وی .

تفسیر: په دی مقام هرکله چی دیهودو دشرارت حال معلوم سو نو اوریدونکی ته یاپخپله یهودوته به دا خیال په زړه کی راڅی په دی حالاتو کی که چیری دوی عذر هم وړاندی کی او ایمان هم راوړی ، غالبا دا به الله ﷻ ته قبول نه وی نوددی خیال دلیری کولو دپاره په دی کی ایت دیوقانون اوضابطی ذکر وکړل سوچی) مسلمانان یهودیان نصاری اودصابیانو فرقه په دی ټولوکی چی کوم سړی یقین لری په الله ﷻ (په ذات اوصفاتو) باندي اوپه قیامت باندي اوکارونه عملونه ښه کوی (دشریعت دقانون موافق) داسی خلکو دپاره د دوی دخدمت حق هم دی د دوی دپروردگارڅخه (چی ورسیږی) او(هلته چی ورسیږی) څه قسم فکر به نه وی د دوی اونه به دوی غمجن وی.

فائده : دقانون حاصل څرګندی ، هغه دا چی دالله ﷻ به دربارکی دچاتخصیص نسته څوک چی پوره اطاعت اعتقاد او ښه عملونه اختیار کی مخکی هرڅنګه چی وی دالله ﷻ په دربارکی مقبول او دهغه دخدمت اجر به هغه ته ورکول کیږی او دا ظاهره خبره ده چی دقرآن دنازلیدوڅخه وروسته پوره اطاعت هغه دی چی هغه اطاعت محمدی وی ، مطلب دا چی سړی مسلمان سی ، نو هغه دنجات اخروی مستحق کیدی سی ، په دی سره ددی خیال جواب وسو چی ددی شراتونو څخه وروسته هم که چیری دوی مسلمانان سی نو الله ﷻ به ورته عفوه وکي.

اوصابئین یوه فرقه وه چی دهغوی دعقیدو اوعملونوپه حقله چاته پوره علم نه وو ، نوپه دی وجه په دی کی مختلف اقوال دی ، والله اعلم

په دی قانون کی خو په ظاهره دمسلمانانو د ذکر کولو څه حاجت نه ووځکه چی دوی خو مسلمانان دی لیکن په دی سره به کلام کی یوخاص بلاغت اوپه مضمون کی یو خاص وقعت پیدا سو، ددی مثال داسی دی چی یو حاکم یایوباچاپریوه موقعه داسی ووایی چی زموږ قانون عام دی ، موافق وی اوکه مخالف کوم سړی چی اطاعت وکی ، هغه به دعنایت اومهربانی حقداروی ، اوس خو ظاهره ده چی موافق خواطاعت کوی ، اورول خو په اصل کی مخالفینوته وی لیکن په دی کی نکته دا وی چی زموږ مهربانی که په موافقو خلګوده دهغه وجه د دوی څه ذاتی خصوصیت نه دی ، بلکه د دوی دموافق کیدو دصفت په وجه ده.نوکه چیری مخالف هم دغه صفت اختیارکی ، نو هغه به هم ددغه موافق برابرسی ، نو په دی وجه دمخالف سره دموافق ذکر هم وسو.

وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَكُمْ وَرَفَعْنَا فَوْقَكُمُ الطُّورَ خُذُوا مَا آتَيْنَاكُم

اوکوم وخت چی واخیستی موږ ستاسی اقرار اولوړموکی پرتاسی دطور غر چی ونیسی کوم کتاب چی موږ تاسی

بِقُوَّةٍ وَاذْكُرُوا مَا فِيهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿٦٣﴾

ته درکی په مضبوطی سره اویاد کی چی څه په دی کی دی دپاره ددی چی تاسی وبیریږی.

تفسیر: او(هغه وخت یادکی) چی موږ ستاسی څخه دا قول اواقرار واخیستی (چی په تورات به عمل کوی) او (ددی قول اواقرار داخیستو دپاره) موږ دطورغرپورته کی تاسی باندی (په برابری کی)

اوخوړانده موکې (او دغه وخت مو وویل چې (ژر) قبول کړې کوم کتاب چې مونږ تاسې ته درکړی دی (یعنې تورات) په مضبوطۍ سره اویاد کې هغه حکمونه چې په دی (کتاب) کې دی امیدده چې تاسې به متقیان سې (دهغه په وجه)

فائده: هرکله چې موسی ﷺ ته په کوه طورکې تورات ورکړل سو اوهغه چې بیرته راغی اوقوم ته یې وښووی او واوروی نوپه دی کې سخت اوګران حکمونه وه، لیکن ددې خلګودحالت مطابق داسې حکمونه مناسب وه، نو اول خو دوی دا وویل چې تر څو پورې الله ﷻ په خپله مونږ ته ونه وایي چې دا زماکتاب دی، نو هغه مونږ نه منو او دا قصه مخکې ذکر سوې ده غرض هغه اویا ۷۰ سړي چې دموسی ﷺ سره کوه طورته تللې وه، بیرته راغله اوشاهدی یې ورکړه چې دا دالله ﷻ کتاب دی لیکن په دی شهادت کې دخپل طرف څخه دومره کډون یې هم وکې چې الله ﷻ په اخرکې دا فرمایلې وه چې ستاسې څخه څومره پورې کیږي عمل کوی اوچې نه کیږي نومعاف یاست، نوڅه خو فطری شرارت وو اوڅه دحکمونو ګرانی وه اوڅه دکډون داحیله ملګری سوه، مطلب دا چې په ډاګه یې وویل چې مونږ په دی کتاب عمل کولی نه سو، الله ﷻ ملائکو ته حکم وکې چې دکوه طور یوه لویه برخه لوړه کې او د دوی په سرونوباندې یې ځوړنده کې چې یاخو ومنی اویاخوددې غورځیدلوته ځان تیارکې په مجبوری یې ومنی

(دیوشبهې لیرې کول)

دلته خو دا شبهه کیدی سې چې په دین کې زور نسته دلته دا زور او جبرولې وکړل سو، جواب دا دی چې زور په ایمان راوړلو کې نسته، بلکه داپه دې وجه دی چې دوی اول خوایمان اواسلام په خوښه قبول کړی وو، اوبیاددې څخه بغاوت کړی وو، دباغیانوسزا په ټولوحکومتونوکې هم دعاموم‌مخالفو او دښمنانو څخه جلاوی، د دوی دپاره په هرحکومت کې دوې طریقې وی یااطاعت قبلول یاقتل، په دې وجه په اسلام کې دمرتد سزا قتل ده او دکفر سزا قتل نه ده.

ثُمَّ تَوَلَّيْتُمْ مِّنْ بَعْدِ ذٰلِكَ ۚ فَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ لَكُنْتُمْ مِّنَ

بیاتاسې وګرځیدلاست دی څخه وروسته نوکه چیری نه وای دا الله ﷻ فضل پرتاسې او دهغه مهربانی نو

الْخٰسِرِيْنَ ﴿٦٤﴾

ضرورتاسې به تباه سوی وای.

لنډتفسیر: بیاتاسې ددې قول او اقرار څخه وروسته هم (ددې څخه) وګرځیداست نوکه چیری په خلګو باندې دالله ﷻ فضل او رحم نه وای (نو ددې وعدې ماتولو تقاضاخو دا وه چې) ضرور تاسې (فوراً) اتباه (اوهلاک) کیداست (لیکن زمونږ عنایت او عامه مهربانی ده چې دمجازی ژوند ترخیمیدو پورې مهلت درکړل سوی دی، لیکن ترڅو؟ اخر به مرګ څخه وروسته دعملونو په سزا کې اخته کیږي)

فائده: په دنیاکې دالله ﷻ رحمت عام دی په مومن اوکافر دواړو باندې دی چې دهغه اثر اونښانه عافیت او دنیاوی راحت دی، دخاص رحمت ظاهریدل به په اخرت کې وی چې دهغه اثراونښانه خلاصی اوالله

ﷻ ته نژدیکت دی ، په ظاهره ددې آیت دا خری برخی مخاطب هغه یهودیان دی کوم چی درسول الله ﷺ په وخت کی وه اوهرکله چی په رسول ﷺ باندی ایمان نه راوړل هم دوعدې په ماتولوکی دا خل دی ، نو په دی وجه دوی هم په وعدې ماتوونکو کی یی شامل کړه ، او دمثال په توګه یی وویل چی په دی باندی مونږهم په تاسی په دنیاکی څه داسی عذاب نازل نه کی لکه څنګه چی به مخکی په وعده ماتوونکو باندی نازلیدی دا محض دخدای رحمت دی ، اوهرکله چی اوس داحادیثو دڕنا دمخه دداسی عذابونو نه راتلل درسول ﷺ برکت دی ، نو په دی وجه بعضی مفسرینو دفضل اورحمت تفسیر په بعثت محمدیه ﷺ سره کړي دی ، ددی مضمون دتائید دپاره دتیرو سوو بی ایمانه خلګو یوه قصه په دی وروسته ایاتونوکی ذکر کیږی .

وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ الَّذِيْنَ اعْتَدَوْا مِنْكُمْ فِي السَّبْتِ

اوتاسی ته ښه معلوم دی هغه خلق چی پرتاسی یی زیاتوب کړي دی دشنبې په ورځ

فَقُلْنَا لَهُمْ كُوْنُوْا قِرَدَةً خٰسِـِٕيْنَ ﴿٦٥﴾ فَجَعَلْنٰهَا نَكَالًا لِّمَا بَيْنَ

نومونږ وویل هغوی ته چی سئ بیزوګیان ذلیله ، بیا وګرځوله مونږ دا واقعه ، عبرت دهغه خلګو

يَدَيْهَا وَمَا خَلْفَهَا وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿٦٦﴾

دپاره چی هلته کی وه او وروسته رانلونکو دپاره ، او نصیحت د بیریدونکو دپاره

لنډتفسیر: اوتاسی پیژنی دهغو خلګوحال چی هغوی ترتاسی (شرح دحدنه) تجاوز کړی وو په باره (دهغه حکم کی چی) دشنبې (خالی) دورځی متعلق ووچی په دی ورځ کی دماهی ښکار مه کوی نومونږ دوی ته په خپل حکم تکوینی قهری سره مسخ کولو دپاره) وویل چی تاسی ذلیل اوخوار بیزوګیان سی (نوهغوی دبیزوګیانو په شکل مسخ سوه، بیامونږ دغه (واقعه) عبرت (پیداکوونکی) جوړه کړه دهغه خلګو دپاره هم چی ددې قوم په زمانه کی وه او دهغو خلګو دپاره چی په وروسته وخت کی راتلونکی وو او (هم دا واقعه) دنصیحت سبب (جوړکی خدای ﷻ) دبیردونکی دپاره .

فائده : دا واقعه هم دبنی اسرائیلو ده او دحضرت داود دزمانی ده ، دبنی اسرائیلو دپاره شنبیی ورځ بزګه اودعبادت کولو ورځ وه او دماهی ښکارهم په دغه ورځ منع کړل سوی وو ، داخلګ د دریاب په غاره اباد وو او دماهی شوقیان وه ، داحکم یی ونه منی او ښکاریی وکي ، نو الله ﷻ په دوی داعذاب نازل کی چی شکل یی ورلره مسخ کی دبیزوګیانو په شکل سو او دری ورځی وروسته تول مړه سو ، ددی واقعی لیدونکی او اوریدونکي دوه قسمه خلق وه ، فرمانبرداره اونافرمانه نو دنافرمانو دپاره داواقعه دنافرماني څخه دتوبی کولو دپاره وه ، په دی وجه دی ته یی نکال ، ویلي دی اوفرمانبردار دپاره دا داقعه په فرمانبرداری باندی قائم پاته کیدو دپاره وه نو په دی وجه دی ته موعظه هم ویل کیږی .

علوم اومسئلې

(په دیني کارونو کې داسې حیلې جوړول چې دهغه په وجه شرعي حکم باطلیږي حرام دی)

په دې آیت کې چې دیهودو څخه کوم ترحد تجاوز سوی دی اوهغه دعذاب سبب هم ښوول سوي دی ، هغه لکه چې درواياتو څخه ثابته ده ، په داګه دشرعي حکم خلاف ورزی نه وه ، بلکه داسې حیلې اوبهانې وې ، چې په هغه سره حکم شرعي باطل کیدی ، مثلاً دشنبې په ورځ به یې دماهي په لګی کې دیوه تارغوټه واچوله اوپه دریاب کې به یې ایله کې او دا تاربه یې په مځکه دڅه شي سره وتړی، اوبیابه یې دیکشنبې په ورځ ونیوی ، خوړی به یې ، دا خو یو داسې حیله ده چې په دې سره دشرعي حکم باطلول خو پریږده ، دشرعي حکم سره توقي کول دي نوپه دې وجه داسې حیله کوونکې ډیر لوی سرکښته اونافرمانه وګرځول سوه اوعذاب پرنازل سو ، لیکن ددې څخه دهغو فقهي حیلو حرمت نه ثابتیږي ، چې په هغه کې بعضې پخپله نبي ﷺ ښوولې دي ، مثلاً یو سیر ښه خرماؤ باندې دوه سیره خرابې خرماوې اخیستل په سود کې داخل دي ، لیکن ددې څخه دخلاصیدلو یوه حیله پخپله نبي ﷺ ښوولې وه ، هغه دا ده چې دجنس تبادله په جنس سره مه کوه ، دقیمت په ذریعې سره وکړه مثلاًدوه سیره خرماوې په دوو درهمو خرڅې کړه او بیاپه دې دوو درهمو، یوسیر ښه خرماوې واخله ، نو په داسې حیلې کولو سره دشرعي حکم تعمیل غرض دی اوباطلول یې غرض نه دی ، بلکه په واقع کې ګرسره باطل نه سو، هم دغه شان په نورو مسئلوکې هم فقهاؤ دحرامو څخه دخلاصیدو دپاره دغه رنګه تدبیرونه ښوولي دي ، دغه حیلوته دیهودو دحیلو په شان ویل اوګڼل غلط دي.

(دیهودو دشکل دمسخ کیدو واقعه)

په تفسیرقرطبي کې دي چې یهودو خو اول اول داسې حیلې کولې اوماهیان به یې نیول ، هم داسې وه چې بیایې په عامه ښکارکول شروع کړه ، په دوی کې دوې ډلې سوې ، یوه دعلماؤ اوصالحینو چې هغو به دوی دداسې کولو څخه منع کول لیکن دوی منع نه سوه ، نو د دوی سره یې د ورور ولي تعلقات ختم کړه او ورڅخه جلاسوه اوبله بیادوې حصې سوه ، چې په یوې کې دغه نافرمانه خلق پاته کیدل اوپه بله کې عالمان اوصالحین ، یوه ورځ دوی ته دامحسوسه سوه چې په کومه برخه کې دغه نافرمانه اوسیدل ، هلته چپه چپایي وه ، دوی چې هلته ورغله ، نووې لیدل چې دا ټول دبیزوګیانوپه شکل کې مسخ سوي وه ، او حضرت ابوقتاده ؓ فرمایي چې ځوانان یې دبیزوګیانو په شکل سوي وه اوبوډاګان یې دخنزیرپه شکل کې او دغه مسخ سوو بیزوګیانو خپل خپلوان اوتعلق لرونکي انسانان پیژندل او دوی ته به نژدې کیدل اوژړل به یې.

(دمسخ سوی قوم نسل نه پاته کیږي)

په دې باره کې صحیح خبره هغه ده چې پخپله درسول الله ﷺ څخه دعبدالله بن مسعود ؓ په روایت په صحیح مسلم کې نقل دي چې بعضو خلګو دخپلې زمانې دبیزوګیانو اوخنزیرانو په باره کې داپوښتنه وکړه چې ایادا خو هغه مسخ سوي یهودیان نه دي ؟ نبي ﷺ ورته وفرمایل چې الله ﷻ هرکله په یو قوم باندې دشکل مسخ کولو عذاب نازل کې نو ددغه قوم نسل نه پاته کیږي (بلکه په څو ورځوکي دننه دننه

هلاك سي اوختم سي) اوبيايي وفرمايل چي بيزوگيان اوخنزيران په دنيا كي دمخكي څخه موجود ور (او نن هم دي ، ليكن دمسخ سوو بيزوگيانو او خنزيرانو لره د دوی سره څه تعلق نسته .

په دي ځای كي بعضي مفسرينو دصحيح بخاري په حواله په بيزوگيانو دزناپه سزاكي دسنگسار كولو يوه واقعه نقل كړي ده ، ليكن دا واقعه نه ده صحيح ، نه دبخاري په صحيح نسخوكي سته اونه دروايت په اعتبار صحيح ده ، قرطبي په دي ځای كي ددي تفصيل ذكر كړي دي .

وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِۦٓ إِنَّ ٱللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تَذْبَحُوا۟ بَقَرَةً ۖ قَالُوٓا۟ أَتَتَّخِذُنَا

اوكله چي وويل موسى خپل قوم ته الله حكم كوی تاسي ته ذبح كي يوه غوا نوهغو وويل اياته په مونږ سره

هُزُوًا ۖ قَالَ أَعُوذُ بِٱللَّهِ أَنْ أَكُونَ مِنَ ٱلْجَٰهِلِينَ ﴿٦٧﴾

خنداكوی هغه وويل پناه غوارم په خدای چي سم زه دجاهلانو څخه ،

تفسير: او (هغه وخت يادكي) هر كله (حضرت موسى ﷺ) خپل قوم ته وفرمايل چي الله ﷻ تاسي ته حكم كوی (كه چيری دمړی دوژونكي درك لگول غواړی) نوتاسي يوه غواذبح كي هغوی وويل چي آياته مونږ سره توقی كوی (كوم ځای چي دقاتل تلاش اوچيری چي دحيوان ذبح كول ددی دواړوڅه مناسبت دی) موسى ﷺ وفرمايل نعوذبالله زه دداسي جاهلانوپه شان كار وكرم (چي دخدای په حكمونوكي توقی كول شروع كړم)

فائده : دا واقعه داسي وسوه چي په بني اسرائيلو كي يو قتل وسو ، چي دهغه وجه دمشكوٰة په شرح مرقاة كي داليكلي ده چي يوسړی ددی وژل سوی سړی څخه لور په نكاح غوښتی وه ليكن دي سړی انكار كړی وو نو په دي وجه دغه سړی دانجلي پلارقتل كی ، بيادقتل درك نه لگيدی .

اومعالم دكلبي رحمه الله دا قول نقل كړي دی ، چي دغه وخته پوری ، په تورات كي ددی متعلق څه شرعي قانون هم نازل سوی نه وو ، ددی څخه دا معلوميږی چي داقصه دتورات ترنازليدومخكي ده .

خير بني اسرائيلو موسى ﷺ ته عرض وكی چي مونږ دا غواړو چي قاتل معلوم سی ، نو موسى ﷺ ورته دالله ﷻ په حكم ديوی غوا د ذبح كولو حكم وكی نو دوی دخپل مزاج عادت اوفطرت مطابق په دی كي چينجی را ايستل شروع كړه ، په راتلونكو اياتونو كي ددې تفصيل دی .

قَالُوا۟ ٱدْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّن لَّنَا مَا هِىَ ۚ قَالَ إِنَّهُۥ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٌ

دوی وويل چي دعا وغواړه زمونږ دپاره دخپل پروردگار څخه چي وښيي مونږ ته چي دا غوا څنگه ده هغه وويل

لَّا فَارِضٌ وَلَا بِكْرٌ عَوَانٌۢ بَيْنَ ذَٰلِكَ ۖ فَٱفْعَلُوا۟ مَا تُؤْمَرُونَ ﴿٦٨﴾

چي الله فرمايي چي دا يوه غوا ده نه زړه او نه كوچنی ، دبوډی والی اودزرتوب په مينځ كي ده اوس وكی كوم چي

قَالُوا ادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّنْ لَنَا مَا لَوْنُهَا قَالَ إِنَّهُ يَقُولُ إِنَّهَا

تاسی ته حکم کړل سو دی ، دوی وویل چې دعا وکړه زمونږ دپاره دخپل پروردګار څخه چې وښیې مونږ ته چې څه

بَقَرَةٌ صَفْرَاءُ فَاقِعٌ لَوْنُهَا تَسُرُّ النَّظِرِينَ ﴿٦٩﴾ قَالُوا ادْعُ لَنَا

رنګ دی ددې رنګ هغه وویل چې الله پاک فرمایي چې دا یوه غواده بنه تکه ژړه ددې ژړوالی خوشحالوی کتونکی

رَبَّكَ يُبَيِّنْ لَنَا مَا هِيَ إِنَّ الْبَقَرَ تَشَٰبَهَ عَلَيْنَا وَإِنَّا إِنْ

دوی وویل چې دعا وکه زمونږ دپاره دخپل پروردګار څخه چې وښیې مونږ ته چې دا څه قسم غواده څکه چې په دی

غواکی شبه ده مونږ ته او مونږ که.

شَاءَ اللَّهُ لَمُهْتَدُونَ ﴿٧٠﴾ قَالَ إِنَّهُ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٌ لَا ذَلُولٌ

خدای وغواړی ضرور لاره به پیدا کړو ، هغه وویل چې الله پاک فرمایي چې دا یوه غوا ده کار نه کوی

تُثِيرُ الْأَرْضَ وَلَا تَسْقِي الْحَرْثَ مُسَلَّمَةٌ لَا شِيَةَ فِيهَا قَالُوا

نه مځکه اړوی او نه فصل ته اوبه ورکوی بی عیبه ده څه داغ په کی نسته ، دوی وویل

الْـَٰٔنَ جِئْتَ بِالْحَقِّ فَذَبَحُوهَا وَمَا كَادُوا يَفْعَلُونَ ﴿٧١﴾

اوس دی وکړه صحیح خبره بیا یی دا ذبح کړه او دوی نه وه چې داسی وکړی.

لنډتفسیر: دی خلګو وویل چې ته وغواړه زمونږ دپاره دخپل پروردګار څخه چې مونږ ته بیان کوی چې ددې (غوا) څه صفتونه دی ، نو موسی ﷺ وفرمایل چې هغه (زما دغوښتنی په جواب کی) دا فرمایي چې دا دداسی غوا وی چې نه بوډی وی اونه سخوندره بلکه د دواړو عمر په مینځ کی نو اوس (زیاتی چینجی مه لټوی بلکه) ، وکی چې دڅه حکم تاسی ته سوی دی ، دوی وویل چې (بنه دا هم) وغواړه زمونږ دپاره دخپل پروردګار څخه چې مونږته (دا هم) بیان کړی چې ددې رنګ به څه وی نوموسی ﷺ وفرمایل چې (ددې متعلق) الله ﷻ دا فرمایي چې دا دی دیو ژړ رنګ غوا وی چې رنګ یی تک ژړ وی اوکتونکی خو شحالوی ، دوی وویل (اوس بیا او) زمونږ دپاره دخپل رب څخه پوښتنه وکړه چې (داولنی سوال جواب دی لږ نور واضح) مونږ ته بیان کړه چې ددې صفتونه به څه وی؟ څکه چې مونږ ته په دی غواکی (څه اشتباه (داباقی) ده (چې دا به عام قسم غواوی یاڅه عجیبه قسم غوا ، چې په هغه کی دقاتل درک لګول څه خاص تاثیر وی) او مونږ ضرور انشاء الله تعالی (دا وار) بنه به پوه سو ، موسی ﷺ جواب ورکی چې الله ﷻ داسی فرمایي چې دا (څه عجیبه اونا اشنا حیوان نه دی ، دغه عام قسمه غواده البته دومره خبره ده

چې اعلى دي وي ددغه ذکر سوو صفتونو سره) دې داسې وي چې يوې نه کوي مخکه په اړول کيږي اونه
(په څاه ترلې وي چې) دهغه سره دفصل اوبه راکښل کيږي (مطلب دا چې دهرقسم عيب څخه) خلاص
وي اوپه دې کې (دڅه قسم) څه داغ نه وي (دايې چې واوريدل) په وينا سو چې (او) اوس تا پوره (او
واضحه) خبره وکړه (لنډه داچې حيوان يې ولټوی او وايې خيسته) بيايې ذبح کړه اوحال دا ووچې په
ظاهره ددې کوونکی نه معلوميدل .

فائده : په حديث شريف کې دی که چيري دوی داچينجی لټول نه کولی نو دومره قيدونه اوشرطونه به په
دوی نه واي لګيدلی ، اوکومه غوا يې چې ذبح کړې وی نوهغه به کافی سوې واي اوکار به په سوی واي .

وَإِذْ قَتَلْتُمْ نَفْسًا فَادّٰرَءْتُمْ فِيهَا ۖ وَاللّٰهُ مُخْرِجٌ مَّا كُنْتُمْ

اوکوم وخت چې وژلی وو تاسې يوسړی بيا پر يو او بل به مو واړول او الله ﷻ خوڅرګندونکو وو چې کوم تاسې

تَكْتُمُونَ ﴿٧٢﴾ فَقُلْنَا اضْرِبُوهُ بِبَعْضِهَا ۚ كَذٰلِكَ يُحْيِ اللّٰهُ

پټوی ، بيامونږ وويل ووهی دا مړی دغوا په يوه ټوټه دغه شان ژوندی به کې الله ﷻ

الْمَوْتٰى وَيُرِيكُمْ اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿٧٣﴾

مړی اوښيې تاسې ته دخپل قدرت نمونې چې تاسې فکر وکې

تفسير: او(هغه زمانه ياده کې) کوم وخت چې په تاسې (کې يوکس) يوسړی ووژی بيا (دخپلې صفايی
دپاره يې) په يوبل باندې اړول شروع کړه اوالله ﷻ ته ددې شی څرګندول منظور وو چې هغه په تاسې (کې
مجرمانو اومشتبهوخلګو) پټ لرل غوښتل نو په دې وجه (دغواذبح کولو څخه وروسته) مونږ حکم وکې
چې ددې (وژل سوی په کالبوت) ددې (غوا) څه ټکړه ولګوی (نوپه لګولوسره هغه ژوندی سو، ورپسې
الله ﷻ دقيامت منکرينوته ددې قصې څخه ددليل اومثال په توګه فرمايي چې) دغه رنګه الله ﷻ (په
قيامت کې) مړی به ژوندی کړی اوالله ﷻ دخپل قدرت مثالونه تاسې ښيې په دې اميدچې تاسې دعقل
څخه کار واخلئ (او ديوه مثال په وجه د دوهم مثال دانکارکولو څخه منع سی ،

فائده : کله چې دې مړی سره دا کار وکړل سو نوهغه ژوندی سو اوهغه دقاتل نوم وښووی اوبيا ژرمړسو .
دلته دمقتول بيان يوازې په دې وجه کافي سو چې حضرت موسی ﷺ ته دوحی په ذريعه معلومه سوې
وه چې دا مقتول به ربښتياوايي اوکه داسې نه وی نوبيايوازې دمقتول په بيان سره بغيردڅه شرعی
شهادت څخه پرچاباندې دقتل ددعوی ثبوت کافي نه وو .

دلته داشبهه کول هم صحيح نه دی ، چې الله ﷻ دمړی ژوندی کولو خو دغسې هم قدرت درلودی ، يا
دمقتول دژوندی کولو څخه بغير دقاتل نوم يې ښوولی سوای ، بيا ددې دومره معاملې ضرورت څه وو؟
خبره داسې ده ، چې دالله ﷻ يوکارهم دضرورت اومجبوری په وجه نه وی ، بلکه دمصلحت اودحکمت

دپاره وي او دهري واقعي حکمت دالله ﷻ دعلم په احاطه کي راتلي سي اونه مونږ مکلف يوچي دهري واقعي حکمت معلوم کړو اونه داضروري ده چي دهري واقعي حکمت زمونږ ترپوهي لاندي راسي ددي وجي بنه طريقه منل اوچپ کيدل دي پرځاى ددي يي مونږ په دي کي عمر ضائع کوو.

ثُمَّ قَسَتْ قُلُوْبُكُمْ مِّنْ بَعْدِ ذٰلِكَ فَهِيَ كَالْحِجَارَةِ اَوْ اَشَدُّ قَسْوَةً ؕ وَاِنَّ مِنَ

بيا ستاسي زړونه سخت سول ددي تولو څخه وروسته نو هغه سوه لکه کاني يادهغه څخه هم سخت او

الْحِجَارَةِ لَمَا يَتَفَجَّرُ مِنْهُ الْاَنْهٰرُ ؕ وَاِنَّ مِنْهَا لَمَا يَشَّقَّقُ فَيَخْرُجُ

په کانوکي خو داسي هم دي چي دهغوي څخه بهيږي نهرونه او په دوي کي داسي هم سته چي چوي اووزي

مِنْهُ الْمَآءُ ؕ وَاِنَّ مِنْهَا لَمَا يَهْبِطُ مِنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ ؕ وَمَا

ورڅخه اوبه او په دوي کي داسي هم سته چي رارغړي دالله ﷻ دبيري څخه او

اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۷۴﴾

الله ﷻ بي خبره نه دي ستاسي دکارونو څخه.

لنډتفسير: (دتيرو واقعاتو څخه دنه متاثرکيدلو په وجه دشکايت په توګه ارشاد کيږي) دداسي واقعاتو څخه وروسته (په کار وه چي ستاسي زړونه نرم اودالله ﷻ دلويي څخه ډک وي، ليکن) ستاسي زړونه بياسخت پاته سوه (نو داسي ويل په کار دي چي) د دوي مثال دکاني دي (ياداسي ووايه چي دا) په سختي کي د دوي څخه (هم) زيات (دي) او (زيات سخت ددي وجي څخه ويلي سي چي) بعضي کاني خو داسي دي چي دهغوي څخه (لوي لوي) نهرونه راوتلي بهيږي اوپه دي کانو کي څه داسي دي چي چوي، بيا د دوي څخه (که چيري زياتي نه وي نولږ غوندي) اوبه را وزي اوپه دي کانو څه داسي دي چي دالله ﷻ دبيري څخه دلوړي څخه کښته رارغړي (اوستاسي زړونو کي هيڅ قسم اثر نسته) او(ددي سختي څخه چي کوم بدعملونه پيداکيږي اوصادريږي) الله ﷻ ستاسي (دغه) عملونو څخه خبره نه دي (ډير ژر به تاسي ته سزا درکي)

فائده: دلته دکانو دري اثره بيان سوي دي، اول دا چي د دوي څخه زياتي اوبه بهيدل دوهم لږغوندي اوبه را وتل اوبهيدل په دي دووکي چاته هيڅ قسم شك اوشبهه نسته دريم داچي دالله ﷻ دبيري څخه کښته را رغړيدل، په دي دريم کي ممکنه ده چي چاته شك اوشبهه عارضه سي، ځکه چي دکانو خوعقل اوحس نه وي نوبياڅنګه دي دالله ﷻ دبيري څخه رغړي، ليکن دلته دا خيال کي اچول په کار دي، چي دبيري دپاره دعقل ضرورت نسته لکه په حيوانانوکي، چي هغه عقل نه لري خوبياهم دبيري مشاهده اوليدل کيږي. البته دحس ضرورت نسته، ليکن په کانوکي د دومره حس نه لرلو دپاره هم څه دليل

نسته، څکه چې حس په ژوند باندې ولاړ وي او ډیره ممکنه ده چې په دوی کې داسې باریك ژوندوي چې هغه دې زمونږ دعلم څخه بهر وي، لکه ددماغ داحساس ډیروعاقلانو نه پته نسته، لیکن هغوی یوازې ددلیلونو په وجه ددې قائل دي، نوطبي دلیلونو دقران دظاهري نص، دلالت اوقوت هیڅکله هم کم نه دی (یعني دقرآن ظاهري نص څخه د دوی داحساس درك لګیږي)

بیا زمونږ دا دعوی نه ده چې دکاني درغړیدو وجه، همیشه بیره وي، څکه چې الله ﷻ دافرمایلي دي چې بعضې کاني دبیرې څخه وغړي نو ډیره ممکنه ده چې درغړیدو اسباب دي ډیر اومختلف وي، چې په هغه کې بعضې طبعي وي اوځه دالله ﷻ بیره وي.

دلته د درو قسمو کانو په ذکرکې چې کوم ترتیب ورکول سوې دی، هغه نهایت درجه باریك اودمقصود اوغرض دښولو دپاره نهایت بلیغ دی، هغه داسې چې په بعضو کانوکې اثرقبلول دومره قوي وي چې دهغه څخه نهرونه بهیږي او دخدای ﷻ مخلوق ورڅخه فائده اخلي خو ددې یهودیانو زړونه داسې هم نه دي چې دخدای ﷻ دمخلوق په په تکلیف اومصیبت کې ویلاې سي اوپه بعضو کانوکې ددې څخه کم اثر قبلول وي چې دهغه څخه کمه فائده رسیږي نو دا کاني دمخکې کاني په مقابله کې کم نرم دي او د دوی زړونه ددغه دوهمې درجې دکاني هم سخت دي، اوپه بعضو کانوکې که څیرې ددې درجې اثر هم نه وي لیکن بیاخوبیو اثرسته چې دالله ﷻ دبیرې څخه لاندې رارغلي دي که په درجه کې ترمخکې قسمونو هم کم دي، لیکن د دوی زړونه ددې کمزورې درجې اثرقبلول هم نه لري.

أَفَتَطْمَعُونَ أَنْ يُؤْمِنُوا لَكُمْ وَقَدْ كَانَ فَرِيقٌ مِّنْهُمْ يَسْمَعُونَ

اوس آتاسې اې مسلمانانو امیدلرئ چې دوی به ومني ستاسې خبرې او په دوی کې یوه ډله وه چې اوریدې به یې

كَلَامَ اللَّهِ ثُمَّ يُحَرِّفُونَهُ مِن بَعْدِ مَا عَقَلُوهُ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ۝٧٥

دالله ﷻ کلام بیا به یې بدلوې دا پوهې باوجود او دوی پوهیدل.

لنډتفسیر: مسلمانانو چې دیهودو په مسلمانولوکې کوم کوشش کوی اوپه دې لړکې یې تکلیفونه برداشت کول، نو په دې آیت کې دیهودو دحالاتو او واقعاتو دښوولو اوریدلوڅخه وروسته دمسلمانانو امید د دوی څخه پریکوي.

(اې مسلمانانو) آیا (ددې ټولو قصو داوریدلو وروسته) اوس هم تاسې امیدلرئ چې دا (یهودیان ستاسې په وینابه ایمان راوړي حال دا دی (چې ددې ټولو ذکر سوو قصو څخه یوه زیاته خبره هم دوی کړې ده چې)، په دوی څه داسې خلق تیرسوي دي چې دخدای ﷻ کلام به یې اوریدې اوبیابه یې بدلوی (او) په دې دپوهیدو وروسته (داسې به یې کول) او(عجیبه خوداهم ده) چې پوهیدل به (چې مونږ بد کوو یوازې دنفساني غرضونو دپاره به یې دارنګه کول)

فائده: مطلب دا سو چې کوم خلق دومره بې باکه اودخواهشاتو نفسانیو قیدیان سي، هغه دچاپه وینا کله منع کیږي دبدوکارونو څخه اوهغه کله دچا دا اوري، دکلام الله څخه مراد یاخو تورات دی او دسماع

يعني داوريدوڅخه مراد دپيغمبرانوپه واسطه اوريدل دي اودتحريف څخه مراد ددې كلام په بعضو الفاظو ياتفسيركې او ياپه دواړوكې بدلول دي اويامراد دكلام الله څخه هغه كلام دى چې كومو اوياكسانو دموسى ﷺ دتصديق په باره كې په كوه طور كې اوريدلى وو ، او دسماع څخه مراد په دې تقدير او ريدل بغير دواسطې دي ، او دتحريف څخه مراد دا دي چې دوى قوم ته دا وويل چې په اخركې الله ﷻ دا هم فرمايلي وه چې په كوم حكم باندې عمل ستاسې څخه نه كيږي ، هغه تاسې ته معاف دى .

په دغه لوړو ذكر سوو قصوكې يوه قصه او واقعه هم دهغه يهوديانوڅخه سوې نه وه چې كوم دنبي ﷺ په زمانه كې وه ، ليكن هركله چې دې خلكو دخپلو تيرسوومشرانو ددغه كارونوڅخه نفرت نه كوى اوبدېي نه ګڼي ، نو په دې چې دوى هم حكما هغوى سره په دې قصو او واقعاتوكې شامل سوه .

وَإِذَا لَقُوا الَّذِينَ آمَنُوا قَالُوا آمَنَّا وَإِذَا خَلَا بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ قَالُوا أَتُحَدِّثُونَهُم

اوكله چې يوځاى كيږي دمسلمانانوسره نووايي مونږ مسلمانان سوي يو اوكله چې يوځاى سي ديوبل سره نو وايي

بِمَا فَتَحَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ لِيُحَاجُّوكُم بِهِ عِندَ رَبِّكُمْ ۚ أَفَلَا

تاسې ولې واياست دوى ته هغه چې ظاهره كړې ده الله ﷻ پرتاسې دى دپاره چې درواغجن به كړي تاسې په دې

تَعْقِلُونَ ﴿٧٦﴾

ستاسې دپروردګار په مخكې آيا تاسې نه پوهيږئ .

تفسير: اوكله چې يوځاى كيږي (منافق يهوديان) مسلمانانوسره نو (دوى ته خو) وايي چې مونږ (هم) ايمان راوړى دي اوكله چې يوازې سي دابعضې (منافقان يهوديان) نورو سره (ښكاره) يهوديانو سره (نوبيا دهغوى دملګرى تيا دپاره دهغوى پردين دكيدلو دعوى كوي په دغه وخت) كې دا (نور يهود) دوى ته وايي چې تاسې (دا) څه (عجيبه او ناكاره كوي چې) مسلمانانو ته (په غوره مالي كې) هغه خبرې ښيې چې (د دوى دمذهب دپاره فائده مندې) الله ﷻ (په تورات كې) تاسې ته ښوولى دى (ليكن مونږ يې دمصلحت په وجه پټوو) نتيجه به داسې چې دا خلق به تاسې په حجت كې كمزورى كړي چې (ګورى) دا مضمون دالله ﷻ (دطرفه ستاسې په كتاب كې راغلى) دى ، آياتاسې (په دې غټه غوندې خبره) نه پوهيږئ

فائده : منافقانو به كله داسې كول چې دغوره مالي دپاره او دخپل ايمان په رښتيا ظاهرولو دپاره مسلمانانوته به يې ويل چې په تورات كې درسول الله ﷺ په باره كې زيرى راغلى دى يادقرآن شريف په باره كې راغلى دى اوداسې نورې خبرې نونوروېهوديانوبه دغه خلق په داسې كاركولوباندې ملامت كول

أَوَلَا يَعْلَمُونَ أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا

آيا دومره هم نه پوهيږي چې الله پاك ته معلوم دى چې كوم دوى پټوى او

يَعْلَمُوْنَ ﴿٧٧﴾ وَمِنْهُمْ اُمِّيُّوْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ الْكِتٰبَ اِلَّآ اَمَانِيَّ

چې کوم څرګندوي ، اوبعضي په دوی کې اميان دي چې خبر نه لري دکتاب ما سوا د درواغجنانو آرزوګانو

وَاِنْ هُمْ اِلَّا يَظُنُّوْنَ ﴿٧٨﴾ فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ يَكْتُبُوْنَ الْكِتٰبَ

او دوی څخه څه نسته مګر خيالونه ، نو بربادي ده دوی لره چې ليکي کتاب

بِاَيْدِيْهِمْ ثُمَّ يَقُوْلُوْنَ هٰذَا مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ لِيَشْتَرُوْا بِهٖ

په خپلو لاسونو بيا وايي دا دخدای دطرف څخه دی دی دپاره چې واخلي په دی

ثَمَنًا قَلِيْلًا فَوَيْلٌ لَّهُمْ مِّمَّا كَتَبَتْ اَيْدِيْهِمْ وَوَيْلٌ لَّهُمْ

باندی لږ شان مال ، نو بربادي ده دوی له دخپلو لاسونو دليکلو څخه اوبربادي ده دوی له

مِّمَّا يَكْسِبُوْنَ ﴿٧٩﴾

دخپلې دی ګټې څخه .

لنډتفسير: ايا دوی ته ددې علم نسته چې الله ﷻ په هرڅه خبردی ، په هغه شيانو هم چې هغه دوی پټ لري او په هغه شيانو هم چې دوی يې څرګند وي (نوکه چيرې منافقانو دمومنانو څخه خپل کفر پټ کې نوڅه؟ او دی ملامت ګروکه درسول الله ﷺ دبشارت او نور مضمونه پټ کړه نوڅه وسوه ؟) الله ﷻ په ټولو خبردی ، دغه وجه ده چې الله ﷻ مسلمانان په دی مضمونونو ځای په ځای خبر کړې دی (په دی ايت کې ديهودو دويونکو خلګو ذکر وو وروسی دهغو ناويونکو خلګو ذکر داسی کوی چې)

اوپه دی (يهودو)کی ډيرناويونکی دی (هم) چې دکتاب علم نه لري ، ليکن (بغير دسند څخه) دزړه خوشحالولو خبري ورته (ډيری يادی وی) او دا خلق نور څه نه (بس داسی بی بنياده) خيالونه پخوا (او ددې وجه دا ده چې څه خو د دوی دعالمانو کمول اوګډون دی او زياته لا دا چې د دوی په پوهه کی کمی ده ، نوپه داسی صورت کی دوی ته دبی بنيادو خيالونوڅخه ماسوا دواقعی حقيقتونوتحقيق اوعلم څنګه حاصليدی سي ، لکه دپښتوژبی يومتل دی نيم حکيم خطره دځان وی.

اوهرکله چې د دوی په وهم پرستی کی د دوی دعالمانو دخيانت لوی لاس دی ، نو په دی وجه دغه عالمان په جرم اوګناه کی دخپلوعاموخلګوڅخه زيات سو ، ددې بيان اوس دلته کوی .

(هرکله چې دغه عوام دزجر او زورنی قابل دی او د دوی دجهل اصلی سبب د دوی عالمان دی) نولويه بربادي به دهغوی وی چې ليکی (ادل بدل) کتاب (تورات) په خپلو لاسونو اوبياعواموته وايي چې دا (حکم) دخدای ﷻ دطرفه څخه (هم داسی راغلی) دی (او) غرض يې (يوازی) دا وی په دی ذريعه څه لږ

غوندي نغدي واخلي نو لويه بربادي به ورته (مخکې) سي د دوی ددې (کتاب دتحريف) په وجه (هم) چې هغه دوی په خپلو لاسونو ليکلي وو اولويه بربادي به وی دوی ته ددې (نغديت) په وجه هم چې هغه به دوی اخيستي.

فائده: دعامو خلګو درضا دپاره په غلطی مسئلو ښودلو سره دوی ته څه مال اونور حاصليدي او دعوامو په نظر کې به يې وقار اولوی والی هم حاصليدي اوپاته کيدی، نو په دې غرض به يې په تورات کې لفظي اومعنوی تبديلي کوله، په دې ايت کې دداسې کولو دپاره وعيد واورول سو.

وَقَالُوا لَن تَمَسَّنَا النَّارُ إِلَّا أَيَّامًا مَّعْدُودَةً ۚ قُلْ أَتَّخَذْتُمْ عِندَ اللَّهِ

اووايي مونږ ته به هيڅکله اور راونه رسيږی مګر دشميرلو څوورځي ووايه اياتاسي اخيستي دی دالله ﷻ لخوا څخه

عَهْدًا فَلَن يُخْلِفَ اللَّهُ عَهْدَهُ ۖ أَمْ تَقُولُونَ عَلَى اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٨٠﴾

وعده چې اوس به هيڅکله خلاف ونه کړي الله ﷻ دخپل عهد څخه اوکه تپی پر الله ﷻ هغه چې تاسی ته معلومه نه ده

تفسير: اويهودو (داهم) ووېل هيڅکله به مونږ اور (د دوږخ) مسخ نه کړی (هم خو البته) مګر (ډيری) کمی ورځي چې (په ګوتو) شميرل کيږي (ای محمد ﷺ) ته (دوی ته) داسي ووايه اياتاسي خلګو دالله څخه (ددې متعلق) څه وعده اخيستي ده، چې په هغه کې به الله خلاف نه کوی يا(موو‌عده اخيستي نه ده بلکه هم داسي) دالله ﷻ په زمه داسي خبري لګوی چې دهغه څه علمي سند دځان سره نه لري.

فائده: ديهدو ددی خبری مفسرينو مختلف بيانونه کړي دي چې په هغه کې يوبيان دا دی چې دا ثابته خبره ده چې مومن که چيري ګنهګار وی نودګناه په قدر اواندازی به د دوږخ په عذاب عذابيږی ليکن د ايمان په وجه هغه به د دوږخ په هميشه عذاب کې نه وی څه زمانه وروسته به خلاصی پيداکوی، نو ديهودو ددعوی حاصل دا وو چې هرکله د دوی په خيال دموسی ﷺ دين منسوخ نه دی نوپه دی وجه دوی مومنان دی دحضرت عيسی ﷺ اودحضرت محمد ﷺ دنبوت څخه دانکارکولوپه وجه کافران نه دی ، نو که چيری دګناه په وجه دوږخ ته ولاړسی هم، نوبيابه را ويستل سی، اوهرکله دا دعوی لور په لوړه تيره کول دی څکه چې دموسی ﷺ دين دهميشه والی دعوی خوغلطه ده نودحضرت عيسی ﷺ او حضرت محمد ﷺ دنبوت څخه دانکارپه وجه داخلق کافران سوه اودکافرو دپاره په دوږخ کې دڅو ورځو تيرلوڅخه وروسته خلاصون پيداکول په کوم اسماني کتاب کې نسته، چې دهغه څخه الله ﷻ په وعده سره تعبير دلته وکی نو ثابته سوه چې دا دعوی بغير ددليل څخه ده، بلکه ددليل خلاف ده.

بَلَىٰ مَن كَسَبَ سَيِّئَةً وَأَحَاطَتْ بِهِ خَطِيئَتُهُ فَأُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ ۖ هُمْ

ولی نه چاچې ګناه وکړه او راګيرکی دی خپلی ګناه نو بس دی، دی د دوږخ اوسيدونکی او دوی به په دی کی

فِيهَا خٰلِدُونَ ﴿٨١﴾ وَالَّذِينَ اٰمَنُوا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ أُولٰٓئِكَ

همیشه وی اوچاچی ایمان راوړی وی او ښه عمل یی کړی وی دغه

أَصْحٰبُ الْجَنَّةِ هُمْ فِيهَا خٰلِدُونَ ﴿٨٢﴾

دجنت اوسیدونکی دی او په جنت کی به همیشه وی

لنډتفسیر

(په اور کي دهمیشه دپاره دپاته کیدو ضابطه)

دخوورخوڅخه ماسوا تاسی به د دوږخ اور کی ولی نه پاته کیږی بلکه همیشه همیشه پوری په دی کی پاته کیدل ضروری دی ځکه چی زمونږ قانون اوقاعده دا ده چی ، څوك قصدا اواراده بدکارونه کوی او په ده باندی دا ګناه (اوقصور دارنګه) احاطه وکړی (چی هیڅ په کنبی دنیکی اثرهم نه وی) نوداسی خلق دوږخیان دی (او) دوی به په دی کی همیشه دپاره پاته کیږی اوکوموخلګوچی (په الله ﷻ او رسول) ایمان راوړی وی اوښه کاونه یی کړی وی داسی خلګ به جنتیان وی (او) دوی به په دی کی همیشه وی.

فائده : دګناهونو داحاطی چی کومه معنی مخکی وسوه داسی احاطه په کافرانو پوری خاصه ده ځکه چی د دوی دکفر په وجه د دوی څه نیك کارقبول نه وی بلکه که چیری دکفرڅخه مخکی یی څه ښه کار کړی وی ، هغه هم دکفر په وجه ضائع کیږی ، نو په دی وجه پ. کافروکی دسرڅخه ترپښوپوری بدکار وی چی دهغه جزا به ابدی جهنم وی ، په خلاف دمومنانوځکه چی اول دهغوی ایمان پخپله یولوی عمل صالح دی ، اونور فرعی عملونه د دوی په عملناموکي درج کیږی ، نو په دی وجه دوی دنیکی داثره خالی نه دی نو دغه مذکوره احاطه دګناهونو د دوی په حالت نه صادقیږی.

لنډه دا چی کله کافر ددی له مخه ابدی جهنمی کیدل ثابت سو ، اوهرکله چی حضرت موسی ؑ خاتم الانبیانه دی نو ددی وروسته حضرت عیسی ؑ اوحضرت محمد ﷺ هم پیغمبران دی یهود چی د دوی څخه انکارکوی ، نو په کافرانو کي شامل سوه نوپه دی وجه ددی قاعدی دمخه دوی هم همیشه په اور کی به وی او د دوی دا مخکي دعوی په قطعی دلیل سره باطله سوه.

وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَ بَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ لَا تَعْبُدُونَ إِلَّا اللّٰهَ وَبِالْوٰلِدَيْنِ إِحْسَانًا

اوکله چی مونږ واخیستی اقراردبنی اسرائیلوڅخه چی عبادت مه کوی مګردالله ﷻ اودمورا وپلارسره ښه سلوك

وَذِي الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِينِ وَقُولُوا لِلنَّاسِ حُسْنًا

کوی اوخپلوانو سره اویتیمانو سره اومسکینانو سره او وایاست تولو خلګوته ښه خبره

وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ ۭ ثُمَّ تَوَلَّيْتُمْ اِلَّا قَلِيْلًا مِّنْكُمْ

اولمونځ او دروی اوزکات ورکوی بیا تاسی وا وښتلات مګر لږ ستاسی څخه

وَاَنْتُمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿۸۳﴾

اوهم تاسی اوښتونکی یاست.

لنډتفسير: او(هغه وخت یادکی) مونږ واخیسته (په تورات کی) قول او اقرار دبنی اسرائیلوڅخه چی عبادت مه کوی (دچا) بغیردالله ﷻ او دمور اوپلاربښه قسمه خدمت کوی او دخپلوانو هم اودبی پلاره کوچنیانو هم او دغریبو محتاجینوهم اودعاموخلګوسره (کله څه) خبره (کو ل وی نو) په ښه طریقه (خوش اخلاقی سره) کوی اوپابندی کوی دلمانځه او اداکوی زکوة بیاتاسی (اقرار وکی) اوددی څخه وا وښتلاست دڅوکسانوڅخه ماسوا اوستاسی خو عادت دی اقرار کول اوبیا ورڅخه اوښتل.

فائده: داڅوکسان هغه دی چی دتورات پوره پابندوه دتوراة دمنسوخ کیدلو وړاندی دحضرت موسی ؑ دشریعت پابندوو، اوکله چی توراة منسوخ سو نو دشریعت محمدیه پابند سوه.

مسئله: ددی ایته څخه معلومه سوه چی داحکمونه په اسلام او مخکنیو شریعتونوکی شریك دی چی هغه توحید، دمور اوپلار قریبانو، یتیمانو مسکینانو خدمت او دټولو انسانانو سره په خبرو کولو کی نرمی اوخوش اخلاقی کول لمونځ ادا کول او زکوة ورکول دی.

(په تعلیم اوتبلیغ کي دکافروسره هم په خبروکي سختي کول صحیح نه دی)

قُوْلُوْا لِلنَّاسِ حُسْنًا: څخه مراد، قولاً ذا حسن، دی چی دهغه مطلب دا دی چی کله دخلګو سره خبره کوی، نو خبره په نرمی کوی په خندا اوخلاص زړه یی کوی برابره خبره ده که مخاطب نیك وی اوکه بد، که سني وی که بدعتی، البته ددین په معامله کی سستی اوحق پټول مه کوی وجه دا ده چی کله موسی اوهارون علیهم السلام، الله ﷻ فرعون ته ولیږل نو دا هدایت یی ورته وکی چی قَوْلًا لَّهٗ قَوْلًا لَّيِّنًا، نن چی کوم خبری کوونکی دی هغه خو دحضرت موسی ؑ څخه غوره نه دی اومخاطب هرڅومره که بدسی خو دفرعون څخه خو زیات بد او خبیث کیدی نه سی.

طلحه بن عمر ؓ وایی چی مادتفسیراوحدیث امام عطا ؒ ته وویل چی تاڅخه دفاسدی خرابی عقیدی خلق هم راجمع کیږی لیکن زماپه مزاج کی خوتیزی ده ماڅخه چی داسی خلق راسی نوزه هغوی څه سختی خبری کوم حضرت عطاوفرمایل چی داسی مه کوه ځکه چی دالله حکم دی چی، قُوْلُوْا لِلنَّاسِ حُسْنًا، په دی کی خویهودی اونصرانی هم داخل دی، مسلمان که هرڅنګه وی هغه به دی کی ولی داخل نه وي (قرطبی)

وَاِذْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَكُمْ لَا تَسْفِكُوْنَ دِمَآءَكُمْ وَلَا تُخْرِجُوْنَ اَنْفُسَكُمْ مِّنْ

او کله چی مونږ واخیسته وعده تاسی څخه چی نه به کوی مرګونه په خپل مینځ کی اونه به باسی خپل ځانونه

دِيَارِكُمْ ثُمَّ أَقْرَرْتُمْ وَأَنْتُمْ تَشْهَدُونَ ﴿۸۴﴾

دخپل وطن څخه بیا تاسي اقرار وکی او تاسي یې منئ .

لنډتفسیر: وړاندي چي کوم عهد میثاق اخیستی سوی وو دا ایت دهغه دبیان تتمه ده ، نو ارشاد دی .
او(هغه وخت یادکی) کله چي مونږ ستاسي څخه دا قول او اقرار(هم) واخیستی چي (په خانه جنګی سره
دیوبل ویني مه تویوی او یوبل ته دوطن څخه په پرېښوولو باندي مه مجبور وی بیا)(زما ددې اقرار په
اخیستو باندي) تاسي اقرار هم وکی (ضمنانه ، بلکه) داسي لکه تاسي (په دې) شهادت (هم) ورکوی .
فائده :کله دچادبیان څخه دیوشي اقرار کولو بوی راځي ، او په ډاګه اقرارنه وی خوبیا عرفاوعقلا دا
اقرار وګڼل سی لیکن دلته ،ثُمَّ أَقْرَرْتُمْ : دا شبهه هم لیری کړل سوه اودا وښوول سوه ، چي دا اقرار دومره
په ډاګه او واضح وو لکه څنګه چي شهادت واضح وی دوطن په پرېښوولو دمجبوره کولو مطلب دا دی ،
چي چاته ازار اوتکلیف مه رسوی چي هغه ددې ازار څخه تنګ سی اوپه وطن پرېښوولو مجبوره سی .

ثُمَّ أَنْتُمْ هَٰؤُلَاءِ تَقْتُلُونَ أَنْفُسَكُمْ وَتُخْرِجُونَ

بیا تاسي هغه خلق وی چي داسي به مووینی تویولی په خپل مینځ کی او ایستله به مو خپله

فَرِيقًا مِنْكُمْ مِنْ دِيَارِهِمْ تَظَاهَرُونَ عَلَيْهِمْ بِالْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ

یوه فرقه دخپل وطنه څخه غلبه کوی تاسي پر هغوی باندي په ګناه او ظلم سره

وَإِنْ يَأْتُوكُمْ أُسَارَىٰ تُفَادُوهُمْ وَهُوَ مُحَرَّمٌ عَلَيْكُمْ إِخْرَاجُهُمْ

او که چیری هغوی راسي تاسي څخه دچاقیدي سي نو دهغوی بدله ورکوی او خلاصوی یې حال دا دی چي حرام دی
په تاسي باندي دهغوی ایستل .

أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ الْكِتَابِ وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍ فَمَا جَزَاءُ

هم نو آیا منی بعضی کتاب او نه منی بعضی کتاب نو هیڅ سزا نسته

مَنْ يَفْعَلُ ذَٰلِكَ مِنْكُمْ إِلَّا خِزْيٌ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ

ددې چي تاسي کی څوك دا کار کوی مګر رسوایی ددنیا په ژوند کی او دقیامت په ورځ

الْقِيَامَةِ يُرَدُّونَ إِلَىٰ أَشَدِّ الْعَذَابِ وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿۸۵﴾

به ورسول سی سخت عذاب ته او الله ﷻ بی خبره نه دی ستاسي کارونو څخه .

تفسیر: دمیثاق په تتمه کې چې کوم حکم دوی ته ورکړل سوی دی دهغه دعهد شکنی متعلق بیان په دی ایات کی سوی دی.

بیا (دی صریح اقرار وروسته) تاسی (څنګه یاست) دا (دسترګو په وړاندی) موجود یاست چې دیوبل سره قتل وقتال هم کوی اویوبل دوطن په پرېښودو مجبور وی (په دی شان سره چې) ددغه خپلو په مقابلی کی (د دوی دمخالفو قومونو) امداد کوی ګناه اوظلم سره (نودا دوه حکمونه موداسی ونه منل) او (یو دریم حکم چې اسان غوندی موږ ګڼی په هغه باندی دعمل کولو دپاره تیار یاست چې) که چیری ددغو خلګو څخه څوك په بندګی تاسی ته ورسیږی نو په داسی خلګو مال لګوی (او رخلاصوی یې) حال دا دی چې داخبره (هم معلومه ده) چې تاسی د دوی دوطن په پرېښوولو مجبوره کول (اوقتل خو په جه اول هم) منع کړل سوی دی.

فائده : په دی باب کی په دوی دری حکمونه لازم وه اول قتل نه کول ، دویم دوطن په پر یښوولو نه مجبوره کول ، دریم چې دخپل قوم دقیدی دطرفه فدیه ورکول ، دهغه خلاصول نودی خلګو اولنی دوه حکمونه خو پرېښوول او په دریم حکم یې سره ماتوی، او صورت دا سوی ووچې دمدینی اوسیدونکی دوه قومونه وه ، اوس اوخزرج ، او د دوی په مینځ کی به دښمنی وه اوکله کله به دقتل اوقتال نوبت هم راتلی ، اودمدینی پرشاخوا دیهودو دوه قومونه بنوقریظه اوبنو نضیر اباد وه ، داوس اودبنی قریظو په مینځ کی دوستانه تعلقات وو اودخزرج اودبنی نضیرو په مینځ کی دوستی وه کله چې به داوس اوخزرج په مینځ کی جنګ وو نو د دوستی په وجه بنی قریظه وو به داوس مدد کوی اوبنی نضیرو دخزرج اوچې کله به اوس او خزرج وژل کیدل او بی کوره کیدل نو د دوی دوستانو اومدد ګارانو ته به هم دا مصیبت پیښیدی اوظاهره ده چې دبنی قریظو وژلو ایستلو کی به دبنی نضیرو لاس هم وو او دغه شان ددی بالعکس هم البته دومره ده که چیری دیهودو د دواړو ډلو څخه په جنګ کی څه به څوك قیدی سي نو هری یوی ډلی به خپل دوستان په مال راضی کړه او دا قیدی به یې ورڅخه خلاصوی اوکه چیری به یې چا ورڅخه پوښتنه کوله چې داسی ولی کوی ، نوهغه به یې جواب ورکوی چې قیدی خلاصول په مونږ واجب دی اوکه چیری چابه په قتل اوقتال کی مدد کولو باندی اعتراض وربا ندی وکی نو دا به یې وویل چې څه وکړی ، د دوستانو سره مدد نه کول شرم دی.

په دی ایت کی الله ﷻ ددی شکایت کړي دي اود دوی دحیلوڅخه یې پرده لیری کړي ده په دی ایت کی چې دکومومخالفو قومونو دمدد کولو ذکر سوي دی دهغوی څخه اوس اوخزرج مراد دی چې اوس دبنی قریظه ژ په موافقت کی دبنی نضیرو مخالف وواوخزرج دنضیروپه موافقت کی دبنی قریظه وومخالف وه اثم اوعدوان یعنی ظلم اوګناه په دی دوولفظونو را وړلو کی اشاره دی خبری ته کیدی سی چې په دی حکم نه پوره کولو کی دوه حقه ضائع کیدل یو دالله ﷻ یعنی دهغه دحکم تعمیل نه کول ، چې دا اثم سو ، دویم دبندګانو حق ضائع کیدل ، یعنی هغوی ته تکلیف او ازار رسول چې دا عدوان سو.

ددی عهد شکنی دشکایت کولو څخه وروسته ددی سزا بیان داسی فرمایی ، بیا نو (بس داسی وایه چې) دکتاب (توراة) په بعضی (احکامو) تاسی ایمان لری اوپه بعضی (احکامو) ایمان نه لری نوره کومه

سزا کیدل (په کار دی) د داسی کس چی تاسی خلقو کی داسی کار وکی بغیر د رسوایی څخه د دنیا په ژوند کی او په ورځ د قیامت به سخت عذاب وا چول سی او الله ﷻ (څه) بی خبره نه دی ستاسی بدو عملونو څخه.

فائده: په دی قصه کی دیهودو د دغو بدو اعمالو څخه یعنی په بعضی حکمونو باندی دعمل نه کولو تعبیر په کفر د دی وجی سوی دی، چی دا گناه ډیره سخته وه په شرعی محاوروکی دغه شان دگناه دغټ والی سخت والی څخه په کفر تعبیر کیږی لکه په حدیث کی دی، مَنْ تَرَكَ الصَّلٰوةَ مُتَعَمِّدًا فَقَدْ كَفَرَ او نور ورڅخه په گناه کولو سره چی گناه حلاله ونه گڼل سی، کفر نه لازمیږی.

دلته چی دکومو دوو سزاگانو ذکر دی، په هغوی کی مخکنی سزا یعنی په دنیاکی ذلت او رسوایی دهغه واقع کیدل داسی وسوه چی دنبی کریم ﷺ په زمانه کی دمسلمانانو سره دمعاهدی دخلاف ورزی په وجه بنی قریظه قتل او قید کړل سول او بنی نضیر دشام ملك څخه په ذلت او خواري ویستل سول.

أُولٰئِكَ الَّذِينَ اشْتَرَوُا الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا بِالْاٰخِرَةِ فَلَا يُخَفَّفُ

دا هغه دی چی دوی واخیستی د دنیا ژوندون داخرت په بدله نو نه به سپکیږی

عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنْصَرُونَ ﴿۸۶﴾

د دوی څخه عذاب او نه به د دوی کومك کیږی.

لنډتفسیر: (او دوی دپاره دسزا وجه دا ده چی) دوی هغه خلق دی (چی دوی دحکمونو مخالفت وکی) د دنیا دژوند (خوند یی) واخیستی په بدله (دنجات) دآخرت کی (چی دهغه ذریعه اطاعت او حکم منل دی) نو نه خو (د سزا ورکوونکی دطرفه) د دوی په سزاکی به څه کمی او سپك والی کیدای سی او نه څوك (وکیل یادوست قریب) د دوی طرفداری او کومك به وکی.

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوسَى الْكِتٰبَ وَقَفَّيْنَا مِنْ بَعْدِهٖ بِالرُّسُلِ وَاٰتَيْنَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ الْبَيِّنٰتِ

او بیشکه ورکی مونږ موسی ته کتاب او پرلپسی موولیږل دده څخه وروسته پیغمبران او ورکی مونږ عیسی زوی

وَاَيَّدْنٰهُ بِرُوحِ الْقُدُسِ اَفَكُلَّمَا جَآءَكُمْ رَسُولٌۢ بِمَا لَا تَهْوٰى

دمریم ته معجزی واضحی او قوت ورکی مونږ ده ته په روح پاك سره بیا ایا کله تاسی ته راوړی کوم پیغمبر هغه حکم

اَنْفُسُكُمُ اسْتَكْبَرْتُمْ فَفَرِيقًا كَذَّبْتُمْ وَفَرِيقًا تَقْتُلُونَ ﴿۸۷﴾

چی ستاسی په زړونو به نو نه لگیدی نو تاسی تکبر وکی بیا یو ډله مو دروغجن کړه او بله ډله مو ووژله.

لنډتفسیر: او مونږ (ای بنی اسرائیلو ستاسی دهدایت دپاره همیشه انتظام وکی د ټولو څخه اول) موسی ﷺ ته کتاب (توراة) ورکی او (بیا) ددی وروسته (په مینځ زمانه کی) یو بل پسی (یو مخیزه ډیر) پیغمبران

ولیږل او (ددې خاندان دسلسلې په اخرکې) مونږ حضرت عیسی بن مریم ته د(نبوت) واضح دلیلونه (انجیل اومعجزې) ورکړې او مونږ ده ته دروح القدس (جبرئیل ﷺ) کومك ورکې (چې هغه ځان په خپل ځای کې یو واضح دلیل ووخو) آیا (دتعجب خبره نه ده چې په دې باندې هم تاسې سرکشي کوله او) کله چې به (هم) یو پیغمبر تاسې ته داسې احکام راوړل چې هغه به ستاسې زړونو نه غوښتل (نو) تاسې به (دداسې پیغمبرانو داطاعت کولوځخه) تکبرکول شروع کې نو (داسې پیغمبرانوکې) بعضې خو (نعوذ بالله) تاسې درواغجن وګڼل اوبعضې (بغیر دڅه فکرڅخه) موقتل کړه .

فائده: حضرت جبرئیل ﷺ په قرآن اوپه حدیث کې ځای په ځای دروح القدس په نوم بلل سوی دی ، لکه دقرآن په دې آیت کې ، قُلْ نَزَّلَهُ رُوْحُ الْقُدُس او په حدیث کې دحضرت حسان بن ثابت په دې شعرکې .

وَجِبْرِيْلُ رَسُوْلُ اللهِ فِيْنَا • وَرُوْحُ الْقُدُسِ لَيْسَ لَهُ كِفَاءُ

او دحضرت عیسی ﷺ کومك اوتائد په جبرئیل ﷺ په څو طریقو سوي دی اول خو دپیدا کیدو په وخت کې دشیطان دمسح کیدو څخه ساتل سوی دی بیادهغه یعنی دجبرئیل ﷺ دچف کولوڅخه دحضرت عیسی ﷺ حمل دمور په نس کې سوي دی بیا دیهودو څخه چې ډیر دحضرت عیسی ﷺ مخالف وه جبرئیل ﷺ به دده حفاظت کوی ، تردې چې په اخره کې حضرت جبرئیل ﷺ دی اسمان ته پورته کی . یهودو دډیرو پیغمبرانو تکذیب کړی دی دحضرت عیسی ﷺ یې هم تکذیب کړی دی اوحضرت زکریا اوحضرت یحی علیهما السلام یې قتل کړي دی .

وَقَالُوْا قُلُوْبُنَا غُلْفٌ بَلْ لَّعَنَهُمُ اللهُ بِكُفْرِهِمْ فَقَلِيْلًا مَّا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۸۸﴾

او وایي زمونږ په زړونو باندې پرده ده بلکه لعنت کړي دی الله ﷻ ددوی دکفر په وجه نو ډیر کم ایمان را وړی .

تفسیر: او دا (یهودیان دطنز په توګه) وایی زمونږ زړونه (داسې) محفوظ دی (چې په دوی کې دمخالف دین ، چې اسلام دی اثرنه کیږی ، نو په دین کې مونږ ښه پاخه یو الله ﷻ فرمایی ، چې دا محفوظ والی اوپوخ والی نه دی) بلکه د دوی دکفر په وجه په دوی دالله ﷻ وهل دی (اسلام چې حق دین دی ددې څخه نفرت کوی او په منسوخ سوی دین ټینګ ولاړ دی) نو ډیرکم غوندې ایمان لری .

فائده : دالږ غوندې ایمان دهغه شیانو په باره کې دی ، چې هغه د دوی په دین اواسلام کې مشترکه شیان دی ، مثلا دخدای اقرار کول ، دقیامت منل ، چې دا داسې شیان وه چې ددې دوی هم قائل وه ، لیکن دنبوت محمدیه ﷺ او دقرآن دکلام الهی دکیدو څخه یې انکارکوی نو په دې وجه پوره ایمان یې نه وو ، اودې لږ غوندې ایمان ته ایمان دلعنت په اعتبار ویل سوی دی ، ځکه چې دایمان لغوی معنی مطلق یقین کول شرعًا دی ته ایمان نه ویل کیږی ، ځکه چې شرعًا ایمان هغه دی ، چې په هغه ټولو شیانو کامل یقین وی کوم چې په شرع کې راغلی دی اوپه هغه شیانوکې نبوت محمدیه ﷺ او دقرآن کلام الهی کیدل هم دی ، او په دې باندې دوی یقین نه درلو دی .

وَلَمَّا جَاۗءَهُمْ كِتٰبٌ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمْ ۙ

اوکله چي راغی دوی ته کتاب دالله ﷻ دطرفه چي رښتیاښایي هغه کتاب چي ددوی څخه دی

وَكَانُوْا مِنْ قَبْلُ يَسْتَفْتِحُوْنَ عَلَي الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ښ فَلَمَّا جَاۗءَهُمْ

او دمخکي څخه به فتح غوښته دوی په کافرانو باندي بیاچي راغی دوی ته

مَّا عَرَفُوْا كَفَرُوْا بِهٖ ۡ فَلَعْنَةُ اللّٰهِ عَلَي الْكٰفِرِيْنَ ﴿۸۹﴾

هغه چي دوی پیژندی نو دهغه څخه یې انکار وکی نو لعنت دی دالله ﷻ په انکار کوونکو باندی.

لنډتفسير: اوکله چي دوی ته (یو) داسي کتاب راغی (یعني قرآن شریف) چي دخدای ﷻ دطرفه دی (او) دهغه (کتاب هم) تصدیق کوونکی دی چي (دمخکي څخه) د دوی څخه دی (یعني تورات) حال دا دی چي ددې څخه مخکي (په خپله) به یې بیان کوی اوکافرانو ته (یعني دعربو مشرکانوته چي یو نبي راتلونکی دی اویوکتاب راوړونکی دی مګر) بیاکله چي دغه شي راغی چي هغه دوی (ښه) پیژندی نو دهغه یې (صاف) انکار وکی نو (بس) دخدای لعنت دی وی پرداسي انکار کوونکو باندی (چي سره دپوهي یوازي دتعصب په وجه انکار کوی)

فائده: قرآن ته دتورات تصدیق کوونکی په دی وجه ویل سوی دی، چي په تورات کي دنبي ﷺ اودقرآن دنازلیدو چي کومي پیشن ګویاني وی قرآن څخه دهغو رښتیاوالی څرګندسو، نو کوم چي دتورات په حقه منونکي وی، هغه دقرآن اوصاحب قران تکذیب نه سي کولی، اوکه چیري تکذیب وکی نو دا خامخا دتورات تکذیب به هم وی.

(يوه شبه او دهغه جواب)

اوکه چیري داووایي چي هرکله دوی حق حق ګڼی نوبیاخودوی ته مومن ویل په کاردي کافرانوته څه رنګه وویل سوه؟ نوددی جواب دادی چي ایمان یوازي دګڼلونوم نه دی بلکه دمنلونوم دی که داسي نه سي نو داسي خوشیطان دټولوڅخه زیات حق ښه ګڼی لیکن دګڼلوباوجوددنه منلوپه وجه به کفرکي ښه مضبوط سوی دی دغه وجه ده چي وروسي راتلونکي ایت کي ددوی دکفروجه د دوی عنادښوولی سوی دی لکه چي ارشاددی

بِئْسَمَا اشْتَرَوْا بِهٖٓ اَنْفُسَھُمْ اَنْ يَّكْفُرُوْا بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ بَغْيًا اَنْ يُّنَزِّلَ اللّٰهُ مِنْ

بدشی دی هغه چي دهغه دپاره خرڅ کره دوی خپل ځانونه چي منکرسوه دهغه شی چي نازل کړی دی الله ﷻ په دی

فَضْلِهٖ عَلٰي مَنْ يَّشَاۗءُ مِنْ عِبَادِهٖ ۚ فَبَاۗءُوْ بِغَضَبٍ عَلٰي غَضَبٍ ۭ

ضدباندي چي نازل کی الله ﷻ دخپل فضل څخه پرهغه چاچي دی غواړی په خپلوبندګانو کی نو دوی وګټی دغضب

وَلِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ﴿۹۰﴾

سربيره پر غضب او کافرانو دپاره د ذلت عذاب دی .

لنډتفسير هغه حالت (ډير زيات) بد دی چې هغوی غوره کړی (اوپه دی دوی په خپل ګمان) خپل ځانونه (دآخرت دعذاب څخه) خلاصول غواړی (اوهغه حالت) دا (دی) چې کفر (انکار) کوی دداسی شی چې الله ﷻ (په يو رښتونی پيغمبر) نازل کړی (يعنی قرآن اوهغه انکارهم) محض (په دی) ضد اوعناد چې الله ﷻ دخپل فضل په وجه په کوم بنده چې منظوره وه (يعنی محمد ﷺ باندی ولی) نازل کړی نو (ددی حسد په وجه چې کفرعلاوه دی) دوی ديو غضب څخه علاوه دبل غضب مستحق سو او (په اخرت به) دغه کفرکوونکو ته به داسی سزا وی چې په کی (دتکليف څخه ماسوا) ذلت (هم) دی .

فائده: يو غضب اوقهردخدای تعالی دکفر په وجه او دويم دحسد په وجه دی نو په دی وجه دغضب سر بيره غضب يی وفرمايل ، عذاب سره دمهين قيد لګولو څخه مقصد دا دی چې دا عذاب په کافرانو سره خاص دی ، ځکه چې ګنهګارو مومنانو دعذاب چې وی هغه ددی دپاره وی چې دوی پاک سی ، دذلت دپاره نه وی ، ددی څخه وروسته ايت کی کوم قول د دوی نقل سوی دی دهغه څخه د دوی کفر ثابتيږی او حسد ورڅخه هم معلوميږی .

وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ اٰمِنُوْا بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ قَالُوْا نُؤْمِنُ بِمَآ اُنْزِلَ عَلَيْنَا وَيَكْفُرُوْنَ

اوکله چې وويل سی دوی ته چې ومنی هغه چې الله ﷻ را ليږلی دی نو دوی وايی مونږ منو هغه چې نازل سوی دی

بِمَا وَرَآءَهٗ وَهُوَ الْحَقُّ مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَهُمْ قُلْ فَلِمَ تَقْتُلُوْنَ اَنْبِيَآءَ اللّٰهِ مِنْ

پرمونږ اونه منو هغه چې ددی څخه ماسوادی حال دا دی چې داکتاب رښتيادی اوتصديق کوونکی دی دهغه کتاب

قَبْلُ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۹۱﴾

چې د دوی سره دی ، ووايه بيا مو ولی قتل کول دالله ﷻ پيغمبران ددی مخکی که چيری تاسی ايمان لری .

لنډتفسير: اوکله چې دی (يهودو) ته وويل سی چې تاسی ايمان راوړی په هغه ټولو کتابونو چې الله ﷻ (په مختلفوپيغمبرانو باندی) نازل کړی دی (اوپه دی ټولوکتابونوکی قران هم دی) نو (په جواب کی) وايی چې مونږ (خو يوازی) په هغه کتاب به ايمان راوړو چې مونږ ته (دحضرت موسی ﷺ په واسطی) نازل سوی دی (يعنی تورات او (باقی) ځومره (کتابونه) ددی څخه علاوه دی (لکه انجيل اوقران) ددی (ټولو) دوی انکار کوی حال دا دی چې د (تورات څخه ماسوا کتابونه) هم (په خپل ځای) حق (او واقعی) دی (اوپه خپل ځای دحق کيدلوڅخه ماسوا) تصديق کوونکی هم دی دهغه (کتاب) چې دوی سره دی (يعنی تورات) ته ﷺ (دا هم) ووايه چې بنه نو بيا مو ولی قتلول دالله پيغمبران دی څخه مخکی زمانه کی که چيری تاسی (تورات باندی) ايمان لرونکی وای ؟

فائده : دیهودو دا وینا کول چي مونږ به یوازې په تورات باندې ایمان راوړو ، په نورو کتابونو به یې نه راوړو ، په دا که دکفر وینا ده ، او ور سره دا ویناچي هغه کتاب چي په مونږ نازل سوی دی یعنی تورات ددې وینا څخه د دوی حسدکول معلومیږي ، چي دهغه صفامطلب دا دی چي هرکله نورکتابونه په مونږ نازل نه دي ، نو په دې ایمان نه راوړو ، الله ﷻ د دوی دا وینا په دری قسمه ردکړې ده .

اول دا چي هرکله دنورو کتابونو حق والی هم دلیل یقیني سره ثابت دی ، نو بیا دهغه څخه دانکارکولو څه وجه ده ؟ خامخا که چیري په دلیل کي څه خبره وای نوهغه به یې وړاندې کړي وای اوخپله تسلي به یې کړې وای ، انکار محض په څه وجه؟ دوهم دا چي نورکتابونه مثلا قرآن مجید ، دتورات تصدیق کوونکی کتابونه دي نو بیاددې څخه په انکارکولوسره پخپله دتورات څخه انکارکول پیداکیږي ، دریم دا چي دپیغمبرانو وژل ترټولوآسماني کتابونو په ړنا کي کفر دی ، نو بیا ستاسي ، دخلکو ډلي چي څومره پیغمبران وژلي دي ، چي دهغو تعلیمات دتورات داحکامو تعلیمات وه ، تاسي دغه قاتلانو ته خپل پیشوایان اویاست نو په داسي کولو او ویل سیده په سیده په تورات باندې کفر کول دي ددې څخه خو ستاسي دایمان دعوی کول هم غلطه معلومه سوه ، مطلب دا چي دیو اړخ څخه هم ستاسي قول او فعل صحیح او صحیح نه دی ، په دې پسي په نورو وجو او دلیلونو سره ددې یهودو رد الله ﷻ کوي .

وَلَقَدْ جَآءَكُمْ مُّوسٰى بِالْبَيِّنٰتِ ثُمَّ اتَّخَذْتُمُ الْعِجْلَ مِنْۢ بَعْدِهٖ

او راغی تاسي ته موسی په واضحو معجزوسره بیا ونیوی گیلگی په عبادت تاسي ترهغه وروسته

وَاَنْتُمْ ظٰلِمُوْنَ ﴿۹۲﴾

اوتاسي ظالمان یاست .

لنډتفسیر : اوحضرت موسی ﷺ تاسي خلګو ته صفاصفادلیلونه (دتوحید او رسالت) راوړل (مګر) دې سره هم تاسي خلګو ګلګي (معبود) جوړ کي دموسی (ﷺ کوه طورته دتلوڅخه) وروسته اوتاسي (په داسي کولوسره) ظلم کوي .

فائده : دبینات څخه هغه دلیلونه مراد دي چي کوم ددې واقعي مخکي چي لا تورات هم دوی ته نه وو ورکول سوی ، دموسی ﷺ په حقه نبي کیدلو دپاره قائم سوي وه ، مثلاً آمسا ، اوتك سپین لاس ، د دریاب شلیدل اونور سوه ، د رد دبیان حاصل څرګندې ، چي تاسي خو دایمان دعوی کوی او په صریح شرك کي اخته یاست ، چي ددې څخه دموسی ﷺ بلکه دالله ﷻ تکذیب را پیداکیږي ، دګلګي دعبادت کولو واقعه اومعامله که څه هم په هغه یهودو کي نه وه پیښه سوې چي درسول ﷺ په زمانه کي وه لیکن هرکله چي دوی دخپلو نیکه ګانو حامیان اوطرفدار وه نو په دې وجه یو قسم دوی هم شامل سو ، او ددې څخه دا خبره هم معلومه سوه چي دکومو خلګو تیر سوو مشرانو دموسی ﷺ تکذیب کړی وو ، نو دوی که چیري دمحمد ﷺ څخه انکار وکي نو دومره څه عجیبه نه ده .

وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَكُمْ وَرَفَعْنَا فَوْقَكُمُ الطُّورَ خُذُوا مَا آتَيْنَاكُمْ بِقُوَّةٍ وَاسْمَعُوا

اوکوم وخت چې مونږ واخيستى اقرار ستاسى اوپورته مو کى تاسى باندى کوه طور ونيسى چې کوم مونږ تاسى

قَالُوا سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا وَأُشْرِبُوا فِي قُلُوبِهِمُ الْعِجْلَ بِكُفْرِهِمْ

ته درکى په ټينګه (مضبوطه) او واورى وې ويل واوريده مونږ اونه يې منو وڅښل سو د دوى په زړونو کى محبت

قُلْ بِئْسَمَا يَأْمُرُكُمْ بِهِ إِيمَانُكُمْ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ﴿٩٣﴾

دهغه ګلګى په وجه ددوى دکفرووايه چې بدى خبرى ښيى تاسى ته ايمان ستاسى که چيرې تاسى ايمان راوړى وى

تفسير: او (هغه زمانه ياده کړی) کله چې مونږ تاسى څخه قول او اقرار اخيستى وو او (ددې قول اقرار اخيستو دپاره) کوه طور يې ستاسى (په سرونو) باندى پورته کړى وو (اوپه دى وخت کى حکم يې کړى وو چې) واخلى کوم (احکام چې) مونږ تاسى ته درکوو په همت (اوپوخ والى) سره واخلى او(داحکمونه په زړه) واورى (په دى وخت کى) دوى (دبيرى په ژبه خو) وويل چې مونږ (قبول کړه او) واوريده او(هرکله چې واقع کى دا خبره د زړه څخه نه وه چې) د دوى په زړونو (رګ رګ) کى هغه سختى ننوتلى وو د دوى (دمخکى) کفر په وجه (کوم وخت چې دوى دمالګين درياب څخه ووتل اويوبت پرست قوم يې وليدى، نو دوى درخواست وکى، چې زمونږ دپاره يو دغه رنګه مجسم خداى دى منتخب کړل سى) ته ﷺ ووايه چې (ومولېده دخپل ايمان کارونه نو) دا کارونه ډير بد دى چې دهغه ښوونه تاسى ته ستاسى ايمان کوى که چيرى تاسى (لکه چې اوس هم) ايمان دارياست (يعنى دا ايمان نه دى)

فائده: په دى ايت کى چې کوم اسباب اومسببات ذکر دى، دهغوى دترتيب حاصل دا دى چې کوم وخت دوى دمالګين درياب څخه ووتل نو د دوى څخه دکفر ديوى کلمى صادريدل وسوه، دحضرت موسى ﷺ په ترتلو که څه هم دوى توبه وکښله ليکن دتوبى هم مختلفى درجى دى، کله چې دا توبه د اعلى درجى توبه نه وه، نو ددغه کفر دحلمى څه خبرى د دوى په زړونوکى پاته سوى وو، چې دغه خبرى بيا ترقى وکړه او دګلګى دعبادت کولو سبب جوړ سو، بيابه توبه کولوکى بعضى قتل سوه اوبعضوته غالبا بغير دقتل کولو څخه معافى وسوه، لکه چې بعضى مفسرينو ذکر کړى هم ده چې د دوى څه قدر کمزورى به هم وه، اوکوم چې دګلګى دعبادت کولو څخه خلاص پاته سوى وه، نوهغوى ته په کار وه، چې دګلګى دعبادت کوونکو څخه يې نفرت کړى واى، ليکن په دى نفرت کى دکوتاهى په وجه يوقسم ددى معصيت شرکيه د دوى په زړونوکى باقى وو، بهرحال دتوبى دکمزورى يا دکفر څخه دنفرت نه کولو داثارو پاته کيدل، د دوى په زړونو کى سستى پيدا کړه، چې ددى څخه دميثاق په اخيستو کى کوه طورته د دوى پرسرونو باندى دپورته کولو نوبت راغى.

قُلْ إِنْ كَانَتْ لَكُمُ الدَّارُ الْآخِرَةُ عِنْدَ اللّٰهِ خَالِصَةً مِّنْ دُوْنِ النَّاسِ

ووايه چې که چيرې دی ستاسی دپاره دآخرت کور الله ﷻ څخه بيوازې دنورو خلکو څخه

فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ إِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۹۴﴾ وَلَنْ يَّتَمَنَّوْهُ أَبَدًا بِمَا قَدَّمَتْ

نوتاسی دمرګ کيدلو ارزو وکړی که چيرې تاسی رښتيا واياست او هيڅکله به ارزو ونه کړی دمرګ په سبب دهغه

أَيْدِيْهِمْ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ بِالظّٰلِمِيْنَ ﴿۹۵﴾

ګناهونو چې ليږلی دی د دوی لاسونو او الله ﷻ ښه پيژنی ګنهکاران

لنډتفسير: (بعضی يهودو دا دعوی کوله چې داخرت نعمتونه مونږ دپاره خاص دی اوبس زمونږحق دی، الله ﷻ ددی دعوی دباطلولو دپاره وفرمايل چې ای محمد ﷺ) ته (دی خلګوته) ووايه چې که چيرې (ستاسی دوينامطابق) د اخرت علم يوازی ستادپاره دی دنوړ چا دشرکت څخه بغير، نو تاسی (دتصديق دپاره لږغوندی) دمرګ ارزو وکی او وښاياست که چيری تاسی (په دی دعوی کی) رښتونی ياست او (مونږ ورسره داهم وايوچی) داخلق هيڅکله به هم ددی (مرګ) ارزو ونه کی په وجه (دبيری دسزا) دهغه اعمال (کفريه وڅخه) چې دوی په خپلولاسونوباندی کړی دی اوالله ﷻ ته ښه پته ده ددی ظالمانو د (حال کوم وخت چې دمقدمی تاريخ راسی په دوی به فرد جرم عائدکړل سی او دسزا حکم به ورته وکړل سی)

فائده: دقرآن دنورو آياتونوڅخه هم د دوی ددغه دعوی مفهوم را اوزی لکه چې.

وَقَالُوا لَنْ تَمَسَّنَا النَّارُ إِلَّا أَيَّامًا مَّعْدُوْدَةً . وَقَالُوا لَنْ يَّدْخُلَ الْجَنَّةَ إِلَّا مَنْ كَانَ هُوْدًا أَوْ نَصَارٰی . وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ وَالنَّصَارٰی نَحْنُ أَبْنٰٓؤُا اللّٰهِ وَأَحِبَّآؤُهٗ . وغيره

دټولو دعوو حاصل دا دی، چې دوی وايی چې مونږ په حق دين يو، په دې وجه آخرت کی مونږ ته به خامخا خلاصون حاصل سی او مونږ کومو چې توبه کړی ده يا دخدای رحمت پری سوی دی، هغوی ته خو په اول کی به جنت حاصل سی، اوچی کوم ګنهګار دی، هغوی به څو ورځی عذاب تيرکړی، بيابه خلاص سی، اوچی کوم فرمانبرداره دی هغوی په شان دزامنو، خدای تعالی ته محبوب اونژ دی دی.

دبعضی عنوانونو دقباحت څخه قطع نظر دا دعوی چې دوی په دين حق باندی دی، په خپل ځای کی که څه هم چی درسته معلوميږی، ليکن کله چی دا خلق دخپل دين دمنسوخ کيدو په وجه په حق پاته کيدی نه سوه، په دی وجه الله ﷻ ځای په ځای په مختلفوعنوانونو اوطريقو سره د دوی تکذيب کړی دی، او دلته يی يوه خاصه طريقه ذکر کړی ده، هغه دا چی دعام عادت مطابق، که چيرې په بحث او دلائلو سره فيصله نه کوی، نو راسی، مافوق العادت طريقی سره يعنی دمعجزی په ذريعه چی په هغه کی نه دزيات علم فهم، اونه دسوچ اوفکر ضرورت دی بلکه يوازی د ژبی دښورولو ضرورة دی فيصله کوو، ليکن مونږ پيش ګويی کووچی تاسی به په ژبه هيڅکله ونه واياست چی مونږ دمرګ ارزوکوو، ترديی پيش

ګویې څخه وروسته مونږ وایو چې که چیرې تاسې په خپلو دعوو کې رښتینې یاست نو دا خبره وکې او که مو ونه کړه نو بیا ستاسې دروغجن کیدل ثابتیږي هرکله چې دوی ته ښه معلومه وه، چې دوی په کفر او باطل دي او رسول الله ﷺ اومومنان په حقه دي، نو په دې وجه یاخو په دوی باندې داسې هیبت خور سو چې د دوی ژبه بالکل ونه ښوریده، یاخو ودریدل چې په ژبه دا خبره کول دي اومرګ راتلل دي او په لوی لاس جهنم ته رسیدل دي، که داسې نه وي نو د دوی چې رسول ﷺ سره کومه دښمني ده نو دهغه په وجه ددغه خبرو د اوریدو څخه خو دوی ته په جوش کې راتلل په کار وه او دا کلمات به یې ویلي وو.
په حقیقت کې د اسلام دحقانیت دپاره دا واقعه کافي ده، دلته کې دوی نورې خبرې د ذکر کولو لایقې دي اول دا چې دا دلیل خو دیهودو وو، چې درسول الله ﷺ په زمانه کې موجوْد وه اوچې هغوی دده دنبوت دپیژندو باوجود دده دنبوت څخه انکار کوی او دهرې زمانې دیهودو داخطاب اوخبره نه ده.
دویم دا چې دا شبهه کول په کار نه دي، چې تمنا، په زړه او په ژبه دواړوسره کیږي ممکنه ده چې دوی په زړه کې تمنا کړې وي، دا شبهه ځکه کول نه دي په کار چې اول دالله ﷻ دا قول، وَلَنْ يَتَمَنَّوْهُ: ددې خبرې صفا تردید کوي، بل دا که چیرې دوی په زړه کې تمنا کوله، نو پر ژبه به یې ضرور دهغه اظهار کولی، ځکه چې په دې کې د دوی برې وو او درسول ﷺ د دروغجن کولو ښه موقعه وه.
او دا شبهه هم بې ځایه ده چې دوی به تمناکړې وي، لیکن دهغې شهرت نه دی سوی دا ځکه بې ځایه ده چې د اسلام دهمدردانو تعداد دمخالفینو دتعداد په مقابله کې په هره زمانه کې همیشه کوم راغلی دی، که چیرې داسې خبره وي، نو دوی به دا پخپله ښه مشهوره کړې وای چې ګورئ تاسې چې دحق کوم معیار مقرر کړی وو، هغه په مونږ کې پوره پوره موجود دی.

وَلَتَجِدَنَّهُمْ أَحْرَصَ النَّاسِ عَلَىٰ حَيَاةٍ ۚ وَمِنَ الَّذِينَ أَشْرَكُوا ۚ يَوَدُّ أَحَدُ

اوته به ووینې دوی دټولو خلګو څخه زیات حرص ناک دژوند او زیات حرص ناک دمشرکانو څخه هم غواړي یو یو

هُمْ لَوْ يُعَمَّرُ أَلْفَ سَنَةٍ وَمَا هُوَ بِمُزَحْزِحِهِ مِنَ الْعَذَابِ أَنْ يُعَمَّرَ ۗ وَاللَّهُ بَصِيرٌ

د دوی چې عمرولرې زر (۱۰۰۰) کاله او نه دی دی ده لره خلاصوونکې دعذاب څخه دومره قدر ژوندی پاته کیدل او

بِمَا يَعْمَلُونَ ﴿۹۶﴾

الله ﷻ وینې چې څه دوی کوي.

لنډتفسیر: او (داخلق دمرګ څه تمنا کوي) ته (خو) دوی (دنیوي) ژوند حرص ناک (اوعام) انسانانوبه (هم) زیات پیداکې او (نور خوپرېږده، حیرانتیاخودا ده چې دبعضې) مشرکانو هم (زیات به ته دوی دژوند وړې ووینې او د دوی دا حالت دی چې) د دوی یویو (کس) په دې هوس کې دی چې دده عمرزر ۱۰۰۰ کاله سی او (ښه بالفرض که چیرې دومره عمر یې هم سی) دا به دعذاب څخه خلاصی نه سي چې (دچالوی) عمر سی اوالله ﷻ په وړاندې دي د دوی عملونه (بدچې دهغه په وجه دوی ته عذاب ورکیدونکې دی)

فائده: په دې کې دحيرانتياوجه دا ده چې دعربومشرکان چې هغه داخرت څخه منکر وه اوچې دهغوی عيش وعشرت که څه دی نو دنيوی دی ، دوی که چيری داوږدعمر تمناو کړی نوځه دومره دتعجب خبره نه ده ، ليکن يهودوچې داخرت قائل اود دوی به ويناداخرت دعيش اوعشرت مستحق دی بياولی په دنيا کی دپاته کيدو تمناکوی ، داتمناد حيرانتيا اودتعجب خبره ده .

نو د اخرت دعقيدی لرلوسره داوږد عمر ارزو کول ددی خبری دليل دی چې دوی خپل ځان داخرت دنعمتونو مستحق ګڼلو چې کومه دعوی کوی هغه يوازی دعوی ده حقيقت يې نسته اوکه حقيقت دی هغه خو دا دی چې دوی ته ښه پته ده چې هلته د دوی دپاره جهنم څخه ماسوا بل ځای نسته نوپه دی وجه چې څومره پوری ژوندی وی نوښه به وی .

قُلْ مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِّجِبْرِيْلَ فَإِنَّهٗ نَزَّلَهٗ عَلٰى

ته ووايه چې څوک دجبريل ﷺ ددښمن وی نوهغه خو نازل کړی دی

قَلْبِكَ بِإِذْنِ اللّٰهِ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ وَهُدًى وَّبُشْرٰى

ستاپه زړه باندی دالله ﷻ په حکم چې دی رښتيا ښوونکی دی دهغه کلام چې دده مخکی دی اولاره ښيی اوزيری

لِلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۹۷﴾ مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِّلّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَرُسُلِهٖ وَجِبْرِيْلَ

او روی ايمانداروته ، څوک چې وی دښمن دالله ﷻ او دده دملائکو اودده دپيغمبرانو اودجبريل

وَمِيْكٰلَ فَإِنَّ اللّٰهَ عَدُوٌّ لِّلْكٰفِرِيْنَ ﴿۹۸﴾

اودميکايل نوالله ﷻ دښمن دی ددغه کافرانو .

لنډتفسير: (بعضی يهودوچې دنبی ﷺ څخه دا واوريده چې جبريل ﷺ ماته وحی راوړی نو وی فرمايل چې دده سره زمونږ دښمنی ده زمونږ په قوم باندی چې دخوفناك واقعات اوسخت احکام راځی ، نو هغه دی راولی ، مکايل ﷺ ښه دی چې باران اورحمت دده سره تړلی دی ، که چيري ده وحی راوړلی ، نو مونږ به منلی په دی خبره الله تعالی رد کوی چې ای محمد ﷺ) ته (دوی ته) ووايه چې څوک دجبريل ﷺ سره دښمنی کوی (هغه پوهه سوه او دهغه دښمنی پوه سوه ليکن ددی کار دقران په نه منلوکی څه دخل دی ؟ څکه چې دی دقران په راوړلو کی صرف استاذی دی) نو (داستاذی په توګه) ده داقران ستازړه ته رسولی دی دالله ﷻ په حکم (نو دراوړونکی خصوصيت ته اعتبارولی ورکيدی سی؟ البته قران ته دی وکتل سی ، چې څه رنګ دی نو) دده (خوپه خپله) دا حالت دی تصديق کوی دخپل ځان څخه دمخکنيو (اسمانی) کتابونواولاره ښيی (دضروری مصلحتونو) او زيری اوروی ايمانداروته (او داسمانی کتابونو دغه شان حالت وی نو قران په هرحالت کی اسمانی کتاب او داتباع قابل سو، بيادجبريل ﷺ سره

ددښمنی په وجه دقران نه منل ، یو عجیبه بې وقوفي ده ، اوپاته سوه دجبریل ﷺ دښمنی کولو مسئله ، نو ددې فیصله دا ده چې دالله ﷻ په نزد دالله ﷻ سره دښمنی کول یادهغه نورو ملائکو سره یادهغه رسولانو سره یاخو دمیکایل ﷺ سره دښمنی کول چې دهغه ددوستی تپې دوی وایې دی ټولو سره دښمنی کول اوجبریل ﷺ سره دښمنی کول دا ټول یوشان شی دی ددې ټولودښمنیو دپاره قانون او ضابطه دا ده چې کوم یو، سړی دالله ﷻ دښمن وی (نو) دملائکو دښمن وی (نو) دپیغمبرانو دښمن وی (نو) دجبریل دښمن(وی نو)دمیکایل دښمن(وی) نو(ددې ټولو وبال دادی چې) الله ﷻ دښمن دی دداسی کافرانو.

وَلَقَدْ أَنْزَلْنَآ إِلَيْكَ ءَايَٰتٍۭ بَيِّنَٰتٍ ۖ وَمَا يَكْفُرُ بِهَآ إِلَّا ٱلْفَٰسِقُونَ ﴿٩٩﴾

مونږ نازل کړی دی تاته ایاتونه روښانه اوانکاربه نه کوی د دوی مګرهغه چې نافرمانه دی .

لنډتفسیر: او (بعضو یهودو نبی ﷺ ته وویل چې په تاباندې څه داسی واضح دلیل نازل سوی نه دی چې هغه مونږ پیژنو اوچې دهغه دوجې مونږ ایمان راوړو نو ددې خبری په جواب کی وویل سوه ، چې دوی دیو واضح دلیل خبری کوی) مونږ خو په تا ډیر واضح دلیلونه نازل کړی دی (چې هغه دوی ښه پیژنی نو د دوی انکار دناپیژندګلی په وجه نه دی بلکه دا انکار په دې وجه دی چې په دوی کی دا عادت دی چې دخدای دحکم څخه غاړه غړوی) او (قاعده کلیه ده چې دداسی دلیلونو څخه) انکارنه کوی ، مګر یوازی هغه خلق چې دهغوی عادت دحکم څخه غاړه غړول وی .

أَوَكُلَّمَا عَٰهَدُوا۟ عَهْدًا نَّبَذَهُۥ فَرِيقٌ مِّنْهُم ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿١٠٠﴾

آیاکله به چې وکی دوی څه عهداوپیمان نووبه یې غورځوی هغه یو جماعت ددوی څخه بلکه اکثرددوی ایمان نه راوړی

لنډتفسیر: (بعضی یهودوته چې هغه عهد اوپیمان یادکړل سو، چې د دوی څخه په تورات کی دایمان راوړلو په باره کی اخیستل سوی وو ، نو ددغه عهد داخیستلوڅخه یې صفاانکاروکی نو ددغه خبری متعلق ارشاد چې) آیا (ددغه عهدوپیمان داخیستو څخه دوی انکارکوی) او (د دوی خو دا حال دی چې دوی کله هم خپلې منلی سوی وعدی پوره کړی نه دی) کله هم چې دی خلقو (ددین متعلق) څه عهد کړی به وو (ضرور) هغه به په دوی کی یوی نه فرقی شاته غورځولی وو بلکه دغه (په عهدباندې نه عمل کوونکو)کی زیات خوبه داسی راوزی چې (دسره به ددې عهد) یقین هم نه لری (نوعملورباندې نه کول خوفسق وو ، یقین نه کول ورباندې تردې زیات کفردی)

فائده : دیوی ډلی تخصیص څکه سوي دی ، چې څه په دوی کی داسی وه چې دا وعدی به یې پوره کولی حتی چې په اخر کی په نبی ﷺ باندې ایمان یې هم راوړی .

وَلَمَّا جَآءَهُمْ رَسُولٌ مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمْ نَبَذَ فَرِيقٌ مِّنَ

اوکله چې راغلی دوی ته پیغمبر دالله ﷻ دطرفه تصدیق کوونکی دهغه کتاب چې دوی سره دی نو وغورځوی

الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ ۙ كِتٰبَ اللّٰهِ وَرَآءَ ظُهُوْرِهِمْ كَاَنَّهُمْ

يوى ډلې د اهل كتابو څخه د الله ﷻ كتاب دخپلو شاګانو وروسته ګويا چې دوى

لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۰۱﴾

كرسره علم نه لري.

لنډ تفسير: (په دې آيت كې ديوى خاصې عهد شكنې الله ﷻ ذكر كوي چې په هغه كې په رسول الله ﷺ دايمان نه راوړلو خبر دى ، ارشاد دى) اوچې كله دوى ته (لوى) پيغمبر راغى دالله ﷻ دطرفه چې (رسول كيدو سره) تصديق كوى دهغه كتاب چې دى خلقو سره دى (يعنې دتورات څكه چې دى كې دده دنبوت خبر دى نو په دې حالت كې په رسول الله ﷺ ايمان را وړل عين په تورات عمل وو چې هغوى دا هم كتاب الله ګڼي مګر سره دديٍ هم) په دغه اهل كتابو كې يوى فرقې په خپله دا كتاب الله دارنګه شاته وروسته وغورځوى لكه چې دوى ته (ددې مضمون يا د كتاب الله كيدى) ګويا دسره علم نسته.

وَاتَّبَعُوْا مَا تَتْلُوا الشَّيٰطِيْنُ عَلٰى مُلْكِ سُلَيْمٰنَ ۚ

او ورپسې روان سو دهغه علم چې لوستى به شيطانانو دسليمان ؑ دباچهۍ په وخت

وَمَا كَفَرَ سُلَيْمٰنُ وَلٰكِنَّ الشَّيٰطِيْنَ كَفَرُوْا يُعَلِّمُوْنَ النَّاسَ

كې او كفر نه وو كړى سليمان ؑ ليكن شيطانانو كفر كړى وو چې ښوولى به يې خلقو ته

السِّحْرَ ۗ وَمَآ اُنْزِلَ عَلَى الْمَلَكَيْنِ بِبَابِلَ هَارُوْتَ وَمَارُوْتَ ۭ

جادو او هغه علم پسې روان سو چې نازل سوى وو په دوو ملائكو باندې دبابل په ښاركې چې يوى نوم هاروت او دبلې نوم ماروت وو.

وَمَا يُعَلِّمٰنِ مِنْ اَحَدٍ حَتّٰى يَقُوْلَآ اِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا تَكْفُرْ ۭ

او نه به ښوولې هغه دوو ملائكو چا ته څو پورې چې به يې ونه ويل چې مونږ دآزميښت دپاره يُو نو تاسې كافر مه سې

فَيَتَعَلَّمُوْنَ مِنْهُمَا مَا يُفَرِّقُوْنَ بِهٖ بَيْنَ الْمَرْءِ وَزَوْجِهٖ ۭ وَمَا هُمْ

بيا دهغوى څخه به يې زده كوى هغه جادو چې په هغه به يې جلاوالى كوى دسړي او دهغه دښځې په مينځ كې او

بِضَآرِّيْنَ بِهٖ مِنْ اَحَدٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ وَيَتَعَلَّمُوْنَ مَا يَضُرُّهُمْ

دوی په دی سره نقصان نه کوی چاته بغیر دحکم دالله ﷻ څخه او زده کوی به یی هغه شی چی نقصان وکړی د دوی

وَلَا يَنْفَعُهُمْ ؕ وَلَقَدْ عَلِمُوْا لَمَنِ اشْتَرٰىهُ مَا لَهٗ فِى الْاٰخِرَةِ مِنْ

اوفائده ونه کی او دوی ته ښه معلومه وه چی چا غوره کی جادو نسته دهغه دپاره په آخرت کی څه

خَلَاقٍ ؕ وَلَبِئْسَ مَا شَرَوْا بِهٖۤ اَنْفُسَهُمْ ؕ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۰۲﴾

برخه او ډیر خراب شی دی چی دهغه په بدله کی یی خرڅ کړل خپل ځانونه که چیری دوی پوهیدی

وَلَوْ اَنَّهُمْ اٰمَنُوْا وَاتَّقَوْا لَمَثُوْبَةٌ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ خَيْرٌ ؕ لَوْ كَانُوْا

او که چیری دوی ایمان راوړی وای اوتقوای یی کړی وای نو بدله به یی پیدا کړی وای الله سره غوره که چیری

يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۰۳﴾ ع

دوی پوهیدی

لنډتفسیر: او (یهود داسی بی عقله دی چی) دوی (دکتاب الله تابعداری خو ونه کړه او) ددا سی شی (یعنی دسحر اوجادو) تابعداری یی (غوره) کړه چی دهغه مشهور تیا کوله شیطانانو (یعنی خبیثو پیریانو) دحضرت سلیمان ﷺ دباچهی په (زمانه) کی او (بعضی بی عقلوچی په حضرت سلیمان ﷺ دسحر ګمان کوی دابالکل بی بنیاده خبره ده ځکه چی سحر خو اعتقاداً اياعملاً کفردی او) حضرت سلیمان ﷺ (نعوذبالله کله) کفر نه وو کړی مګر (ها) شیطانانو (یعنی خبیثو پیریانو بی شکه) دکفر (خبری یعنی سحریی) کوی او حال دا وو چی (په خپله خو یی کوی نورو) خلګوته یی هم (ددي) سحر تعلیم کوی (نو دغه سحر په میراث کی راروان دی او ددی اتباع دا یهودیان کوی) او (دغه شان) دهغه (سحر) هم (داخلق اتباع کوی) چی هغه پردوو ملائکو (دیوخاص حکمت دپاره) نازل سوی وو (چی) دبابل (په ښار) کی (اوسیدلی) چی دهغوی نومونه هاروت او ماروت وه اودی دواړو (دغه سحر) چاته به نه ښووی ترڅو (چی مخکی داحتیاط دپاره به یی دا ونه) ویل چی زمونږ وجود هم (دخلګو دپاره) یو (دخدای ﷻ) امتحان دی (چی زمونږ دژبی څخه په سحربانذی په خبریدو سره څوك په کښی راګیریږی) نو (بعضی) خلګو به ددغه دوو (ملائکو) څخه دا رنګه سحرزده کوی چی په هغه به یی (عمل وکی) دیوه سړی اودهغه دښځی په مینځ کی به یی جدایی پیدا کوله او (په دی خبره په څه وهم او بیره کی مه

کیږی چی جادوګر څه غواړی هغه کولی سی څکه چی یقینی خبره دا ده چی، داخلق دَدغه (سحر) په ذریعه چاته (دَدړی غوندی) ضرر نه سی رَسَولی مګر دالله ﷻ په (تقدیری) حکم سره او (داسی سحر حاصل کی بس) داسی شیان زده کوی چی (خپله) دوی ته (دګناه په وجه) ضرر ورکوی او (په څه مُعتَدبِهِ درجی سره) دوی ته فائده نه ورکوی (نویهودهم دَسحر دَاتباع په وجه به په ضررکی وی) او (دا خبره یوازی زمونږ نه ده بلکه) ضرور دا (یهود) هم دومره پوهیږی چی کوم سړی دا (سحر) (دکتاب الله په بدله کی) خوښ کی دداسی سړی دَپاره په آخرت کی څه برخه (باقی) نه ده اوبیشکه بددی هغه شی (یعنی جادو اوکفر) چی دهغه دَپاره داخلق خپل ځانونه ورکوی کاشکی ! دَدوی (دومره) عقل وی اوکه چیری دِی خلګو (پرځای دَدغه کفر اوبدعملی) ایمان اوتقوٰی (خوښه) کړی وای نودالله ﷻ څخه ددی بدله (تردی کفر اوبدعملی په زرګونو درجی) ښه وه کاشکی! (دومره) عقل یی وای.

علوم اومسئلي: دَمذکوره آیاتونو په تفسیر اوشانِ نزول کی چی کوم اسرائیلی روایتونه نقل سوي دی دهغه څخه خلګو ته قسم قسم شبهی وړاندی کیږی دَدغو شبهوحل حضرت حکیم الامت مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله په ډیره آسانه اوواضحه طریقه کړي دی نو په دی وجه دهغه هُو بهو نقل کول دلته کافی دی او هغه دا دی.

(۱) داکم عقله خلق چی سلیمان علیه السلام ته به یی دَجادو نسبت کوی یهود وه، په دی وجه الله تعالی دآیت په مینځ کی دحضرت سلیمان علیه السلام ددی خبری څخه پاك والی بیان کړي دی، (۲) ددی آیتونوڅخه دَیهودو بدی بیانول غرض دی څکه چی په دوی کی دَجادو شهرت وو، ددی آیتونو په باره کی دَزُهره یوه اوږده قصه هم مشهوره ده چی داڅه په معتبر روایت ثابته نه ده، کومو علماؤ چی دا قصه دشرعی دَقواعدو څخه مخالفه ګڼلی ده هغوی دا قصه ردکړي ده، زمونږ فی الحال دلته ددی دغلط والی یاصحیح والی سره څه کارنسته، البته دومره خبره ضروری ده چی ددی آیاتونو دَتفسیر کولو دی قصی ته څه ضرورت نسته اونه تفسیر پردی قصه موقوف دی، (۳) اویهودو چی کله ددی ټولو خبرو پیژندلو باوجود عمل دَعلم خلاف کوی اودسوچ اوفکر څخه یی کارنه اخیستی نو په دی وجه اول دَ دوی دَپوهیدلو خبر الله تعالی ورکی اوبیاپه آخرکی په دی فرمایلو سره چی، کاشکی دَ دوی علم او عقل وای دَدغه پوهیدو نفی وکړه اوداڅکه چی په کم علم باندی عمل نه وی نوهغه دَجهل یعنی دنه علم برابردی، (۴) په یوه زمانه کی چی دَهغه په پوره تعین باندی یوه صحیح رایه تراوسه نه ده قائمه سوی، په دنیاکی اوخصوصًا په بابل کی دَجادو ډیرشهرت ګډوو، او ددی عجیبه عجیبه اثرونه چی به جاهلانو خلګو ولیدل نودَپیغمبرانو دَمعجزو اودَسحرپه حقیقت کی به دوی ته اشتباه کیدله او بعضی خلګو به جادوګران پاك او دَاتباع قابل ګڼل اوجادو به یی ښه کارګڼی اودا به یی زده کوی اوعمل به یی په کوی، لکه څنګه چی په موجوده دورکی دَمسمریزم معامله ده، الله تعالی دَدغه اشتباه دختمولو

دپاره دوی ملائکی دَهاروت اوماروت په نامه ددی غرض دَپاره راولیږلی چی خلګوته دَسحر دحقیقت او دَهغه دشعبو څخه خبر ورکړل سی او داسی دا اشتباه ختمه سی ، اوچی خلق په جادو باندی عمل او دَجادوګر تابعداری پریږدی اولکه څنګه چی دَپیغمبرانو نبوت په معجزوسره ثابتیږی هم دغه رنګه دَهاروت اوماروت په ملائکه کیدو باندی دلیلونه قایم کړل سوه چی دَ دوی دَحکمونو اوارشاداتو تعمیل ممکن سی، او دا کار یی دپیغمبرانو څخه په دی وانخیستی چی اول خوپه پیغمبرانو او جادوګروکی جدایی کول غرض وه ، په یوحیثیت پیغمبرانو دَمدِ مقابل درجه لرله نوپه دی وجه حکم او فیصله کوونکی دفریقینو څخه علاوه یو دریم ګړی مناسب وو.

دوهم دا چی ددی کار تکمیل دَجادو دَالفاظو دَنقل کولو څخه بغیر عادةً کیدی نه سوای که څه هم چی دَ (نقل کفر کفر نباشد) دعقلی اونقلی منلی سوی قاعدی موافق داسی کیدی سوای لیکن کله چی پیغمبران دهدایت مظهروه نو دهغوی څخه داکار اخیستل مناسب ونه ګڼل سو نو په دی وجه ددی کار دپاره ملائکی منتخب سوی او دا ځکه چی دتکوین په کارخانه کی چی هغه پرخیر اوشر تولو باندی مشتمله ده ددی ملائکو څخه داسی کار هم اخیستل کیږی چی هغه دعالم دمجموعی په اعتبار خو دَعامو مصالحو په وجه خیر وی او دمفسد دَلازم کیدوپه وجه فی ذاتهِ شر وی لکه دَیوظالم جابر یاموذی حیوان او نورو پالنه سوه ، چی دا خو په تکوینی اعتبار سره صحیح اوښه ده اوپه تشریعی اعتبار سره ناصحیح او بده ده اوپیغمبران خو داسی نه دی ځکه چی دهغوی څخه خاص دَشریعت کار اخیستل کیږی چی هغه عمومًا اوخصوصًا هم خیر وی، اوکه څه هم چی دَغه دَجادو نقل کول دلوړ ذکرسوی غرض له مخی که یوتشریعی کاروو لیکن بیاددی شی دنژدی احتمال په وجه چی هسی نه دا نقل کول هم په جادو باندی دَعمل کولو اوښه ګڼلو سبب ونه ګرځی دپیغمبرانو دپاره ښه ونه ګڼل سو.

البته په کلیاتو شرعیه وو سره دَپیغمبرانوپه ذریعه ددی غرض تکمیل هم وسو خو ددی کلیاتو دَجزئیاتو تفصیل دَپیغمبرانو په ذریعه ددی وجی څخه بیان سوچی دَفتنی احتمال قوی وو، ددی مثال څه داسی دی ، چی پیغمبرانو دا ښوولی دی چی رشوت اخیستل حرام دی ، او دَرشوت حقیقت یی هم ښوولی دی ، لیکن داجزئیات یی نه دی ښوولی چی درشوت اخیستلو یوه طریقه دا ده چی دچاڅخه رشوت اخلی نو داسی چل ورسره وکړه او داسی خبره ورته وکه او نور او نور، ځکه چی دارنګه تفصیلاتو بیانولو څخه خوخلق نورچلونه زده کولی سی یا دَسحرپه قسمونوکی مثال فرض کړه چی په قواعدو کلیه وو سره دانبوول سوي دی چی ددست غیب دَعمل په وجه تربالنبت لاندی اویاپه جیب کی پیسی حاصلیدل نارواذی لیکن دا نه دی ښوول سوی چی دفلانی عمل په لوستلو سره داشان روپی حاصلیږی ، دَخبری خلاصه دا ده چی ملائکی بابل ته راغلی اوخپل کار یی شروع کی کار دا چی دَسحر اصول اوفروع یی څرګندکړه اوخلګوته یی ددی بدعمل څخه دخلاصیدو اودجادوګرو څخه

دلیری کیدلو آګاهي ورکړه، ددې مثال څه داسې دی چې یوعالم وويني چې جاهل خلق دبې عملۍ په وجه دکفرکلمې وایي نوهغه دتقریر یاتحریر په ذریعه داکلمې جمع کې اوخلق خبردارکې چې ګوری ددې کلمو څخه ځان وساتی.

کله چې ملائکو کارشروع کې نودوی ته دخلګوتګ راتګ شروع سو اودې خلګو د دوی څخه دا سوال وکې چې مونږ ته هم دا اصول او فروع را وښیاست چې هسې نه دناپوهي په وجه په اعتقادي اوعملي فساد کې مبتلا نه سو، نو په دې وخت کې ملائکو داحتیاط تبلیغ اواصلاح په وجه دا خبره په ځان لازمه کړه چې ددغه اصولو اوفروعو ترښوولو وړاندې به یې ویل چې ګوری زمونږ په دې ښوولو الله تعالی دخپلو بندګانو آزمیښت هم کوی چې څوك ددې خبرو څخه په خبریدو سره دخپل دین حفاظت او اصلاح کوی چې ددې شر څخه خبر سو اوځان یې ورڅخه وساتي اوڅوك خپل دین خرابوی اودشر څخه دخبریدو باوجود شرغوره کوی داسې شرچې دهغه انجام کفردی برابره خبره ده که هغه کفرِ عملي وی اوکه اعتقادي وی، ګوری مونږ درته نصیحت کووچې په ښه نیت ورڅخه ځان خبرکې اوبیاپردې نیت ټینګ اوسی هسې نه چې په خرابۍ کې مبتلاسی اوخپل ایمان برباد کې.

اوس ظاهره ده چې تردې زیاته خیرخواهي نوره کومه کیدې سوه، مطلب دا چې چابه د دوی سره دغه رنګه عهد اوپیمان وکې نو دوی به هغه ته دجادو ټول اصول اوفروع بیان کړه څکه چې د دوی کار دغه وو اوس که چیرې څوك وعده خلافي کوی اوپه خپل اختیار اوارادې کافر فاجر ځان ګرځوی دا دهغه خپل کار دی په دې کې ددې ملائکوڅه قصور دی؟ لکه بعضي په دې عهد باندې ټینګ پاته نه سوه، او دا جادویي خلګوته دتکلیف رسولو ذریعه جوړه کړه چې داسې کول فِسق خو یقیني دی او ددې داستعمال څه طریقې دکفر هم دی، نو دغه ډول فاجران اوکافران سول.

ددغه ملائکو داصلاحي ارشاد او ددغه خلګو پرخپلو وعدوباندې دنه ټینګیدو مثال داسې کیدې سی چې یو سړی یوجامع معقول او منقول عالم باعمل ته راسی او ورته دا ووایي چې ماته زړه یانوی فلسفه په دې غرض وښیه چې زه په خپله دهغو شبهاتو څخه خلاص سمه کمې چې په فلسفه کې د اسلام خلاف سوي دی او داسلام مخالفینوته جواب ورکړلای سم، او دی ته عالم ته دا بیره وی چې هسې نه داسې ونه سی چې دی ماته دوکه را کړی اوفلسفه زده کی اوبیایي داسلام په خلاف کار کی ونه لګوی، نو ددغه احتمال په وجه دا عالم ورته نصیحت وکی چې داسې مه کوه فلسفه مه زده کوه خو دا سړی پر خپله خبره ټینګ وی او دعالم سره وعده وکړی چې زه به داسلام خلاف فلسفه نه استعمالوم، نو داعالم ده ته فلسفه وښیي، بیاداسړی دفلسفې هغه نظریات چې داسلام خلاف دی صحیح او درست ګڼل شروع کی نو خبره ظاهره ده چې په دې کی ددغه عالم هیڅ قصور نسته، هم دغه شان چې ملائکو به دوی ته دسحر اصول اوفروع ښوول وروسته ترنصیحت کولو اوتر وعدې اخیستلو چې په

دی به عمل نه کوی، په دی کی دی ملائکوته هیڅ قصور اوملامتیا نسته ، او ددی فرض اوکار ترتکمیل وروسته غالبًا دغه ملائکی آسمان ته وبلل سوی ، والله اعلم بحقیقة الحال.

(دسحر حقیقت)

سحر په کسری دسین سره په لغت کی هرهغه اثرته وایی چی دهغه سبب څرګندنه وی (قاموس) برابره خبره ده که دهغه سبب معنوی وی لکه دخاصو خاصو کلمو اثر اوکه دغیر محسوسو شیانو اثر لکه دپیریانو شیطانانو اثریاپه مسمریزم کی دقوت خیالیه اثر، اوکه دمحسوساتو وی لیکن هغه محسوسات پټ وی لکه داوسپنی را ایستلو اثرپه مقناطیس کی چی کوم وخت مقناطیس دسترګو څخه پټ وی یالکه د دوا ګانو اثرکوم وخت چی دواګانی پټی وی یا دستورو اثر .

نو په دی وجه دجادوقسمونه ډیردی لیکن په عُرفِ عام کی جادو هغه شیانو ته ویل کیږی چی په هغه کی دپیریانو اوشیطانانو دعمل دخل وی یادمسمریزم دقوتِ خیالیه دخل وی یادځه الفاظو یاکلمو دخل وی ځکه چی داخبره دعقل اوتجربی څخه ثابته ده او زړه اونوی فلسفه یی هم منی چی په حروفو اوکلموکی دخاصیت په وجه څه اثرونه وی، دیوه خاص حرف یادیوی خاصی کلمی په خاص شمیر سره په لوستلو یالیکلوکی دخاص خاص اثرونو مشاهده کیږی، اوداسی اثرونه چی هغه دانسان دوربښتانو یا نوکونو یانورو اندامونو یادهغه داستعمال دجاموسره دنورو شیانوپه ګډون پیدا کیږی چی هغه ته توټکی ویل کیږی هم جادو ګڼل کیږی .

او دقرآن اوسنت په اصطلاح کی سحرهغه عجیبه شی ته ویل کیږی چی په هغه کی دشیطانانوپه خوشحاله کولو سره کومك حاصل سوی وی ، بیا دشیطانانو دراضی کولو دپاره مختلفی طریقی دی کله داسی منتر وویل سی چی په هغه کی دکفر اوشرك کلمی وی اودشیطانانو صفت وی اویا دستورو عبادت سوی وی چی په دی هم شیطان خوشحاله کیږی .

اوکله دا اعمال وکړل سی چی هغه شیطان خوښوی مثلاً په ناحقه یو څوك وژل او بیا دهغه وینه استعمالول یادجنابت اونجاست په حالت کی پاته کیدل دپاکی څخه ځان ساتل اونور اونور، لکه چی څنګه دالله تعالی دپاکو ملائکو امداد په هغه اقوالو اوافعالو حاصلیږی کوم چی ملائکی خوښوی مثلاً تقوی پاکی دنجاست څخه ځان لیری ساتل دالله تعالی ذِکر اودخیر کارونه، نودغه شان دشیطانانو امدادپه داسی اقوالو اوافعالو سره حاصلیږی چی هغه دشیطان خوښ وی نوپه دی وجه په سِحر کی هغه خلق کامیابه وی چی ګنده اوپلیت وی، دپاکی اودالله ﷻ دنوم څخه لیری وی دبدو کارونو عادی وی، ښځی هم دحیض په ورځوکی چی داکار کوی نومؤثر وی ، باقی شعبدو توټکو یادلاس دصفایی کارونو یامسمریزم اونورو ته سِحر مجازًا ویل کیږی (روح المعانی ج ۱ ص ۳۳۸)

(دسحر قسمونه)

په مفردات القرآن (ص ۲۲۴) کی امام راغب رحمه الله لیکی چی دَسحر مختلف قسمونه دی ، یوقسم خو محض نظر بندی اوپه خیال کی اچول دی چی دهغه واقعی څه حقیقت نه وی لکه چی بعضی شعبده باز دَخپل لاس په چالاکی اوصفایی داسی کار کوی چی دَعامو خلګو نظر دَهغه دَلیدلو څخه قاصر وی، یادَمسمریزم اونور دَقوت خیالیه په ذریعه دَچا په دماغ باندی داسی اثروسی چی هغه یوشی په خپلو سترګو وینی خو په اصل اوواقع کی دَهغه څه حقیقت نه وی، کله داکار دَشیطانانو داثر څخه هم کیدی سی چی دَیوه سړی پرسترګو اودماغ باندی داسی اثروسی چی هغه یوشی په خپلو سترګو وینی خوپه اصل اوواقع کی دَهغه څه حقیقت نه وی ، کله داکاردَشیطانانو داثر څخه هم کیدی سی چی دَیوسړی په سترګواودماغوباندی داسی اثر وسی چی په هغه دی یو غیر واقعی شی حقیقت وګنی، په قرآن مجید کی دَفرعون دَساحرانودکوم سِحرچی ذکرسوی دی، هغه دَسحر اولنی قسم وولکه چی ارشاد دی سَحَرُوٓا اَعۡیُنَ النَّاسِ (الاعراف ، ۱۱۲) (دوی دَخلګو په سترګو باندی جادو وکی) او ، یُخَیَّلُ اِلَیۡهِ مِنۡ سِحۡرِهِمۡ اَنَّهَا تَسۡعٰی (طٰهٰ ، ۶۶) (دَ دوی دسحر څخه دَموسٰی علیه السلام په خیال کی دا راغله چی دَرسیو داماران ځغلی) د یُخَیَّلُ دلفظ څخه دا معلومه سوه چی کوم رسی اوامساګانی دوی غورځولی وی هغه نه په حقیقت کی ماران جوړسوی وه اونه یی څه حرکت کوی لیکن دَحضرت موسٰی علیه السلام په خیال کی دا اثر جوړ سوی وو چی دا ورته زغلیدونکی ماران ښکاره سو.

بل قسم هغه تخیل اونظر بندی ده چی په بعضو وختونو کی دَشیطانانو داثر څخه پیدا کیږی اودا دَقرآن کریم ددی ارشادڅخه معلومیږی ، هَلۡ اُنَبِّئُکُمۡ عَلٰی مَنۡ تَنَزَّلُ الشَّیٰطِیۡنُ ٭ تَنَزَّلُ عَلٰی کُلِّ اَفَّاكٍ اَثِیۡمٍ ٭ (الشعرآء۲۲۲)(زه تاسی ته ښیم چی په کوموخلګو شیطانان نازلیږی په هربهتان لګوونکی اوګناهګار نازلیږی) اوپه بل ځای کی ارشاد دی ، وَلٰکِنَّ الشَّیَاطِیۡنَ کَفَرُوۡایُعَلِّمُوۡنَ النَّاسَ السِّحۡرَ (اوشیطانانو کفر وکی او خلګو ته یی جادو وښووی)

دریم قسم دا دی چی دَسحر په ذریعه دَیوشی حقیقت بدل سی لکه دَیوه انسان یاحیوان څخه کانی یایو حیوان جوړ کی ، امام راغب رحمه الله اوابوبکر جصاص رحمه الله دَداسی قسم سحر څخه منکر دی اودا دمعتزله وو هم قول دی ، لیکن دجمهورو علماؤ تحقیق دا دی چی دشیانو (اعیانو) په بدلیدلو کی لکه دیوه جسم څخه کانی جوړیدل یایوه نوعه مثلاً انسان په بله نوعه مثلاً په بیزو باندی بدلیدل دا خو نه په عقلی طور محال دی اونه په شرعی طور، اودفلسفیانو داقول چی دحقائقو بدلیدل ممکن نه دی ددی مطلب دا دی چی دمحال ممکن او واجب حقیقتونه بدلیدل ناممکن دی چی په دوی کی عقلاً داسی بدلیدل محال دی چی یوممکن محال یاواجب سی ، یایومحال ممکن یاواجب سی یا یو واجب ممکن یامحال سی ، اوپه قرآن کی دَفرعون دَساحرانو سحرته که تخیّل ویل سوي دی ددی څخه دانه

لازمیږي چې هریو سحر دې تخیل وي ، اوتردې زیات څه بل قسم دې نه وي اوبعضې خلګو دسحرپه ذریعه دَحقیقت پربدلیدو باندې دَحضرت کعب احبارؓ ددې حدیثه څخه دلیل نیسي چې هغه په موطا امام مالك کې دې اودَقعقاع بن حکیم څخه منقول دې دَهغه الفاظ داسې دې ، لَوْلَا كَلِمَاتٌ اَقُوْلُهُنَّ لَجَعَلَتْنِي الْيَهُوْدُ حِمَارًا (که چیرې داځو کلمې نه وای چې زه یې په پابندۍ سره وایم نو دې یهودو به زما څخه خر جوړکړې وای)

دَخرجوړَولو لفظ مجازًا دَبې عقله جوړولوپه معنٰی هم کیدې سې لیکن بغیر دَضرورت څخه حقیقت پرېښوول اومجاز اخیستل صحیح نه دې نو په دې وجه حقیقي اوظاهري معنٰی او مطلب ددې داسو که چیرې ماروزانه په پابندۍ سره داکلمې نه لوستې نویهودو به زما څخه خر جوړ کړې وای .

ددې څخه دوې خبرې ثابتې سوې یوه دا چې دَسِحرپه ذریعه دَانسان څخه دَخر جوړولو امکان سته ، دویم دا چې هغه چې کومې کلمې لوستلې دَهغه دا اثر وو چې بیاڅه جادو اثر کولې نه سوای، خلګو چې دده څخه ددې کلمو پوښتنه وکړه نو ده ورته داکلمې وښوولې اَعُوْذُ بِاللّٰهِ الْعَظِيْمِ الَّذِيْ لَيْسَ شَيْءٌ اَعْظَمَ مِنْهُ وَبِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّامَّاتِ الَّتِيْ لَا يُجَاوِزُ هُنَّ بَرٌّ وَّلَا فَاجِرٌ وَبِاَسْمَآءِ اللّٰهِ الْحُسْنٰى كُلِّهَا مَاعَلِمْتُ مِنْهَا وَمَالَمْ اَعْلَمْ مِنْ شَرِّ مَاخَلَقَ وَبَرَءَ وَذَرَءَ، (اَخْرَجَهُ فِي الْمُوَطَّا بَابُ التَّعَوُّذِ عِنْدَ النَّوْمِ)

زه دلوی خدای ﷻ پناه اخلم چې ترهغه لوی څوك نسته اوپناه اخلم دَالله په مکملو کلمو چې دهغه څخه يوڅوك ښه اوبد انسان مخ نه سي وتلې اوپناه اخلم دَالله ﷻ په ټولو اسماء حسنٰی باندې چې کوم ماته معلوم دي اوکوم چې معلوم نه دي دهرهغه شي دَشر څخه کوم چې الله تعالٰی پیدا کړې دي او وجود یې ورته ورکړي دي .

خلاصه دا چې دسِحر درې واړه قسمونه داسې دي چې ددې واقع کیدل ممکن دي .

(په سحر او مُعجزه کې فرق)

څنګه چې دَپیغمبرانو دَمعجزو څخه یادَاولیاؤ دکرامتونو څخه داسې واقعات په مشاهده کې راغلې دي چې هغه عادةً ممکن نه دي اوچې په دې وجه دي ته خرقِ عادت ویل کیږي، دغه رنګه آثارپه ظاهره دَسِحر اودجادوڅخه هم په مشاهده کې راغلي دي اوپه دې وجه بعضې ناپوهانوته په دې دواړوکې ګډون کیږي او په دې وجه بیاد‌وی دَجادوګرو تعظیم اوتکریم کوي، نوپه دې وجه ددواړو فرق بیانول ضروري سو، دا فرق یو دَاصل اودحقیقت له مخې دي اوبل دَظاهري آثارو له مخې دي .

دَحقیقت له مخې فرق خو دا دي چې په سحر اوجادو سره چې کوم شیان په مشاهده کې راځي نو هغه دَاسبابو ددائرې څخه وتلي نه وي ، فرق صرف دَاسبابو دَخرګندوالي اودپټ والي دي چیرې چې اسباب ظاهروي نودا آثاردغه اسبابوته منسوب کړل کیږي او دَځه تعجب شی نه ګڼل کیږي، لیکن چې کوم ځای اسباب پټ وي نوهغه دَتعجب کولوشي وي اوعام خلق دنه پوهیدوپه وجه دا خرقِ عادت

گنی، حال دا دی چی هغه په حقیقت کی دټولو معمولی اوعادی شیانو په شان دیو پیری اوشیطان داثر څخه کیږی ، که چیری یو خط دَمشرق بعید څخه چی نن لیکل سوی وی دلته راولویږی نولیدونکی به داخرقِ عادت وګنی اوحال دا دی چی پیریانو اوشیطانانو ته دَداسی کارونو کولو قوت ورکول سوی دی ، که چیری په دی کارکی د دوی ذریعه کیدل خلګو ته څرګندوی نو بیابه دا دی خلګوته خرقِ عادت نه ښکاري دی ، مطلب دا چی په سحرکوم ټول آثار ظاهریږی هغه ترطبعی اسبابو لاندی وی لیکن دَاسبابو دَپټ والی په وجه خلګو ته ددی دَخرقِ عادت دوکه کیږی .

اومعجزه دارنګه شي نه دی ، هغه بغیر دڅه ذریعی اوسبب ، دالله ﷻ کار وی او په هغه دطبعی اسبابو هیڅ دخل نه وی په ابراهیم ؑ باندی چی دنمرود اور بل کړل سوی اوسوړ سوی وو ، دا دڅه طبعی اسبابو دوجی څخه سوړ سوی نه وو بلکه دا دالله ﷻ کار وو چی اورته یی وویل چی سوړ سه ، او دومره زیات هم نه چی دهغه څخه ابراهیم ؑ ته تکلیف ورسیږي .

نن هم ځینی خلق پربدن باندی څه مسالی اونور لګوی او اورته دننه کیږی خو دا معجزه نه ده، دَمسالو اثردی اودامسالی هرکله چی خلګوته ظاهری نه وی نوپه داسی کارباندی دَخرقِ عادت ګمان کوی .

دا خبره چی په معجزه کی څه دَظاهری اسبابو دخل نه وی بلکه نیغ په نیغه دالله تعالی کاروی ، په دی قرآن عزیز په خپله شاهدی ورکوی ، الله تعالی فرمایی .

وَمَا رَمَيْتَ اِذْ رَمَيْتَ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ رَمٰى (یو موټی شګی چی تا غورځولی وی هغه په حقیقت کی تا نه وی غورځولی بلکه الله تعالی غورځولی وي)

مطلب دا چی دَیوه موټ خاورو اوډبرو دَټولی جمعِ سترګوته په رَسَولو کی ستا هیڅ دخل نه وو ، خالص دالله تعالی کار وو ، دا معجزه دبدر په غزا کی سوی وه چی نبی ﷺ یو موټی خاوره او ډبری دکافرانو په لښکر باندی وویشتل اودا دَټولو په سترګوکی ولویدی .

اوس دلته دا سوال پیداکیږی چی دَمعجزی اودَسحر په حقیقت کی دا فرق چی بیان سو عوام النّاس به یی څنګه پیژنی څکه چی په ظاهری صورت کی خودا دواړه یوشان دی ددی جواب دا دی چی دَعوام الناسُ دَپیژندو دفرق ډیرصورتونه الله تعالی ظاهرکړي دی .

اول دا چی معجزه اوکرامت دداسی خلګو څخه ظاهریږی چی دَهغوی تقوٰی او دَاعمالو او اخلاقو پاکی هرڅوك وینی ګوری او ددی په خلاف دَجادو اثر دَداسی خلګو څخه ظاهریږی چی هغه ګنده او دَالله تعالی دَنوم اخیستلو اوعبادت کولو څخه لیری وی او دا شی هرڅوك په سترګو لیدی سی اوپه دی سره دَمعجزی اودَسحرپه مینځ کی فرق کولای سی .

دویم دا چی دا دالله تعالی عادتِ جاریه دی چی کوم سړی دَنبوت دعوٰی وکی او دجادو په وجه دَخپل نبوت تصدیق کول وغواړی نو په داسی صورت کی بیا دهغه جادو کارنه کوی اوهیڅ اثر نه لری ، البته

دنبوت دَدعوی څخه بغیرکه چیري جادوکوي نو چلیږي.

(آیا په پیغمبرانو علیهم السلام باندې دَجادو اثر کیدی سي؟)

ددې جواب په اثبات کې دی (کیدی سي) اوپیغمبران دَطبعي اسبابو څخه متاثر کیدی سي اودا اثر قبلول دَنبوت دَشان سره څه منافي شی نه دی، لکه دَ دوی دَلوږې اوتندې څخه متاثرکیدل دي نو دغه شان دَجادو دَپټو اسبابو څخه هم پیغمبران متاثرکیدی سي ، دَصحیح احادیثو څخه ثابته ده چي یهودو په نبي ﷺ سحرکړی وو اودَهغه بعضی آثار څرګند سوي وه، دَموسیٰ ؈ دسحر څخه متاثر کیدل پخپله په قرآن کې ذکر دی ، الله تعالی فرمایي ﴿يُخَيَّلُ اِلَيْهِ مِنْ سِحْرِهِمْ اَنَّهَا تَسْعٰى﴾ یا ﴿وَاَوْجَسَ فِىْ نَفْسِهٖ خِيْفَةً مُّوْسٰى﴾ په موسیٰ ؈ باندې بیره را تلل دَجادو اثروو.

(دسحر شرعي احکام)

لکه چي مخکې ذکر اوبیان وسو چي دَقرآن اوحدیث په اصطلاح او ژبه کې سحر صرف هغه کار او عمل ته ویل کیږي چي په هغه کې دفسق فجور اوکفرپه وجه شیطان خوشحاله سوي وي اودَهغه څخه مدد اخیستل سوي وي اودَهغه په امداد سره څه عجیبه واقعات څرګند سوي وي دَبابل دَسحر چي په قرآن کې یې ذکر دی هغه هم دغه وو (جصاص) نوداسې سحرته قرآن کفر وایي ، ابومنصور ﷫ فرمایي چي صحیح دا ده چي مطلقًا دَسحر ټول اقسام کفر نه دی بلکه هغه سحر کفر دی چي په هغه کې دَایمان مخالف اقوال اواعمال وي (روح المعاني)

او دا ظاهره خبره ده چي په قرآن اوحدیث کې وار وار راغلی ده چي دَشیطان دې مخالف سي اوپه ده دې لعنت وویل سي ، ددې برعکس دده سره دوستي کول او دَده دَراضي کولو فکر کول په خپله یوه ګناه ده، بیاهغه هلته راضي کیږي چي انسان په شرك اوکفر کې مبتلاسي یاکم ازکم په فسق اوفجورکې مبتلاسي اودَالله تعالی دَرضا اودَملائکو دَرضا خلاف ګنده اوپلیت سي، دایوه ګناه سوه اوکه چیري دَجادُوپه وجه چاته په ناحقه نقصان ورسیږي نودابله ګناه سوه.

مطلب دادی چي په قرآن اوسنت کې کوم شی ته سحر ویل سوي دی هغه دکفرِ اعتقادي یاکم ازکم دکفرِ عملي څخه خالي نه دی که چیري دَشیطان دراضي کولو دَپاره څه دَشرك اوکفر اقوال یااعمال وسي نو داکفرحقیقي اعتقادي کیږي اوکه چیري دَشرك اوکفرداقوالویااعمالوڅخه محفوظ سي لیکن نور ګناهونه په کې وسي نودادعملي کفرڅخه نه خالي کیږي دقرآن کریم په دغه مذکوره آیاتونوکې چي سحرته کفرویل سوي دی نوداپه دې وجه چي داسحر داعتقادي کفراویادعملي کفرڅخه خالي نه ؤ،خلاصه دا چي په کوم سحرکې څه داسې عمل سوي وي لکه دَشیطانانوڅخه مددغوښتل سوه یاستوری مستقل اثر کوونکې ګڼل سوه یاسحرمعجزه ګڼل بیادنبوت دعوه کول سوه نو داسې سحر په اجماع سره کفر دی او چي په کوم سحرکې داسې کارونه کول نه وي مګرګناه کول په کښي وي نو داسې سحر کبیره ګناه ده.

مسئله: هرکله چې دا معلومه سوه چې سحر دَاعتقادي کفر یادعملي کفر څخه خالي نه وي نودَسحر زده کول یابل ته ښوول حرام سوه اوپه دې باندې عمل کول حرام سوه ، البته که چیرې ددې غرض دپاره وښوول سي چې دَمسلمانانو بیاپه دې سره ضرر دفع سي نو بعضې فقهاؤ ددې اجازه ورکړې ده. (شامي عالمګیري)

مسئله: تعویذونه څابښتونه چې عاملان یې کوي که چیرې په دوی کې دَپیریانو یاشیطانانو څخه مدد غوښتل سوي وي نو دا هم دَسحر په حکم کې دي اوحرام دي اوکه چیرې الفاظ مشتبه وي معنیٰ یې معلومه نه وي اودَشیطانانو اودَبُتانو څخه دَمدد اخیستلو احتمال وي نو دا هم حرام دي .

مسئله: دبابل دَسحر څخه علاوه دَسحر نورقسمونه که چیرې په دې کې دکفر اوشرك ارتکاب وسي نو دا هم حرام دي .

مسئله: اوکه چیرې دکفر اوشرك څخه خالي دَنورو مباحو اوجائزو شیانو څخه کار واخیستل سي نو دا صرف په دې شرط روا دي چې په دې سره ناجائز مقصد او غرض حاصل نه سي .

مسئله: که چیرې دَقرآن اوحدیث الفاظ هم دناجائزمقصد دَپاره په کارکې راوستل سي نوداهم روا نه دي ، مثلاً چاته په ناحقه دضرر رَسَولو دَپاره ددې چې تعویذ وسي یاوویل سي (فتاوی قاضي خان شامي)

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَقُولُوا رَاعِنَا وَقُولُوا انْظُرْنَا

ای دایمان خاوندانو ! تاسي مه وایاست (راعِنَا) او وایاست (اُنظُرنَا)

وَاسْمَعُوا وَلِلْكَافِرِينَ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٠٤﴾

او واورئ او کافرانو دپاره عذاب دی دردناك

لنډتفسیر: بعضې یهودوبه داشیطاني کوله چې نبي ﷺ ته به راغله نوهغه ته به یې په (راعِنا) لفظ سره خطاب کوی چې دهغه معنیٰ په عبراني ژبه کې یوقسم ښراوې دي او دوی به دا ویناهم په دې نیت کوله لیکن په عربي ژبه کې ددې معنیٰ ده ، زمونږ دمصلحت اوفائدې لحاظ وکړه ، نو په دې وجه عربیان په دې شیطانت نه پوهیدل او دښه غرض اومقصد دَپاره بعضې مسلمانانوپه دې کلمې سره نبي ﷺ ته مخاطبه کول شروع کړه نو په دې سره دغه یهودي شیطانانو ته نورګنجائش حاصل سو چې په خپل مینځ کې به کښېنسته نو خندل به یې چې تر اوسه پورې خو مونږ دَده (نبي ﷺ) بدې په پټه بیانوله اوس په ډاګه دَبیانولو خو داسي چل په لاس راغی چې مسلمانان هم په دې کې شریك سوه نوالله تعالی دَدغه ګنجائش دختمولو دَپاره مسلمانوته دا حکم وکی چې) ای دَایمان خاوندانو تاسي (لفظ د) رَاعِنَامه وایاست (او ددې په ځای) اُنظُرنَا وایاست (ځکه چې ددې لفظ معنیٰ او دراعِنَا دلفظ معنیٰ په عربي کې یوشي ده په راعِنَا ویلو کې دَیهودو دَشیطاني کولو چې کوم مقصد او غرض دی هغه حاصلیږي ، نو په

دی وجه دا پرېږدی او بل لفظ استعمالول شروع کی) او (دا حکم په ښه طریقه) واوری (او یاد یی لری) او (ددغه) کافرانو دپاره (خوبس) سزا دردمنده به وی (چی دپیغمبر ﷺ په حق کی داسی بی ادبی او دده سره داسی چالاکی کوی)

مسئله: ددی آیت څخه دا معلومه سوه چی که چیری دَیوه سړی دَخپل یوجائز کارڅخه دنورو دَپاره دَنا جائزو کارونو موقع را ووزی نو دا جائز کار بیادی سړی دَپاره جائز پاته نه سو، لکه چی دیوه عالم دَرواکار څخه ناپوهه خلق په مغالطه کی پریوزی اوپه ناروااوو کی دَمبتلا کیدلو خطره یی وی، نو ددی عالم دَپاره دا روا کار کول هم ښه نه دی، لیکن شرط په کښی دا دی چی دا کار دشرعی ضروری کار نه وی، ددی مثالونه په قرآن اوحدیث کی ډیر دی، ددی یو دلیل او مثال هغه حدیث دی چی په هغه کی نبی ﷺ فرمایی، چی دبیت الله تعمیر چی قریشو دَجاهلیت په زمانه کی کړي دی په دی کی ډیر شیان داسی دی چی هغه دَابراهیمی تعمیر څخه خلاف سوي دی، زمازړه غواړی چی دا وران کړم او دَنوی سرڅخه دَابراهیمی تعمیر موافق یی جوړه کړم لیکن په داسی کولو سره دَناپوهانو عوامو په فتنه کی دمبتلا کیدو بیره ده نو په دی وجه سمدستی داسی نه کوم.

داسی حکمونو ته دَاصولِ فقهی په اصطلاح کی سدِّ ذرائع وایی، دا دَټولو فقهاؤ په نزد معتبردی او خصوصًا حنبلیان دی ته ډیر اهمت ورکوی (قرطبی ج ۲ ص ۷۵)

مَا يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتٰبِ وَلَا الْمُشْرِكِينَ أَنْ يُنَزَّلَ عَلَيْكُمْ مِنْ خَيْرٍ مِنْ

زړه غواړی دهغوخلقوچی کافردی په اهل کتابو کی اونه دمشرکانو داخبره چی نازل کړل سی په تاسی باندی څه ښه

رَبِّكُمْ وَاللّٰهُ يَخْتَصُّ بِرَحْمَتِهٖ مَنْ يَشَاءُ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ ﴿۱۰۵﴾

خبره ستادپروردګاردطرف څخه اوالله خاص کوی په خپل رحمت سره څوك چی غواړی اوالله دلوی فضل خاوند دی

لنډتفسیر: درسول الله ﷺ چی دیهودو کومه معامله وه هغه په مخکی آیت کی بیان سوه، اوس په دی آیت کی دمسلمانانو سره دَیهودو دَمعاملی بیان کیږی چی (بعضی یهودیانو به بعضی مسلمانانوته دا ویل چی خدایږو مونږ دزړه ستاسی خیر خواه یو او دَزړه څخه دا خوښوو که چیری ستاسی دینی حکمونه زمونږ دینی حکمونوښه وای نو مونږ به هم دا دین هم قبول کړی وای لیکن څه وکوچی ستاسی دین زمونږ تردین ښه ثابت نه سو، نوالله تعالی دَ دوی دا دعوه دخیرخواهی کولو ردکړه اووی فرمایل چی) لږهم نه خوښوی کافران خلق (برابره خبره ده که) دَاهل کتابو څخه (چی وی) او (که د) مشرکانو څخه داخبره چی تاسی ستاسی دَپروردګار دَطرف څخه لږقسم بهتری (هم) حاصله سی او (دَ دوی په حسدهم څه نه کیږی څکه چی) الله تعالی په خپل رحمت (اوعنایت) سره څوك چی وغواړی خاص کوی یی اوالله تعالی لوی فضل (کولو) والا دی.

فائده: ددي یهودو دوی دعوی وی یوه داچي دَدوی دین (یهودیت) تراسلام غوره دی اودویمه داچي دوی دَمسلمانانو خیرخواه دي، اولنی دعوٰی خو دوی ثابته نه کړای سوه، په عجیبه دعوی سره څه کیدی سی، اوبیادا دعوه څه عبث غوندی خبره نه ده، څکه چي کله ناسخ دین راسی نومنسوخ دین پریښوول کیږی اودا دَغوره اوناغوره پرفرق موقوفه نه ده، نوپه دی وجه چي داخبره ظاهره او څرګنده وه ددي جواب یی دلته ذکر نه کی، صرف پردویمی دعوی (خیرخواهی) خبره سوي ده هغه داسی چي لکه څنګه چي مشرکان دَمسلمانانو یقینًا خیرخواه نه دی نودغه شان یهودهم وګڼی چي دوی هم دَمسلمانانو خیرخواه نه دی.

مَا نَنْسَخْ مِنْ اٰيَةٍ اَوْ نُنْسِهَا نَاْتِ بِخَيْرٍ مِّنْهَا اَوْ

کوم چي منسوخ کوو مونږ یو آیت یا هیروو نو لیږو تر هغه غوره

مِثْلِهَا ؕ اَلَمْ تَعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ ۞۱۰۶ اَلَمْ تَعْلَمْ اَنَّ

یا دهغه برابر، آیا تا ته معلومه نه ده چي الله په هر شی باندی قادر دی آیا تا ته معلومه نه ده

اللّٰهَ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَمَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ

چي هم الله لره ده باچهي دآسمانونو او دمځکی او نسته ستاسی دپاره دالله څخه ماسوا

مِنْ وَّلِیٍّ وَّلَا نَصِیْرٍ ۞۱۰۷

څوك حمایتی او مدد ګار.

لنډتفسیر: (دَقبلی دَبدلیدو واقعه چي کوم وخت وسوه نویهودو په دی پیغور شروع کی اومشرکانو هم دبعضو حکمونو دمنسوخ کیدو په وجه یی دَخپل پیغور ژبی خلاصی کړی نوالله تعالی دَ دوی دَطعن او داعتراض جواب ورکی او وی فرمایل چي (دَیو آیت حکم چي کوو) (که څه هم چي دا آیت په قرآن کی او دَخلګو په زړونوکی موجود وی) یا (هم) دا آیت (دزړونو څخه) باسونو (دا دځه اعتراض قابله خبره نه ده څکه چي په داسی کولو سره هم څه فائده او مصلحت وی هغه داچي) مونږ تردی آیت غوره یادی آیت په شان (پرځاي ددی دوهم شی) راوړو (اعتراض کوونکي) آیاتاته دا معلومه نه ده چي الله تعالی پر هر شي قدرت لری (نوداسی قدرت لرونکی ته څه ګرانه نه ده چي هغه دَفائدو اومصلحتونو لحاظ وکی او) آیاتاته معلومه نه ده چي الله تعالی داسی (ذات) دی چي خاص دَهغه باچهي پرآسمانونو اوپر مځکه ده (اوکله چي دَهغه په قدرت اوباچهی کی دَهغه سره څوك شریك اوحصه دارنسته، نو ددغه

مصلحتونو اوفائدو له مخې په دویم حکم کولو کې څوك دده مزاحمت نه سي کولی غرض داچې د دویم حکم په منتخب کولو کې هم او په جاري کولو کې هم څه منع کوونکې نسته، او(په دې هم پوه سه چې) ستاسې دَالله تعالی څخه ماسوا څوك مددگارهم نسته (نوکله چې هم هغه مددگاردی نوهغه به ضرور په حکمونوکې دَمصلحت اوفائدې لحاظ کوي اوچې کله مددگاردی نودهغه په حکمونو دَعمل کولو په وخت کې به تاسې دمخالفت کوونکو دَمزاحمت څخه ضرور ساتي البته که چیرې ددې ضرر (دَمخالفینو مزاحمت) څخه څه بله لویه دآخرت فائده حاصلیدونکې وي نوپه ظاهره کې دَمخالف مسلط کیدل بله خبره ده.

علوم اومسئلي: د (مَانَنْسَخْ) په آیت کې دَقرآن کریم دَیوآیت دَمنسوخ کیدوچې څومره صورتونه کیدی سي هغه ټول یې په دې کې جمع کړي دي دنسخ معنٰی په لغت کې زائل کیدل اولیکل دي، په دې دَټولو مفسرینو اتفاق دی چې په دې آیت کې دنسخ څخه مراد دَیوه حکم زائل کول یعنی منسوخ کول دي او په دې وجه دکتاب الله اوسنت په ژبه او اصطلاح کې نسخ دې ته وایې چې دَیوحکم په ځای دویم حکم جاري سي برابره خبره ده که هغه دویم حکم دا وي چې مخکې حکم بالکل ختم سي اوکه دا وي چې دهغه په ځای بل عمل اوکار وښوول سي.

(په الهي احکامو کې دنسخ حقیقت)

دَدنیاپه حکومتونواوادارو کې دامشهوره اوعامه ده چې یوحکم منسوخ کوي اودَهغه په ځای بل جاري کوي، لیکن دانسانانوپه حکمونو کې نسخ کله په دې وجه کیږي چې مخکې دَغلط فهمۍ په وجه جاري سوی وي، وروسته چې بیاورته حقیقت معلوم سي نوحکم بدل سي اوکله په دې وجه کیږي چې په کوم وخت کې یوحکم جاري سوی وي نوهغه دَهغه وخت دَحالاتومناسب وي اوانسان ته خو دَوړاندې څخه د راتلونکو حالاتوپته نه وي نوکله چې حالات بدل سي نو دَدغه حکم په ځای نوی حکم جاري سي اودغه شان مخکې حکم بدل سي دادواړه صورتونه دَالله پاك په حکمونو کې نه سي کیدی اووجه یې ظاهره ده.

دریم صورت دا هم کیږي چې حکم کوونکې ته داول څخه دامعلومه وي چې حالات به بدلیږي اوپه دغه وخت کې به بیادغه مخکنی حکم مناسب نه وي بل یوحکم به مناسب وي نوهغه دَخپل دغه علم مطابق نن یوقسم حکم ورکې اوکله چې دَده دَعلم مطابق حالات بدل سي نوخپل مخکنی حکم بدل کې، ددې قسم مثال دا دی چې حکیم اوډاکټر چې دَمریض موجوده حالات وگوري نویوه دوا منتخبه کوي اوهغه پوهیږي چې دیو دوو ورځو دَدوا په خوراك به دَمریض حالات بدل سي اوبیابه دغه وخت ze ده ته بله دوا ورکوم اوحکیم هم دغه رنگ کار وکې چې اول ده ته دَاولنۍ ورځې دوا ورکې چې هغه دَدغه ورځې اودَحالاتو سره مناسب وي اوبیادوې ورځې وروسته دَحالاتو دَبدلیدوپه وجه بله دوا ورته ورکړي، ماهر حکیم اوډاکټر داهم کولی سي چې داولنۍ ورځې څخه دَمکمل علاج طریقه ولیکي اومریض ته

يي وركي چي تردوو رځو پورې دادوا وخوره بيادرې ورځې دانوره دوا بيايوه هفته دابله دوا، ليکن په داسې کولوسره دَمريض پر طبعيت بې وجې پيټې اچول دي اوپه دې کې دَغلطې کولوپه وجه دَعملي خلل خطره هم ده نوپه دې وجه دمخکې څخه تول تفصيلات ښوول په کار نه دي.

دَالله تعالى په نازل سوو کتابونو اواحکاموکې صرف دآخري صورت نسخه ممکنه ده اوکيږي، هر راتلونکې نبوت اوهر نازليدونکې کتاب دمخکې نبوت اوکتاب ډيرحکمونه منسوخ کړي دي او ددې په ځاې نوي حکمونه يې جاري کړي دي، اوهم دغه شان دَيونبي په شريعت اونبوت کې سوي دي چې دَځه وخت دَپاره يوحکم به جاري وو بيابه هغه دالله پاك دَحکمت په تقاضې سره بدل سو او دَهغه په ځاې به بل حکم جاري سو دَصحيح مسلم په حديث کې دي.

لَمْ تَكُنْ نُبُوَّةٌ قَطُّ اِلاَّ تَنَاسَخَتْ (مسلم) (کله هم يوداسې نبوت نه دي راغلي چې دَهغه په حکمونو کې نسخ اوتبديلي نه وي راغلي (قرطبي ج ۲ ص ۲۲)

(جاهلانه شبهې)

خامخاخه جاهلويهودودَخپل جهالت په وجه داکول چې په الهي احکاموکې نسخ به يې دَدنيوي احکامو دنسخ په مخکنيودووصورتونوقياس کوله اوپه نبي ﷺ باندې به يې داعتراض اوطعن ژبه را اوږدوله، نوددې په جواب کې داآيتونه نازل سو(ابن جرير ج ۱ ص ۲۲۴ ابن کثير ج ۱ ص ۳۵۲ او نور)

په مسلمانانوکې دَمعتزلي فرقې بعضې خلق شايد دَدغو مخالفينو دَطعن څخه دخلاصيدوپه وجه دا لار رااېستلې ده چې په الهي احکاموکې خو دَنسخ امکان سته اوځه شی ددغه امکان منع کوونکې نه دي ليکن په تول قرآن کې يوځاې هم نسخ نه ده راغلې نه يوآيت ناسخ اونه يوآيت منسوخ دي،ددې ويناسنسبت ابو مسلم اصفهاني ته کيږي اوپه دې ويناداَمت عالمانودهميشه دَپاره ردکړي دي اوانکاريې ورڅخه کړي دي.

په تفسير روح المعاني (ج ۱ ص ۳۵۲) کې دي، وَاتَّفَقَتْ اَهْلُ الشَّرَائِعِ عَلٰى جَوَازِ النَّسْخِ وَوُقُوْعِهِ وَخَالَفَتِ الْيَهُوْدُ غَيْرَ الْعِيْسَوِيَةِ فِيْ جَوَازِهٖ وَقَالُوْا يَمْتَنِعُ عَقْلاً وَاَبُوْ مُسْلِمِ الْاَصْفَهَانِيُّ فِيْ وُقُوْعِهٖ فَقَالَ اِنَّهٗ وَاِنْ جَازَ عَقْلاً لٰكِنَّهٗ لَمْ يَقَعْ (تول اهل شرائع (دَدينونو خاوندان) دَنسخ په امکان اوپه واقع کيدو متفق دي ، اوپه يهودو کې دَعيسويه فرقې څخه علاوه نور يهود دَنسخ څخه مُنکردي او وايي چې داعقلاً محاله ده يعنې ممکنه نه ده اوابو مسلم اصفهاني دنسخ دَواقع کيدو څخه انکار کوي ، وايي چې نسخ که څه هم دالله پاك په حکمونو کې ممکنه ده ، خو واقع سوې نه ده)

اوامام قرطبي رحمه الله په خپل تفسير(ج۲ص۲۲) کې وايي،وَمَعْرِفَةُ هٰذَاالْبَابِ اَكِيْدَةٌ وَفَائِدَتُهٗ عَظِيْمَةٌ لَاتَسْتَغْنِيْ عَنْ مَعْرِفَتِهِ الْعُلَمَاءُ وَلَا يُنْكِرُهٗ اِلَّاالْجَهَلَةُ الْاَغْبِيَاءُ (دَنسخ دَباب پيژندګلوی ډيره ضروري ده اوفائده يې ډيره لويه ده اوددې دَپيژندګلوی څخه عالمان بې پرواه کيدې نه سي،اوددې څخه صرف جاهلان اوناپوهان انکار کوي)

قرطبي دلته يوه واقعه دَحضرت علي كرم الله وجهه نقل كړي ده چي يو وارهغه مسجدته راغی نو يوه سړی وعظ کوی ده دَخلګو څخه پوښتنه وکړه چی داسړی څه کوی ؟ خلګو ورته وويل چی دی وعظ او نصيحت کوی، نوده وويل چی نه، دی خوڅه وعظ اونصيحت نه کوی بلکه دا ويل غواړی چی زه فلانی زوی دَفلانی يم، ماوپيژنی، بيايی داسړی راوبلی اوپوښتنه يی ورڅخه وکړه چی ته په قرآن او حديث کی ناسخ اومنسوخ پيژنی، ده ورته وويل چی نه، نوحضرت علي كرم الله وجهه وويل چی زمونږ دَمسجد څخه ووزه بيا هيڅکله دلته وعظ ونه کړی ، په قرآن کريم اوسنت کی دَنسخ دَسته والی او دواقع کيدو په هکله دَصحابهٔ کرامو رضي الله عنهم اودَتابعينو رحمهم الله دومره اقوال اوآثار موجود دی چی دَهغه دلته نقل کول ګران دی ، په تفسيرِ ابن جرير (ج۱ ص۲۲۴) ابن کثير (ج ۱ ص۳۵۲) اودرِّ منثور (ج۱ ص۲۸۳) اونورو کی په قوی اوصحيح سندونو سره ډير روايتونه ذِکر سوی دی او دضعيفو رواياتو خو شمير نه سی کيدی.

نوپه دی وجه دا مسئله په امت کی اِجماعی پاته سوي ده صرف ابومسلم اوڅو معتزله وو دَنسخ دَواقع کيدو څخه انکار کړي دی اوپه دی باندی امام رازی رحمه الله په خپل تفسير کبير کی ښه په تفصيل سره رَد کړي دی.

(دَنسخ دَمفهوم په اصطلاح کي دَمخکنيو او وروستنيو علماؤ فرق)

هرکله چی دَنسخ اصطلاحی معنٰی دَحکم تبديلی ده ، او دا تبديلی داسی کيدی سی چی بالکل يوحکم منسوخ سی او دهغه په ځای بل نوی حکم مقرر سی لکه دبيت المقدس په ځای بيت الله قبله جوړيدل سوه ، هم دغه رنګ په يومطلق اوعام حکم کی دَڅه قيد اوشرط په زياتيدو سره هم يو قسم په حکم کی تبديلی راځی، دأمت اسلافو نسخ په دغه عامه معنٰی کی استعمال کړي ده چی په هغه کی دَيو حکم تبديلی پوره ياجزئی شامله ده دَيوشرط قيد استثناء په وجه هم شامله ده نوپه دی وجه دمخکنيو عالمانوپه نزدپه قرآن کريم کی دَمنسوخ سوو آيتو شمير پنځوسوو ۵۰۰ ته رسيږی او وروستنی عالمان نسخ صرف هغه تبديلی ته وايی چی دهغه دمخکنی حکم سره هيڅ قسم موافقت اومطابقت نه راځی (يعنی نسخ دی ته وايی چی دَسره مخکی حکم ليری سی اودَهغه په ځای بل حکم راسی) نودا ظاهره خبره ده چی په دی اصطلاح سره به دَمنسوخ سوو آياتونو شميرکم سی، لکه چی په وروستنيو عالمانوکی علامه سيوطی رحمه الله صرف شل ۲۰ آياتونه منسوخ شميرلی دی اوتردہ وروسته بياشاه ولی الله رحمه الله په دغه کی دَمطابقت اوموافقت صورت پَيدا کړي دی اوصرف پنځه آياتونه يی منسوخ ګڼلی دی اودا پنځه آياتونه داسی دی ، چی په دی کی دَډير ليری تاويل څخه بغير دَمطابقت صورت نه پيدا کيږی ، او دا کار په دی وجه ښه دی چی په احکامو کی اصل دحکم بقا اوپاته کيدل دی اونسخ خلافِ اصل ده نو په دی وجه چی چرته دتوجيه اودَتطبيق داسی صورت کيدی سی چی په آيت عمل

کول باقي پاته سي نو په هغه کې بغير دَضرورت څخه نسخ منل صحيح نه ده .
ليکن ددې کمې کولو مقصد دا هيڅکله کيدې نه سي چې دَنسخ مسئله دَاسلام اوقرآن کريم دَپاره څه دَعيب خبره وه اودَهغه دَليرې کولو دَځوارلس سوه کالو څخه کوشش کيږي اوآخري انکشاف يې شاه ولي الله رحمه الله ته وسو چې په هغه کې پنځه پاته سوه، اواوس ددې انتظار دی چې څوک نوی محقق دغه پنځه هم ختم کې اوشمير بالکل صفر درجې ته ورسوی .
دَنسخ په مسئله کې داسې اړخ اختيارول نه دَاسلام اونه دَقرآن کريم صحيح خدمت دی اونه په داسې کولوسره دَصحابه وو رضي الله عنهم اوتابعينو رحمهم الله اوبيا دَځوارلسو سوو ۱۴۰۰ کالو دَوروستنيو او مخکنيو عالمانو مقالې او تحقيق مينځل کيدې سي اونه دَمخالفينو دَطعن اواعتراض ژبه په بنديدې سي، بلکه دا خو ددې زمانې ملحدانوته وسله په لاس کې ورکول دي چې داسې هم کيدې سي چې ترځوارلس سوو کالو پورې چې دَامت ټولو عالمانوڅه ويل هغه ټول غلط دي نوپه داسې کولوسره به دَقرآن کريم او شريعت څخه امن پورته سي، او ددې څه ضمانت دی چې نن چاتحقيق وکې هغه به سبا غلط نه ثابتيږي .
په موجوده زمانه کې دَبعضې عالمانو څه داسې تحريرونه ماليدلي دي چې هغوی آيت د مَانَنسَخْ دَشرط معنٰی په بغل کې دَنيولو په وجه يوه قضيه (جمله) فرضيه د لَوكَانَ فِيهِمَا اٰلِهَةٌ (الانبياء ۲۲) اود لَوكَانَ لِلرَّحْمٰنِ وَلَدٌ په شان گرځولې ده اودَنسخ دَامکان دَپاره يې دليل گرځولی دی، اودنسخ دواقع کيدو څخه يې انکار کړي دی او حال دا دی چې دوی ته دا معلومه نه ده چې شرط په بغل کې دَنيولو او دَقضيه شرطيي بحرفِ (لوْ) په مينځ کې ډيرفرق دی اوداهغه استدلال دی چې ابومسلم اومعتزله يې وړاندې کوی .
ليکن دَصحابه وو رضي الله عنهم اوتابعينو رحمهم الله دَتفسيرونو او دَټول امت دَترجمه کولو څخه وروسته دغه معنٰی ته چې دابعضې عالمان يې اخلي دَقرآن معنی ويل هيڅ رنگ قبليدې نه سي څکه چې صحابه کرامو رضي الله عنهم دغه آيت دنسخ دَواقع کيدلو دَپاره دَدليل په توگه وړاندې کړي دی او ډيرې واقعې يې شمير کړي دي چې په هغه کې نسخ سوي ده (ابن کثير ابن جرير) دغه وجه ده چې دَامت په متقدمينو اومتاخرينو علماؤ کې چادَنسخ شميرکم کړي دی خو دَنسخ دَواقع کيدلو څخه يې انکارنه دی کړی دَديوبند ټول اکابر دَنسخ په واقع کيدلو متفق دي ، په دې کې دَډيرو حضراتو مستقل ياجزئي تفسيرونه هم سته .
اَوْ نُنْسِهَا دا دَمشهور قرآت له مخې دَاِنساء اونسيان څخه اخيستل سوي دی (يعنې جوړ سوي دی) او معنٰی يې دا ده چې کله دَنسخ صورت دا هم کيږي چې دا منسوخ سوی آيتونه دَنبي ﷺ اودَټولو صحابه وو رضي الله عنهم دَزړونو څخه ايستل کيږي اوهير سي لکه چې ددې په تفسيرکې ډيرې دغه شان واقعې

مفسرینو حضراتو رحمهم الله ذکر کړي دي او ددې دهيرولو څخه مقصد دا وي چې په راتلونکې وخت کې عمل کول نسته .

دنسخې متعلق دباقي احکامو دتفصیل دلته نه ځايږي خکه چې ددې اصلي ځای داصولِ فقهي کتابونه دي .

أَمْ تُرِيدُونَ أَنْ تَسْأَلُوا رَسُولَكُمْ كَمَا سُئِلَ مُوسَىٰ مِنْ قَبْلُ

آیا تاسی مسلمانان هم غواړي چې سوال وکړی دخپل پيغمبر څخه څنګه چې کړی وو دموسی څخه تردې مخکې

وَمَنْ يَتَبَدَّلِ الْكُفْرَ بِالْإِيمَانِ فَقَدْ ضَلَّ سَوَاءَ السَّبِيلِ ﴿١٠٨﴾

او څوک چې کفر واخلي په بدله دايمان کې ، نو هغه ورکه کړه سیده لاره .

تفسیر: (بعضې يهودو دعنادپه وجه نبي ﷺ ته ووېل چې لکه څه رنګه چې په موسٰی ﷺ په يوه وار توراة نازل سوی وو نوته هم دغه رنګ په يوه وار ټول قرآن راوړه په دې خبره ارشادکيږي چې) آیاتاسی دا غواړي چې دخپل (وخت) درسول څخه (بې ځايه بې ځايه) درخواستونه وکې لکه چې څه رنګه ترده وړاندې (ستاسې مشرانو دحضرت) موسٰی (ﷺ) څخه هم (داسې) درخواستونه کړي وه (مثلاً په داګه دالله پاک دليدو درخواست يې کړی وو، اوداسې نور درخواستونه چې دهغه څخه غرض صرف په رسول باندې اعتراض کول اودالله پاک دحکمتونو مزاحمت کول دي اوبيا دايمان راوړلو اراده يې هم نه وي دیو عجيبه قسم کفر خبرې دي او) چاچې دايمان راوړلو په ځای دکفر(خبرې) وکړی بيشکه دغه کس دسمې لارې څخه پاته سو.

دې سوال ته يې بې ځايه ددې وجې ووېل سوه چې په هرکارکې دالله پاک مصلحت او حکمت جلا جلا وي ، بنده ته هيڅ حق نسته چې هغه دطريقې دمعين کولو دپاره داخبره وکې چې داکار داسې کول په کار وو داسې کول په کاروو دهغه کار بس اٰمنّا اوصدّقنا (ايمان موپه راوړې او تصديق موپه وکې) دی

زبان تازه کردن باقرارِ تو نينگيختن علّت از کارِ تو

دحضرت شيخ الهند رحمه الله په ترجمه کې دآيت مخاطب خلق مسلمانان ګرځول سوي دي اودهغه حاصل او مطلب دادې چې مسلمانانوته دمخکې څخه آګاهي ورکول وه چې دپيغمبر ﷺ څخه بې ځايه سوالونه ونه کړی

وَدَّ كَثِيرٌ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ لَوْ يَرُدُّونَكُمْ مِنْ بَعْدِ إِيمَانِكُمْ كُفَّارًا حَسَدًا مِنْ

دزړه غواړي ډير اهل کتاب چې څه رنګ تاسې راواړوی دمسلمان کيدلو څخه وروسته کافران په سبب دخپل

عِنْدِ أَنْفُسِهِمْ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْحَقُّ فَاعْفُوا وَاصْفَحُوا حَتَّىٰ يَأْتِيَ اللَّهُ

د زړه دحسد پس تردې چې ظاهر سو دوی ته حق نو تاسې عفو وکړی او په خيال کې مه را ولی څو

بِاَمْرِهٖ ۭ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۱۰۹﴾ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَ

پورې چې ولیږي الله خپل حکم بیشکه الله په هرشي قادر دی ، اوقائم کوئ لمونځ

اٰتُوا الزَّكٰوةَ ۭ وَمَا تُقَدِّمُوْا لِاَنْفُسِكُمْ مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوْهُ عِنْدَ

او ورکوئ زکوٰۃ او څه چې تاسي مخکښ لیږئ دخپل ځان دپاره ګټه ، پیدا به کئ هغه الله څخه

اللّٰهِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿۱۱۰﴾

بیشکه الله چې څه تاسي کوئ تول وینی ګوري .

تفسیر: (بعضو یهودو شپه او ورځ په مختلفو چلونو د دوستی اوخیرخواهی په شکل کی هم دا کوشش کوی چی مسلمانان د اسلام څخه واوړی اوسره دناکامی هم دخپل دغه غم اوفکر څخه نه منع کیدل الله ﷺ مسلمانانوته ددی خبری آګاهی ورکړه چی) په دی اهل کتابو (یهودو) کی ډیر دزړه څخه داغواړی چی تاسی دایمان راوړلو وروسته بیا کافران کړی (او دا غوښتنه دځه خیرخواهی له وجی څخه نه ده لکه چی ځنګه دوی وایی بلکه) صرف دَحسد دَوجی څخه چی (داستاسی دَطرف څخه دَځه شی په وجه نه دی پیدا سوی بلکه) په خپله د دوی دزړونو څخه دی (جوش وهی اوداسی هم نه ده چی دوی ته حق ښکاره سوی نه دی) بلکه دَحق تر ښکاره کیدو وروسته (داحالت دی، اوس کله چی داخای دی چی مسلمانان په غصه سی نوالله ﷺ ارشاد کوی چی) خیر (اوس خو) معافی وکی اوسترګی پټی کی ترڅوچی الله پاک (ددی معاملی متعلق) خپل حکم (نوی قانون) راولیږی (په دی اشاری سره وښوول سوه چی الله پاک وایی چی مونږ ډیر ژر د دوی دشیطانیو دعلاج دپاره دامن عامه دانتظام قانون رالیږو یعنی د دوی سره جنګ کول او د دوی څخه جزیه اخیستل نو دا خو یوطبعی خبره ده چی مسلمانان داتعجب وکی چی مونږ خوکمزوری یو او دوی ډیرمضبوط اوقوی دی ، ددی قانون اجراء به څه رنګه وسی نوارشاد دی چی تاسی تعجب ولی کوی) الله پاک په هرشی (برابره خبره ده که هغه معمولی وی اوکه هغه عجیبه وی) قادر دی او (فی الحال صرف) لمونځونه په پابندی سره کوی او (چی په چا زکوٰۃ فرض وی) زکوٰۃ ورکوی (اوکله چی دا قانون راسی نو ددغه ښو عملونو سره به هغه هم کوی) او (دامه ګنی چی ترڅو پوری دجهاد کولوحکم نه وی راغلی نو دیوازی لمونځ کولو او روژی نیولو په ثواب کی به کمی وی داسی نه ده بلکه) چی کوم کار دخپلی ګټی دپاره جمع کوی چی الله ﷺ ته (ورسی) دهغه به (پوره پوره بدله) پیدا کی ځکه چی الله پاک ستاسی تول کړی کارونه ګوری (ددی څخه به د ذری په اندازه هم ضائع نه کی)

فائده : ددغه وخت تقاضا بس دغه وه بیا الله پاک خپله وعده پوره کړه او دجهاد کولو آیاتونه نازل سوه چی ترهغه وروسته دیهودو سره په دغه قانون عمل وسو اوناکارو خلکو ته دهغوی دفساد مطابق سزا یعنی قتل یادوطن څخه شړل یاجزیه لګول ورکړل سوه .

وَقَالُوا لَن يَدْخُلَ الْجَنَّةَ إِلَّا مَن كَانَ هُودًا أَوْ نَصَارَىٰ ۗ تِلْكَ أَمَانِيُّهُمْ ۗ قُلْ هَاتُوا بُرْهَانَكُمْ

او وایی چی هرګز به ولاړ نه سی جنت ته مګر هغه چی وی یهودی یانصرانی دا آرزوګانی د دوی دی ووایه راوړی

إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿١١١﴾ بَلَىٰ مَنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُ لِلَّهِ وَهُوَ

سند خپل که چیری تاسی رښتینی یاست ، ولی نه چا چی تابع کی مخ خپل دالله ﷻ دپاره او هغوی

مُحْسِنٌ فَلَهُ أَجْرُهُ عِندَ رَبِّهِ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ

ښه کار کوونکی وی ، نو دوی دپاره دی ثواب ، د دوی خپل پروردګار څخه او نه بیره ده په دوی اونه به وی دوی

يَحْزَنُونَ ﴿١١٢﴾ وَقَالَتِ الْيَهُودُ لَيْسَتِ النَّصَارَىٰ عَلَىٰ شَيْءٍ وَ

غمجن ، او یهود خو وایی چی نه دی نصاری په څه لاره او

قَالَتِ النَّصَارَىٰ لَيْسَتِ الْيَهُودُ عَلَىٰ شَيْءٍ وَهُمْ يَتْلُونَ

نصاری وایی چی یهود نه دی پر یو لاره سره ددی چی تول وایی

الْكِتَابَ ۗ كَذَٰلِكَ قَالَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ مِثْلَ قَوْلِهِمْ ۚ فَاللَّهُ

کتاب دغه دول وویل هغه کسانو چی جاهلان دی د دوی په دول خبره الله به حکم وکی

يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِيمَا كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿١١٣﴾

په دوی کی دقیامت په ورځ په کومه خبره چی یی (اختلاف) او جګړی کولی .

لنډتفسیر: (اویهودو اونصارئ داسی) وایی چی جنت ته به هیڅکله ولاړ نه سی مګر هغه خلق چی یهود دی (دا دیهودو وینا ده) یاهغه خلق چی نصارئ وی (دا دنصاراو وینا ده الله تعالی په ردکی فرمایی چی) دا (خالی) دزړه ښه کولو خبری دی (او په حقیقت کی هیڅ شی نه دی) ته (دوی ته دا خو) ووایه چی (ښه خپل دلیل را وړی که چیری تاسی) په دی دعوه کی) رښتني یاست (نو دوی به څه دلیل را وړی څکه چی

څه دلیل سته نه ، اوس مونږ ددی خلاف اول خو دا دعویٰ کووچی ضرور نورخلق به (هم جنت ته) ځی (بیایی په دی دلیل راوړی چی زمونږ قانون چی دهغه څخه ټول دآسمانی دینونو منونکی انکار نه سی کولی دا دی چی) څوك خپل مخ دالله پاك په طرف کوږکی (یعنی په عملونو اوعقیدوکی دالله پاك تابعداری وکی) او (ددی سره) هغه مخلص هم وی (چی تابعداری دزړه داخلاصه کوی دڅه مصلحت او دمنافقت څخه یی نه کوی) نو داسی کس ته دده (دتابعداری) بدله حاصلیږی چی الله پاك ته ورسی او داسی خلکوته (په قیامت کی) نه څه اندیښنه (واقعه مخکی راتلونکی) ده اونه داسی خلق (په دغه ورځ) غمجن کیدونکی دی (ځکه چی ملائکی به دوی ته زیری ورکی اوپه دی به دوی بی غمه اوبی فکره سی).

ددلیل نیولو حاصل دا سو چی کله دا قانون منل سوي دی نو اوس صرف دا وګوری چی دا خبره په چا باندی صادقه ده ؟ نو ظاهره خبره ده چی په مخکی منسوخ سوی حکم باندی دعمل کولو په وجه چاته تابعدار نه ویل کیږی نو په دی وجه یهود اونصاریٰ تابعدار نه سوه بلکه په دویم حکم عمل کول تابعداری ده او دا خو دمسلمانانو کار دی چی دمحمد ﷺ نبوت او شریعت یی قبول کړي دی نو په دی وجه دوی په جنت کی دا خل کیدونکی شمار سول .

اودمخلصین په قیدسره منافقان ووتل ځکه چی هغه شرعًاپه کافروکی داخل دی اودجهنم سزاواره دی) او(یووارڅه یهودیان اوڅه نصارا جمع سول اوددین بحث یی شروع کی نویهودو دخپلی عقیدی مطابق نصاراؤ ته او دنصاراؤ دین ته باطل وویل اودحضرت عیسیٰ ﷺ دنبوت اودانجیل دکتاب الله کیدلو څخه یی انکار وکی نو نصاریٰ هم په ضدسول اوپه تعصب کی راغلل اویهودوته یی وویل چی ستاسی ددین اصل نسته اوستاسی دین باطل دی او دغه شان دحضرت موسیٰ ﷺ دنبوت څخه یی انکار وکی نوالله تعالی داقصه اوواقعه درد کولو نقل کوی اوفرمایی چی ، یهود په وینا سوه چی (د) نصاراؤ (دین) په څه بنیاد (قائم) نه دی (یعنی ګرسره غلط دی) او دغه شان نصاریٰ په ویناسول چی دیهودو (دین) په څه بنیاد ولاړ نه دی یعنی ګرسره غلط دی) حالانکه داټول (د دواړوفرقو خلق آسمانی) کتابونه (هم) وایی (اوبل ته یی ښیی یعنی یهود توراة اونصاریٰ انجیل وایی اووینی چی په دواړو کتابونوکی د دواړو پیغمبرانو او د دواړو کتابونو تصدیق موجود دی او دا پیغمبران او کتابونه د دواړو دینونو بنیاد دی ، که څه هم چی دمنسوخ کیدلو په وجه دعمل کولو قابل پاته نه دی خو دا جلا خبره ده .

اواهل کتابو خو داسی دعوی کولی مشرکانو دوی ته وکتل هغوی هم په جوش کی راغلل او) دا شان دی خلکو (هم) چی (بالکل) بی علمه دی ددی (اهل کتابو) په شان وینا کول یی شروع کړه (چی ددی یهودو اونصاراؤ ټولو ددین څه بنیاد نسته په حقه هم مونږ یو) نو (دلته خو دی هریوخپله خپله خبره شری) الله ﷻ به ددی ټولو په مینځ کی (عملی) فیصله وکړی دقیامت په ورځ ددی ټولو جګړوچی په دی

کی دوی دیو بل سره اختلاف کوی (او دا عملي فیصله به دا وی چی اهل حق به جنت ته بوزی او اهل باطل به په جهنم کی وغورځوی ، دعملی فیصلی قید ددی وجی ولګول سو چی دوینا اوددلیل له مخی خو فیصله په دنیاکی هم سوي ده)

علوم اومسئلي: په دی آیاتونوکی الله پاك دیهودو اونصاراؤ په مینځ کی داختلاف کولو اوپه یوبل باندی درد کولو په وجه چی کوم ضرر ناك اثرونه پیدا کیدل دهغه ذکر کړي دی او بیایی اصلی حقیقت ظاهر کړي دی ، په دی ټولو واقعاتوکی دمسلمانانو دپاره ډیر مهم هدایات دی چی دهغه بیان ورپسی راځی ، یهودو اونصاراؤ دواړو ددین اصلی حقیقت هیرکړی وو اوددین په نوم یی یوقومیت جوړکړی وو، اوپه دوی کی هریو دخپل قوم جنتی اومقبول کیدلو او ددنیا دنورو قومونو دګمراه کیدلو او د دوږخی کیدلو معتقد وه .

ددی نامعقول اختلاف نتیجه دا سوه چی مشرکانوته ددی خبری دویلو موقع په لاس ورغله چی عیسائیت هم بی بنیاده دی اویهودیت هم ، حق اوصحیح خو زمونږ بت پرستی ده ، الله پاك ددی قومونو دجهالت اوګمراهی متعلق وفرمایل چی دا دواړه قومونه جنت ته دتلو د اصلی سبب څخه غافله دی صرف ددین په نوم په قومیت پسی لګیدلی دی ، حقیقت دا دی که دیهودو مذهب وی اوکه دنصاراؤ وی یا که اسلام وی ، ددی ټولو اصلی روح دوه ۲ شیان دی.

(۱) یو داچی بنده دزړه داخلاصه خپل ځان الله پاك ته وسپاری او دهغه تابعداری خپله عقیده او مذهب وګنی، برابره خبره ده که دا په کوم یوه مذهب کی وی ، ددین حقیقت هیرول یاشاته غورځول او دیهودیت او نصرانیت په نوم قومیت جوړول ددین اومذهب څخه بی خبری ده .

(۲) دویمه خبره داده چی دجنت دتلودپاره دابس نه ده چی څوك دزړه څخه دالله پاك دفرمانبرداری قصد صحیح کی لیکن دفرمانبرداری اودعبادت طریقی دخپل ځان څخه جوړی کی بلکه داضروری ده چی د فرمانبرداری اودعبادت هغه طریقی خپلی کړی کومی چی الله پاك دخپل رسول ﷺ په ذریعه ښوولی دی مخکنی خبره دبلی مَنْ اَسْلَمَ: په ذریعه اودویمه خبره دوَهُوَمُحْسِنٌ: په ذریعه واضحه سوي ده چی دهغه څخه معلومه سوه چی دآخرت دخلاصی اوجنت ته دتلو دپاره یوازی دفرمانبرداری قصدبس نه دی بلکه ښه عمل هم ضروری دی اوښه عمل هغه دی چی دهغه طریقی اوتعلیم قرآن اوسنت نبویه کړی وی.

(دالله ﷻ په وړاندی دنسلي یهودی اونصراني یامسلمانان هیڅ قدرنسته قدردایمان اوعمل صالح دی)

څوك چی ددی بنیادی اصولو یو اصل پریږدی برابره خبره ده که هغه یهودی وی اوکه نصرانی وی اوکه مسلمان وی اوصرف دقومیت دنوم په وجه خپل ځان دجنت ټیکه دار وګنی نو دابس ځان ته دوکه ورکول دی چی ددی دحقیقت سره یوڅه لیری تعلق هم نسته دالله ﷻ په نزد یوهم ددی نومونوپه وجه الله پاك ته نژدی کیدی نه سی ترڅو پوری چی په هغه کی دایمان اوعمل صالح روح موجود نه وی ، بیا

خو دایمان اصول په هر رسول اوشریعت کی یو ډول راغلی دی ، دومره خبره ده چی دعمل صالح شکلونه بدل سوی را بدل سوی دی ، دتورات په زمانه کی عمل صالح هغه وو چی دتورات دتعلیم موافق وو د انجیل په دورکی عمل صالح هغه وو چی د انجیل اوحضرت عیسیٰ ﷺ دتعلیم مطابق وو ، او اوس دقرآن کریم په زمانه کی هغه دراورل سوی کتاب قرآن مجید موافق وی .

دخبری خلاصه دا ده چی دیهودو اونصاراؤ ددی اختلاف متعلق الله پاك دافیصله وکړه چی دا دواړه قومونه دجهالت خبری کوی ، په دی دواړوکی یوهم دجنت ټیکه دارنه دی اونه د دواړو دینونه بی اصله اوبی بنیاده دی ،بلکه د دواړو دینونو صحیح بنیاد موجود دی ، دغلط فهمی اصلی سبب دا دی چی دوی ددین اصلی روح یعنی عقیدی او عملونه اونظریی پربنبی دی دنسل یادوطن په بنیاد یی یوقوم یهود اوبل قوم یی نصرانی گڼلی دی .

کوم چی دیهودو دنسله وی یادیهودو په ښارکی اوسی یاپه شمیرکی خپل ځان یهودی ښیی، هغه یی یهود وگڼی هم دغه شان دنصرانی تاکل وسوه ، حال دا دی چی دایمان داصولو دپریښوولو اوداعمالو صالحو څخه ترمخ گرځولو وروسته بیاخوك د دوی څخه نه یهودی پاته دی اونه نصرانی .

په قرآن کریم کی ددی اختلاف ذکر کول او بیا په کښی دفیصلی کولو څخه غرض مسلمانانوته آگاهی ورکول دی چی هسی نه دوی هم په داسی غلط فهمی کی اخته نه سی چی ووایی چی مونږ خو نسلی مسلمانان یو، په هر دفتر او رجستر کی خو زمونږ قوم مسلمان درج کړل سوی دی او په ژبه مونږ یو بل ته مسلمان هم وایو نو په دی وجه دجنت دټولو انعامونو سزاوار هم مونږ یو.

ددی فیصلی څخه مسلمانانوته دا په ډاگه سوه چی یو سړی نه صرف په دعوی حقیقی مسلمانان جوړیدی سی او نه یوځای دمسلمان په نوم درج کولو سره یادمسلمان دنسل څخه په کیدو سره یا دمسلمانانو په ښارکی په پیدا کیدو سره مسلمانان جوړیدی سی ، بلکه دمسلمان جوړیدو دپاره اول خو اسلام ضروری دی او داسلام معنیٰ دا ده چی خپل ځان الله پاك ته وسپاری او دویم ښه عمل ضروری دی ، هغه دا چی عمل یی دسنت موافق وی ، لیکن دقرآن کریم ددی خبر ورکولو باوجود مسلمانان دیهودو اونصاراؤ په شان په دغه غلط فهمی کی مبتنی دی او دالله پاك اورسول ﷺ او آخرت څخه بالکل غافله دی او دخپلی مسلمانی دپاره صرف نسلی مسلمان کیدل یی کافی گڼلی دی او په قرآن کریم او حدیث کی چی کومی وعدی دفلاح په دواړو جهانوکی دمسلمانانو سره سوي دی دهغه خپل ځان مستحق گڼی او دهغه دپوره کیدو انتظارکوی اوکله چی دا وعدی ورته پوره کیدونکی ونه ښکاری نو بیا دقرآن او حدیث په وعدو باندی شك کوونکی سی او دی ته خونه گوری چی قرآن کریم صرف دنسلی مسلمانانو سره څه وعده نه ده کړی ، دا ددی آیت ، بَلٰى مَنْ اَسْلَمَ وَجْهَهٗ لِلّٰهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَلَهٗٓ اَجْرُهٗ عِنْدَ رَبِّهٖ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ : مطلب اوخلاصه ده .

نن صبا دټولی دنیا مسلمانان په قسم قسم تکلیفونو اومصیبتونو کی ګیر دی داچی نا واقفه اوبی عمله خلق ووینی نو دا یی خیال ته راځی چی شاید ددی ټولو تکلیفونو سبب زمونږ اسلام دی ، لیکن دلوړ ذکر سوی بیان څخه واضحه سوه چی ددی اصلی سبب زمونږ اسلام نه دی ، بلکه داسلام پرېښوول دی مونږ دنامه مسلمانان یو نه په مونږکی داسلام عقیدی سته اونه اخلاق اونه عملونه ، نو بیا زمونږکوم حق دی چی مونږ دهغو وعدو انتظار وکو چی کومی داسلام اودمسلمانانوسره سوي دی البته دلته داسوال پیدا کیږی چی مونږ هرڅه چی یو نوم خوداسلام اخلو دالله پاك او دهغه درسول ﷺ نوم اخلو ، اوکافر چی هغه په ډاګه دالله پاك او دهغه درسول ﷺ مخالف دی او د اسلام نوم اخیستل بنه نه ګنی ، هغه خو نن صباپه دنیاکی په هرقسم ترقی کی دی دلویو لویو حکومتونو خاوندان دی ، ددنیا دصنعتونو او تجارتونو ټیکه داران دی ، که چیری زمونږ دبدعملی دغه سزا مونږ ته راکول کیږی چی مونږ په هرځای کی خوار او ذلیل اوپریشانه یو ، نوبیا خوکافروته تردی زیاته سزا ورکیدل په کار وه ، لیکن که چیری لږ غوندی سوچ اوغور وسی نو دا شبهه به په خپله ختمه سی .

اول ددی وجی چی ددوست اودښمن سره معامله اوسلوك یوشان نه کیږی دوست ته پر هرقدم اوخبره باندی ملامتیا ورکړل کیږی ، ګوری چی اولاد اوشاګردته په لږه غوندی خبره سزا ورکول کیږی لیکن ددښمن سره دا خبره نه وی ، هغه ته مهلت ورکول کیږی او چی وخت راسی نوبیا ناڅاپه نیول کیږی ، مسلمان چی ترکومه دایمان اواسلام نوم اخلی اودالله ﷻ اودرسول ﷺ دلویی او دمحبت اظهارکوی نو هغه د دوستانو په فهرست کی شاملیږی ، هغه ته دهغه دبدو عملونو سزا عموماً په دنیاکی ورکول کیږی ، او دا ددی دپاره چی دآخرت پیټی یی سپکه سی په خلاف دکافر چی په هغه باندی دباغیانو او ددښمنانو قانون جاری دی په دنیاکی دسپکو سپکو سزاګانو په ورکولو سره دهغوی دعذاب پیټی نه سی سپکیدی دوی په یووار په عذاب کی راګیرول کیږی اونبی ﷺ چی فرمایلی دی ، دنیا دمومن دپاره قیدخانه ده او دکافر دپاره جنت دی ، ددی هم دغه مطلب دی ، دویمه مهمه خبره دمسلمانانو دپریشانی او دکافرانو دراحت اوترقی دپاره دا ده چی الله پاك دهرعمل جلا خاصیت مقرر کړي دی ، دیو عمل په کولو سره دنورو عملونو خاصیتونه نه حاصلیږی ، مثلاً دتجارت کولو دا خاصه ده چی په مال کی زیاتوالی راسی او د دوا خاصیت دا دی چی بدن جوړسی ، اوس که چیری څوك شپه او ورځ په تجارت کی ولګیږی ناجوړتیا او دهغه علاج کولو ته څه توجه ونه کړی نو صرف دتجارت په وجه به دی دناروغی څخه خلاصون نه کړی پیدا ، هم دغه شان د دوا داستعمال په وجه به دتجارت خاصیت یعنی دمال زیاتوالی حاصل نه کړی ، دکافرانو ددنیا ترقی او دمال او دولت زیاتوالی د دوی دکفر نتیجه نه ده لکه چی دمسلمانانو خواری اوپریشانی داسلام له وجی څخه ده بلکه کله چی کافرانو دآخرت غم کول پرېښوول اوپه مکمل طور سره ددنیا دمال او دولت اوعیش اوآرام په فکرکی اخته سوه دتجارت

صنعت اودحکومت اوسیاست فائده مندي لاري یي خوښی کړې اودضررناکو طریقو څخه یي ځان وساتی نو په دنیاکی یی ترقی وکړه ، اوکه چیري دوی هم زمونږ په شان صرف دخپل خپل مذهب نوم په خوله اخیستی اوددُنیا دترقی دهغه داصولو مطابق کوشش یی نه کوی نو دوی به دکفر په وجه د دومره حکومت خاوندان سوی نه وای نوبیا مونږ څه رنګه ګنوچی زمونږ اسلام اوبیاصرف دنوم اسلام مونږ ته به دټولو فتوحاتو دروازي خلاصیږي ؟ اسلام اوایمان که چیري بالکل په صحیحو اصولو هم وي نودهغه اصلي خاتمه اونتیجه دآخرت دخلاصی اودجنت دائمی راحت دی، او ددی په نتیجه کی ددُنیا راحت اودمال زیاتوالی اوترقی لازمی نه دی ترڅوچی دهغه دپاره مناسب کوشش ونه کړل سی.

او دا خبره دتجربی څخه ثابته ده چی چیري یومسلمان دتجارت صنعت حکومت اودسیاست صحیح اصول زده کړي دی اوبیایی په هغه باندي عمل کړي دی نو هغه هم ددغه دنیوی فائدوڅخه محرومه پاته نه دی سوی چی کومی کافروته حاصلی دی.

ددی څخه واضحه سوه چی زمونږ دخواری مصیبتونو اوآفتونو سبب اسلام نه دی بلکه یوطرف ته اسلام اصول او اخلاق پریښوول ددی سبب دی اوبل طرف ته ددی کارونوڅخه مخ اړول دی چی په هغه سره په مال او دولت کی زیاتوب کیږي.

افسوس دی چی کله مونږ داروپایانو سره ګډسو او دهغوی څخه مودبی حیایی او بد اخلاقی کارونه زده کړه لیکن هغه کارونه موزده نه کړه چی دهغه دبرکته هغوی په دنیاکی کامیاب ښکاري او دا کارونه په معامله کی رښتیاوالی اوپه دنیاکی داثر او رسوخ پیدا کولو نوی نوی طریقی خپلول دی.او چی دا داسی شی دی چی داسلام دتعلیماتو سره سمون هم خوري ، په دی شیانوکی خو مونږ دهغوی دنقل کولو هیڅ کوشش ونه کی نو بیا دا قصور خو داسلام نه سو قصور که دی نو زمونږ دی.

مطلب دا چی دقرآن کریم دی آیاتونو په ډاګه کړه چی یوازي نسلی مسلمانی څه فائده نه ورکوی ترڅوچی ددی سره ایمان اوعمل صالح ملګري سوی نه وي.

وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ مَنَعَ مَسَاجِدَ اللَّهِ أَنْ يُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ

اوترده لوی ظالم څوك دی چی هغه منع کړه دالله ﷻ په مسجدونوکی چی واخیستل سی هلته نوم دده

وَسَعَىٰ فِي خَرَابِهَا ۚ أُولَٰئِكَ مَا كَانَ لَهُمْ أَنْ يَدْخُلُوهَا

او کوشش یی وکی د دوی په خرابولو کی دوی ته لائقه نه وه چی دا خل سی په دوی کی

إِلَّا خَائِفِينَ ۚ لَهُمْ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ

مګر په ېیره د دوی په دنیا کی ذلت دی او دوی دپاره په آخرت کی عذاب دی

عَظِيمٌ ﴿١١٤﴾ وَلِلّٰهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ ۚ فَأَيْنَمَا تُوَلُّوا فَثَمَّ وَجْهُ

لوی | او هم دالله پاك دی مشرق | او مغرب | نو کوم طرف ته چی مخ کوی هم هلته متوجه

اللّٰهِ ۚ إِنَّ اللّٰهَ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴿١١٥﴾

دی الله پاك بیشکه الله پاك بی حده بخښنه کوونکی او په هرڅه باندی دهغه علم دی.

لنډتفسیر: (یهودو دقبلی دبدلیدو دحکم په وخت کی قسم قسم اعتراضونه کول او دخلګوپه زړونو کی بی شکونه پیداکول که چیری دغه شکونو په عام طورسره په زړونو اثرکولی نو دهغه لازمی نتیجه به دا وای چی درسالت څخه به انکارسوی وای او دلمونځ دپریښوولو په وجه به مسجدونه وران سوی وای، نوګواکی دی یهودوپه دی طریقه دلمونځ په پریښوولو دمسجدونوپه ورانولو خصوصًا دمسجد نبوی ﷺ په ورانی کی کوشش کوی، دروم بعضی باچهان چی دنصاراؤ تیر سوی مشران وه اونصاراؤ د دوی دکارونو بد هم نه منل که څه هم چی هغه نصرانی نه وو په یوه زمانه کی دشام په یهودو باندی حمله کړی وه چی په دی کی مرګ ژوبله سوی وه او ددغه وخت دبعضی جاهلانو دلاسه دبیت المقدس بی عزتی سوی وه او دبدامنی په وجه په دی کی دلمانځه او نور اهتمام هم نه وو سوی، نو دا شان دنصاراؤتیرسوی مشران دلمانځه دپریښوولو اودمسجد دورانولوسبب وګرځیدل، او خپله په نصاراؤ باندی ددی خبری دنه انکارکولوپه وجه ددی خبری الزام ولګول سو، ددی باچانوم طیطس وو، او نصاراؤ ته دا واقعه ددی وجی بده ښکاره نه سوه چی په دی کی دیهودو ذلیل کول وو او دوی خو دیهودو سره دښمنی درلوده، اونبی ﷺ ترفتح مکی مخکی مکی ته دتلو اوپه مسجد الحرام کی دطواف اولمونځ کولو اراده وکړه نو مشرانو دوی هلته تلوته پري نه ښوول نو داشان دامشرکان هم دمسجدحرام په ورانولو کی کوشش کوونکی وګرځیدل، نو په دی وجه الله پاك په عامی صیغی سره ددی کارقباحت اوبدی بیان کړه یعنی) اوترهغه چا زیات ظالم به څوك وی چی دالله پاك په مسجدونو کی (چی په هغه کی دمکی مسجد الحرام دمدینی مسجد اودبیت المقدس مسجد اوټول مسجدونه راغله) دوی دذکر (اوعبادت) کیدلو څخه بندکړی اود (مسجدونو) په ورانولو (اوشاړ) کیدلو (په باره) کی کوشش کوی، دی خلګوته خوکله بی له هیبته (اوبیباکه) په دی (مسجدونو) کی قدم ایښوول هم په کار نه وو (بلکه چی ورتللی نوپه ډیرادب اواحترام سره ورتلای، کله چی په بی باکی سره دوی ددننه ورتلو حق دار نه دی نو د دوی دحرمت دپای مالولو حق دارکله سوه نوپه دی وجه دی کارته ظلم وویل سو) دی خلګو ته په دنیاکی هم رسوایی به (په برخه) وی او دوی ته به په آخرت کی لویه سزاوی.

(یهودو دقبلی دبدلیدو په حکم باندی اعتراض کړی وو چی مسلمانان ولی ددی طرفه بل طرف ته واو

ښتل ، ددی په جواب کی الله پاك فرمايي يعنی، اوهم دَالله پاك ملكيت دی (تول اړخونه) مشرق هم اومغرب هم (اودا دالله پاك مكانونه نه دی) (كله چی هغه ددی مالك دی نوچی كوم طرف ته غواړی نو هغه قبله كيدل مقرر كوی ځكه چی دقبلی په تعين كی حكمت دمثال په طور دعبادت كوونكو دشكل يو والی دی ، او دا حكمت په هرطرف كی حاصليدی سی ، چی هغه دكوم طرف حكم وركوی نو هغه دقبلی دپاره متعين كيږی ، البته كه چيری نعوذ بالله دمعبود ذات ديوخاص اړخ سره تړلی وی نوبيابه دضرورت په وجه دغه اړخ دعبادت كولو دپاره دقبله كيدو لايق وای ليكن دغه ذات ديو اړخ سره تړلی نه دی كله چی خبره دا ده) نوتاسی خلق چی چيری هم مخ اړوی هلته دالله پاك مخ دی ځكه چی الله پاك (په خپله په ټولو طرفونو اوشيانو) احاطه كوونكی دی (هغه احاطه چی هغه دهغه شان سره موافقه اولائقه ده ليكن داحاطی باوجود بياهم دعبادت كولو اړخ يی ددی وجی مقرر كی چی هغه) دكامل علم مالك دی (چی دهرشی فائدی ښه پيژنی كله چی دهغه په علم كی دااړخ مقرركول دبعضی فائدو دپاره وو نو ددی وجی ددی حكم يی وركی)

فائدی : (دبيان القرآن څخه)

(۱) دمسجدو په ورانولوكی كوشش كوونكو فرقوته په دنياكی دا رسوايی وركړل سوه چی دا ټول قومونه داسلامی رياست رعيت اوبار گذا رسول اودآخرت عذاب خوورته دكافر كيدلوپه وجه څرگند دی، او دمسجدونو دورانولو په وجه به داعذاب نور هم سخت سی ، او تردی په مخكی آيت كی چی ددی درو واړو فرقو دا دعوی ذكروه چی هم دوی په حقه دی نو ددی قصی اوواقعی څخه د دوی يو قسم ردهم راووتی چی په داسی كارونو كولو سره بيا دحق كيدلو دعوی دشرم خبره ده .

(۲) دقبلی دمقرر كولو چی كومه فائده اوحكمت دمثال په توگه وړاندی ذكرسو نو په دی سره داسلام دمخالفت كوونكو دا اعتراض هم ختم سوچی ، مسلمانان كعبه پرست دی ، ددی خلاصه دا سوه چی عبادت خو دالله پاك دی ليكن دعبادت په وخت كی دزړه ديو مخيزه كيدو ضرورت دی او دعبادت كوونكو اجتماعی شكل ته هم په دی كی دخل سته لكه چی دا دواړی خبری دتجربی اومشاهدی څخه ثابتی دی ، نو په دی وجه ددغه يومخيزوالی اوداجتماعی شكل دحاصلولو دپاره يی دا دعوی وكړه چی مونږ بتان په دی غرض مخ ته ايږدو چی يو مخيزه راسی نو اول خو د دوی دبراءت ددی دعوی څخه په مسلمانانو دا اعتراض نه راځی دويم دا چی دعامو مسلمانانو اودعامو كافرانو دحالت دتفتيش څخه وروسته دا خبره په ډاگه كيږی چی مسلمانان دكعبی په نه پرستش كی صادق اورښتيا دی اوكافران دبتانو په نه پرستش كولو كی درواغجن دی دريمه دا كه چيری ومنل سی چی دوی دابتان ديو مخيزوالی دپاره مخ ته ايږدی نوبيا ددی دپاره ديو نه منسوخ سوی شريعت حكم وړاندی كول لازمی دی اودا دمسلمانانو ماسوا دبل چاسره نسته .

او دترجمي اوتفسير په وخت كې دحكمت بيانولو دپاره چي دمثال په توگه د «مثلاً» لفظ زياتوالى سوى دى هغه په دې وجه سوى دى چي دالله پاك په حكمونوكي دټولو حكمتونو احاطه دچاپه وس كې نسته نو په دې حكم كې به په زرگونو حكمتونه وى ، ديو دووپه پېژندگلوى دا نه سى كيدلى چي بس ددې حكم دا حكمتونه دي او نور نسته .

(۳) او چي دايې فرمايلي دى چي (هلته دالله ﷻ مخ دى) اوهم دغه شان چي دايې فرمايلي دى چي (هغه احاطه كوونكى دى) نوپه دارنگه مضامينوكې زيات تحقيق اولټون په كارنه دى ځكه چي څه رنگه دالله پاك دذات پوره ادراك اوتصوردچابنده په وس كې نسته دغه رنگه دهغه دصفاتوحقيقي فهم دچاپه وس كې نسته اجمالاً په دې ټولو ايمان راوړل ضروري دى اوتردې زيات انسان ته تكليف نه دى وركول سوى .

عنقا شكار كس نشود دام باز چين كاينجا هميشه باد بدست است دام را

علوم اومسائل: په دې دوو آياتونوكې د دوو مهمو مسئلو بيان دى ، مخكنۍ آيت ديوې خاصي واقعي متعلق نازل سوي دى هغه واقعه دا ده چي داسلام ترزماني وړاندې كله چي يهودو حضرت يحيىٰ ﷺ قتل كې ، نو دروم نصاراؤ د دوى څخه دبدلي اخيستلو دپاره دعراق ديوه مجوسي باچا سره يوځاى سول اودخپل باچا طيطس په مشرى كې يې دشام پربني اسرائيلو باندې حمله وكړه اودوى يې قتل كړه اولوټ يې وكې اودتورات نسخې يې وسوزلې اوپه بيت المقدس كې يې پليتي اوخنزير واچوى او دبيت المقدس آبادي يې ورانه كړه اودبني اسرائيلو دَبْدَبَه يې بالكل ختمه كړه دَنبي ﷺ ترزماني پورى بيت المقدس دغه شان وران پروت وو ، دحضرت عمر﷛ په زمانه كې كله چي شام اوعراق فتح سو نو دده په حكم دبيت المقدس جوړول شروع سوه ترډيرې زمانې پورې دشام ټول ملك اوبيت المقدس دمسلمانانوپه قبضه كې وو بياڅه زمانه وروسته بيت المقدس دمسلمانانو دلاس څخه ووتى اوتقريباً ترسلو كالو پورې دېورپ دَعيسايانوپه قبضه كې پاته سو اوپه شپږمه پيړۍ هجرى كې دسلطان صلاح الدين ايوبى رحمه الله په لاس فتح سو.

دروم دنصاراؤ په دغه بې ادبي چي تورات يې وسوزى اوبيت المقدس يې وران كې او دده بې عزتي يې وكړه دا آيت نازل سو.

دا قول دمفسر القرآن حضرت عبدالله بن عباس﷛ دى اوحضرت ابن زيد﷛ اونورو مفسرينو ددې آيت شان نزول دا ښوولى دى چي كله دمكې مشركانو نبي كريم ﷺ دحديبيې په واقعه كې مسجدالحرام ته دتلو څخه منع كې نو دا آيت نازل سو.

ابن جرير مخكنۍ روايت ته اوابن كثير دويم روايت ته ترجيح وركړې ده .

په هرحال دآيت شان نزول دمفسرينو په نزد د دوو واقعو څخه يوه خاصه واقعه ده ليكن ددې بيان په عامو لفظونو كې ديو مستقل ضابطې او دقانون په الفاظوكې سوي دى او دا ددې دپاره چي دا حكم

په دغه نصاراؤ یامشرکانو پوری خاص ونه ګڼل سی بلکه ددُنیا دټولو قومونو دپاره عام پاته سی ، دغه وجه ده چی په دی آیت کی دخاص بیت المقدس دنوم اخیستو په ځای یی ، مساجد الله ویلی دی چی ټولو مسجدونوته دا حکم شامل سی ، اودآیت مطلب دا سو چی کوم سړی دالله پاك یومسجد دالله د ذکر څخه بند وی یاځه داسی کار وکی چی په هغه سره مسجد وران سی نو هغه ډیرلوی ظالم دی.

دمساجد الله تقاضا دا ده چی دی ته کوم سړی دا خل سی نو په هیبت اوخشوع سره دی دا خل سی لکه چی دیوه باچاپه دربارکی دا دخلیدو څخه پرسړی باندی هیبت اوخشوع راځی ، ددی آیته څخه چی کومی ضروری مسئلی اوحکمونه راوزی دهغوی تفصیل دا دی.

اولنی مسئله داچی په دنیاکی هرڅومره مسجدونه چی دی دآدابوپه لحاظ ټول دیوبل سره برابردی څه رنګه چی دبیت المقدس مسجد الحرام اودمسجد نبوی بی عزتی کول لوی ظلم دی هم دغه رنګه دنورو ټولو مسجدونو بی حرمتی کول لوی جرم او ظلم دی که څه هم په دی دری واړو مسجدونو کی یو خاص قسم لوی والی په خپل ځای کی منل سوي دی هغه دا چی په مسجدِ حرام کی دیوه لمانځه ثواب دیولکو لمونځونو برابر دی او په مسجد نبوی اوبیت المقدس کی دپنځوسو زرو لمونځونو برابر دی ، په دی درو واړو مسجدونو کی دلمانځه دپاره دلیری لیری ملکونو څخه سفرکول دثواب کار اودبرکت سبب دی ، په خلاف دنورو مسجدونو څخه ځکه چی ددی درو واړو مسجدونو څخه ماسوا په هریوه مسجد کی لمونځ کول تربل مسجد ښه ګڼل او دهغه دپاره دلیری څخه سفرکول نبی ﷺ منع کړي دی.

(۲) مسئله دا معلومه سوه چی په مسجد کی کی د ذکر اولمونځ منع کولو چی څومره صورتونه دی هغه ټول ناجائز اوحرام دی ، په دوی کی یو صورت خو واضح دا دی چی یو مسجد ته دتلو څخه اوهلته دلمونځ اوتلاوت څخه په ښکاره منع وسی دوهم صورت دا دی چی په مسجدکی شور جوړ سی یا دمسجد په څنګ کی دباجو ماجو په ږغولو سره دخلګو په لمانځه ذکر اونور کی خلل واچول سی ، دا هم دالله ﷻ د ذکر څخه منع کول دی.

هم دغه شان دلمانځه په وختونوکی چی کله خلګ په خپلو نفلونو یاتسبیحاتو یاتلاوت ذکر اونورو کی مشغول وی په مسجدکی په لوړ آوازسره تلاوت کول یاپه زوره په ذکر کولوسره هم په یوحیث خلق دذکر الله څخه منع کول دی ځکه چی په دی سره دخلګوپه لمانځه اوتلاوت اوذکر کی خلل راځی نو په دی وجه فقهاؤ دا هم ناروا ګڼلی دی ، البته کله چی مسجد دعام لمونځ ګذارو څخه خالی وی نو دغه وخت په ذکر یاپه زوره تلاوت کولو کی څه باك نسته.

ددی څخه دا هم معلومه سوه چی کوم وخت خلګ په لمانځه ذکر او نورو کی مشغول وی په مسجدکی دخپل ځان دپاره سوال کول یادڅه دینی کار دپاره چنده جمع کول هم منع دی.

دا مسئله معلومه سوه چی دمسجد دورانی چی څومره صورتونه دی هغه ټول حرام دی ، په دی کی لکه

چې څه رنګه په ډاګه دمسجد ورانول دا خل دي هم دغه رنګه هغه اسباب پیداکول هم دا خل دي چې دهغه دوجې څخه مسجد ورانیږي او دمسجد ورانیدل دا هم دي چې هلته لمونځ ګذار دلمانځه دپاره رانه سي یاکم سي ، ځکه چې دمسجد آبادي دمسجد دتعمیر اونقش نګارکول نه دي بلکه په دي کي دالله ﷻ ذکر کول دي ، ددي وجې دقرآن شریف دیو بل ځای ارشاد دي .

اِنَّمَا یَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللّٰهِ مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْیَوْمِ الْاٰخِرِ وَاَقَامَ الصَّلٰوةَ وَاٰتَی الزَّکٰوةَ وَلَمْ یَخْشَ اِلَّا اللّٰهَ .

(په اصل کي دمسجد آبادول هغه خلګ کوي چې په الله ﷻ اوقیامت په ورځ یې ایمان وي اولمونځونه قائموي اوزکوتونه ورکوي اودالله ﷻ څخه ماسوا دبل چا څخه نه بیریږي .

دغه وجه ده چې په یوحدیث کي نبی ﷺ فرمایلي دي چې قیامت ته په نژدي وخت کي به دمسلمانانو مسجدونه په ښرګنده آباد ښائسته وي ، لیکن په حقیقت کي به هغه وران وي ، په دي وجه چې په هغوی کي به لمونځ ګذارکم وي ، دحضرت علي کرم الله وجهه ارشاد دي ، چې دشرافت اوانسانیت شپږ کارونه دي ، دري په کور اودري په سفرکي دکور دري دا دي ، دقرآن تلاوت کول مسجدونه آبادول او دداسي دوستانو ډله جوړول چې دالله ﷻ او ددین په کارونوکي امداد کوي ، اودسفر دري کارونه دا دي ، خپله توښه په غریبو ملګرو لګول ، په ښه اخلاقو سره دبل سره معامله کول او دسفر دملګرو سره دخوشحالي او دخوش طبعي طرز عمل کول دي په دي شرط چې دا خوش طبعي دګناه حدته ونه رسیږي .

دحضرت علي کرم الله وجهه دمسجد دآبادولو څخه مطلب دا دي چې مسجدکي په خشوع اوخضوع سره حاضري ورکول سي او په مسجدکي ذکرتلاوت وسي ، نو اوس ددي په مقابله کي دمسجد ورانول دا سوه چې هلته لمونځ کوونکي پاته نه سي یاکم سي ، یاداسي اسباب پیدا سي چې دهغه څخه په خشوع اوخضوع کي نقصان راسي .

اوکه چیري ددي آیت شان نزول دحدیبیي واقعه او دمشرکانو دمکي دمسلمانانو دمسجد حرام څخه منع کول وي نو ددي آیت څخه دا هم په ډاګه سوه چې دمسجدونو ورانول یوازي دانه دي چې مسجد لوټي لوټي سي بلکه مسجدونه چې دکوم غرض دپاره جوړسوي دي یعنی لمونځ اودالله ﷻ ذکر هغه ختم کړل سي یاکم سي ، نو دي ته دمسجدونو ورانول ویل کیږي .

په دوهم آیت کي نبی ﷺ اوصحابه کرامو رضي الله عنهم ته تسلي ورکول سوي ده چې دمکي مشرکانو که چیري تاسي دمکي اوبیت الله څخه په هجرت کولو مجبوره کړي یاست اوپه مدینه کي ترشپاړسو اولسو میاشتو پوري تاسي ته حکم وسو چې دبیت المقدس په طرف لمونځ کوي په دي کي ستاسي څه نقصان نسته اونه ستاسي دپاره دادځه غمجن کیدو وجه ګرځیدي سي ځکه چې دالله ﷻ ذات په یو خاص طرف کي نه دي ، هغه په هرځای کي دي نو په دي وجه مشرق او مغرب یوشان دي ، کعبه که

دلمانځه قبله سی یابیت المقدس په دی دواړوکی څه خپل ذاتی خاصیت نسته بلکه دالله ﷻ دحکم دتعمیل په دواړو ځایونوکی دښه والی سبب او وجه ده .
نو چې کوم وخت دکعبې په طرف دمخ کولوحکم وو نوپه کعبه کی ښه والی وو اوکله چې بیت المقدس ته دمخ کولو حکم وسو نو په ده کی ښه والی دی ته مه خفه کیږه ، دالله ﷻ توجه په دواړو حالتونوکی یو شان ده په دی شرط چې بنده دهغه دحکم تعمیل کوی .
دخو میاشتودپاره چې بیت المقدس ته دمخ کولو حکم وکړل سو نوعملاً اونبی ﷺ قولاً داخبره واضحه کړه چې دیوخاص ځای یاطرف په قبله مقررکیدلوکی دا وجه نه ده چې معاذالله الله ﷻ په دی ځای یاطرف کی دی اوپه بل ځای کی نه دی بلکه الله ﷻ په هرځای اوهرطرف کی په یوشان توجه کولوسره موجود دی یوخاص طرف قبله مقررکول دنورو حکمتونو اوفائدو دپاره دی ځکه چې کله دالله ﷻ توجه په یوخاص ځای اوطرف پوری تړلی نه ده نو اوس دعمل دوه صورتونه کیدی سی یو دا چې هر یوسړی ته دا اختیار ورکړل سی چې کوم طرف ته یی خوښه سی په لمانځه کی دی هغه طرف ته مخ کوی ، او دوهم دا چې دټولو دپاره څه خاص طرف مقرر کړل سی ، څرګنده خبره ده چې په مخکنی صورت کی دافتراق اوانتشار منظر ښکاری ، اوپه دوهم صورت کی داتحاد اواتفاق نظاره په نظرراځی ، نو ددی حکمتونو په وجه دټول عالم دپاره هم یوځای اوشی قبله جوړول زیات مناسب دی اوس هغه که بیت المقدس وی اوکه کعبه دواړه مقدس اوپاك ځایونه دی ، دهرقوم او دهری زمانی مناسب دالله ﷻ دطرف څخه حکمونه راځی ، تریوی زمانی پوری بیت المقدس قبله جوړه سوه ، بیادنبی ﷺ او دصحابه کرامو ﷺ دزړه دخواهش مطابق دا حکم منسوخ سو اوکعبه ددنیا دپاره قبله جوړه سوه اوارشاد وسو

قَدْ نَرٰى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَآءِ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضٰهَا فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَحَيْثُ مَاكُنْتُمْ فَوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ شَطْرَهٗ .

دکعبې ته دقبلې جوړیدلو دزړه دخواهش په وجه دآسمان په طرف ستاسی مخ پورته کول مونږ وینو چې شاید ملائکه به حکم راوړی نو ددی دپاره مونږ تادقبلې په طرف متوجه کوو کومه چې ته غواړی نو په دی وجه د اوس څخه خپل مخ په لمانځه کی دمسجد حرام په طرف کوه اوداحکم څه ستا دپاره خاص نه دی بلکه دټول امت دپاره دا حکم دی چې تاسی هرځای چې یاست تردی که په بیت المقدس کی دننه یاست خو په لمانځه کی خپل مخ دمسجد حرام په طرف کوی .
مطلب دا چې په آیت ، لِلّٰهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ : سره دقبلې په طرف دمخ کولو مکمل حقیقت واضح سو چې ددی څخه غرض معاذ الله دبیت الله یابیت المقدس عبادت کول نه دی او نه د دواړو ځایونو سره دالله ﷻ ذات خاص دی بلکه دهغه ذات پرټول عالم باندی احاطه کوونکی دی او دهرطرف څخه دهغه توجه یو دول ده بیاچې دیوخاص طرف اوځای تخصیص کیږی په دی کی نور حکمتونه دی .

ددې آيت دمضمون واضح کولو دپاره شايد دنبي ﷺ اوصحابه کرامو ﷺ دهجرت په مخکنيو ورځو کې ترشپاړسو اوولسو مياشتو پورې دبيت المقدس په طرف دلمونځ کولو په حکم کې په عملي طور سره دا وښوول سوه چې دالله ﷻ توجه په هرطرف کې ده او په نفلوکې دا حکم دهميشه دپاره جاري پاته سو، هغه داسې که په سفرکې يو سړی په څه شي مثلاً پراوښ آس اونورسپور وي نو هغه ته اجازت دی چې په سپرلۍ باندې سپور په اشاري سره دې نفلي لمونځ وکې او دده دپاره دکعبې په طرف مخ کول هم ضروري نه دي، په کوم طرف چې دده سپرلۍ ځي هغه طرف ته مخ کول کافي دی.

بعضې مفسرينو آيت، ﴿فَأَيْنَمَا تُوَلُّوا فَثَمَّ وَجْهُ اللَّهِ﴾ : دنفلي لمانځه دپاره حکم ګرځولی دی ليکن دا ياد ساتل په کار دي چې دا حکم يوازې په هغه سپرليوکې دی چې په هغوی باندې دسپرلۍ په وخت کې دقبلې په طرف مخ کول ګران وي اوپه کومو سپرليوکې چې سپور ته دقبلې په طرف مخ کول ګران نه وي لکه اورګاډی داوبو جهاز هوايي جهاز نو د دوی هغه حکم دی کوم چې په کور کې دقبلې دطرف حکم دی، هغه دا که نفلي لمونځ په دوی کې کول وي نوقبلې ته به مخ کوي البته دومره خبره ده که دلمانځه په دوران کې دريل يادجهازمخ واوړی اودلمونځ ګذارپه وس کې نه وي چې هغه دقبلې په طرف واوړي نو دې دې په دغه حالت کې لمونځ پوره کې.

اوهم دغه شان که لمونځ ګذارته دقبلې طرف معلوم نه وي اودشپې دتياري اونورپه وجې طرفونه معلومول هم ګران وي اوڅوک ښوونکې هم نه وي نو دلته هم دغه حکم دی چې هغه دې خپله اندازه ولګوی اوچې کوم طرف يې متعين کې نو دغه طرف دده قبله سوه اوکه چيری ترلمونځ کولو وروسته ده ته داثابته سوه چې ده په غلط طرف لمونځ کړي دی بياهم لمونځ يې صحيح دی دوباره دلمونځ کولو ضرورت نسته.

وَقَالُوا اتَّخَذَ اللَّهُ وَلَدًا ۗ سُبْحَانَهُ ۖ بَل لَّهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۖ

او وايي چې الله لرې اولاد، هغه خو دټولو خبرو څخه پاک دی، بلکه دده دي چې څه دي په آسمانونو او مځکه

كُلٌّ لَّهُ قَانِتُونَ ﴿١١٦﴾ بَدِيعُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۖ وَإِذَا قَضَىٰ أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُن

کې ټول دده تابعدار دي، نوې پيدا کوونکې دی دآسمان او دمځکې او کله چې حکم کوی دڅه کارنو دا وايي

فَيَكُونُ ﴿١١٧﴾

هغه ته چې سه هغه کيږي.

لنډتفسير: (بعضې يهودوبه حضرت عزير ﷺ ته دخدای وزی وايه، اونصاراؤ به حضرت عيسیٰ ﷺ ته او دعربو مشرکانو به ملائکو ته دخدای ﷻ لوڼې ويلې، لکه ددې خبر په مختلفو آياتونوکې ورکول سوی دی، الله ﷻ ددې وينا قباحت اوباطل والی بيانوی چې) اوداخلګ (په مختلفو تعبيرونو سره)

وایی چې الله ﷻ اولاد لري سبحان الله (څه بې معنی خبره ده) بلکه (دده خو اولاد کیدل عقلاً ممکن نه دي ځکه داسې کیدل د دوو حالتو څخه خالي نه دي هغه داچې دا اولادبه دده دجنسه نه وي اويابه دده دجنسه وي که چیرې دده جنسه نه وي نوبیا داعیب دي چې اولاد یې دده دجنسه نه دي اوالله ﷻ خو دعیب څخه پاك دي عقلاً هم لکه چې دا منل سوی ده اونقلاً هم لکه چې دسبحانه معنی دا ده اوکه چیرې دده دجنسه وي نو په دې وجه دا خبره باطله ده چې دالله ﷻ هیڅوك هم جنس نسته ، دا ځکه چې کوم دکمال صفات دالله ﷻ دپاك ذات دپاره دي هغه ټول په الله ﷻ سره خاص دي اودالله ﷻ څخه ماسوا په بل چاکې نسته ، اودلازم دنفی څخه دملزوم نفی راځي ، نو په دې وجه دغیرالله ذات به واجب نه وي اووجوب خوعین حقیقت یالازم دحقیقت دي، نويو غیر الله دالله ﷻ سره په حقیقت کې شریك نه سو ، نو په دې وجه هم جنس کیدل باطل سو اوس دکمال دصفتونو دالله ﷻ په ذات پورې دخاص کیدلو دپاره دلیلونه ذکرکیږي اول داچې) خاص دالله ﷻ ملکیت دي چې څه په آسمانونوکې اومځکې کې (موجودات) دي (او دوهم داچې دا دملکیت کیدلوسره) ټول دهغه محکوم (هم) دي (په دې معنی چې دهغه دقدرت تصرفات لکه وژل سوزل او نور څوك بندولی نه سي ، که څه هم په احکامو شرعیه وو کې که څوك ټال مټال وکي (او دریم دا چې الله ﷻ) ایجاد کوونکی هم دی دآسمانونو او دمځکې او(خلورم دا چې ددې ایجاد قدرت داسې لوی اوعجیب دی چې) دڅه کار (مثلاً پیدا کول وي) پوره کول غواړي نوبس (دومره خبره ده چې) هغه ته (دومره) وایی چې سه هغه (دغه شان) کیږي (هغه ته دڅه سامان اسبابو کاریګرو او مددګارانو ضرورت نه پېښیږي او دا څلور سره کارونه دالله ﷻ څخه ماسوا په بل چاکې نسته ، او دا خبرې دې خلګو هم منلې کومو چې دالله ﷻ دپاره داولاد کیدلو دعوی کولې ، نو په دې وجه دلیل تام اوثابت سو)

فائدې : (۱) په خاصو کارونو ملائکې مقررول لکه باران رزق اونور اوهم دغه رنګه داسبابو اومادو څخه کار اخیستل داټول دالله ﷻ پر یوحکمت باندې موقوفه دي ، ددې دپاره نه دي چې خلګ دغه اسباب اومواد حاجت روا وګڼي او د دوی دمدد طلب ګاره سي (۲) بیضاوی ویلی دي چې په مخکنیو شریعتونوکې الله ﷻ ته به داولنی سبب کیدو په وجه پلار ویل کیدی سول ، جاهلو خلګو ددې څخه دکوچنیانو دکیدلو مطلب واخیستی نو په دې وجه داعقیده لرل یاداسې ویل کفر وګرځول سو، او اوس دفساد دختمولو دمصلحت په بنا دداسې الفاظو وینا دالله ﷻ په باره کې بالکل منع کړل سوه .

وَقَالَ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ لَوْلَا يُكَلِّمُنَا اللّٰهُ اَوْ تَاْتِيْنَآ

او وایی هغه خلق چې څه علم یې نسته ولې خبرې نه کوي مونږ سره الله یا ولې نه راځي مونږ ته

آيَةٌ كَذٰلِكَ قَالَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ مِّثْلَ قَوْلِهِمْ تَشَابَهَتْ

څه آیت دغه رنګه ویلی وه هغه خلقو چی تر دوی مخکې وه د دوی پشان خبره، یو شان دی

قُلُوْبُهُمْ قَدْ بَيَّنَّا الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يُّوْقِنُوْنَ ﴿۱۱۸﴾

زړونه د دوی ، بیشکه مونږ بیان کړی دی نښانی دهغه خلقو دپاره چی یقین کوی .

لنډتفسیر: او (بعضی) جاهل (یهود اونصاری اومشرکان درسول ﷺ په مقابله کی) داسی وایی چی (په خپله) الله ﷻ زمونږ سره خبری ولی نه کوی (برابره خبره ده که دملائکو څخه بغیر وی لکه چی دی ﷻ یی په خپله دملائکو سره کوی یادملائکوپه ذریعه لکه چی دپیغمبرانو سره یی دوحی په طور کوی او په دی خبرو خو دی یامونږ ته په خپله حکمونه ونښیی چی بیا زمونږ بل پیغمبر ته ضرورت پاته نه سی یاکم ازکم دی دومره ووایی چی محمد ﷺ زمونږ پیغمبر دی نومونږ به دده رسالت ومنو اوتابعداری به یی شروع کو) یا (خبره نه کوی نو) دی مونږ ته یو بل دلیل (درسالت دثابتولو دپاره) راسی (الله ﷻ اول خو دا خبره جاهلانه رسم کیدل وښوولہ چی) دغه رنګه دا (جاهلان) خلک هم وایی څه رنګه چی تر دوی مخکی خلګو ویله د دوی په شان (جاهلانه) خبره (نومعلومه سوه چی ددی خبری څه قیمت نسته اونه دا پرخه باریك بینی باندی بناء ده هسی دوی خبری یادوی اوبیایی د دوی دوینا سبب بیان کی چی) ددی تولو (مخکی او وروسته جاهلانو) زړونه (په کج فهمی اوناپوهی) کی دیوبل سره مشابه دی (نو په دی وجه دټولو دا یوه خبره راوزی او بیاپه دریم ځای کی ددی ویناجواب کوی اوکله چی ددی وینا مخکنی جزء او حصه یوازی حماقت اوبی عقلی وه چی خپل ځان دملائکو اوپیغمبرانو برابر جوړول غواړی چی دا بالکل باطله خبره ده او ددی بطلان بالکل ښکاره دی ، نو په دی وجه دی احمقانه خبری ته یی بالکل څه اهمیت ورنه کی او یوازی ددی خبری د دوهم جزء جواب کوی چی تاسی خو دیو دلیل راوړلو خبره کوی) مونږ خو ډیر دلیلونه (دمحمد ﷺ درسالت دثابتولو دپاره) صفا صفا بیان کړي دی (لیکن دا) دهغوخلګو دپاره (فائده مند اوکافی کیدی سی) چی یقین (اواطمنان حاصلول) غواړی (اوکله چی داعتراض کوونکو مقصد او غرض یوازی ضدکول دی او دحق طلب د دوی غرض نه دی نو داسی خلګو ته دتسلی ورکولو څوك ذمه اخیستی سی) .

فائده : په یهودو اونصاراؤ کی چی هغه اهل کتاب وه دعلم خاوندان هم وه نوبیا دوی ته یی جاهلان ولی وویل دا په دی وجه چی کله دوی دنبی کریم ﷺ په رسالت باندی دقطعی اویقیني دلیلونو څخه انکار کوی او دا یی نه منل نو بیا دا دجهالت څخه بدل شی نه وو بلکه عین جهالت وو.

إِنَّآ أَرۡسَلۡنَٰكَ بِٱلۡحَقِّ بَشِيرٗا وَنَذِيرٗاۖ وَلَا تُسۡـَٔلُ عَنۡ أَصۡحَٰبِ ٱلۡجَحِيمِ ﴿١١٩﴾

بیشکه مونږ ته لیږلی یې په رښتیا دین سره زیری ورکوونکی او بیرونکی او ستا پوښتنه نسته دوږخ کی داوسیدونکو.

لنډتفسیر: (کله چې دنبي علیه الصلاة والسلام درحمت للعالمین دشان داتقاضا وه چې نبي ﷺ به د دوی دجهالت اوعنادپه وجه او دایمان نه راوړلو په وجه خفه کیدی، نو الله ﷻ دده دتسلی دپاره ارشاد کوی چې ای پیغمبره!) مونږ تا ته یو ریښتینی دین درکی (خلګوته مو) ولیږلی چې (منونکوته) زیری اوروه او (نامنونکی دسزا څخه) وبیروه اوستا څخه به دوږخ ته دتلونکو په باره کی پوښتنه نه کیږی (چې دی خلګو ایمان ولی قبول نه کی او ولی دوږخ ته ولاړل تاته دچا دمنلو اونه منلو څه غم کول په کار نه دی)

وَلَن تَرۡضَىٰ عَنكَ ٱلۡيَهُودُ وَلَا ٱلنَّصَٰرَىٰ حَتَّىٰ تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمۡۗ قُلۡ

او هرګز به راضي نه سی ستاڅخه یهود او نه نصاری ترڅو چې ته تابع نه سی د دوی ددین

إِنَّ هُدَى ٱللَّهِ هُوَ ٱلۡهُدَىٰۗ وَلَئِنِ ٱتَّبَعۡتَ أَهۡوَآءَهُم بَعۡدَ

نو ووایه کومه لارچې الله ښیی هم هغه سمه لارده، او که چیری بالفرض ته تابعداری وکړی د دوی دخواهشاتو

ٱلَّذِي جَآءَكَ مِنَ ٱلۡعِلۡمِ مَا لَكَ مِنَ ٱللَّهِ مِن وَلِيّٖ وَلَا نَصِيرٍ ﴿١٢٠﴾

پس دهغه علم څخه چې تا ته در رسیدلی دی نو ستا دپاره نسته دالله دلاس څخه حمایت کوونکی او نه مددګار.

لنډتفسیر: اوهیڅ کله به خوشحاله نه سی ستا څخه دا یهود اونه دا نصارا ترڅو چې ته (خدای دی نه کړی) د دوی دمذهب (بالکل) تابعدار نه سی (او داسی کیدل خو ممکن نه دی نو د دوی راضي کول هم ممکن نه دی اوکه چیری کله داسی خبره د دوی دژبی یا دحالت څخه وخیژی نو) ته (صفا) ووایه چې (وروره) په حقیقت کی دهدایت خو هغه لارده چې کومه الله ﷻ (دهدایت لاره) ښوولی ده (اود دلایلو څخه داثابته سوی ده چې داسی لاره یوازی اسلام دی نو دهدایت لاره هم اسلام سو) او (دا خبره چې تاسی نعوذ بالله د دوی دمذهب تابعداری کوونکی سی په دی وجه ممکنه نه ده چې ددی څخه یوبل محال لازمیږی څکه) که چیری تاسی د دوی دغلطو خیالاتو تابعداری کول شروع کی (چې هغه دوی خپل مذهب ګڼی او هغه څه دتحریف په وجه اوڅه دمنسوخ کیدلو په وجه اوس یوازی دڅو غلطو خیالونو مجموعه جوړه سوي ده اوبیا تابعداری کول په کومو حالاتوکی چې) علم (قطعی دوحی په وجه) دراتللو څخه وروسته خو (په داسی حالت کی به خو) ستا دخدای ﷻ څخه دساتلو نه یاروی اونه مددګار (بلکه دالله ﷻ دقهر په پنجه کی ګرفتاره کیدل لازمی دی، او داسی لازمیدل خومحال دی څکه چې په قطعی دلیلونو سره ثابته ده چې ستا څخه دهمیشه دپاره الله ﷻ راضي دی نو دخدای ﷻ

خفه کیدل ستا څخه محال سوه ، او ددغه تابعداری کولو څخه دا لازمیدل نو په دی وجه دغه تابعداری
محاله سوه اوبغیر دتابعداری کولو څخه د دوی راضی کیدل ممکن نه دی نو دداسی شی دامید کولو
دپاره څه ځای پاته نه سو نو په دی وجه ددی امید څخه زړه خالی کړه)

الَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَتْلُونَهُ حَقَّ تِلَاوَتِهِ أُولَٰئِكَ يُؤْمِنُونَ

هغه خلق چی هغوی ته ورکړی دی موږ کتاب هغوی دا وایی چی کوم حق دی دویلو او دوی هم په دی یقین کوی

بِهِ ۗ وَمَن يَكْفُرْ بِهِ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ ﴿١٢١﴾

او چی څوک منکر دده څخه وی نو دغه خلق نقصان پیداکوونکی دی.

تفسیر: (ددی آیت څخه په مخکی آیت کی دمعاندینو اهل کتابو اوداسلام دمخالفت کوونکو بیان
ور چی دوی ایمان نه راوړی اوپه دی آیت کی دقرآن کریم دعادت له مخی دانصاف پسندواهل کتابو
بیان دی ، چی هغوی دحق ترڅرګندیدو وروسته دنبی ﷺ تصدیق وکی او دده تابعداری یی خوښه کړه
نوالله ﷻ فرمایی) کومو خلګوته چی موږ کتاب (توراة اوانجیل) ورکړي دی (په دی شرط چی) هغوی
ددی تلاوت (هغه شان) کوی چی څنګه دتلاوت حق یی دی (چی خپل علمی قوت دهغه دمضامینوپه
فهم کی یوازی کوی اوخپل قوت ارادی دحق په اتباع کی لګوی) داسی خلګ (البته ستاپه) دی (حق
دین او دوحی په علم) ایمان راوړی اوڅوک چی یی نه منی (دچانقصان به وکی) په خپله به داسی خلګ
نقصان پیدا کی (د ایمان چی کومی فائدی دی دهغو څخه به محرومه سی)

يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ اذْكُرُوا نِعْمَتِيَ الَّتِي أَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَأَنِّي فَضَّلْتُكُمْ عَلَى

ای بنی اسرائیلو ! یاد کړی احسان زموږ چی موږ په تاسی وکی او هغه چی موږ تاسی ته فضیلت درکی ددنیا

الْعَالَمِينَ ﴿١٢٢﴾ وَاتَّقُوا يَوْمًا لَّا تَجْزِي نَفْسٌ عَن نَّفْسٍ شَيْئًا وَلَا

په خلقو باندی ، او وبیریږي دهغه ورځی څخه چی په کار به ورنه سی یو سړی بل چا ته لږ څه هم او نه به

يُقْبَلُ مِنْهَا عَدْلٌ وَلَا تَنفَعُهَا شَفَاعَةٌ وَلَا هُمْ يُنصَرُونَ ﴿١٢٣﴾

قبول کړل سی دده طرف څخه بدله او نفع به ورنه کړی ده ته سفارش او نه به د دوی مدد واکړل سی .

تفسیر: (ددی آیت څخه ترمخکی آیت پوری دبنی اسرائیلوپه باره کی چی دکومو خاصو مضامینو
بیانول مقصدوه هغه ختم سوه ، اوس دمضامینو ابتدائی تمهیدچی هغه ددی خاصو مضامینو اجمال

وو بیا دوباره په دې غرض بیانوي چې په دې تکرار سره دا په ذهن کې کښيني او په دغه تمهيد کې دخاصو اوعامو انعامونوپه يادونې سره ترغيب ورکول وه او دقيامت دعذاب څخه بيرول وه ، او دا دبلاغت داعلی درجې طرز دی چې ترمفصلې او اوږدې خبرې کولو مخکې په يو مجمل عنوان سره ددې خبرې داسې قسم بيان وسي چې دهغه قدر مشترك ددې مفصلې خبرې په تفصيلاتو باندې په پوهيدلو کې مدد وکي ، اوبياپه آخرکې ددغه تفصيل دخلاصون اونتيجې په توګه ددغه مجمل عنوان راوړل وسي ، نودآيت يٰبَنِيْٓ اِسْرَاۗءِيْلَ الخ دوباره راوړل هم په دې طور اوغرض سوي دي.

اې ديعقوب (ﷺ) اولاده! زماهغه نعمتونه يادکې چې هغه ما پرتاسې (وخت په وخت) کړي دي اوهغه (هم ياد کې) چې ماتاسې ته په ډيرو خلګو باندې (په ډيروخبروکې) لوړوالی درکړي دی اوتاسې وبيرېږئ دداسې ورځې څخه (يعنې دقيامت څخه) چې په هغه کې به نه يو سړی دچا دطرف څخه څه مطالبه (دواجب حق) ادا کوونکی پيداکړل سي اونه به دچا دطرف څخه څه بدله (دواجب حق په ځای) قبوله کړل سي اونه به دچا سفارش (کله چې ايمان يې نه وي) فائده مند سي اونه به داخلګ څوك (په زور) خلاص کړل سي.

وَاِذِ ابْتَلٰٓى اِبْرٰهٖمَ رَبُّهٗ بِكَلِمٰتٍ فَاَتَمَّهُنَّ ۭ قَالَ اِنِّىْ جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ اِمَامًا ۭ

او کله چې ازمېښت وکی په ابراهيم ﷺ دهغه رب په څو خبرو کې نو بيا هغه دا خبرې پوره کړې نو وې فرمايل زه

قَالَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِىْ ۭ قَالَ لَا يَنَالُ عَهْدِي الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۲۴﴾

تا جوړومه دټولو خلقو پيشوا ، هغه وويل او زما د اولاد څخه هم الله وفرمايل وبه نه رسيږي زما وعده ظالمانو ته

لنډتفسير: اوکوم وخت چې امتحان واخيستی دحضرت ابراهيم ﷺ څخه دهغه پروردګارپه څوخبروکې (دځېلو حکمونو څخه) او دا ده په پوره طور سره وکې (دغه وخت) الله ﷻ (ده ته) وفرمايل چې زه تا (ددې په جزاکې دنبوت په ورکولو يادأمت په زياتولو سره) دخلګو پيشوا جوړومه ، ده عرض وکی او زما په اولاد کې هم څه کسانو ته (نبوت ورکه) ارشاد وسوچې (ستا سوال منظور دی ليکن دا قانون واورې چې) زما (دا) وعده (دنبوت دقانون) خلاف ورزې کوونکو ته به نه حاصلېږي (نو داسې خلګو ته خو صفا جواب دی ، البته په اطاعت کوونکو کې به بعضو ته نبوت ورکړل سي).

علوم اومسائل: په دې آيت کې الله ﷻ دا بيان کوي چې الله ﷻ دحضرت ابراهيم ﷺ مختلف امتحانونه واخستل اوحضرت ابراهيم ﷺ په دې امتحانونوکې کامياب سواوپه دې کاميابی باندې الله ﷻ دخلقو دپيشوا ګرځولوانعام ورکی بياحضرت ابراهيم ﷺ دشفقت په وجه دځپل اولاددپاره ددې انعام غوښتنه وکړه نو ددې انعام دحاصليدلو دپاره الله ﷻ ديوې قاعدې ارشاد وکی چې په هغه کې دحضرت ابراهيم

ﷺ د درخواست دمنظورولو دپاره یوشرط ولګول سو چی دا انعام به ستا اولاد ته هم ورکیدی سی لیکن کوم خلګ چی ستاپه اولاد کی نافرمانه اوظالم وی نوهغوی ته به دا انعام نه حاصلیږی.

(دحضرت خلیل الله ﷺ لوی امتحانونه او ددی امتحانونو مضمونونه).

دلته یوڅو خبری دغور اوفکر کولو وړ دی ، اول داچی امتحان ددی دپاره اخیستل کیږی چی په دی سره دیو سړی قابلیت معلوم سی اوالله ﷻ خو علیم اوخبیر دی دهرڅه ورته پته ده ، دچا یوحال اوکمال دده څخه پټ نه دی، نو بیا ددی امتحان اخیستلو غرض څه وو ؟

دوهم داچی داامتحان په کوم کوم شی کی واخستل سو؟ دریم داچی کامیابی په څه شکل اودڅه قسم وه؟ څلورم داچی انعام څه ورکړل سواوداانعام دڅه حیثیت وو؟ پنځم دا چی ددی انعام دپاره چی کومه ضابطه مقرره سوه دهغه څه تفصیل او وضاحت دی ؟ ددی پنځو سوالونوجواب په تفصیل سره واوری.

مخکنی خبره چی دامتحان څخه مقصدڅه وو ؟ ددی حل دقرآن کریم یوی کلمی «رَبُّهُ» کړي دی په دی کلمه کی دا دی چی امتحان اخیستونکی په خپله الله ﷻ دی او دده داسماء حسنٰی څخه دلته درب په راوړلو کی دربوبیت شان ته اشاره ده او دربوبیت مطلب دا دی چی یوشی کرار کرار دکمال درجی ته رسول کیږی.

مطلب داسو چی دحضرت ابراهیم ﷺ دا امتحان دڅه جرم په سزا ورکولو کی یادنا معلوم قابلیت دمعلوملو دپاره نه وو، بلکه ددی منشا شان دربوبیت اوتربیت وو په دی ازمینبتونو سره دخپل خلیل تربیت کول وه او درجو اومقاماتوته یی رسول غرض وه، بیاپه دی جمله کی مفعول مقدم اوفاعل مؤخر سوي دی او داسی ارشاد دی ، وَاِذِ ابْتَلٰی اِبْرَاهِیْمَ رَبُّهُ، اوپه داسی کولو سره دابراهیم ﷺ دشان لوی والی نور ښرګندول دی.

دوهم سوال دا چی امتحان دڅه شی اخیستل سوی وو ؟ ددی متعلق خو په قرآن شریف کی یوازی د کَلِمَاتٍ لفظ راغلی دی او ددی لفظ په تفسیر اوتشریح کی دصحابه کرامو ﷺ اوتابعینو رحمهم الله حضراتومختلف اقوال دی چاپه احکامو الهیه ووکی دلسوشیانو ذکر کړي دی چی په لسو احکامو کی امتحان اخیستل سوی وواوچادیرش ښوولی دی اوچاڅه کم اوزیات نورشیان ښوولی دی لیکن دا خو حقیقت دی چی په دی کی خواختلاف نسته چی داشیان ټول دحضرت خلیل الله ﷺ دامتحان مضامین وه ، دابن جریر او ابن کثیر دغه رایه ده ، اوس دامتحان ددغه مضامینو څخه ماسوا هم شیان واوری.

الله ﷻ ته دا منظوره وه چی حضرت ابراهیم ﷺ ته دخپلی دوستی خاص انعام ورکی نوپه دی وجه دی یی دسختو امتحانونو څخه تیرکی، ټول قوم حتّی چی خپل خاندان یی ټول په بت پرستی کی مبتلاوه، ددی ټولو دعقیدو اورسمونو څخه جلا یو دین حنیف پاك ده ته الله ﷻ ورکی اوددین دتبلیغ کولو او قوم دی دین ته درابللو دروند پیټی یی پرابراهیم ﷺ واچوی ، ابراهیم ﷺ بغیر دڅه خوف اوخطر څخه قوم دالله وحده لاشریك له طرف ته راوبلی، دشرمناکی بت پرستی خرابیانی یی په مختلفو اندازونو کی یی ورته بیان کړی، اوپه عملی طور سره یی دبتانو خلاف جهاد وکی ، ټول قوم دده سره

په جنگ کولو تیارسو، دوخت باچا نمرود او دهغه قوم دده په اور کی دغورځولو او ژوندی سوزولو اراده وکړه، دالله ﷻ دوست دخپل مولا درضا دپاره په دی تولو تکلیفونو باندی راضی سو او خپل ځان یی په اورکی دغورځولو دپاره وړاندی کی، الله ﷻ خپل دوست په امتحان کی چی کامیاب کی نو اور ته یی حکم وکی، قُلْنَا يَا نَارُ كُونِي بَرْدًا وَسَلَامًا عَلَى إِبْرَاهِيمَ (مونږ حکم وکی چی ای اوره ته پرابراهیم ﷺ باندی سوړ سه او دسلامتیا ذریعه سه)کوم وخت چی دا دالله پاک حکم دنمرود داور متعلق راغی نو دحکم الفاظ خو عام وه، دخه خاص اور تعین خو نه وو سوی، نو په دی وجه په ټوله دنیا کی چی هرځای اور وو په دی حکم الهی راتلو سره په خپل خپل ځای کی یخ سو او دنمرود اور هم ددی ډلی یوغړی وو نو یخ سو، په قرآن مجید کی د بَرْدًا دلفظ سره د سَلَامًا زیاتوالی په دی وجه وسو چی دیوشی یخ والی چی داعتدال ترحد واوړی نوهغه هم دواوری په شان تکلیف ورکونکی بلکه هلاکوونکی ګرځی، که چیری دسلامًا دلفظ ارشاد نه وای نوممکنه وه چی اور دواوری په شان به داسی یخ سوی وای چی هغه به په خپل ځای کی یوعذاب جوړ سوی وای لکه په جهنم کی چی یوعذاب دزمهریر هم دی، چی هغه ددیریخ والی عذاب دی، اوچی ددی امتحان څخه فارغ سو، دوهم دا امتحان ورڅخه واخیستل سو چی خپل اصلی وطن پریږده اوشام ته هجرت وکه نوحضرت ابراهیم ﷺ دالله ﷻ درضاپه شوق کی قوم اووطن یی هم پریښوول، او داهل اوعیال سره یی شام ته هجرت وکی، او اوس یی لا په شام کی دومره درنګ نه وو تیرکړی چی حکم ورته وسوچی بی بی هاجره ؓ اودتی ماشوم کوچنی حضرت اسماعیل ﷺ واخله اوددی ځایه هم کوچ وکړه (ابن کثیر)

جبرئیل امین راغی او دده په ملګرتیاکی یی بی بی اوکوچنی واخستل اوروان سو په لاره کی به چیری چی شین ځای راغی نوحضرت ابراهیم ﷺ به وفرمایل چی دلته مو پریږده، جبرئیل ﷺ به ورته وویل چی ددی ځای حکم نه دی سوی، دپاته کیدوځای لامخ ته دی، کله چی هغه لوړ غرونه اوګرمی شګی را ورسیدلی چی هلته څه وخت وروسته دبیت الله تعمیرکول او دمکی دکلی جوړول مقررو نوپه دغه ریګستان کی دی کښته کړل سو دخدای ﷻ دوست حضرت ابراهیم ﷺ دخپل پروردګارپه محبت کی غرق په دی صفامیدان او وچ سوړ ځنګل کی دخپلی بی بی اوکوچنی سره دلته پاته سو لیکن دا امتحان په دی لاختم نه سو بلکه اوس حضرت ابراهیم ﷺ ته حکم وسو چی بی بی اوکوچنی دلته پریږده اوپه خپله شام ته واپس سه دالله ﷻ دوست دحکم اوریدو سره دحکم دتعمیل دپاره پاڅیدی او شام ته روان سو دحکم په تعمیل کی یی دومره قدر درنګ نه سوای برداشت کولی چی خپلی بی بی ته دومره قدر ووایی چی ماته چی کله دخدای ﷻ حکم سوی دی نو په دی وجه زه ځم، حضرت هاجره ؓ چی دی ولیدی چی ځی نو آوازیی ورته وکی لیکن ده ﷺ جواب ورنه کی، بیایی ورته آواز ور وکی او ورته یی وویل چی په دی وچ میدان کی ته مونږ پریږدی اوپه خپله چیری ځی؟ ددی جواب یی هم ورنه

کې ، لیکن دا بی بی هم دالله ﷻ د دوست بی بی وه پوه سوه چې څه کیسه خو ده اوپه ویناسوه آیاتاته دالله ﷻ حکم سوی دی ؟ نوده ﷺ وویل چې هو! حضرت هاجره ؓ ته چې کله معلومه سوه چې دالله ﷻ حکم ورته سوي دی نو په ډیر اطمینان یې وویل چې ولاړ سه ، کوم مالك چې تا ته دتلوحکم کړي دی ، هغه به مونږ ضائع نه کړی.

اوس حضرت هاجره ؓ خپل دتی دماشوم سره په دې وچ بیابان کې وخت تیروونکې سوه، دتندې زیات والې دا داوبو پرتلاش باندې مجبوره کړه، کوچنی یې په ډاګ میدان کې پریښووی، دصفا اومروه پرغونډیو باندې څو څوواره وخته اوراکښته سوه ددې دپاره چې یوځای داوبو نښې اونښانې په نظر ورسی یاڅه انسان ورته ښکاره سی چې دهغه څه پته معلومه کړی تراووه واره څغستلو وروسته چې داوبو پیدا کولو څخه نا امیده سوه اوکوچنی ته راغله نودالله ﷻ رحمت نازل سو، جبریل ؑ راغی او په دې وچ بیابان کې یې د اوبو یوه چینه را وکښله چې دهغه نوم نن زمزم دی ، ددغه اوبوپه لیدو سره حیوانان دلته راغله او دحیواناتوپه لیدوسره انسانان هم راغله او په دغه ډول دمکې دکلې دآبادیدو انتظام وسو دژوند دضرورتونو څه آسانی پیدا سوي.

دغه ماشوم چې نن ورته حضرت اسماعیل ؑ ویل کیږي دلته لوی سو او دکار اوبار کولو قابل سو، حضرت ابراهیم ؑ دالله ﷻ له طرفه دحکم په وجه دلته به کله کله راتلی ، بی بی اوکوچنی به یې لیدی ، په دغه وخت کې بیا الله ﷻ دخپل دوست څخه دریم امتحان واخستې چې دی دغه کوچنی کوم چې په ظاهری اسبابوکې دپلار دشفقت او تربیت څخه محروم وو اوپه بی سر اوسامانی کې لوی سوی وو ذبح کړی. دقرآن کریم ارشاد دی.

فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ قَالَ يَا بُنَيَّ إِنِّي أَرَىٰ فِي الْمَنَامِ أَنِّي أَذْبَحُكَ فَانظُرْ مَاذَا تَرَىٰ قَالَ يَا أَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ سَتَجِدُنِي إِن شَاءَ اللَّهُ مِنَ الصَّابِرِينَ (الصّٰفّٰت ۱۰۲)

(کله چې کوچنی ددې خبری قابل سو چې دپلارسره کار اوروزګار وکې نوحضرت ابراهیم ؑ ده ته وویل چې ای بچیه ! زه خوب دا وینم چې زه تاذبحه کوم نو وګوره ستاڅه خیال دی؟ نیك بخت کوچنی ورته عرض کوی چې بابا جانه! تاته چې کوم حکم درکړل سوي دی هغه پوره کړه ، ته به ما ددی حکم په تعمیل کې انشآء الله ثابت قدم پیدا کړی.

تردې وروسته چې کومه واقعه ده هغه هرمسلمان ته معلومه ده چې حضرت ابراهیم ؑ خپل کوچنی دمنی بیابان ته بوتلی اودخپل طرف څخه یې دالله پاك حکم پوره کې لیکن دلته غرض اومقصد کوچنی ذبحه کول نه وه بلکه دمشفق پلار امتحان اخیستل وو، دخوب دواقعی په الفاظو دغورکولو څخه معلومه ده چې په دې خوب کې دالیدل سوی نه ووچې کوچنی یې ذبح کړی وو بلکه دذبح کولو کار یې لیدلی وو چې هغه حضرت ابراهیم ؑ وکې او دا عمل دخوب دوحی په ذریعه سره په ښوولو کې هم

شاید دغه حکمت او مصلحت وو چی دخبرو په ذریعه دذبح کولو حکم مقصود نه وو، دغه وو چی ارشاد وسو چی، قَدْ صَدَّقْتَ الرُّؤْيَا (چی په خوب کی دی څه لیدلی وه تاهغه پوره کړه) کله چی دی ﷺ په دی کی پوره وختی نو الله ﷻ دجنت څخه ددی فدیه نازله کړه اودهغه دقربانی کولو یی حکم ورکی او دا ابراهیمی سنت دراتلونکی دنیا دپاره دهمیشه سنت جوړ سو، دا هغه سخت اوګران امتحانونه وه چی په دی ابراهیم ﷺ تیرسو او ددی سره دنورو ډیرو عملونو کول هم په ده باندی لازم سوه چی دهغه څخه لس داسی دی چی دفطرت دخصلتونو په نوم یادیږی اوچی دهغوی تعلق دبدن دصفایی اوپاکی سره دی، او دا دفطرت خصلتونه دراتلونکو ټولو امتونو دپاره هم مستقل حکمونه سوه، نبی کریم ﷺ خپل امت ته ددغه ټولو خصلتونو تاکید کړي دی.

او ابن کثیر دحضرت عبدالله بن عباس ﷺ یو روایت دا هم نقل کړي دی چی دټول اسلام دیرش حصی دی چی دهغه لس په سورت براءت کی ذکر دی، اولس په سورت احزاب کی، اولس په سورة مؤمنون کی، حضرت ابراهیم ﷺ ددی ټولو پوره حق ادا کی اوپه دی ټولو امتحانونوکی کامیاب سو په سورة براءت کی دمومنانو دصفتونوپه بیان کی دمسلمانانو دلسو خاصیتونو علامو اوصفتونو بیان داسی سوي دی.

اَلتَّائِبُونَ الْعَابِدُونَ الْحَامِدُونَ السَّائِحُونَ الرَّاكِعُونَ السَّاجِدُونَ الْآمِرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّاهُونَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَالْحَافِظُونَ لِحُدُودِ اللهِ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ (التوبة ۱۱۲)

(هغوی داسی دی چی توبه کوونکی عبادت کوونکی حمد ویونکی روژه لرونکی رکوع کوونکی سجده کوونکی دښو خبرو ښوونکی او دبدو خبرو څخه منع کوونکی او دالله ﷻ دحدودو خیال لرونکی دی، او داسی مومنانوته زیری واوروه)

اودسورة مومنون لس صفتونه دا دی.

قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ * الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ * وَالَّذِينَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُونَ * وَالَّذِينَ هُمْ لِلزَّكَاةِ فَاعِلُونَ * وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ * إِلَّا عَلَى أَزْوَاجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ فَإِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُومِينَ * فَمَنِ ابْتَغَى وَرَاءَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْعَادُونَ * وَالَّذِينَ هُمْ لِأَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُونَ * وَالَّذِينَ هُمْ عَلَى صَلَوَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ * أُولَٰئِكَ هُمُ الْوَارِثُونَ * الَّذِينَ يَرِثُونَ الْفِرْدَوْسَ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ (المؤمنون ۱ ا ۱۱)

(بیشکه هغه مسلمانانو فلاح پیداکړه چی کوم په خپل لمانځه کی زاری اوخشوع کوونکی دی اوچی کوم دبی هوده خبرو څخه ډډه کوونکی دی اوچی کوم خپل ځان پاک کوونکی دی اوچی کوم دخپل شرم دځایونو حفاظت کوونکی دی ماسوا دخپلو بیبیانو یا دخپلو مینځو څخه ځکه چی په دوی کی په دوی باندی څه ملامتیانسته البته څوک چی تردی ماسوا طلب ګاروی نوداسی خلګ ترحد تجاوزکوونکی دی اوچی کوم دخپلو امانتونو او دوعدو خیال کوی، اوچی کوم خپل لمونځونه په پابندی سره کوی

دغه شان خلګ وارث کیدونکی دی چی دفردوس وارثان وی او دوی به په دی کی همیشه وی .
اوپه سورت احزاب کی ذکرسوی لس صفتونه دا دی .

إِنَّ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُسْلِمٰتِ وَالْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنٰتِ وَالْقٰنِتِينَ وَالْقٰنِتٰتِ وَالصّٰدِقِينَ وَالصّٰدِقٰتِ وَالصّٰبِرِينَ وَالصّٰبِرٰتِ وَالْخٰشِعِينَ وَالْخٰشِعٰتِ وَالْمُتَصَدِّقِينَ وَالْمُتَصَدِّقٰتِ وَالصّٰئِمِينَ وَالصّٰئِمٰتِ وَالْحٰفِظِينَ فُرُوجَهُمْ وَالْحٰفِظٰتِ وَالذّٰكِرِينَ اللّٰهَ كَثِيرًا وَّالذّٰكِرٰتِ أَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ مَّغْفِرَةً وَّأَجْرًا عَظِيمًا (الاحزاب ۳۵)

بیشکه داسلام کارکوونکی سړی اوداسلام کارکونکی ښځی اوایمان راوړونکی سړی او ایمان راوړونکی ښځی اوتابعداری کوونکی سړی اوتابعداری کوونکی ښځی اورښتیا ویونکی سړی اورښتیا ویونکی ښځی اوصبر کوونکی سړی اوصبر کوونکی ښځی او خشوع کوونکی سړی او خشوع کوونکی ښځی اوخیرات کوونکی سړی اوخیرات کوونکی ښځی اوروژه لرونکی سړی اوروژه لرونکی ښځی اوخپل دشرم ځای ساتونکی سړی اوخپل دشرم ځای ساتونکی ښځی اوزیات دالله ﷻ یادوونکی سړی اوزیات دالله ﷻ یادوونکی ښځی دټولو دپاره الله ﷻ بخښنه اولوی اجر ساتلی دی .

دمفسر القرآن حضرت عبدالله بن عباس ؓ ددی ارشاد څخه معلومه سوه چی دمسلمان دپاره څومره علمی عملی اواخلاقی صفتونه په کار دی ، هغه ددی درو سورتونو په یوڅو آیتونوکی بیان سوي دی او دا صفات هغه کلمی دی چی په دی کی دحضرت ابراهیم ؑ امتحان اخیستل سوی وو ، اوپه دی آیت کی په ، اِذِ ابْتَلٰی اِبْرٰهٖمَ رَبُّهٗ بِكَلِمٰتٍ : کی دغو صفاتوته اشاره ده .

تردی ځایه پوری د دوو سوالونو جواب وسو .

دریم سوال دا وو چی په دی امتحان کی دحضرت ابراهیم ؑ درجه اومقام څنګه وو ، دهغه خوپه خپله قرآن کریم په خپل مخصوص اندازکی جواب کړي دی هغه دا چی حضرت ابراهیم ؑ ته دکامیابی سند ورکړل سو ، دقرآن کریم ارشاد دی ، وَاِبْرٰهِيْمَ الَّذِيْ وَفّٰى (هغه ابراهیم ؑ چی هغه پوره کی) چی ددی مطلب دا دی چی دهر امتحان مکمل او سل په سل کی دکامیابی ورته اعلان وکی .

څلورم سوال دا چی په دی امتحان کی ده ته څه انعام ورکول سو دهغه ذکر په خپله په دغه آیت کی سوي دی چی هغه دا دی ، قَالَ اِنِّيْ جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ اِمَامًا (ترامتحان وروسته الله ﷻ وفرمایل چی زه ستا دخلګو امام اوپیشوا جوړوونکی یم) ددی څخه یو خو دا معلومه سوه چی حضرت ابراهیم خلیل الله ته ددی کامیابی په صله اوجزاکی دخلګو دامام کیدلو اوپیشوا کیدلو انعام ورکړل سو ، اوبله دا معلومه سوه چی دالله ﷻ دمخلوق دپاره دامام کیدلو اوپیشوا کیدلو دپاره چی کوم امتحان اخیستل ضروری وو هغه ددنیا دمدرسو اوپوهنتونو په شان امتحان نه وو چی په هغه کی دخوفنی مسئلو په تحقیق کولو باندی دکامیابی اعلی درجه ګڼل کیږی ، بلکه ددی وعدی دحاصلولو دپاره دهغو دیرشو اخلاقی اوعملی صفاتو کی کامل کیدل ضروری وه چی دهغه ذکر دآیاتونو په حوالی سره اوس سوي دی قرآن

کریم دغه مضمون په یوبل ځای کې داشان بیان کړي دي.

وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا لَمَّا صَبَرُوا وَكَانُوا بِآيَاتِنَا يُوقِنُونَ (السجدة ۲۴) (مونږ هغوی امام او پیشوا جوړ کړل چې هغوی زمونږ په حکم خلګو ته هدایت وکی کله چې دوی خپل نفس دخلاف شرع کارونو څخه منع کی او زمونږ په آیاتونو یې یقین وکی)

په دې آیت کې یې دامامت اوپیشوایي دپاره ددغو دیرشو صفتونو خلاصه په دوو لفظونوکی بیان کړي ده یعني صبر اویقین یقین علمي اواعتقادي اوصبر علمي او اخلاقي کمال دی ، او هغه دیرش صفتونه چې دهغه ذکر مخکې تیرسو ټول په دې دوو صفتونو کې راجمع دي.

پنځم سوال دا وو چې ددې څه مطلب دی ؟ چې راتلونکو نسلونو ته چې هغه ظالمان او فاسقان وی دا منصب دامامت اوپیشوایي به نه حاصلیږي.

ددې وضاحت دا دی چې امامت اوپیشوایي په یوحیث دالله ﷻ خلیفه کیدل دي نودا داسې یوسړي ته نه سي ورکول کیدی چې هغه دالله ﷻ څخه باغي وي اودالله ﷻ نا فرماني کوونکی وی ، نو په دې وجه په مسلمانانو دالازمه ده چې دوی دې په خپل اختیار سره خپل نمائنده یاامیر داسې سړی نه مقرروی چې هغه دالله ﷻ څخه باغي وي او دالله ﷻ نافرمانه وي.

وَإِذْ جَعَلْنَا الْبَيْتَ مَثَابَةً لِّلنَّاسِ وَأَمْنًا وَاتَّخِذُوا مِن مَّقَامِ

او کله چې مونږ مقرره کړه خانه کعبه دجمع کیدو ځای دخلقو دپاره اوځای دامن اوجوړکی دابراهیم ﷺ د دریدو

إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى وَعَهِدْنَا إِلَىٰ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ أَن طَهِّرَا

دځای څخه دلمانځه ځای او حکم وکی مونږ ابراهیم ﷺ او اسماعیل ﷺ ته چې پاك وساتی

بَيْتِيَ لِلطَّائِفِينَ وَالْعَاكِفِينَ وَالرُّكَّعِ السُّجُودِ ﴿۱۲۵﴾

زما کور دپاره دطواف کوونکو او اعتکاف کوونکو اورکوع او سجده کوونکو.

دلغت حل: مثابة: دالفظ دثاب یثوب څخه اخیستل سوي دی چې دهغه معنی واپس کیدل دی ، نو په دې وجه دمثابة معنی دواپس کیدلو ځای سو چې هلته انسان په څو څو واره راځي.

لنډتفسیر: (اوهغه وخت هم دیادولو قابل دی چې) کوم وخت مونږ خانه کعبه دخلګو ځای دعبادت او دامن (ځای دهمیشه دپاره) مقررکی او (په آخرکی امت محمدیه ته یې حکم وکی چې دبرکت دحاصلولو دپاره) مقام ابراهیم (کله کله) دلمونځ کولو ځای جوړکی او مونږ (دکعبې جوړولو په وخت کی حضرت ابراهیم (اوحضرت) اسماعیل علیهما السلام ته حکم ولیږی چې زما (دا) کور ښه پاك (صفا) ساتی دبهرنیو او مقامي خلګو (دعبادت) دپاره او درکوع اوسجده کوونکو دپاره.

علوم اومسئلي

(دحضرت خلیل الله مکي ته دهجرت کولو اودبیت الله دجوړولو تفصیلي واقعه)

په دې آیت کې دبیت الله (کعبې) تاریخ ته اشاره ده او دا خبره ذکر ده چې ددې نوې تعمیر دحضرت ابراهیم خلیل الله اوحضرت اسماعیل علیهما السلام په لاس سوې دی او ورسره دبیت الله او دمکې مکرمې دځه خصوصیاتو اودبیت الله دځه احکامو ذکر هم دی ، دا مضمون دقران کریم په ډیرو آیاتونو کې په مختلفو سورتونو کې خپور وو ذکر سوی دی ، دلته مختصراً هغه شی بیانول غواړم چې په هغه سره ددې آیت مضمون واضح سی .

دا مضمون په سورة حج آیت نمبر ۲۲ کې داسې ذکردې.

وَإِذْ بَوَّأْنَا لِإِبْرَاهِيمَ مَكَانَ الْبَيْتِ أَنْ لَا تُشْرِكْ بِي شَيْئًا وَطَهِّرْ بَيْتِيَ لِلطَّائِفِينَ وَالْقَائِمِينَ وَالرُّكَّعِ السُّجُودِ ۞ وَأَذِّنْ فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ يَأْتُوكَ رِجَالًا وَعَلَىٰ كُلِّ ضَامِرٍ يَأْتِينَ مِنْ كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ.

(هغه وخت دیادولو قابل دی کوم وخت چې موږ ابراهیم ﷺ ته دخانه کعبې ځای وښووی چې زماسره هیڅ شی مه شریکوه او زما کور دطواف کوونکو دپاره او درکوع اوسجده کوونکو دپاره پاک ساته . او په خلکوکې دحج اعلان وکه خلګ به تاته راسې پیاده هم اوپه خوارو اوښو سپاره هم چې دلیرو لیرو لارو څخه به رسیدلې وي)

په تفسیرابن کثیرکې یې دتفسیرداماموحضرت مجاهد اونورو څخه نقل کړي دي چې حضرت ابراهیم ﷺ په شام کې مقیم وو اوحضرت اسماعیل ﷺ دتی ماشوم ووکوم وخت چې ده ته دالله ﷻ داحکم ورسیدی چې موږتاته دخانه کعبې ځای ښیودا صاف اوپاک کړه اوپه طواف اولمونځ سره یې آباده کړه نوددې حکم دتعمیل دپاره جبریل ﷺ دبراق سره حاضرسواوحضرت ابراهیم اوحضرت اسماعیل علیهما السلام یې سره دهغه دموره (ﷺ) دځان سره واخیسته اوسفر یې شروع کې ، په لاره کې کله چې کوم کلي ښکاره سو نوحضرت ابراهیم ﷺ به دحضرت جبریل امین څخه پوښتنه کوله چې آیا دلته دکښته کیدلو حکم سوی دی نو حضرت حبریل ﷺ به ورته ویله چې نه ستامنزل مخ ته دی ، تردې حده چې دمکې مکرمې ځای مخ ته راغی چې په هغه کې دغنو دبوټو اودکیکر دانو څخه بغیرپل څه نه وه ، ددې مځکې دتوتې خوا اوشا ته څه خلګ اوسیدل چې هغوی ته عالمین ویل کیږي ، بیت الله په دغه وخت کې دیوې غونډې په شکل وه ، حضرت ابراهیم خلیل الله چې دې ځای ته ورسیدی دحضرت جبریل امین څخه یې پوښتنه وکړه چې آیا زموږ منزل دا دی ؟ نو هغه وویل ، هو! حضرت ابراهیم ﷺ سره دخپل کوچنی اوحضرت هاجرې ﷺ دلته کښته سول اوبیت الله ته نژدې یې یو کوچنی څپرکی (توتې) واچوی اوحضرت اسماعیل ﷺ اوحضرت هاجره ﷺ یې دلته دیره کړل او دوی ته یې په یوه لوښې کې څه خرماوې اوپه یوه کوزه کې یې اوبه کښیښوولې او حضرت ابراهیم ﷺ ته دغه وخت د

پاتیدوحکم نه وو دغه دتی ماشوم اودهغه مور یی دالله ﷻ په حواله کړل اوبیرته ولاړی دتللوتیاری چی کله حضرت هاجری ؓ ولیده نو عرض یی وکی چی مونږ په دی وچ سور میدان کی پریږدی ته چیری ځی ؟ په دی کی نه څوك داسی سته چی هغه زمونږ مددگار سی اونه دلته دژوند څه ضروریات سته.

حضرت خلیل الله ورته هیڅ جواب ورنه کی اوروان سو، حضرت هاجره ؓ ورسره پورته سوه، اوبیایی څوڅواره دغه پوښتنه وکړه خو حضرت خلیل الله دطرفه هیڅ جواب نه ووتردی چی په خپله ددی په زړه کی خبره راغله اوعرض یی وکی چی آیاالله ﷻ تاته په دی ځای کی دپریښوولو اوددی ځایه څخه د تلوحکم کړي دی، دغه وخت حضرت ابراهیم ؑ وویل چی ماته داحکم دالله ﷻ دطرفه حاصل سوي دی دا یی چی واوریدل نوحضرت هاجری ؓ وویل چی بیاپه ډیرشوق اومینی سره څه چاچی تا ته دا حکم کړي دی هغه به مونږ هیڅکله ضائع نه کړی، حضرت ابراهیم ؑ دالله ﷻ دحکم دتعمیل دپاره ددی ځایه روان سو لیکن دزړه څخه یی دتی کوچنی او دهغه مور نه وتله، کله چی دلاری یوکونج ته ورسیدی چی دهغه ځایه څخه یی حضرت هاجره ؓ نه سوای لیدی نو ودریدی اودالله ﷻ څخه یی دا دعا وغوښتله کومه چی دسورت ابراهیم په آیت ۳۶ ۳۷ کی دارنگه ذکرده.

رَبِّ اجْعَلْ هٰذَا الْبَلَدَ آمِنًا وَّاجْنُبْنِيْ وَبَنِيَّ اَنْ نَّعْبُدَ الْاَصْنَامَ.

(ای زما پروردگاره) دابنار امن والا جوړ کی اوما او زما خاص زامن دبتانو دعبادت کولو څخه وساتی) بیایی په دعاکی کی عرض وکی.

رَبَّنَا اِنِّيْ اَسْكَنْتُ مِنْ ذُرِّيَّتِيْ بِوَادٍ غَيْرِ ذِيْ زَرْعٍ عِنْدَ بَيْتِكَ الْمُحَرَّمِ رَبَّنَا لِيُقِيْمُوا الصَّلٰوةَ فَاجْعَلْ اَفْئِدَةً مِّنَ النَّاسِ تَهْوِيْ اِلَيْهِمْ وَارْزُقْهُمْ مِّنَ الثَّمَرٰتِ لَعَلَّهُمْ يَشْكُرُوْنَ (ابراهیم ۳۷)

(ای زما پروردگاره) زه خپل اولاد ستا مُحرّم کورته نژدی په یومیدان کی چی هغه دکروندی قابل نه دی آبادوم، ای زما پرورگاره! ددی دپاره چی دوی دلمونځ اهتمام وکی اوته دخو خلگو زړونه د دوی په طرف مائل کی، او دوی ته میوه دخوراك دپاره ورکی ددی دپاره چی دوی شکر وکی)

مخکنی حکم چی دهغه په وجه یی دشام څخه هجرت وکی اوحضرت اسماعیل ؑ او دهغه موریی دلته را وستل په هغه کی دا ارشاد سوی ووچی (زما کور پاك ساتی) حضرت خلیل الله پوهیدی چی دپاك ساتلو مطلب دا دی چی دا دظاهری پلیتیو څخه هم پاك وساتل سی او دکفر اوشرك دباطنی پلیتیو څخه هم، نو په دغه وجه چی کومه دعاده دلته وکړه نو په هغه کی یی ددی کلی دمامون او محفوظ کیدلو دعا وکړه، اوبیایی دا دعا وکړه چی زما اولاد دشرك اوبت پرستی څخه وساتی ځکه چی ابراهیم ؑ ته دالله ﷻ په معرفت کی هغه مقام حاصل وو په کوم کی چی انسان ته خپل وجود هم بیا په نظر نه ورځی، خپل ټول عملونه اوارادی ورته داسی ښکاری چی دا ټول دالله ﷻ دقدرت په قبضه کی دی او دهغه دارادی څخه ټول کارونه کیږي نو ددی وجی دکفر اوشرك څخه دبیت الله دپاك

ساتلوکوم حکم چې ورته ورکړل سوی وو، په هغه کې یې هم دالله ﷻ کومك وغوښتی، په دی دعاکې دکفر او شرك څخه دمحفوظ کیدلو په سوال کې یوخاص رازدا هم کیدی سی چې کله دبیت الله دتعظیم اوتکریم حکم وسو نو دا احتمال هم ووچې په راتلونکې وخت کې یوناخبره په خپله بیت الله معبود جوړ نه کړي اوپه دی شان په شرك کې مبتلاسی نو په دی وجه دا دعا یې وکړه چې ما او زما او لاد دشرك څخه محفوظ کې.

تردی وروسته یې دتی دکوچنی اودهغه په موربانډی دشفقت په وجه دادعاوکړه چې مادوی ستا دحکم مطابق ستادمحترم کورسره نژدی دیره کړي خودی لیکن داځای دکروندی قابل هم نه دی چې څوك دلته په خپل محنت سره دژوند ضرورتونه حاصل کې په دی وجه هم ته دخپل فضل څخه دوی ته دمیوی رزق ورکړی.

دا دعاچې یې وکړه نوحضرت ابراهیم ﷺ خپل وطن شام ته روان سو، دی خوا ته دحضرت هاجری ﷺ څه وخت دخرماؤ په هغه توښه او اوبو تیرسو کومه چې ورته حضرت ابراهیم ﷺ پریښې وه، د اوبو ترختمیدو وروسته په خپله هم او دتی ماشوم هم دتندی څخه تنگ سوه په دی وخت کې داوبوپه لټه کې ددی وتل کله دصفا پرغونډی باندی اوکله دمروه پرغونډی باندی ختل او د دواړو غونډیو په مینځ کې په منډه منډه تلل چې حضرت اسماعیل ﷺ ووینی عامو مسلمانانو ته معلومه ده چې په حج کې دصفا او مروه په مینځ کې سعی کول ترننه پوری ددغه خبری یادگار دی.

ددی قصی په آخرکې دحضرت جبرئیل امین دالله ﷻ په حکم دلته رسیدل او دزمزم دچینی جاری کول او بیا دجرهم قبیلی دیو بی بی سره واده کول، دا ټول دصحیح بخاری په روایت کې په تفصیل سره ذکر سوی دی، دا حادیثو درواياتو دمجموعی څخه معلومیږی چې اول دسورة حج په آیت کې دبیت الله دآبادولو اوپاك ساتلوحکم چې حضرت خلیل الله ته ورکړل سوی وو په دغه وخت کې دومره قدر کار کول غرض ووچې دا ځای دحضرت اسماعیل ﷺ اوهاجره ﷺ په ذریعه آبادسی، ددی حکم مخاطب یوازی حضرت ابراهیم ﷺ وو ځکه چې اسماعیل ﷺ په دغه وخت کې دتی ماشوم وو، دغه وخت دبیت الله دنوی تعمیرحکم نه وو ورکړل سوی، دسورت بقره دا آیت چې تربحث لاندی دی، وَعَهِدْنَآ اِلٰى اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْمٰعِيْلَ اَنْ طَهِّرَا بَيْتِيَ: په دی کې دحضرت ابراهیم ﷺ سره حضرت اسماعیل علیهما السلام هم شریك سوي دی، دا حکم دهغه وخت دی کله چې حضرت اسماعیل ﷺ ځوان سوی وو، نو دغه وخت دواړو (علیهما السلام) ته دبیت الله دجوړولو حکم وسو.

دصحیح بخاری په روایت کې دی چې یوه ورځ حضرت ابراهیم ﷺ دعادت په توگه دحضرت هاجری اوحضرت اسماعیل علیهما السلام ملاقات ته مکی مکرمی ته راغی نو وی لیدل چې حضرت اسماعیل ﷺ تریوی درختی لاندی ناست وو اوغشی یی جوړول پلارییی چې ولیدی نو ولاړسو، ترملاقات وروسته حضرت ابراهیم ﷺ وفرمایل چې ماته الله ﷻ دیوکارکولو حکم کړي دی ته به

زماسره په هغه کی مدد وکی ؟ کوچنی ورته وویل چی په سر اوسترګوبه یی وکړم، نوپه دی خبره حضرت ابراهیم ﷺ هغه غونډی ته اشاره وکړه په کوم ځای کی چی بیت الله وه چی ماته ددی دجوړولو حکم سوی دی ، دبیت الله څلور سره طرفونه الله ﷻ حضرت ابراهیم ﷺ ته ښوولی وه ، دواړو بزرګانو دا کار شروع کی، دبیت الله زاړه بنیادونه ښکاره سوه اوپه دغه باندی دواړو آبادی کول شروع کړه ، لکه چی تردی آیت وروسته ددی بیان دی ، وَاِذۡ یَرۡفَعُ اِبۡرَاهِیۡمُ الۡقَوَاعِدَ مِنَ الۡبَیۡتِ وَاِسۡمٰعِیۡلُ، په دی کی دی ته اشاره ده چی دبیت الله جوړوونکی په اصل کی حضرت ابراهیم ﷺ وو اوحضرت اسماعیل ﷺ دده مددګار وو.

په دی ټولو آیاتونو باندی ترسوچ کولو وروسته هغه حقیقت واضح کیږی کوم چی دحدیث په بعضو روایتونو اوتاریخ کی سته هغه دا چی بیت الله شریف دمځکی څخه په دنیا کی موجوده وه ، څکه چی په دی ټولو آیاتونو کی یوځای دبیت الله دځای دښوولو ذکر دی اویوځای دبیت الله دصفاساتلو ذکر دی او ددی هیڅ ځای ذکرنسته چی نن یو نوی کور جوړول دی ، ددی جوړول وکی، ددی څخه معلومه سوه چی دبیت الله شریفی وجود تردی واقعی مخکی وو ، بیادنوح ﷺ دطوفان په وخت کی ورانه سوه یاپورته کړل سوه ، یوازی بنیادونه یی وه ، حضرت ابراهیم اوحضرت اسماعیل علیهما السلام دکعبی اولنی جوړوونکی نه دی بلکه دمځکی آبادی پر بنیادونو نوی آبادی د دوی په لاس سوي ده .

اوس پاته سوه دا خبره چی مخکنی آبادی چاکړی وه اوپه کوم وخت کی سوی وه ! په دی کی څه صحیح او قوی روایت دحدیث نسته ، د اهل کتابو په روایت کی دی چی دهغه څخه معلومیږی چی ترټولو اول ددی جوړول دحضرت آدم ﷺ دنیاته ترراتلو مخکی ملائکو کړی وو ، بیا حضرت آدم ﷺ دی ته نوی ډول ورکړی وو ، دحضرت آدم ﷺ تعمیردحضرت نوح ﷺ ترطوفان پوری وو ، په طوفانِ نوح کی تر ورانیدو وروسته دحضرت ابراهیم ﷺ ترزمانی پوری دا دیوی غونډی په صورت کی باقی وه او حضرت ابراهیم اوحضرت اسماعیل علیهما السلام دا دسره دوباره جوړه کړه ، تردی وروسته ددی په تعمیر کی ټك ټوك به همیشه کیدی لیکن بالکل ورانه سوی نه وه ، دنبی ﷺ تر پیغمبرکیدلو مخکی دمکی قریشو دا ورانه کړه او دسره یی دوباره جوړه کړه اوپه دی جوړولو کی نبی علیه الصلاة والسلام په خاص طور سره برخه واخیسته .

(دحرم متعلق احکام اومسائل)

(۱)دمَثَابَةً دلفظ څخه معلومه سوه چی الله ﷻ بیت الله ته دا خاص فضیلت ورکړي دی چی دا به همیشه دخلګو مرجع وی اوخلګ به ورته په وار وار دتللو راتللو آرزومند وی ، دتفسیر امام حضرت مجاهد وایی ، لَا یَقۡضِیۡ اَحَدٌ مِّنۡهَا وَطَرًا (یوسړی به هیڅ کله ددی دزیارت کولو څخه موړ نه سی) (قرطبی) بعضی عالمانو دا ویلی دی چی دحج دقبلیدو یوه نښانه دا ده چی ددی څخه ترړا واپس کیدلو

وروسته بيا دلته دراتلو شوق چې په زړه کې وی ، اوپه عام طور سره ددې خبرې تجربه سوي ده چې اول وار خومره دبيت الله دزيارت کولو شوق وی دوهم وار دا شوق ترمخکې زيات وی اوڅومره چې وار وار ددې زيارت کيږي دا شوق نور هم زياتيږي .

دا معجزه خو دبيت الله خصوصيت دی که نه وی نو ددنيا ترټولو غوره منظره چې انسان يې يووار يادوه واروګوري نوزړه يې ورڅخه موړ سی او دلته خو نه خوش نمامنظر سته اونه دلته رسيدل څه آسانه کار دی اونه دلته ددنيا کاروبارته څه اهميت حاصل دی ، ددې ټولو خبرو باوجود ټول خلګ په زړه کې دلته دراتلو شوق لري په زرګونو روپې خرڅوي او ډير تکليفونه زغمي ، دايوازې په دې شوق چې دبيت الله ملاقات وکې .

(۲)د آمِنًا لفظ دلته دمامن په معنٰی يعنی دامن دځای په معنٰی دی او دبيت دلفظ څخه مراد يوازې بيت الله خانه کعبه مراد نه ده بلکه ټول حرم مراد دی ، په قرآن کريم کې نور هم داسې شواهد سته چې هلته دبيت الله او دکعبې لفظ ويل سوي دی او مراد ورڅخه ټول حرم دی لکه ، هَدْيًا بَالِغَ الْكَعْبَةِ په دې آيت کې دکعبې دلفظ څخه ټول حرم مراد دی ځکه چې په دې کې دقربانۍ ذکر دی اوپه بيت الله کې خو قرباني نه کيږي اونه دلته قرباني کول روادی ، نو په دې وجه دآيت معنٰی دا سوه چې مونږ دمکې حرم دامن ځای جوړ کړي دی او د امن ځای دجوړولو مراد دا دی چې خلګو ته دا حکم ورکول دی چې په حرم محترم کې دقتل اوقتال اودانتقام اخستلو څخه ځان ليرې ساتی (ابن عربی)

په دې وجه دجاهليت په دورکې په عربو کې دملت ابراهيمی چې څه آثار باقي پاته سوي وه په هغه کې دا هم وه چې په حرم کې به که چيرې يوچاته دخپل پلار او ورور قاتل ګوتوته ورغی نو بدله به يې نه اخيستله اوعام جنګ اوقتل به يې په حرم کې هم حرام ګڼی داسلام په شريعت کې هم دا حکم دغه شان باقي پريښوول سو ، دفتح مکې پروخت دلږ وخت دپاره نبی عليه الصلاة والسلام ته دحرم په مځکه کې جنګ کول روا سوی ووو ليکن په دغه وخت کې بيادهميشه دپاره حرام کړل سو اورسول کريم ﷺ دفتح مکې په خطبه کې ددې اعلان وکی (صحيح بخاري)

اوس پاته سوه دا خبره که چيرې څوک په حرم کې دننه يو داسې جرم وکې چې په هغه باندې داسلامی شريعت له مخې حد اوقصاص لازم سی نو حرم داسې سړی ته امن نه ورکوی بلکه په دې باندې دټول امت اجماع ده چې په دې سړی به حد اوقصاص جاري کيږي (احکام القرآن قرطبی) ځکه چې دقرآن کريم ارشاد دی و فَاِنْ قٰتَلُوكُمْ فَاقْتُلُوْهُمْ (که چيرې ستاسې سره خلګ په حرم کې جنګ اوقتال کوی نو تاسې هم دوی په دې حرم کې ووژنی) البته دلته يوه مسئله داسې ده چې په هغه کې دمجتهدينو اختلاف دی ، هغه مسئله دا ده که چيرې يو سړی دباندې جرم وکړی اوبياپه حرم کې پناه واخلی نو دداسې چاسره به څه سلوك کيږي ، په دې کې بعضې امامان په دې سړی هم په حرم کې دحد او قصاص

جاري کولو حکم کوي او دامام اعظم ابوحنيفه رحمه الله په نزد داسې دسزا ورکولو څخه خلاصيدی نه سی ځکه که چيری داسی وسی نو دجرائمو دسزاڅخه دخلاصيدلو دروازه به خلاصه سی اوپه دنياکی به فساد راپورته سی اوحرم به دمجرمانو استوګنی وګرځی ليکن داحترام په وجه دحرم دننه به ده ته سزانه ورکول کيږی بلکه دی به په دی وجه مجبوره کړل سی چی دحرم څخه دباندی ووزی اودباندی ترتلو وروسته به ورته سزا ورکړل سی .

(۳) وَاتَّخِذُوْا مِنْ مَّقَامِ اِبْرٰهٖمَ مُصَلًّى : دلته دمقام ابراهيم څخه مراد هغه کانی دی چی په کوم باندی دحضرت ابراهيم عليه السلام دقدم مبارک نښه دمعجزی په طور لګيدلی وه اوچی دا حضرت ابراهيم عليه السلام دکعبی دتعمير په وخت استعمال کړی وه (صحيح بخاری)

حضرت انس رضی الله عنه فرمايي چی ماپه هغه کانی کی دحضرت ابراهيم عليه السلام دقدم مبارک نقش ليدلی دی ليکن دخلګو دزيات مسح کولو په وجه اوس دانښه کمزوری سوي ده (قرطبی) او دحضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما څخه دمقام ابراهيم په تفسيرکی دا هم نقل دی چی ټول حرم مقام ابراهيم دی ، ممکنه ده چی ددی څخه مراد دا وی چی تر طواف وروسته د دوو رکعتونو حکم په مقام ابراهيم کی دکولو په دی آيت کی سوي دی ددی حکم تعميل په دی سره هم کيږی چی دټول حرم په هرځای کی دوه رکعتونه وسی ، په دی خبره دامت ټول فقهاء متفق دی .

(۴) په ذکرسوی آيت کی دمقام ابراهيم څخه دلمانځه جوړولو حکم سوی دی ، ددی وضاحت په خپله نبی کريم صلی الله عليه وسلم په حجة الوداع کی په خپل قول او عمل سره داسی ښوولی دی چی نبی کريم صلی الله عليه وسلم ترطواف وروسته مقام ابراهيم ته ورغی اودا آيت يی تلاوت کی ، وَاتَّخِذُوْا مِنْ مَّقَامِ اِبْرٰهٖمَ مُصَلًّى : اوبيا دمقام ابراهيم څخه وروسته دوه رکعته لمونځ يی داسی وکی چی مقام ابراهيم دده او دکعبی په مينځ کی راغی (صحيح بخاری)

په دی وجه دامت فقهاؤ ويلی دی چی که چاته دمقام ابراهيم څخه وروسته متصل ځای لاس ته ورنه سی هغه چی په څومره فاصلی باندی هم دارنګه ودريږی چی مقام ابراهيم يی مخ ته وی اوبيت الله هم نو په داسی کولو سره دا حکم پوره کيږی .

(۵) دا چی ددی آيته څخه معلومه اوثابته سوه چی ترطواف وروسته دوه رکعته لمونځ کول واجب دی (جصاص رحمه الله مناسک ملا علی قاری رحمه الله)

البته دومره خبره ده چی ددی دوو رکعتونو کول دمقام ابراهيم څخه وروسته سنت دی او دحرم په څه ځای کی که وسی نو کافی به سی ځکه چی درسول الله صلی الله عليه وسلم ددی دوو رکعتونو کول دبيت الله ددروازی سره متصل هم ثابت دی او دحضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه څخه هم په دغه ځای کی کول نقل دی ، (جصاص) اوملاعلی قاری په کتاب المناسک کی ويلی دی چی دا دوه رکعتونه دطواف واجب دی او

سنت دا دی چی ترمقام ابراهیم وروسته وسی ، لیکن که چیری دغه وجی څخه هلته ادا نه سی ، نو بیا په حرم کی یادحرم څخه دباندی چی هرځای ممکن وی ددی په ادا کولو سره واجب پوره کیږی ، د رسول الله ﷺ سره په حجة الوداع کی حضرت ام سلمة ؓ ته داسی واقعه پیښه سوی وه چی هغی ته دطواف دواجب لمونځ کولو هلته موقع نه وه حاصله سوی نو ترمسجد حرام بلکه ترمکی دباندی یی وروسته ادا کړی وه او دضرورت په وجه دحرم څخه په دباندی اداکولو کی څه دمنه واجبیږی. یوازی امام مالك رحمه الله په داسی صورت کی ددم قائل دی (مناسك ملاعلی قاری)

(۶) طَهِّرَا بَيْتِيَ : په دی کی دبیت الله دپاك ساتلو حکم دی چی په دی کی دظرگنده پلیتی څخه پاك ساتل او دباطنی څخه یعنی دکفر شرك او دبدو اخلاقو بغض اوحسد کولو حرص تکبر اوریا کولو څخه پاك ساتل شامل دی او ددی حکم دطهارت دپاره د بَيْتِيَ لفظ په راوړلوکی دی خبری ته اشاره هم ده چی دا حکم دټولو مسجدونو دپاره عام دی ، فِي بُيُوتٍ أَذِنَ اللَّهُ أَنْ تُرْفَعَ : حضرت عمر ؓ په مسجد کی دیو سړی په زوره آواز واوریدی نو ورته یی وفرمایل تاته څه پته سته چی ته چیری ولاړ یی ؟ (قرطبی) مطلب دا چی دمسجد ادب کول په کار دی په دی کی غیرمشروع اوناروا آواز پورته کول په کارنه دی حاصل دا دی چی ددی آیته څخه چی څه رنګه دبیت الله دظاهری اوباطنی پلیتیو څخه پاك ساتل لازمی دی هم دغه شان ټول مسجدونه دظاهری اوباطنی پلیتیو څخه پاك ساتل په کاردی یعنی مسجد ته په تلونکو باندی لازم دی چی هغوی دی خپل بدن اوجامی هم دپلیتیو څخه او دبدبویانو څخه پاکی وساتی او دخپلو زړونو څخه دی شرك نفاق او ټوله بداخلاق وباسی ، درسول الله ﷺ ارشاد دی ، چی کوم سړی پیاز اوږه او نور بدبویه شی خوړلی وی مسجدته دی نه ځی ، اوکوچنی اولیونی یی مسجد ته دتللو څخه منع کړي دی ځکه چی په دوی کی دپلیتی خطره وی.

(۷) لِلطَّائِفِينَ وَالْعَاكِفِينَ وَالرُّكَّعِ السُّجُودِ: دآیت ددی ټوکلمو څخه څوحکمونه اوفائدی را وزی ، اول دا چی دبیت الله دجوړولو مقصد طواف اعتکاف اولمونځ دی دوهم دا چی طواف ترلمونځ مخکی دی (لکه چی ددی روایت دعبدالله بن عباس ؓ څخه سوي دی) دریم داچی ددنیا دلیری ځایونو څخه دراغلو خلګو دپاره طواف کول دلمانځه په نسبت زیات ښه دی ، څلورم دا چی په بیت الله کی دننه لمونځ برابره خبره ده که فرضی وی اوکه نفلی جائز دی (جصاص)

وَإِذْ قَالَ إِبْرٰهِيمُ رَبِّ اجْعَلْ هٰذَا بَلَدًا اٰمِنًا وَّارْزُقْ اَهْلَهٗ مِنَ الثَّمَرٰتِ

او کله چی وویل ابراهیم علیه السلام ای زما ربه جوړ کړی دا ښار دامن او روزی ورکړی ددی اوسیدونکو ته

مَنْ اٰمَنَ مِنْهُمْ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ۭ قَالَ وَمَنْ كَفَرَ فَاُمَتِّعُهٗ

میوی ، چی کوم په دوی کی ایمان راوړی په الله باندی او دقیامت په ورځ باندی الله وفرمایل او چاچی کفروکی

قَلِيۡلًا ثُمَّ اَضۡطَرُّهٗۤ اِلٰى عَذَابِ النَّارِ‌ؕ وَبِئۡسَ الۡمَصِيۡرُ ﴿۱۲۶﴾ وَاِذۡ

هغه ته به هم نفع ورسومه دلږو ورځو بیا به هغه په جبر را وبولم د دوږخ عذاب ته او دا بد ځای دی داوسیدو او

يَرۡفَعُ اِبۡرٰهٖمُ الۡقَوَاعِدَ مِنَ الۡبَيۡتِ وَاِسۡمٰعِيۡلُ ؕ رَبَّنَا تَقَبَّلۡ

یاد کړه چې کله پورته کول ابراهیم ﷺ بنیادونه دخانه کعبې او اسماعیل ﷺ دعاکوله ای پروردګاره زمونږ

مِنَّا ؕ اِنَّكَ اَنۡتَ السَّمِيۡعُ الۡعَلِيۡمُ ﴿۱۲۷﴾ رَبَّنَا وَاجۡعَلۡنَا مُسۡلِمَيۡنِ لَكَ

قبول کړې زمونږ څخه بیشکه هم ته آوریدونکی او پوهیدونکی یې ، ای ربه زمونږ کړه مونږ حکم منونکی خپل

وَمِنۡ ذُرِّيَّتِنَآ اُمَّةً مُّسۡلِمَةً لَّكَ وَاَرِنَا مَنَاسِكَنَا وَتُبۡ

اوزمونږ په اولاد کې هم کړه یوه ډله حکم منونکې خپله او وښیه مونږ ته قاعدې دحج کولو او مونږ معاف کړه

عَلَيۡنَا ‌ۚ اِنَّكَ اَنۡتَ التَّوَّابُ الرَّحِيۡمُ ﴿۱۲۸﴾

بیشکه هم ته یې توبه قبلونکی او مهربان

لنډتفسیر: او (هغه وخت هم دیادولو قابل دی) چې کوم وخت ابراهیم ﷺ (په دعاکې) عرض وکې چې
ای زما پروردګاره! دا (ځای) یو (آباد) ښار جوړ کړې (اوښارهم داسې) دامن (امان) والا او ددې
اوسیدونکو ته دمیوو (دقسمونو) څخه هم ورکړې (او زه دټولو اوسیدونکو دپاره نه وایم بلکه خاص
دهغوی دپاره (وایم) چې په الله ﷻ اوپه ورځ دقیامت ایمان لرې (دنوروپه هکله ته ښه پوهیږې) الله ﷻ
ارشاد وکې (چې کله چې رزق زمونږ خاص نه دی ، ددې وجې به یې ټولو ته ورکوم مومن ته هم) اوهغه
سړې ته هم چې کافر وی (البته دآخرت خلاصی کله چې په اهل ایمانو سره خاصه ده) نو(ددې وجې)
داسې سړې ته (چې کافر دی) دلږو ورځو (یعنې په دنیاکې) خو به آرام ورسوم (لیکن) بیا (ترمرګ
وروسته) به دې په راکشوولو راکشوولو د دوږخ عذاب ته ورسوم اوداسې درسیدو ځای خو ډیر بد دی
(الله ﷻ دې هریو مسلمان ورڅخه ساتې) او (هغه وخت هم دیادولو قابل دی) کله چې خیژول ابراهیم ﷺ
دخانه کعبې دیوالونه (او دده سره) اسماعیل هم (او دابه یې هم ویل) ای زمونږ ربه (داخدمت) زمونږ
قبول کې بیشکه ته ښه اوریدونکی او علم لرونکی یې (زمونږ دعا اورې اوزمونږ په نیتونو عالم یې) ای
زمونږ پروردګاره! او (مونږ دواړه دا دعا هم کووچې) مونږ دخپل ځان زیات فرمانبردار جوړ کړې او
زمونږ په اولاد کې هم یوه داسې ډله پیداکې چې ستا تابعداره وی او (هم) مونږ ته زمونږ دحج (او نور)

احکام وښيي او زمونږ پر حال باندي (دمهرباني) توجه وکی اوپه اصل کی هم ته توجه کوونکی اومهرباني کوونکی يي.

علوم اومسائل: حضرت ابراهيم ﷺ چی کومی قرباني دالله ﷻ په لاره کی ورکړی دالله ﷻ داحکامو دمنلو په لاره کی چی دخپل مال وسر اواهل وعيال څخه کوم قسم تيرسو دا دزماني په عجائباتوکی شميرل کيږي ، په اهل وعيال باندي شفقت او د دوی سره محبت کول لکه چی څه رنګه يوطبعي اوفطري شي دی دغه رنګه دا دالله پاك حکم هم دی ، دغه مخکی آيت ددی خبری مظهردی چی په هغه کی حضرت ابراهيم ﷺ دخپل اهل وعيال دپاره ددين اوددنيا دآرام اوراحت دعا غواړي.

(دحضرت ابراهيم ﷺ دعاګاني)

ابراهيم ﷺ دعاد (ربِّ) دلفظ څخه شروع کړي ده او درب معنی ده ای زما پالونکيه، په دی الفاظوسره ابراهيم ﷺ ددعا کولو طريقه ښوولی ده چی دا الفاظ دالله ﷻ درحمت اوکرم دمتوجه کولو دپاره ښه طريقه ده، بيايي ترټولو اول دا دعا وکړه چی دا صفا ميدان په کوم کی چی ماستاپه حکم خپل اهل اوعيال ديره کړی دی يوښار جوړ کړی ، ددی دپاره چی دوی ته دلته په استوګنه کی څه وحشت نه وی او د ژوند سامان ورته حاصليږي ، دا دعاپه سورة ابراهيم کی دهٰذَا الْبَلَدَ اٰمِنًا په الفاظو سره راغلی ده چی په هغه کی د (البلد) په لفظ کی الف لام ذکر سوي دی اوپه دی سره بلد معرفه سوي دی اودلته په بلد لفظ کی الف لام نسته يعنی بلد نکره ذکر سوی دی دفرق وجه غالبًا دا ده چی دسورة بقرة والا دعا چی په کښی بلدًا نکره راغلی دی دا يی هغه وخت کړی وه کوم وخت چی دا ځای ځنګل وو ښار لاجوړ سوی نه وو، او ددی خبری دليل دا دی چی دسورت په آخری آياتونوکی دی ، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ وَهَبَ لِيْ عَلَى الْكِبَرِ اِسْمَاعِيْلَ وَاِسْحَاقَ : چی ددی څخه دا معلوميږي چی دا دعا دحضرت اسحاق ﷺ تر پيدا کيدو وروسته سوي ده اوحضرت اسحاق ترحضرت اسماعيل عليهما السلام ديارلس کاله وروسته پيدا سوی وو (ابن کثير)

اوپه دی دوهمه دعاکی (چی په سورة ابراهيم کی ده) دا دی چی ای خدايه ! دا ښار دامن او امان ښار جوړ کړی ، چی دقتل لوټ ماری او دکافرانو دتسلط او دآفتونو څخه محفوظ اوپه امن وی ، دحضرت ابراهيم ﷺ دا دعا قبوله سوه اومکه مکرمه يو داسی ښارسو چی دا دخپلو اوسيدونکو څخه علاوه دټولې دنيا مرجع سوه ، ددنيا داطرافو مسلمانان هلته تلل خپل سعادت ګڼي، اودا ښار مامون اومحفوظ هم سوچی په بيت الله ديو مخالف قوم اوباچا تسلط ونه کړل سو، دفيلانو دخاوندانو واقعه په خپله په قرآن کی ذکر ده ، چی دوی په بيت الله دحملی اراده وکړه نو ټول لښکريی تباه اوبرباد سو.

دا ښار دقتل اولوټ مارڅخه هم محفوظ راروان دی تراسلام مخکی دزمانه جاهليت والاوو دشرك او کفر اونورو خرابو کارونو کولو باوجود دبيت الله او دبيت الله دحرم تعظيم خپله داسی مذهبی فريضه

ګڼله ، که چاته به په حرم کې خپل دښمن لاس ته ورغی نو دهغه څخه به یې قصاص اوبدله نه اخیسته، بلکه ټولو عربو به دحرم د اوسیدونکو ډیر عزت او احترام کوی دغه وجه وه چې دمکې دخلګو شام او یمن سره تجارتی سلسله جاري وه او د دوی په لاره کې هیڅ قسم بندیز نه وو .
دحرم په حدودوکی چې څه رنګه الله ﷻ حیواناتوته امن ورکړي دی اوپه دی حدودو کی ښکارکول روانه دی ، دغه رنګه الله ﷻ په دغه حیواناتو کی دا قدرتی احساس پیداکړي دی چې کله حیوان دحرم په حدودوکی دا خل سی نو خپل ځان محفوظ ګڼی او دیوه ښکاری څخه هم نه بیریږی ، دحرم دمامون کیدلو داحکمونه چې دحضرت ابراهیم ﷺ ددعا اثر اونتیجه ده دجاهلیت دزمانی څخه راروان وه ، اسلام اوقرآن کریم دانور تازه او مضبوط کړل ، دحجاج بن یوسف اوبیا دقرامطه وو دظلم اوزیاتوب څخه چې کوم قتل او جنګ په حرم کی وسو ، اول خودا دهغه کسانو دلاس څخه وسو چې ځان ته یې مسلمانان ویل یوکافر قوم حمله نه وه کړی اوځوك چې خپل کورته دخپل لاس څخه اور اچوی نو دا دامن سره څه منافی خبره نه ده او ددی څخه علاوه دا خبره هم ده چې داواقعات شاذ واقعات دی چې دحضرت ابراهیم ﷺ دزمانی څخه واخله ترنن پوری په زرګونو کلونوکی په شمیر یوڅو واقعی دی او ددغه قتل اوجنګ بده نتیجه دټولو په وړاندی ده .
خلاصه دا ده چې دحضرت ابراهیم ﷺ ددعا مطابق الله ﷻ دانبار یومحفوظ ښار جوړ کړي دی او دټولی دنیا دپاره یې په قدرتی طور سره یومامون ځای جوړ کړي دی ، تردی چې دجال به هم حرم ته دداخلیدو قدرت نه لری اوپه شرعی طور سره یې هم داحکمونه جاری کړل چې په حرم کی دیو بل سره جنګ اوجګړه خو لاپریږده چې دحیواناتو ښکارکول یې هم حرام کړل .
دریمه دعایی دا وکړه چې ددی ښار اوسیدونکوته دمیوو رزق ورکی دمکی مکرمی او ددی ګیر چاپیره مځکه دکروندی اوباغ اونورو قابله نه وه اوهلته یوځای ترلیری لیری پوری داوبو څه ښه نښانه هم نه وه لیکن الله ﷻ دحضرت ابراهیم ﷺ دعا قبوله کړه اومکی ته نژدی دطائف یوداسی ټوټه یې جوړه کړه چې په هغه کی دهرقسم ښه میوه کوته پیدا کیږی اومکی ته نژدی دخرڅ دپاره راوړل کیږی ، په بعضی اسرائیلی روایتونو کی دی چې طائف په اصل کی دشام دملك یوه ټوټه وه چې دا جبرائیل امین دالله ﷻ په حکم دلته راوړي ده .
حضرت ابراهیم ﷺ په خپله دعاکی دا ونه ویل چې دمکی او ددی ګیرچاپیره مځکی څخه ګلذار جوړ کړه او ددی مځکه دکروندی قابله کړه بلکه داسی دعایی وکړه چې دا شیان په بل ځای کی پیداوی لیکن دامکی ته ورسوی ، په داسی قسم دعاکولو کی شاید داراز وو چې حضرت ابراهیم ﷺ دا نه غوښته چې دهغه اولاد دی په زمینداری کی بوخت سی ځکه چې ددی ځای دآبادولو غرض دحضرت ابراهیم ﷺ دا وو کوم چې په خپله حضرت ابراهیم ﷺ په دعاکی یاد کړي دی و رَبَّنَا لِيُقِيمُوا الصَّلٰوةَ

دهغه ځخه داخرګنده ده چې حضرت ابراهیم ﷺ دخپل اولاد دپاره مشغله دبیت الله اولمونځ کولو غوښتلو اوکه داسې نه وای نوبیا داڅه ګرانه خبره نه وه چې دمکې ځخه داسې ګلذار جوړ سوی وای چې دمشق او بیروت به ورباندې قصد کولی.

(دمیوو درزق ځخه مراد دژوند ټول ضروریات دي)

ثمرات لفظ چې دثمره جمع ده ددې معنې ده میوه اوپه ظاهره کې ددې ځخه مراد د درختو میوه ده لیکن دسورت قصص په آیت نمبر ۵۷ کې ددې دقبولیت اظهارپه دې الفاظوکې سوې دی ، یُجْبٰی اِلَیْهِ ثَمَرٰتُ کُلِّ شَیْءٍ: په دې الفاظوکې خو یوه دا خبره هم ده چې په مکه کې ددې میوو دپیدا کیدلو وعده نه ده سوې بلکه دنورو ځایونو ځخه به دلته راوړل سي ، ځکه چې دلته د یُجْبٰی دلفظ معنٰی او مفهوم هم دغه دی ، دوهمه خبره په دې الفاظو کې دا ده چې ، ثَمَرٰتُ کُلِّ شَجَرٍ یې ویلې نه دي بلکه ثَمَرٰتُ کُلِّ شَیْءٍ یې ویلې دي چې په داسې تعبیر اوالفاظوکې اشاره دې خبرې ته ده چې دثمرات ځخه مطلق دهرشي حاصلات مراد دي برابره خبره ده که هغه ددرختي ځخه پیداوې اوکه دبل شي ځخه پیداوې، نو په دې کې دمشینونو پیداوارهم دا خل سوه او هم دغه شان دمختلفو دست کاریانو سامان دا خل سو،مطلب دا چې دژوندټول ضروریات په دې تعبیرکې راغلل اودحالاتو اوواقعاتو دمشاهدې ځخه دا هم ثابته ده چې الله ﷻ که څه هم دمکې مځکه دکاشتکارۍ مځکه نه ده جوړه کړې اونه دصنعت کارۍ لیکن دټولې دنیاپیدا کیدونکې شیان دلته حاصلیږي ، اوداخبره به شایدنن ترلوې لالوې صنعتي ښار نه حاصله نه وي ، چې په هغه کې دټولې دنیا مصنوعات په آساني او زیات مقدار کې حاصلیږي.

(دحضرت ابراهیم ﷺ احتیاط)

ددې دعا ځخه مخکې کله چې حضرت ابراهیم ﷺ دخپل اولاد دپاره دامامت اواقتدارپه دعا کولوکې دمؤمن اوکافر فرق نه ووکړی نو هلته دالله ﷻ دطرفه دا ارشاد وسو چې دا دعا دمومنانوپه حق کې قبوله ده او دظالمانو اومشرکانو په حق کې قبوله نه ده ، حضرت ابراهیم ﷺ ته دلته هغه مخکنۍ خبره ور په یادیږي نو په دعا کولوکې احتیاط کوي ، نوپه خپله دعاکې داقید لګوي چې دا دخوشحالۍ او دامن او امان دعا یوازې دمؤمنانو دپاره غواړم ، نو الله ﷻ دحضرت ابراهیم ﷺ ددې بیرې اواحتیاط دا قدر وکې چې ددنیا داخوشحالي اوامن به مونږ ټولوته ورکو، که څه هم هغه ظالم اومشرك ولې نه وي البته مومنان چې هغوی ته به دنیاکې دا خوشحالي اوامن ورکول کیږي نو په اخرت کې به ورته هم ورکول کیږي او کافرانو ته به په آخرت کې دعذاب ورکولو ځخه ماسوا بل څه نه وي.

(په خپل نیک عمل باندې دااعتماد او قناعت نه کولو سبق او تعلیم)

رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا: حضرت ابراهیم ﷺ دخپل الله ﷻ دحکم په تعمیل کې دشام ملك پریښووې او دمکې په رچو غرونو کې یې خپل اهل اوعیال دیره کې اودبیت الله په جوړولوکې یې خپل ټول قوت صرف کې

دا داسی موقع وه چی دداسی مجاهده کوونکی په زړه کی یولویی پیداسی اوپه خپل عمل اوکار باندی فخر کوونکی سی ، لیکن دلته په دی موقعه کی حضرت ابراهیم خلیل الله دی ، درب العزت د دربار عزت اوجلال پیژندونکی دی چی یوانسان دالله ﷻ دشان برابر عبادت اواطاعت کولی نه سی هرسړی دخپل قوت اوهمت برابرعمل کوی نوپه دی وجه هیڅاته په کارنه دی چی هغه په خپل لوی لالوی عمل فخر وکی بلکه هغه ته دا په کار دی چی په ډیری زاری اومنت سره دعاوکی چی ای الله ﷻ زمادا عمل قبول کړه، ددی خبری تلقین اوتعلیم حضرت ابراهیم ﷺ په دی دعا کولوکی کوی ، چی په هغه کی حضرت ابراهیم ﷺ وایی چی.

(ای زمونږ پروردګاره! ته زمونږ دا عمل قبول کی ځکه چی ته اوریدونکی اوعلم لرونکی یې ، زمونږ دعا اوری او زمونږ نیتونه پیژنی)

رَبَّنَا وَاجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ : دا دعا هم ددغه معرفت اوبیری نتیجه ده چی کوم معرفت اوخشیت ابراهیم ﷺ ته حاصل وو چی ګوره ددی بی مثله کارنامو داطاعت اوفرمان برداری ځخه وروسته هم دا دعا کوی چی مونږ دواړه خپل فرمان بردار جوړکړی ، وجه دا ده چی څومره دچا دالله ﷻ معرفت زیاتیږی دومره په ده کی دا احساس هم زیاتیږی چی مادوفا داری اوفرمان برداری حق پوره نه کی.

وَمِنْ ذُرِّيَّتِنَا: په دی دعاکی یی هم خپل اولاد شامل کی، ددی ځخه دامعلومیږی چی دالله ﷻ بندګان که دالله ﷻ په لاره کی دخپل ځان اواولاد تیر وی خو سره ددی دوی دخپل اولاد سره محبت هم لری، لیکن ددی محبت درستی تقاضاوی پوره کوی هغه درستی تقاضاوی چی هغه ته عام خلګ نه رسیږی، ځکه عام خلګ خو یوازی دخپل اولاد دصحت او راحت خیال کوی د دوی ټول شفقت داولادپه باره کی چی دی هغه یوازی د دوی دراحت خیال دی لیکن دالله ﷻ مقبول بندګان دخپل اولاد دپاره ترجسمانی راحت زیات دروحانی راحت خیال لری اوتر دنیوی راحت ډیر دآخرت دراحت غم لری، نوپه دی وجه په دعاکی وایی چی زماپه اولادکی یوه ډله پوره فرمان برداره جوړه کړه دخپل اولاد دپاره په دعا کولو کی یو حکمت بل هم دی هغه دا چی تجربه شاهده ده چی کوم خلګ په قوم کی لوی ګڼل کیږی د دوی اولاد که چیری د دوی په لاره پاته سی نو په عامو خلګو کی د دوی مقبولیت فطری کیږی او د دوی په صالح کیدو سره دعامو خلګو اصلاح کیږی (بحرِ محیط)

دحضرت ابراهیم خلیل الله دا دعا هم قبوله سوه چی دده په اولاد کی دهمیشه دپاره دا خلګ را غلل چی په حق دین باندی قائم وه اودالله ﷻ فرمانبردار بندګان وه ، دجاهلیت په دورکی چی کوم وخت توله دنیا اوخصوصاً عرب په شرك اوبت پرستی کی غرق وه ، په دغه وخت کی هم دحضرت ابراهیم ﷺ په اولاد کی څه خلګ داسی وه چی هغوی دتوحید او دآخرت عقیده درلوده، لکه زیدبن عمرو بن نفیل اوقیس بن ساعده سو، دنبی کریم ﷺ دنیکه مبارك حضرت عبد المطلب بن هاشم په باره کی هم دا

روایت دی چې هغه د شرك او بت پرستی څخه بې زاره وو (بحر محیط)

أَرِنَا مَنَاسِكَنَا: مناسك د منسك جمع ده، د حج عملونو ته مناسك ویل کیږی او د حج ځایونو ته هم لکه عرفات منٰی مزدلفه، مناسك ویل کیږی، دواړه مراد کیدی سی، او د دعا حاصل دا دی چې مونږ ته د حج اعمال او د حج ځایونه په پوره طریقی سره وښیې دغه وجه ده چې د (أَرِنَا) لفظ یې وفرمایی چې هغه ته وښیې مونږ ته او دالیدل په سترګو هم کیږی او په زړه هم، نو د حج ځایونه د جبرئیل ﷺ په ذریعه په سترګویې ورته وښوول، او د حج احکام یې ورته د تعلیم په ذریعه وښوول چې دا د زړه کتل دی.

رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيهِمْ رَسُولًا مِّنْهُمْ يَتْلُوا عَلَيْهِمْ آيَاتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ

ای پروردګاره زمونږ ولیږې په دوی کې یو رسول د دوی څخه چې وایی پر دوی باندی ستا آیاتونه او ښیې دوی

وَالْحِكْمَةَ وَيُزَكِّيهِمْ إِنَّكَ أَنتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿١٢٩﴾

ته کتاب او د حکمت خبری او پاکوی دوی بیشکه هم ته یې زبردست او لوی حکمت والا.

تفسیر: ای زمونږ پروردګاره! او (دا دعاهم کوو چې) په دی ډله کې (چې د پیدا کیدلو دعایی په خپل اولاد کی کوو) د دوی څخه یو پیغمبرهم مقرر کې چې دی خلقو ته ستا آیاتونه وایی او اوروی یی او دوی ته د (آسمانی) کتاب (د مضمونونو) او (په دی کی) د حکمت (حاصلولو) تعلیم ورکوی (د دی تعلیم او لوستنی په ذریعه یی د جهالت د خیالونو او عملونو څخه) پاکوی بیشکه هم ته یی غالب قدرت او کامل انتظام والا.

(د الفاظو تشریح)

يَتْلُوا عَلَيْهِمْ آيَاتِكَ: یتلو د تلاوة د مصدر څخه جوړ دی او د تلاوت معنٰی ده پیروی کول د قرآن او حدیث په اصطلاح او ژبه کی دالفظ د قرآن کریم او د نورو آسمانی کتابونو او د وحی الهی د ویلو د پاره استعمالیږی ځکه چې د دی کلام په ویلو باندی د دی کلام پوره پیروی کول لازم دی چې څه رنګه د الله ﷻ د طرفه څخه نازل سوی وی، هغه ډول یی ویل ضروری او لازمی دی، د خپل طرفه د څه لفظ یادزور زیر زیاتول او کمول یی روانه دی.

امام راغب رحمه الله په مفردات القرآن کی ویلی دی چې د کلامی الهی څخه ماسوا د بل یوه کتاب ویلو ته تلاوت په عرف کی نه ویل کیږی.

وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ: د کتاب څخه مراد کتاب الله دی او د حکمت لفظ په عربی ژبه کی د ډیرو معناؤ د پاره راغلی دی یعنی حق خبری رسیدلو ته حکمت وایی عدل انصاف علم او حلم ته حکمت وایی (قاموس)

امام راغب رحمه الله لیکی: د حکمت لفظ کله چې د الله ﷻ د پاره استعمال سی نو د دی معنٰی ده د ټولو شیانو مکمله پیژند ګلوی او مضبوط پیدا کول، او کله چې د الله ﷻ څخه ماسوا د بل چا د پاره استعمال سی نو بیا د دی معنٰی ده صحیح پیژند ګلوی او ښه عملونه.

اودلته په آیت کی دحکمت دلفظ څخه مرادڅه دی ؟ صحابه ﷺ اوتابعین مفسرین رحمهم الله چی هغوی دقرآن کریم دمعناؤ هغه تشریح کوی کومه چی یی دنبی ﷺ څخه زده کړي ده دحکمت معنیٰ یی دلته په مختلفو الفاظو سره بیان کړي ده لیکن ددی ټولو الفاظو خلاصه اومطلب هم یوشی دی دنبی ﷺ سنت، دتفسیر امامان ابن کثیر اوابن جریر دحضرت قتاده رحمه الله څخه دغه تفسیر نقل کړي دی ، چا ددی معنیٰ دقرآن تفسیر اخیستی دی اوچاپه دین کی پوه حاصلول اخستی ده اوچا داحکامو شرعیه وو علم اوچا دهغه احکامو الهیه وو علم چی درسول الله ﷺ دبیان څخه معلومیدی سی اخیستی ده او دا ظاهره خبره ده ، چی ددی مطلب او حاصل حدیث اوسنت رسول الله ﷺ دی.

وَيُزَكِّيهِمْ: لفظ دزکوٰة څخه جوړ دی او ددی معنیٰ ده پاکی اودا لفظ دظاهری اوباطنی دواړه قسمه پاکیو دپاره ویل کیږی.

علوم اومسائل: د ذکر سوی تشریح څخه دآیت مفهوم واضح سو چی حضرت ابراهیم علیه السلام دخپل راتلونکی نسل د دواړو جهانو دکامیابی دپاره دالله ﷻ څخه دا وغوښتل چی زماپه اولاد کی یو رسول را ولیږه چی دوی ته ستا آیاتونه وایی اودقرآن اوسنت تعلیم ورکوی او دوی دظاهری اوباطنی پلیتیو څخه پاکوی ، او دعاء یی بیاداسی کړي ده چی دا رسول دی دده په اولادکی وی ، دا ځکه چی اول په دی کی دده داولاد سعادت اوعزت دی ، دوهم دا چی کله دا رسول ددی قوم څخه وی نو دوی به دده چال چلن اوخوی وخصلت څخه خبر وی نو په څه دوکه اوتکی کی به مبتلا نه سی په حدیث کی دی چی حضرت ابراهیم علیه السلام ته ددی دعا جواب دالله ﷻ دطرفه داحاصل سو چی ستا دعا قبوله سوه او دا پیغمبر به په آخره زمانه کی ولیږل سی (ابن جریر، ابن کثیر)

﴿ درسول الله ﷺ دولادت خصوصیات ﴾

دامام احمد رحمه الله په مسندکی یوحدیث دی چی نبی ﷺ فرمایلی دی چی زه دالله ﷻ په نزد هغه وخت خاتم النبین وم کله چی حضرت آدم علیه السلام لاپیدا نه وو ، بلکه هغه وخت چی دهغه خمیر جوړیدی، اوزه تاسی ته دخپلی معاملی شروع ښیم چی زه دخپل پلار حضرت ابراهیم علیه السلام ددعا اودحضرت عیسیٰ علیه السلام دزیری اودخپلی مور مبارکی دخوب مظهر یم، دحضرت عیسیٰ علیه السلام د زیری څخه دهغه علیه السلام دا قول مراد دی ، مُبَشِّرًۢا بِرَسُولٍ يَأْتِي مِنۢ بَعْدِي اسْمُهُۥٓ أَحْمَدُ: اومور مبارکی یی دحمل په وخت کی داخوب لیدلی وو چی زمادنس څخه یو نور ووتی چی په هغه سره دشام دملك لوی لوی مانی وځلیدی ، بیا دقرآن کریم په دوو سورتونوکی یعنی سورة آلِ عمران اوسورة جمعه کی دنبی ﷺ دپیغمبر لیږلو چی کومه تذکره سوي ده په هغه کی ددغه الفاظو اعاده سوي ده کوم چی دحضرت ابراهیم علیه السلام په دعاکی دلته ذکردی ، نو په دی کی اشاره دی طرف ته ده چی حضرت ابراهیم علیه السلام دکوم پیغمبر دلیږلو دپاره دخدای ﷻ څخه دعاکړی وه هغه نبی کریم ﷺ دی ، دآیت دالفاظو دتشریح او دده دمفهوم واضح کیدلو څخه وروسته په

دی لاندینیو خبرو سوچ کول په کار دی.

(دپیغمبر دلیږلو دری هدفونه)

دسورة بقرة په دی آیت کی اودسورة آل عمران اوسورة جمعه په آیاتونوکی دنبی ﷺ په باره کی یو مضمون په یوشان الفاظوسره بیان سوي دی چی په هغه کی دنبی ﷺ دنیاته دراتللو مقاصد یادده دنبوت دوعدی فرائض دری بیان کړل سوي دی، یو دآیاتونو ویل دوهم دکتاب اوحکمت تعلیم ورکول دریم دخلګو داخلاقو اعمالواو نورو پاکول.

(مځکني مقصد دآیاتونو تلاوت)

دلته دا خبره دفکر وړ ده چی دتلاوت تعلق دالفاظو سره دی او دتعلیم تعلق دمعناووسره دی نو دلته دتلاوت او تعلیم جلا جلا بیانولو څخه دا مطلب را ووتی چی څه رنګه دقرآن کریم معنیٰ مقصد او غرض دی ، هم دارنګه دده الفاظ مستقل حیثیت لری اومستقل غرض هم دی ځکه چی دقرآن کریم دالفاظو تلاوت کول اوحفاظت کول فرض اومهم عبادت دی ، دلته دا خبره هم دفکر کولو قابله ده چی دنبی کریم ﷺ نیغ په نیغه مخاطب خلګ هغه عرب وه چی هغوی یوازی په عربی ژبه نه پوهیدل ، بلکه ورسره ورسره دعربی ژبی فصیح اوبلیغ تقریر کوونکی اوشاعران وه نو دوی ته عربی قرآن ویل خوپه ظاهره دتعلیم دپاره کافي وو، دوی ته جلا دترجمی اوتفسیر کولوڅه ضرورت نه وو نوبیا دآیاتونو ویلو یوجلا مقصد او دکتاب دتعلیم جلا مقصد درسالت دپاره ضرورت څه دی کله چی دعمل دمخی دا دواړه مقصدونه یو کیږی په دی خبره که فکروکړل سی نو دوی مهمی نتیجی به مخ ته راسی اوله دا چی قرآن دنورو کتابونوپه شان یوکتاب نه دی چی په هغوی کی مقصود یوازی معنیٰ وی اوالفاظ په کښی اصلی مقصد نه وی اوکه په دی الفاظوکی څه معمولی رد اوبدل وسی هم نوڅه حرج هم نه ګڼل کیږی، بلکه په قرآن کریم کی چی څنګه معنیٰ مقصود ده ، دغه رنګه الفاظ هم مقصود دی ، او دقرآن دالفاظو سره دخاص خاص شرعی احکامو تعلق دی ، دغه وجه ده چی په اصول فقه کی دقرآن کریم دا تعریف سوي دی چی ، هُوَ النَّظْمُ وَالْمَعْنٰی جَمِیْعًا یعنی قرآن دالفاظو او دمعنیٰ دواړو نوم دی چی ددی څخه دا معلومه سوه که چیری دقرآن معنیٰ په نورو الفاظوکی یاپه نورو ژبوکی بیان سی نو دی ته قرآن نه ویل کیږی که څه هم مضامین یی بالکل صحیح ولی نه وی ، هم دغه رنګه که چیری دقرآن مضامین په بله ژبه کی په لمانځه کی وویل سی نولمونځ نه اداکیږی اوهم دغه رنګه هغه ټول احکام چی دقرآن په باره کی دی دی ته نه حاصلیږی ، دغه وجه ده چی دامت فقهاؤ دقرآن کریم ترجمه بغیر دقرآن دمتن څخه دچاپ کولو او دلیکلو منع کړي ده.

خلاصه دا ده چی په دی آیت کی درسول ﷺ په فرائضو کی دتعلیم دکتاب څخه علاوه دآیاتونو تلاوت کول یومستقل اوجلا فریضه بیان کړل سوه اوپه دی سره دی خبری ته یی اشاره وکړه چی څنګه په قرآن

کی معانی مقصود دی هم دغه رنګه دده الفاظ هم مقصود دی ځکه چی تلاوت خو دالفاظوکیږی دمعناؤ تلاوت نه کیږی ، نو په دی وجه څنګه چی دنبی ﷺ په فرائضوکی تعلیم شامل دی هم دغه رنګه دده په فرائضوکی دالفاظو تلاوت اوحفاظت هم یوه مستقله فریضه ده که څه هم په دی کی خوشك نسته چی دقرآن دنازلیدو مقصد دده په ښوول سوی نظام باندی عمل کول او دده په تعلیماتو پوهیدل اوپوهول دی اویوازی دده په الفاظو یادولو صبر اوقناعت کول ، دقرآن کریم دحقیقت څخه ناواقفتیا او دقرآن ناقدری ده .

لیکن سره ددی دا ویل هم هیڅکله صحیح نه دی چی ترڅو دقرآن کریم دالفاظوپه معنی پوهه حاصله نه وی نو دقرآن کریم الفاظ دطوطی په شان لوستل اولولول بی کاره دی ، ددی خبری وضاحت ځکه کوم چی نن ډیر خلګ قرآن کریم په نورو کتابونو قیاس کوی او وایی چی ترڅو دیوه کتاب په مطلب څوك نه پوهیږی دهغه دالفاظو ویل هسی وخت خرابول دی لیکن دقرآن کریم په باره کی دا خیال لرل غلط دی ځکه چی قرآن کریم دالفاظو او دمعناوو دواړو نوم دی څه رنګه چی دده په معناؤ باندی پوهیدل او دهغه په احکامو عمل کول فرض اواعلی عبادت دی ، هم دغه رنګه دده دالفاظو تلاوت کول یو مستقل عبادت اولوی ثواب دی .

(دوهم مقصد دکتاب تعلیم)

دغه وجه ده چی رسول ﷺ اوصحابه کرامو رضی الله عنهم چی هغو دقرآن دمعناؤ ترټولو زیات علم درلودی یوازی په معنی باندی پوهیدل اوعمل کول کافی نه ګڼل، دپوهیدلو او دعمل کولو دپاره خویو وار دقرآن ویل کافی وه ، لیکن هغوی دقرآن ویل دخپل ټول عمر مشغله ګرځولی وه ، تردی پوری چی بعضو صحابه ؤ رضی الله عنهم به روزانه دقرآن مجید یو ختم کوی اوبعضو به په دوو ورځوکی ختم کوی او اکثرو به په درو ورځو کی ختم کوی ، او په هره هفته کی دقرآن ختمول خو دپوره امت معمول پاته سوي دی ، دقرآن کریم دا اووه منزله کیدل ددغه هفته وارختم کولو دعمل علامه ده درسول ﷺ او دصحابه کرامو رضی الله عنهم دا عمل داښیی چی څه رنګه دقرآن کریم په معناوو باندی پوهیدل اوعمل کول اصلی عبادت دی ، دغه رنګه دده دالفاظو تلاوت کول په خپل ځای کی یو اعلی عبادت اودانوارو اوبرکاتو سبب دی نو په دی وجه دنبی کریم ﷺ په فرائضوکی دآیاتونو تلاوت ته یوجلا حیثیت اومقام ورکول سو، مطلب دا دی چی کوم مسلمانان فی الحال دقرآن په معناؤ باندی نه پوهیږی هغه دی په دی بدبختی کی مبتلا نه سی چی یوازی الفاظ ویل بی فائدی وګڼی او ددی ثواب څخه محرم پاته نه سی ، دا کوشش کول ضروری دی چی دقرآن کریم په معانیو باندی یوڅوك پوه سی او دقرآن کریم دحقیقی برکتونو مشاهده وکی او دغه رنګه دقرآن دنازلیدلو اصلی مقصد پوره سی قرآن خو معاذ الله دجادو په شان نه دی چی یوازی ددم دپاره استعمال سی .

دخبرې خلاصه دا ده چې په دې آيت کې دنبي کريم ﷺ دمنصب نبوت دفرائضو په بيان کې دا وښوول سوه چې دآياتونو تلاوت دنبي کريم ﷺ دفرائضو څخه هم يوجلا فريضه وښوول سوه نو ددې څخه دا خبره په ډاګه سوه چې په قرآن کريم باندې دپوهيدو دپاره يوازې په عربي باندې پوهيدل کافي نه دي بلکه ددې دپاره دنبي ﷺ دزده کړې ضرورت دی ، لکه چې دټولو علمونو او فنونو په زده کړه کې يو سړې يوازې دکتاب په مطالعې باندې فائده نه سي اخستی بلکه هغه که چيرې ددې کتابونو څخه فائده اخيستل غواړي نو هغه به خامخا ددغو کتابونو ماهر ته رجوع کوي او دهغه شاګردي به کوي ، نو دغه شان قرآن کريم هم دی چې دده په مضامينو باندې پوهيدل يوازې دعربي ژبې په پوهيدلو سره نه کيږي بلکه درسول ﷺ په تعليم سره دقرآن کريم دمضامينو صحيح علم او فهم حاصليدی سی نوقرآن کريم درسول ﷺ دتعليماتو څخه جلا کول ځان ته دوکه ورکول دي که چيرې دقرآن کريم دمضامينو دښولو ضرورت نه وي نو بيا دپيغمبر دليږلو څه ضرورت نه وو ليکن الله ﷻ عليم اوحکيم دی هغه ته ښه معلومه ده چې په قرآن کريم باندې دپوه کيدلو دپاره ددنياترنورو کتابونو داستاذ دښوونې زيات حاجت دی اوبيا ددې دپاره عام استاد هم کافي نه دی ، بلکه ددې استاذهغه څوك کيدی سی چې هغه ته دوحي په وجه دالله ﷻ سره دخبرو کولو عزت حاصل سوی وي يعنې چې نبي او رسول وي ، نو په دې په وجه قرآن کريم کې دنياته دنبي کريم ﷺ دليږلو يومقصد دا مقرر سو چې دی دقرآن کريم دمعناوو او حکمونو تشريح وکي ، الله ﷻ فرمايي ، لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ اِلَيْهِمْ (مونږ ته په دې وجه ليږلی يې چې ته خلکو ته دالله ﷻ دنازلو سوو آياتونو تشريح وکي)

دکتاب دتعليم اوښوونې سره سره دنبي کريم ﷺ په فرائضو کې يوه بله فريضه دحکمت تعليم اوښوونه هم مقررسوي ده اوځه رنګه چې مامخکې دا ويلي دي چې دحکمت لفظ په عربي کې ددېرو معناوو دپاره راغلی دی ، ليکن صحابه کرامو ﷺ اوتابعينو رحمهم الله دحکمت تفسير په سنتِ رسول ﷺ سره کړي دی ، او ددې څخه دا معلومه واضحه سوه چې څه رنګه دنبي کريم ﷺ په ذمه باندې دقرآن کريم دمعناوو ښوول دي دغه رنګه دده په ذمه باندې په خپل عمل اوقول سره دخلکو تربيت کول هم دي ، اوپه دې وجه نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې ، اِنَّمَا بُعِثْتُ مُعَلِّمًا (زه معلم ليږل سوی يم) او دا ظاهره خبره ده چې کله دنبي کريم ﷺ دوجود غرض اومقصد معلم کيدل سوه نو دده دامت دوجود غرض اومقصد متعلم او شاګرد کيدل سوه ، نو په دې وجه هرمسلمان سړي اوښځې ته طالب علم کيدل په کار سوه ، که چيرې چاته دقرآن کريم او دسنت دپوره علمونو دحاصلولو فرصت نه وي نو کم ازکم دې ددې دضرورت په اندازه دعلم حاصلولو غم اوفکر وکي .

(دريم مقصد تزکيه)

دريم مقصد دنبي کريم ﷺ دنبوت په فرائضو کې تزکيه ده ، او ددې معنی ده دظاهري اوباطني پليتيو

څخه پاکول ظاهري پليتي خوهر مسلمان پيژني ، اوباطني پليتي كفر شرك تكبر حسد بغض كينه ددنيا محبت او نور دي ، دقرآن كريم اوسنت په تعليماتوكي كه څه هم چي ددي ټولو شيانو بيان راغلي دي ليكن بياتزكيه دنبي كريم ﷺ په جلا اومستقل فريضه مقرركولوكي دي خبري ته اشاره ده چي څه رنگه يوازي دالفاظوپه معناوو باندي دپوهيدلو څخه يوفن اوعلم نه حاصليږي دغه رنگه په نظري اوعلمي طور سره دفن دحاصليدلو څخه ددي فن استعمال اوپه دي فن كي كمال نه حاصليږي ترڅو چي ديو تربيت وركوونكي ترپاملرني لاندي ددي مشق ونه سي .
په سلوك اوتصوف كي ديوكامل شيخ اوپير دتربيت وركولو دغه مقام اومرتبه ده چي په قرآن كريم اوسنت كي چي كوم احكام په علمي طور سره بيان سوي دي ، دهغوي دعملي كيدلو عادت په مريدانو كي واچوي .

(دهدايت او اصلاح دوې سلسلې كتاب الله او رجال الله)

اوس ددي سلسلي دوي خبري نوري قابل غور دي ، اول دا چي الله ﷻ دانسان دپيدا كولو څخه واخله دخاتم الانبياء ﷺ ترزماني پوري دانسانانو داصلاح اوهدايت دپاره دوي سلسلي جاري درلودلي دي ، يوه دآسماني كتابونو سلسله اودوهمه ددغه كتابونو دښوونكو سلسله ، څه رنگه چي يې يوازي كتاب نازلول دهدايت او اصلاح دپاره كافي ونه گڼل ، دغه رنگه يوازي بغير دكتاب څخه دپيغمبرانو ليږل يې دهدايت دپاره كافي ونه گڼل بلكه دا دواړي سلسلي يې جاري وساتلي ، دالله ﷻ داعادت په كوم باندي چي قرآن كريم يې شهادت كوي چي دخلكو داصلاح اوفلاح دپاره يې دا دواړي سلسلي جاري كړي ديو لوي علم دروازه خلاصه كړه هغه دا چي دانسان دصحيح تعليم اوتربيت دپاره نه يوازي كتاب كافي دي اونه يوازي يو تربيت وركوونكي انسان كافي دي بلكه ددي دپاره يوطرف ته دآسماني هداياتو اودالله ﷻ دقانون ضرورت دي چي دهغه نوم كتاب ياقرآن دي اوبل اړخ ته ديومعلم اوتربيت وركوونكي انسان ضرورت دي چي هغه په خپل تربيت سره عام انسانان دآسماني هداياتو څخه خبركي او بيايي په دي باندي عمل كوونكي وگرځوي ، اوبياداسي عمل كوونكي چي دا عمل د دوي خوي او خصلت وگرځي،ځكه چي دانسان اصلي معلم اوتربيت وركوونكي بس انسان كيدی سی كتاب معلم يا تربيت وركوونكي نه سي كيدی، البته دومره ده چي كتاب په تعليم اوتربيت وركولوكي مددكولی سي دغه وجه ده چي څه رنگه داسلام ابتداء ديوكتاب اويو معلم څخه وسوه او ددي دواړو دگډون څخه يوه صحيح اومثالي معاشره په دنياكي پيداسوه دغه رنگه دراتلونكو نسلونو دپاره هم يوطرف ته دپاك شريعت اوبل طرف ته دخداي ﷻ دبندگانو سلسله جاري پاته سوه ، قرآن كريم ځاي په ځاي ددي خبري ارشاد كړي دي ، په يوځاي كي ارشاد دي .

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ

(اې ايماندارو! دالله ﷻ څخه ويريږي او درښتينو خلكو سره سي)

په بل ځای کی دصادقینو په بیان کی فرمایی.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ صَدَقُوا وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ.

او دغه خلک رېښتینی دی او دغه خلک دی پرهیزگاره.

دصراط مستقیم دهدایت دښوولو دپاره چی هغه دسورة فاتحی مطلب او خلاصه ده اوسورة فاتحه په خپل ځای دټول قرآن کریم خلاصه ده صراط القرآن یاصراط الرسول اویا صراط السنة نه دی ویل سوی بلکه دخدای ﷻ دخه بندگانو پته ورکړل سوي ده چی د دوی ښخه صراط مستقیم حاصلیږی ارشاد دی.

صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ.

یعنی صراط مستقیم دهغو خلکولار ده چی په هغوی باندی دالله ﷻ انعام سوي دی نه دهغو خلکو لاره چی گمراه سوي دی.

په بل ځای کی ددی خلکوچی په هغوی دالله ﷻ انعام دی وضاحت اوتشریح کړل سوي ده الله ﷻ فرمایی.

فَأُولَٰئِكَ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ مِنَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصَّالِحِينَ.

او هم دغه رنگه نبی کریم ﷺ دخپل ځان ښخه وروسته دبعضو حضراتو په دینی معاملوکی دتابعداری کولو حکم کړی دی، دترمذی په صحیح حدیث کی دی.

يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي تَرَكْتُ فِيكُمْ مَا إِنْ أَخَذْتُمْ بِهِ لَنْ تَضِلُّوا كِتَابَ اللَّهِ وَعِتْرَتِي أَهْلَ بَيْتِي.

(ای خلکو! زه ستاسی دپاره دخپل ځان ښخه وروسته دوه شیان پرېږدم، دا دواړه مضبوطه ونیسی نوتاسی به گمراه نه سی، یو دالله پاك كتاب او بل زما اولاد او اهل بیت)

او دصحیح بخاری په حدیث کی ارشاد دی.

اِقْتَدُوا بِالَّذِينَ مِنْ بَعْدِي أَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ، زماښخه وروسته دابوبکراوعمر(رضی الله عنهما) تابعداری کوی.

اوپه یوبل حدیث کی ارشاد دی.

عَلَيْكُمْ بِسُنَّتِي وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِينَ.

زماپه طریقه اودخلفاء راشدینوپه طریقه عمل کوی دخبری خلاصه داسوه چی دقرآن کریم ددی هدایاتو ښخه اودنبی کریم ﷺ ددی ارشاداتو ښخه دا خبره واضحه سوه، چی دقومونو د اصلاح او تربیت دپاره په هره زمانه اوپیړی کی دوه شیان ضروری دی یو قرآنی هدایات او دوهم په دی باندی دپوهولو او دعمل کولو دملکی دپیدا کولو دپاره دشریعت دماهرانو او دالله ﷻ دبندگانو تعلیم اوترتیب.

او بیا دا دواړه هم په داسی طریقه سره چی دهریوه په حق کی څه زیاتی اوکمی را نه سی، ځکه چی په کمی اوزیاتی سره دفائدی په ځای نقصان او داصلاح په ځای فساد حاصلیږی او دا زیاتی اوکمی داسی دی چی څه خلک کتاب الله شاته غورځوی اوعالمان اومشائخ دخپل مقصود قبله گرځوی اودا تحقیق نه کوی چی آیادغه عالمان اومشائخ دشریعت موافق عمل کوی اوکه نه، اودامرض خوپه اصل

کی دیهودو اونصاراؤ دی چی .

اِتَّخَذُوْٓا اَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ اَرْبَابًا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ .

هغوی خپل علماء اومشائخ دالله ﷻ څخه ما سوا خپل معبودان او دمقصود قبلی گرځولی دی .

او دا ظاهره خبره ده چی دا طریقه دشرك اوکفر طریقه ده اوپه لکونو خلگ په دی لاره کی برباد سوي دی اوبربادیږی اوبعضی خلگ داسی هم سته چی دقرآن اوحدیث علوموپه حاصلولوکی دڅه معلم اوتربیت ورکوونکی ضرورت نه گنی ، او وایی چی مونږ ته یوازی کتاب الله کافی دی نه دماهرانو عالمانو مونږ ته څه ضرورت سته اونه دتربیت یافته وو مشائخو حاجت، او دا بله گمراهی ده چی ددی یی نتیجه دا ده چی سړی ددین څخه وزی ، څکه چی دماهرینو دامداد څخه بغیر دیوفن حاصلول دانسان دفطرت څخه یوه مخالفه خبره ده، نوچی کوم کسان داسی کارکوی نو هغوی به ضرورپه غلطی کی لویږي او دا غلطی کله سړی ددین څخه باسی .

نو په دی وجه ضروری سوه چی ددی دواړو شیانو څخه په خپل مقرر حدکی فائده واخیستل سی اودا وگڼل سی چی اصلی حکم خو دالله وحده لاشریك له دی ، او تابعداری خو په اصل کی دده ده ، رسول ﷺ خو هم په دی باندی عمل کوونکی دی او دنورو خلگوپه دی باندی دعمل کوونکو جوړونکی دی ، دپیغمبر فرمانبرداری یوازی په دی لحاظ سره کیږی چی دغه تابعداری بعینه دالله ﷻ تابعداری ده البته ددی سره که چیری په قرآن اوحدیث باندی په پوهیدلوکی او د دوی په حکمونو باندی په عمل کولوکی کوم علمی یاعملی مشکلات مخ ته راسی نو ددی دپاره دماهرینو دقول اوفعل څخه امداد اخیستل ضروری دی .

په ذکر سوی آیت کی ، هرکله چی دنبی کریم ﷺ په فرائضوکی دکتاب ښوونه دا خله سوه نو ددی څخه یوه بله فائده هم راووته هغه دا چی لکه څه رنگه چی قرآن کریم تر قیامته محفوظ دی نو دا ضروری سوه چی دنبی کریم ﷺ تعلیمات به هم په مجموعی حیثیت سره ترقیامته محفوظ اوباقی دی ، که داسی نه سی نو بیابه یوازی دقرآن دالفاظو دمحفوظ کیدلو څخه دقرآن دنازلیدلو مقصد پوره نه سی، او دا هم ظاهره خبره ده چی درسول ﷺ تعلیمات هغه دی چی هغه ته حدیث اوسنت ویل کیږی او دحدیث اودسنت دحفاظت وعده دالله ﷻ دطرفه څخه که څه هم چی دهغه درجه نه ده چی کومه دقرآن کریم دحفاظت دپاره ده . اِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَاِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ (مونږقرآن نازل کړي دی اوبس مونږ دده حفاظت کوونکی یو)

هغه داسی چی دقرآن کریم الفاظ حتّٰی چی زور زیر بالکل محفوظ راروان دی اوترقیامته به محفوظ وی ، اوسنت رسول ﷺ که څه هم دغه رنگه محفوظ نه دی لیکن په مجموعی حیثیت سره دنبی کریم ﷺ دسنت محفوظ کیدل دمذکوره آیت له مخی څخه لازمی دی او دالله ﷻ شکر دی چی دا ترننه پوری

محفوظ راروان دی کله چی دچا دطرفه ځخه په دی کی دغلطو روایتونو ګډون سوي دی نو دسنت ماهرينو دغه روايات دسنت ځخه کښلي دي اوترقيامته پوری به دغه سلسله جاري وی،
رسول الله ﷺ فرمایلی دی چی زماپه امت کی به ترقیامته داسی ډله داهل حق اواهل علم موجوده وی چی قرآن اوحدیث به په درستی طریقی سره محفوظ کوی اوپه دی کی دهر دځانه اچول سوی شی به اصلاح کوی.
خلاصه دا ده چی هرکله په قرآن کریم باندی دعمل کولو دپاره درسول الله ﷺ سنت ضروری اولازمی دی ، نو ددی ځخه دالازمه سوه چی ترقیامته دنبی کریم ﷺ تعلیمات دی هم باقی اومحفوظ سی ، نوپه دی آیت کی دتعلیمات رسول ترقیامته دباقی کیدلو اومحفوظ کیدلوپیش ګویی ده او دغه پیش ګویی صحیح ثابته سوي ده هغه داسی چی الله ﷻ سنت نبوی دصحابه کرامو ﷺ ځخه واخله ترنن پوری دعلم حدیث دماهرو علماؤ او دمستندو کتابونو په ذریعی سره محفوظه کړي دی ، اوپه دی خبری سره دهغه دجل او الحاد حقیقت ښکاره سو چی هغه نن صبابعضی خلګ خپل ځان داسلام دحکمونو ځخه دساتلو دپاره کوی ، او وایی چی دحدیث موجوده ذخیره محفوظه او قابل اطمینان نه ده ، دوی ته په دی خبره ځان خبرول په کار دی که چیری دحدیث اعتماد پورته سی نوبیاپه قرآن باندی داعتماد کولوځه لاره نه پاته کیږی.
په ذکرسوی آیت کی دنبی کریم ﷺ دنبوت دریم مقصد تزکیه مقرره سوي ده ، او دتزکیی معنٰی مخکی مونږ ذکر کړي ده ، دا تزکیه په دی وجه مستقل مقصد ګرځول سوي دی چی تعلیم که هرځومره صحیح وی خوعادةً یوازی په تعلیم سره داخلاقو اصلاح نه سی کیدی ، داخلاقو اصلاح هغه وخت کیدی سی چی دیوه تربیت یافته په نګرانی کی د دوی عملی تربیت حاصل سی ، دا ځکه چی دتعلیم کارپه اصل کی سیده لاره ښوول دی اوداظاهره خبره ده چی منزل مقصودته درسیدلو دپاره یوازی لاره پیژندل کافی نه دی ، ترڅو پوری چی دقدم پورته کولو او دتللو همت ونه سی ، او دهمت دا نسخه بغیر دخاوندانو دهمت دملګرتیا اوتابعداری ځخه ځه بل شی نه دی.
دعمل همت اوتوفیق دیوکتاب دویلویاپه یوکتاب باندی دپوهیدلو ځخه نه پیداکیږی، ددی یوازی یوتدبیردی چی دالله ﷻ دبندګانو ملګرتیااو د دوی ځخه دهمت تربیت حاصل سی اودغه شی تزکیه ده.
دااسلامی تعلیماتودیرځرګند خصوصیت دی چی دتعلیم سره سره یی تزکیه ضروری کړي ده، دتزکیی ځخه بغیر دتعلیم مقصدپوره کیدی نه سی ، دصحابه کرامو ﷺ په وخت کی چی کومه مثالی معاشره جوړه سوی وه اوچی هغوی به هرځای تلل فتح اونصرت به ددوی ملګری ؤ ، ددی وجه یوازی دا وه چی ددوی تعلیم دنبی کریم ﷺ په لاس سوی وو چی دایوازی تعلیم نه ووبلکه ورسره عملی تربیت هم وو.
نن صباځو دتعلیم ښه کولو دپاره قسم قسم کوششونه کیږی نصابونه بدلیږی رابدلیږی لیکن دتعلیم

دروح په صحیح کولو باندی څه فکر نه کیږی ، هغه دا چی دمعلم اومدرس اخلاقی حالت اومصلحانه تربیت نه وکتل سی ، نونتیجه یی دا ده چی سره د ډیرو کوششونو یومکمل انسان ددغه تعلیم څخه نه را پیدا کیږی او نه یوځای یوه مثالی معاشره جوړیدی سی.

تردی ځایه پوری خو درسالت اونبوت د دروم‌قاصدو بیان وسو، اوس په آخرکی داگورو چی په دغه درو مقاصدو پوره کولوکی ترڅومره پوری نبی کریم ﷺ کامیاب سوی وو ، ددی خبری دپاره داپیژندل کافی دی چی کوم وخت نبی کریم ﷺ ددی دنیا څخه رخصت سو نوتردغه وخت مخکی دآیاتونو تلاوت کول دی درجی ته رسیدلی وو چی په ټوله جزیرة العرب کی قرآن کریم ویل کیدی سوای په زرگونو دده حافظان وه په سلگونو داسی خلگ موجود وه چی هغوی به هره ورځ یاپه دریمه ورځ قرآن کریم ختموی دکتاب دتعلیم اوحکمت دامقام او درجه وه چی ددنیا ټولی فلسفی دقرآن کریم په مخکی خړی پاته سوی وی ، دتوراة او انجیل تحریف سوی صحیفی افسانی گرځیدلی وی، دقرآن کریم اصول اوقواعد دعزت اوشرافت معیار گڼل کیدی ، دتزکیی دا حال ووچی کوم خلگ مخکی بداخلاقی مریضان وه اوس نه یوازی جوړسوی وه، بلکه کامیاب علاج کوونکی جوړسوی وو چاچی مخکی لاری شکولی اوس لاره ښوونکی جوړ سوی وه ، غرض دا چی ټولی بد اخلاق په ښو اخلاقو سره بدل سوی وه.

مطلب دا چی حضرت ابراهیم خلیل الله چی دکومو غرضونو دپاره دعا کړي ده اونبی کریم ﷺ ددی دپوره کولو دپاره لیږل سوی وو هغه دری سره غرضونه دنبی کریم ﷺ په مبارکه زمانه کی په کامیابی سره پوره سول ، اوبیاترده ﷺ ته وروسته دده ﷺ اصحابو ﷺ دغه غرضونه دمشرق څخه ترمغربه او دجنوب څخه ترشماله په ټوله دنیاکی عام کړل . فصلی الله علیه وعلی آله واصحابه اجمعین وسلم تسلیمًا کثیرًا بعدد من صلی وصام وقعد وقام ، آمین.

وَمَنْ يَّرْغَبُ عَنْ مِّلَّةِ إِبْرٰهٖمَ إِلَّا مَنْ سَفِهَ نَفْسَهٗ ۚ وَلَقَدِ اصْطَفَيْنٰهُ فِي الدُّنْيَا ۚ

اوڅوک دی چی مخ اړوی دابراهیم ﷺ ددین څخه مگرهغه چی یو کم عقل جوړ کړی دی خپل ځان اوبیشکه مونږ غوره کړه ده په دنیا کی.

وَإِنَّهٗ فِي الْآخِرَةِ لَمِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۱۳۰﴾ إِذْ قَالَ لَهٗ رَبُّهٗٓ أَسْلِمْ ۙ

او هغه په آخرت کی دنیکانو څخه دی ، یاد کړه کله چی ده ته وویل دده رب چی تابعداری

قَالَ أَسْلَمْتُ لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۳۱﴾ وَوَصّٰى بِهَآ إِبْرٰهٖمُ بَنِيْهِ

کوه ته، نو وویل هغه چی زه تابعداری کوونکی یم دټول عالم، دپروردگار او دغه وصیت وکی ابراهیم خپلوزامنو ته

وَيَعْقُوْبُ يٰبَنِيَّ إِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰى لَكُمُ الدِّيْنَ فَلَا تَمُوْتُنَّ

او يعقوب ﷺ هم چې اى زامنو! بيشكه الله ﷻ غوره كړى دى تاسى ته دا دين نو تاسى هركز مه مرى

إِلَّا وَأَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿۱۳۲﴾

مگر مسلمانان.

دالفاظو حل: سَفِهَ نَفْسَهٗ: سَفِهَ دجهل په معنٰى دى اونفسه ددى وجى څخه منصوب دى چې دا دفراء په نزد تميزدى اويا ددى وجى څخه منصوب دى چې دامشابه دمفعول سره دى او دا دبعضو كوفيانو قول دى ، او ياخو ددى وجى څخه منصوب دى چې دا مفعول به دى دسفه دپاره ځكه سَفِه دسفه په شان متعدى دى او يا ددى وجى څخه چې سفه متضمن دى هغه معنٰى لره چې هغه متعدى ده او دا معنٰى جهل دى او دا خبره دزجاج قول دى.

دشيخ الهند ﷫ ترجمه دزجاج په قول بناده ، نو دسفه نفسهٗ ترجمه داولنى توجيه له مخى ده چې كومه په لنډتفسيركى اخيستل سوې ده يعنى چې هغه دځپل ذات اونفس په اعتبارسره احمق وى او د دوهمى توجيه له مخى ترجمه به داسى سى چې دملت ابراهيمى څخه به مخ هغه خلګ اړوى چې هغوى ته دځپل ځان علم هم نه وى چې مونږ څوك يو.

لنډتفسير: او دملت ابراهيمى څخه خو به هغه سړى مخ اړوى چې هغه دځپل ذات اونفس داعتبار څخه جاهل اواحمق وى او (دداسى ملت پرېښوونكى ته احمق ولى نه ويل كيږى چې ددى ملت دا حالت وى چې دهغه په وجه) مونږ ده ته (ابراهيم ﷺ درسالت دعهدى دپاره) په دنياكى وټاكى اوخوښ موكى (او ددغه ملت په وجه) هغه په آخرت كى په لويو لائقو خلګو كى شمارل كيږى (چې دهغوى دپاره تول هرڅه دى او دعهدى درسالت دپاره دده خوښول هغه وخت سوى وى) كوم وخت چې ده ته دده پروردګار (دالهام په ذريعه) وفرمايل چې ته (دالله تعالى) تابعدارى وكړه نو ده ووېل چې ماتابعدارى اختيار كړې ده درب العالمين (نو ددغه اطاعت اوتابعدارى په اختيارولو سره مونږدى په نبوت باندى مشرف كړ) او په دغه (بيان سوى ملت باندى دپاته كيدلو) حكم وكى ابراهيم ﷺ خپلو زامنوته او (دغه شان يعقوب ﷺ (خپلو زامنو ته چې دهغه مضمون دا ووچې) زمازامنو! الله ﷻ دا دين (اسلام او دحق اطاعت اوتابعدارى) ستاسى دپاره خوښ كړې دى نو تاسى (ترمرګه پورى دا دين مه پرېږدى او) داسلام څخه ماسوا په بل حالت باندى مه مرى.

علوم اومسائل: په دى آيتونوكى دملت ابراهيمى پربنيادى اصولوباندى دتلوتاكيد سوى دى او ددى اصولوڅخه چې څوك مخ اړوى دهغه خرابى بيان سوې ده او په ضمن كى ديهودو اونصاراؤ هغه دعوٰى

ردسوي ده چي دوی به دعوی کوله چي مونږ دحضرت ابراهيم ﷺ په ملت يو او دا خبره هم بيان سوي ده چي يوازی اسلام دملت ابراهيمی موافق ملت دي او دا چي اسلام دټولو پيغمبرانو شريك دين دی.
په دی آياتونوکی دا هم ذکر دی چي پيغمبرانو به دخپلو اولادو دينی او روحانی تربيت ته توجه کوله، ددی آياتونو په مخکنی آيت کی دملت ابراهيمی فضيلت بيان سوي دی او دا فرمايل سوي دی چي ددغه ملت په وجه حضرت ابراهيم ﷺ ته ددنيا اوآخرت دواړو بزرگی ورکړل سوي ده، اوچي څوك دابراهيمی ملت او دين څخه مخ اړوی هغه احمق اوجاهل دی الله ﷻ فرمايی، وَمَنْ يَّرْغَبُ عَنْ مِّلَّةِ اِبْرٰهِيْمَ اِلاَّ مَنْ سَفِهَ نَفْسَهٗ، او دا ځکه چي ابراهيمی ملت او دين بالکل فطری دين دی، دچاچي فطرت صحيح وی، هغه ددی څخه انکار نه سی کولی، وروسته بيا ددی وجه بيانوی اوفرمايی چي ددی ملت فضيلت اوشرافت ددی څخه ظاهر دی چي الله ﷻ ددغه ملت او دين په وجه حضرت ابراهيم ﷺ ته په دنيا کی عزت او برکت ورکی او په آخرت کی هم، ددنيا دعزت او برکت مشاهده خو دنيا کړي ده چي نمرود غوندی جابر باچا اوقوم ددی يوکس خلاف ولاړ وه او دخپل قدرت اوطاقت ټول شيان يی دده خلاف په کارکی را وستلی وه تردی چي داور په يولوی انبار او ډيری کی يی اچولی وو، ليکن ددنيا ټول طاقتونه چي دکوم قادرمطلق تابعدار دی هغه دا ټولی نمرودی منصوبی ناکامه کړی اواور يی په حضرت ابراهيم ﷺ باندی گلزار کی، او دغه شان ددنيا ټول قومونه دده په رعب اودبدبی منلو باندی مجبوره سول، ددنيا ټول مومنان اوکافران حتٰی چي بت پرست ددغه بت ماتوونکی حضرت ابراهيم ﷺ عزت کوونکی راغلی دی، دعربو مشرکان په هرحال دحضرت ابراهيم ﷺ اولاد وه سره دبت پرستی يی دحضرت ابراهيم ﷺ په عزت کولو کی په خپل ځان باندی اړنه وه او دده دملت دتابعداری دعوی به يی کولی، اودملت ابراهيمی څه ورانی اوويجاړی نښانی د دوی په عمل کی موجودی وی لکه حج عمره قربانی ميلمستيا.
حضرت ابراهيم ﷺ او دملت ابراهيمی ددغه قهری غلبی څخه علاوه ددی مقبوليت او دفطرت انسانی سره ددی دبالکل پوره موافقت هم دنيا مشاهده کړی وه په چاکی چي ذره غوندی عقل اوفهم وو هغه دغه دين ته سرټيټ کړی وو.
دا خو دحضرت ابراهيم ﷺ ددنيوی عزت اوبرکت خبره وه، دآخرت معامله چي هغه لاتر اوسه ترسترگو لاندی نه ده، دهغه په هکله دقرآن کريم دی آيت په ډاگه کړي ده چي څه رنگه الله ﷻ ده ته عزت او برکت ورکړي دی نو هم دغه رنگه په آخرت کی يی دده دپاره لوی لوی درجی مقرری کړي دی.

(دملت ابراهيمي بنيادی اصول اسلام يعني دحق اطاعت هغه يوازی په اسلام کي دی)

ددی څخه وروسته په دوهم آيت کی دملت ابراهيمی بنيادی اصول ښوول سوي دی، الله ﷻ فرمايی.
اِذْ قَالَ لَهٗ رَبُّهٗٓ اَسْلِمْ قَالَ اَسْلَمْتُ لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ، او په دی طرز بيان کی دا خبره هم دفکر قابله ده چي دالله

ﷺ دخطاب أَسْلِمْ په جواب کی دخطاب په انداز کی داسی کیدل په کار وه چی أَسْلَمْتُ لَكَ لیکن حضرت خلیل الله ابراهیم ﷤ دخطاب دا رنگه طرز پریږدی او داسی عرض کوی چی ، أَسْلَمْتُ لِرَبِّ الْعَالَمِيْنَ: ددی وجه دا ده چی یوخو په داسی طرزخطاب سره د ادب کولو لحاظ سوي دی ، اودالله ﷻ حمد او ثنا هم بیان سوي ده ، او مقام دثناهم وو ، دوهم دا چی په دارنگه ویناسره ددی خبری اظهار وسو چی ماکوم اطاعت اختیارکړي دی په دی کی په چاباندی احسان کول نه دی بلکه دداسی کولو څخه زمادپاره بله لاره نه وه ځکه چی هغه دټولو جهانونو پروردګار دی ټول جهانونه اودجهانونو مخلوق دده داطاعت کولو څخه بغیر بله څه لارنه لری اوچاچی اطاعت اختیارکی نوخپل فرض یی ادا کی او خپل ځان ته یی ګټه وکړه .

او ﷺی څخه دا معلومه سوه چی دملت ابراهیمی بنیادی اصول اوپوره حقیقت داسلام په یوه لفظ کی اینښول سوي دی چی دهغه معنٰی دحق اطاعت کول دی او دا خلاصه ده دحضرت ابراهیم ﷤ ددین اومذهب او دا حاصل دی دهغو امتحانونو چی دهغوی څخه حضرت خلیل الله ابراهیم ﷤ تیرسوي دی اوخپل لوړمقام ته رسیدلی دی ، او اسلام یعنی دحق اطاعت کول هغه شی دی چی دهغه دپاره دا ټول جهان پیدا سوي دی اوچی دهغه دپاره ټول پیغمبران اوآسمانی کتابونه رالیږل سوي دی ، ددی څخه دا هم معلومه سوه چی اسلام دټولو پیغمبرانو مشترك دین او دوحدت یوه نقطه ده ، دحضرت آدم ﷤ څخه واخله ترخاتم الانبیاء ﷺ پوری هریوه راتلونکی رسول اونبی ددغه دین دعوت ورکړي دی او په دی باندی یی خپل خپل امتونه چلولی دی ، قرآن کریم په واضحو الفاظو سره فرمایلی دی .

اِنَّ الدِّيْنَ عِنْدَ اللّٰهِ الْاِسْلَامُ (۳: ۱۹) وَمَنْ يَّبْتَغِ غَيْرَ الْاِسْلَامِ دِيْنًا فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْهُ (۳: ۸۵) (دین خودالله ﷻ په نزد اسلام دی اوکوم سړی چی داسلام څخه بغیرڅه بل دین اختیارکی هغه به قبول نه وی)

او دا خبره خوڅرګنده ده چی څومره دینونه چی څومره پیغمبرانو راوړي دی هغه ټول په خپل وخت کی دالله ﷻ په نزد مقبول وه ، نوپه دی وجه ضروری سوه چی هغه ټول دینونه دی اسلام وی ، که څه هم نوم دهغه څه بل کښیښول سی ، دموسیٰ او دعیسیٰ علیهما السلام دین دی ورته وویل سی یایهودیت او نصرانیت او نور لیکن حقیقت دټولو اسلام دی چی دهغه حاصل دحق اطاعت کول دی البته په دی کی یو خصوصیت ملت ابراهیمی ته حاصل دی چی حضرت ابراهیم ﷤ دخپل ملت نوم اسلام اینښی دی اوخپل امت ته یی دامت مسلمه نوم ورکړي دی ، په دعاکی عرض کوی .

رَبَّنَا وَاجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِنَآ اُمَّةً مُّسْلِمَةً لَّكَ .

(ای زموږ پروردګاره ! جوړ کی موږ دواړو لره مسلمانان (یعنی فرمانبردار) او زموږ څخه هم یوه ډله خپله فرمانبرداره وګرځوی)

اولاد ته دوصیت کولو په وخت کی فرمایی .

فَلاَ تَمُوتُنَ اِلاَّ وَاَنْتُمْ مُسْلِمُوْنَ.
دحضرت ابراهیم ﷺ څخه وروسته دا خصوصي امتیاز دحضرت ابراهیم دانتخاب موافق امت محمدیه ته حاصل سو چې ددی نوم امت مسلمه کښیښوول سو او دده ملت هم دملت اسلامی په نوم سره مشهور سو دقرآن کریم ارشاد دی.
مِلَّةَ أَبِيكُمْ إِبْرَاهِيمَ هُوَ سَمَّاكُمُ الْمُسْلِمِينَ مِنْ قَبْلُ وَفِي هَٰذَا (۲۲: ۷۸)
(تاسی دخپل پلار په دین باندی پاته سی ده ستاسی نوم مسلمان ایښی دی مخکی هم، اوپه دی کی هم (یعنی په قرآن کی)
په وینا خو یهود هم وایی چې مونږ په ابراهیمی ملت باندی یو اونصاری هم او دعربو مشرکان هم، لیکن دا ټولی غلط فهمیانی یادرواغو دعوی وی، په حقیقت کی بس په آخری دورکی ملت محمدیه دملت ابراهیمی او دفطری دین موافق وو، دخبری خلاصه دا ده چې دالله ﷻ دطرفه څخه چې څومره پیغمبران راغلی دی او څومره کتابونه نازل سوي دی ددی ټولو روح اسلام یعنی دحق اطاعت کول دی یعنی دخواهشاتو نفسانیه وو په مقابله کی دحق اطاعت اوخواهشاتو پریښوول دی.
افسوس په دی خبره چې نن داسلام نوم اخیستونکی مسلمانان هم ددی حقیقت څخه نا آشناسوی دی او ددین او مذهب په نوم دخپلو خواهشاتو تابعداری کوی او دوی ته دقرآن او دحدیث هغه تفسیرنه لګیږی چې هغه د دوی دخواهشاتو برابر وی، او دا کوشش کوی چې دشریعت جامه څیری پیری سی او د دوی دخواهشاتو بتانوته واغوندل سی چې لیدونکی ته ددین او مذهب اتباع کول ښکاره سی، که څه هم هغه په حقیقت کی خالصه دنفسانی خواهشاتو پیروی اواتباع وی.
دا غافلان دا نه پیژنی چې داحیلی اوتاویلونه خو دمخلوق په مخکی چلیدی سی لیکن دخالق په مخکی چې دهغه علم پرهرشی باندی احاطه کوونکی دی اوچې هغه ته دزړه رازونه معلوم دی دخالص او سوچه اطاعت څخه ماسوابل څه شی فائده نه ورکوی حقیقی اسلام دا دی چې انسان دخپل اغراضو او خواهشاتو څخه بالکل خپل ذهن خالی کی او په دی تلاښ کی سی چې دالله ﷻ رضاپه کوم کار کولو کی ده او دده فرمان زمادپاره څه دی، او دیوه فرمان بردارغلام په شان غوږ یی آوازته ایښی وی چې کوم طرف ته دتلو او دخه کار کولو حکم کیږی، او دا کارڅرنګه کول په کار دی چې دا کار قبول سی او زمامالك زما څخه راضی سی، عبادت او بندګی ددغه شی نوم دی.
ددغه اطاعت او محبت دجذبی په کمال سره انسان ته دآخرت ترقی حاصلیږی چې هغه ته مقام عبودیت ویل کیږی، دا هغه مقام دی چې کله دی ته حضرت ابراهیم ﷺ ورسیدی نو ده ته دخلیل الله خطاب ورکړل سو اودپیغمبرانو سردار محمد ﷺ ته د (عبدنا) خطاب حاصل سو.
ددغه عبدیت او اطاعت په ذیلی درجو باندی دامت په اولیاؤ کی دقطبانو اوابدالو خطابونه ویشل

سوي دی، او دغه حقیقي توحید دی چی دا په کوم انسان کی راسی نو هغه بیا دخدای ﷻ څخه ماسوا دبل چا څخه نه بیره کوي اونه څه امید لري، مطلب دا چی د اسلام معنی اوحقیقت دحق اطاعت کول دي او دحق داطاعت کولو لاره بس په دی کی ده چی درسول الله ﷺ دسنتو پوره پوره تابعداري وسی او دقرآن کریم په واضحو الفاظو کی داسی بیان کړي ده.

فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا. (النسآء ۶۵) ستا دپروردګار قسم دوی هیڅ کله مومنان کیدی نه سی ترڅو چی دوی په خپلو ټولو اختلافي معاملوکی تافیصله کوونکی ونه مني، اوبیا ستاپه فیصله یی زړه تنګ نه سی اوفیصله ښه په یخی سینی سره ومنی.

مسئله: حضرت ابراهیم ﷺ چی خپل اولاد ته کوم وصیت کړی وو او دهغوی څخه یی وعده اوپیمان پرکومه خبره اخیستی وو هغه خبره دا وه چی د اسلام څخه ماسوا پرڅه بل حالت اوملت باندی مه مری، ددی څخه مراد دا دی چی په خپل ژوندکی په اسلام او داسلام په تعلیماتو باندی په کلکه عمل کوی چی الله ﷻ ستاسی خاتمه هم په اسلام باندی وکړی، لکه چی په بعضو روایتونوکی دی چی تاسی په خپل ژوندکی په کوم حالت باندی په پابندی پاته سی، هم په دغه حالت باندی به تاسی مری او په دغه حالت باندی به تاسی په محشرکی پورته کیږی، دالله ﷻ عادت دغه دی چی کوم بنده دنیکی کولو اراده کوی او دهغه دپاره دخپل وس موافق کوشش کوی نو الله ﷻ ده ته دنیکی کولو توفیق ورکوی او داکار دده دپاره آسانوی.

په دی خبره اومعامله کی دهغه حدیث دوجی څخه شبهه اوشك کول په کار نه دی چی په کوم کی داسی ویل سوی چی یو سړی دجنتیانو کار کوی تردی چی دده او دجنت په مینځ کی دیولاس برابر فاصله پاته سی خو بیا دده تقدیر غالب سی او د دوږخیانو کارشروع کی اوآخر دوږخ ته ورسیږی او دغه شان یو سړی د دوږخیانو کار کوی تردی چی دده او د دوږخ په مینځ کی یوازی دیوه لاس برابر فاصله پاته سی بیا تقدیر ورباندی غالب سی اوپه آخری عمرکی دجنتیانو کار شروع کی اوجنت ته ورسیږی.

ددی حدیث څخه شبهه ځکه کول په کار نه دی چی ددی حدیث په بعضو الفاظوکی دا قیدهم لګول سوي دی چی، فیمایبدوا للناس: یعنی چاچی تمام عمر دجنت کارونه کول اوپه آخره کی یی د دوږخ کار شروع کی، په حقیقت کی دده مخکی کارونه هم د دوږخ کارونه وه لیکن خلګوته په ظاهره کی دجنتیانو کارونه ښکاریدل، دغه رنګه چی څوك د دوږخیانوپه کار کی مشغول وو او په آخر کی یی دجنتیانو کار شروع کی په اصل کی ده دمخکی څخه دجنتیانوکارونه کول لیکن په ظاهره کی خلګوده ته ګنهګار وایه اوګڼی یي (ابن کثیر)

خلاصه دا ده چی کوم سړی په ښو کارونوکی مشغول وی هغه ته دالله ﷻ دوعدی اوعادت له وجی دا

امید لرل په کار دی چی دده خاتمه به هم پرنیکی باندی کیږی.

أَمْ كُنتُمْ شُهَدَآءَ إِذْ حَضَرَ يَعْقُوبَ الْمَوْتُ إِذْ قَالَ لِبَنِيهِ مَا تَعْبُدُونَ مِن بَعْدِى

آیاتاسی موجودواست؟ کوم وخت چی نژدی سودیعقوب مرگ هرکله چی ده وویل خپلو زامنوته تاسی به دچاعبادت

قَالُوا نَعْبُدُ إِلَٰهَكَ وَإِلَٰهَ آبَآئِكَ إِبْرَٰهِمَ وَإِسْمَٰعِيلَ وَإِسْحَٰقَ إِلَٰهًا

کوی زماځخه وروسته دوی وویل مونږ به عبادت کوو ستا دپروردگار او ستا دپلار نیکه دپروردگار چی هغه ابراهیم ، اسماعیل او اسحاق دی هغه بس یو معبود دی.

وَٰحِدًا وَنَحْنُ لَهُۥ مُسْلِمُونَ ﴿۱۳۳﴾ تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ لَهَا مَا

او مونږ ټول دهغه تابعدار یو دا یوه ډله وه چی تیره سوی ده د دوی دپاره دی

كَسَبَتْ وَلَكُم مَّا كَسَبْتُمْ وَلَا تُسْـَٔلُونَ عَمَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿۱۳۴﴾

کوم چی دوی کړی دی او تاسی دپاره دی چی کوم تاسی کړی دی او تاسی ځخه به نه پوښتل کیږي د دوی دکارونو

لنډتفسیر: آیا (تاسی خلګ دیوه صحیح نقل په وجه دا مذکوره دعویٰ کوی یا) تاسی په خپله (هغه وخت) موجود واست چی کوم وخت دیعقوب آخری وخت راغی (او) کوم وخت چی ده خپلو زامنو ځخه (دوعدی دنوی کولو دپاره) پوښتنه وکړه چی تاسی خلګ به زما (دمرګ) ځخه وروسته دځه شی عبادت کوی نو دوی (په جمعه) جواب ورکی چی مونږ دهغه (ذات) عبادت به کووچی دهغه عبادت تا او ستا مشرانو (حضراتو) ابراهیم اسماعیل اواسحاق علیهم السلام کړي دی یعنی دهغه معبود چی وحده لاشریك دی او مونږ (په حکمونوکی) دده په اطاعت باندی به (ټینګ) ولاړ یو دا (ددی بزرگانو) یوه ډله وه چی (په خپله زمانه کی) تیره سوي ده د دوی په کار به د دوی کارونه ورسی او ستاپه کار به ستا کارونه درسی اوستاسی ځخه به د دوی دکارونو پوښتنه نه کیږی (اوخالی ذکر به هم نه کیږی دا خبره خو لا پریږدی چی دا به تاسی ته ځه فائده درکی)

علوم اومسائل: په مخکی آیاتونوکی دملت ابراهیمی او داسلام دحقیقت بیان وو، اواوس په دغه آیاتونو کی یوه بله اصولی خبره دفکر کولو قابله ده هغه دا چی ملت ابراهیمی اواسلام خو دټولی دنیا دپاره هدایت نامه ده نو بیا دا ځه وجه وه چی ددی وصیت اولاد ابراهیم او اولاد یعقوب ته کیږی، یعنی داالله ﷻ لوی پیغمبران خپل اولادته ددی په خاص طورسره وصیت کوی.

ددی وجه د اولاد محبت او دهغوی دګتی فکر اوغم دی ، او دا درسالت او دنبوت دمرتبی سره ځه منافات نه لری ، داالله ﷻ هغه دوست چی په یو وخت کی دخپل رب په اشاری سره دخپل ډیر محبوب

زوی ترسر تیریږی او دهغه دذبح کولو دپاره ملاتړی ، دغه دوست په بل وخت کی دخپل اولاد ددینی او دنیوی آرامیو او دګټو دپاره دخپل رب څخه دعا غواړی ددنیا څخه درخصت په وخت کی خپل اولاد ته هغه شی ورکول غواړی چی هغه دده په نظرکی ترټولو لوی نعمت دی یعنی اسلام .

د آیت ﴿وَوَصّٰى بِهَآ اِبْرٰهٖمُ بَنِيْهِ وَيَعْقُوْبُ﴾ : دغه مطلب دی ، او دآیت ﴿اِذْ حَضَرَ يَعْقُوْبَ الْمَوْتُ اِذْ قَالَ لِبَنِيْهِ مَا تَعْبُدُوْنَ مِنْۢ بَعْدِيْ﴾ . هم دغه حاصل دی فرق دومره دی چی دعامو انسانانو په نظر کی نعمت او دولت ددنیا فانی شیان دی ، او د ابراهیم ﷺ اویعقوب ﷺ حوصلی اونظرونه بلند اولوړ دی ، د دوی په نزد اصلی دولت ایمان اوعمل صالح دی یعنی اسلام دی .

څه رنګه چی انسانان دخپل مرګ په وخت کی دا غواړی د دوی سره چی کوم ترلوی لا لوی دولت دی هغه دی دوی خپل اولاد ته ورکی ، دغه رنګه انبیاء او دهغوی په لاره تلونکی خلګ اولیاء داخواهش لری چی کوم شی دوی اصلی او دائمی دولت او نعمت ګڼی هغه دی د دوی اولاد ته پوره پوره حاصل سی ، او ددی دپاره دعاکوی اوکوشش هم اوپه آخری وخت کی وصیت ددی کوی ، لکه دا خبره ددغه آیاتونو څخه واضحه ده .

(د اولاد دپاره څه دولت ددین او اخلاقو تر ښوولو ښه نسته)

دپیغمبرانو په دی خاص طرز کی دعامو انسانانو دپاره هم دا هدایت دی چی دوی څه رنګه دخپل اولاد ددنیوی پرورش انتظام کوی او د دوی ددنیوی آرام اوراحت خیال ساتی ، دغه رنګه بلکه تردی زیات په دوی باندی لازمه ده چی دخپل اولاد علمی عملی او اخلاقی تربیت وکړی ، ځکه چی د اولاد په رښتیا خیرخواهی او د اولاد سره اصلی محبت دغه دی چی دوی ددائمی اور اوعذاب څخه وساتی ، دا د اولاد سره خیرخواهی او محبت نه دی چی اولاد ددنیا دګرمی اویخنی څخه وساتی او دآخرت دسخت عذاب څخه دساتلو د دوی هیڅ خیال ونه سی .

دپیغمبرانو ددغه طرز عمل څخه یوه بنیادی خبره دا هم معلومه سوه چی دکوچنیانو په مور او پلار باندی دا حق دی چی ترټولو اول مور اوپلار د دوی داصلاح اوفلاح خیال وکی اوتردی وروسته دکوچنیانو دپاره نورو شیانوته توجه ورکی او په داسی کولوکی دوه حکمتونه دی ، اول دا چی دطبعی جسمانی تعلق په وجه دوی به دنصیحت اثر ژر اوپه آسانی قبول کی اوبیابه دغه اولاد دخپل مور او پلار په اصلاحی کوششونو کی مدد ګار وګرځی ، دوهمه دا چی دحق دخپرولو دپاره تردی زیاته او فائده ناکه لاره بله نسته چی دهر کور ذمه دار سړی خپل اهل اوعیال ته دحق په ښوولوکی او بیا په حق باندی دوی عمل کوونکی په ګرځولوکی دزړه داخلاصه کوشش وکی ، اوچی داسی دهرکور ذمه دار فرد په دی خبری وکړی نو دټول قوم اصلاح او تربیت به وسی ، قرآن دغه تنظیمی اصل ته په دی آیت کی اشاره کړي ده .

يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قُوْآ اَنْفُسَكُمْ وَاَهْلِيْكُمْ نَارًا (التحريم ۶)
(اى ايمان دارو! وساتى خپل ځان او خپل اهل وعيال دلوى اور څخه)
او نبى كريم ﷺ چى دټولى دنيا پيغمبر دى اوچى دهغه هدايت ترقيامته دراتلونكو نسلونو دپاره دى هغه ته هم ترټولو اول ددى حكم سوى ووچى.
وَاَنْذِرْ عَشِيْرَتَكَ الْاَقْرَبِيْنَ (الشعرآء ۲۱۴) (خپل نژدى خپلوان دالله ﷻ دعذاب څخه وبيروه)
اوفرمايى. وَاْمُرْ اَهْلَكَ بِالصَّلٰوةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا (طٰهٰ ۱۳۲)
(خپل اهل اوعيال ته دلمونځ حكم وكه اوخپله هم دلمانځه پابند اوسه)
يو دريم حكمت دا هم دى چى ترڅو ديوه سړى اهل اوعيال اوقريبى خپلوان دده دنظرياتو اوعملى كارونو ملګرى نه وى نو بيا دهغه تعليم اوتبليغ پرنورو باندى دومره اثرنه كوى داوجه ده چى دحضور ﷺ دتبليغ په جواب كى داسلام په شروع كى دعامو خلګو به دا جواب وو چى اول خوخپل خاندان قريش صحيح كړه بيا زمونږ خبر واخله اوكله چى په خاندان كى اسلام خپور سو اودمكى دفتح په وخت ددى تكميل وسو نو ددى نتيجه دقرآن په الفاظوكى داظاهره سوه چى.
يَدْخُلُوْنَ فِيْ دِيْنِ اللّٰهِ اَفْوَاجًا (النصر ۲) يعنى خلګ به دالله ﷻ په دين كى دلى دلى داخل سى.
نن صباپه مسلمانانوكى دبى علمى اوبى دينى دخپريدلو وجه دا ده چى مور اوپلار كه څه هم په خپله ددين څخه خبردار اوپه دين عمل كوونكى وى خو ددى خبرى غم نه كوى چى زما اولاد دى هم ديندارسى او ددائمى راحت مستحق سى ، عام طور زمونږ فكرونه يوازى د اولاد ددنيوى اوفانى راحت په هكله وى ، الله ﷻ دى ټولو مسلمانانوته توفيق وركى چى دوى دخپل اولاد دآخرت دراحت په هكله فكرمند سى.

(دنيكه دميراث مسئله)

په دى آيت كى دحضرت يعقوب ؑ د اولاد دطرفه چى كوم جواب نقل سوي دى په هغه كى دى ، اِلٰهَ اٰبَآئِكَ اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِسْحٰقَ : په دى كى دى خبرى ته اشاره ده چى نيكه ته هم پلارويل كيږى او دپلار حكم نيكه ته هم شامل دى ، نو په دى وجه حضرت عبدالله بن عباس ؓ ددى آيته څخه دا دليل نيسى چى په ميراث كى دنيكه هغه حكم دى چى كوم حكم دپلاردى.

(دپلرونو اونيكونو دعملونو جزا اوسزا اولاد ته نه وركول كيږى)

لَهَا مَا كَسَبَتْ الآية ددى آيته معلومه سوه چى دپلار اونيكه ښه عملونه د اولاد دپاره هيڅ فائده نه سى وركولى ترڅو چى دوى خپل عملونو صحيح نه كړى ، هم دغه رنګه دپلار اونيكه بدعملونه د اولاد دپاره دعذاب سبب نه ګرځى ، كله چى دوى دښوعملونو پابندوى نو ددى څخه دا ثابته سوه چى دمشركانو اوكافرانو اولاد چى تربالغ كيدلو مخكى مړ سى نو دوى ته به دمور او پلار دشرك اوكفر په

وجه عذاب نه ورکول کیږي ، او په دی سره دیهودو دهغه عقیدی رد وسو چی دوی به دا ویل که مونږ هر قسم عمل کوو زمونږ بخښنه به دخپلو پلرونو اونیکونو دښو عملونوپه وجه وسی ، دغه رنګه نن صبا بعضی دسید خاندان خلګ په دی خیال کی وی چی مونږ درسول الله ﷺ اولاد یو ، مونږ چی څه کوو بیاهم زمونږ بخښنه به وسی ، قرآن کریم دا مضمون څو ځوواره په مختلفو تعبیرونو سره بیان کړي دی ، وَلَا تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ إِلَّا عَلَيْهَا وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ (الانعام ۱۶۴) (هریونفس چی کوم عمل کوی دهغه ذمه داری هم په هغه ده دچاپلیتی به دقیامت په ورځ بل پورته نه کړی) اونبی کریم ﷺ فرمایلی دی.

(ای بنی هاشمو! چی داسی ونه سی چی دقیامت په ورځ نور خلګ خپل خپل نیک عملونه راوړی او تاسی دښوعملونوڅخه غفلت وکړی اویوازی زماپه نسب باندی تکیه وکی اوراسی او زه به په دغه ورځ تاسی ته داووایم چی زه تاسی دعذاب دخدای ﷻ څخه نسم خلاصولی) اوپه بل حدیث کی ارشاد دی مَنْ بطأ بِهِ عَمَلُهُ لَمْ يُسْرِعْ بِهِ نَسَبُهُ . کوم سړی چی دهغه عمل وروسته کی هغه به دهغه نسب نه سی مخ ته کولی.

وَقَالُوا كُونُوا هُودًا أَوْ نَصَارَىٰ تَهْتَدُوا ۗ قُلْ بَلْ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ

اووایی چی سی یهودیان یانصاری نو تاسی به پیداکی لاره سمه ، او وایه چی هرګز نه بلکه مونږ اختیار کړی ده

حَنِيفًا ۖ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿١٣٥﴾ قُولُوا آمَنَّا بِاللَّهِ وَمَا

دابراهیم لاره چی دیوطرف وواونه وودشرك کوونکوڅخه،تاسی اووایاست چی مونږایمان راوړی دی په الله باندی

أُنْزِلَ إِلَيْنَا وَمَا أُنْزِلَ إِلَىٰ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ

اوپه هغه چی نازل سوی دی په مونږباندی اوچی نازل سوی دی په آبرهیم باندی اواسمعیل باندی اواسحاق باندی

وَالْأَسْبَاطِ وَمَا أُوتِيَ مُوسَىٰ وَعِيسَىٰ وَمَا أُوتِيَ النَّبِيُّونَ مِنْ

اویعقوب باندی اودهغه په اولادباندی اوچی ورکړل سوی دی موسی اوعیسی ته اوچی ورکړل سوی دی نوروپیغمبرانو

رَبِّهِمْ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِنْهُمْ وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ ﴿١٣٦﴾

ته دهغوی درب دطرفه ، مونږ فرق نه کوو ددې ټولو څخه په یوه کی هم اومونږ ددغه پروردګار فرمانبردار یو .

لنډتفسیر: او دا (یهودیان اونصاری) خلګو ته (مسلمانانوته) وایی چی تاسی یهودیان سی (دا خو به یهود وویل) یانصاری سی (دا به نصاراو ویل) تاسی به هم (دحق) په لاره سی (ای محمده ﷺ ته) (په

جواب کی) ووایه چی مونږ خو (به یهودیان اونصارئ هیڅ کله نه سو بلکه) په ملت ابراهیمی (یعنی اسلام) باندی به یو چی په هغه کی دکوږوالی نوم (گر سره) نسته (په خلاف دیهودیت او نصرانیت چی په هغه کی دتحریف څخه علاوه دمنسوخ کیدلو په وجه اوس کوږوالی راغلی دی) او ابراهیم ﷺ مشرك هم نه وو (مسلمانانو! دیهودو اونصاراو په جواب کی چی کوم اجمالاً تاسی ویل کړي دی چی مونږ په ملت ابراهیمی باندی یو ددی ملت دتفصیل دبیانولو دپاره) ووایاست چی (په دی ملت باندی دپاته کیدلو حاصل دا دی چی) مونږ ایمان لرو په الله ﷻ باندی او په هغه (حکم) باندی هم چی مونږ ته (درسول الله ﷺ په واسطه) رالیږل سوي دی او په هغه (حکم) باندی هم چی حضرت ابراهیم حضرت اسماعیل حضرت اسحاق اوحضرت یعقوب علیهم السلام او اولاد دیعقوب ﷺ (کی چی کوم نبیان تیر سوی دی هغوی) ته (دوحی په واسطی) لیږل سوي دی اوپه هغه (حکم اومعجزی) باندی هم چی موسیٰ اوحضرت عیسیٰ علیهما السلام ته ورکول سوی وه اوپه هغه باندی هم چی نورو پیغمبرانوته ورکول سوی وه دهغوی دپروردگار دطرفه (نو په دی ټولوباندی ایمان لرو او ایمان هم) په دی شان سره چی مونږ په دی (حضراتو) کی په چاکی هم (تربل په ایمان را وړلوکی) فرق نه کوو (چی په چاباندی ایمان راوړو اوپه چانه) اومونږ خو دالله ﷻ فرمان بردار یو (هغه مونږ ته دا دین ښوولی دی مونږ اختیار کړي دی نو ددی ملت چی په هغه باندی مونږ ټینګ ولاړ یو حاصل دا دی چی په دی کی چاته په اصل کی د انکار کولو او دمغ اړولو اختیار نسته)

علوم اومسائل: دحضرت یعقوب ﷺ اولاد ته په قرآن کی اسباط ویل سوي دی ، او اسباط دسبط جمع ده او دسبط معنیٰ قبیله او جماعت ده ، دوی ته سبط ددی وجی وایی چی دیعقوب ﷺ دوولس زامن وه بیا دهر یوه زوی څخه یی مستقله قبیله جوړه سوه ، اوالله ﷻ دیعقوب ﷺ دزامنوپه نسل کی دومره برکت واچوی چی کوم وخت دحضرتِ موسیٰ ﷺ په زمانه کی دمصر څخه ووتله نو ددغو هر یوه ورور د اولادو څخه مستقلی مستقلی قبیلی جوړی سوی وی او دهری قبیلی افراد په زرگونو وه او بل برکت الله ﷻ دیعقوب ﷺ په اولاد کی دا واچوی چی دلسو پیغمبرانو څخه علاوه باقی ټول نبیان او رسولان دده په اولاد کی پیدا سوه ، دبنی اسرائیلو څخه علاوه باقی ټول نبیان او رسولان دده په اولاد کی پیدا سو، دبنی اسرائیلو څخه علاوه باقی نبیان دحضرت آدم ﷺ څخه وروسته نوح ﷺ شعیب ﷺ هود ﷺ صالح ﷺ لوط ﷺ ابراهیم ﷺ اسحاق ﷺ یعقوب ﷺ اسماعیل ﷺ او حضرت محمد علیه الصلاة والسلام دی .

فَإِنْ آمَنُوا بِمِثْلِ مَا آمَنتُم بِهِ فَقَدِ اهْتَدَوا ۖ وَّإِن تَوَلَّوْا فَإِنَّمَا

نو که چیری دوی هم ایمان راوړی ځنګه چی تاسی ایمان راوړی دی نو هدایت پیداکی دوی اوکه چیری مخ واړوی

هُمْ فِیْ شِقَاقٍ ۚ فَسَیَكْفِیْكَهُمُ اللّٰهُ ۚ وَهُوَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ ﴿۱۳۷﴾

نو بیا هم دوی په ضد دی، نو کافی دی ستا دپاره د دوی څخه الله ﷻ او الله ﷻ دی آوریدونکی او علم لرونکی

صِبْغَةَ اللّٰهِ ۚ وَمَنْ اَحْسَنُ مِنَ اللّٰهِ صِبْغَةً ۫ وَّنَحْنُ لَهٗ عٰبِدُوْنَ ﴿۱۳۸﴾

مونږ قبول کی دالله ﷻ رنګ او دچا رنګ ښه دی دالله ﷻ تر رنګ او مونږ دده عبادت او بندګی کوو.

لنډتفسیر: (هرکله چی په دی لوړه ذکر سوی طریقه کی اسلام ثابت سو) نو که چیری دوی (یهود او نصارٰی) هم په دی طریقی سره ایمان راوړی چی په کومی طریقی تاسی (مسلمانانو) ایمان راوړی دی نوهلته به دوی هم (دحق) په لاره سی او که چیری دوی (ددی څخه) مخ واړوی نو (تاسی د دوی دمخ اړولو څخه څه تعجب مه کوی ځکه) داخلق خو (همیشه) مخالفت کوونکی دی (او د دوی په مخالفت څه فکر کول په کار نه دی) نو (پوه سه) ستا دطرفه به ژر وګوری د دوی سره الله ﷻ او الله ﷻ (ستاسی او د دوی خبری) اوری (او ستاسی او د دوی معامله) پیژنی (تاسی ته دغم او فکر کولو څه ضرورت نسته) ای مسلمانانو! وو ایاست مونږ چی تاسی ته کومه خبره په جواب کی کړي ده چی مونږ به په ابراهیمی ملت یو ددی خبری حقیقت دا دی چی) مونږ (ددین) په هغه حالت باندی به یو چی په دی حالت باندی (مونږ) الله ﷻ رنګ کړی یو (او درنګ په شان دا حالت زمونږ په رګونو کی خپور سوی دی) او (دوهم) خوك دی چی دهغه درنګ ورکولو حالت دالله ﷻ (درنګ ورکولو تر حالت) ډیر زیات ښه وی (کله چی یو بل دارنګه نسته نو مونږ دبل یو دین هم غوره نه کی) او (ددی دپاره) مونږ دده بندګی خوښه کړي ده.

علوم اومسائل: فَاِنْ اٰمَنُوْا بِمِثْلِ مَآ اٰمَنْتُمْ بِهٖ: دسورة بقری د اول څخه تردی ځایه پوری دایمان حقیقت یو ځای مجمل او یو ځای مفصل بیان سوی دی او په دی آیت کی یو داسی اجمال دی چی ترهغه لاندی ټول تفصیلات او تشریحات د ایمان راځی، ځکه چی د اٰمَنْتُمْ مخاطب رسول الله ﷺ او صحابه کرام ﷺ دی او په دی آیت کی د دوی ایمان یو مثالی نمونه ښوول سوي ده او دا حکم سوي دی چی الله ﷻ ته هغه ایمان منظور دی کوم چی دنبی کریم ﷺ او دصحابه کرامو ﷺ وو او کوم ایمان چی د دوی د ایمان څخه دوربېنته برابر مختلف وی نو هغه الله ﷻ ته قبول نه دی.

مطلب دا چی په کومو شیانو باندی دوی ایمان راوړی وو په هغه کی دی څه کمی او زیاتی نه وی او چی په کوم اخلاص سره یی راوړی وو نو په هغه کی دی څه فرق نه وی کنه نو بیا دا په نفاق کی دا خل دی، دالله ﷻ د ذات او صفتونو دملائکو پیغمبرانو دآسمانی کتابونو په باره کی چی کوم ایمان دنبی کریم ﷺ او دهغه داصحابو ﷺ وو هغه الله ﷻ ته قبول وو او ددی خلاف په دی کی څه تاویل کول یا بله معنٰی اخیستل الله ﷻ ته قبول نه دی، دملائکو او پیغمبرانو دپاره چی کومه مرتبه دنبی کریم ﷺ

دعمل او وينا څخه څرګنده سوي ده په هغه کې څه زياتي کول ياکمي کول دايمان سره منافي دي.
په دې وضاحت سره دهغو ټولو باطلو فرقو په ايمان کې خلل او نقصان په ډاګه سو کمې فرقې چې دايمان دعوى خو کوي ليکن په اصل کې هغوى دايمان دحقيقت څخه لېرې دي ځکه چې زباني دعوى خو مشرکانو هم کولې او يهودو او نصاراؤ هم ، ليکن کله چې دهغوى ايمان په الله ﷻ او په ورځ دآخرت او ملائکو او نورو باندې داسې نه وو لکه څه رنګه چې دنبي کريم ﷺ او دهغه دملګرو وو نو ځکه هغه مردود او دالله ﷻ په دربار کې غير مقبول وو.

(دملائکو او دپيغمبرانو په محبت کې اعتدال کول لازمي دي ترحد تيرېدل ګمراهي ده)

مشرکان بعضي داسې وه چې دملائکو دوجود څخه يې انکار کوي او بعضي داسې وه چې ملائکو ته به يې دخداى ﷻ لوڼې ويلې ، د دوارو رد په بِمِثْلِ مَآ اٰمَنْتُمْ بِهٖ سره وسو ، ديهودو او نصاراؤ بعضو فرقو دخپلو پيغمبرانو مخالفت کوي ، تردې چې بعضې يې قتل کړي هم وه اوبعضو فرقو دپيغمبرانو عزت او لوى والي دومره ترحد زيات کړى وو چې پيغمبران يې خدايان يادخداى زامن ګرځولي وه ، ددې دوارو فرقو دغه زياتي اوکمي ته ګمراهي ويل سوي ده.
دا ځکه چې په اسلام کې درسول عزت اوقدر او محبت کول فرض دي ، ددې څخه بغير ايمان نه حاصليږي ليکن ورسره دا هم سته چې پيغمبر دخداى سره په څه صفت حلم قدرت اونور کې برابر ګڼل ګمراهي اوشرك دي ، اوهم دغه په قرآن کريم کې دشرك حقيقت ښوول سوى دي چې دالله ﷻ څخه ماسوا بل څوك په څه يوصفت کې دالله ﷻ سره برابر وګڼل سي ، اود اِذْ نُسَوِّيْكُمْ بِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ دغه معنٰى او مراد دى نن هم چې کوم خلګ نبي کريم ﷺ عالم الغيب او دخداى په شان په هرځاى کې حاضر او ناظر ګڼي او دا وايي چې داسې په عقيدې لرلو سره مونږ درسول دعظمت اومحبت حق ادا کوو ، حال دا دى چې دوى په خپله په داسې عقيدې لرلو درسول دحکم او دهغه دټول عمر دکوششونو مخالفت کوي په دې آيت کې دداسې خلګو دپاره هم سبق دى چې درسول الله ﷺ کوم عزت محبت او عظمت الله ﷻ ستاسې څخه غواړي دا هغه قسم غواړي چې کوم صحابه کرامو رضي الله عنهم درسول الله ﷺ سره درلو دي او په دغه قسم عزت محبت او عظمت کې کمي کول هم جرم اوګناه ده او زياتي کول هم ګمراهي ده.

(دنبي،رسول ، ظلي ، بروزي اولغوى ټول دخپله ځانه جوړ سوي قسمونه ګمراهي ده)

هم دغه شان چې کومو فرقو ددې څخه انکار وکې چې نبوت ختم نه دى او دنوى نبي دپاره يې دروازه خلاصول وغوښتل اوپه دې خپل مقصد حاصلولو کې يې دخاتم النبيين صراحت يو قسم خنډ وګڼي نو دوى دخپله طرفه دنبي او رسول ډېر قسمونه جوړ کړل او هغوى ته يې دظلي نبي بروزي نبي او نور نومونه کښېښوول او په داسې کولو سره يې دنوى نبي دراتللو دپاره لاره هواره کړه ، نو ددغه ذکرسوى

آیت څخه دا معلومه سوه چي دا خلک دجالان اوګمراهان دي ، ځکه چي درسول ﷺ اودصحابه کرامو ﷺ په ایمان کی خو هیڅ ځای دظلي بروزي اونور نبي نوم اونښانه نسته داسی کول زندیقت او دالحاد څخه بغیر بل څه نه دي .

(په آخرت باندی دایمان باطل تاویلونه مردود دي)

دغه رنګه هغه خلک چي دهغوی ذهنونه دمادي اوماديات‌وڅخه ډك دي دعالم غيب او دعالم آخرت شيان کله چي دوی ته دعقل څخه لیری ښکاري نوقسم قسم تاویلونه کوي اوداخيال کوي چي مونږ په داسی کولو سره ددين خدمت کوو او دين پوهی ته نژدی کوو نو دداسی خلګو تاویلونه دبِمِثْلِ مَآ اٰمَنْتُمْ بِهٖ خلاف دي او ددي وجي باطل دي ، دآخرت ټول واقعات اوحالات چي څه رنګه په قرآن کريم او حديث کی راغلی دي په هغوی باندی بغير دڅه تاويل کولو څخه ايمان راوړل اصلي اوحقيقي ايمان دي ، دحشرِ اجساد په ځای حشر روحاني دجسماني ثواب او عذاب په ځای دروحاني عذاب اوثواب تاويلونه کول ټول دالله ﷻ په نزد مردود رد اوباطل دي .

(الله ﷻ دنبي کريم ﷺ دحفاظت ذمه اخيستي ده)

په سَيَكْفِيْكَهُمُ اللّٰهُ ، کی په ډاګه وينا سوي ده چي ته دمخالفينو زيات فکر اوسوچ مه کوه مونږ به پخپله د دوی سره پوه سو او دا خبره داسی ده لکه چي په يو بل آيت کی الله ﷻ فرمايلي دي ، وَاللّٰهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ (ته دمخالفينو فکر مه کوه الله ﷻ په خپله ستاحفاظت به کوي)

(دين او ايمان يو پوخ رنګ دي چي دانسان دمخ څخه ښکاريږي)

صِبْغَةَ اللّٰهِ ددي آيت څخه مخکی په بل آيت کی داسلام ددين نسبت حضرت ابراهيم ؑ ته سوی وو ، مِلَّةَ اِبْرٰهِيْمَ حَنِيْفًا او دلته سيده په سيده ددين نسبت الله ﷻ ته وسو او په دی کی اشاره دې خبرې ته ده چي دين په حقيقت کی دالله ﷻ دي او يو پيغمبر ته که چيری دده نسبت وسي نو هغه نسبت مجازي نسبت دي ، او بيا ددين څخه تعبير په صبغه سره وسو په دی کی دوو خبروته اشاره ده اول دا چي په دی سره دنصاراؤ ديوه رواج ترديد وسو ، هغه داسی چي دنصاراؤ دا عادت وو چي کوم کوچني به پيدا سو نو هغه به يي په اوومه ورځ په رنګ سوو اوبو کی لمبوی او دختني (سنتولو) په ځای به يي په دغه لمبولو سره کوچني پاك ګڼي او دغه رنګ به يي دنصرانيت يوپوخ رنګ ګڼي ، دی آيت دا وښوول چي داوبو دارنګ په مينځلو ختميږي اوتردي وروسته څه نښانه نه پاته کيږي او ورسره دنه سنتولو کومه پليتي چي په جثه (بدن) کی ده هغه په دی رنګ سره نه لیری کيږي ، او اصلي رنګ ددين او ايمان رنګ دی ، چي په دی سره ظاهری اوباطني هر قسم پليتياني لیری کيږي .

دوهم دی خبری ته اشاره ده چي څه رنګه رنګ په سترګو ليدل کيږي نو دغه رنګه ديوه مومن دايمان نښاني دی دهغه دځيری اوکړه وړه څخه ظاهري وي .

قُلْ اَتُحَآجُّوْنَنَا فِى اللّٰهِ وَهُوَ رَبُّنَا وَرَبُّكُمْ ۚ وَلَنَآ اَعْمَالُنَا وَ

ووایه آیا تاسی معارضه کوی مونږ سره د الله په باره کی حال دا دی چی هغه زمونږ رب دی او ستاسی رب دی او

لَكُمْ اَعْمَالُكُمْ ۚ وَنَحْنُ لَهٗ مُخْلِصُوْنَ ﴿۱۳۹﴾ اَمْ تَقُوْلُوْنَ اِنَّ

اوزمونږ دپاره دی زمونږ عملونه اوستاسی دپاره ستاسی عملونه اومونږ خو دهغه مخلصان یو ایا تاسی وایاست

اِبْرٰهٖمَ وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ وَالْاَسْبَاطَ

چی ابراهیم ﷺ او اسماعیل ﷺ او اسحاق ﷺ او یعقوب ﷺ او دده اولاد خو

كَانُوْا هُوْدًا اَوْ نَصٰرٰى ۗ قُلْ ءَاَنْتُمْ اَعْلَمُ اَمِ اللّٰهُ ۗ وَمَنْ

یهودیان وو یا نصاری ووایه چی تاسی ته زیاته پته ده او که الله ته او ترهغه لوی

اَظْلَمُ مِمَّنْ كَتَمَ شَهَادَةً عِنْدَهٗ مِنَ اللّٰهِ ۗ وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ

ظالم څوک دی چی هغه پټوی هغه شاهدی چی ثابته سوی ده هغه ته د الله د طرفه او الله ﷻ بی خبره نه دی

عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۴۰﴾ تِلْكَ اُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ ۚ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُمْ

ستاسی د کارنو څخه ، دا یوه ډله وه چی تیره سوی ده ددی دپاره دی هغه چی دی کړی دی او تاسی

مَّا كَسَبْتُمْ ۚ وَلَا تُسْـَٔلُوْنَ عَمَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۴۱﴾

دپاره دی هغه چی تاسی کړی دی او تاسی څخه به پوښتنه نه وی دهغوی د کارونو .

لنډتفسیر: ته (دی یهودو او نصاراؤ ته) ووایه چی آیا تاسی (اوس هم) زمونږ سره معارضه کوی د الله ﷻ په معامله کی (چی هغه به په قیامت کی مونږ نه بخښی) اوحال دا دی چی هغه زمونږ اوستاسی (د ټولو) رب (او مالك) دی (نو په پاللوکی ستاسی دپاره څه خصوصیت نسته لکه چی څه رنګه دا خصوصیت ستاسی دبعضو دعوو څخه معلومیږی لکه نَحْنُ اَبْنَآءُ اللّٰهِ) او مونږ ته به زمونږ کړل سوی عمل حاصل سی اوتاسی ته به ستاسی کړل سوی عمل (دا خو تاسی هم منی) او (د الله ﷻ شکر دی چی) مونږ یوازی د الله ﷻ (درضا) دپاره خپل (دین د شرك او نورو څخه) پاك کړی دی (په خلاف ستاسی دموجوده طریقی څخه ځکه چی دا په منسوخ کیدو سربیره د شرك سره ګډه ده ، لکه چی دا خبره دلته د

عزیز او ابن الله څخه څرګنده ده نو بیا سره ددې چې مونږ نه خلاصون نه حاصلیږي نو چانه به حاصلیږي، یا اوس هم دخپل ځان دپاره په حق باندې دکیدلو دپاره دا، وایاست چې ابراهیم او اسماعیل اسحاق او یعقوب علیهم السلام او دیعقوب ﷺ په اولاد کې چې کوم پیغمبران تیر سوي دي داټول صاحبان یهود یانصارا وه او په دې خبرې سره چې د دوی طریقه او زمونږ طریقه یوه ده دخپل دحق کیدلو ثبوت ورکوي نو ددې په جواب کې ای محمده ﷺ ، دومره لنډه خبره دوی ته، ووایه چې ښه دا ووایاست چې تاسي زیات خبر یاست او که الله تعالی او دا ظاهره خبره ده چې هم الله پاك زیات اوښه خبر دي او هغه خو داثابته کړې ده چې دا ټول پیغمبران په دین اسلام باندې وه لکه چې دا خبره اوس مخکښې ذکر کړل سوې ده، او الله پاك عالم دي چې دا کافران پوه دي خو پټوي یې، تردا سي چا به ډیر ظالم څوك وي چې هغه دداسي شهادت پټول کړي چې هغه ده ته دالله ﷺ دطرفه رسیدلی وي او ای اهل کتابو، الله ﷺ ستاسي دکړو څخه بې خبره نه دي، کله چې دا خلګ یهود اونصارا نه وه نو تاسي بیاکله ددین په طریقه کې د دوی په شان سوراست ؟ نو ستاسي په حق باندې کیدل ثابت نه سوه، دا دهغه بزرګانو، یوه ډله وه چې په خپله زمانه کې، تیره سوې ده دوی ته به خپل کړه رسیږي اوتاسي ته به خپل کړه رسیږي او ستاسي څخه به د دوی دکړو پوښتنه هم نه کیږي او کله چې ستاسي څخه د دوی دکړو پوښتنه نه کیږي نو دهغوی دکړو څخه تاسي ته څه فائده رسیدل خو ډیره لویه خبره ده.

علوم او مسائل

(دا خلاص حقیقت)

وَنَحْنُ لَهٗ مُخْلِصُوْنَ : په دې کې دامت مسلمه یو خصوصیت دا ښوول سوي دي چې امت مسلمه دالله ﷺ دپاره مخلص دي او داخلاص معنی حضرت سعید بن جبیر ﷫ دا ښوولې ده چې انسان په خپل دین کې مخلص وي او دالله ﷺ سره څوك شریك نه کې او خپل عمل صالح دالله ﷺ دپاره کوي ددې دپاره یې نه کوي چې خلګو ته ښه ښکاره سي یاخلګ دده مدح او صفت وکي او یادده شکر وکي او بعضي بزرګانو دا ویلي دي چې اخلاص یو داسي عمل دي چې هغه نه ملائکې پیژندي سي او نه شیطان ، دا یوازې دبنده او دالله ﷺ په مینځ کې یو راز دي .

تفسیر

معارف القرآن

په قندهاری پښتوکی

(تالیف)

مفتی اعظم پاکستان مولانا محمدشفیع رحمة الله علیه

پښتو ترجمه کوونکي (ابو صدیق احمد .... مولوی نصیراحمد حقّانی)

تصحیح اوسمون... مولوی نصیراحمد (حقّانی) اومولوی آمین الله (حقّانی)

دکمپوز او ترجمي چارې .... الدین العلم کمپوزنگ (۰۳۰۱۳۷۸۴۹۵۶)

پاره (۲)

خپرونکي

مکتبه حنفیه

فون نمبر (۲۶۶۲۵۱۰)

کانسي روډ حاجي غیبي چوک کوټه

چاپ ځای .... لاهور

فهرست تفسیر معارف القرآن

اللهم اختم لنا بالخير والسعادة والبشارة والايمان

سَيَقُوْلُ السُّفَهَاۤءُ مِنَ النَّاسِ مَا وَلّٰىهُمْ عَنْ قِبْلَتِهِمُ الَّتِيْ

اوس به ووايي بی وقوفه خلق چې څه شي واړول مسلمانان دخپلې قبلې څخه چې په هغه

كَانُوْا عَلَيْهَا ۭ قُلْ لِّلّٰهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ ۭ يَهْدِيْ مَنْ يَّشَاۤءُ

باندې دوی وو نو ووايه چې هم دالله پاك دی مشرق او مغرب روانوی چې چاته يې خوښه سی

اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۱۴۲﴾

په سيده لاره .

تفسير: (هركله چې كعبه قبله مقرر سوه او ديهودو قبله پريښودل سوه نو دخفګان دوجې) اوس خو (دا) بې وقوفه خلق ضرور به وايي چې دا (مسلمانان) د دوی (داول ارخ) دقبلې څخه (چې بيت المقدس وو) چې دی طرف ته به دوی مخكې مخ كوی ، څه خبرې (دويم طرف ته) واړول ، ته (په جواب كي) ووايه چې تول طرفونه كه) مشرق (وی) او (كه) مغرب (وي) دالله ﷻ ملك دی (الله ﷻ ته مالكانه اختياردی چې كوم طرف غواړی مقرركوی ، چاته دا حق نه رسيږي ، چې دوجې پوښتنه وكړی او د احكامو شرعيو په حقله هم دغه عقيده درلودل ضروری دی ، ليكن څينو خلقوته دداسي عقيدې لرلوتوفيق نه وی وركړل سوی ، نوهغوی وجې لټوی (البته) چاته چې الله ﷻ (په خپل فضل سره) وغواړی (دا) سيده لاره ورته ښيي .

علوم اومسائل : په دې آيت كې دقبلې په بدليدوباندې دمخالفينواعتراض نقل كړل سوی دی او بيادد جواب وركړل سوی دی ، ددی اعتراض اوجواب څخه مخكې په جواب باندې دپوهيدلو دپاره دقبلې حقيقت او ددې لنډ غوندی تاريخ واوری .

دقبلې لفظي معنی ده ، دمخ كولو ارخ ، او دا ظاهره خبره ده چې دمومن دمخ دپاره ارخ په هرعبادت كې دبو الله لاشريک له طرف ته وی او دالله ﷻ ذات دمشرق او مغرب شمال او جنوب دپابنديو او ارخونو څخه لوړ اوپاک دی دهغه ذات په څه خاص طرف كې نه دی ، ددی حقيقت طبعي اثرخودا وو ، چې يوعبادت كونكی څه خاص ارخ ته دمخ كولو پابندنه وی ، چې كوم طرف ته يې زړه غوښتلای ، په لمانځه كې هغه طرف ته يې مخ كولای .

ليكن دالله ﷻ يوبل حكمت دا وغوښتله ، چې دټولو عبادت كوونكومخ يو طرف ته دی وی او دا حكمت دا دی چې دعبادت ډيرقسمونه دی ، بعضی داسی عبادتونه دی چې سرې يې يوازی كوی اوځينی داسی دی چې سرې يې يوازی نه كوی ، بلكه دنورو په ملګرتيايی كوی ، دالله ﷻ ذكر او روژه هغه عبادتونه دی چې سرې يې دبل دملګرتيا څخه بغيراوپه پټه كولای سي ، لمونځ اوحج داسی عبادتونه دی چې دا په ملګرتيااوپه ډاګه كولای سي په دی كې دعبادت سره سره مسلمانانوته په ګډه دژوند كولو آداب ښودل ، هم مقصود دی او دا هم بالكل ظاهره ده چې په ګډه دژوند تيرولو(اجتماعی) نظام دپاره دټولو څخه لوی بنيادی اصل دا دی چې ډيرو افرادو كی وحدت او يووالی وی ، او دا يو والی چې څومره مضبوط وی ،

«دومره اجتماعي نظام مضبوط وي ، يوازې والي (انفراديت) داجتماعي نظام دپاره زهرقاتل دي بيا د وحدت (يو والي) دنقطې دمعين کولودپاره په هره پيړۍ اوزمانه کې خلقومختلفې لارې نيولې دي چاد نسل اونسب لاره نيولې ده، چادوطن اودجغرافيې لاره ديووالي دپاره غوره کړې ده اوچادرنګ اوژبې.

ليکن دالله ﷻ دين اودپيغمبرانوشريعتونودغه غيراختياري شيان ديووالي دپاره دمرکزکيدلو قابل ونه ګڼل اوداشيان په اصل کې داسې شيان نه دي چې دانسان ټول افرادپه يوه نقطه باندې راغونډکړي بلکه که چيرې غوروکړل سي نوداداسې شيان دي چې دانسان افرادوکې دتقسيم اوداختلافاتواسباب ګرځي.

داسلام دين چې په حقيقت کې دټولو پيغمبرانو دين دی ، ديو والي دپاره اصل مرکزدفکر خيال اوعقيدې ديو والي مرکز وګرځوی اودنياته يې ديوذات حق الله ﷻ دعبادت کولو دعوت ورکی ، اوپه داسې کولو سره يې دکروړونو ناحقوخدايانو په عبادت سره تقسيم سوی دنيارا غونډه کړه ، دداسې الله عبادت او اطاعت کولوته يې دعوت ورکی ، چې په دې سره دمشرق اومغرب دماضي اومستقبل ټول انساني افراد را غونډيدای سي ، بيادغه حقيقي فکري اونظري يووالي دمضبوطيااوعملي شکل دپاره څه ظاهري وحدتونه هم مقررکړل سو او په دغه ظاهري وحدتونو کې هم ددې اصل لحاظ وکړل سو چې دا دې هم عملي او اختياري وي چې دانسان ټول افرادېې اختيار کړي او د ورورولۍ په رشته کې اخته سي نسب،نسل،رنګ ، ژبه او وطن اختياري شيان دي ، يو سړی چې په کوم خاندان کې پيداسوی وي ، هغه هيڅ کله په بل خاندان کې پيداکيدای نه سي،کوم سړی چې په پاکستان کې پيداسی هغه په انګلستان يا افريقه کې پيداکيدای نه سی اوکوم سړی چې توردی هغه په خپل اختيارسره غنم رنګ کيدلی نه سي.

اوس که چيرې دغه شيان دوحدت دپاره مرکزمقررکړل سي ، نو دانسانيت په سوونو بلکه په زرګونو ټکرو او ډلوکې دويش څخه تيښته ممکنه نه ده نو په دې وجه دين اسلام دغه شيان چې دې سره تمدني مفادترلې سوي دي،ددوی يې پوره احترام کړی دی،خودايې دانسان دپاره دوحدت مرکزمقررکړی نه دی اودغه ظاهري وحدتونه چې دفکري اونظري وحدت مضبوطيادپاره مقررکړل سوي دي په دوی کې ددې خبرې پوره پوره لحاظ کړل سوي دی چې دا دې داسې آسان وي ، چې نر او ښځه ، لوستي ، نالوستي ، ښاري اوکليوال باندېسې امير اوغريب ټول يې کولای سي ، دغه وجه ده چې په اسلامي شريعت کې ددنياټول خلق دپوشاک ، استوګنې ، خوراک څښاک ديوې طريقې پابندکړل سوي نه دي ، ځکه دهريوځای دموسم اودمختلفوطبائعو ضرورتونه مختلف وي ، نو که چيرې ټول ديوشاني لباس (شعار) پابندکړل سي نو ډيرمشکلات به پيدا سي.

دغه وجه ده چې په اسلامي شريعت کې مسلمانانودپاره يوشعار(لباس) مقررکړل سوی نه دی په مختلفو قومونوکې چې کومې طريقې دلباس رواج دي په هغوی ټولوباندې يې نظر اچولی دی، په دوی کې چې کوم صورتونه دبې ځايه اسراف او دفخر اويادېوغيرمسلم قوم دپيښنو کولوؤ، صرف هغه يې منع کړي دي اوپه پاته شيانوکې يې هر يوسړي اوقوم آزاد اوخود مختاره پريښی دی ، او دوحدت مرکز يې داسې شيان مقررکړي دي چې اختياري هم وي او آسان او ارزان هم ، لکه دامامتې په لمانځه کې صفونه ترل ديو امام دحرکاتوپابندې کول په حج کې دلباس اودځای يو والي .

هم دغه رنګ يو اهم شي دقبلې دارخ يو والى هم دى ، الله ﷻ كه څه هم دهر اړخ او طرف څخه پاک دى، دده دپاره ښپږ سره طرفونه برابردى، ليکن په لمانځه کي داجتماعى صورت دپيدا کولودپاره او دوحدت دپيدا کولو دپاره ، يوبهترينه آسانه اوبى قيمته ذريعه دوحدت دا ده چى دټولى دنيادبنياد لمونځ دى يو طرف او اړخ ته سي ، اوس دا اړخ او طرف دى کوم وى چى ورته دټولى دنيامخ وګرځول سي ، كه چيري ددى فيصله په انسانانو باندي پرېښودل سي ، نو دا به يولوى سبب داختلاف او دجنګ سي ، نو په دى وجه دا ضروري سوه چى ددې مقرر تيادى دالله ﷻ دطرف څخه وى ، حضرت آدم ﷺ چى دنياته را کښته سو نو دى څخه مخکې دملائکو په ذريعه دبيت الله بنياد اېښودل سوي وو ، نو حضرت آدم ﷺ او دهغه د اولاددټولو څخه اوله قبله دغه بيت الله مقرر کړل سوه ، ارشاد دى .

إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ مُبَارَكًا وَهُدًى لِلْعَالَمِينَ (٩٦)

دټولوڅخه اول کور ، چى خلقو دپاره جوړ کړل سو ، هغه کور دى ، چى په مکه کي دى او دبرکت والا ، او ددنيادخلقو دپاره دهدايت والا کور دى .

ترحضرت نوح ﷺ پورى دټولو قبله دغه بيت الله وه ، دطوفان نوح ﷺ په وخت کي ټوله دنياغرقه اوتباه سوه ، دبيت الله آبادى هم خرابه سوه ، او دى څخه وروسته حضرت خليل الله ابراهيم ﷺ دالله ﷻ په حکم بيرته بيت الله جوړه کړه ، او دا دده او دده دامت قبله سوه ، ده څخه وروسته دبنى اسرائلودپيغمبرانو دپاره بيت المقدس قبله مقرر کړل سوه ، او دا دابو العاليه په قول مخکنيو پيغمبرانو چى به بيت المقدس کي لمونځ کوى ، نو داسي کاربه يى کوى ، چى صخره بيت المقدس اوبيت الله يى دواړه مخ ته راسي (قرطبى) جـ ۲ صـ ۱۵۱ .

په حضرت خاتم الانبيا ﷺ چى كله لمونځ فرض کړل سو نو دځينى عالمانو په قول اول دده قبله ، دده دنيکه قبله بيت الله مقرر کړل سوه ، دمکى مکرمى څخه دهجرت کولو څخه وروسته او په مدينه منوره کي دقيام کولو څخه وروسته اوځنى رواياتوکي مدينى ته دهجرت کولو څخه يوڅوورځى مخکې ، دوى ته ﷺ دالله ﷻ دطرفه دا حکم وسو ، چى ته بيت المقدس ته په لمانځه کولو کي مخ کوه ، دصحيح بخارى د روايت مطابق رسول الله ﷺ شپاړس (۱۲) اولس (۱۷) مياشتى لمونځ دبيت المقدس په طرف کړى دى ، جـ ۲ صـ ۱۵۰ ، په مسجدنبوى ﷺ کي اوس هم هغه نښى سته ، چيرى چى به رسول الله ﷺ ودريدى اودبيت المقدس په طرف به يى لمونځ کوى ز

رسول الله ﷺ دحکم خداوندى دتعمل کولو يو ژوندى نمونه وه او دحکم خداوندى په مطابق دبيت المقدس په طرف به يى لمونځ کوى ، ليکن دده دطبيعت او دزړه آرزو دا وه چى دده قبله دى بياهغه قبله سي چى کومه د آدم ﷺ او دابراهيم ﷺ قبله وه اوعادة الله هم دا دى چى هغه دخپل مقبول بندګانو مراد اوخواهش پوره کوى .

تو چنان خواهی خدا خواهد چنين

می دهد يزدان مراد متقين

نودغه وجه وه چى درسول الله ﷺ دا اميدوو ، چى دده آرزو به الله ﷻ پوره کړى نو په دى وجه دوحى په

انتظار کي به دوی ﷺ بیا بیا دآسمان په طرف کتل چې بیان یې دقرآن شریف په دې آیت کي دی .

قَدْ نَرَىٰ تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَاءِ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضَاهَا فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ.

مونږ وینو ستا بیابیاآسمان طرف ته کتل ، نو مونږ ستاقبله هغه جوړه وو چې کومه ته ښه کوی ، په دې وجه بیا دپاره په لمانځه کي خپل مخ دمسجد حرام په لوری کوه .

په لمانځه کي بیت الله طرف ته په مخ کولو کي یو فقهي مسئله

دلته دایوفقهی نکته ذکرکول ضروری دی ، هغه دا چې په آیت کی دکعبی یادبیت الله په ځای دمسجدحرام لفظ ذکر سوی دی ، په دې کي دې خبری ته اشاره ده چې دلرو پرتو ځایونو وسیدونکو دپاره داغ ضروری نه ده چې خاص بیت الله ته مخ کړی، دوی دپاره دا ضروری دی ، چې دبیت الله په طرف په لمانځه کي خپل مخ کړی اوکوم سړی چې په مسجدحرام کي وی ، یاپه داسي یو نږدی ځای (غږ) باندی وی چې دی هغه بیت الله په سترګو وینی ، نو دداسي سړی دپاره خاص بیت الله ته مخ کول ضروري اولازمی دی ، په دې صورت کي که چیري دده مخ دبیت الله یوی حصی ته ونه سي نودده لمونځ نه کیږي ، ماسوا دهغه خلقو چې دهغوی نظرپه بیت الله نه لګی نوداسي خلقودپاره په لمانځه کي صرف دبیت الله په اړخ مخ کول کافی دی .

په هرحال مدینې منورې ته هجرت کولو څخه شپاړس اولس میاشتی وروسته دمسلمانانو قبله بیت الله مقررکړل سوه ، نو په دې باندی یهودو ځینی مشرکانو اومنافقانو دا اعتراض کول شروع کی ، چې دمسلمانانو دین په یوخبری ټینګ نه خوری د دوی قبله هم ورځ په ورځ بدلیږي را بدلیږي .

قرآن شریف د دوی دغه اعتراض په مخکي ذکر سوی آیت نقل کی ، لیکن ورسره دومره خبره زیاته کړه چې بیوفان خلق دا اعتراض کوی ، او د دوی داعتراض چې کوم جواب ورکړل سوی دی نوله دی څخه د دوی بیوقوفی په ډاګه کیږي .

قُلْ لِلَّهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ إِلَىٰ صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ (۱۴۲)

ته ووایه چې خاص الله دپاره دی مشرق اومغرب هغه چې چاته وغواړی نو په سیده لاره یې روان کړی .

په دې آیت کی خانه کعبی ته دمخ کولوحقیقت واضح کړل سوی دی چې دکعبی اوبیت المقدس دپاره په مخ کولو کي څه خاصیت نسته صرف دایوحکم ربانی دی چې دوی ته یې مخ کول مقررکړی دی ، هغه که چیري داوغواړی نوله دی دوڅخه سوا یودرهم یاځلورم شي هم قبله کولی سي بیاچې کوم شي یې قبله کړی ده نوهغه ته په مخ کولوکي چې کوم فضیلت اوثواب دی نوددې لب لباب بس دحکم ربانی داطاعت څخه سوا بل څه نه دی ، او دحکم ربانی اطاعت هغه شي دی چې هغه دکعبی دجوړوونکی حضرت ابراهیم ﷺ دملت بنیادی اصل دی ، او دا خبره په بل آیت کي نوره هم ښه واضحه کړه ده ، فرمایی .

لَيْسَ الْبِرَّ أَنْ تُوَلُّوا وُجُوهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلَٰكِنَّ الْبِرَّ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ .

(په دې کار کی څه خپله نیکي اوثواب نسته چې تاسومشرق ته مخ کړی یامغرب ته ، لیکن په دې کی سته چې تاسو په الله باندی ایمان را وړی او دالله اطاعت وکړی)

اوپه بل آیت کي فرمایی

فَأَيْنَمَا تُوَلُّوا فَثَمَّ وَجْهُ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ : الابقره ۱۷۷

(تاسو چې دالله حکم برابر چیري مخ کوی ، نو دالله توجه به په دغه طرف کي بیاپیداکړی)

ددی آیاتونو څخه داخبره واضحه سوه ، چې مقرر سوی قبلې ته په مخ کولوکي چې کوم فضیلت اوثواب دی ، دا ددغه مقرر سوی قبلې خپل څه خصوصیت نه دی بلکه دا یو حکم رباني دی او په حکم رباني سره په دغه مقرر سوی قبلې کي دغه فضیلت پیداسوی دی اوشایددرسول الله ﷺ دقبلې په بدلیدو رابدلیدو کي دغه حکمت وو ، چې عملی طورسره خلقو ته دا واضحه کړل سي ، چې قبله څه یو بت نه دی چې عبادت یې وکړل سي ، بلکه اصل شي دخدای حکم دی ، حکم دبیت المقدس دپاره چې راغی نو په دی باندی عمل وکړل سو او بیاچې دکعبې دپاره راغی ، نو کعبې ته مخ کول عبادت کړل سو .

اودا خبره ددې آیت څخه په ډاګه معلومیږي .

وَمَا جَعَلْنَا الْقِبْلَةَ الَّتِي كُنتَ عَلَيْهَا إِلَّا لِنَعْلَمَ مَن يَتَّبِعُ الرَّسُولَ مِمَّن يَنقَلِبُ عَلَىٰ عَقِبَيْهِ .

(کومې قبلې ته چې تا مخکې مخ کوی هغه قبله جوړول صرف ددې وجې وه ، چې دا خبره څرګنده سي چې څوک د رسول الله ﷺ تابعداری کوی اوڅوک په شا ګرځی (یعنی تابعداری پریږدی)

په دی بیان سره چې په دی کي دقبلې حقیقت واضح سو ، ددغو بې وقوفومخالفو پوره جواب هم وکړل سو کوموچې په قبله کي بدلون رابدلون داسلام داصولوسره منافی ګڼی ،اومسلمانانوته یې پرې طعنې ورکولای ، په آخرکي فرمایی ، يَهْدِي مَن يَشَاءُ إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ (۲۱۳) په دی کی دا ښئی چې سیده لاره هغه ده چې انسان دالله ﷻ حکم منلوته ملا تړلی منتظروی ، چې کوم حکم ورته ورکړل سي په دی باندی بغیردڅه چون چرا څخه عمل کوی ، او دا سیده لاره دخدای ﷻ په فضل مسلمانانو ته حاصله سوي ده .

دامام احمد په مسند کي دحضرت عائشه ؓ په روایت کي ذکر دی چې رسول الله ﷺ فرمایلی دی چې اهل کتاب مسلمانانو سره په درو خبروکي ډیرحسد کوی ، یو دا چې شنبه کي دیوی ورځی خاص کولو حکم دعبادت دپاره ټولو امتونو ته سوی وو ، یهودو دخالی ورځ غوره کړه ، نصاراؤ دیکشنبې اوپه حقیقت کي دغه ورځ چې دعبادت دپاره دهغې دخاص کولوحکم سوی وو ، دجمعې ورځ وه او دا دمسلمانانو په انتخاب کي راغله ، دویمه هغه قبله چې دبدلیدوڅخه وروسته مسلمانانو دپاره مقرر کړل سوه چې بل یو امت ته ددی توفیق نه وو ورکړل سوي ، دریم دامام څخه وروسته آمین ویل ، دا دری شیان داسي دی چې یوازی مسلمانانو ته ورکړل سوي دي او اهل کتاب ورڅخه محرومه دی .

وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِّتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ

او دغه ډول وګرځولاست مونږ تاسي امت معتدل ددې دپاره چې سی تاسی شاهدان په خلقو باندی اوسی

الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا ۗ

رسول په تاسی باندی شاهدی کوونکی .

لنډتفسیر: او(ای دمحمد ﷺ تابعداری کوونکو) دغه شان مونږ تاسوڅخه یو داسي ډله جوړه کړی ده چې

(هر لحاظ سره) ډیرمعتدله ده ، دی دپاره چی (ددنیوی شرافت او امتیاز څخه پرته په آخرت کي هم ستاسو لوی او ډیرشرافت ظاهر سي چی) تاسی (په یوه لویه مقدمه کي چی په دی کي به یو فریق نبیان علیهم السلام وی ، اوبل فریق به د دوی مخالفت کوونکی وی) ددغه (مخالف) خلقوپه مقابله کي شاهدان یاست او (دشرافت دسربیره شرافت دا سو چی ستاسی دشهادت قبلولو اومعتبر گرځولو دپاره) رسول الله ﷺ به شاهد وی (او دده په شهادت سره به ستاسی دشهادت دمعتبر گرځیدو تصدیق وی او بیابه ستاسوپه شهادت سره ددی مقدمی اوجگړی فیصله دنبیانو علیهم السلام په حق کي کیږي اومخالف به مجرم کیږي اوسزا به ورته ورکول کیږي)

(علوم او مسائل : دامت محمدی ﷺ خاص اعتدال)

لفظ وسط دسین په زور سره دا وسط په معنی دی غوره شیانو ته په عربی ژبه کي وسط ویل کیږي .
په ترمذی کي د ابوسعید خدری ﷺ په روایت رسول الله ﷺ دوسط تفسیر په عدل سره کړی دی چی ددې معنی (بهترین) ده (قرطبی (ج ۲ صـ ۱۵۳
په دی آیت کي دامت محمدی دامتیازی فضیلت اوخصوصیت ذکر دی ، هغه دا چی دا امت یو معتدل امت دی ، په آیت کي دا وښودل سوه چی څه رنگ مونږ مسلمانانو ته هغه قبله ورکړه چی دټولوڅخه افضله اواشرفه ده دغه ډول مونږ امت محمدته یوخاص امتیازی فضیلت ورکړی دی چی دا مونږ یومعتدل امت جوړکړی دی ، چی ددې اثربه دا وی چی میدان حشرکی هرکله چی دټولو نبیانو امتیان دخپلو نبیانو دتبلیغ څخه منکر سي او دا ووایی چی مونږ ته نه څه کتاب را غلی اونه څه نبی مونږ ته هدایت وکی ، نو په دغه وخت کی به امت محمدی دنبیانو دطرفه شاهد په توگه را مخته سي او دا شاهدی به ورکړی ، چی پیغمبرانو په هره زمانه کي دوی ته دالله ﷻ له طرفه را وړل سوی هدایت رسولی دی او خپل ښه کوشش یی کړی دی چی دوی په سیده لاره راولی ، دپیغمبرانو دغه امتیان به دامت محمدی په شاهدی باندی داجرح وکړی ، چی دا امت محمدی خوزمونږ په زمانه کی نه وو ، نو دوی ته زمونږ دمعاملوڅه علم دی ، د دوی شاهدی زمونږ پخه حقله څنگه قبلیدا ای سي .
امت محمدی به ددې جرح جواب داسي وکړی چی هو ! مونږ خو په دغه وخت کی موجودنه وو ، لیکن د دوی دحالاتو او واقعاتو خبر مونږ ته یو ریښتونی پیغمبر اودالله ﷻ کتاب را کړی وو ، چی په دی باندی زمونږ ایمان دی او دا خبر مونږ دومره صحیح اوریښتیاگنو څنگه چی یو شي مونږ په خپلو سترگو گورو او وینو ، بلکه لا ، ددې څخه زیات نو په دی وجه مونږ په خپلی شاهدی کي حق بجانب اوریښتونی یو ، په دغه به رسول الله ﷺ را مخته سي او ددغه شاهدانو صفایې به وکړی چی بیشکه دوی چی څه ویلی دی صحیح دی ، دالله ﷻ دکتاب اوزمادتعلیم په ذریعه دوی ته صحیح حلات او واقعات معلوم سوي دي .
دمحشر ددی واقعی تفصیل په صحیح بخاری ، ترمذی ، نسائی او مسند امام احمد بی شمیره حدیثونو کی ذکر دی ، لنډه دا چی په بیان کړل سوي آیت دامت محمدیه داعلی فضیلت اوشرف راز دا ښودل سوي دي چی دا امت معتدل امت جوړ کړل سوي دي ، دی دپاره دلته یوڅو خبری قابل غور دی .

(داعتدال امت حقیقت اهمیت او ددې تفصیل)

(۱) داعتدال معنی اوحقیقت څه شي دی ؟ (۲) داعتدال صفت ته دا اهمیت ولی حاصل دی چی دا یې دفضیلت دپاره مدار گرځولی دی ؟ (۳) دامت محمدی دمعتدل کیدلو دواقعاتو په ترڅ کی څه ثبوت دی ؟ ددې دری سره سوالونو جوابونه بالترتیب دا دی .

(۱) داعتدال لفظی معنی ده برابر کیدل ، دالفظ دعدل څخه وتلی دی او دعدل معنی هم برابر کول دی .

(۲) دا خبره چی اعتدال دومره اهمیت لری چی دا دانسانانو دشرف اوفضیلت معیار گرځول سوي دي ، لږ قدر تفصیل غواړی ، دی څخه مخکې یومحسوس مثال ته وگوری ، ددنیاچی څومره طریقی دانسانانو دبدن دصحت ساتلو دپاره که په طب یونانی کي دی یا ویدک کی دی یاایلو پیتهک کي دي یاهومیو پیتهک کي دی ، دټولوپه دی اتفاق دی ، چی دانسان دبدن صحت دمزاج په اعتدال باندی ولاړ دی او چیری چی په دی اعتدال کي دیو اړخ څخه خلل را سي ، نو هغه دانسان دبدن دمریض کیدلو سبب گرځی ، اوخصوصادیونانی طب بنیادی اصل خو دمزاج په پیژندلوباندی اډانړه دی ، په یونانی طب کي دي ، چی دانسان بدن دڅلورو خلطو ، وینه ، بلغم ، سودا ء ، اوصفرا ء څخه مرکب دی ، او ددې څلورو خلطو چی کوم څلورکیفیتونه پیدا کیږي ، هغه دانسان دبدن دپاره ضروري دی ، هغه څلور کیفیتونه گرمی ، یخ ، وچوالی او لوندوالی دی ، ترڅو پوری چی دا څلورکیفیتونه دانسان دمزاج په معتدل حالت کي وي ، نو دانسان بدن سالم وی ، اوکوم وخت چی په دوی کي یو کیفیت دانسان دمزاج دحدڅخه ووزی یا کم سي ، نو بدن ناجوړه سي او که چیري ددې اصلاح اوعلاج ونه کړل سي ، نو بیا دا مرض دمرگ سبب وگرځی .

ددې محسوس مثال څخه وروسته اوس روحانیاتو اواخلاقیاتوته راسي نو تاسوته به معلومه سي چی په دوی کي هم داعتدال اوبی اعتدالی دغه طریقه جاری ده ، داعتدال نوم روحانی تندرستی او دبی اعتدالی نوم روحانی او اخلاقی مرض دی ، اوکه چیری د دوی دبی اعتدالی اومرض علاع ونه کړل سي ، نو ددې نتیجه بیا روحانی مرگ دی او دا هم یو صاحب بصیرت انسان څخه پټه خبره نه ده ، چی انسان په کوم جوهر سره دټولو مخلوقاتوحاکم گرځول سو ی دی ، هغه دهغه دبدن یا دبدن خلاط یا داخلاطوڅخه پیدا سوی کیفیتونه نه دی ، څکه چی دا اجزا ء اخلاط اوکفیات ددنیا په ټولوحیوانانوکي هم سته ، بلکه دانسان څخه دا په نورو حیوانانو کي ډیر دی .

دغه جوهرهرڅه بل شي دی چی په انسان کي په مکمل طریقه سره موجود دی ، په نورومخلوقاتوکي دغه جوهرپه دغه درجه کي نسته ، او ددغه جوهر متعین کول اومعلومول یونازک اومشکل کارنه دی ، دغه جوهر دانسان روحانی اواخلاقی کمال دی ، مولانا رومی رحمه الله څه ښه فرمایلی دی .

آدمیت لحم و پوست نیست .... آدمیت جز رضائے دوست نیست

اوهم په دی وجه هغه انسان چی دخپل شرافت اوفضیلت دجوهر بی قدری وکړی او دا ضائع کړی دهغه په باره کي یې وفرمایل .

اینکه می بینی خلاف آدم اند .... نیستندآدم غلاف آدم اند

اوهرکله چي دا معلومه سوه چي دانسان دشرافت اوفضیلت مدار دانسان روحانی داخلاقی کمالات دی اوداخکي معلومه سوي ده چي دانسان دبدن په ډول دانسان په روح کي هم اعتدال اوبی اعتدال راځی اوځنګه چي دانسان دبدن صحت او تندرستی دده دمزاج او اخلاطو په اعتدال کي ده نوهم دغه رنګ دده دروح صحت اوتندرستی دروح اوداخلاقوپه اعتدال کي ده په دی وجه انسان کامل هغه سړی کیدای سی چي هغه کي بدنی تندرستیاسره روحانی تندرستیا هم وی ، دا کمال تولو پیغمبرانو ته په خصوصیت سره ورکړل سوي دي ، او زموږ پیغمبر محمد ﷺ ته دنورو پیغمبرانو څخه دا کمال ډیر ورکړل سوي وو ، نو په دی وجه دانسان کامل اول مصداق رسول الله ﷺ دی اوچی څه رنګ الله ﷻ دجسمانی علاج معالجه دپاره په هره زمانه کي اوپه هرځای کي دطبیبانو اوډاکترانو انتظام کړی دی نو دغه ډول یې دروحانی علاج دپاره په خلقوکي داخلاقوداعتدال دپاره پیغمبران رالیږلي دی اوآسمانی هدایات یی را لیږلی دی ، او دضرورت مطابق یې ورته مادی طاقتونه ورکړی دی ، چی دده په ذریعه دوی په دنیا کي داعتدال دا قانون نافذکړی دغه مضمون قرآن شریف په سورة حدید کي دا رنګ بیان کړی دی .

لَقَدْ اَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَاَنْزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتَابَ وَالْمِيزَانَ لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ وَاَنْزَلْنَا الْحَدِيدَ فِيهِ بَأْسٌ شَدِيدٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ .

(موږ خپلوپیغمبرانو ته نښی ورکړی او دوی مو ولیږل اونازل مو کړل دوی سره کتاب اوتله ، دی دپاره چی خلق په عدل او انصاف باندی ټینګ پاته سي او موږ نازله کړه وسپنه په دی کي سخت جنګ دی او دخلقو کار هم پری روان دی)

په دې آیت کي دپیغمبرانو دلیږلو او په دوی باندی دکتابونو دنازلولو هم دغه حکمت بیان کړل سوي دي ، چي الله ﷻ د دوی په ذریعه اخلاقی اوعملی اعتدال پیدا کوی ، کتاب یې داخلاقو او روحانی اعتدال دپاره اوتله یې په لین دین کي اعتدال دپاره نازله کړي ده ، او دا هم ممکنه ده چی دتلی څخه مراد دهر پیغمبر شریعت وی چی هغه دحقیقی اعتدال معلومولوذریعه ده او اعدل او انصاف په دی سره قائمیږي ، ددې تفصیل څخه به تاسی ته معلومه سوي وی چی دټولو پیغمبرانو استول اوپه دوی باندی کتابونه نازلول ددې غرض دپاره دی ، چی دخلقو په اخلاقو او اعمالو(کارونو) کي اعتدال را سي ، چی دا دخلقو صحت مندی او تندرستی ده .

(په امت محمد کي دهرقسم اعتدال)

په ذکر سوي آیت کي دامت محمدیه ﷺ فضیلت صرف په (امةً وسطا) سره بیان سوي دي خوکه چیري سړی په دی تکی غور او فکر وکړی ، نو دا یو داسي لفظ دی چی په دنیاکي څومره کمالات په یو سړی یایوقوم کي را تلای سي ، هغه ټول په دغه یوتکی کي را جمع سوي دي .

په دی لفظ کي امت محمدیه ﷺ په امت معتدل بلل ، دا ښودنه کوی چی انسان دشرافت اوفضیلت جوهرپه دی امت کي په کاملی درجی سره موجود دی اوچی دکوم غرض دپاره ددې آسمان اومځکی نظام جوړسوي دي اوچی دکوم غرض دپاره پیغمبران اوکتابونه رالیږل سوي دي، نودا امت په دی غرض

کي دنوروټولو امتونو څخه ممتاز اوغوره دی.
قرآن شریف ددې امت ددغه خاص صفت دفضیلت په مختلفو آیاتونو کي په مختلفو عنوانو سره بیان کړی دی، دسورة اعراف په آخرکي دامت محمدیه په صفت کي ارشاد دی.
وَمِمَّنْ خَلَقْنَا أُمَّةٌ يَهْدُونَ بِالْحَقِّ وَبِهِ يَعْدِلُونَ (۱۸۱). په هغه خلقوکي چي مونږ پیداکړی دی یو داسي امت دی چي صفااو دحق لاره ښئي او دوی موافق انصاف کوی.
په دی آیت کي دامت محمدیه داخلاقی او روحانی اعتدال وضاحت کړل سوي دي چي دوی خپل ذاتی مفادات اوخواهشات پریږدی او دآسمانی هدایت مطابق په خپله عمل کوی اونوروته په دی باندی دعمل کولو بلنه ورکوی اوکه چیري په څه کارکي یې اختلاف اوجګړه پیدا سي، نو ددې فیصله ددغه آسماني قانون په ذریعه کوی.
اوپه سورة آل عمران کي د امت محمدیه ددغه اعتدال اثرات په دی الفاظو کي بیان کړل سوي دي.
كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللهِ
(تاسی په ټولو امتونوکي غوره یاست اودنیاته (خلقوته) لیږل سوي یاست، حکم کوی دښوکارونو اومنع کوی دبدوکارونوڅخه اوالله ﷻ باندی ایمان راوړی)
یعني چي ښنګه دوی ﷺ ته په ټولو پیغمبرانوکي غوره پیغمبر اوپه ټولوکتابونوکي جامع اوکامل کتاب ورکړل سوي دي، هم دغه رنګ دوی ته دقومونو صحتمندانه مزاج اواعتدال په داسی اندازی سره ورکړل سوي دي چي دوی دټولو قومونو او امتونوڅخه غوره امت ګرځول سوي دي، په دوی باندی دعملونو دروازی خلاصی سوي دي، دایمان تقوی اوعمل ټولی څانګی د دوی دقربانو څخه ښیرازی اوشنی به وی او دوی به په یوخاص ملک او وطن پوری تړلی نه وی، بلکه د دوی دعمل دا ثره به په ټوله دنیااو انسانانو په ټولو اړخونو خوره وی، د دوی وجود به هم دی دپاره وی، چي دنورو ښیګړه دی په دوی وی اوڅه رنګ چي ممکنه وی دوی دجنت په دروازو باندی ودروی، په أُخْرِجَتْ للناس کي دی ته اشاره ده چي دا امت دنورو دخیرخواهی اوفائدی دپاره پیداکړل سوي دي، او د دوی فرض منصبی اوقومی ښنه دا ده چي خلقو ته دښو کارونو هدایت وکړی او دبدو کارونو څخه یې منع کړی.
په یوحدیث کي رسول الله ﷺ فرمایلی دی چي (الدین النصیحة) (ددې مطلب هم دا دی چي دین ددې خبری نوم دی، چي دټولوخیرخواهی وکړل سي، بیاپه بدوکارونو کي کفر، شرک، بدعتونه، بدرسمونه فسق اوفجور اودهرقسمه بد اخلاقیاني شاملی دی، او ددې څخه منع کول، کله په ژبه، کله په لاس، کله په قلم، او کله په توره کیږي، مطلب دا چي په دی کي دهرقسمه جهاد داخل سو او دا صفت چي په څومره اهتمام اوعام والی سره په امت محمدیه ﷺ کي پیدا سوی دی، په اولو امتونو کي نه دی پیدا سوي.
(۳) داخبره چي ددې امت اعتدال اومیانه روی، دواقعاتو څخه ثابت کړل سي نوداخبره لږ وړده ده او دې خبری ته بنده ده، چي دنورو ټولو امتونو عقیدو عملونو اواخلاقی کارونو سره ددې امت دعقیدو عملونواو اخلاقی کارونو موازنه او مقابله وکړل سي، په دې لړ کي یوڅوشیان دمثال په طور ذکر کوم.

اعتقادي اعتدال : دټولو ځخه اول اعتقادي او نظري اعتدال واخلي نو اولو امتونوکي به يو اړخ ته دا ښكاره سي ، چي دوی دالله ﷻ پيغمبران دالله ﷻ زامن ګڼړل او د دوی عبادت يې کوی .

وَقَالَتِ الْيَهُودُ عُزَيْرٌ ابْنُ اللَّهِ وَقَالَتِ النَّصَارَى الْمَسِيحُ ابْنُ اللَّهِ : اوبل اړخ ته ددغه امتونو افراد داسي وو ، چي دپيغمبر دمعجزو ليدلو باوجود کله چي به پيغمبر دوی ته دځه جنګ او جهاد کولو ويناکوله ، نو دوی به ويل . فَاذْهَبْ اَنْتَ وَرَبُّکَ فَقَاتِلاَ ٓ اِنَّاهٰهُنَاقَاعِدُوْنَ : ته اوستاپروردګار دی ولاړسي او ددښمنانوسره دې جنګ وکی ، مونږ خو به دلته ناست يو .

په خلاف دامت محمديه چي دی په هر وخت او زمانه کي دځپل پيغمبر سره داسي محبت لری چي په هغه باندي ځپل ځان ، اولاد اومال قربانوی .

اوبل طرف ته دومره په اعتدال کي دی چي پيغمبر لره پيغمبر اوخدای لره خدای ګڼی او رسول الله ﷺ سره ددې ټولو کمالونو اوفضيلتونو دخدای بنده اوپيغمبرګڼی ، دوی دده په مدح اوصفت کي هغه پيمانه اختيار وی کومه چي دقصيدی بردی والااختيار کړی ده .

﴿دَعْ مَا ادعَتْهُ النصَارى فِي نَبِيهِم ﴾ ﴿ وَاحكُم بِمَاشِئتَ مَدحًافِيهِ وَاحتَكِم ﴾

هغه دکفرکلمه پرېږده کومه چي نصاراؤ دځپل پيغمبر په حقله اختيار کړی ده (چي معاذالله دی دخدای زوی دی) ددې ځخه سوا چي ځه درسول الله ﷺ په صفت کي وايې هغه ټول تيک اودرست دی .

ددې خلاصه چاپه يو مصرع کي داسي بيان کړي ده .

﴿بعد ازخدا بزرگ توئی قصه مختصر﴾

﴿په عمل او عبادت کي اعتدال ﴾

ددې ځخه وروسته عمل اوعبادت ته راسي ، په دی کی اولنی امتونه خويوطرف ته داسي ښکاری چی دځپل شريعت احکام په يوځو پيسوباندی خرځوی ، بډی رشوتونه اخلی په آسمانی کتاب کي ترميمونه کوی ياغلطی فتوی ورکوی اوقسماقسمه حيلی بهانې دشرعی حکمونو دبدلو دپاره جوړ وی او دعبادت ځخه ځان خلاصوی ، اوبل طرف چی ګوری نوپه عبادت ځانوکي داسي خلق هم معلوميږي چی دوی دنيا پرېښی ده او رهبانيت يې غوره کړی دی او دالله ﷻ ورکړل سوي حلال نعمتونه يې په ځان باندی حرام کړی دی او سختيانی تيرول يې عبادت اوثواب ګڼلی دی .

امت محمديه خو يو طرف ته دغه رهبانيت په انسانيت باندی ظلم اوزياتی ګڼل دی اوبل طرف ته دالله ﷻ اودپيغمبر په احکاموباندی دقربانيدو جذبه لری اودقيصروکسری دتخت اوتاج په مالک کيدلوسره دنيا ته دابښئی چی په دين اودنياکي روغه جوړه سته اودين صرف دجماعتونواوخانقاهونو په کونجيانوکي بند نه دی ، بلکه ددين حکمرانی په بازارونو اودفترونو هم دی او وزارتونو او امارتونو باندی هم ، هغه په باچاهی کي فقيری او په فقيری کي باچاهی وښودله .

﴿ چوفقراندرلباس شاهی آمد ﴾ ﴿ زتدبيرعبيداللهی آمد ﴾

﴿معاشرتي اوتمدني اعتدال ﴾

دی ځخه وروسته معاشرت اوتمدن ته وګوری ، نوپه اولوامتونوکی به تاسی يوطرف ته دا بی اعتدالی

وړینې چې دوی دانساني حقوقو څه پرواه نه لري حق او ناحق سره څه کار نه لري، دخپل غرض دحاصلولو دپاره که چیرې څوک چخړې کړي، قتل کړي نو څه باک نسته، لوټ مارکول خو کمال دی، دیو مشرپه ورسوکي که چیرې دچاوبښ ورګډ سي او څه نقصان ورسوي نو حرب بسوس په نوم ترسلو کالو پرجنګ کیږي په زرګونو انسانان په کي مري، ښځوته انساني حقوق ورکول خو پریږده دوی ته دژوند پاته کیدو اجازه نه ورکوي، کله یې په ورکوتوالی کي ژوندۍ ښخوي، او چیرې یې دمړو خاوندانو سره سوزوي، او بل طرف ته دخندا وړه رحم دلی، چې چنجي مینجي وژل حرام ګڼي، او دحیوانانو اوځارو ذبح کول او دالله ﷻ دحلال سوي حیوانانو غوښې اوڅرمنې څخه فائده اخیستل حرام ګڼي.

امت محمدیه ددې ټولو بې اعتدالیانو خاتمه وکړه، یو طرف ته یې انسان ته دانساني حقوقو ښودنه وکړه او دانه یوازي دصلح په وخت کي، بلکه عین په میدان جنګ کي دمخالفینو دحقوقو دحفاظت ښودنه یې هم وکړه، ښځوته یې دنارینه ؤ په ډول حقونه ورکول، او بل طرف ته یې، دهرشي حد مقرر کی، چې ددې څخه مخکې کیدل یا وروسته پاته کیدل یې جرم اوګناه مقرر کړه اودخپلو حقوقو په باره کي یې دعفو او دګذرتعلیم ورکی او دنورو دحقوقو په پوره اهتمام سره دپوره کولو آداب یې وښودل.

(اقتصادي او مالي اعتدال)

دی وروسته ددنیا په هرقوم وملت کي دټولو څخه اهم مسئله دمعاشیات او اقتصادیات ده په دی کی هم نورقومونه او امتونه په قسم قسم بې اعتدالیانو کي ګیرمعلومیږي، یو طرف ته دسرمایه داری نظام دی، چې په دی کي دحلالو اوحرامو دفرق او دنورو خلقو دخوشحالي یا بدحالي څخه سترګی پټول او زیات څخه زیات مال او دولت را ټولول یې انساني کمال ګڼلای سي، نو بل طرف ته دسره شخصي او انفرادي ملکیت جرم نه سي ګڼلای او که چیرې فکر وکړل سي نو د دواړو اقتصادي نظامونو حاصل او بنیاد بس دمال او دولت پرستش دی او دا دژوند مقصد ګڼل دی او دی دپاره سخت کوشش کول دی.

امت محمدیه په دی کی هم داعتدال یو عجیبه شکل پیداکړی دی، هغه دا چې یو طرف ته یې دولت دژوند مقصد ګرځول منع کړی دی، او دولت یې دانسان دعزت شرافت منصب اودعهدی دپاره بنیاد نه دی مقرر کړی، او بل طرف ته یې د دولت دویش داسې پاک ستره اصول مقرر کړی دی، چې په دی سره یو انسان هم دژوند دضروریاتو څخه محرومه کیږي نه او نه یو سړی ټول دولت جمع کولای سي او کوم شیان چې دشرکت قابل دی، هغه یې مشترک ګرځولی دی، په خاص شیانو کي دانفرادي ملکیت احترام او اهتمام یې کړی دی دحلال مال فضیلت او ددې دلرلو او استعمال صحیح طریقی یې ښودلی دی دامت محمدیه اعتدال بیانول دومره اوږد تفصیل غواړي چې مستقبل کتاب پرلیکلای سي، فی الحال مونږ دمثال په توګه یو څو نمونی امت دمحمدیه دمیانه روی او دنورو امتونو دبې اعتدالی مخکې کړی، چې ددې څخه دذکرسوي آیت وضاحت وکړل سو، چې امت محمدی یو معتدل او بهترین امت دی.

(دشهادت دپاره عدالت اوثقه ضروري دی)

لِّتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ (یعنی امت محمدیه وسط، عدل، اوثقه، دی وجی څخه جوړ کړل سو، چې دا امت دشهادت کولو جوګه سي، ددې څخه دامعلومه سوه، چې کوم سړی عادل نه وي، دهغه شهادت

قابل قبول نه وی ، دعدل ترجمه ثقه ، یعنی هغه چې په هغه باندی اعتماد کیدای سي ، او ددې مکمل شرطونه دفقهي په کتابونو کي ذکر دی .

(ا جماع حجت کیدل)

قرطبی ج ۲ ص ۱۵۲ ویلی دی چې دا آیت ددې خبرې دلیل دی چې دامت اجماع دلیل کیدای سي او دا ځکه چې هرکله الله ﷻ دی امت ته شهادت کوونکی وویل او دنورو امتونو په مقابله کي یې د دوی خبره حجت اودلیل وګرځوله نو ددې ځخه دا ثابته سوه ، چې ددې امت اجماع او اتفاق په یوه مسئله باندی حجت اودلیل کیدای سي او په دغه اجماع باندی بیاعمل کول واجب اولازمی دی داسي چې دصحابو اجماع په تابعینو او دتابعینو اجماع په تبع تابعینوباندی حجت دی .

اوپه تفسیرمظهری ج ۱ ص ۱۳۹ کي دی چې ددې امت هغه اعمال اوکارونه ښه اومقبول دی ، چې په کوموباندی ددې امت اتفاق وی ځکه که چیري د دوی دا اتفاق په غلطه باندی ومنل سي ، بیا ددې وینا مطلب څه دی چې دا امت وسط اوعدل دی .

او امام جصاص ج ۱ ص ۱۰۳ کي دا ویلی دی ، چې په دی آیت کي دا دلیل دی چې دهری زمانی دمسلمانانو اجماع معتبره ده ، داجماع حجت کیدل دمسلمانانو داولو پیړی سره یا یوی خاصی زمانی پوری خاص نه دی ، ځکه چې په آیت کي خطاب ټول امت ته دی او درسول الله ﷺ امت یوازی هغه خلق نه وو ، کوم چې درسول الله ﷺ په زمانه کي وو ، بلکه ترقیامته پوری دمسلمانانو نسلونه ټول درسول الله ﷺ امتیان دی ، نو دهری زمانی مسلمانان شهادت کوونکی سو او د دوی اتفاق حجت سو ، او دا چې دوی ټول په غلطه اوخطاباندی متفق کیدای نه سي .

وَمَا جَعَلْنَا الْقِبْلَةَ الَّتِي كُنْتَ عَلَيْهَا إِلَّا لِنَعْلَمَ مَنْ يَتَّبِعُ الرَّسُولَ

اونه موږه مقرر کړی قبله په کومه چې ته مخکې وی مګر دی دپاره چې معلوم کړو چې څوک تابع پاته کیږي

مِمَّنْ يَنْقَلِبُ عَلَىٰ عَقِبَيْهِ ۚ وَإِنْ كَانَتْ لَكَبِيرَةً إِلَّا عَلَى

درسول اوڅوک اوړی بیرته په پوندو او بیشکه دا خبره ګرانه ده مګر په هغوی نه

الَّذِينَ هَدَى اللَّهُ ۗ وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ

چاته چې لاره وښودله الله ﷻ او الله ﷻ داسی نه دی چې ضائع کړی ستاسی ایمان بیشکه الله ﷻ

بِالنَّاسِ لَرَءُوفٌ رَحِيمٌ ﴿١٤٣﴾

په خلقو باندی دیر شفقت کوونکی او دیر مهربانه دی .

لنډتفسیر : (اوپه حقیقت کي مونږ دشریعت محمدیه دپاره کعبه قبله کیدل تجویزکړی وو) اودکومی قبلی

په طرف چي ته (دڅوورڅودپاره) پاته سوي وي (یعنی بیت المقدس) هغه خوصرف دی (مصلحت) دپاره وه چی مونږته (په ظاهری طورباندی هم) معلومه سي چي (ددې په مقررکیدلوبابدلیدوسره په یهودو او غیر یهودوکي) څوک خو د رسول الله ﷺ تابعداری غوره کوی اوڅوک شاته جاروځی (اونفرت اومخالفت کوی ، ددغه امتحان دپاره ، دغه عارضی قبله مقرر کړل سوه اوبیاپه اصلی قبله دا منسوخه کړل سوه) او ددې قبلې بدلول (دسمي لاری څخه په اړولوخلقوباندی) خو ډیردرانه دی (هنه) مګرچی کومو خلقوته الله ﷻ (سیده لاری) هدایت کړی دی (چي ددې مخکې ورته سوي دي ، چی دخدای حکمونه به یې بی دچون وچرا منل ، دوی ته څه هم ګران نه دی ، لکه څنګه چی مخکې یې دا دخدای ﷻ حکم ګڼی ، اوس هم دا دخدای ﷻ حکم ګڼی) او (زمونږ ددې وینا چي بیت المقدس اصلی قبله نه وه چاته دې دا وسوسه پیدا نه سي ، چی کوم لمونځونه ده بیت المقدس طرف ته کړی دی دهغه ثواب به ده ته کم ورکیدای سي ، څکه چی دی په اصلی قبله نه وو ، نو دارنګه وسوسه دی په زړه کي نه را وړی څکه) چی الله ﷻ داسي نه دی چي ستاسي دایمان (متعلق عملونه مثلا دلمونځ ثواب) ضائع (اوناقص) کړی (او) واقعی الله ﷻ خو (داسي) خلقو باندی ډیرشفقت کونکی (او) مهربانه دی (نو په داسي شفیق اومهربانه ذات داسي ګمان کله کیدای سي ، څکه چی دیوی قبلی اصلی اوغیراصلی کیدل خومونږ پیژنو، تاسوخودواړه زمونږ حکم قبلول ګڼلی وو ، نو په دی وجه ثواب به هم کم نه وی)

علوم اومسائل

(دکعبي قبله ګرځیدل په لمانځه کي کله شروع سو)

په دی خبره کي دصحابه ؓ اوتابعینواختلاف دی چی دهجرت څخه مخکې په مکه مکرمه کي چي کله لمونځ فرض سو ، دغه وخت بیت الله قبله وه یابیت المقدس دحضرت عبدالله بن عباس ؓ وینادہ چی د اول څخه قبله بیت المقدس وه ، چی دهجرت څخه وروسته هم شپاړس اوولس میاشتو پوری پاته سوه او ددې څخه وروسته دبیت الله دقبلې جوړولو حکمونه نازل سو ، هنه دومره خبره ده چی درسول الله ﷺ عمل په مکه کي دهجرت کولو څخه مخکې دا وو ، چی دوی به دهجر اسود اورکن یمانی په مینځ کی لمونځ کوی چی بیت الله المقدس دواړوته مخ را سي ، او هرکله چی مدینی ته ولاړل نوداسي کول ممکن پاته نه سو ، او په دی وجه دقبلې دبدلیدو شوق یې پیدا سو ، ابن کثیر ج ۱ ص ۳۲۳ ،

اونور حضرات دا وایی چی هرکله لمونځ فرض کړل سو نو دمسلمانانو اوله قبله په مکه کي بیت الله وه ، څکه چي دحضرت ابرهیم ؑ اوحضرت اسماعیل ؑ قبله هم بیت الله وه ، اورسول الله ﷺ چی ترڅوپوری په مکه کي وو ، نو بیت الله ته به یې لمونځ کوی ، بیادهجرت څخه وروسته د دوی قبله بیت المقدس مقرر کړه سوه او په مدینه کي شپاړس اوولس میاشتی دوی بیت المقدس ته لمونځ وکی ، او ددې څخه وروسته بیا د دوی اوله قبله بیت الله مقررکړه سوه ، او ددې په طرف دلمانځه کولو حکم وکړل سو ، په تفسیر قرطبی ج ۲ ص ۱۵۰ کي د ابوعمر په حواله دا دویم قول زیات صحیح ګڼل سوي دي اوحکمت یې دابیان کړی دی ، چی مدینی ته په راتللو هرکله چی درسول الله ﷺ یهودوسره واسطه راغله ، نو رسول الله ﷺ دیهودو دمانوس کولو دپاره ، دالله ﷻ په اجازه او حکم سره د دوی قبلی ته په لمونځ

کي مخ کول شروع کړل ، ليکن بيا دتجربې څخه ثابته سوه چې دا خلق دخپل جهل څخه وتونکی نه دی نو بيادوی ته داحکم ورکړل سو ، چې خپلې اصلي قبلې ته مخ کوی ، چې هغه دوی ته دخپلونيکونو حضرت ابراهيم ﷷ اوحضرت اسماعيل ﷷ دقبلې کيدلو په وجه ډيره محبوبه وه .

اوقرطبی اوله مرجع ۱۵۱ کي دابوالعاليه راياحی څخه نقل کړی دی، چې دحضرت صالح ﷷ دمسجد قبله هم بيت الله طرف ته وه ، اوبياابوالعاليه څخه يې دا خبره هم نقل کړی ده چې دابوالعاليه يو يهودی سره مناظره وسوه ، يهودی ويل چې دحضرت موسی ﷷ صخره بيت المقدس وه ، ابوالعاليه ورته وويل چې نه حضرت موسی ﷷ دصخره بيت المقدس په طرف کي لمونځ کوی ، خو دهغه مخ دبيت الله په طرف وو ، يهودی ددې څخه انکار وکی ، نو ابو العاليه وويل ، چې ښه چې زمااوستاددې جنګ فيصله به دحضرت صالح ﷷ جمات وکړی ، هغه جمات چې دبيت المقدس څخه کښته په يوغرباندی دی نوچې هلته ولاړل نودا يې وليدل چې دحضرت صالح ﷷ قبله بيت الله وه .

اوکومو حضراتو چې اول قول غوره کړی دی ، د دوی په نزد حکمت دا وو ، چې په مکه مکرمه کي خو دمشرکانو مخالفت کول او د دوی څخه جلاوالی را وستل وو ، نو په دی وجه د دوی قبله پريښودل سوه او بيت المقدس قبله کړل سوه ، بيادهجرت څخه وروسته په مدينه منوره کي ، ديهودو او نصاراؤ څخه جلاوالی کول او د دوی مخالفت کول غرض وو ، نو په دی وجه د دوی دقبلې په ځای بيت الله قبله کړل سوه ددغه اقوالودا اختلاف په وجه دآيت په تفسيرکي هم اختلاف دی ، چې دَ ٱلۡقِبۡلَةَ ٱلَّتِي كُنتَ عَلَيۡهَا څخه څه مطلب او مراد دی ؟ داول قول مطابق ددې څخه مراد بيت المقدس دی چې دا دده اوله قبله وه او د دويم قول دمخه ددې څخه کعبه هم مراد کيدای سي ، ځکه چې دا دده اوله قبله وه .

اوپه دواړوصورتونوکي دآيت مفهوم دادی چې مونږدقبلې بدلول ستاتابعداری کوونکومسلمانانودپاره يوقسم امتحان مقررکړی دی چې په ظاهری طورسره هم دامعلومه سي چې څوک ستاصحيح حکم منونکی دی اوڅوک دخپلې رايې تابع دی او د اسلام څخه وروسته کيدونکي دی ، اوځنګه چې قبلې دبدليدو حکم نازل سو ، نو څيني دکمزوری ايمان خاوندانو ، ياهغه چې د دوی په زړونو کي څه منافقت وو، داسلام څخه وا وړيدل اوپه رسول الله ﷺ يې الزام ولګوی چې دی خودخپل قوم ددين په طورکوږسو .

﴿ کله سنت په قرآن سره هم منسوخ کيدای سي ﴾

جصاص په احکام القرآن کی ويلی دی چې په قرآن شريف کی چيری داصراحت نسته چې رسول الله ﷺ ته دهجرت څخه مخکې يادهجرت څخه وروسته دبيت المقدس په طرف دمخ کولو حکم سوي دي ، بلکه ددې خبرې ثبوت صرف په احاديثو اوسنت نبويه کي دي ، نوکوم شي چې دسنت نبويه په ذريعه ثابت سوي وو ، نو دقرآن دی آيت هغه منسوخ کی او د دوی قبله يې بيت الله مقرر کړه ددې څخه دا هم ثابته سوه چې حديث درسوالله ﷺ هم په يوحثيت قرآن دی او دا چې څه احکام چې په قرآن شريف کي موجود نه دی ، هغه يوازی دحديث څخه ثابت دی ، قرآن شريف د دوی شرعی حيثيت منی ، ځکه چې ددغه آيت په آخرکي دا هم ذکر دی چې کوم لمونځونه درسول الله ﷺ په حکم ، دبيت المقدس په طرف سوي دي هغه معتبر اوالله ﷻ ته منظور دی .

(چې کله قوي قريني دخبر واحد دثبوت دپاره موجودوي نو په هغه سره قرآني حکم منسوخ ګڼل کيږي)

په بخاري اومسلم ، اونورو ټولو معتبروکتابونو داحاديثوکي د ډيرو صحابه ؓ په روايت دا خبره نقل سوي ده، چې هرکله رسول الله ﷺ ته دقبلې دبدليدوحکم راغی نو رسول الله ﷺ دماځيګرلمونځ دبيت الله په طرف وکی ، (اوځيني رواياتوکی دماځيګرپه ځای دماپښين ذکردی ،، ابن کثيرج ۱ ص ۳۴۰) نوځيني صحابه دلمانځه ځخه وروسته بهرته ولاړل اووی ليدل چې دبنی سلمه قبيلې خلق په خپل مسجدکي مخکې په ډول دبيت المقدس په طرف لمونځ کوی نو دوی ورته آواز وکی چې اوس قبله دبيت الله طرف ته مقررکړل سوي ده ، مونږ او رسول الله ﷺ اوس دبيت الله په طرف لمونځ کړی دی او دهغه دخوا ځخه راغلی يو نو دی خلقو دلمانځه په مينځ کي خپل مخ بيت المقدس ځخه دبيت الله په طرف کي ، دنويله بنت مسلم په روايت کي دي ، نوهغه وخت ښځی چې وروسته صفونوکي وی مخکې راغلی اوسړی چې په اولوصفونوکي وو وروسته راغلل اوکله چې مخ بيت الله طرف ته بدل کړل سو نو دسړوصفونه مخکې اودښځوصفونه وروسته سول ، ابن کثير ج ۱ ص ۳۴ ،

دبنوسلمه قبيلې خلقو خو په ماپښين ياماځيګرکي دقبلې دبدليدو په حکم باندی عمل وکی ليکن په قباء کي دا خبر درا تلونکي ورځی دسهار په لمانځه کي ورسيدی ، لکه چې بخاري اومسلم کي دابن عمر ؓ په روايت کي دي چې دقباء والوهم دلمانځه په مينځ کي خپل مخ دبيت المقدس ځخه دبيت الله په طرف وا ړوی ، ابن کثير ج ۱ ص ۳۴۰ اوجصاص احکام القرآن ج ، ص ۱۰۰

امام جصاص دحديث دغه ډيرو روايتونو نقل کولو ځخه وروسته دا ويلي دي .

هذَا خَبَرٌصَحِيحٌ مُسْتَفِيضٌ فِیْ اَيْدِیْ اَهْلِ الْعِلْمِ قَدْتَلَقَوْهُ بِالْقُبُوْلِ فَصَارَ فِیْ حَيِّزِالتَّوَاتُرِ الْمُوْجِبِ لِلْعِلْمِ :

اول مرجع اوهم دغه مخ .

دا حديث که څه هم په اصل کي خبر واحد دی ليکن دقوی قرينو په وجه يې دا تواتر درجه حاصله کړی ده چې ده سره يقيني علم حاصليږي .

ليکن د احنافو دا قاعده ده ،چې خبر واحدسره يوقطعي حکم منسوخ کيدای نه سي نو په دوی باندی دا سوال وارد کيدل اوس هم سته ، چې ددې شهرت اوتلقی بالقبول خو وروسته سوي دي ، بنوسلمه او اهل قباء ته خو ناڅاپه يوسړی خبر ورکړی وو ، په دغه وخت کي دغه حديث ته دشهرت اوتواتر درجه حاصله سوي نه ده ، نو دوی په دی څنګه عمل وکی ، جصاص اول مرجع اومخ ۱۰۱ کي وايې چې خبره په اصل کی دا ده چې دی حضراتو اوټولو صحابه ؓ ته دا دمخه معلومه وه چې درسول الله ﷺ دا مينه ده چې دده قبله دی بيت الله سي ، او دوی ددې دپاره دعاهم کوله ، ددغه رغبت اودعاپه وجه دصحابه کرامو په زړه کي دا احتمال پيدا سوي وو ، چې بيت المقدس ته دمخ کولو حکم به آئنده کي پاته نه سي نو په دی احتمال سره دبيت المقدس قبله پاته کيدل ظني سو ، نو ددې دمنسوخ کولودپاره دا خبر واحد کافي سو ، که چيری داسي نه سي نو صرف خبرواحد سره چې قطعي قرآني فيصله منسوخ کيدای نه سي .

(دلوډسپيکرپه آوازباندی رکوع اوسجده کول لمونځ نه فاسدوی)

په صحيح بخاري کي په (باب ماجاء فی القبلة) کي دحضرت عبد الله بن عمر په حديث کي چې په دی کي

اهل قباء ته دقبلې دبدليدلو دحکم رسيدل او ددې خلقو په لمانځه کې دبيت الله په طرف را گرځيدل ذکر دی ، په دغه حديث باندې علامه عيني ﷫ ليکي .

فِيْهِ جَوَازُ تَعْلِيْمِ مَنْ لَيْسَ فِي الصلوٰةِ مَنْ هُوَ فِيْهَا: عمدة القاري ج ۴ ص ۲۴۸ (په دې حديث کې دا خبره ده چې کوم سړی په لمانځه کې شريک نه وي ، هغه يو لمونځ کوونکي ته تعليم او تلقين کولای سي)

اوعلامه عيني په بل ځای کې ددې حديث په لمن کې ليکي .

وَ فِيْهِ اِسْتِمَاعُ الْمُصَلِّيْ لِكَلَامِ مَنْ لَيْسَ فِي الصلوٰةِ فَلاَ يَضُرصَلوٰتَهُ هٰكَذَا استنبطه الطحاوي : عمدة القاري ج ۱ ص ۲۴۲ ،

اودا ددې خبرې دليل دی چې دبهرنورو خلقو خبرې اوريدل په لمانځه کې دلمونځ گذارلمونځ ته نقصان نه ورکوي .

اوعام فقهاء احناف چې دلمانځه څخه دبهريوسړي اقتداء اواتباع کول يې دلمانځه دپاره فاسدونکی گڼل دي ،په عام حنفي متونو اوشروحوکې نقل هم ده ، ددې علت دا دی چې په لمانځه کې دغيرالله اتباع کول دلمانځه دفساد سبب دی ، ليکن که چيرې يو سړی دامرالهی اتباع وکړي اوپه دغه اتباع کې يوبل سړی واسطه سي نو دا دفساد دلمانځه سبب نه گرځي .

فقهاؤ چې دا مسئله ليکلی ده ، چې که چيرې يو سړی دجمع په لمانځه کې شامليدو دپاره هغه وخت را ورسيږي ، چې صف بالکل پوره سوي وي او دده ځای په کې پاته نه وی نو ده ته په کار دی چې ددغه پوره سوي صف نه دی يوسړی ځان ته را کاږي اوبل صف دې جوړ کړي ، خو يوازی دی نه دريږي ، په دې مسئله کې هم دغه سوال پيداکيږي چې دده په ويناکوم سړی وروسته کيږي ، نو ده په لمانځه کې دغيرالله دامراتباع ونه کړه ؟ په کار دی چې سره ددغه سړي لمونځ فاسدسي ، ليکن په درمختارج ۱ ص ۴۳ کې باب الامامت کې ددې مسئلې متعلق داسې ليکلي دي .

ثُمَّ نَقَلَ تَصْحِيْحُ عَدَمِ الْفَسَادِ فِيْ مَسْئَلَةِ مَنْ جُذِبَ مِنَ الصف فَتَاَخَرَ فَهَلْ ثُمَّ فَرْقٌ فَلْيُحَرَرُ:

په دې علامه طحطاوي ليکلي دي ، لِاَنَهُ اِمْتَثَلَ اَمْرَاللهِ (يعني په دې صورت کې دلمانځه دفاسدکيدو وجه دا ده ، چې په حقيقت کې دغه سړی دراتلونکي سړي تابعداري کړې نه ده ، بلکه د امرالهی تابعداري کړې ده چې درسول الله ﷺ په ذريعه ده ته را رسيدلی دی ، هغه امر دا دی چې هرکله دغه رنگ صورت راسي نو اول صفت والا ته په کار دی ، چې وروسته راسي ، او هغه يوازی سړی سره شامل سي .

هم دغه رنگ شرنبلالی ﷫ په شرح وهبانيه کې ددې مسئلې ذکرکړی دی اول يې هغه قول نقل کړی دی ، چې کوم دلمانځه دفاسدکيدلو ذکر دی ، او بيايې ددې رد کړی دی او دهغه الفاظ دا دي .

اذاقِيْلَ لِمُصَلِّ تَقَدَّمَ فتقدم (الی) فَسَدَتْ صَلوٰتُهُ لِاَنَهُ اِمْتَثَلَ اَمْرَغَيْرِ اللهِ فِي الصلوٰةِ لِان امتثاله انماهولامر رسول الله ﷺ فلا يضرا .

ددې ټولو روايتونو څخه دا ثابته سوه ، که چيرې يو لمونځ گذار ديو داسې سړي په آواز باندې عمل وکړي چې هغه ده سره په لمانځه کې شريک نه وي ، نو ددې دوه صورتونه دي ، يو دا که چيرې ددغه سړي زره ساتل او اتباع مقصود وي ، نو دا خو دلمانځه دفساد سبب گرځي ، ليکن که چيرې ديوشرعي حکم ښودل وي ، او ددې اتباع لمونځ کوونکي کړی وي نو دا په حقيقت کې دامرالهی تابعداري ده

اودی سره لمونځ نه فاسیدیږي ، په دی وجه طحطاوی فیصله دا کړی ده ، چې
(وَلَوْ قِيْلَ بِالتَّفْصِيْلِ بَيْنَ كَوْنِهٖ امْتَثَلَ اَمْرَالشَّارِعِ فَلَا تُفْسِدُ وَبَيْنَ كَوْنِهٖ امْتَثَلَ اَمْرَالدَّاخِلِ مُرَاعَاةً لِخَاطِرِهٖ مِنْ غَيْرِ نَظَرٍ اِلٰى اَمْرِ الشَّارِعِ فَتُفْسِدُ لَكَانَ حَسَنًا) (طحطاوی علی الدر المختار ج ۲ ص ۲۴۷)
اوس زیربحث ، دلاوډ سپیکرمسئله کي فیصله کول آسان سو ځکه چې دلته ددغه لاوډ سپیکر دتابعداری کولو خو هډو ګمان قدری نسته ، بلکه درسول الله ﷺ ددې حکم تابعداری ده ، چې کله امام رکوع ته ولاړ سي ، نوتاسی رکوع ته ولاړسي ، کله چې هغه په سجده پریوځی ، نوتاسی هم په سجده پریوځی دلاوډسپیکر څخه خوصرف دا معلومیږي ، چې اوس امام رکوع ته ولاړی یاسجدی ته کښته کیږي ، او دامام تابعداری یوحکم الهی دی ، او دا خبره دلاوډ سپیکر په باره کي په هغه وخت کي ده چې دلاوډسپیکر آواز هو به هو دامام آواز ونه ګڼل سي ، بلکه د امام د آواز نقل اوحکایت وګڼل سي ، او ددې فن ماهرانو خو دلاوډ سپیکر آوازعین دامام آوازګڼلی دی ،نو په دغه تحقیق باندی بیا په لاوډ سپیکرکي دلمانځه په جواز باندی څه اشکال پاته نه سو اولمونځ پرکیږي ، ددې مسئلی په تحقیق مایوه مستقله تفصیلی رساله لیکلی ده ، هغه کتل په کار دی .
وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُضِيْعَ اِيْمَانَكُمْ : دلته که چیري دایمان څخه معروفه اومشهوره معنی واخستل سي ، نو د آیت مطلب دا دی چې دقبلی په بدلیدو سره چې کوم بیوقوف خلق دا ګمان کوی چې داخلق یعنی مسلمانان ددین څخه کاره سو ، او د دوی ایمان ضائع سو ، نو ددې خبری جواب وکړل سو ، چې الله ﷻ ستاسی ایمان ضائع کوونکی نه دی ، دبی وقوفو خلقو په خبره څه غوږ مه ګروی .
دحدیث په ځینی روایتونو او دسلفو په اقوالوکی دلته ، دایمان تفسیرپه لمانځه سره سوي دي ، اومعنی دا سوه چې کوم لمونځونه مخکی دبیت المقدس په طرف سوي وي ، الله ﷻ ددې ضائع کوونکي نه دی ، هغه درست اومنظورسوی دی ، دقبلی په بدلیدو سره په دوی هیڅ اثر نسته .
په صحیح بخاری کي دابن عازب په روایت اوپه ترمذی کي دابن عباس په روایت نقل دی چې هرکله درسول الله ﷺ قبله کعبه کړل سوه ، نو خلقو دا پوښتنه وکړه چې کومو مسلمانانو دبیت المقدس په طرف لمونځونه کړی دی اومړه دی او دبیت الله په طرف دوی ته لمونځ کول نصیب سوي نه دی ، نو د دوی به څه حال وي ؟ نو په دی خبره دا آیت نازل سو چې په دی کي دلمانځه څخه دایمان په لفظ تعبیرکړل سوي دي او په کي دا وضاحت کړل سوي دي چې ددغوخلقو ټول لمونځونه درست او منظورکړل سوي دي ، په دوی باندی دقبلی دبدلیدو هیڅ اثرنسته .

قَدْ نَرٰى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِى السَّمَآءِ ۚ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضٰىهَا ۪ فَوَلِّ وَجْهَكَ

بیشکه مونږ وینو بار بار پورته کیدل ستا دمخ دآسمان په طرف نو ضرور وابه ړو مونږ تا دهغه قبلی په طرف چې

شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ؕ وَحَيْثُ مَا كُنْتُمْ فَوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ شَطْرَهٗ ؕ وَاِنَّ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ

ته یې خوښوی اوس واړوه مخ خپل دمسجد حرام په طرف اوکوم ځای کی چې تاسی یاست اړوی مخونه خپل دده

په طرف ، او چاته چې ورکړل سوي دي کتاب (هغو)

لَيَعْلَمُوْنَ اَنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّهِمْ ۗ وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۴۴﴾

ضرور پوهيږي چې دا درسته ده ددوی د پروردګار له طرفه او الله بې خبره نه دی د هغه کارونو څخه چې کوم دوی کوی

لنډتفسير: (ته ﷺ چې دا خواهش لرې چې کعبه قبله سي او دوحی په اميد کي باربار آسمان ته ګورې چې شايد فرښته حکم راوړي) ستا دمخ باربار دآسمان په طرف پورته کيدل مونږ وينو (هرکله چې مونږ ته دا منظوره ده چې ستاخوشحالي پوره کی) په دی وجه (مونږ وعده کووچی) تابه دغه قبلی ته واړوو چې کومه ته خوښوی (واخله بيامونږ حکم درته کوو چې) د اوس څخه خپل مخ په لمانځه کي دمسجد حرام په طرف کوه (او دا حکم يوازی ستادپاره نه دی بلکه دټولو خلقو (پيغمبردپاره او امتيانو دپاره دی) چيري چې يې (که مدينه کي يې يابل ځای کي ترډې پوری چې که بيت المقدس کي هم يې) خپل مخونه ددغه (مسجدحرام) په طرف کوی (او ددې قبلی مقررکيدو متعلق) دا اهل کتاب هم (عام طور سره دخپلو کتابونو دپيشين ګويانو په وجه دنبی آخرالزمان قبله به دغه رنګه وی) په يقين سره پوهيږي چې دا حکم بالکل درست دی ، (او) د دوی دپروردګار دطرف څخه دی (ليکن دعناد دکبله نه منی) او الله ﷻ د دوی دکارونو څخه څه بې خبره نه دی .

علوم اومسائل: ددې آيت په اوله جمله کي درسول الله ﷺ کعبی ته په لمانځه کي دمخ کولو دشوق ذکر دی ددې شوق مختلفی وجی بيان سوي دي او په دی ټولو وجوکي ديوبل سره څه ټکر هم نسته ، نو دا ټولی ددې شوق وجی کيدای سي .

مثلاً دا چې رسول الله ﷺ دپيغمبرکيدلو څخه مخکې په خپل طبيعت اوفطرت سره دملت ابراهيمی تابع وو ، او دپيغمبرکيدلوڅخه وروسته هم دده شرافت دملت ابراهيمی مطابق وګرځول سو ، او دحضرت ابراهيم اوحضرت اسماعيل عليهم السلام قبله کعبه وه ، نو په دی وجه دده دزړه دا آرزوه ، چې دده ﷺ او دمسلمانانو قبله دی دغه کعبة الله مقرر سي .

دا وجه هم وه چې دعربو قبيلی هم په ژبه خوملت ابراهيمی منلو او ددې دتابعداری دعوای يې کوله دمسلمانانو قبله کعبه کيدلو کي ، د دوی اسلام ته دمائل کيدلو اميدوو ، او ددې څخه مخکې دبيت المقدس په قبله کيدلو کي داهل کتابو اسلام ته دمائل کيدلو چې کومه توقع وه ، هغه دشپاړسو اولسو مياشتو دعمل څخه وروسته هم قطعه سوه ، ځکه چې دمدينی يهود ، ددې په وجه اسلام ته دنږدی کيدو پرځای لا داسلام څخه په ليری ګرځيدو سو .

په هرحال د رسول الله ﷺ دا دزړه آرزو وه ، چې دمسلمانانو قبله دی بيت الله ، کعبه مبارکه مقرر سي ، او الله ته دنږدو پاکوخلقو (پيغمبرانو) دا عادت دی چې دوی خپل خواست او خواهش دالله ﷻ په دربار کي ترهغه وخته پوری نه وړاندی کوی ، چې ترڅو پوری دوی ته ددې درخواست د وړاندی کولو داجازې علم ونه سي ، ددې څخه دا معلوميږي ، چې رسول الله ﷺ ته ددغه دعاکولو اجازه ، دوړاندی څخه حاصل سوی وه ، او دوی ددې دپاره دعاکوله او ددې دقبليدو اميديې کوی او په دی وجه باربار آسمان

ته یې کتل ، چې شاید یوه فرښته به حکم را وړي ، په ذکر سوي آیت کی د رسول الله ﷺ د دغه حالت په بیان کي الله ﷻ اول د دعا د قبلولو وعده وکړه ، فلنولینک : مونږ به ستا مخ د دې په طرف وا ړوو ، چې دا تاته ډیره غوره ده او د دې څخه وروسته د دغه مخ اړولو حکم یې هم نازل کی فول وجهک ،په دی طریقه کي یوه خاص مزه وه ، هغه دا چې اول ورته دوعدی خوشحالی حاصله سي ، او بیا دوعدی په پوره کولوسره دوچنده خوشحالی ورسیږي (دا ټول مضمون دقرطبی ، جصاص ، او مظهری څخه اخیستل سوي دي .

(قبلې ته دمخ کولو مسئله)

دا تحقیق مخکې سوي دي ، چې الله ﷻ ته خو ټول طرفونه برابر دی (قل لله المشرق والمغرب) لیکن دامت دمصلحتونو دپاره دحکمت دتقاضا په وجه دټولی دنیا مسلمانانو دپاره یو اړخ قبله گرځولو کي دا غرض وو ، چې دوحدت دینی یوعملی مظاهره حاصله سي ، دغه یوطرف دټولو دپاره بیت المقدس هم کیدای سي ، لیکن د رسول الله ﷺ د آرزو مطابق دغه طرف کعبه مقرر کړل سوه ، او د دې حکم په دی آیت کي ورکړل سو ، لیکن دکعبی یا دبیت الله په ځای شطر المسجد الحرام الفاظ په دی وجه را وړل سوه چې په داسې کولو سره ډیر اهم مسائل قبلی ته مخ کولو په باره کي واضح کړل سي .

اول دا چې که څه هم اصل قبله بیت الله دی ، لیکن دا ظاهره خبره ده ، چې اصل بیت الله ته مخ کول هغه ځای کي کیدلای سي ، کوم ځای کي چې بیت الله معلومیږي ، اوچې خلق لیری دی ، او بیت الله دوی ته نه ښکاری ، که چیري په دوی باندی دا پابندی لازمه سي چې عین بیت الله طرف ته مخ کوی نو ددې تعمیل به گران سي په لروښارونو کي به دخاصو الو اوحسابو په ذریعه به هم دصحیح اړخ تعین گران سي او دشریعت محمدیه دارو مدار په آسانی باندی قائم دی نوځکه دبیت الله یاکعبی په ځای دمسجدحرام لفظ راوړل سو ، ځکه چې مسجد حرام دبیت الله په نسبت ډیر زیات ارتی رقبی باندی مشتمل دی او دده په طرف خلقو ته دلیري لیري څخه مخ کول آسان دی .

بیا دویمه آسانی دشطر لفظ په راوړلو کی هم ده ، که چیري آسانی کول غرض نه وی نو بیا مختصر لفظ الی المسجد الحرام وو ، او دا ځکه چې دشطر دوه معنی دی ، یوه معنی نیم او دویمه معنی طرف ، او دمفسرینو په دی خبره اتفاق دی ، چې دشطر څخه دلته مراد طرف دی ، نو دشطر دلفظ څخه دا ښکاره کول غرض دی ، چې دلیری وطنونو خلقو دپاره دا هم ضروری نه ده ، چې عین مسجد حرام ته دی مخ کړی ، بلکه دوی دپاره دمسجدحرام په طرف مخ کول کافی دی (بحرمحیط)

مثلاً مشرقی وطنونه ، بلکه هندوستان پاکستان وغیره دپاره دلمر د ډوبیدو اړخ دمسجد حرام اړخ دی نودلمرد ډوبیدواړخ ته په مخ کولوسره داخلق قبلی ته دمخ کولو فرض پوره کولای سي ، اوهرکله دگرمی اودیخ په موسمونو کي دلمرد ډوبیدو په طرف کي فرق راځی ، نو په دی وجه فقهاؤ هغه طرف ته دقبلی او دلمر د ډوبیدو طرف ویلی دی ، چې کوم د دواړو موسمونو دلمر دډوبیدو په مینځ کی دی او درياضی دقاعدی په مطابق ددې به دا صورت وی ، چې داوړی دلمر دډوبیدو اړخ او دژمی دلمر د ډوبیدو اړخ په مینځ کي ۴۸ ډگری پوری دقبلی اړخ کیدای سي ، مطلب دا که چیری سړی ۲۴ ډگری پوری هم ښه یاچپه غاړی ته کوږ سي ، نو دده څخه دقبلی طرف غلطیږي نه ، لمونځ یې درست دی ، درياضی قدیم

کتاب شرح چغمني په څلورم باب کې دلمر د ډوبيدو دواړو طرفونو فاصله دغه ۴۸ ډګرۍ ښودلې ده.

(دقبلې د اړخ معلومولو دپاره شرعًا آلات رصد او درياضي دحسابونو حاجت نشته)

ددې خبرې څخه دهغو خلقو جهالت هم په ډاګه سو ، کومو چې دهندوستان او پاکستان په مسجدانو کې دقبلې د اړخ څخه لږ غوندې دوه څلور ډګرۍ کوږوالى ليدلى دى نو فيصله يې دا کړې ده ، چې په داسې مسجدانو کې لمونځ نه کيږي ، دا سراسر جهالت دى او بغير دځه وجې څخه په مسلمانانو کې انتشار او جلاوالى را وستل دى.

اسلامي شريعت ، هرکله چې ترقيامته راتلونکو نسلونو دپاره او ددنيا دټولو وطنونو دپاره دى ، نو په دى وجه شرعي حکمونه د ژوند په هره څانګه کې دومره آسان مقرر سوي دي ، چې هرکلى ، ځنګل ، غر او جزيره کې وسيدونکي مسلمانان دى باندى خپلى مشاهدى سره عمل وکړل سي او په هيڅ مرحله درياضي دباريک حسابونو يا د اصطرلاب وغيره آلا تو ضرورت پاته نه سي ، په مشرقي وطنونو کې وسيدونکو دپاره ۴۸ ډګرو پورى دلمرد ډبيدو طرف ، قبله مقرر کړل سوي ده که په دى کې دپنځويالسو ډګرو فرق راسي ، نو په دى سره په لمانځه کې څه فرق نه راځي ، او د رسول الله ﷺ دحديث څخه ددې نورو وضاحت کيداى سي ، رسول الله ﷺ فرمايي ، مَابَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ قِبْلَة (رواه الترمذى عن ابى هريرة) (دمشرق اومغرب په مينځ کې قبله ده) درسول الله ﷺ دا وينا مبارکه دمدينى دخلقو دپاره وه ، ځکه چې دمدينى دخلقو قبله دمشرق اومغرب په مينځ کې دسوئيل په طرف وه ، دى حديث ګوياد شَطْرَ الْمَسْجِدِ الحرام : دلفظ تشريح کړى ده ، چې دمسجد حرام په طرف مخ کول کافى دى.

البته دمسجد جوړولو په وخت کې دا کوشش کول په کار دى ، چې دمسجد مخ څومره چې تيک دبيت الله په طرف کيږي ودى کړى ، دصحابه ؓ کرامو اودتابعينو اودسلفو صالحينو طريقه دقبلى په معلومولوکى ډيره ساده وه ، هغه دا وه چې کوم ځاى کې به دصحابه ؓ دلاس جوړ مسجدوو ، نو دخواوشا مسجدونو مخ به يې دى مسجدسره برابر کوى ، په دى وجه په ليرې وطنونوکې دقبلى دطرف معلومولو صحيح طريقه چې دسلفو څخه روانه راغلى ده ، هغه دا ده چې په کومو وطنونو کې چې کوم اول مسجد موجود دى ، ددې مسجدونو پير وى وکړل سي ، ځکه چې په اکثرو وطنونوکى صحابه ؓ يا تابعينو دمسجدونو بنيادونه اينبى دى ، او دقبلى اړخ يې متعين کړى دى ، اوبيا په نوروکلوکى مسلمانانو په خپل خپل ځاى کې مسجدونه هلته جوړ کړى دى ، چې اول دوى دغه مخکنى مسجدونه کتلى دى چې دصحابه ؓ يا دتابعينو دلاس جوړ وى.

په دى وجه دا ټول مسجدونه دمسلمانانو دقبلى د اړخ دمعلومولو دپاره کافى دى په دوى کى بغير دځه وجې څخه فلسفيانو څخه شبهى را وښکل دشريعت دمځه ښه کار نه دى ، بلکه ډير وارى ددې شبهو دانتيجه را ووزى ، چې په صحابه ؓ اوتابعينو او په عامومسلمانانو بدګمان کيږي ، چې د دوى قبله اولمونځونه صحيح نه وو.

دغه وجه ده چې داتمى صدى هجرى عالم ابن رجب حنبلى رحمه الله دقبلى په اړخ معلومولوکى آلات رصديه او درياضى باريکاتو پسى تلل منع کړى دى هغه وايي.

﴿وأمّا علم التسيير فاذا تعلم منه ما يحتاج اليه للاستهداء ومعرفة القبلة و الطرق كان جائزاً عند الجمهور وما زاد عليه فلاحاجة اليه وهو يشغل عمّا هو اهم منه وربما ادى التدقيق فيه الى اساءة الظن بمحاريب المسلمين فى امصارهم كما وقع فى ذلك كثير من اهل هذا العلم قديمًا وحديثًا وذلك يفضى الى اعتقاد خطاء الصحابة والتابعين فى صلواتهم فى كثير من الامصار وهو باطل وقد انكر الامام احمد الاستدلال بالجدى وقال انما ورد ما بين المشرق والمغرب قبلة﴾

علم تسيير خو دجمهورو په نزد دومره قدري حاصلول روا دی ، چی په دی سره لاره پیدا کول ، او دقبلی او دلارو شناخت وکړل سي ، او ددې څخه دزيات هيڅ ضرورت نسته ، څکه چی زيات زده کول يې دضروري کارونو څخه سړی ته اړوی اوکله په فلکی باريکو کی پريوتل په سړی کي دا بدګمانی پيدا کوی چی په عامو اسلامی وطنونو کی چی کوم مسجدونه جوړ دی ، دا دقبلی څخه کاږه دی او دغه ډول ګمانونه فعلا ددې فن دخلقو څخه صادر سوي هم دی او په دی فن کي زيات شغل دا عقيده هم پيدا کوی چی ډيرو ښارونو کي دصحابه ؤ او تابعينو لمونځونه په غلط اړخ سوي دي او داسي ګمانونه کول بالکل باطل دی او امام احمد دقطب ستوری څخه دقبلی اړخ معلومول منع کړی دی او ويلی يې دی چی په حديث کي خو صرف دا راغلی دی ، چی دمشرق اومغرب په مينځ کی ټول اړخ قبله ده .

اوپه کوموځنګلونو يانوو آباديو کي چی مخکې مسجدونه نه وی ، هلته شرعی طريقه چی هغه دصحابه ؤ اوتابعينو دعمل څخه ثابته ده، داده چی دلمرسپوږمی قطب وغيره غوندی مشهوروذريعو سره دی اندازه وکړل سي او دقبلی اړخ دی متعين کړل سي ، که چيري په دی کي لږ غوندی کوږوالی هم وی ، نو دی ته دی نه ګوری ، څکه چی دبدائع صاحب دليری وطنونو دخلقو دپاره په اندازه سره مقررسوي طرف دکعبی قائم مقام ګرځولی دی ، علامه بحرالعلوم په رسائل الارکان کي دا خبره په دی الفاظوکي بيان کړي ده .

والشرط وقوع المسامتة على حسب مايرى المصلى ونحن غير مامورين بالمسامتة على ما يحكم به الآلات الرصدية ولهذا القوان الانحراف المفسدان يتجاوزالمشارق والمغارب : رسائل الاركان ص ۵۳

قبلی ته مخ کولو کی شرط او ضروری صرف دا دی چی دلمونځ ګذار په رايې اواندازه کي کعبی ته برابرسمی سوي وي او مونږ په دی مکلف نه يو ، چی کعبی ته هغه قسم سمی وکی ، کوم چی دالات رصديه په ذريعه کيدای سي ، په دی وجه دعلماؤ فتوی دا ده چی لمانځه کي دقبلی څخه هغه کږيدل دلمانځه دپاره فاسدونکی دی چی دی کي دمشرق اومغرب دمينځ څخه تجاوزکړل سوي وي (يعنی ددې دوو طرفو په مينځ کي چی کومه قبله ده دی څخه بيخی بل طرف ته کوږ سوي وي)

ددې مسئلی مکمله تشريح او دحساباتو او درياضی په مددسره دقبلی دطرف معلومولو شرعی حيثيت ماپه رساله سمت قبله کي بيان کړی دی ، که دجازيات تفصيل ته مينه اومحبت کيږي نودغه رساله دی وګوری .

وَلَئِنْ أَتَيْتَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتٰبَ بِكُلِّ اٰيَةٍ مَّا تَبِعُوا قِبْلَتَكَ ۚ وَمَآ

که چيری ته راوړی اهل کتابوته ټولی نښانی نو هم به دوی ونه منی ستا قبله او

أَنتَ بِتَابِعٍ قِبْلَتَهُمْ ۚ وَمَا بَعْضُهُم بِتَابِعٍ قِبْلَةَ بَعْضٍ ۚ وَلَئِنِ

مه ته منه د دوی قبله او نه په دوی کی یو منی دبل قبله او که چیر

اتَّبَعْتَ أَهْوَاءَهُم مِّن بَعْدِ مَا جَاءَكَ مِنَ الْعِلْمِ ۙ إِنَّكَ إِذًا لَّمِنَ

ته ولاړې د دوی په خواهش پسی ، دهغه علم نه چی تاته راغلی دی ، نو بیشکه ته هم سوی دغه

الظَّٰلِمِينَ ﴿١٤٥﴾

بی انصافو څخه .

لنډتفسیر : او (سره له دی چی دا خلق سره دهرڅه دعلم څخه دومره ضدیان دی چی) که چیري ته (دی اهل کتابو ته ټول (ددنیا) دلیلونه (جمع کړی) وړاندی کړی هغه وخت هم دوی (چیری) ستاقبله به قبوله نه کړی او (د دوی دموافقت امیدپه دی وجه مه کوه ، چی ستاقبله هم منسوخ کیدلو والانه ده ، په دی وجه) ته هم د دوی قبله قبولای نه سي (نو دموافقت څه صورت پاته نه سو) او (څنګه چی ددي اهل کتابو ستاسره ضد دی په دوی کي دیوبل سره موافقت هم نسته څکه چی) د دوی څه (فرقه) هم دبلی (فرقی) قبله قبلوی نه (مثلاً یهودو بیت المقدس قبله ګرځولی وه او نصاراو لمرختیز ارخ قبله کړی وه) او (خدای دی نه کړی ، ته د دوی منسوخه ، غیرمشروعه قبله څکه قبلولی نه سي چی که چیري تا د دوی (هغه) نفساني خیالاتو له (چی هغه په اصل کي آسماني حکم چیری وو لیکن اوس دمنسوخ کیدو په وجه په دی باندی عمل کول صرف نفساني تعصب دی) (نو که چیري تاداسي خیالات) قبول کړل (اوداهم تاڅخه دعلم (قطعی یعنی وحی) راتلو څخه وروسته ، نو یقیناً ته (نعوذبالله) په ظالمانو کي به شمیر کړل سي (هغه ظالمان چی دالله ﷻ حکم پریږدی ، اوستاظالم کیدل په دی وجه محال دی ، چی ته معصوم یې ، نو په دی وجه دا هم محال سو چی ته د دوی خیالات چی په دی کي د دوی قبله هم ده ، قبول کړی)

علوم اومسائل : وَمَا أَنتَ بِتَابِعٍ قِبْلَتَهُمْ : کي دا اعلان وکړل سو چی اوس ترقیامته پوری ستا قبله به بیت الله وی ددي خبری دا غرض وو ، چی دیهودو اونصاراو دا خیالونه ختم کړی ، چی دوی به دا خیال کوی ، چی دمسلمانانو قبله په ځای نه دریږي ، مخکي بیت الله وه ، بیابیت المقدس سو او بیابیت الله سوه ، اوس هم ممکنه ده چی بیرته بیت الله مقرر سي (بحرمحیط ج ۱ ص ۴۳۲).

وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَاءَهُم : دا خطاب رسول الله ﷺ ته بطور فرض محال سوي دي او ددي دواقع کیدو ګرسره څه احتمال هم نسته ، او اصل کي امت محمدیه ته او رول دی ، چی ددي خلاف ورزی داسي شي دی چی که چیري بفرض محال په خپله رسول الله ﷺ داسي وکړی نو هغه به هم په ظالمانو کي شمیرل کیږي .

الَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَعْرِفُونَهُ كَمَا يَعْرِفُونَ

چاته چی مونږ ورکړی دی کتاب هغوی پیژنی دا څنګه چی پیژنی دوی

أَبْنَآءَهُمْ ۖ وَإِنَّ فَرِيقًا مِّنْهُمْ لَيَكْتُمُونَ الْحَقَّ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿١٤٦﴾

خپل زامن ، اوبیشکه یوه فرقه په دوی کی پټوی حق او حال دا دی چی دوی پوهیږي.

الْحَقُّ مِن رَّبِّكَ ۖ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِينَ ﴿١٤٧﴾

حق هغه دی چی ستا رب یې وایی بیا ته مه سه دشك کوونکو څخه .

لنډتفسیر : ددې څخه په مخکې آیت کې ددې خبری ذکر وسو چی اهل کتاب په زړه کې پوهیږي چی د مسلمانانو قبله صحیح ده لیکن په ژبه یې نه منله اوپه دی آیت کې ددې خبری ذکر دی ، چی داهل کتابو دقبلی دخاوندیعنی درسول الله ﷺ په باره کې هم دغه حال دی چی زړه کې حق پیژنی خوپه ژبه یې نه منی. کوموخلقو ته چی مونږ کتاب (تورات او انجیل) ورکړی دی دغه خلق رسول الله ﷺ (په تورات اوانجیل کې راغلی بشارت (زیری) په وجه په حیثیت دپیغمبر) داسي (بیشکه بی شبهی) پیژنی څنګه چی خپل زامن (دهغوی دشکلوڅخه) پیژنی (چی د زوی شکل ووینی ، نو کله ورته دا شبه نه کیږي ، چی دا څوک دی ؟ لیکن پیژندلو سره هم ټول مسلمانان کیږي نه ، بلکه بعضو خو ایمان راوړی) او ځینی په دوی کی (داسي دی چی دی) واقعی شي سره ددې چی ښه یې پیژنی (لیکن) پټوی (حال دا دی) چی دا وقعی شي دالله دطرف څخه (ثابت سوي) دی نو (داسي واقعی دالله دطرف څخه ثابت سوي شي کې ، هر یو سړی ته ویل کیږي چی) هرګزشک او شبه کوونکو کې شمیرمه سی .

علوم اومسائل : په دی آیت کې درسول الله ﷺ په حیثیت درسول الله پیژندل دخپلو زامنو دپیژندلوسره تشبیه ورکړل سوي ده ، هغه داسي چی دا خلق څنګه خپل زامن ، په ښه اومکمله طریقه پیژنی او په دی پیژندلوکي دوی ته یو قسم اشتباه اوشک نه راځی ، دغه رنګ په تورات او انجیل کې چی کوم زیری او واضح نښې نښانی درسول الله ﷺ را غلی دی ددې په ذریعه دوی رسول الله ﷺ په یقین سره پیژنی او انکار خو صرف دعناد په وجه کوی .

دلته دا خبره هم دغور کولو وړ ده چی دپوره او مکمل پیژندلو دپاره دزامنو مثال ورکړل سوي دي ، دمور او پلار مثال نه دی ورکړل سوي او حال دا دی چی سړی خپل مور اوپلار هم ښه پیژنی ، وجه ددې خبری دا ده ، چی دزامنوپیژندل دمور او پلار دپیژندلو په نسبت ډیرزیات دی ، ځکه چی انسان خپل زامن دپیداکیدو دوخت څخه په خپلو لاسونو پالی ، د دوی دبدن داسی حصه کیدای نه سي ، چي هغه دمور اوپلار دنظر څخه غائبه پاته سوي وي ، په خلاف دمور او پلار ځکه چی د دوی پټ اندامونه اولاد ته معلوم نه دی .

ددې بیان څخه دا هم معلومه سوه ، چی دلته دزامنو دپیژندلو څخه مراد دزامنو پیژندلو په حیثیت دزامنوکیدو نه ده ، ځکه چی په دی باره کې په انسان (پلار) باندی کله اشتباه کیدای سي ، چی ممکنه ده مور یې یوځای خیانت کړي وي ، او دا زوی دده خپل نه وی ، بلکه ددې مراد دزامنو شکل اوصورت پیژندل دی ، زوی که چیري واقع کې خپل وي یانه وي لیکن چی چا په حیثیت دزوی یو انسان پاللی وی

، نو بیا ده ته دهغه په شکل او صورت پیژندلو کي دیو قسم شک او شبه نه راځي .

وَلِكُلٍّ وِّجْهَةٌ هُوَ مُوَلِّيهَا فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرٰتِ ۗ اَيْنَ مَا تَكُوْنُوْا يَاْتِ بِكُمُ اللّٰهُ

او دهر چا دپاره یو اړخ دی یعنی قبله چی مخ کوی دهغه په طرف نو تاسی مخکې والی کوی په نیکوکی چیری

جَمِيْعًا ۗ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿١٤٨﴾ وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ

چی تاسی یاست الله ﷻ به راولی تاسی یوځای ته بیشکه الله ﷻ هرشی کولی سی او دکوم ځای څخه چی ته ووتی

فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۗ وَاِنَّهٗ لَلْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ ۗ

نو مخ کوه خپل دمسجد حرام په طرف ، او بیشکه هم دا حق دی ستا دپروردگار له طرفه

وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿١٤٩﴾ وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ فَوَلِّ

او الله ﷻ بی خبره نه دی ستاسی دکارونو څخه ، او دکوم ځای څخه چی ته ووتی مخ کوه خپل

وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۗ وَحَيْثُ مَا كُنْتُمْ فَوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ

دمسجد حرام په طرف او کوم ځای کی چی تاسی یاست مخ کوی دهغه

شَطْرَهٗ ۙ لِئَلَّا يَكُوْنَ لِلنَّاسِ عَلَيْكُمْ حُجَّةٌ ۙ اِلَّا الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مِنْهُمْ ۙ

په طرف دی دپاره چی پاته نه سی دخلقو دپاره تاسی سره دجگړی کولو موقعه لیکن کوم چی په دوی کی

فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِيْ ۙ وَلِاُتِمَّ نِعْمَتِيْ عَلَيْكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ﴿١٥٠﴾

بی انصافه دی نو دهغوی څخه (یعنی دهغوی داعتراض څخه) مه بیریږی او زما څخه وبیریږي او دی دپاره چی پوره کړم زه په تاسی باندی فضل خپل او دی دپاره چی تاسی سیده لاره پیدا کی .

لنډتفسیر: او (دویم حکمت دقبلې په بدلیدو کي دا دی چی دالله ﷻ دا یو روان عادت دی چی) دهر (مذهب) سړی دپاره جلا جلا قبله پاته سوي ده ، چی ددې په طرف هغه (په عبادت کولو کي) مخ کوی (هرکله چی شریعت محمدی هم یو مستقل دین دی ، نو دده قبله هم یو خاص طرف وګرځول سو ، نو هرکله چی حکمت تولو ته معلوم سو) نو (مسلمانانو) تاسی (اوس دا بحث پریږدی دخپل دین) په ښه نیکو کارونو کي دمخکې کیدلو کوشش کوی (څکه چی یوه ورځ دخپل مالک سره وا سطه پریوتونکی ده ، نو په دی وجه) تاسی به که چیری یاست (لیکن) الله ﷻ به تاسی ټول (خپل اجلاس کي) حاضر کړی (او په دغه وخت به په نیکیانو باندی جزا او په بدیانو باندی سزا ورکړی او) په یقین سره الله ﷻ په هرکارپوره

قدرت لري او (او ددې حکمت تقاضاهم دغه ده چې ځنګه په حضر (يعنې نه سفر) کې دکعبې په طرف مخ کول دي ، نو دغه رنګ که چيرې دمدينې ځخه يا ديوبل ځای ځخه) چې دکوم ځای ځخه هم (چيرې په سفر کې) ته بهر ولاړ سې نو (هم) خپل مخ (په لمانځه کې) دمسجدحرام په طرف کوه (مطلب دا چې دحضر او سفر د دواړو حالتونو کې دا قبله ده) او دا (عام حکم دقبلې) بالکل حق (او درست) دئ (او) دالله ﷻ دطرف ځخه (دی) او الله ﷻ ستاسو دکړو کارونو ځخه لړ غوندې هم بې خبره نه دی .

(دتحويل قبلې دريم حکم)

او (دوباره بياويل کيږي چې) ته دکوم ځای ځخه هم (سفرکې) بهرته ولاړسې (اوپه حضرکې په درجه اولې) خپل مخ (په لمانځه کې) دمسجدحرام په طرف کوه او (دغه ډول ټول مسلمانان دي واوري چې) تاسی خلق که چيرې (موجود) ياست خپل مخونه (په لمانځه کې) دغه (مسجدحرام په) طرف کوی او دا حکم په دی وجه مقرر کيږي) چې (دغه مخالف) خلقوته ستاسی په مقابله کې (ددې) وينا (محال) پاته نه سی (که چيرې محمد ﷺ هغه نبي موجودآخرالزمان وی ، نو دهغه په علامتونو کی دا هم ده چې دهغه اصلی قبله به کعبه وی ، او دی خو بيت المقدس ته لمونځ کوی ، دا دريم حکمت دی دقبلی په بدليدلوکی ، هغه) مګرپه دوی کی چې کوم (بالکل) بی انصافه دی (دوی اوس هم چينجی لټوی چې دی ځنګه نبي دی ، چې د دومره نبيانو برخلاف دکعبې په طرف لمونځ کوی ليکن هرکله چې داسی بی کاره اعتراضونو سره حق دين ته هيڅ قسم ضرر نه رسيږی) نو د داسی خلقو ځخه (لږغوندی) فکر مه کوه (اوددوی د اعتراضونو دجواب په فکر کی مه لويږه) او زماځخه وبيريږه (چې زماد حکمونو مخالفت ونه کړل سي ، چې دغه مخالفت ضرورتاته ضرر درکوی) او (مونږ تاته په دغه حکمونوباندی دعمل کولو توفيق هم درکړی دی) دی دپاره چې په تاباندی (چې) کوم زماانعام (اکرام متوجه) دئ (تاته په آخرت کی ، په جنت کې په وردا خلولوسره) دا پوره کړم او دی دپاره چې (دنياکې) ته په (حق) لاره باندی (يعنی په اسلام باندی ټينګ) پاته سې (چې په دی باندی دغه تکميل نعمت مرتب کيږي)

علوم اومسائل : په پورته ذکرسوې آيت کی دقبلې دبدليدلو دپاره الفاظ ، فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ : دری واره راغلی دی او ، وَحَيْثُ مَا كُنْتُمْ فَوَلُّوا وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُ : دوه وراه راغلی دی ، ددې تکرار يوه عامه وجه خو دا ده ، چې دقبلی دبدليدلوحکم ، خو دمخالفو خلقو دپاره دشور اوشغب ذريعه وه مسلمانانودپاره په خپله په عباداتو کی يوعظيم انقلاب وو ، که چيری ددې حکم سره دتاکيدونو تکرار نه وی کړل سوی ، نو زړونو ته به سکون او اطمنان په آسانه نه وو حاصل سوي ، نو په دی وجه دا حکم بار بار وکړل سو ، او په دی تکرار کې دی طرف ته دا هم اشاره وسوه ، چې دا بدلون آخری اوقطعی دی ، او ددې ځخه وروسته دنوری تبدلی ځه امکان قدری هم نسته .

دبيان القرآن په لنديزتفسيرکې چې دتطبيق کوم صورت ليکل سوي دی ، قرطبی هم يو داسی بيان نقل کړی دی ، چې ددې په وجه محض تکرار نه پاته کيږي ، لکه چې هغه وايې ، چې اول وار چې کوم حکم ، فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَحَيْثُ مَا كُنْتُمْ فَوَلُّوا وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُ : راغې ، دا حکم دحضر (نه دسفر) دحالت دی ، يعنی کله چې ته په خپل ځای کی يې ، نو ته دمسجد حرام په طرف مخ کوه ، او بياټول امت ته ددې

حکم وکړل سو ، اود ، حَیۡثُ مَا کُنۡتُمۡ : مفهوم ددې بیان دمخه دا سو ، چې په خپل وطن او ښارکې چې چیرې یاست نو په لمانځه کې بیت الله ته مخ کول لازمی دی ، دا حکم یوازې مسجد نبوی ﷺ پورې خاص نه دی .

بیادویم وار چې دغه الفاظو سره حکم وکړل سو ، نو دغه څخه مخکې مِنۡ حَیۡثُ خَرَجۡتَ الفاظو دا واضحه کړه چې دا حکم دوطن څخه دوتلو او دسفر دحالت دپاره دی ، او هرکله چې دسفر حالات مختلف وی ، کله دځو ورځو دپاره په یوکلی کې پاته کیدل را ځی او کله دسفر ختمولو موقع راځی ، نو ددې دواړو حالتونو دعام کولو دپاره دریم وار بیا دی الفاظو وَحَیۡثُ مَا کُنۡتُمۡ زیاتولو سره وښودل سو ، چې دسفر چې کوم یو حالت وی ، په هرحالت کې ، په لمانځه کې دمسجدحرام په طرف مخ کول لازمی دی ، او په دی دریم وار تکرار سره ، دقبلې دبدلیدو یو حکمت دا هم وښودل سو ، چې مخالفو خلقو ته ددې وینا موقعه په ګوتو را نه سي ، چې دنبی آخرالزمان قبله خو دتورات او انجیل په ډاګه ویناګانو کې کعبة الله په کار وه ، او دا رسول خو دکعبې په ځای بیت المقدس ته مخ کوی ، وَلِکُلٍّ وِجۡهَةٌ هُوَ مُوَلِّیهَا : دَ وِجۡهَة لغوی معنی ده ، دیو شي په طرف مخ کول ، حضرت ابن عباس ﷺ وایې چې دی څخه مراد قبله ده او دحضرت ابی بن کعب ﷺ په قرات کې دَ وِ جۡهَة هم نقل دی ، دآیت څخه مراد ، دجمهورو مفسرینو په نزد دا دی چې دهرقوم قبله ، چې ددې په طرف په عبادت کې دوی مخ کوی جلا جلا ده ، خواه په داسي کولو کې دوی ته دالله ﷻ دطرف څخه حکم سوي وی یا دوی په خپله یو طرف مقرر کړی وی ، په هرحال دا یو واقعی امر دی چې دمختلفو قومونو مختلفی قبلې را غلی ، نو په داسې حالت کې که چیرې دنبی امی ﷺ دپاره څه یوه خاصه قبله مقرر کړل سي ، نو په دی کې دانکار او تعجب کولو څه خبره ده .

(په مذهبي اودیني مسئلو کې دفضول بحثونوڅخه دځنګ کولو هدایت)

فَاسۡتَبِقُوا الۡخَیۡرَاتِ ، ددې څخه په مخکنې جمله کې دا فرمایلی وو ، چې دمختلفو قومونو مختلفی قبلې دی ، یو دبل قبلې نه منی ، نو په دې وجه دخپلې قبلې په حق کیدلو کې دې خلقو سره بحث کول بې فائدې دی ، ددې جملې حاصل دا دی ، چې هرکله دا معلومه ده ، چې دې بحث سره دې خلقو ته څه فائده نه رسیږي ، نو بیا دا بې فائدې بحث پریږد ده ، په خپل اصلی کار کې اخته سه او دا کار چې په ښو کارونو کې خوارې کول او په دی کې دوړاندې کیدو کوشش کول دی ، او هرکله چې په فضول بحثونو کې وخت بربادول ، اوپه ښو کارونو کې دوړاندې کیدلو څخه سستی کول ، په عام طورسره دآخرت څخه دغافله کیدلو په وجه کیږي ، او چاته چې دخپل آخرت غم وی ، هغه هیڅ کله په فضول بحثونو کې نه اخته کیږي ، هغه دخپل مزل په ختمولو کې مشغول وی ، نو په دی وجه وروسته جمله کې دآخرت دیادولو دپاره ارشاد وکړل سو ، اَیۡنَمَا تَکُوۡنُوۡا یَاۡتِ بِکُمُ اللّٰهُ جَمِیۡعًا چې ددې مطلب دا دی چې بحثونو کې ګټه بیلات ، او دخلقو د اعتراضونو څخه دمحفوظ کیدو فکراوغم ټول ددنیاد څوورځو دپاره دی او ډیر ژرهغه ورځ راتلونکې ده ، چې په دی کې به الله ﷻ ددنیاټول قومونه یوځای کې دحساب اخیستلو دپاره را جمع کړی ، نو دعاقل سړی کار خو دا دی ، چې خپل ټول وختونه ددغه ورځی په فکر اوغم کې تیر کړی .

(په عبادتونو اوښو کارونو کي بغیر دځه وجي تاخیر کول ښه کار نه دی تلوار کول په کي په کار دی)

د﴿فَاسْتَبِقُوا﴾، دلفظ څخه دا هم معلومه سوه چی انسان ته په کار دی، چی دځه ښه کارموقعه ورته په گوتو ورسي، نو ددغه کار په کولو کی دې تاخیرنه کوی، ځکه چی په ځینی وختونو کی په دغه تاخیرکولو سره دسړی څخه ددغه کار کولو توفیق ختم کړل سي، بیا سړی کار کولای نه سي، خواه دا کارلمونځ وی، که روژه وی، حج وی، که خیرات وی او که بل ځه نیک کار وی، په قرآن شریف کي دغه مضمون په ډیرښه وضاحت سره دسورة انفال په دی آیت کي بیان سوي دي.

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يَحُولُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهِ﴾:

ای دایمان خاوندانو! تاسی دالله ﷻ اودرسول الله ﷺ ویناپوره کوی کله چی رسول الله ﷺ تاسی ته ستاسی دژوند درکولو ځیز طرف ته بلی اوپوه سي، چی الله ﷻ آړ گرځی دانسان اودانسان دزړه ترمینځه.

(آیاهریو لمونځ په اول وخت کي کول بهتر دی ؟)

په نیکو کي ددې وړاندی کیدو څخه ځینی فقهاؤ ددې خبری دلیل نیولی دی، چی هر یو لمونځ په اول وخت کي کول غوره کار دی او دحدیث روایاتوڅخه ددې خبری په تائیدکي یې نقل کړی دی، چی په دوی کی په اول وخت کی دلمونځ کولو دغوره والی ذکر دی، او دامام شافعی رحمه الله دغه مذهب دی، لیکن امام اعظم رحمه الله او امام مالک رحمه الله دحدیث د نورو روایتونو په بناء باندی په دی معامله کي تفصیل کړی دی هغه داسی چی په کومو لمونځونو کي رسول الله ﷺ د وروسته کولو تعلیم په خپله ویناا و عمل دواړو سره کړی دی، نو د داسي لمونځو غوره وخت دغه دی (یعنی تاخیرکول غوره دی) پاته نور لمونځونه په خپل اصل باندی په اول وخت کي کول غوره دی، مثلاً په بخاری کي دحضرت انس رضی الله عنه په روایت کي دماخوستن دلمونځ وروسته کول ذکر دی، اوحضرت ابی هریرة رضی الله عنه ویلی دی چی رسول الله ﷺ ته دماخوستن لمونځ وروسته کول غوره وو (قرطبی ج ۲ ص ۱۲۲)

هم دغه ډول په بخاری اوترمذی کی دابوذر رضی الله عنه په روایت نقل دی چی یوسفرکي حضرت بلال رضی الله عنه دماخوستن د لمونځ دپاره د آذان کولو اراده وکړه، نو نبی کریم ﷺ د داسي کولو څخه دی منع کي، او وی فرمایل چی کله وخت لړ غوندی یخ سي نودغه وخت کي آذان وکړه، ځکه چی دگرمی زیات والی د دوږخ داورځینی دی مطلب داسوچی دگرمی په وخت کي رسول الله ﷺ دماخوستن لمونځ وروسته کول غوره ښکاره کړل.

ددغه روایتونو په بناء امام ابوحنیفه رحمه الله او امام مالک رحمه الله وایې، چی داسي لمونځونه په اول وخت کي دکولو دا شکل دی، چی هرکله وخت مستحب لمونځونو دپاره داخل سي، نو بیادې تاخیرنه کوی (یعنی دلته داول څخه مراد دمستحب وخت اول مراد دی) او کومو لمونځونو کي چی دتاخیر کولو حکم راغلی نه دی، نو په دغه لمونځونو کي بالکل اول وخت غوره دی، لکه دمابنام سو.

په هرحال دلوړ ذکرسوي آیت څخه په اتفاق سره دا معلومه سوه چی کله دلمانځه وخت راسي نو بغیردځه شرعی اوطبعی ضرورت څخه لمانځه کي تاخیرکول غوره کار نه دی، ضرورت شرعی خو هغه دی چی مخکې ذکر سو، چی په ځینو لمونځونو کي دتاخیر حکم رسول الله ﷺ کړی دی او ضرورت طبعی دا دی چی دمریضی یادنورو حاجتونو په وجه تاخیروکړل سي.

كَمَآ اَرْسَلْنَا فِيْكُمْ رَسُوْلًا مِّنْكُمْ يَتْلُوْا عَلَيْكُمْ اٰيٰتِنَا وَيُزَكِّيْكُمْ

څنګه چې ولیږل مونږ په تاسې کې پیغمبر له تاسې څخه چې وایي په تاسې باندې زمونږ ایتونه او پاکوي

وَيُعَلِّمُكُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَيُعَلِّمُكُمْ مَّا لَمْ تَكُوْنُوْا تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۵۱﴾

تاسې او ښيي تاسې ته کتاب او دهغه رازونه اوښيي تاسې ته هغه چې تاسې ته یې علم نسته .

فَاذْكُرُوْنِيْٓ اَذْكُرْكُمْ وَاشْكُرُوْا لِيْ وَلَا تَكْفُرُوْنِ ﴿۱۵۲﴾

نو یاد کړی ما ، زه به یاد کړم تاسې او احسان ومنی زما او نا شکری مه کوی زما .

لنډتفسیر : (یعنی مونږ کعبه مقرر کړه ، او دحضرت ابراهیم ﷺ دعاچې دکعبې جوړولو دمقبولیت په حقله وه ، دا رنګه قبوله سوه) څنګه (چې دهغه دویمه دعا ، چې دمحمد ﷺ دلیږلو متعلق وه ، قبول کړل سوه چې) په تاسو خلقو کې مونږ یو (دلوی ډول) پیغمبر ولیږی (چې هغه) ستاسې څخه (دی اوهغه زمونږ آیاتونه (اوحکمونه) وایي تاسو ته یې او روی او (دوهمونو ، جاهلي رسمونو څخه) ستاسو صفایي کوی اوتاسو ته دکتاب (الهي) او دپوهې خبری ښئی ، اوتاسو ته داسې (دفائدې) خبری درزده کوی اوښئی چې ددې تاسوته هډو خبرهم نه وو ، (او نه ددې دپاره اول کتابونه او نه عقل کافي وو او داسې ډول درسول الله ﷺ لیږلو دپاره ابراهیم ﷺ دعاکړی وه ، نو دهغه ظهوروکړل سو) دغه (ذکرسوي نعمتونو باندې ما (دنعمت ورکونکي په حیثیت سره) یادکړی ، زه به تاسو (په مهرباني کولوسره) یادکړم او زما (دنعمت) شکرادا کړی او (دنعمت څخه په انکارکولوسره یاتابعداری پرېښودو سره) زماناشکری مه کوی .

علوم اومسائل

تردې خو دقبلې بحث را روان وو او اوس دابحث یې په داسې مضمون باندې ختم کی ، چې ددې بحث په تمهید کې دحضرت ابراهیم ﷺ په دعاکې ضمناً راغلی وو ، یعنی رسول الله ﷺ دحضرت ابراهیم ﷺ په اولاد کې ، په یوخاص ډول سره لیږل ، په دې کې دې خبرې ته هم اشاره وسوه ، چې درسول الله ﷺ په لیږلو کې دکعبې دجوړونکي ددعاهم دخل اولاس وو ، نو په دې وجه که چیری ددغه رسول قبله جوړه کړل سوه ، نو په دې کې دانکار اوتعجب کولو څه خبره نسته .

كَمَآ اَرْسَلْنَا کې کاف حرتشبیه ددې یوه توجیه خو هغه ده چې کومه لنډیز تفسیرکې ذکر سوه دویمه توجیه دا هم کیدای سي چې هغه قرطبي ج ۲ ص ۱۷۰ / ۱۷۱ ، کړی ده چې ددې حرف (کاف) تعلق د وروستني آیت ، فَاذْكُرُوْنِيْٓ : سره دی اومعنی یې دا ده چې څنګه مونږ په تاسو باندې یونعمت دقبلې کړی دی ، بیا د دویم نعمت درسول الله ﷺ دلیږلو کړی دی ، داسې یونعمت ذکر الله هم دی ددې ټولو نعمتونو شکر ادا کوی ، ددې دپاره چې دا نعمتونه نور هم زیات سي ، قرطبي وایي چې ، دكَمَآ اَرْسَلْنَا

کاف داسي دی ، لکه چی په سورة انفال کي د ، کَمَآاَخۡرَجَکَ : اودسورة حجرپه آخرکي د ،کَمَآاَنۡزَلۡنَاعَلَی الۡمُقۡتَسِمِيۡنَ :کاف دی

فَاذۡکُرُوۡنِیۡٓ اَذۡکُرۡکُمۡ: دذکر اصلی معنی یادول دی ، چی ددې تعلق دزړه سره دی ، په ژبی سره ذکر کولوته هم ذکر په دی وجه ویل کیږي ، چی ژبه دزړه ترجمانی کوی ددې ښخه معلومه سوه ، چی دژبی ذکر هلته معتبر دی چی ددې سره په زړه کي هم دالله ﷻ یادول وی ، مولانارومی ددې متلق فرمايي .

(برزبان تسبیح دردل گاوخر) (این چنین تسبیح کے دارد اثر)

لیکن دی سره دا هم یاد لرل په کار دی چی که چیري یوسړی په ژبی سره په ذکر تسبیح کي مشغول وی ، لیکن دهغه زړه په ذکر کي لگیدلی نه وی ، نو دا هم دفائدی ښخه خالی نه دی ، حضرت ابوعثمان رحمه الله ته چا ددغه رنگ حالت شکایت وکی ، چی مونږ خوپه ژبه باندی ذکر کوو ، لیکن په زړونو کي ددې هیڅ قسم خوږوالی نه پیدا کوو ، دوی ورته وویل ، په دی باندی هم دالله ﷻ شکر کوه چی هغه ستایو اندام یعنی ژبه په اطاعت کي لگیاکړی ده ، قرطبی ج ۲ ص ۱۷۱ ،

(دالله ﷻ دذکر فضیلتونه)

ډیردی او دغه یوفضیلت خوڅه کم نه دی ، چی کوم بنده الله ﷻ یادوی ، نو الله ﷻ هم هغه یادوی ، ابوعثمان نهدی رحمه الله وايي چی زه هغه وخت پیژنم کوم وخت چی الله ﷻ مونږ یادوی ، خلقو پوښتنه ورڅخه وکړه چی تاته دا څنگه معلومیدلای سي ، نو هغه وویل ، چی دا داسي چی دقرآن شریف مطابق ، کله چی مومن بنده الله ﷻ یادوی ، نو الله ﷻ هم هغه یاد وی ، نو په دی وجه دا پو هیدل تولو ته آسان دی ، چی کوم وخت مونږ دالله ﷻ په یادوکي مشغول یو نو الله ﷻ هم مونږ یادوی .

او دآیت دا معنی هم کیدلای سي چی تاسی ما زما داحکامو په اطاعت سره یاد کړی ، نو زه به تاسي په ثواب درکولو او بخښنی سره یاد کړم ، حضرت سعید بن جبیر د ذکر الله دغه تفسیر کړی دی ، هغه وايي ، فَمَنۡ لَمۡ يُطِعۡهُ لَمۡ يَذۡکُرۡهُ وَاِنۡ کَثُرَتۡ صَلٰوتُهٗ وَتَسۡبِيۡحُهٗ (چاچی دالله ﷻ دحکمونو پیروی ونه کړه ، هغه الله ﷻ یاد نه کی ، که څه هم په ظاهره دده لمونځونه او تسبیحونه ډیر ولی نه وی)

(دالله ﷻ دذکر اصلي حقیقت)

قرطبی اول مرجع هم دغه مخ دابن خویزمنداذ داحکام القرآن په حواله ، یوحدیث ددې مضمون نقل کړي دي ، چی ددې ترجمه دا ده چی رسول الله ﷺ فرمایلی دی چی چادالله ﷻ اطاعت وکي یعني دهغه داحکامو یې تابعداری وکړه ، نو هغه الله ﷻ یاد کي ، که څه هم دهغه (نفلی) لمونځ او روژه وغیره کم وی اوچاچی دالله ﷻ دحکمونو تابعداری ونه کړه نو هغه الله ﷻ هیرکي ، که څه هم په (ظاهره) دهغه لمونځونه روژی تسبیحونه وغیره زیات وی .

حضرت ذوالنون مصری رحمه الله فرمایلی دی چی کوم سړی په حقیقی طریقی سره الله ﷻ یاد وی ، نو هغه دالله ﷻ په مقابله کي تولو شیان هیر وی ، او ددې په بدله کي الله ﷻ په خپله دده دپاره دتولو شیانو حفاظت کوی ، او دتولوشیانو عوض ده ته ورکوی ، اوله مرجع ص ۱۷۲ ،

اوحضرت معاذ رضی الله عنه فرمايي ، چی دانسان یوعمل هم هغه دخدای دعذاب ښخه خلاصولای نه سي ، څنگه

چې دخدای ﷻ یاد خلاصون ورکوی ، او په یوحدیث قدسي کي دحضرت ابوهریرة ؓ څخه نقل دی چې الله ﷻ فرمايې چې زه دخپل بنده سره ترهغه وخته یم ، ترڅوچې هغه مایاد وی ، او زمایه ذکرکی دهغه شونډی خوځي، دذکرالله فضائل بی شمیره دی، دديې لنډه خلاصه ماپه خپله رساله، ذکرالله ، کي کړی ده

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱسْتَعِينُوا۟ بِٱلصَّبْرِ وَٱلصَّلَوٰةِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿١٥٣﴾

ای مسلمانانو ! مدد حاصلوی په صبر او په لمانځه سره بیشکه الله صبرکوونکو سره دی .

ترون : دقبلې په بدلیدلو باندی دمخالفینو د اړخ څخه چې کوم اعتراض وو ، ددې دوه اثرونه وو ، یو په مذهب اسلام باندی چې اعتراض کولو څخه دمذهب اسلام په حق والی کي شبه پیداکول وو ، په مخکنې آیاتونوکي ددې اعتراض جواب وکړل سو او هم دغه ډول ددې اعتراض اثردمذهب اسلام څخه دفع کړل سو،دویم اثرداهل اسلام په طبیعتونوباندی وو، هغه داسی چې اعتراض کولو سره اوبیاخصوصًادجواب ورکولو څخه وروسته هم په دی باندی دبی ځایه اصرار کولو په وجه په زړه کي غم اوصدمه پیدا کیږي ، نو په دی آیت کي ددې دویم اثر دلیری کولو دپاره دا طریقه وښودل سوه ، چې صبر کوی او لمونځ کوی .

لنډتفسیر : ای دایمان خاوندانو ، (دخپل طبیعتونو څخه دغه سپکولو دپاره) دصبراولمونځ څخه مدد حاصل کړی ، بیشکه الله ﷻ (هرځنګه) صبرکوونکوسره وی (نو دلمونځ کوونکو سره خو لازیات وی ، وجه دا ده ، چې لمونځ دټولو څخه لوی عبادت دی ، نو هرکله چې په صبرکولو کي دا وعده ده ، نو لمونځ چې هغه دصبر څخه لوی دی نو په دی کي خو به دا وعده او زیری په درجه اولی وي .

علوم اومسائل

(صبراولمونځ دهرمشکل حل اودهرتکلیف علاج دی)

اِسْتَعِيْنُوْا بِالصبرِ وَالصلوةِ : په دی آیت کي داهدایت دی چې دانسان دټولو حاجتونو دپوره کولو او دټولو آفتونو او دتکلیفونو دلیري کولو نسخه د دوو اجزاوو څخه جوړه ده ، یوصبر بل لمونځ ، ددې نسخې دعام کیدلو په حقله ، چې دی سره ټول حاجتونه پوره کیږي ، اوټول غمونه ختمیږي قرآن شریف داسي اشاره کړی ده ، چې اِسْتَعِيْنُوْا يې عام پرېښی دی دځه خاص شي ذکر یې نه دی کړی چې په فلانی کارکي ددې دوو شیانوڅخه مدد اخلی ، نو ددې څخه معلومه سوه چې دا دوه شیان داسي دی ، چې په دوی سره د انسان په هرضرورت اوحاجت کي مدد حاصلیدلای سي ، په تفسیر مظهری جـ ۱ صـ ۱۵۱ کي دا عام والی واضح کړل سوي دي ، اوس ددې نسخې په دی دوو اجزا ، باندی ځان پوه کړی .

(دصبر اصل حقیقت)

دصبراصلی معنی ده ، خپل نفس منع کول او په نفس باندی قبضه پیداکول په قرآن اوسنت کي دصبر دری څانګی دی ، یوخپل نفس دحرامو اوناروا شیانو څخه بندول ، دویم نفس دعبادتونو اودالله ﷻ دفرمانبرداری پابندول ، دریم په مصیبتونو او آفتونو باندی صبرکول ، یعنی چې څه مصیبت راسي هغه دالله ﷻ دطرف څخه ګڼل او ددې دبنه بدلی امیدلرل او دی سره که چیري دتکلیف او دپریشانی

دځرګندولو دپاره څه الفاظ دخلی څخه ووزی ، نو دا دصبر سره منافی نه دی (دا خبره ابن کثیر ج ۱ ص ۳۴۲ کي دسعیدبن جبیرڅخه ذکر کړی ده)

دا دری سره څانګی دصبر په فرضوکی دا خل دی ، په هر یو مسلمان باندی دا پابندی ده ، چی دری سره صبرونه دی کوی ، دعامو خلقو په نزد صبر صرف دریمی څانګی ته وایې ، او اوله اودریمه شعبه چی دا دصبر اصل اوبنیاد دی ، په صبر کی دا خل نه ګڼی .

دقرآن اوحدیث په اصطلاح کی ، صابرین دهغو خلقو لقب دی چی دوی دصبر دری سره څانګوباندی کلک ولاړ وی ، په ځینو روایاتو کي دی ، چی دقیامت په ورځ به آواز وکړل سي ، چی صابرین چیري دی ؟ نو هغه خلق به را پاځی چاچي دصبر په دری سره څانګوباندی کلکه خپله زندګی تیره کړی وی او دوی ته به بغیر دحساب څخه جنت ته د داخلیدو اجازه ورکړل سي ، ابن کثیر اوله مرجع هم دغه مخ ددې روایت دنقل کولو څخه وروسته ویلی دی چی دقرآن دی آیت اِنَّمَایُوَفَّی الصَّابِرُوْنَ اَجْرَهُمْ بِغَیْرِ حِسَابٍ ، الزمر کي دی خبری ته اشاره ده .

ددې نسخی دویم جزء لمونځ دی چی هغه دانسان دټولو ضرورتونو پوره کولو دپاره او ټولو پریشانیو او تکلیفونو دلیری کولو دپاره اکسیر دی ، دصبر چی کوم بیان اوس اوس ولیکل سو ، ددې څخه دا معلومه سوي ده ، چی په حقیقت کي لمونځ او ټول عبادتونه دصبرجزئیات دی ، لیکن دا لمونځ جلا ذکر په دی وجه وکړل سو ، چی په ټولو عبادتونو کي ، لمونځ یو داسي عبادت دی چی دصبرمکمله نمونه ده ، څکه چی دلمانځه په حالت کي ، نفس په عبادت او اطاعت باندی بندولای سي او ورسره دټولو ګناهونو اومکروه کارونو څخه ، بلکه د ډیرو مباح کارونو څخه هم منع کولای سي ، نو په دی وجه صبر (چی معنی یې نفس په قابو کي کول او دټولو اطاعتونو فرمانبرداره جوړول او دګناهونو څخه بیزاره کول دی) دلمونځ یوعملی مثال دی .

ددې څخه زیات دلمونځ دپاره دانسان دټولو حاجتونو په پوره کولو کی او دټولو مصیبتونو څخه په خلاصونو کي یوخاص اثرهم دی ، که څه هم ددې وجه او سبب معلوم هم نه وی ، لکه چی ځینی داروګان موثر بالخاصه منل کیږي ، یعنی دګرموالی اویخوالی دکفیاتو په حساب سره لکه چی دیو خاص مرض دلیري کولو دپاره ځینی داروګان مؤثربالخاصه وی ، لکه دپښتورګی د درد دپاره دفزنګی دانی په لاس یاپه خوله اینبودل او ډیرو مرضونودپاره عود صلیب وغیره په غاړه کي اچول مؤثر بالخاصه دی ، سبب یې معلوم نه دی ، دوسپنی را کښل دمقناطیس اثربالخاصه دی ، څه سبب یې معلوم نه دی ، دغه رنګ لمونځ دانسان دټولو حاجتونو پوره کولو کي او دتکلیفونو څخه په خلاصولو کي اثر بالخاصه لری ، لیکن شرط په کی یو دا دی چی لمونځ په پوره آدابو اوخشوع اوخضوع سره ادا کړل سي ، زمونږ لمونځونه چی اثرنه لری ددې وجه بس زمونږ قصور دی ، چی دلمونځ په آدابو او خشوع خضوع کي کوتاهی کوو ، که چیري داسی نه وی ، نو درسول الله ﷺ خو دا عادت مبارک وو چی کله به څه مهم ورته پیښ سو ، نو لمونځ ته به یې رجوع کوله ، او دلمونځ په برکت به یې الله ﷻ دا حاجت پوره کوی ، په حدیث کي دی .

اذا حزبه امر فزع الی الصلوٰة : رسول الله ﷺ ته چی به کله څه ضرورت او حاجت پیښ سو ، نو لمانځه ته به یې رجوع کول .

(صبر او لمونځ دټولو مشکلاتو او تکلیفونو څخه دنجات سبب په دی وجه دی چي په صبر سره دالله ﷻ ملګرتیا حاصلیږی)

اِنَّ اللهَ مَعَ الصّٰبِرِیْنَ : په دی جمله کي داراز ښودل سوی دی ، چی صبر د مشکلاتو دحل او دمصیبتونو دلیری کولو سبب څنګه ګرځی د ارشاد حاصل دا دی چی دصبر په نتیجه کي انسان ته دالله ﷻ ملګرتیا حاصلیږي ،او دا ظاهره خبره ده چي چاته دالله ﷻ ملګرتیا حاصله سي ، نو دهغه کوم یو کار بندیدای سي ، او کوم یو مصیبت هغه عاجز کولی سی ؟

وَلَا تَقُوْلُوْا لِمَنْ یُّقْتَلُ فِیْ سَبِیْلِ اللهِ اَمْوَاتٌ ؕ بَلْ اَحْیَآءٌ

او مه وایاست هغوی ته چی مړه سی دالله ﷻ په لاره کی چی دوی مړه دی بلکه دوی ژوندی دی

وَّلٰکِنْ لَّا تَشْعُرُوْنَ ﴿۱۵۴﴾ وَلَنَبْلُوَنَّکُمْ بِشَیْءٍ مِّنَ الْخَوْفِ

لیکن تاسی ته درک نسته ، او خامخا مونږ به ازمیښت کوو په تاسی باندی په لږ بیری

وَالْجُوْعِ وَنَقْصٍ مِّنَ الْاَمْوَالِ وَالْاَنْفُسِ وَالثَّمَرٰتِ ؕ

او لوږی او نقصانونو سره دمالونو او دځانونو او دمیوو

وَبَشِّرِ الصّٰبِرِیْنَ ﴿۱۵۵﴾ الَّذِیْنَ اِذَآ اَصَابَتْهُمْ مُّصِیْبَةٌ ۙ قَالُوْٓا

او زیری ورکړه صبرکوونکو ته ، چی کله ورسیږي دوی ته مصیبت نو وایی

اِنَّا لِلهِ وَاِنَّآ اِلَیْهِ رٰجِعُوْنَ ﴿۱۵۶﴾ اُولٰٓئِکَ عَلَیْهِمْ صَلَوٰتٌ مِّنْ رَّبِّهِمْ

مونږ دالله مال یُو او مونږ دده په طرف واپس کیدونکی یُو ، داسی خلقو باندی مهربانی دی د دوی دپروردګار

وَرَحْمَةٌ قف وَاُولٰٓئِکَ هُمُ الْمُهْتَدُوْنَ ﴿۱۵۷﴾

اورحمت او دغه خلق دی په سیده لاره .

قرون : په ذکر سوي آیت کي په خاصه ناګواره واقعه باندی دصبر کولو تعلیم او دصبر کوونکو، فضیلت بیان کړل سوي دي ، اوس په دی آیتونو کي دځینی نورو خلاف طبع واقعاتو دتفصیل ، او په دی باندی دصبر کولو دترغیب او دفضیلت بیان دی او په دغه واقعاتو کي دکافرو سره دجنګ جګړی مضمون یې په دوو وجو وړاندی کی اول دا چی دا لوی دی او په لوی شي باندی صبر کوونکی خو په طریق اولی په

کوچنی باندی صبر کوی ، دویم په دی وجه چی دمقام دمناسبت په وجه څکه چی ذکر سوی معترضینو ته دا معامله پیښه سوي ده .

لنډتفسیر : اوکوم خلق چی دالله ﷻ په لار کی (یعني ددین دپاره) قتل کړل سی ، د دوی (داسي فضیلت دی چی د دوی) په باره کي داسي مه وایاست دوی (دمعمولی مړو په ډول) مړه دی بلکه دا خلق (په یو جلارنګ ژوندسره) ژوندي دی لیکن تاسو (په خپلو موجودو) حواسو سره (ددې ژوند) معلومول نه سي کولی او (وګوری) چی مونږ به (درضااوغاړی اینبودو صفت ، چی هغه دایمان تقاضاوه) ستاسی امتحان واخلو څه قدری بیری سره (چی هغه دمخالفینو په حملی سره او یا دحادثاتو او تکلیفونو په راتلو سره راځی) او (قدری فقر) او لوږی سره او (څه قدری) دمال ځان او دمیوو په کمی سره (مثلاً حیوان مړ سي ، یا یو انسان مړسي ، یاناجوړه سي یامیوه او دمځکی حاصلات خراب سي نوتاسی صبرکوی) او (چی کوم خلق په دی امتحانونو کي پوره وخیژی اومستقل پاته سي نو) ته داسي صبر کوونکو ته زیری واوروه (چی دچادا عادت وی) چی په دوی باندی کله څه مصیبت را سي نو دوی (په عقیده اویقین سره داسي) وایې چی مونږ خو (سره دمال اوعیال ښځه په اصل کي) دالله ﷻ ملکیت یو (اوحقیقی مالک له ، په خپل ملک کی دهر قسمه تصرف کولو اختیار حاصل دی ، په دی سره دمملوک دتنګولو اختیار حاصل دی ، په دی سره دمملوک دتنګولو څه معنی اومطلب نسته) اومونږ ټول (ددنیاڅخه) الله ﷻ څخه تلونکی یو (نو ددې ځای دنقصانونو بدله به را کړل سي ، چی هلته ورسو ، او دزیری هغه مضمون کوم چی به دوی ته آورول کیږي ، هغه دا دی چی) په دی خلقو باندی (جلاجلا خاص خاص رحمتونه هم دخپل پروردګار دطرفه به وی او (په ټولو باندی په شریکه سره) عام رحمت به هم وی او دا هغه خلق دی چی دوی (حقیقت حال ته) رسیدلی دی (چی الله ﷻ دهرشي مالک ګڼی او دنقصان بدله ورکوونکی ګڼی)

علوم او مسائل

(دشهیدانو او نبیانو دبرزخ ژونداوپه دی کي درجي)

دا خو ټولو ته معلومه ده چی داسلام درواياتو دمخه هر مړکیدونکی ته په برزخ کي یوخاص قسم ژوند حاصل وی ، چی دی سره هغه دقبر دعذاب یادثواب احساس کول کیږي ، په دی ژوند کی دمؤمن اودکافر، صالح او دفاسق ، څه فرق نسته ، لیکن ددغه برزخی ژوندمختلفی درجی دی ، یوه درجه کي خو ټول برابر دی ، اوځه درجی دنبیانو اوصالحانو دپاره خاص دی او دوی هم یوتربله په دی ژوند کی درجی لری ددې مسئلی په تحقیق دعلماؤ بی شمیره مقابلی اورسالی سته ، لیکن په دوی کی چی کومه خبره کتاب الله اوسنت رسول ته نږدی ده اودشبهوڅخه پاکه ده ، هغه حضرت حکیم الامت تهانوی رحمه الله په بیان القرآن ج ۱ ص ۸۷ کی واضحه کری ده ، دلته ددې نقل کول بنه ګڼم .

ف : داسي قتل کړل سوي ته چی دالله ﷻ په لاره کي قتل سي شهید ویل کیږي او دده په حقله داسي ویل ، چی دی مړ سو صحیح او روا دی ، لیکن دده مرګ دنورو مړو په ډول ګڼل منع کړل سوي دي ، ددې وجه دا ده چی دمرګ څخه وروسته که څه هم برزخی ژوند هرچاته حاصل دی او ددې په وجه دجزا او

دسزا علم لری ، لیکن شهید ته په دی ژوند کی دنورو مړو څخه یو قسمه فرق حاصل دی او هغه دا دی چی ددې ژوند نښی نښانی او اثرونه په ده کي دنورو مړو څخه قوی دی ، لکه چی دپښو دګوتو سرونو او پوندو دواړو کی که څه هم ژوند سته ، او د ژوندون نښی په دواړوکي هم سته ، لیکن دګوتو په سرونو کی دژوند آثار لکه احساس وغیره دپوندو په مقابله کی زیات وی ، دغه رنګ په شهیدانوکي د ژوند آثار دعامو مړو څخه ډیر زیات وی ، تر دی چی دشهید د ژوند دقوت یو اثر دمعمولی مړو په خلاف ، دده ظاهری چثی ته هم رسیدلی دی ، هغه دا چی دده جثه باندی سره ددې څخه چی دا دغوښی او دپوستکی مجموعه ده ، خاوره اثر نه کوی او د ژوندی جسم په ډول صحیح سالم وی ، لکه چی په دی باندی احادیث اومشاهدی شاهددی ، نو ددې امتیاز په وجه شهیدانو ته ژوندی وویل سوه ، او د دوی په باره کی دا وویل سوه ، چی دوی ته د نورو مړو په ډول مړه مه ورته وایاست ، لیکن په ظاهری حکمونو کي چی دوی دعامو مړو په ډول دی ، د دوی میراث تقسیمیږي ، د دوی بیبیانی دنورو خلقو سره نکاح کولای سي ، او دغه برزخی ژوند دی چی په دی کی نبیان دشهیدانو څخه هم زیات امتیاز اوقوت لری ، تر دی پوری چی دجسم سالم پاته کیدو څخه علاوه ددغه ژوند څه اثرات په ظاهری حکمونو باندی غورځیږي ، مثلا د دوی میراث نه تقسیمیږي ، د دوی بیبیانو سره د نورو نکاح نه کیږي نو په دی ژوند کی دټولو څخه زیات قوی پیغمبران او بیا شهیدان دی ، اوعام مړوکی خو دا ژوند سته ، لیکن دشهیدانو په ډول نه ، البته دځینی احادیثو څخه معلومیږي چی ځینی اولیاء اوصلحاء هم په دغه فضیلت کي دشهیدانو سره شریک دی نو ددې احادیثو مطلب دا دی چی دنفس سره په مجاهده کي مر کیدونکی ته په معنی کی دشهادت درجه حاصله ده ، یاخو دې داسي وویل سي ، چی په آیت کي دشهداء تخصیص دعامو خلقو په اعتبار سره کړل سوي دی ، دشهداؤ سره دیوی مرتبی دنورو خلقو صالحینو او صدیقینو په اعتبار سره نه دی سوي.

اوکه چادیوشهید جثه خاوری سوي موندلی وی نو هغه دی وګنړی چی ممکنه ده چی دده نیت به خالص نه وو ، او دشهادت مدار په نیت باندی دی ، صرف قتل کیدل شهادت نه دی ، اوکه چیري فرضًاداسي یو شهیدبیاپیداسي چی دهغه جثه خاورو خوړلی وی او په لاره دخدای کي دده قتل دشهادت دټولو شرطونو سره پوره هم وی نو ددې په وجه دا ویل کیږي ، چی په حدیث کی دکوم شي تصریح ده ، هغه دا ده چی دنبیانو اودشهیدانو جسم مځکه نه خوری ، یعني خاوره د دوی جسم خرابولای نه سي د اجزاء ارضیه دخاوری وغیره څخه علاوه څه بل شي سره د دوی دجسم متاثره کیدل اوفناکیدل بیا هم ممکن دی ، څکه چی په مځکه کی الله ﷻ نور ډیر قسمونه ددهاتونو او دهاتونو د اجزاؤ اینښودلی دی ، نوکه چیری دغه شیانو څخه دیوشهید جسم متاثرسي ، نو دا ددې آیت سره ټکر نه خوری.

لکه چی دنورو مرکبو اجسامو ، مثلاً دوسلی د داروګانو ، دخوراکونو ، داوبو اور او دبادو اثردنبیانو په جسم باندی هم ثابت دی ، او دشهیدانو ژوند دمرګ څخه وروسته دنبیانو دژوند (مځکې دمرګ) څخه ډیر قوی خو نه دی ، دمځکې په ځینی حصوکی ځینی غیر اجزاء ارضی هم شامل وی ، لکه چی څنګه په نورو عناصروکی هم نور مختلف عناصرشامل وی ، نوکه چیري ددغه غیر اجزاء ارضیه په وجه د دوی

اجسام متاثرسي نوددې څخه په هغه احادیثوباندی څه قسمه اشکال نه را ځي ، چي دی کي حرمت داجسادالانبیاء علی الارض راغلی دی (یعني په مځکه باندی دا حرام کړل سوي دی چي دنبیانو جثی وخوری)

اوبو جواب دا دی چي دشهیدانو دجثو د امتیاز دپاره دا کافی ده ، چي دنورو مړو په مقابله کي تر ډیری مودی پوری ، د دوی جثی دخاورو څخه نه متاثره کیږي ، که څه هم څه وخت وروسته بیامتاثره سي او داحادیثو څخه دا خبره غرض ده چي د دوی دجثو محفوظ پاته کیدل دعادت څخه بهر خبره ده ، او دعادت بهرکیدو دپاره دوه صورتونه دی ، یوصورت دهمیش دپاره محفوظ پاته کیدل او دویم وړده محفوظتیا او هرکله چي عالم برزخ په حواسو یعني سترګو ، غوږو ، اوپزه اولاس سره نه معلومیږي ، نو په دی وجه یې ، لَا تَشْعُرُوْنَ : وویل ، چي تاسی ددې حیات حقیقت نه سي معلوملای .

(په مصیبتونو باندی صبر کول ددې دآسانولو یوخاص تدبیر دی)

ف : دالله ﷻ دطرفه ، په بندګانو چي کوم امتحان کیږي ، ددې حقیقت د وَ اِذِبْتَلٰی اِبْرٰهِیْمَ رَبُّهٗ په تفسیرکي تیرسوي دي ، او دحوادثو د راتلو څخه وړاندی د دوی دخبر ورکولو فائده دا سوه ، چي صبرکول آسانیږي ، اوکه چیري داسي نه سي نو په ناڅاپه صدی سره زیاته پریشانی راځي ، او دا خطاب ټول امت ته دی ، نو ټولو پوهیدل په کار دی چي دنیادتکلیفونو ځای دی اوپه دی وجه ددې ځای حوادث عجب اوغریب ونه ګڼل سي نو بی صبری به را نه سي ، اوهرکله چي دا خلق صرف دصبر په عمل کي ټول مشترک دی ، نوپه دی وجه ددې بدله مشترکه ، عام رحمت دی ، چي ددې وعده صرف په صبر باندی کړل سوي ده ، اوهرکله چي دهر صبر کوونکې دصبر مقدار اوشان جلاجلا دی ، نو ددغه جلاوالي بدله به په جلاجلا مهربانو سره وی ، لکه په دنیاکي دانعامونو ورکولو په موقعه دخوراک دعوت خوعام وی ، لیکن روپی اوجوړی هر یوه ته دحیثیت اودخدمت په قدر ورکولای سي .

(په مصیبت کي اناالله په یوه سره ویل دتسکین قلب ډیر ښه علاج دی)

دصبرکوونکو متعلق چي دا یې فرمایلی دی چي دوی دمصیبت په وخت کي اِنَّالِلّٰهِ وَاِنَّااِلَیْهِ رٰجِعُوْنَ وایی ، ددې څخه مقصد دا تعلیم ورکول دی ، چي په تکلیف اومصیبت کي ګیرخلقو ته داسي ویل په کار دی ، څکه چي په داسی ویلو کی ثواب هم لوی دی اوکه چیری دزړه دپوهی څخه دا الفاظ وویل سی ، نو دغم دلیری کولو دپاره او زړه ته دتسلی ورکولو دپاره دا اکسیر اثر هم لری .

اِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَآئِرِ اللّٰهِ ۚ فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ اَوِاعْتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ

بیشکه صفا او مروه دنښانو څخه دی دالله ﷻ نو چاچي حج وکی دبیت الله یا یی عمره وکړه نوڅه

عَلَيْهِ اَنْ يَّطَّوَّفَ بِهِمَا ۗ وَمَنْ تَطَوَّعَ خَيْرًا ۙ فَاِنَّ اللّٰهَ

ګناه نسته په ده چي طواف وکی په دی دواړوکی اوڅوك چي دخپلی خوښی څخه وی څه نیکی، نو الله ﷻ قدردان

شَاكِرٌ عَلِيمٌ ﴿۱۵۸﴾

دی هرڅه باندی علم لرونکی دی.

ترون: په تیرو آیتونو کي ، وَابْتَلَى اِبْرٰهِيْمَ: څخه واخله ترلیری پوری دخانه کعبی مفصل ذکرسوي دی ، چی ددی په اول کي دخانه کعبی دځای دعبادت کیدلو بیان وو او ورپسی دحضرت ابراهیم ﷺ ددعاقصه وه چی دوی دا درخواست کړی وو ، چی مونږ ته دمناسک حج (اعمال حج) احکام وښایی اوپه مناسکو دحج کي حج اوعمره هم دا خله ده ، نو دبیت الله ځای دعبادت کیدل ځنګه چی ددې څخه ظاهرکړل سو ، چی دا دلمانځه دپاره قبله جوړه کړل سوه ، نو دغه رنګ په حج اوعمره کې بیت الله مقصد جوړکړل سو او دبیت الله اهمیت ظاهر کړل سو ، اوس په دی آیت کي دیو داسي مضمون بیان دی ، چی ددې تعلق دی خبری سره دی ، چی دحج اوعمری څخه مقصد بیت الله دی (یعنی دبیت الله زیارت کول دی) او هغه مضمون دا دی چی صفا اومروه په مکه کي دوې غوندی دې ، په حج اوعمره کې دکعبی دطواف کولوڅخه وروسته خلق د دوی په مینځ کي ځغستل کوی او دی ځغستلو ته سعی ویل کیږي ، اوهرکله چی داسعی به دجاهلیت په زمانه کی هم کیدای سوه ، او په دغه زمانه کي په صفا او مروه کي څه بتان هم ایښودل سوي وو ، نو په دی وجه دځینی مسلمانانو داشبهه په زړه کي پیدا سوه ، چی دا (یعني سعی) دجاهلیت رسم او رواج به وی ، او دګناه سبب به وی ، اوځینو خلقو دا په جاهلیت کي هم ګناه ګڼرله ، نو دوی ته دا شبهه پیدا سوه چی شاید دا به په اسلام کي هم ګناه وی ، نو په دی آیت کي الله ﷻ ددې شبهی دفع وکړه ، اوس ددې مضمون او ددې څخه په مخکښې مضمون کي د ترون وجه دا سوه چی اول مضمون کي په کعبه باندی دلمانځه دپاره دقبلی دجوړیدو ، دکفارو دشبهی او اعتراض دفع کول وو او په دی مضمون کي دصفااو مروه په مینځ کي دسعی په باره کي ، چی دا هم دکعبی سره تعلق لري دمسلمانانو دشبهی دفع کول دی .

لنډتفسیر: (دصفا اومروه په سعی کی څه شک مه کوی ځکه) چی بی شکه صفا اومروه (او د دوی په مینځ کي سعی کول) دځینی یادګارونو (ددین) خداوندی څخه دی نوکوم سړی چی حج وکی دبیت الله یا(ددې) عمره یې وکړه په هغه باندی لږ غوندی ګناه هم نسته (لکه چی ځنګه تاسی ته شبهه سوي ده) ددې دواړو په مینځ کي (سعی معلومی طریقی برابر) په تلوار تګ کولو کي (چی ددې نوم سعی ده او ګناه لاڅه ، بلکه دثواب کار دی ، ځکه چی دا سعی خو دشرع په نظرکي یوښه کاردی) او (زمونږ خودا قاعده اوقانون دی چی) کوم سړی په خوشحالی سره څه ښه کا وکی نو الله ﷻ (ددې لویه) قدر دانی کوی (اوددغه ښه کار کونکی نیت اوخلوص) ښه پیژنی (نو ددې قاعدی دمخه ، سعی کوونکی ته به دهغه داخلاص مطابق ثواب ورکړل سی)

علوم اومسئلي

(دځیني الفاظوتحقیق)

شعائرالله ، شعائر جمع دشعیره ده ، او دشعیره معنی ده علامه اوشعائرالله څخه مراد هغه عملونه دی

چی کوم الله ﷻ ددین دپاره علامی مقرر کړی دی ، دحج لفظی معنی قصد کول دی او دقرآن شریف اوسنت رسول الله ﷺ په اصطلاح او ژبه کي دخانه کعبی زیارت کول او هلته خاص عملونو ادا کولو ته حج ویل کیږي ، دعمری لفظی معنی ده زیارت کول ، او دشرع په ژبه کي مسجدحرام ته حاضریدل ، دکعبی څخه طواف کولو او سعی کولو ته وایی .

(دصفا او مروه په مینځ کي سعي کول وا جب دی)

دحج ، عمری او دسعی کولو طریقه دفقهی په کتابونو کي ذکر دی او سعی کول دامام احمد رحمه الله په نزد مستحب یا سنت دی ، او دامام مالک رحمه الله او امام شافعی رحمه الله په نزد فرض دی ، او دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزد داسي واجب دی چی په پریښودلو سره یی یو پسه ، یا بیزه ذبح کول لازمیږي .

دپورته ذکرسوي آیت دالفاظو څخه دا شبهه په زړه کي را وستل په کار نه دی ، چی په دی آیت کي دصفا او مروه په مینځ کي خو دسعی متعلق دومره قدری ویل سوي دي چی دا ګناه نه ده ، ددې خبری څخه زیات ترزیات دومره ثابته سوه ، چی مباحو کي یو مباح دی ، دشبهی نه کولو وجه دا ده چی دلته د ، لَاجُنَاحَ : الفاظ دسوال په مناسبت را وړل سوي دي ، سوال ددې خبری وو چی په صفا او مروه کي بتان اېښودل سوي وو او دجاهلیت دزمانی خلقو به د دوی دعبادت کولو دپاره دصفا او مروه په مینځ کي سعی کوله ، نو په دی وجه دا کار حرام کیدل په کار دی .

ددې په جواب کي وفرمایل سوه ، چی په دی کي څه ګناه نسته ، ځکه چی دا په اصل کي ابراهیمی سنت دی ، دچا دجاهلی عمل په وجه دا څه ګناه نه کیږي ، نو داسي ویناددې دواجب کیدلو سره څه منافات (ټکر) نه خوری .

إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنزَلْنَا مِنَ الْبَيِّنَٰتِ

بیشکه چی کوم خلق پټوی څه چی مونږ نازل کړی دی دصاف حکم او هدایت خبری

وَالْهُدَىٰ مِن بَعْدِ مَا بَيَّنَّٰهُ لِلنَّاسِ فِي الْكِتَٰبِ ۙ أُولَٰٓئِكَ

پس له هغه څخه چی مونږ دا واضح کړی دی دخلقو دپاره په کتاب کی ، په دوی باندی

يَلْعَنُهُمُ اللَّهُ وَيَلْعَنُهُمُ اللَّٰعِنُونَ ﴿١٥٩﴾ إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا وَأَصْلَحُوا

لعنت کوی الله او لعنت کوی په دوی باندی لعنت کوونکی ، مګر چا چی توبه وکړه او درست یی کړی

وَبَيَّنُوا فَأُولَٰٓئِكَ أَتُوبُ عَلَيْهِمْ ۚ وَأَنَا التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ﴿١٦٠﴾ إِنَّ

خپلی خبری او بیان یی کړه دحق خبره ، نو داسی خلق معاف کوم او زه یم لوی معاف کوونکی نهایت مهربانه

اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَمَاتُوْا وَهُمْ كُفَّارٌ اُولٰٓئِكَ عَلَيْهِمْ لَعْنَةُ اللّٰهِ

بیشکه چې کوم خلق کافران سول او مړه سول او دوی کافران وی نو په دوی باندي لعنت دی دالله ﷻ

وَالْمَلٰٓئِكَةِ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ (۱۶۱) خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ لَا يُخَفَّفُ

او دملائکو او دخلقو تولو ، همیشه به وی په دغه لعنت کی نه به سپکیږي

عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنْظَرُوْنَ (۱۶۲)

په دوی باندی عذاب او نه به دوی ته مهلت ورکول کیږي .

تړون : مخکې دقبلی دبحث په ترس کي دا خبره ذکر سوي ده چې اهل کتاب حق پټوی او په دی آیت کي ، اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ يَعْرِفُوْنَهٗ الی قوله لَيَكْتُمُوْنَ الْحَقَّ : ددغه خبری تکمیل دی ، هغه داسي چې حق پټوونکو دپاره اوحق بټولوکی اصرار کوونکو دپاره دالله ﷻ عذاب اولعنت دی اوځوک چې ددې څخه توبه تائب سي ، هغه دپاره دمعافي وعده ده .

لنډتفسير : کوم خلق چې پټوی هغه مضمونونه چې مونږ نازل کړی دی اوچې هغه په خپله واضح دی او (دنورودپاره) هدایت کوونکې دی (اوپټول هم) دهغه (حالت) څخه وروسته چې مونږ دغه (مضمونونه) کتاب (خدائي توراة او انجیل) کي (په نازلولو سره) عامو خلقو ته ظاهر کړی دی ، په داسي خلقو باندی الله ﷻ هم لعنت لیږي (چی دخپل خاص رحمت څخه يې لیري کوی) او (نور ډیرخلق) لعنت کوونکی هم (کوم چې دداسي کارونو څخه نفرت کوی) په دوی باندی لعنت لیږي (چی دوی ته ښراوی کوی) ، مگر کوم خلق (چی په دغه پټوونکو خلقو کي دخپل دغه کارڅخه) توبه (یعنی دالله ﷻ په مخکی دتیرو بدوکارونو څخه عذر) وغواړي او (چی کومه خرابی د دوی ددې کارڅخه سوي وي ، نو آئنده ددې اصلاح وکی (او ددې اصلاح طریقه دا ده ، چی دغه پټ کړی مضمونونه په عامه توگه ظاهرکړی (چی ټول خبر سی ، اوپه دوی باندی دخلقو دگمراه کولو بوج پاته نه سي ، اوظاهرول په شرع کي هغه معتبردی چې اسلام قبول کړی ، ځکه که چیری اسلام قبول نه کړی نو دنبوت محمدی حق کیدل به په خلقو پټ پاته سي ، خلق به دا وگنی چې که چیري نبوت محمدی حق وی ، نو دا دکتاب پوهیدونکی خلق ایمان ولی نه را وړی ، مطلب دا چې دا خلق مسلمانان سي) نو دداسي خلقو په (حال) زه (په مهرباني سره) متوجه کیږم (او د دوی گناه معاف کوم) او زماخو ډیر عادت دی توبه قبلول اومهرباني کول (خوځوک توبه کوونکی په کار دی) البته چې کوم خلق (په دوی کي) اسلام را نه وړی اوپه دغه غیر اسلامي حالت باندی مړه سي په داسي خلقو باندی (دغه ذکر سوي) لعنت دالله ﷻ او دفرښتو او دخلقو هم ټولو (داسي وریږي چی) دوی به همیشه دپاره په دغه (لعنت) کي وی (مطلب دا چې دوی به همیشه په جهنم کي وی اوپه جهنم کي دهمیش دپاره پاته کیدونکی خلق ، دخدای دخاص رحمت څخه

لیری هم وی ، او همیشه په لعنت کي هم وی ، چی جهنم ته د داخلیدو څخه وروسته څه وخت وروسته) د دوی څخه (جهنم) عذاب سپکیږي به (هم) نه ، او نه (جهنم ته د ور تللو څخه دمخه) دوی ته (ترڅه مودی پوری) به ډیل ورکیدای سي (څکه چي ډیل هغه وخت ورکیدای سي چی کله مقدمه کي گنجائش وی او په گنجائش نه کیدلو کي په اول پیشئ کي د سزا ورکولو حکم وی)

علوم اومسئلي

(دعلم دین ظاهرول او خورول واجب دی او ددې پټول حرام دی)

په ذکر سوي آیت کي دا ارشاد سوي دي ، چی دالله ﷻ دطرف څخه چی کوم واضح هدایتونه نازل کړل سوي دي ، هغه ته دخلقوڅخه پټول دومره لوی جرم اوگناه ده چی په دی باندی الله ﷻ هم لعنت لیږي اوټول مخلوق هم لعنت لیږي ، نو ددې څخه څوحکمونه حاصل سوه .

اول دا چی دکوم علم څرگندول او خورول ضروری دی دهغه پټول حرام دی ، رسول الله ﷺ فرمایلی دی .

(من سئل عن علم فکتمه الجمه الله یوم القیامة بلجام من النار) رواه ابو هریره وعمروبن العاص، اخرجه ابن ماجه (قرطبی)

کوم سړی چی ددین دیوحکم علم لری او دده څخه ددغه حکم پوښتنه وسي که چیري ده دا پټ کی نو دقیامت په ورځ به دده په خوله کي د اور واگی وا چول سي .

فقهاؤوایی : چی دا وعید په هغه صورت کي دی چی کوم وخت کي دده څخه سوابل یوسړی ددې مسئلی دبیانولو دپاره په دغه ځای کي موجود نه وی او که چیری نور عالمان هم موجود وی ، نو گنجائش سته دی خبری دپاره چی هغه دا ووایی چی نورو عالمانو څخه پوښتنه وکړه قرطبی ج ۲ صـ ۱۸۵ ، جصاص په جصاص کي دگنجائش دخبری ذکر نسته وگوری باب النهی عن کتمان العلم ج ۱ صـ ۱۱۲ .

دویمه دا خبره ددې څخه معلومه سوه چی چاته درست علم حاصل نه وی نو هغه ته دا په کار نه دی ، چی هغه دمسئلو او حکمونو ښودلو جرات وکړی .

دریم دا چی ددې آیت څخه دا مسئله معلومه سوه چی دا سخت وعید دهغو علمونو او مسئلو په باره کي دی ، چی کوم په قرآن اوسنت کي په ډاگه بیان سوي دي ،او چی دهغوی دظاهرولو اوخورولو ضرورت دی اوهغه باریکی مسئلی چی هغه دعاموخلقو دپوهی څخه بهر وی ، بلکه په دی کي دا خطره وی ، چی دداسي مسئلو په ظاهرولو کي دعامو خلقو فهمی کي مبتلا کیدل وی نو په داسي مسئلو کي پټول غوره دی او داسي مسئلی دعلم پټولو په حکم کي نه راځی ، په ذکر سوي آیت کي د(مِنَ الْبَيِّنَاتِ وَالْهُدَى) الفاظو سره دغه خبری ته اشاره ده ، د داسي مسئلو په باره کي حضرت عبدالله بن مسعود ؓ ویلی دی ، که چیري تاسو عوامو ته داسي حدیثونه واو روی چی په دی تاسي پوره نه پوهیږي نو دوی به فتنه کي اخته کړی . قرطبی ج ۲ صـ ۱۸۴ / ۱۸۵ .

هم دغه ډول په صحیح بخاری کي دحضرت علی کرم الله وجهه څخه نقل دی چی عامو خلقوته صرف د دومره علم څرگندونه کوی ، څومره چی د دوی په عقل اوپوه کي راځی ، آیاتاسی دا غواړی چی خلق اللهﷻ او رسول الله ﷺ (نعوذبالله) درواغجن وگڼی ، څکه چی کومه خبره د دوی په پوه کي را نه سي ، نو

ددوی په زړونو کي به ددې ځخه شبهې اوشکونه پیدا سي اوممکنه ده چي دوی به ددې ځخه انکاروکي.
ددې ځخه دا معلومه سوه چي دعالم دا هم یوه ذمه واری ده ، چي دی دمخاطب حالت ته ګوری او
وروسته ددې ځخه دی خبره کوی ، او چي دکوم سړی په غلط فهمی کي داخته کیدو خطره وی ، نو دهغه
په مخکې دې داسي مسائل نه بیانوی ، دغه وجه ده چي فقهاؤ حضرات د ډیرومسئلو دبیان ځخه
وروسته لیکی .هٰذَا مِمَّا يُعْرَفُ وَلَا يُعَرَّفُ (دامسئله داسي ده چي اهل علمو ته په دی پوهیدل په کار دی ،
لیکن په عامو خلقو کي دی نه خوروی)
په یوحدیث کي رسول الله ﷺ فرمایلی دی .
لَا تَمْنَعُوْا الْحِكْمَةَ اَهْلَهَا فَتَظْلِمُوْهُمْ وَلَا تَضَعُوْهَا فِيْ غَيْرِ اَهْلِهَا فَتَظْلِمُوْهَا .
دحکمت خبری د داسي خلقو ځخه مه منع کوی ، چي هغوی ددې خبرو اهل وی ، که چیري تاسی داسي
وکړل نو دا به په دی خلقو باندی ظلم وی اوچي کوم خلق یې اهل نه وی نو دوی ته دحکمت خبری مه کوی
ځکه چي په داسی کولو په حکمت باندی ظلم کول دی .
امام قرطبی رحمه الله وایی چي ددې تفصیل ځخه دا معلومه سوه ، چي داسي کافر ته چي هغه مسلمانانو
سره مناظری اوبحثونه کوی یا داسي بدعتی ته چي خلق په خپلو غلطو خیالونو ګمراه کوی علم دین
ترهغه وخته پوری ښودل په کار نه دی چي ترڅو پوری په غالب ګمان دا معلومه نه سي ، چي په دی علم
ښودلو سره به دده خیالات درست سي .
هم دغه ډول یو باچا اوحاکم ته داسي مسئلی ښودل روا نه دی چي ددې په ذریعه هغه ته په رعیت باندی
دظلم کولو لاره په لاس راځی ، هم دغه ډول دعامو خلقو په مخکې ددین په حکمونو کي د اجازه اودحیلو
صورتونه بی ضرورته بیانول روانه دی چي ددې په وجه دوی کي ددین په احکامو باندی په عمل کولو
کي دحیلو عادت پیدا سي ، قرطبی ج ۲ ص ۱۸۵ ،

(درسول الله ﷺ حدیث هم دقرآن حکم لری)

په صحیح بخاری کي دحضرت ابوهریره رضی الله عنه په روایت کي دی ، چي هغه وویل که چیري دقرآن دا آیت نه
وی ، نو ما به تاسی ته یوحدیث هم نه وو بیان کړی ، دده مراد دآیت ځخه ، دغه یوآیت دی چي په کی
دعلم په پټولو باندی دلعنت سخت وعید راغلی دی ، هم دغه رنګ ځینی نورو صحابه کرامو حدیث ذکر
کولو سره دغه رنګ الفاظ ویلی دی چي که چیري دقرآن شریف دا آیت دعلم دپټولو په باره کي نه وی نو
ما به دا حدیث تاسی ته نه وو بیان کړی .
ددې روایتونو ځخه دا معلومه سوه ، چي دصحابه کرامو په نزد درسول الله ﷺ حدیث دقرآن حکم لری
ځکه چي په آیت کي دپټولو وعید دهغه خلقو دپاره راغلی دی ، چي دوی په قرآن کي نازل سوی
حکمونه اوهدایات پټوی ، په دی آیت کي په ډاګه د حدیث دپټولو ذکر نسته ، لیکن صحابه کرامو
حدیث هم دقرآن په حکم کي وګڼل او دده پټول یې د وعید سبب وګڼل .

(دځینې ګناهونو عذاب داسي وی چي په دی باندی مخلوق لعنت لیږي)

وَيَلْعَنُهُمُ اللّٰعِنُوْنَ : کی قرآن شریف لعنت کوونکی په ګوته کړی نه دی ، چي کوم خلق لعنت لیږي دتفسیر

امامان مجاهد اوعکرمه رحمهما الله وایی ، چې په دې عدم تعین کې دې خبرې ته اشاره ده ، چې ددنیاهریو شي اومخلوق په دوی باندې لعنت لیږي تر دې چې ټول حیوانان اودمځکې جینجي هم په دوی باندې لعنت وایی ، ځکه چې د دوی دبدو عملونو په وجه دې ټولومخلوقاتو ته نقصان رسیږي ، دحضرت براء بن عازب دحدیث څخه ددې تائید کیدای سي چې په دې حدیث کې رسول الله ﷺ فرمایی چې د ، الاعِنُوْنَ مراد په مځکه ټول تلونکی حیوانان دي قرطبی ج ۲ ص ۱۸۷ .

(یومعلوم اوخاص سړی باندې لعنت ویل ترهغه وخت پوري روانه دي چي ترڅوپوري دا یقین حاصل نه سي چي دی په کفر باندې مړ دی)

وَمَاتُوْا وَهُمْ كُفَّار ، دلفظ څخه جصاص ج ۱ ص ۱۱۷ ، قرطبی ج ۲ ص ۱۸۸ ، وغیره دا مسئله را کښلې ده ، چې دکوم کافر په کفر باندې دمړکیدو یقین چاته حاصل نه وي نو په هغه باندې لعنت ویل روا نه دي ، اوهرکله چې مونږ ته دچادخاتمي حالت په یقین سره معلوم نه دی ، نو په دې وجه دیو کافر نوم اخستل او بیا په هغه باندې لعنت ویل روانه دي او رسول الله ﷺ چې دکومو کافرانو نومونه اخستي وو لعنت یې پرویلی وو ، نو دا دوی ﷺ ته دوحي په ذریعه په یقین سره معلومه سوې وه ، چې دوی به دکفرپه حالت کې مري ، البته په عامو کافرانو ، ظالمانو بغیر دنوم اخستلو څخه لعنت ویل صحیح دی .

ددې څخه دا معلومه سوه ، چې هرکله د لعنت ویلو معامله دومره سخته ده چې دا په کافر باندې هم ترهغه پوري ویل روانه دي چې ترڅو پوري په یقین سره معلومه نه وي ، چې دی به دکفر په حالت کې مري ، نو په یو مسلمان یا په یوحیوان باندې لعنت ویل څنګه روا کیدای سي ؟ عوام اوخاص کرښځی خوبالکل غافلې دي ، چې په هره خبره دلعنت الفاظ دخپلو تعلق دارو په باره کې دخولې څخه باسي اولعنت صرف دلعنت دلفظ په ویلوکې نه دی ، بلکه دې لفظ سره چې کوم الفاظ نور یې په معنی کې شریک دي دی سره هم دلعنت مطلب اوحکم حاصلیدلای سي ، دلعنت اصل معنی ده ، دخدای درحمت څخه لیری کیدل ، نوپه دې وجه چاته مردود ، دخدای دربارڅخه شړل سوي یانور الفاظ ویل چې دا مطلب ځیني تری را وزي ، هم دلعنت حکم لري .

وَإِلٰهُكُمْ إِلٰهٌ وَاحِدٌ ۖ لَّآ إِلٰهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ ﴿۱۶۳﴾ إِنَّ فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ

او معبود ستاسی دټولو هم یو معبود دی څوک معبود نسته بغیر له ده څخه چې ډیر مهربانه او ډیر رحم والادی ، بیشکه داسمان او دمځکی په پیدا کولوکی .

وَاخْتِلَافِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَالْفُلْكِ الَّتِيْ تَجْرِيْ فِي الْبَحْرِ

او دشپی او دورځ په بدلولو را بدلولو کی　او بیړوکی چی ورې　په دریاب کی

بِمَا يَنْفَعُ النَّاسَ وَمَآ أَنْزَلَ اللّٰهُ مِنَ السَّمَآءِ مِنْ مَّآءٍ فَأَحْيَا

دخلقو دکار شیان　او په ابو کی چی هغه الله ﷻ نازلی کړی دآسمان څخه بیا یی ژوندی کړه

بِهِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيْهَا مِنْ كُلِّ دَآبَّةٍ

په دې مځکه دهغه د مړکيدلو څخه وروسته خواره يې کړه په دې کې د هر قسمه حيوانان

وَّتَصْرِيْفِ الرِّيٰحِ وَالسَّحَابِ الْمُسَخَّرِ بَيْنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ

او د هوا ګانو په بدليدلو کې او په وريځو کې چې تابعداري دي دده د حکم د مځکې او د آسمان په مينځ کې

لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ﴿۱۶۴﴾

بيشکه په دې ټولو شيانو کې نښانې دي د عقل مندو دپاره.

تړون :دعربو مشرکانو چې هر کله آيت ﴿اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ﴾ د خپلې عقيدې څخه مخالف واوريدی ، نو په تعجب سره يې وويل ، چې دا څنګه کيدای سی ، چې د ټول جهان دې يو معبود وی ، او که چيرې دا دعوی درسته وی نو څه دليل په دې باندې را وړل په کار دی ، نو الله ﷻ دې پسې آيت کي دليل بيان کی ، حضرت مولانا مرحوم د تړون په سلسله کي د دې دوو آياتو ترمينځه تړون بيان کړی دی خو د دی آياتو تړون د مخکې تير سوو آياتو سره بيان نه کي.

لنډ تفسير : او (داسې معبود) چې ستاسې د ټولو د معبود کيدو لائق وی ، هغه خو هم معبود (حقيقي) دی له ده څخه سوا بل څوک د عبادت لائق نسته ، هغه رحمان دی او رحيم دی (او څوک په دې صفتونو کي کامل نسته او د معبوديت د صفتونو د کمال څخه بغير ، د معبود کيدلو حق داری باطله ده ، نو بغير د معبود حقيقي څخه څوک نور د عبادت حق دار نه سوه) بيشکه د آسمانونو او د مځکو په جوړولو کي او د شپې او د ورځې په را تللو کي او د جهازونو (په تللو) کي چې په دريابونو کي وړی د انسانانو د نفعې شيان او (دباران) په ابو کی چې هغه الله ﷻ د آسمان څخه وورولی ، بيا په دې (ابو) سره يې مځکه تروتازه کړه د دې د وچيدلو څخه وروسته (يعنی په دې کي يې بوټی پيدا کړل) او (د هغه بوټو څخه د هر قسمه حيوان يې په دې (مځکه) کی خواره کړه (ځکه چې د حيوانانو ژوند او بچې را وړل د دغه بوټو د خوراکی په وجه دی او د هواګانو (په طرفونو او کيفيتونو) په بدليدو کي (چې کله د يو طرف څخه الوزی او کله د بل طرف څخه ، کله ګرمه وی کله يخه) او د وريځې (په کيدو) کي چې د مځکې او د آسمان په مينځ کي نښتی (او ز روی) (په دې ټولو شيانو کي) دليلونه (د توحيد موجود دی) د هغو خلقو (د دليل نيولو) دپاره چې (روغ) عقل لری .

علوم او مسئلي

(د توحيد وسيع مفهوم)

﴿وَاِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ﴾ : د الله ﷻ توحيد او يو والی په مختلفو حيثيتونو سره ثابت دی ، مثلاً هغه يو دی ، يعنی په مخلوقاتو کی څوک دده نظير او مثال نسته او نه څوک دده برابر دی ، نو په دې وجه هغه دد دی حقدار دی ، چې هغه ته يو وويل سي .

دويم په دې حيثيت چې هغه يو دی دعبادت په حق داري کې ، يعني دده څخه سوا بل څوک دعبادت حق دار نه دی .
دريم په دې حيثيت چې هغه يو دی ، يعنی اجزائی نسته ، هغه د اجزاؤ او اندامونو څخه پاک دی ، او نه دهغه تقسيم ويش او تجزيه کيدی سي .
څلورم په دحيثيت چې هغه يو دی ، يعنی خپل ازلی ابدی کيدلو کي يو دی هغه وخت هم موجود وو ، کله چې څه شي موجود نه وو او هغه وخت به هم وی ، کله چې څه شي موجود پاته نه سي ، نو په دې وجه هغه ددې حقدار دی ، چې ورته واحد وويل سي ، دواحد په لفظ کي ، دا ټول حيثيتونه دتوحيد پرا ته دی (جصاص ج ۱ ص ۱۱۸)
دې څخه وروسته دالله ﷻ په واحد حقيقی کيدلو باندی ، تکوينی علامی او دليلونه ښودل سوي دي چې هغه باندی هرسړی ، عالم اوجاهل پوهيدلای سي ، هغه دا چې دمځکی اوآسمان پيدا کول ، دشپی او د ورځی دا هميشه بدليدل ، دهغه دکامل قدرت اوتوحيد روښانه دليلونه دی چې ددې شيانو په پيداکولو اوترڅه مودی پوری په ساتلوکي ، ديوی بلی هستی هيڅ قسم دخل نسته .
دغه ډول په ابو باندی دجهازونو تلل ، دقدرت يوه لويه علامه ده چې اوبه الله ﷻ داسی يو بهيدونکی جوهر جوړ کی ، چې سره دنرمی اوبهيدلوڅخه ددې دسربيره په لکونو منونه جهاز چې په کي ډيرپه منونو شيان هم پراته وی ، دمشرق څخه ترمغرب پوری ځی راځی ، اوبيادډی جهازونو دتللو دپاره دهواګانو چلول ، او بيا په خپل حکمت سره دهواګانو مخه بدلول ، دا ټول ددې خبری پته ورکوی ، چې ددې شيانو پيداکوونکی او چلونکی يو لوی علم والا او حکمت والا دی ، که چيري دابو ماده بهيدونکی نه وی ، نو دا کار بيا نه سوکيدلای ، اوکه بهيدونکی هم وی ، خوهواګانی نه وی ، نوبيابه جهازونو دا اوږده سفرونه کړی نه وای ، قرآن دغه مضمون بيان کړی دی .
اِنْ يَّشَاْ يُسْكِنِ الرِّيْحَ فَيَظْلَلْنَ رَوَاكِدَ عَلٰى ظَهْرِهٖ : الشوری ۳۳ .
(که چيری الله ﷻ وغواړی نو هواګانی به ودروی او دا جهازونه به د درياب دسربيره ولاړ پاته سی)
بِمَا يَنْفَعُ النَّاسَ : لفظ کي اشاره وسوه ، چې د اوبو دجهازونو په ذريعه ديو ملک سامان ، بل ملک ته په وړلو کی عامو انسانانو ته بی شميره فائدی دی ، او دا فائدی په هره زمانه او په هر ملک کي نوی نوی صورتونو کي را ښکاريږي ز
هم دغه رنګ دآسمان څخه اوبه څاڅکی څاڅکی را لويږي چې چاته نقصان ونه رسيږي ، که چيري دا اوبه دسيلاب په ډول راتلی ، نو انسان ، حيوان اوسامان به نه پاته کيدی ، بيا د وررولوڅخه وروسته دا اوبه په مځکه باندی محفوظ ساتل ، دانسان دوس خبره نه ده که چيري دا ويل سوي چې دشپږ مياشتو خپله خپله ذخيره دې هر سړی جمع کړی ، نو هر يو سړی به ددی دساتلو دپاره څه انتظام کوی ؟ اوکه چيری انتظام يی کړی وی ، نو دا به يی دخرابيدو څخه څنګه محفوظ کړی وی ؟ قدرت دا ټول انتظامونه په خپله کړی دی ، الله ﷻ فرمايی .
اَسْكَنّٰهُ فِي الْاَرْضِ وَاِنَّا عَلٰى ذَهَابٍ بِهٖ لَقٰدِرُوْنَ : المؤمنون ۱۸ .(هم مونږ اوبه په مځکه کي بندی کړی که څه هم زمونږ دا قدرت هم سته چې دباران ابوه وبيوو اوتخمی يی کړو)

لیکن قدرت دمځکی وسیدونکو انسانانو او ځارو دپاره اوبه چیری دتالابونو په شکل کي جمع کړی او چیری دغرونو په مځکه کي دخورو سوو رګونو په ذریعه دمځکی اندرون ته ورسولی او بیا یی په ټوله مځکه کي یو داسي غیرمحسوس دپیپو نو سلسله خوره کړه چی دچا چیری زړه غواړی نو مځکه وکندی او اوبه را وباسي ، او ددی اوبو یوه لویه ذخیره یی د واورو په شکل کی په غرونو باندی واچوله ، چی خرابیدو څخه هم محفوظه ده ، او په آرام آرام سره ویل کیږي ، او دمځکی دننه دقدرتی پیپ لینو په ذریعه ټولی دنیاته رسیږي ز

مطلب دا چی په ذکر سوي آیت کي دقدرت کامله دیوڅو مظاهرو بیان وکړل سو اوتوحید ورڅخه ثابت کړل سو ، مفسرینوعلماؤ په دی ټولو شیانو باندی په تفصیل سره بحث کړی دی (جصاص ج ۱ ص ۱۱۸ / ۱۲۲ ، وغیره وګوری)

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّتَّخِذُ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَنْدَادًا يُّحِبُّوْنَهُمْ كَحُبِّ اللّٰهِ ؕ

او ځینی خلق هغه دی چی جوړ وی دالله پاک برابر نور او دوی سره داسی محبت کوی لکه دالله پاک سره محبت

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَشَدُّ حُبًّا لِّلّٰهِ ؕ وَلَوْ يَرَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْٓا اِذْ يَرَوْنَ الْعَذَابَ ۙ

او دمؤمنانو دالله پاک سره محبت زیات دی ، او که چیری وګوری داظالمان هغه وخت کوم وخت کی چی وګوری

اَنَّ الْقُوَّةَ لِلّٰهِ جَمِيْعًا ۙ وَّاَنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعَذَابِ ۝۱۶۵

عذاب چی ټول قوت دالله دپاره دی او دا چی دالله پاک عذاب سخت دی .

تړون : په مخکنیو آیاتونو کی دتوحید ثبوت وو ، او اوس په دی آیت کي دمشرکانو دغلطی او د وعید بیان دی .

لنډتفسیر: او څه کسان هغه (هم) دی چی دخدای څخه علاوه نورهم (دخدای) شریک ګرځوی (او دوی خپل کارسازان ګنی او) دوی سره داسی محبت کوی لکه چی الله ﷻ سره محبت (کول) ضروری دی (دا حالت خو دمشرکانو دی) او چی کوم مومنان دی دهغوی (یوازی) الله ﷻ سره ډیر محبت دی (ځکه که چیري یو مشرک ته دا ثابته سي چی ما ته زما دمعبود څخه څه ضرر رسیږي ، نومحبت به یی فوراً قطع سی ، اومؤمن سره ددی څخه چی دنفع اونقصان ورکولو عقیده صرف په خدای لری لیکن بیاهم هغه په محبت او په رضاباندی ټینګ وی ، او دا هم ده چی اکثر مشرکان دسخت مصیبت په وخت کي خپل خدایان پریږدی ، او مومنان دایمان په حیث په مصیبت کي هم الله ﷻ نه پریږدی او په محاوروکی داسی خبری دغالب حالت په بناهم صادقی ګڼل کیږي) اوڅه ښه به وی که چیري دی ظالمانو (مشرکانو) کله (دنیاکی) څه مصیبت لیدلی نو (ددی په راتلو کي یی غورکولای او) دا پوه یی قبلولای چی ټول قوت هم الله ﷻ دپاره دی (اونورټول دده مخکی عاجز دی ، لکه چی دا مصیبت نه چامنع کی اونه یی وروسته کی او نه په داسی وخت کی څوک بل یاپاته سو) او (دمصیبت په سختی کی یی فکر کولای) دا (پوه

بی ترقبلولی) چی دالله ﷻ عذاب (آخرت کی چی دجزا اوسزا کور دی نور هم) سخت به وی (نوپه داسی
غور اوفکرکولوسره دخپلو جوړ کړو معبودانو عاجزوالی اودحق ﷻ قدرت او لوی والی به ورته
ښرګندیدی او دوی به توحید او ایمان را وړل غوره کول)

إِذْ تَبَرَّأَ الَّذِينَ اتُّبِعُوا مِنَ الَّذِينَ اتَّبَعُوا وَرَأَوُا الْعَذَابَ وَتَقَطَّعَتْ بِهِمُ

کله چی بیزاربه سی هغه چی دهغوی پیروی سوی ده دهغوی څخه چی هغوی پیروی یی کړی ده اووبه ګوری عذاب

الْأَسْبَابُ ﴿١٦٦﴾ وَقَالَ الَّذِينَ اتَّبَعُوا لَوْ أَنَّ لَنَا كَرَّةً فَنَتَبَرَّأَ

او قطع به سی د دوی تولی علاقی ، اووبه وایی پیروی کوونکی چی څه ښه به وای که مونږته واپس دنیاته تلل

مِنْهُمْ كَمَا تَبَرَّءُوا مِنَّا ۗ كَذَٰلِكَ يُرِيهِمُ اللَّهُ أَعْمَالَهُمْ حَسَرَاتٍ

حاصلیدی چی مونږستاسی څخه بیزاره سوی وای له چی څنګه تاسی زمونږ څخه بیزاره سواست دغه دول وبه ښیی

عَلَيْهِمْ ۖ وَمَا هُمْ بِخَارِجِينَ مِنَ النَّارِ ﴿١٦٧﴾

الله پاک دوی ته د دوی کارونه افسوس ورکوونکی او دوی به هرګز وتونکی نه وی د اور څخه .

ربط : په مخکنی آیت کي دآخرت دعذاب سخت والی بیان سوي دي اوپه دی آیت کي ددغه سخت والی حالت بیانوی .

لنډتفسیر : (ددی عذاب سختی به هلته معلومیږي) کله چی (په دی مشرکانو کی د اثر او رسوخ خاوندان خلق چی دهغوی په وینانور (عام خلق) تللی دی (عامو) خلقو څخه به بالکل جلاسي کوم چی د دوی په وینابه تلل اوتول (عام اوخاص) به عذاب ووینی او د دوی په مینځ کي چی کوم تعلقات وو (چی یو دول پیر وی کوونکی وو او دبل پیر وی به کیدله وغیره وغیره) دغه ټول به قطع سي (لکه چی دنیاکي هم دا لیدل کیږي چی جرم اوګناه کي ټول شریک او متفق وی ، او دمقدمی په آخر کي ټول ځان ځان ته محفوظ کیدل غواړی ، تر دی چی بیا دیو بل دآشنایی څخه هم انکار کوی) او (کله) چی دا پیر وی کوونکی خلق (دپیروی کړل سوو دغه کلکی سترګی ووینی ، نو دیر به ستومانه سي او څه به کیږي نه) نو داسي به په وینا سي چی څنګه مونږ تولو ته (دنیاته) صرف لږ غوندی یو وار تګ حاصل سوی ، نو مونږ به هم د دوی څخه (دومره بدل خو واخلو چي که چیري بیا دوی مونږ ته دخپل تابع کولو رغبت را کړی ، نو مونږ به هم دوی ته) صاف (پوره پوره جواب ورکړو) جلا به سو ورڅخه لکه څنګه چی دوی ز مونږ (هغه وخت) بالکل جلاسو(اووبه وایو ، جناب عالی ، چی تاسی خوهغه خلق یاست چی عین دموقعی په وخت کي مو زمونږ څخه بی پرواهی کړی وه ، اوس مونږ سره ستاسو څه غرض دی ؟ الله ﷻ فرمایی چی په دغه تجویزونو اوسوچو سره به هیڅ لاس ته نه راځی صرف دا) الله ﷻ دغه رنګه د دوی بدعملونه دخالی

آرزوګانو (په شکل کې) دوی ته به ښيي او دغه (پیروي کوونکي او پیروي کړل سوي خلق تولو ته به دوږخ څخه وتل هم چیري په برخه نه سي ځکه چي دشرک سزا ، په دوږخ کي همیش دپاره پاته کیدل دی،)

يَا أَيُّهَا النَّاسُ كُلُوا مِمَّا فِي الْأَرْضِ حَلَالًا طَيِّبًا وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ

ای خلقو ! خوری دمځکي شیان حلال پاک اوپیروی مه کوی دشیطان

إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُبِينٌ ﴿۱۶۸﴾ إِنَّمَا يَأْمُرُكُمْ بِالسُّوءِ وَالْفَحْشَاءِ وَأَنْ

بیشکه دی ستاسی ښکاره دښمن دی ، دی خو به هم دغه حکم کوی تاسی ته چی بدکاری اوبی حیایی وکړی

تَقُولُوا عَلَى اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿۱۶۹﴾

او دروغ وتپی په الله باندی هغه خبری چی تاسی یی نه پیژنی .

لنډتفسیر : ځینی مشرکانو دبتانو په نوم حیوانان پریښوول او دهغوی څخه به یی فائده اخیستل حرام ګڼل اودخپل داکاربه یی دخدای ﷻ حکم ګڼی او دا عقیده به یی درلوده ، چی دغه بتان چی دکومو په نومو باندی به یی حیوانان پریښودل د دوی دپاره به دالله ﷻ په دربار کي شفاعت وکی ، نو الله ﷻ په دی حقله فرمایی چی) ای خلقو ! چی کوم شیان په مځکه موجود دی نو په دی کي (شرعی) حلال پاک شی (چی اجازه ده چی هغه) خوری (استعمالوی) او (په دی کي دیو حلال شی متعلق دا عقیده لرل ، چی دده څخه ځان ساتلو کي اوفائده نه اخیستلو کی دالله ﷻ رضا حاصلول دی ، دا ټول شیطانی خیالونه دی تاسی) دشیطان په نقش قدم باندی مه ځی په حقیقت کی دغه (شیان) ستاسی په ډاګه دښمن دی (چی هغه په داسی خیالونو اودجهالت په کارونو کی تاسی همیشه زیان کی ګرفتاره کړی یاست او ددښمن کیدو په وجه) هغه تاسی ته دهغه خبرو تعلیم درکوی چی (په شرع کي) بدی اوګنده پلتی دی او دا هم (تعلیم ورکوی) چی په الله ﷻ باندی هغه خبری وتړی چی ددی دپاره تاسی څخه څه سند اودلیل هم نسته (مثلاً داچی مونږته الله ﷻ دداسی کولوحکم کړی دی)

علوم اومسئلي

دالفاظو معني : حلالاً طیبًا دحل لفظ اصلی معنی ده غوټه خلاصول ، چی کوم شی انسان دپاره حلال کړل سی نوګویایوه غوټه خلاصه سوه اوپابندی لیری کړل سوه حضرت سهل بن عبدالله وایی ، چی خلاصی په درو شیانو اډا نړه دی (۱) خوړل (۲) دفرضو اداکول (۳) درسول الله ﷺ دسنت پیروی کول ، او دطیب دلفظ معنی ده پاک ، چی په دی کي شرعی حلال هم دا خل دی ، او هغه حلال چی طبیعت هم غواړی ، دا هم دا خل دی .

خطوات : دخطوة جمع ده ، دومره مقدار ته خطوه ویل کیږي ، کومه چی د دوو قدمونو په مینځ کي فاصله ده ، دخطوات الشیطان څخه مراد شیطانی عملونه اوکارونه دی ، اَلسُّوْءِ وَالْفَحْشَاءَ : سوء هغه شی

دی چی دهغه په لیدلو سره یو شریف عاقل ته غم در درسیږي ، فحشاء دبی حیایی کارته وایی ، ځینی علماء حضرات وایی چی دلته دسوء څخه مراد مطلق ګناه ده او دفحشاڅخه مراد لویه ګناه ده .

إِنَّمَا يَأْمُرُكُم : دشیطان دامر اودحکم څخه مراد په زړه کی وسوسه اچول دی لکه چی دحضرت عبدالله بن مسعود ﷺ په حدیث کي دي ، چی رسول الله ﷺ فرمایلی دی چی دانسان په زړه کي یوشیطانی الهام او اثر وی ، او دویم دفرښتی دطرف څخه الهام او اثر وی ، دشیطانی وسوسی اثر دا وی ، چی دبدکارکولو فائدی او نفعی یې مخته راځي او دحق د درواغجن ګنلو لاری ورته خلاصیږي ، او دملائکو اثر او الهام دا وی چی ده ته په ښه کارونو کولو کي دانعام او خلاصی وعده ښکاری او دحق په ربښتیا ګڼلو سره دده زړه مطمئن کیږي .

مسئله : ساند وغیره چی دبتانو په نامه پریښودل کیږي اومنل کیږي یایوبل حیوان لکه چرګ بیزه وغیره دیو بزرګ یا دیو بل غیرالله په نوم منل ، ددی حرام کیدل دځلورو آیتونو څخه وروسته ، وَمَا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ : دا لاندی راتلونکی دی ، او په دی آیت یاایها الناس کی دداسی حیوان دحرام کیدلو نفی کول غرض نه دی ، لکه چی ځینو خلقو ته ددی شبهه سوي ده ، بلکه ددی آیت څخه غرض دا دی چی دیو بت په نوم یو حیوان منل او بیا دا نه خوړل او دده څخه فائده نه اخیستل باعث برکت او الله ﷻ ته نږدیکت ګنل او دا خیال کول چی داسي مونږ دالله ﷻ په حکم کوو ، یعنی الله ﷻ مونږ ته دداسي کولو حکم کړی دی ، دا ټول کارونه ناروا دی او د دوی کول ګناه ده .

نو دآیت دمطلب خلاصه دا ده چی کوم حیوان چی الله ﷻ حلال کړی دی ، هغه دبتانو په نومونو کول اوحرام ګڼل مه کوی ، بلکه په خپل حالت یی پریږدی او خوری اوڅکی اوکه چیري داسي کار دجهالت په وجه وکړل سي ، نو دنیت داصلاح سره سره ایمان تازه کی اوتوبه وکاږی او دا حرام والی (چی تاسی په خپله په ځان باندی حرام ګرځولی دی) ختم کی ، دغه ډول دا حیوان دتعظیم په وجه (یعنی په دی وجه چی دا دبتانو په نامه کړل سوي دي) حرام ګڼل ګناه ده ، لیکن دوی دغیرالله په نامه کول اومنل ، دوی مردار وی او پلیت وی ، هرکله چی دا مردار او پلیت سو نو حرام سو .

مسئله : ددې څخه دا هم معلومه سوه چی که چیري یو سړی دجهالت یاناپوهی په وجه یوحیوان دغیرالله په نوم ومنی اوپریښودی ، نو دده توبه دا ده چی دخپل دی خیال څخه دی رجوع وکړی اوبیا دداسي کارکولو څخه دی ځان ساتی ، نو بیا ددی حیوان غوښه حلاله سی ، والله اعلم

وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّبِعُوا مَا أَنزَلَ اللَّهُ قَالُوا بَلْ نَتَّبِعُ مَا أَلْفَيْنَا عَلَيْهِ آبَاءَنَا ۗ أَوَلَوْ

او کله چی ځوك دوی ته ووایی چی تابعداری وکړی دهغه حکم چی نازل کړی دی الله نو دوی وایی هرګزنه مونږ خو تابعداری کوو دهغه چی په هغه باندی مونږ پیداکړی دی خپل نیکونه او پلاران که څه هم .

كَانَ آبَاؤُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ شَيْئًا وَلَا يَهْتَدُونَ ﴿١٧٠﴾ وَمَثَلُ الَّذِينَ

د دوی پلاران اونیکونه نه پوهیدل او نه یی پیژندله سیده لاره ، اومثال ددې کافرانو

كَفَرُوا كَمَثَلِ الَّذِي يَنْعِقُ بِمَا لَا يَسْمَعُ إِلَّا دُعَاءً وَنِدَاءً

داسي دی لکه چې آوازوکړی يو سړی داسي شي ته چې هغه څه نه اوري بغير دچغو او نارو څخه

صُمٌّ بُكْمٌ عُمْيٌ فَهُمْ لَا يَعْقِلُونَ ﴿۱۷۱﴾

کاڼه ، ګونګيان ړانده دي نو دوی په څه نه پوهيږي .

لنډتفسير : او کله چې څوک دی (مشرکانو) خلقوته ووايي چې الله ﷻ کوم حکم (خپل پيغمبرته) ليږلی دی په هغه باندی ځی نو (په جواب کي) وايي (چي نه) بلکه موږ خو هغه (لاره باندی) به ځو چې کومه باندی موږ خپل پلار او نيکه پيدا کړی دی (ځکه چې دا خلق په دی لار اخيستلو داالله ﷻ دطرف څخه مامور وو ، الله ﷻ په دوی رد کوی فرمايي چې) آيا (هرحالت کی دا خلق دخپل پلار اونيکه په لاره به ځی) که څه هم د دوی پلار او نيکه (ددين) څه پوه نه درلوده او نه (څه آسماني کتاب) هدايت يې درلودی .

وَمَثَلُ الَّذِينَ كَفَرُوا كَمَثَلِ الَّذِي (الى قوله) فَهُمْ لَا يَعْقِلُونَ (۱۷۱) او ددی کافرانو (دناپوهی) حالت او کيفيت دهغه (حيوان) دحالت او کيفيت په ډول دی (چی دهغه ذکر به دی مثال کي کيږي) چې يو سړی دی چې هغه ديو داسي (حيوان ته) وروسته څخه چغی وهی چې بغير دچغو او دسوروڅخه دڅه (مضمون اومطلب څخه دکه) خبره نه آوری (هم دغه رنګ) داکافران (هم ظاهری خبری اتری خو آوری ، ليکن دکار دخبروڅخه بالکل) کاڼه دی (داسي معلوميږي چې بيخی نه آوری) ګونګيان دی (چې چيري داسي خبره په ژبه نه کوی) ړانده (ځکه چې فائده اونقصان نه وينی) نو (هرکله چې يې ټول حواس خراب دی نو) پوهيږي په هيڅ نه (اونه پوهولی سی)

علوم اومسائل

ددې آيت څخه لکه چې څنګه دا ثابته سوه ، چې دمور اوپلار ړنده باندی پيروی کول ښه کار نه دی ، هم دغه رنګ دا هم معلومه سوه ، چې دجائز او روا پيروی دپاره څه شرطونه ، اوضابطی دی او دا دلاَيَعْقِلُونَ او دلاَيَهْتَدُونَ دلفظ څخه معلوميږي ، ځکه چې دی الفاظو څخه دا معلومه سوه ، چې دپلار او نيکونو پيروی ددې وجی څخه منع سوه چې نه دوی کی عقل وو او نه هدايت ، او دهدايت څخه مراد هغه حکمونه دی چې داالله ﷻ دارخه په صريح طور سره نازل سوي دي ، او دعقل څخه مراد هغه حکمونه دی چې داجتهاد په ذريعه دشرعی نصوصو څخه را کښل سوي دي .

نو د دوی دپيروی دنه روا والی وجه دا ده ، چې نه دوی سره داالله ﷻ دطرفه نازل سوي حکمونه سته ، او نه په دوی کی ددې صلاحيت سته ، چې داالله ﷻ دحکم څخه نور حکمونه را وباسي ، نو په دی کي دی ته اشاره سوه ، چې دکوم عالم په حقله دا اطمينان حاصل سي ، چې دی په قرآن اوسنت باندی ښه پوهيږي او ده ته د اجتهاد درجه هم حاصله ده چې کوم احکام په قرآن اوسنت کي په صراحت سره ذکر نه دی دوی ته دی دقرآن او دسنت دنصوصو څخه دقياس په ذريعه را کښل کيږي ، نو دداسي عالم اومجتهد پيروی

اوتقليد كول روا دى ، او دا دى دپاره نه چې دده حكم منل اوهم دده پير وى كول دى ، بلكه دى دپاره چې دالله ﷻ حكم منل دى او دالله ﷻ دحكم پير وى كول دى ، ليكن هركله چې مونږ براه راست دالله ﷻ دحكم نه واقف او خبرېدلى نه سو ، نو په دى وجه ديو عالم مجتهد پيروى كوو چې دالله ﷻ په حكمونو باندى عمل وكړل سي .

(جاهلانه تقليد او دمجتهدينو امامانو په تقليد كي فرق)

ددې څخه دا معلومه سوه چې كوم خلق مطلقًا دمجتهدينو دپيروى كولوڅخه خلاف كوى او دى دپاره دارنګه آيتونه دليلونه ګرځوى ، هغوى ددې آيتونو په صحيح مطلب باندى پوه سوي نه دى .

امام قرطبى ددې آيت په تفسير كي وايې چې په دى آيت كي دپلار اونيكه دپيروى كولو څخه كه منع كړل سوي ده ، نو ددې څخه مراد دا دى چې دپلار اونيكه په باطل عملونو اوعقيدوكي پيروى كول ناروا دى ، په صحيح عقيدو اوښو عملونو كي پيروى كول په دى آيت كي داخل نه دى ، لكه چې ددې دواړو فرق دحضرت يوسف ﷺ په خبره كي په سورة يوسف كي په وضاحت سره راغلى دى .

إِنِّي تَرَكْتُ مِلَّةَ قَوْمٍ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَهُم بِالْآخِرَةِ هُمْ كَافِرُونَ ﴿٣٧﴾ وَاتَّبَعْتُ مِلَّةَ آبَائِي إِبْرَاهِيمَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ

مادهغو خلقو ملت اومذهب پرېښى دى كوم چې په الله باندى ايمان نه لرى اوچې دآخرت څخه منكر دى او ماتابعدارى كړى ده دخپلو پلارانو ، ابراهيم ﷺ اسحاق اويعقوب عليهم السلام .

نو ددې څخه په ډاګه معلومه سوه چې دپلارانو په باطله كي تقليد او پيروى كول حرام دى او په حق كي يې تقليد كول اوپيروى كول روا ، بلكه ښه كار دى .

امام قرطبى ددې آيت په حقله دمجتهدينو امامانو دتقليد متعلق مسئلى او حكمونه بيان كړى اوفرمايلى يې دى چې .

تعلق قوم بهذه الآية فى ذم التقليد (الى قوله) وهذا فى الباطل صحيح اما التقليد فى الحق فاصل من اصول الدين وعصمة من عصم المسلمين يلجاء اليها الجاهل المقصر عن درك النظر (قرطبى صفحه ۱۹۴ ، جلد ۲)

څه خلقو دا آيت دتقليد په بدوالى كي وړاندى كړى دى داخو دباطل په حقله صحيح دى ليكن دحق په باره كي ددې آيت دتقليد سره څه تعلق نسته په حق كي تقليد اوپيروى كول خو ددين په اصولو كى يو مستقل بنياد دى اودمسلمانانو ددين دحفاظت دپاره يوه ډيره لويه ذريعه ده چې په كوم سړى كي د اجتهاد صلاحيت نه وى نو هغه ددين په معامله كي په تقليد او پيروى كولو باندى بروسه (اوباور) اوتكيه كوى .

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِن طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ وَاشْكُرُوا لِلَّهِ إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ ﴿١٧٢﴾

اى ايمان دارو اخورى پاك شيان چې په رزق كي دركړى دى مونږ تاسى ته اوشكر كوى دالله پاك كه چيرى تاسى هم

إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنزِيرِ وَمَا أُهِلَّ

دده بندګى كوى ، هغه په تاسى باندى حرام كړى دى مړه حيوانان او وينه اوغوښه دخنزير او په كوم حيوان باندى

بِهٖ لِغَيْرِ اللّٰهِ ۚ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَّلَا عَادٍ فَلَآ اِثْمَ عَلَيْهِ ؕ

چې واخيستل سي نوم دالله څخه ماسوا دبل چا بيا كه څوك ډير لا چار سي او نه خو نافرماني كوي او نه زيات

اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۷۳﴾

والى نو په هغه باندى گناه نسته ، بيشكه هم الله ډير بخښونكى ، ډير مهربان دى .

لنډتفسير: مخكې دپاكيزه شيانو دخوراک په باره كي دمشركانو غلطه عقيده وښودل سوه اوس په دى آيت كي مومنانوته ددې خبرى خبر وركړل سوي دي چى دوى دې په دى غلطى كي دمشركانو سره برابرى نه كوى ، او په دى ضمن كي مومنانوته يې دخپلو انعامونو ذكركړى دى اوپه دى انعامونو باندى دشكركولو تعليم يې هم وركړى دى .

اى مومنانو ! (زمادطرفه تاسى ته اجازه ده چى) كوم (دشرع دمخه) پاک شيان مونږ تاسى ته دركړى دى په دوى كي (كوم چى تاسى وغواړى) خورى (فائده ورڅخه اخلى) او (دى اجازت سره دا حكم هم دى چى) دالله ﷻ شكر وباسى (په ژبه هم په لاس پښو هم او اطاعت كولو هم اوپه زړه سره هم ، يعنى دا خيال اوتصور كول چى دا نعمتونه دالله ﷻ دطرفه دى) كه چيري تاسى خاص ده سره دغلامى تعلق لرى او دا تعلق خو ظاهر او منل سوي دي نو دشكرواجبيدل هم ثابت سو .

ترون: په اولنى آيت كي ددى خبرى بيان وو چى حلال مه حراموى ، اوس ورپسى دابيان دى چى حرام ، حلال مه گڼى ، لكه چى څنگه مشركان په دى كى اخته وو ، مثلاً مردار حيوان يايو داسي حيوان چى هغه دالله ﷻ دنامه څخه بغير دبل په نامه باندى ذبح كړل سوي وي ، مشركانو به دا خوړل ، نو د داسي كار څخه منع وسوه ، په دى ترڅ كي دا هم وښودل سوه ، چى كوم كوم حيوانان دالله ﷻ په نزد حرام دى او ددې څخه سوا ، نور حيوانان دخپل طرف څخه حرامول غلط دى او په داسي انداز بيان سره دمخكې مضمون تائيد هم وسو .

الله ﷻ په تاسى باندى صرف (هغه شيان) حرام كړى دى (اوهغه شيان يې حرام كړى نه دى چى كوم تاسى دخپل طرف څخه حرام كوى ، لكه چى تيرسو يعنى) مردار (حيوان چى كوم بغير دشرعى ذبح څخه مرسى) اووينه (چى بهيږي) او دخنزيرغوښى (اودغه ډول دده ټولو اجزاؤ ته هم) اوداسي حيوان چى (په ارادى دنږديكت) دالله ﷻ دنامه څخه سوا بله نامه پرى ويل سوي وي (دا ټول يې بيشكه حرام كړى دى) بيا هم (په دى كي يې دومره آسانى كړى ده چى) كوم سړى (دلوږى څخه ډير) بيتابه سي او په دى شرط چى نه (په خوړلو كي) دلذت اخيستلو طلب گار وى اونه (دقدر ضرورت اوحاجت څخه) تجاوزكوونكى وى نو (په دى حالت كي ، ددې شيانو په خوړلو كي هم) په دى سړى باندى څه گناه نسته ، واقعى الله ﷻ ډير بخښونكى اومهربان (چى په داسي وخت كي يې دا رحمت وكى چى دگناه دشيانو څخه يې هم گناه ليرى كړه)

علوم اومسئلې

په دې آیتونو کې لکه چې څنګه دحرام خوراک څخه منع سوي ده ، نو هم دغه رنګ د حلال شیانو دخوراک او دې باندې دشکر ادا کولو ترغیب سوي دي ، او دا ځکه چې څنګه په حرام خوراک سره بد اخلاقي پیداکیږي ، دعبادت خوند ختمیږي ، اودعانه قبلیږي نو دغه ډول دحلال خوراک څخه یو نور پیداکیږي ، دخرابو اخلاقو څخه نفرت اودښو اخلاقو څخه مینه پیداکیږي ، په عبادت کې زړه لګیږي ، دګناه څخه زړه بیزیږي ، دعا قبلیږي ، دغه وجه ده چې الله ﷻ خپلو ټولو پیغمبرانو ته دا هدایت کوی .

أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا (ای پیغمبرانو ، خوری پاک شیان اوښه عملونه کوی)

په دې کی دې خبری ته اشاره ده چې په ښو کارونو کولو کې دحلال رزق ډیر زیات لاس دی ، هم دغه ډول په دعا قبلیدو کې حلال خوراک ډیر امداد کوی او حرام خو راک ددعا دقبلیدو څخه منع کوی ، رسول الله ﷺ فرمایي .

چې ډیر داسې خلق سته چې دوی اوږده اوږده سفرونه کړی وی او ډیر پریشانه حال وی او الله ﷻ ته ددعا کولو دپاره خپل لاسونه اوږ دوی او د (یا رب یارب) چغې وهی لیکن خوراک د دوی حرام وی ، څښاک یې حرام وی ، لباس یې حرام وی ، نو په داسې حالت کې کله د دوی دعا قبلیدای سي ؟ صحیح مسلم ترمذی از ابن کثیر ج ۱ ص ۳۲ .

اِنَمَا حَرَّمَ ، دانما لفظ دحصر دپاره را ځي ، نو په دې وجه د آیت مطلب دا سو چې الله ﷻ هم هغه شیان حرام کړی دی چې دهغه بیان وروسته راځي او د دوی څخه سوا بل څه حرام نه دی او دا خبره د (انما) دلفظ څخه معلومه سوه او په بل ځای کې په یوبل آیت کې په ډیر زیات صراحت او وضاحت سره هم راغلی ده .

قُلْ لَا أَجِدُ فِيمَا أُوحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّمًا عَلَى طَاعِمٍ : سورة الانعام ۱۴۵ ، الایه چې دی کې حضرت رسول الله ﷺ ته دا حکم کړل سوي دي ، چې ته دا اعلان وکړه ، چې ما ته کومه وحی سوي ده ، په دې کې دیو څو شیانو څخه سوا چې دهغوی ذکر وروسته کړل سوي دی ، نور څه شي حرام نه دی .

لیکن په دې باندې دا اشکال راځي چې دقرآن په نورو آیتونو او په احادیثو نبوی ﷺ کې ددې څو شیانو څخه علاوه د نورو شیانو حرمت اوحرام والی ثابت دی نو دا حصر یعني ددې شیانو څخه علاوه دنورو شیانو دحرام والی نستیوالی څنګه به صحیح سي ؟

ددې اشکال جواب دا دی چې دلته دی آیت کې دمطلق حلالو اوحرامو بیان مقصد نه دی ، بلکه ددې خاصو حیوانانو دحلال والی اوحرام والی بیان مقصد دی چې د دوی باره کې دمکی مشرکانو ، دخپلو مشرکانه عقیدو په وجه غلطیانی کولی لکه دا خبره اول ایت څخه په وضاحت سره معلومه ده چې دی مشرکانو به ډیر حیوانان حرام ګڼل ، اویابه یی په خپل ځان باندی حرام کرځول ، نو په دغه آیت کې ددې مخالفت وکړل سو او ددې خبری په مقابله کې په دې وسنی آیت کې دا وښودل سو ، چې دالله ﷻ په نزد فلانی ، فلانی حیوان حرام دی ، چې ددې څخه تاسی مشرکان څنګه او ډډه نه کوی او چې کوم دالله ﷻ په نزد حلال دی ددې څخه تاسو ډډه کوی .

خلاصه دا سوه چې دی ځای کې حصر ، مطلق حصرنه دی ، بلکه دا حصر اضافی او نسبتی دی یعنی

دمشرکانو دباطلو عقیدو په مقابله کي دی .
ورپسی په دی آیت کي چی کوم شیان حرام کړل سوي دي ، هغه شیان څلوردی (۱) مرداره (۲) وینه (۳)
دخنزیر غوښه (۴) هغه حیوان چی په هغه باندی دالله ﷻ دنامه څخه سوا دبل چا نو اخیستل سوي وي .
او ددغه څلورو شیانو زیاته تشریح ، دقرآن شریف په نورو آیاتونو اوصحیح حدیثونو کي راغلی ده .
چی ددې په نړا کي ددې څلورو شیانو دحکمونو تفصیل دا لاندی دی .
میته : چی دی ته په پښتو کي مرداره ورته وایې ، هغه حیوان دی چی دهغه دحلالولو دپاره دشرع دمخه
ذبح کول ضروری دی ، لیکن هغه دذبح څخه بغیر په خپله مړ سي ، یایې غاړه خپه کړل سي یاپه بله
طریقه سره مړ کړل سي ، نو دغه حیوان مردار او حرام دی .
لیکن دقرآن شریف دیوبل آیت ، اُحِلَّ لَكُمْ صَيْدُ الْبَحْرِ : څخه معلومه ده ، چی د دریاب حیوانان ذبح کول شرط
نه دی ، هغه دذبح کولو څخه بغیرهم حلال دی ، په دغه وجه په صحیح حدیثونوکي ماهی اوملخ دمیته
څخه جلا کړل سوي ، اوحلال کړل سوي دی ، رسول الله ﷺ فرمایی ، مونږ دپاره دوه مړه (یعنی بغیر
دذبح کولو څخه مړه) حلال کړل سوي دي ، یو ماهی او دویم ملخ ، او دوه وینی حلالی کړل سوي دي
(اینه) اوتورې (ابن کثیرج ۱ صـ ۳۲۱)
معلومه سوه چی په حیواناتو کي ماهی اوملخ بغیر دذبح کولوڅخه حلال دی که هغه په خپله مړه سي یا
دچاپه وهلوسره مړه سي ، هلته دومره خبره ده چی کوم کب (ماهی) مړسی او اوبوته په سر راسی هغه
مردار او حرام دی (جصاص ج ۱ صـ ۱۲۵)
هم دغه ډول دښکارهغه حیوان چی هغه په قبضه کي نه راځی ، چی ذبح کړل سي که چیري دغه حیوان
دبسم الله ویلوڅخه وروسته په غشی یاپه بل تیره شی سره وویشتل سی چی دی سره هغه زخمی سي او
دزخمی کیدو څخه څخه وروسته مړسی ، نو دا حیوان که څه هم ذبح سوي نه وی خو حلال دی .
مسئله : دټوپک په ګولی چی کوم حیوان زخمی سی او دذبح څخه مخکی مړسی نو هغه داسي دی لکه
چی په کانی یاپه لښته وهلو سره مړسی ، او دی ته قرآن شریف کي (موقوذة) ویل سوي دي ، چی حرام
دی ، البته که چیري دمړ کیدو څخه مخکی مخکی ذبح کړل سی ، نو بیا حلال دی .
مسئله : ننه صبادټوپک څه ګولی څوکی داری جوړی سوي دي او دداسی ګولی په حقله ځینی علماء دا
وایی ، چی دادغشی په حکم کي داخل دی ، لیکن دعاموعالمانوپه نزد داهم دغشی په ډول نه دی ،
یعنی (جاریه) نه دی بلکه دا (خارقه) دی یعنی د دارو دزرو په وجه غوښه شکوی ، په خپله په کي څه
تیزوالی نسته چی حیوان زخمی کی نو په دی وجه دداسي ګولی ښکار هم بغیر دذبح حلال نه دی .
مسئله : په ذکر سوي آیت کي میتة مطلقًاحرامه کړل سوي ده ، نوپه دغه وجه چی څنګه ددی غوښه خوړل
حرام دی ، دغه ډول ددی خرڅول اواخیستل هم حرام دی او داحکم دټولوپلیتو شیانو دی ، چی دهغوی
استعمال ، خرڅول اورانیول او د دوی نفع اخستل حرام دی ، تردی چی مردار حیوان ، یاپلیت شی په څه
حیوان خوړول هم ناروا دی ، که چیري حیوان یی په خپله وخوری نو باک نسته (جصاص احکام القرآن ج
۱ صـ ۱۳۵) قرطبي ج ۲ صـ ۲۱۸ .

مسئله : په دی آیت کي دمیتة دحرام کیدو عام حکم دی ، چی دی کي دمیتة ټول اجزاء شامل دی ، لیکن په دریم آیت کي ددې تشریح ،عَلٰی طَاعِمٍ یَّطْعَمُهٗ : په الفاظو سره کړل سوي ده ، چی ددې څخه دا معلومیږي چی دمردار سوي حیوان هغه اجزاء حرام دی چی هغه خوړل کیږي ، نو په دی وجه دمردار سوي حیوان هډوکی او ویښته چی دخوراک شیان نه دی ، پاک دی او ددې استعمال روا دی ، دقرآن شریف آیت ، وَمِنْ اَصْوَافِهَا وَاَوْبَارِهَا وَاَشْعَارِهَا اَثَاثًا وَّمَتَاعًا اِلٰی حِیْنٍ (۸۰) کی ددغو حیواناتو دویښتو څخه مطلقًا فائده اخستل روا کړی دی او دذبح شرط ورسره نسته (جصاص احکام القرآن ج ۱ صـ ۱۴۰)

په څرمن باندی هرکله چی وینه وغیره نجس لګیدلی وی ، نوپه دی وجه درنګ کولوڅخه وړاندی ددې استعمالول روا نه دی او درنګ کولوڅخه وروسته ددی استعمال روا دی، په صحیح حدیثونوکي ددی زیات وضاحت سته (جصاص دغه مرجع اومخ ۱۴۱)

مسئله : دمردار سوی حیوان وازګه او دوا زګی څخه جوړ سوي شیان هم حرام دی ، ددی استعمال په یو ډول هم روا نه دی ، خرڅول او په بیعه اخستل یی هم حرام دی .

مسئله : دیورپ وغیره څخه چی کوم صابون وغیره شیان راځی کوموکي چی وازګه استعمالیږي ، نو د دوی څخه ډډه کول غوره دی ، لیکن د استعمال ګنجائش په کي څکه سته چي دا خبره په یقین سره معلومه نه ده چی په دغه صابون کي دمردار سوي یادیوبل نجس حیوان وازګه سته ، اوبله وجه په کي داهم ده چی ځینوصحابه ؓ کرامولکه ابن عمر ؓ ابوسعید خدری ؓ او ابوموسی اشعری ؓ به صرف دمردار سوي حیوان وازګه خوړل حرام ګڼله ، اوډخوړلوڅخه علاوه نوراستعمال به یی ناروا نه ګڼی نو په دی وجه ددې خرڅول او اخستل یی هم روا ګڼل (جصاص دکتاب احکام القرآن څخه په ډاګه کیږي چی داخبره دغه صحابه دهغو غوړو متعلق کوی په کوموکي چی مږه مږه سی او دوازګی متعلق خوجصاص یومستقل باب مقرر کړي دي چی دمرداری وازګه څخه نفع اخستل حرام دی)

مسئله : دشیدوڅخه په پنیرجوړولوکي یو شی استعمالیږي ، چی دی ته په عربی ژبه کي (انفحه) ویل کیږي اوداحیوان دنس څخه را وزی دا چی په شیدوکي واچول سی نوشیدی کلکی سی اوس که چیري دا حیوان دالله ﷻ په نوم ذبح سوي وي ، نو ددی په استعمالولوکي څه حرج نسته ، څکه چی دذبح سوي حیوان غوښه ، وازګه وغیره ټول حلال دی ، لیکن که چیري دا شی دداسي حیوان دنس څخه واخستل سي چی هغه ذبح سوي نه وی ، نوبیاپه دی کی دفقهاؤ اختلاف دی ، امام ابوحنیفه رحمه الله او امام مالک رحمه الله دی ته پاک وایی ، لیکن امام ابویوسف رحمه الله اوامام محمد رحمه الله اوثوری رحمه الله وغیره دی ته نجس وایی (جصاص احکام القران ج ۱ صـ ۱۳۹) قرطبی ج ۲ صـ ۲۲۰ .

دیورپ او دنورو غیرو اسلامی ملکونو څخه چی کوم پنیر راځی ، ددی په باره کي دجمهورو فقهاؤ درایی متعلق پرهیزکول په کار دی، څکه چی احتمال سته چی په دی کي به دمردار سوي حیوان اویادیوبل غیر حلا حیوان دغه شي استعمال سوي وي اوګنجائش په کي هم په دی وجه سته چی امام ابوحنیفه رحمه الله او امام مالک رحمه الله دغه شی ته نجس نه وایی البته دومره خبره ده چی دیورپ څخه ځینی داسی پنیرونه هم راځی چی په دی کی دخنزیر وازګه ګډه سوي وي اوپه ډبی باندی دغه خبره لیکل

سوي هم وي ، نو دغه پنير يقيناً حرام اونجس دی .
وينه : بل شی چی په آيت کي ددی دحرام والی ذکر دی ، هغه وينه ده د (دم) لفظ چی معنی يی وينه ده ، په آيت که څه هم مطلقه ده ، ليکن دسورة انعام په آيت کي ورسره دمسْفُوح يعنی دبهيدونکی شرط لګولی سوي دي ، په دی وجه کلکه وينه لکه اينه توری وغيره پاک او حلال دی .
مسئله : هرکله چی حرامه وينه صرف هغه وينه ده چی بهيږي ، نوهغه وينه چی دذبح څخه وروسته غوښی سره لګيدلی وی ، هغه پاکه ده ، دفقهاؤ صحابه ؤ او تابعينو په دی خبره اتفاق (اجماع) دی ، هم دغه ډول دغوماشی ، مچ ، او دکتملو وينه نجسه نه ده ، البته دومره خبره ده چی زياته سي نو پريولل يی په کار دی (جصاص احکام القرآن ج ۱ صـ ۱۴۳)
مسئله : څنګه چی دوينی خوړل اوچښل حرام دی ، هم دغه ډول ددې دخوړلو اوچښلو څخه علاوه بهرنی استعمال يی روا نه دی اوڅنګه چی دنورو ټولو نجسو څخه فائده اخستل او خرڅول اوپه بيعه اخستل روا نه دی ، هم دغه رنګ وينه هم ده ، ځکه چی په قرآن کي مطلقًا وينه حرام سوي ده چی په کي داستعمال ټول صورتونه شامل دی .

(مريض ته دبل دويني ورکولو مسئله)

په دی مسئله کي تحقيق دا دی ، چی دانسان وينه دانسان جزء دی اوچی دبدن څخه وزی ، نو نجسه هم ده ، نو ددی اصلی تقاضا خو دا ده ، چی ديو انسان وينه په بل بدن کي دننه کول د دوو وجوڅخه حرام دی (۱) يو دا چی دانسان د اجزاؤ احترام واجب دی او داسي کول احترام سره منافی کار دی ، دويم دا چی وينه سخته نجسه ده او دنجس شيانو استعمال روا نه دی .
ليکن دمجبورتيا په حالت کي اوپه عاموعلاجونوکي داسلامی شريعت په آسانوکي دغور اوفکرکولو څخه وروسته دا لاندی خبری ثابتيږي .
اول دا چی وينه که څه هم دانسان جزء دی ليکن دا ديوبل انسان بدن کي منتقل کولو سره دانسان داجزاؤ پريکولو ضرورت نه راځی ، دستنی په ذريعه وينه وکښل سي ، او په دويم بدن کي اچول کيږي ، ددې مثال دشيدو په ډول سو ، چی دانسان دبدن څخه بغير دپريکولو را پريکولو را ووزی او د دويم انسان جزء ګرځی ، او اسلامی شريعت دماشوم دضرورت دوجی دانسان شيدی يی دهغه خوراک مقررکړی دی اوپه مور باندی خپلو بچو ته شيدی (تی) ورکول يی واجب کړی دی ، ترڅو چی دا مور دبچو دپلار په نکاح کي وی ، دطلاق څخه وروسته مور په شيدو (تی) ورکولو مجبوره کولای نه سي ، بچو ته خوراک څښاک ورکول دپلار ذمه واری ده ، چی هغه دی بچوته ديوبلی ښځی شيدی (تی) ورکوی يادغه مورته څه عوض ورکی چی هغه دی بچوته شيدی (تی) ورکړی ، په قرآن شريف کي دا په داګه ذکر دی ، فَإِنْ أَرْضَعْنَ لَكُمْ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ (که چيري ستاسی طلاقی سوي ښځی ستاسی بچوته شيدی (تی) ورکوی ، نودوی ته اجرت او معاوضه ورکړی)
خلاصه دا سوه چی ماشومانوته دشيدو (تی) ورکولو اجازه دضرورت په وجه ورکړل سوي دي ، حالانکه دا دبل انسان (مور) جزء دی او دعلاج په توګه لويوته هم ددی اجازه سته لکه چی په عالمګيری کي دی .

وَلَا بَأْسَ بِأَنْ يُسْعَطَ الرَّجُلُ بِلَبَنِ الْمَرْأَةِ وَيَشْرَبَهُ لِلدَّوَاءِ (په دې کې څه باک نسته چې د دارو په توګه يوسړی دښځې شيدې په پزه کې واچوي يايې وڅښي) او دابن قدامه په مغنی کې دې ددې مسئلې تفصيل په ډير ښه طريقه سره سوي دي (مغنی کتاب الصيد، صفحه ٦٠٢ جلد٨)

اوس که چيرې وينه په شيدو باندې قياس کړل سي ، نو دا دقياس څخه ليرې خبره نه ده ځکه چې شيدې هم دوينې يوبل شکل دی ، او دواړه دانسان دبدن اجزاء دی ، فرق صرف دومره دی چې شيدی پاک دی او وينه نجسه ده ، نو دحرمت اوله وجه ، يعنی دانسان جزء کيدل دممانعت دپاره وجه پاته نه سوه ، صرف دنجس معامله اوخبره پاته سوه نو دعلاج او د دارو په باب کې ځينی فقهاؤ دوينی داستعمال هم اجازه ورکړی ده .

نوپه دې وجه دانسان وينه په بل بدن کې دمنتقل کولوڅخه شرعی حکم دا معلوم سو ، چې په عامو حالتونو کې خو روا نه دی ، ليکن دمجبوری په حالت کې بغير دڅه شک څخه روا دی ، دمجبوری دحالت څخه مراد دا دی ، چې دمريض ژوند په خطره کې وی ، او بل دارو دده دژوند محفوظ کولو دپاره مؤثر ياموجود نه وی ، او په وينه ورکولو کې دا غالب ګمان وی چې دده ژوند به محفوظ سي ، نوپه دې شرطونو سره وينه ورکول ، ددې قرآنی ايت دمخه روا سو ، کوم چې مجبور د دمرداری دخوړلو اجازه ورکړل سوي ده ، او که چيرې دمجبوری حالت نه وی ، يا يوبل داروکار کولای سي ، نو په داسي حالت کې بيا هم دفقهاؤ اختلاف ، دځينو په نزد روا دی او دځينو نورو په نزد ناروا دی ، او ددی خبری تفصيل دفقهی کتابونوکې په باب ددارو په حرامو شيانو سره کوی ، ذکردی زماهم يوه مستقله رساله په دې موضوع باندی شائع سوي ده ، چې ددې نوم دی اعضاء انسانی کې پيوند کاری .

(دخنزير حرام والي)

دريم شی چې په آيت کې حرام کړل سوي دي ، هغه دخنزير غوښه ده ، په آيت کې دخنزيردحرام والی سره د (لحم) (غوښی) قيدلګول سوي دي ، امام قرطبی وايی چې ، ددی څخه غرض داخبره ده چې دغوښې په ګوته کول مقصودنه دی ، بلکه دده ټول شيان هډوکی ، څرمن ، ويښته پلی وغيره ټوله دامت په اجماع سره حرام دی ، ليکن د(لحم) لفظ زياتوب کولوکې دی خبری ته اشاره ده چې خنزير دنورو حرامو حيوانانو په ډول نه دی ، چې هغه په ذبح کولو پاکيږي ، که څه خوړل يې حرام دی ، ځکه چې دخنزير غوښه په ذبح کولو هم نه پاکيږي او خنزير نجس العين (يعنی په اصل کې نجس) هم اوحرام هم دی، صرف دڅرمنی ګنډلو دپاره دده دويښتو استعمال په حديث کې روا ښودل سوي دي (قرطبی ج ٢ صـ ٢٢٢ / ٢٢٣) (جصاص احکام القرآن ج ١ صـ ١٤٤ اوحديث ذکر دويښتو په باره کې قرطبی کړی دی)

(مااُهل به لغيرالله)

څلورم شی چې کوم په آيت کې حرام کړل سوي دي ، هغه حيوان دی ، چې دالله ﷻ څخه ماسوا دبل چاپه نامه سره مقررسوي وي ، ددې دري شکله مشهور دی ، اول دا چې حيوان دالله ﷻ څخه ماسوا بل چاد نږديکت او رضا حاصلولو دپاره ذبح کړل سي او دذبح په وخت په دغه غيرالله نوم واخستل سی ، داشکل خو په اتفاق او اجماع سره حرام دی او دا حيوان مردار دی ، دده دڅه جزء نفع اخستل روانه دی ،

ځکه چې دا صورت اوشکل ، وَمَآ اُهِلَّ بِهٖ لِغَیْرِاللهِ : په داګه معنی ده او په دې کې دچا اختلاف نشته.
دویم شکل اوصورت دا دی چې یو حیوان دغیرالله د نږدیکت او رضا حاصلولو دپاره ذبح کړل سي ، یعنی دهغه دوینې تویولو غرض دا وی ، چې دا غیرالله خوشحاله سی ، لیکن دذبح کولو په وخت کی په هغه باندې دالله ﷻ نوم وا خستل سی ، لکه چې ډیر ناخبره مسلمانان دبزرګانو اوپیرانو په نوم دهغوی درضا حاصلولو دپاره بزه ، چرګه وغیره ذبح کوی ، لیکن دذبح په وخت کې په دې باندې دالله ﷻ نوم اخلی ، دا شکل هم په اتفاق دفقهاؤ حرام دی ، او ذبح سوي شي مردار دی.
لیکن ددلیل په را وستوکی څه اختلاف سته ، ځینی فقهاء اومفسرین دا هم د ، وَمَآ اُهِلَّ بِهٖ لِغَیْرِاللهِ : په داګه معنی کي شاملوی ، لکه چې دبیضاوی په حاشیه کي دی.
(فَكُلُّ مَا نُودِيَ عَلَيْهِ بِغَيْرِ اِسْمِ اللهِ فَهُوَ حَرَا وَاِنْ ذُبِحَ بِاِسْمِ اللهِ تَعَالٰى حَيْثُ اَجْمَعَ الْعُلَمَاءُ ، لَوْ اَنَّ مُسْلِمًا ذَبَحَ ذَبِيْحَةً وَقَصَدَ بِذَبْحِهٖ التَّقَرُّبَ اِلٰى غَيْرِاللهِ صَارَ مُرْتَدًّا وَ ذَبِيْحَتُهٗ ، ذَبِيْحَةَ مُرْتَدٍّ) (هرهغه حیوان چې دغیرالله په نوم مقرر کړل سی هغه حرام دی ، که څه هم دذبح په وخت کي دالله ﷻ نوم پرې واخستل سی ، په دې وجه دعلماؤ اتفاق دی ، چې کوم حیوان دغیرالله د نږدیکت او رضا حاصلولو دپاره که چیري یومسلمان ذبح وکړی نو دغه مسلمان مرتد سو او دا ذبیحه (حلال کړی شی) دمرتدذبیحه سوه)
اوهم دارنګه د درمختار په کتاب الذبائح کي دی.
ذُبِحَ لِقُدُوْمِ الْاَمِيْرِ وَنَحْوِهٖ كَوَاحِدٍ مِّنَ الْعُظَمَاءِ يَحْرُمُ لِاَنَّهٗ اُهِلَّ بِهٖ لِغَيْرِاللهِ وَلَوْذُكِرَاسْمُ اللهِ وَ (اَقَرَّهُ الشَّامِيُّ، صفحه : ۲۱۴ ، جلد : ۵)
(دیو امیریادیولوی سړی په راتلوباندې حیوان ذبح کول حرام دی ځکه چې داپه ، وَمَآ اُهِلَّ بِهٖ لِغَیْرِاللهِ : کې دا خل دی ، که څه هم دذبح په وخت کي دالله ﷻ نوم پرې واخستل سي اوشامی ددې خبری تائد کړی دی)
(ددې مطلب دا دی چې که چیري صرف دذبح دعمل سره دیولوی سړی تعظیم غرض وی نو دا حرام دی خو که چیري غرض میلمستیاکول وی او ددې میلمستیادپاره حیوان ذبح کړل سي یعنی مقصد یی په میلمه غوښه خوړول وی ، تعظیم نه وی نو دا سنت ضیافت دی اوجائز دی او دواړو صورتونو کی فرق دا دی چې دویم صورت کي دکور انسانانو دپاره دغوښې حاصلول مقصد وی او په اول صورت کي دتعظیم دعلامت په توګه دحیوان ذبح کول مقصد وی قطع نظر له دې چې ددې غوښه به خوړلای سي یانه نو دې دپاره په درمختاکی هم مخکی ددې ذکر سوي دي.
ولو ذبح للضیف لایحرم لانه سنت الخلیل واکرام الضیف اکرام الله تعالی والفارق انه ان قدمهالیاکل منها کان الذبح لله والمنفعة للضیف او للولیمة او للربح وان لم یقدمهالیاکل منهابل یدفعهالغیره کان لتعظیم غیرالله فتحرم ، علامه شامی رح ددې په شرح کي نوره تشریح کړی ده ردالمحتار ص ۳۰۹ ، ۳۱۰ ج ۲ ،
اوځینو حضراتو دا شکل اوصورت ، وَمَآ اُهِلَّ بِهٖ لِغَیْرِاللهِ : صریح معنی نه ده ګرځولی ځکه چې دا دعربیت په حیثیت دتکلف څخه خالی نه دی ، لیکن په دې وجه چې علت ددې صورت او دمخکنی صورت چې هغه دغیرالله درضاحاصلولو نیت دی ، یو دی نو په دې وجه دا یې د وَمَآ اُهِلَّ بِهٖ لِغَیْرِاللهِ سره لګولی دی او حرام کړی دی او زما په نزد دغه وجه زیاته داحتیاط وجه ده.

او ددی څخه ماسوا ددی صورت دحرمت دپاره یو مستقل آیت دلیل هم دی چی هغه ،مَاذُبِحَ عَلَى النصُبِ دی نصب هغه ټولو شیانو ته ویل کیږي چی دهغه په باطل توګه باندی عبادت کیدای سي ، معنی یې دا ده چی هغه حیوان حرام دی ، چی هغه دباطلو معبودانو دپاره ذبح کړل سوي وي ، او د، مَاذُبِحَ عَلَى النصُبِ: څخه مخکې دومَاأُهِلَ بِهِ لِغَيْرِ الله معنی صریحه هغه حیوان دی ، چی په هغه باندی دذبح په وخت کي دغیرالله نوم واخستل سی اوذبح عَلَى النصب دده په مقابله کي دی ، چی په هغه کي دذبح په وخت کي دغیرالله نوم نه وی اخستل سوي ، لیکن صرف دبتانو وغیره دخوشحالولو په نیت ذبح کړل سوي وي.

امام قرطبی په خپل تفسیر کی دغه خبره غوره کړی ده دهغه عبادت داسی دی

وَجَرَتْ عَادَةُ الْعَرَبِ بِالصِّيَاحِ بِاسْمِ الْمَقْصُوْدِ بِالذَّبِيْحَةِ وَغَلَبَ ذٰلِكَ فِيْ اِسْتِعْمَالِهِمْ حَتّٰى عَبَّرَ بِهِ عَنِ النِّيَّةِ الَّتِيْ هِيَ عِلَّةُ التَّحْرِيْمِ (تفسیر قرطبی، صفحه : ۲۰۷ ، جلد : ۲)

دعربوعادت وو چی دچادپاره به یی ذبح کوله ، دذبح په وخت کي به یی دهغه نوم په لوړ آواز اخیستی او دا رواج په دوی کی عام وو ، تر دی پوری چی په دی آیت کي چی دغیرالله نږدیکت څخه داهل په لفظ سره تعبیر وکړل سو ، کوم چی دحرام والی اصلی علت دی.

قرطبی ددی خپل تحقیق بنیاد دحضرت علی کرم الله وجهه اودحضرت عائشه ﷺ فتوی ګرځولی دی ، دحضرت علی کرم الله وجهه په زمانه کي دفرزق شاعر پلار غالب یو اوبن ذبح کړی وو ، سره ددې چی هغه باندی دغیرالله نوم نه وو اخستی ، لیکن حضرت علی کرم الله وجهه دهغه دارادی اوقصد په وجه چی هغه غیرالله ۇ په مَاأُهِلَ بِهِ لِغَيْرِ الله کي داخل کی اوحرام یی وګرځوی اوټولو صحابه ۇ دهغه دا خبره قبوله کړه ، هم دغه ډول دحضرت عائشی ﷺ یولوی اوږد حدیث دی ددی په آخرکي دا دی چی یوی ښځی عائشی ﷺ څخه پوښتنه وکړه ، چي زمونږ څه دشید و خپلوان عجمي خلق دی ، او د دوی خو هره ورځ څه نه څه اختر وی ، اوپه دغه اخترونوکی څه تحفی مونږ ته رالیږی ، آیامونږ دا خوړلای سو اوکه نه ؟ نوحضرت عائشی ﷺ وفرمایل ،اَمَّا مَا ذُبِحَ لِذٰلِكَ الْيَوْمِ فَلَا تَاكُلُوْا وَلٰكِنْ كُلُوْا مِنْ اَشْجَارِهِمْ (تفسیر قرطبی صفحه ۲۰۷ ، جلد : ۲) (کوم حیوان چی ددی اختر د ورځی دپاره ذبح سوي وي ، نوهغه مه خوری لیکن ددوی ددرختومیوه خوړلی سي

دا دهغه صورت اوشکل بیان وو چی دغیرالله رضا حاصلول مقصدوی ، خو دذبح په وخت کي باندی دالله ﷻ نوم اخیستل سوي وي ، نو دا صورت خو اول دعلت او وجی دحرمت دیووالی په وجه چی هغه نیت دغیرالله درضاحاصلولو دی ، دمَاأُهِلَ بِهِ لِغَيْرِ الله په حکم کي دی ، دویم صورت د (مَاذُبِحَ عَلَى النصُبِ) معنی ده نو په دی وجه حرام دی.

دریم صورت اوشکل دا دی چی دیو څاروی غوږ پریکړل سی یاڅه بله علامه پری ولګول سي دغیرالله دتعظیم او درضا حاصلولو دپاره پریښودل سي چی نه خو تری بیا څه کار اخلی ، او نه یې ذبح کوی ، بلکه بیا دهغه ذبح کول حرام ګنی ، نو داسی څاروی په مَاأُهِلَ بِهِ لِغَيْرِ الله اوپه (مَاذُبِحَ عَلَى النصُبِ) دواړو کي

داخل نه دی ، داسي څاروی ته (بحيره) يا (سائبة) ويل کيږي ، اوحکم يې دا دی چې دا کار دقرآن په آيت سره حرام دی ، چې دا به په آيت ، مَا جَعَلَ اللّٰهُ مِنۡ بَحِيۡرَةٍ وَّلَا سَآئِبَةٍ کي انشاء الله تعالی را سي .
ليکن د دوی دی حرام کار او ددې څاروی په حرام ګڼلو سره دا څاروی حراميږي نه ، بلکه دنورو عامو څارو په ډول حلال دی .
اوشرعی اصولومطابق دا څاروی دخپل مالک دملک څخه نه وزی ، که څه هم هغه په خپله باطله عقيده کي دا ګڼی چې دی دده ملک څخه وتلی دی اودغيرالله ملک ګرځيدلی دی ، خوشرعا دده دا عقيده باطله ده ، هغه حيوان بدستور دده ملک دی .
اوس که چيري دغه سړی په خپله دغه څاروی په چاباندی خرڅ کړی يايې چاته وبخښي نوهغه دپاره دا څاروی حلال دی يادغه رنګ ځينی ناپوه مسلمانان په ځينی مزاروکی داسی عمل کوی ، بزه ياچرګه وغيره هلته پريږدی اومنجورانو ته اختيار ورکوی ، چې دوی دا خرڅ کړی ، نوچې کوم خلق دغه څاروی وغيره ددغه منجورانو څخه واخلی چاته چې اصل مالک اختيار ورکړی دی نو دهغوی دپاره دحيوان اخستل او د ذبح څخه وروسته دهغوی خوراک اوخرڅول ټول حلال دی .

(دغيرالله په نامه منبته)

دلته يوڅلورم صورت بل دی چې ددې تعلق دحيوان څخه علاوه دنورو شيانو سره هم دی مثلاً خوږ ديګ وغيره چې هغه دغيرالله په نامه دنذرپه توګه هندوان دخپلوبتانوپه نوم منی ياناپوه مسلمانان يې دبزرګانو دمزارونو په نامه منی نودغه صورت هم فقهاؤ دتقرب الی الله دعلت وجه دماهل به لغيرالله په حکم کي شريکوی اوحرام ورته وايي ، دا مسئله دفقهی په کتابونو کي په تفصيل سره ذکر ده .

(دمجبوری حکمونه)

په ذکرسوي آيت کي دڅلورو شيانو دحراملو څخه وروسته يو استثنائی حکم ذکردی فَمَنِ اضۡطُرَّ غَيۡرَ بَاغٍ (الاية) په دی حکم کي دومره آسانی سوي ده ، چې کوم سړی دلوږی څخه ډير بی تابه سي او شرط دا دی چې دا سړی خو نه په خوراک کي لذت حاصلولو ګار وی ، او نه دحاجت دقدرڅخه تجاوز کوونکې وی نو په داسي حالت کي ده ته په دغه حرامو شيانو خوړلو کي څه ګناه نسته .
اومضطر يعنی مجبور دشرع په ژبه کي هغه سړی ته ويل کيږي ، چې دهغه ژوند په خطره کي وی په معمولی تکليف ياضرورت سره مجبورنه سی ګڼلی ، که چيري يو سړی لوږه کي داسي حالت ته ورسيږی چې که چيري هغه څه ونه خوری ، نو مړ به سی ، نو دغه سړی مضطر او مجبور دی او ده ته دغه حرام شيان خوړل روا دی ، خو ورسره يو شرط بل دا دی چې دحد څخه تجاوز ونه کړی .

(يو اهمه فائده)

دلته قرآن شريف دمجبوری په حالت کي هم حرام شيان خوړل حلال بللی نه دی ، بلکی لَآ اِثۡمَ عَلَيۡهِ ويلی دی چې ددی مطلب دا دی چې دا شيان اوس هم په خپل ځای حرام دی ، ليکن د دوی خوړونکی ته دمجبورتيا په وجه دمرامو داستعمال ګناه معاف کړل سوي ده ، په حلاليدو اوپه ګناه معاف کيدوکی ډيرفرق دی که چيري دمجبورتياپه حالت کي ددی شيانوحلال کيدل غرض وی نودحرمت څخه صرف

استثناء کول به کافي وو، لیکن دلته د استثناء سره وَلَاۤ اِثۡمَ عَلَیۡهِ دلفظ اضافه دی خبری ته اشاره سوه چی حرام خو په خپل ځای حرام دی او دهغه استعمال گناه ده لیکن دمجبوری څخه دا گناه معاف کړل سوي ده

(دمجبورتیا په حالت کي دحرامو شیانو په توگه د دارو استعمال)

دذکر سوي آیت څخه دا هم ثابته سوه چی دکوم سړی ژوند په خطر کي وی، نو هغه دژوند محفوظ کولو دپاره حرام شیان په توگه د دارو استعمالولی سی، لیکن په هغه شرطونو چی کوم دآیت څخه معلومیږي ، (۱) اول دا چی حالت دمجبورتیا وی، دمرگ خطره وی، دمعمولی مریضی دا حکم نه دی (۲) دویم دا چی دحرامو څخه بغیر څه بل شي دعلاج دپاره موثر نه وی یا موجود نه وی (۳) دریم دا چی ددغه حرامو په استعمال سره دژوند محفوظ کیدل یقینی وی، لکه چی دلوږی څخه دمجبور ژوند په یوې یا دوو گولو محفوظ کیدل یقینی وی، که چیري یو دارو داسي وی، چی دهغه استعمال فائده مند وی، لیکن دی سره شفاپیداکیدل یقینی نه وی، نو ددغو حرامو دارو استعمالول د ذکر سوي آیت په استثنائی حکم کي نه راځی، او ورسره هغه دوه شرطه هم دنظر لاندی وی چی کوم په دی آیت کي ذکر سوي دی، چی ددې داستعمال څخه لذت حاصلول غرض نه وی او دضرورت دقدر څخه زیات یی استعمال نه کړی.

دذکر سوي آیت دصراحت او اشارو څخه چی کوم قیدونه اوشرطونه را ووزی نو په هغه قیدونو سره دهری حرامی اوناپاکی دوایی استعمال چی څنگه وی، دامت په اتفاق سره روا دی، ددغه قیدونو خلاصه پنځه شیان دی.

(۱) دا چی حالت دمجبورتیا وی (۲) څه حلال دارو اثر کوونکی یاموجود نه وی (۳) په دی حرامو دارو سره دمرض لیري کیدل یقینی وی (۴) ددی استعمال دلذت حاصلولو دپاره نه وی (۵) دا چی دضرورت دقدر څخه زیات استعمال نه سي.

(دغیرمجبورتیا په حالت کي دعام علاج او دارو دپاره دحرامو استعمال)

دمجبورتیادحالت مسئله خو په ذکر سوو شرطونو سره دقرآن دنص څخه ثابته مسئله ده او اجماعی حکم دی، لیکن په عامو مرضونو کي هم دڅه ناپاکی یاحرامی دوایی استعمال جائز دی او که نه؟ په دی مسئله کي دفقهاؤ اختلاف دی، اکثر فقهاء وایی، چي دمجبورتیا او دهغوشرطونو څخه چی وړاندی ذکر سو، دحرامو داروگانو استعمال روانه دی، څکه چی په حدیث کي دي، چی الله ﷻ مومنانو دپاره په حراموکی شفا ایښی نه ده (بخاري شریف)

ځینی نورفقهاء دیوی خاصی واقعی دحدیث څخه دلیل نیسی اوجائزیی گنی، اوداواقعه دعرنیینوواقعه ده، دحدیث په ټولو کتابونوکي ذکرده چی څه دکلی خلق رسول الله ﷺ ته را غلل چی د دوی مختلف مرضونه وه، نو رسول الله ﷺ د اوښانو دشیدو او دبولو څښلو داستعمال اجازه ورکړه، چی په دی سره دوی جوړ سوه.

لیکن په دی واقعه کي ډیر احتمالونه دی، چی ددی په وجه دحرام شی استعمالول مشکوک کیږي، نو په دی وجه اصل حکم خو دا دی چی په عامو مرضونو کی ترڅو چی دمجبورتیا ذکر سوی شرطونه موجود نه وی، ترهغه وخته پوری دحرامو د دارو استعمال روانه دی.

لیکن متاخرینو فقهاء په موجوده زمانه کي دحرامو وناپاکو داروګانو دډیروالی اودعامی ابتلاء په وجه اودعامو خلقو دکمزوری په وجه په دی شرط اجازه ورکړی ده چی څه بله حلاله اوپاکه دوائی، ددې مرض دپاره مؤثره نه وی یاموجوده نه وی .

(کَمَا فِی الدُّرِّالْمُخْتَار قِیْلَ فَصْلُ الْبِئْرِ اُخْتُلِفَ فِی التَّدَاوِیْ بِالْمُحَرَّمِ وَظَاهِرُ الْمَذْهَبِ الْمَنْعُ کَمَا فِیْ رِضَاعِ الْبَحْرِ وَلٰکِنْ نَقَلَ الْمُصَنِّفُ ثَمَّ وَهٰهُنَا عَنِ الْحَاوِیْ قِیْلَ یُرَخَّصُ اِذَا عَلِمَ فِیْهِ الشِّفَاءُ وَلَمْ یَعْلَمْ دَوَاءٌ آخَرَ کَمَا رُخِّصَ فِی الْخَمْرِ لِلْعَطْشَانِ وَعَلَیْهِ الْفَتْوٰی ومثله فی العالمگیریة (صفحه : ۳۵۵ ، جلد : ۵)

درمختارکی دفصل بیرڅخه مخکی ذکردی چی حراموشیانوپه استعمال کی په توګه ددارو سره اختلاف دی اوپه ظاهرمذهب کي ددی څخه منع سوي ده لکه چی دبحرالرائق په کتاب الرضاع کي ذکردی ، لیکن دتنویرالابصارمصنف په دغه ځای کي او(په رضاع کي هم) دحاوی قدسی څخه نقل کړی دی ، چی ځینی علماء وایی چی دحراموشیانواستعمال ددارو په ډول هلته روا دی چی ددغو دارو په استعمال سره شفا یقینی وی ، او بله حلاله دوایی دا کار کولی نه سی لکه چی ځنګه دتږی دپاره دشرابو دیو غرپ کولو اجازه ده ، اوهم دغه رنګ خبره دعالمګیری په جلد ۵ مخ ۳۵۵ کي ذکر ده .

مسئله : په دی تفصیل سره دهغه داروګانو حکم معلوم سو کوم چی دیورپ وغیره څخه راځی اوپه کي دشرابو وغیره نجسو شیانو ګډوالی معلوم او یقینی وی اودهغو داروګانوحکم هم معلوم سو چی په دوی کي دحرامو اوناپاکو شیانو ګډوالی شک وی ددی په استعمال کي نور ګنجائش هم سته خو احتیاط په هرحال احتیاط دی هر کله چي سخت ضرورت نه وی ، والله اعلم

اِنَّ الَّذِیْنَ یَکْتُمُوْنَ مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ مِنَ الْکِتٰبِ وَیَشْتَرُوْنَ بِهٖ ثَمَنًا قَلِیْلًا ۙ اُولٰٓئِکَ مَا یَاْکُلُوْنَ فِیْ

بیشکه چی کوم خلق پټوی چی څه نازل کړی دی الله کتاب اواخلی په هغه باندی لږبیسی هغوی نه ذکوی خپلی

بُطُوْنِهِمْ اِلَّا النَّارَ وَلَا یُکَلِّمُهُمُ اللّٰهُ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ وَلَا یُزَکِّیْهِمْ ۚ

خیټی مګر په اور او خبری به نه کوی دوی سره الله پاک دقیامت په ورځ او نه به پاکوی دوی

وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِیْمٌ ﴿۱۷۴﴾ اُولٰٓئِکَ الَّذِیْنَ اشْتَرَوُا الضَّلٰلَةَ بِالْهُدٰی

او دوی دپاره دی عذاب دردناک دا هغه خلق دی چی دوی واخیسته ګمراهي دهدایت په بدله

وَالْعَذَابَ بِالْمَغْفِرَةِ ۚ فَمَآ اَصْبَرَهُمْ عَلَی النَّارِ ﴿۱۷۵﴾ ذٰلِکَ بِاَنَّ

او عذاب دبخښنی په بدله کی ، نو څومره صبرکوونکی دی په دوزخ باندی ؟ دا دی دپاره چی

اللّٰهَ نَزَّلَ الْکِتٰبَ بِالْحَقِّ ۗ وَاِنَّ الَّذِیْنَ اخْتَلَفُوْا فِی الْکِتٰبِ

الله پاک نازل کی کتاب رښتونی او چاچی اختلاف واچوی په کتاب کی

لَفِي شِقَاقٍ بَعِيدٍ ﴿۱۷۶﴾

نو دوی په ضد کی لیری تلی دی.

تفسیر : او دآیتونو تړون : ددی څخه مخکی دهغو حرامو شیانو ذکر وو چی کوم په سترګو ښکاره کیږي، اوپه دی آیتونوکی دهغوحراموذکردی چی په سترګونه ښکاره کیږي ، بلکه هغه په ښکاره اوپه پټه دواړو کي دشر عملونه دی ، مثلاً دیهودو دعالمانو دا عادت وو چی دعاموخلقوڅخه به یی رشوت اخیستی او دهغوی دمطلب اومقصدمطابق فتوی به یی ورکوله ، اودتورات په آیتونوکی به یی بدلون اوتحریف دعوامو دمطلب مطابق کولو په دی خبره امت محمدیه ته هم خبرتیاده چی دداسی کارونوکولوڅخه ډډه کوی ، دڅه نفسانی غرض دپاره دحق احکامو په ظاهرولو کی کوتاهی مه کوی.

(ددین دخرڅولو سزا)

په دی کی څه شک نسته چی کوم کسان دالله ﷺ دلیږلی سوي کتاب (مضامین) پټوی او ددی (خیانت) په بدله کي (ددنیا) لږ شی اخلي داسی خلق نورڅه څخه خپل نس د اور (دسکروټو) څخه ډکوی اوالله ﷺ به د دوی سره نه په قیامت کي (په مهربانی سره) خبری وکړی اونه (به یی ګناه معاف کړی) د دوی صفایی به وکړی او د دوی سزا به دردناکه وی ، دا داسی خلق دی چی دوی (په دنیاکی خو) هدایت پریښی وو او ګمراهی یی غوره کړی وه ، او (په آخرت کي یی) بخښنه پریښودله اوعذاب یی (په سر واخیستی) نو (شاباسی دی د دوی همت ته) دوزخ (ته تللو) دپاره څنګه همت لری (او) دا تولی ذکرسوي سزاګانی (دوی دپاره (په دی وجه دی چی الله ﷺ (دغه) کتاب صحیح صحیح لیږلی وو اوکوم خلق چی (داسی صحیح صحیح لیږلی سوي) کتاب کی بی لاری توب (غوره) کړی نوظاهره ده چی په ډیرلیری خلاف کولو کی به (مبتلا) سی (اوپه داسی خلاف کولو باندی ضرور، دوی به دسختو سزاګانو حق دار سی)

علوم اومسئلي

مسئله : دآیت څخه دا په ډاګه سوه چی کوم سړی دمال په لالچ کي یوشرعی حکم بدل کړی ، هغه چی دغه حرام مال خوری نوګویا دی خپل نس دجهنم د اورڅخه ډکوی څکه چی ددی عمل انجام هم دغه شي دی او ځینی محقق عالمان وایی ، چی حرام مال په حقیقت کي دجهنم اور دی ، که څه هم دده اورکیدل په دنیاکی نه محسوسیږي ، لیکن دمرګ څخه وروسته دده دا عمل د اور په شکل کي به څرګندسی .

لَيْسَ الْبِرَّ اَنْ تُوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلٰكِنَّ الْبِرَّ مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ

نیکی دا څه نه ده چی مخ کړی خپل دمشرق په طرف یادمغرب په طرف لیکن لویه نیکی خودا ده چی څوک ایمان

الْاٰخِرِ وَالْمَلٰٓئِكَةِ وَالْكِتٰبِ وَالنَّبِيّٖنَ ۚ وَاٰتَى الْمَالَ عَلٰى حُبِّهٖ

راوړی په الله پاك اودقیامت په ورځ اوپه ملائکو اوپه تولو کتابونو اوپه پیغمبرانو اوورکړی مال دهغه په محبت

ذَوِي الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنَ وَابْنَ السَّبِيْلِ ۙ وَالسَّآئِلِيْنَ

خپلوانو ته يتيمانو ته او مسکينانو ته او مسافروته او غوښتونکوته

وَفِي الرِّقَابِ ۚ وَاَقَامَ الصَّلٰوةَ وَاٰتَى الزَّكٰوةَ ۚ وَالْمُوْفُوْنَ بِعَهْدِهِمْ

او دغتونو په خلاولوکې اوقائموي لمونځ او ورکوي زکوٰة اوپوره کوونکې وي دخپلې وعدې

اِذَا عٰهَدُوْا ۚ وَالصّٰبِرِيْنَ فِي الْبَاْسَآءِ وَالضَّرَّآءِ وَحِيْنَ الْبَاْسِ ؕ

کله چې وعده وکړي او صبرکوونکې وي په سختۍ کې اوپه تکليف (مرض) کې اودجګړې په وخت

اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ صَدَقُوْا ؕ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُتَّقُوْنَ ﴿۱۷۷﴾

کې ، دغه خلق دي رښتوني او دغه خلق دي پرهيز ګار.

(ترون چې دبيان القرآن څخه اخستل سوي دی) دسورت دشروع څخه تردې ځايه پورې تقريباً دا دسورت نيمه ده ، دخبرې مخ تر زياته حده پورې کافرانو ته وو ، څکه چې دټولو څخه اول دقرآن دحق کيدلوثبوت وکړل سو په دی ترڅ کي دده دمنونکو اونامنونکو ذکر وکړل سو ، بيا دتوحيد او درسالت ثبوت وکړل سو بيا دحضرت ابراهيم ﷺ په اولاد باندی دانعامونو اواحسانونو بيان وکړل سو ، اودغه ځای کي دقبلې بحث هم وچيړل سو چی دا بيان صفا اومروه په بحث باندی ختم سو .

بيادتوحيد دثابتولوڅخه وروسته دشرک دجرړو اوځانګوباطل والی بيان سو چی تردی ځای پوری راغی ، دی ټولو مضمونونوڅخه داپه ډاګه سوه ، چی منکروته زياته خبرتياورکول دی اوپه دی ضمن کی که څه خطاب مسلمانانو ته وسی نودا بله خبره ده .

اوس په وړاندی راتلونکو آيتونوکی چی دا دسورت بقره پاته نيمه برخه ده ، تر زيات حده پوری په کی مسلمانانو ته دبعضی اصولو اوځانګو تعليم ورکول دی ، که څه هم ضمناً په کی غيرمسلمانانوته هم څه خطاب سوي دي اودا مضمون دسورت آخری حد پوری چليدلی دی ، او ددی مضمون شروع په مجمل عنوان د(بر) سره سوي ده ، او(بر) په عربی ژبه کی مطلق دخيرکارته ويل کيږي ، چی په کی ظاهری اوباطنی ټول دخيرکارونه پراته دی ، ددغه مضمون په اول آيت کي په جامع الفاظوسره دکلياتو او د اصولو تعليم ورکړل سوي دي په ايمان بالکتاب مال ورکول ، وعده پوره کول اوپه تکليف وغيره کي صبر کول دی ، دا داسی کليات او اصول دی چی دوی کی دقرآن ټول حکمونه راغلی دی ، څکه چی دشريعت دټولو حکمونو مغز دری شيان دی (۱) عقائد (۲) اعمال (۳) اخلاق پاته ټول جزئيات ددی کلياتو دلاندی دا خل دی ، اوپه دی آيت کي ددی دری سره قسمونو لوی لوی ځانګی راغلی دی .

وروسته ددی (بر) تفصيل را روان دی ، چی په دی کی ډيرحکمونه دوخت اودمکان دتقاضا دمخه بيان

سوي دي ، لکه قصاص ، وصیت ، روژه ، جهاد ، حج ، انفاق حیض ، ایلا ، طلاق ، نکاح ، عدت ، مهر ، جهاد او انفاق فی سبیل الله دوباره ذکر اوځینی معاملات څرګول اخستل اوشهادت سو اوبیا یې سورة درحمت او مغفرت دوعدې په زیری باندی ختم کړی دی ، سبحان الله څومره قدری بلیغ ترتیب دی هرکله چې ددی مضمونو مغز دبرّ بیان دی ، نو په دی وجه که چیري دی مجموعی ته د (ابواب البر لقب ورکړل سی نو ډیر ښه او ښائسته به وی)

لنډتفسیر: دبرباب ونه : څه ټول کمال په دی کی نه (دی راغلی) چی تاسی خپل مخ مشرق ته کړی یامغرب ته (کړی) لیکن (اصلی) کمال خو دا دی چی یو سړی دالله ﷻ (په ذات اوصفتونوباندی) یقین لری او(هم) دغه ډول دقیامت د ورځ (په راتلو) باندی (هم) اوپه ملائکوباندی هم (چی دوی دالله ﷻ فرمان برداره بندګان دی دنورڅخه جوړی دی ، دګناه څخه پاکی دی ، دخوراک چښاک اودانسانی شهوتونوڅخه پاکی دی) او (ټولوآسمانی) کتابونوباندی (هم) او (ټولو) پیغمبرانوباندی (هم) او(دغه سړی) مال ورکوی دالله ﷻ په مینه کي (خپلو حاجتمندو) خپلوانو او (بی ماله) یتیمانو (یعنی هغه بچوته چی دوی نابالغ وی اوپلار یی مړوی) او(نوروغریبو) محتاجانوته (هم) او(بی خرڅه) مسافروته او(دلاچاری دوجی څخه سوال کوونکوته او (دقیدیانو اوغلامانو) په خټ خلاصولوکی (هم مال لګوی) او(دغه سړی) دلمانځه پابندی (هم) لری او (مقررسوي) زکاة هم ادا کوی اوکوم خلق (چی دی عقیدو اوعملونوسره دا اخلاق هم لری چی) دخپلو وعدو پوره کوونکی وی کله چی (دیو روا کار) وعده وکړی او (داصفت خو به خصوصیت سره ووایم چی) دغه خلق (په دی موقعوکي) مستقل (مزاجه) پاته کیدونکی وی (یوخو) په تنګ دستی کي او(دویم) په مریضی کي او (دویم دکفاروسره) په جنګ کی (یعنی پریشانه اوکم همته نه وی هم) دغه خلق دی چی په رښتیا (دکمال وړی) دی او دغه خلق دی (چی په رښتیا) متقیان دی .

په دی کمالاتوکی ددین یو کمال لمونځ کول دی اوپه لمانځه کی مخ کول یوخاص طرف ته دا دلمانځه یو تابع شی دی اوشرط ځان ته مستقل کمال نه دی ، که چیري لمونځ نه وی ، نو یوخاص طرف ته مخ کول به عبادت نه وی .

علوم اومسئلي : هرکله چی دمسلمانانو قبله دبیت المقدس په ځای بیت الله وګرځول سوه ، نو یهود ، نصارا او مشرکان چی په مسلمانانو کی دعیب لټولوپه کوشش کي اخته وو ، په شور اوشغب سو ، اوقسماقسم اعتراضونه یی په رسول الله ﷺ اوپه اسلام باندی شروع کړل ، چی ددی جوابونه په اولو آیتونوکی په ښه وضاحت اوتفصیل سره ذکر سوي دي .

په دی آیتونوکی چی اوس ذکر وسو ، دغه بحث په یوخاص طریقه سره ختم کړل سو ، چی دهغه مطلب دا دی چی تاسی دین هم په یوه خبره کي را بندکړی دی ، یعنی یوخاص طرف ته په لمانځه کي مخ کول ، ګویا دشریعت او ددین بل څه حکم نسته ، او دا هم کیدای سي چی په آیت کي خطاب یهودو نصارا او مسلمانانو ټولو ته دی اوغرض او مطلب یی دا دی چی اصل (بر) اونیکی دالله ﷻ په حکم منلوکی ده ، هغه چی کوم طرف ته دمخ کولوحکم وکی ، هغه دثواب اوصحیح کاردي په خپله یوطرف هم خواه که هغه مشرق یامغرب وی یایوبل طرف څه اهمیت نه لری اونه ثواب ، بلکه ثواب په اصل کی دحکم په

منلوکی دی ، ترڅو چې دبیت المقدس په طرف دمخ کولوحکم وو هغه دثواب اونیکی کار وو ، اوکله چې دبیت الله په طرف دمخ کولوحکم وسو نو اوس دا دثواب او دنیکی کار دی .
څنګه چې دآیتونو دترون په لړکی دا خبره تیره سوي ده چې ددی آیت څخه دسورت بقره یو نوی باب شروع کیږي ، اصل خبره مسلمانانو ته تعلیم اوهدایات ورکول دی اومخالفینوته که چیري څه خطاب وغیره سته نوهغه ضمنی شی دی ، نو په دی وجه دی آیت ته داسلامی حکمونو دپاره یو جامع آیت ویل کیږي .
په دی آیت کي په اصولی توګه سره دټولو شرعی حکمونو ، دعقیدو ، عبادتونو معاملو اواخلاقو اجمالی ذکر راغلی دی .
اول شی چې هغه عقیدی دی ، دهغه ذکر په ﴿مَنْ اٰمَنَ بِاللهِ﴾ کي راغلی دی دویم شی عبادات اومعاملات دی ، په دی کی دعباداتو ذکرپه اقام الصلوة واتی الزکوة کی راغلی ، بیادمعاملاتو ذکرپه وَالْمُوْفُوْنَ بِعَهْدِ هِمْ سره کړل سوي دي ، بیا د اخلاقو ذکر په ﴿والصابرین﴾ سره کړل سوي دي اوپه اخرکی دابښودل سوي دي ، چې رښتونی مؤمنان هغه خلق دی ، چې ددی ټولوحکمونو پیر وی پوره کوی اودغه حکمونوته دتقوی شعار ﴿نښی﴾ ویل کیږي .
ددغه حکومونو په بیانولوکی ډیری بلیغی اشاری دی ، مثلاً دمال په لګولوکی دعلی حبه ، قیدلګول سوي دي چې په دی کي دری احتماله دی ، یو دا چې د﴿ حبه ﴾ ضمیرالله ﷻ ته را جع سی ، نومعنی به یې داسی ، چې دمال په لګولوکی یې نفسانی غرض اوخواهش ګډنه وی ، بلکه پوره اخلاص سره یوازی دالله ﷻ سره دمینی په وجه دامال لګوی .
دویم دا احتمال کیدای سی چې دا ضمیر دمال په طرف راجع وی ، نو معنی به یې دارنګه سی چې دالله ﷻ په لارکی هغه مال لګول کار ثواب دی ، چې کوم مال انسان ته ډیرخوښ وی ، بی کاره شیان کوم چې دغور څولو قابل وی دهغه په ورکولو کی ثواب نه حاصلیږي ، که څه هم دغورځولو په مقابله کی غوره خبره دا وی چې دچا په کار راځی نو هغه ته دی یې ورکړی .
دریم احتمال دادی چې دا ضمیر د﴿اِیْتَاء﴾ په طرف راجع وی او ﴿اِتْتَاء﴾ داټی لفظ څخه معلومیږي څکه چې ایتاء دآتی مصدر دی ، نوکه دارنګه سی نومعنی به یې داسی سی چې هغه په خپل دی مال لګولوکی دزړه څخه راضی اوخوښ وی، داسی نه وی چې مال خو لګوی، لیکن دننه زړه یې په دی لګولو دریږي .
امام جصاص احکام القرآن ج ۱ ص ۱۵۲ کي ویلی دی ، چې ممکنه ده چې دا دری سره شیان په مراد کی دا خل وی ، بیادی ځای کي دمال خرڅولو دوه صورتونه ﴿ یعنی واجبی صدقه اونفلی صدقه﴾ دزکاة څخه پرته وراندی بیان سوي دی ، او دزکاة بیان وروسته سو ، په دی کي شاید دی خبری ته اشاره وی ، چې په عام طور سره خلق په دی حقونو کی غفلت اوکوتاهی کوی اوصرف زکاة اداکول کافی ګنی ، نوچې بیان یې دزکاة دبیان څخه مخکی کی ، نو ددی اهمیت ته اشاره وسوه ، اوخلقوته دابښودنه وسوه چې ددی څخه غافل کیږي مه دا ډیر اهم شی دی .
مسئله : ددې څخه دا خبره ثابته سوه چې مالی فرض صرف په زکاة ورکولو سره نه پوره کیږي ، دزکاة

څخه پرته هم په ډيرو ځايونو کي دمال لګول فرض او واجب کيږي (جصاص قرطبی)
لکه چي په هغه خپلوانوباندی مال لګول واجب دی کوم چي دګټلوڅخه معذوردی که چيري يومسکين اوغريب دلوږی څخه يادڅه بل حاجت دوچي دمرګ په غاړه ولاړوی اوتامخکی خپل زکاة اداکړی وی نو په دی وخت کی په دی مسکين اوغريب باندی تا دمال لګول اودهغه ژوند پاته ساتل لازمی اوفرض دی.
هم دغه ډول دضرورت په ځای کی مسجد جوړول يا دينی تعليم دپاره مدرسه جوړول دمال په فرائضو کی دا خل دی ، فرق دومره دی چي دزکاة دپاره يوخاص قانون اوقاعده ده ، چي ددی مطابق په هرحالت کی زکاة ادا کول ضروری دی ، او دا دويم قسم لګول دمال په لاره دالله ﷻ کی په ضرورت اوپه حاجت باندی موقوف دی کوم ځای کي چي ضرورت دلګولو وی ، هلته لګول فرض دی ، اوچيري چي ضرورت نه وی هلته لګول فرض نه دی ، بلکه هسی ښه اودثواب کار دی .
فائده : کوموخلقوباندی چي مال لګول دی مثلاً ذوی القربی مساکين مسافر اوسوال کوونکی اوفقيران دا ټول يی په يو انداز بيان کړل ، بيا يی (وَفِي الرِّقَابِ) کي د(في) په زياتولو سره دی خبری ته اشاره وکړه چي غلامانو ته مال ورکولو کی مقصد دا نه دی ، چي دوی دمال مالکان سی ، بلکه مقصد دا دی چي دوی دی مالکانو څخه واخستل سی او آوازاد دی کړل سی ، او ددی څخه وروسته د (اَقَامَ الصَّلٰوةَ وَاٰتَى الزَّكٰوةَ) ذکر هم په هغه طريقه راغی لکه چي څنګه دنورو شيانو وو ، وروسته چي هرکله دمعاملاتو ذکرکول وو نوپه دی کی دبيان طريقه يی بدله کړه ، په ځای دماضی دصغی (وَالْمُوْفُوْنَ) داسم فاعل صغيه يی را وړله ، په دی کی دی خبری ته اشاره وسوه چي دوعدی دپوره کولوعادت دی په سړی کی دهميش دپاره وی ، اتفاقی توګه سره که چيري يوسړی وعده پوره کړی ، نو دا خوهرکافر اوفاجر هم کله کله کوی نوددغه اتفاقی وعدی پوره کولوڅه اعتبارنسته ، دغه ډول دمعاملاتو په باب کی صرف دوعدی پوره کولو ذکر وکړل سو ځکه که چيري فکروکړل سی ، نو بيع ، شرکت اجاره وغيره دټولو معاملو روح اومغزدوعدی پوره کول دی
هم دغه ډول وروسته داخلاقو ، يعنی دباطنی اعمالو ذکر کول وو ، په دی کي صرف صبر ذکر کړل سو، ځکه چي دصبرمعنی ده په نفس باندی قبضه کول او دبدو څخه محفوظ کول که چيري فکر وکړل سی ، نو دټولو باطنی اعمالو جرړی صبر دی ، ددی په ذريعه ښه اخلاق پيداکيږي او ددی په وجه دبدو اخلاقوڅخه خلاصی حاصليږي .
دبيان په طريقه کی يوبل بدلون دلته دا سوي دي چي د(اَلْمُوْفُوْنَ) په ډول دلته (والصابِرُوْنَ) يی ونه فرمايل بلکه والصابرين يی وفرمايل ، دتفسيرخاوندان وايی ، چي دانصب يعنی (والصابرين شکل) دمدح په وجه دی چي مطلب يی دا دی چي دلته دمدح لفظ پټ دی اوصابرين دهغه مفعول دی ، يعنی په ټولو نيکوکارو خلقو کی په خصوصيت سره دمدح قابل صابرين دی ، ځکه چي صبر يو داسی صفت اوقوت دی چي دهغه په ذريعه په ټولو وراندی ذکر سوو کارونو کی مدد اخستل کيږي .
نو دغه ډول په دی ذکر سوی آيت ددين دټولو ځانګواهمی جرړی راغلی او بليغو اشارو سره دهر يو اهميت درجه هم معلومه سوه .

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِي الْقَتْلَى الْحُرُّ بِالْحُرِّ وَالْعَبْدُ

اى دايمان خاوندانو! فرض كړل سو په تاسى باندى (قصاص) برابرى كول په مقتولانو كى دازاد بدله آزاد او

بِالْعَبْدِ وَالْأُنْثَى بِالْأُنْثَى فَمَنْ عُفِيَ لَهُ مِنْ أَخِيهِ شَيْءٌ

دغلام بدله غلام ، اودښځى بدله ښځى ، بيا چا ته چى معاف كړل سى دهغه د وروړله طرف څه هم

فَاتِّبَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ وَأَدَاءٌ إِلَيْهِ بِإِحْسَانٍ ذَٰلِكَ تَخْفِيفٌ

نو تابعدارى كول په كاردى د دستور مطابق او ادا كول په كار دى هغه ته په ښه طريقه سره دا آسانى وسوه

مِنْ رَبِّكُمْ وَرَحْمَةٌ فَمَنِ اعْتَدَىٰ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَلَهُ عَذَابٌ

ستاسى درب له طرفه اومهربانى بيا چى څوك زياتوب وكړى ددې فيصلى څخه وروسته دهغه دپاره دى عذاب

أَلِيمٌ ﴿١٧٨﴾ وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيَاةٌ يَا أُولِي الْأَلْبَابِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ

دردناك ، او تاسى دپاره په قصاص كى لوى ژوند دى اى عاقلانو! دى دپاره چى تاسى محفوظ سى.

دآيتونو ترون اولنډتفسير: ددى څخه مخكى آيتونوپه تفسيركى تاسى ته معلومه سوې ده ، چى په دغو ايتونوكى په اجمالى توګه سره دنيكى اصول ښودل سوي دي ، وروسى به ددى تفصيل راځى ، چى دى ته (أبْوَابُ البِر) ويل كيږي ، نو اوس ددى آيتونو څخه دابواب البر دڅه جز يى حكمونو بيان شروع كيږي چى دحالاتو او واقعاتو تابع بيان سوي دي.

اول حكم قصاص : اى دايمان خاوندانو په تاسى باندى (قانون) قصاص فرض كول كيږي (دقصدى قتل دمقتولينو په باره كي (يعني هر) آزاد انسان دى (قتل كړل سى دهربل) آزاد انسان په بدله كى او (دغه دول هر) غلام (د دويم هر) غلام په بدله كى او(دغه رنګ هره) ښځه (دبلى) ښځى په بدله كي (كه څه هم دا قتل كوونكى دلوى درجى وى اومقتولين دكوچنى درجى وى ، بيادى هم دتولو څخه برابرقصاص واخستل سى ، يعنى دى دقتل په سزاكى قتل كړل سى) چى كوم (قاتل) ته دهغه دمقابل (دمقدمى) دطرف څخه څه معافى وسى (مګرپوره معافى نه وى) نو(په دى سره دقتل دسزاڅخه خوبه خلاص سى ، ليكن ددیت اوخون بهاپه طور باندى ديومال معينه حصه دقاتل په ذمه باندى لازمه سى ، نو په دغه وخت كى دفريقينو په ذمه ددغو دوو شيانو رعايت ضرورى دى ، دمقتول د وارث په ذمه خو) په معقول طورسره (ددى مال) مطالبه كول (چى قاتل زيات تنګ نه كړى) او(مدعاعليه يعنى دقاتل په ذمه) په ښه طريقه سره (ددى مال) ده ته (مدعى ته) رسول (چى په مقداركى كموالى ونه كړى اوبى وجى په كى ديل ونه كى) دا(قانون ددیت اوعفوى) ستاسى دپروردګار دطرف څخه (سزا كى) آسانى ده او(شاهانه

مهرباني ده (که داسي نه وي نوبیادقتل څخه سوا بله سزا به وه) بیاکوم سړی ددی (قانون) د(مقررکیدلوڅخه) وروسته دزیاتوب کولو مرتکب سی (مثلاً په چاباندي په درواغو یا داشتباه په وجه دقتل دعوی وکړي یایي معاف کړي اوبیادقتل پیروي وکي) نو دی سړي ته (په آخرت کي) به دردناک عذاب وي، او ای عاقلانو (په دی قانون) قصاص کي ستاسی دځانونو ډیر محفوظ والي دی (ځکه چي ددی قانون دبیری څخه دقتل کولو څخه به وبیریږي نو دډیرو ژوند به محفوظ سی) مونږ امید کوو چي تاسي به (دامن داسی قانون دخلاف کولوڅخه) پرهیزکوی.

علوم اومسائل

دقصاص لفظي معنی ده برابروالی، مطلب دا دی چي څومره ظلم چاته په بل کړی وي، نو دومره بدله اخستل دبل دپاره جائز او روا دی او ددی څخه زیاتوب کول روانه دی، دقرآن شریف په آیت کي او په دغه سورت کي ددی وضاحت داسي راغلی دی.

فَاعْتَدُوا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدَى عَلَيْكُمْ: البقره ۱۹۴، او دسورت نحل په اخري آیتونو کي، وَإِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوا بِمِثْلِ مَا عُوقِبْتُمْ بِهِ: النحل ۱۲۲، هم دغه مضمون دپاره راغلی دی.

نو په دی وجه دشرع په اصطلاح کي قصاص دی ته وایي، چي دقتل کولو او دزخمي کولو په سزا کي برابروالي اویووالي وکړل سی.

مسئله: قتل عمد(په قصدقتل) دی ته وایي چي په اراده دوسپني په وسله یاپه یوداسي شي قتل وکړي چي په دی غوښه اوڅرمن پریکړل سی اووینه وبهیږي، قصاص (یعني دساه کښلوپه بدل کي ساه کښل) دداسي قتل دپاره سزا ده.

مسئله: په داسي قتل کي لکه چي ازاد انسان دآزاد په بدله کي قتلول کیږي نو دغه ډول آزاد دغلام په بدله کي هم قتلول کیږي اوځنګه چي ښځه دښځي په بدله کي وژل کیږي نو دغه ډول سړی هم دښځي په بدله کي وژل کیږي.

اوپه آیت کي که د آزاد په بدله آزاد، اودښځي په مقابل کي ښځه راغلی ده دا ددی خاص واقعه په بناء ده دکومي په باره کي چي دا آیت نازل سوي دي.

ابن کثیر ج ۱ ص ۳۲۸ / ۳۲۹ کي دابن حاتم په روایت نقل کړی دی چي داسلام دزماني څخه مخکي دعربو په دوو قبیلوکي جنګ وسو، د دواړو طرفونوڅخه ډیرآزاد اوغلامان اوښځي مړی سوي، لاتراوسه ددی معاملي صفایي نه ده سوی، چي داسلام زمانه شروع سوه، او دا دواړه قبیلي په اسلام کي داخلي سوی، داسلام را وړلو څخه وروسته دخپلوخپلوقتل سوو خلقوپه باره کي دی دواړوقبیلوخبری شروع کړی، نو یوی زور آوری قبیلي داسي وویل چي مونږ ترهغه وخت نه راضي کیږو، چي ترڅو مونږ دخپل غلام په بدله کي ستاسي آزاد سړی او دښځي په مقابله ستاسي سړی وژلی نه وی نو ددغه جاهلانو اوظالمانو مطالبي درد کولو دپاره دا آیت نازل سو.

الْحُرُّ بِالْحُرِّ وَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ وَالْأُنْثَى بِالْأُنْثَى: چي مطلب یي دهغې مطالبي ردکول وو، په کومه کي چي دغلام په بدله کي آزاد اودښځي په مقابله کي دسړي په قتل زور ورکړل سی، که څه هم په حقیقت کي هغه قاتل

نه وی ، اسلام خپل داعادلانه قانون نافذکی ، چی چاقتل کړی وی ، بس هغه دی قصاص کي قتل کړل سی ، که چیري ښځه قتل سوي وي ، نو یو بی ګناه سړی ددی بدله کی قتل کول یایو بی ګناه آزاد سړی دغلام په بدله کی قتلول دیر لوی ظلم دی چی اسلام دا هرګز برداشت کولی نه سی .
نو دی څخه دا معلومه سوه چی دآیت حاصل اومطلب هم دا دی چی چاقتل کړی وی هم هغه دی په قصاص کي قتل کړل سی ، هغه ښځه وی اوکه غلام ، دقاتلی ښځی اوغلام په ځای دیو بی ګناه سړی یا دآزاد قتل کول روا نه دی .
دآیت دا مطلب هرګز نه دی ، چی ښځی که یو سړی ووژنی ، یاغلام یوآزاد قتل کړی ، نودهغه څخه به قصاص اخستلی نه سی ، دقرآن شریف ددغه آیت په سرکی چی کوم الفاظ د، كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصِ فِي الْقَتْلَى : راغلی دی ، هغه ددغه عام والی واضح دلیل دی اوپه نورو آیتونوکی ددی څخه هم زیات وضاحت راغلی دی مثلاً ، اَلنَّفسُ بِالنَّفسِ .
مسئله : که چیري په قصدقتل (قتل عمد) قاتل ته پوره معافی ورکړل سی ، مثلاًداسی چی دقتل سوی سړی صرف دوه زامن وی ، او دواړو زامنوخپل حق ورته معاف کی ، نوپه داسی صورت کی په قاتل باندی څه مطالبه پاته نه سوه ، اوکه چیري پوره معافی ورته ونه سوه ، مثلاپه دی دوو زامنوکی یوخپل حق معاف کی اوبل معاف نه کي ، نو دقصاص دسزا څخه خو قاتل آزاد سو ، لیکن کوم زوی چی ورته معافی نه ده کړی ، هغه ته به نیم دیت ورکوی اودیت په شریعت کي سل (۱۰۰) اوښان یازر (۱۰۰۰) دیناره اویالس زره (۱۰۰۰۰) درهم دی ، او درهم دنن صباپه راجح قول سره تقریباً دری نیمی تولی سپین زرکیږي نو مکمل دیت ګویا دوه زره نهه سوه شپاړس تولی اواته ماشی (۸ _ ۲۹۱۲) کیږي یعنی ۳۶ سیر ۳۲ تولی ۸ ماشی)
مسئله : لکه چی څنګه په نامکملی معافی کی مال ورکول لازمیږي ، هم دغه ډول که چیري دفریقینو په منیځ کی دمال په څه مقدار باندی صلح وسی ، نو بیاهم قصاص ساقطیږي او مال لازمیږي ، لیکن په دی کښ څه شرطونه دی ، چی هغه دفقهی په کتابونو کی ذکر سوي دي .
مسئله : دقتل سوي سړی چی څومره میراث خواره دی ، نو دوی په قصاص او دیت کی هومره برخه دار دی چی څومره برخه یی په میراث کی رسیږي ، که چیري دیت واخستل سی نو دا به په میراث خوروکی ، دمیراث دحصو مطابق تقسیم کړل سی ، اوکه چیری دقصاص اخستلو فیصله وسوه ، نو دقصاص حق هم به په ټولومیراث خوروکی شریک وی ، لیکن هرکله چی قصاص کی تقسیم را تللی نه سی ، نو په دی وجه که چیري یو لږ غوندی حق لرونکی خپل دقصاص حق معاف کی ، نو دنورو وارثانوحق دقصاص هم معاف سو ، البته دومره خبره ده چی دوی ته به ددیت حساب دخپلی برخی مطابق حاصلیږي .
مسئله : دقصاص اخستلوحق که څه هم دقتل سوي دوارثانودی لیکن دامت په اجماع دوی داخپل حق په خپله نه سی اخیستلی چی هم په خپله قاتل مړکړی بلکه دمسلمان باچایادهغه دنائب حکم کول ضروری دی ، ځکه دا خبره چی قصاص په کوم صورت کی واجبیږي ، اوکوم صورت کي نه ؟ ددی جزئیات دومره باریک دی ، چی هرسړی یی معلومولی نه سی ، ددی څخه پرته دا خبره هم ده چی دمقتول خپلوان به

دغصی څخه مغلوب سی اوزیاتوب به وکړی ، نو په دی وجه دامت دعلماؤ په دی اتفاق دی چی دقصاص دحق اخیستلو دپاره اسلامی حکومت ته رجوع کول ضروري دی قرطبی ج ۲ ص ۲۵۲ .

﴿۱۷۹﴾ كُتِبَ عَلَيْكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ إِنْ تَرَكَ

فرض کړل سو په تاسی باندی کله چی حاضر سی یو چا ته په تاسی کی مرګ ، په دی شرط چی پرېږدی

خَيْرًا ۖ الْوَصِيَّةُ لِلْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِينَ بِالْمَعْرُوفِ ۖ حَقًّا

څه مال وصیت کول دمور او پلار اوخپلوانو دپاره په انصاف سره دا حکم لازم دی

عَلَى الْمُتَّقِينَ ﴿۱۸۰﴾ فَمَنْ بَدَّلَهُ بَعْدَمَا سَمِعَهُ فَإِنَّمَا إِثْمُهُ

پرهیزګارانو دپاره ، بیا چاچی بدل کی وصیت پس دهغه څخه چی یی واوریدی نو ددی ګناه

عَلَى الَّذِينَ يُبَدِّلُونَهُ ۚ إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿۱۸۱﴾ فَمَنْ خَافَ

هم په هغه باندی ده چا چی بدل کی بیشکه الله پاک اوریدونکی اوپوهیدونکی دی ، بیاچی څوك وبیریدی

مِنْ مُوصٍ جَنَفًا أَوْ إِثْمًا فَأَصْلَحَ بَيْنَهُمْ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ ۚ

دوصیت کوونکی څخه دطرفداری یادګناه ، بیا د دوی په مینځ کی صلح یی وکړه نو په ده باندی څه ګناه نسته

إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿۱۸۲﴾

بیشکه الله ډیر بخښونکی ډیر مهربان دی .

دآیاتونو ترون اولنډتفسیر

(د ابواب البر دویم حکم وصیت)

وصیت هرهغه شی ته ویل کیږي چي دهغه کولوحکم وکړل سی خواه کول یی په ژوند کی وی یادمرګ څخه وروسته ، لیکن په عرف کی هغه کارته وایی چی دهغه کول دمرګ څخه وروسته وی (خیر) په ډیرو معنوکی استعمالیږي ، یوه معنی یی مال هم ده ، لکه چي په قرآن شریف کي دی ،إِنَّهُ لِحُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيدٌ : او دلته دمفسرینو په اتفاق سره دخیر څخه مراد مال دی .

داسلام په اولو ورځو کی ترڅو چی دمیراث شرعی حصی مقرری سوي نه وی نو هومره پوری دا حکم وو چی دمیراث په دریمه حصه کی مړکیدونکی دخپل مور اوپلار دپاره او دنوروخپلوانو دپاره څومره بنه ګڼی ، وصیت وکی ، دومره قدر ددی خلقو حق وو ، پاته چی به څه پاته کیدل هغه ټول به د اولاد حق وو

، په دی آیت کی دغه حکم ذکر دی یعنی .
په تاسی فرض کول کیږي چې کله چاته (دعلاموڅخه) مرګ نږدی ښکاره سی ، په دی شرط چی څه مال په میراث کي پریږ دی نو (خپل) مور پلار او (نورو) خپلوانو دپاره په معقوله طریقه سره (چی مجموعه یی دیوی دریمی حصی څخه زیاته نه سی) څه نه څه دی وښیی (ددی نوم وصیت دی) څوک چی دخدای څخه بیرېږي دهغوی په ذمه دا ضروری (کول) دی ، بیا (کوموخلقوچی دغه وصیت اوریدلی دی په دوی کی) چی کوم سړی داوریدو څخه وروسته (د) ده (مضمون) بدل کی (اوپه مینځ کی دویش اودفیصلی په وخت کی غلط څرګند کړی اوپه دغه فیصلی سره دچاحق ضائع سی) نو ددغه (حق ضائع کولو) ګناه به په هغوخلقو باندی وی چی کوم دغه (مضمون) بدلوی (دعدالت حاکم یاثالث اویاپه مړکیدونکی باندی به ګناه نه وی څکه) چی الله ﷻ خویقیناًاوریدونکی اوپوه دی (نودبدلونکی خبره هم آوری اودناخبره حاکم عذرهم پیژنی) البته (دبدلولو دیوقسم اجازه هم سته هغه داچی) کوم سړی ته دوصیت کوونکی دطرفه (دوصیت په حقله) دڅه غلطی یا (قصداً دوصیت دقانون دیو دفعی دخلاف کولو) دڅه جرم کولویقین سوي وي (اوددغه بی قاعدی وصیت له کبله ددی مړی دمیراث خورو دجګړی خطره یاجنګیدل یقینی وی) بیا داسړی په دوی کی مصالحت وکی (اومصالحت که څه هم دوصیت دمضمون څخه برخلاف وی ، چی دا په ظاهره کی دوصیت بدلول دی) نوپه دی سړی باندی څه (نجسی) دګناه نسته (او) واقعی الله ﷻ خو(په خپله دګناهونو) معاف کوونکی دی او(په ګنهګارانو) رحم کوونکی دی (او دی سړی خو څه ګناه نه ده کړی ، څکه چی په وصیت کي تبدلی داصلاح دپاره کړی ده ، نو په ده به رحمت ولی نه وی)

علوم او مسئلي

په دی آیت کی هغه مړکیدونکی ته چی دهغه څخه وروسته مال پاته کیږي دوصیت کولوحکم سوي دي ، او ددی حکم دری اجزاء دی ، یو دا چی دمړکیدونکی په میراث کی داولاد څخه سوا دنورو وارثانو برخی مقرری نه دی ، د دوی دبرخو تعین به دمړکیدونکی دوصیت دمخه کیږي ، دویم دا چی داسی خپلوانو دپاره په مړکیدونکی باندی وصیت کول فرض دی ، دریم دا چی دمال د دریمی برخی څخه زیات وصیت کول روا نه دی .

په دی دری حکمونو کی اول حکم خوداکثرو صحابه ؓ اوتابعینو به نزد دمیراث په آیت سره منسوخ سوي دي ، ابن کثیر (جـ ۱ صـ ۳۷۲) کی دحضرت عبدالله بن عباس ؓ په روایت یوحدیث نقل کړي دي چی دا حکم دمیراث په ایت ، لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ مِمَّا قَلَّ مِنْهُ أَوْ كَثُرَ نَصِيبًا مَفْرُوضًا (۷) سره منسوخ سوي دي ، اودغه روایت ، حاکم ، صحیح ګڼلی دی .

اوحضرت عبدالله بن عباس ؓ په دویم روایت کی ددی تفصیل دادی چی دمیراث آیت دهغوخلقودپاره وصیت کول منسوخ کړل چی دچاپه میراث کی برخه ده ، نورهغه خپلوان چی دکومو په میراث کي برخه نسته دهغوی دپاره دوصیت کولو حکم اوس هم پاته دی (جصاص جـ ۱ صـ ۱۹۲ / قرطبی جـ ۲ صـ ۲۲۳) ، لیکن دامت په اتفاق (اجماع) سره دا خبره ظاهره ده چی دکومو خپلوانو دپاره په میراث کی برخه نسته ، هغوی دپاره په مړی باندی وصیت کول څه فرض اولازمی کارنه دی نوپه دی وجه دوی دپاره دوصیت

کولو فرض کیدل هم منسوخ سو ، صرف مستحب کیدل یی پاته سو اوهغه هم دضرورت په شرط (جصاص جـ ۲ صـ ۲۲۳ / قرطبی جـ ۱ صـ ۱۹۳)

(دویم حکم دوصیت فرض کیدل)

دا هم د امت په اجماع سره منسوخ دی او ددی ناسخ هغه متواترحدیث دی چی ددی اعلان رسول الله ﷺ دحجة الوداع په خطبه کی تقریبًا دیو نیم لکو صحابه ؤ په مخکی کړی دی .

اِنَّ اللهَ اَعْطٰی لِکُلِّ ذِیْ حَقٍّ حَقَّهٗ فَلَا وَصِیَّةَ لِوَارِثٍ (اخرجه الترمذی وقال هٰذا حدیث حسن صحیح)

الله ﷻ دهرحق خاوندته دهغه حق ورکړی دی نوپه دی وجه اوس یومیراث خوردپاره وصیت کول روا نه دی دغه حدیث دابن عباس په روایت کي په دی الفاظو سره راغلی .

لَا وَصِیَّةَ لِوَارِثٍ اِلاَّ اَنْ تُجِیْزَهُ الْوَرَثَةُ : دیو وارث دپاره وصیت کول ترهغه وخته روانه دی ترڅو چی نورو پاته وارثانو ددی اجازه ورکړی نه وی .

دحدیث حاصل دا دی چی الله ﷻ د وارثانو برخی په خپله مقررکړی دی ، نوپه دی وجه دی دپاره دوصیت کولو ضرورت پاته نه سو ، بلکه دوارث په حق کی دوصیت کولو اجازه هم نسته ، البته دومره خبره ده که که چیری نور وا رثان ددی وصیت اجازه ورکړی نو رواده .

امام جصاص وایی چی ددی حدیث روایت دصحابه ؤ یوه ډله کوی او دامت فقهاؤ دا قبول کړی دی ، نوپه دی وجه دا حدیث په حکم کی دمتواتر سو اودقرآن شریف دآیت منسوخ کیدل پری روا سو .

او امام قرطبی په قرطبی کی دا ذکر نسته ، چی ددی حدیث اعلان دحجة الوداع په غټ مجمع دصحابه ؤ کی کړل سوی دی ، ددی خبری ذکر جصاص کړی دی وګوری جـ ۱ صـ ۱۹۳ ، وایی چی په دی خبره دامت دعلماؤ اتفاق دی چی کله یوحکم درسول الله ﷺ د ژبی څخه په یقین توګه سره معلوم سی ، لکه خبرمتواتر اومشهورنوهغه بالکل دقرآن په حکم کی دی اوهغه هم په حقیقت کی دالله ﷻ حکم دی ، نوپه دی وجه په داسی حدیث سره دقرآن دیو آیت منسوخ کیدل څه دشک خبره نه سی کیدای ، بیایی ویلی دی ، چی دا حدیث که څه هم مونږ ته دخبر واحد په طریقه رسیدلی دی ، لیکن سره ددی دحجة الوداع دټولو څخه لوی جمع کی دیو لک څخه زیاتو صحابه ؤ په مخکی ددی اعلان کول اوپه دی باندی دصحابه ؤ اجماع داخبره ښکاره کوی چی دا حدیث ددغو حضراتو په نزد قطعی الثبوت دی اوکه چیري دشک اوشبهی ګنجائش وی ، نو بیا به یی دغه وجه دقرآن شریف دحکم په پریښودو اجماع نه کوله .

(دریم حکم چي وصیت دمال د دریمي برخي څخه زیات روا نه دی)

دا هم دامت په اتفاق سره پاته دی ، البته دوارثانو په اجازه سره د دریمی برخی څخه زیات بلکه دټول مال وصیت کول روا اوقبول دی .

مسئله : دذکرسوي تفصیل څخه دامعلومه سوه چی دکوموارثانوبرخی په قرآن شریف کی مقررکړل سوي وي هغوی دپاره اوس وصیت کول واجب نه دی بلکه دنورو وارثانوداجازه څخه بغیر رواهم نه دی ، البته چی کوم خپلوان شرعی وارثان نه دی هغوی دپاره دوصیت کولو اجازه د دریمی برخی دمال پوری دی

مسئله : په دی آیت کی دیوخاص وصیت کولو ذکر وو ، چی مړکیدونکی به دخپل وروسته پاته

کیدونکی مال متعلق کول اوچی منسوخ هم سو ، لیکن چی دکوم سړی پرذمه باندی دنورو حقوق واجب دی ، یاده سره دچا امانت پروت وی ، نوپه ده باندی دالازمه ده چی ددی حقوقو اوامانتونو اداکولو وصیت وکی ، رسول الله ﷺ په یوحدیث کی فرمایلی چی ، دکوم سړی په ذمه باندی دچا حقونه وی ، په هغه باندی ددا سی دری شپی تیری نه سی ، چی په دی کی ده څخه ددغو حقونو ورکولو او ادا کولو په حقله وصیت لیکلی نه وی .

مسئله : سړی ته چی دمال په دریمه برخه کی دوصیت کولوحق ورکړل سوي دي هغه ته په خپل ژوند کی دا حق هم حاصل دی ، چی په دی وصیت کی څه تبدلی وکړی یایی بالکل ختم کړی (جصاص)

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ كُتِبَ عَلَيْكُمُ ٱلصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿۱۸۳﴾

ای دایمان خاوندانو فرض کړل سوه په تاسی روژه لکه چی فرض کړل سوی وه له تاسی څخه په مخکي خلقو دی

أَيَّامًا مَّعْدُودَٰتٍ ۚ فَمَن كَانَ مِنكُم مَّرِيضًا أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ

دپاره چی تاسی پرهیزګاران سی ، څو ورځی دی دشمار ، بیاچی تاسی کی څوک مریض وی او یا مسافروی

فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ ۚ وَعَلَى ٱلَّذِينَ يُطِيقُونَهُۥ فِدْيَةٌ طَعَامُ

نو په هغوی باندی دده شمیر دی دنورو ورځو څخه او دچاچی طاقت دی دروژی دهغوی په ذمه باندی بدله دیو

مِسْكِينٍ ۖ فَمَن تَطَوَّعَ خَيْرًا فَهُوَ خَيْرٌ لَّهُۥ ۚ وَأَن تَصُومُوا۟ خَيْرٌ

فقیر دوډی ورکول بیاچی کوم سړی په خوښه سره وکړی نیکی نوښه ده ، ده دپاره ، او روژه نیول خوښه دی

لَّكُمْ ۖ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿۱۸۴﴾

تاسی دپاره ، که چیری تاسی پوهیږئ .

لنډتفسیر :

دریم حکم روژه : ای دایمان خاوندانو ! په تاسی روژه فرض کړل سوه لکه څنګه چی ستاسی مخکی (امتونو) په خلقو فرض کړل سوي وه په دی امید چی تاسی (د روژی په وجه ورور) متقیان سی (څکه چی د روژی نیولو په وجه د ډیرو تقاضونه دنفس دبندولو عادت به جوړ سی او ددی عادت دپوخ والی بنیاد تقوی ده نو) دلږو ورځو روژه نیسی (دی لږو ورځو څخه مراد رمضان دی لکه چی ورپسی آیت کی راځی) بیا (په دی کی هم دومره آسانی ده چی) کوم سړی ستاسی څینی (داسی) ناجوړه وی (چی هغه ته روژه نیول ګران وی ، یا روژه نیول ورته ضرر ورکوی) یا (شرعی) سفرکی وی نو(داسی سړی ته په رمضان کی د روژی نه نیولو اجازه ده او درمضان پرځای) دنورو ورځو(هم دومره) شمیر (دی وکړی چی په دی کی

روژه) لرل (په ده واجب) دی او (دویمه آسانی چی هغه بیا وروسته منسوخه سوه دا ده چی) کوم خلق د روژی ساتلو طاقت لری (اوبیا د روژی ساتل یی زړه نه غواړی نو) د دوی په ذمه (صرف د روژی) فدیه (یعنی بدله) ده چی هغه یو غریب ته خوراک (ورکول یا خوړول) دی اوکوم سړی چی په رضاسره (زیات) خیر (خیرات) وکړی (چی فدیه زیاته ورکړی) نو دا دی سړی دپاره نور هم غوره خبره ده او (که څه هم مونږ د آسانی دپاره په دغه حالتونو کی د روژی دنه نیولو اجازه ورکړی ده لیکن) ستاسی روژه نیول (په دغه حالت کی هم) زیات ښه دی که چیري تاسی ته (څه د روژی دفضیلت) خبر وی .

علوم اومسئلي : دصوم لفظی معنی ده امساک یعنی بندیدل اومحفوظ کیدل اودشرع په ژبه کي روژه دخوراک چښاک اوښځی سره دنږدیکت څخه ، دبندیدلو اودلیری کیدلو نوم دی په دی شرط چی دا دصبح صادق څخه شروع کیږي اودلمر دبیدو پوری کیږي او ورسره نیت هم د روژی وی ، دغه وجه ده که چیري دلمر ډوبیدو څخه یوه دقیقه مخکی هم څه وخوړی یا وچښل سی نو روژه ونه سوه ، اوهم دغه ډول که چیري ددغه ټولو شیانو څخه ، ټوله ورځ پرهیز وکړل سی ، خو نیت یی د روژی نه وی ، نو دا هم روژه نه ده روژه داسلام دهغو عبادتونو څخه یوعبادت دی چی کوم داسلام دپاره ستنی او نبنی دی ددی فضائل هم ډیر دی خو دا ځای ددی دپاره نه دی .

(په اولو امتونو کي د روژی حکم)

د روژی حکم مسلمانانوته په یوخاص مثال سره ورکړل سوي دي دحکم سره داویل سوي دي چی ددی روژو فرضیت څه تاسی پوری خاص نه دی په اولوامتونوباندی هم روژی فرض کړل سوي دی ، په دی خبره د روژی خاص اهمیت هم معلوم سو او ورسره دمسلمانانو دتسلی هم انتظام وسو او دا داسی چی روژه که څه هم مشقت شی دی ، لیکن دا مشقت ستاسی څخه مخکی امتونو هم لوړ کړی دی او دا یوه طبعی خبره ده چی په مشقت کی چی څومره ډیرخلق شریک سی نو هومره دامشقت آسان سی (روح المعانی ج ۲ صـ ۵۲)

دقرآن شریف الفاظ ، الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ : عام دی ، دحضرت آدم ﷺ څخه واخله ترحضرت محمد ﷺ پوری شریعتونو او امتونو ته شامل دی ، نو معلومه سوه چی څنګه دلمانځه دعبادت څخه یوشریعت او امت تش نه دی پاته سوي دغه ډول روژه هم په هر شریعت کی فرض راغلی ده .

اوکومو صاحبانو چی ویلی دی چی الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ څخه مراد نصارا دی نو دا خبره دمثال په توګه ده ، ددی څخه دنورو امتونو نفی نه سی کیدای (روح المعانی دا خبره نه په روح المعانی کې سته او نه په روح البیان کي سته)

په ایت کي خو صرف دومره قدر ښودل سوي دي چی روژی څنګه په مسلمانانو فرض کړل سوي ، په اولو امتونو باندی هم فرض کړل سوي وي اوله دی څخه دا نه لازمیږي چی اولو امتونو روژی دی په ټولوحالتونو اوصفتونو کي دمسلمانانو د روژو په ډول وی ، مثلاً د روژو شمیر او دروژو دوختونو تعین او دا چی په کومو ورځو کی دی ونیول سی ، دا داسی شیان دی چی په دی کی اختلاف کیدای سی ، لکه داسی هم وه چی په شمیر کی به زیاتوب اوکموالی کیدی او د روژی په ورځو او وختونو کی

به فرق کیدی) روح المعانی ج ۲ صـ ۵۲)
لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ کی اشاره ده چی دتقوی دصفت په حاصلولو کی روژو ته لوی دخل دی ، ځکه چی په روژی سره په سړی کي دا ملکه پیداکیږي چی دی بیا په خپلو خواهشاتو باندی قبضه لرلی سی ، او دتقوی بنیاد هم دغه شی دی .
دمریض روژه : فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيْضًا ، دمریض څخه مراد هغه مریض دی ، چی هغه ته په روژی نیولو کی دبرداشت کولو څخه زیات تکلیف رسیږي یادا چی ده ته دا قوی خطره وی که دی روژه ونیسی نو مرض به یی لا زیات سی ، وروسی راتلونکی آیت وَلَا يُرِيْدُ بِكُمُ الْعُسْرَ کی دی خبری ته اشاره ده او دجمهورو فقهاؤ دغه مسلک او رواج دی .
دمسافر روژه : أَوْ عَلٰى سَفَرٍ ، دلته دمسافر دلفظ په ځای د ، أَوْعَلٰى سَفَرٍ ، لفظ را وړو کی یو څو اهمو مسئلو ته اشاره کړل سوي ده ، اول دا چی مطلقًا لغوی ، سفر یعنی دخپل ملک او وطن څخه وتل دروژی نه ساتلو دپاره کافی نه دی ، ترڅو چی دا سفر څه قدری اوږد نه وی ځکه چی دعَلٰى سفر لفظ معنی دا ده چی دی په سفر سور وی ، مطلب دا نه دی چی مسافر دکور څخه صرف دځلورو پنځو میلو په مزل بهرته وتلی وی ، لیکن دسفرمقدار دقرآن په الفاظو کی ذکر نه دی ، امام اعظم ابوحنیفه رحمه‌الله او نورو ډیرو فقهاؤ ددی سفر مقدار درسول الله ﷺ دبیان او دصحابه ؤ دعمل دمخه دری منزله ښودلی دی ، یعنی دومره مسافت چی مسافر یی په آسانی سره په درو ورځو کی قطع کولی سی ، او دا مسافت د وروسته زمانی فقهاؤ دمیلونو په حساب اته څلویښت میله ښودلی دی .
دویمه مسئله ددغه لفظ (عَلٰى سَفَرٍ) څخه دا وتله چی مسافرته دا اجازه ترهغه وخته پوری حاصله ده ترڅو دهغه دسفردغه سلسله جاري وی اوداظاهره خبره ده چی دآرام کولو دپاره یادیوڅه کاردپاره په یوځای کی بندیدل دسفردغه سلسله نه قطع کوی ، ترڅوچی دومره قدر مودی پوری بندیدل ونه سی چی په کوم دسفر سلسله قطع کیږي اودغه موده رسول الله ﷺ پنځلس (۱۵) ورځی ښودلی ده ، یعنی چی یو سړی په یوځای کي دسفر په دوران کی دپنځلسو ورځو دپاته کیدو نیت او اراده وکړی ، نو بیا داسړی (عَلٰى سَفَرٍ) نه دی او په دی وجه داجازه حق دار نه دی .
مسئله : ددی څخه دا هم معلومه سوه چی که چیري یو سړی دپنځلسو ورځو پاته کیدو نیت په یوځای کی ونه کړی ، بلکه په ډیرو ځایونو اوښارونو کی وکړی ، نو دی لا دغسی مسافر دی او داجازه حقدار دی ، ځکه چی دی د(علی سفر) په حالت کي دی .

(دروژی قضا)

فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ : یعنی په مسافر اومریض دخپلو قضاسوو روژو شمیر برابر نورو ورځو کی روژی نیول واجب دی اوپه دی الفاظو کی ددی خبری ښودنه کیږي چی په مریض اومسافر دقضاسوو روژو قضا هلته واجبه ده چی دوی دسفرڅخه په بیرته راتلو اودمرض څخه په جوړیدو دومره وخت بیاپیداکوی چی په دی کي دوی ددغو ورځو قضا کولی سی اوکه چیري د ذومره ورځو وخت یی بیانه کی پیدا ، یعنی دیسفرڅخه په بیرته راتلو سره یادمرض څخه په جوړیدو سره سم دستی مړسو نو په ده قضا لازمه نه ده ،

فائده يې دا سوه چې په ده دا وصيت کول لازم نه دی چې زما د طرفه دې د دومره ورځو روژو فديه ورکړل سي هرکله چې فَعِدَةٌ منْ أيام أُخَرَ دا الفاظو څخه دا مقصد ادا کول وو ، نو په دې وجه دا مختصر الفاظ د «فعليه القضاء» پرېښوول سوه ، ځکه چې په دې الفاظو کی دی خبری ته اشاره نه کيږي .

مسئله : هرکله چې په فَعِدَةٌ منْ أيام أُخَرَ کی دا قيد نسته ، چې دا روژی دی پرلپسی ونيول سی يابی ترتيبه بلکه عام اختيار دی چې چاته څنګه آسانه وی هم هغه ډول دونيسی ، نوپه دې وجه که چيري ديوسړی څخه درمضان اولی لس روژی قضاسوي وي ، هغه په قضاراوړلو کي دلسمی اونهمی وړاندی قضاراوړل او اولو ورځو قضايی وروسته راوړله ، نو په داسی کولو کی هيڅ حرج نسته هم دغه ډول که چيري ددغو ورځو قضايی پرله پسی را نه وړه ، نوهم روا دی ځکه چې په فَعِدَةٌ منْ أيام أُخَرَ کی د داسی کولو ګنجائش سته .

(دروژی فديه)

وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ : ددی آيت بی تکليفه معنی هغه ده چې کومه په لنډتفسيرکی تيره سوي ده ، يعنی چې کوم خلق دمسافر اودمريض په ډول د روژی نيولوڅه تکليف نه لری ، بلکه دنيولو يی طاقت لری ، ليکن دځه وجی څخه زړه يی روژه نيول نه غواړی ، نو دوی دپاره هم دا ګنجائش سته ، چي دوی دی د روژو په ځای فديه دصدقی په شکل کي ورکړی ، او ورسره يی دومره هم وفرمايل «وَأَنْ تَصُومُوا خَيْرٌلَكُمْ» چی تاسی دپاره ښه دا ده چې روژه ونيسی .

دا حکم داسلام په شروع کی وو ، يعنی هغه وخت وو ، چې کوم وخت کي خلق يی روژی نيولوته را اړول ، ددی څخه وروسته دا حکم دعاموخلقوپه حق کی په راتلونکی آيت منْ شَهِدَ مِنكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ سره منسوخ سو ، صرف دهغوخلقوپه حق کي دامت په اجماع سره پاته سو چې ډيربوډاګان وی (جصاص ج ۱ صـ ۲۰۲) ياداسی مريضان وی چې دهغوی دجوړيدو اميدپاته نه وی دجمهورو صحابه ؤ اوتابعينو هم دا وينا ده (جصاص ج ۱ صـ ۲۰۷) مظهری ج ۱ صـ ۱۹۲) .

مسئله : په فَعِدَةٌ منْ أيام أُخَرَ کی دپرله پسی يا ګډو وډو روژو ساتلوڅه قيدنسته بلکه اختيار ورکړل سوي دي چې څوک درمضان شريف دقضاسوو اولو لسو روژو قضا په دې ډول را وړی چې نهمه اولسمه اول وساتی اوبياورپسی دنورو پاته روژو قضا را وړی ، دا هم روا دی چې جلا جلا ددغه روژو قضا را وړی ،

صحيح بخاری مسلم ابوداودنسائي ترمذی اوطبرانی اونورو ټولو دحديث امامانو رحمهم الله دحضرت سلمه بن اکوع رضی الله عنه څخه نقل کړی دی چې څه وخت داوَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ آيت نازل سونومونږته اختياررا کړل سو چی دچازړه غواړی نو روژه دی وساتی يادی دهری روژی فديه ورکړی اوبيادبل ايت ، فَمَنْ شَهِدَ مِنكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ: په نازليدو سره دا اختيار واخستل سو او د روژی په توان لرونکوهم روژه نيول مقررسوه .

دامام احمد رحمه الله په مسندکی دمعاذبن جبل رضی الله عنه په اړدحديث کي راغلی دی ، چی داسلام په شروع کی دلمانځه او روژی دواړو معامله دری سره بدله سوي ده ، د روژی معامله په دې ډول بدله سوه .

(۱) دهجرت څخه وروسته په هره یوه میاشت کي دري روژي او دعاشوري د ورځی روژه به حضور ﷺ نیوله (كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ) سره درمضان شریف روژي نیول فرض سوي ، ولی داختیار دا حکم هرمسلمان ته وو چی که غواړی نو دغه روژي دی ونیسی یادی دهری روژي فدیه ورکړی ، خو روژه نیول یی غوره بنکاره کړل ، بیادبل آیت ، فَمَنْ شَهِدَ مِنكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ : په نازلیدو روغ جوړ او وسمن بنده هم په روژه نیولو پر بنکاره کړل سو او یوازی هغه کسانو ته دا اختیار په ځای پریښوول سو کوم چی ډیر بوډاګان وی یاهغه رنځوران وی چی دهغوی درغیدو امید نه سی کیدای ، د روژي معامله په دریم وار داسی بدله سوه چی په اول کی دخوراک څښاک اوجماع اجازه صرف ترهغه وخته پوری وه چی دروژه نیونکی (ماښام) څخه وروسته به روژاتی بیده سوی نه وای ، دماښام څخه وروسته په بیده کیدو سره به بله روژه تربل ماښام پوری بی اختیاره په خپله شروع سوه نو الله ﷻ دا آیت ، أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ : نازل کی چی توله شپه دصبا را ختوڅخه اول پوری دخوراک څښاک وغیره اسانی یی په کی وفرمایله اودبیده کیدوڅخه وروسته پیښلمی کول سنت وټاکل سو ، بخاری ، مسلم ، ابوداود کی هم دارنګه احادیث راغلی دی (ابن کثیر جـ ۱ صـ ۳۷۸)

(دفدیي اندازه او دی سره تړلي مسئلي)

دیوی روژي فدیه نیم کاسه (صاع) غنم یا ددی قیمت دی داتیا (۸۰) تولو زمونږ په رواجی سیرنیم اوکی تقریبًا پاوکم دوه سیره خیژی دبازار قیمت لګولو په جوړ دا فقیرمسکین ته په دی ډول ورکول دیوی روژي فدیه جوړیږي چی هغه ددی مالک جوړکړل سی اودمدرسی مسجدیادبل څه خدمت په بدل کی نه وی

مسئله : دیوی روژي فدیه په دوه کسانو تقسیمول یا دڅو روژو فدیه یو کس ته په یوتاریخ کی ورکول روا نه دی لکه چی دبحر په حواله دقنیه څخه چی شامی (جـ ۲ صـ ۱۳۰) نقل کړی دی اوبیان القرآن هم دا نقل کړي دي ، لیکن په امداد الفتاوی کي حضرت رحمه الله ددی دواړو صورتونو دجواز فتوی نقل کړی ده ، لکه څنګه چی شامی هم نقل کړی ده ، خو بیا هم په امداد الفتاوی کی دی چی یوی فدیی څخه زیاته فدیه یو سړی ته په یوتاریخ کي ورکول احتیاطًا په کار نه دی که یی ورکړه نو روا به سی ، دا فتوی دامداد الفتاوی سـ ۱۳۵۳ هـ دویم جلد په مخ ۱۲۴ درج ده .

مسئله : که چیري دفدیی ورکولو وس نه لری نودغه سړی دی بخښنه غواړی او دا اراده دی لری چی وس پیدا کیدو سره به یی ادا کوی (بیان القرآن جـ ۱ صـ ۱۱۳)

شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِّنَ الْهُدَىٰ وَالْفُرْقَانِ ۚ فَمَن

میاشت ده درمضان کومه کی چی نازل کړل سو قرآن هدایت دی دپاره دخلقو اودلیلونه روښانه دلارښوونکی اوحق لره دباطل څخه دجلا کولو نو چی څوک بیا پیدا کی .

شَهِدَ مِنكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ ۖ وَمَن كَانَ مَرِيضًا أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ

له تاسی څخه دا میاشت نوروژي دی ساتی ددي اوڅوک چی وی مریض یامسافر

فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ يُرِيدُ اللّٰهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ

نو ددې شمير پوره کول په کار دي له نورو ورځو ، الله غواړي په تاسي آساني او نه غواړي

بِكُمُ الْعُسْرَ وَلِتُكْمِلُوا الْعِدَّةَ وَلِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ عَلٰى مَا هَدٰىكُمْ

په تاسي سختي او دي له پاره چي تاسي پوره کړی شمير او چي لويي وکړی د الله په دی خبره چي تاسي ته

وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۱۸۵﴾

يې هدايت وکی او دی دپاره چي تاسي نفع ومنی .

(لنډتفسيراو دآيتونو تړون) د روژی دورځو تاکل)

ارشاد الهی سوي وو چي لږ روژی ساتی اوس ددغه لږو ورځو بيان دی (هغه لام ورځی کوموکی چي د روژو ساتلو حکم سوي دی) د رمضان مياشت ده چي په دی کی (داسي برکت دی چي ددی په يو خاص برخه يعني شب قدرکی) قرآن شريف (دلوح محفوظ څخه وآسمان ته) ليږل سوي دي، چي دهغه (يوخوبی دا هم ده چي) دخلقو دپاره ذريعه دهدايت دی او (دويمه خوبی يی دا ده چي دهدايت طريقو ښوولوکی ددی هره يوه برخه) ښکاره دلالت کوونکی ده (اوپه دی دواړوخوبوکی) دهغه (آسماني) کتابونو په ډله کی حساب دی (کوم چي دا دواړه خوبياني لري يعني ذريعه) دهدايت (هم) دي او (دښکاره دلالت کولو له کبله دحق اوباطل په مينځ کي) فيصله کوونکی (هم) دی نو کوم سړی چي په دی مياشت کی موجود وی هغه ته خامخا په دی کی روژه نيول په کار دی (اومخکي ذکرسوي دفديی اجازه موقوف اومنسوخ سو) او (رنځوراومسافر دپاره چي کوم مخکی قانون وو نوهغه اوس هم هغه دول پاته دی) کوم سړی چي (داسي) رنځور وی (چي په دی کی ورته روژه نيول گرانه يامضره وی) ياپه (شرعي) سفرکی وی نو (هغه ته په رمضان کی د روژی نه ساتلواجازه ده اودرمضان د ورځو په ځای) دنورو ورځو (هومره) شمير(روژی پوره) کول (په ده واجب دی) الله ﷻ ته تاسي سره (په احکاموکی) آساني (درکول) منظور دی (ددی خاطره يی داسي احکام مقررکړل کوم چي تاسي په آسانه پوره کولی سی لکه څنګه چي يی په رنځ اوسفرکی اسان قانون مقررکی) اوتاسي سره (په احکامواوقوانينومقرر ولوکی) سختي منظور نه ده (چي سخت احکام يی خاص کړی وی) او (دا ذکر سوي احکام مونږ دخاص خاص مصلحتونو په بنامقرر کړل لکه اول د روژی نيولو او بيا په شرعي عذر سره د روژی نه نيولو په صورت کي په نورو ورځو کی ددی دقضاراوړلو حکم يی ددی وجی وکی) چي تاسي خلق (دادايا قضاورځو) دشميرتکميل کوی (چي په ثواب کي کموالی نه پاته کيږي) او(خود دقضاراوړو حکم يی دی دپاره وکی) چي تاسي خلق دالله ﷻ لويی (اوثناء) بيانوی په دی چي تاسي ته يی (يوداسي) طريقه وښودله (چي په دی سره تاسي د روژی دبرکتونو او خوږو څخه بی نصيبه پاته نه سی څکه که چيري قضا را وړل واجب نه وی نو چابه دومره

روژی نیولی اوثواب به یې گټلای؟ او (دعذر په وجه خاص په رمضان کې د روژی نه ساتلو اجازه یې په دی وجه ورکړه) چې تاسی خلق (دآسانی په دی نعمت دالله ﷻ) شکر کوی (که چیرې دا اجازه نه وی نو دیر تکلیف به وای)

پوهه اومسئلي : په دی آیت کې داول مجمل ایت بیان هم دی اودرمضان شریف دمیاشت دلوړ ښه والی ذکر هم دی ، بیان په دی ډول دی چې په اولو آیتونو کې د (ایامًامَعْدُوْدَاتٍ) لفظ مجمل دی نوپه دی آیت کی ددی تشریح دا وسوه چې دا درمضان ټولی ورځی دی او دښه والی ذکر دارنگه وسو چې الله ﷻ دخپلو وحیو او آسمانی کتابونو نازلولو دپاره هم دا میاشت خاص کړی ده چې په دی میاشت کی قرآن شریف نازل هم سو په مسنداحمد ؒ کی دواثله بن اسقع ؓ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلی دی چې دحضرت ابراهیم ؑ صحیفی ددی (رمضان) په اول وخت ، تورات په شپږمه ، انجیل په دیارلسمه اوقرآن شریف په څلرویښتمه نیټه نازل سو ، اودحضرت جابر ؓ په روایت کی دا هم دی چې زبور په دولسم درمضان او انجیل یې په اتلسم نازل سو (ابن کثیر ج ۱ مخ ۳۸۰)

فرق صرف دومره دی چې نورکوچنی آسمانی کتابونه درمضان په دغه نیټو ټول په یو وار په انبیاء نازل سوي دي صرف دقرآن شریف خصوصیت دی چې دا درمضان شریف په یوه شپه کې ټول په وار دلوح محفوظ څخه اول آسمان ته نازل سو خو په رسول الله ﷺ بیا په درویښت (۲۳) کاله کی ټوټه ټوټه (برخی برخی) نال سو .

دقرآن شریف دنازلیدو دغه شپه هم دقرآن شریف دتصریح دمخه ، اِنَّا اَنْزَلْنٰهُ فِیْ لَیْلَةِ الْقَدْرِ : دتیرسوي حدیث په جوړ درمضان څلرویښتمه جوړیږي ، څکه حسن بصری ؒ درمضان څلرویښتمه شپه شب قدر گڼی که دا جوړښت ونه منل سی نو بیاهم دقرآن شریف دتصریح څخه انکار نه سی کیدای چې قرآن شریف په شب قدر کی نازل سوي دی دا که دمیاشتی هره یوه نیټه وگڼل سی .

فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ : په دی یوه جمله کی د روژی ډیرو احکامو اومسئلو ته اشاره سوي ده ، څکه چې د ، شَهِدَ ټکی د ، شُهُود : څخه جوړ دی چې معنی یې حاضریدل او موجودیدل دی او د ، اَلشَّهْرَ : معنی میاشت ده اومطلب یې درمضان میاشت ده لکه چې مخکی ذکر ده ، نو دټولی جملی معنی دا سوه چې څوک ستاسی په رمضان کی موجود اوحاضر وی ، په هغه درمضان دټولی میاشتی روژی نیول فرض دی نو په تیر سوي بل آیت کی دفدیی ورکولو عام اختیار په دی جمله منسوخ سو .

په رمضان کی دموجودیدو اوحاضریدو مطلب دا دی چې هغه دی د روژی ساتلو لائق وی یعنی مسلمان ، عاقل ، بالغ ، مقیم ، او روغ وی ، ناروغه نه وی اودحیض نفاس څخه دی پاک وی .

څوک چې ټول رمضان کافر ، نابالغ اولیونی پاته سی او د روژی نیولو جوگه نه وی دغه سړی ددی حکم لاندی نه راځی ، مطلب دا چې ددغه رمضان روژی په دی کسانو فرض نه دی اوڅوک چې د روژی نیولو خو جوگه وی مگر دعذر (مثلاً حیض ، نفاس ، رنځورتیایادشرعی سفرپه وجه د روژی نیولو ساتلو څخه پاته راسی نو دغه کسان ددغه رمضان په روژی نه نیولو گناهکاره نه دی خو ددی قضاء را وړل څکه پر فرض دی چې بنیادی توگه دوی د روژی نیولو جوگه دی او دآیت حکم لاندی پیشکه راځی .

مسئله : دی آیت څخه معلومه سوه چی درمضان میاشت را رسیدل د روژو فرض کیدو دپاره په داسي حالت کي شرط دی چي هغه د روژی ساتلو جوګه وی که چادرمضان پوره میاشت په داسي حالت کي بیا پیدا کوله نوپه هغه ټولی روژی فرض سوي او که چا کمه بیاموندله نوهومره روژی پرهغه فرض سوي بنا په دی که چیري یو کافردرمضان په څه برخه کي مسلمان سو یانابالغ سو نو په دوی باندی پاته راتلونکی روژی فرض دی دتیرو سوو ورځو قضاپه نسته ، خو بیا هم بالغ لیونی مسلمان چی درمضان په هره برخه کي روغ سو نو په هغه دتیرو سوو روژو قضارا وړل ځکه فرض دی چی هغه دبلوغ او اسلام په وجه بنیادی توګه د روژی نیولو جوګه ده اوهم دا حکم دحیض اونفاس والا ښځی دی کومه چی درمضان په څه برخه کی روغه سی اودغه ډول رنځور اومسافر هم کوم چی درمضان په څه برخه کي روغ اومقیم سی.

مسئله : درمضان میاشت موندل په دری طریقو ثابتیږي ، پخپله درمضان میاشت وګوری ، په معتبر شاهدی میاشت لیدل ثابت سی یا دا دواړه نه وی مګر دشعبان دمیاشت دیرش ورځی پوره سی.

مسئله : دشعبان دیوکم دیرشمی نیتی پوره کیدوپه ماښام که چیري دځری اودغبارپه وجه درمضان میاشت ښکاره نه سی اونه ددی شاهدی ثابته سی نو راتلونکی ورځ دشک بللی سی اوپه دی ورځ روژه نیول فرض نه بلکه مکروه ده ځکه چی په حدیث کی دی څخه منع راغلی ده چی په فرضو اونفلوکی ګډوالی را نه سی (جصاص)

مسئله : دکومو وطنونوچی شپی ورځی په میاشتو اوږدی وی هلته درمضان میاشت پیداکول ګرسره کیدای نه سی نوځکه ددغه ځای په مسلمانانو روژی فرض نه دی لکه چی حلوانی اواقبالی حنفیانو دلمانځه په باره کی هم په دی فتوی ورکړی ده ، مطلب یی دا دی چی ددی خلقو لمونځونه به د دوی دشپو ورځو په جوړ وی ، مثلاً دکوم وطن سهار چی ماښام پسی راخیژي نو هلته دماخستن لمونځ فرض نه دی (شامي جـ ۱ صـ ۲۲۲)

معلومیږي داسی چی دشپږومیاشتو ورځی لمونځونه به هم پنځه وی اورمضان به هلته نه وی ، نو روژی نیول به هم نه وی ، حضرت حکیم الامت تهانوی رحمه الله په امدادالفتاوی کی د روژی په باره کی هم دا قول ښه کړی دی.

وَمَنْ كَانَ مَرِيضًا أَوْ عَلَى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ: په دی کی مریض اومسافر ته اجازه ورکړل سوي ده چی دوی دی په دی وخت کی روژه نه ساتی چی جوړ سی اومقیم سی نو ددغه ورځو قضادی را وړی ، دا حکم په اول آیت کی هم وو لیکن د روژی نیولو په ځای دفدیی ورکولو دعام حکم په منسوخ کیدو دا شک کیدای سی دمریض اومسافر اجازه هم منسوخ سوي وه نو دویم واره یی ځکه وفرمایل.

وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ

او کله	چی ستا څخه پوښتنه وکړی زمابندګان زما متعلق	نو زه نژدی یم

أُجِيْبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ فَلْيَسْتَجِيْبُوْا لِي وَلْيُؤْمِنُوْا بِي

قبلوم ددعا غوښتونکی دعا کله چې زما څخه دعا وغواړي نو په کار دي چې هغه زما حکم ومني

لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُوْنَ ﴿۱۸۶﴾

اویقین راوړي په ما دپاره ددې چې په نیکه لاره راسی دوی.

(لنډتفسیر او دآیتونو تړون) په اولو دري آیتونوکې درمضان داحکامو اوفضائلو ذکردی اودی څخه وروسته هم په اوږد آیت کې د روژې او اعتکاف داحکامو په تفصیل ذکرې دی ، په دې مینځنی لنډ آیت کې دبندګانو په حال دالله ﷻ دخاص احسان او د دوی ددعاګانو آوریدو اوقبلولوپه وجه دوی ته داحکامو دتابعداری شوق ورکړل سوي دي ، ځکه چې دا اجازه توب اوآسان توب ورکولوسره بیاهم د روژې په عبادت کې څه اندازه تکلیف اومشقت سته ، نو ددې لیرې کولو اوآسانولو دپاره یې دځپل خاص احسان ذکر داسې وفرمایل چې زه خپلو بندګانو ته نږدې یم کله هم چې دوی دعا غواړي نو زه د دوی دعا قبلوم او د دوی حاجتونه پوره کوم.

په دې حالاتو کې بنده ته هم په کار دی چې زما دحکمونو په منلو کې څه مشقت برداشت کړي ، او امام ابن کثیر رحمه الله ج ۱ ص ۳۸۷ کې ددعادشوق ورکول ددې مینځنی جملې داحکمت ښوولی دی چې په آیت کې دې خبرې ته اشاره ده چې د روژې څخه وروسته دعا قبلیږي ، په دې وجه ددعاخاص خیال ساتل په کار دی رسول الله ﷺ فرمایلي دي.

لِلصَّائِمِ عِنْدَ فِطْرِهِ دَعْوَةٌ مُسْتَجَابَةٌ. ابوداؤد طیاسی بروایة عبدالله بن عمر. یعنی د روژې ماتولو په وخت کې د روژه دارو دعاقبوله وي.

هم دا وجه ده چې حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه به د روژه مات په وخت ټول دکور خلق ددعا کولو دپاره را جمع کړل ، د آیت تفسیر دا دی.

او(ای محمد ﷺ) څه وخت چې زمابندګان زماپه باره کې معلومول غواړي (چې زه دوی ته نږدې یم که لیرې نو(زمادطرفه دوی ته وفرمایه چې) زه هم نږدې یم (اودنامناسب خواست څخه بغیر) قبلوم (هر) خواست دخواستګرچې هغه زماپه مخ کې خواست وکې نو(چې څنګه زه د دوی خواست قبلوم) دوی ته په کاردي چې احکام (په خاي راوړلو دپاره)قبلوي (اوهرکله چې په دې احکاموکې یوحکم هم نامناسب نه دی ، په دې وجه په دې کې هیڅ استثناء نه سي کیدای) اوپه مایقین لري (یعنی زماپه هستی هم زماپه حاکمیت هم زماپه حکیمیت هم اوپه رعایتونواوښیګړوهم دغه دول) امید دی چې دغه خلق به سمی (برې) پیدا کړي

مسئله : په ، اِنِّي قَرِيْبٌ : کې دې خبرې ته اشاره ده چې دعا کرار او پټه کول په کار ده ، په زوره دعا کول ښه نه دي (ابن کثیر رحمه الله ج ۱ ص ۳۸۴ کي) ددې آیت نزول هم داسې ذکر کړی دی چې یو کلیوالوخلقو د رسول ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې زمونږ رب که چیرې نږدې وي نو مونږ به دعاپه کرار غواړو اوکه چیرې زمونږ څخه لیرې وي نو په لوړ آواز سره به یې کوو ، نو ددې په جواب کې دا آیت نازل سو.

أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ إِلَىٰ

حلال سو تاسی ته دروژی په شپه کی بی پردی کیدل خپلو

نِسَائِكُمْ ۚ هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ وَأَنتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ ۗ عَلِمَ اللَّهُ أَنَّكُمْ

ښځو ته هغوی آغوستن دی ستاسی او ستاسی آغوستن یاست دهغوی الله ته معلومه ده چی

كُنتُمْ تَخْتَانُونَ أَنفُسَكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ وَعَفَا عَنكُمْ ۖ

تاسی به خیانت کوی خپلو ځانونو سره نو تاسی بی معاف کړاست او تاسی ځخه یی درگزر وکی

فَالْآنَ بَاشِرُوهُنَّ وَابْتَغُوا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَكُمْ ۚ وَكُلُوا وَاشْرَبُوا

نو بیا یوځای کیږي خپلو ښځو سره اولټوی هغه چی لیکلی دی الله ستاسی دپاره اوخوری اوچیښی

حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْأَسْوَدِ مِنَ

ترڅو پوری چی صفا ښکاره سی تاسی ته کرښه سپینه دسهار د کرښی توری ځخه

الْفَجْرِ ۖ ثُمَّ أَتِمُّوا الصِّيَامَ إِلَى اللَّيْلِ ۚ وَلَا تُبَاشِرُوهُنَّ وَأَنتُمْ

بیا پوره کوی روژه ترشپی او مه یوځای کیږي ښځوسره تر کومی

عَاكِفُونَ فِي الْمَسَاجِدِ ۗ تِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ فَلَا تَقْرَبُوهَا ۗ كَذَٰلِكَ

چی تاسی اعتکاف لری په مسجدونو کی ، دا ترلي سوی پولی دی نو تاسی دی ته نژدی مه ورځی ، دارنګه

يُبَيِّنُ اللَّهُ آيَاتِهِ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴿١٨٧﴾

بیانوی الله ﷻ خپل آیتونه خلقو دپاره ددی چی هغوی ځان ساتلی لری.

لنډتفسیر

(څلورم حکم درمضان په شپو کي جماع)

په دی کي د روژی دپاته احکامو څه تفسیر ذکر دی ،ستاسی خلقو دپاره د روژی په شپه کی بیبیانو سره مشغولیدل حلال دی (او مخکی چی کوم بندیز وو هغه معطل کړل سو) ځکه چی (دنږدیکت اویوځایوالی په وجه) دوی ستاسی (په ځای) داغوستلو اوبیرول دی اوتاسی د دوی (په ځای) داغوستلو اوبیرولو یی

خدای ﷻ ته ددې خبر وو چې تاسی (په دی حکم الهی کې) دخیانت (کولو) په گناه کې ځان اخته کوی (مګر) خیر (چې بیا تاسی سره دمعذرت څخه په مخکې راغلی نو) الله ﷻ په تاسی احسان وکی او تاسی یې دګناه څخه ومینځل نو (هرکله چې اجازه وسونو) نو اوس هغوی سره یوځای کیږې او ځای والی کوی او چې کوم (قانون د اجازه) تاسی دپاره جائز کړی دی (بی تکلفه) ددی سامان کوی او (څنګه چې دروژو په شپوکی بی بی سره دیوځای کیدو اجازه ده) دغه رنګه دا هم اجازه ده چې په توله شپه کی کله چې غواړی خوری (هم) اوڅښی (هم) ترهغه وخته پوری چې تاسی ته سپینه لیکه دصبح صادق درڼا صفا ښکاره سی دتوری لیکی څخه (یعنی دشپې تیری څخه) نو بیا صبح صادق څخه شپې (راتلو) پوری روژه پوره کوی.

دسهار دسپینوالی دسپینی لیکی دشپی دتوروالی دتوری لیکی څخه فرق معلومیدو مطلب دا دی چې صبح صادق یقینًا ثابت سی.

(پنځم حکم اعتکاف)

او ددی بیبیانو (دبدن) سره خپل بدن هم (په شهوت سره) یوځای کیدوته مه پریږدی په کومو ورځوکی چې تاسی خلق اعتکاف کوونکی یاست (چې) په مسجدونوکی (کیږې) دا (تول ذکرسوي احکام) خداوندی ضابطی دی نو ددی (ضابطو) څخه (وتل لاڅه کوی؟) وتلو ته نږدی کیږې هم مه (اولکه څنګه چې الله ﷻ دا احکام بیان کړی دی) دغه رنګ الله ﷻ خپل (نور) احکام (هم) دخلقو (داصلاح) دپاره بیانوی په دی امید چې دا خلق (په احکامو خبرسی ددی دخلاف کولو څخه) پرهیزکوی.

علوم اومسئلې : دأُحِلَّ لَكُمْ: لفظ څخه معلومه سوه چې کوم شی ددی آیت په واسطه حلال کړل سوي دی، هغه ددی څخه مخکې حرام وو دبراء بن عازب رضی الله عنه په روایت په صحیح بخاری وغیره کی ذکر دی چې درمضان د روژو دفرض کیدو په شروع کی د روژه ماتی څخه وروسته دخوراک څښاک اوبیبیانو سره دیوځای کیدو صرف ترهغه وخته اجازه وه چې بیده سوي به نه وو، هرکله چې به بیده سوه نو دا تول شیان به تربل روژه مات پوری حرام وه، څه صحابه کرامو ته په دی کی دیری ګرانی پیښنی سوی، قیس بن صرمه انصاری رضی الله عنه توله ورځ مزدوری کړی وه او د روژه مات په وخت چې کورته راغلی نو په کورکی دخوراک دپاره هیڅ نه وو بی بی ورته وویل چې زه څه انتظام کوم او راوړم کله چې دا بیرته راغله نو دستومانتیاپه وجه دغه صحابی بیده سوي وو چې را ویښ سو نوخوراک پرحرام سوي وو، سهار یی بیا په نهاره روژه وساتله نوپه غرمه کی بی هوښه سو (ابن کثیرج ۱ مخ ۳۸۸) هم دا ډول ځینی صحابه کرام دبیده کیدوڅخه وروسته خپلو بیبیانو سره یوځای سوه نو ډیر پریشانه سو نو دا آیت نازل سو چې اول حکم منسوخ سو او دلمر لویدو (دروژه مات) دوخت څخه ترسهار پوری توله شپه دخوراک څښاک او دجماع عام اجازه ورکړل سوه که څه هم په دی دوران کی بیده سوي هم وی بلکه دبیده کیدو څخه وروسته دپیښلمی خوراک سنت وټاکل سو او دا په حدیثوکی ښکاره ډول بیان سوي دي، لکه څنګه چې په دی آیت کی بیان سوي دي، درفث لفظی معنی دا ده چې یو سړی دخپلی بی بی سره دخواهش پوره کولو خبری اتری یاعمل کوی لیکن په اتفاق دامت سره عمل یعنی جماع مراد ده.

(دشرعي احکامو ثابتولو دپاره د رسول الله ﷺ احادیث هم په حکم دقرآن کي دی)

د آیت څخه دا نه معلومیږي چي په دی دبیده کیدو څخه وروسته دخوراک څښاک او دجماع دحرمت حکم منسوخ سوي دي بلکه درسول الله ﷺ په تعلیم سره صحابه کرامو په دی حکم عمل کوی (لکه څنګه چی امام احمد رحمه الله په خپل مسند کی روایت کړی دی)

په دی آیت کي اول حکم ته دحکم الهی ځای ورکړل سو اوبیا آسانتیاد پاره منسوخ کړل سو ، دی څخه دا هم معلومه سوه چی په سنت سره ځینی ثابت سوي احکام دقرآن په ذریعه هم منسوخ کول کیږي (جصاص وغیره په احکام القرآن کی صرف دومره خبره ده (وَنُسِخَ بِهِ مَاتَقَدَّمَ مِنَ الْخَطرِ یعنی په دی آیت اول ممانعت منسوخ سو اوپه قرطبی کی دی وَالْحُذَّاقُ ایضًا عَلَی اَن السُّنَّةَ تَنْسَخُ بِالْقُرآن اوماهران په قرآن سره دسنت دمنسوخ کیدو قائل دی)

(دپیښلمي دخوراک څښاک آخری وخت)

حَتّی یَتَبَیَّنَ لَکُمُ الْخَیْطُ الْاَبْیَضُ ، په دی آیت کی دسهار سپینوالی ته سپینه لیکه اودشپی تور والی توره لیکه ویلو سره دروژی شروع کیدو اودخوراک څښاک دحرامیدو صحیح وخت یی وټاکی اوپه دی کی یی دکموالی زیاتوالی ختمولو دپاره دحتی یتبین لفظ زیات کی ، مطلب یی دا دی چی نه خو دوهمی خلقو په ډول دسفیدو راختو څخه اول خوراک څښاک وغیره حرام ګڼل په کار دی ، اونه دبی پروایی دی حدته رسیدل په کار دی چی دسفیدو په راختوڅان ناغرضه کړی اودسهار رڼا لیدلو باوجود بی غمه خوراک څښاک کوی بلکه دا مینځ ومیانه لاراختیارول په کاردی چی دصبح صادق په یقینی کیدوسره خوراک څښاک بندول په کار دی ، یعنی دسفیدوراختوڅخه مخکی خوراک څښاک حرام ګڼل هم ښه نه دی او دسفیدو راختوڅخه وروسته خوراک څښاک کول حرام او روژه ماتونکی دی که څه هم یوه دقیقه قدرهم وی خبره دیقین ده ، دسفیدو راختل یقینی نه وی نوخراک څښاک حرام ګڼل ښه نه دی چی سفیدو را ختل یقینی سو نو بیاخوراک څښاک کول حرام او روژه ماتوونکی سو ، په صحابه کرامو دا تور لګول صحیح نه دی چی دچاپه دی ویناچی دسفیدو را ختل دی یوصحابی هم دغسی خوراک څښاک کوی څکه چی ددغه صحابی په خپله دسفیدو راختویقین نه وو راغلی ، نه چی دبل صحابی په وینایی یقین نه کوی بلکه دهغه ویناپه به احتیاطی بناګڼله .

په یوحدیث کی رسول الله ﷺ فرمایلی دی چی دحضرت بلال رضی الله عنه اذان دی ستاسی دپیښلمی په خوراک څښاک کولو کی مانع نه سی څکه چی هغه په شپه کی اذان کوی ، په دی وجه تاسی دبلال رضی الله عنه په اذان آوریدو دخوراک څښاک څخه مه بندیږي ، ترڅو چی دابن ام مکتوم رضی الله عنه اذان وا نه وری ، څکه چی هغه برابر دصبح صادق په راختو اذان کوی (بخاری اومسلم)

ددی حدیث دپوره نه نقل کولو په وجه څه موجوده علماؤ ته دا غلط فهمی سوی ده چی دسهار اذان څخه وروسته هم څه شیبه خوراک څښاک کول څه باک نه لری اوڅوک چی ناوخته را ویښ سو او دسهار اذان کیدی نو دی سړی ته یی روا کړله چی هغه ژر ژر څه وخوری او څښی ، سره ددی چی حدیث په صفا ټکوکی ښیی چی د ابن ام مکتوم په اذان خوراک څښاک څکه بندول ضروری دی چی ده به دسفیدو په

راختو اذان کوی ، دی څخه علاوه قرآن په خپله کومه حد بندی چی کړی ده ، هغه دصبح صادق یقینی را ختل دی چی ددی څخه وروسته یوه تقیقه دپاره هم دخوراک څښاک اجازه ورکول دقرآن دښکاره بیان څخه خلاف کول دی ، دصحابه کرامو او د امت پخوانی علماؤ څخه په روژه مات اوپیښلمی کی دنرمی کولو روایتونه دقرآن ددی ښکاره بیان په جوړ هم په دی بنادی چی دصبح صادق دیقینی کیدو څخه مخکی داحتیاط په نوم دیره تنگی دی ونه کړل سی لکه چی ابن کثیر رحمه الله هم دغه روایتونه په دی خبره بناکړی دی که داسی نه وی نو دقرآن دښکاره بیان څخه مخالفت کوم مسلمان زغملی سی اوبیادصحابه کرامو دطرفه خو داسی کول په خیال کی هم نه راځی ، خصوصاً په داسی وخت کی چی دآیت په آخر کی یی تِلْكَ حُدُوْدُاللهِ سره فَلاَ تَقْرَبُوْهَا : وفرمایل او داحتیاط کولو خاص تائید یی وکی .

مسئله : دا ټولی خبری دهغه چاپه باره کی دی کوم چی دصبح صادق په خپلو سترگولیدلو سره یقین کولی سی ، دسفیدو راختوځای ورته صفاوی ، او دوی دصبح صادق سپینوالی هم پیژنی ، داسی خلقوته ضروری دی چی دخپلو سترگو په کتلو دی عمل وکی که چیری دی دری سره صورتونو کی یوهم نه وی نو هغه په نورو نښو نښانی یاد ریاضی وغیره په حساب کتاب ختونه تاکی ، ښکاره خبره ده چی په دوی داسی وخت به هم راځی چی صبح صادق کی ورته شک وی نو په داسبب حالت کی جصاص رحمه الله په احکام القرآن ج ۱ مخ ۲۷۱ کی فرمایی چی په دی حال کی اصلی خبره دا ده چی په خوراک څښاک دی شروع نه کوی اوکه چیري دیقین حاصلولو څخه مخکی مخکی یی خوراک څښاک وکی نوگناهگارخونه دی ، البته که بیاهم دغه سفیدی راختل یقینی ثابتی سوی نو ددغه روژی قضارا ورل داسی پرفرض سوه لکه دریشم شعبان چی درمضان اوله نیته ثابته سی نو دبی خبری په وجه په دغه ورځ روژه نه نیوونکی گناهگار خو نه دی مگر ددغه روژی قضاء پر فرض ده یالکه د وریځی په ورځ په غلطی چی څوک دماښام څخه مخکی روژه ماته کړی او بیا ثابته سی چی ماښام سوي نه وو ، نو دی گناهگار نه دی خو دغه قضاء پرفرض ده .

دامام جصاص رحمه الله ددی بیان څخه ثابته سوه ، چی دسفیدوراختوڅخه وروسته راوبیندونکی سړی که بی تحقیقه خوراک څښاک وکی نوگناهگارهم دی اوقضاء هم پرفرض ده اوکه شکمن وخت کی یی خوراک څښاک وکی نوگناهگار خو به نه سی لیکن قضاء خامخاپرسته او په څه وجه کی مکروه والی به هم وی .

(اعتکاف) داعتکاف معنی په لغت کي ، یوځای اوسیدل دی او دقرآن اوسنت په اصطلاح کی په خاصو شرائطو سره په مسجدکی اوسیدوته اعتکاف ویل کیږي د ،اَلْمَسَاجِدِ: دعموم څخه معلومیږي چی اعتکاف په هر مسجد کی کیدی سی دفقهاؤ دا شرائط لگول چی ، اعتکاف یوازی دجمع په مسجدکی کیدی سی ، په دی بنادی چی لفظ د، مسجد: هغه ځای دپاره استعمالیږي کوم کی چی په جمع لمونځ کیږي هسی خو په کور دکان یاکنبت کی هم لمونځ کیدی سی .

مسئله : په روژه کی دشپی دخوراک څښاک اوبیبیانو سره دجماع حلالوالی مخکی بیان سوخو په اعتکاف کی فرق لری مطلب دا چی اعتکاف کی دشپی خوراک څښاک حلال دی ، مگر جماع دشپی هم حلاله نه ده ځکه یی په ایت کی دا حکم بیل بیان کی .

مسئله: داعتکاف نوری مسئلی څه خو ددی دلفظ څخه معلومیږي اوځه درسول الله ﷺ دفرمان اوعمل څخه ښکاره سوي دي، هغه مسئلی دا دي چی اعتکاف کی روژه نیول شرط دی اوددغه مسجد څخه بغیر دعذر شرعي یاطبعي وتل جائز نه دی.

(د روژی په معامله کي داحتیاط حکم)

دآیت په آخرکی، تِلْكَ حُدُودُ اللهِ فَلَا تَقْرَبُوهَا: دی خبری ته اشاره کوي چی په روژه کی دخوراک چښاک او جماع وغیره بندیز دالله ﷻ پوله اوحد بندی دی، دی ته نږدی هم مه ورځی ځکه کیدی سی چی دپولی څخه ور واوړی دی پاره په خله مینځلوکی داسی بی احتیاطی مکروه ده کوم څخه چی د اوبو تیریدو اونس ته دننوتو خطره کیدی سی، په خله کی دننه څه دوا اچول مکروه دی، بی بی سره غاړه منښلول او ددی مچول مکروه دی، دارنګه دا احتیاط کول په کار دی چی دپیښلمی خوراک چښاک دری څلور دقیقی مخکی بند کړی او د روژه مات په وخت کی دی څلور دقیقی وروسته خوراک چښاک شروع کړی په دی تولو خبرو کی سستی اوبی پرواهی کول د ارشاد الهی څخه خلاف ده.

وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ وَتُدْلُوا بِهَا إِلَى الْحُكَّامِ لِتَأْكُلُوا فَرِيقًا مِّنْ

او مه خوری مال دیو بل په خپلو کی ناحقه او مه رسوی دا حاکمانو ته چی وخوری څه برخه دخلقو دمال

أَمْوَالِ النَّاسِ بِالْإِثْمِ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿١٨٨﴾

څخه په ظلم کولو (ناحقه) او تاسی ته معلومه دی.

دآیتونو ترون اولنډتفسیر: په اولو آیتونوکی د روژی احکام ذکر وو په کوموکی چی دحلال شیانو استعمال په مقرره زمانه اومقرر وخت کی حرام کړل سوي دي، دی وروسته دحرام مال دحاصلولو او ددی داستعمال بندیز په دی مناسبت ذکر کیږي چی د روژی دعبادت اصل مقصدهم دا دی چی بنده څه وخت دپاره دحلالو شیانو څخه دبندیز عادت سی او په دی ورته دحرامو شیانو څخه بندیز آسانه سی بل مناسبت دا هم کیدی سی چی د روژی په ختمیدو روژه مات دپاره حلال مال تیارول په کار دی چاچی سالمه ورځ روژه ونیول اومابنام یی په حرام مال ماته کړه نو دهغه روژه الله ﷻ ته قبوله نه ده.

دتفسیرلنډیز: او په خپلو کی دیوبل مال په ناحقه مه خوری او دا (په دروغه مقدمه) حاکمانو ته په دی غرض مه وړی چی (ددی په ذریعه) دخلقو دمالونو یوبرخه په طریقه دګناه (یعنی په ظلم) وخوری هرکله چی تاسی ته (دخپلو درواغو اوظلم) علم هم وی.

علوم اومسئلي

په دی آیت کی په حرامو طریقو دمال ګټلو او ددی داستعمال بندیز دی ځنګه چی دسورة بقره په آیت ۱۲۸ کی په حلالو طریقو دمال ګټل او ددی داستعمالولو داجازه بیان تیرسوي دي ارشاد دا وو.

يَا أَيُّهَا النَّاسُ كُلُوا مِمَّا فِي الْأَرْضِ حَلَالًا طَيِّبًا وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُبِينٌ (۱۶۸) ای خلقوخوری دشیانو دمځکی څخه حلال اوپاک اودشیطان په قدم مه ځی ځکه چی هغه ستاسی ښکاره دښمن دی.

په سورة النحل کی فرمایی ، فَكُلُوا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ حَلَالًا طَيِّبًا وَاشْكُرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ إِنْ كُنْتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ ، آیت ۱۱۴.
نو خوری دهغه څخه کوم چی روزی کری دی تاسی ته الله ﷻ حلال اوپاک شیان اوشکر کوی دالله ﷻ داحسان که چیرې تاسی دهغه عبادت کوی.

(دمال گټلو بنه اوبد چارې اودبنه والي اوبدوالي مقرره اندازه)

لکه څنګه چی ددنیا ټول قومونه دا اتفاق لری چی مال ضروری شی دی بلکه ژوند وریوری ترلی دی، دغه شان په دی هم اتفاق لری چی ددی دګټلو ښې چاری هم سته اوبدی هم، دغلا ډاکی ټګی اودرواغو دنیا ټوله بده ګڼی لیکن ددی چارودښه والی اوبدوالی صحیح اندازه لګول دخلګوپه لاس کی څکه نه ده چی دا دټولی دنیا دانسانانو سره تړون لری ددی دپاره صحیح اندازه یوازی هغه کیدی سی کومه چی په ذریعه دوحی رب العالمین رالیږلی ده، دانسانانو په مقرره اندازه دټولی دنیا انسانان هیڅکله متفق سوی نه دی او نه متفق کیدی سی لکه څنګه چی بین المللی کانفرانسونو اومعاهدو څخه ثابتیږی، بلکه ددی نتیجی اکثره دظلم بی انصافی زورګیری جنګ جدل اودتباهی په شکل کی ښکاره کیږی.

(هم اسلامي معاشي نظام په دنیاکي عام امن را وستلي سي)

دحلالو حرامو اوروا ناروااوپه باره کی داسلام جوړکړی قانون ښکاره پروحی الٰهی باندی قائم دی هم دا داسی معقول فطری اوجامع قانون دی چی په هرقوم اووطن کی چلیدی سی هم دا دعام امن څکه ضامن دی چی په کښی دشرکت جوګه شیان شریك ټاکل سوي دی لکه هوا اوبه ناکرلی وابنه داور ګرمی آزاد ځنګلونه (چی څوك یی مالك نه وی) دغریزو ځنګلونو پیداوار اوپه کومو شیانوکی چی دشرکت څخه فساد پیدا کیږی جنګ جګړی مرګ اوژوبله ورڅخه جوړیږی په هغه کی یی دځان ځانی قانون جاری کی دیوی مځکی یادهغی دفصل دابتدآیی ملکیت قانون جلادی اودهغی دمنتقل کولو قانون جلادی او ددی په هره دفعه کی دالحاظ ساتل سوي دی چی هیڅ یوبنده دی دژوند دضروریاتو څخه محرومه پاته نه سی خو شرط دا دی چی ددی دحاصلولو کوشش هم وکی او هیڅ یو بنده دنورو بندګانو حقوق غصب نه کی اونه دی نوروته نقصان ورسوی مال دولت یوځوکسانوته راټول کړی، دقانون الٰهی په وجه دمیراث په ذریعه ملکیت منتقل کیږی اوکه دخرید اوفروخت په ذریعه د دواړه مخه په خوشحالی سره دمزدوری په ذریعه وی یادڅه مال په بدل کی وی، خوپه دی ټولوکی داضروری ټاکل سوي ده چی څه دوکه اوټګی دی په کښی نه وی او نه دی دشك اوشبهی یاپه نغم کی داوبو دبیولوڅه خبره په کښی وی ، په دی ټولو معاملوکی دا هم لحاظ ساتل سوي دی چی د دواړو مخو خوشحالی دی اصلی وی، دطاقت دباو اودزور اوزبردستی خوشحالی دی نه وی اسلامی شریعت چی کومو معاملو ته باطلی فاسدی یا ګناه ویلی دی، هغه ټولی پردی بنادی چی په دغه معاملوکی پورته ذکرسوی نقصانونه اوناکاره والی څخه به یونه یوبه وی کله به په کښی دوکه اوټګی وی کله به

دنامعلوم شي یانامعلوم عمل معاوضه وي کله به دبل چاحق لاندي سوي وي کله به دبل دنقصان په بدل کي خپله فائده کول وي کله به په عامو حقونوکي ناجائزدخل ورکول وي سود اوجواري هم په دي وجه حرام دي چي دعامو حقوقو دپاره مضردي ددي په نتیجه کي یوڅو کسان ترقي کوي، لیکن پوره قوم په خواریږي داسي معاملي که ددواړه له مخي په رضاهم وسي بیاهم څکه حرامي دي چي په دي کي دټول قوم دنقصان په وجه داسخت جرم دي، تیرسوي آیت په دي ټولو ناجائزو صورتونو مشتمل دي، ارشاددي ، وَلَا تَأْكُلُوْٓا اَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ : یعني دیو بل مال په ناجائزه طریقه مه خوري، په دي کي دا یوه خبره دښه کولو وړده چي دقرآن کریم په الفاظو کي اَمْوَالَكُمْ راغلي دي، دکومو اصلي معنیٰ چي خپل مالونه دي دا دي خبري ته اشاره ده چي که مثلاً بل څوك ستاپه مال کي دغسي ناجائز دخل او مداخلت وکي نوتاته به خومره درد رسیږي که دغه خیال ته دبل چاپه حق کي کوي نو ته به دا وګنې چي دهغه مال تالاکول دخپل مال تالاکول دي،یوه بله اشاره دي طرف ته هم کیدي سي چي دبل مال په نا جائزه لاندي کول دي ته لارجوړول دي چي بل به هم دغسي ستامال لاندي کوي نوګویادبل په مال خیته اچول داسي سوه لکه پرخپل مال خیته اچول ، مثلاًڅوك په غوړوکي تیل ګډوي اوناجائزي پیسي پرګټي نوبل به په شیدوکي اوبه اوپه مساله کي خښتي لرګي اودچایوپه پاڼوکي ددنخودو پوستکي ګډوي او ترده به زیاتي پیسي ګټي نو دا دکم عقلي انتهاده چي یوسړي په یوشي کي په ګډون کولو سره ناجائزي لږي پیسي ګټي او دګډ کړل سوو شیانوپه اخستلو سره به شل چنده زیات تاوانوي .

بله خبره هم دخوښولو جوګه ده چي دخداوندي ارشاد الفاظ عام دي مطلب یي دا دي چي په باطلو او ناجائزو طریقو دبل مالونه مه خوري زور زبردستي مال اخستل په دي کي راځي په غلا اوداکه سره مال اخستل په کښي دا خل سوه ، په سود جواري رشوت اوناجائزو سوداګانو اوناجائزي طریقي سره مال ګټل ټول په دي کي شامل دي که څه هم په دي کي ددواړو طرفو خوښي او رضاوي په دروغو ویلو یاد دروغو په قسمونو څه مال ځان ته کول یاداسي ګټه کول حرام اوباطل دي کوم چي شریعت بند کړي دي ، که څه هم په دي سره دسر ویني پښوته تللي وي، دقرآن په الفاظوکي یوازي خوراك راغلي دي خومطلب یي هرقسم استعمال دي ، هغه اغوستن استوګنه وي اوکه بله طریقه دا دعربي یوه محاوره ده لکه چي په پښتوکي هم دامحاوره عامه ده وایي چي فلاني مال وخوړی که څه هم هغه مال دخوړلولایق نه وي بلکه مطلب یي دا وي چي مال دده په قبضه کي دي .

شانِ نزول: د دوو صحابه کرامو رضی اللہ عنہم پر یوه مځکه جګړه وسوه حضورﷺ دشریعت مطابق مدعیٰ علیه ته دقسم ورکولو څکه حکم ورکی چي دمدعي شاهدان نه وه قسم خوړلوته چي دغه سړي تیارسو

نو حضورﷺ ورته نصیحت دپاره دا آیت واوروی ، اِنَّ الَّذِيْنَ يَشْتَرُوْنَ بِعَهْدِ اللّٰهِ وَاَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيْلًا (آلِ عمران ۷۷) دقسم په زور دمال دځان ته کولوپه دي آیت کي بدي بیان سوي ده ، نوځکه مدعیٰ علیه

صحابی ﷺ دقسم کولو څخه دده وکړه او دغه مال یې مدعی ته پرېښودوی (روح المعانی ج۲ ص۷۰)
نو داهغه واقعه ده دکومې په باره کې چې داآیت نازل سوپه دې کې په ناجائز طوردمال خوړل یاخان ته
کول حرام تاکل سوي دي او ددې په آخرکې د درواغو مقدمه جوړول په درواغو قسمونه خوړل په
دروغه شاهدي کول یاشاهدي نیول یې په سختۍ سره بندکړل اوپروردګار زورنه پرورکړې ده ، فرمايي
وَتُدْلُوا بِهَآ إِلَى الْحُكَّامِ لِتَأْكُلُوا فَرِيقًامِّنْ أَمْوَالِ النَّاسِ بِالْإِثْمِ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ : مطلب دا چې دمالونو مقدمې
حاکمانو ته مه وړئ چې دهغوی په ذریعه تاسې دخلکو دمالونو څه برخه دګناه په طریقه وخورئ سره
ددې چې پوه یاست چې ستاسې حق په دې کې نسته او د درواغو دعوه جوړوئ د وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ څخه
معلومه سوه که یوسړی په غلطۍ سره یوشی خپل حق وګڼي او ددې دځان ته کولو دپاره په عدالت کې
مقدمه جوړه کې نو هغه ددې وعدې او زورنې لاندې نه راځي لکه حضورﷺ چې فرمايلي دي .

اِنَّمَا اَنَا بَشَرٌ وَّاَنْتُمْ تَخْتَصِمُوْنَ اِلَيَّ وَلَعَلَّ بَعْضُكُمْ اَنْ يَّكُوْنَ اَلْحَنَ بِحُجَّتِهٖ مِنْ بَعْضٍ فَاَقْضِيْ لَهٗ عَلٰى نَحْوِمَا اَسْمَعُ
مِنْهُ فَمَنْ قَضَيْتُ لَهٗ بِشَيْءٍ مِّنْ حَقِّ اَخِيْهِ فَلَا يَاْخُذْهُ فَاِنَّمَا اَقْطَعُ لَهٗ قِطْعَةً مِّنَ النَّارِ .

یعنی زه یوانسان یم اوتاسې ماته خپلې مقدمې راوړئ په دې کې دا هم کیدی سی چې یوڅوك خپله
معامله په زیات رنګ اوروغن کې را وړاندې کړي اوزه په مطمئن سم اودهغه په حق کې فیصله وکړم
نو یاد لرئ چې حقیقت خو پخپله معامله دار ښه پیژني که چیرې په واقع کې دا دهغه حق نه وي
نو هیڅکله دې نه اخلي څکه چې په دې صورت کې ده ته زه چې څه ورکوم نوهغه به دجهنم یوه ټوټه وي
دحضورﷺ دې ارشاد بیخې ښکاره کړه چې که چیرې دمسلمانانو حاکم یاقاضي په غلطۍ یوه فیصله
وکې نو دهغه په بنیاد دغه حق دغیرِمستحق دپاره حلال نه سو او دمستحق دپاره حرامیږي نه ، مطلب
دا چې عدالتي فیصلې دحلال اوحرام معیارنه دي که چیرې څوك د درواغو په شاهدي په قسم یاپه
تګي دبل حق دعدالتي فیصلې په واسطه کې لاندې کړي نو دهغه ګناه به دهغه په غاړه وي ، په کار
دي چې هغه دې دآخرت حساب او دعلیم اوخبیر ذات ﷻ په عدالت کې خپله پیشي ورياده کې اوحق
دې حقدار ته ورکړي .
دامام ابوحنیفه ﷫ په نزد د درواغو دشاهدي یاقسم پربنیاد دقاضي په فیصله دهغه معاملو دتړلو
پرېکولو یادهغه دحل اوحرمت احکام جاري کیږي په کومو کې چې تړل یاپرېکیدل کیدی سي اوقاضي
ته هم په هغه کې دشریعت له مخې اختیارات حاصل وي خو د درواغو دقسم یادشاهدي ګناه به ددغه
نفر په سر وي .

(دحلال مال برکتونه او دحرام مال بې برکتي)

دحرام مال څخه دځان ساتلو او دحلال مال دحاصلولو تاکید په مختلفو سرخطونو سره قرآن کریم کړي
دی په یوه آیت کې دا اشاره سوې ده چې انسان په عمل او اخلاقو کې دحلال خوراك اوڅښاك ډیر دخل

او اثر دی که چیری خوراك اوچښاك حلال نه وی نو بیا دښوخویونو اونیکو کارونو کول دیرگران دی

ارشاد دی ، يٰاَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوْامِنَ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوْا صَالِحًا اِنِّیْ بِمَا تَعْمَلُوْنَ عَلِيْمٌ : ای دانبیاؤ ټولیه ! حلال اوپاك شیان خوری او نیك عمل کوی زه ستاسی دعملونو دحقیقت څخه خبر یم ، په دی آیت کی دا اشاره ښکاری چی نیك عملونه هلته کیدی سی کله چی دانسان خوراك اوچښاك حلال وی اوپه یوه حدیث کی نبی کریم ﷺ دا خبره په داگه کړی ده چی دحلال مال دخوراك حکم یوازی پیغمبرانوته نه دی بلکه ټولو مسلمانانوته دی او ددی حدیث په آخر کی یی داهم فرمایلی دی چی دحرام مال دخوړونکی دعانه قبلیږی ډیر خلک په عبادت کی ډیره خواری کوی ، بیادالله ﷻ په مخکی ددعا لاسونه خپر وی دیارب یارب نعری وهی مگر خوراك یی حرام چښاك یی حرام لباس یی حرام وی نو دهغوی دا دعابه څنگه قبوله سی؟

دنبی کریم ﷺ ډیرتعلیمات اوهدایات په دی کی راغلی دی چی امت دی حلال استعمالوی اودحرامو څخه دی ځان ساتی ، په یوه حدیث کی یی ارشاد فرمایلی دی چی چاحلال وخوړل اودسنتو مطابق یی عمل وکی او خلک دهغه دضررونو څخه بچ سول نو هغه به جنت ته ځی صحابه کرامو ﷡ عرض وکی چی یارسول الله ! نن صباخو داحالات ستاپه امت کی عام دی زیات مسلمانان ددی پابنددی ، هغه ﷺ وفرمایل هو! په راتلونکی هره زمانه کی به داسی خلگ وی چی ددی احکامو پابندی به کوی ‹داحدیث ترمذی روایت کړي دی اوصحیح یی ورته ویلی دی›

په یوه بل حدیث کی ارشاددی چی نبی کریم ﷺ حضرت عبدالله بن عمر﷜ ته وفرمایل چی څلورداسی خویونه دی چی هغه په تاسی کی ترڅووی نوتاسی ته بس دی که په دنیاکی نور هیڅ هم درسره نه وی ، هغه څلور خویونه دا دی ، ۱ ، دامانت حفاظت ‹ساتل› ۲ ، رښتیا ویل ۳ ، ښه خوی ۴ ، په خوراك کی دحلالوغم ‹کوشش› کول .

حضرت سعدبن ابی وقاص﷜ دنبی کریم ﷺ څخه خواست وکی چی زمادپاره دعاوکه چی زه مقبول الدعاء سم ‹یعنی هره دعامی قبلیږی› هغه ﷺ وفرمایل چی ای سعده ! خپل خوراك حلال اوپاك جوړکړه نو مستجاب الدعوات به سی ، اوقسم می دی وی په هغه ذات دچاپه قبضه کی چی دمحمد ﷺ ځان دی ، بنده چی کله په خیټه کی حرامه گوله واچوی نو ترڅلویښتو ورځو دهغه هیڅ عمل نه قبلیږی اودکوم سړی غوښه چی دحرام مال څخه جوړه سوی وی نو په هغه سره خو هم دجهنم اور جوړیږی ‹یعنی د اور سره مناسبه ده›

حضرت عبدالله بن مسعود﷜ فرمایی چی نبی کریم ﷺ وفرمایل په هغه ذات می دی قسم وی دچاپه قبضه کی چی زماځان دی چی بنده ترهغه مسلمان کیدی نه سی ترڅو چی دهغه زړه او ژبه مسلمان نه سی ، او ترڅوچی دهغه همسایه دهغه دضررونو څخه محفوظ نه سی ، اوکله چی یوبنده حرام مال

خوري اوبيايي خيرات كوي نو هغه نه قبليږي اوكه چيرې دهغه څخه څه خرڅوي نو بركت به يې نه وي اوكه چيرې وارثانوته يې پريږدي نو دجهنم په طرف دهغه دتلو توښه وي بيشكه الله ﷻ په بدشي بدعمل نه مينځي خو په ښه عمل سره بد عمل مينځي .

(په قيامت كي دهريوه بنده څخه پنځه ضروري پوښتني)

حضرت معاذبن جبل ﷺ فرمايي چي حضور ﷺ فرمايلي دي ، مَاتَزَالُ قَدَمَا عَبْدٍ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ حَتّٰى يُسْأَلَ عَنْ اَرْبَعٍ عَنْ عُمْرِهٖ فِيْمَا اَفْنَاهُ وَعَنْ شَبَابِهٖ فِيْمَا اَبْلَاهُ وَعَنْ مَالِهٖ اَيْنَ اِكْتَسَبَهُ وَفِيْمَا اَنْفَقَهُ وَعَنْ عِلْمِهٖ مَاذَا عَمِلَ فِيْهِ

(البيهقي والترغيب)

په ميدان محشركي به دقيامت په ورځ هيڅ يوبنده دخپله ځايه نه ښوري ، ترڅوچي دهغه څخه دځلورو سوالونو جواب نه وي اخستل سوى يو دا چي هغه خپل عمرپه كوم كاركي ختم كى دوهم داچي هغه خپله ځواني په كوم شغل (مشغولتيا) كي تباه كړله دريم داچي خپل مال يې دكومه ځايه وګټى اوپه كوم ځاي كي يې مصرف كي اوځلورم داچي په خپل علم يې ترڅومره عمل كړى وو.

حضرت عبدالله بن عمر ﷺ فرمايي چي نبى كريم ﷺ يو وار خطبه وويله چي په هغه كي يې وفرمايل چي اى دمهاجرينو ټوليه ا پنځه خويونه داسي دي چي دهغه په باره كي د الله ﷻ څخه زه پناه غوارم هسي نه چي په تاسي كي پيداسي ، يو خو دا چي په كوم قوم كي بى حيايي خپره سي نو پرهغوى طاعون وباګاني او داسي نور نوى نوى رنځونه ومبتلول سي چي دهغوى پلرونو اونيكونوبه هم نه وي اوريدلي، بله داچي په كوم قوم كي دكم تللو (پيمانه كولو) اوكم ګزولومرض پيداسي نو هغوى په قحطي ګراني خواريو تكليفونو اودحاكمانو په ظلم كي راګيرسي ، دريم دا چي كوم قوم زكوٰة نه وركوي نو پرهغوى بارانونه بندسي اوځلورم دا چي كوم قوم دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ سره كړي وعده اوقول مات كړي نوالله ﷻ په دغه قوم يوپردى (بهرنى) دښمن وګماري چي دهغوى مال به په ناحقه پريكوى اوپنځم دا چي دكوم قوم واكمن خلګ دكتاب الله په قانون فيصله نه كوي او دالله ﷻ نازل كړى احكام دهغه په زړه پورى نه وي نوالله ﷻ هغوى په خپل مينځ كي په جنګ جګړو اويو دبل څخه په كركه كولواخته كي (دا روايت ابن ماجه اوبيهقي اونورو نقل كړي دي اوحاكم دمسلم پرشرط دي ته صحيح ويلي دي) الله ﷻ دي مونږ ته اوټولو مسلمانانوته ددى آفتونو څخه دمحفوظ پاته كيدو كامل توفيق راكړى ، وَاٰخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ .

يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْاَهِلَّةِ ۭ قُلْ هِىَ مَوَاقِيْتُ لِلنَّاسِ وَالْحَجِّ ۭ وَلَيْسَ الْبِرُّ بِاَنْ تَاْتُوا

تاڅخه پوښتنى حال دمياشتو وو ايه چي دانيتى دي دپاره دخلقو او دحق اودانيكى نه ده چي راځى كورونوته

الْبُيُوتَ مِنْ ظُهُورِهَا وَلَٰكِنَّ الْبِرَّ مَنِ اتَّقَىٰ ۗ وَأْتُوا الْبُيُوتَ

له طرف دشاگانو ددی او لیکن نیکی دا ده چی څوك وبیرېږي دالله څخه اوراځی

مِنْ أَبْوَابِهَا ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿١٨٩﴾ وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ

کورونو ته په دروازو ددی ، او وبیرېږي دالله ﷻ څخه دی دپاره چی تاسی مراد ته ورسیږي ، اوجنگ کوی په

اللَّهِ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوا ۚ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ

لاره دالله تعالی کی هغه خلقو سره چی جنگیږي تاسی سره او مه کوی زیاتوب په چا ، بیشکه الله ﷻ نه خوښوی

الْمُعْتَدِينَ ﴿١٩٠﴾ وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ وَأَخْرِجُوهُمْ

زیاتوب کوونکی ، او وژنی دوی چی کوم ځای کی یی را لاندی کړی او هغوی بهرته وباسی

مِنْ حَيْثُ أَخْرَجُوكُمْ ۚ وَالْفِتْنَةُ أَشَدُّ مِنَ الْقَتْلِ ۚ وَلَا تُقَاتِلُوهُمْ

دکوم ځای څخه چی ویستلاست دوی تاسی او دین څخه اړول زیات سخت دی له قتله او مه جنگیږي دوی سره

عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ حَتَّىٰ يُقَاتِلُوكُمْ فِيهِ ۖ فَإِنْ قَاتَلُوكُمْ

په خوا دمسجدحرام کی ترڅو چی دوی نه جنگیږي تاسی سره په دی کی ، بیا که دوی پخپله جنگیږي تاسی سره

فَاقْتُلُوهُمْ ۗ كَذَٰلِكَ جَزَاءُ الْكَافِرِينَ ﴿١٩١﴾

نو وژنی تاسی دوی ، هم دغه ده سزا دکافرانو

دآیتونو ترون: دلَیْسَ الْبِرَّ په تشریح کی بیان سوی دی چی تردی وروسته به دسوره بقره تر آخره پوری د اَبْوَابُ الْبِرّ بیان وی چی په ډیرو ضروری احکامو شرعیه وواندی به مشتمل وی په دی کی اول حکم دقصاص وو دوهم دوصیت دریم اوڅلورم دروژی او دهغه سره دتړلومسئلو، پنځم داعتکاف اوشپږم دحرام مال څخه دساتنی وو اوس په دی دوو آیتونو کی دحج اوجهاد دحکمونو اومسئلو بیان دی اودحج ترحکم مخکی دا وښوول سوه چی په روژه اوحج کی به دسپوږمی ورځو اومیاشتو اعتبار وی.

لغات: اَهِلّة د هِلَالٌ جمع ده، دسپوږمی دمیاشتی دمخکنیوڅوشپو سپوږمی میاشت بلل کیږی، مَوَاقِیْتُ دمیقات جمع ده دمیقات معنٰی یوازی وخت دی یا دوخت آخری برخه ده (قرطبی)

دتفسير لنډيز

(اووم حکم په حج اونوروکي دسپوږمي حساب ته اعتباردی)

(څه سرې) تاسی ته د (دی) میاشتو(په هره میاشت دکمیدو او زیاتیدو د) حالت (او په هغوکی دنغښتو فائدو) تحقیقات کوی تاسی ووایاست چی (ددی فائده دا ده چی) دغه میاشت (دخپلو ددی کمیدو او زیاتیدوپه لحاظ خامخا یادپاره دآسانتیا) دنیتو دپیژندلویوه ذریعه ده دخلکو (داختیاری معاملو مثلاً دعدی اودحقوقودمطالبی) دپاره او(دغیراختیاری عباداتومثلاً)حج (زکوٰة اوروژی اونورو دپاره)

(اتم حکم دجاهلیت درواج اصلاح)

داسلام څخه مخکی څه خلق به دحج داحرام دتړلوڅخه وروسته که چیری په احرام کی به دڅه ضرورت دپاره خپل کورته ورتلل نو په دروازه به یی دابدګڼل دشاپه دیوال کی به یی سوری وکی اودهغه څخه به یی دننه ورتلل بهترګڼل ، الله ﷻ دحج دبیان کولوڅخه وروسته په دی لړکی ارشادفرمایی ، اوپه دی کی هیڅ بهتری نسته چی (خپلو) کورونوته دهغه دشا د اړخه ورځی لیکن بهتری دا ده چی څوک (دلته دحرامو (شیانوڅخه) وساتل سی او(کله چی د دروازی په لار کورونوته دننه ورتلل حرام نه دی نو ددی څخه ځان ساتل هم ضروری نه سو که ورتلل غواړی) کورونوته دهغه په دروازو ورځی او (بنیادی خبره خو دا ده چی) دخدای څخه وبیریږی (نوالبته) امیدد ی چی تاسی (به په دواړو جهانونوکی) بریالی سی .

(نهم حکم دکفارو سره جنګ)

دشپږمی هجری کال دمیانی (ذی القعده) په میاشت کی دعمری اداکولوپه قصدحضورﷺ مکی معظمی ته تشریف یوړری دغه وخت مکه معظمه لاد کفاروپه قبضه اوحکومت کی وه دی خلکوحضور ﷺ او دهغه ملګری ﷺ دمکه مکرمه دننه ورتلوته پری نه ښوول اووي ویل چی په راتلونکی کال کی دعمری د ادا کولو دپاره تشریف راوړی ، دغه شان په اووم کال دهجرت دمیانی په میاشت کی بیاهغه ﷺ په دی اراده تشریف یووړی لیکن دهغه ﷺ مسلمانانو ملګروﷺ ته دا اندیښنه وه چی کیدی سی مشرکان خپله خبره ماته کی اومقابلی اوجنګ ته تیارسی په داسی حال کی چپ پاته کیدل هم ښه نه دی اوکه مقابله وسی نو دذی قعدی په میاشت کی به جنګ کول راسی او دا په هغه څلورو میاشتوکی حساب ده په کومو کی چی جنګ کول تردغه وخته حرام اوبند وو ، دا څلورمیاشتی ذی القعدة ذی الحجة محرم او رجب وی ، غرض دا چی مسلمانان په دی تردد اوپریشانی کی وه نوالله ﷻ دا آیتونه نازل کړل چی په سبب ددی چی تاسی خاصه وعده کړي ده د دوی سره ددی په خاطرتاسی ته اول وار دجنګ دپیل کولو اجازه نسته خو که دغه خلقو وعده ماته کړه اوستاسی سره جنګ کولو ته تیارسوه نوتاسی بیخی بی فکره اوسی) اوبی (فکره) تاسی (هم) جنګیږی دالله په لارکی (یعنی په دی نیت چی دغه خلک ددین مخالفت کوی) ددغه خلکوسره چی (وعده ماته کی) ستاسی سره جنګ روان

کړی او (دغسی دوعدی) ترحدمه تیریږئ (چی وعده ماته کړئ اوپه جنګ سئ) واقعی الله (دشرعی قانون) دحدڅخه تیریدونکی نه خوښوی او(کله چی هغوی په خپله وعده ماته کی نوکه غواړی په داده زړه) هغوی وژنی کوم ځای یی چی رالاندی کی او(که غواړی) هغوی (دمکی څخه) دباندی وباسی دکوم ځای څخه چی هغوی تاسی (تنګ کړی واست اوتکلیفونه یی درکړی وه) په وتلو (اوپه هجرت کولویی) مجبوره کړی واست او(که تاسی دهغوی څخه مرګ ژوبله وکی اودوطن څخه یی دباندی وباسی نوبیا به هم دعقل په موجب دوی پړه وی ځکه چی وعده دوی ماته کړي ده چی ډیرغټ ورانی دی اوداسی) ورانی (په ضررکی) ترقتل (اوتر ایستلو) ډیرسخت دی (ځکه چی ددغه قتل اوایستلو باعث هم دهغوی خپل ورانی دی) او (دهغوی سره په جنګ کی ستاسی پیل کول دوعدی ماتولوڅخه زیات یوبل بندیز لری هغه دا دی چی حرم شریف یعنی مکه او دهغه ګیرچاپیره دډیرعزت وړځای دی چی په هغه کی جنګ کول دهغه بی احترامی ده نو ددی وجی حکم ورکول کیږی چی) دهغوی سره دمسجدحرام په خوا (اوشا) کی (چی په حرم بلل کیږی) جنګ مه کوی ترڅوچی هغه خلګ هلته ستاسی سره په خپله ونه جنګیږی ها! که چیری هغوی (کفار) پخپله دجنګ کولو انتظام وکی نو (دغه وخت بیاتاسی ته هم اجازه ده چی) تاسی (هم) هغوی ووژنی دداسی کافرانو (چی په حرم کی جنګیږی) هم داسی سزا ده.

علوم او مسئلې: په مخکی آیت کی دصحابه کرامو ﷺ یوسوال اودالله دطرفه دهغه دجواب ذکردی امام المفسرین حضرت عبدالله بن عباس ﷺ فرمایی چی دنبی کریم ﷺ دصحابه کرامو ﷺ یوخاص شان دا دی چی هغوی دحضور ﷺ دهیبت اوجلال په وجه دهغه ﷺ څخه ډیرکم سوالونه کړي دی ، بل طرف ته نورو امتونو دخپلو پیغمبرانو څخه ډیر سوالونه کړي دی ، اوداسی ادب یی نه دی کړی ، دحضرت ابن عباس ﷺ دوینا په مطابق په قرآن کریم کی دصحابه کرامو ﷺ دڅوارلسو ۱۴ سوالونو ذکر راغلی دی اولنی سوال : وَاِذَا سَاَلَكَ عِبَادِیْ اوس مخکی تیرسو، دوهم سوال دا دی نور شپږ سوالونه به هم په سورة بقره کی راځی او پاته نورشپږ سوالونه په مختلفو سورتونوکی ذکر دی، په دی اوسنی آیت کی دصحابه کرامو ﷺ دهغه سوال ذکر دی کوم چی یی دحضور ﷺ څخه د اَهِلّه دمخکنیو شپو دمیاشتی په باره کی په داډول کړی ووچی ددی شکل دلمرڅخه مختلف دی ځکه چی داخومخکی نری وی، بیا کرار کرار غټیږی چی پوره ګول سی نوبیاکرار کرار دغه شان په کمیدوسی، اوس داسوال پردی بناکیدی سی چی صحابه کرامو ﷺ ددی حقیقت پوښتی اوپه دی هم بنا کیدی سی چی ددی حکمت اومصلحت یی پوښتی مګر په جواب کی دحکمت او مصلحت بیان دی ، اوس که داپوښتنه دحکمت اومصلحت په باره کی وی نو دا جواب هم دسوال په مطابق وسو اوکه داسوال دحقیقت په باره کی وی (چی کوم دصحابه کرامو ﷺ دشان سره سمون نه خوری) خوبیاهم دحقیقت پرېښودلو په ځای یوازی دحکمت اومصلحت په بیانولوکی دی خبری ته اشاره ده چی دآسمانی

شپانو(لکه لمرسپوږمی اونور) حقیقتونه معلومول دانسان دوس څخه وتلی دی او دی ته ددین اودنیا هیڅ یوکار بندهم نه دی ګویا الله ﷻ په داسی ډول جواب ورکولو سره خپلو بندګانوته دا ادب وروښووی چی دحقیقت معلومولو سوال کول بی فائدی دی سوال داسی کول په کار دی چی دمیاشتی سپوږمی په غټیدوکمیدو او پټیدوښکاره کیدوسره زموږ کمی کمی فآئدی تړلی دی ، نو جواب یی درسول الله ﷺ په ذریعه دا دی چی دسپوږمی میاشتی سره ستاسی دا تړلی دی چی ددی په ذریعه تاسی ته دخپلو معاملو اومعاهدو نیتی ټاکل او دحج ورځی معلومول آسان سی .

(دسپوږمي اولمر دحساب شرعي حیثیت)

ددی آیت څخه خو دومره معلومه سوه چی دسپوږمی څخه تاسی ته دنیټو اومیاشتو حساب معلومیږی پرکومو چی ستاسی معاملی حج اونور عبادتونه موقوف دی، هم دامضمون په سورت یونس (آیت ۵) کی داسی دی ، وَقَدَّرَهُ مَنَازِلَ لِتَعْلَمُوا عَدَدَ السِّنِينَ وَالْحِسَابَ : ددی څخه معلومیږی چی دسپوږمی مختلف منزلونه اوحالات بدلیدل دکلونو میاشتو اونیټو دمعلومولو فآئده ورکوی، مګرپه سورة بنی اسرآئیل (آیت ۱۲) کی دا فآئده اخیستل دلمرڅخه هم څه داسی ثابتیږی (لکه چی روح المعانی لیکی)

فَمَحَوْنَا آيَةَ اللَّيْلِ وَجَعَلْنَا آيَةَ النَّهَارِ مُبْصِرَةً لِتَبْتَغُوا فَضْلاً مِنْ رَبِّكُمْ وَلِتَعْلَمُوا عَدَدَ السِّنِينَ وَالْحِسَابَ .

بیاموږ ورکه کړه نمونه دشپی اودلیدلو مو جوړه کړه نمونه دورځی ددی دپاره چی تاسی ولټوی دخپل رب فضل اوچی معلوموی شمیر دکلونو اوحساب، ددی دریم آیت څخه که څه هم داثابته سوه چی دکلونو اومیاشتو اونور حساب دلمرڅخه هم لګیدی سی، خو دسپوږمی په معامله کی کوم الفاظ چی قرآن کریم استعمال کړي دی ددی څخه واضحه اشاره دی طرف ته راوزی چی په اسلامی شریعت کی حساب هم دسپوږمی مقرر دی خاص کر په هغه عبادتونوکی دکومو تعلق چی دخاصو میاشتو اودهغه دتاریخونو سره دی لکه درمضان روژه دحج میاشتی دحج ورځی محرم شبِ برات اونورو سره چی کوم حکمونه متعلق دی هغه ټول درویت هلال په باره کی کړل سوي دی ولی چی په دی آیت کی دهِيَ مَوَاقِيتُ لِلنَّاسِ وَالْحَجِّ په ویلو سره دا وښوول سوه چی دالله ﷻ په نزد حساب هم دسپوږمی معتبر دی که څه هم دلمر څخه هم حساب معلومیدی سی .

اسلامی شریعت دسپوږمی حساب دهرقسم عامو خلکو دآسانی دپاره ټاکلی دی په لمرحساب کول هرچاته څکه ډیرګران وی چی هغه رصدی آلاتو اودریاضی په قواعد موقوف دی ، مطلب یی دا سو چی دعباداتو په باره کی دسپوږمی حساب یی فرض وټاکی اوپه نورو معاملو تجارت اونوروکی یی هم دا څکه خوښ کی چی دا داسلامی عبادت ذریعه بلکه داسلام یوخصوصی نښانه ده که څه هم دلمر حساب یی ناروا کړی نه دی خو ددی دپاره شرط دا دی چی ددی حساب په مقابله کی خلک دسپوږمی حساب بیخی هیر نه کی څکه چی په داسی کولو سره به بیاپه عبادتونو روژو اوحج کی خلل راځی،

زمونږ په ټولو دفتري کاروباري بلکه شخصي معاملوکې په داسې ډول شمسي حساب داسلامي غيرت خخه هم خلاف دې دکوم په مقابله کې چې دسپوږمۍ حساب بالکل داسې پرېښوول سوي دي چې داسلامي مياشتو نومونه قدر هم اکثرو مسلمانانوته يادنه دي نوکه چيرې دفتري کاروبار اومعاملې پرشمسي حساب په دې غرض موقوف ګڼل کيږي چې ددې ترون دغير مسلمو سره هم وي نوخيردی ، خوکم ازکم داسلامي غيرت تقاضا دا ده چې په خپلو روزمره ذاتي کارونو اوذاتي خط اوکتابت کې دسپوږمۍ حساب خکه وسي چې په داسې کولوبه دفرض اداکولو ثواب هم وسي.

مسئله: د لَيْسَ الْبِرُّ بِاَنْ تَاْتُوا الْبُيُوْتَ مِنْ ظُهُوْرِهَا : دآيت خخه دا مسئله هم معلوميږي چې هغه شي يا کار ضروري ګڼل ناروا دي کوم چې شريعت ضروري نه ګڼی ، هم دارنګه دهغه کار ياسې ناجائز ګڼل ګناه ده کوم چې شريعت رواګڼی، دبدعتونو دناروا کيدو اصلي باعث هم دغه دي چې ددې په زور روا شيان اوچاري ناروا ګرځول کيږي، لکه څنګه چې به دغه خلک په احرام کې خپلو کورونوته په دروازه راتلل ناروا ګڼل اوپه شريعت کې روا وو، دکورونو دشاپه موري کې راتلل به يې ضروري ګڼل اوپه شريعت کې ضروري نه وو.

(نهم حکم دجهاد اود جنګ)

دټول امت پردې اتفاق دی چې مدينې منورې ته ترهجرت کولو خخه مخکې مسلمانانوته دکفارو سره دجهاد کولو بنديز اودصبرمعافي اودرګرز کولو ښوونه وه دهجرت دوخت خخه دا اولنی آيت دی چې په کې دجهادکولوحکم وسولکه چې ربيع بن انس ﷺ اونورواکثرو صحابه ؓ اوتابعينو رحمهم الله فرمايلي دي ، دجهادپه باره کې دحضرت ابوبکرﷺ دا آيت ، اُذِنَ لِلَّذِيْنَ يُقَاتَلُوْنَ بِاَنَّهُمْ ظُلِمُوْا (الحج ۳۹) اولنی ښوول په دې بناء دي چې دا دجهادپه مخکنيو آيتونوکې شمار دی نه داچې بيخي اولنی دی په دې آيت که څه هم دا حکم دی چې مسلمانان دې يوازې دهغه کفاروسره جنګ کوي کوم چې دجنګ دپاره راغلي وي، داسې کفارپه جهادکې وژل ناروا دي چې هغوی شل ګوډ معذوره وي دغه دکفارو سره خواري اومزدوري کوي خو په جنګ کې ورسره شريك نه وي دکفارو ماشومان ښځې دهغوی راهبان پادريان بامبران اونور چې په جنګ کې نه شريکيږي، داشرط خکه ضروري دی چې فقهاء کرام رحمهم الله دهغه ښځو بوډاګانو پادريانو بامبرانو اونورو قتلول هم رواګڼی کوم چې دکفاروسره په جنګ کې دمسلمانانو په مقابله کې شريك وي يادخه قسم ملاتړ ياامداد ورسره په جنګ کې کوي ، خکه چې دوی په ، اَلَّذِيْنَ يُقَاتِلُوْنَكُمْ کې داخل دي ، مظهري (ج۲ ص۲۱۲) قرطبي (ج۲ ص ۳۴۸ ۳۴۹) جصاص (ج۱ ص۳۰۲)

په دې باره کې دنبي کريم ﷺ هغه هدايات ډير واضح دي کوم به يې چې دجهادپه موقع صحابه کرامو ؓ ته ورکول لکه په صحيح بخاري اومسلم کې حضرت عبدالله بن عمرﷺ روايت کوي ، نَهٰى رَسُوْلُ

اللهِ ﷺ عَنْ قَتْلِ النِّسَآءِ وَالصِّبْيَانِ، حضورﷺ دښځو اوماشومانو دوژلو څخه منع کړي ده ،اوپه ابوداود کې دحضرت انس رضی الله عنه په روايت سره راغلي دي چې نبي کريم ﷺ په جهاد روانو صحابه کرامو رضی الله عنهم ته داهدايت ورکړی ووچې ، تاسی دالله تعالی په نوم او درسول ﷺ په ملت دجهاد دپاره ځی ، څوك بوډا کمزوری کوچنی ماشوم اوڅوك ښځه مه وژنی (مظهری ج۲ ص۲۱۲)، يزيدبن ابی سفيان رضی الله عنه چې ابوبکر رضی الله عنه دشام ملك ته ليږی نوورته يی داهدايت کړی ووچې عابدان راهبان اودکافرانو مزدوران هم مه وژنی ترڅو چې داکسان په جنګ کی برخه نه اخلی (قرطبی ج۲ ص ۳۴۸)

د ، وَلاَ تَعْتَدُوْا څخه جمهور مفسرين رحمهم الله هم دامطلب اخلي چې په جنګ کی تاسی داسی تيری او زياتوب مه کوی چې ښځی ماشومان اونور هم وژنی ، وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ وَأَخْرِجُوهُمْ مِنْ حَيْثُ أَخْرَجُوكُمْ : دتفسير په خلاصه کی بيان وسو چې دا آيت هغه وخت نازل سوي دی کوم وخت چې دصلح حديبيه څخه وروسته دهغه ديوه شرط په وجه حضورﷺ اوصحابه کرام رضی الله عنهم دعمری دقضا راوړلو دپاره مکی شريفی ته روانيدل اوصحابه کرامو رضی الله عنهم داشك ښکاره کی چې دکفارو دوعدی اوقول اعتبار نسته ، هسی نه چې هغوی جنګ ته تيارسی نو مونږ ته بياڅه په کار دی؟ ددی په جواب کی ددی آيت الفاظو دا اجازه ورکړه چې که هغوی جنګ کوی نوتاسی هم هغوی چې کوم ځای پيداکی نووژنی يی اوکه وس موږو نو دمکی مکرمی څخه يی وباسی لکه چې څنګه هغوی مسلمانان دمکی مکرمی څخه ايستلی وه

او دمکی مکرمی په ټوله زمانه کی مسلمانان دکفارو سره دجنګ کولوڅخه منع سوی وه ، تل ورته دمعافی اودرګذر کولو ښوونه کول کيده ددی آيت په نازليدو دصحابه کرامو رضی الله عنهم داخيال ووچې دکفارو قتلول بد اومنع دی نو ددی خيال دختمولو اوليری کولو دپاره يی داوفرمايل ، وَالْفِتْنَةُ أَشَدُّ مِنَ الْقَتْلِ يعنی دامنل سوی خبره ده چې دچاقتلول سخت اوبدکاردی مګر دمکی دکفارو په خپل کفر اوشرك ټينګ پاته کيدل اومسلمانان دعبادت اوحج او عمری اداکولو څخه بندول تردغه هم زيات سخت کار دی چې دهغه څخه دځان ساتلو دپاره دهغوی دوژلو اجازه ورکول سوه، په آيت کی دذکر سوی لفظ ، وَالْفِتْنَةُ : مطلب کفر شرك اومسلمانان دعبادت څخه بندول دی (جصاص ج۱ ص۳۰۴، قرطبی ج۲ ص ۳۵۱ او نور) په آيت کی ذکروه چې هرځای موکفار پيداکړل وژنئ يی نو دتخصيص دپاره يی وفرمايل (وَلاَ تُقَاتِلُوهُمْ عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ حَتَّى يُقَاتِلُوكُمْ فِيهِ) چې دمسجدِ حرام په خوا اوشا دمکی مکرمی په ټول حرم کی تاسی ددغه خلګو سره ترهغه جنګ مه کوی ترڅوچې هغوی ستاسی سره جنګ نه وی شروع کړی .

مسئله: دمکی مکرمی په حرم کی دښکاری حيوان وژل هم ناروا دی انسان خولا پريږده ليکن جمهور فقهاء رحمة الله عليه په دی متفق دی چې دخپل ځان دساتنی دخاطره چې څوك حمله پر وکی نوپه حرم

کې هم دغه سره جنګ کول روا دي .

مسئله: ددې آيت څخه دا هم معلوميږي چې خاص دمکې په ټول حرم کې جنګ اوجهاد شروع کول منع دي، په نورو ځايونو کې جهاد شروع کول هغسې روا دي څنګه چې دفاعي جهاد ضروري دي .

فَإِنِ انْتَهَوْا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿۱۹۲﴾ وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ

بيا که چيرې هغوی منع سو نوبيشکه الله ﷻ بخښونکی اوډېرمهربانه دی ، اوجنګيږئ هغوی سره تردې چې پاته

الدِّينُ لِلَّهِ ۖ فَإِنِ انْتَهَوْا فَلَا عُدْوَانَ إِلَّا عَلَى الظَّالِمِينَ ﴿۱۹۳﴾

نه سي فساد ، اوپاته سي حکم دالله تعالی بيا که چيرې هغوی منع سو نو په چا هم زياتوب نسته مګر په ظالمانو

الشَّهْرُ الْحَرَامُ بِالشَّهْرِ الْحَرَامِ وَالْحُرُمَاتُ قِصَاصٌ ۚ فَمَنِ

دعزت والا مياشت په بدل (مقابل) دعزت والامياشت او ادب ساتلو کې بدله ده ، بيا

اعْتَدَىٰ عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدَىٰ عَلَيْكُمْ

چاچې زياتوب وکی په تاسی نو زياتوب وکړئ تاسې په هغه څنګه چې هغه زياتوب کړی دی په تاسی

وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ ﴿۱۹۴﴾ وَأَنْفِقُوا فِي

اووېرېږئ دالله ﷻ څخه اوپوهه سی چې الله تعالی دپرهيزګارو سره دی ، په لار دالله تعالی کې

سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ ۛ وَأَحْسِنُوا ۛ

او مه اچوی خپل ځان په هلاکت کې او نيکی کوی

إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ ﴿۱۹۵﴾

بيشکه الله ﷻ خوښوی نيکی کوونکی .

دتفسيرلنديز: بياکه چيرې (دجنګ دشروع کولو څخه وروسته هم) هغه خلګ (يعني دمکې مشرکان دخپل کفر څخه) منع سي (او اسلام قبول کی) نو (دهغوی اسلام به بې قدره نه ګڼل کيږي بلکه) الله به (دهغوی هغه تيرکفر) وبخښی او (دبخښنې سره بې شميره نعمتونه به ورکی اوپر دوی به) مهرباني (هم) وکی او (که چيرې هغه خلګ اسلام رانه وړی نو که څه هم دنورو کفارو دپاره اسلامي قانون دا دی چې

هغوی داسلامی حکومت حکم ومنی اوجزیه قبوله کی نو دهغوی وژل روانه دی بلکه دهغوی دټولوحقونو حفاظت پراسلامی حکومت لازم سی مګرداهل عربو دکفارو دپاره دجزیی قانون نسته، دهغوی دپاره یوازی دوی لاری دی یاخوبه اسلام راوړی اویابه وژل کیږی نو په دی وجه) دهغوی سره ترهغه جنګیږی چی (په هغوی کی) دعقیدی پلیتی (شرك) پاته نه سی او (دهغوی) دین (خالص) هم دالله سی (اودچا ددین اومذهب خالص (هم) دالله کیدلو مطلب دا دی چی هغه اسلام قبول کی) اوکه چیری هغه خلګ (دکفر څخه) راواوړی (چی دهغه ذکرهم اوس سوی دی نو (په آخرت کی دبخښنی اورحمت دجوګه کیدوسره سره دهغوی دپاره تاسی ته په دنیا کی داقانون ښوول کیږی چی دسزا) سختی پرچا نه سی کولی بغیردبی انصافو خلګو (چی دبی انصافی په طریقه دخدای ﷻ احسانات هیرکی اوکفر اوشرك کوی کله چی هغوخلګو اسلام راوړی نوبی انصافه پاته نه سوه ددی وجی دقتل غوندی دسختی سزاحکم هم پاته نه سو، او ای مسلمانانو! تاسی داشك شبهه اوفکرمه کوی چی ګوندی کفار دعوه ماته کی نودمیانی په (حرامه) میاشت کی به بیاتاسی هم ورسره جنګ کوی څکه چی) عزت منده میاشت (دکفارو سره دجنګ کولو څخه ستاسی بندوونکی) ده په بدل (ددی چی ددي) عزتمندی میاشتی (په وجه هغوی هم ستاسی سره جنګ نه کوی) او (وجه دا ده چی) دا عزتونه (لحاظونه) خودبدل شیان دی (څوك چی ستاسی سره دعزتونو لحاظ ساتی نو تاسی هم لحاظ ساتی او) چی په تاسی (دداسی حرمتونو لحاظ ونه کی) زیاتی وکی نو تاسی هم پرهغه زیاتی کوی لکه چی هغه پرتاسی زیاتوب کړي دی (او ددی ټولو حکمونوپه ځای را وړلوکی) دالله څخه وبیریږی (چی په هیڅ خبره کی دقانون ترحد ور وا نه وړی) او یقین ولری چی الله (په خپله مهربانی اورحمت سره) ددی بیریدونکو سره وی.

﴿ لسم حکم په جهاد کي مال لګول﴾

اوتاسی خلګ (دځان ورکولو سره مال هم) لګوی دالله په لار (په جهاد) کی اوخپل ځانونه په خپل لاس په تباهی کی مه غورځوی (چی په داسی ځایونوکی دځان ورکولو سره په مال لګولوکی بُخل کوی اوددی په نتیجه کی ستاسی ضعیف اوکمزوری مخالف قوی اومضبوط سی نودابیخی تباهی ده) او (چی کوم) کار (کوی) په ښه شان یی کوی (مثلاً په دی موقع مال لګوی نو دزړه داخلاصه یی په خوښی اوښه نیت سره لګوی) بیشکه الله خوښوی په ښه شان کارکوونکی.

علوم او مسئلي: دصلح حدیبیی دقانون مطابق دهجرت په اووم کال نبی کریم ﷺ صحابه کرام ﷺ دځان سره بوتلل او دعمری د ادا کولو دپاره مکی معظمی ته روان سوه نوصحابه کرام ﷺ دکفاروپه وعده اوقول اوصلحی اعتباریان نه وه څکه یی دابیره پیداسوه چی کفار که جنګ کوی نوصحابه کرام ﷺ به یو خو په مکه کی په جنګ کولو مجبورسی چی په اسلام کی ناجائزدی ددی جواب په تیرسوی

آیت کی ورکول سوچی دمکی دحرم عزت اواحترام کول پرمسلمانانو لازم دی لیکن که چیری کفارو دلته جنگ شروع کی نوتاسی ته هم دلته دفاعی جنگ کول روا دی .
دوهم اشکال دا وو چی دامیاشت دذی القعدی وه چی په هغو څلورو میاشتوکی وه کوموته چی اشهر حرم ویل کیږی ، اوپه دی میاشت کی په هیڅ ځای کی هم جنگ کول روا نه دی ، نوکه چیری دمکی مشرکینو زمونږ خلاف جنگ شروع کی نو مونږ په دی میاشت کی دفاعی جنګ څنګه کولی سو؟ نو ددی په جواب کی دا آیت نازل سو ، مطلب یی دا دی چی کفارکه جنگ شروع کی نو مسلمانانو لره دفاعی جنگ کول جائز دی لکه څنګه چی دمکی په حرم کی ددفاعی جنگ اجازت ورکول سو .
مسئله: حرمت والامیاشتی څلوردی ذی القعده (دمیانی میاشت) ذی الحجه (دلوی اختر میاشت) محرم (دحسن اوحسین میاشت) دا دری سره پسی دی اورجب (دخدای تعالی میاشت) تراسلام مخکی هم په دی څلورو میاشتوکی جنگ حرام ګڼل کیدی اودمکی مشرکان هم ددی پابندوه اوپه اسلام کی تراوو کالودهجرت پوری هم داقانون جاری وونوصحابه کرامو ﷺ ته داګرانه څکه پیښه سوه تردی وروسته دجنگ داحرمت منسوخ سو اوپه اجماع دامت سره دعام جنګ اجازت ورکول سو مګراوس هم دابهتره ده چی په دی څلورومیاشتوکی جنګ شروع نه سی ، یوازی دفاعی جنگ دی کول کیږی ، په دی بنیادبه داوینا صحیح وی چی دمیاشتوحراموحرمت اوس هم باقی دی منسوخ نه دی لکه چی یوازی داسی صورت په حرم مکه کی دضرورت پربنیادجائزسوی وواوپه عام ډول دهغه حرمت اوس هم منسوخ نه دی .

(لسم حکم دجهاد دپاره مال لګول)

وَاَنفِقُوا فِي سَبِيلِ اللهِ : په دی حکم سره په مسلمانانو دالازم ګرځول سوی دی چی دضرورت په اندازه په جهاد (دالله ﷻ په لار) کی خپل مالونه لګوی فقهاؤ رحمهم الله ددی څخه داحکم ثابت کړی دی چی په مسلمانانو دفرض زکوٰة دورکولو څخه علاوه خپل مالونه په نورو ځایونوکی هم لګول فرض دی چی هغه دزکوٰة په شان نه خو دهمیشه دپاره وی او نه دهغه دپاره څه نصاب اواندازه ټاکل سوی ده بلکه پرهر مسلمان دا فرض دی چی دضرورت په اندازه په جهادکی خپل مالونه ولګوی که ضرورت نه وو نو بیافرض نه دی ، دجهاد خرڅ هم په دی کی دا خل دی .
د. **وَلَا تُلْقُوا بِاَيْدِيكُمْ اِلَى التَّهْلُكَةِ** : لفظی معنیٰ ښکاره ده چی دخپله لاسه خپل ځان په هلاکت کی غورځول منع دی ، په هلاکت کی خپل ځان غورځول دلته اوس څه معنیٰ لری ؟ په دی کی مفسرین مختلف اقوال کوی امام جصاص رازی رحمه الله (ج۱ ص۳۰۹) په خپل خیال کی ددی تولو جوړښت راولی اووایی چی داټول قولونه مراد اخیستل کیږی ، حضرت ابویوب انصاری رضی الله عنه فرمایلی دی چی ، دا آیت زمونږ په باره کی نازل سوي دی ، مونږ ددی په تفسیر ښه پوهیږو ، خبره دا ده چی اسلام څه وخت دالله ﷻ په فضل غالب او قوی سو ، نو مونږ دا خبری اتری وکړی چی اوس دجهادڅه ضرورت دی؟ په خپل

وطن کی به پاته کیږو اوخپل مال اوجائیداد به سنبالوو نودا آیت نازل سوچی دایی وښوول چی دهلاکت څخه مطلب جهاد نه کول دی او ددی څخه ثابته سوه چی دجهادنه کول اوپریښوول دمسلمانانو دهلاکت اوتباهی سبب دی ، هم دغه وجه ده چی حضرت ابوایوب انصاری ﷺ ټول عمرجهاد وکی، تردی چی په قسطنطینیه کی شهید سو اوهلته دفن سو، دحضرت ابن عباس ﷺ حذیفه ﷺ قتاده ﷺ مجاهد ﷺ اوضحاك ﷺ غوندی امامانو دتفسیر څخه هم دغه ډول مضمون نقل دی حضرت براء بن عازب ﷺ فرمایی چی دخپلو گناهونو په وجه دالله ﷻ درحمت اومغفرت څخه نا امیدی کول دخپله لاسه ځان هلاکول دی نوځکه داسی ناامیده کیدل حرام دی .

څه عالمانو داهم فرمایلی دی چی دالله ﷻ په لارکی داسی بی دریغه مال لگول ځان دخپله لاسه هلاکول دی او(ناجائز) اسراف دی په کوم کی چی د اهل اوعیال اوبال و بچ حق ضائع کیږی ، څه علماء دهلاکت دامطلب بیانوی چی ددښمن سره په جنگ کولوکی خپله بربادی اوشکست په اندازه لگولو باندی وینی اوبیاهم ورسره جنگ کوی ، او دجصاص دفرمان مطابق دا ټول احکام ددی آیت څخه ثابتیږی .

وَاَحۡسِنُوۡا اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الۡمُحۡسِنِيۡنَ : دا جمله دټولو کارونو په ښه ډول دکولو شوق رابیدار وی ، کار په ښه ډول کولو ته قرآن احسان وایی دا احسان یو په عبادت کی او دوهم په خپلو معاملو او دانسانانو سره په روزانه تعلقاتو کی کیدی سی لکه نبی کریم ﷺ په حدیثِ جبریل کی داحسان تفسیر داسی فرمایی چی عبادت داسی کوی لکه چی تاسی خدای وینی گوریٔ که دا تصور نه سی قائمولی نو لږ تر لږه دا اعتقاد جوړول خو ډیر ضروری دی چی خدای ﷻ تاسی وینی ، او دخپل مینځ په معاملو اوروزمره تعلقاتوکی داحسان تفسیر دمسندِ احمد په حواله حضرت معاذ ﷺ دنبی کریم ﷺ څخه داسی روایت کوی چی ، تاسی دټولو خلگو دپاره هم هغه خوښوی کوم چی دځان دپاره خوښوی اوکوم یوشی چی دځان دپاره بدگنی هغه دنورو دپاره هم بدگنی (مظهری ج۱ ص۲۱۶)

وَاَتِمُّوا الۡحَجَّ وَالۡعُمۡرَةَ لِلّٰهِ ؕ فَاِنۡ اُحۡصِرۡتُمۡ فَمَا اسۡتَيۡسَرَ مِنَ الۡهَدۡىِ ۚ وَلَا تَحۡلِقُوۡا رُءُوۡسَكُمۡ

اوپوره کوی حج اوعمره دالله دپاره بیاکه چیری تاسی بند کړل سی نو په تاسی دی هغه چی کوم آسان وی له قربانی

حَتّٰى يَبۡلُغَ الۡهَدۡىُ مَحِلَّهٗ ؕ فَمَنۡ كَانَ مِنۡكُمۡ مَّرِيۡضًا اَوۡ بِهٖۤ

اومه خریی سورنه خپل ترڅوچی ونه رسیږی ځای دحلالی ته بیا چی په تاسی کی څوك مریضان وی یاهغه ته

اَذًى مِّنۡ رَّاۡسِهٖ فَفِدۡيَةٌ مِّنۡ صِيَامٍ اَوۡ صَدَقَةٍ اَوۡ نُسُكٍ

تکلیف دسره نو بدله دی ورکړی دروژی یادخیرات یادقربانی

فَإِذَا أَمِنتُمْ فَمَن تَمَتَّعَ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ فَمَا اسْتَيْسَرَ

بیا چی ستاسی زړه جمع سی ، نو چی څوک فائدی پورته کړی عمره یوځای کړی دحج سره نو په هغه ده کومه

مِنَ الْهَدْيِ فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ فِي الْحَجِّ

کومه چی آسانه قربانی ، بیا چی څوک پیدا نه کړی قربانی نو روژی دی ساتی دری ، دحج

وَسَبْعَةٍ إِذَا رَجَعْتُمْ تِلْكَ عَشَرَةٌ كَامِلَةٌ ذَٰلِكَ لِمَن لَّمْ يَكُنْ

په ورځو کی او ووه روژی ، چی کله تاسی وګرځی ، دا لس روژی سوی پوره ، دا حکم هغه چا دپاره دی چی

أَهْلُهُ حَاضِرِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ

دهغوی کور والا نه وسیږي مسجد حرام سره ، او وبیریږي دالله ﷻ څخه او پوهه سی چی

شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿١٩٦﴾ الْحَجُّ أَشْهُرٌ مَّعْلُومَاتٌ فَمَن فَرَضَ فِيهِنَّ

بیشکه دالله تعالی عذاب سخت دی ، دحج څومیاشتی دی معلومی نو بیا چی چا په خان ومنل په دی

الْحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوقَ وَلَا جِدَالَ فِي الْحَجِّ وَمَا تَفْعَلُوا

کی حج نو ښځی سره بی پردی کیدل روا نه دی او نه ګناه کول او نه جګړه کول دحج په زمانه کی او چی تاسی کوی

مِنْ خَيْرٍ يَعْلَمْهُ اللَّهُ وَتَزَوَّدُوا فَإِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوَىٰ وَ

څه نیکی نو خبر دی په هغه الله ﷻ او دلاری توښه اخلی چی بیشکه ښه فائده دلاری دتوښی خان ساتل دی

اتَّقُونِ يَا أُولِي الْأَلْبَابِ ﴿١٩٧﴾ لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَن تَبْتَغُوا

دسوال څخه ، او زما څخه وبیریږي ای هوښیارانو ! څه ګناه نسته په تاسی چی لټوی فضل دخپل پروردګار

فَضْلًا مِّن رَّبِّكُمْ فَإِذَا أَفَضْتُم مِّنْ عَرَفَاتٍ فَاذْكُرُوا اللَّهَ

بیا چی طواف دپاره راوګرځی دعرفات څخه نو بیا یاد وی الله تعالی

عِندَ الْمَشْعَرِ الْحَرَامِ وَاذْكُرُوهُ كَمَا هَدَاكُمْ وَإِن كُنتُم مِّن

نژدی مشعر حرام سره ، او یادوی هغه څنګه چی یی تاسی ته وښودل او بیشکه واست تاسی

قَبْلِهٖ لَمِنَ الضَّآلِّيْنَ ﴿١٩٨﴾ ثُمَّ اَفِيْضُوْا مِنْ حَيْثُ اَفَاضَ النَّاسُ

ددې څخه مخکې نا خبره ، بيا طواف دپاره راګرځئ تول خلق اوبخښنه غواړئ

وَاسْتَغْفِرُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٩٩﴾ فَاِذَا قَضَيْتُمْ

دالله ﷻ ، بيشکه الله ﷻ بخښونکی دی مهربانه ، بيا چې پوره کړئ تاسې

مَّنَاسِكَكُمْ فَاذْكُرُوا اللّٰهَ كَذِكْرِكُمْ اٰبَآءَكُمْ اَوْ اَشَدَّ ذِكْرًا ؕ فَمِنَ

دحج خپل کارونه نو ياد کړئ الله ، څنګه چې به يادول تاسې خپل پلاران او نيکونه بلکه ددې

النَّاسِ مَنْ يَّقُوْلُ رَبَّنَآ اٰتِنَا فِى الدُّنْيَا وَمَا لَهٗ فِى الْاٰخِرَةِ مِنْ

څخه هم زيات ياد کړئ ، بياځه خلق خو وايي اى پروردګاره زمونږ ! راکړې مونږ له دنيا کې اونسته هغه له پاره

خَلَاقٍ ﴿٢٠٠﴾ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّقُوْلُ رَبَّنَآ اٰتِنَا فِى الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِى

په آخرت کې هيڅ برخه ، اوځه په دوى کې وايي اى پروردګاره زمونږ راکړې ته په دنيا کې مونږ ته ښه والى او په

الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿٢٠١﴾ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ نَصِيْبٌ مِّمَّا

آخرت کې ښه والى اوساتې مونږ دعذاب د دوږخ څخه ، هم دى کسانو دپاره برخه دخپلې ګټې څخه

كَسَبُوْا ؕ وَاللّٰهُ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ﴿٢٠٢﴾ وَاذْكُرُوا اللّٰهَ فِىْٓ اَيَّامٍ مَّعْدُوْدٰتٍ ؕ

او الله تعالى ژر حساب اخيستونکى دى ، اوياد کړئ الله ﷻ په څو ورځو دشميرکې.

فَمَنْ تَعَجَّلَ فِىْ يَوْمَيْنِ فَلَآ اِثْمَ عَلَيْهِ ۚ وَمَنْ تَاَخَّرَ فَلَآ اِثْمَ

بياچې څوک ژر ولاړې په په دوو ورځو کې نسته ګناه په ده ، او چې څوک پاته سو نو په هغه هم څه

عَلَيْهِ ۙ لِمَنِ اتَّقٰى ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّكُمْ اِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿٢٠٣﴾

ګناه نسته کوم چې بيريږي ، اوبيريږي دالله تعالى څخه اوپوه سئ چې تاسې تول به دهغه په خوا کې جمع کيږي

دتفسير لنډيز

﴿ يولسم حکم دحج او عمرې په باره کې ﴾

او (کله چی حج یاعمره کول وی نو دا) حج اوعمره دالله د (راضی کولود) پاره پوره اداکوی (چی اعمال او آدب هم تول په ځای راوړی اونیت موهم سوچه دثواب وی) بیاکه چیری (دځه دښمن یادناروغی په وجه دحج اوعمری دپوره کولو څخه) عاجزه سی نو (په دی حال کی دا حکم دی چی) دقربانی حیوان چی کوم په لاس درسی (هغه دی حلال (ذبح) کی او دحج اوعمری کوم شان اوحالت چی یی جوړکړی وی هغه دی ختم کی کوم ته چی احرام ماتول ویل کیږی اودهغه طریقه سر خریل دی اودوریښتانو دپریکولو هم دغه حکم اواثردی) او (داسی نه ده چی دعاجزه کیدو سره سمدستی تاسی ته احرام ماتول رواسی بلکه) خپل سرونه (داحرام ماتولوپه غرض) ترهغه وخته پوری مه خریاست ترڅوچی (هغه) قربانی (په دی حالت کی دحلالولو حیوان) خپل ځای ته ونه رسیږی (او دا خپل ځای هم دحرم علاقه ده په کوم کی چی ددی قسم قربانی حیوان حلالیږی ، که چیری په خپله هلته نه سی تلی نو دبل چاپه لاس دی ولیږی اوحلال دی سی چی حیوان حلال (ذبح) سی نو هله به احرام ماتول روا وی) البته که چیری څوك په تاسی کی (څه) ناروغ وی یادهغه په سرکی څه (زخم درد یادشپږو) تکلیف وی (او ددغه ناروغتیا یاتکلیف په وجه دمخکی څخه دسرخریلو ضرورت پیښ سی) نو (اجازت دی چی سروخریی) فدیه (یعنی ددی شرعی بدل) دی ورکی (که غواړی په درو) روژو (نیولو) سره یا (شپږو مسکینانوته دهریوه پرسر دسرسایی برابر یعنی نیمه کاسه غنم د) خیرات (په ډول ورکولو) سره یا (دیوه سرلی په) حلالولو سره بیاچی تاسی دامن په حالت کی یاست (چی یاخوده ته څه بیره یاپریشانی نه وی ورپیښ سوی یاد ورپیښیدو سره ختم سوی وی) نو (په دی صورت کی دحج اوعمری متعلق قربانی کول دهرچا پرذمه نسته بلکه خاص) پرهغه کس چی عمره دحج سره په یوځای کولوکی یی نفع پیداکړی وی (یعنی دحج په ورځوکی یی عمره هم کړی وی) نو (یواځی پرهغه واجب دی) چی کومه قربانی ترلاسه سی (حلال دی یی کی اوچاچی یوازی عمره کړی وی یایوازی حج نو پرهغه هیڅ قربانی نسته) بیا (دحج په ورځوکی) که چی (حج اوعمره یوځای کوونکی) کس ته دقربانی حیوان په لاس ورنه سی (لکه غریب اومفلسه وی) نو (دهغه پرذمه دقربانی پرځای) ددرو ورځو روژی (نیول) دی په (ورخود) حج کی (چی آخریی دذوالحجی دمیاشتی نهمه نیته جوړیږی) اواوه ورځی وروسته دحج (څخه دواپسی) په ورځوکی (چی حج وکی واپس دحج دځایه راځی اوکه نه راځی) داپوره لس (ورځی روژی) سوی (اوداهم یادلری چی اوس کوم دحج اوعمری یوځای کولو حکم سوی دی) دا (یوځای کول دهریوه دپاره صحیح نه دی بلکه خاص) دهغه کس دپاره (صحیح) دی چی دچا اهل (اوعیال وکورنی) دمسجدحرام (یعنی دکعبی) په خوا (ووشا) کی استوگنه نه کوی (یعنی دمکی دحرم حدود دهغه داستوگنی ځای نه وی) او (ددی تولو احکاموپه ځای راوړلو کی) دالله څخه وبیریږی (چی یوځای دحکم خلاف ورزی درڅخه ونه سی) او (ښه) پوه سی چی بیشکه الله (بی پروایی اومخالفت کوونکوته) سخته سزاورکوی .

د (افعالود) حج (زمانه) څومیاشتی ده چی (دغه میاشتی مشهوری او) معلومی دی (یوه دشوال دوهمه دذوالقعدی اودریمه دذوالحجی لس ورځی) نوچی کوم سړی په دی (ورځو) کی (پرخپله ذمه) حج وټاکی (چی دحج احرام وتړی) نوبیا (دغه سړی ته) نه خوځه غلطه خبره (روا) ده اونه خوځه نافرمانی (صحیح) ده او نه څه قسم جګړه (اوشر وشدت) مناسب دی (بلکه په کار دی چی هر وخت په نیکو کارونوکی بوخت وی) اوکوم نیك کارچی کوی خدای په هغه خبر دی (دهغه نیکه بدله به تاسی ته درکوی) او (کله چی حج ته روانیږی) نو توښه خامخا (دځان سره) اخلی دټولو څخه لویه خبره (اوښه والی) په (مال) لګولوکی (دسوال ګری څخه) ځان ساتل دی اوای دعقل خاوندانو! (په دی حکمونو منلوکی) زما څخه وبیرېږی (او دهیڅ حکم خلاف مه کوی)

(اوکه چیری په حج کی دتجارت سامان دځان سره په وړلوکی خیر وګنی) نوتاسی ته په دی کی لږغوندی ګناه هم نسته چی (په حج کی د) ژوند (ضروریات) ولټوی چی (ستاسی په قسمت کی) ستاسی دپروردګار دطرفه (لیکلی) دی بیاچی تاسی په عرفات (کی تر دریدو وروسته دهغه ځایه څخه) بیرته روان سی نو دمشعرِ حرام په خواکی (یعنی په مزدلفه کی دشپی تم سی) دخدای ﷻ ذکر (یاد) کوی او (ددغه ذکر (یادولو) په طریقه کی (خپله رایه مه چلوی بلکه) داشان ذکرکوی څنګه چی تاسی ته (الله ﷻ) ښوولی دی اوپه (اصل) حقیقت کی ددی (ښوولو) څخه مخکی تاسی بیخی ناخبره واست بیا (داخبره هم یاده لری چی دځانه څخه رواج جوړول روانه دی ، لکه چی قریشو جوړکړی وو ټول حاجیان به دعرفات څخه په واپسی کی مزدلفی ته راتلل اوهغوی به ګرسره عرفات ته نه تلل یوازی مزدلفی ته به راتلل) بیاتاسی ټول (که قریش دی یانور) دهغه ځایه په واپسی کی راځی دکومه ځایه چی نورخلګ په واپسی کی راځی او (دحج په حکمونو اوافعالوکی په زړو رواجونو دعمل کولو څخه) دخدای ﷻ په مخکی توبه وباسی الله ﷻ به یقیناً معافی وکی اومهربانی به وکی.

(په جاهلیت کی دڅه خلګوداعادت ووچی دحج څخه به خلاصیده نوبه په منٰی کی راجمع سول اودخپلو پلرونو اونیکونو فخرونه اوښه والی به یی بیانوی حق تعالی ﷻ ددی عبثی مشغولتیا پرځای دخپل ذکر دپاره تعلیم ورکوی چی بیاکله تاسی دخپلو پلرونو (اونیکونو) ذکرکوی بلکه دا ذکر تردی (په ډیرودرجو) زیات (دی) وی (اودڅه خلګوعادت ووچی په حج کی خو به یی دالله ﷻ ذکرکوی لیکن دآخرت نه منلوپه وجه به ددوی ټول ذکریوازی ددنیا دپاره دعاغوښتل وه، حق تعالی یوازی ددنیا غوښتلوبدی بیانوی او ددی پرځای ددواړوجهانونو دخیرغوښتنو شوق ورکوی ، څه کسان (چی کافران دی) داسی دی چی (په دعاکی داسی) وایی چی ای زمونږ پروردګاره! مونږته (چی کومه راکړه وی) په دنیاکی یی راکړه (اوبس نوکه دوی ته څه ورکړه وی یوازی په دنیاکی به وی) اوداسی سړی ته به په آخرت کی (دآخرت دنه منلوپه وجه) هیڅ برخه نه رسیږی اوڅه خلګ (چی مومنان

دی) داسی دی چی (په دعاکی داسی) وایی چی ای زمونږ پروردګاره! مونږ ته په دنیاکی هم ښه والی راکړی اوپه آخرت کی هم ښه والی راکړی او د دوږخ دعذاب څخه مو وساتی (نوداخلګ دمخکی ذکرسوو خلګوپه شان بی برخی نه دی بلکه) دداسی خلګو (به په دواړو جهانوکی) غټه برخه رسیږی په برکت د دوی ددی عمل (یعنی ددواړو جهانو دخیر غوښتلو) اوالله ﷻ هم ژرحساب اخیستونکی دی (ځکه چی حساب به په قیامت کی وی اوهغه وخت په وخت رانژدی کیږی ، کله چی حساب ژرکیدونکی دی ، نو دهغه ځای ښه والی مه هیروی) او (په منی کی په خاص طریقه هم) دالله ﷻ ذکرکوی په څو ورځو دشمیرکی (خاص طریقه یی دا ده چی خاص دری ځلی په ډبرو ویشتل سی چی دشمیر ورځی دذی الحجی لسمه یوولسمه اودوولسمه نیټه ده یادیارلسمه نیټه هم په کوموکی چی دغه ځلی په ډبرو ویشتل کیږی) بیاچی کوم څوک (دلسمی ترنیټی وروسته ځلی وولی) په دوو ورځوکی (اومکی ته په واپس راګرځیدوکی) تلوار وکی نوپر هغه هم څه ګناه نسته اوچی کوم سړی په (دی) دوو ورځوکی (مکی ته په واپس راتلوکی) ځنډ وکی (یعنی په دوولسمه نه بلکه په دریارلسمه نیټه مکی ته راسی) پرهغه هم څه ګناه نسته (اوداټولی خبری) دهغه سړی دپاره (دی) چی (دخدای ﷻ څخه) وبیریږی (اودنه بیریدونکی خودګناه اوثواب سره څه کارنسته) اوداالله ﷻ څخه وبیریږی اوپوخ یقین لری چی ستاسی دټولوبه هم دخدای ﷻ سره راغونډیدل وی .

علوم او مسئلي (دحج اوعُمری احکام)

دابواب البرکومه لړی چی دسورت بقره دنیمایی څخه را روانه ده په هغه کی یوولسم حکم دحج دی، دحج تعلق دمکی مکرمی اودبیت الله شریفی سره دی ، په دی وجه ددی څه مسئلی دقبلی په بیان کی په ضمنی ډول دسورت بقره د ۱۲۵ آیت څخه تر ۱۲۸ آیت پوری یعنی د وَاِذْجَعَلْنَا الْبَيْتَ مَثَابَةً څخه تر وَاَرِنَامَنَاسِكَنَا پوری بیان سوی وی ، بیادقبلی دبحث په ختمیدوپه ۱۵۸ آیت اِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ کی دصفا اومروه په مینځ کی دسعی کولوحکم هم په ضمنی ډول بیان سوی دی، اوس د۱۹۶ آیت څخه تر۲۰۳ آیت یعنی دوَاَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ څخه د فَمَنْ تَعَجَّلَ فِيْ يَوْمَيْنِ ترآخره پوری پرلپسی اته آیتونه دحج اوعمری داحکامو اومسئلوپه باره کی دی پردی دامت اجماع ده چی حج داسلام یو رکن او دهغه ډیر یوضروری فرض دی په دی ډیر آیتونه اوبی شمیره صحیح احادیث شاهددی ، دجمهورو علماؤ دوینا مطابق دغزوه اُحُد یعنی دهجرت په دریم کال په دی آیت وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ الآية سره حج فرض سو (ابن کثیر) په دی آیت کی دحج دشرطونو ذکر دی اوسره دتوفیقه دحج په نه کولو دسخت وعید بیان دی .

دپورته ذکرسوی اتوآیتونوڅخه اولنی آیت، وَاَتِمُّواالْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلّٰهِ په اتفاق دمفسرینودحدیبیی په قصه کی نازل سوي دی کوم چی په شپږم کال دهجرت کی سوی وه معلومیږی چی په دی آیت کی دحج او دعمری خاص احکام ښوول مراد دی ، دحج فرضیت ښوول مراد نه دی ځکه چی هغه مخکی ښوول سوي دی .

(دعُمرې حکم)

په سورت آل عمران کې یوازې دحج دفرضیت بیان دی دعمرې په کښې ګرسره ذکرنشته اوپه دې آیت کې دعمرې دذکرکولو مطلب دا دې چې په احرام تړلوسره دحج اوعمرې پوره کول اوسرته رسول داسې فرض سوه لکه څنګه چې دنورو نفلي عباداتونو (لمونځ روژې اونورو) دغه حکم دی ددې آیت څخه دامسئله هیڅکله نه ثابتیږي چې عمره اداکول واجب دي یوازې دامعلومیږي چې څوك يې شروع کې نو ددې پوره کول واجب سي ، ترمذي ، احمدبیهقي په حواله ابن کثیر دحضرت جابر ﷺ څخه نقل کړي دي چې هغه درسول ﷺ څخه سوال وکی چې عمره واجب ده ؟ هغه ﷺ وفرمایل چې واجب خو نه ده لیکن که دې وکړه نو غوره اوافضله ده (ترمذي وایي چې داحدیث حسن صحیح دی) هم داوجه ده چې دامام ابوحنیفه رحمه الله اوامام مالك رحمه الله اونورو په نزد عمره واجب نه ده په تیرسوي آیت کې کله چې دابیان وسوچې دحج اوعمرې په احرام تړلو سره ددې پوره کول واجبیږي اوس داسوال پیداسوچې داحرام تړلو څخه وروسته که چیرې څه مجبوري داسې پیښه سي چې حج اوعمره نه سي اداکولی نوڅه به کیږي ؟ ددې جواب يې په فَاِنۡ اُحۡصِرۡتُمۡ سره وفرمایي .

(دداسې مجبورۍ په پیښیدو به څه کیږي چې داحرام تر تړلو وروسته حج یا عمره نه سي کولي ؟)

داآیت په واقعه دصلح حدیبیه کې هغه وخت نازل سوي دی چې حضور ﷺ اوصحابه کرامو رضي الله عنهم دعمرې احرام تړلی وو اوکفارو دوی دعمرې اداکولوڅخه داسې منع کړل چې مکې ته ددننه ورتلوڅخه يې بند کړل ، په دې کې داحکم نازل سوچې یوآسانه قرباني (دغوا سرلی یااوښ) دی په فدیه کې ورکی او احرام دې مات کې مګرپه لَاتَحۡلِقُوۡا رُءُوۡسَكُمۡ سره يې داښکاره کړه چې داحرام ماتولوشرعي صورت دسر وریښته خریل یالنډول ترهغه روانه دي ترڅوچې دهغه قرباني خپل ځای (دمکې حرم) ته ونه رسیږي او حلاله (ذبح) نسي .

خپل ځای ته درسیدلو مطلب امام اعظم رحمه الله دا ښیي چې دقرباني حیوان دحرم په حدودوکې دا خل او ذبح سي که پخپله يې نه سي کولی نو په بل چادې يې وکی، ددښمن دوجې پاته کیدل دمجبورۍ یوخاص صورت وي کوم چې په آیت کې ښکاره ذکر دی ، امام اعظم رحمه الله اوڅه نورو امامانو ناروغتیاته هم مجبوري څکه ویلې ده چې علت (بندیدل اوپاته کیدل) د دواړو شریك دی درسول الله ﷺ دعملي بیان څخه دا حکم هم ثابت سو چې دمجبورۍ په حالت کې دقرباني څخه وروسته احرام ماتول جائز دي خو بیا وروسته يې قضاراوړل واجب دي لکه چې حضور ﷺ اوصحابه و رضي الله عنهم په راتلونکی کال کې قضاراوړې وه

(دسر وریښته خریل یالنډول داحرام ماتولو نښه مقررول ددې خبرې دلیل دی چې په احرام کې داکار منع دی، ددې په مناسبت په راتلونکي حکم کې دا وښوول سوه چې کوم څوك چې دحج اوعمرې

دافعالو دادا کولو څخه مجبوره نه وی مګر په حالت داحرام کی دسر خریل یالندول دیوی مجبوری په وجه ورپیښ سی نو به څه کوی ؟

(په تړلي احرام کي که دسرخریلو مجبوري پيښه سي نوڅه به کوی)

فَمَنْ كَانَ مِنكُمْ مَّرِيضًا اَوْبِهٖ اَذًى مِّنْ رَّاْسِهٖ: سره دا ښیی چی دڅه ناروغی یادشپږوپه وجه که چیری دسر یادبل اندام دوریښتانو خریلو یالندولو مجبوری ورپیښه سی نو دضرورت په اندازه وریښته خریل یالندول روا دی خو فدیه او بدله به یی روژی خیرات یاقربانی خامخاوی ، دقربانی دپاره دحرم حدود ټاکل سوي دی ، مګر دروژو اوخیرات دپاره څه ځای نه دی ټاکل سوی په هرځای کی کیدی سی قرآن دروژو شمیر او دخیرات څه اندازه نه ده ټاکلی مګر درسول ﷺ دفرمان څخه ثابتیږی چی روژی دری دی یاشپږو مسکینانوته نیمه نیمه کاسه ورکول دی لکه څنګه چی یی کعب بن عُجره ﷺ ته دشپږوپه مجبوری کی فرمایلی وه (صحيح بخاري) داتیا ۸۰ تولو دسیر په حساب نیمه کاسه تقریبًا پاوکم دوه سیره غنم جوړیږی چی دهغه قیمت خیرات کول هم کافی کیږی.

(دحج په میاشتو کي دحج اوعمری دیوځای کولو احکام)

دجاهلیت دزمانی عربوبه داسخته ګناه ګڼله چی دشوال دمیاشتی په شروع کیدوسره دحج په زمانه کی حج اوعمره یوځای وکړل سی دآیت په آخرکی دا ښکاره سوه چی په میقات کی دننه داوسیدونکو دپاره دحج اوعمری دیوځای کولو دغه بندیز هم دغسی څکه پریښوول سو چی دعمری دپاره دوباره سفرکول دوی ته آسان دی لیکن دمیقات څخه دبهر اوسیدونکو دپاره دابندیز څکه پورته کړل سوچی دوی ته دوباره دعمری دپاره سفرکول ګران پریوزی اودحج اوعمری دیوځای کولو اجازت ورکول سو، میقات دمکی مکرمی پرشاوخوا هغه مختلف ځایونه دی چی دالله ﷻ دطرفه دټولی دنیادحج اوعمره کوونکو داحرام تړلو دپاره ټاکل سوي دی ، ددغه میقاتونو څخه احرام تړل داسی ضروری دی چی داحرام تړلو څخه بغیر ددی ځایه دمکی طرف ته پرمخ تلل جرم اوګناه ده ، د لِمَنْ لَّمْ يَكُنْ اَهْلُهٗ حَاضِرِى الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ هم دغه مطلب دی چی دهغه خلګو دپاره حج اوعمره یوځای کول روانه دی کوم چی دمیقات دننه استوګنه کوی خودحج اوعمری په یوځای کوونکو خلګو دشکرانی په ډول واجب دی چی دپسه سرلی غوا غویی یااوښ قربانی ورکی کومه یوه چی په لاس ورسی اوڅوك چی دقربانی کولومالی توفیق نه لری نو په هغه دا واجب دی چی لس ورځی روژی ونیسی دری دحج په ورځوکی چی دعرفی ترورځی ختمی سی اواوه پاته روژی دی دحج ترختمولو وروسته ونیسی که په مکه مکرمه کی یی ونیسی اوکه په بل هرځای کی یی نیسی که چادحج په ورځوکی دری روژی ونه نیول سوای نوامام ابوحنیفه رحمه الله اولوی لوی صحابه کرام رضي الله عنهم داموقف لری چی کله یی توفیق وسی هم قربانی پرواجب ده بل څه نه او دا قربانی دبل چاپه لاس هم دمکی په حرم کی کول روا دی (جصاص)

تمتّع او قِران: دحج په میاشتوکی دحج سره عمره یوځای کول په دووطریقو کیږی یو داچی دمیقات څخه دحج اوعمری په یوه واراحرام وتړی دی ته په اصطلاح دحدیثوکی قِران وایی کله چی دحج احرام ماتیږی نو دعمری دا به ورسره په خپله مات سی تردی مخکی دا احرام هیڅکله نه ماتیږی ، دوهمه طریقه دا ده چی دمیقات څخه یوازی دعمری احرام وتړی په مکه مکرمه کی دعمری دافعالو داداکولو څخه وروسته دغه احرام مات کی کله چی دترویی (اتمی ورځ دذوالحجی) په ورځ منٰی ته ځی دحرم شریف دننه احرام دحج وتړی، دی ته په اصطلاح کی تمتّع ویل کیږی، دغسی دتمتع لفظی معنٰی دحج او عمری په یوځای کولو فائده اخستل دی چی تمتع اوقِران دواړو صورتونو ته شامليږی اوپه آیت کی د فَمَنۡ تَمَتَّعَ څخه دغه دواړه مراد دی :

(دحج اوعُمری په احکاموکي بي غوری کول دعذاب باعث دی)

دآیت په آخرکی اول دتقوٰی کولوحکم دی معنٰی یی دا ده چی دالله ﷻ په احکاموکی دی دخلاف کولو څخه بیره اوځان ساتل وسی او تردی وروسته دا فرمان دی ، وَاعۡلَمُوۡٓا اَنَّ اللّٰهَ شَدِيۡدُ الۡعِقَابِ یعنی چی کوم خلګ په قصد دالله ﷻ داحکامو خلاف ورزی کوی نو دهغه دپاره دالله ﷻ سخت عذاب دی ، نن صبا اکثره حج اوعمره کوونکی ددی څخه بی پروادی ، خو ددی دواړو داحکامو دپیژندلوکوشش نه کوی که وی پیژنی نواکثره عمل نه په کوی ، دغلطو اوغلط کارو معلمانو او ملګرو دبی پروایی دوجی ډیر واجبات پاته سی ، سنت اومستحب خوګرسره په شمیرکی نه راولی الله ﷻ دی ټولوته دعمل نبه کولو توفیق ورکړی (آمین)

(دحج داحکامو دبیانولو په لړکي داتو آیتونو څخه دوهم آیت اودهغه مسئلي)

اَلۡحَجُّ اَشۡهُرٌ مَّعۡلُوۡمٰتٌ اَشۡهُرٌ د شَهۡرٌ جمع ده چی معنٰی یی ده میاشت په تیرسوی آیت کی دافرمان ووچی دحج اوعمری احرام وتړی نوضروری دی چی دهغه احکام دی پوره اداکی ، په دی دواړوکی دعمری دپاره څه نیته اومیاشت نه ده ټاکل سوی کله یی چی وغواړی نوکیدی سی، لیکن دحج دپاره میاشتی افعال اعمال وختونه اونیتی ټاکل سوي دی ، دآیت په اولنی سرکی دحج اوعمری فرق وسو دا وښوول سوه چی دحج دپاره څه میاشتی ټاکل سوی دی چی مشهوری دی اودجاهلیت اواسلام پردی ټاکلو اتفاق دی دامیاشتی شوال ذی القعده اولس ورځی دذی الحجی دی ، لکه چی په حدیث کی دابوامامه ﷺ اوابن عمر ﷺ په روایت راغلی دی (مظهری) دشوال څخه دحج دمیاشتو دشروع کیدو مطلب داراوزی چی ددی څخه مخکی دحج احرام نه تړل کیږی (یعنی روانه دی) بلکه څه امامان خوپه داسی احرام سره ګرسره دحج داداکیدو قائل نه دی ، امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله فرمایی چی په داسی احرام به حج اداسی خو مکروه به وی (مظهری)

فَمَنۡ فَرَضَ فِيۡهِنَّ الۡحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوۡقَ وَلَا جِدَالَ فِى الۡحَجِّ: په دی کی دحج احرام تړونکو ته دڅه

طريقو او كارونو دنه كولو حكم سوي دی ، دكوموځخه چی په احرام كی ځان ساتل واجب دی هغه دري شيان دی ، رفث ، فسوق ، جدال ، رفث يوجامع لفظ دی مطلب يی دا دی چی يوازی دښځی سره جماع كول نه بلكه جماع ته رابلونكی اوتياروونكی ټول حركتونه اوخبری په احرام كی حرام دی ، البته په خبرو خبرو كی اورول او اشاری كول باك نه لري.

دفسوق : لفظی معنٰی وتل دی او دقرآن په اصطلاح كی دځه علماؤ په نزد مطلب يی دحكم نه منل اونافرمانی ده او په دی كی ټول ګناهونه شامل دی نو ځكه دبعضی عالمانو په نزدعامی معناوی مراد دی ، مګرحضرت عبدالله بن عمرؓ ددی ځخه مطلب يوازی هغه شيان اوكارونه ښيی كوم چی په احرام كی بند اوناروا دی ، لكه چی دا ددی ځای مناسب تفسير دی ځكه چی عام ګناهونه خو بغير داحرام ځخه هم بند دی ، دلته مطلب هم هغه شيان او كارونه اخيستل په كار دی چی يوازی په احرام كی بند اوناروا دی.

هغه شيان چی داصل ځخه ګناه نه دی خويوازی په احرام كی ناروا كيږی شپږدی ، ۱، دښځی سره جماع كول او هغه ته رابلونكی اوتياروونكی ټول كارونه اوخبری .۲، داوچی ښكارپه خپله كول يابل ښكاری ته ښوول . ۳، وريښته خريل يانوكان پريكول . ۴، دخوشبويی استعمالول ، داځلورسره شيان دنر اوښځی دواړو دپاره په احرام كی ناروا دی ، پاته دوه شيان يوازی دنارينه وو دپاره ناروادی . ۵، ګنډلی جامی اغوستل ۶، سر يا مخ پټول ، دامام اعظم ابوحنيفه رحمة الله عليه اوامام مالك رحمة الله عليه په نزدپه احرام كی مخ پټول دښځی دپاره هم ناروا دی چی دښځی اونر د دواړو دپاره يی شريك ناروا بولی . په دی شپږو شيانوكی اولنی دښځی سره جماع كول كه ځه هم چی په فسوق كی دا خل دی بياهم په رفث كی ددی دوباره ذكركول دا ښيی چی ددی ځخه په احرام كی ځان ساتل دټولوځخه زيات ځكه ضروری دی چی په احرام كی دنورو ناروا شيانوپه كفاری اوبدل وركولوسره حج پوره كيږی ، مګر په جماع كولو سره ځينی وخت (مثلاً په عرفات كی دوقوف ځخه مخكی) حج ماتيږی اوپه راتلونكی كلونوكی ددی حج قضاء راوړل فرض ګرځی ، ځه كفاره يابدل يی هم نه سی كيدی ، او دغوا يا اوښی دقربانی كولو جرمانه به لا زياته پر راځی.

دجدال معنٰی ديو بل دراپرزولو كوشش ده نو ځكه ددی معنٰی سخته جګړه كيدی سی ځرنګه چی دالفظ عام دی دغه رنګه ځينو مفسرينو ددی هم دغه عامه معنٰی مراد اخستی ده اوځه علماؤ ددی معنٰی خاصه اخيستی ده مطلب ورځخه هغه جګړه ده چی دجاهليت دزمانی عربوبه په حج كی دوقوف دځای پرټاكلو كوله ، چابه دحقيقت په مناسبت په عرفات وقوف ضروری ګڼی اوچاپه مزدلفه كی داسی ضروری ګڼی چی ګرسره عرفات ته به تلل هم نه اوويل به يی چی يوازی په مزدلفه حضرت ابراهيمؑ وقوف كړی وو ، دحج په وختونو به هم جګړه كيدله ، چابه ددی وخت ذی القعده ګڼله

اوچابه ذي الحجه ګڼله، په دې به جګړې جوړې سوې او يو بل ته به يې ګمراه ويل په دې وجه الله ﷻ په لَاجِدَالَ سره دا ټولې جګړې داسې ختمې کړې چې فرضي وقوف په عرفات اوواجب وقوف په مزدلفه دې اوحج به يوازې دذي الحجې په ورځوکې کيږي اوس په دې خبروکې جګړې کول بند اوناروا دي.

ددې تفسيرڅخه دابنکاره سوه چې په آيت کې يوازې دهغه شيانو ذکردی کوم چې په احرام کې بند اوناروا دي ، برابره خبره ده که په عامو حالاتوکې ناروانه دې لکه خوراك څښاك اوخبرې کول چې په عام ډول بند اوناروا نه دي ، مګر اولنۍ دواړه په روژه کې او درې سره ټول په لمانځه کې بند اوناروا دي ، څه علماؤ صاحبانو دفسوق اوجدال عامه معنٰی داسې اخيستې ده چې دادواړه هروخت اوپه هرځاې کې ناروادي مګر داحرام په حالت کې دا نوره هم زياته سخته ګناه جوړه سي چې ورځې مبارکې ځاې مبارك داحرام لباس لازيات وړپه يادوې چې دا وخت اوځاې دعبادت دې نو په دې کې جنګ جګړې بد ردې اوبدې چارې کول لويه بدنصيبي اوډيره زياته سخته ګناه ده.

ددې عامې معنٰی په اعتبار سره دفسوق اوجدال بندولو اوحرامولو يوحکمت دا هم کيدې سي چې دحج په موقع انسان اکثره په دې ګناهونوکې راګيريږي څکه چې حاجي په دې وخت کې دخپل عيال اوکور والاوو څخه ډير جلاوې اوبيادمطاف مسعٰی عرفات مزدلفه اومنٰی په ګڼه ګوڼه کې خوسره دډيره احتياطه بياهم دښځو سره دسړو خامخا ګډون راځي چې په دغه وخت کې ځان په واك کې کول ډيرګران سي هم دغه وجه ده چې ترټولو اول يې د رفث حراموالی بيان کې په دې ګڼه کې دغلا اونورو ګناهونو کولو ډيرې موقعې هم په لاس راځي ، په دې وجه يې دلاَفُسُوقَ هدايت وکې دغه رنګه ګڼه ګوڼه که څه هم دځاې دتنګوالي اونورې داسې ډيرې وجې په حج کې جوړيږي چې دهغه څخه دخپلو ملګرو او نورو خلګو سره جنګ اوجګړې راولاړيږي چې په لاَجِدَالَ سره ختم کړل سي.

﴿ دقرآن بلاغت﴾

په احرام کې درفث فسوق اوجدال څخه منع کول وه چې هغه دنهي په صيغه کيدې سواې لکه ، لَاَ تَرْفُثُواْ وَلاَ تَفْسُقُواْ وَلاَ تُجَادِلُواْ ، معنٰی به يې دا وه چې رفث فسوق اوجدال مه کوې خو ددې په ځاې يې دنفي په صيغه راوړل لاَرَفَثَ وَلاَفُسُوقَ وَلاَجِدَالَ (معنٰی يې دا ده چې نسته رفث اوفسوق اوجدال) دابنيي چې ددې کول خولاپريږده دا شيان دسره په حج کې سته هم نه مطلب دا دې چې داپه حج کې ګرسره څه ځاې نه لري

وَمَا تَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ يَعْلَمْهُ اللّٰهُ :په احرام کې دبندو اوحرامو شيانو دبيانولو څخه وروسته په دې جملې سره داهدايت ورکول سو چې دحج په مبارکو اوپاکو ورځوکې يوازې دحرامو اوګناهونو څخه ځان ساتل نه دي په کار بلکه په عبادت دالله ﷻ په ذکر اونيکو کارونوکې بوختيدل غنيمت وګڼې څکه چې ستاسې هرنيك کارکول دالله ﷻ په علم کې دي چې په هغه به تا سې ته غټ غټ انعامونه درکوي.

وَتَزَوَّدُوْا فَاِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوٰى: په دی کی دهغه خلکو اصلاح کول مطلب دی ، څوك چی دتوکل په نوم تش تور دحج اوعمری دپاره روانیږی بیاپه دی سفرکی خیر غواړی (دخلقو څخه سوال کوی) په خپله هم په تکلیف کی وی اونورخلک هم تنګوی دوی ته دا هدایت وسو چی دسفرحج اوعمری ضروریات دځان سره اخستل دتوکل څخه خلاف نه دی ، بلکه دا بعینه توکل دی چی دالله ﷻ ورکړی مال اوسامان دځان سره واخلی یایی جمع کی ، لکه څنګه چی دتوکل هم دا تفسیر دنبی کریم ﷺ څخه منقول دی ، اسباب اوضروریات پریښوول توکل ګڼل داسی جهالت دی لکه چی یو سړی بی خوراکه ځان موړ بولی یابی جایداده بی کروندی اواوبو دخوړارونو غلی په طمع وی .

﴿ دحج په سفرکي تجارت یامزدوری کول څنګه دی ؟﴾

لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ اَنْ تَبْتَغُوْا فَضْلاً مِّنْ رَّبِّكُمْ : یعنی په تاسی ددی خبری هیڅ ګناه نسته چی دحج په سفرکی په تجارت یامزدوری کولو څه روزی یادالله ﷻ ورکړی رزق حاصل کی ، ددی آیت دنزول واقعه دا ده چی دجاهلیت په زمانه کی دعربوخلکو ټول عبادتونه اومعاملات په خپلوغلطو رسمونو اورواجونو شاملولو سره ګډوډ کړی وه اولوبی اوټوکی یی ورڅخه جوړی کړی وی ، هم دغه طریقه دحج په عباداتو کی به دوی کوله، دمنی په لویه ټولنه کی به د دوی خاص خاص بازارونه لګیدل نمائشونه به کیدل او دتجارتی ترقی طریقی به په کښی لټول کیدی داسلام په راتلوسره په مسلمانانو حج فرض سو ددغه ټولوعبثو رسمونو ریښی پریکړل سوی نو دالله ﷻ درضاپه لټون اودنبی کریم ﷺ په تعلیماتوځان قربانوونکو صحابه کرامو ﷺ ته دا خیال راغی چی ګوندی دحج په ورځوکی په تجارت یامزدوری کولو سره به څه ګټل هم بند اوحرام وی څکه چی دا هم دجاهلیت دخلکو کاروو تردی چی یوصاحب دحضرت عبدالله بن عمر ﷺ خواته راغی اوپوښتنه یی ورڅخه وکړه چی زمونږکسب دوخته څخه دا دی چی مونږ اوښان په کرایه چلوو څه خلګ زمونږ اوښان دحج دپاره په کرایه بیایی مونږ دهغوی سره ځو او حج کوو آیازمونږ حج به نه کیږی؟ حضرت عبدالله بن عُمر ﷺ ورته وفرمایل چی یوسړی درسول ﷺ په خدمت کی حاضر سوی وو او دهغه ﷺ څخه یی هم دا پوښتنه کړی وه کومه چی ته زماڅخه کوی هغه وخت هغه ﷺ چپ پاته سو څه جواب یی ورنه کی تردی چی دا آیت نازل سو، لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ اَنْ تَبْتَغُوْا فَضْلاً مِّنْ رَّبِّكُمْ حضور ﷺ هغه سړی را وبلی او ورته یی وفرمایل چی هو ستاسی حج صحیح دی ، دی آیت دا پوره ښکاره کړه چی په تجارت یا مزدوری سره څه ګټل ګناه نه ده خوپه فَضْلاً مِّنْ رَّبِّكُمْ کی دی خبری ته اشاره ده چی بهتری په دی کی ده چی دغه ګټه دالله ﷻ فضل اوورکړه وګڼل سی اوشکر پروسی، یوازی مال راټولول مقصود ونه ګڼل سی څنګه چی دعربو کفاروحج دتجارت منډی اودنمائش ځای ګنی اوپه لَاجُنَاحَ عَلَيْكُمْ کی دی دوهمی خبری ته اشاره ده چی داسی ګټل ګناه نه ده ، البته په دی کی دااشاره هم کیدی سی چی په تجارت اومزدوری سره دګټلو څخه که

ډېره وسې نو دا به څکه بهتره وي چې په اخلاص کامل کې فرق را نه سي ، اصل مسئله دا ده چې که چيرې ديو سړي اصل مقصد اونيت مال گټل تجارت يامزدوري وي خو ورسره تبعًا دحج نيت وکي يادواړه نيتونه په برابره درجه کې وي نو دا د اخلاص خلاف خبره ده چې دحج ثواب په کميږي او دحج سره مناسب پوره برکات نه په حاصليږي اوکه چيرې اصل اراده اونيت يې دحج وي ليکن دحج يادکورني ضروريات په باره کې يې لاس تنگ وي چې دهغه دپوره کولو دپاره څه محنت مزدوري ياتجارت وکي نو دا داخلاص سره سمون خوري اوداخلاص منافي نه ده خو بياهم بهتره خبره دا ده چې دحج خاص ورځې په عبادت او ذکرکې تيرې سي هم دغه وجه ده چې ځينې علماؤ په دغه پنځو ورځو کې تجارت او خواري اومزدوري کول ناروا گڼلي دي .

(په عرفات اودهغه څخه په مزدلفه وقوف)

ددې څخه وروسته په دې آيت کې ارشاددې ، فَإِذَا أَفَضْتُمْ مِنْ عَرَفَاتٍ فَاذْكُرُوا اللّٰهَ عِنْدَ الْمَشْعَرِ الْحَرَامِ وَاذْكُرُوهُ كَمَا هَدَاكُمْ وَإِنْ كُنْتُمْ مِنْ قَبْلِهِ لَمِنَ الضَّالِّيْنَ : معنٰی يې دا ده چې ، کله چې تاسې دعرفات څخه بيرته روانيږئ نو دمشعر حرام په خواکې دخداى ﷻ ياد کوئ او داسې يادول کوئ څنگه چې يې تاسې ته ښوولي دي او په حقيقت کې دالله ﷻ دښوونې څخه مخکې تاسې بيخي ناخبره واست په دې کې دا خبره وښوول سوه چې دعرفات څخه په واپسۍ کې په مزدلفه قيام کول (تم کيدل) اوپه هغه خاص ذکرکول واجب دي ، عرفات دجمع لفظ دي دلته ديوخاص ميدان نوم دي دکوم شاوخواچې څلورسره پولې مشهورې دي دحرم څخه دباندې پروت دي دغلته دعرفې په ورځ دلمر دځرخيدو دوخت څخه ترمانښامه پاته کيدل دحج په ډيرو ضروري فرضوکې حساب دي چې دهغه دپاته کيدو اوقضا کيدو هيڅ کفاره اوفديه نه سي کيدى، دې ميدان ته عرفات په ډيرو وجوهو ويل کيږي ښکاره وجه په کښې دا ده چې په دې ميدان کې دخپل رب معرفت اودعبادت اوذکرپه وجه دالله ﷻ نژديکت حاصليږي، بله وجه يې دا ده چې دټولې دنيا مسلمانان دلته يوبل پيژني ، قرآن کريم په دې خبره زور ورکوي چې دعرفې دورځې په ماښام دعرفات څخه په واپسۍ کې دمشعرِ حرام په خواکې تم کيدل په کار دي ، مشعرحرام په مزدلفه کې ديوغر نوم دي دمشعرمعنٰی شعار(خاص نښانه) ده اودحرام معنٰی مقدس اومحترم ده مطلب يې دا سو چې دا غر داسلامي شعار ښکاره کولو دپاره يومقدس اوپاك ځاى دي ددې خوا اوشا ميدان په مزدلفه بلل کيږي ، دلته شپه تيرول اودماښام اوماخستن لمونځ په يوه وار اويوځاى کول واجب دي دمشعر حرام سره نژدې دالله ﷻ يادول دغسې خو په مشعر حرام کې دالله ﷻ هرقسم ذکرکيدى سي ، مگر دماښام اوماخستن لمونځ دغلته پريوه ځاى اداکول ددغه ځاى يوخاص عبادت دي ، دآيت دا برخه وَاذْكُرُوهُ كَمَا هَدَاكُمْ دې خبرې ته اشاره لري چې ذکر دي په هغه ډول وسي کوم چې دماښام اوماخستن لمونځونه دي په خپلو وختونو کې جلا جلا اداسي، ليکن الله ﷻ ته دا

خوښه ده چې دلته دې په دغه ورځ دمابنام لمونځ ماخستن ته ورروسته سي او دهغه سره دې یوځای اداسي وَاذْكُرُوْهُ كَمَاهَدٰكُمْ څخه دااصولي مسئله هم څرګندیږي چې دالله ﷻ په ذکر اوعبادت کې انسان په خپله خوښه عمل نه سي کولی چې په کښې زیاتوالی اوکموالی وکړي یامخکې والی او وروسته والی وکړي، بلکه دا یوازې دشریعت په ټاکل سوو طریقو کولو به عبادت او ذکرګڼل کیږي چې دهغه څخه خلاف کول الله ﷻ نه خوښوي، دآیت دابرخه دا غلطي هم ښکاره کوي چې په نفلي عبادتونو اوخیراتونوکې دخپله ځانه څه زیاتوب کول یا خصوصیت ټاکل چې الله ﷻ اورسول ﷺ یې ضروري نه ګڼي دجاهلیت عبادت بلل کیږي کوم چې دوی دخپله ځانه څه طریقې جوړې کړې وې یابه یې دخپله ځانه جوړو کړو طریقو ته عبادت وایه ، تردې وروسته په دریم آیت کې ارشاددی ، ثُمَّ أَفِيضُوا مِنْ حَيْثُ أَفَاضَ النَّاسُ وَاسْتَغْفِرُوا اللّٰهَ إِنَّ اللّٰهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ : معنٰی یې دا ده چې بیاستاسې دټولو دپاره ضروري ده چې له هغه ځایه راکښته سي له کومه ځایه چې نورخلګ راکښته کیږي اودالله ﷻ په مخکې توبه کوي یقینًابه الله ﷻ معافي اومهرباني وکي ، ددې جملې شانِ نزول دا دی چې قریش دبیت الله شریفې محافظان اوهمسایګان وه ، ټولو عربو د دوی اقتدار منی او د دوی ځان ته یوشان وو ، هم دا وجه وه چې دوی به په مزدلفه (حرم) کې ودریدل او دحرم څخه دباندې پرعرفات وقوف به یې دخپل شان خلاف داسې ګڼې چې مونږ دبیت الله شریف محافظان اوګاونډیان یو ، زمونږ به څه خصوصیت پاته سي چې دنورو خلګو په رنګ مونږهم دحرم څخه دباندې پرعرفات وقوف وکو ، دا قسم حیلې بهانې فخر غرور اوخپل خصوصي شان ثابتول الله ﷻ ته خوښ نه دي ځکه یې د دوی غلطي ښکاره کړه اوحکم یې ورکی چې دنورو خلګوپه شان عرفات ته ځی اوبیرته بیا دهغوی سره مزدلفې ته راځي .
دغسې هم خپل شان ځان ته بیل ثابتول لویې کول دي چې ډیره سخته ګناه ده ځان ورڅخه ساتل په کاردي خو دحج په ځای اوپه ورځوکې دا ځکه نوره هم سخته ګناه جوړیږي چې دحج لباس احرام قیام وقوف اومقام یو رنګ والي داسبق ورکوي چې انسان ټول برابر دي دغریب امیرعالم جاهل اودلوی کوچني هیڅ بیلتون اوفرق نسته .

(دانساني مساوات یوقیمتي سبق او دهغه ډیر غوره عملي شکل)

ارشاد قرآني داباب ښکاره کي چې لوی خلګ دې دکوچنیو خلګوڅخه ځان ته جلا اوبیل خصوصي شان په ځای استوګنه اوتم کیدو کې نه جوړوي چې یوتربله وروروليٰ همدردي محبت اوتعلق پیداسي دامیر غریب بیلتون ورك سي دمزدور اومالك جنګ ختم سي، رسول الله ﷺ دحجة الوداع په خُطبه کې دا خبره ښه ښکاره کړې وه ، فرمایي ، چې عربي پرعجمي یاسپین پر تور غوره نه دي، دښه والي بناپرتقوٰی اودخدای ﷻ پرتابعداری ده، هم دا وجه ده چې یوازې پرمزدلفه تم کیدل اوعرفات ته نه تلل ګناه وبلل سوه او دهغه څخه دتوبې کښلو او استغفار کولو حکم ورکول سوچې الله ﷻ دغه ګناه معاف

کی اوخپل رحمت وکی .

(په منی کی دجاهلیت درسمونو اصلاح او دبی ځایه غونډو کولو بندیز)

په څلورم پنځم اوشپږم آیت کی دجاهلیت دیوڅو رسمونو اصلاح وسوه دجاهلت دعربو یودارسم ووچی دعرفات مزدلفی طواف اوقربانی څخه په خلاصیدوبه چی کله منی ته راغلل نوهلته به یی مشاعری کولی په خپلو اودخپلو پلرونو اونیکونو کارنامی اوپه هغه فخرونه به یی بیانول، په دی تولنوکی به دالله ﷻ ذکر نه وو دا مبارکی ورځی به یی په عبثو او بی فائدی شیانوکی تیرولی دغه وجه وه چی ارشاد وسو (کله چی تاسی داحرام کارونه پوره کی اوپه منی کی تم سی نوهلته دالله ﷻ ذکرکوی، دخپلو پلرونو نیکونو درواغ او رښتیا کارنامی بیانول اوپه هغه فخرکول پریږدی څومره چی تاسی هغوی یادوی نو هغومره بلکه تردی هم زیات الله ﷻ یادوی دالله ﷻ په ذکرکی مشغول اوسیږی ، دقرآن دی آیت دعربو یوجاهلانه رسم مات کی ، مسلمانانوته یی دا هدایت وکی چی دا ورځی اومقام دالله ﷻ دعبادت اوذکر دپاره ټاکل سوي دی چی دهغه برکات اوښه والی به بیاپه لاس درنه سی داغنیمت ګڼل په کاردی

بله خبره دا ده چی حج داسی یوعبادت دی چی اکثره داوږدو سفرونو دتکلیف داهل او عیال دجدایی دکار اوروزګار دپرینښوولو دزرګونو روپو اوډیر وخت لګولو څخه پس حاصلیږی په دی کی داسی هم پیښیږی چی انسان سره دکوششه په خپل مقصد (حج) کی کامیاب نسی کله چی الله ﷻ په خپل فضل داټول بندیزونه لری کړل اوپه خپل مقصدکی یی کامیاب کی دحج فرائض مو پوره کړل نودالله ﷻ شکر داسی په کار دی چی تردی زیات دالله ﷻ ذکر وکی ، دا وختونه په عبثو ټولنو عبثو کارونو اوخبروکی تیرنه کی دجاهلیت دزمانی خلګو به دپلرونو نیکونوکمی یادګیرنی چی کولی په هغه کی ددین اودنیا هیڅ فائده نه وه ، تاسی دهغه په ځای دالله ﷻ ذکر کوی کوم چی ددنیا اوآخرت دواړو دپاره ټول نور نور او نفع نفع ده ، نن صباخو په مسلمانانوکی دجاهلیت دارسمونه برابره خبره ده که پاته نه دی مشاعری نه کوی اودپلرونو نیکونو فخریه کارنامی نه بیانوی مګرپه زرګونو مسلمانان اوس هم سته چی داورځی په عبثو ټولنو دعوتونو اوسیلونوکی تیروی ، دا آیت دهغوی دخبرداری دپاره بس دی .

څه مفسرینو رحمهم الله ددی آیت په تفسیرکی فرمایلی دی چی تاسی الله ﷻ داسی یادوی لکه په کوچنیوالی کی چی ماشوم خپل پلار یادوی اودټولوڅخه زیاتی خبری دهغه دا وی چی ای پلاره! ای پلاره! تاسی اوس عاقلان بالغان اوځوانان یاست دای پلاره! ای پلاره! پرځای ای ربه! ای ربه! وایاست او دا فکر وکی چی ماشوم په هرکارکی خپل ځان دپلار محتاج ګڼی، انسان که لږفکروکی نوهغه به خپل ځان ترهغه زیات دالله ﷻ محتاج ګڼی ، څنګه چی ماشوم خپل ځان دپلارمحتاج ګڼی هم داشان

څه خلګ خپل پلار په فخرسره داسې يادوي لکه څنګه چې دجاهليت خلګوبه خپل پلرونه په فخرسره يادول نوپه دې آيت کې الله ﷻ دا هدايت هم وکې چې دفخر اوعزت دپاره هم دالله ﷻ ترذکربل شي زيات مؤثرنه دي .

(دجاهليت ديوبل رسم اصلاح او ددين اودنياپه غوښتلو کي اسلامي ميانه روی)

دجاهليت دا يو عبث رسم ووچې په دې مبارکو ورځوکې به يې خپل پلرونه اونيکونه يادول او مشاعرې به يې کولې هم داشان دځينو خلګو داعادت ووچې دحج په ورځوکې به يې دالله ﷻ ذکر اودعاګانې کولې ليکن داټولې دعاګانې به ددنيا دحاجتونو راحتونو عزتونو اودولتونو دپاره وې دآخرت فکر به يې نه وو دداسې قسم خلګو داصلاح دپاره دآيت په آخرکې ارشاد سوی دی چې څه خلګ هغه دي چې په حج کې يوازې ددنيا دګټې دعاګانې کوي دآخرت غم ورسره نه وي ددغه خلګوبه په آخرت کې هيڅ برخه نه وي ځکه چې داعمل ښيي چې د دوی حج درسم پوره کول وو يادودنيا دفخر اوبډايي دپاره، دالله ﷻ رضا او دآخرت خلاصي اوکاميابي ګرسره د دوی په خيال کې هم نه راځي .

يوازې ددنياوي دعا غوښتلو والاوو ذکر په دې آيت کې داسې سوي دی ، رَبَّنَا اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا ددې سره د حَسَنَةً دلفظ ذکرنسته چې په کښې اشاره دې طرف ته ده چې دوی په دنياکې هم دښه والي غرضيان نه دي ، يوازې داغواړي چې خواهش به يې څنګه پوره سي که ښه وي اوکه خراب ددې خبرې معلوميدو دا وجه ده چې ددنيا دعاغوښتونکي په خپلو دعاګانو کې دحَسَنَةً لفظ نه وايي ، په دې آيت کې هغو مسلمانانوته خبرداری دی کوم چې په حج يا په پاکو ځايونو کې خپلې اکثره دعاګانې ددنياوي غرضونو دپاره کوي که پام وکړل سي نواکثره مالداره اوغټ خلګ په خپله يادنورو بزرګانوپه ذريعه دخپل دولت اوتجارت دترقي په غرض دعاګانې اووظيفې کوي په دې غرض ټولې وظيفې اونفلونه کول عبادت ګڼي خو دا دنيا پرستي ده ، کوم خلګ چې دژوندو يامړو بزرګانو سره په دې غرض تړون يا عقيدت لري چې دهغوی په دعا ياتعويذونو به د دوی کارونه کيږي ، ددنيا آفتونه او تکليفونه به ورځخه ليرې کيږي او په مال کې به يې برکت وي، دا آيت ددې قسم خلګو دپاره خاص هدايت لري ، کارونه اومعاملې ټولې دالله ﷻ په اختيارکې دي ، هر سړی دې دخپلو عملونو پاملرنه کوي چې په وظيفو نفلونو اودعاګانو کولوکې هغه څه نيت لري اوپه حج اوزيارت کې دهغه نيت څه دی ؟ ددې آيت په آخرکې دکم نصيبو او بدقسمته خلګو دبيان کولو څخه وروسته الله ﷻ دخپلو نيکو اومقبولو بندګانو ذکر دارنګه فرمايلی دی: وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّقُوْلُ رَبَّنَآ اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِي الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ. يعنې په دوی کې داسې خلګ هم سته چې په خپلو دعاګانوکې دالله ﷻ څخه ددنيا اوآخرت دواړو فائدې اوګټې غواړي اودجهنم دعذاب څخه پناه غواړي، دلته د حَسَنَةً لفظ ټولو ظاهري باطني ښو اوفائدوته شامل دی، مثلاً ددنياپه حَسَنَةً کې دخپل بدن اودخپل آل اوعيال روغوالي دحلال رزق

فراخي اوبرکت تول دنیوی ضرورتونه پوره کیدل نیك عملونه ښه خویونه نافع علم عزت اومخوروالی دعقیدو سموالي اوصحیحوالی دصراط مستقیم هدایت په عبادتونوکی کامل اخلاص تول دا خل دی اودآخرت په حَسَنَةً کی جنت اودهغه بی شمیره نه فناکیدونکی نعمتونه دالله ﷻ رضامندی اودهغه دیدار تول دا خل دی ، خلاصه دا چی دا دعا همه گیره اورا غوندوونکی دعاده چی په کښی دانسان ددین اودنیا تول مرادونه راځی ، په دنیا اوآخرت کی آرام اواطمینان نصیب کیږی په آخر کی په خصوصیت سره دجهنم داور څخه دپناه غوښتوهم ذکر دی هم دغه وجه ده چی حضورﷺ به دا دعا ډیره زیاته کوله اوپه طواف کی په خاص طور دا دعاکول سنت دی ، په دی آیت کی دهغو جاهلو درویشانو اصلاح هم سوي ده ، کوم چی یوازی هم دآخرت دعا غوښتل عبادت گنی اووایی چی مونږ ددنیا پروا نه لرو ، د دوی دا دعوه څکه غلطه اوخیال یی کچه دی چی انسان په خپل میشته کیدوباقی پاته کیدوعبادت اوفرمانبرداری تولوکی ددنیوی ضروریاتو حاجتمند دی ، دا چی نه وی نو ددین هم څه کارکول گران دی، په دی وجه دانبیاءﷺ سنت دا دی چی هغوی دآخرت دگټو اوفائدوسره سره ددنیا گټی او آرام هم غواړی څوك چی ددنیاوی حاجتونو دپاره دعاکول دزهد اوبزرگی خلاف گنی هغه دانبیاوﷺ دمقام څخه ناخبره اوجاهل دی، دومره خبره ده چی دنیوی حاجتونه اصلی مرادجوړول نه دی په کار دا یوه ذریعه گڼل په کار دی ، داصلی مراد په توگه دآخرت فکر زیات په کار دی او دهغه دپاره دعا غوښتل په کار دی ، دآیت په آخرکی دهغه خلکو دانجام بیان دی چی په خپلو دعاگانوکی ددنیا اوآخرت دواړو گټی اوفائدی غواړی فرمایی چی د دوی دنیك اوصحیح عمل اودعاگانو نتیجه به دوی ته په دنیا اوآخرت دواړوکی ورکول کیږی، تردی وروسته فرمایی ، وَاللهُ سَرِيعُ الحِسَابِ، یعنی الله ﷻ ژر حساب اخیستونکی دی څکه چی دټول مخلوقات ځانته ځانته دټول عمر دذری ذری حساب په اخیستوکی دهغه محیط علم اوکامل قدرت دنورو انسانانوپه شان دسامانونو او ذریعو حاجتمندنه دی ، په دی وجه الله ﷻ به دټول مخلوق حساب ډیر ژرواخلی اوجزا اوسزابه پریناکی .

(په منی کی د دوو یادرو ورځو اوسیدل اودالله ﷻ دذکر تاکید)

دحج داحکاموپه آخری (دلته اتم) آیت کی دالله ﷻ ذکرته دحاجیانو مخ گرځول سوي دی او دحج دمقصد دپوره کولو اودراتلونکی ژوند دسمولو ورته داسی ارشاد سوي دی ، وَاذْكُرُوا اللهَ فِيْ اَيَّامٍ مَّعْدُوْدَاتٍ یعنی دالله ﷻ ذکر دشمیرپه یوڅو ورځوکی کوی چی مطلب یی ایام تشریق دی په کوموکی چی دهرفرض لمونځ څخه وروسته تکبیرونه ویل واجب دی ، بیاورپسی دامسئله بیان سوه ، فَمَنْ تَعَجَّلَ فِي يَوْمَيْنِ فَلاَ إِثْمَ عَلَيْهِ وَمَنْ تَأَخَّرَ فَلاَ إِثْمَ عَلَيْهِ :چی څوك دلوی اختر دورځی څخه وروسته دوی ورځی په منی کی تم سی اوبیرته راسی په دی کی هم په ده گناه نسته اوڅوك چی تر دریمی ورځی پوری وځنډیږی په دی کی هم په ده گناه نسته مطلب دا چی دجاهلیت دخلکو دا اختلاف اووینا کول

غلطي اوزياتي دي چي څه دذي الحجې تردولسمي نيټي پوري جمري ويشتل ضروري ګڼي اوڅه تردیارلسمي نيټي پوري اودي دوو ډلو به په خپل مينځ کي يوي بلي ته ګناهګار ويل او ديوی بلی داکار به يي ناروا بللی دآيت دمطلب خلاصه دا سوه چي په منٰی کی دلوی اختر څخه وروسته دوی ورځی تم کیدل اوجمری ویشتل یادری ورځی تم کیدل اوجمری ویشتل دواړه هیڅ باك اوګناه نه لری ، په منٰی کی دوی ورځی تم کیدل اوجمری ویشتل ضروری دی اوپه دریمه ورځ پاته کیدوکی اختیار دی ، د دوو یادرو ورځو اختیار خوورکول سوخو بهتره اوغوره خبره دا ده چی تردریمی ورځی پوری تم سی اوجمری ولی، فقهآء رحمة الله علیه فرمایی چی د دوهمی ورځی دلمر ډوبیدو څخه مخکی که څوك دمنٰی څخه راووتی نو د دریمی ورځی رمی په هغه واجبه نه ده اوکه چیری لمر په منٰی کی پر ډوب سو نو په دریمه ورځ درمی څخه بغیر بیرته راتلل روانه دی ، البته د دریمی ورځی په رمی کی داآسانی ورکول سوي ده چی دا ترسپیدو وروسته دلمرتر څرخیدو مخکی پوری هم کیدی سی .

دلِمَنِ اتَّقٰی : څخه معلومیږی چی په دوهمه یادریمه ورځ دمنٰی څخه په واپسی کی اختیار ورکول هغه حاجی ته دی کوم چی دالله ﷻ څخه بیریږی اودهغه داحکامو پابندی کوی ځکه په اصل کی خوحج هم دداسی سړی دی لکه چی قرآن کریم په بل ځای کی فرمایی ، اِنَّمَا یَتَقَبَّلُ اللّٰہُ مِنَ الْمُتَّقِیْنَ : یعنی الله ﷻ هم دهغه خلګو عبادت قبلوی چی دالله ﷻ څخه بیریدونکی اودهغه فرمانبرداره بندګان دی اوکوم سړی چی دحج څخه مخکی هم په ګناهونوکی بوخت وی اوپه حج کی هم بی احتیاطی اوبی پرواهی وکی ، دحج څخه وروسته هم دګناهونو څخه پرهیز ونه کی نو دده داسی حج سودمند خو نه سو البته فرض یی ادا سو دحج نه کولو دجرم څخه خلاص سو.

په آخرکی ارشاددی ، وَاتَّقُوا اللّٰہَ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّکُمْ اِلَیْہِ تُحْشَرُوْنَ یعنی دالله ﷻ څخه وبیریږی اویقین لری چی تاسی ټول به دالله ﷻ په خواکی راجمع کړل کیږی، هغه به ستاسی دښکاره او پټو عملونو حساب اخلی په هغه به درته جزا اوسزا درکوی ، دا جمله په حقیقت کی دتیرسوو ټولو احکامو دحج روح ده ، ددی معنٰی دا ده چی کوم وخت دحج په کارونوکی اخته یاست هغه وخت هم دالله ﷻ څخه وبیریږی ، دحج په احکامو کی څه کوتاهی مه کوی او وروسته هم په خپل حج مه مغروره کیږی ، بلکه دالله ﷻ څخه همیشه وبیریږی او دګناهونو څخه ځان وساتی ځکه چی داعمالو دتول په وخت کی به دانسان ګناهونه دهغه نیك عملونه وخوری اواثر به یی ختم کی ، په یوه حدیث کی راځی چی دحج څخه په واپسی کی به حاجی دګناهونو څخه داسی پاك اوصفاوی لکه چی نن دمور څخه پیدا سوی وی. حاجیانوته په خاصه توګه دتقوٰی اختیارولو دهدایت وجه هم دا ده چی تاسی په حج کولوسره دګناهونو څخه پاك سوی یاست په دی پسی احتیاط کوی نو ددنیا او آخرت ګټی اوفائدی ستاسی دپاره دی اوکه دحج څخه پس بیا په ګناهونوکی ګرفتارسی نو هغه مخکی صفایی اوپاکی دکاره ووته

، بلکه علماء فرمایی چی دقبول سوی حج نښه دا ده چی دحج څخه دارنګه راسی چی زړه یی ددنیا څخه لوړ سوی وی اوپه آخرت پوری تړلی وی دداسی سړی حج اودعا قبوله ګناه یی معاف وی که څوك داياد ولری چی دبیت الله شریف مخ ته هغه دالله ﷻ سره ځای پرځای دهغه داطاعت اوفرمانبرداری وعده لوظ اوقول کړي دی نو ددی پوره کول په راتلونکی عمرکی بیاځه ګران نه دی .

یوبزرګ فرمایی چی دحج څخه په واپسی کی زماپه زړه کی دیوی ګناه وسوسه راغله دغیبوڅخه یوآوازماته وسوچی تاحج نه دی کړی ؟ تاحج نه دی کړی ؟ دا آواز زما او دهغه ګناه په مینځ کی یو دیوال جوړ سو اوالله ﷻ زه دهغه څخه وساتلم .

یو ترکی بزرګ به هروخت پرځپل سربیره یونُور لیدی ، دحج کولو څخه وروسته هغه نور بیخی ورك سو، دځپل پیرمولانا جامی رحمه الله څخه یی وجه وپوښتله هغه ورته وفرمایل چی دحج کولو څخه مخکی تاته ځپل ځان ګناهګار ښکاري دی دالله ﷻ په مخکی به دی زاری ژړا اوفریاد کوی عاجزی اوانکسار در په کښی وو، مګر دحج څخه وروسته دی ځان بزرګ اونیك وګڼی مغروره سوی او دغه نور در څخه په غرور ورك سو، دحج داحکامو پر ختمیدو دتقوٰی تاکید داراز ښکاره کوی چی حج یولوی عبادت دی دانسان غټ دښمن شیطان دبزرګی اولویی خیال دحاجی په زړه کی په وراچولو سره په ده کی تکبر اوغرور راسی ، تول عمل یی بیکاره سی، هم دغه وجه ده چی الله ﷻ په آخرکی فرمایی چی دحج کولو څخه مخکی اوپه حج کی چی څنګه دالله ﷻ څخه بیره او دهغه فرمانبرداری فرض ده، ترحج کولو وروسته دانوره هم زیاته کی، هسی نه چی داسوی عبادت موبربادسی .

اَللّٰهُمَّ وَفِّقْنَا لِمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى مِنَ الْقَوْلِ وَالْفِعْلِ وَالنِّيَّةِ .

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُّعْجِبُكَ قَوْلُهٗ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَيُشْهِدُ اللّٰهَ

اوځینی انسانان هغه دی چی خوښیږي به ستا دهغه خبره ددنیا دژوند په کارونو کی او شاهد کوی الله تعالی

عَلٰى مَا فِيْ قَلْبِهٖ ۙ وَهُوَ اَلَدُّ الْخِصَامِ ﴿۲۰۴﴾ وَاِذَا تَوَلّٰى سَعٰى

دځپل زړه په خبرو او هغه سخت جګړکوونکی دی ، او کله چی بیرته ولاړ سی ستا

فِي الْاَرْضِ لِيُفْسِدَ فِيْهَا وَيُهْلِكَ الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ ؕ وَاللّٰهُ لَا

دخوا څخه نو منډی وهی په وطن کی چی خرابی په کی واچوی اوتباه کړی فصلونه اوساګانی او الله ﷻ نه

يُحِبُّ الْفَسَادَ ﴿۲۰۵﴾ وَاِذَا قِيْلَ لَهُ اتَّقِ اللّٰهَ اَخَذَتْهُ الْعِزَّةُ بِالْاِثْمِ

خوښوی فساد ، او څه وخت چی وویل سی ده ته چی الله تعالی څخه وبیرېږي نو تیاروی ده لره غرور په ګناه

فَحَسْبُهٗ جَهَنَّمُ ۭ وَلَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿۲۰۶﴾ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّشْرِيْ

نو بس دی ده لره دوزخ او بیشکه دا بد ځای دی ، او په خلقو کی یو سړی هغه دی چی خرڅوی

نَفْسَهُ ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِ اللّٰهِ ۭ وَاللّٰهُ رَءُوْفٌۢ بِالْعِبَادِ ﴿۲۰۷﴾

خپل ځان ، دالله تعالی په رضا لټولو کی او الله تعالی بی حده مهربانه دی په خپلو بندګانو .

دآیتونو ترون: په تیروآیتونو کی ددعاغوښتونکودوه قسمه ذکر سوی وه یوهغه قسم چی یواځی ددنیا دپاره دعاغواړی چی هغه کافروی اوآخرت نه منی دوهم هغه قسم دی چی ددنیا دفائدو اوګټوسره دآخرت فائدی اوګټی هم ځکه غواړی چی هغه مومن وی اودآخرت منونکی وی اوس په دی راتلونکی آیت کی دنفاق اواخلاص په اعتبارسره داډول تقسیم کول کیږی فرمایی چی څه منافقان اوڅه مخلصان دی

لنډتفسیر: (اخنس بن شُریق په نامه یو ډیرفصیح اوبلیغ سړی به دنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضري دی او داسلام لرلو ددعوی دپخولو اومضبوطولو دپاره به یی قسمونه خوړل ، کله به چی ددغه مجلس څخه ولاړی او دباندی به ووتی نوپه فساد اوورانی به یی لاس پوری کی اوخلګوته به یی تکلیفونه اونقصانونه رسول دداسی منافق په باره کی فرمایی) اوڅه خلګ داسی هم دی چی دهغه ویناکومه چی محض ددنیوی غرض دپاره وی (چی داسلام دظاهرولوپه وجه دمسلمانانوپه شان په نزدیکانو اوخاصانوکی شامل سم ، دهغه فصاحت اوبلاغت په وجه) خوندناکه ښکاره کیږی اوهغه (دخپل اعتبار دزیاتولو دپاره) الله ﷻ شاهد جوړ وی دخپل زړه پر رښتینی باندی سره ددی چی (بیخی درواغجن دی ځکه چی په واقع کی) هغه (ستاسی په) مخالفت کی (ډیرزیات) سخت دی او (ځنګه چی ستامخالف دی دارنګه نوروسلمانانوته هم ضرر رسوی) څه وخت چی (ستاسی دمجلس څخه) بیرته ووزی نو په دی منډو ترنډوکی ګرځی چی په ښارکی (څه) فسادوکی او (دچا) فصل اوحیوان تباه کی (لکه ځنګه چی دیوه مسلمان یی داسی نقصان وکی) اوالله ﷻ (د) فساد (خبری) نه خوښوی، او (په دی مخالفت اوضرر رسانی ترډی حده مغرور دی چی) کله څوک ده ته وایی چی دخدای ﷻ څخه وبریږه نو (نور زیات) تیارکی ده لره غرور پر ګناه نوداسی سړی لره بس دی (سزاد) جهنم اوهغه خراب تم ځای دی اوڅه خلګ داسی هم دی چی دالله ﷻ درضا دلټولوپه بدل کی خپل ځان (پوری) خرڅوی اوالله ﷻ دداسی بندګانو پرحال ډیرزیات مهربانه دی .

علوم او مسئلي: دآیت په آخری برخه کی دمومن مخلص دحال بیان دی کوم چی دالله ﷻ درضا دلټولو دپاره خپل سرهم قربانوی ، دا دهغه صحابه کرامو ﷺ په شان کی نازل سوی دی کوموچی بی مثاله قربانیانی دالله ﷻ په لارکی وړاندی کړي دی ، مستدرك حاکم ابن جریر مسند ابن ابی حاتم او په نورو

کی په صحیح سند سره نقل دی چی دا آیت دحضرت صهیب رومی ﷺ په هغه واقعه کی نازل سوی دی
کله چی هغه دمکی څخه مدینی ته دهجرت په غرض روان سو دقریشی کفارو یوی ټولی لار ورته بنده
کړه ، ددی په لیدو حضرت صهیب رومی ﷺ دخپلی سپرلی څخه راکښته سو او ودریدی او دخپلی
توبری څخه یی ټول غشی راوکښل اودغه ټولی ته یی دارنګه ویناشروع کړه چی ای دقریشو قبیلی!
تاسی ټول پوه یاست چی زه په غشو ویشتوکی ترتاسی ټولو زیات ماهریم زماغشی کله هم نه خطا
کیږی اواوس زه په الله ﷻ قسم خورم چی تاسی ماته ترهغه نه سی رارسیدلی ترڅوچی زما په توبره کی
یو غشی هم پاته وی دغشو دختمیدو څخه وروسته به زه دتوری څخه کاراخلم ترڅوچی په ماکی ساه
چلیږی بیاچی څه کوی راسره یی وکی تاسی که دفاندی سودا کول غواړی نو زه دخپل مال پته درکوم
کوم می چی په مکه کی پروت دی هغه مال واخلی اوزما لارپریږدی په دی دقریشو هغه ټولی راضی
سوه اوحضرت صهیب رومی ﷺ روغ جوړ دنبی کریم ﷺ په حضورکی پیش سو اوټول حال یی ورته بیان
کی، نبی کریم ﷺ دوه واره وفرمایل ، رَبِحَ الْبَیْعُ اَبَا یَحْیٰی رَبِحَ الْبَیْعُ اَبَا یَحْیٰی، ستادپاره تجارت نفع مند
سو ابایحیٰی! ستاسی سودا ګټمنه سوه ابایحیٰی! دی آیت دنبی کریم ﷺ ددی قول تصدیق وکی، څه
مفسرینو رحمهم الله علیهم ددی آیت شان نزول دنورو صحابه کرامو ﷺ دا دول واقعات ښوولی دی (مظهری)

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱدْخُلُوا۟ فِى ٱلسِّلْمِ كَآفَّةً وَلَا تَتَّبِعُوا۟ خُطُوَٰتِ
ای ایماندارو! داخل سی په اسلام کی پوره او مه خی په قدمونو

ٱلشَّيْطَٰنِ ۚ إِنَّهُۥ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ۝٢٠٨ فَإِن زَلَلْتُم مِّنۢ بَعْدِ مَا
دشیطان بیشکه هغه ستاسی ښکاره دښمن دی ، بیا که چیری تاسی وښوئیدلاست ددی څخه

جَآءَتْكُمُ ٱلْبَيِّنَٰتُ فَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ۝٢٠٩ هَلْ يَنظُرُونَ
وروسته چی تاسی ته صفا حکم راغی نوپوه سی چی الله تعالی زور آوردی حکمت والا ، ایا دوی ددی

إِلَّآ أَن يَأْتِيَهُمُ ٱللَّهُ فِى ظُلَلٍ مِّنَ ٱلْغَمَامِ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ
انتظار کوی ، چی راسی په هغوی الله ﷻ د وریځی په سایوانوکی او ملائکی

وَقُضِىَ ٱلْأَمْرُ ۚ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرْجَعُ ٱلْأُمُورُ ۝٢١٠
اوترسره سی قصه ، او الله تعالی طرف ته به راځرځیږي ټول کارونه .

دآیتونو ترون: پورته دمخلص تعریف وو خوکله په اخلاص کی غلطی اوزیاتی هم راځی ، مطلب دا چی اراده خو ددیری فرمان برداری وی مګر دا په ژور نظر دشریعت اوسنت دحد څخه وتلی وی چی نوم یی بدعت دی ، خبره دا ده چی په یهودیت کی دخالی ورځ لویه تاکل سوی وه اوداوښ غوښه حرامه کله چی عبدالله بن سلام ﷺ اونورداسی صاحبان دیهودیت څخه اسلام ته راواوښتل نو دا خیال یی وکی چی په یهودیت کی دخالی ورځ لویه تاکل سوي ده ، او د اوښ غوښه حرامه خوبل طرف ته په دینِ محمدی کی ددی دواړو خلاف کول واجب اوفرض نه دی نوکه مونږدخالی دورځی تعظیم کوو او د اوښ غوښه (حرامه نه ګڼو خو) نه یی خورو نو د دواړو دینونو او دالله ﷻ دفرمانبرداری لحاظ به وساتل سی اوځه بدیت به یی نه وی ، الله ﷻ په دی آیت کی ددی خیال اصلاح په تاکید سره دارنګه فرمایی چی اسلام کامل فرض دی مطلب یی دا دی چی په اسلام کی دځه لحاظ ساتل چی ضروری نه وی دهغه لحاظ دی نه ساتل کیږی اوکه داسی کارته څوك دین وایی نوداشیطانی دوکه ده اوددی عذاب ترښکاره ګناهونو زیات کیدی سی .

دتفسیر لنډیز: ای مومنانو! په اسلام کی پوره پوره دا خل سی (داسی نه چی څه خیال او لحاظ په کښی دیهودیت هم وساتی) او (په داسی خیال کولوسره) دشیطان پرقدمونومه ځی، رښتیا چی دی ستاسی ښکاره دښمن دی (داسی سبق درته وایی چی په ظاهرکی خو تول دین ښکاری اوپه حقیقت کی بیخی ددین څخه خلاف وی) بیاکه چیری تاسی ددی څخه وروسته چی تاسی ته ښکاره دلیلونه (احکام او داسلام دلاری شرآئع) رسیدلی دی (بیاهم دصراط مستقیم څخه) ښویدل شروع کی نویقین لری چی الله ﷻ (لوی) زورآوردی (سخته سزاورکوی اوترڅه وخته که سزاورنه کی نو په هغه دوکه مه خوری ځکه چی هغه) حکمت والا (هم) دی (دځه حکمت اومصلحت پربناکله په سزاورکولوکی وخت هم ورکوی معلومیږی) داخلګ (چی دحق دلیلونو ترښکاره کیدو وروسته کږه لارخوښه کړی) یوازی ددی خبری څارنه اوانتظارکوی چی الله ﷻ اوملائکی دوریځو په سایوانوکی دهغوی خواته (دسزا ورکولو دپاره) راسی اوټوله قصه ترسره سی (یعنی ښه! نو دا وخت به حقه خبره قبوله کی چی الله ﷻ ته دمنظوریدو وخت نه دی) او دا ټولی (دجزا اوسزا) دعوی به هم الله ﷻ ته بیرته راوړل سی (بل څوك به اختیار مندنه وی نو دداسی زورآور سره دمخالفت کولو خاتمه دخرابیدو څخه بغیر بله څه کیدی سی ؟)

علوم اومسئلی: اُدْخُلُوْا فِي السِّلْمِ كَآفَّةً : سلم دسین په زور اوزیرسره دوی معنوی لری یوه معنی صلح اوبله معنی اسلام اودلته دجمهورو صحابه کرامو ﷺ اوتابعینو رحمهم الله په نزد دا دوهمه معنی مراد ده (ابن کثیر) كَآفَّةً، په معنی دجَمِيْعًا او عامةً راځی ، دلته دالفظ په ترکیب کی حال واقع سوي دی چی دوه احتمالونه لری ، یواحتمال دادی چی دا دضمیر د اُدْخُلوا څخه حال سی ، او دوهم دا چی داسلام په معنی کی دسِلْم څخه حال ومنل سو ، په مخکی صورت کی به ترجمه وی چی تاسی په پوره

پوره ډول په اسلام کې دا خل سی ، مطلب دا چې ستاسې لاس پښې غوږونه سترګې زړه اودماغ ټول داسلام په دائره کې او دالله ﷻ په فرمانبرداری کې دا خليدل په کار دی ، داسې نه چې په لاس اوپښو باندې خو داسلام عمل وی ، ليکن په زړه اودماغ کې دی داسلام پوره ځای نه وی او يا خو په زړه او دماغ کې اسلام وی ، مګر په دی دظاهری اندامونوعمل نه وی ، په دوهم صورت کې به يې ترجمه دا وی چې تاسې په مکمل اوپوره اسلام کې دا خل سی داسې نه چې داسلام څه احکام خو قبلوی اوڅه اخوا ديخوا کوی ، کله چې اسلام دژوند دمکمل هغه نظام نوم دی کوم چې په قرآن اوسنت کې بيان سوي دی ، دهغه ترون دعباداتو اوعقائدو سره وی اوکه دمعاملو او معاشرت سره وی ، دحکومت اوسياست سره يې تعلق وی اوکه دتجارت اوکار وکسب او نورو سره وی ، نو په دی وجه دا ټول قبلول په مکمل ډول په اسلام کې دا خليدل بلل کيږی ، د دواړو صورتونو خلاصه نژدی نژدی ده ، مطلب دا دی چې داسلام ټول هغه احکام دزړه داخلاصه قبلول او عمل په کول اسلام بلل کيږی ، ددی څخه لږهم خلاف کوونکی مسلمان نه بلل کيږی، ددی آيت دشان نزول کوم چې پورته بيان سو خلاصه هم دا ده چې يوازی په اسلامی تعليماتوسترګی رغړول په کار دی که داپه پوره ډول اختيارسی نودنورو مذهبونو او ددينونو ضرورت به پاته نه سی .

خبرداری: په دی کی هغه خلقوته خبرداری دی کوم چې يوازی په مسجدونواوعبادتونوکی اسلام ګڼی لکه چې دمعاملواومعاشرت احکام دوی ګرسره داسلام برخه نه ګڼی دامرض په بی عمله ديندارو کی زيات دی څکه خوهغوی دحقونواومعاملوڅخه اوخصوصًادحقوقودمعاشرت څخه بيخی ناخبره دی داسی ښکاری چی دااحکام ګرسره داسلام نه ګڼی نه يې دمعلومولوازده کولواودعمل په کولوڅه تکل کوی نعوذ بالله لږتر لږه زما داستاد محترم سيدی حکيم الامت رحمه الله لنده رساله (آداب معاشرت) هرمسلمان نر اوښځی ته خامخا ويل په کار دی ، دالله ﷻ اوملائکو راتلل دوريځی په سايوانوکي دقيامت په ورځ به وی، دالله ﷻ داسی راتلل متشابهات بلل کيږی، دجمهورو صحابه کرامو رضي الله عنهم تابعينو رحمهم الله اودنورو بزرګانو ددين په نزد ددی مطلب دا دی چی حق اوصحيح دی وګڼل سی، دالتون دی پريږدی چی دغه راتلل به څنګه وی څکه چی دامعلومول دانسان دعقل څخه بهر دی .

سَلْ بَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ كَمْ اٰتَيْنٰهُمْ مِّنْ اٰيَةٍۭ بَيِّنَةٍ ۗ وَمَنْ يُّبَدِّلْ نِعْمَةَ اللّٰهِ مِنْۢ بَعْدِ

پوښتنه وکړه دبنی اسرائيلوڅومره ورکړی دی مونږدوی ته ښکاره نښانی خلاصی اوڅوک چی بدل کړی دالله تعالی نعمت

مَا جَآءَتْهُ فَاِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿٢١١﴾ زُيِّنَ لِلَّذِيْنَ كَفَرُوا

وروسته ترهغه چی رسيدلی وی دا نعمت هغه ته ، نو دالله ﷻ عذاب سخت دی ، عاشقان کړی دی کافران

الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا وَيَسْخَرُوْنَ مِنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۘ وَالَّذِيْنَ اتَّقَوْا

ددنیا په ژوند او دوی خاندي مومنانو پوري او کوم چي پرهیزګاردي

فَوْقَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ وَاللّٰهُ يَرْزُقُ مَنْ يَّشَآءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿۲۱۲﴾

هغو به ددې کافرانو څخه زیات پورته وي دقیامت په ورځ او الله ﷻ روزي ورکوي چاته چي وغواړي بې اندازې

دآیتونو تړون: پورته یې فرمایلي وه چي دښکاره دلائلو څخه وروسته دحق مخالفت کول دسزاباعث دي، په دې اوسني اولنی آیت کې ددې ددلیل بیان دې چي ځینو بني اسرائیلوته په داسې مخالفت کولو سزا ورکول سوې ده .

لنډتفسیر: تاسې (علمآء) دبني اسرائیلو څخه (خولږ څه) پوښتنه وکې (چي) مونږ هغوی ته (یعني دهغوی مشرانوته) څومره ښکاره دلیلونه ورکړي وه (مګر ددې څخه دهدایت حاصلولو پرځای دغه خلک برعکس پرګمراهۍ ټینګ سوه بیاوګوري سزاګانې یې هم وخوړې ، مثلاً دتورات په ورکولو دهغه قبلول هغوی ته په کار وه خو انکار یې ورڅخه وکی نو دکوهِ طور دراغورځولو ورباندې بیره سوه، دمثال په طوربله دا چي دالله ﷻ دکلام په اوریدلو سره هغه پرسر اوسترګو ایښول په کار وو لیکن هغوی په کښې شکونه اوشبهې راپورته کړې نو په تندر هلاك سوه ، دفرعون څخه دخلاصی ورکولو دپاره هغوی ته په دریاب کې وچې لارې جوړې سوې نو ددې داحسان منلو په ځای هغوی دګیلګې عبادت شروع کی او هغوی ته په سزاکې دقتل سزا ورکول سوه ، په هغوی باندې دمَنْ اوسلوٰی دنازلولو شکر یې اداکول وه خودهغه په ځای یې نافرماني وکړه نو مَنْ او سلوٰی په ورستیدو سوه ددې څخه یې کرکه وکړه نوهغه پربندسوه اودکر وکروندې مصیبت ورپغاره سو، په هغوی کې پیغمبران راتلل دغنیمت ګڼلو اوشکریې اداکولو پرځای یې دهغه پیغمبرانو قتلول شروع کړل دهغه سزاداورکول سوه چي حکومت اوبادشاهي ورڅخه واخیستل سوه ، داسې نورې ډیرې ناوړې یې دسورت بقره په اول کې بیان سوې دي) او (هم زمونږقانون دا دی چي) کوم سړی دالله ﷻ (داسې لوی) نعمت (واضح دلیلونه) بدلوی هغه ته تررسیدلو وروسته (یعني ددې څخه دهدایت دحاصلولو پرځای برعکس ګمراه جوړسي) نویقیناً الله ﷻ (داسې سړي ته) سخته سزا ورکوي .

(په دوهم آیت کې دحق دمخالفت کولو ډیر پیښیدونکې اصلي علت بیانوي چي هغه ددنیا محبت دی چي دهغه یوه نښانه داهل دینو (دینداروخلکو) سپك ګڼل هم دي ځکه چي ددنیا دغلبې په وخت کې ددین طلب نه وي بلکه دخپلو دنیوي غرضونوپه لارکې دین یودیوال وګڼي نووي غورځوي اوبیاپه دیندارو خلکو پوري خاندي لکه چي دبني اسرائیلو ځینو سردارانو اودعربو مشرکینو جاهلانوبه په

غریبو مسلمانانو پوري ټوقي کولي، ددغه خلکو داسي بیان کوي چي) دنیوي ژوند کفارو ته ښائسته معلومیږي او (په دي وجه) هغه په مسلمانانو پوري ټوقي کوي سره ددي چي دا (مسلمانان) کوم چي دکفر اوشرك څخه ځان ساتي تردي کافرانوبه په لوړه درجه کي وي دقیامت په ورځ (ځکه چي کفار به په جهنم کي وي اومسلمانان به په جنت کي) او (انسان ته ددنیاپه ډیروالي مغروره کیدل نه دي په کار ځکه چي) روزي خوچاته چي الله ﷻ غواړي بی اندازي (یعني ډیره) ورکوي (نوداپه قسمت موقوفه ده) په کمال اومقبولیت باندي نه ده چي دڅاروزي زیاتوي نوهغه دي دالله ﷻ په نزدهم عزت مندوي اولوی عزت هم هغه دي چي دالله ﷻ په نزدمعتبر وي بیاپردي بنیادخپل ځان عزتمند اوبل ذلیل ګڼل بی عقلي ده)

علوم اومسئلي: ددنیاپه مال دولت اوعزت اووعدي باندي دمغروره کیدو اوپه غریبو خلکو پوري دټوقو کولو حقیقت به دقیامت په ورځ دسترګو په وړاندي راسي، دحضرت علي مرتضیٰ ؓ څخه روایت دي چي څوك یومومن سړي یاښځه دخواري اوغریبي په وجه سپك اوذلیل وګڼي الله ﷻ به دقیامت په ورځ دغه څوك داولینو اوآخرینو په ټولي کي شرمنده اوذلیله کي اوڅوك چي په یوه مسلمان سړي یاښځي پوري د درواغو تور تړي یا داسي عیب پرهغه ولګوي کوم چي په هغه کي نه وي الله ﷻ به یي دقیامت په ورځ داور پریوه لوړه غونډي ودروي ترهغه پوري چي هغه خپل ځان درواغجن ونه بولي (داحدیث قرطبي ذکر کړي دی)

كَانَ النَّاسُ اُمَّةً وَّاحِدَةً فَبَعَثَ اللّٰهُ النَّبِيّٖنَ مُبَشِّرِيْنَ

وو ټول خلق په یو دین بیا ولیږل الله ﷻ پیغمبران زیری ورکوونکی

وَمُنْذِرِيْنَ وَاَنْزَلَ مَعَهُمُ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ لِيَحْكُمَ بَيْنَ

او بیروونکی او راکښته یی کړی د دوی سره کتاب رښتنی چي فیصله وکړی دخلقو په مینځ کی

النَّاسِ فِيْمَا اخْتَلَفُوْا فِيْهِ وَمَا اخْتَلَفَ فِيْهِ اِلَّا الَّذِيْنَ اُوْتُوْهُ

په کومه خبره کی چي هغوی جګړه کوی او نه ده جګړه اچولی په کتاب کی، مګر هم هغه خلقو

مِنْ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ الْبَيِّنٰتُ بَغْيًا بَيْنَهُمْ فَهَدَى اللّٰهُ الَّذِيْنَ

چاته چي دا (کتاب) ورکړل سوی وو، دهغه څخه وروسته چي هغوی ته ورسیدي صفا حکم خپل مینځ کی دضدله

اٰمَنُوْا لِمَا اخْتَلَفُوْا فِيْهِ مِنَ الْحَقِّ بِاِذْنِهٖ وَاللّٰهُ يَهْدِيْ

وجي بیااوس هدایت وکی الله تعالی مؤمنانو ته، دهغه (رښتیني) خبري په کومه کی چي هغوی جګړه کوله په خپل

مَنْ يَّشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۲۱۳﴾

حکم او الله تعالی ښيي چا ته چي وغواړي لاره سيده .

دآيتونو تړون: پورته وښوول سوه چي دحق دين سره داختلاف کولو علت ددنيا محبت دی اوس وروسته ددی مضمون تحقيق کيږي چي دپخوا راهيسی داسي قصه رارروانه ده چي مونږ پرحق دين باندی ښکاره دليلونه قائمو اوددنيا طلب گار دخپلو دنيوی غرضونوپر بنياد ددی خلاف لګيادی کوی .

دتفسير لنډيز: (په يوه وخت کی) ټول خلګ پريوه طريقه وه (ځکه چي په دنيا کی ترټولو اول حضرت آدم ﷺ اودهغه بی بی تشريف راوړی وو اوکوم اولادبه يی چي پيدا کيدی هغوی ته به يی دحق دين تعليم ورکوی اوهغوی به په دی تعليم عمل کوی، څه موده په دی حال تيره سوه بيادطبيعتونو داختلاف په وجه په غرضونو اومرادونوکی اختلاف شروع سو، تردی چي څه وخت وروسته په عقائدو اواعمالو کی هم داختلاف وار راغی) بيا (ددی اختلاف پورته کولو دپاره) الله ﷻ (مختلف) پيغمبران راوليږل چي (حق منونکوته به يی) (د) خوشحالي (وعدی) اوروله او (نامنونکی به يی دعذاب څخه) بيرول اوهغوی (يعنی دپيغمبرانو دمجموعی ټولی) سره (يی آسمانی) کتابونه په صحيح ډول نازل کړل (او ددغه پيغمبرانو ليږل اودکتابونو نازلول) په دی غرض (وه) چي الله ﷻ (ددی رسولانو اوکتابونوپه ذريعه داختلاف کوونکو) خلګو په مينځ کی دهغوی په اختلافی شيانو (مذهبی وو) کی فيصله وکی (ځکه چي رسولان اوکتابونه واقعی شيان ظاهر وی چي غير واقعی شيان په خپله غلط ثابتيږی ، ددی پيغمبرانو را وړل سوی کتابونه منل په کار وو اوهم په دی سره خپل اختلافات ورکول په کار وو مګر څينو خلګو هغه کتابونه ياخودسره ونه منل اويايی په کښي اختلاف کول شروع کړل) اوپه دی کتاب کی (دا) اختلاف بل هيچانه دی کړی مګر يوازی هغه خلګو چاته چي (په سرکی) هغه کتاب ورکول سوی وو (يعنی دعلم اوپوهی خاوندانو ځکه چي په سرکی مخاطب هم داخلګ وی نور اميان خلګ خو په دوی پسی روان وی اواختلاف يی په کوم وخت کی وکی) وروسته تردی چي هغوی ته واضح دليلونه رسيدلی وه (يعنی دهغوی په دماغوکی ناست اوپراته وه او اختلاف يی دڅه وجی څخه وکی يوازی) يوتربله دضد اوعناد په وجه (اودضد اصلی وجه ددنيا دمال يادمرتبی محبت وی) بيا (دکفارو دا ډول اختلاف هيڅکله هم دايماندارو دپاره مضر نه سو بلکه) الله ﷻ (هميشه) ايماندارو ته هغه حق شيان په کوموکی چي به (اختلاف کوونکو) اختلاف کوی دالله ﷻ په فضل (په رسولانو اوکتابونو دايمان را وړلو په برکت) وښوول او الله ﷻ چالره چي وغواړي ورته سمه لار وښيي .

علوم اومسئلي: په دی آيت کی دابيان سوي دی چي په يوه زمانه کی دټولو انسانانو يو مذهب يو دين يوه عقيده اويو خيال وچي هغه دحق اودفطرت دين دی ، بيادهغوی دطبيعتونو شوقونو او دسوچ

اوفکر داختلاف په وجه ډیرمختلف خیالات اوعقیدې پیدا سوې په کوموکې چې دحق اوناحق بیلتون
کول گران ووچې په دې کې حق کوم یو دی او باطل کوم یو دی ، نوالله ﷻ ددې بیلتون دښوولو دپاره
پیغمبران راولیږل اوپه هغوی یې وحی اوکتابونه نازل کړل، دانبیاءؑ دکوشش اصلاح اوتبلیغ څخه
وروسته خلګ دوې ډلې سول یوهغه خلق سوه چاچې دالله ﷻ رالیږل سوې هدایات قبول کړل اود
پیغمبرانو منونکې سوه چې مومن بلل کیږې، دوهم هغه خلګ سوه چاچې آسمانې هدایات او
پیغمبران درواغجن وګڼل، دهغوی خبره یې ونه منله دا خلګ کافران بلل کیږې ، ددې آیت په سرکې
ارشاد دی ، كَانَ النَّاسُ أُمَّةً وَّاحِدَةً :امام راغب اصفهانی رحمه الله په مفردات القرآن کې فرمایي چې په
عربي ژبه کې أُمَّةً داسې هرې ټولې ته ویل کیږې په کومه کې چې په څه وجه تړون اویو والې وې ، دا
تړون اویووالې دخیالاتو اوعقیدو وې که په یوه ملك کې دیوځای استوګنې وې یاپه بله علاقه کې
دبل نسب ژبې اورنګ وې نودټولې جملې مطلب دا دی چې په څه زمانه کې ټول انسانان یوځای اویوه
ټولې وه دلته دوې خبرې دغورکولو قابلې دي .

(۱) دیووالې څخه کوم یووالې مراد دی ؟ (۲) دا یو والې په کومه زمانه کې وو ؟

داولنې خبرې فیصله خو دآیت آخرې جملې داسې وکړه چې په ډیرو لارو کې دحقې لارې دلټولو
اوټاکلو دپاره دپیغمبرانو اوکتابونو لیږل داښيي چې دا اختلاف دعقائدو او خیالاتو وو، نو دیو
والې څخه به مراد یو والې دعقیدې مذهب فکر اوخیالاتو څکه وې چې کتابونه اوپیغمبران درنګ
نسل وطن اوزمانې داختلاف دفیصله کولو دپاره نه رالیږل کیږې ، نو دآیت ښکاره مطلب دا سو چې
په یوه زمانه کې ټول خلګ پر یوه عقیده خیال مذهب اومسلك متفق وه ، دا احتمال سته چې دغه یوه
عقیده دایمان اوتوحید وه ، او دا هم احتمال سته چې دغه عقیده دکفر اوګمراهې وه ، مګر جمهور
مفسرین رحمهم الله دا خبره ښه ګڼې چې دغه دتوحید اوایمان وه لکه چې په سورت یونس کې فرمایي .

وَمَا كَانَ النَّاسُ إِلَّا أُمَّةً وَّاحِدَةً فَاخْتَلَفُوا وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِن رَّبِّكَ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ فِيمَا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ (یونس ۱۹)

یعنې ټول خلګ یو امت وو بیاپه خپل مینځ کې اختلاف پریوتې ، اوکه چیرې دالله ﷻ دا ازلې فیصله
نه واې (چې په دې دنیاکې به حق اوباطل ښه اوبد درواغ اورښتیا یوځای چلیږې) نوقدرت الهي به
ددې ټولو جګړو داسې فیصله کړې واې چې دحق سره داختلاف لرونکو نوم به هم نه واې پاته سوې
اوپه سورة انبیاءکې فرمایي ، إِنَّ هَٰذِهِ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَّاحِدَةً وَّأَنَا رَبُّكُمْ فَاعْبُدُونِ (الانبیآء ۹۲) دا ستاسې ټولې
دی او زه ستاسې پروردګار یم په دې وجه تاسې ټول هم زماعباذت کوئ ، دارنګه په سورت مؤمنون
کې فرمایي ، وَإِنَّ هَٰذِهِ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَّاحِدَةً وَّأَنَا رَبُّكُمْ فَاتَّقُونِ (المؤمنون ۵۲) داستاسې ټولې دی اوزه
ستاسې رب یم ددې وجې هم زماڅخه وبیریږې .

ددې ټولو آیتونو څخه معلومیږې چې دیووالې څخه مطلب یووالې دعقیدې مذهب اومسلك دی کوم

چې ايمان اوتوحيد دی ، اوس ددی يووالی زمانه کمه وه ؟ دايو والی تر څومره قائم وو؟ په مفسرينو صحابه کرامو ﷺ کی دأبی بن کعب ﷺ اوابن زيد ﷺ په نزد دا دازل دورځی واقعه ده په کومه کی چې الله ﷻ دټولو انسانانو روحونه پيداکړل او وعده يې ورڅخه واخيسته چې ، اَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ (آيازه ستاسی پروردگارنه يم؟) اوټولو دا جواب ورکړی وو چې هو! ته زمونږ پروردگار يې ، دا هغه يوه حقه عقيده ده چې نوم يې ايمان اواسلام دی اوپه روزِ ازل کی ټول انسانان پرقائم وه (قرطبی)

حضرت عبدالله بن عباس ﷺ فرمايی چې ديووالی دعقيدی داواقعه دهغه وخت ده چې حضرت آدم ﷺ دخپلی بی بی سره دنياته تشريف راوړی دهغوی اولاد پيداسو اوپه دنياکی خپرسو نودغه ټوله دحضرت آدم ﷺ پر دين وه ، دهغه ﷺ دتعليم اوښوونی تابع وه اودتوحيد اقرارکوونکی وه اودقابيل څخه بغير ټول دشريعت تابعدار اومنونکی وه ، په مسندِ بزارکی دحضرت عبدالله بن عباس ﷺ ددی قول سره دا هم ذکر سوی دی چې دعقيدی يووالی دحضرت آدم ﷺ څخه ترحضرت ادريس ﷺ پوری قائم وو ، تردغه وخته ټول مسلمانان اودتوحيد منونکی وه ، اودحضرت آدم ﷺ او حضرت ادريس ﷺ ترمينځه زمانه لس قرن وه ، په ښکاره ديوه قرن څخه سل کاله مراد دی ، چې دغه ټوله زمانه بيازرکاله جوړيږی ، اوځينو حضراتو فرمايلی دی چې دا دعقيدی ديو والی زمانه هغه ده کله چې دحضرت نوح ﷺ په بددعا په دنياکی طوفان راغلی وو اوماسوا دهغو خلکو څخه چې دحضرت نوح ﷺ په کښتی کی سپاره وه باقی ټوله دنيا غرقه سوی وه ، دطوفان ترختميدو وروسته څومره انسان چې په دنياکی پاته سوه هغه ټول مسلمانان موحدين وه اودحق دين تابعدار وه ، په حقيقت کی دا دری سره قولونه مختلف داسی نه دی چې په درو سرو زمانوکی ټول انسانان پرحق دين قائم يوټولی اويوامت وه .

دآيت په دوهمه جمله کی ارشاددی، فَبَعَثَ اللهُ النَّبِيّٖنَ مُبَشِّرِينَ وَمُنْذِرِينَ وَأَنْزَلَ مَعَهُمُ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِيَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ فِيمَا اخْتَلَفُوا فِيهِ : يعنی الله ﷻ خوشحالی اوروونکی اوبيروونکی پيغمبران را وليږل او دهغوی سره يې کتابونه هم په صحيح طريقه ددی دپاره راوليږل (نازل کړل) چې دخلکو په مينځ کی دهغوی داختلافی شيانو فيصله وکړی ، دا خبره هم دغورکولو لائقه ده چې په ظاهره ددی دواړو خبرو څه جوړښت نه راځی ، يو دا چې ټول انسانان يوټولی اويو امت وه اوپه دی تفريع سوی بله دا خبره چې پيغمبران او دهغوی سره کتابونه داختلاف دليری کولو اوفيصله کولو دپاره راليږل سوی وه ، په ظاهره جوړښت څکه نه راځی چې څه وخت اختلاف په يوه عقيده اويوامت کی لاهم نه وو نوداختلاف دليری کولو دپاره دکتابونو ليږل بياڅه معنی لری؟ ليکن جواب بيخی ښکاره دی ، هغه دا دی چې ددنياپه اوله کی ټول انسانان ديوی حقی عقيدی قائل اوپابندوه، بياچی کرار کرار اختلافات پيدا سول نو دپيغمبرانو اوکتابونو دليږلو ضرورت پيښ سو.

هرکله چې خبره داسی ده نود ، اُمَّةً وَّاحِدَةً سره يې داختلاف ذکرولی ونه کی؟ څوک چې په قرآن څه پوهه

لري نوهغه ته داشك ځكه نه راځي چې قرآن كريم پوره او ټول پخواني حالات او پوره قصه نه بيانوي ، بلكه په مينځ مينځ كې هغه خبرې پرېږدي كومې چې دقصې دبيانولو ځخه پخپله معلومېږي لكه دحضرت يوسف ﷺ په قصه كې دقيدي راخلاصيدل دهغه (قيدي) باچاته دحضرت يوسف ﷺ ځخه دخوب دتعبير دپوښتلوخواهش مخكې كول ذكر نه دي اوخبره ددې ځاى ځخه شروع كيږي ، يُوسُفُ أَيُّهَا الصِّدِّيقُ : دا هم ذكر نسته چې باچا دهغه خواهش خوښ كې دحضرت يوسف ﷺ خواته يې بندي خاني ته وليږي اوهغه ته په رسيدو يې داوويناشروع كړه ځكه چې دمخكې او وروسته په جملو يوځاى كولو سره دا ټولې خبرې پخپله دماغو ته راځي ، دغه ډول دامت ديووالي ځخه وروسته داختلاف دپيداكيدلو دبيان ضرورت ځكه نه ووچې ددې خبرې ښكاره كول وو چې داسې يو وخت او زمانه هم تيره سوي ده چې ټول انسانان ديوه مذهب ملت او ديوه حق دين منونكي وه دا يې بيان كړه خو دتير سوي دليل په وجه يې اختلاف پيدا كيدل بيان نه كړه ، يوازې دومره يې وفرمايل چې داختلاف په دوركې الله ﷻ دحقې لارې ښوولو اوهدايت ځه انتظام فرمايي فَبَعَثَ اللّٰهُ النَّبِيّٖنَ: يعنى الله ﷻ پيغمبران په دې غرض راوليږل چې دحق دين منونكولره دتل آرام اوخوشحالۍ زيرې وركې او ددې نه منونكوته دجهنم دعذاب وعدې واوروي ، دهغوى سره يې وحى اوكتابونه هم په دې غرض راوليږل چې په ګډو وډو عقيدو اوخيالاتو كې ورته صحيح اوحق په ښه كړي بيايي داوفرمايل چې دپيغمبرانو اورسولانو دښكاره فيصلو ځخه وروسته هم دادنيا په دوو ډلوكې وويشل سوه ، ځه خلكو دغه ښكاره هدايات قبول نه كړل ، دحيرانتيا خبره دا ده چې اول نه منونكي هم هغه خلګ وه ، كوموته چې دا پيغمبران اوالهي آيتونه ليږل سوي وه ، او په يهودو اونصارا وو بلل كيدل ، ډيره زياته دحيرانتيا خبره دا ده چې په آسماني كتابونوكې دګډون اوشك ځه داسې ځاى نه وو دكوم له وجې چې دوى ته غلطي كيدې سوه يا د دوى پوه نه باندې راتله بلكه سره دپوهې دغه خلكو يوازې دضد په وجه انكار وكې ، دوهمې ډلې دپيغمبرانو اودآسماني كتابونو فيصلې دزړه داخلاصه ومنلې ځكه چې الله ﷻ دوى ته هدايت وكې ، دا دوې ډلې قرآن كريم په سورة تغابن كې داسې بيانوي ، خَلَقَكُمْ فَمِنْكُمْ كَافِرٌ وَّ مِنْكُمْ مُّؤْمِنٌ الله ﷻ تاسې پيدا كړاست بيا ستاسې ځخه ځوك كافر منكر اوځوك مومن مسلمان سول .

وَكَانَ النَّاسُ اُمَّةً وَّاحِدَةً : خلاصه دا ده چې په اول كې ددنيا ټولو انسانانو يوحق دين درلودې دګډوډو طبعيتونو له وجې غرضونه اومقصدونه ګډوډ سوه اوځه وخت وروسته عملونه اوعقيدې هم ګډې وډې سوې چې دحقو اوباطلو بيلتون نه سواى كيدې نوالله ﷻ ددې بيلتون كولو دحقې لارې ښولو اوپه حق دين دبياروانيدو اوټينګيدلو دپاره پيغمبران اوكتابونه راوليږل ځه خلكو ومنل اوځه خلكو دضد اوعناد په وجه ونه منل .

مسئلې: مسئله : ددې آيت ځخه يوځوخبرې معلومېږي ، اوله دا چې په ډيرو پيغمبرانو اوكتابونو

لیږلو کې دالله ﷺ حکمت دا وو چې دحق دین څخه اوښتي اوډلې ډلې سوي خلک بیاتول پریوه حق دین رایوځای کې کله به چې ډلې زیاتي اواختلافات زیات سوه نو الله ﷺ په یوبل پسې پیغمبران اوکتابونه دبیا رایوځای کولو او دډلو دختمولو دپاره هم دارنګه رالیږل ددې مثال داسې وګڼې چې روغتیا اوناروغتیا ډیر اوبې شمیره قسمونه لري ، دهرې بیمارۍ دپاره جلاجلا دواوې اوبیل بیل پرهیزونه وي خو په آخرکې یې داسې جامع اثره دوا وټاکل چې دټولو مرضونو دپاره ترهغه پورې کامیاب ثابتیږي تر څو چې دا دنیا آباده ساتل ورته منظوره وه ، دا جامع اثره دوا دتیرو سوو دوا وو ځای نیوونکې اوپه راتلونکې وخت کې دنورو ټولو دواوو څخه خلاصوونکې دی ، ددې دوا نوم اسلام دی دکوم دپاره چې خاتم الانبیاء علیه الصلاة والسلام اوقرآن کریم راولیږل سو او دهغه دحفاظت انتظام الله ﷺ پخپله څکه وکې چې دنورو تیرو سوو دینونو کتابونو اودپیغمبرانو دتعلیماتوپه شان په دې کې څه بدلون یاکمې زیاتي ونه سي اوترقیامته په امت محمدیه کې دداسې یوې ټولې د درولووعده یې وفرمایله کومه به چې تل پرحق دین ټینګه ولاړه وي اودکتاب اوسنت صحیح تعلیم به په مسلمانانوکې خپروي دچادښمنی او مخالفت به پردغه ټولې هیڅ اثرنه غورځوي هم دغه وجه ده چې دوحي اوپیغمبرۍ دروازه بندیدل ضروري سوه او دختم نبوت اعلان وسو، دخبرې خلاصه دا سوه چې ددیرو پیغمبرانو اودمختلفو آسماني کتابونو دراليږلو حکمت اختلاف اوګوندونه جوړول نه وو بلکه ددې داسې احتمول وو چې ټول خلک بیا پرحق دین هغه ډول راټول اویوځای سي څنګه چې مخکې یوه ټولې یوموټې اویوملت وو.

مسئله : فَمِنكُمْ كَافِرٌ وَمِنكُمْ مُّؤْمِنٌ : ددې خبرې شاهدي ورکوي چې دمذهب اوعقیدې داختلاف په وجه دقومونو ویش کیږي او دوې ډلې دمسلمانانو اوکافرانو ورڅخه جوړیږي چې اصل بنیادیې یوقومیت دې حق دین اوحقه عقیده ده نه چې یووطنیت دی، لکه دقرآن کریم ارشاد كَانَ النَّاسُ أُمَّةً وَاحِدَةً ښیي چې داټول انسانان دپیدا کیدو په شروع کې په دې وجه یوقوم وو چې ددې ټولو یوه صحیح عقیده او دیوه حق دین منونکې اوتابعدار وه بیا وروسته په خلګوکې اختلاف پیداسو پیغمبرانو هغوی ددغه اصلي یووالي طرف ته را وبلل چاچې دابلنه قبوله نه کړه هغوی داصلي یووالي څخه بیل سوه اوپه بل جلا قوم (کافرانو) وبلل سوه .

مسئله: ددې آیت څخه دریمه خبره دا معلومیږي چې دالله ﷺ سنت دازل څخه داسې راروان دی چې دهرپیغمبر اوآسماني کتاب مخالفت ناکاره اوبدو خلګو کړي دی ، اوس هم که څوک ناکاره خلک داسې کوي نو هغوی دخپلو مشرانو تابعداري کوي ، صالحانو مومنانوته په کار دی چې هغوی دخپلو مشرانو (پیغمبرانو ﷺ) تابعداري وکې کومو چې ددغو ناکاره خلګو پرناوړو صبرکوي هغه به یې په خاطرکې نه را وستل اوپه حکمت وعظ اونصیحت اونرمي به یې دحق دین طرف ته برابره بلنه

ورکوله کیدی سی چی ددی جوړښت په وجه مسلمانانوته پرآفتونو اومصیبتونو دزغم اوصبر ښوونه او تلقین سوی وی فرمایی .

أَمْ حَسِبْتُمْ أَن تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَأْتِكُم مَّثَلُ الَّذِينَ خَلَوْا مِن قَبْلِكُم مَّسَّتْهُمُ

ولی ! ستاسی دا خیال دی چی جنت ته به ولاړسی سره ددې چی په تاسی نه دی تیرسوی حالات دهغه خلقوپه دول

الْبَأْسَاءُ وَالضَّرَّاءُ وَزُلْزِلُوا حَتَّىٰ يَقُولَ الرَّسُولُ وَالَّذِينَ آمَنُوا

چی وو ستاسی څخه مخکې رسیدلی وو هغوی ته سختی اوتکلیفونه او په زلزله کړل سوه تردی چی گویابه سو پغیمبر او هغه کسان چی چابه ده سره ایمان راوړی وو ،

مَعَهُ مَتَىٰ نَصْرُ اللَّهِ ۗ أَلَا إِنَّ نَصْرَ اللَّهِ قَرِيبٌ ﴿٢١٤﴾

کله به راځی دالله تعالی امداد ، واوری دالله تعالی امداد نژدی دی .

دآیتونو تړون: په مخکی تیروسووآیتونوکی مسلمانانوته دتسلی ورکولو دپاره دپیغمبراومومنانوسره دکفارودااختلاف کولوبیان وواوس دابیان دی چی دتل دپاره دپیغمبرانواودمومنانوسره دکفاروربړونه تیرسوی دی دهغوی په تکلیفونورسولوتوقو اومسخروکولوبه پیغمبرانو اومومنانو دزغم اوصبرڅخه کار اخیستی په دی سره موجوده مسلمانانوته تسلی ورکول دی چی داکار څه نوی نه دی، تاسی هم دصبر اوزغم څخه کار اخلی، ځکه چی دآخرت کامل راحت اوآرام هم ددنیا پرتکلیفونو تیرولو بنا دی.

دتفسیر لنډیز: (دوهمه خبره واوری) آیا ! ستاسی دا خیال دی چی په جنت کی به (بی مشقته) دا خل سی سره ددی (چی څه تکلیف مو نه دی تیرکړی ځکه چی) تاسی ته لا دهغه خلکو (مسلمانانو) په شان عجیبه واقعه نه ده درپیښه سوی کوم چی ترتاسی مخکی تیرسوی دی په هغوی به (دمخالفینوپه سبب) داسی داسی تنگی اوسختی راتلی او (په مصیبتونو سره به) هغوی دومره وښوروړل سول چی (دهغه زمانی) پیغمبر او دهغوی په ملگرتیا کی چی کوم اهل ایمان وه (ناقراره سول) په وینابه سول چی دالله ﷻ کومك (دکوم چی وعده سوي ده) به کله وی (په دی جواب سره به دوی ته داتسلی ورکول سوه چی) یاد لری دالله ﷻ کومك (ډیر) نژدی (کیدونکی) دی .

علوم اومسئلي: په دی آیت کی ځوخبری دغور کولو لایقی دی ، اوله خبره ددی آیت څخه دا معلومیږی چی بی مشقته بی محنته اومصیبتونو اوپه تکلیفونوکی دراگیریدو څخه بغیرجنت ته څوك نه سی تللی، سره ددی چی ددیرو آیتونو څخه دامعلومیږی چی ډیر گنهگاران به یوازی دالله ﷻ په مهربانی اوبخښنی سره په جنت کی دا خلیږی په هغوی به څه مشقت هم نه وی ، وجه دا ده چی دمحنت اومشقت مختلفی درجی دی کمه دجه دا ده چی دنفس اوشیطان سره مقابله وکی یادحق دین دمخالفینوپه

خلاف کولو سره خپله عقیده صحیح کړي ، لکه چې هرمومن يې کوي څومره چې محنت اومشقت وي
هغومره به جنت ته دداخلیدو درجه وي خلاصه دا چې په هره درجه کې محنت اومشقت سته په څه کې
کم اوپه څه کې زیات لکه چې نبي کریم ﷺ فرمایي. اَشَدُّ النَّاسِ بَلَاءً اَلْاَنْبِیَاءُ ثُمَّ الْاَمْثَلُ فَالْاَمْثَلُ، ترټولو
زیات غمونه اومصیبتونه انبیاء ﷺ ته رسیږي بیاهغوته څوك چې دوی ته زیات نږدې وي ، دوهمه
خبره دا ده چې دپیغمبرانو ﷺ اودهغوی دملګرو دا وینا اوعرض کول چې دالله ﷻ امداد به کله وي په
څه شك اوشبهه بناځکه نه ووچې دا دهغوی دشان سره نه ښیږي ، دالله ﷻ په وعده یې کامل یقین وو،
خوچې کله دامداد راتلو وخت نه وو ټاکل سوی نو دهغوی داعرض کول په دې بناووچې کومك دې ژر
وسي ، ځکه چې مونږ ډیر بې وسه سو، الله ﷻ ته زاري کول دهغه څان محتاج ګڼل اوخپله بې وسي
ورته ښکاره کول الله ﷻ ته ډیر محبوب اوخوښ دي، دانبیاء ﷺ اودنیکانو دشان مناسب دي اودتوکل
یاد نبوت دمنصب هیڅکله خلاف نه دي .

يَسْـَٔلُوْنَكَ مَاذَا يُنْفِقُوْنَ ۖ قُلْ مَآ اَنْفَقْتُمْ مِّنْ خَيْرٍ فَلِلْوَالِدَيْنِ

ستا څخه پوښتنه کوي چې څه شی خرڅ کړي ، ووایه چې څه تاسې خرڅ کوي مال نو مور پلار دپاره

وَالْاَقْرَبِيْنَ وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ وَابْنِ السَّبِيْلِ ۭ وَمَا

اوخپلوانو دپاره اویتیمانو دپاره او محتاجو دپاره او مسافرو دپاره چې

تَفْعَلُوْا مِنْ خَيْرٍ فَاِنَّ اللّٰهَ بِهٖ عَلِيْمٌ ﴿۲۱۵﴾

کوي تاسې څه خیر نوهغه بیشکه الله تعالی ته ښه معلومه ده .

دتفسیر لنډیز

(دولسم حکم دصدقي مصارف)

خلق ستاسې څخه پوښتنه کوي چې (دثواب دپاره) څه شی لګوو(اوپه کوم ځای کې یې لګوو) تاسې
وفرمایاست چې کوم مال تاسې لګول غواړی نو(دهغه ټاکل خوستاسې پرهمت بنادی مګرځای یې درته
مونږښیوچې) دمورا وپلارحق دی دخپلوانواوبې پلاره ماشومانواومحتاجواومسافرواوچې کوم نیك کار
کوي(که دالله ﷻ په لارکې لګول وي اوکه بل څه وي) نوالله ﷻ ته دهغه ښه خبردی (په هغه به ثواب ورکوي)
علوم اومسئلي: په اولنیو آیتونوکې دې مضمون ته ډیر زور ورکول سوي دی چې کفر اومنافقت
پرېږدی اوپه اسلام کې په پوره ډول داخل سی دالله ﷻ دحکم په مقابله کې دبل چاخبره مه اوری دالله
ﷻ درضا دپاره ځان اومال ورکوی اوپر هرتکلیف اوغم صبر او زغم کوی ، اوس ددې ځایه څخه دالله
ﷻ دتابعداری اودهغه دحکم منلو دهغه په لارکې دځان اومال ورکولو په باره کې دځینو خاصو خبرو

تفصیل بیانیږي کوم چې دځان مال او نورو معاملو (لکه نکاح طلاق اونورو) سره تعلق لري اودپورته څخه دنیکو احکامو دبیانولو کومه لړي چې راروانه ده دا ټول په هغه کې دا خل دي .
ددي خاصو خبرو دبیانولو انداز هم خاص څکه دي چې داکثرو پوښتنه صحابه کرامو ﷺ درسول الله ﷺ څخه کړي وه اودهغه جواب سیده په سیده د (رحمٰن دعرش) څخه په واسطه درسول الله ﷺ سره ورکول سو دا ویل به هم څه مبالغه نه وي چې هم الله ﷻ دهغه فتوٰی ورکړي ده ، لکه چې په خپله فرمایي ، قُلِ اللّٰهُ یُفۡتِیۡکُمۡ فِیۡهِنَّ دا ویل هم صحیح دي چې فتوٰی دنبي کریم ﷺ وه خو په ذریعه دوحی ورته ښوول سوي وي ، په دي رکوع کې دصحابه کرامو ﷺ دسوالونو جوابونه چې شرعي احکام ورڅخه ثابتیږي خصوصي اهمیت لري په ټول قرآن کریم کې په داسي اندازثابت سوي شرعي احکام په اوولسو ۱۷ ځایونوکی راغلي دي ، اوه ۷ هم دلته په سورة بقره کې یو۱ په سورة مائده کې اویو۱ په سورة انفال کې ، دا نه ۹ سوالونه دصحابه کرامو ﷺ دطرفه څخه دي ، دوه ۲په سورت اعراف کې او یو یو په سورة بني اسرائیل سورةٔ کهف سورةِ طٰه اوسورةِ نازعات کې داټول شپږ سوالونه دکفارو دطرفه دي چې په قرآن کریم کې دهغه جواب هم دجواب په عنوان سره ورکول سوي دي .
مفسّرقرآن حضرت عبدالله بن عباس ﷺ فرمایي چې مادمحمد ﷺ دصحابه کرامو ﷺ څخه زیاته ښه بله ټولي نه ده لیدلي (چې ددین اودرسول الله ﷺ سره ددیري میني اومحبت درلودو باوجود هغوی دیرکم سوالونه کړي دي) دټولو دریالسو مسئلو په باره کې یې سوالونه کړي دي څکه چې هغوی بې ضرورته سوال نه کوی (قرطبي ج۳ ص۴۰)

په پورته ذکرسوي آیت کې دصحابه کرامو ﷺ سوال په دي الفاظوکی نقل سوي دي ، یَسۡـَٔلُوۡنَکَ مَاذَا یُنۡفِقُوۡنَ یعني خلګ ستاڅخه پوښتنه کوي چې څه ولګوو په دي رکوع کې هم داسوال دوه آیتونه وروسته بیاهم په دي الفاظوکی دوباره سوي دي فرمایي ، وَیَسۡـَٔلُوۡنَکَ مَاذَا یُنۡفِقُوۡنَ، مګرجوابونه یې بدل بدل دي ددي حکمت هلته معلومیږي چې ددي سره په تړلو واقعاتو غور وسي ، مثلاً ددي آیت شان نزول دا دي چې عمرو بن جموح درسول الله ﷺ څخه سوال کړی ووچې ، مَانُنۡفِقُ مِنۡ اَمۡوَالِنَا وَاَیۡنَ نَضَعُهَا (اَخۡرَجَهٗ ابن المنذر (ج۱ ص۲۵۶ مظهري) یعني مونږ دخپلو مالونو څخه څه اوپه کوم ځای کې یې ولګوو اودابن جریر (ج۳ ص۱۹۳) دروایت په مناسبت داسوال یوځای دابن جموح نه بلکه دعامو مسلمانانو وو، ددي سوال دوی برخي دي، یوه داچې کوم مال اوڅومره ولګوو اودوهمه دا چې دا چاته ورکو دلګولو ځای یې کوم دي ، تردي دوه آیته وروسته ددغه رنګه سوال والا دآیت شانِ نزول په روایت دابن ابی حاتم دا دي چې کله په قرآن کریم مسلمانانوته ددي حکم ورکول سو چې خپل مال دالله ﷻ په لارکې ولګوی نوڅه صحابه کرام ﷺ دحضور ﷺ په خدمت کې حاضر سوه اوعرض یې وکی چې دالله ﷻ په لارکې دمال لګولو مونږ وضاحت غوارو چې څه مال اوکوم یوشي دالله ﷻ په لار

کی ولګوو، ددی سوال یوازی یوه برخه سوه یعنی څه ولګوو؟ دغه شان د دواړو سوالونو شکل بدل سو چی په اولنی سوال کی دځۀ ولګوو اوپه کوم ځای کی یی ولګوو سوال وو اوپه دوهم ځای کی یوازی دځه ولګوو سوال دی او دمځکی سوال په جواب کی څه چی په قرآن کی حکم سوي دی دهغه څخه معلومیږی چی د دوهمی برخی (په کوم ځای کی یی ولګوو) ته ډیراهمیت ورکول سوي دی چی جواب یی ښه ښکاره ورکول سوي دی او داولنی برخی (څه ولګوو) جواب یی په ضمنی اواجمالی رنګ کی ورکول کافی وګڼل اوس ددی آیت پردواړو برخو نظر واچوه، دیوی برخی چی کوم ځای یی ولګوو داجواب ورکول کیږی. مَآ اَنْفَقْتُمْ مِنْ خَيْرٍ فَلِلْوَالِدَيْنِ وَالْاَقْرَبِيْنَ وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ وَابْنِ السَّبِيْلِ یعنی کوم مال چی تاسی دالله ﷻ دپاره لګوی، دهغه حقدار مور اوپلار اوبی پلاره ماشومان او (دارنګه) مسکینان اومسافرین دی، او د دوهمی برخی چی څه ولګوو؟ جواب په دی الفاظوکی په ضمنی ډول ورکول سوي دی، وَمَا تَفْعَلُوْا مِنْ خَيْرٍ فَاِنَّ اللّٰهَ بِهٖ عَلِيْمٌ یعنی چی کوم خیر تاسی کوی الله ﷻ په هغه ښه خبر دی دا دی خبری ته اشاره ده چی دالله ﷻ دطرفه څه حدبندی اوپابندی نسته چی څه موږ کیږی هغومره لګوی دالله ﷻ څخه به دهغه بدله اوثواب پیداکی، غرض دا چی غالبًا سوال کوونکوته اهمیت ددی سوال ووچی زمونږ دمال لګولوځای دی کوم وی نوپه جواب کی اهمیت هم دی ته ورکړل سو چی په فلانی ځای کی یی ولګوی، اوپه وروستنی آیت کی سوال یوازی داوو چی څه ولګوو؟ نوجواب هم دومره ورکول سو: قُلِ الْعَفْوَ یعنی ته وفرمایه چی ترخپلو ضروریاتو زیات مال لګوی ددی دواړو آیتونو څخه دالله ﷻ په لارکی دمال لګولوپه باره کی څوهدایات اومسئلی معلومی سوی.

(۱) مسئله: اول دا چی دواړه آیتونه دفرض زکوٰة په باره کی نه دی ځکه چی دزکوٰة دپاره دمال نصاب هم مقرر دی او دهغه دلګولو فرض سوی اندازه هم نبی کریم ﷺ ټاکلی ده، کله چی په دی دواړو ایتونو کی څه نصاب یادلګولو اندازه نه ده ښوول سوی نومعلومه سوه چی دا دنفلی خیرات سره تړون لری او اوس دا شبهه هم پاته نه سوه چی په اولنی آیت کی دخیرات لګولوځای مور اوپلارهم ښوول سوي دی که دا فرض خیرات وی نو مور اوپلار ته خو فرض زکوٰة نه ورکول کیږی.

(۲) مسئله: ددی آیت څخه دوهم هدایت دا وموندل سوچی مور اوپلار اونورو خپلوانو اوعزیزانوته په څه دالی ورکولو یاپه دوی خوړلو اوڅښلوکی که څیری دالله ﷻ دحکم دپرځای راوړلو نیت وی نواجر او ثواب به هم ورکول کیږی او دا به دالله ﷻ په لارکی لګول (انفاق فی سبیل الله) حسابیږی.

(۳) مسئله دریم هدایت ددی څخه داحاصل سوچی په نفلی خیرات کولوکی به هلته ثواب ورکول کیږی چی دا دهغه ترضرورت په زیات مال کی سوی وی اوکه څیری خپل ځان تنګ کی یاپرخپل اهل اوعیال تنګی را ولی یاقرض ادا نه کی او نفلی خیرات وکی نو دالله ﷻ په نزد داښه کارنه دی، حضرتِ ابوذر غفاری ؓ اوڅه نورو صاحبانو دزیات مال دلګولو دامطلب اخیستی دی چی ترخپل ضرورت زیات

تول مال دالله ﷻ په لارکي لګول واجب دي او دازيات مال دخان سره ساتل ګرسره روانه دي، ترضرورت زيات چې څه وي دټولو صدقه واجب ده ، مګرجمهور صحابه کرام ﷺ تابعين رحمهم الله او ددين امامان صاحبان دقرآن ددې آيت مطلب دابنيي چې دنفلي خيرات کولو دپاره شرط دا دي چې هغه دي ترخپلو ضروريات توپه زيات مال کي وي دا مطلب يې نه دی چې ترضرورت زيات ټول مال دالله ﷻ په لارکي خيرات کول واجب دي لکه څنګه چې دصحابه کرامو ﷺ دکړو وړو (تعامل) څخه هم ثابتيږي.

كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَّكُمْ وَعَسَىٰ أَن تَكْرَهُوا شَيْئًا وَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ وَعَسَىٰ أَن تُحِبُّوا

فرض سوپه تاسي جنګ او هغه ناخوښ دی ستاسي او کيدی سی چې تاسی نه خوښوی يو شی او هغه به ښه وی تاسی دپاره او کيدسی چې خوښوی

شَيْئًا وَهُوَ شَرٌّ لَّكُمْ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿٢١٦﴾ يَسْأَلُونَكَ

په تاسي يو شی او هغه به بد وی تاسی دپاره ، او الله ﷻ پوهيږي او تاسی نه پوهيږي ، تاسی څخه پوښتی

عَنِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ قِتَالٍ فِيهِ قُلْ قِتَالٌ فِيهِ كَبِيرٌ وَصَدٌّ

دمياشتی حرامي چې په دی کی جنګ کول څنګه ؟ ووايه چې جنګيدل په دی کی لويه ګناه ده ، اوبندول

عَن سَبِيلِ اللَّهِ وَكُفْرٌ بِهِ وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَإِخْرَاجُ أَهْلِهِ

دالله ﷻ دلار څخه او هغه نه منل او دمسجد حرام څخه بندول او ايستل دهغه دخلقو ،

مِنْهُ أَكْبَرُ عِندَ اللَّهِ وَالْفِتْنَةُ أَكْبَرُ مِنَ الْقَتْلِ وَلَا يَزَالُونَ

دهغه ځای څخه هم زياته ګناه ده دالله ﷻ په نزد او دخلقو ددين څخه اړول لويه ګناه ده دقتل څخه او کفاربه تل ترتله

يُقَاتِلُونَكُمْ حَتَّىٰ يَرُدُّوكُمْ عَن دِينِكُمْ إِنِ اسْتَطَاعُوا وَمَن

تاسي سره جنګيږي ترڅو چې واړوی تاسی ستاسی ددين څخه که چيری څوک واوړی په تاسی

يَرْتَدِدْ مِنكُمْ عَن دِينِهِ فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ فَأُولَٰئِكَ حَبِطَتْ

کی دخپل دين څخه ، بيا مړسی دکفر په حالت کی نو دداسی خلقو بربادسول

أَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَأُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ

عملونه د دوی په دنيا او آخرت کی او دا خلق وسيدونکی دی د دوږخ دوی به

فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۲۱۷﴾ إِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا

په دی کی تل پاته کیږي ، او بیشکه کومو خلقو چی ایمان راوړی اوکومو چی هجرت وکی او وجنگیدل

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ أُولٰٓئِكَ يَرْجُوْنَ رَحْمَتَ اللّٰهِ ۭ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۲۱۸﴾

دالله ﷻ په لارکی داکسان امید وار دی دالله ﷻ درحمت او الله ﷻ بخښونکی او مهربانه دی۔

دتفسیر لنډیز

(دیارلسم حکم دجهاد دفرض کیدو)

جهادکول پرتاسی فرض سوي دی اوهغه تاسی ته (پرطبعیت) دروند پریوزی اوداسی کیدی سی چی تاسی کوم شی سخت (دروند) وګنی او (په واقع کی) هغه ستاسی په هکله خیر (اوفائده) وی اودا (هم) کیدی سی چی تاسی یوشی بهتروګنی او (په واقع کی) هغه ستاسی په هکله بد (ثابت) شی او (دهرشی حقیقت حال) الله ﷻ پیژنی اوتاسی یی (پوره پوره) نه پیژنی (دښه اوبدفیصله دخپلی خوښی پر بنیاد مه کوی دالله ﷻ چی څه حکم وسی دهغه په منلوکی دځان خیر اومصلحت ګڼی)

(څوارلسم حکم په میاشته حرامه کي دجنګ کولو تحقیق)

په یوسفرکی دحضور ﷺ دخینوصحابه کرامو ﷺ دلاسه یوکافرپه مقابله کی په داسی ورځ قتل سوچی صحابه کرامو ﷺ ته دجمادی الاخری (خلورمی خور) دیرشمه معلومیده خوپه حقیقت کی دا درجب (دخدای تعالی) دمیاشتی اولنی ورځ وه په کومه کی چی جنګ شروع کول منع دی ، کفاروپه دی واقعه مسلمانانو ته پیغور ورکی چی مسلمانانو دشهر حرام دحرمت هم خیال ونه ساتی ، مسلمانانو دخپلی فکر مندی په وجه دحضور ﷺ څخه پوښتنه وکړه اوپه ځینو روایتونو کی راغلی دی چی دقریشو ځینو کفارو دحضور ﷺ په مخکی داعتراض په توګه دا سوال راپورته کی نوجواب یی داسی فرمایلی دی ، خلګ ستاسی څخه په میاشته حرامه کی دجنګ کولوپه باره کی سوال کوی تاسی وفرمایاست چی په دی کی بالخصوص (یعنی په قصد) جنګ کول لوی جرم دی (لیکن مسلمانانو داکارپه قصدنه دی کړی بلکه په تاریخ کی دغلطی راتلو په وجه داسی وسوه داخو تحقیقی جواب دی) او (الزامی جواب دا دی چی په مسلمانانو دکفارو دطرفه داعتراض کولو ګرسره حق نسته چی په میاشته حرامه کی جنګ کول برابره خبره ده که لوی جرم دی ، لیکن ددی کفارو چی کوم کړه وړه دی یعنی) دالله ﷻ دلاری (دین) څخه (خلګ) بندول (یعنی پرمسلمانیدو دومره تکلیفونه ورکول چی نورخلګ بیا دبیری مسلمانان نه سی) اوپه الله ﷻ سره کفرکول اوپه مسجدحرام (یعنی په خانه کعبه) کفر کول (چی هلته یی ډیربتان درولی وه اودخدای ﷻ دعبادت کولو پرځای یی دهغوی عبادت اوطوافونه کول) اوکوم خلګ چی دمسجدِ حرام اهل وه (یعنی رسول الله ﷺ اونور مومنان)

هغوی یی (په تنګولو اوپریشانه کولو) ددی (مسجدِ حرام) څخه وایستل (یعنی په ایستلو یی مجبوره کول چی هجرت کولوته خبره ورسیده نو دا کارونه به یی کول اوپه حق دین کی به یی فتنی راپورته کولی) او (داسی) فتنی به یی راپوته کولی (چی ددی خاص) قتل څخه (کوم چی دمسلمانانو دلاسه سوی وو) په څوڅو چنده (په قباحت کی) زیاتی دی (څکه چی ددی قتل څخه حق دین ته خوڅه ضرر نه دی رسیدلی تر زیات لازیات که چیری څوك یی په قصد هم وکی نو په خپله به ګنهکار وی او دکفارو ددی حرکتونو څخه حق دین ته داسی ضرر رسیږی چی مخ پرپورته ترقی یی بند وی) او داکفار ستاسی سره تل ترتله جنګ (اوجګړه جاری) ساتل غواړی په دی غرض که چیری (خدای ﷻ دی نه کړی) په تاسی یی وس پوره سی نوتاسی به ستاسی ددین (اسلام) څخه واړوی (د دوی ددا سی کارونوپه وجه ددین سره مقابله کول ښکاره خبره ده)

(دمرتد کیدو انجام)

اوچی کوم سړی په تاسی کی دخپل دین (اسلام) څخه واوړی بیا هم دکفرپه حالت کی مړسی، نو داسی خلګو (نیك) عملونه به په دنیا اوآخرت (دواړو) کی (تول) لوټ کیږی اودا خلګ به په دوږخ کی تل ترتله پاته کیږی (په شهرِ حرام کی دقتال په باره کی مسلمانانوته ددی جواب په اوریدو دګناه دنیستوالی خو یقین راغی مګر داشك یی بیاهم وو چی ثواب به یی نه وی سوی ، اوس ددی په باره کی ورته تسلی ورکول کیږی)

(دنیت په اخلاص دثواب وعده)

په حقه چی چا ایمان راوړی وی اوچاچی دالله ﷻ په لارکی وطن پریښی وی اوجهاد (غزا) یی کړی وی، داسی خلق خودالله ﷻ درحمت امیدلری (اوپه تاسی کی دا صفتونه په طریقه دمنع الخلو (خامخا) سته لکه چی ایمان اوهجرت ښکاره دی په دغه خاص جهادکی شك کیدی سوای نوکله چی په دغه موقعه هم ستاسی نیت دجهاد وو زمونږ (دالله ﷻ) په نزد دا هم په جهادکی شمار سو نو اوس تاسی نا امیده ولی یاست) اوالله ﷻ به (داغلطی) معاف کی او(دایمان جهاد اوهجرت په وجه به پرتاسی) رحمت وکی.

علوم او مسائل

دجهاد څيني احكام: مسئله : دتیرو سوو آیتونوپه اولنی آیت کی دجهاد دفرض کیدوحکم په دی الفاظو سره سوي دی ، كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ یعنی پرتاسی جهاد فرض سو، د الفاظو دظاهر څخه دامعلومیږی چی په هرمسلمان په هرحالت کی جهاد فرض دی خو دڅینو آیتونو دقرآن او درسول الله ﷺ دڅینو احادیثو څخه معلومیږی چی جهاد په هرمسلمان فرض عین نه دی ، بلکه فرض کفایه دی ؛ مطلب دا چی څه مسلمانان جهاد وکی نو دپاته سوو نورو کسانوهم غاړه خلاصیږی ، اوکه په یوه ملك یاپه یوه زمانه کی هیڅ یوی ټولی دمسلمانانو دجهاد فرض ادانه کی نوټول مسلمانان به ددی فرض په

پرینبولو گنهکاروي ، دحديث شريف : اَلْجِهَادُ مَاضٍ اِلىٰ يَوْمِ الْقِيٰمَةِ هم دامطلب دی چی دجهاد کولو دپاره ترقیامته پوري ديوي ټولي موجودګی ضروري ده ، دقرآن مجيد په يوه بل آيت کی ارشاد دی .
فَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجَاهِدِينَ بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ عَلَى الْقَاعِدِينَ دَرَجَةً وَكُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى (النسآء ۹۵) يعنی الله ﷻ مجاهدينو ته په جهاد پريښوونکو فضيلت ورکړي دی او الله ﷻ د دواړو سره دګټی وعده کړي ده ، دڅه عذر په وجه يادبل څه ديني خدمت کولو اونور په وجه که څوك په جهاد کی شامل نه سو ، په دی آيت کی دهغوی سره هم دګټی وعده سوي ده ، ظاهره خبره ده که په هر يوه مسلمان جهاد کول فرض عين واي نو دجهاد دنه کوونکو سره به هيڅکله دګټی وعده نه واي سوی ، دا ډول په يوه بل آيت کی دی : فَلَوْلَا نَفَرَ مِنْ كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَآئِفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُوْا فِي الدِّيْنِ (التوبة ۱۲۲) اوولی دباندی ونه وتله ستاسی دهری لويي ټولي څخه کوچنی ټولي ددی کاردپاره چی هغه په دين کی پوهه حاصله کی، دلته په خپله قرآن عمل په داسی شان تقسيم کی چی څه مسلمانان دی جهاد کوی اوڅه دی په علم حاصلولو کی اخته وی، دابه هلته کيدی سی چی جهاد فرض عين نه بلکه فرض کفايي سی ، هم داشان په صحيح بخاري اوصحيح مسلم کی حديث دی چی يوسړی دحضور ﷺ څخه په جهاد کی دشريکيدو اجازه وغوښته نوهغه ﷺ پوښتنه وکړه چی ستامور اوپلار ژوندی دی ؟ هغه عرض وکی چی هو! ژوندی دی هغه ﷺ ورته وفرمايل چی بيا څه ! او دمور اوپلارپه خدمت کولو سره دجهاد ثواب حاصلوه ددی څخه دا هم معلوميږی چی جهادفرض کفايي دی ، کله چی دمسلمانانو يوه ټولي په جهاد اخته وی نو نور مسلمانان په نورو ديني خدمتونو او ديني کارونو کی اخته کيدی سی ، ها! که چيری څه وخت دمسلمانانو بادشاه دعام جهاد اعلان ضروري وګڼي نوبيا پرټولو مسلمانانو فرض عين سی لکه چی په سورة توبه کی ارشاددی يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَا لَكُمْ اِذَا قِيْلَ لَكُمُ انْفِرُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اثَّاقَلْتُمْ (التوبة ۳۸) ای مسلمانانو! په تاسی څه سوي دی چی کله تاسی ته وويل سی چی دالله ﷻ په لارکی ووزی نوتاسی ځانونه درانه کی ، اوخدای ﷻ دی نه کی که چيری کفار پريوه اسلامي ملك حمله وکی اوجنګيدونکی مسلمانان دهغوی پوره مقابله نه سی کولی نو په دی وخت کی بيا جهاد پرټولو مسلمانانو فرض عين سو، که چيری نژدی ټول مسلمانان دجهاد دپاره کافي نه وه ، نو ورسره په خواکی نور مسلمانان تردی چی ددنيا پرهريوه مسلمان جهادفرض عين سو، دقرآن دا ټول آيتونه دجمهورو فقهاؤ اومحدثينوپه نظر کی وه نو ځکه يی په عامو حالاتوکی جهاد ته فرض کفايي ويلی دی .

مسئله: فرض کفايي جهادته دمور اوپلار داجازت څخه بغيرتلل روانه دی .

مسئله: يوقرض دار چی قرض نه وی اداکړی په فرض کفايي جهادکی ورته شريکيدل روانه دی ها! که چيری دعام جهاد اعلان وسو نو بيا پرټولو مسلمانانو جهاد فرض عين سو، په دی کی دشريکيدو دپاره دهيچا څخه داجازت غوښتلو ضرورت نسته ، دلته بياخو نه دقرضداری څه عذردی اونه دطلب

دعلم دين اونه بل څه ديني ضرورت ، ددې آيت په آخرکې دجهاد دشوق دراپورته کولو دپاره فرمايي چې که څه هم ستاسې په طبعيتونو جهاد دروند لګيږي ليکن ښه په يادلرئ چې انساني مهارت عقلمندي اوتدبير اومحنت دانجام او نتيجې په باره کې اکثره پاته اوناکامه راځي ډير عقلمند خلک فائده مندشيان مضر او مضر شيان فائده مندګڼي ، لکه چې دهريوه سړي عامه تجربه هم ددې خبرې شاهده ده يو شاعر فرمايي چې .ع

خويش را ديدم ورسوائي خويش

ددې فرمان خداوندي خلاصه دا ده چې په جهادکې دمال او جان نقصان ليدل که چيرې په اصل اوحقيقت کې مخامخ راسي نوښکاره به سي چې دانقصان نقصان نه وو بلکه سراسر فائده وه او دهميشه آرام دپاره سامان وو.

(په مياشتو حراموکې دجنګيدو حکم)

په تيرو سوو آيتونوکې د دوهم آيت دامطلب دی چې په څلورو مياشتو (ذي القعده ذي الحجه محرم اورجب) کې جنګيدل حرام دي ، دغه ډول دقرآن کريم په نورو ډيرو آيتونوکې په دې مياشتوکې دجنګيدو بنديز راغلی دی، مثلاً: مِنۡهَاۤ اَرۡبَعَةٌ حُرُمٌ ذٰلِكَ الدِّيۡنُ الۡقَيِّمُ اودحجة الوداع په مشهوره خطبه کې رسول الله ﷺ فرمايلي دي ، مِنۡهَاۤ اَرۡبَعَةٌ حُرُمٌ ثَلٰثٌ مُتَوَالِيَاتٌ وَرَجَبُ مُضَرَ ددې څخه څلور مياشتې حرامې دي درې پر لپسې دي او (څلورمه) رجب دمضر ده ، ددې آيتونو او روايتونو څخه ثابتيږي چې په دې څلورو مياشتوکې جنګيدل دتل دپاره حرام دي لکه چې دتفسير امام عطاء بن ابي رباح رحمه الله به قسم کوي چې دا حکم دتل دپاره باقي دی داسې نور ډيرتابعين صاحبان داحکم ثابت اونامنسوخ ښيي مګر دجمهورو فقهاؤ په نزد او دامام جصاص رحمه الله په قول دښارونو دعامو فقهاؤ په مسلك داحکم منسوخ دی اوس په يوه مياشت کې هم جنګيدل منع نه دي .

خبره دا پاته سوه چې ښه ! ددې دپاره منسوخ کوم يوآيت دی ؟ په دې کې دفقهاؤ مختلف اقوال دي بعضې ، قَاتِلُوا الۡمُشۡرِكِيۡنَ كَآفَّةً : ددې ناسخ ښيي خواکثره صاحبان ددې ناسخ: فَاقۡتُلُوا الۡمُشۡرِكِيۡنَ حَيۡثُ وَجَدۡتُّمُوۡهُمۡ : بولي او دلته د حَيۡثُ دلفظ معنٰی زمانه کوي، مطلب يې دا سوچې مشرکان په کوم ځای اوکوم وخت کې چې راالاندې کې وژنئ يې اوڅه فقهاء فرمايي چې ددې ناسخ درسول الله ﷺ خپل عمل دی چې هغه په مياشتو حراموکې دطائف محاصره (قلابندي) کړې وه حضرت عامرِ اشعري رضي الله عنه يې په مياشتوحراموکې داوطاس دجهاددپاره ليږلی وو ، په دې وجه عام فقهاء داحکم منسوخ ګڼي، جصاص رحمه الله فرمايي ، وهوقول فقهاء الامصار، روح المعاني ددې آيت په تفسير کې اوبيضاوي د سورت براءت د اولني رکوع په تفسيرکې ددې حکم په منسوخ کيدو دامت اجماع نقل کړې ده (بيان القرآن)

مګر دتفسيرمظهري صاحب دامنسوخ نه ګڼي ، ځکه چې په ، اِنَّ عِدَّةَ الشُّهُوۡرِ عِنۡدَ اللّٰهِ اثۡنَا عَشَرَ شَهۡرًا فِيۡ

كِتَابِ اللّٰهِ يَوْمَ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ مِنْهَا أَرْبَعَةٌ حُرُمٌ (كوم چي آية السيف بلل كيږي اودجهادپه آيتونوكي ترټولو وروسته نازل سوي آيت دی) كي په ښكاره ډول دمياشتو حرامو دحرمت ذكر سته كوم چي حضور ﷺ دځپل وفات څخه اتيا ورځي مخكي ورکړي وو ، دطائف محاصره (قلابندي) هم رسول الله ﷺ په ذوالقعده كي نه بلكه په شوال كي كړي وه دا هم څكه ناسخ نه سي جوړيدی البته ددی آيت .

اَلشَّهْرُ الْحَرَامُ بِالشَّهْرِ الْحَرَامِ : په وجه دا خبره به صحيح وي چي په مياشتو حراموكي دجهاد كولو منع به په دی خاص صورت كي منسوخ گڼل كيږي كله چي كفار اومشركان په دی مياشتوكي دجنگ پيل ونه كي ، خلاصه دا سوه چي په مياشتو حراموكي جنگ كول بيخي حرام دی خوكله چي كفاردجنگ پيل وكي نو دمسلمانانو دپاره دفاعي جهاد بياحرام نه دی لكه چي امام جصاص رحمه الله په روايت دحضرت جابر رضي الله عنه نقل كړي دی چي رسول الله ﷺ به په هيڅ يوه مياشته حرامه كي ترهغه جهادنه كوی ترڅو به چي كفارو دجنگ پيل نه ووكړی .

(دمرتد كيدو انجام)

دآيت ، يَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ : په آخركي تراسلام راوړلو وروسته دمرتد كيدو دا حكم ذكرسوی دی چي حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ : يعني دداسي خلكوپه دنيا اوآخرت دواړوكي عملونه به سرترپايه لوټ اوبربادسي .

مسئله: په دنياد‌عمل لوټ كيدل دنكاح څخه يي دبي بي وتل دی دمسلمان(مورث)دميراث څخه محرومه كيدل دی په اسلام كي تړول كړي لمونځونه روژې اونورعبادتونه بيكاره اونيست كيدل دی په داسي مړي به جنازه نه كول كيږي اودمسلمانانوپه هديره (مقبره)كي به نه ښخول كيږي، اوپه آخرت كي دعمل لوټ كيدومطلب دادی چي دهيڅ عبادت ثواب به ورته نه وركول كيږي اوتل ترتله به په دوزخ كي پاته كيږي .

مسئله: كه چيري داسي سړی بيامسلمان سي نوپه آخرت كي دعذاب څخه دده بچ كيدل اوپه دنياكي دراتلونكي وخت دپاره په داسي سړي اسلامي احكام جاري كيدل يقيني دی ، خوامام ابوحنيفه رحمه الله په اولني وار اسلام كي دده كړی حج ختم بولي چي وس يي وسو فرض حج به بياكوی اودمخكي وار اسلام دروژو لمونځو اونورو عبادتونو ثواب هم په آخرت كي دده دپاره نه مني اوامام شافعي رحمه الله په دی دواړو صورتونوكي اختلاف لري .

مسئله: داصلي (دسره) كافر دټولو نيكيو ثواب خوړند وي كله چي مسلمان سي نو په ټولوبه ورته ثواب حاصليږي اوكه په كفرمړسونودغه ټول بيكاره سوه دحديث، اَسْلَمْتَ عَلٰی مَآ اَسْلَفْتَ مِنْ خَيْرٍ هم دامطلب دی

مسئله: دمرتدحالت تراصلي كافر ډيرزيات خراب دی په دی وجه اصلي دكافرڅخه جزيه قبلول كيږي اومرتد كه مسلمان نه سو نو قتلول كيږي به (كه سړی وي) اوهميشه به بنديوانه ساتل كيږي (كه ښځه وي) څكه چي په دی سره داسلام سپكاوی سوي دی ، دسزاپه ډول سركاري سپكاوی په دی سره جوړيږي .

يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ ۭ قُلْ فِيْهِمَآ اِثْمٌ كَبِيْرٌ

ستا څخه پوښتنې حکم دشرابو اوخمار ووايه چې دواړو کې غټه ګناه ده

وَّمَنَافِعُ لِلنَّاسِ ۡ وَاِثْمُهُمَآ اَكْبَرُ مِنْ نَّفْعِهِمَا ۭ

اوفائدې هم سته دخلقو او ددې دواړو ګناه ډير غټه ده ددې دواړو فائدو څخه.

دتفسير لنډيز

(پنځلسم حکم دشرابو اوخمار په باره کې)

خلګ ستاڅخه دشرابو اوخمار په باره کې پوښتنه کوي ته وفرمايه چې (د) دې دواړو (شيانو په استعمال) کې دګناه خبرې ترهغه فائدو ډيرې غټې دي (څکه دواړه دپرېښودلو لائق دي)

علوم اومسئلې: په دې سورت کې دصحابه کرامو ﷺ دسوالاتو دلړې دا هم يوسوال دی چې الله ﷻ يې جواب ورکړی دی ، دا دواړه (يعنې سوال اوجواب) مسئلې ډيرې زياتې ضروري دي څکه ددې پوره حقيقت اواحکام څه قدر په تفصيل سره واورئ.

(دشرابو دحرمت (حراموالي) اوددې سره تړلي حکمونه)

داسلام په شروع کې دنورو جاهلي طريقوپه شان شراب نوشي هم عامه وه هرکله چې رسول الله ﷺ دهجرت کولو څخه وروسته مديني منورې ته تشريف راوړې نو دلته هم دشرابو څښلو اوخمارکولو رواج وو، عام خلګ ددې دواړو شيانو په ظاهري فائدو عاشقان وه ، په دې کې دننه ډيرو خرابيو او بې کاريوته دهغوی فکر نه وو، ليکن دالله ﷻ دعادت په مناسب په هرقوم اوملك کې څه عقلمند خلګ هم وي چې عقل ته په طبيعت غلبه ورکوي او دعقل په مقابله کې خواهش پرېږدي ، په دې معامله کې دنبي کريم ﷺ مقام ډير زيات لوړ وو، کوم شي چې وروسته حراميدونکی وو، دهغه ﷺ طبيعت دمخکې څخه هم ورڅخه کرکه کوله ، په صحابه کرامو ﷺ کې هم څه داسې صاحبان وه کومو چې دحلالوالي په زمانه کې هم کله شرابوته لاس نه وو وروړې ، مديني منورې ته په رسيدو يو څو صحابه کرامو ته ددې دخرابيو اوبې کاريو زيات احساس وسو، لکه چې حضرت فاروق اعظم ﷺ معاذبن جبل ﷺ او يوڅو نور انصاري صحابه ﷺ هم ددې احساس دکبله دنبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضر سوه او عرض يې وکې چې شراب اوخمار خو دانسان عقل هم خرابوي اومال هم تباه کوي ، په دې باره کې ستاسې څه حکم دی ؟ ددې په جواب کې دا آيت نازل سو دا هغه اولنی آيت دی چې په کوم کې مسلمانانو لره دشرابو اوخمار څخه دمنع کولو دپاره اولنی قدم پورته کړل سو.

په دې آيت کې دا ښوول سوي دي چې په شرابو اوخمارکې څه ظاهري فائدې خوخامخا سته ، مګر دګناه غټې خبرې هم ورڅخه پيداکيږي چې په فائدو يې غالبې دي ، دګناه دخبرو څخه مطلب

دګناه سببونه دی ، مثلاً په شرابوکی ترټولو غټه خرابی دا ده چی عقل اوپوهه په ختم کیږی کوم چی دټولو انسانی کمالاتو اوشرافت ریښه ده څکه چی یوازی دعقل په زور دبدوکارونو څخه انسان منع کیدی سی دا چی نه وی نو دټولو بدو کارونو دپاره لار خلاصه سی ، په دی آیت کی په ښکاره ډول شرابوته حرام نه دی ویل سوی خو خرابی اونقصانونه یی بیان سوه چی دشرابو چښلوپه وجه انسان په ډیرو ګناهونو او خرابیوکی راګیریدی سی ګویا دشرابو پریښوولو دپاره یوه مشوره ورکول سوي ده هم دغه وجه ده چی ددی آیت په نازلیدو دصحابه کرامو ﷺ دوی ډلی جوړی سوی یوی ډلی خو دا مشوره قبوله کړه اوشراب یی پریښوول اوځینو صحابه کرامو ﷺ په دی خیال ددی چښل جاری وساتل چی داخو حرام تاکل سوی نه دی یوازی دخرابو اونقصانونو ذکر یی سوي دی ، ددغه نقصانونو اوخرابیو څخه به یی ځان ساتی تردی چی یوه ورځ حضرت عبدالرحمٰن بن عوف ﷺ په صحابه کراموکی یوڅو خپلو دوستانوته دعوت ورکی ، د ډوډۍ خوړلو څخه وروسته ددستور مطابق شراب وچښل سو، په دی حال کی دماښام دلمانځه وخت راغی ټول دلمانځه دپاره ودریدل نویو صاحب یی دامامت دپاره مخکی کی ، هغه دنشی په حالت کی چی تلاوت شروع کی نو سورة قُلْ يٰۤاَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ یی غلط ووایه ، نو دشرابو دبندولو دپاره د دوهمی درجی په ډول دا آیت نازل سو ، يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَقْرَبُوا الصَّلٰوةَ وَاَنْتُمْ سُكٰرٰى ای مؤمنانو! تاسی دنشی په حالت کی دلمانځه خواته مه ځی په دی سره یوازی دلمانځه په وختونوکی شراب بیخی حرام سوه اوپه نورو وختونوکی بیایی هم اجازت وو، یوی ډلی دصحابه کرامو ﷺ خو دمخکی څخه شراب پریښی وه ، کله چی داآیت نازل سو نوهغوی وویل چی کوم یوشی دلمونځ څخه سړی منع کوی هغه دی مونږ ولی وکړو، څکه چی په هغه کی هیڅ خیرنسته ، مګر دلمونځ دوختونو څخه بغیر کله چی دشرابو حراموالی اوس هم په ښکاره ډول نه وو نازل سوی ، نوځینو صحابه کرامو ﷺ به دلمانځه دوختونو څخه بغیر شراب چښل تردی چی دعتبان بن مالك ﷺ له طرفه په ورکول سوی دعوت کی دخوراك چښاك څخه وروسته درواج مطابق شراب و چښل سوه، دنشی په حالت کی ددستور مطابق دشعر اوشاعری اودفخرونو کولو بیان شروع سو ، په دی کی سعدبن ابی وقاص ﷺ په یوه قصیده کی دانصارو بد اودخپل قوم ښه ویل یوه انصاری زلمی ته غصه ورغله اوداوښ دزامی هډوکی یی دسعدبن ابی وقاص ﷺ پرسر ور وغورځوی ، هغه ﷺ سخت ژوبل سو، حضرت سعد ﷺ دحضور ﷺ په خدمت کی دانصاری زلمی ګیله وکړه نونبی کریم ﷺ دا دعا وکړه ، اَللّٰهُمَّ بَيِّنْ لَنَا فِي الْخَمْرِ بَيَانًا شَافِيًا: چی ای الله ﷻ دشرابو په باره کی مونږ ته څه ښکاره بیان اوقانون راکی نو دشرابو په باره کی دریم وار دبیخی حرمت (حراموالی) حکم دسورة مائده په دی تفصیلی آیت کی نازل سو، يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْاَنْصَابُ وَالْاَزْلَامُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطٰنِ فَاجْتَنِبُوْهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ (المآئدة ۹۰)

اى مومنانو! خبره دا ده چى شراب اوخمار اوبتان او دخمار غشى دا ټول پليت شيان شيطانى خبرى دى تاسى بيخى ددى څخه ډډه کوى دپاره ددى چى تاسى خلاصون پيدا کى ، شيطان خو دا غوارى چى دشرابو اوخمار په ذريعه ستاسى په مينځ کى بغض اودښمنى پيدا کى او الله ﷻ دياد اودلمانځه څخه تاسى بند کى نو اوس به هم منع سى ؟

(دشراب دحراموالي پوړى په پوړى حکمونه)

دالله ﷻ دحکمونو اصلى اوحقيقى حکمتونه هم دى احکم الحاکمين پيژنى مګر په شرعى احکاموکى په ژورکتلوسره دا معلوميږى چى داسلامى شريعت په احکاموکى دانسانى جذباتو ډيرخيال ساتل سوى دى چى په دى عمل کولوکى انسان ته ډير تکليف نه وى په خپله قرآن کريم فرمايى، لَايُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلاَّ وُسْعَهَا يعنى الله ﷻ په انسان داسى حکم نه چلوى چى دهغه دطاقت اوتوفيق څخه دباندى وى ،هم ددى رحمت اوحکمت تقاضاوه چى دشرابو په حراملولوکى اسلام دتدريجى عمل څخه کار اخيستى دى ، وار په وار دشرابو دبندولو اوحراملولو دقرآنى تاريخ خلاصه دا ده چى دشرابوپه باره کى څلور آيتونه نازل سوي دى ، يو آيت دسورت بقره دى دکوم تفسير چى اوس دايو کوو، په دى کى دشرابو څخه دپيداکيدونکو ګناهونو اونقصانونو بيان دى دحراموالى بيان يى نسته ګويا ددى دپريښولو مشوره يى ورکړه ددى حکم يى ورنه کى .

دسورت نساء په بل آيت ، لَاتَقْرَبُوا الصَّلٰوةَ وَاَنْتُمْ سُكَارٰى کى خاص دلمونځونو په وختونوکى شراب حرام وګاکل سوه په نورو وختونوکى يى اجازت وو ، دريم اوڅلورم دسورت مائده دا دوه آيتونه دى چى اوس مخکى تير سوى دى په دى کى شراب بيخى حرام وګاکل سول .

اسلامى شريعت دشرابو حرامول وارپه وارځکه وکړل چى دټول عمرعادت بياپه تيره تيره دنشى عادت پريښوول انسان ته ډيرګران پريوزى ، علماء کرام فرمايى ، فِطَامُ الْعَادَةِ اَشَدُّ مِنْ فِطَامِ الرَّضَاعَةِ، يوعادت پريښوول تردى ډير زيات ګران دى چى يوماشوم دتى څخه پرى سى په دى وجه اسلامى شريعت دحکيمانه اصولو مطابق اول ددى بدوالى په دماغوکى کښينوى بيايى دلمونځونو په وختونوکى حرام کړل بيا تريوى خاصى مودى وروسته يى بيخى حرام کړل ، وار په وار دشرابو حرامول دخداى ﷻ دحکمت تقاضاوه ، دغه شان تر حراملولو وروسته هم دغه قانون په پوره سختى سره جارى کول هم دخداى ﷻ دحکمت تقاضاوه ، په دى وجه رسول الله ﷺ دشرابو په باره کى اول دعذاب سخت وعده نه وښوول لکه فرمايى چى دا اُمُّ الْخَبَائِثُ (دپليتيو ريښه) او اُمُّ الْفَوَاحِشُ (دبى حيايى ريښه) دى ، ددى په چيښلو انسان په خرابوخرابو ګناهونوکى ګيريدى سى ، په يوه حديث کى ارشاد فرمايى چى شراب اوايمان يوځاى کيدى نه سى (دا روايتونه په نسائى کى دى ، په جامع ترمذى کى دحضرت انس ؓ څخه روايت دى چى حضور ﷺ دشرابوپه باره کى پرلسو کسانولعنت ويلى دى ، ددى په (۱) صفا

کوونکی (۲) جوړوونکی (۳) چښوونکی (۴) چښوونکی ددی په (۵) باروونکی او راوړونکی (۶) چاته چی راوړل کیږی (۷) پرخرڅوونکی (۸) اخیستونکی (۹) ددی پربخښونکی (۱۰) اوګټه خوړونکی ، بیا یی دځلی په تعلیم اوتبلیغ بس والی ونه کی بلکه په عملی اوقانونی ډول یی اعلان وفرمایی چی دچا سره کوم قسم شراب وی هغه دی په فلانی ځای کی جمع کی .

(صحابه کرامو ﷺ دحکم منلو بې اندازې جذبه درلوده)

داولنی حکم په اوریدو سره منونکوصحابه کرامو ﷺ په خپلو خپلو کورونوکی دخپل استعمال دپاره ایښی شراب هم هغه وخت توی کړل ، دحضرت عبدالله بن عمر ﷺ بیان دی چی کله دنبی کریم ﷺ دطرفه اعلان کوونکی دمدینی منوری په کوڅوکی دشرابو دحرامیدو اعلان وکی نوکه دچاپه لاس کی دشرابو لوښی وو هم هلته یی وغورځوی دچاسره چی دشرابو صُراحی یانوره ذخیره وه هغه یی دکور څخه دباندی وغورځوله ، حضرت انس ﷺ په یومجلس کی دشرابو ساقی جوړسوی وو ابوطلحه ﷺ ابوعبیده بن الجراح ﷺ ابی بن کعب ﷺ اوسهیل ﷺ غوندی جلیل القدر صحابه کرام ﷺ دغلته موجود وه، داعلان کوونکی دآواز په اوریدو سره ټولو وویل چی اوس دا ټول شراب چپه کی ، ددی جام اوصراحی مات کی په څینو روایتونوکی راغلی دی چی دحرامیدو داعلان په وخت دشرابو جام که دچاشونډوته رسیدلی هم وو نو هم هلته یی وغورځوی ، په مدینه منوره کی په هغه ورځ شراب دباران داوبو په شان تر ډیرو ورځو بهیدل ، کله به چی باران وسو نو دشرابو بوی او رنګ به دمځکی څخه راپورته سو.

په یوځای کی دشرابو دجمع کولو دحکم په اوریدو سره فرمانبرداره صحابه کرامو ﷺ هغه شراب هم هلته جمع کړل کوم چی په بازارکی دتجارت په غرض پراته وه هلته حضور ﷺ په خپلو لاسونو مبارکو دشرابو ډیری مشکیزی څیری کړی اونوری یی دصحابه کرامو ﷺ په لاس څیری کړی ، دشرابو یو صحابی سوداګر دشام څخه راوړی شراب دمدینی منوری څخه دباندی پریوه غونډۍ ځکه پریښوول چی ددی دحرامیدو پته ورته لګیدلی وه دحضور ﷺ په خدمت کی حاضرسو او دهغه شرابو په باره کی یی دحکم پوښتنه ورڅخه وکړه ، نوحضور ﷺ دالله ﷻ دحکم مطابق دټولومشکیزوڅیری کولو او دشرابو دتویولو حکم ورکی نو دالله ﷻ او رسول ﷺ په مینه مست دغه فرمانبرداره بنده خپله ټوله سرمایه دخپله لاسه بی سوچه اوبی فکره پرمځکه واړوله دصحابه کرامو ﷺ دابی مثاله فرمانبرداری کول اوخبره منل داسلام معجزه ده ځکه چی معلومه خبره ده په کوم شی چی څوك راواوړی اوعادت یی سی نو دهغه څخه منع کیدل دلږ ساعت دپاره هم ډیرګران سی ، دالله ﷻ یوحکم اودرسول الله ﷺ یو فرمان د دوی په عادتونوکی داسی بدلی را وسته چی اوس ورڅخه دومره کرکجن وه لکه څومره چی مخکی پرمین وه .

(داسلامي سياست اودعامو ملكي سياستونو لوى فرق)

په تيروسوو آيتونوكى دشرابو دحراموالى دحكم په نتيجه كى دمسلمانانو عملى نمونه مخامخ راغله دا داسلام معجزه بولى يادپيغمبر ﷺ دتربيت بى مثاله اثر اويا داسلامى سياست لازمى نتيجه وگنى يو خوا دامثال چى دشرابو دنشى دعمرونو عادت اوداسى رواج چى دلږ ساعت دپاره هم دهغه پريښول ډيرگران معلوميدل، مگرددى دحراموالى داعلان په اوريدو دمسلمانانو طبعيت بيخى بدل سو هغوى خپل ډيرخوښ شى سمدستى بد اوپليت وگڼى ، اوبلى خواته دهغه ترقى درلودونكى سياست خصوصاً دامريكى دسياست مثال واخلى چى هلته څوكاله مخكى كله چى دصحت اومعاشرى ماهرانو دشرابو بى حده اومهلكى خرابى اونقصانونه وليدل اومحسوس يى كړل نو دخپل قانون پربنيادىي دهغه دبندولو دپاره دخپل ملك دنشر او اشاعت اعلى نوى ذريعى په كار راوستى په دى باره كى په سوونو اخبارونه اورسالى دلكونو په شميركى خپرى كړى ، بيا دامريكى په آئين اودستوركى دترميم كولو په ذريعه دشرابو دبنديز قانون جارى سو ، مگرنتيجه يى ټولى دنيا داوليدله چى دشرابو دآزادى په نسبت دشرابو دبنديزپه زمانه كى ډير زيات شراب څښل سوى وه ، دامريكى حكومت هم ومنله او دشرابو دبنديز قانون يى بيامات كى ، دا دسترگو ليدلى حال دى چى هيڅكله ورته درواغ اوغلط نه سى ويل كيدى خو اوس دا كتل په كار دى چى دعربو نوو مسلمانانو او دامريكايانو (چى په نوى زمانه كى ډير ترقى يافته بلل كيږى) دحالاتو اومعاملوپه مينځ كى ددى ډير لوى فرق اصلى سبب اوراز څه دى ؟ كه لږغور وسى نومعلومه به سى چى اسلامى شريعت يوازى قانون دقوم داصلاح دپاره هيڅكله هم كافى نه دى گڼلى، بلكه ترقانون مخكى يى دهغو ذهنى تربيت وكى او دزهد تقوىٰ عبادت او په تيره تيره دآخرت دفكر په كيميايى نسخه يى دهغوى په مزاجونوكى ديولوى انقلاب په راوستو سره داسى افراد پيداكړل چى درسول ﷺ په آواز باندى دخپل ځان مال اوعزت ټولو قربانولو دپاره تيارسول ، دمكى دژوند په پوره دوركى دافراد سازى داكار درياضتونو په ذريعه كيدى ، كله چى دسر تيرو ټولى به تياره سوه ، نو هغه وخت قانون جارى سو.

دذهنوپه جوړولوكى خوامريكى هم دخپلى بى مثاله ذريعوپه استعمال كى هيڅ كموالى ونه كى ، دهغوى سره هرڅه وه خو دآخرت فكر ورسره نه وو بلى خواته دمسلمانانوپه رگ رگ كى دآخرت فكر خپور سوى وو ، دعقل لرونكو دپاره اوس هم دا دعبرت خبره ده ، كاشكى! چى دا خلگ داسلامى دغه نسخى په وجه دنياته امن اوآرام وركړى .

(دشرابو دخرابيو او فائدو په مينځ كي موازنه اومقابله كول)

په دى آيت كى دشرابو اوخمار دواړو په متعلق قرآن كريم دا ښوولى دى چى په دى دواړوكى څه خرابيانى هم دى اوڅه فائدى هم ، خوددى خرابيانى ددى ترفائدو ډيرى زياتى دى نوځكه ضرورت

ددی خبری دی چی وکتل سی چی ددی فائدی څه دی اوخرابیانی یی څه دی اوبیاداچی ترفائدویی خرابیانی ولی زیاتی دی ؟ اوپه آخرکی به ددی آیت څخه راپورته سوی یوڅو فقهی قاعدی بیانوو.

دشرابو فائدی په عامو خلګوکی دا مشهوری دی چی په دی سره خوند اوخوشحالی پیدا کیږی (په عارضی ډول) قوت اوطاقت په زیاتیږی رنګ ورسره صفاکیږی اوسور کیږی، مګر ددی په مقابله کی یی خرابیانی ډیری زیاتی دی، مثلاً دشرابی معده کرار کرار بیخی بیکاره سی، خوراك کولو ته یی ډیر زړه نه کیږی، دمخ څیره یی بدله سی خیټه یی غټه سی اودیوه جرمنی ډاکټر دوینامطابق دشرابو دعادت په وجه دشرابی دټول بدن جوړښت (ساخت) دځلوییښتو کالوپه عمرکی داسی کمزوری سی لکه چی دشپیتوکالو دبوډی بدن وی، یعنی په ځوانی کی دهغه ټول بدن دبوډاګانوپه شان کمزوری سی، دشرابو په چیښلو سره زړه اوپښتورګی خرابیږی خصوصاًنری رنځ ورڅخه پیداکیږی چی دیورپ دډاکټرانو دوینا مطابق ددغه ملکونو زیات خلګ دشرابو په وجه په نری رنځ کی ګرفتاریږی، او دځینو دغه ډاکټرانو دوینا مطابق په یورپ کی نیم خلګ ددغه راولاړ سوی نری رنځ څخه مری کوم چی دشرابو دچیښلوپه وجه پیداکیږی (اونیم خلګ دنورو ټولو رنځونو څخه مری) دلیل یی دا دی چی دشرابو تر زیات رواج مخکی هلته نری رنځ به خال خال یو ځای وو کله چی دشرابو رواج زیات سو نو نری رنځ هم دلته زیات سو،

دا دشرابو بدنی خرابی دی خو پرعقل باندی پریوتونکی اثرات یی تردی زیات دی کوم چی خلګ دنشی په حالت کی ګنی چی نشیی په هوښ کی نه وی اوعقل یی کارنه کوی کله چی نشه ولاړه سی نو عقل یی کارشروع کی، لیکن دا خبره دحقیقت په رڼا کی ځکه کمزوری ده چی دشرابو اثر په عقل باندی مستقل پائیدار اودعمر سره سم وی چی دهوښ په حالت کی هم دده عقلی قوت کمزوری وی، دا دماهرو ډاکټرانو تحقیق دی دځانه خبره نه ده چی کله خوشرابی هم دشرابوپه وجه لیونی کیږی، دارنګه طبیبان اوډاکټران په دی متفق دی چی شراب دبدن یوه برخه نه جوړیږی، نه ورڅخه وینه جوړیږی چی بدن طاقت په واخلی بلکه ددی کار یوازی دومره وی چی په عارضی ډول وینه راپاروی او عارضی قوت په محسوسیږی او دوینی دا راپاریدل کله کله دناګهانی مرګ سبب جوړیږی چی ډاکټران ورته (هارټ فیل) وایی، دشرابو چښلو په وجه هغه رګونه سختیږی دکومو په ذریعه چی ټول بدن ته روح رسیږی ددی نتیجه دا وی چی شرابی ژر بوډا کیږی، ددی اثر پر مری اوساه داسی کیږی چی تل یی ټوخی کیږی، آواز یی غټ سی اوبالآخر نری رنځ ورڅخه جوړسی، ددی بداثر پرنسل داسی پریوزی چی دشرابی اولاد کمزوری وی اوکله خو یی اولاد پیداکیږی هم نه، دشرابیانو دا وینا چی په شرابو سره چستی اوقوت پیداکیږی ځکه غلطه ده چی په شروع کی خو داسی ښکاری، مګرددی ریښتی کرار کرار داسی خپری سی چی بیاورڅخه دغه تیرسوی نقصانات راولاړ سوی وی او

کنترولول یی هیڅکله نه سی کیدی ، په معاشره کی دشرابو یوه خرابی دا هم ده چی ددی څخه اکثر جنګ جګړی دښمنی اوبغض راولاړیږی چی نتیجه یی ډیره خرابه وی څکه خوپه سورة مائده (۹۱) کی دا خرابی په ښکاره الفاظوکی په خصوصیت سره بیان سوي ده فرمایی ، إِنَّمَا يُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَنْ يُوقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ (شیطان داغواړی چی دشرابو اوخمارپه ترڅ کی ستاسی په مینځ کی بغض اوعداوت پیداکی، دشرابو یوه خرابی دا هم ده چی ځینی وخت شرابی په خپلی بیهودی کی خپل پټ رازونه ښکاره کی چی نتیجه یی ډیره خرابه وی ، خصوصاً په هغه وخت کی خوبی نتیجه ډیره مهلکه ثابته سی او په ملك کی ورڅخه پوره انقلاب راپورته کیږی ملکی سیاست اوجنګی مصلحتونه ټول بربادیږی کله چی دغه بیهوده (راز ښکاره کوونکی) دحکومت یوخاص ذمه دارسړی وی او راز هم دحکومت وی نو جاسوسان هم ددی په لټون پسی وی .

دشرابو یوه خرابی دا هم ده چی شرابی انسان دخلکو بلکه دکوچنیانوهم څکه دخنداشی سی چی دهغه خبری اوکړه وړه نامناسبه بی ډوله اوبی خونده وی ترټولو لویه خرابی یی دا ده چی دا دپلیتو مور (بنیاد) ده ، غټ غټ جرمونه اوګناهونه ورڅخه راولاړیږی زنا اوقتل اکثره هم ددی نتیجی دی لکه څنګه چی ثابته ده چی عام شراب خانی دقتل او زنا اډی وی ، دا خو دشرابو بدنی ضررونه سوه روحانی ضررونه یی هم ښکاره داسی دی چی دبیهودی په حالت کی لمونځ دالله ﷻ ذکر اوعبادت ورڅخه پاته وی ، لکه چی قرآن کریم فرمایی ، وَيَصُدَّكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ وَعَنِ الصَّلَوٰةِ، تاسی شراب دالله ﷻ د ذکر اولمونځ څخه بند وی .

مالی نقصان یی هم داسی ښکاره دی چی په یوه آبادی کی دشراب خانی په خلاصولو سره دهغه ټولی آبادی مال او دولت راټولوی او راجارو کوی یی څکه چی ددی ځینی قسمونه په ډیره ګرانه بیعه اخستل کیږی لکه دشمیر اوشمیرنی ځینو ماهرانو دیوه ښار دشرابو ټوله بیعه دټول فرانس دحکومت دلګښت سره برابره ښوولی ده .

دشرابو دا دینی جسمانی او روحانی خرابی حضوراکرم ﷺ په دی الفاظوکی راجمع کړي دی چی ورته یی أُمُّ الْفَوَاحِشِ (دپلیتیو یادبیحیاییو ریښه) ویلی دی ، لکه دیوه جرمنی ډاکټر دا خبره دمتل په توګه په ټوله دنیاکی مشهوره ده چی که چیری نیمی شراب خانی بندی سی نو زه ددی خبری ضمانت ورکوم چی نیمی شفاخانی (دواخانی) اونیمی جیل خانی به څکه بندی سی چی ضرورت به یی پاته نه سی (تفسیر المنار للمفتی محمد عبده ص۲۲۶ ج۲)

علامه طنطاوی رحمه الله په خپل کتاب الجواهرکی ددی کړی ځینی ضروری معلومات لیکلی دی چی څه دهغه دلته رانقل کیږی .

یوه فرانسی محقق په خپل کتاب (خواطر وسوانح فی الاسلام) کی لیکی ، ډیره زیاته هلاکوونکی

وسله او دوه ارخیزه تیره توره چې داهل مشرق (مسلمانانو) بیخ په وکښل سو او دوی په قتل سوه ، داشراب وه ، مونږ دالجزائر په خلگو دا وسله وازمایله لیکن اسلامی شریعت زمونږ په لاره کی خند جوړسو ، په هغوی زمونږ ددې وسلې هیڅ اثر ونه سو او په نتیجه کی دهغوی نسل هم دارنگه اخته دی زیاتیږی ، دې خلگو که زمونږ دا ډالی داسی قبوله کړی وای لکه څنګه چې د دوی یوی منافقی قبیلې قبوله کړي ده ، نو دوی به هم زمونږ په مخکی ذلیل اوخوار وای ، نن دکومو خلگو په کورونوکی چې زمونږ دشرابو دورونه چلیږی هغوی زمونږ په مخکی داسی سپك اوذلیل سوه چې سر نه سی راپورته کولی .

یو انگریز قانون دان بنتام لیکی چې ، داسلامی شریعت په ډیرو ښوکی یوښه والی دا هم دی چې په دې کی شراب حرام دی ، مونږ ولیدل چې کله دافریقی خلگو ددې استعمال شروع کی نو دهغوی په نسلونو کی لیونتوب ورننوتی او دیو رپ کومو خلگو ته چې ددې خوند ترخولې سو نو د هغوی په عقلونو هم کانی پریوتل ، په کار دی چې دافریقی پرخلگو دا بندسی او دیو رپ خلگوته په دې ډیری سختی سزاگانی ورکول سی .

غرض دا چې کوم یو شریف سړی په سړه سینه ژور لیدل وکړل نو بې اختیاره یې چیغه کړي ده چې دا (شراب) پلیتی ده شیطانی کار دی زهر دی دتباهی اوبربادی سامان دی ، دپلیتی ددې ریښی څخه واوړی ، فَهَلْ اَنْتُمْ مُّنْتَهُوْنَ .

دشرابو دحراموالی اوبندیز په باره کی دځلورو آیتونو بیان مخکی وسو ، مناسب ښکاری چې دسورة نحل دهغه بل آیت بیان هم وسی په کوم کی چې په یوبل ډول دنشیي شیانو ذکر راغلی دی ، فرمایی ،

وَمِنْ ثَمَرَاتِ النَّخِيلِ وَالْأَعْنَابِ تَتَّخِذُونَ مِنْهُ سَكَرًا وَرِزْقًا حَسَنًا إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ (۶۷ النحل)

اودخرماؤ او دانگورو دمیوو څخه تاسی خلگ دنشی شیان او دښه خوراك شیان جوړ وی ، بیشکه په دې کی دهغه خلگو دپاره لوی دلیل دی چې عقل لری .

وضاحت او تفسیر: په مخکی آیتونوکی دالله ﷻ دهغه نعمتونو ذکر وو چې دانسانی خوراك دپاره دهغه دپیدا کولو څخه دالله ﷻ عجیبه اوغریبه کاریگری اوقدرت ښکاره کیږی ، اودشیدو ذکر دی کومی چې یې دحیوانانو په خیټوکی دوینو اوپچو دمینځ څخه دانسان دپاره صفاستره خوراك جوړکړي دی او دانسان دنوری کاریگری اوعمل په دې کی ضرورت نسته د نُسْقِيْكُمْ لفظ هم داحکمت ښکاره کوی (یعنی مونږ شیدی درچیښو) تردې وروسته یې وفرمایل چې دخرماؤ اوانگورو دغه میوو څخه دځپل خوراك اوفائدی شیان جوړ وی ، مطلب دا چې دانسان په عمل او دخل داشیان تیاریږی اوجوړیږی خوبیا داشیان دوه قسمه وی ، یونشیي شیان چې خمر یا شراب ورته ویل کیږی ، دوهم دښه خوراك شیان یعنی تازه خرماوی اوانگور یاوچې خرماوی اووچ انگور، خلاصه دخبری دا سوه چې انسان ته

الله ﷻ خرماوی او انگور غوندی میوی په خپل کامل قدرت سره ورکړی او ددی څخه دخپل خوراك جوړولودا اختیار یی هم ورلره ورکی چی دی ورڅخه ښه دخوراك کار واخلی اوقوت په پیداکی یانشیی شی ورڅخه جوړکی چی خپل عقل په بیکاره او خراب کی ، ددی تفسیر مطابق ددی آیت څخه دنشیی شیانو په حلالوالی څه دلیل څکه نه سی نیول کیدی چی دلته الله ﷻ په خپل قدرت پیداسوی نعمتونه بیانوی، ددی احکام نه بیانوی اودانبکاره کوی چی دنعمت اصلیت په دی نه بدلیږی چی هغه یوانسان بی ځایه استعمال کی ، لکه دخرماؤ اوانګورو دنعمت څخه (شراب) دزحمت شیان جوړکی خو بیاهم یوه باریکه اشاره داسی وسوه چی دسَکَرًاپه مقابله کی دررزقًاحَسَنًاذکرکول دا ښیی چی سَکَر ښه رزق نه دی ، جمهور مفسرین رحمهم الله دلته دسَکَر معنٰی ، نشیی شی کوی (روح المعانی قرطبی جصاص) په اتفاق دامت سره دامکی آیتونه دی اودشرابو حراموالی په مدینه طیبه کی نازل سوي دی ، ددی آیتونو دنازلیدو پروخت که څه هم شراب حلال وه او مسلمانانو په عمومی ډول چیښل خو دا پورته ذکر سوی اشاره په کښی خامخاوه، چی دشرابوچښل ښه کارنه دی، په سختی دشرابو حراموالی په ښکاره ډول تر دی وروسته نازل سو (خلاصه دجصاص اوقرطبی)

(دځمار حراموالي)

میسر: مصدر دی په اصل لغت کی ددی معنٰی ویشل دی ، او دیاسر معنٰی ده ویشونکی ، دعربو دجاهلیت په زمانه کی دقسما قسم ځُمارو رواج وو یو رواج دا هم وو چی دحلال (ذبح) سوی اوښ په ویشل سوی غوښه کی به چی دچابرخه ونه رسیده نو ددغه اوښ ټول قیمت (بیه) به ورڅخه اخیستل کیده ، ټوله غوښه به پرفقیرانو وویشل سوه په خپله به یی نه استعمالوله ، په دی خاص ځمارکی دفقیرانو عاجزانو فائده اودځمارګرو دسخی توب اظهاروو نوځکه به یی په دی لوبه فخر کوی اوچابه چی په دی ځُمار اولوبه کی برخه نه اخیسته هغه ته به یی بخیل اوسپیره ویل ، دویش په مناسبت سره ځمارته میسر ویل کیږی ټول صحابه رضی الله عنهم اوتابعین رحمهم الله په دی متفق دی چی په میسر کی دځمار ټول صورتونه دا خل دی او ټول حرام دی ، په تفسیرِ ابن کثیر اودجصاص په احکام القرآن کی نقل دی چی دقرآن مفسر عبدالله بن عباس رضی الله عنه ابن عمر رضی الله عنه قتادة رضی الله عنه معاویه بن صالح رضی الله عنه عطاء رحمه الله اوطاوس رحمه الله فرمایلی دی ، اَلْمَیْسِرُ الْقِمَارُ حَتّٰی لَعِبُ الصِّبْیَانِ بِالْکِعَابِ وَالْجَوْزِ هرقسم ځمار میسر بلل کیږی تردی چی که ماشومان یی دلرګی په ګوټکو اوپه جوزو کوی ، ابن عباس رضی الله عنه فرمایی ، اَلْمُخَاطَرَةُ مِنَ الْقِمَارِ یعنی په مال سره شرط لګول دځمار یو قسم دی (جصاص) ابن سیرین رحمه الله فرمایی چی شرط لګول په میسر (ځمار) کی دا خل دی (روح البیان) مخاطره داسی کار اوشرط ته ویل کیږی چی په هغه باندی په اټکل سره کله خو ډیرمال لاس ته ورسی اوکله خوهیڅ ګوتو ته ورنه سی (یعنی ګټل اوبایلل په کښی وی لکه نن صباچی لاټری ده) داټول دمیسر (ځمار) قسمونه اوحرام دی ، خلاصه دا چی

دمیسر او خمار تعریف دا دی چی دمال مالك جوړیدل په داسی شرط پوری وتړی چی دهغه سته والی اونیستوالی دواړه برابر وی ، او دغه رنګه دخالصی ګټی اودخالص تاوان دواړه اړخونه هم برابروی ، (شامی ص۳۵۵ جلد ۵ کِتَابُ الْحَظرِ وَالاِبَاحَةِ) مثلاً دا هم احتمال دی چی په زید باندی تاوان پریوزی او دا هم ده چی په عمر باندی پریوزی، ددی چی څومره قسمونه اوصورتونه په مخکی زمانه کی رائج وه یانن صبارائج دی یابه آئنده پیدا کیږی ، هغه به ټول مَیْسَر قِمَار اوخمار بلل کیږی.

مطلب داچی معمی اوتجارتی لاټریانی ټولی په خمارکی داخلی دی، بالفرض که چیری یوازی دیوه اړخ څخه انعام مقرر سی چی کوم سړی فلانکی کار وکی نو هغه ته به داانعام رسیږی نوپه دی کی باك نسته ، په شرط ددی چی ددی سړی څخه څه فیس وصول نه سی ، ولی چی په دی کی معامله دګټی او نقصان ترمینځه دائره نه ده بلکه دګټی اودګټی دنیشتوالی په مینځ کی دائره ده ، دصحیح احادیثو له مخی شطرنج اوچوسر اونور څکه حرام ټاکل سوي دی چی په دی کی دمال ګټل اوبایلل رائحی ، په تاش اونورو کی چی دپیسو ګټل اوبایلل راسی نو دا هم خمار دی ، په صحیح مسلم کی دبریده ﷺ په روایت کی ذکر دی چی رسول الله ﷺ فرمایی چی کوم سړی دنَرْدشِیر (چوسر) لوبه کوی نو داسی ده لکه چی دخنزیر په غوښه او وینه خان رنګوی اوحضرت علی ﷺ شطرنج ته په خمار کی دا خل وایی او حضرت عبدالله بن عمرﷺ شطرنج ته تر نردشیر (چوسر) هم زیات بدویلی دی (تفسیر ابن کثیر رحمة الله علیه) داسلام په شروع کی دشرابوپه شان خمارهم رواوو، په مکه مکرمه کی کله چی دسورت روم غُلِبَتِ الرُّوْمُ آیتونه نازل سوه اوقرآن کریم دا خبر ورکی چی که څه هم روم دخپل حریف کسریٰ څخه اوس ماته وخوړه ، لیکن څوکاله پس به رومیان بیاغالبه راځی خودمکی مشرکانو دقرآن داپیشګویی ونه منله نوحضرت ابوبکر صدیق ﷺ داسی شرط ورسره وتړی که چیری په دومره کاله کی رومیان غالب سوه نوتاسی به دومره مال راکوی دا شرط ومنل سو او دقرآن کریم دخبر مطابق رومیان غالب سوه نو حضرت ابوبکرﷺ دغه مال (دشرط) قبض کی اوحضورﷺ ته یی پیش کی هغه ﷺ خوشحاله سو مګرد مال دخیرات کولو حکم یی وکی ، ددی څخه معلومیږی چی کوم شیان حرامیدونکی وه الله ﷻ دخپل پیغمبر او دهغه دخاصوصحابه کرامو ﷺ په هغه زمانه کی هم حفاظت کړي دی په کومه زمانه کی چی داحلال وه نو څکه هغوی همیشه دشرابو اوخُمار څخه خان وساتی ، په یوه روایت کی دی چی جبریل امین ﷺ رسول الله ﷺ ته خبرراوړی چی الله ﷻ ته دجعفر طیارڅلور خویونه ډیرخوښ دی نوحضور ﷺ دحضرت جعفرﷺ څخه پوښتنه وکړه چی ستا دغه خویونه کوم دی هغه ﷺ عرض وکی چی داتراوسه ماچاته نه وه ښکاره کړی کله چی الله ﷻ ته خبر کړی نواوس یی درته ښکاره کوم ، هغه څلور خصلتونه دا دی ، ماولیدل چی شراب عقل ختموی نو زه هیڅکله دهغه خواته هم نه یم تللی ، ماولیدل چی دبتانو په لاس کی دچافائده اونقصان نسته نو په جاهلیت کی هم ماهیڅکله بت پرستی نه ده کړی

، زه دخپلی بی بی اولونو په باره کی ډیرغیرتی یم نو ځکه ماهیځکله هم زنانه ده کړی ماولیدل چی درواغ ویل بدوالی اورذیل توب دی ، نوپه جاهلیت کی هم ماهیځکله درواغ نه دی ویلی (روح البیان)

(دخُمار اجتماعي اومعاشرتي نقصانونه)

دخُمار په باره کی قرآن هم هغه فرمایی کوم چی دشرابو په باره کی فرمایی ، یعنی دا چی په دی کی څه فائدی سته ، مگر ترنفع دهغه نقصان او ضرر زیات دی ، دخُمار دایوفائده خوهرسړی پیژنی چی خُمار گټونکی خوار اوبدحاله سړی په یوه ورځ کی په ناسته مالدار اودغتی پانگی خاوند جوړیدی سی، لیکن ددی معاشی اجتماعی اوروحانی خرابیانی اونقصانونه ډیرکم خلگ پیژنی خلاصه یی دا ده چی دخُمار لوبه تولہ هم په دی جوړیږی چی دیوه سړی فائده دبل سړی په نقصان کی وی ، په دی لوبی کولو سره دولت زیاتیږی نه په ځای ولاړ وی په دی لوبه کی دټول قوم تباهی اودسړیتوب دخویونو مرگ دارنگه دی چی هغه انسان یوځیروونکی حیوان جوړسي چی دبل په نقصان خپله فائده (یعنی دبل پربایللو خپله گټه موقوفه کوی ، دخپل ورور (مسلمان) پرمرگ خپل ژوند دهغه په غم خپله خوشحالی موقوفه کوی اوخپل ټول قابلیت په دی خود غرضی کی لگوی ، کوم انسان ته چی خپل دا اصلی شان جوړول په کار وو چی هغه دی ټول مخلوق ته فیض رسان وی هغه دی دقربانی اوهمدردی مجسمه وی بل اړخ ته په تجارت اوخرځولو اخستلوکی دواړو طرفوته فائده وی ، په مال بدلولو سره دولت زیاتیږی اوخرڅوونکی اخستونکی دواړوته په دی کی فائده ښکاری ، نوځکه تجارت روا اوخُمار ناروا وگرځول سو، په خُمار کی یوغټ نقصان دا دی چی په خُمار عادت سړی داصلی گټی وټی اوکارکسب څخه دپاته کیدو عادت سی ځکه چی په ناستی بی خواری بی محنته دبل مال یوازی په شرط لگولو سره په څومنته کی خپل ځان ته کوی ، څینو علماؤ دخُمار دنوم میسر ایښوولو دا وجه ښوولی ده چی په دی سره دبل مال په آسانی سره خپل جوړیږی، دیوه سړی په نقصان دبل سړی فائده موقوفه وی اوکه دډیرو کسانو په نقصان دیوه سړی فائده موقوفه وی دا ټول دخُمار قسمونه دی اوحرام دی دسود په نوی قسمونو را ایستلو اودبینك دنوو نوو طریقوپه جوړولو دانه رواکیږی ، لکه څنگه چی دشرابو په نوو نومونو ایښوولوسره چی شراب چیښل نه رواکیږی دا ځکه چی په دی کی دټول قوم نقصان دی ، په دی طریقه دټول قوم دولت یوڅوغټانو اومالدارو یایو څوکورنوته راټول سی او نور ټول قوم خوار تباه اوبرباد پاته سی ، لکه چی په (سټه بازار) کی اودخُمار په نورو قسمونوسره هر روزه (هره ورځ) داسی کیږی ، دپوره (ټول) قوم دولت یوڅو کسانو یاکورونوته دراغونډیدو قرآن هم مخالف کوی فرمایی ، لِكَيْلَا يَكُونَ دُولَةً بَيْنَ الْأَغْنِيَاءِ مِنكُمْ : یعنی دغنیمت دمال په مختلفو طبقوکی دویشلوکومی قاعدی چی قرآن کریم ټاکلی دی دهغه منشاء هم دا ده چی دولت یوڅو مالدارو کورونو ته راټول نه سی.

دخُمار خرابی دا هم ده چی دشرابوپه رنګ په خپل مینځ کی دجنګ جګړې اودفتنی دفساد سبب جوړیږی دبایلوونکی سړی په زړه کی دګټونکی سړی سره کرکه اودښمنی پیداکیږی ، او دتمدن انسانی دود اودستور دپاره هلاکوونکی اوبربادوونکی شی دی ، هم دغه وجه ده چی قرآن حکیم بالخصوص د اناکار والی بیان کړي دی فرمایی ، إِنَّمَا يُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَنْ يُوقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللهِ وَعَنِ الصَّلَاةِ (المآئدة ۹۱)، (شیطان هم داغواړی چی دشرابو اوخُمار په ذریعه ستاسی په مینځ کی دښمنی اوبغض اوکرکه پیداکی اوتاسی دالله ﷻ دذکر اولمونځ څخه منع کی) دا رنګه دخُمار یولازمی اثر دا دی چی دشرابو په شان په دی کی هم داسی بوخت اومست وی چی دالله ﷻ ذکر اولمونځ ته یی پام نه وی ، غالبًا هم دغه وجه ده چی قرآن کریم خُمار او شراب دواړه په یوه ځای کی په یوه ډول بیان کړي دی چی دخُمارهم یوقسم نشه وی چی انسان ښه او بدته دپام کولو لایق نه پریږدی ، په دی آیت کی هم په جمع ددواړو (خُمار اوشرابو) دخرابیو او نقصاناتو بیانولوپه ترڅ کی دابیان سوي دی چی دواړه دبغض دښمنی اودالله ﷻ دذکر او لمونځ څخه دبندولو سبب جوړیږی ، په خُمارکی یوبنیادی خرابی دا هم ده چی په دی سره دبل مال په ناروا طریقو هضمول کیږی او دځه مناسبی بدلی څخه بغیر دبل مسلمان ورور مال اخیستل کیږی کوم چی قرآن کریم په دی الفاظو سره منع کړي دی ، لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ : دخلکو مالونه په باطله طریقه مه خوری ، په خُمارکی یوه غټه خرابی دا هم ده چی په یوه وار ډیرکورونه په خرابیږی په یوه ساعت کی لك پتی سړی فقیر سی ، ددی څخه یوازی هغه سړی نه متاثره کیږی چاچی دخُمارجرم کړی وی بلکه دهغه پوره کورنی او خاندان په مصیبت اخته سی اوکه ژور نظروسی نو دغه بداثر پرټول قوم ولویږی ځکه چی ددغه سړی دمالی حالت په مطابق چاچی ورسره وعدی اومعاملی کړي دی قرضونه یی ورکړي دی نو هغوی به هم ډیوالیان سی او په دی ډول ټول قوم تباه اوبرباد سی ، په خُمارکی یوه خرابی دا هم ده چی انسان دکار او روزګار څخه په وزی ، او دخیالی نفعو په تَکل کی وی ، دارنګه ټل په دی کوشش کی وی چی ښه پرېښه کښینی اودخپلو لاسو او دماغ اوپښو دسترې کولو په ځای بی هیڅه دبل په دولت اوګټه وته قبضه وکی ، په دی لنډبیان سره داخبره ښه ښکاره کیږی چی یوازی خُمارګر نه بلکه دهغه ټوله کورنی څه چی ټول قوم په بربادیږی ، ځکه خوقرآن کریم فرمایی ، وَإِثْمُهُمَا أَكْبَرُ مِنْ نَفْعِهِمَا یعنی ، دشرابو اوخُمار خرابی او نقصانونه ددی ترفائدو اوګټو زیات دی.

(دفقهي څو قاعدی اوفوائد)

په دی آیت کی دشرابو اوخُمار دفائدو منلوسره دادواړه ددی قاعدی په بنیاد حرام ګڼل سوي دی چی ددی دفائدو په نسبت ددی مجموعی خرابی او نقصانات ډیر زیات دی، دغسی خوپه دنیاکی یوشی اویوکارهم بی فائدی نسته ، لکه مار لړم اوزهر وګوره چی فائده هم لری اوسره ددی هغه مضر

اونقصاني بلل كيږي دغلا ډاكي زنا اونورو فائدي هم سته څكه خوږي هغه خلك كوي كوم چي په
چالاكي بيداري هوښيارتيا اوعقلمندي كي مشهور ګڼل كيږي ، ليكن كله چي ددي شيانو ديني
اودنيوي خرابي اونقصانات ددي ترفائدو اوګټو زيات دي نو اسلامي شريعت هم داشيان ترهغه قاعدو
لاندي حرام وټاكل كومي چي دټولو عقلمندو اوهوښيارو خلګو منل سوي دي .

(دفقهي يوه بله قاعده)

ددي آيت څخه دا هم معلومه سوه چي دفائدو تراخيستو دضرر دفع كول مخكي دي ، مطلب يي دا سو
چي دنقصاناتو له كبله ديو شي فائدي پريښول ضروري دي .(لكه د دوه آنو فائدي دپاره چي څوك
بازارته دټلو خواري او زيات تاوان نه كوي او دوه آني ګران شي په خپل كلي كي اخلي مترجم)

وَيَسْـَٔلُوْنَكَ مَاذَا يُنْفِقُوْنَ ۬ قُلِ الْعَفْوَ ؕ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ

اوستاڅخه هغوی پوښتنه کوي چي څه ولګوي وروایه چي دخپل خرخ څخه زيات ، دارنګه بيانوي الله ﷻ تاسي

لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُوْنَ ۝۲۱۹ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ؕ وَيَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ

دپاره حكم ، دي دپاره چي تاسي فكر وكړي ددنيا او دآخرت په خبروكي ، اوتا ستاڅخه پوښتي

الْيَتٰمٰى ؕ قُلْ اِصْلَاحٌ لَّهُمْ خَيْرٌ ؕ وَاِنْ تُخَالِطُوْهُمْ فَاِخْوَانُكُمْ ؕ

ديتيمانو حكم ته ورته ووايه چي دهغوي دكار ښه كول به ترڈي ، او كه چيري دهغوي لګښت يوځاي كړي نو هغوي

وَاللّٰهُ يَعْلَمُ الْمُفْسِدَ مِنَ الْمُصْلِحِ ؕ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَاَعْنَتَكُمْ ؕ

ستاسي ورونه دي ، اوالله ﷻ پيژني وراني كوونكي او وداني كوونكي ، اوكه چيري الله ﷻ غوښتي نو په تاسي

اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ۝۲۲۰ وَلَا تَنْكِحُوا الْمُشْرِكٰتِ حَتّٰى يُؤْمِنَّ ؕ

يي باراچولی وای ، بيشكه الله ﷻ (غالب) زبردست دی (انتظام)تدبيروالا ، اونكاح مه كوي مشركانو ښځوسره ترڅو

وَلَاَمَةٌ مُّؤْمِنَةٌ خَيْرٌ مِّنْ مُّشْرِكَةٍ وَّلَوْ اَعْجَبَتْكُمْ ۚ وَلَا تُنْكِحُوا

چي ايمان را نه وړي او البته مينځه مسلمانه ښه ده دمشركي ښځي څخه كه څه هم هغه تاسي ته ښه ښكاري ، اوپه

الْمُشْرِكِيْنَ حَتّٰى يُؤْمِنُوْا ؕ وَلَعَبْدٌ مُّؤْمِنٌ خَيْرٌ مِّنْ مُّشْرِكٍ

نكاح مه وركوي مشركانو ته (لوني، خوندي) ترڅو چي هغوي ايمان را نه وړي او البته مريي مسلمان ښه دي دمشرك

وَلَوْ أَعْجَبَكُمْ ۗ أُولَٰئِكَ يَدْعُونَ إِلَى النَّارِ ۖ وَاللَّهُ يَدْعُوا

ځکه که څه هم هغه تاسی ته ښه ښکاري ، هغوی بولي دوزخ طرف ته ، او الله ﷻ بلي

إِلَى الْجَنَّةِ وَالْمَغْفِرَةِ بِإِذْنِهِ ۖ وَيُبَيِّنُ آيَاتِهِ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٢٢١﴾

جنت طرف ته اوبخښني طرف ته په خپل حکم اوښیي خپل حکم خلقوته دی دپاره چی هغوی نصیحت قبول کړی

دتفسیر لنډیز

(شپاړسم حکم دمال دلګولو اندازه)

اوخلق ستاسی ځخه معلومول غواړي چی (په خیرات کی دی) څومره مال لګوی تاسی ورته وفرمایاست چی څومره آسان وی (چی دهغه په لګولوسره په خپله په دنیوی تکلیف کی ګیرنه سی یادبل حق په بربادولو سره دآخرت په تکلیف کی ګیرنه سی) الله ﷻ احکام دارنګه صفاصفا بیانوی ددی دپاره چی تاسی (ته دغه علم وسی او دهغه علم په وجه دهرعمل دکولو ځخه مخکی) ددنیا اوآخرت په معاملوکی (دغه احکام) په فکرکی لری (او په هره معامله کی په فکرسره ددغه احکامو مطابق عمل کوی)

(اوولسم حکم دیتیم سره ګډون)

(په اول داسلام کی دهندوستان په شان په عربوکی هم یتیمانوته په خپل حق ورکولوکی پوره احتیاط نه وو ، په دی وجه دا وعید واورول سو چی دیتیمانو مال خوړل داسی وګنی لکه خپله خیټه داورپه سکروتو ډکول ددی وعید په اوریدولو صحابه کرامو ﷺ ددیر احتیاط کولو په وجه دیتیمانو خوراک چیښناك اوپخلی دځانه ځخه بیل کی دهغوی دخوراك ځخه پاته شی به هم داسی خوسا اوخراب سوځکه چی نه خوبه یی پخپله دغه پاته شی استعمالوی سوای اونه ورته دهغه دخیرات کولواختیاروو په دی ډول خلقوته هم تکلیف وو اودیتیم مال به هم بی هیڅه بربادیدی ، کله چی په دی باره کی حضور اکرم ﷺ ته عرض وسونو په آیت کی داسی ارشادوسو) اوخلق ستاځخه دیتیمانوماشومانو (ځانته یاد ګډ مال دلګولو) حکم پوښتی ، ته وفرمایه چی (زمونږ اصل مقصد د دوی دمالونو دخیتی اچولوځخه منع کول دی چی دهغوی خیر اوګټه بربادنه سی ، هرکله چی ددوی ګټه په ګډمال لګولوکی ده نو) دهغوی دګټی خیال ساتل (دهغوی دګټی خلاف ځانته ترلګولو) دیر زیات ښه دی اوتاسی چی دهغوی سره ګډخرڅ کوی نو (څه دبیری خبره ځکه نه ده چی) هغوی (ماشومان) ستاسی (دینی) وروڼه دی (اووروڼه دوروڼوسره هم ګډ اوسیږی) او الله ﷻ ګټه خرابوونکی اودګټی خیال ساتونکی (ځانته ځانته) پیژنی (په دی وجه په خوراك اوچیښناك کی ګډون په دی ډول په کار دی چی دیتیم ګټه په برباده نه سی اوپه ناپوهی کی یابی ارادی که چیری څه کمی زیاتی وسی نو په دی به ځکه ګرفت نه وی چی الله ﷻ ته د دوی نیك نیتی معلومه ده) اوکه چیری الله ﷻ غوښتی نو (په دی معامله کی دسخت قانون په ټاکلو

سره به یې) تاسې په مصیبت کې اچولې وای (ځکه چې) الله ﷻ زورور (زبردست) دی (مګر آسان قانون یې په دې وجه وټاکې چې هغه) حکمت والا (هم) دی (تروس دباندې حکم نه ورکوي)

(دا تلسم حکم دکفارو سره نکاح کول)

او نکاح مه کوی دکافرو ښځو سره ترڅوچې مسلمانې نه سې اومسلمانه (که چیرې) مینځه (هم وي په زر واره) ښه ده ترکافرې ښځې (هغه که څه هم آزاده (اصلیه) بي بي هم وي که څه هم هغه (کافره ښځه دښائست اومال په وجه) تاسې ته ښه ښکاري (لیکن بیاهم مسلمانه ښځه په حقیقت کې ترهغې ښه ده) او (دا ډول ستاسې په اختیارکې) ښځې دکافرانو په نکاح کې مه ورکوی ترڅوچې مسلمان نه سي اومسلمان سړی (که) مریي (هم وي په زر واره) ښه دی ترکافر سړي (هغه که ښه (اصیل) هم ولې نه وي) که څه هم هغه (کافر سړی دمال حال اومنصب په وجه) تاسې ته ښه ښکاري (مګر بیاهم مسلمان په حقیقت کې ترهغه ښه دی اودکافرانو دبدوالي وجه کومه چې په اصل کې دنکاح دبندیز وجه ده دا ده چې) دا (کافران) خلګ دوږخ ته (دبیولو) باعث جوړیږي (ځکه چې کفر ته بلل باعث دجهنم دی) اوالله ﷻ دجنت اومغفرت (دحاصلولو طرف) ته بلل کوي په خپل حکم سره (اوداحکم په دې ډول ښکاره سو چې دکفارو سره یې دنکاح دبندیز حکم وکې چې دهغوی دبلنې داثر څخه په مکمل ډول ساتنه اوحفاظت وسي کوم چې دجنت اومغفرت دحاصلولو باعث جوړیږي) اوالله ﷻ ددې دپاره خپل احکام ښیي چې هغه خلګ په نصیحت عمل وکې (اودجنت اومغفرت مستحق سي)

(فوآئد دبیان القرآن څخه)

مسئله : کوم قوم چې دګړو وړو څخه اهل کتاب ښکاري ، لیکن په عقائدو کې اهل کتاب ثابت نه سي نو دداسې خلګو ښځې په نکاح سره اخیستل روانه دي ، لکه څنګه چې نن صبا عام خلګ انګریزان عیسایان ګڼي اوپه حقیقت کې د دوی عقیدې دملحدانو دي نه خو دا خلګ دخدای ﷻ منونکې دي ، نه دحضرت عیسیٰ ﷺ دپیغمبرۍ منونکې دي ، اونه انجیل آسماني کتاب مني ، خلګ په دې باره کې ډیره غلطي کوي چې بې تحقیقه دیورپ دښځو سره نکاح (ودونه) کوي .

مسئله : دغه ډول چې کوم سړي دګړو وړوڅخه مسلمانان ښکاري لیکن عقیدې یې دکفر وي ، نوده ته مسلمانه ښځه په نکاح ورکول روانه دي اوکه چیرې ترنکاح کولو وروسته یې عقیده دکفر سوې وي نو بیانکاح په ماتیږي لکه څنګه چې نن صبادرسم اورواج اوسائنس داثرڅخه عقیدې تباه کیږي په انجلۍ والاؤ واجب دي چې اول دې دسړي دعقیدې تحقیق کوي وروسته دې ورته لور یاخور په نکاح ورکوي

علوم اومسئلې

(دمسلمان اوکافر په مینځ کې یوځ بله نکاح کول منع دي)

په تیرو سوو آیتونوکې دکافرانو اومسلمانانو په میـځ کې دنکاح دبندیز حکم په دې وجه ووچې کافران نر او ښځې دجهنم طرف ته بلل کوي ، تفصیل یې دا دی چې دښځې اوخاوند په مینځ کې دژور

ترون اومینی اومحبت په وجه دمسلمان نر یابنځی په زړه کی دکفر شوق پیداکیږی یا لږ تر لږه دکفر سره کرکه دمسلمان نر یابنځی دزړه څخه وزی ، نتیجه به یی دارا ووزی چی دغه مسلمان نر یابنځه به مشرك اوکافر سی چی جهنم ته دتللو باعث جوړیږی ، هم دغه وجه ده چی الله ﷻ وفرمایل چی داخلګ دجهنم طرف ته دتللو باعث جوړیږی ، هم دغه وجه ده چی الله ﷻ وفرمایل چی داخلګ دجهنم دطرف ته بلنه ورکوی اوالله ﷻ دجنت او بخښنی طرف ته بلنه ورکوی اوخپل احکام صفا صفا بیانوی چی خلګ په نصیحت عمل وکی ، دلته یوڅو خبری دغور کولو لایقی دی .

اوله خبره دا ده چی په آیت کی دمشرك (لفظ) څخه مراد که چیری عام کافر وی نو په بل آیت ﴿وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ﴾ سره داهل کتابو کافی ښځی ددی څخه مستثنٰی کیږی اوکه چیری دمشرك څخه دلته داهل کتابو څخه بغیربل کافر مراد وی نو د اهل کتابو دښځو دمستثنٰی کولو بیاضرورت نسته ، دوهم خبره دا ده چی دمسلمان اوکافر په مینځ کی دنکاح دبندیزکومه وجه چی قرآن کریم ښوولی ده هغه په ټولو کافرانوکی سته، بیا دکتابی ښځو دمستثنٰی کولوڅه وجه ده ؟ جواب یی ښکاره دی چی دنورو کافرانوپه نسبت دمسلمانانو سره داهل کتابو اختلاف په دی ډول کم دی چی داسلام په درو بنیادی عقیدوکی دمسلمانانو سره اهل کتاب متفق دی ، دآخرت په عقیده کی یهود اونصارٰی هیڅ اختلاف نه لری ، دتوحید عقیده د اهل کتابو په مذهب کی هم داسی کلکه ده چی دالله ﷻ سره شریك ګڼل هغوی کفر بولی ، دابله خبره ده چی دحضرت عیسٰی ؑ بی پایانه عظمت اومحبت هغوی شرك ته ورسول ، یوازی درسالت په معامله کی هغوی په دی ډول اختلاف لری چی محمد ﷺ نبی او رسول نه منی که څه هم چی دا هم داسلام یوه بنیادی عقیده ده خوالله ﷻ دنورو کافرانو په نسبت دا اختلاف کم وګڼی او دمسلمانانو داسانتیا دپاره یی دکتابی ښځو سره نکاح کول رواکړل ، دریمه خبره داده چی کله دمسلمان نکاح دکتابی ښځی سره رواسوه نودمسلمانی ښځی نکاح دکتابی سړی سره ولی نه رواکیږی ؟ وجه یی داسی ښکاره ده چی ښځه دسړی په قبضه کی وی او دغسی هم ښځه فطرتاً کمزوری وی نو دخاوند دکفر اثر پرښځی باندی پریوتل ډیر ژر اوقوی وی ، مګر دښځی دعقائدو اومذهبی خیالاتو اثر په خاوند باندی پریوتل دعقل څخه لیری ګڼل سوي دی ، که چیری په یوه ښځونکی میره باندی دښځی داسی ډول ژور اثر ولیدل سی نو دا په حساب کی نه راځی ، او دی لره هیڅ اعتبار نسته ځکه چی دا ډیره کمه پیښیږی، څلورمه خبره دا ده چی کله دا احتمال هم کیدی سوای چی لکه څنګه چی دښځی اوخاوند دکفر اثر پر یوه اوبل پریوزی دارنګه داسلام اثر هم پریوه اوبل پریوزی په دی وجه یی دمسلمان سړی اوکتابی ښځی نکاح یوترېله روا سوه ، دلته دحکمت یوه خبره دا ده چی په یوه شی کی دنفع امید اوضرر خطره پیداسی نوعقل سلیم غواړی چی دا ولی خبری په نسبت د دوهمی خبری زیات خیال وساتل سی ځکه دنکاح په معامله کی

هم دادوهم خیال (چې هسې نه څوك مسلمان كافرسي) ضروري وګڼل سواودا اولنی خیال پرېښوول سو (چې ګوندی کافرمسلمان سي) پنځمه خبره داده چې دکتابي ښځوسره دمسلمان دنکاح داجازت مطلب دا دی چې نکاح به صحیح سي او داولاد نسب به هم ثابت سي، خوداغوره څکه نه ده چې رسول کریم ﷺ دمسلماني دینداری ښځی سره په نکاح کولو زور داسی ورکړي دی چې په دینداری کی دخاوند کومکی ثابته سی اواولاد یی هم دینداره وی ، دداسی قسم احادیثو څخه ثابتیږی چې کله دغیر دینداری مسلمانی ښځی سره نکاح کول بهتره نه ګڼل کیږی نو دچابی دینی (کافری کتابی) ښځی سره نکاح کول به څنګه بهتره وګڼل سی؟ کله چې حضرت عمرؓ ته دا خبره ورسیده چې په شام اوعراق کی اکثرو مسلمانانو دکتابي ښځو سره نکاح کړي ده نو دفرمان په ذریعه یی دابندکړل او دی خبری ته یی دمسلمانانو مخه کړه چې دداسی ښځو سره نکاح کول دمسلمانانو دټبرو دپاره ددینی اوسیاسی نقصانونو اوخرابیو باعث اوسبب ده (کتاب الآثاردامام محمد رحمه الله) لکه څنګه چې سترجنرال محمد اکبرخان په خپل کتاب (حدیث دفاع) کی سره دحوالو اوتفصیلاتو بیان کړي دی چې کتابي ښځی دنکاح په نامه دمسلمانانو په کورنوکی ننوتلی دی اودهغوی دعقیدو اوخیالاتو دخرابولو څخه علاوه دهغوی رازونه یی معلوم کړي دی او ډیرسیاسی نقصانات یی ورته رسولی دی، دکوموچې څینو عیسائی مصنفینوپه خپلو کتابونوکی اقرارهم کړي دی ، اکثره ډیورپ داسی کسان چې اهل کتاب بلل کیږی یادمردم شماری په کتابونو کی اهل کتاب (یهود اونصاریٰ) لیکل کیږی دسره بی دینه وی دیهودیت اوعیسائیت سره هیڅ تعلق نه لری په حضرت موسیٰ ؑ په عیسیٰ ؑ په تورات اوانجیل بلکه په آخرت او الله ﷻ ایمان نه لری ، دداسی خلګو څخه لور اوخور په نکاح اخیستل بیخی حرام دی ، داسی خلګ دقرآن دآیت وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ په استثناء کی هیڅکله دا خل نه دی .

وَيَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْمَحِيْضِ ۭ قُلْ هُوَ اَذًى ۙ

اوستاڅخه پوښتی حکم دحیض وواية هغه ګندګی ده

فَاعْتَزِلُوا النِّسَاۗءَ فِي الْمَحِيْضِ ۙ وَلَا تَقْرَبُوْھُنَّ حَتّٰى

نو تاسی بیرته وسیږي له ښځو دحیض په وخت اونژدی کیږي مه هغوی ته ترڅو چې

يَطْهُرْنَ ۚ فَاِذَا تَطَهَّرْنَ فَاْتُوْھُنَّ مِنْ حَيْثُ اَمَرَكُمُ اللّٰهُ ۭ

ښی پاکی نه سی ، بیاچې ښی پاکی سی نو ځی دهغوی خواته دهغه ځای څخه چې حکم درکړی دی تاسی

إِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ التَّوَّابِيْنَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِيْنَ ﴿۲۲۲﴾ نِسَآؤُكُمْ

ته خدای ﷻ ، بيشکه الله خوښوي توبه کوونکي او خوښوي دګندګۍ څخه ځان ساتونکي ، ستاسې ښځې

حَرْثٌ لَّكُمْ فَأْتُوْا حَرْثَكُمْ اَنّٰى شِئْتُمْ وَقَدِّمُوْا لِاَنْفُسِكُمْ

ستاسې دکښت ځای دی نو ځئ خپل کښت ته ، دکومه طرفه موچې خوښه وي او دمخه انتظام کوی دخپل

وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْۤا اَنَّكُمْ مُّلٰقُوْهُ ؕ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۲۲۳﴾

ځان دپاره او ويرېږئ دالله ﷻ څخه او پوه سئ چې تاسې هغه سره يوځای کېدونکي ياست او زيرې ورکړه مؤمنانو ته

دتفسير لنډيز

(نولسم حکم په حيض کې دکوروالې حراموالې اودپاکې شرطونه)

اوخلق ستاسې څخه دحيض (په حالت کې دکوروالې اونورو کارونو کولو) حکم پوښتنې تاسې وفرمايا ست چې هغه (حيض) دګندګۍ شی دی نو دحيض په حالت کې دښځو (سره دکوروالې کولو څخه) لېرې اوسېږئ او (په دې حالت کې) دهغوی سره يوځای والی مه کوئ ترڅوچې هغوی (دحيض څخه) پاکې نه سي بياکله چې هغوی (ښځې) په ښه شان پاکې سي (چې دناپاکۍ شك اوشبهه پاته نه سي) نو دهغوی خواته ځئ راځئ (يعنی دهغوی سره کوروالی کوئ) دکوم ځای څخه چې تاسې ته خدای ﷻ اجازت درکړي دی (يعنی دمخکنی اندام څخه) يقيناً الله ﷻ مينه لری دتوبه کوونکو سره (مثلاً ناځاپه ياپه بې احتياطی سره په حيض کې کوروالی وکی بياچې خبر سو نوتوبه يې وکړه) اومينه لری دپاك اوصفا اوسېدونکو سره (دحيض په حالت کې دکوروالی اونورو منع سوو شيانو څخه ځان ساتي او دپاکۍ په حالت کې په مخکني اندام کې دکوروالی اجازت ورکول ددې دپاره دی) چې ستاسې بيبيانې ستاسې دپاره (په شان د) دکښت دی (چې په هغه کې نطفه دتخم اوکوچنی دپيداوار اوحاصلاتو مثال لری) نوخپل کښت ته دکوم طرفه څخه چې غواړئ راځئ (اودکښت په شان خپلو بيبيانو ته هم دپاکۍ په حالت کې دهرطرف څخه دراتلو اجازت دی يعنی پرارخ په پروتی ناستی دمخ څخه دوروسته څخه دکښته څخه دپورته څخه هرځنګه چې وی خوکښت (په مخکني اندام کې به کوروالی کول وی) ته به راتلل وی ځکه چې شاتنی اندام هيڅکله کښت نه سی جوړيدی اوپه دی خوندونو کې دومره مه بوختيږئ چې آخرت هم ورپسی هيرکی بلکه) دراتلونکی وخت په غرض دخپل ځان دپاره څه (نيك عملونه) کوی اودالله ﷻ څخه (په هرحال کې) وبيرېږئ اودايقين لری چې بيشکه تاسې دالله ﷻ په مخکی پيش کېدونکی ياست (ای محمد ﷺ داسی) مومنانوته (چې نيك عملونه کوی دالله ﷻ څخه

بیریږی اوداللهﷻ په مخکی دپیشیدو یقین لری) دخوشحالی خبر واوروه (چی هغوی ته به په آخرت کی هرقسم نعمتونه ورکول کیږی)

وَلَا تَجۡعَلُوا اللّٰهَ عُرۡضَةً لِّاَيۡمَانِكُمۡ اَنۡ تَبَرُّوۡا وَتَتَّقُوۡا وَ

او مه جوړوی دالله ﷻ نوم نښانه دخپلو قسمونو خوړلو دپاره چی دنیکی کولو ، پرهیزګاری

تُصۡلِحُوۡا بَيۡنَ النَّاسِ ؕ وَاللّٰهُ سَمِيۡعٌ عَلِيۡمٌ ﴿۲۲۴﴾

او دنورو خلقو په مینځ کی دصلح کولو څخه خان ساتی او الله ﷻ هرڅه اوری پوهیږي.

ښلم حکم (۲۰) دتفسیر لنډیز: او (د) الله ﷻ (نوم) دخپلو قسمونوپه ذریعه ددی شیانو مانع مه جوړوی چی تاسی دنیکی اوتقوی او دخلګوپه مینځ کی داصلاح کار وکی (یعنی دالله ﷻ په نوم داقسم مه خوری چی مونږ به نیك کارنه کوو) اوالله ﷻ هرڅه اوری اوپیژنی یی (نو په سمه ژبه خبری کوی اوپه زړه کی خراب خیالونه مه راولی)

لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللّٰهُ بِاللَّغۡوِ فِيۡۤ اَيۡمَانِكُمۡ وَلٰكِنۡ يُّؤَاخِذُكُمۡ بِمَا كَسَبَتۡ

نه نیسی تاسی الله ﷻ ستاسی په عبثو قسمونو لیکن نیسی تاسی په هغه قسمونو دکومو چی قصد کړی دی

قُلُوۡبُكُمۡ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوۡرٌ حَلِيۡمٌ ﴿۲۲۵﴾

ستاسی زړونو او الله ﷻ بخښونکی زغم کوونکی دی.

(دتفسیر لنډیز : یو ویشتم حکم ددرواغو دقسمونو خوړلو حکم)

الله ﷻ به په آخرت ستاسی ګرفت نه کوی ستاسی په قسمونوکی په داسی عبث قسم چی په هغه کی بی ارادی درواغ ویل سوی وی، لیکن دهغه درواغو په قسم چی ورباندی ستاسی زړونو د درواغو ویلو اراده کړی وی اوالله ﷻ بخښونکی دی (په داسی عبث قسم ګرفت نه کوی) زغم کوونکی دی (د درواغو دارادی قسم خوړلو سزا یی ترآخرته وځنډوله)

لِلَّذِيۡنَ يُؤۡلُوۡنَ مِنۡ نِّسَآئِهِمۡ تَرَبُّصُ اَرۡبَعَةِ اَشۡهُرٍ ۚ فَاِنۡ فَآءُوۡ فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ ﴿۲۲۶﴾ وَاِنۡ

کوم خلق چی قسمونه خوری خپلو ښځو خوا ته دتلوڅخه هغوی دپاره نیته ده دڅلورو میاشتو بیا که چیری په خپل مینځ کی یوځای سو نو الله ﷻ بخښونکی مهربان دی او.

عَزَمُوا الطَّلَاقَ فَاِنَّ اللّٰهَ سَمِيۡعٌ عَلِيۡمٌ ﴿۲۲۷﴾

که چیری قصد یی کړی وو دپرېښودلو نو بیشکه الله ﷻ اوریدونکی پوهیدونکی دی

دتفسير لنډيز

(دوه ويشتم دايلاء حكم)

كوم خلك چې (دخه مودې دپاكلو څخه بغير يادخلورو مياشتو ياتردې دزياتې مودې دپاره) قسمونه خوري دخپلو بيبيانو خواته دتلو څخه دهغوى دپاره ترڅلورو مياشتو نيته ده كه چيرې (په دې څلورو مياشتوكې دننه) داخلك (خپل قسمونه مات كې او دښځې خواته) رجوع وكړي (نوبياخوبه يې نكاح پر خپل حال وي او) الله ﷻ (به دداسې قسمونو ماتولو گناه په كفارې سره) معاف كړي (اوكله چې يې اوس دبي بي حق پوره كول شروع كړل نو په ده به) رحمت وفرمايي اوكه چيرې دبيځې پريښوولو پخه اراده يې كړې وي (اوپه څلورو مياشتوكې دننه يې په خپل قسم ماتولو سره رجوع ونه كړه) نو (په څلورو مياشتو تيريدو سره به بيځې طلاق ولوېږي او) الله ﷻ (دهغوى قسمونه هم) اورې (اودهغوى پخې ارادې هم پيژني (نو په دې خاطرېې مناسب حكم وفرمايي)

وَالْمُطَلَّقٰتُ يَتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ ثَلٰثَةَ قُرُوْٓءٍ ؕ وَلَا يَحِلُّ لَهُنَّ اَنْ يَّكْتُمْنَ مَا

اوطلاقې سوې ښځې دې په انتظاركې لرې خپل ځانونه تردرې حيضوپورې اوهغوى دپاره حلال نه دي

خَلَقَ اللّٰهُ فِيْٓ اَرْحَامِهِنَّ اِنْ كُنَّ يُؤْمِنَّ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ

چې پټوې هغه چې پيداكړي دي الله ﷻ دهغوى په خيټوكې كه چيرې هغوى ايمان لرې په الله اوپه ورځ

وَبُعُوْلَتُهُنَّ اَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ فِيْ ذٰلِكَ اِنْ اَرَادُوْٓا اِصْلَاحًا ؕ وَلَهُنَّ

وروستنۍ ، او دهغوى خاوندان حق لرې دهغوى دراګرځولو په دغه موده كې كه چيرې غواړې په ښه دول استوګنه

مِثْلُ الَّذِيْ عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوْفِ ۪ وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ

اودښځوهم حق سته لكه چې څنګه دسړو په هغوى دي ددستور مطابق اوسړو لره په ښځو

دَرَجَةٌ ؕ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿۲۲۸﴾

بهترې ده او الله ﷻ زور اور دي ، تدبيركوونكى .

دتفسير لنډيز

(دروېشتم اوخليرويشتم حكم دطلاقې سوې ښځې عدت اودرجوع كولو دمودې بيان)

اوطلاقې سوې ښځې (كومې چې داصفتونه لرې ، خاوند ورسره كوروالي ياخلوت صحيحه كړې وي حيض يې راځي اصليه وي اودشريعت پرقاعده مينځه نه وي) خپل ځانونه دې (دبلې نكاح كولو څخه)

بندلري د درو حیضو (ترختمیدو) پورى (چي عدت بلل كيږى) او دغه ښځو لره (داخبره) حلاله نه ده چي خداى ﷻ چي څه دهغوى په رحم (بچه داني) كي پيدا كړى وى (حمل وى كه حيض) هغه پټ كى (ځكه چي دهغه په پټولو سره دعدت حساب غلطيږى) كه چيرى هغه ښځى په الله ﷻ اوپه ورځ دآخرت يقين لرى (په وجه ددى چي دا يقين ددى خبرى تقاضا لرى چي دالله ﷻ څخه دى وبيريږى چي په قيامت كي ددى نافرمانى كولو سزا ورنه كړى) او دهغه ښځو خاوندان (كوموته چي طلاق رجعي وركول سوى وى، بيان به يى اوس وروسته راځى) دهغوى (دنكاح دتازه كولو څخه بغير) بيا دواپس كولوحق لرى (خو) په دى عدت كي دننه (دى واپس كولوته (رجعت) رجوع وايى) په شرط ددى چي (په رجوع كولو سره) داصلاح قصدلرى (كه داسى نه وى نو دتنگولو په غرض رجوع كول بى فائدى دى كه څه هم رجوع خو به رواسى) او (داصلاح داحكم په دى وجه وسوچى) دښځو حقوق دى (پرسړو) لكه چي (په نفس وجوب كي) په شان دهغه حقونوكوم چي پرښځو دى (دسړوچي دهغوى) دقاعدى (شرعى) مطابق (ادا كول دى) او (دومره خبره خامخاسته چي دښځوپه مقابله كي) دسړو درجه لوړه ده (په دى وجه ددوى (سړو) دحقوقو حيثيت دښځو دحقوقو ترحيثيت لوړ اواعلى دى) اوالله ﷻ زبردست (حاكم) دى (او) حكيم (هم) دى.

(دآيت سره تړلي مسئلي دبيان القرآن څخه)

(۱) كه چيرى دشهوت دغلبى له وجى دحيض په حالت كي كوروالى وسو نو ښه توبه كول واجب دى اوكه څه خيرات هم دخداى ﷻ په نامه وركى نو ډيره ښه به وى.

(۲) دښځى په وروستنى اندام كي كوروالى كول حرام دى.

(۳) دلغو (عبث) قسم دوى معناوى دى يوخوداچي دتيرسوى خبرى په باره كي د درواغو قسم بى ارادى دخولى څخه ووزى ياخو په اراده ووزى ليكن په خپل خيال كي يى صحيح گڼى، مثال به يى دا وى چي يوسړى په خپل گمان دزيد دراتلو قسم وخورى مگرهغه په واقع كي نه وى راغلى ياپه راتلونكى خبره بى اختياره قسم يى دخولى څخه ووزى، په دى قسم كي گناه نسته، ځكه ورته لغو قسم وايى، په آخرت كي به هم په دى گرفت نه وى، ددى په ضدپه كوم قسم چي گرفت كيږى هغه يمين غموس بلل كيږى، دا هغه قسم دى چي په تيرى سوى خبره قصداً په درواغو وخوړل سى ددى گناه سته مگر امام ابو حنيفه رحمه الله په دى كي هم كفاره لازمه نه گڼى، لكه څنگه چي په دى بيان كړى لغو قسم يقيناً كفاره نسته، په دى آيت كي دهرو هغو قسمونو بيان دى په كوموكي چي كفاره نسته. دلغو دوهمه معنىٰ دا ده په كومه چي كفاره نه وى اودى ته به لغو ځكه وايوچي مواخذه دنيوى، يعني په دى كفاره نه راځى، ددى معنىٰ په لحاظ لفظ (لغو) غموس ته هم شامل دى چي په دى كي كه څه هم گناه وى خوكفاره نه وى، ددى په مقابله كي هغه قسم چي كفاره هم په راځى منعقد بلل كيږى، ددى حقيقت دا دى چي

قصداً داسې قسم وخوري چې زه به فلانکی کارکوم اوبیاهغه کار ونه کړي نوبیابه کفاره پرلازمیږي.

(۴) دخپلې ښې بې سره دکوروالي نه کولو دقسم څلور صورتونه دي ، يو دا چې موده ونه ټاکي، دوهمه دا چې دڅلورو میاشتو موده وټاکي دریمه دا چې ترڅلورو میاشتو زیاته موده وټاکي ، څلورمه دا چې ترڅلورو میاشتو کمه موده وټاکي ، اول دوهم دریم صورت په شریعت کې ایلاء بلل کیږي او ددې دروسره حکم دا دي چې په څلورو میاشتوکې دننه خپل قسم مات کړي اودبې بې سره نژدیکت وکړي نوکفاره به ورکوي اونکاح یې ماته نه سوه اوکه په څلورو میاشتوکې یې دننه قسم مات نه کې نوطلاق پرلوېدي اوس دغه ښځې ته بې دنکاح کولو رجوع نه سي کیدی خونکاح به هم هلته صحیح وي چې ښځه اوخاوند دواړه په رضا وي اوپه دې صورت کې دحلالې ایستوهم ضرورت نسته، نېغ په نېغه نکاح صحیح ده، د څلورم صورت حکم دا دی چې په قسم ماتولو کفاره لازمیږي اوکه چیری ټاکلی موده تیره هم سي بیاهم طلاق نه لویږي (بیان القرآن)

علوم اومسئلې

(دنر اوښځې په مینځ کې دفرق اودښځې اوخاوند په مینځ کې دیوه اوبل دحقونو اومرتبو په باره کې یوجامع آیت)

وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِیْ عَلَیْهِنَّ بِالْمَعْرُوْفِ، دا آیت په دې معامله کې دشرعي قاعدې حیثیت لري چې ښځې اوخاوندان یوتربله کوم حقوق وظیفې (ذمه واري) اودرجې (مرتبې) لري ددې آیت څخه مخکې او وروسته په خورکوع ګانوکې ددې قاعدې دمهمو غړو بیان سوی دی.

(په اسلام کې دښځې مقام)

مناسب ښکاري چې دلته دښځې هغه حیثیت ښکاره سي کوم چې ورته شریعت ورکړي دی که په دې څوك پوه سونو خامخا به ددې خبرې اقرار وکې چې اسلام يومنصفانه اودرمیانه نظام دی اودابه هم ومنې چې تردې کښته پورته بل خیال لرل یابیخې یې نه منل دانسان دپاره ددنیا اوآخرت عظیمه اولویه خطره ده ، په ژوره کتنه دابنکاري چې ددنیادبقاء آبادی اوترقی دپاره دوه شیان (ښځه اومال دولت) بنیادي حیثیت اوشان لري اوبل طرف ته دا دواړه شیان دفتنو اوفسادونو اودمرګ ژوبلې سبب جوړیږي ، مطلب یې په پوره ډول دابنکاره کیږي چې داشیان په اصل کې ددنیا دآبادي ترقی او ددې درونق ذریعه ده، که چیری دغه اصل اوبنیاد لږ هم وښورول سي نو ددنیا دوراني اوفتنو اوفسادونو سبب جوړیږي ، دا دواړه شیان قرآن کریم دانساني ژوندپه نظام کې په خپل صحیح مقاماتوپه داسې ډول ایښې دي چې ورڅخه ډیرې فائدې اونفعې په لاس راځي او دفتنې اوفساد بوی هم نه ورڅخه راځي ، دمال او دولت صحیح مقام دهغه دګټلو ذریعې اولګولو طریقې او ددې دتقسیم اوویش منصفانه نظام یو مستقل علم دی چې د (اسلام دمعاشي نظام) په نوم بلل کیږي ، ددې بیان به انشآء الله په بله موقع وسې زمایوه چاپ سوې رساله (د دولت تقسیم) په نامه هم دضروري اشاروکار ورکوي

اوس په دی وخت کی دښځو دهغه حقوقو اووظیفو (ذمه واریو) بیان دی کوم چی په تیر سوی آیت کی په دی ډول ارشادڈ دی چی ، لکه څنګه چی پرسړو دښځو حقوق پوره کول ضروری دی دغه رنګه پرښځو دسړو حقوق پوره کول هم ضروری دی ، مګکی خو دا فرق خامخاسته چی دسړو درجه ترښځو لوړه ده او هم په دی ډول مضمون په سورة نسآء کی دی فرمایی ، الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَآءِ بِمَا فَضَّلَ اللهُ بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ وَّبِمَا اَنْفَقُوا مِنْ اَمْوَالِهِمْ : یعنی سړی حکمان دی په ښځو په دی وجه چی لوی الله ﷻ ورکړه یوه لره پربل اوپه دی وجه چی لګولی دی هغوی (سړیانو) خپل مالونه .

(داسلام څخه په مځکي معاشره کي دښځي درجه)

دجاهلیت دزمانی ټولو قومونو ښځی ته دکورنی استعمال دیوشی حیثیت ورکړی وو ، دحیوانانوپه شان به خرڅیدی دخپل واده اوښادی کولو هیڅ اختیار یی نه درلودی ، د دوی اختیار درلودونکوبه چی چاته وربخاره کړه دهغه څخه بغیر به یی بل درك نه وو ، دخپلوانوپه میراث کی د دوی برخه نه وه بلکه دنورو شیانوپه شانْ به دوی دسړوپه میراث کی راتلی اودسړو ملکیت (مال اودولت) به ګڼل کیدی د دوی په ملکیت اوقبضه کی به هیڅ نه وه اوکه تش په نوم به څه وه هم نودسړو داجازت څخه بغیر به یی په دغه مال کی څه دخل نه سوای کولی ددی خاوندته پوره اختیار ووچی ددی (ښځی) مال یی په څه ډول چی غوښتلی په هرځای کی لګولی سوای او دی به دپوښتنی کولو حق هم نه درلودی تردی چی په ځینو مغربی ملکونوکی (چی دیر ترقی یافته ګڼل کیدل) ځینو سړو به ښځه ګرسره انسان نه ګڼله ، په دین اومذهب کی دښځی برخه نه وه نه دی ته دعبادت کولوحق وو اونه به دجنت حقداره ګڼل کیده ، دروما په ځینو مجلسونوکی دا فیصله په مشوری سره سوی وه چی دایوپلیت حیوان دی کوم چی روح نه لری دیوه پلار دپاره به داروا ګڼل کیده چی هغه خپلی ژوندی لونی په مځکه کی ښخی کړی ، بلکه داعمل به دعزت نښانه اودشرافت معیارګڼل کیدی ځینو خلګودا خیال درلودی چی دښځی په قاتل نه خوقصاص سته اونه خو دیت او دمړ سوی خاوندسره به دهغه ښځه ژوندی په اور سوځول کیده ،درسول کریم ﷺ تر ولادت باسعادت وروسته او دهغه ﷺ ترنبوت مخکی په سنه ۵۸۶ میلادی کی فرانس تردیرو اختلافاتو وروسته دا قرارداد پاس کی په هغه کی یوازی دومره ومنل سوه چی ښځه یوه بنیادمه ده ، مګر دسړی دخدمت دپاره ده اودایی په ښځه لوی احسان وګڼی ، غرض دا چی ددنیا ټولو قومونو اومذهبونو دښځی سره هغه قسم سلوك کوی چی دهغه په اوریدو دانسان بدن کیږی ، ددی عاجز مخلوق سره به نه دعقل اوپوهی مطابق معامله کیده اونه دعدل او انصاف مطابق ، تر رحمة للعٰلمین ﷺ او دهغه تر راوړی حق دین قربان سم چی دانسان سترګی یی خلاصی انسان ته یی دانسان دقدر اوعزت یوه طریقه وښووله دعدل او انصاف قانون یی جاری کی دښځو حقوق یی په سړو داسی لازم کړل لکه څنګه چی دسړو حقوق پرښځو لازم دی هغه یی دسړوپه شان آزاده خپل

اختیاره او دخپل مال اوځان داسې مالکه وټاکله چې یوه ښځه خپل پلار اونیکه هم په نکاح کولونه سې مجبوره کولې اوکه چیرې دهغې داجازت څخه بغیربل چاته په نکاح سوه، نوددې په انکاربه نکاح باطلیږې، او ددې په منظورولو به صحیح کیږې، ددې په مال کې هیڅ یونارینه ددې داجازت او رضا څخه بغیر هیڅ دخل مداخلت نه سې کولې، دخاوند ترمرګ یاطلاق ورکولو وروسته داخود اختیاره ده څوك زور اوزیاتوب نه سې پرکولې، په میراث کې دنارینه وو په شان ښځه هم برخه لرې، په ښځه مال لګول او دهغې رضاساتل شریعت محمدیه ﷺ عبادت ټاکلې دې که چیرې خاوند دهغې واجب حقوق نه پوره کوې نو هغه داسلامې عدالت په زور خپل حقوق یاطلاق اخیستلې سې.

﴿ ښځې دسړو دمشرې اوانتظام څخه ایستل هم ددنیا دفساد ډیر لوې سبب دې ﴾

ښځې ته خپل مناسب حقوق نه ورکول زور ظلم سنګدلې اوبدبختې وه کوم چې اسلام ورکه کړه، دغه رنګه دا بې قیده پریښوول او دسړو دمشرې اوانتظام څخه آزادول اودخپلې ګذارې او ډوډۍ اوجامې دګټلو دپاره هم داذمه داره جوړول دهغې حق تلفې اوبربادې ده نه دهغې دبدن جوړښت دابار پورته کولې سې، اونه دکورنې کارونو ذمه وارې او دخپل اولاد دپالنې دا غټ کار ددغه بار دپورته کولو دپاره دې ته څه موقع ورکوې، ددې څخه علاوه دسړو دمشرې او انتظام څخه په وتلوسره ښځه دټولې انسانې معاشرې دپاره لویه خطره جوړیږې، په دنیاکې ورڅخه فساد اومرګ ژوبله راپورته کیږې او ددې عمل څخه راپورته سوې قسما قسم فتنې پیداکیدل لازمې اودهرې ورځې دلیدلو اوکتلو خبرې دې هم دا وجه ده چې قرآن کریم دښځو دواجبو حقوقو دبیان سره سره دا هم ارشاد وکې چې، وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ دسړو درجه ترښځو لوړه ده او په نورو ټکوکې مطلب یې دا دې چې سړې دښځو منتظمان او ذمه داران دې، مګرڅنګه چې تراسلام مخکې په جاهلیت اولې کې ددنیا ټول قومونه ددې غلطې ښکارسوې وه چې ښځې به یې دکورنیو سامانونو یادحیوانانو په شان ساتلې دغه رنګه داسلام دتنزل په زمانه کې د(جاهلیت أخرٰى) دور شروع سو د مخکنې غلطې راګرځیدل دهغې په ضد د دوهمې غلطې په صورت کې کول کیږې چې پرښځو باندې ولاړ دسړو د دومره مشرې څخه هم دخلاصیدو اوخلاصولو پرلپسې کوشش روان دې چې په نتیجه کې یې فحاشې اوبې حیایې عامه سوه دنیا دجنګ اوجګړو اودفسادکورجوړ سومرګ او ژوبلې دومره ډیرې سوې چې (جاهلیتِ اولی) یې وشرموې دعربو یومشهور متل دې، اَلْجَاهِلُ اِمَّامُفْرِطٌ اَوْمُفَرِّطٌ. جاهل یاترحد زیاتې کوې یا کمې خو پر خپل حال برابر اوپر میانه روې هیڅکله قائم نه پاته کیږې، اوس هم دا حال دزمانه سازو خلکو دې چې یاخو به یې ښځه بنیادمه نه بلله اونه یې هم په انسان سره په خیال کې وَرَوَسْتَله اوچې ترقې یې وکړه نو دښځو پرڅټ پروت دسړو دمشرې اومنتظمې وابنکې یې وغورځوې کوم چې ددنیا دپاره دحکمت اوګټې خبره وه ددې بدانجام مونږ په خپلوسترګو وینو اویقین وکې چې ترکومه دقرآنې ارشاد

په مخکې تیټ نه سي نوفتنې او فسادونه به ورځ ترورځ زیاتیږي ، اوسنی حکومتونه په دنیاکې دامن دراوستو دپاره هره ورځ نوي نوي قانونونه جوړوي ، ددې دپاره نوي نوي اداري قائموي په کروړونو روپې په لګوي لیکن دکمې چینې څخه چې فتنې راخوتیږي دهغې دبندولو ګرسره څه خیال نسته ، که چیرې نن صباپه دنیاکې دفتنوفسادونومرګ ژوبلې جګړواوجنګونو داسبابو دتحقیق دپاره یوکمیشن جوړ سي نو زماپه خیال کې ددې اسباب نیم په نیمه زیات ښځه او دهغه بې مهاره آزادي به راوخیژي ، مګر دموجوده زماني دهوښیاروخلګو سترګې ځکه ددې څخه پټې دي چې هغوی په نفس پرستې کې تردې حده رسیدلي دي چې دنفساني خواهشونو پرضد دخیر اوګټې دپاره هیڅ بندیز نه سي زغملی ، الله ﷻ دې زمونږ زړونه د ایمان په نور روښانه کې اوپه کتاب الله اودحضور ﷺ په هدایاتو دې دپوره عمل کولو توفیق مونږ ته راکړي ځکه چې هم داشیان ددنیااوآخرت دنیك بختې پانګه ده او بس .

مسئله: ددې آیت په ترځ کې دا معلومه سوه چې قرآن حکیم ښځې اوخاوندته خپلې خپلې ذمه واري داسې وښوولې چې دسړو پرذمه دښځوحقونه اداکول داسې فرض دي لکه څنګه چې دښځو پرذمه دسړو حقونه اداکول فرض دي ، په دې کې دې خبرې ته اشاره ده چې ښځه اوخاوند دې دخپلو خپلو حقونو دغوښتنې پرځای دخپلو خپلوذمه وارو خیال ساتي که داسې وسوه نودحقونو دغوښتلو دعوه به دمینځه ووزي ، ځکه چې دسړي ذمه واري هم دښځې حقوق دي او دښځې ذمه داري هم دسړي حقوق دي چې هریوتن خپلې ذمه داري پوره کې نو دهریوه تن حقوق به ددې په ترځ کې پوره پوره اداسي نن صبادټولې دنیا جګړې هم ددې څخه راپورته کیږي چې هریو سړی دخپلو حقوقو غوښتنه په مخکې لري ، مګر دخپلې ذمه واري دپوره کولو ګرسره خیال نه لري ، ددې نتیجه دا سوه چې دحقوقو دغوښتنې څخه جنګونه جوړسول کوم چې دحکومتونو عوامو ښځو خاوندانو او دهروګړي په مینځ کې روان دي دقرآن دې اشاري دخبرې طرف داسې بدل کې چې سړی دې په خپلو حقوقو غوښتلوکې دنرمي چشم پوشي معافي او درګزر څخه کار واخلي او په خپلو ذمه وارو اداکولو دې زور ورکي ، په دې قرآني تعلیم که عمل وسي نو دکورونو بلکه دملکونو اوحکومتونو اکثره جګړې به ختمې سي .

(دښځې او خاوندپه مینځ کې ددرجې لوړوالې یوازې په دنیاکې کیدی سي په آخرت کې به هیڅکله داقانون نه چلیږي)

ددنیا دانتظام انساني فطرت اودښځو دخیر اوګټې غوښتنه دا وه چې سړی دې نه یوازې دښځو حاکمان اومحافظان جوړ سي ، بلکه دا دې دهغوی فرض وتاکل سي دابیان په ، اَلرِّجَالُ قَوّٰمُوْنَ عَلَى النِّسَآءِ کې سوي دي ، لیکن ددې څخه دا نه ثابتیږي چې ټول سړي ترټولو ښځو بهتره اوښه دي ځکه چې دالله ﷻ په نزدپه آخرت کې دا قسم ښه والي یوازې پرایمان اوعمل صالح موقوفه دې داسې کیدی سي چې هلته به څینې ښځې دطاعت اوعبادت په سبب پرډیرو سړو لوړې درجې لري لکه څنګه چې په

قرآن اوحديث کي په صفا ټکوکي دابيان راغلی دی ، دقرآن کريم دواضح بيان مطابق دشرعي احکامو او دعملونو دجزا اوسزا په لړکي که څه هم سړی اوښځي برابر دی ، په کوم ځای چي فرق سته نوهلته نبی کريم ﷺ دا فرق په وضاحت سره بيان کړي دی ليکن په عامه توګه خطاب سړو ته دی ، او ددی دپاره دمذکر صيغي استعمال سوي دی دا ډول بيان يوازی دقرآن کريم نه دی بلکه دټولو حکومتونو قوانين هم دمذکر په صيغوکی بيان سوي دی ، سره ددی چي قانون دښځو اوسړو دواړو دپاره يوشان اوبرابر وی ددی اصلی وجه هغه کيدی سی چي دقرآن کريم په آيت کی اوس مخکی بيان سوه چي دسړو درجه په يوحيثيت سره پر ښځو لوړه ده ، کيدی سی چي بله پټه وجه يی دا هم وی چي دمستوراتو (زنانو) دذکر کولو ستر اوپرده ښه ده خوکله چي داسوال پيداسو چي هرځای دسړو ذکر دی دښځو ذکرولی نسته لکه څنګه چي ام المؤمنين حضرت ام سلمه رضی الله عنها دحضور اکرم ﷺ څخه سوال کړي وو نو دسورة احزاب دا آيت (۳۵) نازل سو، إِنَّ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُسْلِمٰتِ وَالْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنٰتِ وَالْقَانِتِينَ وَالْقَانِتٰتِ الآية، په کوم کی چي دسړوسره سره دښځو مستقل ذکر واضح سوچي طاعت عبادت او ددی له وجي دالله ﷻ سره دنژديکت دهغه درضا اودجنت په درجو حاصلولوکی زنانه ترنارينه ووکمی نه دی (دا روايت په نسائي احمد اوتفسيرابن جرير اونوروکی په تفصيل سره ذکر دی) او په تفسيرابن کثيرکی دا روايت هم سته چي ځيني مسلماني زناني دازواجو مطهراتو خواته راغلی اوپوښتنه يی وکړه چي په قرآن کريم کی ځای پرځای دنارينه وو ذکردی ، په ځينو ځايونوکی دازواجو مطهراتو مستقل ذکر هم سته خو دعامو مسلمانانو زنانو ذکر نسته نو دا مذکوره آيت نازل سو، خلاصه دخبری دا سوه چي پرزنانو يوازی ددنيوی انتظام په لړکی دزنانو دخير اوګټی په غرض نارينه وو ته په درجه کی لوړوالی ورکول سو که نه نودآخرت په جزا سزا اودرجوکی هيڅ فرق نسته دقرآن کريم په يوه بل آيت کی هم دا مضمون په ډير وضاحت دارنګه بيان سوي دی ، مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثٰى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهٗ حَيَاةً طَيِّبَةً ، کوم نارينه يازنانه چي نيك عمل وکی اوهغه مومن هم وی نو مونږ به ورته پاك ژوند ورکو، تر دی تمهيد وروسته داصل آيت الفاظ په ژور نظر وګوره فرمايی ،

وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِيْ عَلَيْهِنَّ : يعنی د دوی حقونه دسړو پرذمه دی لکه څنګه چي د دوی پرذمه دنارينه وو حقونه دی صفا ښکاره کيږی چي دزنانه ووحقونه په آيت کی اول بياورپسی دنارينه وو حقونه ذکر دی ، ددی يوه وجه دا ده چي نارينه خو په خپل قوت او دخدای ﷻ دورکول سوی لوړوالی په وجه دزنانه ووڅخه خپل حقونه هررنګه پوره کولی سی ، خودزنانه وو دحقوقو فکر په کار دی چي هغوی په دی ډول خپل حقونه نه سی حاصلولی، دوهمه اشاره دا ده چي دزنانه وو دحقونو په ادا کولوکی دی نارينه مخکی والی کوی، دلته د (مثل) مطلب دا نه دی چي کوم کارنارينه کوی هم هغه رنګه دی زنانه کوی ، يابالعکس څکه چي فطرتًا دنارينه وو او زنانه ووپه کارونوکی فرق اوجلاوالی دی ، بلکه اصلی

مطلب یی دا دی چی خپلی خپلی ذمه داری پوره کول پرهریوه فرض دی ، او ددی دنه کولو یاپه کښی دکوتاهی کولو سزا به هم دواړوته ورکول کیږی ، دلته دا هم کتل په کاردی چی په یوه لنډه اومختصره جمله کی دحقوقو اوفرائضو حقونه پرسړو اودسړو تول حقونه پرښځو باندی داخل او شامل دی (بحرِ محیط) ددی جملی په آخرکی د بِالْمَعْرُوْفِ دلفظ په راوړلو سره ددوی په مینځ کی دپیښیدونکو جګړوخاتمه یی وکړه ، دحقوقو اداکول په معروفه طریقی سره (بِالْمَعْرُوْفِ) اداکول دامعنی لری چی هغه دی شرعًاهم بد اوناجائز نه وی اوپه عامو عادتونو اورواجونوکی هم په دی کی سختی اوزیاتی نه وی ، حاصل دا سو چی دښځی او خاوند په خپل مینځ کی کورنی حقونه پوره کول اویوبل دضرر څخه بچ کول یوازی په ضابطی پوری تړل نه دی په کار ، بلکه دعام عرف اوعادت په اعتبار سره هم کتل په کار دی چی یوبل ته ضرر اونقصان خونسته مثلاً بی طرفی اوبی اتفاقی یاداسی نوری خبری خونسته کومی چی په عرف اوعادت کی نامناسبی اوبدی ګڼل کیږی کومی چی ترقاعدی لاندی نه راځی ، مګر د بِالْمَعْرُوْفِ لفظ د دوی احاطه کړي ده ، تردی وروسته فرمایی ، وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ چی مشهور مطلب یی دا اخیستل کیږی چی دواړه اړخیزه حقونه برابر دی خو بیاهم الله ﷻ نارینه وولړه پرزنانو یوقسم لوروالی اوحاکمیت ورکړي دی په دی کی نور دیرحکمتونه هم دی کوموته چی په آخر دآیت کی په ، وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ سره اشاره سوي ده لکه چی حضرت عبدالله بن عباس ﷺ هم ددی جملی مطلب دابیان کړي دی چی ، دزنانو په نسبت نارینه وو لره الله ﷻ لویه درجه ورکړي ده هغوی ته په کار دی چی دزغم څخه کار واخلی که چیری دزنانو دارخه د دوی په حقونوکی څه کوتاهی اوتقصیر وسی نو دخپلی دی درجی مطابق دی هغه زغمی اوصبر دی کوی اوبله دا چی دهغوی (زنانو) په حقوقوکی دی کوتاهی نه کوی (قرطبی)

اَلطَّلَاقُ مَرَّتٰنِ ۪ فَاِمْسَاكٌۢ بِمَعْرُوْفٍ اَوْ تَسْرِيْحٌۢ بِاِحْسَانٍ ؕ وَلَا يَحِلُّ لَكُمْ اَنْ تَاْخُذُوْا مِمَّآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ

طلاق رجعی دی تر دوه واره پوری تردی وروسته ساتل دی دقانون په جوړ یا پریښول په ښه ډول او تاسی ته روا نه دی چی واخلی خپل ورکړل سوی (شی)

شَيْـًٔا اِلَّآ اَنْ يَّخَافَآ اَلَّا يُقِيْمَا حُدُوْدَ اللّٰهِ ؕ فَاِنْ خِفْتُمْ اَلَّا يُقِيْمَا

ښځو څخه مګر هرکله چی خاوند ښځه دواړه وبیریږي ددې خبری څخه چی ټینګ به ونه لرل سی حکم دالله ، بیاکه

حُدُوْدَ اللّٰهِ ۙ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا فِيْمَا افْتَدَتْ بِهٖ ؕ تِلْكَ

تاسی خلق بیریږي ددې خبری چی دادواړه به ټینګ ونه ساتل سی حکم دالله ﷻ نوڅه ګناه نسته په دواړوپه دی

حُدُوْدُ اللّٰهِ فَلَا تَعْتَدُوْهَا ۚ وَمَنْ يَّتَعَدَّ حُدُوْدَ اللّٰهِ فَاُولٰٓئِكَ

چې ښځه بدله ورکړي دا دالله ﷻ ترلې پولې دي نو ددې څخه مخکې مه تيرېږئ او څوک چې تيرسو دالله ﷻ ترلې سوو

هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۲۲۹﴾ فَاِنْ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهٗ مِنْۢ بَعْدُ حَتّٰى

پولوڅخه نوهم داخلق دي ظالمان، بياکه چيري دا ښځه يې طلاقه کړه (دريم وار) نواوس روا نه ده ده لره دغه

تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهٗ ؕ فَاِنْ طَلَّقَهَا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَآ اَنْ يَّتَرَاجَعَآ

ښځه تردې څخه وروسته څوپورې چې نکاح ونه کړي بل خاوند سره، بياکه طلاق ورکړي دويم خاوند نو څه
ګناه نسته په دي دواړو چې يو تربله يوځای سي.

اِنْ ظَنَّآ اَنْ يُّقِيْمَا حُدُوْدَ اللّٰهِ ؕ وَتِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ يُبَيِّنُهَا

که خيال يې لرلو چې ټينګ به لري حکم دالله ﷻ او دا پولې ترلې سوي دي دالله ﷻ، بيانوي دا دپاره

لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿۲۳۰﴾

دپوهيدونکو.

دتفسير خلاصه

(پنځم ويشتم حکم دطلاقِ رجعي تعداد)

طلاق دوه واره دي بيا (تردوه واره طلاق ورکولو وروسته دوه اختياره دي) چې رجوع وکي ښځې ته دقاعدې مطابق دي وساتي يا (داچې رجوع ونه کړي عدت پوره کيدو ته يې پريږدي اودا ډول) په ښه طريقه هغه پريږدي.

(شپږ ويشتم حکم خلع)

اوستاسي دپاره داخبره روا نه ده چې دبيبانو دپريښولو پروخت دهغوی څخه څه واخلی هم (که څه هم هغه اخيستل سوي وي) دهغه (مال) څخه (وي) چې (هم) تاسي هغوی ته (په مهرکی) ورکړی وو (يو صورت البته روا دی هغه) دا دی چې (کله) ښځه اوخاوند (داسي وي چې) دواړوته خطره وي چې (دښځې اوخاوند دحقوقو په باره کې به) هغوی دالله ﷻ تاکلې قاعدې ټينګې ونه سي ساتلې که چيرې تاسي ته (ښځې اوخاوندته) دا بيره وي چې هغه دواړه به خدايي ضابطې ټينګې ونه سي لرلی نو پر دواړو به څه ګناه نه وي دهغه (مال په ورکړه راکړه) کي چې دکوم په ورکولو سره ښځه خپل ځان خلاص

کی (په شرط ددی چی ترمهر زیات نه وی) داټول احکام خدایي ضابطي دی تاسی تردی دباندی مه وزی اوچی کوم سړی خدایي ضابطي (ماتی کړی او) دباندی ووزی نو داسی خلک هم خپل نقصان کوونکی دی.

(اوه ویشتم حکم تردرو طلاقو وروسته حلاله)

بیاکه چیری (تردوو طلاقو پس دریم) طلاق (هم) ورکی نوبیاهغه ښځه ددی (دریم طلاق) څخه وروسته په هغه سړی ته روا نه وی ترڅوچی هغه ددی خاوند څخه بغیر د دوهم سړی سره (ترعدت وروسته نکاح ونه کړی (او دښځی اوخاوند حقونه ادا نه کړی یعنی جماع ونه کړی) بیاکه چیری دا دوهم خاوند هغه ته طلاق ورکی (او دهغه عدت هم تیرسی) نو پردوی دواړوپه دی کی هیڅ گناه نسته چی دوباره (په خپل مینځ کی نکاح وکی) اوپه دستور بیایوځای سی خوپه شرط ددی چی دا دواړه په خپلو ځانونو دا اعتمادلری چی په راتلونکی وخت کی به خدایي ضابطي ټینگی ولری اودا خدایي ضابطي دی حق تعالی ﷻ هغه بیانوی دداسی خلکو دپاره چی عقلمند دی.

علوم او مسئلي: دطلاق اونکاح احکام دټول قرآن کریم په ډیرو آیتونوکی راغلی دی مگر داڅو ذکر سوی آیتونه دطلاق په معامله کی دمهموضابطو شان لری دهغه دپیژندلو دپاره دنکاح شرعی حیثیت پیژندل ضروری دی.

(دنکاح اوطلاق شرعي حیثیت اوحیکمانه نظام)

دنکاح یوشان دیوه تربله دمعاملی اومعاهدی په ډول دی لکه دخرڅولو اخیستلو اوورکړه راکړه په رنگه او دوهم شان یی دسنت او عبادت په ډول دی پردی دټول امت اتفاق دی چی نکاح دعامو معاملو او معاهدو څخه پورته پورته دعبادت اوسنت یوشرعی شان لری، په دی وجه دنکاح کولو دپاره په اجماع دامت سره څه داسی شرطونه ضروری دی چی په عامو معاملو یعنی خرڅولو اخیستلوکی نه وی، اول خو دا چی دهری یوی ښځی اوهریوه سړی سره نکاح نه کیږی، په دی باره کی شریعت یومستقل قانون لری دکوم دوجی چی دډیرو ښځو اوسړو یوتربله نکاح نه کیږی.

دوهمه خبره دا ده چی دټولو معاملو اومعاهدو دکولو اوترسره کولو دپاره شاهدی شرط نه ده، دشاهدی هلته ضرورت پیښیږی کله چی په فریقینوکی اختلاف پیداسی لیکن دنکاح معامله ددی برعکس ده څکه چی دا ترهغه وخته کیدی نه سی ترڅوچی شاهدان نه وی، که چیری یوه ښځه اوسړی یو تر بله بغیر دشاهدانو نکاح وکی چی اختلاف یا انکار هم یوتربله نه لری، بیاهم دغه نکاح به شرعاً باطله اوکالعدم (نیستی) وی ترڅوچی دشاهدانوپه مخکی ددواړو ایجاب اوقبول نه وی سوی، بلکه سنت طریقه دا ده چی دنکاح کولو عام اعلان وسی دغه رنگه نور ډیر شرائط اوطریقی سته کومی چی دنکاح دپاره ضروری یاسنت دی، دامام اعظم ابوحنیفه رحمه الله اودنورو ډیرو امامانوپه نزدپه نکاح

کی دمعاهدی اومعاملی په نسبت دعبادت اوسنّت شان غالب دی پرکوم چی دقرآن اوحدیث دلیلونه قائم دی ، دنکاح داجمالی حقیقت ترمعلومولو وروسته طلاق هم داسی وګنی څکه چی دطلاق خلاصه دا ده چی دنکاح معامله اومعاهده ختم سی څکه چی اسلامی شریعت دنکاح معامله اومعاهده دعبادت په رنګ کی دعامو معاملو اومعاهدو څخه لوړه ساتلی ده اوپردی یی ډیری پابندی لګولی دی دارنګه ددی معاملی ختمول یی هم دنوررو عامو معاملو اوورکړی راکړی په شان آزادی نه دی ساتلی چی څوك کله او څنګه چی غواړی نکاح ختمولی سی اوبیا دسره یکدم دامعامله جوړولی سی، بلکه ددی دپاره یی یوخاص حکیمانه قانون جوړ کړي دی دکوم بیان چی په ذکرسوی آیتونوکی راغلی دی، داسلامی تعلیماتو اصلی شکل دا دی چی دنکاح معامله اومعاهده دی دټول عمر دپاره وی دهغه دختمولو او ماتولودی هیڅکله هم څه خبره پیښه نه سی څکه چی ددی دختمولو اثریوازی پرفریقینو (ښځه اوخاوند) نه پریوزی ، بلکه دنسل اواولاد تباهی او بربادی اوځینی وخت دنوررو ډیرو کورنو اوقبیلو په مینځ کی ورڅخه فساد راپورته کیږی اوپر پوره معاشره ددی بداثر پریوزی هم دغه وجه ده چی کوم اسباب اوشیان چی ددی معاملی دورانولو سبب جوړیدی سی، دقرآن اوسنت ټول ذکرسوی هدایات پردې موقوف دی چی ددوی داقائم تعلق دی تل ترتله هم دارنګه مضبوطیږی اوماتیږی دی نه ، دناجوړی په صورت کی اول دپوهولو راپوهولو بیا دخبرداری اوزورنی هدایات ورکړل سوي دی که چیری خبره زیاته سی اوپه دی هم کارنه کیږی نو دجوړښت راوستلو دپاره دخپل ټبر اوکورنی څوکسان دحکم او دریم ګړی جوړولو هدایات یی ورکړي دی ، داخبره دڅومره حکمتونو څخه ډکه ده څکه که خبره دباندی ته ووزی نودناجوړښت زیاتیدو اوپه زړونوکی دزیاتی خیری اولیری والی پیداکیدو خطره ده څکه خو ارشادی قرآنی دی ، فَابۡعَثُوۡا حَكَمًا مِّنۡ اَهۡلِهٖ وَحَكَمًا مِّنۡ اَهۡلِهَا، لیکن ځینی وخت داسی صورتونه هم پیښیږی چی دجوړښت راوستو ټول کوششونه بیکاره سی اوپه نکاح باندی دموقوفو فائدو په ځای د دواړو بیا یوځای اوسیدل عذاب جوړسی ، په داسی حال کی دا تعلق ختمول د دوه اړخیزه آرام او سلامتی لارجوړه سی هم داوجه ده چی اسلامی شریعت دځینو نورو مذهبونو برعکس دا تار نه شکیدونکی ونه ټاکی بلکه دطلاق اودنکاح دفسخ کولو قانون یی جوړکی دطلاق اختیار یی یوازی سړی ته څکه ورکی چی په ده کی دښځی په نسبت عادتًا دسوچ فکر او زغم ماده ډیره وی دښځی په لاس کی یی دا اختیار څکه ورنه کی چی دسړی په نسبت دا دوخت اثرات اوزور ډیر ژر قبلوی چی دطلاق سبب جوړیږی ، لیکن ښځه یی هم ددی حق څخه بیخی محرومه نه کړه چی تل ترتله دی دخاوند ترزور اوظلم لاندی کیږی ، بلکه داحق یی ورکی چی خپله معامله دی شرعی اواسلامی عدالت ته وړاندی کړی خپل مشکلات اوشکایات دی ثابت کی اودغه عدالت په ذریعه دی طلاق حاصل کی یانکاح دی فسخ کی ، خاوندته خویی دطلاق پوره اختیار ورکی مګر ورسره یی

دا هم وفرمایل چې ددې اختیار استعمالول اوپه عمل کې راوستل دالله ﷻ په نزد ډیر ناخوښه اوبد دې ددې اجازه یوازې دمجبورۍ په حالت کې دی ، لکه په حدیث شریف کې ارشاد دی ، اَبْغَضُ الْحَلَالِ اِلَی اللهِ اَلطَّلَاق دالله ﷻ په نزد ترټولو زیات ناخوښه اوبد په حلالو شیانوکې طلاق دی .

دوهمه پابندي یې داولګوله چې دقهر اوغصې په وخت یادناګهانی اومعمولي ناجوړښت په وخت کې دې دا اختیار (طلاق) نه استعمالوی هم داحکمت دی چې دحیض په حالت کې یې طلاق ورکول منع وټاکل اوپه پاکۍ کې هم چې په کښې جماع سوې وي وجه یې دا ده چې دښځې عدت ډیر په اوږدیږي او تکلیف ورته زیاتیږي ، ددې دواړو خبرو دپاره قرآن کریم داسې ارشاد فرمایي ، وَطَلِّقُوْهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ یعنې که دطلاق ورکولو ضرورت پیښ سي نو په داسې وخت کې دې طلاق ورکوي چې بې هیڅه دښځې عدت اوږدنه سي دحیض په حالت کې په طلاق ورکولو سره به دغه حیض په عدت کې نه شمیرل کیږي ، تردې وروسته به ټول طهر هم داسې تیر سي او ورپسې دبل حیض څخه به عدت شمیرل کیږي اوپه کوم طهر کې چې جماع سوې وي په هغه سره دحمل کیدو امکان سته چې ورسره به دحمل تر زیږیدو پورې عدت ډیر اوږدسي دطلاق ورکولو دپاره دطهر وخت په ټاکلوکې داحکمت هم کیدی سي چې دانتظارپه دې وختو (وقفو) کې ډیره ممکنه ده چې غصه سړه سي معافي اوخیر اوخلاصې رفع او دفع وسي او دطلاق اراده بیخي ختمه سي .

دریم بندیز یې دا ولګوی چې دعامې ورکړې راکړې اوخرڅولو اخیستلو اونورو معاملوپه شان دنکاح ماتولو فسخ کولو طلاق ورکولو معامله دې هم داسې نه وي چې کله داکار وسي نو معامله دې سمدستي ختمه سي ، دواړه اړخونه دې سمدستي آزادې سي چې څه یې زړه غواړي هغسې دې وکي ، بلکه دنکاح ماتولو دپاره یې مخکې د درو طلاقو ورکولوصورت وټاکې بیایې وربانده دعدت بندیز ولګوی څکه چې دعدت ترپوره کولو پورې دنکاح دمعاملې ډیر اثرات به باقي وي ، دښځې دپاره به دوهمه نکاح کول روانه وي دسړي دپاره به ځینې بندیزونه باقي وي ، څلورم بندیز یې دا ولګوی که چیرې په ښکاره اوصفا لفظونوکې یویادوه طلاقه ورکې نو ددې سره سمدستي نکاح نه ماتیږي بلکه دا به دعدت ترپوره کیدو پورې هم داسې باقي وي که چیرې په عده کې دننه رجوع وکې نو مخکې نکاح به په خپل حال پاته سي ، خو درجوع کولو اختیار یې یوازې دیوه یادوو طلاقو په صورت کې څکه راګیر کې چې څوک ظالم خاوند داسې ونه سي چې طلاق دې وار وار ورکوي اوپه بیا بیا رجوع کولو سره دې ښځه ټول عمرپه قید اوبندکې ساتي ، بلکه په دریم طلاق ورکولو سره بیادرجوع کولو اختیار دسړي دپاره پاته نه سو که چیرې بیاهم تردې وروسته دوې دواړه په رضا اوصلاح خپل په مینځ کې نکاح کول غواړي نو ددې دپاره یې دخاصو صورتونو اوبندیزو څخه بغیر دوباره نکاح کول روانه کړل (چې بیان به یې تردې وروسته کیږي) په تیرو سوو آیتونوکې دطلاقو ددې نظام ضروري

احکام بیان سوي دي په ژوره کتنه به دا معلومه سی چی ، اَلطَّلَاقُ مَرَّتٰنِ طلاق دوه واره دی ، بیاپه دوارو طلاقوکی یی داځای وساتیٰ چی په دی نکاح ښځی ختمه نه سوه ، بلکه دعدت ترپوره کیدو پوری سړی لره اختیار دی چی په رجوع کولو سره خپله ښځه په خپل نکاح کی هم دارنګه وساتیٰ یاترعده پوره کیدو پوری ورته رجوع ونه کی او دمخکی نکاح تعلق ختم سی لکه قرآن فرمایی ،

فَاِمْسَاكٌۢ بِمَعْرُوْفٍ اَوْتَسْرِيْحٌۢ بِاِحْسَانٍ : چی یاخو دی دشرعی قاعدی مطابق په رجوع کولوسره دی ښځه په خپل نکاح کی هم دارنګه وساتی یاخو دی بیاپه ښه شان اوپه ښه ډول عده پوره کیدوته پریږدي چی هغه (ښځه) آزاده سی ، د دریم طلاق بیان لاپاته ووچی ترمینځه یوه بله مسئله راغله کومه چی په داسی حالاتوکی پیښیږی هغه دا ده چی ځینی ظالمان خاوندان ښځه ساتل نه غواړی نه دهغه حقونه ادا کوی نه طلاق ورکوی ، نوښځه تنګه سی چی دمجبوری څخه یی خاوند ناروا فائده اخلی اوطلاق ورکولو دپاره دهغی څخه څه مال اخیستل غواړی یالږ ترلږه داغواړی چی مهر ورو بخښی قرآن کریم داحرامه وګرځوله لکه چی فرمایی ، وَلَا يَحِلُّ لَكُمْ اَنْ تَاْخُذُوْا مِمَّآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ شَيْــًٔا : تاسی لره داروانه دی چی دطلاق ورکولو په بدل کی دهغوی (ښځو) څخه خپل ورکړی مال اومهر اونور بیرته واخلی ، البته یوصورت یی مستثنی کی په کوم کی چی دمهر واپسی یابخښل روا سوه هغه داسی چی دښځی اوخاوند دواړو په طبیعتونو کی که کرکه لیری والی اواختلاف په خپل مینځ کی دی حدته رسیدلی وی چی ښځی ته هم دخاوند حقوق اداکول ډیرګران ښکاری اوسړی هم داسی ګڼی نوپه دی صورت کی روادی چی دمهر دواپسی یامعافی په بدل کی خاوند طلاق ورکړی یاښځه طلاق واخلی .

ددی ضمنی مسئلی تربیانولو وروسته دریم طلاق یی داسی ذکرکی ، فَاِنْ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهٗ مِنْۢ بَعْدُ حَتّٰى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهٗ : مطلب دا چی په شریعت کی ناخوښ دریم طلاق که هم وسو نو اوس دنکاح تعلق بیخی وشلیدی خاوندلره اختیارپاته نه سوچی هغه دغه ښځی ته رجوع وکی اوکله چی خاوند دشریعت ترحدودو تجاوز وکی چی دریم طلاق یی بی وجی ورکی نو اوس دده سزا دا ده که چیری بیا هم راضی سی اوخپل په مینځ کی بله نکاح کول غواړی نو دهغه دپاره داشرط کښیښول سوچی ښځه به دطلاقو دعدت ترتیرولو وروسته دبل یوه سړی سره نکاح کوی اوهغه به دخاوندوالی دپوره حقوقوپه ادا کولو سره هم دهغې سره خپل ژوند تیروی که چیری ددی دوهم خاوند له طرفه هم طلاق ورکول ورپیښ سو (یادغه خاوند مړ سو) نو ددی دعدت ترپوره کولو وروسته بیاپه رضا اوصلاح سره دمخکنی خاوند سره نکاح کولی سی دآیت دآخری جملی ، فَاِنْ طَلَّقَهَا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَآ اَنْ يَّتَرَاجَعَآ : هم دا مطلب دی .

(دری طلاقه اودهغه داحکامو تفصیل)

دقرآن کریم په اندازِ بیان کی دژوری کتنی په نتیجه کی دا خبره ښه ښکاره کیږی چی دطلاق ورکولو اصلی شرعی طریقه یوازی دوه طلاقه ورکول دی ، اودریم طلاق ته خبره رسول مناسب نه دی ، لکه چی

تر، اَلطَّلَاقُ مَرَّتٰنِ وروسته په اِنْ شرطيه سره داسي بيانول ، فَاِنْ طَلَّقَهَا دی خبری ته اشاره کوی کنه نو سمدم به یی داسی فرمایلی وای چی ، اَلطَّلَاقُ ثَلٰثٌ هم دا وجه ده چی امام مالك رحمه الله اونورو ډيرو فقهاؤ يوازی په دی شرط دری طلاقه جائز کړي دی چی ځان ځانته په درو طهروکی بیل بیل دری طلاقه ورکول سی، دغه فقهاؤ په خپله اصطلاح کی دطلاقو دی طريقی ته هم سنت طریقه ویلی ده ، مگر په دوی کی یو فقیه هم ددی څخه هیځکله دا مطلب نه اخلی چی داسی ډول دری طلاقه ورکول سنت طریقه اوښه کار دی بلکه دطلاقِ بدعت په مقابله کی دی ته په دی معنیٰ طلاق سنت ویل سوي دی چی دا صورت هم په بدعت کی دا خل نه دی ، دقرآن اوسنت دارشاداتو اودصحابه وُ رضی الله عنهم او تابعينو رحمهم الله دکړو وړو څخه دا معلوميږی چی ډيرښه طلاق هغه بلل کیږی چی یوطلاق په هغه طهر کی ورکول سی په کوم کی چی جماع نه وی سوی خو دا هلته چی دطلاق ورکولو څخه بغيربل هيڅ څه صورت پاته نه سی دداسی يوه طلاق ترعدت تيرولو وروسته دنکاح تعلق پخپله شکیږی ، داسی قسم طلاق ته فقهاؤ احسن (ډيرښه) اوصحابه کرامو رضی الله عنهم دی طريقی ته بهتره (ښه) طریقه ویلی ده ابن ابی شیبه رحمة الله علیه په خپل مصنف کی دابراهيم نخعی رحمة الله علیه څخه نقل کړي دی چی صحابه کرامو رضی الله عنهم به دطلاق ورکولو داطريقه خوښوله چی يوازی يوطلاق ورکول سی اوطلاقونه عده (دری حيضه) تيريدوته پريږدی چی ښځه آزاده سی ، دقرآن کریم د ذکر سوی الفاظو څخه دا اجازه هم معلوميږی چی تردوو طلاقو پوری ورکول سی، مگر په مَرَّتٰانِ لفظ کی اشاره ښکاری چی دوه طلاقه دی په يووارنه وی بلکه په دوو طهروکی دی بیل بیل وی، ځکه چی اَلطَّلَاقُ طَلَاقَانِ نه بلکه اَلطَّلَاقُ مَرَّتٰنِ یی وفرمایل دکوم څخه چی دا خبره ثابتیږی چی دوه طلاقه بیل بیل (یعنی دوه واره) وی، مثلاً څوك چاته دوی روپی په يووار ورکی نوهغه ته په دوه واره نه ویل کیږی دقرآن په الفاظوکی دوه واره (مَرَّتٰنِ) دا مطلب لری چی په بیل بیل طهرکی بیل بیل دوه طلاقه ورکول سی (روح المعانی)

په هرډول چی وی دوه طلاقه دقرآن حکیم دالفاظو څخه ثابتیږی ، په دی وجه امامان دمذهب اوفقهاء کرام داسنت طلاق بولی اوبدعت ورته نه وایی دريم طلاق ته قرآن حکیم ښکاره اشاره کړي ده چی ښه نه دی په دی وجه دا هیڅوك هم ښه نه گڼی اوپه دی کی هیڅ اختلاف نه لری ، او درسول الله ﷺ ډیوه ارشاد څخه داثابتیږی چی دريم طلاق ناخوښه اومکروه دی ، لکه چی امام نسائی رحمه الله په روایت دمحمود بن لبید رحمه الله نقل کړي دی .

اُخْبِرَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ عَنْ رَجُلٍ طَلَّقَ اِمْرَاَتَهُ ثَلَاثَ تَطْلِيْقَاتٍ جَمِيْعًا فَقَامَ غَضْبَانًا ثُمَّ قَالَ اَيُلْعَبُ بِكِتَابِ اللهِ وَاَنَا بَيْنَ اَظْهُرِكُمْ حَتّٰى قَامَ رَجُلٌ وَقَالَ يَارَسُوْلَ اللهِ ﷺ اَلَا اَقْتُلُهُ؟ (نسائی کتاب الطلاق ص ۹۸ جلد ۲)

رسول کریم ﷺ ته ديوه سړی په باره کی خبرورکول سوچاچی ښځی ته په يووار دری طلاقه ورکړی وه هغه ﷺ په غصه کی ودريدی اوبیایی وفرمایل چی ښه! په کتاب الله سره لوبی کول کیږی سره ددی چی زه

په تاسی کی موجودیم په دی کی یو سړی ولاړ سو او وی ویل چی ای دالله ﷺ رسوله ﷺ هغه زه ونه وژنم؟ ددی حدیث اسناد حافظ ابن قیم رحمه الله په شرط دمسلم صحیح ښکلی دی (زاد المعاد) علامه ماوردی رحمه الله ددی حدیث سند ته صحیح او ابن کثیر رحمة الله علیه ددی اسناد جید (کره) بللی دی او ابن حجر رحمة الله علیه دا دموثقانو (اعتباریانو) روایت بللی دی، پردی بنا حضرت امام مالك رحمه الله او څه نورو امامانو دفقهی دریم طلاق بیخی ناروا او طلاق بدعت بللی دی پاته نورو امامانو که څه هم په درو طهروکی دری طلاقه په سنت کی داخل او دطلاق بدعت څخه خارج بللی دی ، مګر په دی کی دهیچاهم اختلاف نسته چی دا ښه نه ګڼل کیږی ، خلاصه دا ده چی د درو طلاقو دپاره شریعت چی کومی دری درجی (په دری واره) ښوولی دی دهغه دامطلب هیڅکله نه دی چی دادری واړه درجی پوره کول ضروری یابهتر (ښه) دی ، بلکه دشریعت منشاء هم دا ده چی اول خوطلاق ورکول یوخراب اوناکاره کاردی اوکه چیری مجبوری وی نو دکومی درجی (یعنی یو) طلاق دی ورکول سی اودهغه عده دی تیریدوته پریښول سی دکوم په تیریدو سره به چی سمدستی دنکاح تعلق وشکیږی اوښځه به دی ته آزاده سی چی دبل خاوندسره نکاح وکی داقسم طلاق احسن (ډیر ښه) بلل کیږی چی په کښی دا فائده هم ده چی په صفا ټکوکی په یوه طلاق ورکولوسره به دواړو (ښځی اوخاوند) ته دصلح اوصفایی لاری خلاصی وی ، دعدی ترختمیدو مخکی یوازی دخاوند رجوع کول دنکاح پرځای پاته کیدو دپاره په بس وی اودعدی په تیریدوکه څه هم نکاح خوماته سوه اوښځه آزاده سوه خوبیاهم که راضی سی اودواړه په خپله خوښه په خپل مینځ کی دوباره نکاح کول غواړی نودحلالی کولو (ددوهم زوج سره دنکاح کولو) څخه بغیر سیده په سیده دوباره نکاح کیدی سی، لیکن که څوك خاوندپه طلاقِ احسن ورکولو ګذاره ونه کی اودعدی په موده کی دننه په ښکاره ټکوکی ښځی ته دوهم طلاق ورکی نوهغه دنکاح ماتولو دپاره تردوو درجو بی ضرورته تیرسوچی شریعت یی هم ښه نه ګڼی ، او دعدی په زمانه کی درجوع کولو اوترعدت وروسته دنوی نکاح کولو حکم به دیوه طلاق دحکم په شان وی خودافرق ښکاره دی چی خاوند دخپلو اختیاراتوپه یوی بلی کړی ماتولو سره دوو طلاقوته ورسیدی ، دا هغه سرحددی که چیری په دی پسی یوبل (دریم) طلاق ورکی نوتعلق اوجوړ به بیخی ختم سی ، کوم یوخاوند چی دطلاق تردی دواړو درجو تیرسو نوهغه ته دانښوونه وسوه چی ، فَاِمْسَاكٌۢ بِمَعْرُوْفٍ اَوْتَسْرِيْحٌۢ بِاِحْسَانٍ په اِمْسَاكٌۢ بِمَعْرُوْفٍ کی دوه حکمونه وښوول سوه، یوداچی دعدی په موده کی په رجوع کولوسره دنوی نکاح حاجت نسته اوښځه په مخکنی نکاح کی پاته سوه اولکه دمخکی په شان هم هغه رنګه یی ښځه ده ، دوهمه داچی خاوندته داهدایت وسوکه چیری دهغه اراده داصلاح ګټی روغی رغبت اوصلح اوصفایی وی اوپه راتلونکی وخت کی ښه ګذران کول غواړی نو هلته دی رجوع وکی ګوندی عدت دی تیریدوته پریږدی چی دنکاح تعلق بیخی وشکیږی، داسی نه ده په کار چی

یوازې دښځې پرېشانه کولو اوپه عذابولو دپاره ورته رجوع وکي اوشرعي حقوق یې نه پوره کوي ، او بل طرف ته یې په ، اَوۡتَسۡرِيۡحٌۢ بِاِحۡسَانٍ سره دې ته اشاره وکړه چې دتعلق دپرېکولو دپاره دبل څه عمل یادبل طلاق ضرورت نسته چې عده تیره سي تعلق به پخپله وشکېږي ځکه چې دتسریح معنٰی خلاصول اوآزادول (پرېښوول) دي.

دحدیث شریف دامام ابوداود رحمه الله څخه دابورزین اسدي رحمه الله په روایت منقول دي چې ددې آیت په نازلېدو یوسړي دحضور اکرم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې الله ﷻ اَلطَّلَاقُ مَرَّتٰنِ وفرمایل اودریم طلاق یې ولې ذکرنه کی ؟ حضور ﷺ وفرمایل چې په دې پسې اَوۡتَسۡرِيۡحٌۢ بِاِحۡسَانٍ الفاظ ددریم طلاق دي (روح المعاني) ددې خبرې مطلب دجمهورو علماؤ په نزد دا دی چې دښځې اوخاوند په مینځ کې دتعلقاتو دبیخي پرېکولوکوم کارچې په درو طلاقوسره کېدي سي دهم هغه کار دپاره دابس ده چې په عده کې دننه ورته رجوع ونه کي اوځنګه چې د اِمۡسَاكٌ سره یې د ، بِمَعۡرُوۡفٍ په لګولو دابښوونه وفرمایله چې ښځې ته رجوع کول په دې اراده په کار دي چې دښځې سره به ښه ګذران کوي ، دغه رنګه د تَسۡرِيۡحٌ سره په ، بِاِحۡسَانٍ لګولو سره یې دابښوونه وکړه چې لکه ځنګه چې نورې معاملې اوعدې یوشریف انسان په ښه زړه اوښه سلوك سره کوي هم دغه رنګه دنکاح ماتولو معامله (طلاق) دي هم په غصو جګړو اوظلم اوزیاتۍ نه بلکه په ښه سلوك اوصلح سره کوي، هغه داسې چې درخصتولو پروخت دي طلاقې کړې ښځې ته څه تُحفه دجامو کالو یابل څه ورکوي چې بیان یې دقرآن کریم په دې آیت کې دي ، وَمَتِّعُوۡهُنَّ عَلَى الۡمُوۡسِعِ قَدَرُهٗ وَعَلَى الۡمُقۡتِرِ قَدَرُهٗ (یعنې طلاقوکړوښځوته) څه جامې جوړې ورکې اورخصت یې کې دخپل مالي وس مطابق، اوکه چیرې ده بیاهم داسې ونه کړل بلکه دریم طلاق یې هم ورکې او دشریعت دطرفه ورکول سوي تولې آساني ده شاته وغورځولې اوخپل ټول اختیارات یې بې وجې اوبې ضرورته بیخي ختم کړل نو اوس دهغه سزا دا ده چې نه خو ورته رجوع کول کېږي اونه خو دهغه د دوهم واده کولو (حلالې) څخه بغیر دي ورسره دوباره نکاح کولی سي.

(که چیرې چاپه ناخوښه ډول یادشریعت څخه په خلاف طریقه درې طلاقه ورکړل نو دهغه اثربه څه وي؟)

ددې عقلي اوعرفي جواب هم دا دی چې سره ددې چې الله ﷻ او رسول ﷺ په خَفه کېږي او دامت علماؤ ورته بدویلي دي، مګر بیاهم دداسې طلاقو اثربه هم هغه وي کوم چې په ښه ډول یادشریعت په ذریعه ورکول سوي وي یعنې مکمله جدایي به ورسره راځي، په عدت کې درجوع کولو اختیار ورڅخه ولاړې او د دوهم وارنکاح دپاره به ښځې ته دحلال کېدو ضرورت وي ، ځکه چې دګناه اوظلم یوکارهم هغه اثرلري کوم چې دنیکي اوانصاف کارلري ، مثلاً په ناجائزه ګولي اوتوره هم سړی مري لکه ځنګه چې په جائزه ګولي او توره مري همدارنګه دسړي دلاسه مال داسې هم وزي چې ځوك یې ورڅخه په غلا (نا روا) یوسي او داسې هم وزي چې چاته یوڅه شی په واخلي یاکار دخدمت (جائز) په وکړي.

ددی اصول مرادهم دا دی چی دشریعت ورکول سوی تولی آسانی نظر اندازکول که څه هم بغیر دځه رجی خپل تول اختیارات دطلاق په ختمولو درو طلاقوته رسیدل که څه هم درسول الله ﷺ دناراضگی سبب جوړ سو لکه چی په تیرسوی روایت کی لیکل سوی دی اوځکه دجمهور امت په نزد داکار غیرِ مُستحسن اوډخینوپه نزد ناجائز دی مګر ددی ټولو خبرو باوجودکه چاداسی قدم لوړکی نو ددی هم هغه اثر په کار دی کوم چی به دجائز طلاق وو ، یعنی چی دری طلاقه واقع سی او درجعت اختیارنه وی دنوی نکاح اختیارهم ختم سی ، درسول الله ﷺ فیصله شاهده ده چی دغصی اوقهر دری طلاقه هم هغه اثرلری کوم چی دآرام اوپه سړه سینه دری طلاقه لری ، داسی ډیر واقعات داحادیثوپه کتابونوکی ذکر سوی دی ، ځینو علماؤ په دی مسئله مستقل کتابونه لیکلی دی چی په کښی متعلقه واقعات ذکر دی ، دمولانا ابوالزاهد محمدسرفراز صاحب (عمدة الاثاث) نومی اوسنی کتاب په دی باره کی پوره اوکړه (ښه) دی ، دلته یوازی دوه دری حدیثه رانقل کیږی .

دنسائی په حواله دمحمود بن لبید په روایت تیرسوی حدیث کی دیو وخت پر درو طلاقو دحضور اکرم ﷺ خفګان قهر اوغضب منقول دی دصحابه کرامو ﷺ خفګان قهر اوغصه تردی حده منقوله ده چی هغوی دغه سړی دقتل مستحق وګنی، مګر داسی هیڅکله په حدیثوکی منقول نه دی چی حضوراکرم ﷺ داسی (دری په یو وار) طلاقونه طلاقِ رجعی ګڼلی وی اوداسی طلاقه کړی ښځه یی هغه ته بیا سپارلی وی ، بلکه په دی پسی راتلونکی روایت کی په ښکاره ډول سته چی حضوراکرم ﷺ دحضرت عویمر ﷺ په یو وار دری طلاق جاری کړل سره ددی چی هغه ﷺ په دی دخفګان اظهارهم کړی وو ، دارنګه دمحمودبن لبیدپه باره کی دذکر سوی حدیث داالفاظ هم قاضی ابوبکربن عربی رحمه الله نقل کړي دی چی رسول الله ﷺ دحضرت عویمرﷺ د درو طلاقو په شان دا دری طلاقه هم مؤثر او جاری کړی وه ، الفاظ یی دا دی ، فَلَمْ يَرُدَّهُ النَّبِيُّ ﷺ بَلْ اَمْضَاهُ كَمَافِيْ حَدِيْثِ عُوَيْمِرِ الْعَجْلَانِيِّ فِي اللِّعَانِ حَيْثُ اَمْضٰى طَلَاقَهُ الثَّلَاثَ وَلَمْ يَرُدَّهُ ، (تهذیب سنن ابی داود طبع مصر ج۳ ص۱۲۹ دعمدة الاثاث ځخه)

نو نبی کریم ﷺ هغه ردنه کړل ، بلکه جاری یی کړل لکه دعویمر عجلانی په لعان والا حدیث کی دی چی هغوی دهغه ﷺ دری طلاق جاری کړی وه اوردکړی یی نه وه .

دوهم حدیث دبخاری شریف په دی الفاظو دحضرت عائشه صدیقه ﷺ په روایت څه داسی دی ، اَنَّ رَجُلاً طَلَّقَ امْرَأَتَهُ ثَلَاثًا فَتَزَوَّجَتْ فَطَلَّقَ فَسُئِلَ النَّبِيُّ ﷺ اَتَحِلُّ لِلْاَوَّلِ قَالَ لَاحَتّٰى يَذُوْقَ عُسَيْلَتَهَا كَمَا ذَاقَهَا الْاَوَّلُ (صحیح بخاری ص۷۹۱ ج۲ صحیح مسلم ص۴۶۳)

یوسړی خپله ښځه طلاقه کړه په درو طلاقو هغی بل ځای نکاح وکړه، نوهغه (دوهم خاوند هم) طلاقه کړه ، دنبی کریم ﷺ څخه پوښتنه وسوه چی آیادا ښځه مخکنی خاوندته رواکیږی ، وی فرمایل نه ترڅو چی هغه (دوهم خاوند) په همبستری کولو سره ددی خوند داسی نه وی څکلی لکه څنګه چی

مخکنی (خاوند) ځکلی وو(یعنی دهغه مخکی خاوند دپاره نه رواکیږی ، ترڅوچی دوهم خاوند ترطلاق ورکولو مخکی داسی جماع ورسره نه وی کړی لکه څنګه چی مخکی خاوندکړی وه)
دروایت دالفاظو څخه هم داسی ښکاری چی دا دری طلاقه په یووخت (وار) ورکول سوی وه، لکه چی داحادیثو شروحو فتح الباری عمدة القاری قسطلانی اونورو ددی روایت مطلب داټاکلی دی چی په یو واریی دری طلاقه ورکړی وه اوپه حدیث کی دحضور اکرم ﷺ دافیصله ذکرده چی هغه ﷺ دغه دری طلاقه جاری وټاکل او دا حکم یی وکی چی تر څو د دوهم خاوند سره جماع نه وی سوی ، نوپه داسی طلاق ورکولو دامخکی خاوندته نه روا کیږی ، دریم روایت دحضرت عویمر عجلانیؓ دی کوم چی دحضور اکرم ﷺ په حضور کی دخپلی بی بی سره لعان وکی اوترهغه وروسته یی عرض وکی.

فَلَمَّا فَرَغَا قَالَ عُوَيْمِرٌ كَذَبْتُ عَلَيْهَا يَارَسُوْلَ اللهِ اِنْ اَمْسَكْتُهَا فَطَلَّقَهَا ثَلَاثًا قَبْلَ اَنْ يَّاْمُرَهُ النَّبِيُّ ﷺ .

(صحيح بخاری سره دفتح الباری ص۳۰۱ ج۹) نوکله چی هغوی دواړه دلعان څخه خلاص سوه ، عویمرؓ وویل چی ای دالله ﷻ رسوله ﷺ! مابه په دی دروغ ویلی وی که دخان سره می وساتله! نوهغه (عویمرؓ) هغې ته دری طلاقه ورکړل تردی مخکی چی (صحیح مسلم ص۴۸۹ ج۱) رسول کریم ﷺ ورته حکم ورکړی وی ، اودحضرت سهل بن سعدؓ په روایت داواقعه ابوذرؓ په دی الفاظو نقل کړي ده ،

فَاَنْفَذَهُ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ وَكَانَ مَاصَنَعَ عِنْدَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ سُنَّةٌ قَالَ سَعْدٌ حَضَرْتُ هٰذَا عِنْدَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ فَمَضَتِ السُّنَّةُ بَعْدُ فِي الْمُتَلَاعِنَيْنِ اَنْ يُّفَرَّقَ بَيْنَهُمَا ثُمَّ لَا يَجْتَمِعَانِ اَبَدًا، (ابوداؤد ص۳۰۲ چاپ اصح المطابع) نو حضور اکرم ﷺ هغه جاری کړل اوکوم چی دحضور اکرم ﷺ په مخکی وسوه هغه سنت سو، سعدؓ فرمایی زه حاضروم په دی واقعه کی دحضور ﷺ په حضورکی نو ددی څخه دا طریقه جاری سوه دلعان کوونکو په باره کی چی دهغوی په مینځ کی جدایی وسی اوبیاهغوی هیڅکله هم نه جمع کیږی.
په دی حدیث کی په پوره وضاحت سره ثابته سوه چی رسول اکرم ﷺ دحضرت عویمرؓ په یووار ورکول سوی دری طلاقه هم دری وټاکل اوجاری یی کړل ، اودابوبکر ابن عربی مطابق دمحمودبن لبیدپه تیرسوی روایت کی دداسی (په یوار) درو طلاقو جاری کولو ذکرسته که دا هم نه وی نوداخو هیڅ ځای هم منقول نه دی چی هغوی داطلاقی رجعی ګڼلی وی اوداسی طلاقه سوی ښځی یی بیاهغه ته سپارلی وی ، حاصل دکلام دا دی چی دتیرو سوو درو سره احادیثو څخه داثابته سوه چی په یووار درو طلاقو ورکولو باندی حضور اکرم ﷺ خفګان بلکه قهر اوغصه ښکاره کړي ده ، مګر دا یی هم د درو طلاقو په حیث جاری کړي دی.

(دحضرت فاروق اعظمؓ واقعه اوپر هغي داشکال جواب)

دتیرسوی لیکلو څخه ثابته سوه چی په یو وار ورکول سوی دری طلاقه هم دری ګڼل درسول الله ﷺ خپله فیصله وه مګر دلته یواشکال دحضرت عمرفاروقؓ دیوی واقعی څخه پیداکیږی کومه چی په

صحیح مسلم اودحدیثو په اکثرو کتابونو کی منقوله ده، الفاظ یی دا دی .

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ قَالَ كَانَ الطَّلَاقُ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ وَاَبِىْ بَكْرٍ وَسَنَتَيْنِ مِنْ خِلَافَةِ عُمَرَ طَلَاقُ الثَّلَاثِ وَاحِدَةً فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ اِنَّ النَّاسَ قَدِ اسْتَعْجَلُوْا فِىْ اَمْرٍ كَانَتْ لَهُمْ فِيْهِ اَنَاةٌ فَلَوْ اَمْضَيْنَاهُ عَلَيْهِمْ فَاَمْضَاهُ عَلَيْهِمْ .

دحضرت عباس ﷺ څخه روایت دی چی درسول الله ﷺ په زمانه کی او دحضرت ابوبکر ﷺ په خلافت کی او دحضرت عمر ﷺ دخلافت په شروع کی دوه کاله دطلاق دا طریقه وه چی دری طلاقه به یوطلاق شمیرل کیدی نوحضرت عمر ﷺ وفرمایل چی خلکوپه یوداسی معامله کی تلوار شروع کړي دی په کوم کی چی د دوی دپاره مهلت وو نو په دوی دهغه جاری کول به مناسب وی نوهغه ﷺ دا جاری کړه .
(صحیح مسلم ص۴۷۷ ج۱)

دفاروق اعظم ﷺ دا اعلان په مشوره دفقهاوو صحابه وو ﷺ سره دصحابه وو ﷺ او تابعینو رحمهم الله په مجمع کی وسو، دچاشك یا انکارپه دی باره کی منقول نه دی، په دی وجه دحدیثو حافظ امام عبدالبر مالکی رحمه الله په دی مسئله اجماع رانقل کړي ده ، دمؤطاپه شرح زرقانی کی دا الفاظ راغلی دی ، وَالْجُمْهُوْرُ عَلٰى وُقُوْعِ الثَّلَاثِ بَلْ حَكَى ابْنُ عَبْدِ الْبَرِّ الْاِجْمَاعَ قَائِلًا اَنَّ خِلَافَهُ لَا يُلْتَفَتُ اِلَيْهِ (زرقانی شرح مؤطا (ص۱۶۷ ج۳) اودامت جمهور علماء د درو طلاقو پر واقع کیدو متفق دی بلکه ابن عبدالبر رحمه الله په دی اجماع رانقل کړي ده اوفرمایی چی ددی خلاف کول شاذ دی چی هغه ته التفات نه دی په کار.

اوشیخ الاسلام امام نووی رحمه الله په شرح دمسلم کی فرمایی ، قَالَ الشَّافِعِىُّ وَمَالِكٌ وَاَبُوْحَنِيْفَةَ وَاَحْمَدُ وَجَمَاهِيْرُ الْعُلَمَاءِ مِنَ السَّلَفِ وَالْخَلَفِ يَقَعُ الثَّلَاثُ وَقَالَ طَاؤُسٌ وَبَعْضُ اَهْلِ الظَّاهِرِ لَا يَقَعُ بِذٰلِكَ اِلَّا وَاحِدَةٌ.
یعنی امام شافعی رحمه الله امام مالك رحمه الله امام ابوحنیفه رحمه الله اوامام احمد رحمه الله فرمایلی دی چی دری طلاقه واقع کیږی اوطاؤس اوځینو اهل ظاهره وو ویلی دی چی په دی سره هم یوطلاق واقع کیږی امام طحاوی رحمه الله په شرح دمعانی الاثارکی فرمایلی دی . فَخَاطَبَ عُمَرُ ﷺ بِذٰلِكَ النَّاسَ جَمِيْعًا وَفِيْهِمْ اَصْحَابُ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ الَّذِيْنَ قَدْ عَلِمُوْا مَاتَقَدَّمَ مِنْ ذٰلِكَ فِىْ زَمَنِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ فَلَمْ يُنْكِرْ عَلَيْهِ مِنْهُمْ مُنْكِرٌ وَلَمْ يَدْفَعْهُ دَافِعٌ. (شرح معانی الآثارص ۲۹ ج ۲) نو حضرت عمر ﷺ په دی سره ټول خلک مخاطب کړل اوپه دوی کی درسول کریم ﷺ هغه صحابه هم وه کومو ته چی مخکی تردی درسول کریم ﷺ دزمانی دطریقی علم وو نو په دوی کی هیڅ یوه انکار کوونکی هم انکارنه دی کړی ، اونه چاردوونکی دا ردکړی دی.
په تیره سوی واقعه کی دامت دپاره دعمل لار په اجماع دصحابه وُ ﷺ اوتابعینو رحمهم الله وټاکل سوه چی په یووار دری طلاقه ورکول که څه هم چی ناخوښه او درسول الله ﷺ دخفګان سبب دی مګر سره ددی که داغلطی یی وکړه نوښځه به پرحرامه سی اوبل دسړی سره دحلالی ایستلو څخه بغیر دده

سره یې نکاح نه کیږي .

لیکن دلته علمي اونظري دوه سوالونه داسې پیداکیږي چې دتیرو سوو ډیرو روایتونو دحدیث څخه دا ثابته سوه چې په یووار ورکول سوې درې طلاقونه رسول الله ﷺ هم درې جاري کړي دي ، په دې کې بې تر رجوع یاترعدت تیرولو وروسته دبل نوي نکاح څخه بغیر دحلالي ایستو څخه اجازت نه دی ورکړی ، نو اوس په دې واقعه کې دحضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه ددې خبرې څه مطلب کیدی سی چې دحضور ﷺ او دابوبکر صدیق رضی الله عنه په زمانه کې اودحضرت عُمر رضی الله عنه دخلافت دمخکنیو دووکالوپه زمانه کې درې طلاقه به هم یوګڼل کیدې ، وروسته بیاحضرت عُمر رضی الله عنه دافیصله وکړه چې درې طلاقه هم درې ګڼل کیږي کم نه ؟

دوهم سوال دا دی چې که چیرې واقعه هم داسې ومنل سي چې په عهدِ رسالت اوعهدِ صدیقي کې درې طلاقه یو ومنل سو نوحضرت عمر رضی الله عنه دغه فیصله وروسته بیاڅنګه بدله کړه اوبالفرض دهغه څخه که غلطي سوې وي نوټولو صحابه کرامو رضی الله عنهم داڅنګه ومنله ؟

ددې دواړو سوالونو فقهاؤ اومحدثینو رحمهم الله مختلف جوابونه ورکړي دي ، په دغو کې صفا او بې تکلفه جواب دامام نووي رحمه الله دی ، کوم ته چې یې دمسلم په شرح (نووي) کې اصح (ډیر صحیح) ویلی دی ، هغه دا دی چې دحضرت عمر رضی الله عنه دغه فیصله دهغو درو طلاقو په باره کې ده چې الفاظ یې داسې دي ، ته طلاقه یې ته طلاقې یې ته طلاقه یې یعنې درې واره یې داسې الفاظ ویلي دي، دا صورت داسې دی چې ددې په معنٰی کې دوه احتماله کیدی سي یوداچې ویونکی د درو طلاقو ورکولو په نیت دالفاظ ویلي وي، دوهم داچې درې واره یې یوازې دتاکید دپاره بیابیاً ویلي وي د درو طلاقو نیت یې نه وي او دا ښکاره خبره ده چې دنیت علم دویونکي داقرار څخه کیدی سي، درسول کریم ﷺ په زمانه مبارکه کې صدق اودیانت عام اوغالب وو که چیرې ترداسې الفاظ ویلو وروسته چاداسې بیان وکی چې زمانیت ددرو طلاقو نه وو، بلکه یوازې دتاکید دپاره ما دا الفاظ بیابیا ویلي وه ، نوحضور اکرم ﷺ به دا هلته یوطلاق ګڼي چې ویونکی به یې دا قسم ورکی چې مطلب یې ورڅخه یوطلاق وو ؟ ددې خبرې تصدیق درکانه رضی الله عنه دهغه حدیث څخه کیږي کوم کې چې بیان دی چې هغه خپلې بي بي ته په البتة لفظ سره طلاق ورکړی وو چې دعربو په رواج کې به درې طلاقه ګڼل کیده کله چې دا مطلب ورڅخه دلته ښکاره نه وو، حضرت رکانه رضی الله عنه وویل چې زمانیت خو ددې لفظ څخه ددرو طلاقو نه وو بلکه دیوه طلاق ورکولو اراده مې وه ، حضور ﷺ قسم ورکی هغه قسم وکی نوهغه ﷺ دا هم یو طلاق وګڼی، ترمذي ابوداود ابن ماجه اودارمي کې داحدیث په مختلفو سندونو او مختلفو الفاظو سره نقل سوی دی ، ځینې الفاظ داسې هم دي چې حضرت رکانه رضی الله عنه خپلې بي بي ته درې طلاقه ورکړي وه ، مګر ابوداؤد داخبره ښه ګڼلې ده چې رکانه رضی الله عنه خپلې بي بي ته په البتة لفظ سره

طلاق ورکړي وو، کله چي په دغه وخت کي دالفظ د درو طلاقو دپاره استعماليدی نويوچا روايت کوونکی څکه دا دري طلاق وبلل، څنګه چي ددی حديث څخه په اتفاق سره دا خبره ثابته ده چي رسول الله ﷺ دحضرت رکانه ﷺ طلاق هغه وخت يو وتاکی چي هغه په قسم دا بيان ورکی چي زمانيت د درو طلاقو نه وو او دا هم ثابتيږي چي الفاظ هم په ښکاره ډول د دروطلاقو نه وه چي بيابه د دروطلاقو دنيت دنه کولوڅه احتمال يادهغه ﷺ څخه دپوښتنی کولوڅه ضرورت نه وو، البته په دي پيښنه کی ديوه يادرو طلاقو دټاکلو دپاره دهغه ﷺ په قسم څکه اعتبار وسو چي دغه درښتيا اوامانت زمانه وه داسی هيڅکله نه سی کيدی چي هغه ﷺ به په دروغو قسم خوړلی وی.

دحضرت ابوبکرﷺ په ټول خلافت کي اودفاروق اعظمﷺ دخلافت دمخکنيو دووکلوپه زمانه کی هم دا طريقه چليده بيافاروق اعظمﷺ ته داخيال ورغی چي اوس درښتيا اوديندارۍ معيار کمزوري سو، او ورپسی دحديث مطابق داکمزوري به نوره هم زياتيږي بل طرف ته ډير وار داسی پيښنه وسوه چي درو طلاقو ورکوونکوبه دابيان ورکوی چي زمونږ نيت ديوه طلاق وو، دفاروق اعظمﷺ داخيال پرڅای ووچي په راتلونکی وخت کی به يو درواغجن هم په دي قسم خوری چي د درو طلاقو څخه زمامطلب اونيت يوازي يوطلاق وو اوداسی به ډيرخلګ طلاقی کړي ښځی په حرامه دځان سره ساتي دفاروق اعظم ﷺ دا زيرکتيا ژوره کتنه اوديني انتظام ټولو صحابه کرامو ﷺ په اتفاق سره ومنی څکه چي ټول صحابه ﷺ دحضوراکرم ﷺ دطبعيت شريف څخه خبرداره وه، هغوی پوهيدل که چيري په دي زمانه کی حضور اکرم ﷺ موجود وای نو په داسی پيښنه کی به يی هيڅکله سره دقسمه هم ديوه طلاق نيت نه وای قبول کړي نو دا قانون يی اوس جوړکی چي دري واره ورکړي طلاق به هم دري حسابيږي په دي ترڅ کی به دهغه دا خبره په قسم هم نه منل کيږي چي مطلب اونيت يی ورڅخه ديوه طلاق وو، لکه چي دفاروق اعظم ﷺ دوينا څخه هم دامطلب صفا ښکاره کيږي فرمايي، اِنَّ النَّاسَ قَدِ اسْتَعْجَلُوْا فِي اَمْرٍ كَانَتْ لَهُمْ فِيْهِ اُنَاةٌ فَلَوْ اَمْضَيْنَا عَلَيْهِمْ. خلګو په داسی کار کی تلوار شروع کی په کوم کی چي دهغوی دپاره مهلت او وخت وو نو ښه به دا وی چي اوس يی پر جاري کړو.

دفاروق اعظم ﷺ دا فرمان اوصحابه کرامو ﷺ وربانديَ اجماع داحاديثوپه تصديق رښتيا ثابتيږي او دتير سوي پوره بيان هغه دوی شبهی پخپله پورته کيږي اوختميږي کومی چي دی ډول راپورته کيدي چي دابن عباس ﷺ دروايت په مطابق حضوراکرم ﷺ به دري طلاقه په قسم سره يو شميري، بيافاروق اعظم ﷺ دحضور اکرم ﷺ خلاف څنګه وکی او په دی ورسره صحابه کرامو ﷺ څنګه اتفاق وکی؟ څکه چي په ډيرو پيښنو کی دري طلاقه حضور اکرم ﷺ هم دري ټاکلی دی، په هغه صورت کی چي دري تکی يی ويلی وی ياټکی خو يو (طلاق) وی خو ويلی يی دري واره وی اونيت يی د درو طلاقو وی اوفاروق ﷺ (معاذ الله) دحضور اکرم ﷺ خلاف نه بلکه دهغه ﷺ دورکړي آسانی دبی ځايه

استعمالولو څخه یې بندیز رواستلی دی ، الحمدلله په دی ډول تولی شبهی ختمی سوی زما مقصد دا نه دی چی ګوندی ما د درو طلاقو سره تړلی تولی مسئلی بیان کړی څکه چی دحدیثوپه شرحوکی دا مسئلی په ډیری فراخی بیان سوی دی اوعلماؤ وربانډی ځانته رسالی لیکلی دی ، ماخو داسی ونه سوای کړای ، خو دپوهیدو دپاره داکافی وګڼی ، الله ﷻ توفیق ورکوونکی او کومکی دی .

وَإِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ

اوکله چی تاسی ښځی ته طلاق ورکړی بیا ورسیدی خپل عدت ته

فَأَمْسِكُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ أَوْ سَرِّحُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ وَلَا تُمْسِكُوهُنَّ

نو وساتی هغوی ددستور په قانون یا پریږدی هغوی په ښه ډول اوبندی مه ساتی

ضِرَارًا لِتَعْتَدُوا ۚ وَمَنْ يَفْعَلْ ذَٰلِكَ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهُ ۚ وَلَا

هغوی تنګولو دپاره چی زیاتوب وربانډی وکړی او څوک چی داسی کوی نو بیشکه هم خپل نقصان به کوی اومه

تَتَّخِذُوا آيَاتِ اللَّهِ هُزُوًا ۚ وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَمَا أَنْزَلَ

تاکی دالله ﷻ حکمونه دټوقو خندا او یاد وی دالله ﷻ احسان چی په تاسی دی اوهغه چی

عَلَيْكُمْ مِنَ الْكِتَابِ وَالْحِكْمَةِ يَعِظُكُمْ بِهِ ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا

راوی لیږل په تاسی کتاب او دعلم خبری چی تاسی ته نصیحت کوی په دی سره او وبیریږئ دالله ﷻ

أَنَّ اللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿٢٣١﴾ وَإِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَبَلَغْنَ

څخه اوپوه سی (وګڼی) چی الله ﷻ په هرشی ښه پوه دی ، او کله چی طلاق ورکړل تاسی ښځو ته اوبیایی

أَجَلَهُنَّ فَلَا تَعْضُلُوهُنَّ أَنْ يَنْكِحْنَ أَزْوَاجَهُنَّ إِذَا تَرَاضَوْا

پوره کی خپل عدت نو اوس مه بندوی هغوی ددی څخه چی نکاح وکړی خپلو خاوندانو سره کله چی راضی سی

بَيْنَهُمْ بِالْمَعْرُوفِ ۗ ذَٰلِكَ يُوعَظُ بِهِ مَنْ كَانَ مِنْكُمْ يُؤْمِنُ

دوی په خپل مینځ کی ددستور په توګه دا نصیحت هغه چاته کول کیږي کوم چی په تاسی کی ایمان لري

بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ذٰلِكُمْ اَزْكٰى لَكُمْ وَاَطْهَرُ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ

په الله ﷻ او دقیامت په ورځ په دې کې تاسې دپاره ډېره صفايي او پاکي ده، او الله ﷻ پوهيږي،

وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۲۳۲﴾

او تاسې نه پوهيږي.

دتفسير لنډيز

(اته ويشتم حکم دښځو دمعلق ساتلو ممانعت)

اوکله چې تاسې ښځې ته طلاق ورکړی وي بيا هغوی عدت تيرولو ته نژدې سي نوتاسې هغوی ته دقاعدې په توګه (رجوع کوی) په نکاح کې يې ساتې يادقاعدې په توګه هغوی خلاصوی اوهغوی دتکليف رسولو په غرض مه بندوی په دې نيت چې پرهغوی ظلم وسی اوڅوك چې داسې کړه کوی نوهغه به هم خپل نقصان کوی او دحق تعالی داحکامو څخه لوبی مه جوړوی اودحق تعالی کوم نعمتونه چې پرتاسې دی هغه يادکی خصوصًا کتاب اودحکمت خبرې چې الله ﷻ پرتاسې (په دې ډول) نازل کړي دی چې دهغه په ترڅ کې تاسې ته نصيحت کوی اودالله ﷻ څخه وبيريږی اويقين لری چې الله ﷻ هرشی ښه پيژني.

(نه ويشتم حکم ښځه ددوهم نکاح څخه دمنع کولو ممانعت)

اوکله چې تاسې خپلو ښځوته طلاق ورکی اوښځې دخپلې عدې ميعاد پوره کی نوتاسې هغه ددې څخه مه بندوی چې هغوی په خپلو (خيالوکی دراوستلو) خاوندانو سره نکاح وکی کله چې هغوی تول په خپل مينځ کې راضي اوخوشحاله سي، دقاعدې په توګه په دې مضمون سره نصيحت کول کيږی هغه سړی ته کم چې په تاسې کې په الله ﷻ اوپه ورځ دقيامت يقين لری ددې نصيحت قبلول ستاسې دپاره دډيری صفايي اوپاکي خبره ده اوالله ﷻ (ستاسې دخير کارونه) پيژني تاسې يې نه پيژني.

علوم او مسئلې: تردې مخکې هم په دوو آيتونوکی دقانوني طلاق ډيری ضروری دفعې په اسلام کې دطلاقو سره تړلې دانصاف اوبرابری نظام دقرآن حکيم په حکيمانه اندازکی بيان سوی دی اوس په دې دوو آيتونوکی څو احکام اومسئلې بيان سوي دی.

(دطلاق تراحکامو وروسته درجوع کولو يابيځې دنکاح ختمولو دواړو دپاره خاص هدايات)

په اولنې آيت کې مخکنی مسئله دا بيان سوي ده چې په طلاق رجعی سره طلاقی سوی ښځې کله چې عده تيرولو ته نژدې سی نو خاوندته يې د دوو خبرو اختيار دی يو داچې رجوع ورته وکی اوپه خپل نکاح کې يې جاری وساتی، دوهم دا چې رجوع ونه کی نکاح بيځې ختم کی اوهغه تعلق پری کی، ليکن ددې دواړو خبروسره قرآن کريم دا شرط لګولی دی چې په نکاح کې جاری ساتل اوخلاصول دی

دواړه دشرعي قاعدې مطابق وي ، په دې کې د ، بِالْمَعْرُوْفِ : دلفظ په دواړو خايونوکې په راوړلو دې طرف ته اشاره کړې ده چې درجوع دپاره هم څه شرطونه اوقاعدې دي او دآزادولو دپاره هم ، په دواړو حالتونوکې چې کوم هم اختياروي دشرعي قاعدې مطابق يې کوي ، يوازې دغصې اوجذباتوڅخه کار مه اخلې د دواړو صورتونو دشرعي قاعدوڅه حصه خوپه قرآن کې بيان سوې ده اونور تفصيلات يې حضوراکرم ﷺ بيان کړې دي ، مثلاً ترطلاق ورکولو وروسته دجدايي تريخ انجام ته دپام کيدوپه وجه که چيرې په رجوع کولو سره دنکاح جاري ساتلو خيال اواراده يې وسي نو دهغه دپاره دشريعت دا قاعده ده چې اول خو دې غصه اوخفګان دزړه څخه وباسي دښه ګذران کولو اوښه ژوند تيرولو اوحقوقو ادا کولو خيال اواراده به يې نه وي لکه چې فرمايي ، وَلاَ تُمْسِكُوْهُنَّ ضِرَارًا لِّتَعْتَدُوْا (يعنې ښځې په خپل نکاح کې ددې دپاره بندې مه ساتې چې په هغوی ظلم کوئ) دوهمه قاعده (درجوع کولو) هغه ده چې سورة طلاق کې داسې بيان ده ، وَاَشْهِدُوْا ذَوَىْ عَدْلٍ مِّنْكُمْ وَاَقِيْمُوا الشَّهَادَةَ لِلّٰهِ ، او په خپل مينځ کې دوه اعتباري سړي شاهدان جوړ کې بياکه چيرې دشاهدۍ ضرورت پيښ سي نو صحيح صحيح بې له رده اوبې له رعايته شاهدي ورکوي ، مطلب دا دی چې کله تاسې درجوع اراده کوئ نو په دې دوه اعتباري مسلمانان شاهدان جوړوئ په دې کې ډيرې فائدې دي يوه فائده په کښې دا ده چې که چيرې ښځه درجوع کولو په خلاف څه دعوه قائمه کې نو دغه شاهدي به دعوه ورماته کې ، بله فائده دسړي په کښې داسې راځي که چيرې دې دضد دخواهش يادشيطان په لمسه دعدت ترتيريدو وروسته د درواغو دعوه وکې چې ماترعدت تيريدو مخکې رجوع کړې وه ، کله چې په دې کې دايمان اوآخرت زيان وو نو ددې څخه دخلاصيدو دپاره داشاهدان ډير ګټمن ثابتيږي ، دپيښې دوهم طرف دا دی چې دعدت دختميدو دسوچ او فکر په وخت پيداکيدو سره که چيرې بياهم دزړه خيرې اوخفګان ونه وزي اوشکيدلی تړون بيرته جاري ساتل وي نو په داسې حال کې ددښمنۍ اودانتقامي جذباتو دراپورته کيدو بيره داسې وي چې دوه اړخيزه خاندانونه په کښې رانښکيليدې سي او دنيا اوآخرت دواړه يې خرابيدې سي ، لهذا ددې دبندولو دپاره يې دالله ارشاد وفرمايي ، اَوْ سَرِّحُوْهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ : مطلب يې دا دی چې دپريښولو اودنکاح دتعلق بيخي شکول دې هم دقاعدې په موافق وي ، ددې قاعدې څه تفصيل په خپله په قرآن کريم کې ذکرسوی دی اوپاته تفصيلات يې دحضور اکرم ﷺ په قولي اوعملي بيان سره ثابت دي ، مثلاً تردې په مخکې آيت کې داسې ارشاد دی ، وَلاَ يَحِلُّ لَكُمْ اَنْ تَاْخُذُوْا مِمَّآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ شَيْئًا : يعنې بغير ديوه شرعي عذره دښځې څخه دطلاق ورکولو په بدله کې دسړي خپل ورکړی سامان يامهر دښځې څخه بيرته واخلي ياورڅخه بل څه بدل وغواړي ، اوتردې په وروسته آيت کې يې وفرمايل ، وَلِلْمُطَلَّقٰتِ مَتَاعٌۢ بِالْمَعْرُوْفِ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِيْنَ : چې ټولو طلاقو سوو ښځوته فائده ور رسول دقاعدې موافق لازم کل سوي ده په هغه چاچې دالله ﷻ څخه بيريږي ، دفائدې رسولو تفسير دا دی چې

درخصت کولو په وخت طلاقې سوي ښځي ته څه نقدي يالږ ترلږه يوجوړه جامې ورکول سي ،په دې باره کې په سړي دطلاقې کړې ښځې څه حقوق واجب اولازم سوه اوڅه داحسان اوګټې په ډول وربانديکښېښوول سوه دا دلوړو اوبلندو اخلاقو او پاکيزه ګذران يوښکلې تعليم دی په دې کې داهدايت حاصليږي چې څنګه نکاح يوه معامله کول وو ، دغه رنګه طلاق دغه معامله شکول دي نو دا دې هم په داسي ډول وي چې طلاقې سوي ښځي ته څه فائده ورکول څکه په کار دي چې وروسته ورڅخه نه څه جنجال جنګ جګړه اودښمنې جوړه نه سي .

ددې فائدې تفصيل دا دی چې دعدت په موده کې دې ښځه په خپله (دسړي) په کورکې استوګنې ته پريښوول سي ، خرڅ خوراك دې پوره ورکړل سي که مهرېې لاتر اوسه نه وي ورکړې اوخلوت ورسره سوی وي نو پوره مهر دې ورادا کړي اوکه چيرې خلوت يې ورسره نه وي کړي نو نيم مهر دې په خوشحالي ورادا کړي دا واجب اولازم حقوق دي خومستحب اوښه داهم دي چې ښځي ته درخصتولو په وخت کې څه نقدي يالږ ترلږه يوجوړه جامې ورکول سي سبحان الله څنګه پاکيزه تعليم دی کوم شيان چې دجنګ جدل باعث جوړي دي سو چې خاندانونه په تباه کيدل هغه يې په دائمي محبت اوخوشحالي تبديل کې ، ددې ټولو احکامو تربيان وروسته يې وفرمايل ، وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهٗ : يعنې کوم سړي چې ددې حدودي خداوندي خلاف کوي هغه هم خپل نقصان کوي څکه چې دا خو ظاهره ده چې په آخرت کې دهر زور اوظلم بدل به دخداي ﷻ په دربارکې اخيستل کيږي ترڅويې چې دمظلوم بدل دظالم څخه نه وي اخستې مخ ته به نه تيرېږي که دبصيرت اوتجربې په رڼاکې په ژورنظروکتل سي نو معلومه به سي چې ظالم دخواريدو اوذليله کيدو په صورت کې څرګنديږي او دارنګه ظالم پوهيږي او که نه پوهيږي په داسي آفتونو کې راګيرکيږي چې ددغه ظلم نتيجه وي لکه چې شيخ سعدي رحمه الله فرمايي .

پنداشت ستم ګر که جفا برما کرد بر ګردن وی بماند وبرما بګذشت

يعنې ، ظالم دا ګڼي چې ظلم يې وکی (اوبس خبره خلاصه سوه داسي نه ده) پرمونږتيره سوه اودهغه پرګردن (بدله) پاته سوه ، دقرآن کريم يوحکيمانه انداز بيان دی چې هغه خپل قوانين ددنيا دتعزيري قوانينو په رنګ کې نه بيانوي بلکه په مربيانه اومشفقانه اندازکې دقانون اودهغه دحکمتونو او مصلحتونو بيان په داسي وضاحت سره وکې چې دسړي توب په جامه کې هر يو انسان دهغه په خلاف کولو کې خپل داسي نقصانات اوتاوانونه وينې چې بيا پردغه جرمونو کولو ګرسره زړه نه سي کولی څکه چې دهرقانون پرشا دخداي ﷻ خوف اودآخرت حساب ورياديږي .

(دنکاح اوطلاق څخه لوبې مه جوړوي)

په دې آيت کې دوهمه مسئله دا بيان سوه چې دالله ﷻ دآيتونو څخه لوبې مه جوړوي ، وَلَا تَتَّخِذُوْٓا اٰيٰتِ اللّٰهِ هُزُوًا : د لوبې جوړولوتفسير خو دا دی چې دنکاح اوطلاق دپاره الله ﷻ ټاکلې حدود مات سي ، او

دوهم تفسیر یی دحضرت ابو الدرداء ﷺ څخه داسی منقول دی چی دجاهلیت په زمانه کی به څینو خلکو طلاق ورکوی یادمریی ترآزادولو وروسته به یی ویل چی ماټوقی کولی او دخپلی خبری څخه به په دی رنګ واوښتی نو په دی داآیت نازل سوکوم چی دا فیصله وکړه چی طلاق یانکاح که چاپه لوبه یاټوقه کی هم پوره کی نو هغه به نافذسی ، دنیت نه کولو عذر به په دی کی نه سی قبلول کیدی ، حضوراکرم ﷺ فرمایی چی په درو شیانوکی ټوقی اوربښتیا دواړه برابر دی ، یو نکاح دوهم عتاق (مریی اومینځه آزادول) دریم طلاق (اخرجه ابن مردویه عن ابن عباس وابن المنذر عن عبادة بن الصامت) دحضرت ابوهریره ﷺ څخه دا الفاظ منقول دی ، ثَلَاثٌ جِدُّهُنَّ جِدٌّ وَهَزْلُهُنَّ جِدٌّ اَلنِّكَاحُ وَالطَّلَاقُ وَالرَّجْعَةُ (دری شیان داسی دی چی دهغه په ربښتیا اوپه ټوقه ویل دواړه برابر دی (یو) نکاح (دوهم) طلاق او(دریم) رجوع کول (مظهری) په دی دروشیانوکی شرعی حکم دا دی چی دوه کسه (سړی اوښځه) په ټوقه کی هم د دوو شاهدانو په مخکی که چیری دنکاح ایجاب اوقبول وکی نو دا نکاح وسوه ، دغه رنګه که چیری په ټوقوکی طلاق ورکړی نو دا طلاق به وسی یارجوع وکی رجوع به وسی یادغلام اومینځی دآزادولو وویل سی نوغلام مینځه به آزادسی دټوقی عذربه نه منل کیږی .

ددی حکم تربیانولو وروسته قرآن کریم په خپل مخصوص اندازکی انسان ته دحق د اطاعت اودآخرت دخوف سبق ورکی فرمایی ، وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَمَا اَنْزَلَ عَلَيْكُمْ مِّنَ الْكِتٰبِ وَالْحِكْمَةِ يَعِظُكُمْ بِهٖ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْا اَنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ (یعنی یادکی دالله ﷻ نعمت چی په تاسی یی نازل کی اوهغه خاص نعمت چی دکتاب اوحکمت په صورت کی تاسی ته درکول سو او دا وګنئ چی الله ﷻ هرشی ښه پیژنی) (ستاسی دنیتونو ارادو اودزړونو دپټو رازونو څخه خبر دی) ددی وجی که چیری په طلاق ورکولو سره ښځی بیخی آزادول غواړی نو په خپل مینځ کی دجنګ جګړو دحق تلفی اوظلم څخه دمحفوظ کیدو او دمحفوظ کولو په نیت سره یی وکړي اوکوي دغصی دبدل اخیستو یادښځی دذلیل اورسوا کولو یاتکلیف ورکولو په نیت یی مه کوی .

(په طلاق کي اصلي خبره دا ده چي صریح اورجعي طلاق دی ورکول سي)

په آیت کی دی دریمی مسئلی ته اشاره سوي ده چی دشریعت اوسنت په نظرکی اصلی خبره دا ده چی طلاق دی یوازی دمجبوری له کبله وی اودا مجبوری طلاق دی یوخو په ښکاره ټکوکی وی اوبل دی دا رجعی وی چی ترعدی پوری ورته درجوع کولو حق حاصل وی ، داسی الفاظ دی نه وایی چی ورسره سمدستی دتعلق تار وشکیږی کوم ته چی طلاق بائن ویل کیږی اونه دی دری طلاقه ورکوی په کومو سره چی بله نوی نکاح هم (بغیر دحلالولو څخه) حرامه سی دا اشاره د ، طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ څخه څرګندیږی چی ذکر یی مطلق دخه قیده سوی دی څکه چی په آیت کی یوازی دطلاقی رجعی (یو دوو) حکم بیان سوی دی ، دطلاق بائن یادرو طلاقوحکم نه دی بیان سوی ، کله چی قرآن کریم څه قید یاشرط ونه

لګوی نو دی طرف ته اشاره وسوه چی اصل شرعی روا طلاق طلاق رجعی دی دطلاق نور صورتونه دمکروه والی او ناخوښی څخه خالی نه دی.

(دشرعي وجي څخه بغير طلاقي سوي ښځي دخپلي خوښي دواده کولو څخه بندول حرام دي)

په دوهم آیت کی دهغه ناروا ظالمانه طریقی بندیز راغلی دی کوم چی داکثرو طلاقو سوو ښځو سره کول کیږی یعنی د دوهم واده کولو څخه ښځه بندول کیږی مخکنی خاوند هم داسی کوشش څکه کوی چی دا خپله بی عزتی ګڼی او ځینی وخت دښځی خپلوان هم دښځی دوهمه نکاح اکثره په دی طمع اولالچ بند وی چی دخپل ځان دپاره څه مال او دولت حاصلول په غواړی ځینی وخت ښځه دمخکنی خاوند سره په دوباره نکاح کولو راضی سی ، لیکن دهغه خپلوان هغه طلاق دښمنی ته را اړوی دهغه سره یی دوهمی نکاح کولو ته نه پریږدی ، کله چی دا ټول صورتونه دظلم وه نو په آیت کی څکه ددی بندیز راغی.

ددی آیت شان نزول هم د دارنګه واقعی په باره کی سوی دی ، په صحیح بخاری کی راغلی دی چی حضرت معقل بن یسار ؓ دخپلی خورنکاح دیوه سړی سره کړی وه هغه ورلره طلاق ورکی عده هم تیره سوه ، تردی وروسته دغه سړی پرخپلو کړوپښیمانه سو دوباره نکاح یی ورسره کول وغوښتل ، دغه بی بی یعنی دمعقل بن یسار ؓ خور هم په دی راضی سوه لیکن کله چی دغه سړی معقل ؓ ته ددی ذکر وکی معقل بن یسار ؓ خو پردغو طلاقوغصه وو هغه ؓ وویل ماستا عزت وکی خورمی تاته په نکاح درکړه تادهغی دا قدر وکی چی هغی ته دی طلاق ورکی اوس بیاماته راغلی یی چی دوباره نکاح وکړم په خدای ﷻ می دی قسم وی چی اوس به هغه ستاپه نکاح کی نه راځی ، دغه رنګه یوه بله واقعه دحضرت جابربن عبدالله ؓ دترلی پیښه سوی وه هم دغه واقعات وه چی په دی کی دا آیت نازل سو او دا یی ښکاره کړه چی دحضرت معقل بن یسار ؓ اودجابربن عبدالله ؓ رویه ناخوښه ده ، کله چی صحابه کرام ﷺ دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ رښتینی عاشقان وه ، دآیت کریمه په اوریدو دمعقل بن یسار ؓ غصه سړه سوه ، ولاړی اوپخپله یی دخپلی خور بی بی نکاح ددغه سړی وکړه او دقسم کفاره یی ادا کړله ، دغه رنګه جابربن عبدالله ؓ هم تعمیل وکی ، په دی آیت کی اول خاوندانوته هم او دښځی خپلو خپلوانو ته هم خطاب دی چی ﴿فَلَا تَعْضُلُوهُنَّ أَنْ يَنْكِحْنَ أَزْوَاجَهُنَّ إِذَا تَرَاضَوْا بَيْنَهُمْ بِالْمَعْرُوفِ﴾ مه بندوی (منع کوی) طلاقی سوی ښځی ددی خبری څخه چی هغوی دخپلو (ټاکلو) خاوندانو سره نکاح وکی ، دا که هغه مخکنی خاوندان وی کوموچی طلاق ورکړی وی اوکه نورخلګ وی ، مګر ورسره یی دا شرط ولګوی ، ﴿إِذَا تَرَاضَوْا بَيْنَهُمْ بِالْمَعْرُوفِ﴾ : کله چی دواړه (سړی اوښځه) دشرعی قاعدی په مطابق راضی سی نو دنکاح څخه یی مه منع کوی ، په دی کی دی خبری ته اشاره ده چی که چیری دوی خپل په مینځ کی رضانه وی څوك پرچا باندی زور زبردستی کول غواړی نو ټولو لره دمنع کولوحق سته

یاخو رضامندی هم وی مګر دشرعي قاعدي په مطابق نه وي ، مثلاً دنکاح کولو ځخه بغیرخپل په مینځ کی ښځه اوخاوند جوړ سی یاتر درو طلاقو وروسته په ناروا خپل په مینځ کی نکاح وکی یادعدی په ورخوکی دبل خاوند سره نکاح کول غواړی نو هرمسلمان دوی منع کولی سی خصوصاً ددی سړی اوښځی خپلوانو او متعلقینو لره د دوی منع کول اوحصارول واجب دی ، دارنګه که یوه انجلی دخپلو مشرانو (اولیاؤ) داجازت ځخه بغیر په بی کفو (سیال) کی نکاح کول غواړی یادخپل مهرمثل ځخه په کوم نکاح کول غواړی دکوم اثر چی په خاندان ولویږي (ځکه چی دا یی حق نه لری) نو دارضا مندی هم دشریعت مطابق نه ده ، په دی تولو صورتونوکی د انجلی خپل اولیاء (مشران) دنکاح ځخه دبندولو اومنع کولو حق لری ، اِذَا تَرَاضَوۡا: کی دا اشاره ده چی دعاقلی بالغی انجلی نکاح بغیر دهغی درضا یااجازت ځخه نه سی کیدی ، دآیت په آخر کی دری جملی ارشاد سوی، اوله ، ذٰلِكَ يُوعَظُ بِهٖ مَنۡ كَانَ مِنۡكُمۡ يُؤۡمِنُ بِاللّٰهِ وَالۡيَوۡمِ الۡاٰخِرِ: چی دا احکام دهغه خلکو دپاره دی چی په الله ﷻ او دقیامت په ورځ ایمان لری ، په دی کی اشاره دی خبری ته وسوه چی په الله ﷻ او دقیامت په ورځ دایمان راوړلو لازمی نتیجه دا ده چی انسان دی ددی احکام الهیه پوره پابندوی اوکوم خلګ چی ددی احکامو په منلوکی کوتاهی کوی هغوی دی پوه سی چی په ایمان کی یی خلل دی ، دوهمه جمله دا ده ، ذٰلِكُمۡ اَزۡكٰى لَكُمۡ وَاَطۡهَرُ: چی ددی احکامو پابندی کول ستاسی دپاره دپاکی اوصفایی ذریعه ده ، په دی کی دی خبری ته اشاره ده چی ددی خلاف کول دا نتیجه لری چی دګناهونو په پلیتیوکی ککړسی اوفتنه اوفساد ورځخه را ولاړ سی ، ځکه چی عاقلی بالغی ځوانی انجونی دمطلق نکاح ځخه بی هیڅه بندول دیوی خوا په هغوی ظلم او دهغوی حق وهل دی او دبلی خوا دهغوی حیا اوشرم په خطره کی اچول دی ، دریم دا چی خدای دی نه کړی که چیری دغسی انجلی په څه ګناه کی اخته سی نو دهغه ګناه په هغو خلکو هم وی چاچی دا دنکاح کولو ځخه منع کړی وه ، او دآخرت ترګناه مخکی داسی ګناه هم په دنیاکی را پیښیدی سی چی ددی په نتیجه کی سړی خپل په مینځ کی په جنګ جګړی او مرګ او ژوبله کی اخته سی لکه چی هره ورځ داسی لیدل کیږی که چیری دمطلق نکاح ځخه بندیز خو نه وی بلکه دانجلی دخوښی دنکاح ځخه یی بندیز وکی او دبل سړی سره یی په نکاح کولو مجبوره کی نو ددی نتیجه به هم تل ناجوړښت اوفتنه یاطلاق اوخلع وی چی بد اثرات یی ښکاره دی په دی وجه فرمایی ، چی ځان ته دخوښ کړی خاوندانو سره ښځی دنکاح کولو ځخه نه منع کول ستاسی دپاره دپاکی اوصفایی ذریعه ده .

دریمه جمله دا ده ، وَاللّٰهُ يَعۡلَمُ وَاَنۡتُمۡ لَا تَعۡلَمُوۡنَ : چی ستاسی ګټی الله ﷻ پیژنی تاسی یی نه پیژنی مطلب یی دا چی کوم خلګ طلاقی سوی ښځی دنکاح کولو ځخه بندوی اوپه هغه کی ځان ته دعزت غیرت څه خیال لری یادهغوی د ودونو په بدل کی دځان دپاره دمال او دولت څه فائدی ګنی نو ددی شیطانی

تکی اوبی ځایه فائدی اوګټی ګڼلو لیری کول یی داسی وګرل چی ، الله ﷻ ستاسی په فائدو اوګټو ښه پوهیږی هم دهغه په رڼاکی تاسی ته احکام رالیږی اوکله چی تاسی داصل اوحقیقت څخه اودمعاملو دانجام څخه ناخبره یاست ، نو تاسی په خپل ناقصی رایی اوپه خپل نیمګړی غور اوفکر کی کوم شیان چی دخپلی فائدی اوګټی ګڼی ، هغه ستاسی دهلاکت اوبربادی موجب کیدی سی ، تاسی چی کوم عزت اوغیرت راتینګ کړی دی که چیری طلاقی سوی ښځی تړواك ووتی نودغه عزت اوغیرت به موپه خاورو کی توی سی اوکیدی سی چی دمالی فائدو خیالی تصورات تاسی داسی په جنګ او جګړوکی اخته کړی چی ددغه مال فائده حاصلول خولاڅه کوی ځان به هم وربسی وبایلی .

(دقانون جوړولو او دهغه په جاری کولوکي دقرآن کریم بي مثله حکیمانه اصول)

قرآن کریم دلته یو قانون بیان کی چی طلاقی سوی ښځی دخپلی خوښی دنکاح څخه بندول جرم دی په دی قانون دعمل کولو دآسانتیا دپاره یی دعوامو دذهنو دجوړولو په غرض دری جملی ارشاد کړی په اوله جمله کی یی دقیامت دحساب کتاب او دجرمونو دسزا څخه یی انسان وبیروی اوپه دغه قانون یی دعمل کولو دپاره تیارکی ، په دوهمه جمله کی یی ددغه قانون څخه دمخ اړولو خرابی اوضررونه انسان ته ور په ګوته کړل چی انسان ورڅخه ځان وساتی اوپه هم دغه ټاکلی قانون عمل وکی ، په دریمه جمله کی یی دا بیان کړل چی دخدای ﷻ په دغه قانون باندی په عمل کولوکی ستاسی ګټه او خیر دی ، ددی په خلاف کولوکی که تاسی ته څه ګټه یاخیر ښکاری نوداستاسی لنډ نظری اودانجام څخه ناخبری ده ، دقرآن کریم دبیان داډول یوازی دلته نه بلکه په ټولو احکاموکی جاری دی ،کله چی یو قانون بیان سی نو ورسره دخدای ﷻ اودآخرت دعذاب اوحساب څخه بیرول کیږی ، ترهر قانون مخکی او وروسته ، اِتَّقُوا اللّٰهَ یا اِنَّ اللّٰهَ خَبِیْرٌ بِمَا تَعْمَلُوْنَ اِنَّ اللّٰهَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِیْرٌ:یاداسی نوری جملی تړل سوی وی ، قرآن کریم دټولی دنیا اوترقیامته دراتلونکو ټولو نسلودپاره یو مکمل نظام حیات او دژوند په هر اړخ حاوی (راچاپیر) قانون دی ، په دی کی دحدودو او تعزیزاتو بیان هم سته ، لیکن ددی انداز ددنیا دټولو قانونی کتابونو څخه په بل ډول دی ، ددی طرز ترحاکمانه زیات مُربّیانه دی ، دهرقانون دبیانولو دانداز څخه ښه ښکاریږی چی ددی خلاف دی څوك ونه کړی چی دسزا مستحق سی ، ددنیا دحکومتونو په شان نه چی دقانون جوړولو اوجاری کولو سره څه داسی خبرداری په کښی وی چی ددی قانون په خلاف کولوکی به فلانی سزا ورکول سی ، تردی زیاته بله خبره دا چی دقرآن کریم دمخصوص اندازبیان څخه یوه اوږد میعاده بله غټه فائده دا ده چی ددی په لیدلو او اوریدلو سره انسان ددی پابندی یوازی په دی بنا نه کوی چی ددی په خلاف کولو به ددنیا څه سزا ورکول سی بلکه تردی ډیر لوړ فکر داپیداسی چی الله ﷻ به خفه سی اودآخرت سزابه ورکول سی اوددی فکرپه مل کیدو سره به دباندی اودننه پټ اوښکاره برابرسی داسی سړی بیاهلته هم ددی قانون خلاف نه سی

کولی، چیری چی دبنکاره اوپټ پولیس رسایی هم نه وی ښکه چی په داسی فکرسره داعقیده لازمی ده چی الله ﷻ په هرځای کی حاضر ناظر او د ذری ذری ښخه خبردی هم دا وجه ده چی قرآنی تعلیم چی کوم أصول معاشرت تیار کړي دی هرمسلمان ددی پابندی کول دخپل ژوند مقصد گنی.
دقرآنی نظام حکومت هم داامتیازدی چی یوه طرف ته دقانون دحدونو اوقیدونو ذکردی اوبل طرف ته دترغیب اوترهیب (مینه پیدا کولو اوبیرولو) په وجه دانسان اخلاق اوکرداردومره لوړکړل سوي دی چی دغه قانونی حدونه اوقیدونه دده دپاره یوطبعیت جوړ سی دکوم په مخکی چی دی خپل جذبات اونور نفسانی خواهشات شاته وغورځوی ددنیادحکومتونو اوقومونو په تاریخ اوپه هغه کی دجرمونو اوسزاگانو په واقعاتوپه ژور نظراچولو سره معلومیږی چی په تش قانون جاری کولو سره دهیڅ قام یاغری اصلاح (گټه) نه ده سوی ، یوازی په پولیس اوفوځ هیڅکله هم دجرمونو بندیزنه دی راغلی ، ترڅوچی دقانون سره سره دالله ﷻ بیره او لویی په زړه کی کېنیني ، په اصل کی دجرمونو ښخه بندوونکی شی دالله ﷻ ښخه بیره اودآخرت دحساب کتاب فکردی کله چی دا نه وی نو هیڅوك جرمونه نه سی پرېښوولی.

وَالْوَالِدٰتُ يُرْضِعْنَ اَوْلَادَهُنَّ حَوْلَيْنِ

اودکوچنیانو میندی دی تی ورکوی خپلو کوچنیانو ته دوه کاله

كَامِلَيْنِ لِمَنْ اَرَادَ اَنْ يُّتِمَّ الرَّضَاعَةَ ؕ وَعَلَى الْمَوْلُوْدِ لَهٗ

پوره چی څوك غواړی چی پوره کړی موده دتی ورکولو ، او دکوچنیانو په پلار دی

رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ ؕ لَا تُكَلَّفُ نَفْسٌ اِلَّا وُسْعَهَا ۚ

خوراکه او جامی ددغه ښځو ددستورموافق زور نه سی اینښوولی په چا مگر دهغه دتوان

لَا تُضَآرَّ وَالِدَةٌۢ بِوَلَدِهَا وَلَا مَوْلُوْدٌ لَّهٗ بِوَلَدِهٖ ۗ وَعَلَى

برابر، ضرر دی نسی ورکولی مورته دهغې دکوچنی په وجه او نه هغه چا ته چی دچا اولاد وی (پلار ته) دهغه

الْوَارِثِ مِثْلُ ذٰلِكَ ۚ فَاِنْ اَرَادَا فِصَالًا عَنْ تَرَاضٍ مِّنْهُمَا

داولاد په وجه اوپه وارثانو هم دا قدر دی بیا که چیری (مور پلار) دواړه غواړی دتی نه پرېکول په رضا اوصلاح

وَتَشَاوُرٍ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا ؕ وَاِنْ اَرَدْتُّمْ اَنْ تَسْتَرْضِعُوْٓا

د دواړو ، نو په هغوی څه گناه نسته او که چیری تاسی غواړی تی ورکول خپلو اولادو ته

اَوْلَادَكُمْ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ اِذَا سَلَّمْتُمْ مَّاۤ اٰتَيْتُمْ بِالْمَعْرُوْفِ

د دانی نو هم څه ګناه نشته په تاسی کله چی وسپاری تاسی هغه (مال) دکوم چی ورکول مو تاکلی وو

وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْۤا اَنَّ اللّٰهَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿۲۳۳﴾

ددستور موافق او وبیریږی دالله ﷻ اوپوه سی! چی الله ﷻ ستاسی ټول عملونه ښه وینی

دتفسیر لنډیز

(دیرشم حکم درضاعت)

اومیندی دی خپل اولادته دوه کاله پوره تی ورکوی (دا موده دهغه چا دپاره ده) چی څوک دتی رودلو تکمیل غواړی اودچاچی کوچنی دی دهغه پرذمه دی ددغه میندو خوراك جامه دقاعدی موافق اوهیچاته حکم نه کول کیږی مګر دهغه دوس مطابق هیڅ یوی مورته تکلیف نه دی ورکول په کار دهغی دکوچنی په وجه اونه هیڅ یوه پلارته دهغه دکوچنی په وجه (که چیری پلار ژوندی نه وی) نو دتیری سوی طریقی په شان (دماشوم دپالنی انتظام) دهغه دنژدی خپلوانو پرذمه دی چی (دشریعت له رویه ددغه ماشوم) وارث جوړیدی سی (بیا دا وګنی چی) که چیری دواړه (مور اوپلار د دوو کالو څخه په کمه موده کی) دتی څخه پریکول غواړی یوتربله درضا اوصلاح سره نو هم په دوی دواړو څه ګناه نسته اوکه چیری تاسی خلګ (دمور اوپلارپه موجودګی کی هم دڅه ضروری ګتی په خیال مثلاً دمور دتی شیدی دکوچنی دپاره مضری وی) خپلو کوچنیانوته دیوبلی دایی تی رودل غواړی نو بیاهم په تاسی څه ګناه نسته خو هلته چی وسپاری تاسی هغوی ته هغه شی دکوم ورکول مو چی تاکلی وی دقاعدی موافق اودحق تعالی ﷻ څخه وبیریږی اویقین لری چی الله ﷻ ستاسی عملونه ښه وینی.

علوم او مسئلی: په دی آیت کی درضاعت (ماشومانوته دتی ورکولو) سره دتړلو احکامو بیان دی ، تر دی په مخکی او وروسته آیتونوکی دطلاق داحکامو بیان دی ، په مینځ کی دتی ورکولو احکام په دی جوړښت بیان سوي دی چی اکثره ترطلاق وروسته ماشوم ته پر تی ورکولو او دهغه پرپالنه جګړی پیښیږی ددی وجی په دی آیت کی داسی معتدل احکام بیان سوي دی چی دښځی اوخاوند دواړو دپاره مناسب اوآسان دی برابره خبره ده که داسی پیښه په حالت دنکاح کی راسی اوکه ترطلاق وروسته راسی په دواړو صورتونوکی پردواړو اړخو دزور اوظلم څه لارپاته کیږی نه اونه دجنګ جګړی فتنی او فساد څه ځای پاته کیږی ، مثلاً دآیت په مخکنی جمله کی یی دا وفرمایل ، وَالْوَالِدٰتُ يُرْضِعْنَ اَوْلَادَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ لِمَنْ اَرَادَ اَنْ يُّتِمَّ الرَّضَاعَةَ : چی میندی دی خپلو کوچنیانوته تی ورکوی دوه کاله پوره خوهلته چی کوم مضبوط عذر یی تردی مودی مخکی په پریکولو مجبوره نه کړی ، ددی آیت څخه درضاعت یوڅو مسئلی معلومی سوی.

(تي ورکول دمور په ذمه واجب دی)

مخکی دا چی تی ورکول دمور په ذمه دیانةً واجب دی دځه ضد یا خفګان په وجه بی له عذره که تی نه ورکوی نوګنهګاره به وی ترڅوچی په نکاح کی وی نو دخپل خاوند څخه دتی ورکولو بدله یامزدوری نه سی غوښتی ځکه چی دا دهغی خپل فرض اوذمه واری ده.

(دتي ورکولو پوره وخت)

دوهمه دامسئله معلومه سوه چی دتی ورکولو پوره موده دوه کاله ده ترڅوچی یوخاص عذرنه وی راپیښ سوی نودکوچنی داحق دی چی ورته دومره موده تی ورکول سی ، ددی څخه داهم معلومه سوه چی دتی ورکولو موده دوه کال تاکل سوي ده تردی وروسته تی مه ورکوی ، البته دځینو قرآنی آیتونو اواحادیثو په بناء امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله ددی خبری قائل دی چی د دوه نیم کاله عمر په موده کی په تی ورکولو سره درضاعت احکام ثابتیدی سی اودکوچنی دکمزوری یاد بل څه عذرپه وجه د دوه نیم کالو ترعمره پوری ماشوم ته دتی ورکولو څه ګناه نسته ددغه عمر څخه وروسته بچی ته دمورتی ورکول په اتفاق دعلماؤ سره حرام دی.

ددی آیت په دوهمه جمله کی ارشاد دی ، وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ لَا تُكَلَّفُ نَفْسٌ إِلَّا وُسْعَهَا : چی دمیندو خوراکه اوجامه دقاعدی موافق دپلار په ذمه ده ، هیچاته داسی حکم نه ورکول کیږی دکوم چی توان نه لری ، په دی کی مخکنی خبره دغور کولو لائقه ده هغه دا چی په قرآن مجید کی دمیندو دپاره دلته د وَالِدَاتُ لفظ استعمال سوي دی او دپلار دپاره یی د وَالِدُ په ځای د الْمَوْلُودِ لَهُ لفظ اختیارکی ، سره ددی چی دقرآن کریم په یوه بل ځای کی لَا يَجْزِي وَالِدٌ عَنْ وَلَدِهِ هم د وَالِدُ لفظ راغلی دی ، په دی کی یوخاص راز دامعلومیږی چی دقرآن کریم دقانون طرز بیان ددنیاوی حکومتونو دقانون په عکس داسی مربیانه اومشفقانه دی چی انسان لره دهغه قبلول اوپه هغه عمل کول آسان وی ، دلته هم چونکه دبچی نفقه دپلار په ذمه غورځول سوي ده حالانکه هغه دمور اوپلار په شریك وی نو ممکنه وه چی پلارته داحکم لږ درونډ معلوم سوی وی ، ځکه یی دوالد په ځای دمَوْلُودٌ لَهُ لفظ اختیار کی (هغه سړی چی دچا کوچنی دی) نو په دی کی یی دی طرف ته اشاره وکړه که څه هم دکوچنی په پیدا ئینبت کی دمور اوپلار دواړو شرکت ضروری دی مګر کوچنی هم دپلار بلل کیږی ، نسب یی هم دپلار چلیږی ، اوکله چی کوچنی دده سو نو ذمه داری دخرڅ ده ته درنه معلومیدل نه دی په کار.

(کوچني ته تي ورکول دمور په ذمه او دمور خوراک اوجامه اونور ضروریات دپلار په ذمه دی)

دریمه مسئله دشرع ددی آیت څخه دا معلومه سوه چی که څه هم تی ورکول دمورپه ذمه دی، لیکن دمورخوراك جامه اودژوندنورضروریات دپلارپه ذمه دی ، او دا ذمه واری به ترهغه وی ترڅو چی دغه مور یی دپلار په نکاح یاعده کی وی ، کله چی نکاح ختمه سوه او عده هم تیره سوه نو دزوجیت نفقه

به ورسره هم ختمه سی، مګر کوچنی ته دتی ورکولو معاوضه ادا کول به دپلار په ذمه بیاهم واجب وی

(دښځي نفقه دخاوند دحیثیت (توان) مناسب په کارده که دښځي دحیثیت مناسب ؟)

په دی خودټولو علماؤ اتفاق دی چی ښځه اوخاوند دواړه امیران (مالدار) وی نودښځی نفقه به امیرانه واجب وی اوکه دواړه غریبان وی نونفقه به غریبانه واجب وی ، البته که د دواړو مالی حالت بدل بدل وی نو په دی کی دفقهاؤ اختلاف دی ، صاحب هدایه دخصاف رحمه الله په دی قول فتوی ورکړي ده چی که چیری ښځه غریبه اوسړی مالدار وی نو دهغه نفقه دی درمیانه داسی وی چی ترغریبانو دی پورته اوترمالدارو دی کښته وی او دکرخی رحمه الله په نزد نفقه به دخاوند دحال مطابقه ورکول کیږی، لکه چی په فتح القدیرکی ددیرو فقهاؤ فتوی هم په دی نقل ده ، والله اعلم (فتح القدیر ص۴۲۳ ج ۳) په آیت کی داحکامو تربیانولو وروسته ارشاد دی ، لَا تُضَارَّ وَالِدَةٌ بِوَلَدِهَا وَلَا مَوْلُودٌ لَّهُ بِوَلَدِهِ : چی دکوچنی په وجه نه څوك موراونه څوك پلارپه تکلیف کی اچول روادی مطلب دادی چی موراوپلار دی یی خپل په مینځ کی ضدضدایی نه کوی مثلاًموردتی ورکولوځخه معذوره وی اودپلارسره دپوه کیدوپه زبردستی سره پرښځی تی ورکول ایږدی یامثلاً پلارخوار دی اوموربی عذره (سره دتوانه) تی په دی غرض نه ورکوی چی پلارمری که پاتیږی دبلی دایی څخه په اجرت اومعاوضه دی کوچنی ته تی ورکوی .

(مور کوچني ته پرتي ورکولو دمجبوره کولو یانه کولو تفصیل)

لَا تُضَارَّ وَالِدَةٌ بِوَلَدِهَا: څخه پنځمه مسئله دا معلومه سوه چی که چیری مور دڅه ضرورت په وجه کوچنی ته دتی ورکولو څخه انکار وکی نو پلار لره دهغی مجبوره کول روانه دی ، دا مسئله دوَلَا مَوْلُودٌ لَّهُ بِوَلَدِهِ : څخه معلومه سوه .

(ښځه ترڅو چي په نکاح کي وی نوخپل کوچني ته دتي ورکولو اجرت نه سي غوښتي مګر ترطلاق او عدی وروسته یي غوښتي سي)

شپږمه دا مسئله معلومه سوه چی مور ترڅو پوری چی په نکاح کی وی نوکوچنی ته دتی ورکولو اجرت څکه نه سی غوښتی چی هغې ته ددغه دوران دشریعت ټاکلی نفقه کافی ده ، ددی څخه زیاته خرڅه غوښتل پلارته ضرر ورکول دی ، دطلاق دعدی ترتیریدو وروسته کله چی دغه ټاکلی خرچه ختمه سوه نو دتی ورکولو دخرڅ غوښتنه نه پوره کول دپلار دطرفه مورته ضرر ورکول دی خوشرط په کښی دا دی چی تر نورو ښځو (مناسبه) زیاته خرڅه دی نه غواړی کله یی چی زیاته غوښتنه وکړه نو پلار دا حق لری چی دبلی دایی انتظام وکی .

(یتیم کوچني ته دتي ورکولو ذمه دچا ده ؟)

په آیت کی دا هم ارشاددی ، وَعَلَى الْوَارِثِ مِثْلُ ذَٰلِكَ : که چیری پلار ژوندی نه وی نوکوچنی ته دتی ورکولو انتظام په هغه چا دی څوك چی ددغه ماشوم داسی نژدی خپل وی چی دهغه شرعی وارث

جوړيدی سی ، که چيری دا ډول وارثان يی ډير وی نوبيا په هريوه په قدر دميراث به دغه ذمه واری وی ، امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله فرمايی چی يتيم کوچنی ته دتی ورکولو ذمه داری په وارث باندی داچولو څخه دا هم معلومه سوه چی دنابالغ کوچنی خرڅ دتی څخه ترپريکولو وروسته هم پروارثانو دی څکه چی تی ورکول څه خاص خبره نه ده ، اصلی مطلب دماشوم (يتيم) پالنه ده مثلاً که چيری ديتيم کوچنی مور اونيکه (دپلار پلار) ژوندی وی نو دا دواړه دکوچنی نژدی خپلوان اودهغه وارثان دی ، ددی وجی دده نفقه به په دی دواړو دميراث دبرخی په قدر وی ، يعنی دريمه برخه نفقه به په مور اوپه درو کی دوی برخی به په پرنيکه وی ، ددی څخه دا هم معلومه سوه چی ديتيم لمسی په خپل نيکه باندی دده تربالغو زامنو (ديتيم تراکاګانو) هم زيات حق دی څکه چی دبالغ اولادنفقه دده په ذمه نه ده او ديتيم لمسی نفقه دده په ذمه واجب ده خو دزامنو په موجودګی کی لمسی دميراث حقدار جوړول دميراث داصولو اوانصاف څخه خلاف ده څکه چی نژدی (سيده په سيده) اولاد وی نوليری (بالواسطه) اولاد په ميراث کی حقدار جوړول دعقل څخه هم ليری خبره ده اودبخاری شريف دحديث ل، اَولٰی رَجُلٍ ذَکَرٍ (يعنی نژدی نارينه د اولاد دپاره دی) څخه هم خلاف ده ، البته نيکه دضرورت ګنلوپه وخت دا حق لری چی ديتيم لمسی دپاره څه وصيت وکی ، دغه وصيت دی دده دزامنو تربرخی څخه زيات ولی نه وی ، په دی ډول ديتيم ضرورت هم پوره کيږی او دميراث هغه اصول هم پرخپل حال محفوظ پاته سول په کوموکی چی فرمايل سوي دی چی دنژدی وارث په موجودګی کی ليری ته ميراث ورکول روانه دی .

(دتي څخه دپريکولو احکام)

تردی په وروسته آيت کی دا ارشاددی ، فَاِنْ اَرَادَا فِصَالًا عَنْ تَرَاضٍ مِّنْهُمَا وَتَشَاوُرٍ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا:که چيری دکوچنی مور اوپلار دواړه په رضا اوصلاح سره دشيدو دمودی (دوه کاله) پوره کيدوه مخکی دده دتی څخه دپريکولو اراده وکی ، دا که دمور دمعذوری يادکوچنی دناروغتياپه وجه وی نوڅه ګناه په کښی نسته ، درضا اوصلاح شرط دکوچنی دګتی په خيال لګول کيږی هسی نه چی په جګړه او اختلاف کی ماشوم خاوری اوايری (خراب) سی .

(دمور څخه ماسوا دبلي ښځي دتي ورکولو احکام)

په آخر کی ارشاددی: وَاِنْ اَرَدْتُّمْ اَنْ تَسْتَرْضِعُوْا اَوْلَادَكُمْ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ اِذَا سَلَّمْتُمْ مَّا اٰتَيْتُمْ بِالْمَعْرُوْفِ : که چيری تاسی داغواړی چی دڅه ګتی په خاطر کوچنی ته دمور په څای دی دايی تی ورکی نو په دی کی څه ګناه نسته خو په شرط ددی چی تی ورکوونکی ته دهغی تاکل سوی اجرت پوره پوره ورکول کيږی په دارنګه نه کولو سره به ګناه د دوی په ذمه پاته سی ، ددی څخه دا هم معلومه سوه چی که چيری مور به تی ورکولو راضی وی ليکن پلار ددی شيدی دکوچنی دپاره مضری ګڼی نو روا دی چی دمور شيدی پربندی کی او بلی ښځی (دايی) ته يی دتی ورکولو دپاره وسپاری ، ددی څخه دا هم معلومه

سوه چې دتې ورکولو دپاره دتاکل سوې ښځې سره داجرت خبره ښه صفاسي چې ورځخه جګړه راولاړه
نه سي ، او بله دا چې په تاکلي وخت دي ته اجرت ورکي اوهاخوا ديخوا دي په کښې نه کوي ،
درضاعت داحکامو تربيانولو وروسته دخپل بې مثله ښکلي طرز موافق په قانون باندې دعمل
دآسانولو اوپه ظاهر اوباطن کې ددې دپابند جوړيدلو دپاره دالله ﷻ ځخه دبيرې او دهغه دعلم محيط
تصور يې راوړاندې کې ، ارشاد دی ، وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ: دالله ﷻ ځخه وبيريږی
او وګنې چې الله ﷻ ستاسې ښکاره پټ ظاهر اوغائب په پوره ډول وينې اوګوري اوهغه ستاسې
دزړونو دپټو ارادو اونيتونوځخه خبر دی ، دکوم يوه فريق دطرفه چې دتې ورکولو داحکامو خلاف
وسوه يادکوچنې ګټه يې شاته وغورځوله اوبله فيصله يې ورکړه نو هغه به دسزا مستحق وي .

وَالَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُوْنَ اَزْوَاجًا يَّتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ اَرْبَعَةَ

او کوم کسان چې مړه سي ستاسې ځخه او پرېږدي خپلې ښځې نوپه کاردي چې هغه ښځې په انتظارکې وساتي

اَشْهُرٍ وَّعَشْرًا ۚ فَاِذَا بَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيْمَا

خپل ځانونه ځلورمياشتې ، اولس ورځې ، بياکله چې پوره کړي خپل عددت نو په تاسې ځه ګناه نسته په دې

فَعَلْنَ فِيْٓ اَنْفُسِهِنَّ بِالْمَعْرُوْفِ ۭ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿۲۳۴﴾

خبره کې چې وکړي هغوې په خپل حق کې دقاعدې موافق ، او الله ﷻ ستاسې په ټولو کارونو خبر دی .

وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيْمَا عَرَّضْتُمْ بِهٖ مِنْ خِطْبَةِ النِّسَاۗءِ

او هيڅ ګناه نسته په تاسې په دې کې چې په اشاره کې ووايا ست دنکاح پيغام (بلنه) ددغه ښځو

اَوْ اَكْنَنْتُمْ فِيْٓ اَنْفُسِكُمْ ۭ عَلِمَ اللّٰهُ اَنَّكُمْ سَتَذْكُرُوْنَهُنَّ وَلٰكِنْ

ياپټ وساتې په خپلو زړونو کې الله ﷻ ته معلومه ده چې تاسې به خامخا دغو ښځو ياګيرنه کوې ليکن

لَّا تُوَاعِدُوْهُنَّ سِرًّا اِلَّآ اَنْ تَقُوْلُوْا قَوْلًا مَّعْرُوْفًا ڛ وَلَا تَعْزِمُوْا

هغوې سره دنکاح کولوپټه وعده مه کوې ،مګرهم داچې ووايا ست ځه خبره دشريعت درواج موافق اواراده مه کوې

عُقْدَةَ النِّكَاحِ حَتّٰى يَبْلُغَ الْكِتٰبُ اَجَلَهٗ ۭ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ

دنکاح ترهغه چې ورسيږي تاکلې سوې عدت خپلې انتهاته او وګنې چې الله ﷻ ته معلوم دی

مَا فِيْٓ اَنْفُسِكُمْ فَاحْذَرُوْهُ ۚ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ حَلِيْمٌ ﴿۲۳۵﴾

هغه چي ستاسي په زړونو كي دى نو دهغه څخه وبيرېږئ ، او وګڼئ چي الله ﷻ بخښوونكى او زغم لرونكى دى

دتفسير لنډيز

(يو ديرشم حكم دخاوند دمړ كيدو په صورت كي دعدى بيان)

وَالَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ (تر) وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ : اوكوم خلق چي په تاسي كي وفات سي اوبيبياني پرېږدي نو دهغوى (بيبياني) دي خپل ځانونه (دنكاح اونورو څخه) بندلري څلور مياشتي اولس ورځي بيا كله چي خپله د (عده) نيټه ختمه كي نو تاسي ته به (هم) څه ګناه نه وي په داسي خبره (روا بللو) كي چي دغه ښځي خپلو ځانونو دپاره څه كار وايي (دنكاح) وكي دقاعدي موافق (البته كه چيري څه خبره دشرع دقاعدي خلاف كوي اوتاسي دتوان لرلوسره هم هغوى منع نه كي نو په ګناه كي به ورسره تاسي هم شريك ياست) اوالله ﷻ ستاسي دټولو كارونو څخه خبر لري .

(دوه ديرشم حكم په عده كي دنكاح پيغام وركول)

اوپه تاسي به څه ګناه نه وي چي دغه بيان سوو ښځوته (كومي چي دوفات په عده كي دي) دپيغام (دنكاح) وركولو په باره كي څه خبره اشارةً ووايياست (مثلاً داسي چي ماته ديوى نيكي ښځي سره دنكاح كولو ضرورت دى) ياپه خپل زړه كي (دراتلونكي نكاح كولو اراده) پټه وساتئ (نوبياهم څه ګناه نسته او ددى اجازت وجه دا ده چي) الله ﷻ ته دا خبره معلومه ده چي تاسي به ددغه ښځو (خامخا) يادونه كوئ (خير دى يادونه يې كوئ) ليكن دهغوى سره (په صفا ټكوكي) دنكاح وعده (اوخبرى اترى) مه كوئ مګر دا چي څه خبره دقاعدي موافق وكي (نوڅه بديت يې نسته او دقاعدي مطابق خبره هم هغه ده كومه چي په اشاروكي وكي) اوتاسي دنكاح دتعلق (سمدستي) اراده هم مه كوئ تردي چي عدت په خپل ټاكلي وخت ختمه سي اويقين لرئ چي الله ﷻ ته خبر دى ستاسي دزړونو دخبرو نودالله ﷻ څخه وبيرېږئ (او دناروا خبرو په زړه كي اراده هم مه كوئ) او (دا هم) يقين لرئ چي الله ﷻ معاف كوونكى هم دى او زغم لرونكى هم .

علوم او مسئلي

(دعدى ځيني احكام)

(۱) دچاچي خاوند مړسي نو دهغه پاره په عده كي خوشبويي لګول ډول سنګاركول رانجه اوتيل بې له ضرورته (ددوا اوعلاج) لګول نكريزى پورى كول رنګيني جامي اغوستل ښه نه دي او د دوهمي نكاح په جهر خبرى كول هم ښه نه دي لكه چي په راتلونكي آيت كي به راسي په بل كوركي شپه تيرول هم روانه دي ، په ترجمه كي د(نكاح) سره د (اونور) لفظ دلګولو څخه مطلب هم دا خبرى دي او دا حكم

دهغه ښځي دپاره هم دی چاته چي طلاق بائن ورکول سوی وی په کوم کی چي رجوع کول روانه دی ، مگر دداسی ښځي دپاره دورځي هم بغیر دسختی مجبوری څخه وتل ښه نه دی .

(۲) که چیری دسپوږمی په شپه یی خاوند مړسوی وی نودعدی داخلور میاشتی اولس ورځي به هم دسپوږمی په حساب پوره کول کیږی چی کله به دیرش اوکله په یوکم دیرش ورځي وی اوکه چیری دسپوږمی ترشپی وروسته وفات سوی وی نو دا ټولی میاشتی به ددیرشو ددیرشو ورځو شمیرل کیږی چی ټولی ورځخه یوسل اودیرش ۱۳۰ ورځي جوړیږی ددی مسئلی څخه ډیرخلگ ناخبره دی ، په کوم وخت کی چي وفات سوی وی دعدی دختمیدو آخری وخت به هم دهغه دشروع څخه شمیرل کیږی کله چی دعدی ټوله نیټه ختمه سی ، دا فرمان (که چیری ښځي دقاعدی موافق څه کوی نوتاسی ته هم څه گناه نسته) دا مطلب لری چی خلاف شرع کارکوونکی لره منع (پرقدر دوس) پر نورو مسلمانانو واجب دی که منع یی نه کی نو دغه خلگ به ورسره سم گناهگار وی او دقاعدی موافق مطلب دا دی چی تجویز سوی نکاح دی شرعًا صحیح اوجائز وی او درواوالی ټول شرطونه دی هلته جمع وی .

لَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِنْ طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ مَا لَمْ تَمَسُّوهُنَّ أَوْ

هیڅ گناه نسته په تاسی که چیری طلاق ورکړل تاسی ښځوته هغه وخت چی تاسی ور پوری لاس هم نه وی

تَفْرِضُوا لَهُنَّ فَرِيضَةً ۚ وَمَتِّعُوهُنَّ عَلَى الْمُوسِعِ قَدَرُهُ

لگولی ، او نه مو ورته څه مهر ټاکلی وی او هغوی ته څه خرڅه ورکوی دوس په خاوند باندی دهغه موافق

وَعَلَى الْمُقْتِرِ قَدَرُهُ مَتَاعًا بِالْمَعْرُوفِ ۖ حَقًّا عَلَى الْمُحْسِنِينَ ﴿٢٣٦﴾

اوتنگی والا (بی وسه) باندی دهغه موافق کومه خرڅه چی دقاعدی موافق ده لازمه ده په نیکو کارو خلقو

وَإِنْ طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِنْ قَبْلِ أَنْ تَمَسُّوهُنَّ وَقَدْ فَرَضْتُمْ

او که چیر طلاقی موکړی دوی (ښځو) دلاس وروړلو څخه مخکی اوټاکلی مو وی هغوی لره مهر

لَهُنَّ فَرِيضَةً فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ إِلَّا أَنْ يَعْفُونَ أَوْ يَعْفُوَا

نولازم سو نیم مهر د هغه چی کوم موټاکلی وی مگر چی تیر په هیره کړی هغوی (ښځي) یاتیر په هیر کړی

الَّذِي بِيَدِهِ عُقْدَةُ النِّكَاحِ ۚ وَأَنْ تَعْفُوا أَقْرَبُ لِلتَّقْوَىٰ ۚ

هغه کس دچاپه اختیارکی چی غوټه کول دنکاح دی (یعنی خاوند) اوتاسی سړی چی تیرپه هیره کړی نو دابه نژدی وی

وَلَا تَنۡسَوُا الۡفَضۡلَ بَيۡنَكُمۡ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ بَصِيۡرٌ ﴿۲۳۷﴾

پرهيزگاري ته ، اومه هير وي احسان كول په خپل مينځ كي ، بيشكه الله (هغه) چي كوم تاسي كوى ښه ويني.

دتفسير لنډيز

(درو ديرشم حكم دطلاق قبل الدخول په صورت كي دمهر دواجبيدو اونه واجبيدو بيان)

دطلاق قبل الدخول مطلب دا دي چي خاوندښځي ته په داسي وخت كي طلاق وركي چي نه خويي ورسره جماع كړي وي اونه ورسره بيخي ځان ته يوځاي سوى وي په دي كي دوه صورتونه جوړيږي ، اول دا چي دنكاح په وخت تاكلى مهرنه وي اينبوول سوى ، او دوهم دا چي اينبوول سوى وي دمخكني صورت هم مخكني ذكر دي فرمايي ، د لَا جُنَاحَ عَلَيۡكُمۡ اِنۡ طَلَّقۡتُمُ النِّسَآءَ مَا لَمۡ تَمَسُّوۡهُنَّ : څخه تر حَقًّا عَلَى الۡمُحۡسِنِيۡنَ : پوري يعني په تاسي (دمهر) څه گرفت نسته چي بيبيانوته په داسي حالت كي طلاق وركي چي نه مو ورته لاس وروړى دى اونه مو ورته څه مهر ټاكلى دى (نو په داسي صورت كي مهر په خپله ذمه گنى) او (يوازي) هغوي ته (يو) فائده رسوى دوس دخاوند په ذمه دهغه دحيثيت موافق دي يو خاص فائده رسول چي دقاعدي موافق واجب دي په ښو معاملداروخلكو (يعنى په تولو مسلمانانوځكه چي دښه معاملي كولو حكم ټولومسلمانانوته دي ددي څخه مراد يوه جوړه جامي وركول دي) او د دوهم صورت حكم دا دى ، وَاِنۡ طَلَّقۡتُمُوۡهُنَّ (تر) اِنَّ اللّٰهَ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ بَصِيۡرٌ ، اوكه چيرى تاسي بيبيانوته طلاق وركى مخكى تردي چي لاس مو وروړى وى اوڅه مهر موورلره ټاكلى وى نو (په دي صورت كي) څومره مهرچي تاسي ټاكلى وي دهغه نيم (واجب) دي (اونيم معاف دي) مگر (دوه صورتونه ددي مجموعى حكم څخه مستثنى دي يوصورت خو) دا چي دغه ښځي (خپل نيم مهرهم معاف كي (نو په دي صورت كي نيم هم واجب پاته نه سو) يا (دوهم صورت) دا (دي) چي هغه سړى فراخدلي وكړي دچاپه لاس كي چي دنكاح تعلق (ساتل اوماتول) دي (يعنى خاوندټول پوره مهر وركي نو په دي صورت كي به دخاوندپه مرضي پوره مهر اداكول وي) او (اى اهلِ حقو) ستاسي (دخپلو حقوقو) معاف كول (داخيستلو په ځاى) تقوىٰ ته زيات نژدي دي (ځكه چي په معاف كولوثواب حاصليږي او ظاهره خبره ده چي دثواب كاركول تقوىٰ بلل كيږي) اوخپل په مينځ كي داحسان (او رعايت) كولوڅخه غفلت مه كوى (بلكه هرسړي دي دبل سره دپت پاللوخيال لري) بيشكه الله ﷻ ستاسي ټول عملونه ښه وينى (نوكه تاسي دچاسره پت پالي ياورسره احسان كوى الله ﷻ به تاسي ته بهتره بدله دركي) (بيان القرآن)

علوم او مسئلي: لَاجُنَاحَ عَلَيۡكُمۡ (تر) اِنَّ اللّٰهَ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ بَصِيۡرٌ ، دمهر اوجماع په نسبت دطلاق څلور صورته كيدى سى ، د دووحكم په دي آيتونو كي بيان سوي دي (۱) يو داچي نه خومهر ټاكلى وي اونه خوجماع

اوخلوت سوي وي (۲) دوهم دا چې مهرخو تاکلی وي مګر جماع او خلوت نه وي سوي (۳) دريم دا چې مهر هم تاکلی وي اوجماع هم سوي وي نوتاکلی پوره مهر به دلته ورکول کيږي ، دا حکم دقرآن کريم په بل ځاي کې بيان سوي دی (۴) څلورم صورت دا دی چې مهرخو تاکلی نه وي مګر ترجماع ياخلوت صحيحه وروسته طلاق ورکول سوي وي ، په دې صورت کې پوره مهرمثل ورکول دي ، ددې بيان هم په يوبل آيت کې راځي ، مهرمثل هغه دی چې دښځې په قوم کې چې کوم رواج وي ، په تيرسوي آيت کې دمخکې دوو قسمو حکم بيان سوي دی ، په دې کې دمخکنی صورت حکم دا دی چې مهر خوهيڅ هم واجب نه دی ، مګر په خاوند دا واجب دی چې دخپله ځانه ښځې ته څه ورکې لږ ترلږه داچې يوجوړه جامې ورلره ورکې ، اصلي خبره دا ده چې قرآن کريم ددې بخښيش هيڅ اندازه نه ده تاکلې البته دايې ښولې چې مالدارې دخپل حيثيت مطابق ورکوي ، مطلب يې دا دی چې دبخل څخه دې کارنه اخلي ، حضرت حسن رحمه الله هم په داسې يوه پيښه کې خپلې طلاقې بي بي ته شل زره درهمه بخښيش ورکړی وو او قاضي شريح رحمه الله پنځه سوه درهمه اوحضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمايي چې لږ ترلږه درجه يې دا ده چې يوه جوړه جامې ورکې (قرطبی) او د دوهم صورت حکم دا دی چې دکومې ښځې مهر دنکاح په وخت کې تاکل سوي وي اوترجماع ياترخلوت صحيحه مخکې طلاق ورکول سو نو ددغه تاکلي مهرنيمه برخه اداکول به دسړي په ذمه واجب وي ، البته که چيرې ښځه دا هم وبخښي ياسړی پوره ورکې نو دا دخوښې خبره ده لکه دآيت ، اِلَّآ اَنْ يَّعْفُوْنَ اَوْيَعْفُوَ الَّذِيْ بِيَدِهٖ عُقْدَةُ النِّكَاحِ : څخه چې معلوميږي ، دسړي دطرفه پوره مهر ادا کولو ته يې معاف کول (بخښل) دعربو درواج په مطابق وفرمايل چې هغوی به هم دواده په موقع ټول مهر اداکوي ، کله چې ده به دجماع يا ترخلوت صحيحه مخکې طلاق ورکې نو دشرعي حکم مطابق دې دهغه نيم ورکړی مهر واپس غوښتلو حقداروو نوځکه دغه واپس نه غوښتلوته يې معاف کول (بخښل) وفرمايل ، دې قسم معاف کولو اوبخښلوته يې ډيرښه اوتقوی ته ډير نژدې ځکه وفرمايل چې دنکاح تعلق شکيدل هم په احسان اوښه سلوك سره وسوه چې دشريعت مراد اود عظيم ثواب موجب دی ، برابره خبره ده چې معافي دسړي دطرفه وي اوکه دښځې دطرفه، د اَلَّذِيْ بِيَدِهٖ عُقْدَةُ النِّكَاحِ : تفسير په خپله حضوراکرم ﷺ داسې کړي دی ، وَلِيُّ عُقْدَةِ النِّكَاحِ الزَّوْجُ : يعنی دنکاح دغوټې اختيار مندخاوند دی ، دا حديث په دارقطني کې په روايت دعمرو بن شعيب عَنْ اَبِيْهِ عَنْ جَدِّهٖ منقول دی او دحضرت علي اوبن عباس رضی الله عنهما څخه هم (قرطبی) ددې څخه دا هم ثابته سوه چې دنکاح ترمکمل کيدو وروسته دنکاح دقائم ساتلو يادهغه دختمولو اختيار مند خاوند دی ، طلاق هم هغه ورکولی سي ، په طلاق ورکولو کې دښځې هيڅ اختيار نسته .

حٰفِظُوْا عَلَى الصَّلَوٰتِ وَالصَّلٰوةِ الْوُسْطٰى ۗ وَقُوْمُوْا لِلّٰهِ قٰنِتِيْنَ ﴿٢٣٨﴾

خبردار وسيږي دټولو لمونځو څخه اودمنځني لمونځ څخه او ولاړ وسيږي دالله ﷻ په مخکې په ادب سره

فَاِنْ خِفْتُمْ فَرِجَالًا اَوْ رُكْبَانًا ۚ فَاِذَآ اَمِنْتُمْ فَاذْكُرُوا اللّٰهَ كَمَا

بياكه چيرې ستاسې بيره وي دچا څخه نو پياده اداكوئ يا په سپرلۍ بياكله چې تاسې امن پيداكئ نو ياد وي الله

عَلَّمَكُمْ مَّا لَمْ تَكُوْنُوْا تَعْلَمُوْنَ ﴿٢٣٩﴾

ښكه يې چې تاسې ته ښوولي دي هغه چې تاسې څخه وه ازده ..

دتفسير لنډيز

(غلور ديرشم حكم دلمونځونو دحفاظت بيان)

ردې مخكې او وروسته دطلاق احكام دي په مينځ كې دلمونځ احكام بيانول دې خبرې ته اشاره ده چې اصلي مقصد دحق تعالى ﷻ طرف ته توجه كول دي اودمعاشرې اومعاملاتو داحكامو مطلب دنورو مصلحتونو اوګټو څخه علاوه ددې توجه خارنه اوترقى ده ، دخدايي احكامو ګڼلوپه ډول په دې كله چې عمل وسي نوتوجه به ورسره لازمه وي بياداچې په دې احكاموكې دبندګانو حقوق هم اداكول دي ، او دحقوق العباد په بربادولو سره دخداى ﷻ ددربار څخه ليرې وتل دي ددې سره لازمه خبره دا ده چې دالله ﷻ او دهغه دبندګانو دحقوقو څخه بې توجه كيدل پيداكيږي ، كله چې په لمانځه كې داسې توجه پيداكيدل ډير ښكاره دي نو ددې وجې په مينځ كې ددې بيانول ددې توجه پرمقصوديت دلالت كوي چې بنده دې يې هروخت خيال لري .

حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلَاةِ الْوُسْطَى (تر) مَا لَمْ تَكُونُوا تَعْلَمُونَ ، خارنه كوئ دټولولمونځونو (عموماً) او دمنځني لمونځ (دمازيګرخصوصاً) او(په لمونځ كې) ولاړ اوسيږئ دالله ﷻ په مخكې عاجزه جوړ سئ ، بياكه چيرې ستاسې (په باقاعده لمونځ ادا كولوكې ديو دښمن اوبل شي) بيره وي نوپه ولاړه ولاړه يا په سپرلۍ سپور (په څه ډول چې كيدى سي قبلې ته مخ كيدى سي كه نه سي كيدى، كه ركوع اوسجده په اشاره هم وي) اداكوئ (په دې حالت كې هم ددې خارنه كوئ او دا مه پرېږدئ) بياكله چې ستاسې (بيخي) اطمينان (تسلي) وسي (اوبيره مو وركه سي) نوتاسې دخداى ﷻ ياد (يعني لمونځ ادا كول) په داسې ډول كوئ كوم يې چې تاسې ته (داطمينان اوتسلي په حالت كې) ښوولي دي اوهغه مو (تردې مخكې) نه پيژندې .

علوم اومسئلې: دځينو احاديثو په دليل سره اكثرو علماؤ منځني لمونځ ماځيګرته ويلى دى ځكه چې

ددی یوه طرف ته دوه دورځی (دسهار اوماپښین) لمونځونه دی اوبل اړخ ته یی دوه دشپی (دماښام اوماخستن) لمونځونه دی ، ددی تاکید په خصوصیت سره ځکه سوی دی چی اکثره خلګ په دی وخت کی ډیر بوخت وی اوپه حدیث کی دعاجزی تفسیر چپ اوسیدل سوي دی ، ددی آیت له مخی په لمونځ کی دخبرو کولو بندیز دی ، اول به په لمانځه کی خبری کیدی سوی اودا لمونځ دولاړی په اشاره به هلته دست وی چی په یوځای ولاړ وی خو دسجدی اشاره به درکوع تراشاری زیاته ټیټه کوی اوپه تلوکی لمونځ کول روانه دی ، البته که چیری په یوه ځای ولاړه نه سوای کیدی (مثلاً خاص دجنګ په وخت کی) نوبیابه یی بل وخت قضا کوی (بیان القرآن)

وَالَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُوْنَ اَزْوَاجًا ۖ وَّصِيَّةً لِّاَزْوَاجِهِمْ مَّتَاعًا اِلَى الْحَوْلِ غَيْرَ اِخْرَاجٍ

اوکوم خلق چی ستاسی مړه سی اوپریږدی خپلی ښځی نووصیت دی وکی خپلو ښځودپاره خرڅه ورکول تریوه کال پوری بغیردایستودکورڅخه .

فَاِنْ خَرَجْنَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيْ مَا فَعَلْنَ فِيْۤ اَنْفُسِهِنَّ مِنْ

بیاکه چیری دغه ښځی پخپله دکوره وزی نوڅه ګناه نسته په تاسی په هغه کی چی کوی هغه ښځی په خپل حق کی

مَّعْرُوْفٍ ؕ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ۝٢٤٠ وَلِلْمُطَلَّقٰتِ مَتَاعٌۢ بِالْمَعْرُوْفِ ؕ حَقًّا

ښه خبره اوالله ﷻ زبردست دی حکمت والا ، او طلاقو سوو ښځولره خو څه ورکول دی دقاعدی موافق

عَلَى الْمُتَّقِيْنَ ۝٢٤١ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ۝٢٤٢ ع

لازم دی په پرهیزګارو ، دا ډول بیانوی الله ﷻ ستاسی دپاره خپل حکمونه په دی خاطرچی تاسی پوه سی.

دتفسیر لنډیز

(پنځه دیرشم (۳۵) حکم دکونډی ښځي داستوګني خرڅ اوخوراک دځینو قسمونو بیان)

وَالَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ (تر) وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ : اوکوم خلګ چی وفات سی ستاسی څخه اوپریږدی خپلی بیبیانی (دهغوی په ذمه لازم دی چی) هغوی دی وصیت کوی دخپلو بیبیانو دپاره تریوه کال پوری دخرڅ اوخوراك اوپه کور کی داستوګنی څخه) دفائدی اخیستو په داسی شان چی دوی دکورڅخه ونه ایستل سی ها! که چیری (خلورمیاشتی اولس ورځی یا دکوچنی تر زیږیدلو پوری چی عده تیره کی) په خپله ووزی نو ستاسی څه ګناه نسته دقاعدی په هغه خبره کی کومه چی دوی په خپله باره کی (تجویز) کوی (لکه نکاح او نور) اوالله ﷻ زبردست دی (دهغه خلاف حکم مه کوی) اوحکمت والادی (چی په ټولو احکاموکی یی ستاسی ګټی اوخیر په خیال کی درلودلی دی که څه هم ستاسی په پوهه کی رانه

سی، وَلِلْمُطَلَّقٰتِ مَتَاعٌ بِالْمَعْرُوْفِ (تر) لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ او تولو طلاقو سوو ښځولره څه ناڅه فائده رسول په څه درجه کی تاکلی دی، دقاعدی موافق (اودا) تاکلی دی په هغه چاچی (دشرك اوكفر څخه) پرهيزكوی (يعنی په مسلمانانو دا تاكل واجب وی اوكه مستحبه دا شان حق تعالیٰ ﷻ ستاسی (دعمل كولو) دپاره خپل احكام بيانوی په دی اميد چی تاسی (په هغه) پوه سی (اوعمل په وكی)

علوم اومسائل، وَالَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ (تر) وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ دجاهليت په زمانه كی دخاوند دمرگ عده يوكال وه اوپه اسلام كی ديوكال په ځای دا څلورمياشتی اولس ورځی وتاكل سوی . لكه چی دمخكنی يوآيت . يَتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ اَرْبَعَةَ اَشْهُرٍ وَّعَشْرًا څخه معلومه سوي ده . مگر په دی كی دښځی دومره خيال ساتل سوی وو . كله چی تردغه وخته دميراث حكم نه وونازل سوی اودښځی په ميراث كی څه حصه تاكل سوی نه وه دنورو حقداری يوازی دمړی په وصيت بناوه لكه چی دآيت (كُتِبَ عَلَيْكُمْ اِذَا حَضَرَ) دتفسيرڅخه معلومه سوي ده ددی وجی دا حكم سوی وركه چيری ښځه دخپلی خير اوگټی په خاطر دخاوند څخه په پاته كوركی اوسيږی نو تريوه كال پوری دا حق لری اوهم دومره وخت به دمړی دپاته مال څخه خرڅ او خوراك وركول كيږی . په دی آيت كی دابيان دی اوخاوندانو ته حكم دی چی دارنگه وصيت دی كوی اوكله چی دا دښځی حق وو ددی اخيستل ياپرېښوول دهغه په اختيار كی وه . ددی وجی وارثانو لره روانه وه چی دا دكوره وباسی خو په خپله يی داسی كولی سوای چی ددعه كوره ووزی او دخاوند وارثانو ته خپل حق پرېږدی خو په دی شرط چی عده يی پوره سی اونكاح اوسو تول صحيح وه . او دقاعدی دخبری مطلب هم دا دی . البته په عده كی دننه دكوره وتل اونكاح كول او نور دا تول گناه وه (دښځی دپاره هم اوسره دوسه ددی دنه منع كوونكی دپاره هم) بياكله چی دميراث آيت نازل سو ، دخاوند څخه په تول پاته مال كی ښځی ته خپل حق وركول سو نودا آيت منسوخ سواوس به په خپله برخه (كور) كی اوسيږی اوخپله برخه (مال) به لگوی . وَلِلْمُطَلَّقٰتِ مَتَاعٌ بِالْمَعْرُوْفِ : طلاقو ښځو ته متعه (فائده رسول ددی څخه په مخكی آيتونوكی هم را غلی دی . مگر هغه يوازی د دوه قسمه طلاقو ښځو له پاره وو . يوه فائده رسول دجوړه جامو وركولو په صورت كی هغه ښځوله پاره دی كومو سره چی جماع اوخلوت صحيحه نه وی سوی . او مهريی دنكاح په وخت كی نه وی تاكل سوی بله فائده رسول دنيم مهر په صورت كی ددی قسمه هغه ښځوله پاره وه چی مهر يی تاكل سوی وی . كومی ښځی چی دجماع ياخلوت صحيحه څخه وروسته طلاقی سوی وی ، هغوی ته فائده رسول تول مهر په هغه صورت كی وركول دی چی مهر يی تاكل سوی وی . او مهرمثل يی تردخول وروسته په هغه صورت كی دی چی مهريی نه وی تاكل سوی . په آيت كی د مَتَاعًا يعنی مطلق فائده رسول كه سی نو ددی وركړی تفصيل په موجب دا واجب دی . اوكه معنی يی يو جوړه جامی وركول سی نو دا اول قسم ښځی ته وركول واجب دی اونورو دری ولړو قسمو ښځونه وركول مستحب دی . بل كه

دمتاع معنٰی نفقه سی نو دا به دعدت والا په طلاقو کی ترعدی ختمیدو پوری ورکول واجب وی ، دا طلاق رجعی وی اوکه بائن ، غرض دا چی دآیت عام الفاظ دی تولو صورتونو ته شامل دی .

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ خَرَجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ وَهُمْ اُلُوْفٌ حَذَرَ الْمَوْتِ فَقَالَ

آیاتا نه دی لیدلی هغه خلق چی ووتل له خپلو کورونو او هغوی په زرگونو وه دمرگ دبیری بیا وفرمایل

لَهُمُ اللّٰهُ مُوْتُوْا ثُمَّ اَحْيَاهُمْ اِنَّ اللّٰهَ لَذُوْ فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ

هغوی ته الله ﷻ چی مره سی بیا یی هغوی ژوندی کړل بیشکه الله ﷻ فضل کوونکی دی په خلقو

وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُوْنَ ﴿۲۴۳﴾ وَقَاتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَاعْلَمُوْا

لیکن اکثر خلق شکر نه کوی ، اوجنگ کوی دالله ﷻ په لارکی او وگنی چی

اَنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۲۴۴﴾

بیشکه الله ﷻ ښه اوری اوښه پوهیږي .

دتفسیر لنډیز: (ای مخاطبه) آیاتاته دهغه خلکو قصه نه ده ثابته سوی کوم چی دخپلو کورونو څخه ووتل او هغوی په زرگونو وه دمرگ څخه دخلاصیدو دپاره نوالله ﷻ دهغوی دپاره (حکم) وفرمایی چی مره سی (تول مره سول) بیایی راژوندی کړل ، بیشکه الله ﷻ لوی فضل کوونکی دی (د) خلکو (په حال) مگر اکثره خلک شکر نه کوی (اوپه دی واقعه (پیښه) ژور فکر وکی) دالله ﷻ په لارکی جنگ کوی او یقین لری ددی خبری چی الله ﷻ ښه اوریدونکی اوښه پوهیدونکی دی (دجهاد کوونکو اونه کوونکو خبری اوری او دهر یوه په نیت پوهیږی ، تولو ته به مناسبه جزا اوبدله ورکوی)

علوم او مسائل: په دی تیرو سوو درو آیتونوکی په عجیبه بلیغ اندازسره دالله ﷻ په لارکی دځان اومال قربانی دپیش کولو هدایت دی څکه چی ددی احکامو تربیانولو مخکی دتاریخ یوه مهمه پیښه بیان سوي ده دکومی څخه چی واضحه کیږی چی مرگ اوژوند دتقدیر الهی تابع دی ، جنگ اوجهادته تلل دمرگ سبب نه دی اوپه بزدلی ځان نغښتل دمرگ څخه دخلاصیدو ذریعه نه ده ، په تفسیردابن کثیرکی دصحابه کرامو رضی الله عنهم اوتابعینو رحمهم الله بزرگانو په حواله ددی واقعی تشریح داسی بیان سوی ده چی دبنی اسرائیلو یوی تولی په یوه ښارکی استوگنه کوله ، هلته سخته وبا (طاعون یابل مرض) راغله داخلگ (دلسو زرو په شمیرکی) په بیره کی سوه دغه ښاریی پریښوول اوتول د دوو غرونو دمینځ په یوه میدان کی دیره سول ، الله ﷻ په دوی او ددنیا په نورو قومونو ددی مضبوطولو دپاره چی دمرگ

ځخه تیښته نسته دمیدان دواړو څلو (غاړو) ته دوی ملائکی راولیږلی ، اویو داسی آوازیی وکی چی په دی سره ټول مړه سول یوهم ژوندی پاته نه سو ، کله چی شاوخوا خلگ خبرسوه دهغوی دکفن اودفن دپاره راغلل خودلسوزرو کسانوکفن څه آسان کارنه وو ، ځکه یی په هغوی شاوخوا دلرگو یودیوال جوړ کی او ورځخه ولاړل د دوی بدنونه خوسا اوخاوری سول اوهډوکی یی په دغه ځای کی گډوډ پراته وه ، ډیره زمانه وروسته دبنی اسرائیلو حزقیل ﷺ نومی یوپیغبر په دغه مځکه تیریدی . دانسانانو دخورو ورو هډوکو اوپنجرو په لیدلو سره حق حیران سو ، دوحی په ذریعه ددی خلگو پوره واقعه ورته وښوول سوه ، حضرت حزقیل ﷺ دعا وغوښتله چی یاالله ! داخلگ بیاژوندی کی الله ﷻ دهغه دعاقبوله کړه اوهغه ته یی حکم ورکی چی ته دی هډوکوته داسی خطاب وکړه ، اَیَّتُهَا الْعِظَامُ الْبَالِیَةُ اِنَّ اللهَ یَاْمُرُكِ اَنْ تَجْتَمِعِي، ای زړو هډوکو! الله ﷻ تاسی ته حکم درکوی چی دهربند هډوکی دی په خپل خپل ځای کی رایوځای سی ، دپیغمبر ﷺ دژبی ځخه دالله ﷻ حکم دی هډوکو واوریدی او دحکم تعمیل یی وکی کوم چی دنیابی عقله اوبی شعوره گڼی ، مگر ددنیا دهری ذری پشان هغه هم دحکم تابع او دخپل وجود مناسب عقل اوپوهه لری اودالله ﷻ فرمانبرداری کوی ، لکه دقرآن کریم ارشاد دی ، اَعْطٰی کُلَّ شَیْءٍ خَلْقَهٗ ثُمَّ هَدٰی، الله ﷻ هرشی پیداکړي دی ، بیایی هریوه ته دخپل خپل شان مناسب هدایت کړي دی ، مولاناروم هم فرمایی .

خاك وباد وآب وآتش بنده اند بامن وتو مُرده باحق زنده اند

خاوری باد او به اور اوبندگان (دخدای ﷻ دحکم تابع دی) ما اوتاته مړه ښکاری خو دالله ﷻ په مخکی ژوندی دی ، یعنی حکم (تکوینی) یی منی ، کله چی دغه هډوکی په خپلو خپلو ځایونو پیوندسول ، بیا حکم وسو چی دا آواز ورته وکه ، اَیَّتُهَا الْعِظَامُ اِنَّ اللهَ یَاْمُرُكِ اَنْ تَکْتَسِیْ لَحْمًا وَّعَصَبًا وَّجِلْدًا : ای هډوکو الله ﷻ تاسی ته حکم درکوی چی تاسی خپله غوښه واغوندی اوپلی اوڅرمنی درستی (سمی) کی ، په دی وینا سره دالله ﷻ په حکم دهډوکو ځخه کالبوتونه جوړسول بیاحکم وسوچی اوس روحونوته داخطاب وکړه ، اَیَّتُهَا الْاَرْوَاحُ اِنَّ اللهَ یَاْمُرُكِ اَنْ تَرْجِعَ کُلُّ رُوْحٍ اِلَی الْجَسَدِ الَّذِیْ کَانَتْ تَعْمُرُهٗ : ای روحونو تاسی ته الله ﷻ حکم درکوی چی خپلو خپلو بدنونوته بیرته راسی دکومو آبادی اوژوندچی ستاسی سره تړلی وو ، ددی آوازپه اوریدو ټول کالبوتونه ژوندی سول او ودریدل اوپه حیرت یی یوی خوا اوبلی خوا ته کتل اودایی ویل ، سُبْحَانَكَ لَآاِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ .

دبیری دکه داپیښه یوه طرف ته ددنیا سائنسدانان اوهوښیاران دوباره ژوند اوقیامت منلوته رابولی اوبل طرف ته دا هم ښکاره کوی چی دمرگ ځخه تیښته نسته دجهاد طاعون اونورو ځخه په تیښته دمرگ ځخه هیځکله خوك خان نه سی خلاصولی دا کار په تقدیر باندی دایمان دنه لرلو دلیل دی چی الله ﷻ په خفه کیږی دا یقین مضبوطول په کار دی چی دمرگ وخت نه خو یوه ثانیه دمخه کیږی اونه

يوه ثانيه وروسته كيږي ، اوس ددې پيښې په باره كې دقرآن كريم الفاظ اوانداز كتل په كار دي ، فرمايي ، اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ خَرَجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ : آياتاسې دهغه خلكو پيښه نه ده ليدلې چې دخپلو كورونو څخه دمرګ دبيرې دباندې تللي وه ، وګورې دا پيښه دحضوراكرم ﷺ دزمانې څخه زرګونه كاله مخكې تيره سوې ده دحضوراكرم ﷺ ددې پيښې دليدلو ګرسره سوال نه پيداكيږي نوبيا د ، اَلَمْ تَرَ : وينا مطلب څه سو؟ علماء مفسرين رحمهم الله فرمايي چې دداسې قسم ټولو خطابونو مطلب دزړه ليدل وي چې معنى به يې داسې كول كيږي ، اَلَمْ تَعْلَمْ (آياته علم نه لرې) خود الفاظو په بدلولو كې حكمت خداوندي دا وي چې دا پيښه داسې مشهوره اوليدل سوې ده ګويا چې اوس هم ستا دسترګو په وړاندې وي لكه چې دعربي ژبې دقاعدې موافق تر اَلَمْ تَرَ وروسته د اِلىٰ په حرف زياتولو سره هم دې خبرې ته اشاره كيږي ، تردې وروسته په قرآن كريم كې د ، وَهُمْ اُلُوْفٌ څخه ښكاريږي چې داخلګ دزرګونو په شميركې دير زيات وه ، ليكن دعربي قاعدې موافق داجمع كثرت ده چې ترلسو زرو پركم يې اطلاق نه كيږي مطلب دا چې دغه خلګ ترلسو زرو په كم شميركې نه وه، تردې وروسته دالله ﷻ ددې فرمان چې (مړه سئ) دواړه مطلبه صحيح كيدې سي چې الله ﷻ ورته سيده په سيده فرمايلي وي لكه ، اِذَآ اَرَادَ شَيْئًا اَنْ يَّقُوْلَ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنَ . او يا يې ورته دملائكې په واسطه فرمايلي وي .

اِنَّ اللّٰهَ لَذُوْ فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ : يعنى الله ﷻ ډيرفضل كولو والا دى په خلكو په دې كې هغه فضل هم دا خل دې كوم چې دبني اسرائيلو دا قوم يې په دوباره ژوندي كولو وفرمايي او دا فضل هم شامل دي چې امت محمديه ته په ښكاره كولوسره يې داپيښه د دوى دپاره دعبرت سبق جوړه كړه ، په آخركې په وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَايَشْكُرُوْنَ : فرمايلو سره هغه خلګ رابيدارول مطلب دي كوموچې غفلت اوبې پروايي خپل عادت جوړ كړي وي اوسره دداسې پيښوپه وړاندې راتلوهم اكثرخلګ شكر ګذاره نه وي .

ددې سره تړلې مسئلې

(ددې آيت څخه څو مسئلې اواحكام معلوم سول : تقدير پرتدبير غالبه دى)

اول دا چې دتقدير الهى په مخكې تدبيرهيڅ كارنه سي كولى لكه چې دجهاد ياطاعون (وبا) څخه تيښته دمرګ څخه دخلاصيدو ذريعه نه سي جوړيدې او نه په دې دواړوكې په شامليدو اوپاته كيدو سره به خامخامرګ راځي بلكه دا معلوميږي چې دمرګ دپاره يوټاكلى وخت دى په هغه كې كموالى اوزياتوالى نه سي راتلى .

(په كومه آبادۍ كې چې څه وبا (طاعون اوبل مرض) وي نوهلته دبل ځاى څخه ورتلل يادهغه ځاى دخلكو ددې څخه تښتيدل دواړه ناروا دي)

دوهمه مسئله دا ده چې په كوم كلي ياښاركې څه وبا (طاعون اوبل مرض) خپورسي ، نودهغه څخه بلى خواته تيښتيدل روانه دي ، درسول كريم ﷺ په ارشاد كې ديوې بلې خبرې اضافه داسې هم سته چې

دبل ځای دخلکو هلته تلل هم ښه نه دی فرمایی .

اِنَّ هٰذَا السُّقْمَ عُذِّبَ بِهِ الْاُمَمُ قَبْلَكُمْ فَاِذَا سَمِعْتُمْ بِهِ فِي الْاَرْضِ فَلَا تَدْخُلُوْهَا وَاِذَا وَقَعَ بِاَرْضٍ وَاَنْتُمْ بِهَا فَلَا تَخْرُجُوْا فِرَارًا (بخاری ومسلم وابن کثیر)

(یعنی ددی رنځ (طاعون) په ذریعه الله ﷻ ترتاسی په مخکی قومونو عذاب راوستلی دی نوکله چی تاسی واوری چی پریوه مخکه (طاعون یابل) څه وبایی رنځ خپور سوی دی هلته مه ځی اوپه کومه مځکه چی دارنځ خپور سی او تاسی هلته یاست نو دهغه ځایه څخه مه وزی په تیښته .

په تفسیر قرطبی کی دی چی یو وار حضرت فاروق اعظم ؓ دشام په اراده سفر وکی دشام په سرحد دسرغ په مقام تبوك سره نژدی په رسیدو ورته معلومه سوه چی دشام په ملك کی په عمواس نوم مشهور ښارکی سخت طاعون خپور سوی دی کوم چی دشام په تاریخ کی یوه لویه پیښه وه ، عمواس دهغه ځای نوم دی دکوم څخه چی اول دارنځ شروع سوی وو کوم چی بیت المقدس ته نژدی دی اوبیاپه ټول ملك کی خپورسو په زرگونو خلگ چی صحابه کرام ؓ اوتابعین رحمهم الله په کی هم وه په دی وبآء کی شهیدان سوی وه .

حضرت فاروق اعظم ؓ دلته تم سو او دصحابه کرامو ؓ سره یی په دی خبره صلاح اومشوره وکړه چی شام ته ولاړسو اوکه بیرته ولاړسو هیڅ یوه صحابی په دی باره کی درسول الله ﷺ څه فرمان نه وو اوریدلی خو په آخر کی حضرت عبدالرحمٰن بن عوف ؓ خبر ورکی ، چی رسول الله ﷺ ددا سی پیښی په باره کی داسی فرمایلی دی .

اِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ ذَكَرَ الْوَجْعَ فَقَالَ رِجْزٌ وَعَذَابٌ عُذِّبَ بِهِ الْاُمَمُ ثُمَّ بَقِيَ مِنْهُ بَقِيَّةٌ فَيَذْهَبُ الْمَرَّةُ وَيَاْتِي الْاُخْرٰى فَمَنْ سَمِعَ بِهٖ بِاَرْضٍ فَلَا يَقْدِمَنَّ عَلَيْهِ وَمَنْ كَانَ بِاَرْضٍ وَقَعَ بِهَافَلَا يَخْرُجْ فِرَارًا مِّنْهُ (رواه البخاری عن اُسامة بن زيد واخرجه الائمة بمثله)

رسول الله ﷺ د (طاعونی رسولی د) درد یادگیرنه وکړه ، نوي وفرمایل چی دا یو عذاب دی چی په دی سره ځینو اُمتونو ته عذاب ورکړل سوی وو بیا ددی څخه یوڅه پاته سو اوس یی دا حال دی چی کله ځی اوبیا راځی نو څوك چی دا واوری چی په فلانی مځکه دا عذاب راغلی دی ، نو هغه ته په کار دی چی دغه مځکی ته نه ځی اوڅوك چی په دغه مځکه کی دمځکی څخه موجود وی نو ددی څخه دتیښتیدو دپاره دی دهغه ځایه څخه وزی ، کله چی حضرت فاروق اعظم ؓ دا حدیث واوریدی نوملگروته یی دبیرته تلوحکم ورکی ، دشام دملك گورنر حضرت ابوعبیدہ ؓ هم په دی موقعه موجود وو ، دحضرت فاروق اعظم ؓ دحکم په اوریدو یی وفرمایل اَفِرَارًا مِّنْ قَدَرِ اللّٰهِ آیاتاسی دالله ﷻ دتقدیر څخه تښتی ؟ فاروق اعظم ؓ وفرمایل چی کاشکی! ستاسی څخه ماسوا دا خبره بل چاکړی وای ،

مطلب یی دا وو چی ستاسی دخُلی څخه دا الفاظ ووتل دحیرانتیا خبره ده اوبیایی وفرمایل ، نَعَمْ نَفِرُّ مِنْ قَدَرِ اللّٰهِ اِلٰى قَدَرِ اللّٰهِ هو! مونږ دالله ﷻ دتقدیر څخه هم دالله ﷻ دتقدیر وطرف ته تښتو ، مطلب یی دا

وو چې مونږ دا کار دالله ﷻ په حکم کوو ، ځکه چې درسول الله ﷺ فرمان هم دالله ﷻ په حکم بنادی .

(دطاعون په باره کې دارشاد نبوی حکمتونه)

درسول کریم ﷺ دتیرسوی ارشاد څخه معلومه سوه چې دطاعون اونورو (وبایی رنځونو) دمخکې څخه تیښته دمرګ دبیرې هم منع ده اودبلې مځکې څخه هلته ورتلل هم منع دی ، ددې سره داسلام دا بنیادی عقیده چې وټرل سی چې یوځای ته تلل دمرګ سبب نه جوړیږی اونه یوځای ته تیښته دمرګ څخه دخلاصیدو سبب جوړیدی سی نو بیا دا حکم ددیرو غټو لیری حکمتونو څخه ډك دی .

ددباندی خلګو هلته دتلو څخه دمنعې یوحکمت خو دا دی چې ممکنه ده هلته په رسیدو دچاعمر ختم سوی وی او په دغه مرض کی په مبتلا کیدو مړسو نو مړکیدونکی ته به چیرې داګمان وو که چیرې زه دلته نه وای راغلی نو ژوندی به پاته وای او دنورو خلګو به هم دا خیال وای چې دلته په راتلودده مرګ واقع سو ، حالانکه څه چې وسوه هغه دمخکې څخه لیکل سوی وه ، دده عمرهم دومره وو ، هرځای چې وای ، دغه وخت دده مرګ لازمی وو په دی حکم کی یی دمسلمانانوعقیده دتذبذب څخه ساتلی ده چې دغلط فهمی ښکار نه سی ، دوهم حکمت دا هم دی چې الله ﷻ انسان ته داهدایت ورکړي دی چې په کوم ځای کی دتکلیف رسیدو خطره وی یادمرګ خطره وی هلته مه ځی ، بلکه ترخپله وسه دداسی شیانو څخه دساتنې فکر کوی چې درته نقصان درکوونکی یادمرګ سبب جوړیدی سی ، او دخپل ځان حفاظت دهرانسان په ذمه واجب ګرځول سوی ، ددی قاعدی تقاضا دا هم ده چې په تقدیر الهی باندی مکمل ایمان لری او په احتیاطی تدبیرونوکی کمی مه کوی او یوتدبیر دا هم دی چې داسی ځای ته مه ځی په کوم ځای کی چې دځان خطره وی ، دغه شان ددغه ځای څخه دمرګ دبیرې دتیښتې بندیزهم په ډیرو حکمتونو بناء دی (۱) یوحکمت اجتماعی اوعوامی داسی دی چې پیسې اوطاقت والا خلګ خو به ددغه ځای څخه وتښتی غریبان اوبی طاقته خلګ کوم چې پاته سی هغوی به له هیبته اووحشته هم مړه سی او بله دا چې دپاته بی وسه اوغریبانو رنځورانو پالنه پرهیز اوانتظام ته به څوك پاته نه سی او نه به بی دمړو دکفن اودفن انتظام څوك کولی سی (۲) بل حکمت دا دی چې ددغه ځای په خلګوکی دوبا دجراثیمو ننوتل څه لیری خبره نه ده ، که ددغه ځای څخه په تیښته وتلی کسان په لاره (په سفرکی) ددغه جراثیمو په وجه رنځوران سی نوپه دوی به څه تیریږی؟ لکه چې ابن المدینی رحمه الله دعلماؤ دا قول نقل کړي دی ، مَا فَرَّ اَحَدٌ مِنَ الْوَبَآءِ فَسَلِمَ (قرطبی) یعنی کوم سړی چې دوبا څخه تښتی ، هغه هیڅکله هم روغ نه پاته کیږی (۳) دریم حکمت دا دی چې که چیرې دغه خلګ دځان سره دوبا جراثیم یوسی نو په هغه ځایونوکی به هم وباخپره سی کومو کومو مځکو ته چې دوی تښتیدلی وی که دوی صبر اوتوکل کړی وای اوکه په خپل ځای او استوګنځی دغلته په خپله نیته مړه سوی وای نو دشهادت درجه به یی پیدا کړی وای ، لکه چې په حدیث شریف کی راځی .

رَوَى الْبُخَارِيُّ عَنْ يَحْيٰى بْنِ يَعْمَرَ عَنْ عَائِشَةَ رضی الله عنها اَنَّهَا اَخْبَرَتْهُ اَنَّهَا سَاَلَتْ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ عَنِ الطَّاعُوْنِ فَاَخْبَرَهَا النَّبِيُّ ﷺ اَنَّهُ كَانَ عَذَابًا يَبْعَثُهُ اللّٰهُ عَلٰى مَنْ يَّشَاءُ فَجَعَلَهُ اللّٰهُ رَحْمَةً لِّلْمُؤْمِنِيْنَ فَلَيْسَ مِنْ عَبْدٍ يَقَعُ الطَّاعُوْنُ فَيَمْكُثُ فِي بَلَدِهٖ صَابِرًا يَعْلَمُ اَنَّهُ لَنْ يُّصِيْبَهُ اِلَّا مَا كَتَبَ اللّٰهُ لَهُ اِلَّا كَانَ لَهُ مِثْلُ اَجْرِ شَهِيْدٍ وَهٰذَا تَفْسِيْرٌ لِقَوْلِهٖ ﷺ اَلطَّاعُوْنُ شَهَادَةٌ وَالْمَطْعُوْنُ شَهِيْدٌ، (قرطبی: ص ۲۳۵ ج ۳)

امام بخاري رحمه الله ديحيٰی بن يعمر په روايت نقل کړي دی چی حضرت عائشی صديقی رضی الله عنها هغه ته خبر ورکی چی هغې رضی الله عنها درسول الله ﷺ څخه دطاعون په باره کی پوښتنه وکړه نوهغه ﷺ هغې رضی الله عنها ته خبر ورکی چی دا (رنځ) په اصل کی دعذاب په ډول نازل سوی وو او دکومو خلګو به چی عذابول الله ﷻ ته منظور وه نو په هغوی به يی راوستی ، بيادا الله ﷻ دمومنانو دپاره رحمت جوړکی نوکوم (دالله ﷻ) بنده چی دطاعون تر راتلو وروسته په دغه خپله علاقه کی په صبر اوآرام سره واوسی او داعقيده لری چی هغه ته يوازی هغه مصيبت رسيدلی سی کوم چی الله ﷻ دده دپاره ليکلی دی نو داسی سړی ته به دشهيد هومره ثواب ورکول کيږی ، او دا دهغه حديث تشريح ده په کوم کی چی ارشاد دی چی طاعون (وبا) شهادت اوطاعون ځپلی شهيد دی .

(دځينو خاصو صورتونو استثناء)

دحديث په الفاظوکی ، فَلَا تَخْرُجُوْا فِرَارًا مِّنْهُ : راغلی دی ددی څخه معلومه سوه که چيری څوک دمرګه څخه دتيښتی دپاره نه بلکه دخپل څه ضرورت دپاره بل ځای ته ولاړسی نو دامنع نه دی ، دغه رنګه که دچاعقيده په خپل ځای پخه وی چی ددی ځای څخه بل ځای ته تلل مادمرګ څخه نه سی خلاصولی که زماوخت پوره وی نو چی کوم ځای ته ځم مرم به اوکه وخت می پوره نه وی نودلته په پاته کيدو به هم دمرګ نه راځی که څوك داعقيده پخه لری اويوازی دآب اوهوا دبدلولوپه خاطر ددغه ځای څخه ولاړ سی نو دا هم منع نه دی ، دغه شان که يو سړی دڅه ضرورت دپاره داسی ځای ته ولاړ سی په کوم ځای چی وباخپره سوی وی او داعقيده يی پخه وی چی يوازی دغلته په تلو به مرګ نه راځی هغه دالله ﷻ دمرضی تابع دی نو په داسی حالت کی به ده ته هلته تلل هم جائز وی ، ددی آيت څخه دريمه مسئله داراوزی چی دمرګ دبيری دجهاد څخه تيښته هم حرامه ده ، دقرآن کريم په بل ځای کی دا مسئله په ډيرتفصيل اووضاحت سره بيان سوي ده اوهلته ځينی خاص صورتونه ددی څخه مستثنٰی سوی دی ، تقريبًا ددی آيت غوندی مضمون په بل آيت کی دهغه خلګو په باره کی راغلی دی کوم چی دجهاد څخه تيښته کوی يا په کښی نه شامليږی ، هغه آيت دا دی ، اَلَّذِيْنَ قَالُوْا لِاِخْوَانِهِمْ وَ قَعَدُوْا لَوْ اَطَاعُوْنَا مَاقُتِلُوْا قُلْ فَادْرَءُوْا عَنْ اَنْفُسِكُمُ الْمَوْتَ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ : ځينی خلګ په خپله هم په جهادکی شريك نه سوه او په جهادکی دشريکو سوو شهيدانو په باره کی خلګو ته وايی چی دی خلګو زمونږ خبره وانه وريده څکه

مړه سوه که دوی زمونږ خبری منلی نو نه به وای قتل سوی (حضور ﷺ ته حکم وسو چی) تاسی دوی ته ووایاست که چیری دمرګ څخه محفوظ کیدل ستاسی په اختیارکی وی نو دنوروڅه فکر کوی تاسی خپله خپل فکر وکی او دمرګ څخه ځان خلاص کی یعنی جهادته پرتللو یانه تللو باندی موقوف نه دی تاسی ته به په کورکی په ناسته هم آخر مرګ راسی ، دقدرت عجائبات دی چی په صحابه کرامو رضی الله عنهم کی ترټولو لوی جنګی جرنیل سیف الله حضرت خالدبن ولید رضی الله عنه ټول عمرپه جهاد کی تیر سوی وو ، لیکن په جهادکی شهید نه سو ، ناجوړه سو او په خپل کورکی وفات سو ، دځکندن په وخت یی په خپل دی ډول وفات په افسوس سره خپل کور والاوو ته وفرمایل چی زه په فلانی فلانی عظیم الشان جنګونو اوجهادونوکی شریک سوم زماپه بدن کی داسی یوواندام نسته چی په هغه دغشی دنیزی یادبل شی دګوزار دزخم اثر اونښانه به نه وی افسوس دی چی اوس لکه خر په خپل کورکی وفات کیږم ، خدای ﷻ دی بزدلو (بی زړه) خلګوته آرام ور نه کی ، هغوی ته زما نصیحت ورسوی ، په دی آیت کی دبنی اسرائیلو دا پیښه دتمهید په ډول بیان سوه ، په راتلونکی آیت کی دجهاد اودجنګ حکم ورکول سوي دی ، کوم چی ددی قصی اصلی مقصود وو ، مطلب یی دا وو چی جهاد ته تلل مرګ او دجهاد څخه تیښته دمرګ څخه خلاصون مه بولی بلکه دالله ﷻ داحکامو تعمیل کوی او د دواړو جهانو کامیابی حاصلوی الله ﷻ ستاسی دټولو خبرو اوریدونکی او په هغه پوهیدونکی دی ، په دریم آیت کی دالله ﷻ په لارکی دمال لګولو دفضیلت (بهتری) بیان دی .

مَنْ ذَا الَّذِیْ یُقْرِضُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا فَیُضٰعِفَهٗ لَهٗۤ اَضْعَافًا كَثِیْرَةً ؕ

څوک دی هغه کس چی قرض ورکړی الله تعالی ته ښه قرض بیا به دوچنده کی الله ﷻ دا چندونه ډیر

وَ اللّٰهُ یَقْبِضُ وَ یَبْصُۜطُ ۪ وَ اِلَیْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۲۴۵﴾

او الله ﷻ تنګی کوی اوفراخی کوی اودهغه اړخ ته به تاسی را اړول کیږي .

دتفسیر لنډیز

(دجهاد غوندی نور دخیر په کارونو کي دما ل لګولو مینه پیدا کول)

څوک دی (داسی) چی قرض ورکی الله ﷻ ته په ښه ډول قرض ورکول (یعنی په اخلاص) بیا الله ﷻ دا (دقرض ثواب) زیات کی ډیری برخی یی کړی او (ددی بیره مه کوی چی په لګولو به مال کم (لږ) سی څکه چی داخو) دالله ﷻ (په قبضه کی ده هم هغه یی) کموی او (هم هغه) یی فراخه کوی (په ما ل لګولو اونه لګولو ددی اصلی دار اومدارنه دی) اوتاسی هم دهغه طرف ته (ترمرګ وروسته) بیول کیږی (نو هغه وخت به په نیک کارکی دما ل لګولو جزا اوپه ضروری موقع دمال نه لګولو سزا درکول کیږی)

علوم اومسئلي (۱) یُقْرِضُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا : دقرض څخه مراد نیک عمل کول اودالله ﷻ په لارکی مال لګول

دی ، دی ته یی مجازاً قرض وویل هسی خو تول هم دالله ﷻ ملکیت دی مطلب یی دا سو چی ددی بدله به خامخا ورکول کیږی دزیاتولو بیان په یوحدیث شریف کی داسی راغلی دی چی دیوی خُرما (دالله ﷻ په لارکی) ثواب به الله ﷻ دأحُد ترغره هم زیات کی ، الله ﷻ ته دقرض ورکولو دا مطلب هم بیان سوی دی چی دهغه بندګانوته قرض ورکول سی او دهغوی حاجتونه پوره سی ، لکه چی په حدیث شریف کی دقرض ورکولو ډیر فضیلت راغلی دی ، رسول کریم ﷺ فرمایلی دی .

مَا مِنْ مُسْلِمٍ يُقْرِضُ مُسْلِمًا قَرْضًا مَرَّةً اِلاَّ كَانَ كَصَدَقَتِهِ مَرَّتَيْنِ (مظهری بحواله ابن ماجه) کوم یومسلمان چی بل مسلمان ته قرض ورکوی دا قرض ورکول دالله ﷻ په لارکی ددغه مال دوه واره صدقی (خیرات) کولو برابر دی .

(۲) ابن عربی رحمه الله فرمایی چی ددی آیت په اوریدو دخلګو دری ډلی جوړی سوی اولنی ډله دهغه بد نصیبو خلګوده چاچی ددی آیت په اوریدو داسی وویل چی دمحمد ﷺ رب زمونږ محتاج دی اوموږ غنیان یو ، ددی خبری جواب دقرآن کریم په یو بل آیت کی داسی ورکول سوي دی ، لَقَدْ سَمِعَ اللّٰهُ قَوْلَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّ اللّٰهَ فَقِيرٌ وَنَحْنُ أَغْنِيَاءُ يقينًا: واوریده الله ﷻ خبره دهغه خلګو چاچی وویل چی الله ﷻ محتاج دی اوموږ غنیان یو ، دوهمه ډله دهغه خلګو ده چاچی دآیت په اوریدو ددی خلاف وکی اوبُخل یی اختیارکی ، دمال سره دزیات مینی اوحرص په وجه هغوی یی داسی وتړل چی هغوی ته دالله ﷻ په لارکی دمال لګولو ګرسره توفیق ونه سو ، دریمه ډله دهغو مخلصو مسلمانانوده چاچی سمدستی په دی آیت عمل وکی اوخپل ښه (دخوښی) مال یی دالله ﷻ په لارکی ورکی ، لکه ابو الدّحداح ﷛ او نور ، چی څنګه دا آیت نازل سو ، نوحضرت ابو الدّحداح ﷛ دنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضر سو او دهغه ﷺ څخه یی پوښتنه وکړه چی ای دالله ﷻ رسوله ﷺ! زمامور اوپلار دی ترتا قربان وی ، آیا زمونږ څخه خدای پاك ﷻ قرض غواړی ، سره ددی چی دهغه قرض ته حاجت نسته ؟ هغه ﷺ وفرمایل چی هو! الله ﷻ دا غواړی چی دهغه په ذریعه تاسی په جنت کی دا خل کی ، ابو الدحداح ﷛ ددی په اوریدو وویل چی ای دالله ﷻ رسوله! لاس راوړاندی کی هغه لاس وروړاندی کی نو ابوالدحداح داسی شروع وکړه ، زه دخُرما د دوو باغونو مالك یم ، ددی څخه بغیر زماپه ملك کی بل څه نسته زه خپل دغه دواړه باغونه الله ﷻ ته قرض ورکوم ، حضورِ اکرم ﷺ ورته وفرمایل چی یودالله ﷻ په لارکی وقف کړه اوبل دخپل عیال اوکوچنیانو دژوند دضروریاتو دپاره دځان سره وساته ، ابو الدحداح ﷛ وفرمایل ته ﷺ شاهد اوسه ، په دی دواړوکی ډیرښه باغ دالله ﷻ په لارکی خرڅوم ، په کوم کی چی دخُرماوو شپږ سوه درختی دی ، هغه وفرمایل چی ددی په بدل کی به الله ﷻ تاته جنت در وبخښی ، ابوالدحداح ﷛ خپل کورته راغی اوخپلی بی بی ته یی ددی خبر ورکی نو هغه هم دابوالدحداح په دی ډیره غوره سو دا ډیره خوشحاله سوه ، رسول کریم ﷺ وفرمایل .

كَمْ مِنْ عِذْقٍ رِدَاحٍ وَدَارٍ فَيَاحٍ لِأَبِي الدَّحْدَاحِ (قرطبی)
دخُرماؤ څخه ډکی بیشمیره درختی اوڅومره فراخه محلونه دابوالدحداح ﷺ دپاره تیاردی (یعنی په جنت کی) (۳) په قرض کی دواپسی په وخت که چیری دزیات شی شرط نه وی ایښوول سوی اوقرض داره خپله خوښه قرض خواه ته زیات شی ورکی نو دا ښه دی ، رسول کریم ﷺ فرمایی ، اِنَّ خِيَارَكُمْ اَحْسَنُكُمْ قَضَآءً : په تاسی کی ډیر ښه سړی هغه دی چی خپل حق (قرض) په ښه ډول اداکی ، لیکن که چیری دزیاتوالی شرط په کښی دمخکی څخه لګول سوی وی نو هغه حرام اوسود دی .

اَلَمْ تَرَ اِلَى الْمَلَاِ مِنْ بَنِيٓ اِسْرَآءِيْلَ مِنْ بَعْدِ مُوْسٰى
آیا تا نه ده لیدلی یو ټولی دبنی اسرائیلو موسی ﷺ څخه وروسته

اِذْ قَالُوْا لِنَبِيٍّ لَّهُمُ ابْعَثْ لَنَا مَلِكًا نُّقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۭ قَالَ
کله چی هغوی وویل خپل نبی ته چی وټاکه مونږ دپاره یو باچا دپاره ددی چی مونږ وجنګیږو په لاره د الله ﷻ

هَلْ عَسَيْتُمْ اِنْ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ اَلَّا تُقَاتِلُوْا ۭ قَالُوْا وَمَا
کی (پیغمبر) وویل آیاتاسی څخه هم داامید سته چی تاسی ته حکم دجنګ وسی نوبیابه ونه جنګیږئ ، هغوی وویل

لَنَآ اَلَّا نُقَاتِلَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَقَدْ اُخْرِجْنَا مِنْ دِيَارِنَا
هو ا مونږ ته څه سوی دی چی جنګ به نه کوو دالله ﷻ په لارکی اومونږ خو ایستل سوی یُو دخپلو کورونو

وَاَبْنَآىِٕنَا ۭ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ تَوَلَّوْا اِلَّا قَلِيْلًا مِّنْهُمْ ۭ
اوزامنو څخه بیا چی کله حکم وسو هغوی ته دجنګ نو هغوی تول واوښتل مګر لږ په کی دهغوی څخه

وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِالظّٰلِمِيْنَ ۝۲۴۶ وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ اِنَّ اللّٰهَ قَدْ بَعَثَ
اوالله ﷻ ښه پیژنی ګناهکاران او وفرمایل هغوی ته دهغوی نبی بیشکه الله ﷻ ټاکلی دی

لَكُمْ طَالُوْتَ مَلِكًا ۭ قَالُوْٓا اَنّٰى يَكُوْنُ لَهُ الْمُلْكُ عَلَيْنَا وَنَحْنُ اَحَقُّ
ستاسی دپاره طالوت باچا ، هغوی وویل څنګه کیدی سی دهغه باچاهی په مونږ او مونږ ډیر حقدار یُو

يَّالْمُلْكَ مِنْهُ وَلَمْ يُؤْتَ سَعَةً مِّنَ الْمَالِ ؕ قَالَ اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰهُ

دباچاهي کولو دده ځخه او هغه ته نه ده ورکړل سوی فراخي د مال پيغمبر ﷺ وفرمايل بيشکه الله ﷻ بنه کړی دی

عَلَيْكُمْ وَزَادَهٗ بَسْطَةً فِي الْعِلْمِ وَالْجِسْمِ ؕ وَاللّٰهُ يُؤْتِيْ مُلْكَهٗ

هغه په تاسی او زياته فراخي يې ورکړی ده ده ته په علم او په بندکی ، او الله ﷻ ورکوی خپل ملك هغه چاته

مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴿۲۴۷﴾ وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ اِنَّ اٰيَةَ مُلْكِهٖ

چې خوښه يې سی او هم الله ﷻ فضل کوونکی او په هرڅه پوهيدونکی دی او وفرمايل هغوی (بني اسرائيلو) ته

اَنْ يَّاْتِيَكُمُ التَّابُوْتُ فِيْهِ سَكِيْنَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَبَقِيَّةٌ مِّمَّا تَرَكَ

دهغوی نبی چې دهغه (طالوت) دباچهی نښانه دا ده چې راسی ستاسی خواته يو صندوق چې په هغه کی تسلی

دزړه ده ستاسی درب دطرفه او څه پاته شيان دی دهغو څخه چې پريښی وه .

اٰلُ مُوْسٰى وَاٰلُ هٰرُوْنَ تَحْمِلُهُ الْمَلٰٓئِكَةُ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لَّكُمْ

اولاد دموسی ﷺ او اولاد دهارون ﷺ راوړی به دا (صندوق) ملائکی بيشکه په دی کی پوره نښاني ده ستاسی

اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۲۴۸﴾ فَلَمَّا فَصَلَ طَالُوْتُ بِالْجُنُوْدِ ۙ قَالَ اِنَّ اللّٰهَ

دپاره که چيری تاسی يقين لری ، بيا چې کله دباندی ووتی طالوت سره دخپلو فوجونو وی ويل بيشکه الله

مُبْتَلِيْكُمْ بِنَهَرٍ ۚ فَمَنْ شَرِبَ مِنْهُ فَلَيْسَ مِنِّيْ ۚ وَمَنْ لَّمْ يَطْعَمْهُ

آزميښت کوونکی دی ستاسی په يو نهر سره ، نو چاچې او به وڅيښلی دغه نهر ، نو نه دی هغه زما څخه او چاچې دا

فَاِنَّهٗ مِنِّيْٓ اِلَّا مَنِ اغْتَرَفَ غُرْفَةً ۢ بِيَدِهٖ ۚ فَشَرِبُوْا مِنْهُ اِلَّا قَلِيْلًا

ونه څيښلی نو هغه بيشکه زما څخه دی مگر څوك چې واخلی يو غړپ په خپل لاس بيا وڅيښلی تولو مگر لږو

مِّنْهُمْ ؕ فَلَمَّا جَاوَزَهٗ هُوَ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ ۙ قَالُوْا لَا طَاقَةَ لَنَا

په کی دهغوی څخه بيا کله چې پوری وته هغه (طالوت) او هغه کسان چې ايمان يې راوړی وو سره دهغه نو وی ويل

الْيَوْمَ بِجَالُوتَ وَجُنُودِهِ ۚ قَالَ الَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُمْ مُلَاقُوا

چې طاقت نسته زمونږ نن جالوت او دهغه فوجونو سره دجنګیدو ، وویل هغه خلقو دچاچې خیال وو چې دهغوی

اللَّهِ كَمْ مِنْ فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ مَعَ

به الله ﷻ سره ملاقات وی ډیر وارونه لږتولی غلبه سوی دی په ډیرو تولی دالله ﷻ په حکم ، او الله ﷻ صبر

الصَّابِرِينَ ﴿٢٤٩﴾ وَلَمَّا بَرَزُوا لِجَالُوتَ وَجُنُودِهِ قَالُوا رَبَّنَا أَفْرِغْ عَلَيْنَا

کوونکو سره ، او هرکله چې مخامخ راغلل دجالوت او دهغه دفوجونو نووې ویل چې ای ربه زمونږ واچوی

صَبْرًا وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ ﴿٢٥٠﴾ فَهَزَمُوهُمْ

زمونږ په زړونو کی صبر او ټینګ کړی زمونږ پښی او زمونږ مدد وکړی په دی کافر قوم ، بیاماته وکړه

بِإِذْنِ اللَّهِ وَقَتَلَ دَاوُودُ جَالُوتَ وَآتَاهُ اللَّهُ الْمُلْكَ وَالْحِكْمَةَ

مومنانو د جالوت فوجونو ته دالله ﷻ په حکم او ووژی داود ؑ جالوت او ورکړه داود ؑ ته الله ﷻ باچهی

وَعَلَّمَهُ مِمَّا يَشَاءُ ۗ وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ

اوحکمت او وی ویل ښودل هغه ؑ ته هغه چی غوښتل یی او که چیری نه وی دفع کول دالله ﷻ یو په بل سره

لَفَسَدَتِ الْأَرْضُ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ ذُو فَضْلٍ عَلَى الْعَالَمِينَ ﴿٢٥١﴾

نو خراب سوی به وای ملک لیکن الله ﷻ ډیر مهربان دی دجهان په خلقو

دتفسیر لنهیز: دآیتونو تړون : په دی ځای کی مقصود دجنګ کولو شوق پیداکول دی تیره سوی قصه ددی تمهید دی ، دالله ﷻ په لارکی مال لګول ددی تائید دی ، بیاورپسی دطالوت اوجالوت قصه ددی تاکید دی ، دارنګه په دی قصه کی الله ﷻ دقبض اوبسط مشاهده وکړه کوم یی چی په تیرسوی آیت کی په ، وَاللَّهُ يَقْبِضُ وَيَبْسُطُ، سره کړی وه ، مطلب دا چی فقیر باچا جوړول اودباچا څخه باچهی اخیستل ټول دالله ﷻ په اختیار کی دی ..

(دطالوت او جالوت قصه)

(ای مخاطبه) آیاتاته دبنی اسرائیلو دټولی قصه کومه چی ترموسیٰ ؑ وروسته سوي ده ، نه ده ثابته

سوی؟ (چی مخکی ورباندی کافر جالوت غالب راغلی وو او دهغوی ډیری صوبی یی رالاندی کړی وی) کله چی دغه خلګو خپل پیغمبرﷺ ته وویل چی زمونږ دپاره یوباچاوټاکه چی مونږ (دهغه سره سو) دالله ﷻ په لار کی (دجالوت سره) جنګ وکو ، هغه پیغمبرﷺ وفرمایل چی آیا دا احتمال سته که چیری تاسی ته دجهادحکم درکول سی چی تاسی به (دغه وخت) جهاد ونه کی هغه خلګو وویل چی زمونږ دپاره به داسی کومه وجه وی چی مونږ دالله ﷻ په لارکی جهاد ونه کړ سره ددی چی (دجهاد دپاره یو باعث هم سته هغه دا چی) مونږ (دهغه کافرانو دلاسه) دخپلو آبادیو اوزامنو څخه جلا سوی یو (څکه چی دهغوی ځینی آبادی هم کافرانو لاندی کړی وی او دهغوی اولادونه یی هم قیدیان کړی وه) بیاکله چی دغه خلګو ته دجهاد حکم وسو نو ماسوا دلږو څخه (نور) تول واوښتل (لکه څنګه چی په دی پسی به دجهادپه غرض دباچا دټاکلو او ددی خلګو داوښتلو تفصیلی بیان به راسی) او الله ﷻ ظالمان (یعنی دحکم څخه خلاف کوونکی) ښه پیژنی (تولو ته به مناسبه سزا ورکوی) او دغه خلګو ته دهغوی پیغمبرﷺ وفرمایل چی الله ﷻ په تاسی طالوت باچا مقرر کی هغوی وویل هغه لره به مونږ دحکم چلولو حق څنګه کیدی سی ، سره ددی چی په نسبت دهغه مونږ دحکم چلولو زیات حقداره یو او هغه ته څه مالی فراخی هم نه ده ورکړل سوی (څکه چی طالوت غریب سړی وو) دغه پیغمبرﷺ (په جواب کی) وفرمایل چی (اول خو) الله ﷻ ستاسی په مقابله کی هغه ټاکلی دی (اودټاکلو ګتی اوخیرونه الله ﷻ ښه پیژنی) او (دوهم دا چی) علم (دسیاست اوحکومت چلولو) اوپه بدن کی یی هغه ته زیاتوالی ورکړی دی (او دباچاکیدو دپاره ددی علم زیات ضرورت دی څکه چی په ملکی انتظام قادر وی اوجسامت هم په دی معنی سره دی چی دموافق اومخالف دواړو په زړونوکی دده ځای اوهیبت وی) او (دریم داچی) الله ﷻ (مالک الملک دی) خپل ملک چاته چی غواړی ورکوی (دهغه څخه دپوښتنی کولوڅوک حق نه لری) او (څلورم دا چی) الله ﷻ فراخی ورکوونکی دی (مال ورکول خو هغه ته څه ګران نه دی دکوم په اعتبارسره چی تاسی ته شك اوشبهه ده او) پیژندونکی دی (چی څوك دباچهی قابلیت لری) او (کله چی دی خلګو دپیغمبرﷺ څخه دا غوښتنه وکړه چی که چیری دالله ﷻ دطرفه دده دباچا جوړیدو څه ظاهری دلیل هم مونږ ووینو زیاته تسلی به مو وسی دغه وخت) هغوی ته دهغوی پیغمبرﷺ وفرمایل چی دده (دالله ﷻ دطرفه) دبادشاه جوړیدو دا نښانه ده چی ستاسی خوا ته هغه صندوق (ستاسی دراوړلو څخه به بغیر پخپله) راسی چی په هغه کی دآرام (اوبرکت) شی دی ستاسی درب دطرفه (یعنی تورات او دا چی تورات په ظاهره دالله ﷻ دطرفه دی) اوڅه پاته شیان دی کوم چی حضرت موسیٰ اوحضرت هارون علیهما السلام پریښی دی (یعنی ددی پیغمبرانو څخه دا غوستلو جامی اونور غرض دا چی) هغه صندوق به ملائکی را وړی په دی (صندوق په دا ډول راتلو) کی ستاسی خلګو دپاره پوره نښانه ده که چیری تاسی یقین لرونکی یاست بیاکله چی (بنی اسرائیلو طالوت باچا ومنی اودجالوت دمقابلی

دپاره خلگ جمع سول او) طالوت سره دفوجونو (دخپل مقام یعنی بیت المقدس څخه دعمالقه ؤ طرف ته) روان سو نوهغوی (طالوت دخپل ملگری پیغمبر ﷺ دوحی په ذریعه معلومه کړه اوملگروته یی) وویل چی اوس حق تعالی ﷻ (په محکمتیا اونا محکمتیا کی) په تاسی امتحان کوی دیونهر په ذریعه (چی په لارکی به راځی اوتاسی به دسختی تندی په وخت په هغه تیریږی) نوچی کوم سړی ددی څخه (دیری زیاتی) اوبه وچښی هغه به زما دملگرو څخه نه وی اوڅوك چی هغه ژبی ته هم ورنه وړی (او اصل حکم هم دغه دی) هغه زماپه ملگروکی دی لیکن څوك چی دخپل لاس یوه لپه ډکه کړی (نو دومره اجازت دی غرض دا چی هغه نهر راورسیدی تنده زیاته وه) نو ټولو دهغه څخه (بی اندازی اوبه) چیښل شروع کړل مگرلږ غوندی سړو په هغوی کی (احتیاط وکی چاییخی ونه چښلی اوچا ترغرپ زیاتی ونه چښلی) نوکله چی طالوت اوکوم مومنان چی ورسره وه دنهربلی غاړی ته پوری وتل (اوخپله ټولی یی ولیده نولږ شان خلگ پاته وه دغه وخت ځینو خلگو په خپل مینځ کی وویل چی نن خو (زمونږ جمع دومره لږده چی په دی حال کی) په مونږکی دجالوت او دهغه دفوجونو دمقابلی توان نه ښکاری (په داسی اوریدو) داسی خلگو دچاچی دا خیال (په مخکی) ووچی هغوی به دالله ﷻ په مخکی پیش کیدونکی وی وویل چی دیرواره (داسی پیښی سوی دی چی) ډیری کوچنی کوچنی ټولی په لویو لویو ټولیو دخدای ﷻ په حکم سره غالبی راغلی دی (اصلی شی مستقل مزاجی ده) اوالله ﷻ دمستقل مزاجو ملگرتیا کوی اوکله چی (دعمالقه ؤ علاقی ته ورسیدل او) دجالوت او دهغه دفوجونو مخ ته میدان ته راغلل نو (په دعاکی یی حق تعالی ﷻ ته) وویل چی ای زمونږ پروردگاره! په مونږ (یعنی زمونږ په زړونو) مستقل مزاجی (دغیب څخه) نازله کی او (دمقابلی پروخت) زمونږ پښی مضبوطی ولری اومونږ په دغه کافر قوم غالب کی ، بیاطالوت والاؤ جالوتیانوته دخدای ﷻ په حکم سره ماته ورکړه اوحضرت داود ﷺ (چی دغه وخت دطالوت په لښکرکی وو اوتردغه وخته پیغمبرسوی لانه وو) جالوت قتل کی (اوبریالی بیرته راغلل) او (تردی وروسته) هغه (یعنی داود ﷺ) ته الله ﷻ باچهی اوحکمت (دلته دحکمت څخه مراد پیغمبری ده) ورویخښله اونور هم چی څه ورته منظور سول هغه ته یی ور ازده کړل (لکه بی سامانه یوازی په لاس زغره جوړول او دحیوانانو په خبرو پوهیدل اوس وریسی ددی پیښی یوه عامه گټه اوخیر بیانوی) اوکه چیری دا خبره نه وای چی الله ﷻ ځینی خلگ (چی مفسدان وی) دځینو (نورو) په ذریعه (چی مصلحان وی وخت په وخت) دفع کولی (یعنی که چیری مصلحین یی په مفسدینو نه بریالی کولی) نو مخ دمځکی (ټول به) دفساد څخه ډك سوی وای ، لیکن الله ﷻ لوی فضل کوونکی دی په جهان (دنیا) والاؤ باندی (ددی وجی وخت په وخت یی اصلاح کوی.

علوم او مسئلي

(۱) اِذْ قَالُوْا لِنَبِيٍّ لَّهُمُ ابْعَثْ لَنَا مَلِكًا نُّقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ : دی بنی اسرائیلو دالله ﷻ احکام پریښی وه ،

عمالقه په هغوی مسلط کړل سول ، دغه وخت ددغه خلګو سره داصلاح فکر سو . او دکوم نبی ﷺ چی دلته ذکر دی دهغه مشهور نوم شموئیل دی .

(۲) اَنْ یَّاْتِیَکُمُ التَّابُوْتُ : په بنی اسرائیلو کی یو صندوق راروان وو په کوم کی چی دموسیٰ علیه السلام او دنورو پیغمبرانو علیهم السلام تبرکات وه ، بنی اسرائیلو به دغه صندوق په جنګ کی مخکی مخکی وړی . الله ﷻ به ورلره ددی په برکت بری ورکوی کله چی جالوت پر بنی اسرائیلو بری پیدا کی نو هغه صندوق یی هم ورڅخه یو وړی ، بیاکله چی الله ﷻ ته دصندوق بیرته رسول منظور سول نو داسی یی وکړل چی په کوم ځای به دغه کافرانو (عمالقه ؤ) دغه صندوق کښیښووی هلته به وبا اوغمونه مصیبتونه راتلل پنځه ښارونه وران اوبربادسول هغوی مجبوره سول پردوو غوایانو یی بار کی او ایله یی کړل ، ملائکو دغه غوایان په شړلو شړلو دطالوت دروازی ته راورسول ، بنی اسرائیلو ددی نښانی په لیدو دطالوت په باچا کیدو یقین وکی اوطالوت اخته سو په جالوت یی فوجونه ورو غورځول او موسم دسختی ګرمی وو .

(۳) قَالَ اِنَّ اللّٰهَ مُبْتَلِیْکُمْ بِنَهَرٍ : ددی امتحان حکمت اوتوجیه دَ احقرپه ذوق کی دامعلومیږی چی په داسی پیښوکی دجوش اوخروش له وجی ډیره ګڼه ګونه جوړه سی ، لیکن په اصلی وخت کی مستقل مزاجه خلګ ډیرکم پاته کیږی ، اوپه دغه وخت کی پښی ښوییدونکی خلګ دنورو پښی هم ښویوی ، الله ﷻ ته دداسی خلګو بیلول منظوروه ، ورلره یی امتحان دامقررکی (کوم چی ډیر زیات مناسب دی) ولی چی په جنګ کی داستقلال اودسختی ګاللو اوتیرولو ضرورت وی ، نوپه سخته تنده کی داوبو درلودلو سره ځان راګیر کول دمستقل مزاجی دلیل دی ، اوس وروسی دیوخلاف عادت خبری بیان دی چی ډیری زیاتی اوبه څکونکی خلګ په غیبی ډول هم زیات بیکاره سول لکه چی په روح المعانی کی په سند دابن ابی حاتم دحضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی او په دی قصه کی چی کوم احوال اواقوال بیان سوي دی دهغه څخه معلومیږی چی په دغه خلګو کی دری قسمه خلګ وه ، ناقص الایمان چی په امتحان کی فیل (ناکامه) سوه اوکامل چی په امتحان کی پاس (کامیابه) سوه ، مګر دخپل لږوالی فکر ورسره وو او اکمل هغه خلګ وه چی دافکر هم ورسره نه وو .

تِلْكَ اٰیٰتُ اللّٰهِ نَتْلُوْهَا عَلَیْكَ بِالْحَقِّ ؕ وَ اِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِیْنَ ۝

دا ایتونه دالله ﷻ دی مونږ یی تاته او روو صحیح او ته بیشکه زمونږ په رسولانو کی یی

دتفسیر لنډیز : کله چی دقرآن یولوی مقصد دنبی کریم ﷺ دنبوت ثابتول هم دی په دی وجه په کوم ځای کی چی دمضمون سره مناسبت وی . دا هلته بیا بیا دوباره ذکر کول کیږی په دی موقعه ددی قصی

صحیح صحیح خبر ورکول څکه دده معجزه ده او دده دنبوت صحیح دلیل دی چی نه خوبی دچا څخه وبلی او نه یی دچا څخه اوریدلی وه هم دا وجه ده چی ددی آیتونو څخه دده ﷺ په نبوت دلیل قائموی .

(محمد ﷺ په پیغمبری دلیل قائمول)

دا آیتونه په کومو کی چی دا قصه بیان سوه، دالله ﷻ آیتونه دی چی په صحیح صحیح دول تانه په وبلو وبلو یی مونږ اوروو او ددی څخه ثابتیږی چی، ته بیشکه (بی شبهی) دپیغمبرانو علیهم السلام (دتولی) څخه یی .

الحمدلله دوهمه پاره ختمه سوه .

تصحیح او ترتیب .

مولوی نصیراحمد حقّانی ، اللهم اغفرلمؤلفه ولطالبه ولکاتبه ولناشره ولجمیع المؤمنین

الدین العلم کمپوزنګ سنټر کوټه

المکتبة الحنفیة کانسی روډ

تفسیر

معارف القرآن

په قندهاری پښتوکی

(تالیف)

مفتی اعظم پاکستان مولانا محمدشفیع رحمة الله علیه

پښتو ترجمه کوونکي (ابو صدیق احمد .... مولوی نصیراحمدحقّانی)

تصحیح اوسمون... مولوی نصیراحمد(حقّانی) اومولوی آمین الله (حقّانی)

دکمپوز او ترجمي چارې .... الدین العلم کمپوزنگ (۰۳۰۱۳۷۸۴۹۵۶)

پاره (۳)

خپرونکي

مکتبه حنفیه

فون نمبر (۲۶۶۲۵۱۰)

کانسي روډ حاجي غیبي چوک کوئټه

چاپ ځای .... لاهور

فهرست تفسیر معارف القرآن

اللهم اختم لنا بالخیر والسعادة والبشارة والایمان

....

تِلْكَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ ۘ مِنْهُمْ مَّنْ

دا ټول رسولان بنه والی ورکړی دی مونږ بعضو لره پر بعضو باندې بعضې د دوی څخه هغه دی چې

كَلَّمَ اللّٰهُ وَرَفَعَ بَعْضَهُمْ دَرَجٰتٍ ؕ وَاٰتَيْنَا عِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ

خبرې کړې دی الله ﷻ ددوی سره او لوړکړی دی دبعضو مرتبې او ورکړی دی مونږ عیسی زوی دمریمې ته

الْبَيِّنٰتِ وَاَيَّدْنٰهُ بِرُوْحِ الْقُدُسِ ؕ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَا اقْتَتَلَ الَّذِيْنَ

معجزې ښکاره او قوت مو ورکړی هغه ته په روح پاک (یعنی جبرئیل) سره او که غوښتلې الله تعالی نو نه به جنګیده

مِنْ بَعْدِهِمْ مِّنْ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ الْبَيِّنٰتُ وَلٰكِنِ اخْتَلَفُوْا

هغه خلق چې وه وروسته ددې پیغمبرانو څخه پس ددې څخه چې اورسیدل دوی ته ښکاره حکمونه لیکن په دوی کی

فَمِنْهُمْ مَّنْ اٰمَنَ وَمِنْهُمْ مَّنْ كَفَرَ ؕ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَا اقْتَتَلُوْا ۟

اختلاف راغی پس چا په دوی کی ایمان راوړی او څوک په کی کافران سوه او که غوښتلی الله تعالی نو دوی به یو

وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيْدُ ﴿۲۵۳﴾ ع

تربله نه وای جنګیدلی ، لیکن الله تعالی کوی هغه څه چې غواړی .

دتفسیر لنډیز

(دځینو پیغمبرانو او امتونو ځیني حالات)

دا حضرات پیغمبران (دکومو چې ذکر اوس په اِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ :کی را غلی دی) داسی دی چې مونږ د دوی څخه ځینوته په ځینو لوړوالی ورکړي دی (مثلاً) ځینی په دوی کی هغه دی دکومو سره چې الله ﷻ (بغیر دواسطی دملائکو) خبری کړي دی (مراد ورڅخه موسٰی ﷺ دی) اوځینی یې په دوی کی په ډیرو مرتبو (په لوړ مقام سره) لوړ کړي دی او مونږ حضرت عیسٰی ﷺ زوی دمریمی ته ښکاره ښکاره دلیلونه (یعنی معجزی) ورکړی او مونږ دهغه مضبوطتیاپه پاک روح (یعنی جبرائیل ﷺ) سره وفرمایله (دیهودو څخه دحفاظت کولو دپاره به هر وخت دده سره جبرائیل ﷺ وو) که چیری الله ﷻ ته منظوره وای نو (دامّت) کوم خلګ چې تر دوی (پیغمبرانو ﷺ) وروسته وه (کله به یی هم په دین کی د اختلاف کولو په وجه) دیوبل سره جنګ او جګړی نه کولی وروسته تر دی چې هغوی ته (دحق) دلیلونه

دپیغمبرانوپه ذریعه، رسیدلی وه (دکوموچی په حق دین باندی دیو موتی اوسیدو تقاضاوه) لیکن (په دی کی دالله ﷻ حکمتونه وه دهغه دوچی څخه یی په دوی کی دمذهب اتفاق پیدا نه کی) دغه خلک یو تربله (په دین کی) مختلف سول نو په دوی کی چا ایمان راوړی اوځوک کافران پاته سول (بیاپه دی اختلاف کی خبره مرګ ژوبلی ته ورسیده) اوکه چیری الله ﷻ ته منظوره وای نو دغه خلګو به په خپل مینځ کی جنګ جګړی نه وای کړی ، لیکن الله ﷻ (په خپل حکمت) چی څه غواړی (په خپل قدرت سره) هم هغه کوی .

معلومات اومسئلې: (۱) تِلْكَ الرُّسُلُ الآية : په دی مضمون کی یو قسم نبی کریم ﷺ ته تسلی ورکول دی ، ځکه چی هرکله دهغه ﷺ پیغمبری په دلیل سره ثابته وه ، کومه چی یی په اِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ سره فرمایلی ده اوبیاهم منکرو خلګونه منله نو په دی سره هغه ﷺ ته ډیر غم او افسوس وو ، په دی وجه الله ﷻ دا خبره واوروله چی دمختلفو مرتبو نور پیغمبران هم تیر سوی دی ، لیکن دیوه پیغمبر په زمانه کی هم ټول امتیان په جمع نه دی مومنان سوی چاد دوی خبره منلی ده او چانه ده منلی او په دی کی هم دالله ﷻ حکمتونه دی چی هرځوک نه په پوهیږی ، البته دومره عقیده په دی لرل ضروری دی چی په دی کی به خامخاڅه حکمت وی .

(۲) تِلْكَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ : دلته دا اشکال پیداکیږی چی دا آیت ښکاره په دی خبره دلالت کوی چی ځینی پیغمبران ترځینو ښه دی او په حدیث کی خو نبی کریم ﷺ فرمایی چی .

لَا تُفَضِّلُوْا بَيْنَ اَنْبِيَاءِ اللهِ (د انبیاؤ علیهم السلام په مینځ کی دیو په بل ښه والی مه کوی)

دارنګه فرمایی . لَا تُخَيِّرُوْنِيْ عَلٰى مُوْسٰى (ماته په موسٰی ﷺ فضیلت (ښه والی) مه راکوی) او فرمایلی یی دی ، لَا اَقُوْلُ اَنَّ اَحَدًا اَفْضَلُ مِنْ يُوْنُسَ بْنِ مَتّٰى (زه نه سم ویلی چی ځوک تریونس بن متی ښه دی) په دی احادیثوکی دځینو پیغمبرانو په ځینو باندی دښه کولو ممانعت راغلی دی ، جواب دا دی چی داحادیثو مطلب دا دی چی ددلیل څخه بغیر په خپله رایی سره ځینوته په ځینو فضیلت مه ورکوی ، وجه یی دا ده چی دیو پیغمبر دښه والی معنٰی دا ده چی دالله ﷻ په نزد دهغه مرتبه ډیره زیاته ده ، او دا خو ښکاره خبره ده چی ددی علم په رایی او په قیاس سره نه سی حاصلیدی ، لیکن دقرآن اوحدیث په څه دلیل که چیری دځینو پیغمبرانو فضیلت په ځینو معلوم سی نو هم دهغه مطابق به عقیده ساتل کیږی .

پاته سو دحضور ﷺ دا ارشاد چی ، لَا اَقُوْلُ اَنَّ اَحَدًا اَفْضَلُ مِنْ يُوْنُسَ بْنِ مَتّٰى : او داچی ،لَا تُخَيِّرُوْنِيْ عَلٰى مُوْسٰى : نو دا دهغه وخت سره تعلق لری کله چی ده ﷺ ته دا علم نه وو ورکول سوی چی تاسی دټولو پیغمبرانو ښه یاست وروسته بیا دوحی په ذریعه ده ﷺ ته دا خبره وښوول سوه او صحابه کرامو ﷺ ته یی دهغه اظهار هم وکی (مظهری)

(۳) مِنۡهُمۡ مَّنۡ كَلَّمَ اللّٰهُ . دحضرت موسیٰ ﷺ سره خبری که څه هم دملائکی په ذریعه نه وی مگر حجاب او پرده وه ، بیا دسورت شوریٰ په آیت ، مَاكَانَ لِبَشَرٍ اَنۡ یُّكَلِّمَهُ اللّٰهُ الخ کی چی دبی پردی خبروکولو نستوالی راغلی دی ددی خبری سره څه ټکراونه راځی ، البته ترمرګ وروسته بی حجابه خبری کول هم په شریعت کی روا بلل کیږی ، نو دسورت شوریٰ دآیت مطلب دا دی چی په دنیاکی داسی نه سی کیدی (یعنی ددغه آیت تعلق ددنیا سره دی)

یٰۤاَیُّهَا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡۤا اَنۡفِقُوۡا مِمَّا رَزَقۡنٰكُمۡ مِّنۡ قَبۡلِ اَنۡ یَّاۡتِیَ یَوۡمٌ لَّا بَیۡعٌ فِیۡهِ

ای مؤمنانو ! خرڅ کوي دهغه څخه کوم چی درکړی دی مونږ تاسی ته مخکی دراتلو دهغه ورځی څخه چی

وَلَا خُلَّةٌ وَّلَا شَفَاعَةٌ ؕ وَالۡكٰفِرُوۡنَ هُمُ الظّٰلِمُوۡنَ ﴿۲۵۴﴾

په هغه کی به اخستل خرڅول نه وی او نه به آشنائی اوسفارش وی ، او هم کافران ظالمان دی.

دتفسیر لنډیز

(دالله ﷻ په لاره کي په مال لګولو کي تلوار کول)

ای ایماندارو! لګوی دهغه شیانو څخه چی مونږ درکړي دی تاسی ته مخکی دراتلو دهغه ورځی څخه (یعنی دقیامت ورځ) په کوم کی (به چی هیڅ شی دنیکو عملونو بدل نهسی ګرځیدی ، ځکه چی په هغه کی) خرڅول اخستل نه وی (چی دبل شی په بیعه به نیك عملونه واخستل سی) اونه به (داسی) دوستی وی (چی تاسی ته به څوك خپل نیك عمل درکی) او نه (دالله ﷻ د اجازت څخه بغیر) به دچاسفارش وی (چی په دی وجه به نو ستاسی دنیك عمل ضرورت پاته نه سی) اوهم کافران ظلم کوی (چی عملونه اومالونه بی موقعی استعمالوی داسی چی مالی او بدنی عبادتونه پریږدی اومالی اوبدنی ګناهونه کوی نوتاسی داسی مه جوړیږی)

معلومات اومسئلي: په دی سورت کی دعبادتونو اومعاملو په باره کی ډیراحکام بیان سوه چی په هغه عمل کول نفس ته ناخوښه اوګران ښکاری او انسان ته په ټولو عملونوکی زیات ګران دځان او مال خرڅ کول وی او دخدای ﷻ ټول حکمونه چی دی نوچی فکر ورته وسی یا دځان متعلق وی یادمال ، اوبنده په ګناه کی اکثره یادځان محبت اخته کوی یاد مال نوګواکی ددی دواړو محبت دګناهونو څخه دی او ددی څخه خلاصون دعبادتونو دآسانتیا لاره ده نو په دی وجه داحکامو تربیانولو وروسته دجهاد اومال خرڅ کولو بیان مناسب سو، نو په وَقَاتِلُوۡا فِیۡ سَبِیۡلِ اللّٰهِ الخ سره د اول حکم بیان دی اوپه ، مَنۡ ذَا الَّذِیۡ یُقۡرِضُ اللّٰهَ کی د دوهم ذکر دی ، اوبیاپه قصه دطالوت سره تاکید د اول وسو اوپه ، اَنۡفِقُوۡا مِمَّا رَزَقۡنٰكُمۡ الخ سره اوس د دوهم تاکید کیدی سی اوکله چی په خرڅ کولو دمال ډیرکارونه

دعبادتونو اومعاملو موقوف دی نو ددی په بیان کی یی دزیات تفصیل اوتاکید څخه کار واخیستی نو اوس په راتلونکو اکثرو رکوع گانو کی د دوهم کار یعنی مال خرڅ کولو ذکر دی ، نو خلاصه معنیٰ دا سوه چی اوس دعمل وخت دی په آخرت کی نه عمل خرڅیږی اونه یی څوك په دوستی سره ورکوی اونه څوك په سفارش سره دچا خلاصون کولی سی ترڅو چی نیوونکی یی پری نه ږدی .

اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ اَلْحَیُّ الْقَیُّوْمُ ۚ لَا تَاْخُذُهٗ سِنَةٌ وَّلَا نَوْمٌ ؕ لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ

دالله څخه ماسوا بل څوك دعبادت لائق نسته ژوندی دی تولو لره تینگونکی دی ، نه نیسی دی اوږمی

وَمَا فِی الْاَرْضِ ؕ مَنْ ذَا الَّذِیْ یَشْفَعُ عِنْدَهٗۤ اِلَّا بِاِذْنِهٖ ؕ یَعْلَمُ

اونه خوب خاص دده دی څه چی په آسمانونواومځکه کی دی ، داسی څوك چی سفارش وکی دهغه په مخکې مگر دهغه په اجازه . پیژنی

مَا بَیْنَ اَیْدِیْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ۚ وَلَا یُحِیْطُوْنَ بِشَیْءٍ مِّنْ

هغه چی په مخ دمخلوق کی دی او کوم چی یی وروسته دی او دوی نه سی راگیرولی یو شی دمعلوماتو دهغه

عِلْمِهٖۤ اِلَّا بِمَا شَآءَ ۚ وَسِعَ كُرْسِیُّهُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ ۚ

څخه مگر دومره چی هغه یی وغواړی ، ځای کوی کرسئ دهغه آسمانونه او مځکی

وَلَا یَـُٔوْدُهٗ حِفْظُهُمَا ۚ وَهُوَ الْعَلِیُّ الْعَظِیْمُ ﴿۲۵۵﴾

او گران نه دی هغه ته تینگول ددې دواړو او هم هغه دی دتولوڅخه بنه پورته لوبې والا .

دتفسیر لنډیز: الله ﷻ (داسی دی) چی دهغه څخه بغیربل څوك دعبادت لائق نسته ژوندی دی (چی هغه ته به هیڅکله هم مرگ رانه سی) سنبالوونکی دی (تول عالم لره) نه هغه ته اوږمی رالاندی کولی سی اونه (یې) خوب (لاندی کولی سی) دهغه ملکیت دی تول څه چی (هم) په آسمانونوکی (موجود) دی اوڅه چی په مځکه کی دی داسی څوك دی چی دهغه په مخکی (دیوچا) سفارش وکی بغیردهغه داجازت څخه هغه پیژنی د(تمامومخلوقاتو) تمامو حاضرواوغائبو حالات اودا(مخلوقات) دهغه (الله ﷻ) دمعلوماتو څخه څه شی دخپل علم په احاطه کی (دائره کی) نه سی راوستی مگرڅومره (علم ورکول چی هغه ﷻ) وغواړی دهغه کرسی (دومره لویه ده چی هغه) تول آسمانونه او مځکی په خپل ځان (مینځ) کی ځای کړي دی اوالله ﷻ ددی دواړو(آسمانونو اومځکی) حفاظت نه ستومانه کوی هغه عالیشان اوعظیم الشان دی .

معلومات اومسئلې

(دآية الكرسي خاص فضيلتونه)

دا آیت دقرآن مجید ترټولو یوعظیم الشان آیت دی ، په احادیثوکی ددی ډیرلوی فضیلتونه اوبرکتونه ذکر سوی دی ، دمسنداحمد په روایت کی دی چی نبی کریم ﷺ دی ته ترټولو زیات ښه آیت فرمایلی دی، او په یو بل روایت کی دی چی نبی کریم ﷺ دابی ابن کعب ؓ څخه پوښتنه وکړه چی په قرآن مجیدکی ترټولو عظیم آیت کوم یو دی ؟ ابی ابن کعب ؓ عرض وکی چی آیة الکرسی ، نبی کریم ﷺ دهغه تصدیق وکی او وی فرمایل چی ای ابو المنذر ! تاته دی علم مبارك سی ، حضرت ابوذر ؓ دحضور ﷺ څخه پوښتنه وکړه ، چی یارسول الله ﷺ ! په قرآن کریم کی ترټولو عظیم آیت کوم یو دی هغه ﷺ وفرمایل چی آیة الکرسی (ابن کثیر دمسند امام احمد څخه)

حضرت ابوهریرة ؓ فرمایی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی په سورة بقرة کی یو آیت دی چی دقرآن دآیتونو سردار دی ، دا چی په کوم کور کی وویل سی شیطان دهغه کور څخه وزي ، دنسائی په یو روایت کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی څوك چی دهر فرض لمونځ څخه وروسته آیت الکرسی ووایی نو جنت ته په دا خلیدو کی دده دپاره بغیر دمرګ څخه بل څه منع کوونکی نسته ، یعنی تر مرګ وروسته به فوراً دی دجنت ښی اونښانی آرام او راحت ووینی او پیدا به یی کی .

په دی آیت کی دالله جل شانه یو والی دهغه دذات اوصفاتو بیان په یوعجیبه اونا اشنا اندازه کی سوي دی ، په دی کی دالله جل شانه سته والی او دهغه همیشه ژوندون او لیدونکی اوریدونکی کیدل خبری کوونکی په خپل وجود سره همیشه موجودکیدونکی تل ترتله کیدونکی دټولوکائناتو نوی پیداکونکی اوخالق کیدونکی دتغیر تبدیل داثراتو نه قبلوونکی دټولو کائناتو مالك اوخاوند دلویی اولوړوالی دی چی دده په مخکی څوك بغیر دده داجازت څخه خبری هم نه سی کولی ، دداسی کامل قدرت مالك دی چی دټولو مخلوقاتو اوکایناتو په پیداکولو دهغه په ساتلو اوپوخ انتظام کولو هغه نه څه ستړی کیږی اونه سستی اوکمزوری په کښی راځی ، دداسی لوی علم مالك دی چی ښکاره اوپټ شی اوڅه ذرّه او قطره دهغه دعلم څخه دباندی نه ده دایی اجمالی بیان (یعنی سرسری بیان) وو ، اوس یی په تفصیل سره دالفاظو معنیٰ واوری .

په دی آیت کی لس جملی دی .

اوله جمله : اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلاَّ هُوَ: په دی کی لفظ د (الله) ذاتی نوم دی ، معنیٰ یی دا ده ، هغه ذات چی ټول کمالات په کښی جمع دی او دټولو نقصانونو څخه پاك دی ، په لَآ اِلٰهَ اِلاَّ هُوَ کی ددغه ذات بیان دی چی لائق دعبادت ددغه ذات څخه ماسوا بل هیڅ شی نسته .

دوهمه جمله ده : اَلْحَيُّ الْقَيُّوْمُ د (حَیٌّ) معنیٰ په عربی ده : ژوندی دالله ﷻ په نومونوکی ددی نوم په راوړلو

سره دا ښوونه کول دي چې هغه همیشه ژوندي اوباقي پاته کیدو والادي ، هغه ترمرګ بالاتردي هیڅکله نه مري د(قَیُّوْمُ) لفظ دقیام څخه راوتلی دی دقیام معنی ده دریدل قآئم دریدونکی ته وایی قَیُّوْم او قیّام ورڅخه دمبالغې صیغې دی ، معنی یې داسې ده چې هغه ذات چې په خپله هم قائم دي او نور هم قائم ساتي اوسنبالوي يي ، قَیُّوْمُ دالله ﷻ یو خاص صفت دی چې بل مخلوق ورسره نه سي په کښې شریك کیدی ، ځکه چې کوم شیان چې په خپل وجود اوباقي پاته کیدو کې دبل چامحتاج وي نو هغه په بل شي څه رنګ سنبال کړای سي، نو په دي وجه یوانسان ته قیوم ویل روانه دي ، کوم خلګ چې ، عَبْدُ القَیوم ، نوم نیمې کې او یوازې ، قَیُّوم ورته وایي نوګنهګاریږي .

دالله جلّ شانه په صفتی نومونوکی دٱلحیُّ الْقَیُّوْمُ: دا دواړه جمع نومونه د ډیرو صاحبانوپه نزد اسم اعظم دی حضرت علی مرتضیٰ کرم الله وجهه فرمایی چې دبدرپه غزاکی مایووار اراده وکړه چې نبی کریم ﷺ ووینم چې دی ﷺ څه کوي؟چې ورغلم نوماولیدی چې په سجده پروت دی بیابیایَاحَیُّ یَاقَیُّوْمُ یَاحَیُّ یَاقَیُّوْمُ وایي .

دریمه جمله،لَاتَاْخُذُهٗ سِنَةٌ وَّلَانَوْمٌ ده :دسین په زیرسره لفظ دسِنَةٌ اوړمی ته وایي کوم چې دخوب اولنی نښه وي (چې انسان غوتې په کې خوري) اونَوْم پوره خوب یعني بیده کیدوته وایي دټولی جملی مطلب داسوچې الله جَلّ شانه دخوب او اوړمي دواړوڅخه بالاتردي یعني خوب او اوړمي هیڅکله نه ورته راځي ، په تیره سوې جمله کې چې د قَیُّوم لفظ انسان ته داوښوول چې الله جلّ شانه دټولو آسمانونو اومځکو اوپه دي کې دځای سوو ټولو کائناتو نیونکی اوسنبالوونکی دی او دا ټول کائنات دده په حفاظت سره اوساتنې سره قایم دي ، نو دیوه انسان خیال دخپل فطرت په وجه دي طرف ته تلی سي چې کوم پاك ذات دومره لوی کارکوي ، نو هغه به دانسان په شان ستړی کیږي هم اوڅه وخت به ورلره دآرام اوخوب دپاره هم په کار وي ، نو په دي جمله کې انسان په دي باندې خبرسو ، چې الله جلّ شانه دي په خپل ځان یانور مخلوقات باندې نه قیاس کوي (یعنی دی دی دمخلوق په شان نه ګڼي) هغه ذات دمثل اومثال څخه ډیر لوړ دی ، هغه بی مثله دی مثل یې نسته ، دهغه قدرت اوطاقت دومره لوی دی چې داټول کار هغه ته هیڅ ګران نه دی او نه دا کار هغه ستړی کولی سي ، دهغه په پاك ذات دانه څه اثر کولی سي نه ستړی کیدی سي اونه ورته پریشاني اوخواب راتلی سي، هغه ددې هرڅه څخه بی پروادی .

څلورمه جمله : لَهٗ مَافِی السَّمٰوٰتِ وَمَافِی الْاَرْضِ : ددې په شروع کی د لَهٗ لام دملکیت دمعنی دپاره راغلی دی ، نو معنی یې دا سوه چې ټول شیان کوم چې په آسمانونو اوپه مځکه کې دي ، دا ټول دالله ﷻ ملکیت دي دهغه اختیار دي خنګه چې غواړي تصرف په کښې کولی سي ، پنځمه جمله : مَنْ ذَا لَّذِیْ یَشْفَعُ عِنْدَهٗ اِلَّا بِاِذْنِهٖ : یعنی داسې څوك دی چې دده په مخکی دچاسفارش وکړل سی ، بغیر داجازت دده څخه ، په دې کې یوڅو مسئلې بیان سوې دي .

اوله داچې هرکله الله ﷻ دټولو کائناتو مالك دی ، څوك ترده لوی اوپه ده باندې حاکم نسته نو څوك

دده څخه دکار کولو په باره کی دپوښتنی کولو هم حقدارنسته هغه چی کوم حکم جاری کی په هغه کی دچا داحق نسته چی هاخوا دیخوا په کښی وکی ، خو البته دا کیدی سوه چی څوك دچاسفارش یاشفاعت وکی ، نو دغه خبره یی هم ښکاره کړه چی په دربار دلویی او دعزت کی څوك دساه اخیستلو مجال هم نه لری ، البته کوم بندګان چی الله ﷻ ته نژدی اومقبول دی هغوی ته به په خاص طورسره دخبروکولو او شفاعت اجازت ورکول سی ، غرض دا دی چی بی اجازته به څوك دچاسفارش اوشفاعت هم نه سی کولی ، په حدیث شریف کی دی چی ، نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی په محشرکی به ترټولو اول زه دټولو امتونو شفاعت کوم ددی نوم مقام محمود دی چی دنبی کریم ﷺ دخصوصیاتو څخه دی .

شپږمه جمله : يَعْلَمُ مَابَيْنَ اَيْدِهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ : یعنی الله ﷻ دخلګو دمخکی او وروسته دټولو حالاتو او واقعاتو څخه خبردار دی او په پوه دی ورباندی ، دمخکی او وروسته دا معنٰی هم کیدی سی چی د دوی ترپیدا کیدو اول او د دوی ترپیدا کیدو وروسته ټول حالات او واقعات دالله ﷻ په علم کی دی او دا معنٰی هم کیدی سی چی دمخکی څخه مراد هغه حالات دی کوم چی بنده ته ښکاره دی او د وروسته څخه مراد هغه حالات دی کوم چی ورڅخه پټ دی ، نو معنٰی به یی داسی چی دانسان علم خو په ځینو شیانو باندی سته او په ځینو نسته څه شیان ده ته مخامخ دی اوڅه دده څخه پټ دی ، لیکن دالله جلّ شانه په مخ کی دا ټول شیان برابر دی ، دده علم په دی ټولو شیانو یوشان برابر دی ، او دا ټولی معناوی په دی یو آیت کی دا خلی دی .

اوومه جمله ده: وَلَايُحِيْطُوْنَ بِشَيْءٍ مِّنْ عِلْمِهٖ اِلَّابِمَا شَآءَ: یعنی انسان اوټول مخلوقات دالله ﷻ دعلم یوه حصه هم نه سی ساتلی مګرالله ﷻ چی پخپله چاته څومره حصه دعلم وربخشش کوی صرف دغه هومره علم هغه ته کیدای سی په دی کی دا خبره وښوول سوه چی دټولو کائناتود ذری ذری قابو کونکی علم صرف دالله جلّ شانه خاص صفت دی ، انسان یابل څوك مخلوق په دی کی نه سی شریکیدی ورسره .

اتمه جمله ده ، وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ ، یعنی دهغه کرسی دومره لویه ده چی اووه آسمانونه اومځکی یی په خپل مینځ کی ځای کړي دی ، الله ﷻ دناستی پاستی او دځای ځایګی څخه بی پروادی اوبالاتر دی، دا قسم آیتونه په خپل ځان باندی قیاس کول نه دی په کار (چی ګواکی الله ﷻ هم زمونږ په شان ناسته پاسته کوی) ددی خبری اندازه اوحقیقت دانسان په عقل کی نه سی راتلی ، البته داحادیثوپه صحیح روایتونو سره دومره معلومیږی چی عرش اوکرسی ډیر لوی جسم لری چی دټولو آسمانونو اومځکی څخه په څودرجو لوی دی .

ابن کثیرپه روایت دابوذر غفاری ﷺ نقل کوی چی ده دحضور ﷺ څخه پوښتنه وکړه چی کرسی څه ده اوڅنګه ده ؟ حضور ﷺ وفرمایل قسم دی په هغه ذات دچاپه قبضه کی چی زماروح دی چی داوو آسمانونو اومځکو مثال دکرسی په مقابله کی داسی دی لکه دیولوی میدان په مینځ کی چی دګوتمی

په شان دائره واچول سي .

اوپه ځينو نورو روايتونوکې دي چې دعرش په مقابله کې دکرسي مثال هم داسي دی لکه په یو لوی میدان کې چې دګوتمې په شان دائره واچول سي .

نهمه جمله ده، وَلَا يَئُودُهُ حِفْظُهُمَا: يعنی الله ﷻ ته ددی دواړولويو مخلوقاتوآسمان اومځکې حفاظت او ساتنه څه ګرانه نه معلوميږي ځکه چې ددی قادري مطلق دکامل قدرت په مخکې داټول شيان ډيرآسان دي

لسمه او آخري جمله ده : وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ: يعنی هغه عالي شان اوعظيم الشان دی ، په تيرونهو جملو کې دالله ﷻ د ذات او دصفتونو کمالونه بيان سوه نو ددی په کتو اوپوهيدو سره هرهغه انسان چې عقل په کښې وي په دی وينا مجبوره دی چې دهريوه عزت لويی اوپاکی مالك اولائق هم دغه پاك ذات دی، په دی لسوجملوکې دالله جلّ شانه دکمال صفتونه او دهغه ديوالی بيان ښه په پوره وضاحت اوتفصيل سره بيان سو.

لَآ إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ قَد تَّبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ فَمَن يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ

زبردستي نسته ددين په معامله کې بيشکه جلاسوی دی هدايت دګمراهی څخه اوس چې څوك نه مني ګمراه کوونکی

وَيُؤْمِن بِاللَّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىٰ لَا انفِصَامَ

او يقين راوړي په الله ﷻ نو هغه ونيوله کړی مضبوطه ، چې ماتيدونکې نه ده ،

لَهَا وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٥٦﴾

او الله ﷻ هر څه اوري اوپوه دی .

لنډتفسير: (داسلام) دين (په قبلولو) کې (خوګرسره) زبردستي نسته (ځکه چې) هدايت يقيناً دګمراهی څخه بيل سوی دی (يعنی داسلام حق والی په دلائلو سره ښکاره سوی دی نو په دی کې دزبردستی موقع څه ده ، زبردستي خو په ناخوښه شي دمجبوره کولو په وجه وي ، اوکله چې داسلام ښه والی په يقين ثابت دی) نو دکوم سړي چې په شيطان عقيده بده سوه او په الله ﷻ يې عقيده ښه سوه (يعنی اسلام يې قبول کی) نو ده ډيره مضبوطه کړی ونيوله چې په هيڅ شان سره ماتيدی نه سی، اوالله ﷻ ښه اوريدونکی دی (خبرو ښکاره وو لره) اوښه پوهيدونکی دی (په پټو حالاتو باندی)

معلومات اومسئلي: کوم سړي چې اسلام مضبوط نيولی وي اوټينګ په ولاړ وي نو دی دهلاکت اومحروم پاته کيدو څخه محفوظ وي ، په دی وجه يې دده تشبيه دداسي سړي سره ورکړه چې دمضبوطي رسي کړی يې په لاس کې کلکه نيولی وي ، دايله کيدو څخه په امن وي ، اولکه څنګه چې دداسي رسي دشکيدو او دده دايله کيدو ډيره نه وي ، ترڅو چې رسي په خپله پری نه ږدی ، دغه شان

په اسلام کې څه قسم هلاکیدل او تاوان نسته او که څوک په خپله اسلام پاته کې نو دا خو بیله خبره ده (بیان القرآن)

دا آیت چې وويني نوځيني خلګ دا اعتراض کوي چې ددې آيت څخه معلوميږي چې په دين کې زبردستي نسته ، اوحال دا دی چې په اسلام کې خودجهاد کولو اوجنګ کولو تعليم ورکول سوي دي چې ددې څخه مخالف دی .

که لږ په غور سره وکتل سي نو معلومه به سي چې دا اعتراض صحيح نه دی ، ځکه چې په اسلام کې دجهاد اوجنګ کولو تعليم ددې دپاره نه دی چې خلګ په ايمان راوړلو باندې مجبوره کې ، که داسې واى نو بياخو به دکفارو څخه جزيه اخستل او دوى په خپل حفاظت کې ساتل او د دوى دجان اومال دحفاظت کولو احکام څنګه جاري کيدل ، بلکه جهاد اوجنګ خو دفساد ددفع کولو دپاره دی ځکه چې فساد دالله ﷻ خوښ نه دی اوکافران فساد خپروی لکه چې الله ﷻ فرمايي .

وَيَسۡعَوۡنَ فِي الۡاَرۡضِ فَسَادًا وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ الۡمُفۡسِدِيۡنَ .

(او دا خلګ په مځکه کې فساد خپروی اوالله ﷻ فساد کونکي نه خوښوی)

په دې وجه الله ﷻ دجهاد اوجنګ کولو په ذريعه ددې خلګو دفساد دليرى کولو حکم کړي دی نو ددې خلګو قتلول داسې دي لکه دمار لړم اوبل ضررسونکي حيوان وژل .

اسلام دښځو کوچنيانو بوډاګانو شلانو ګوډانو او نورو قتل خو عين په ميدان دجنګ کې هم په سختۍ سره منع کړي دی ، ځکه چې دوى فساد نه سي کولی ، او دغه شان يې دهغه خلګو قتل هم منع کړي دی کوم چې دجزيې ورکولو وعده وکي داسلامي قانون پابندي کوي اواسلامي قانون ومني ، داسلام ددې خبرو څخه معلومه سوه چې هغه په جهاد او جنګ سره خلګ په ايمان قبلولو نه مجبوره کوي بلکه په دې سره اسلام په دنياکې زور زياتي ختمول او دعدل اوانصاف اوامن اوامان نظام جوړول اوقائمول غواړي حضرت عُمرؓ يونصراني بوډۍ ته داسلام بلنه ورکړه ، نوهغې په جواب کې وويل ، اَنَا عَجُوۡزٌ کَبِيۡرَةٌ وَالۡمَوۡتُ اِلَيَّ قَرِيۡبٌ : يعني زه مرګ ته نژدې بوډۍ يم په آخرى وخت کې خپل مذهب څنګه پريږدم ؟ حضرت عمرؓ چې داواوريده نو دا يې په ايمان راوړلو مجبوره نه کړه بلکه دا آيت يې تلاوت کې ، لَآ اِکۡرَاهَ فِي الدِّيۡنِ . يعني په دين کې زبردستي نسته .

په حقيقت کې دايمان په قبلولو زور او زياتوب کيدى هم نه سي ځکه چې دايمان تعلق دظاهرى اندامونو سره نه دی بلکه دزړه سره دی ، او د زور اوزياتوب تعلق يوازې دظاهرى اندامونه سره وي ، دجهاد اوجنګ اثر يوازې په ظاهرى اندامونو کيدى سي ، نو په دې وجه ددې په ذريعه دايمان په قبلولو زور نه سي کيدى نو ددې څخه ثابته سوه چې دجهاد اوجنګ دآيتونود: لَآ اِکۡرَاهَ فِي الدِّيۡنِ سره څه مخالفت اومعارضه نسته (مظهرى ، قرطبى)

اَللّٰهُ وَلِيُّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا يُخْرِجُهُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ۗ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا

الله تعالی مددگار دی د ایماندار ، وباسی دوی دتیارو څخه رڼا طرف ته او کوم خلق چې کافران دی

اَوْلِيٰٓـُٔهُمُ الطَّاغُوْتُ ۙ يُخْرِجُوْنَهُمْ مِّنَ النُّوْرِ اِلَى الظُّلُمٰتِ ۗ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ

دهغوی ملګری دی شیطانان را وباسی دوی د رڼا څخه تیارو طرف ته دغه خلق دی دوزخیان دوی

فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۲۵۷﴾

به په دی کی همیشه اوسیږي .

لنډتفسیر: د اَللّٰهُ وَلِيُّ الَّذِيْنَ : څخه تر خٰلِدُوْنَ پوری : الله ﷻ ملګری دی دهغه خلګو چې ایمان راوړی دوی د (کفرد) تیارو څخه باسی یاساتی نو د (اسلام) طرف ته یی راولی او کوم خلګ چې کافران دی دهغوی ملګری شیطانان دی (انسانان او پیران ان) هغه دوی د نور (د اسلام) څخه راباسی یاساتی د (کفر) تیاروته یی بیایي ، داسی خلګ (کوم چې اسلام پریږدی کفر اختیار کی) د دوزخ اوسیدونکی دی (او) دا خلګ به همیشه همیشه په دی کی اوسی .

معلومات اومسئلې: د دی آیت څخه معلومه سوه چې ایمان د ټولو څخه لوی نعمت دی او کفر د ټولو څخه لوی مصیبت دی او دا هم چې د کافرانو دوستی هم تیاره ده .

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْ حَآجَّ اِبْرٰهٖمَ فِيْ رَبِّهٖٓ اَنْ

آیا تا نه دی لیدلی هغه سړی چا چې جګړه وکړه د ابراهیم ﷺ سره دهغه درب به باره کی په دی وجه

اٰتٰىهُ اللّٰهُ الْمُلْكَ ۘ اِذْ قَالَ اِبْرٰهٖمُ رَبِّيَ الَّذِيْ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ۙ

چې ورکړی وو الله ده ته حکومت هر کله چې وویل ابراهیم ﷺ زمارب هغه دی چې ژوندی کوی او مړه کوی

قَالَ اَنَا اُحْيٖ وَاُمِيْتُ ۗ قَالَ اِبْرٰهٖمُ فَاِنَّ اللّٰهَ يَاْتِيْ بِالشَّمْسِ

هغه وویل زه هم ژوندی کوم او وژنم وویل ابراهیم ﷺ بیشکه الله را خیژوی لمر

مِنَ الْمَشْرِقِ فَاْتِ بِهَا مِنَ الْمَغْرِبِ فَبُهِتَ الَّذِيْ كَفَرَ ۗ

د مشرق څخه اوس یی ته راوله د مغرب څخه پس حیران پاته سو هغه کافر

وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۲۵۸﴾

او الله ﷻ سیده لار نه شي بې نصافوته.

لنډتفسیر: (ای مخاطبه) آیاتاته دهغه سړی قصه نه ده په ډاګه سوی (یعنی دلمر) چاچی دابراهیم ﷺ سره مباحثه کړی وه دخپل پروردګار (دوجودپه) باره کی (یعنی توبه توبه دی دخدای پاك دوجود څخه منکر وو) په دی وجه چی خدای ﷻ ده ته حکومت ورکړی وو (یعنی په کار خو دا وه چی دحکومت په دی نعمت ورکولو یی دخدای ﷻ احسان منلی وای اوایمان یی راوړی وای ، خو ددی په خلاف ده انکار اوکفر شروع کی اودا مباحثه هغه وخت شروع سوی وه) کله چی ابراهیم ﷺ (دده پرپوښتنه کولو باندی چی خدای څنګه دی په جواب کی) وفرمایل چی زمارب داسی دی چی هغه ژوندی کول اومړه کول کوی (یعنی ژوندی کول اومړه کول دهغه په قدرت کی دی هغه بد دماغه دژوندی کولو اومړه کولوپه مطلب ګرسره پوه نه سو) اووی ویل (داکار خو زه هم کولی سم چی) زه هم ژوندی کول کوم اومړه کول کوم (نوچالره چی وغواړم قتلوم یی دا وژل دی او چالره چی وغواړم دقتل څخه یی معاف کوم داژوندی کول دی) ابراهیم ﷺ (چی ولیدل چی دا خو بیخی بی عقله دی چی دی کارته ژوندی کول اومړه کول وایی او حال دا دی چی ژوندی کول خو په بی روحه شی کی روح اچول دی او دغه شان دوژلو معامله ده ، نو چی ده ته معلومه سوه چی دی دمرګ اوژوند په حقیقت ګرسره پوه نه دی نودبل طرف څخه یی ورته جواب ورکول شروع کړه او) وی فرمایل چی (ښه) نوالله ﷻ لمر (روزانه) دمشرق څخه راخیژوی نو ته یی (یوه ورځ) دمغرب څخه راوخیژوه (وی ښیه) په دی خبره هغه کافر حیران پاته سو (اوڅه جواب ورته جوړنه سو دا وخت په کار دا وه چی ده هدایت قبول کړی وای مګر دی په خپله ګمراهی باندی ټینګ پاته سو نو په دی وجه ده ته هدایت ونه سو) او دالله ﷻ (دا عادت دی چی) داسی بی لاری تلونکو ته هدایت نه کوی.

معلومات اومسئلي: ددی آیت څخه معلومه سوه چی کله الله ﷻ یوکافر ته ددنیا عزت اوشرافت ملك اوحکومت ورکی نو په دغه نوم سره یی یادول روا دی ، دارنګه ددی څخه دا هم معلومه سوه چی دضرورت په وخت کی مناظره اومباحثه هم جائز ده چی په حق اونا حق کی فرق ښکاره سی (قرطبی)

دځینو خلګو په دی ځای کی دا شبهه پیداکیږی چی کیدای سوای چی ده دلته په دغه وخت کی دا ویلی وای چی که خدای ﷻ موجود دی نو هغه دی یی لمر دمغرب څخه راوخیژوی نو ددی شبهی دفع دا ده چی دده په زړه کی دا خبره بی اختیاره راغله چی خدای ﷻ ضرورسته او دا دمشرق څخه راخیژول دهغه کار دی او هغه یی دمغرب څخه هم راخیژولی سی ، او دا سړی پیغمبر دی ، دده په وینابه ضرور داسی وسی او په داسی کیدو سره به په دنیاکی یو لوی بدلون راسی اوهسی نه چی دفانډی په ځای

نقصان وسی ، مثلاً چی خلګ دا معجزه ووینی زماخخه به واوری او دده سره به سی او په لړ خبره به راخخه حکومت ولاړسی ، نو دا جواب یی ځکه ورنه کی اوبل جواب خووو نه، په دی وجه حیران پاته سو (بیان القرآن)

أَوْ كَالَّذِي مَرَّ عَلَىٰ قَرْيَةٍ وَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا قَالَ أَنَّىٰ يُحْيِي هَٰذِهِ اللَّهُ بَعْدَ

آیا تا نه دی لیدلی هغه کس چی تیر سو په یوښار باندی او هغه ولویدلی په خپلو چتونو باندی وی ویل څنګه به ژوندی کړی دی الله تعالی پس

مَوْتِهَا ۖ فَأَمَاتَهُ اللَّهُ مِائَةَ عَامٍ ثُمَّ بَعَثَهُ ۖ قَالَ كَمْ لَبِثْتَ ۖ

دمرګ ددې څخه وروسته مړکړو دی الله سل (۱۰۰) کاله بیا یی پورته کړه هغه ، وی فرمایل تاڅومره وخت تیرکی

قَالَ لَبِثْتُ يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ ۖ قَالَ بَل لَّبِثْتَ مِائَةَ عَامٍ

او وې ویل وخت می تیرکی یوه ورځ یا دورځی څخه څه کم وی فرمایل نه ده بلکه تا وخت تیرکی سل کاله اوس

فَانظُرْ إِلَىٰ طَعَامِكَ وَشَرَابِكَ لَمْ يَتَسَنَّهْ ۖ وَانظُرْ إِلَىٰ حِمَارِكَ

وګوره خپل خوراک او څښاک ته چی ته چی نه دی بدبویه سوی او وګوره خپل خره ته

وَلِنَجْعَلَكَ آيَةً لِّلنَّاسِ ۖ وَانظُرْ إِلَى الْعِظَامِ كَيْفَ نُنشِزُهَا

اوداځکه چی مونږ تاجوړکړو نمونه دپاره دخلقو اوګوره هډوکو ته چی څنګه مونږ را پورته کوو پیوند کوو یی

ثُمَّ نَكْسُوهَا لَحْمًا ۚ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُ قَالَ أَعْلَمُ أَنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ

بیاورا غوندو غوښه ، بیا چی کله ده ته ښکاره سو دا حال نو وی ویل چی ماته معلومه ده چی بیشکه الله تعالی

شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢٥٩﴾

پر هر څه قادر دی.

لنډتفسیر: د أَوْ كَالَّذِي مَرَّ عَلَىٰ قَرْيَةٍ وَهِيَ خَاوِيَةٌ : څخه تر أَنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ پوری ، آیاتاسی ته دا قسم قصه هم معلومه ده لکه یو سړی وو چی (په تلو تلوکی) په یوه کلی په داسی حالت کی تیر سو چی کورونه یی په خپلو چتونو باندی پراته وه (یعنی اول یی چتونه پراته وه بیالوړ دیوالونه پراته وه ، مراد دا دی چی په یوی حادثی سره دغه کلی وران سوی وو اوټول خلګ یی مړه سوی پراته وه، دغه

سړی چی دا حال ولیدی نو په حیرانتیا سره یې) وویل چی (معلومه نه ده) الله ﷻ به دا کلی (یعنی ددی ښار دامړی) د دوی تر مرګ وروسته په څه طریقه سره (په قیامت کی) ژوندی کی (دا یقین خو یې وو چی الله ﷻ به په قیامت کی مړی ژوندی کوی ، مګر دا وخت ددی وران ښار اومړوپه لیدوسره څه حیران غوندی سو اوڅه عجیبه حیرانی په زړه غالبه سوه اوکله چی الله ﷻ یوکار په هرشان سره کولی سی ، په دی وجه دده خیال ددی خبری په تلاښ اولټون کی سو چی خدای خبر چی دا ژوندی کول به په څه شکل سره وی ؟ الله ﷻ ته دا خبره منظوره سوه چی ددی تماشه ده ته هم په دنیا کی وښیی ، ددی دپاره چی دیومثال دواقع کیدوپه وجه خلګوته دزیات هدایت (ښوونه) وسی نو (ددی دپاره) الله ﷻ (ددغه سړی روح واخیستی دی یې) تر سلوکارو پوری مړ وساتی بیایې (ترسلو کالو وروسته) دی ژوندی پورته کی (اوبیایې ورڅخه) پوښتنه وکړه چی ته څومره موده په دی حالت کی وی؟ دی سړی جواب ورکی چی یوه ورځ پاته سوی یم یادیوی ورځی څخه هم کم (یعنی لږوخت) الله ﷻ وفرمایل چی داسی نه ده بلکه ته (په دی حالت کی) سل کاله پاته سوی یې (اوکه په دی خبره کی ته تعجب کوی چی زمابدن ولی په دی سل کاله کی روغ پاته سوی دی) نو دخپل خوراک او چیښاك شیانوته وګوره چی (یوه ذره هم) نه دی خراب سوی (یوقدرت خو زما دا دی) او زما د دوهم قدرت دلیدلو دپاره خپل (دسپرلی) خرته دی وګوره (چی په ورستیدو یې څه حال سوی دی اومونږ دی دیر ژر ستاپه مخکی ژوندی کوو) او (مونږ ته ددی دپاره دوباره وروسته ترمرګ ژوندی کړی) چی مونږ تا (ددی خپل قدرت) یو مثال دخلګو دپاره جوړکو (چی په دی مثال سره دقیامت دورځی په ژوندی کیدو یقین وکی) او (اوس ددی خر) هډوکوته ګوره چی مونږ دوی څنګه یوځای کوو ، بیادوی ته غوښه وراغوندو (بیاپه کښی روح اچوو ، غرض دا ټول کارونه هم دغسی وسوه) بیاچی دا ټوله طریقه دی سړی ته (مخامخ) ښکاره سوه نو (بی اختیاره په جوش کی راغی) وی ویل چی زه (په زړه سره) یقین لرم چی بیشکه الله ﷻ په هر څه قادر دی.

وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهٖمُ رَبِّ اَرِنِیْ كَیْفَ تُحْیِ الْمَوْتٰى ؕ

اویاد کړه کله چی وویل ابراهیم ﷺ ای زمارېه : وښایه ماته چی ته څنګه ژوندی کوی مړی؟ وې وفرمایل چی

قَالَ اَوَلَمْ تُؤْمِنْ ؕ قَالَ بَلٰى وَلٰكِنْ لِّیَطْمَىِٕنَّ قَلْبِیْ ؕ قَالَ فَخُذْ

آیا ته یقین نه کوی ، وې ویل ولی نه کوم لیکن ددې دپاره چی زما دزړه تسلی وسی ، وې فرمایل چی

اَرْبَعَةً مِّنَ الطَّیْرِ فَصُرْهُنَّ اِلَیْكَ ثُمَّ اجْعَلْ عَلٰى كُلِّ جَبَلٍ

ونیسه څلور مرغان الوتونکی ، بیا یې عادت کړه دخان سره بیا کښیږده په هر غره باندی

فَمِنْهُنَّ جُزْءًا ثُمَّ ادْعُهُنَّ يَأْتِينَكَ سَعْيًا ۚ وَاعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٢٦٠﴾

د دوی دبدن یوه حصه بیال دوی راوبوله، راځی به تاته په منډه، او پوه سه چی بیشکه الله تعالی زبردست دی حکمت والا دی

تفسیر: او دهغه وخت (واقعه) دریاده کړه کله چی ابراهیم ﷺ (الله ﷻ ته) عرض وکی چی ای زما پروردګاره! ماته (دا) وښیی چی ته به مړی (په قیامت کی مثلاً) په څه طریقی سره ژوندی کوی (یعنی دژوندی کولو یقین می سته لیکن دژوندی کولو خو مختلفی طریقی اواندازی کیدی سی چی هغه ماته معلومی نه دی، نو زما زړه دهغه معلومول غواړی، په دی سوال کولوسره دناپوه سړی په زړه کی داشك راتلی سوای چی (پناه غوارم په خدای سره) دحضرت ابراهیم ﷺ ترمرګ وروسته په ژوندی کیدو یقین نسته، نو په دی وجه الله ﷻ په خپله دحضرت ابراهیم ﷺ څخه سوال وکی خبره یی ښکاره کړه، نو دحضرت ابرهیم ﷺ دسوال په جواب کی یی اول) ارشاد وفرمایی چی ولی ته (په دی) یقین نه لری، هغه ﷺ (په جواب کی) عرض وکی چی یقین ولی نه لرم لیکن دا درخواست په دی غرض سره کوم چی زما زړه ته (ښکاره په ښکاره دژوندی کولو په لیدوسره) تسکین راسی (اوفکرمی دنورو خیالاتو دچکر څخه ووزی) نو ارشاد ورته وسوچی ښه ده نو ته څلور مرغان واخله بیادوی (وپاله) دځان سره یی عادت کړه (چی ښه شناخت یی وسی) بیا (ټول ذبح کړه اودهډوکو او وزرونو د دوی څخه قیمه (کوفته) غوندی شی جوړ کړه او څوحصی یی کړه او څوغرونه په خپله رضاخوښ کړه) په هرغره د دوی څخه یوه حصه کښیږده (او) بیا دوی ټول را وبله (ګوره) ستاخواته به (ژوندی کیږی) درمنډی به وهی اوښه یقین لره په دی خبره چی حق تعالی زبردست (قدرت والا) دی (هرڅه کولی سی بیاهم څینی خبری نه کوی دهغه وجه دا ده چی هغه) حکمت والا (هم) دی (هرکار دحکمت اومصلحت په مطابق کوی)

معلومات اومسئلي

(دحضرت ابراهيم خليل الله درخواست ترمرګ وروسته دژوندی کيدو ښکاره ليدل او دشکونو ليری کول)

دا دریمه قصه ده چی په دی تیر ذکر سوی آیت کی یی فرمایلی ده، لنډه داسی ده چی حضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ ته دا درخواست وکی چی ماته په ظاهره سره داسی وښیه چی ته به مړی څنګه ژوندی کوی؟ الله ﷻ ورته وفرمایل چی دا درخواست دی ولی وکی، ولی ستازما په کامل قدرت باندی یقین نسته؟ چی هغه هرڅه کولی سی، حضرت ابراهیم خلیل الله ورته خپل اصلی حال ووایه چی یقین می ولی نسته ستادکامل قدرت اوطاقت نښی نښانی خوزه هروخت هرساعت ډاک په ډاګه ښه ښکاره وینم، اوښه فکر کوونکی ته خوپه خپله په خپل وجود اوددنیا اوکائناتوپه یوه یوه ذره کی ظاهری لیدل کیږی، لیکن بنی آدم پیدا ایښتی داسی دی چی دکوم کارکیدل ده دسترګو په مخکی ښکاره په ښکاره نه وی لیدلی نوکه دا ډیر یقینی که هم وی خو دده فکر په کښی ګډوډ کیږی چی دا به څنګه اوپه څه شان وی؟ او ددی ګډو وډو خیالاتو او فکرونو په وجه زړه ته آرام اواطمینان نه وی نوپه دی می دمخامخ لیدو درخواست وکی چی دمړو دژوندی کیدو دا مختلفی طریقی چی فکر په کښی ګډوډ

کیږي دلیدوپه وجه مي زړه په آرام اومطمئن سي الله ﷻ دهغه درخواست قبول کی ، نو هغه ته یې دښوولو دپاره هم داسې عجیبه شکل انتخاب وکی چې بیا د دوباره ژوندون څخه دمنکرو خلګو دټولو شکونو دلیرې کولو ټوله نظاره یې ورته مخامخ وښووله ، اوهغه داسې چې حکم یې ورته وکی چې څلور مرغان دځان سره جمع کړه بیایې دځان سره وساته عادت یې کړه او داسې یې عادت کړه چې ته یې رابلې او دوی درته راځي اوچې ته یې هم ښه وپیژنې چې دا شك دی بیانه وی چې دا به کوم یومرغه وی ، بیاداڅلورسره ذبح که او دهډوکو او وزرونو څخه یې ښه قیمه غوندي شي جوړ که ، بیایې څوحصې کړه اوپه خپله خوښې سره یې بیا په مختلفو غرونو ددې قیمې یوه یوه حصه کښېږده ، بیادوی ځان ته راوبله نو دالله ﷻ په کامل قدرت سره به دوی ژوندي سي په منډه منډه به تاته درځي.

په تفسیر روح المعاني کې په سند دابن المنذر دحضرت حسن ﷺ څخه روایت دی چې حضرت ابراهیم ﷺ داسې وکړل اوبیایې دغه مرغان ځان ته راوبلل نوفوراً هډوکې دهډوکو سره وزر دوزرسره وینه دوینې سره غوښه دغوښې سره یوځای سوه ټول په خپل خپل اصلي شکلونو سره ژوندي سوه په منډه دحضرت ابراهیم ﷺ خواته راغله ، نوالله ﷻ وفرمایل چې ای ابراهیمه ﷺ ! دقیامت په ورځ به دغه شان ټول اجزاء او بدنونه یوځای کړم اوپه یودم به په کښې روحونه واچوم او ژوندي به یې کړم.

دقرآن په الفاظوکې: يَأْتِينَكَ سَعْيًا راغلي دي چې دامرغان به په منډه راځي نو ددې څخه معلومه سوه چې په هوابه نه راځي ، ځکه چې په هواکې په را الوتلو سره داشك کیدی سوای چې که دنظر څخه پناه سې نوبدل به سې اوچې په مځکه راځي نوبالکل مخامخ او دنظرپه مخکې به وي ، په دې واقعه کې الله ﷻ ترقیامت وروسته دبیا ژوندي کیدو داسې نمونه اوشکل حضرت ابراهیم ﷺ ته وښووی چې دمشرکانو اومنکرانو خلګو ټول شکونه اوشبهې یې ورته دسترګو په لیدوسره لیرې کړې.

نو ترمرګ په ژوندي کیدو کې او دآخرت په ژوندکې دنه منونکو ترټولو لوی شك دا دی چې انسان ترمرګ وروسته خاورې سي او دغه خاوره بیاځه په هواکې والوزي څه په اوبوکې وبهیږي اوڅه په مځکه کې خلط سي د درختو اوفصلونو په شکل کې را ووزي اوخاشي خاشي سي ددنیاپه لیرې لیرې طرفونوکې خپره وره سي ، نو دانسان ددې خپرو ورو ذرو او اجزاوو جمع کول اوبیا په کښې روح اچول دسر سرې نظر کوونکې سړي په فکرکې ځکه نه راځي چې دی هرڅه په خپل ځان اوخپل طاقت قیاس کوي ، اوترخپل ځان اوقیاس پورته اولوړ قدرت اوطاقت ته فکرنه کوي.

حال دا دی چې که دی لږشان دی خپل وجود ته فکر وکی نو دی به ووینې چې نن هم دده دا وجود دټولې دنیا دخپرو ورو ذرو اوبرخو څخه جوړ دی ، دانسان پیدایش چې دکوم مور اوپلارپه ذریعه کیږي ، او دکومو خوراکونو څخه چې دده وینه اوبدن جوړیږي ، هغه په خپله ددنیا دمختلفو کونجیانو څخه راغونډي سوي ذرې دي ، بیاتر پیداکیدو وروسته چې انسان دکومو خوراکونو په

ذریعه پالنه پیداکی دکومو څخه چی دده غوښه وینه اوپوستکی جوړیږی ، نو چی دی ته فکر وسی نو په دی خوراکونوکی یو یوشی داسی دی چی دټولی دنیا دمختلفو ذرو څخه جوړ دی که شیدی چښی نو دا به دیوی غوا یامیږی یابزی اجزاء وی ، او په دی حیواناتوکی دا اجزاء دهغو وښو او دانو څخه پیدا وی کوم چی دوی خوړلی وی او دا واښه اودانی معلومه نه وی چی دمځکی دکومی کومی ټوټی څخه راغلی وی، او په ټوله دنیاکی چلیدونکو هواګانو په دوی کی دکومی کومی مځکی څخه راوړی ذری شاملی کړیٰ وی، په دی شان ددنیا دانه اومیوه اوترکاریانی او دانسانانو ټول خوراکونه او دوایانی چی دده دبدن حصه جوړیږی هغه ددنیا دکوم کونج څخه په څه څه طریقو سره دالله ﷻ کامل قدرت اومضبوط انتظام دیوه انسان په بدن کی جمع کړی ، که غافل اوتنګ نظره انسان نوره دنیا پاته کړی او یوازی دخپل بدن تحقیق اوتلاش شروع کی نو ده ته به معلومه سی چی دده بدن په خپله دداسی بی شماره اجزاوو (ټوټو) څخه جوړ دی چی څه دمشرق دی اوڅه دمغرب څه دجنوبی دنیادی اوڅه دشمالی حصی ، نونن هم ﷻ الله دخپل قدرت په محکم نظام سره دټولی دنیا مختلف اجزاء دده په بدن کی جمع کړی دی اوچی دی مړ سی نو بیابه هم دده دبدن دا اجزآء دغه شان خپاره سی ، نو اوس بیاددغه اجزاوو راجمع کول دهغه کامل قدرت ته څه ګران نه دی چی په اول وار یی دغه خپاره اجزاء دده په بدن کی جمع کولی سوای نو اوس یی دوباره په راجمع کولو هم قادر دی .

(په دی تیره واقعه یو څو سوالونه او دهغو جوابونه)

ددی تیر آیت په مضمون کی یو څو سوالونه پیداکیږی ، اول سوال دا دی چی دحضرت ابراهیم ﷺ په زړه کی داسوال څنګه پیدا سو او حال دا دی چی دغه وخت په ټوله دنیاکی دالله ﷻ په کامل قدرت باندی دی ترټولو زیات یقین لرونکی وو ؟ نو ددی سوال جواب ددی تقریر په مینځ مینځ کی راغلی دی کوم چی لوړ وسوچی په حقیقت کی دحضرت ابراهیم ﷺ سوال دشك په وجه نه وو بلکه مقصد دسوال دا وو چی په قیامت کی خو به الله ﷻ په خپل کامل قدرت سره مړی ژوندی کوی او دا ژوندی کول دمړو دهغه دکامل قدرت څخه څه لیری خبره نه ده اونه څه دحیرانتیا خبره ده بلکه ښه یقینی خبره ده ، لیکن دمړی دژوندی کولو داکار دانسان تر طاقت وتلی دی ، اویوځای یی یو مړی په ژوندی کیدو کی نه دی لیدلی او دمړی دژوندی کولو طریقی اوصورتونه خو هرډول کیدی سی ، اوانسان خوپیدا ایشی داسی دی چی کوم شی ده لیدلی نه وی نو دهغه دځرنګوالی په خیال کی همیشه فکر مند وی او دهغه مختلفی لاری چاری دده په خیال کی راځی ، اوفکر یی همیشه په هغه کی ګډوډ وی ، او دی دا غواړی چی زما دا ذهنی پریشانی لیری سی چی زړه ته می آرام اوسکون راسی نو ددی دپاره حضرت ابراهیم ﷺ دا درخواست پیش کړی وو .

ددی څخه دا هم معلومه سوه چی په ایمان اواطمینان (تسلی دزړه) کی څه فرق دی ، ایمان دهغه

اختیاري یقین نوم دی کوم چې بنده ته درسول ﷺ په اعتماد سره دغیب په یو خبره حاصل سي ، او اطمینان دزړه دآرام اوتسلی نوم دی ځیني وخت دنظر څخه په پناه شي یقین کامل خو وی (یعني دا یی کامل یقین وی چې دغه شي خو په ستو سره سته) لیکن زړه ته سکون ځکه نه ورځی چې دده دځرنګوالی علم ورته نه وی (چې په څه اندازه به وی) دا دزړه سکون او آرام یوازی په مخامخ لیدوسره حاصلیږي ، نوحضرت ابراهیم ﷺ هم وروسته ترمرګ په ژوندون کامل یقین درلودی سوال یی یوازی دژوندی کولو دطریقی متعلق وو

دوهم سوال دا دی چې کله دحضرت ابراهیم ﷺ سوال دژوندی کولو دطریقی متعلق وو اوترمرګ وروسته یی په اصل ژوندون کی څه شك اوشبهه نه وه نوبیا خودالله ﷻ ددی ارشاد چې ، أَوَلَمْ تُؤْمِنْ (آیاستا یقین نسته) دفرمایلو څه موقع (مناسبت) پاته نه سوه .

نو جواب یی دا دی چې کوم سوال چې حضرت ابراهیم ﷺ پیش کی چې په اصلي واقعه کی می څه شك نسته نو ددی سوال څخه یوه دا خبره هم معلومیده چې دژوندی کولو طریقه لیدل غواړم .

او دسوال ددغه الفاظو څخه دا مفهوم هم اخیستل کیدی سی کوم چې په اصلي قدرت کی دشك یاانکار څخه پیداکیږي ، لکه چې دیوبار متعلق تاسی دا یقین لری چې فلانی سړی دانه سی پورته کولی اوده دعاجزی دښکاره کولودپاره تاسی ووایاست چې ګوره ته به دابارڅنګه پورته کوی، نوکله چې دحضرت ابراهیم ﷺ دسوال داغلط مطلب هم چااخیستی سوای په دی وجه الله ﷻ حضرت ابراهیم ﷺ ددی غلطي خبری څخه دبری ثابتولو دپاره دا ارشاد وفرمایی چې ، أَوَلَمْ تُؤْمِنْ : ددی دپاره چې د حضرت ابراهیم ﷺ ددی په جواب کی ، بَلٰی وفرمایی د درواغو جوړونکو دحملی څخه محفوظ سی .

دریم سوال دا دی چې دحضرت ابراهیم ﷺ ددی سوال څخه خوکم ازکم دومره معلومه سوه چې وروسته ترمرګ په ژوندی کیدوده ته اطمینان حاصل نه وو حال دا دی چې حضرت علي کرم الله وجهه فرمایی چې که دعَالَم غیب څخه پرده لوړه سی نو زما په یقین او اطمینان کی به هیڅ زیاتوب ونه سی ، ځکه چې په ایمان بالغیب باندی ماته پوره اطمینان حاصل دی ، نو چې ځینو امتیانو ته د اطمینان درجه حاصله ده ، نو دا څنګه کیدی سی چې دالله ﷻ خلیل ﷺ ته دی داطمینان درجه حاصله نه وی .

ددی خبری متعلق دومره پوهیدل په کار دی چې داطمینان (تسلی) هم ډیری درجی دی ، یو هغه اطمینان دی چې اولیاء الله او صدیقینوته حاصل دی اویو تردی ډیر لوړی درجی والا اطمینان دی چې عامو انبیاؤ علیهم السلام ته حاصل دی او بل تردی هم ډیر لوړ دی چې خاصو خاصو ته دمشاهدی (دمخامخ لیدو) په صورت کی ورکول کیږي .

نو حضرت علي کرم الله وجهه ته چې کومه درجه داطمینان حاصله وه هغه بیشکه چې حضرت خلیل الله ته حاصله وه ، بلکه تردی ورته اعلٰی درجه اطمینان حاصل وو ، کوم چې دنبوت دمقام سره خاص دی

په دی اطمینان کی حضرت خلیل الله ترنورو تولو امتیانو لوړ وو ، خودی چی کوم اطمینان غواړی هغه ترتولو داعلی مقام اطمینان دی کوم چی خاص خاص پیغمبرانوته ورکول کیږی لکه چی سردار د کائناتوسرداردانبیاؤعلیه الصلاة والسلام ته دجنت او د ورځ په لیدلو سره خاص اطمینان ورکول سو.
غرض دا دی چی ددی سوال په وجه سره دا ویل هم صحیح نه دی چی حضرت ابراهیم ﷺ ته اطمینان حاصل نه وو ، دلته یوازی دا ویل کیږی چی هغه کامل اطمینان کوم چی په لیدو سره حاصلیږی هغه نه وو نو ددی دپاره یی دا درخواست کړي دی.
دآیت په آخرکی یی وفرمایل ، اِنَّ اللّٰهَ عَزِیْزٌ حَکِیْمٌ یعنی الله ﷻ زبردست دی اوحکمت والا دی په زبردست کیدو کی یی دکامل قدرت بیان وکی اوحکمت والا یی وویل دی طرف ته یی اشاره وکړه چی دحکمت مقتضا دا ده چی هرچاته ترمرګ وروسته دژوندی کیدو نظاره نه ښیی که نه وی نو الله ﷻ ته دا هیڅ ګرانه نه ده چی هریوه انسان ته ترمرګ وروسته ژوندون وښیی او دی یی ووینی ، خو بیا چی دایمان بالغیب (یعنی په غیبوباندی دایمان راوړو) کوم ښه والی دی هغه به هیڅ هم پاته نه سی.

مَثَلُ الَّذِیْنَ یُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ كَمَثَلِ

مثال دهغه خلقو چی خرڅ کوی خپل مالونه په لاره دخدای کی داسی دی لکه

حَبَّةٍ اَنْۢبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ فِیْ كُلِّ سُنْۢبُلَةٍ مِّائَةُ حَبَّةٍ

یوه دانه چی شنه سی ورڅخه اووه وږی په هر یوه وږی کی سل (۱۰۰) سل دانوی

وَاللّٰهُ یُضٰعِفُ لِمَنْ یَّشَآءُ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِیْمٌ ﴿۲۶۱﴾ اَلَّذِیْنَ

او الله زیاتوی دچا دپاره چی وغواړی او الله بی انتها بخشش کوونکی دی هرڅه پیژنی کوم خلق چی

یُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ ثُمَّ لَا یُتْبِعُوْنَ مَآ اَنْفَقُوْا

خرڅ کوی مالونه خپل په لاره دالله کی بیا وروسته ترخرڅولو نه پرچا احسان

مَنًّا وَّلَآ اَذًى لَّهُمْ اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَیْهِمْ

او نه یی تنګوی هم د دوی دپاره دی ثواب د دوی درب سره او نه به وی بیره په دوی

وَلَا هُمْ یَحْزَنُوْنَ ﴿۲۶۲﴾ قَوْلٌ مَّعْرُوْفٌ وَّمَغْفِرَةٌ خَیْرٌ مِّنْ

او نه به دوی غمجن وی ، نرم جواب ورکول او درګذر کول ښه دی

صَدَقَةٍ يَّتْبَعُهَآ اَذًى ؕ وَاللّٰهُ غَنِيٌّ حَلِيْمٌ ﴿۲۶۳﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ

ترهغه خیرات چې وروسته وي تنګول او الله بې پروا دی او ډیر زغم کوونکی دی ای مؤمنانو!

اٰمَنُوْا لَا تُبْطِلُوْا صَدَقٰتِكُمْ بِالْمَنِّ وَالْاَذٰى ۙ كَالَّذِيْ يُنْفِقُ

مه خرابوی تاسی خیرات خپل په احسان اچولو او تنګولو باندی دهغه چا په شان چې خرڅوی

مَالَهٗ رِئَآءَ النَّاسِ وَلَا يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ فَمَثَلُهٗ

خپل مال خلقو ته دځان ښوولو دپاره او نه راوړی ایمان په الله او په ورځ دقیامت پس مثال دده

كَمَثَلِ صَفْوَانٍ عَلَيْهِ تُرَابٌ فَاَصَابَهٗ وَابِلٌ فَتَرَكَهٗ صَلْدًا ؕ

په شان د دبرې صافی دی چې پرته وي باندی خاوره پس ورسیږي ورته سخت بارن پس پاته کړی هغه بالکل

لَا يَقْدِرُوْنَ عَلٰى شَيْءٍ مِّمَّا كَسَبُوْا ؕ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ

صافه چې هیڅ یې په لاس را نه ثواب دهغه څخه چې دوی کړی وی او الله تعالی نه ښیی سیده لار کافرانو ته

الْكٰفِرِيْنَ ﴿۲۶۴﴾ وَمَثَلُ الَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمُ ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِ

او مثال دهغه چا چې خرڅوی خپل مالونه دپاره دخوشحالی حاصلولو

اللّٰهِ وَتَثْبِيْتًا مِّنْ اَنْفُسِهِمْ كَمَثَلِ جَنَّةٍ ۢ بِرَبْوَةٍ اَصَابَهَا وَابِلٌ

دالله او دپاره دمضبوطولو دخپلو زړنو داسی دی لکه چې یو باغ په لوړه ځکه ، نو ورسیږي ورته باران په شیبو

فَاٰتَتْ اُكُلَهَا ضِعْفَيْنِ ۚ فَاِنْ لَّمْ يُصِبْهَا وَابِلٌ فَطَلٌّ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا

نو ورنیسی میوه خپله دوچنده او که ونه رسیږي ورته بارن نو پرخه هم ورلره پوره ده او الله پاک

تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿۲۶۵﴾ اَيَوَدُّ اَحَدُكُمْ اَنْ تَكُوْنَ لَهٗ جَنَّةٌ مِّنْ

ستاسی کارونه ښه وینی ، آیا خوښوی په تاسی کی څوک دا چې وي ده لره یو باغ

نَّخِيْلٍ وَّاَعْنَابٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ لَهٗ فِيْهَا مِنْ

دخرماوو او انګورو چې بهيږي لاندې ترهغه ولې او ده لره وي په دې باغ کې

كُلِّ الثَّمَرٰتِ وَاَصَابَهُ الْكِبَرُ وَلَهٗ ذُرِّيَّةٌ ضُعَفَآءُ فَاَصَابَهَآ

نوري هم هرقسم ميوې او رسيدلې وي ده ته زوروالى او دده اولاد وي ضعيفان (کوچني) نو پس راسي

اِعْصَارٌ فِيْهِ نَارٌ فَاحْتَرَقَتْ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ

په دې باغ باندې يوه څپه دسيلې چې اور په کې وي پس وسوزي ورباندې دغه باغ ، هم داسې بيانوي الله پاک

لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُوْنَ ﴿۲۶۶﴾

تاسې ته ايتونه په دې غرض چې تاسې فکر (اوغور) وکئ.

تفسير: کوم خلګ چې دالله ﷻ په لاره کې (يعنې دخير په کارونوکې) خپل مالونه خرڅوي د دوي دخرڅ کړو مالونوحال (په نزد دالله ﷻ) داسې دې لکه ديوې دانې حال چې دهغه څخه (فرض کړه) اووه وږي وتوکيږي (او) په هروږي کې دننه سل دانې وي (دغه ډول الله ﷻ ددوي ثواب اووه سوه ۷۰۰ حصوته زياتوي) او دا زيات خداى ﷻ چالره چې غواړي (په قدر دهغه داخلاص اومشقت يې) ورکوي اوالله ﷻ ډير فراخي والا دى (د هغه سره دهيڅ شي کمې نسته هغه هرچالره دازياتي ورکولې سي مګر ددې سره سره) پوهيدونکى (هم) دى (په دې وجه دنيت اخلاص اونورته ګورى ، بخشش کوي) کوم خلګ چې خپل مالونه دالله ﷻ په لاره کې خرڅوي بياتر خرڅولو وروسته نه خو (چاته چې يې ورکړي وي په هغه باندې په ژبه سره) احسان اچوي اونه (په څه عمل سره هغوى ته آزار رسوي) دې خلګوته به د دوي (دعمل) ثواب ورسيږي د دوي درب په نزد (چې هلته ولاړ سي) اونه (به دقيامت په ورځ) په دوي څه بيره وي اونه به دوي غمجن وي (دغريبي په وخت کې چې څه دورکړي نه وي معقوله او) مناسبه خبره کول او (که چيرې سوال کونکى دخپلې بې عقلۍ په وجه غصه ورولي يادتللو په ويلوسره بياهم تنګول کوي نودهغه څخه) درګذرکول (په زر درجي) ښه دي (دداسې خيرات ورکولو) څخه چې وروسته ورپسې آزار رسول وي اوالله ﷻ (په خپله) غني دى (دچامال ته يې حاجت نسته څوک چې مال خرڅوي نو دخان دپاره نو آزار بياولې رسوي او په آزار رسولو سره چې فوراً سزا نه ورکوي نو دهغه وجه دا ده چې هغه) زغم کونکى (هم) دى ، ايماندارو! تاسې په احسان اچولو ياپه ضرر رسولو (د) خپل خيرات (ثواب دزياتيدو څخه) مه بربادوي لکه څنګه چې هغه سړى (په خپله دخپل خيرات اصل ثواب برباد وي) چې خپل مال خرڅوي (محضى) خلګوته دخان ښوولو په غرض سره او ايمان نه لري په الله ﷻ او په

ورځ دقیامت باندې (مراد ددې څخه په قرینه دنفی کولو دایمان سره منافق دی) نو دداسې سړي حالت
داسې دی لکه یو هوار ښوی کاڼی (فرض کړه چې پرده) کله خاوره (لویدلې) وي (او ددې خاورې سره څه
خزلې مزلې جمع سوې وي) بیا په دې په شیبو باران راسې نو دا (لکه څنګه چې ووهغسې یې) بالکل
صفاکې (دغه شان چې ددغه منافق دلاسه دالله ﷻ په لاره کې څه خرڅ سې نو دا خو که څه هم په
ظاهرکې یونیك عمل دی چې دثواب امید ورڅخه کیدې سې لیکن دده نفاق دا عمل هم دغسې دثواب
څخه خالي پاته کې نو په دې وجه په قیامت کې) به داسې خلکو ته دخپلې ګټې څخه هیڅ هم په لاس
ورنه سي (څکه چې ګټه نیك عمل دی او ددې په لاس ورتلل دثواب حاصلیدل دی او دثواب حاصلیدو
شرط ایمان او اخلاص دی او په دې خلکو کې دانسته څکه چې ریاکار هم دی اوکافران هم دی) اوالله
ﷻ به کافرانو ته (دقیامت په ورځ دثواب دکور یعنی دجنت) لار ونه ښیی (څکه چې دکفر په وجه د
دوی هیڅ عمل قبول نه دی چې ثواب یې دآخرت دپاره ورلره جمع سي اوچې دوی هلته ورسي
اوبیاددې په وجه جنت ته دا خل سي) او دهغه خلکو دخرڅ سوي مال حال کوم چې خپل مالونه خرڅوي
دالله ﷻ درضا حاصلولو په غرض سره (کومه چې خاص په دې عمل سره وي) اوپه دې غرض سره چې
خپل نفسونه (ددې سخت عمل سره عادت کی) مضبوطتیا په کښې پیدا کی (ددې دپاره چې نور نیك
عملونه په آساني سره بیاکولی سي ، نو ددې خلکو دمال خرڅولو اوخیراتونو حال) په شان دحال
دیوباغ دی چې په لوړ ځای باندې وي (دداسې ځای هوا نرمه اوبارداره وي او) په ده په شیبو باران
وسی بیاهغه (باغ دنرمې هوا اوباران په سبب ترنورو باغونو یاترنورو کښتونو) دوچنده (څوچنده)
میوه ونیسی اوکه دشیبو باران په ونه سي نو نرې پرخه (یعنی نرې باران) هم دی لره پوره دی (څکه چې
مځکه اوموقع ددې باغ ښه ده) اوالله ﷻ ستاسې کارونه ښه وینی (په دې وجه چې هغه کله دچا اخلاص
ووینی نوثواب ورلره زیاتوی) ښه نوپه تاسې کې دچادا خبره خوښه ده چې دده یو باغ وي دخرماؤ او د
انګورو (یعنی زیاتې درختې په کښې ددې وي او) په دې (باغ) کې (تردرختو) لاندې نهرونه بهیږي (چې
دا باغ ورباندې ډیر ښایسته اوسمسوروي او) ددې سړي دلته په دې باغ کې (دخرماؤ او انګورو څخه
علاوه) نورې هم هرقسم (مناسبې) میوې وي او دې سړي ته زوړوالی راغلی وي (کومه چې دا زمانه
زیاته دمحتاجی وي) او دده اهل وعیال هم وي چې په هغوی کې (دګټې) طاقت نه وي (په دې وجه به
دده داهل اوعیال څخه هم دخیر اوګټې امید نه وي خو بس یوازې دغه باغ به دده دمعاش دژوند
تیرولو وسیله وي) نو (په داسې حالت کې داسې وسې چې) په دې باغ دهوا یوه څپه راسې چې په هغه
کې (د) اور (ماده) وي بیا (په دې سره) دغه باغ وسوزي (ښکاره خبره ده چې دهیچا دځان دپاره دا خبره
خوښه نه وي ، نوددې په شان دا خبره هم ده چې څوك صدقه ورکی یاخیر خیرات وکړي چې دقیامت په
ورځ دپه کار ورتلو امید کوی ورته او دغه خیرات اوصدقه ده د ډیر احتیاج اوضرورت په وخت کی

کړي وي چې په دغسې وخت یې دقبلیدو زیات دار ومدار وي اوبیادې دغه خپل خیرات اوصدقه په ضرر رسولو اواحسان اچولو سره برباده اوبې برکته کړي نو دغه وخت به بیا څومره افسوسونه وي نوکله چې تاسې په دنیاکې خپل داسې قسم باغ ته داسې پیښنه نه خوښوي نو په احسان اچولو اوضرر رسولو سره خپل خیراتونه اوصدقې ولې برباد وي) الله ﷻ داسې مثالونه بیانوي ستاسې د (پوهولو) دپاره ددې وجې څخه چې تاسې فکر اوسوچ وکې (اوښه پوه سې چې دسوچ اوفکر موافق عمل وکې چې په آخرت کې ستاسې په کار درسې)

معلومات اومسئلې: دا دسورة بقرة شپږ دیرشمه رکوع ده چې دآیت ۲۶۲ څخه شروع ده اوس دسورة بقرة پنځه رکوع ګانې پاته دي چې په آخري رکوع کې دکلیاتو او ډیرو ضروري اصولي شیانو بیان دی او ددې څخه په دې مخکې څلورو رکوع ګانو کې دآیت نمبر۲۶۲ څخه ترآیت نمبر۲۸۳پورې ټول یوویشت آیتونه دي ، چې په دې کې دمالونو سره تعلق لرونکي خاص هدایات اوداسې ارشادات دي چې که دنیانن په دې پوره په پوره عمل کونکې سي نو دمعاشي نظام مسئله به خود یعني دځانه حل سي په کوم کې چې نن دنیا سرګردانه ده اویوځای که دسرمایه داري نظام دی نوبل ځای ددې په مقابله کې داشتراکیت اواشتمالیت نظام دی ، او ددې دواړو نظامونو دیو بل سره مقابلې ددنیا څخه دجنګ جګړو اوقتلونو یوجهنم جوړ کړي دی ، په دې آیتونوکې داسلام دمعاشي نظام یو ضروري اړخ بیان سوی دی چې دهغه دوې حصې دي .

(۱) دخپل ضرورت څخه زیات مال دالله ﷻ درضا دپاره په حاجتمندو اوغریبانو باندې دخرڅ کولو تعلیم دی چې صدقه اوخیرات ورته ویل کیږي .

(۲) دوهم دسود معامله یې حرامه کړه دهغه څخه دځان ساتلو هدایات دي ، ددې په اولو دوو رکوع ګانو کې دصدقو اوخیراتونو فضیلتونه اوښه والي طرف ته دخلګو مخه کول او ددې متعلق حکمونه او هدایات دي او وروستنې دوې رکوع ګانې دسودي کاروبار دحرام والي او دهغه څخه دمنع کولو او دقرض دجائزو طریقو بیان دی .

کوم آیتونه چې لوړ لیکل سوي دي ، په دوی کې اول دخدای ﷻ په لاره کې دخرڅولو دفضیلتونو اوښه والي بیان دی او تردې وروسته دداسې شرطونو بیان دی چې دهغه په وجه صدقه اوخیرات دالله ﷻ په نزد قبوله وي اوثواب ورباندې ورکیدې سي بیا دداسې شیانوبیان دي چې دانسان صدقه اوخیرات برباد کړي ، نیکي برباد ګناه لازم یعني د (هندو سترې خدای ناراض) متل ورڅخه جوړ سي .

ددې څخه وروسته یې دوه مثالونه بیان کړي دي ، یو دهغه صدقو اوخیراتونوپه باره کې چې دالله ﷻ په نزد قبولې وي ، دوهم دهغه خیراتونو اوصدقوپه باره کې چې نامقبولې او فاسدې وي .

دا پنځه (۵) مضامین دي چې په دې رکوع کې بیان سوي دي .

دلته په دی مضمونونو باندی دپوهیدلو ځخه اول دا خبره یادساتل په کار دی چی په قرآن کریم کی دالله ﷻ په لاره کی مال خرڅولو ته یو ځای لفظ دانفاق ویل سوی دی اویو ځای لفظ داطعام اویو ځای لفظ دصدقی اویوځای لفظ دایتاء الزکوٰة، دقرآن په دی الفاظو او ددی ځای په ځای استعمال چی نظر واچول سی نو معلومیږی چی لفظ دانفاق اطعام اوصدقی عام دی چی هرقسم صدقو خیراتونو او دالله ﷻ درضا حاصلولو دپاره مال خرڅولو ته ویل کیږی برابره خبره ده که فرض او واجب وی اوکه نفلی اومستحب وی او دفرض زکوٰة دپاره قرآن کریم یو ممتاز لفظ د اِیتَاء الزکوٰة استعمال کړي دی چی په دی کی دی طرف ته اشاره ده چی ددی خاص صدقی دپاره دمال حاصلولو او دخرڅولو دواړو دپاره څه خصوصیات دی.

په دی رکوع کی اکثر په لفظ دانفاق سره اویوځای په لفظ دصدقی سره تعبیر سوی دی چی دا ورڅخه معلومیږی چی دلته دعامو صدقو او خیر وخیرات بیان دی اوکوم احکام چی دلته ذکر سوی دی هغه دهرقسم صدقو اودالله ﷻ په لاره کی خرڅ کولو لره او ددی ټولو صورتونو لره شامل دی اوټول په کښی دا خل دی.

(دالله ﷻ په لاره کي دخرڅولو یو مثال)

- په اول آیت کی یی فرمایلی دی چی کوم خلک دالله ﷻ په لاره کی خرڅ کوی ، یعنی په حج کی یاپه جهاد کی یاپه فقیرانو مسکینانو اوپه کونډو یتیمانو یاپه نیت دامداد په خپلو خپلوانو دوستانو باندی ، نو ددی مثال داسی دی لکه چی یو سړی دغنمو یوه دانه په ښه مځکه کی وکری ، ددی دانی څخه دغنمو یو بوټی وسی او په هغه کی اووه وږی پیداسی او په هر وږی کی سل دانی وی چی نتیجه یی دا سوه چی دیوی دانی څخه اووه سوه دانی حاصلی سوی.

نو مطلب یی دا سوچی دالله ﷻ په لاره کی دخرڅ کوونکی اجر اوثواب دیوه څخه واخله تراووه سوه پوری رسیږی چی یوه پیسه خرڅه کی نو د اووه سوه پیسو خرڅولو ثواب به ورته ورسیږی.

په صحیح او معتبرو احادیثو کی دی چی دیوی نیکی ثواب لس چنده ورکول کیږی او اووه سوه چنده ته رسیږی ، حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ فرمایلی دی چی په جهاد اوحج کی په یوه روپی خرڅولو سره ثواب داووه سوه روپو برابردی ، دا روایت ابن کثیرپه حواله دمسند امام احمدبیان کړي دی.

غرض دا دی چی دی آیت دا خبره وښوولله چی د الله ﷻ په لاره کی دیوی روپی خرڅوونکی ثواب د اووه سوه روپو دخرڅولو برابر ورکول کیږی.

(دصدقو قبلیدو مثبت شرطونه)

قرآن کریم دا مضون په ځای ددی چی په لنډو اوصافو الفاظو کی بیان کړی دغنم ددانی دمثال په صورت کی یی بیان کی چی په دی کی دی خبری ته اشاره ده چی څه رنګه زمیندار دغنم دیوی دانی

څخه اوه سوه داني په هغه صورت کي حاصلولی سی کله چی دا دانه دغنم بنه وی خرابه نه وی اودانه کرونکی زمیندارهم دزمینداری په فن کی پوه اوماهر وی اوپه کومه مځکه کی چی دغه دا نه کری هغه مځکه هم ښه وی ، څکه چی په دی کی که یوشی هم کم سی نو یاخو به دغه تخم ضائع سی یوه دانه به ورڅخه هم ونه سی اویابه داسی بارونکی چی اووه سوه دانی ورڅخه وسی .

دغه شان دعامو نیکو عملونو اوخاص کردخدای ﷻ په لاره کی دخرڅولو دقبولیت اوزیات اجر دپاره هم دا شرطونه دی چی کوم مال دالله ﷻ په لار کی خرڅوی هغه پاك اوحلال وی څکه چی په حدیث شریف کی راځی چی الله ﷻ دپاك اوحلال مال څخه ماسوا څه شی نه قبلوی .

دوهم خرڅوونکی به هم نیك نیته اوصالح وی، بدنیته یادنوم اونمایش دپاره خرڅ کوونکی دهغه ناپوهه زمیندارپه شان دی چی دا نه په یو داسی ځای کی وغورځوی چی هغه ضائع سی .

دریم چاته چی یی ورکوی هغه به هم دصدقی اخیستو مستحق وی یو غیرمستحق ته یی ورنه کی چی ضائع نه سی .

دغه شان په دی مثال سره دالله ﷻ په لاره کی دخرڅولو لوی فضیلت هم معلوم سو او ورسره یی دری شرطونه هم بیان سوه ، چی مال دی حلال خرڅوی او دخرڅولو طریقه دی هم دسنتو مطابق وی اومستحق دی تلاش کوی په هغوی دی خرڅوی ، محض دجیب څخه په را ایستلو اوغورځولو سره دا فضیلت اوښه والی نه سی حاصلیدی .

په دوهم آیت کی یی دصدقی ورکولو دصحیح اوسنت طریقی بیان داسی وفرمایی چی کوم خلګ دالله ﷻ په لاره کی خرڅ کوی بیاتر ورکولو وروسته وربانډی نه احسان اچوی اونه ورته څه ضرر رسوی نو د دوی ثواب د دوی درب سره محفوظ دی ، نه په دوی بانډی دراتلونکی دپاره څه بیره سته اونه به پرتیر بانډی څه غمجن سی .

(دصدقي دقبوليت منفي شرطونه)

په دی آیت کی یی دصدقی دقبلیدودوه منفی شرطونه بیان کړي دی یوداچی ور یی کی نوبیایی احسان نه وربانډی اچوی دوهم دا چی چا ته یی ورکی هغه ذلیل اوخوارنه ګڼی اوڅه داسی سلوك ورسره نه کوی چی په هغه سره هغه خپل سپکاوی او ذلت محسوس کړی یاده ته څه ضرر په دی سره ورسیږی .

په دریم آیت : قَوْلٌ مَّعْرُوفٌ : سره هم دصدقو او خیراتونو دالله ﷻ په نزد دقبلیدو ددی دوه شرطونه زیات وضاحت وسو دکومو بیان چی تردی په مخکی آیت کی سوي دی ، یو دا چی دمال خرڅولو دالله ﷻ په لاره کی په چا احسان مه کوی ، دوهم دا هرچا ته چی یی ورکی دهغه سره داسی سلوك مه کوی چی هغه خپل ذلت اوسپکاوی په محسوس کی یاچی ضرر ورته ورسیږی .

وضاحت یی داسی وکی چی دغریبی یامعذوری په حالت کی دسوال کوونکی په جواب کی څه معقول

او مناسب عذر پیش کول اوکه سوال کوونکی دبی عقلی په وجه غصه درولی نو معافی کول ورته په زر درجې ښه دي تر داسې خیرات ورکولو چې وروسته ضرر په ورسول سي (یعنی بدی ردی ورته ووایي) او الله ﷻ په خپله غني (بی حاجته) دی ، او بردباره دی ، دهغه دچامال ته حاجت نسته څوك چې څه خرڅوي دخپلې نفعې دپاره یي کوي ، نو یوه هوښیار سړي ته دخرڅ کولو په وخت کی ددی خبری لحاظ ساتل په کار دی چې زما په چا احسان نسته ، زه دخپلې نفعې اوخپلې فائدې دپاره خرڅ کوم ، اوکه دخلګو دطرفه څه ناشکري هم محسوس کی نو دالهي اخلاقو په ډول دی دمعافی او درګذر څخه کار اخلی .

په څلورم آیت کی یې هم دغه مضمون په بل عنوان سره نور هم په تاکید سره داسې وفرمایی چې خپل صدقات دڅبي په احسان اچولو یاپه ضرر رسولو سره مه برباد وی ، ددی څخه دا خبره معلومه سوه چې ترکومې صدقې اوخیرات وروسته احسانونه یاچاته چې یې ورکړی وی هغه ته دضرر رسولو څه قسم صورت وسي ، نو هغه صدقه باطله او دنست برابره ده په هغه هیڅ ثواب نه ملاویږي ، په دی آیت کی یې دصدقې دقبلیدو دیوبل شرط داسې بیان فرمایلی دی چې کوم سړی خلګوته دځان ښوولو او دنوم نمایش دپاره خرڅ کوی ، او په الله ﷻ اوپه ورځ دقیامت ایمان لري ، دده مثال داسې دی لکه چې پریوه صافه اوهواره ډبره باندی څه خاوره ولویږي اوپه دغه کی څوك تخم وکري، بیاپه دی باندی دباران شیبه راسي او هغه دغه ډبره بالکل صافه کی داسې خلګو ته به دخپلې ګټې څخه هیڅ هم په لاس ورنه سي او الله ﷻ کافرانو ته لار نه ښیي ددی څخه دصدقې اوخیر خیرات دقبولیت دا شرط هم معلوم سو چې خالص دالله ﷻ درضا دحاصلولو او دآخرت دثواب په نیت سره دی خرڅ کوی ، دځان ښوولو اونوم اونمایش په نیت سره دی نه وی دنوم ونمائش په نیت سره خرڅ کول خپل مال بربادول دی ، او په آخرت ایمان لرونکی مومن هم که څه خیرات خاص دنوم نمائش اوریاء دپاره کوی ، نو دهغه هم دا حال دی چې ده ته هیڅ ثواب نه ملاویږي ، بیادلته د لَاَ يُؤْمِنُوْنَ بِاللهِ : په زیاتولو سره شاید دی طرف ته اشاره کول دی چې ریاء کاری او دنوم ونمائش دپاره دکار کولو دداسې سړي څخه تصور هم نه سی کیدی چې په الله ﷻ او په ورځ دآخرت باندی ایمان لري ریاکاری دده په ایمان کی دخلل نښانه ده .

دآیت په آخرکی چې کوم دا ارشاد دی چې الله ﷻ کافرانو ته لار نه ښیي ددی مطلب دا دی چې دالله ﷻ لیږل سوی هدایتونه اوآیتونه کوم چې دټولو خلګو دپاره عام دی ، کافران چې دی هدایاتو ته نه ګوری بلکه مسخري اوټوقې ورپوری کوی ، ددی په نتیجه کی الله ﷻ دوی دتوفیق څخه محرومه کوی چې دهغه اثر داسې وسي چې دوی څه هدایت قبول نه کی .

په پنځم آیت کی یې دقبولې سوی صدقې اوخرڅ یومثال بیان کی چې کوم خلګ خپل مال خالص دالله ﷻ درضا دحاصلولو په نیت سره خرڅ کوی چې په خپلو نفسونوکی پوخ والی پیدا کی ، د دوی مثال

داسي دی لکه چې يوباغ وی په لوړځای باندی اوپه دی باندی په شيبو باران راسی بياهغه خپله ميوه دوچنده ونيسی اوکه داسی په شيبو باران هم پر ونه سی نو لږ څه پرخه (نري باران هم ددی دپاره بس ده، اوالله ﷻ ستاسی کارونه ښه وينی اوپوه دی په هغو باندي .

په دی کی داخلاص دنيت اوشرطونو په پوره کولو سره سره دالله ﷻ په لاره کی دخرڅ کوونکی لوی ښه والي په دی مثال سره واضح سو ، چې په نيك نيتی اواخلاص سره که لږخرڅ هم وسی نو هغه ډير دی او دآخرت دفائدی او نفعی سبب دی .

په شپږم آيت کی يی په صدقه او خيرات کی د ذکر سوو شرطونو په خلاف کولو دصدقی دباطليدو او رد کيدو بيان هم په يو مثال سره داسی ښکاره کی چې آياپه تاسی کی دچا دا خبره خوښه ده چې دده يوباغ وی دخرماؤ او دانګورو او لاندی تردی نهرونه بهيږی او ددی سړی په دی باغ کی هرقسم ميوی وی او دا سړی بوډا سوی وی او دده اهل وعيال هم وی چې کمزوری وی او په دی حالت کی پردی باغ باندی دسيلی يوه څپه راسی چې اور په کښی وی بيا دغه وسوځی ، الله ﷻ دغه شان مثالونه بيانوی ستاسی دپاره چې تاسی سوچ وکی .

مطلب دا دی چې ددغه شرطونو څخه خلاف دصدقه کوونکی مثال داسی دی چې په ظاهره خو دی صدقه کوی دآخرت دپاره ډيره پانګه جمع کوی ، ليکن دالله ﷻ په نزد دا پانګه (ذخيره) په هيڅ کارهم نه ورځی.

او په دی مثال کی چې يی يوڅو قيدونه زيات کړي دی چې دی زوړ سوی وی اولاد يی هم دی او دغه اولاد يی کوچنيان اوکمزوری ضعيفان دی ، ددی قيدونو مقصد دا دی چې دځوانی په حالت کی که دچا باغ يافصل وسوزی نو دا اميد کيدی سی چې بيابه باغ ولګوی ، او دکوم سړی چې اولاد نه وی اود دوباره باغ لګولو اميد يی هم نه وی ، نو دباغ ترسوزيدو وروسته هم دده سره دمعاش څه خاص فکر نه وی ، يوازی سړی هرڅنګه چې وی په لنډه تنګه کی ګذاره کولی سی، اوچې اولاديی هم وی مګر ځوانان اوصالحان وی نواميد ورڅخه کيدی سی چې دپلار کار به روان کی او مدد به يی وکی ، په داسی صورت کی هم انسان ته دباغ په سوزيدو څه خاص فکر اوپريشانی نه وی ، ځکه چې داولاد فکر نه وی ورسره ، بلکه اولاد دده بار هم لوړولی سی ، غرض دا دی چې په دی درو قيدونو ذکر کولو سره يی دده ډير احتياج بيان کی ، چې داسی سړی چې هغه خپل مال او طاقت خرڅ کړی وی اويوباغ يی لګولی وی او هغه باغ تيارسی ميوه هم ونيسی او په دی حالت کی بياده ته زوړوالی راغلی وی کمزوری سوی وی او ددی سړی اولاد هم وی او اولاد بياداسی چې واړه اوکمزوری کوچنيان وی نوپه دی حالت کی چې دده دغه لګولی باغ وسوزی نوځومره سخت غم به وی اوځومره لوی تکليف به وی .

دغه ډول کوم سړی چې په رياکاری سره صدقه او خيرات وکی نو دا ګواکی ده يوباغ ولګوی بيا

ترمرګ وروسته دده حال ددغه بوډا په شان سو چې دګتې او دوباره باغ لګولو قدرت نه لري ، څکه چې ترمرګ وروسته بیاهیڅ عمل هم نه سی کولی او لکه څنګه چې عیالداره بوډا دی خبرې ته زیات محتاجه وی چې تیره ګټه دده محفوظه وی چې اوس یې په کار ورسی نو چې یوه طرف ته په ده دا حالت راسی اوبل طرف ته دده باغ او مال متاع هرڅه وسوزی نو دده دغم او درد خو به څه انتهانه وی ، دغه شان دا صدقه او خیرات چې دریا او نوم او نمایش دپاره سوی وی ، عین په داسی وخت کی به دلاسه ولاړ سی چې دغه وخت به ورته دی دیر زیات حاجتمندوی .

ددی ټول آیت لنډ مطلب دا سو چې دخیر او خیرات دالله ﷻ په نزد دقبلیدو لوی شرط اخلاص دی ، چې خاص دالله ﷻ درضا حاصلولو دپاره وسی هیڅ قسم نوم نمائش په دی کی نه وی ، اوس چې ددی ټولی رکوع په ټولو آیتونو باندی بیا بیا نظر واچول سی نو په دی کی دالله ﷻ په لاره کی دخرڅ کولو او دصدقو او خیراتونو دالله ﷻ په نزد دقبلیدو دپاره شپږ شرطونه معلوم سوه ، اول دا چې کوم مال دخدای ﷻ په لار کی خرڅوی هغه حلال وی ، دوهم چې په سنت طریقه خرڅ سی ، دریم چې په صحیح ځای کی خرڅ سی ، څلورم چې تر خیرات ورکولو وروسته احسان (یعنی تکبر اوځان لوی ګڼل) به نه کوی پنځم چاته چې یې ورکړی وی دهغوی سپکاوی بیا نه کوی ، شپږم څه خیرات چې کوی نوچې داخلاص دنیت سره یې خرڅوی یعنی اخلاص په کښې وی ، مطلب یې خاص دالله ﷻ رضا وی نوم اونمائش په کښې نه وی .

د دوهم شرط یعنی دسنتو په طریقه دخرڅولو مطلب دا دی ، چې دالله ﷻ په لاره کی دخرڅ کولو په وخت کی به ددی خبری خیال ساتی چې دیو چا حقدار حق ونه وهل سی دخپل اهل وعیال ضروری خرڅ کمول یابندول بغیر دهغو درضا څخه او دغه مال صدقه اوخیرات کول دثواب کار نه دی حاجتمند وارثان محرومه کول اوټول مال صدقه اوخیرات کول یاوقف کول دسنتو څخه خلاف دی دالله ﷻ په لاره کی دخرڅولو په زرګونو صورتونه دی .

دسنت طریقه دا ده چې په کوم ځای کی دصدقی یا خیرات مال خرڅوی اوځایونه دخرڅ یې ګڼی چې کوم مصرف په کښې زیات ضروری وی په هغه کی دی ورکوی ، اکثره خلک دی ته نه ګوری .

د دریم شرط مطلب دا دی چې دثواب حاصلولو دپاره یوازی دومره خبره کافی نه ده چې دی په خپل خیال سره یو کار نیک وګڼی او په نیک نیت سره یې هلته ولګوی ، بلکه دا کتل هم ضروری دی چې دغه ځای دشریعت په لحاظ سره هم نیک اوښه دی اوکه نه ، یو سړی دنا جائزو لوبو اوتماشو دپاره خپل جایداد وقف کی نو په ځای دثواب به دعذاب لائق سی ، دغه حال دټولو هغو کارونو دی کوم چې دشریعت په لحاظ سره ښه اونیك نه وی (یعنی په کار دی چې خپله صدقه او خیرات په داسی ځای کی ولګوی چې دده دپاره ثواب وګټی نه چې عذاب ورلره وګټی)

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْفِقُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ

ای مؤمنانو ! خرڅ کوی پاک شیان

مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّآ اَخْرَجْنَا لَكُمْ مِّنَ الْاَرْضِ ۠ وَلَا تَيَمَّمُوا

دخپلی گټی څخه او دهغه شی څخه چی مونږ پیدا کړی دی ستاسی دپاره دمځکی څخه اوقصد مه کوی

الْخَبِيْثَ مِنْهُ تُنْفِقُوْنَ وَلَسْتُمْ بِاٰخِذِيْهِ اِلَّآ اَنْ تُغْمِضُوْا

دگنده شی دهغه څخه چی تاسی یی خرڅ کوی حال دا دی چی تاسی به دغه چیری وا نه خلی مگر داچی سترگی

فِيْهِ ۭ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ حَمِيْدٌ ۝٢٦٧ اَلشَّيْطٰنُ يَعِدُكُمُ

پټی کړی اوپوه سی چی الله تعالی بی پروا دی ، ستائل سوی ، شیطان وعده کوی ستاسی سره

الْفَقْرَ وَيَاْمُرُكُمْ بِالْفَحْشَاۗءِ ۚ وَاللّٰهُ يَعِدُكُمْ مَّغْفِرَةً مِّنْهُ

دتنگدستی او حکم درته کوی دبی حیایی او الله وعده کوی ستاسی سره دخپل مغفرت

وَفَضْلًا ۭ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ۝٢٦٨ يُّؤْتِي الْحِكْمَةَ مَنْ يَّشَاۗءُ ۚ

او دفضل ، او الله تعالی دیر فراخی والا دی تول هرڅه پیژنی ، ورکوی پوه هغه چا ته چی غواړی

وَمَنْ يُّؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ اُوْتِيَ خَيْرًا كَثِيْرًا ۭ وَمَا يَذَّكَّرُ اِلَّآ

او چا ته چی ورکول سی پوه نو هغه ته ورکړل سو دیر خیر او نصیحت هغه څوک

اُولُوا الْاَلْبَابِ ۝٢٦٩ وَمَآ اَنْفَقْتُمْ مِّنْ نَّفَقَةٍ اَوْ نَذَرْتُمْ مِّنْ

قبلوی چی دعقل خاوندان دی ، او هغه چی خرڅ کوی تاسی څه خیرات ، او یامنی تاسی څه

نَّذْرٍ فَاِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُهٗ ۭ وَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ اَنْصَارٍ ۝٢٧٠ اِنْ

نذر نو بیشکه الله تعالی ته هرڅه معلوم دی او دظالمانو هیڅوک مدد گار نسته ، که

تُبْدُوا الصَّدَقٰتِ فَنِعِمَّا ھِيَ ۚ وَاِنْ تُخْفُوْھَا وَتُؤْتُوْھَا الْفُقَرَاۗءَ

ښکاره ورکوی خیرات نوڅه ښه خبره ده او که پټ یی ورکوی او رسوی یی فقیرانو ته

فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۚ وَيُكَفِّرُ عَنكُم مِّن سَيِّـَٔاتِكُمْ ۗ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ

نو داغوره ده ستاسی په حق کی اولیری به کړی ستاسی څخه ګناه ستاسی او الله تعالی ستاسی دکارونو

خَبِيرٌ ﴿٢٧١﴾ لَّيْسَ عَلَيْكَ هُدَاهُمْ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَن يَشَاءُ ۗ

څخه ښه خبردی ، نه دی په ذمه ستا په لاری کول د دوی لیکن الله تعالی په لاری کوی هغه چالره چی غواړی

وَمَا تُنفِقُوا مِنْ خَيْرٍ فَلِأَنفُسِكُمْ ۚ وَمَا تُنفِقُونَ إِلَّا ابْتِغَاءَ

او څه چی خرڅ کوئ تاسی مال نو دخپل ځان دپاره ترڅو پوری چی خرڅ کوی دالله تعالی درضا حاصلولو

وَجْهِ اللَّهِ ۚ وَمَا تُنفِقُوا مِنْ خَيْرٍ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنتُمْ لَا تُظْلَمُونَ ﴿٢٧٢﴾

دپاره ، او څه چی خرڅ کوی خیرات ، پس پوره به ورکول سی تاسی ته او ستاسی څه حق به پاته نه سی

لِلْفُقَرَاءِ الَّذِينَ أُحْصِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ لَا يَسْتَطِيعُونَ

خیرات دهغه فقیرانو دپاره دی چی بند سوی دی دالله تعالی په لاره کی ګرځیدی نه سی

ضَرْبًا فِي الْأَرْضِ يَحْسَبُهُمُ الْجَاهِلُ أَغْنِيَاءَ مِنَ التَّعَفُّفِ

په مځکه کی ګمان کوی پر دوی ناخبره (خلق) دمالداروڅخه دسوال نه کولو په وجه

تَعْرِفُهُم بِسِيمَاهُمْ لَا يَسْأَلُونَ النَّاسَ إِلْحَافًا ۗ وَمَا تُنفِقُوا

ته به پیژنی دوی دمخانو د دوی څخه سوال نه کوی دخلقو څخه داسی چی ورپوری ومنښلی ، اوڅه چی خرڅ کوی

مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ ﴿٢٧٣﴾ الَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُم

دکار شی ، پس بیشکه الله تعالی ته معلوم دی کوم خلق چی خرڅ کوی خپل مال (دالله په لار کی)

بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ سِرًّا وَعَلَانِيَةً فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ

دشپی او دورځی په پټه او په ښکاره پس دوی لره دی ، ثواب د دوی دخپل رب سره

وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٢٧٤﴾

او نه به وی بیره په دوی باندی او نه به دوی غمجن وی

لنډتفسير: اى ايماندارو! (په نيك كاركى) خرڅوى ښه شى دخپلى ګټى څخه او (ښه شى لره) دهغه څخه
كوم چى مونږ ستاسى (په كار راوستلو) دپاره دمځكى څخه پيدا كى او د ردى (بيكاره) شى طرف ته
نيت مه كوى چى دهغه څخه خرڅ كى حالانكه (داسى شى كه څوك تاسى ته ستاسى دواجب حق په بدله
كى ياپه تُحفه كى دركوى نو) تاسى هيڅكله هم دهغه اخيستونكى نه ياست مګرچى سترګى په پټى
كى (اورعايت وكى نو دا بله خبره ده) او دا يقين ساتى چى دالله ﷻ چاته حاجت نسته (چى په داسى
بيكاره شيانو باندى خوشحاله سى) دستايني لايق دى (يعني په ذات اوصفات كى كامل دى نو دهغه
په دربار كى هم شى دكامل صفت لايق پيش كول په كار دى) شيطان تاسى دمحتاجى څخه بيروى (چى
كه خرڅ وكى يابنه مال خرڅ كى نو محتاج به سى) اوتاسى ته دبيكاره خبرى (يعنى بخل) مشوره
دركوى اوالله ﷻ ستاسى سره وعده كوى (دخرڅ كولواودښه شى دخرڅولو) دخپل طرف څخه دګناه
معاف كولو او دزيات دركولو (يعنى په نيك ځاى كى خرڅ كول عبادت دى اوپه عبادت سره دګناه
كفاره كيږى نوګناه هم په معاف كيږى اوالله ﷻ يو چا ته په دنياكى هم اوپه آخرت كى ټولوته دخرڅ
كولو بدله زياته دركوى) اوالله ﷻ فراخى والا دى (هغه هرڅه دركولى سى) ښه پوه دى (دنيت موافق
فائده دركوى ، او دا ټولى خبرى ښى ښكاره دى ليكن په دى هغه څوك پوهيږى دچاسره چى ددين پوه
وى اوالله ﷻ) ددين پوهه چاله چى غواړى نو دركوى يى او رښتيا خو دا ده چى) چاته ددين پوهه
حاصله سى ده ته ډيره لوى خيرشى حاصل سى (ځكه چى ددنيا يونعمت ددى غوندى فآئده مندنه دى)
اونصيحت هغه خلګ قبلوى چى عقل په كښى وى (يعنى چى څوك صحيح عقل لرى) اوتاسى خلګ
چى دڅه قسمه خرڅ كوى ياڅه نذر منى پس الله ﷻ يقيناًچى دټولو څخه خبر دى او دبى ځايه
كاركوونكو (په قيامت كى) څوك ملګرى (امدادى) به نه وى ، كه تاسى ښكاره دركوى صدقى نو هم
ښه خبره ده او پټوى يى او (په پټه سره يى) فقيرانو ته دركوى نو دا پټ والى ستاسى دپاره زيات ښه
دى او الله ﷻ به (ددى په بركت سره) ستاسى څه ګناهونه هم ليرى كى اوالله ﷻ ستاسى دكړو كارونو
څخه ښه خبردار دى (كله چى ډيرو اصحابو به كافرانوته په دى نيك خيال سره خيرات نه دركوى چى
شايد په دى تدبير سره څه خلګ مسلمانان سى او رسول الله ﷺ هم دا رايه وركړى وه په دى وجه په دى
آيت كى په دوو ډولو خطاب وسو فرمايى چى اى محمد ﷺ دا (كافران) په هدايت را وستل څه ستا په
ذمه (فرض واجب) نه دى (چى دهغه دپاره تردومره ليرى ليرى پورى غم كوى) ليكن (دا خود) خداى
(كاردى) چاته چى وغواړى په هدايت يى را ولى (ستاكار خو يوازى هدايت رسول دى برابره خبره ده كه
څوك په هدايت راځى اوكه نه راځى او دهدايت رسول څه په دى بنديز باندى موقوف نه دى) او (اى
مسلمانانو) هرڅه چى تاسى خرڅوى دخپلى فائدى په غرض سره يى كوى او (ددغه فائدى بيان دا دى
چى) تاسى په بل هيڅ غرض سره نه خرڅوى بغير درضا حاصلولو دالله ﷻ (چى ثواب ددى سره لازم دى

او دا دهر یوه حاجتمند په حاجت پوره کولو سره حاصلیږی نو بیا خاص والی په کښی دمسلمان فقیر ولی کوی) او (دارنګه) هرڅه مال چی خرڅوی دا تول (یعنی ددی بدله اوثواب) به پوره پوره (خاص تاسی ته په آخرت کی) حاصلیږی اوستاسی دپاره به په دی کی یوه ذره کمی ونه سی (نو تاسی ته دخپلی بدلی سره غرض ساتل په کار دی او بدله به په هرحال کی ملاویږی نوبیاستاسی ددی بحث سره څه غرض دی چی زموږ صدقه دی مسلمان ته ورکړل سی کافر ته دی ورنه کړل سی صدقی په) اصل کی دهغه حاجتمندو دی چی بند سوی وی دالله ﷻ په لار (یعنی ددین په خدمت) کی (او ددین په دی خدمت کی دبندیدو اومشغول پاته کیدو په وجه) دغه خلګ (دمعاش په تلاش کی) یوځای په ملك کی دګرځیدو راګرځیدو (عادةً) امکان نه لری (او) ناپوه په دوی دمالدارانو ګمان کوی د دوی دسوال څخه دځان ساتلو په سبب سره (خامخا) تاسی به داخلګ ددوی دطرز (شکل) څخه پیژندی سی (ځکه چی دلوږی څخه په مخونو اوبدنونوکی یوقسم مړاوی والی خامخا راځی او دغسی هم) دوی دخلګو څخه په مبنتلو سره سوال نه کوی (چی په دی سره یی څوك حاجتمند وګڼی ، یعنی ګرسره سوال نه کوی ځکه کوم خلګ چی دسوال عادت وی دوی په مبنتلو (یوځای کیدو) سره څه غواړی) او (ددی خلګو په خدمت کی چی کوم مال خرڅ کی بیشکه الله ﷻ ددی څخه بنه خبردی (دنورو خلګو ته یی دور کولو څخه د دوی په خدمت کی په خرڅ کولو سره به زیات ثواب درکی) کوم خلګ چی خرڅوی خپل مالونه دشپی او دورځی (یعنی بغیر دخاص کولو دوختونو څخه) پټ اوښکاره (یعنی بی خاص کولو دحال څخه) پس دی خلګوته به ددی ثواب ورسیږی (دقیامت په ورځ د دوی درب سره (چی ولاړ سی) اونه به وی (په دغه ورځ) په دوی څه بیره (راتلونکی) اونه به دوی غمجن وی.

معلومات اومسئلې: ددی څخه په مخکی رکوع کی دالله ﷻ په لاره کی دخرڅ کولو بیان وو، اوس ددی سره دمتعلق کارونو زیات بیان ددی رکوع په اووه آیتونوکی وسوچی تفصیل یی دا لاندی دی.

د یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْۤا اَنْفِقُوْا (څخه تر) غَنِیٌّ حَمِیْدٌ پوری په شان نزول کی یی دطیب معنٰی په عمده یعنی بنه شی سره کړي ده ځکه چی ځینو خلګو به خراب شیان راوړه ، نو دا آیت پری نازل سو اوځینو دلفظ دعموم په وجه دطیب معنٰی په حلال سره کړي ده ، ځکه چی پوره بنه والی هلته راځی چی حلال هم وی نوپه دی وجه په آیت کی ددی هم تاکید وسو او په اولنی تفسیر په نورو دلیلونو سره ددی تاکید ثابتیږی اویاد ساته چی دا دهغه سړی دپاره دی چی دچاسره عمده شی وی اوسره ددی بیا دی بیکاره اوخراب شی خیرات کوی ، لکه څنګه چی لفظ د مَاکَسَبْتُمْ اود اَخْرَجْنَا دبنه شی پرسته والی دلالت کوی او لَا تَیَمَّمُوا الْخَبِیْثَ مِنْهُ تُنْفِقُوْنَ قصداً دبیکاره اوخراب شی په خرڅولو باندی دلالت کوی ، او دچاسره چی عمده یعنی بنه شی ګرسره نه وی هغه ددی ممانعت څخه آزاد دی او دهغه دغه بیکاره شی هم مقبول دی ، دلفظ دمَاکَسَبْتُمْ څخه ځینی عالمانو دا مسئله هم را ایستلی ده چی پلار ته دخپل زوی

دګټې څخه خوړل جائز دي ، دوجې څخه ددې قول دنبي ﷺ .

اَوۡلَادُکُمۡ مِنۡ طَیِّبِ اَکۡسَابِکُمۡ فَکُلُوۡا مِنۡ اَمۡوَالِ اَوۡلَادِکُمۡ هَنِیۡئًا (قرطبی)

ستاسي اولاد ستاسي دګټې يوه پاکيزه برخه ده نو تاسي دخپل اولاد دګټې څخه په خوند سره خوري .

(دمځکي دعشر حکمونه)

په : مِمَّا اَخۡرَجۡنَا لَکُمۡ مِّنَ الۡاَرۡضِ دلفظ د اَخۡرَجۡنَا اشاره دي طرف ته ده چي په عشري مځکه کي عشرواجب دي ، ددې آيت دعموم څخه امام ابوحنيفه رحمه الله دا دليل نيولی دی چي دعشري مځکي په هرلږ او ډير پيداوار کي عشر واجب دي ، دسورة انعام آيت ، اٰتُوۡا حَقَّهٗ یَوۡمَ حَصَادِهٖ په واجب والي دعشر باندي بالکل واضح اوښکاره دي ، عشر اوخراج داسلامي شريعت دوه اصطلاحي لفظونه دي ، په دې دواړوکي يوه خبره شريکه ده چي داسلامي حکومت دطرفه دا دواړه په مځکو اينښوول سوي ټکيس دي ، فرق دا دی چي عشر يوازي ټيکس نه دی ، بلکه ددې اصلي حيثيت دمالي عبادت دي دزکوٰة په شان په دې وجه دي ته دمځکي زکوٰة هم وايي ، او خراج خالص ټيکس دی چي په هغه کي دعبادت هيڅ حيثيت نسته ، مسلمان کله چي دعبادت اهل اوپابند دي ، دده څخه چي دمځکي دپيداوار کومه حصه اخيستل کيږي دي ته عُشر وايي ، اوغير مسلم دعبادت اهل نه دی نو د دوی په مځکو چي څه لګول کيږي دهغه نوم خراج دی ، په عملي طورسره په زکوٰة اوعشرکي دا فرق هم دی چي په سرو سپينو او دتجارت په مال کي زکوٰة هلته فرض کيږي چي کال پرتير سي، اوپه عشرکي چي دمځکي څخه فصل کله حاصل سي نو واجب کيږي .

دوهم فرق يې دا هم دی چي که مځکه فصل ونه کي نو عشرورباندي نسته ، ليکن په سرو سپينو او دتجارت په مال کي که څه نفع هم ونه سي خو چي کال پرتيرسي زکوٰة پرفرض وي، داموقع دعشر اوخراج دمسئلو دتفصيل نه ده ، دفقهي په کتابونوکي سته اواحقر (يعني مفتي محمدشفيع صاحب رحمه الله) په خپل کتاب (نظام الاراضي) کي په تفصيل سره ليکلي دي ، چي په کښي دپاکستان اوهندوستان دمځکو خاص احکام هم ليکل سوي دي .

اَلشَّیۡطٰنُ یَعِدُکُمُ الۡفَقۡرَ (تر) وَمَا یَذَّکَّرُ اِلَّاۤ اُولُوا الۡاَلۡبَابِ . پوري ، هرکله چي دچاپه زړه کي دا خيال راسي چي که خيرات وکړم نوغريب به سم او دالله ﷻ دا تاکيدي بيان واوري بيايي هم زړه نه کيږي او زړه يي مال خرڅ کول نه غواړي او دالله ﷻ دا وعدي شاته وغورځوي او دشيطان وعدي يي زړه ته ولويږي او اعتماد يي وي باندي ، نو دي دي دا يقين وکړي چي دا دشيطان خبري دي ، داسي دي نه وايي چي شيطان خو ما هيڅ وخت ليدلی هم نه دی نو حکم به څنګه را ته کوي اوکه داسي يي په خيال اوزړه کي راځي چي په خيرات اوصدقې سره به مي ګناهونه وبخښل سي او مال به مي هم ترقي وکي اوبرکت به په کښي راسي نو دي دي پوه سي چي دا خبري دالله ﷻ دطرفه دي او دالله ﷻ شکر دي ادا کي ، او

دالله ﷻ په خزانو کې هیڅ کمی نسته ، دهرچاپه ظاهر باطن نیت اوعمل بنه پوه دی .

(دحکمت معنی اوتفسیر)

يُؤْتِي الحِكْمَةَ مَنْ يَّشَآءُ : لفظ دحکمت په قرآن کریم کې وار وار راغلی دی اوهرځا ددی په تفسیرکی مختلفی معناوی بیان سوی دی ، په تفسیر دبحرمحیط کې یی په دی ځای کې دتفسیر کونکو تول قولونه جمع کړي دی چی تقریبًا دیرش ۳۰ دی ، لیکن په آخرکی فرمایی چی په حقیقت کی دا تول قولونه یو بل ته نژدی دی ، په دوی کې څه اختلاف نسته ، یوازی دتعبیرونو فرق دی ، څکه چی لفظ د حِكْمَتْ د اِحْكَام دالف : په زیر سره مصدر دی چی معنٰی یی دا ده ، یو کار یاوینا دهغه دټولو صفتونو سره پوره اومکمله کول .

نو په دی وجه په بحرمحیط کې دسورة بقرة د اٰتٰهُ اللّٰهُ المُلْكَ وَالحِكْمَةَ کوم چی دحضرت داودؑ په باره کی دی په تفسیرکی فرمایی .

وَالحِكْمَةُ وَضْعُ الأُمُوْرِ فِي مَحَلِّهَا عَلَى الصَّوَاب وَكَمَالُ ذٰلِكَ اِنَّمَا يَحْصُلُ بِالنُّبُوَّةِ (دحکمت اصلی معنٰی هر شی په خپل محل کی لرل دی او ددی کمال یوازی په نبوت سره کیدی سی) نو څکه دلته دحکمت تفسیر په نبوت سره سوی دی ، امام راغب اصفهانی رحمه الله په مفردات القرآن کی فرمایی چی لفظ دحکمت کله چی دالله ﷻ دپاره استعمال سی نو معنٰی یی دټولو شیانو پوره پیژندګلوی او محکم ایجاد وی ، اوهرکله چی نسبت یی دغیر الله طرف ته وسی نو دموجوداتو صحیح پیژندګلوی او دهغه مطابق عمل ورڅخه مراد وی .

ددی مفهوم ډیرتعبیرونه په مختلفو الفاظو کی سوی دی ځینی ځای ددی څخه مراد قرآن دی په ځینی ځای کی حدیث ، په څه ځای کی صحیح علم اویو ځای نیك عمل یو ځای رښتیا وینا یوځای روغ عقل یوځای پوه په دین کی یو ځای درایی صحیح والی اویوځای دخدای ﷻ بیره او دا آخری معنٰی خوپه خپله په حدیث کی هم ذکرده ، رَأسُ الحِكْمَةِ خَشْيَةُ الله : یعنی اصلی حکمت دخدای ﷻ څخه بیره ده ، او په آیت: يُعَلِّمُهُمُ الكِتٰبَ وَالحِكْمَةَ کی دحکمت تفسیر دصحابه وُ رضی الله عنهم اوتابعینو رحمهم الله څخه ، حدیث او سنت نقل دی ، اوځینو حضراتو فرمایلی دی چی په دی آیت کی دلته د يُؤْتَ الحِكْمَةَ څخه دا تول شیان مراد دی (بحرمحیط ص ۳۲ ج ۲)

اوظاهرقول دادی اودقرآن دارشاد وَمَنْ يُّؤْتَ الحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا : څخه هم دی طرف ته اشاره راوزی ، چی معنٰی یی دا ده چی چاته حکمت ورکړل سو نوهغه ته ډیر لوی خیر ورکړل سو ، والله اعلم

وَمَآ اَنْفَقْتُمْ مِّنْ نَّفَقَةٍ (څخه تر) وَمَالِلظّٰلِمِیْنَ مِنْ اَنْصَارٍ (پوری) په څه قسم خرڅ کولو کی تول خرڅونه راغله ، هغه خرڅونه هم په کوموکی چی دذکر سوو تولو شرطونو لحاظ ساتل سوی وی اوهغه هم په کوموکی چی دتولو یادځینو لحاظ نه وی ساتل سوی ، مثلاً دالله ﷻ په لاره کی نه وی ، بلکه په کار دګناه کی

وی یا ریا په کښې شامله وی سوی یاخرځ وکی بیا احسان پراچوی یاحلال اوښه مال نه وی دغه شان دنذرپه عام والی کی تول نذرونه راغله ، مثلاً دمالی عبادت نذر (منخته) وی ، اوپه دی مناسبت سره یی دانفاق سره نذر راوړی دی ، یا دبدنی عبادت نذر وی ، بیا هغه مطلق او یا په یوکار پوری پیوست وی بیایی دا پوره کړی وی او مقصود ددی وینا څخه دا دی چی الله ﷻ ته ددی ټولو شیانو علم دی ، هغه به ددی جزا ورکړی او ددی اوزونه یی ځکه وکړه چی دمقرره شرطونو دلحاظ ساتلو طرف ته دخلګو مینه پیدا سی او ددی په لحاظ نه ساتلو وبیرول سی ، او دبی ځایه کار کوونکو خلګو څخه هغه خوك مراد دی چی دضروری شرطونو لحاظ نه ساتی نو دوی ته یی ښکاره سزا واوروله .

إِنْ تُبْدُوا الصَّدَقَاتِ فَنِعِمَّا هِيَ (څخه تر) وَاللهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ .

(پوری) په ظاهره دا آیت فرض اونفل ټولو صدقوته شامل دی اوپه ټولوکی پټوالی ښه دی په دی کی دینی مصلحت هم دی چی ریاء په کښې نه وی اخیستونکی هم نه شرمیږی او ددنیا خیرپه کښې هم دی ، چی دمال اندازه یی عامو خلګو ته نه لګیږی ، اودپټ خیرات ورکولو ښه والی فی نفسه (ذاتی) دی ، نو که په یوځای کی په څه وجه سره لکه دتهمت دلیری کولو په وجه یادنورو خلګو دی طرف ته دمخ کولو دپاره خیرات په ښکاره ورکول ددغه ښه والی سره څه منافات نه لری ، یعنی ښه والی به یی په ځای وی يُكَفِّرُ عَنكُم مِّن سَيِّئَاتِكُمْ : دګناهونو رژیدل په پټ والی سره خاص نه دی ، یوازی په دی خبره باندی دخبرولو دپاره دلته په اخفاء (پټ) سره ذکر وکی چی که په پټ ورکولوکی یی تاسی ته څه ظاهری فائده په نظر را نه سی ، نو په دی خفګان مه کوه ځکه چی ستاسی ګناهونه الله ﷻ معاف کوی ، او دا ستاسی دپاره یوه لویه فائده ده .

لَيْسَ عَلَيْكَ هُدَاهُمْ (څخه تر) وَأَنْتُمْ لَا تُظْلَمُونَ (پوری) په دی آیت کی دا وښوول سوه چی نیت هم ستاسی په اصل کی دخپلی فائدی دحاصلولو دی او په حقیقت کی به هم فائده ستاسی وی ، نو بیاولی دی زیاتی خبروته ګوری چی دا فائده دی هم خاص په دی طریقه حاصله سی چی صدقه دی خاص مسلمان ته ورکړل سی کافر ته دی ورنه کړل سی .

دلته په دی خبره هم پوه سه چی ددی صدقی څخه مراد نفلی صدقه ده چی ذمی کافر ته یی هم ورکول جائز دی ، واجب صدقه ورڅخه مراد نه ده ، ځکه چی واجب صدقه ماسوا دمسلمان څخه بل چاته ورکول جائز نه دی (مظهری)

مسئله: حربی کافر ته هیڅ قسم صدقه او نور ورکول جائز نه دی .

مسئله : کافر ذمی یعنی غیر حربی ته یوازی زکوٰة او عشر ورکول جائز نه دی او نوری واجب صدقی او نفلی صدقی ورکول ورته جائز دی ، او په آیت کی زکوٰة دا خل نه دی .

لِلْفُقَرَاءِ الَّذِينَ أُحْصِرُوا فِي سَبِيلِ اللهِ (څخه تر) فَإِنَّ اللهَ بِهِ عَلِيمٌ (پوری) دلته دفقیرانو څخه مرادهغه ټول

خلک دی کوم چی ددینی شغل په وجه سره بل څه کار نه سی کولی (یعنی په دینی کارونو کی مشغوله وی کار او روزګار ته نه خلاصیږی)

يَحْسَبُهُمُ الْجَاهِلُ اَغْنِيَآءَ مِنَ التَّعَفُّفِ : ددی آیت څخه معلومه سوه چی که یو فقیر قیمتی کپړی اغوستی وی نو په دی وجه هغه ته غنی نه سی ویل کیدی بلکه ده ته به فقیر ویل کیږی او داسی سړی ته به زکوٰة ورکول هم صحیح وی ، تَعْرِفُهُمْ بِسِيْمَاهُمْ : ددی څخه معلومه سوه چی په نښو اونښانو لیدلو سره حکم لګول به هم صحیح وی (قرطبی) نو په دی وجه که یو مړی په داسی شکل سره پیدا سو چی زنار (لکتایی) یی په غاړه وه اوسنت سوی هم نه وو ، نو دی به دمسلمانانو په مقبره کی نه ښخیږی (قرطبی)

لَا يَسْئَلُوْنَ النَّاسَ اِلْحَافًا : ددی آیت څخه په ظاهره داسی معلومیږی چی دی دسوال کولو په وخت کی په چا پوری نه مبتلی خو نه مښتونکی هم په دی کی دا خل دی ورڅخه وتلی نه دی چی دځینو حضراتو هم دارنګه قول دی ، لیکن دجمهورو علماؤ په نزد یی معنٰی دا ده چی بالکل سوال نه کوی ، لِاَنَّهُمْ مُتَعَفِّفُوْنَ عَنِ الْمَسْاَلَةِ عِفَّةً تَامَّةً (قرطبی) (یعنی دوی ځان ساتی دسوال څخه په پوره ځان ساتلو سره)

اووم آیت اَلَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ بِالَّيْلِ وَالنَّهَارِ : په دی آیت کی دهغه خلکو دلوی ثواب اوښه والی بیان دی چی دالله ﷻ په لاره کی یی خرڅ کول عادت وی ، په ټولو حالاتو او وختونو کی په شپه کی او په ورځ کی په پټه اوپه ښکاره په هره طریقه سره یی دالله ﷻ په لاره کی خرڅ کوی ، په دی کی یی دا خبره هم وښوولـه چی دصدقی او خیرات دپاره څه وخت مقرر نه دی ، نه په کښی دشپی څه مقرروالی سته او نه دورځی ، دغه شان په پټه اوښکاره دواړو طریقو سره دالله ﷻ په لاره کی دخرڅ کولو ثواب دی خوپه دی شرط چی په اخلاص سره یی خرڅ کوی نوم نمایش یی مقصود نه وی ، دپټ خرڅ کولو ښه والی هم تردې حده پوری دی چی دښکاره خرڅ کولو دپاره څه خاص ضرورت نه وی اوکوم ځای چی دښکاره کولو ضرورت وی هلته په ډاګه خرڅ کول ښه دی .

روح المعانی په حواله دابن عساکر رحمه الله نقل کوی چی حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه څلویښت زره دیناره دالله ﷻ په لاره کی داسی خرڅ کړه چی لس زره یی دورځی لس زره یی دشپی اولس زره یی په پټه اولس زره یی په ښکاره ورکړه ، ځینو تفسیر لیکونکو ددی آیت شان نزول هم دغه واقعه دحضرت صدیق اکبر رضی الله عنه بیان کړې ده ، ددی دشان نزول متعلق نور هم مختلف قولونه دی .

اَلَّذِيْنَ يَاْكُلُوْنَ الرِّبٰوا لَا يَقُوْمُوْنَ اِلَّا كَمَا يَقُوْمُ الَّذِىْ يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطٰنُ مِنَ

کوم خلق چی خوری سود نه به پورته کیږي په قیامت کی مګرڅنګه چی پورته کیږي هغه سړی چی حواس یی بی کاره کړی وی پیریانو .

الْمَسِّ ۚ ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوٓا إِنَّمَا الْبَيْعُ مِثْلُ الرِّبٰوا ۘ وَأَحَلَّ

په منبتلو ور پوری ، دا حال یی په دی وجه دی چی دوی وایی چی سوداگری هم دسود په شان ده اوحلاله کری ده

اللّٰهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبٰوا ۚ فَمَنْ جَآءَهٗ مَوْعِظَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ

الله تعالی بیع ، اوحرام کری یی دی سود ، پس چاته چی ورسیدی نصیحت ، دخپل رب دطرف څخه

فَانْتَهٰى فَلَهٗ مَا سَلَفَ ۚ وَأَمْرُهٗٓ إِلَى اللّٰهِ ۚ وَمَنْ عَادَ فَأُولٰٓئِكَ

پس دی منع سو نو ده لره دی کوم چی تیر سوی دی ، او معامله دده حواله ده الله ته ، اوڅوك چی بیا واخلی سود

أَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيهَا خٰلِدُونَ ﴿۲۷۵﴾ يَمْحَقُ اللّٰهُ الرِّبٰوا وَيُرْبِي

پس دغه خلق دوږخ والادی ، دوی به په دی کی همیشه وی ، ورکوی الله پاك سود اوزیاتوی

الصَّدَقٰتِ ۗ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ أَثِيمٍ ﴿۲۷۶﴾ إِنَّ الَّذِينَ اٰمَنُوا

خیرات او الله تعالی نه دی خوشحاله دناشکره گناه کارڅخه ، کوم خلق چی ایمان راوړی او

وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَأَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ لَهُمْ

عمل کوی نیك او قائم ساتی لمونځونه او ورکوی زکوٰة د دوی دپاره

أَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۚ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿۲۷۷﴾

دی ثواب د دوی په نزد درب د دوی ، او نه په دوی بیره ده او نه به دوی غمجن وی.

يٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَذَرُوا مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبٰوٓا إِنْ

ای مؤمنانو ! وبیریږي دالله څخه اوپاته کری څه چی پاته سوی وی سود که

كُنْتُمْ مُّؤْمِنِينَ ﴿۲۷۸﴾ فَإِنْ لَّمْ تَفْعَلُوا فَأْذَنُوا بِحَرْبٍ مِّنَ اللّٰهِ

یقین وی ستاسی په وینا دالله پاك ، پس که نه پاته کوی نو تیار سی جنگ ته دالله سره

وَرَسُولِهٖ ۚ وَإِنْ تُبْتُمْ فَلَكُمْ رُءُوسُ أَمْوٰلِكُمْ ۚ لَا تَظْلِمُونَ

اود رسول دهغه سره ، او که توبه کوی نو تاسی لره دی ، اصل مال ستاسی مه تاسی په چا ظلم

وَلَا تُظْلَمُونَ ﴿۲۷۹﴾ وَإِنْ كَانَ ذُو عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ إِلَىٰ مَيْسَرَةٍ

کوی اونه دی خوك په تاسی ، او كه وی تنكدسته نو مهلت وركول په كار دی ، دفراخی پوری

وَأَنْ تَصَدَّقُوا خَيْرٌ لَّكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿۲۸۰﴾ وَاتَّقُوا يَوْمًا

او كه ورته يی وبخښنی نو ډیره ښه ده تاسی دپاره كه تاسی پوهیږئ ، او بیره كوی دهغه ورځی

تُرْجَعُونَ فِيهِ إِلَى اللَّهِ ثُمَّ تُوَفَّىٰ كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ

څخه چی واپس به سی په كی الله طرف ته ، بیا به پوره وركول سی هر سړی ته څه چی ده كټلی وی

وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿۲۸۱﴾

او په دوی به ظلم نه وی .

لنډتفسير: كوم خلك چی سود خوری (یعنی سود اخلی) نه به پورته كیږی (په قیامت كی دقبرونو څخه) مگر څنگه چی پورته كیږی داسی سړی چی شیطان لیونی كړی وی په مسه كولوسره (یعنی حیران اوبی هوده) دا سزا یی څكه ده چی دی (سود خورو) خلكو (دسود دحلالیدو په دلیل كی) ویلی وه چی تجارت هم دسود په شان دی (څكه چی په دی كی هم مقصد نفع حاصلول وی ، اوتجارت خویقیناً حلال دی ، بیا سود هم چی ددی په مثل دی په كار ده چی حلال وی) حال دا دی چی (په دواړوكی ښكاره فرق دی چی) الله ﷻ (كوم چی دحكمونو مالك دی) تجارت حلال كړي دی اوسود یی حرام كړي دی (تردی زیات به بل څه فرق وی) نوكوم سړی ته چی دده درب دطرف څخه (په دی باره كی) نصیحت ورسیدی او دی (ددی سود دكار څخه او ددی كفر دوینا څخه یعنی دحلال ورته ویلو څخه) واپس سو (یعنی حرام یی وگنی او اخیستل یی هم پریښوول) نوڅه چی (ددی حكم تر راتلو) مخكی (اخیستل) سوی دی هغه دده سوه (یعنی په ظاهره دشریعت په بنا دده توبه قبوله سوه او اخستی مال دده ملكیت دی) او (باطنی) معامله دده (چی ده دزړه داخلاصه توبه كړي ده اوكه منافقانه توبه یی كړي ده دا) خدای ﷻ ته حواله ده (كه په زړه سره یی توبه كړی وی نو دالله ﷻ په نزد به فائده مند وی او كه نه وی نوبیاهیڅ هم نه ده ، اوتاسی ته دبدگمانی څه حق نسته) اوكوم سړی چی (دا نصیحت واوری هم او دی وینا اوكارته) بیا راوگرځی نو (په وجه ددی چی دده دا كار په خپله گناه كبیره (لویه گناه) ده) دا خلك به دوږخ ته ځی (او په دی وجه چی ددوی داوینا كفر دی په دی وجه به) دوی په دی (دوږخ) كی همیشه اوسی (اوكه څه هم په سود اخیستو سره فی الحال دمال زیاتوالی په نظر راځی لیكن آخركار) الله ﷻ سود ورك كوی (كله

خو په دنیاکی هم تول بربادسی اوکه نه وی نو په آخرت کی خو یقینی برباد دی ځکه چی هلته به په ده عذاب وی) او (ددی په خلاف صدقه په ورکولو سره ګواکی فی الحال مال کمیدل په نظر راځی ، لیکن آخرکار الله ﷻ صدقی زیاتوی (کله خو په دنیاکی هم که نه وی نوپه آخرت کی خویقیناً زیاتیږی ځکه چی هلته به ده ته ډیر ثواب حاصلیږی لکه په پورته آیتونوکی چی تیرسوی دی) اوالله ﷻ نه خوښوی (بلکه بد یی ګنی) یوڅوك کفر کونکی (کوم چی داسی دکفر کلمی دخولی څخه باسی او دغه شان نه خوښوی) څوك دګناه کارکوونکی (چی د ذکر سوی کار یعنی دسودپه شان لوی لوی ګناهونه کوی) بیشکه کومو خلکو چی ایمان راوړی او دوی نیك کارونه وکړه او (خاص کر) دلمانځه پابندی یی وکړه اوزکوٰة یی ورکی ، د دوی دپاره به د دوی ثواب وی د دوی درب په نزد او (په آخرت کی به) په دوی څه بیره (واقع کیدونکی والا) نه وی او نه به دوی (دڅه مقصود په فوت کیدو سره) غمجن وی .

ای ایماندارو! دالله ﷻ څخه وبیریږی اوڅه چی دسود بقایا ده دا پاته کی ، که چیری تاسی ایماندار یاست (ځکه چی دایمان تقاضا دا ده چی دالله ﷻ حکم ومنل سی) بیاکه تاسی (په دی عمل) ونه کی نو خبر واوری دجنګ دالله ﷻ دطرفه او دهغه درسول ﷺ دطرفه (یعنی ستاسی خلاف به جهاد وی) اوکه تاسی توبه وباسی نوتاسی ته به ستاسی اصل مالونه ورسیږی (تردی قانون وروسته) نه دی تاسی په چا ظلم وکی (چی تراصل مال تاسی زیات ورڅخه واخلی) اونه به په تاسی څوك ظلم وکی (چی ستاسی اصل مال هم در نه کی) اوکه چیری (دقرض دار) لاس تنګ وی (په مقرر وخت یی نه سی درکولی) نو (ده ته) دمهلت ورکولو حکم دی ترآسانتیا پوری (یعنی چی کله دی دادا کولو قابل سی) اودا (خبره) چی (بالکل) یی معاف کی دا ډیره ښه ده ستاسی دپاره که چیری تاسی (ددی دثواب څخه) خبریاست .

او (مسلمانانو) دهغه ورځی څخه وبیریږی په کومه کی به چی تاسی (ټول) الله ﷻ ته دپیشی دپاره را وستل سی ، بیابه هرسړی ته دهغه کړی (یعنی دهغه بدله) پوره ورکړل سی اوپه دوی به هیڅ قسم ظلم نه وی (نوتاسی دپیشی دپاره خپله کارګذاری صحیح او برابره ساتی اوڅه قسم خلاف ورزی مه کوی)

معلومات اومسئلي: په دی آیتونوکی دسود حراموالی او ددی داحکامو بیان شروع سوی دی دا مسئله په خو اړخونو سره ډیره مهمه او ضروری ده ، یو طرف ته په سود اور یا باندی دقرآن شریف اواحادیثو سختی سختی سزاګانی اوبل طرف ته ددنیاپه کارو بار کی ددی یولازمی حصه جوړیدل او ددی څخه دځان خلاصلولو دمشکلاتو یوه اوږده مسئله ده او په ډیرو اړخونو سره په دی باندی غور کول دی .

اول په دی باره کی دقرآن دآیتونو صحیح تفسیر او دصحیح احادیثو په رڼاکی دا مقررول چی دقرآن او سنت په اصطلاح کی ربا څه شی دی ؟ اوکومو کومو معاملوته شامله ده او ددی په حراموالی کی کوم حکمت او مصلحت دی او ددی څه قسم نقصانونه دی ؟

درهم حیثیت ددی عقلی اومعاشی دی چی آیاپه حقیقت کی ربوٰ داسی شی دی چی ددنیا دکاروبار

دترقی ضمانت ورکوی اوکه دا ختم سی نولازمی نتیجه یی دتجارت او عام کاروبار تباهی ده اویاکه دا ټولی خبری یوازی دخدای ﷻ او دآخرت څخه دغافله دماغو دخانه جوړشی دی ، کنه بغیر ددی څخه هم ټولی دژوندی مسئلی حل کیدی سی او نه دا چی یوازی مشکلات حل کیدی سی ، بلکه په دنیاکی کاروباری امن اوتسلی دسود په پرېښوولو موقوفه ده او دا چی ددنیا دکاروباری تکلیفونو ترټولو لوی سبب سود او ربو'ده .

دا دوهم بحث یومعاشی اواقتصادی مسئله ده چی تردی لاندی ډیر زیات اصولی اوفرعی بحثونه دی چی تعلق یی دقرآن دتفسیرسره نسته ، په دی وجه به دلته یوازی پر مخکنی مسئله بحث کیږی چی هغه هم ډیره اوږده ده .

دا شپږ آیتونه دی چی دسود دحرام والی اواحکامو بیان دی ، په دی کی د اول آیت په اوله جمله کی دسود خورو دبیکاره انجام اوپه قیامت کی د دوی دشرم اوګمراهی بیان دی فرمایی کوم خلګ چی سود خوری هغوی به نه سی پورته کیدی مګر لکه څنګه چی پورته کیږی هغه سړی چی شیطان ورپوری مبنتی وی اولیونی یی ورڅخه جوړ کړی وی ، په حدیث شریف کی دی چی دپورته کیدو څخه مراد په قیامت کی دقبر څخه پورته کیدل دی چی سود خور کله دقبر څخه پورته کیږی نو دپاګل اولیونی په شان به پورته کیږی لکه دچا څخه چی شیطان لیونی جوړ کړی وی .

ددی جملی څخه یوه خبره دا معلومه سوه چی دپیریانو اوشیطانانو په اثر سره انسان بی هوښه یالیونی کیدی سی ، او دتجربه کونکو پرلپسی تجربی په دی شاهدی دی ، اوحافظ ابن قیم جوزی رحمه الله لیکلی دی چی طبیبانو او فلاسفه وو (حکیمانو) هم دا خبره منلی ده چی مرګی ، بی هوښی یالیونتوب دډیرو وجهو څخه کیدی سی ، په دی کی ځینی وخت دپیریانو اوشیطانانو اثرهم ددی سبب وی، کومو خلګو چی ددی څخه انکارکړي دی ، دهغوی سره بغیر دظاهری ناممکن والی څخه بل څه دلیل نسته (یعنی دوی وایی چی دا نه سی کیدی چی پ... یاشیطان دی هم په چا داسی اثر واچوی)

بله دغور قابله خبره دا ده چی قرآن دا نه دی فرمایلی چی سودخوربه په قیامت کی پاګل یالیونی جوړسی راپورته به سی ، بلکه دلیونتوب یابی هوښی یوخاص شکل یی ذکر کی داسی چی لکه شیطان چی په چا پوری مبنتی وی اولیونی کړی یی وی ، په دی کی شاید دی طرف ته اشاره ده چی بی هوښه اولیونی خو ځینی وخت چپ چاپ هم پروت وی ، نو د دوی به دا حال نه وی ، بلکه دوی به دسودایی په شان پرتی اوګډودی وایی او دلیونوپه شان حرکتونه به کوی چی په دی سره به دوی پیژندل کیږی (چی داپه دنیاکی سود خوړونکی وو)

اوشایدچی دی طرف ته په کښی هم اشاره وی چی دناجوړه کیدو یابی هوښه یالیونی کیدو څخه وروسته دبنده حواس بالکل باطل سی او دی بیاپه هیڅ شُدبُد کی نه وی او په خپل تکلیف یاسختی

باندي بيا خبر نه وي ، نو د دوي به دا حال نه وي ، بلکه د دوي حال به دپيري ياشيطان وهل سوي په شان وي چي په خپله سختي اوتکليف به پوهيږي ، اوس دلته دي خبري ته فکر کول په کار دی ، چي په جرم او دهغه په سزا کي مناسبت په کار وی ، دالله ﷻ دطرفه چي کومه سزا يوسړي ياجماعت ته ورکول کيږي ديوه جرم په مقابله کي هغه يقينًا ددغه جرم سره مناسبه وي په دي وجه به سود خواره په محشر کي دسوداپانو په شان ځکه راپورته کوي چي دوی دروپو اوپيسو په حرص کي دومره بي هوښه وه چي نه يي په چا غريب رحم راتلي اونه ورته څه شرم دريدی ، دي کله چي په دنياکي په حقيقت کي بي هوښه وو ، دمال په حرص کي ، نو په دي وجه په محشر کي هم په دي حالت کي اُوتر اوسودايي راپورته سو ، ياداسزا ځکه ورته ورکړل سوه چي په دنياکي ده خپله بي عقلي دعقل په رنګ کي ظاهره کړه چي تجارت اوسود يي برابر کړل نو په دي وجه دي بي عقله راپورته کړل سو .

دلته دا خبره هم دياد ساتلو قابله ده چي په آيت کي ذکر دسود خوړلو دی اومراد ورڅخه مطلق سود اخيستل او ددي استعمالول دي برابره خبره ده که په خوراك کي يي استعمال کي ياپه جامه کي ياپه کور او دهغه په سامان کي ، ليکن خوړل يي ورته ځکه وويل چي کوم شي وخوړل سي دهغه دواپس کولو بيا هيڅ صورت نه وي په خلاف دنورو ضرورتونو داستعمال څخه چي هغه واپس کيدی سی ، په دي وجه پوره قبضي اوتصرف ته خوړل ويل کيږي او دا نه يوازي دعربي ژبي بلکه دپښتو فارسي اُردو اونورو اکثرو ژبو دا محاوره ده چي کوم شي مکمل قبض سی هغه ته خوړل وايي .

تردي وروسته په دوهمه جمله کي يي دسود خورو ددي سزا وجه بيان کړي ده ، چي دي خلکو دوه جرمونه وکړه ، يو يي په ذريعه دسود حرام مال وخوړی ، دوهم يي دا حلال وګڼي او دی ته دحرام ويونکو په جواب کي يي دا وويل چي اخيستل خرڅول خو هم دسود په شان دي لکه څنګه چي دسود په ذريعه فائده حاصلول کيږي ، دغه شان اخستل خرڅول هم دفائدي اونفعي دپاره وی ، نوکه سود حرام وي بيا خو اخيستل خرڅول دي هم حرام سی ، اوحال دا دی چي دی ته خوهيڅ څوك هم حرام نه وايي ، دلته په ظاهره خو په کار داوه چي خلګو داسي ويلی چي سود هم په مثل دبيع دی نو چي بيعه حلاله ده نو سود هم حلال په کار دی ، ليکن دوی دخبري طرز بدل کي په حرام ويونکو پوري يي يوتوقه وکړه چي تاسي سود ته حرام واياست نو بيع ته هم حرام ووایاست .

په دريمه جمله کي ددي خلګو ددي خبري جواب الله ﷻ دا ورکي چي دا خلګ بيع دسود په شان ګڼي او دهغه سره يي برابر وی ، حال دا دی چي دالله ﷻ دحکم مطابق په دي دواړوکي دمځکي اوآسمان فرق دی چي الله ﷻ يو حلال کړی اوبل يي حرام کړي دی ، بيادواړه څنګه برابرکيدی سی .

په دي جواب کي دا خبره دغور قابله ده چي ددي خلګو اعتراض په عقلي طور وو ، چي کله د دواړو معاملو مقصد نفع اوګټل دی ، نو د دواړو حکم يو په کار دی الله تبارك وتعالی د دوی دعقلي

اعتراض جواب په عقلي طور دفرق په ښکاره کولو ورنه کي ، بلکه په حاکمانه انداز کي يي دا جواب
ورکي چي مالك دملك اوحكومت الله ﷻ دی هغه دهرشي نفع اوضرر ښه اوبد ډير ښه پيژني نوهرکله چي
هغه يو حلال او بل حرام کي نو پوه سي چي کوم شي هغه حرام کړي دي په هغه کي به ضرورخه نقصان
ضرر اوخه بيکاره والي وي ، برابره خبره ده که عام خلګ په پوهيږي اوکه نه ، ځکه چي ددي ټول
مخلوق په پوره حقيقت او په نفع او ضرر يي يوازي هغه خبردار اوپوه بادشاه پوهيږي دچادعلم څخه
چي دجهان يوه ذره هم پټه نه ده ، ددنيا مخلوق او سړي خو په خپلو ښو بدو پوهيدی سی خودټولی
دنياپه نفع اونقصان نه سی پوهيدی او نه يي په احاطه کي را وستلای سی څيني شيان داسي وي چي
هغه ديو تن ياجماعت دپاره خو فائده مند وي ، مګر دټول قوم ياټول ملك دپاره په هغه کي نقصان وي
تردي وروسته په دريمه جمله کي دا ارشاد دی چي دسود ترحراموالي مخکي چي کوم سړي کوم مال
جمع کړی وو ليکن کله چي سودحرام سو نوکه دآئنده دپاره ده توبه وکړه او راوګرځيدی ورڅخه ، نو
تردي مخکي جمع کړی مال دشرع په ظاهری حکم سره دده سو او دده دباطن معامله چي په زړه سره
ورڅخه منع سوی دی اوکه منافق دی نو دده دا معامله خدای ﷻ ته حواله ده .
که په زړه سره يي توبه کړی وی نو دالله ﷻ په نزد فائده منده ده اوکه دزړه څخه يي توبه نه وی
نوبياهيڅ نه ده، عاموخلګوته وربانديdبدګماني کولوحق نسته اوکوم سړي چي نصيحت واوري
اوبياهم ددغه ويناوکارطرف ته راوګرځيږي ، نوکله چي داکار (سود خوری) ګناه ده ، دا خلګ به
دوږخ ته ځي ، اوکله چي د دوی دا خبره چي سود په مثل دبيع حلال دی دا کفر دی په دی وجه به دوی
په دوږخ کي هميشه وي .
په دوهم آيت کي چي کوم ارشاد دی چي الله ﷻ سود خرابوی او صدقي زياتوی ، دلته دسودسره
دصدقو ذکر په يوخاص مناسبت سره راوړل سوی دی چي سود اوصدقي دواړه ديو بل ضددی
اونتيجي يي هم ديوبل څخه خلاف اومتضاد دی اوپه عام طور سره ددی دواړو کارونو دکوونکو
خيالات هم ديوبل څخه خلاف اومتضادوی اوغرضونه اونيتونه يي هم ديوبل څخه جلا جلا وی .
په حقيقت کي يي تضاد اوخلاف دا دی چي په صدقه کي بغير دڅه بدلي څخه خپل مال نورو ته ورکول
کيږي اوپه سود کي بغير دڅه بدلي اومعاوضي څخه دبل مال اخيستل کيږي ، ددی دواړو کارونو
دکوونکو نيت اوغرض ځکه ديو بل څخه جلا وی چي صدقه کوونکی محض دالله ﷻ درضا حاصلولو
او دآخرت دثواب دپاره دخپل مال کمولو ياختمولو فيصله کوی اوسُود اخيستونکی په خپل موجوده
مال باندی دناجائز زياتوالي خواهشمند وی ، او دنتيجو يعني دانجام تضاد اوخلاف يي دقرآن کريم
ددی آيت څخه ښکاره سو چي الله ﷻ دسود دګټلي مال څخه ګواکی دهغه برکت خرابوی ياهغه
دسودمال ختموی او دصدقه کوونکی مال يادهغه برکت زياتوی چي حاصل يي داسي چي دمال

دحرص کوونکی خو مقصد پوره نه سی او دالله ﷻ په لاره کی دخرځ کوونکی چی دخپل مال په کمیدو خوشحاله وو دده په مال کی برکت راسی او مال اوفائدی ورته زیاتی حاصلی سی.

دلته داخبره دغورکولوقابله ده چی په آیت کی دسوددورکیدواودصدقودزیاتیدوڅه مطلب دی؟ ځینی تفسیرلیکونکی فرمایی چی داورکیدل اوزیاتیدل دآخرت سره تعلق لری چی دسودخورمال به په آخرت کی دده هیڅ په کارورنه سی بلکه دغه مال به دده دپاره عذاب جوړسی او دصدقی او خیرات کوونکی مال به دده دپاره په آخرت کی دهمیشه نعمتونو او راحتونو سبب جوړ سی او دا بالکل ښکاره خبره ده هیڅ شك شبهه نسته په کښی او عام مفسرین رحمهم الله (تفسیر لیکونکی) فرمایی چی دسود ورکیدل او دصدقو زیاتیدل دآخرت دپاره خودی لیکن ددی څه نښانی په دنیاکی هم لیدلی کیدی سی.

سود چی په کوم مال کی شامل سی ځینی وخت خو هغه مال په خپله هلاك او برباد سی او هغه زوړمال هم دخان سره لاهوکی ، لکه چی دسود اوستی په بازارونوکی همیشه خلگ وینی چی لوی لوی کروړپتیان دسترگو په رپ کی ډیوالی اوفقیران جوړ سی ، په بی سوده تجارت کی هم نفع اونقصان کله کله وی او ډیر سوداگران ځینی وخت تاوان هم وکی خو داتاوان داسی تاوان نه وی لکه دسود خورو چی نن کروړپتی وی او صبا دپیسی محتاج وی ، دا یوازی دسود اوستی په بازارونو کی وی او دتجربه کوونکو بی شماره خبری په دی باره کی مشهوری دی چی دسود مال که فوری طور څومره زیات هم سی خو اکثره ناپائیداره او ختمیدونکی وی چی فائده یی اولاد اونسلونو ته رسیږی ، اکثر څه ناڅه آفت راسی او دا برباد کی ، حضرت معمر رحمه الله فرمایی چی مونږ دمشرانو څخه او ریدلی دی چی په سود خور څلویښت کاله نه وی تیرسوی چی په مال کی محاق (کمیدل) شروع سی.

اوکه په ظاهری طور یی مال برباد اوضائع هم نه سی خو دفائدو اوبرکتونو څخه یی محرومی یقینی او لازمی ده ، ځکه چی دا خبره څه پټه نه ده چی سره اوسپین په خپله څه دکار شی نه دی په دی نه لوږه دفع کیږی اونه تنده په ماتیږی اونه دگرمی اویخنی څخه دخلاصیدو دپاره غوړول یا اغوستل کیږی ، اونه دکپړو اولوښو کار ورکولی سی او بیا ددی دحاصلولو دپاره چی څومره تکلیفونه اوسختی په ځان تیرول کیږی نو دیوه هوښیار سړی په نزد ددی څخه ماسوا نور هیڅ نه سی کیدی چی سره اوسپین ذریعه ده دداسی شیانو دحاصلولو چی په هغه دانسان ژوند ښه کیدی سی او دی دراحت اوعزت ژوند په تیر کړای سی او دانسان دا فطری خواهش وی چی دا راحت او عزت ځنگه چی ده ته حاصل دی دده اولاد او متعلقینو ته دی هم حاصل وی.

دا هغه شیان دی چی دمال دولت فائدی اوثمری ورته ویل کیږی نو ددی په نتیجه کی دا ویل صحیح دی چی کوم سړی ته دا فائدی او ثمری حاصلی سوی نو دهغه مال په یوحثیت سره زیات سو که څه هم چی په لیدو کی کم وی، اوچاته چی دا فائدی اوخوندونه حاصل نه سی نو دده مال په یوحیثیت سره

ورك اوكم سو كه څه هم چي دسترګو په نظر کی دير ښکاري.
چي په دي خبره پوه سوي نو اوس دسودي کاروبار کوونکو اوصدقي اوخيرات کوونکو دکارونو جائزه واخلی ، نو دا خبره به درته ښکاره سی چي دسودخور مال که څه هم چي زياتيدونکی په نظر راځي ليکن دغه زياتيدل داسی دی لکه ديو انسان په بدن چي پړسوب او نور راسی نو دپړسوب زياتوالی كه څه هم دبدن زياتوالی دی ليکن يو هوښيار سړی هم دا زياتوب نه خوښوی ځکه چي دی پوهيږي چي دا زياتوب دمرګ استاذی دی ، نو دغه شان که دسود خور مال هرڅومره زيات سی خو دمال دفائدو اوخوندو يعنی دراحتونو اوعزتونو څخه هميشه محرومه وی.
دلته به شايدچي ځيني خلګوته دا شك راځي چي نن صبا خو سودخواره په لويو لويو راحتونو اوخوندونو کی وی ، دکوټو اوبنګلو مالکان دی دعيش اوآرام ټول سامان ورته حاصل دی دخوړلو چيښلو اغوستلو داوسيدلو ټول ضروری سامانونه بلکه دعيش او عشرت اوفضولياتو ټول هرڅه ورته حاصل دی دنوکر چاکر شان اوشوکت ټول سامان ورته موجود دی ، ليکن که ښه فکر وسی نو هرسړی به پوه سی چي په سامان دراحت اوپه عين راحت کی لوی فرق دی ، دراحت سامان خو په کارخانو کی جوړيږي ، او په بازارونوکی خرڅيږي او دسرو اوسپينو په بدله کی حاصليدی سی ، ليکن راحت چي دڅه شی نوم دی اوڅه ته چي ويل کيږي هغه نه په يو کارخانه کی جوړيږي نه په يوه منډی کی خرڅيږي هغه يو داسی رحمت دی چي نيغ په نيغه دالله ﷻ دطرفه ورکول کيږي ، داځيني وخت دزرګونو سامانونو سره سره هم نه حاصليږي، دخوب دا آرام داسی دی چي ددی دحاصلولو دپاره خو دا کول کيږي چي ترښه لاښه مکان ورته جوړسی دهوا او رڼا ښه پوره انتظام په کښی کول کيږي اوښه ښائسته اوښکلی سامان اوبستر په کښی تيارول کيږي کټونه بستری اوبالښتان په کښی ترښه لاښه تياريږي خوکه دا هرڅه په کښی تيارکی نو خوب به ورته راسی ؟ که په تاسی په خپله يووخت داسی حالت نه وی راغلی نوپه زرګونو داسی خلګ موجود دی چي هغه به ووايی چي په دی سامانونو تيارولو کی خوب نسته چاته چي په څه وجه ياعارضه خوب نه ورځي يعنی دخوب راحت ددی سامانونو په تيارولو سره هيڅکله نه سی حاصليدی ، دامريکي غوندی دمالدارو متمدن ملك دځينو راپوررونو څخه معلومه سوي ده چي هلته په سلوکی پنځه اويا کسان دخوب راوستونکو ګوليو دخوړلو څخه بغير نه سی بيده کيدی او ځينی وخت خو دا دخوب ګولی هم کارنه کوی ، دخوب سامان خو به دبازاره څخه واخستل سی، خو خوب په هيڅ قيمت هم دبازار څخه نه سی اخستل کيدی ، دغه شان دنورو راحتونو اوخوندونو حال دی چي سامان خويی په روپو اوپيسو دبازار څخه اخستل کيدی سی خو په خپله راحت اوخوند هيڅ ځای هم په بازار کی نه سی اخستل کيدی.
په دی خبره ترپوهيدو وروسته دسودخورو دحال اندازه واخلی د دوی سره به تاسی هرڅه وويني

خودآرام او راحت نوم به ورسره پیدا نه کی ، دوی به تاسی دخپلو یوکروړ روپو یو نیم کروړ کولو اویونیم کروړ دوه کولو په نشه کی داسی مست وویني چی نه به ورسره دخپل خوراك چیښاك هوش وی اونه دخپل اهل اوعیال ، څو میلونه چلیږی څوجهازونه دبل ملك څخه راغله څوولاړه ، په دی سوچونو اوفکرونوکی سهار کیږی اوماښام کیږی ، افسوس چی دی لیونو دراحت سامان ته دراحت نوم ورکړي دی او په حقیقت کی ورڅخه راحت په میلونو لیری دی .

دا حال خو د دوی دراحت دی اوس یی عزت ته وګوری ، ددی خلګو زړونه سخت اوبی رحمه وی ، د دوی کسب دا وی چی دغریبانو دغریبی څخه او دکمزورو دکمزوری څخه فائده واخلی ، وینه یی وچیښی او خپل بدن په وپالی ، نو په دی وجه دا کیدی نه سی چی دخلګو په زړونوکی د دوی څه عزت او وقار وی دخپل ملك دبنوګانو او دشام دیهودیانو تاریخ ووایاست دهغوی حالات وګوری چی دهغوی ګلی سیفونه څومره دسرو اوسپینو او جواهراتو څخه ډکی وی ، لیکن ددنیاپه یوه کونج کی هم دانسانانو یوی طبقی دوی ته دعزت په نظر نه دی کتلی ، بلکه د دوی ددی کارلازمی نتیجه داسی چی دکمزورواوغریبانوخلقوپه زړونوکی دوی ته بغض اونفرت پیداسی اونن صباخوددنیاټول جنګونه ددی بغض او نفرت نښانی دی ، دمحنت اوسرمایی جنګ په دنیاکی داشتراکیت او اشتمالیت نظر یی پیدا کړی ، دکمیونزم دورانیو سرګرمی هم ددی بغض اونفرت نتیجه ده چی دټولی دنیاڅخه یی دجنګونو اوجګړوپه وجه یو جهنم جوړ کړي دی ، دا حال خو یی دخپل راحت او عزت دی ، او په تجربه سره معلومه سوي ده چی دسودمال دسودخور دراتلونکو نسلونو ژوند هم نه خوندور کوی ، یا خو ګرسره دغه مال ضائع سی او یا دوی دحقیقی خوندو اوراحتونو څخه محرومه اوذلیل اوسی .

خلګ به دیورپ دسودخورو دمثال څخه شایدچی په دهوکه کی راځی چی هغوی خوټول ښه خوشحاله دی او نسلونه یی هم ښه په ترقی دی لیکن اول خو د دوی دخوشحالی یوسر سری خاکه (نقشه) می پیش کړه ، دوهم د دوی مثال داسی دی لکه سړی خوړ چی دنورو خلګو ویني وچښی خپل بدن په غټ پټ کی او داسی یو خوسړی خواره په یوه محله کی آبادسی اوتاسی څوك دی محلی ته بوزی او درته وښیی چی وګوره دا خلګ څنګه غټ پټ او صحت مند سوي دی ، لیکن یو هوښیار سړی چی دټول مخلوق دګټی خواهشمند دی هغه به یوازی دی محلی ته نه ګوری ، بلکه ددی په مقابله کی به هغه کلوته هم ګوری د دومو وینی ، دوی چیښلی وی او هغوی یی نیم مړده (نه مړه اونه ژوندی) جوړکړی وی ، په دی محلی او په دغه کلو نظر اچوونکی به هیڅکله ددی محلی په چاغیدو خوشحاله نه سی ، او دی به هیڅ ځای هم د دوی دی کار ته دانسانی ترقی ذریعه ونه وایی بلکه دی به د دوی دی عمل ته انسانی تباهی اوبربادی خامخا وایی .

ددی په مقابله کی دصدقو اوخیرات کوونکو حال ته وګوری هغوی به تاسی هیڅ ځای هم په مال پسی

دغه شان حیران اوسرگردان ونه وینی ، دوی ته که څه هم دراحت سامان ډیرکم حاصل وی ، لیکن تردغه ډیرو سامانونو دخاوندانو به ورته آرام راحت او دزړه سکون چی اصلی راحت دی ډیر زیات دوی ته حاصل وی او په دنیا کی به هرسړی دوی ته دعزت په نظر سره گوری .

یَمۡحَقُ اللّٰهُ الرِّبٰوا وَیُرۡبِی الصَّدَقٰتِ

خلاصه دا ده چی په دی آیت کی کوم ارشاد دی ، چی الله ﷻ سود ورك کوی اوصدقی زیاتوی دا مضمون خودآخرت په اعتبارسره بالکل صفا دی او ددنیاپه اعتبار سره هم ، که لږ په حقیقت دپوهیدو کوشش وسی نو بالکل ښکاره دی ، هم دا دی مطلب ددی حدیث په کوم کی چی نبی کریم ﷺ فرمایی .

اِنَّ الرِّبٰوا وَاِنۡ کَثُرَ فَاِنَّ عَاقِبَتَهٗ تَصِیۡرُ اِلٰی قُلٍّ .

یعنی سود که څه هم هرڅومره زیات سی مگر آخرکار نتیجه یی کموالی دی ، دا روایت په مسنداحمد او ابن ماجه کی ذکر دی .

دآیت په آخرکی ارشاد دی ، وَاللّٰهُ لَا یُحِبُّ کُلَّ کَفَّارٍ اَثِیۡمٍ : یعنی الله ﷻ نه خوښوی څوك کفرکوونکی او گناه کوونکی په دی کی اشاره ده دی خبری ته چی کوم خلگ سود حرام نه گڼی هغوی په کفرکی اخته دی او څوك چی دحرامو گڼلو سره بیا هم په هغه کی مبتلا او اخته وی هغه گناهگار اوفاسقان دی ، په دریم آیت کی دنیکانو صالحانو مسلمانانو مومنانو ذکر دی چی دلمانځه روژی پابندی کوی ، د دوی دلوی اجر اوثواب او دآخرت دراحتونو اوخوندو ذکر دی ، چونکه چی تردی په اولنی آیت کی دسود خورو دپاره دجهنم دعذاب او د دوی دذلت اوخواری ذکر راغلی دی نو دقرآن کریم دعام اسلوب (طریقی) په مطابق ددی سره سره یی دایمان اونیك عمل او دلمونځ او روژی دپابندی کوونکو دثواب او دآخرت د درجو ذکر وکی .

څلورم آیت ، یٰۤاَیُّهَا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَذَرُوۡا مَا بَقِیَ مِنَ الرِّبٰوۤا اِنۡ کُنۡتُمۡ مُّؤۡمِنِیۡنَ : ددی خلاصه دا ده چی دسود اوربٰو دحرمت ترنازلیدو وروسته چی کوم دسود رقمونه دچا په ذمه پاته وه دهغه ورکول اخیستل یی هم حرام کړه .

وضاحت : ددی دادی چی دسوددحرمت ترنازلیدو مخکی په عامو عربوکی دسود رواج خپورسوی وو ، ددی آیت څخه په مخکنیوآیتونوکی ددی منع راغله ، نو دعادت مطابق ټولو مسلمانانو دسود معاملی پرېښوولی ، لیکن دځینو خلگو دسودپاته رقمونه دځینو خلگو په ذمه واجب الاداء وه ، په دی باره کی داسی واقعه پیښه سوه ، چی دبنی ثقیف او بنی مخزوم دیوبل سره دسود معامله وه اودبنی ثقیف دخه خلگو سودی مطالبه په بنی مخزوم باندی وه ، بنی مخزوم مسلمانان سوه ، نو داسلام تررااوړلو وروسته هغوی دسود رقم اداکول جائزنه گڼل ، بلی خواته دبنی ثقیف خلگو مطالبه شروع کړه ، ځکه چی دا خلگ مسلمانان سوی نه وه ، لیکن دمسلمانانو سره یی صلح کړی وه ، دبنی مخزوم خلگو

وویل چی په اسلام کی ترداخلیدو وروسته مونږ اسلامی گټه دسود په ادا کولوکی نه خرڅوو.
دا جګړه په مکه مکرمه کی ورپیښه سوه دغه وخت مکه فتح سوی وه ، دحضور ﷺ دطرف څخه دمکی امیر حضرت معاذ ؓ اوپه بل روایت کی عتاب بن اسید ؓ وو ، هغوی ددی جګړی فیصله دحضور ﷺ په خدمت کی دحکم معلومولوپه غرض ولیږله نوپه دی باندی دقرآن شریف دا آیت نازل سو ، چی لنډ مطلب یی دا دی چی ، په اسلام کی ترداخلیدو وروسته دسود ټول مخکنی معاملات ختم دی تیر سود به هم نه سی وصولولی یوازې راس المال (یعنی اصلی مال) به وصولولی سی .
دا اسلامی قانون رائج سونو مسلمانان خو ددی پابنده وه اوکومو غیر مسلمو قبیلو چی په طور دصلح او وعدی اسلامی قانون قبول کړی وو هغوی هم ددی پابندسوی وه ، لیکن ددی سره سره چی کله نبی کریم ﷺ دحجة الوداع (آخری حج) په خطبه کی ددی قانون اعلان وکی ، نو دا خبره یی هم ښکاره کړه چی دا قانون دچاخاص سړی یاقوم یادمسلمانانو دمالی فائدو ترمخه نه دی ، بلکه دټول انسانیت دتعمیر ګټی اوکامیابی دپاره جاری سوي دی ، په دی وجه مونږ ترټولو اول دمسلمانانو ډیر دسود رقمونه چی دغیر مسلمو په ذمه وه هغه پریږدو، نو اوس به دوی دخپل سودی پاته رقم په پریښوولو کی څه عذر نه کوی ، لکه چی په دی خطبه کی یی داسی وفرمایل .

أَلاَ إِنَّ كلَّ ربوٰا كَانَ فِي الــجاهلِيَّةِ موضوع عنكم كله , لكم رءوس أموالكم لاَ تَظلمون وَلاتُظلَمون , وأول ربوٰا موضوع ربا العباس ابن عبد المطلب كله (ابن كثير بحواله ابن ابى حاتم)

دجاهلیت په زمانه کی چی کوم سودی معاملات سوی دی دټولو سود پریښوول سو اوس به هرسړی ته خپل اصلی رقم ورکول کیږی ، نه به تاسی دزیاتی وصول کولوپه وجه په بل چاظلم کوی اونه به څوک ستاسی په اصل مال کی کمی کوی (په تاسی ظلم کوی)، اوترټولو اول چی کوم سود پریښوول سو هغه دعباس بن عبدالمطلب سود دی چی دهغه ډیر زیات رقم دغیرمسلمو په ذمه په طوردسود واجب الاداء ؤ
دقرآن کریم په دی ذکرسوی آیت کی ددی واقعی طرف ته اشاره او دسود دپاته رقم دپریښوولو حکم مذکور دی ، ددی آیت شروع داسی وسوه چی مسلمانانوته یی خطاب اول د اِتَّقُوا اللّٰهَ په حکم سره واوروی چی دالله ﷻ څخه وبیریږی ، تردی وروسته یی داصلی مسئلی حکم وښووی ، دا دقرآن شریف هغه خاص طرز دی چی په دی سره دی دټولی دنیا دقانون ترکتابونو ممتاز (لوړشان والا) دی ، چی کله یو داسی قانون جوړیږی چی په هغه عمل کول خلګوته ګران معلومیږی نو ترهغه مخکی او وروسته دالله ﷻ په مخکی حاضری داعمالو حساب او دآخرت دعذاب اوثواب ذکر وکی دمسلمانانو زړونه او ذهنونه په دی باندی عمل کولوته تیارکی اوتردی وروسته بیاحکم اوروِل کیږی ، دلته هم دسودمال پریښوول مسلمانانوته یوبار غوندی معلومیدی نو په دی وجه یی اول، اِتَّقُوا اللّٰهَ وفرمایل اوتردی

وروسته یی حکم ورکی چی ، ذَرُوا مَا بَقِیَ مِنَ الرِّبٰو یعنی پاته کی بقایا سود اودآیت په آخرکی یی وفرمایل، اِنْ کُنْتُمْ مُؤْمِنِیْنَ : یعنی که چیری تاسی ایماندار یاست په دی کی یی اشاره وکړه چی دایمان تقاضا(خواهش) دا ده چی دالله ﷻ حکم ومنل سی او دالله ﷻ نافرمانی دایمان نیستی والی دی ، دا حکم کله چی په طبعیتونو باندی گران وو په دی وجه یی ترحکم کولو مخکی ، اِتَّقُوا اللّٰہَ اوترحکم کولو وروسته ، اِنْ کُنْتُمْ مُؤْمِنِیْنَ وفرمایل ، تردی وروسته یی په پنځم آیت کی ددی حکم خلاف کوونکوته سختی سزاگانی واوروِلی چی مضمون یی دا دی چی که تاسی سود پاته نه کی نو دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ دطرفه اعلان دجنگ واوری ، دا سخته سزا داسی ده چی ترکفر ماسوا په بلی ترلو یی لا په لویی گناه باندی داسی سخته سزانه ده راغلی ، بیاددی آیت په آخرکی ارشاد فرمایی .

وَاِنْ تُبْتُمْ فَلَکُمْ رُءُوْسُ اَمْوَالِکُمْ لَا تَظْلِمُوْنَ وَلَا تُظْلَمُوْنَ : یعنی که تاسی توبه وکړه اودآئنده دپاره مو دسود دپاته رقم دپرېښولو قصد وکی نو تاسی ته به ستاسی اصل مال حاصلیږی ، نه به تاسی تراصل مال په زیات حاصلولوسره په بل ظلم کوی اونه به څوك ستاسی په اصل مال کی کمی کوی چی په تاسی به ظلم کوی ، په دی یی داصل راس المال دحاصلیدو سره دا شرط تړلی دی چی تاسی توبه وکی او دآئنده دپاره دسود دپرېښوولو قصد وکی ، نو وروسته ترهغه به درته اصل راس المال (یعنی ستاسی اصلی مال) جاصل سی ، ددی په ظاهره دی طرف ته اشاره ده چی که دسود پرېښوولو دقصد کولو سره توبه ونه کی ، نو اصل راس المال به هم نه حاصلیږی ، وروسته ددی تفصیل دا دی چی که دمسلمانیدو باوجود گرسره سود حرام ونه گڼی اوپه دی وجه دسود پاته کولو څخه توبه ونه کړی نو دا سړی داسلام څخه خارج او مرتد دی چی دده حکم دا دی چی دمرتدمال دده دملك اوتصرف څخه وزی ، بیاچی کوم مال ده په زمانه داسلام کی گټلی وی هغه به دده مسلمانو وارثانوته ورکول کیږی اوکوم چی یی ترکافر کیدو وروسته گټلی دی هغه به په بیت المال کی جمع سی ، په دی وجه دسود څخه توبه نه کول که دحلال گڼلو په وجه سره وی ، نوده ته به اصل راس المال هم نه ورکول کیږی اوکه حلال یی نه گڼی خو عملاً ورڅخه نه واپس کیږی او ډله جوړ وی داسلامی حکومت مقابله کوی نودی باغی دی دده به هم تول مال ضبطول کیږی اوپه بیت المال کی به امانت ایښوول کیږی ، چی کله دی توبه وباسی نو وروسته ترهغه به دده مال ده ته واپس سی ، شایدچی دداسی قسم جزئیاتو طرف ته داشاری کولو دپاره یی دشرط په صورت کی داسی فرمایلی وی ، فَاِنْ تُبْتُمْ فَلَکُمْ رُءُوْسُ اَمْوَالِکُمْ یعنی که تاسی توبه ونه کړه نو ستاسی راس المال به هم ضبط سی .

تردی وروسته په شپږم آیت کی دسودخوری غوندی انسانیت سوز اوانسان دښمن حرکت په مقابله کی دپاکیزه اخلاقو اودغریبانو اونادارو سره دنرمی اومهربانی سلوك کولو تعلیم ورکول کیږی فرمایی ،

وَاِنْ کَانَ ذُو عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ اِلٰی مَیْسَرَةٍ وَاَنْ تَصَدَّقُوا خَیْرٌ لَّکُمْ اِنْ کُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ : یعنی که ستاسی قرضدار

تنګ لاسی وی ستاسی قرضه نه سی ادا کولی نو شرعی حکم دا دی چی ده ته ترفراخی او وس رسیدو پوری مهلت دی ورکول سی ، اوکه تاسی ده ته خپله قرضه معاف کی نو دا ستاسی دپاره زیاته ښه ده .
دسود خورو عادت دا وی چی که قرضدار یی مفلس وی اوپه مقرر میعاد قرضه نه سی ادا کولی نو دسود رقم داصل سره جمع کوی او دسود در سود سلسله چلوی اودسود مقدار نور هم زیاتوی .
نو دلته دحاکمانو حاکم دا قانون جوړکی چی که یوقرضدار واقعی مفلس وی اودقرض په ادا کولو قادر نه وی نو دده تنګول جائز نه دی بلکه ده ته ترهغه وخته پوری مهلت ورکول په کار دی ترڅوچی دی په ادا کولو قادر سوی نه وی او ددی سره یی داترغیب (مینه) هم ورکړه چی دی غریب ته که خپل قرض معاف کی نو دا ستاسی دپاره زیات غوره ده .
دلته معاف کول قرآن په لفظ دصدقی سره بیان کړل چی دی ته په کښی اشاره ده چی دا معاف کول به ستاسی دپاره دصدقی په حکم کی حساب سی اویولوی ثواب به وګټی دا رنګه دا چی یی وفرمایل چی ، معاف کول ستاسی دپاره زیات ښه دی اوحال دا دی چی په ظاهره خو د دوی دپاره دنقصان سبب دی ، چی دسود پاته کول خه وو چی اصل سرمایه هم ورسره ولاړه ، لیکن قرآن دی ته ښه وویل ، ددی دوی ۲ وجی دی ، اوله دا چی دا ښه والی به دی ددی دنیا تردی څوورځو ژوندون وروسته ووینی چی کله ددی معمولی مال په بدله کی ده ته دجنت هغه همیشه پاته کیدونکی نعمتونه حاصل سی .
دوهم شاید چی دی طرف ته هم اشاره وی ، چی په دنیاکی به هم تاسی ته ستاسی ددی عمل ښه والی معلوم سی چی ستاسی په مال کی به برکت راسی ، دبرکت حقیقت دا دی چی په لږمال به ډیرکار کیږی ، دا ضروری نه ده چی دمال مقدار یاتعداد به زیات سی ، نو دا لیدل سوی دی ، چی دصدقو او خیرات کوونکو په مال کی بی شمیره برکت وی ، د دوی په لږ مال سره دومره کارکیږی چی دحرام مال والاوو په ډیرو ډیرو مالونو سره دغومره کار نه کیږی ، اوپه کوم مال کی چی بی برکتی وی دهغه دا حال دی چی دکوم مقصددپاره یی خرڅ کوی هغه مقصد نه حاصلیږی او یا په غیر مقصودی شیانو مثلاً په دوایانو علاجونو دډاکترانو په فیسونو کی دداسی مالدارانو لوی لوی رقمونه خرڅیږی چی غریبانانو ته هیڅ ځای هم دغه ضرورتونه نه ورپیښیږی اول خوالله ﷻ غریبان روغ ساتی چی په علاجونویی ګرسره خرڅ ته ضرورت نه راځی ، اوکه ناروغی یو وخت را هم سی ورته نو په معمولی خرڅ سره جوړیږی ، په دی وجه سره غریب قرضدار ته قرض معاف کول که څه هم په ظاهره دده دپاره په کښی نقصان ښکاریدی ، خو ددی قرآنی تعلیم په رڼاکی هغه یو فائده مندکار جوړسو.
دغریب قرضدار سره دنرمی او په هغه دآسانی را وستلو په باره کی چی دتعلیم دپاره په صحیح احادیثو کی کوم ارشادات راغلی دی دهغه یو څو جملی واوری .
دطبرانی په یوحدیث کی دی چی و کوم سړی دا غواړی چی دهغه په سر دی دالله ﷻ درحمت سایه وی

په هغه ورځ کله چې چاته هيڅ سايه د سر پټولو دپاره نه حاصليږي ، نو ده ته په کار دي چې د تنگدست قرض دار سره د نرمۍ او اسانۍ معامله کوي يايي معاف کي .
ددې مضمون يو حديث په صحيح مسلم کې هم دی ، او په مسنداحمد کې په يوحديث کې دي چې ، کوم سړی يوغريب قرضدارته مهلت ورکي ، نو ده ته به هره ورځ د دومره رقم دخيرات کولو ثواب ورکول کيږي څومره چې ددې قرضداری په ذمه واجب الاداء دي او دا حساب دقرضی دميعاد ترپوره کيدو څخه دمخکې مهلت دپاره دی ، اوکله چې دقرضی دورکولو ميعاد پوره سي اودی ورته بيا نور مهلت ورکي کله چې دغه قرض دار په قرضه ادا کولو باندی قادرنه وی نو ده ته به اوس روزانه ددغه قرض ددوچنده مال صدقه کولو ثواب حاصليږي .
په يوحديث کې دي چې ، که څوك دا غواړي چې دده دعا دې قبوله وي يادي دده مصيبتونه ليری سي نوده ته په کاردی چې تنگدست قرضدارته مهلت ورکي ددې څخه وروسته په آخری آيت کې بيادورځې دقيامت بيره او دمحشر په حساب کتاب او دثواب عذاب په ذکر سره يې دسود داحکامو آياتونه ختم کړه ارشاد فرمايي چې، وَاتَّقُوا يَوْمًا تُرْجَعُونَ فِيهِ إِلَى اللَّهِ ثُمَّ تُوَفَّىٰ كُلُّ نَفْسٍ مَا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ : يعنی وبيريږی دهغه ورځې څخه په کومه کې چې به تاسی ټول دالله ﷻ په مخکې پيش سی اوبيابه هر سړی ته دخپل خپل عمل پوره پوره بدله ورکول کيږي ، حضرت ابن عباس ؓ فرمايي چې دا آيت دنزول په اعتبار سره ترټولو آخری آيت دی ، تردې وروسته يو آيت هم نازل نه سو تردې يو ديرش ۳۱ ورځې وروسته دنبی ﷺ وفات وسو ، اوپه ځينو روايتونوکې وايې چې يوازی نه ورځې وروسته وفات سو .
تردې ځای پوری دسود داحکاموسره تعلق لرونکی دسورة بقرة داوو ۷ آيتونو تفسير راغلی دی ، دسود په حرمت اوممانعت باندی په قرآن کريم کې په سورة بقرة کې دا ذکر سوی اوه ۷ آيتونه اوپه سورة آل عمران کې يو ۱ آيت ، په سورة نسآء کې دوه ۲ آيتونه را غلی دی اويو ۱ آيت په سورة روم کې هم دی چې په تفسيرکې يې اختلاف دی ځينو حضراتو دا هم دسود بياج په مفهوم باندی حمل کړي دی ، ځينو يې بل ډول تفسير بيان کړي دی ، دغه شان په قرآن شريف کې لس آيتونه دی چې دسود اوربا احکام په کښې ذکر دی ، دسود دپوره حقيقت ترښوولو مخکې مناسبه ده چې دهغه باقي آيتونو ترجمه او تفسير هم دلته وليکل سی کوم چې په سورة آل عمران اوسورة نسآء اوسورة روم کې راغلی ، ددې دپاره چې ټول آيتونه يو ځای سی او دسود په حقيقت باندی دپوهيدلو خبره آسانه سی .

دسورة آل عمران دديارلسمی ۱۳ رکوع يوسل ديرشم ۱۳۰ آيت دا دی ، يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا الرِّبَا أَضْعَافًا مُضَاعَفَةً وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ (يعنی ، ای ايماندارو! سودمه خوری ترحصی زيات اودالله ﷻ څخه وبيريږی اميد دی چې تاسی کامياب سی)
ددې آيت دنزول يوخاصه واقعه ده چې په عربوکې دجاهليت په وخت دسود خوری په عام طور سره دا

طریقه وه چی تر یو خاص مقرر میعاده پوری به یی قرض په سود باندی ورکوی او کله چی به هغه مقرره
نیټه راغله اوقرضدار به قرض ادا کولی نه سوای نو نور مهلت به یی ورته په دی شرط ورکوی چی
دسود دأدائیګی مقدار دی زیات سی دغه شان چی به په دی دوهمه نیټه هم ادائیګی ونه سوه نو دسود
مقداربه یی نور هم زیات کی ، دا واقعه دتفسیر په عامو کتابونو اوخاص په لباب النقول کی په
روایت دمجاهد ذکر دی .

دجاهلیت دعربو ددی قوم تباه کوونکی رواج دورکولو دپاره داآیت نازل سو په دی وجه په دی آیت کی
یی ، أَضْعَافًا مُضَاعَفَةً (یعنی څوحصی زیاتی) وفرمایل د دوی درواجی طریقی بدوالی دقوم تباهی او
خود غرضی یی دوی ته ښکاره کړه اوحرام یی مقرره کړه، ددی دا معنیٰ نه ده چی که چند درچندنه وی
نو بیا حرام نه دی ، ځکه چی په سورة بقرة اوسورة نسآء کی یی صفا حرام والی ذکردی که اضعاف
مضاعف (چند درچند) وی اوکه نه وی ، ددی مثال داسی دی چی لکه په قرآن شریف کی یی ځای په
ځای فرمایلی دی چی ، لَا تَشْتَرُوا بِآيَاتِي ثَمَنًا قَلِيلًا ، یعنی زماپه آیتونوباندی لږڅه قیمت مه اخلی ،
په دی کی یی لږ څه قیمت ځکه وفرمایی چی دالله ﷻ دآیتونو په بدله کی که داووه ۷ کُونجه دنیا
حکومت هم واخیستل سی خو دا به لږ قیمت وی ، ددی دا معنیٰ نه ده چی دقرآن دآیتونوپه بدله کی لږ
قیمت اخیستل حرام دی او زیات اخیستل جائز دی ، دغه شان په دی آیت کی أَضْعَافًا مُضَاعَفَةً : لفظ
د دوی په دی شرمیدلی طریقی باندی دفکر کولو دپاره راوړل سو دحرمت شرط نه دی .

اوکه دسود په دی رواجی طریقو باندی غور وسی نو دا هم ویل کیدی سی چی کله دسود خوری عادت
پیداسی نو بیا هغه سود یوازی سودنه پاته کیږی بلکه لازمًابیا أَضْعَافًا مُضَاعَفَةً جوړ سی ، ځکه چی
کوم رقم په سودسره حاصل سی او دسود خور په مال کی شامل سی نو اوس به دغه زیات مال هم په
سود چلول کیږی نوسود مضاعف به سی اوچی دا سلسله دغسی پرمخ ولاړه سی نو أَضْعَافًا مُضَاعَفَةً
به سی او دغسی هر یو سود أضعاف مضاعفه جوړیږی .

او دسورة نسآء دوه ۲ آیتونه دسود متعلق دا دی .

فَبِظُلْمٍ مِّنَ الَّذِينَ هَادُوا حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ طَيِّبَاتٍ أُحِلَّتْ لَهُمْ وَبِصَدِّهِمْ عَن سَبِيلِ اللَّهِ كَثِيرًا ° وَأَخْذِهِمُ الرِّبَا وَقَدْ نُهُوا
عَنْهُ وَأَكْلِهِمْ أَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ وَأَعْتَدْنَا لِلْكَافِرِينَ مِنْهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا .

یعنی دیهودو ددی لویولویوجرمونوکولوپه سبب مونږ ډیرپاکیزه شیان چی ددوی دپاره حلال وه په دوی
حرام کړه او په سبب ددی چی دوی ډیرخلق دلاری دخدای ﷻ څخه منع کول اوپه سبب ددی چی دوی
سوداخیستی حالانکه دوی ددی څخه منع سوی وه اوپه سبب ددی چی دوی دخلقومالونه په ناحقه
طریقه خوړل اومونږ دغه خلقودپاره کوم چی په دوی کی کافران دی دردناکی سزاسامان مقررکړي دی .
ددی دواړو آیتونو څخه دا معلومه سوه چی دحضرت موسیٰ ﷺ په شریعت کی هم سود حرام وو او

یهودو چی کله ددی مخالفت وکی نو په دنیا کی هم هغوته دا مناسبه سزا ورکول سوه چی هغوی ددنیا دحرص په وجه حرام خوړل شروع کړل نوالله ﷻ په دوی باندی ځینی حلال شیان هم حرام کړل.
او دسورة روم دځلورمی رکوع یوکم ځلویښتم ۳۹ آیت دا دی.

وَمَآ اٰتَيْتُمْ مِّنْ رِّبًا لِّيَرْبُوَا۟ فِيْٓ اَمْوَالِ النَّاسِ فَلَا يَرْبُوْا عِنْدَ اللّٰهِ ۚ وَمَآ اٰتَيْتُمْ مِّنْ زَكٰوةٍ تُرِيْدُوْنَ وَجْهَ اللّٰهِ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُضْعِفُوْنَ.

یعنی کوم شی چی تاسی ددی دپاره ورکوی چی دا دخلکو مالونوته ورسیږی زیات سی ، نو دا دالله ﷻ په نزد نه زیاتیږی اوکوم چی زکوٰة ورکوی چی دالله ﷻ رضاپه غواړی نو داسی خلک دالله ﷻ په نزد زیاتوونکی دی.

ځینو مفسرینو حضراتوپه لفظ درباء او زیاتی باندی نظر کړی دی نو دا آیت یی هم پر سود باندی حمل کړي دی یعنی مطلب یی ورځخه سود اخیستی دی او داسی یی ورته تفسیر کړي دی چی په سودکی که څه هم په ظاهره دمال زیاتیدل ښکاری خو په حقیقت کی هغه زیادت نه وی ، لکه دیو سړی په بدن چی پرسوب راسی نو په ظاهره خو دهغه په بدن کی زیادت ښکاری لیکن یو هو ښیار سړی په دی زیادت خوشحاله نه وی ، بلکه دا زیادت دهلاکت نښانه وی ، ددی په مقابله کی په زکوٰة اوصدقو ورکولو سره که څه هم په ظاهره په مال کی کمی راځی ، خو په حقیقت کی هغه کم نه وی ، بلکه داکمی دزرګونو زیاتو سبب وی ، لکه یوسړی دنس څخه دخرابیو دلیری کولو دپاره مسهل (اسهال راوستونکی اوقبض ماتوونکی دوا) خوری ، یارګ وهی وینه ورځخه باسی نو په ظاهره خو دی په دی باندی کمزوری کیږی خو دا کمزوری دصحت او قوت سبب ګرځی.

اوځینو عالمانو دتفسیر دا آیت په سود نه دی حمل کړی بلکه دا مطلب یی ورځخه اخستی دی چی کوم سړی چاته خپل مال په اخلاص اونیك نیت سره نه ورکوی بلکه په دی نیت یی ورکی چی زه دا شی ورکرم نوهغه به ماته ددی په بدله کی تردی زیات راکی لکه په ځینو خاندانونوکی دبدل (نوتا) رواج دی چی ددالی په طور نه بلکه دبدلی په غرض باندی ورکول کیږی ، دا ورکړه کله چی دالله ﷻ دراضی کولو دپاره نه وی بلکه دخپل غرض دپاره وی نو په دی وجه یی په آیت کی وفرمایل چی په دی شان سره که څه هم په ظاهره مال زیاتیږی ، لیکن دغه دالله ﷻ په نزدنه زیاتیږی ، البته کوم صدقات چی دالله ﷻ د رضا کولو دپاره ورکول کیږي په دی کی که څه هم په ظاهره مال کمیږی مګر دالله ﷻ په نزد هغه دوچنده اوځلور چنده کیږی.

ددی تفسیر په بنابه ددی آیت مضمون هغه سی کوم چی په بل آیت کی رسول کریم ﷺ ته الله ﷻ فرمایی چی ، وَلَا تَمْنُنْ تَسْتَكْثِرُ: یعنی ته په چا باندی احسان په دی نیت سره مه کوه چی ددی په بدله کی به زیات مال تاته حاصل سی ، او دسورة روم په دی آیت کی په ظاهره دا دوهم تفسیر زیات ښه معلومیږی اول خو په دی وجه چی سورة روم مکی دی او ددی دپاره دا ضروری نه ده چی دده هرآیت

دی مکی وی خو بیا هم غالب گمان دا دی چی دا به ضرور مکی وی ، ترڅوچی ددی خلاف بل ثبوت پیدانه سی او چی آیت مکی سی نو بیا ورڅخه دسود حراموالی څکه نه ثابتیږی چی سود په مدینه منوره کی حرام سوی دی ، دسود دحرمت آیتونه په مدینه منوره کی نازل سوی دی ، ددی علاوه تردی آیت مخکی چی کوم مضمون راغلی دی دهغه څخه هم ددی دوهم تفسیر ښه والی معلومیږی ، څکه چی تردی مخکی فرمایی.

فَاٰتِ ذَاالْقُرْبٰی حَقَّهٗ وَالْمِسْكِیْنَ وَابْنَ السَّبِیْلِ ذٰلِكَ خَیْرٌلِّلَّذِیْنَ یُرِیْدُوْنَ وَجْهَ اللهِ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ(الروم،۳۸)

خپلوانو ته دهغوی حق ورکوی اومسکینانو اومسافرانو ته هم دا دهغو خلکو دپاره ډیره ښه ده چی دالله ﷻ درضاطلب کوی .

په دی آیت کی په خپلوانو مسکینانو اومسافرانو دخرڅ کولو دثواب دپاره یی دا شرط لګولی دی ، چی نیت په کښنی دالله ﷻ درضا حاصلول وی ، نو په راتلونکی ذکر سوی آیت کی یی ددی زیات وضاحت داسی وکی چی که مال چاته په دی غرض ورکول سی چی بدله به یی دهغه دطرفه زیاته ورکړل سی نو دا دالله ﷻ درضا دطلب کولو دپاره خرڅ نه سو نو په دی وجه به ورته ثواب نه ورکول کیږی.

په هرحال دسود دمنع کیدو په مسئله کی که دا آیت پاته هم سی نو دغه نور آیتونه چی مخکی ذکر سوی دی سود یی حرام کړي دی ، او دسورة عمران په یو آیت کی خو یی دچند درچند سود حراموالی اوپه باقی ټولو آیتونو کی خو یی دمطلق سود حراموالی بیان کړي دی ، ددی تفصیل څخه داخبره په ډاګه سوه چی سود برابره خبره ده که چند درچند وی اوکه سود درسود وی یعنی څوغبرګه وی اوکه یوغبرګ خو په هرحال حرام دی ، او حرام بیاهم دومره سخت چی ددی مخالفت کوونکوته یی دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ دطرفه اعلان جنګ اورولی دی .

(دسود او رباء دمسئلي يو څه زياته تشريح او تفصيل)

نن صبا رباء چونکه چی دتجارت دعام نظام یو لوی رکن او ستن جوړه سوي ده په دی وجه چی کله دقرآن او احادیثو آیتونه او روایتونه ددی دحراموالی او ممانعت مخ ته راځی نو عام طبیعتونه ددی دحقیقت څخه دځان خبرولو اوپوهولوپه وخت کی ددی ترحرام والی تیریږی اوآنی بهانی لټوی ، زماغرض دا دی چی دا بحث جلا جلا سی او پرهر یوه اړخ یی ځان ځان ته بحث په کار دی او په خلط ملط کولو سره به ور څخه دتکرار اوګډوډ کیدو څخه ماسوا بل څه حاصل نه سی ، دلته ددی بحث دری ۳ حصی دی .

اول دا چی په قرآن اوسنت کی درباء څه حقیقت دی ؟ او دا په کومو کومو صورتونو کی ده .

دوهم دا چی ددی په حرمت اوممانعت کی کوم حکمت اومصلحت دی .

دریم دا چی سود او رباء برابره خبره ده که هرڅومره بیکاره دی خو نن صباپه دنیاکی دژوند دنظام او

کاروبار دتجارت یولوی رکن (جُزء) جوړ سوی دی ، نوکه دقرآن په احکامو عمل وسی او دا پاته سی نو دبینکونو او تجارتونو انتظام به څنګه وچلیږی؟

(داصلي رباء په پیژندو کي هیڅکله وهم نه دی راغلي دیوی غلطي جواب)

اوس واوری چی لفظ دربوٰ دعربی ژبی یومعلوم لفظ دی دنبی کریم ﷺ دپیغمبر کیدو او دقرآن ترنازلیدو مخکی دعربو په جاهلیت کی هم دالفظ پیژندل کیدی ، او نه یوازی دا چی پیژندل کیدی ، بلکه درباء معامله اوطریقه عامه جاري وه ، بلکه دسورة نسآء دآیتونو څخه دا هم معلومه سوه چی دربوٰا لفظ او ددی معاملی په زمانه دتورات کی هم معلومی وی اوپه تورات کی هم دا حرامه سوی وه نو ښکاره خبره ده چی داسی لفظ دپخوا زمانی څخه په عربو اوخو او شا کی معلوم را روان وی او دمعاملی رواج په چلیږی ، او قرآن ددی دحراموالی اومنع دبیان کولو سره دا هم خبر ورکوی چی دحضرت موسٰی ﷺ په امت باندی هم سود او ربا حرامه سوی وه ، ددی لفظ حقیقت څه داسی پټ شی نه سی کیدی چی دهغه په پوهیدو اویا معلومیدو کی څه مشکلات وی .

هم دغه وجه ده چی کله په سنه ۸ هـ کی دسورة بقرة آیتونه دسود دحراموالی په باره کی نازل سوه ، نو داصحابو ﷺ څخه په دی باره کی هیڅ ځای هم دا روایت نه دی راغلی چی درباء دلفظ په پوهیدوکی د دوی څخه څه اشتباه راغلی ده او دنبی کریم ﷺ څخه یی دنورو معاملو په شان ددی تحقیق کړي دی ، بلکه لکه څنګه چی دشرابو دحرامیدو سره فوراً یی درباء ټولی معاملی پاته کړی ، دتیری زمانی په معاملو کی چی دمسلمانانو کوم سود دغیر مسلمو په ذمه واجب الاداء وو او مسلمانانو دمنعی ترنازلیدو وروسته دهغه ورکول نه غوښتل ، ددی جګړه دمکی دامیر په عدالت کی وړاندی سوه هغه دنبی کریم ﷺ څخه پوښتنه وکړه نو ددی فیصله دسورة بقرة په آیتونوکی دآسمان څخه نازله سوه چی دتیری زمانی دپاته سوی سود معامله هم اوس جائز نه ده ، او په دی کی کله چی غیر مسلموته دشکایت (اعتراض) دا موقع په لاس ورتله ، چی دیو اسلامی شرعی حکم په وجه زمونږ مال ولی وهل کیږی ، نو دهغه دلیری کولو دپاره نبی کریم ﷺ دحجة الوداع په خطبه کی دا خبره په ډاګه کړه چی ددی شرعی حکم اثر یوازی په غیر مسلمو نه دی بلکه په مسلمانانو باندی هم یوشان دی او ترټولو اول چی دسود کوم رقم پریښوول سو هغه دنبی کریم ﷺ داکا محترم حضرت عباس ﷺ هغه بی حسابه رقم وو .

غرض دا دی چی درباء دمنع کیدو په وخت کی درباء مطلب څه پټ نه وو په عام طور سره معلوم وو ، هغه رباء چی عربو ورته رباء ویل ، او ددی معامله یی کوله قرآن حرامه کړه ، اونبی کریم ﷺ دا نه یوازی په اخلاقی طور بلکه دملك دقانون په طورسره نافذه کړه ، البته ځینی نور داسی صورتونه هم ده ﷺ په رباء کی شامل کړل چی په عام طور سره رباء نه ګڼل کیده ، ددی صورتونو په مقررولوکی حضرت فاروق اعظم ﷺ ته اشتباه (شك) وړاندی سو اوپه دی کی دمجتهدینو امامانوپه نظریوکی اختلاف

راغی ، که نه نو اصلی رباء کومی ته چی عربو رباء ویل نه په هغه کی یوځای یوچاته دشك موقع راغلی ده او نه په هغه کی دچا اختلاف راغلی دی .

اوس واوری چی په عربو کی څه رباء رواج وه ؟ دتفسیر امام ابن جریر دحضرت مجاهد څخه نقل کړي دی چی کومه رباء په جاهلیت کی جاری وه اوهغه قرآن منع کړه دا وه چی چاته به یی تریو مقرر وخت پوری قرض ورکی اوپه هغه به یی تراصلی رأس المال مقرر کړی زیاتی اخستی ، اوکه په مقرره نیته به یی هغه قرض ادا نه کړل سو نو نوره نیته به یی ورته په دی شرط زیاتوله چی سود زیات کی ، هم دا مضمون حضرت قتاده اونورو حضراتو دتفسیر امامانو نقل کړي دی (تفسیر ابن جریر ج ۲ ص ۶۲)

د اندلس دتفسیر مشهور امام ابوحیان غرناطی په تفسیر بحر محیط کی هم دجاهلیت درباء دغه صورت (شکل) لیکلی دی چی قرض به یی ورکی اوپه هغه به یی نفع اخیسته اوڅومره موده چی به یی دقرض زیاتوله دومره به یی ورباندی سود زیاتوی ددی نوم رباء وه ، ددی جاهلیت دعربو خلګو به ویله چی لکه څنګه چی په اخیستلو اوخرڅولو کی فائده کول جائز دی دغه شان خپلی روپی قرض ورکول اوپه هغه نفع اخیستل هم جائز په کار دی ، قرآن کریم دا حرامه کړه او دبیعی اورباء حکمونه یی جدا جدا واضح (ښکاره) کړه ، هم دا مضمون دتفسیر په ټولو مستندو کتابونو تفسیرابن کثیر تفسیر کبیر او روح المعانی او نورو کی په معتبرو روایتونو سره راغلی دی .

ابن عربی په احکام القرآن کی فرمایی ، الرِّبٰوا فِى اللُّغَةِ الزِّيَادَةُ وَالْمُرَادُ بِهٖ فِى الْاٰيَةِ كُلُّ زِيَادَةٍ لَا يُقَابِلُهَا عِوَضٌ (ص۱۰۱ ج۲) یعنی درباء معنیٰ په اصلی لغت کی زیاتوب دی ، اوپه آیت کی ددی څخه مراد هغه زیاتوب دی چی په مقابله کی یی څه مال نه وی بلکه محضی قرض او دهغه میعادوی ، امام رازی په خپل تفسیرکی فرمایی چی درباء دوه قسمونه دی، یوپه معاملو اخیستلو او خرڅولوکی دننه رباء، دوهم دقرض رباء، او په جاهلیت دعربوکی رواج ددی دوهم قسم رباوو او دا په کنبی مشهوره وه ، چی دوی به خپل مال چاته ترمقرری نیتی پوری ورکوی اوهره میاشت به یی دهغه نفع اخیسته، اوکه په مقرره نیته به یی ادایګی ونه سوه ، نومیعاد (نیته) به یی نور زیاتوله په دی شرط چی هغه به دسود رقم نور زیات کی دا دجاهلیت رباء وه چی قرآن کریم حرامه کړه .

امام جصاص په احکام القرآن کی درباء معنیٰ دا بیان کړي ده .

هُوَ الْقَرْضُ الْمَشْرُوْطُ فِيْهِ الْاَجَلُ وَزِيَادَةُ مَالٍ عَلَى الْمُسْتَقْرِضِ.

یعنی هغه قرض وو چی په هغه کی به ترڅه میعاده پوری په دی شرط قرض ورکول کیږی چی قرضدار به ده ته تراصلی مال زیات څه رقم اداء کوی په حدیث کی نبی کریم ﷺ درباء تعریف داسی فرمایلی دی

كُلُّ قَرْضٍ جَرَّ نَفْعًا فَهُوَ رِبًا . یعنی کوم قرض چی نفع حاصلوی هغه رباء ده .

دا حدیث په جامع صغیر کی دی او عزیزی ورته احسن ویلی دی .

لنډه دا چې قرض ورکول او په هغه نفع اخیستل رباء ده کومه چې دعربو دجاهلیت په زمانه کې رواج او معلومه وه ، چې دقرآن کریم په ذکر سوو آیتونو سره ښکاره په ښکاره حرامه سوه او ددې آیتونو دنازلیدو سره اصحابو رضي الله عنهم پرېښوولې ، اونبي کریم ﷺ په قانوني جګړو کې دا نافذه کړه ، نه په دې کې څه ابهام (پټ والی) وو اونه اجمال نه په دې کې څه اشتباه وه اونه څه اشکال .

البته نبي کریم ﷺ درباء په مفهوم (په معنٰی) کې د اخیستلو اوخرڅولو یو څو صورتونه هم دا خل کړه کوم چې به عربو رباء (سود) نه ګڼل مثلاً دشپږو شیانو په اخیستلو اوخرڅولو کې یې دا حکم وکې چې که ددې بدلون کوی نو برابر برابر په کار دي ، که کمي یا زیاتي په کښې وسو یاپه کښې قرض وسو نو هغه هم رباء ده ، دا شپږ شیان سره زر سپین زر غنم او ربشې خُرماوې او انګوردي .

ددې اصولو لاندې چې دعربو په معاملوکې کوم څو صورتونه دمزابنه اومحاقله په نوم سره چلیده ، درباء دآیت ترنازلیدو وروسته نبي کریم ﷺ هغه په رباء (سود) کې شامل کړل او منع یې کړل (ابن کثیر په حواله دمستدرك دحاکم ص ۳۲۷ ج ۱).

په دې کې دا خبره دغور کولووه چې داشیان خاص دي اوکه نورشیان هم ددې څخه علاوه په دې حکم کې دي اوکه دا خل دي نو قاعده یې څه ده ؟ کوم کوم صورتونه به په رباء کې دا خل ګڼل کیږي ؟ دا اشکال (شش اوپنج) حضرت فاروق رضي الله عنه ته را وړاندې سو نو په دې وجه هغه وفرمایل .

انَّ آية الرِّبٰوا من آخِرمانزل من القرآن وَانَّ النَّبي ﷺ قُبض قبل ان يبينه لَنا فدعوا الرِّبٰوا او الريبة .(احکام القرآن دجصاص ص ۵۵۱)

یعنی آیت دربٰو دقرآن دآخري آیتونو څخه دي ددې دپوره تفصیل تربیانولو مخکې نبي کریم ﷺ وفات سوپه دې وجه اوس احتیاط په کاردی رباء خو دسره پاته کول په کار دي اوپه کوم صورت کې چې درباء شك قدري وي،نوهغه هم پرېښوول په کاردي.اوتفسیر ابن کثیر په حواله دابن ماجه ص۳۲۸ ج۱)

دحضرت فاروق اعظم رضي الله عنه مراد داخیستلو اوخرڅولو په معاملوکې هغه صورتونه او دهغه تفصیلات دي چې دعربو دجاهلیت په زمانه کې سود نه ګڼل کیدل او رسول کریم ﷺ هغه په سود کې دا خل کړه اومنع یې کړه پاته سو اصلي سود نو دا خو په ټولو عربو کې معلوم اومشهور وو ، اوصحابه کرامو دغه پرېښو وي ، اونبي کریم ﷺ یې قانون نافذکې ، او دحجة الوداع (آخري حج) په خطبه کې یې ددې اعلان وکې ، په دې کې دفاروق اعظم رضي الله عنه دشك اوشبهې پیدا کیدو هیڅ امکان نسته ، اوبیاچې کله فاروق اعظم رضي الله عنه ته درباء په کومو خاصو صورتونو کې شبهه ورپیښه سوه نوهغو ته یې داسې حل جوړ کې چې په کومو صورتونو کې درباء شك قدر وي هغه دې پرېښوول سي .

لیکن افسوس دی چې نن ځینې هغه خلګ چې دیورپ دظاهري ډول ډال او دولت مندی او په موجوده کاروبار دتجارت کې دسود په ورننوتو په رعب کې را غلي دي دوی دفاروق اعظم رضي الله عنه ددې بیان دا

نتیجه را ویسته ، چی درباء معنیٰ (مفهوم) غیر واضح یعنی مجلمل پاته سوی وو ، په دی وجه په دی کی رایه ورکول ځای کیږی ، چی ددی دغلطیدو اوس پوره معلومات مخ ته راغلی دی ، په احکام القرآن کی ابن عربی په داسی خلګو سخت انکار کړي دی چاچی ددی فاروقی ارشادپه وجه دقرآن کریم درباء آیت ته مجمل (غیر واضح ویلی دی ، ابن عربی په احکام القرآن کی فرمایی .

اِنَّ مَنْ زَعَمَ اَنَّ هٰذِهِ الْآيَةِ مُجْمَلَةٌ فَلَمْ يَفْهَمْ مَقَاطِعَ الشَّرِيْعَةِ فَاِنَّ اللهَ تَعَالٰى اَرْسَلَ رَسُوْلَهُ اِلٰى قَوْمٍ هُوَمِنْهُمْ بِلُغَتِهِمْ وَاَنْزَلَ عَلَيْهِ كِتَابَهُ تَيْسِرًامِّنْهُ بِلِسَانِهٖ وَلِسَانِهِمْ وَالرِّبٰوافِى اللُّغَةِ الرِّبَاوَةُ وَالْمُرَادُبِهٖ فِى الْآيَةِ كُلُّ زِيَادَةٍ لَايُقَابِلُهَا عِوَضٌ .

یعنی چاچی دا وویل چی دا آیت مجمل دی دی دشریعت په وضاحتونو نه دی پوه ځکه چی الله ﷻ خپل رسول ﷺ داسی قوم ته ولیږی چی دی په خپله دهغه قوم ځخه وو دهغوی په ژبه یی ولیږی په ده ﷺ یی خپل کتاب دآسانی دپاره د دوی په ژبه نازل کی اودلفظ درباء معنیٰ د دوی په ژبه کی دزیاتوب ده او مراد په آیت کی هغه زیاتوب دی چی دهغه په مقابله کی مال نه وی بلکه نیته وی .

اوامام رازی په تفسیر کبیرکی فرمایی چی درباء دوه قسمونه دی یوه دقرض رباء دوهمه دنقد بیع رباء، اولنی قسم هغه دی چی دجاهلیت په زمانه کی مشهور اومعلوم وو او دجاهلیت خلګو په دی کی معاملی کولی او دوهم قسم هغه دی چی حدیث یی بیان کړي دی چی دفلانی فلانی شیانو په اخیستلو اوخرڅولو کی په کموالی یازیاتوب سره رباء (سود) راځی اوپه سودکی دا خلیږی .

او په احکام القرآن دجصاص کی دی چی درباء دوه قسمونه دی یو په اخیستلو خرڅولو کی دننه ، دوهم بغیر داخیستلو اوخرڅولو ځخه ، اوپه زمانه دجاهلیت کی درباء دا دوهم قسم وو، او ددی تعریف دا دی چی هرهغه قرض چی په مقرره نیته سره په کښی نفع واخیستل سی ، او هم دا مضمون ابن رشد په بداية المجتهد کی لیکلی دی او په قرض باندی دنفع اخیستلو درباء حراموالی یی په قرآن حدیث او اجماع امت سره ثابت کړي دی .

امام طحاوی په شرح معانی الاثارکی په دی موضوع باندی په لوی تفصیل سره خبره کوی ، دا ښیی چی په قرآن شریف کی کومه رباء ذکرده ددی ځخه په ښکاره طور سره هغه ربا مراد ده کومه چی په قرض نَسِيًا باندی اخیستل او ورکول کیږی او دی ته به یی په زمانه دجاهلیت کی رباء ویل ، تردی وروسته دنبی کریم ﷺ په بیان او دده ﷺ په سنتو سره دوهم قسم رباء معلومه سوه چی په خاص اقسامو داخیستلو اوخرڅولو کی دکمی او زیاتی یاقرض کولو نوم دی ، او ددی رباء په حراموالی باندی هم دنبی کریم ﷺ احادیث متواتر راغلی دی ، مګر ددی قسم رباء دپوره وضاحت نه کولو په سبب په دی کی خینوصحابه کرامو ته اشکال پیښ سوی دی اوفقهاؤپه کښی اختلافات کړي دی (معانی الاثار ص۲۳۲ ج ۲)

او حضرت شاه ولی الله رحمه الله په حجة الله البالغة کی فرمایلی دی چی رباء یوه حقیقی ده اوبله هغه ده

چې په حکم درباء کې ده ، حقیقي ربا په قرض نَسیا دزیاتی اخیستلو نوم دی اوپه حکم درباء کې هغه دی چې بیان یی په حدیث کې راغلی دی چې دځینو خاص شیانو په بیع کې یی زیاتی اخیستلو ته ربا ویلی ده ، اوپه یوحدیث کې چې کوم راغلی دی چې ، لَارِبا اِلاَّ فِی النَّسِیَّۃ (رواه البخاری) یعنی ربایوازې په قرض کې ده ، ددې دا مطلب دی چې حقیقي اواصلي رباء کومه چې په عام طور سره رباء ګڼل کیږي او رباء ورته ویل کیږي هغه په قرض باندې دنفع اخیستلو نوم دی ددې څخه ماسوا څومره قسمونه چې یی ددې سره پیوست کړي دی هغه ټول حکمًا په ربٰوا کې دا خل دی .

ددې تفصیل څخه څو خبرې په ډا ګه سوي

اول دا چې دقرآن ترنازلیدو مخکې ربا یومعلوم شی وو ، په قرض نسیا به یی په حساب دنیټې زیاتی اخیستلو ته رباویله ، دوهم دا چې په قرآن کې درباء دحراموالی په نازلیدو سره ټولو اصحابو دغه ربا پاته کړه ددې په معنٰی دځان دپوهولو دپاره هیڅ‌اته څه شك اوشبهه نه ده پیښه سوی .

دریم دا چې نبی کریم ﷺ دشپږو شیانو په باره کې دا ارشاد وفرمایی چې د دوی دیو بل سره په اخیستلو او خرڅولو کې برابروالی شرط دی ، کموالی یا زیاتوالی په سودکې دا خل دی ، اوپه دی کې قرض کول هم په سودکې دا خل دي ، دا شپږ شیان سره زر سپین زر غنم وربشی خُرماوی اوانګور دی اوتردې قانون لاندې په عربو کې رواجي قسمونه دبیع مزابنه اومحاقله اونور حرام مقرر سوی دی ، دنبی کریم ﷺ په دې ارشاد کې دشپږو شیانوپه اخیستلو اوخرڅولو کې کموالی زیاتوالی اوقرض څو ښکاره په رباء کې دا خل سوی او حرام سوی دی ، لیکن په دوی کې دا خبره دپوهې او اجتهاد وه ، چې آیا دا حکم ددې شپږو شیانو سره خاص دی اوکه نور شیان په کښې هم وي ، اوقاعده (طریقه) یی څه ده ، په دې ضابطه کې فقهاؤ په خپل خپل غور اوفکر اواجتهاد سره مختلف صورتونه جوړکړل اوکله چې دا قاعده په خپله نبی کریم ﷺ نه وه بیان کړې نوپه دې کې دشکمن پاته کیدوپه وجه حضرت فاروق اعظم رضی الله عنه په دې باندې افسوس ښکاره کې چې کاشکې؛ نبی کریم ﷺ په خپله ددې څه قاعده بیان کړې وای (یعنی یوه طریقه یی ورته په خپله جوړه کړې اوبیان کړې وای) نو دشك راتلو په وخت کې به وربانده تسلی کیدی اوبیایی داارشادوفرمایی چې کوم ځای درباء شبه قدروی نودهغه څخه ځان ساتل په کاردی

څلورم دا معلومه سوه چې اصلي اوحقیقي ربٰو کموالی ته چې فقهاؤ دقرآن ربوٰ یادقرض ربٰو نوم ورکړي دی دا هم هغه ده کومه چې په عربو کې معلومه وه ، یعنی په قرض باندې په حساب دنیټې سره نفع اخیستل ، دوهم قسم رباء کومه چې په احادیثو کې ښوول سوي ده هغه هم ټوله ددې رباء سره پیوست ده او ددې په حکم کې ده اوڅه خلاف اواختلاف چې په امت کې سوي دی هغه ټول په دې دوهم قسم رباء او معاملاتو کې یی سوی دی ، په اول قسم رباء کومه چې قرآن کریم ورته رباء وایی

ټول امت ددې په حراموالي باندې متفق دی او په امت محمدي کې تراوسه پورې هیڅاهم په دې کې اختلاف نه دی کړی ، او نن صبا چې کومه رباء (سود) دانساني معاشي معاملو بنياد ګڼل کيږي او دسود په مسئله کې چې کوم وربانډې بحث روان دی دا هم رباء ده دکومې دحراموالي په باره کې چې دقرآن اوه آيتونه اوتر څلويښتو زيات احاديث وارد دي اوپه اجماع دامت سره ثابته ده .

درباء دوهم قسم کوم چې داخيستلو اوخرڅولو لاندې راځي نه دهغه رواج عام دی اونه په هغه کې څه بحث کولو ته ضرورت شته .

ترديځای پورې دا خبره په ډاګه سوه چې په قرآن او احاديثو کې درباء حقيقت (اصل) څه دی ؟ کومه چې دسود دمسئلې اولنۍ خبره ده .

(دسود په حراموالي کې حکمت او مصلحت)

ددې څخه وروسته دوهم بحث ددې دی چې دسود حراموالي اوبنديز ترکومې ګټې اوفائدې لاندې دی او په دې کې دانسان دپاره کوم روحاني يامعاشي ضررونه دي چې دهغه په وجه اسلام دا دومره لويه ګناه مقرره کړه .

دلته اول ځان په دې خبره پوهول ضروري دي چې ددنيا ټول مخلوق او د دوی معاملې چې دی په دوی کې يوشی داسې نسته چې په هغه کې څه نا څه ګټه يافائده نه وي ، مار لړم مچمچې شرمښ اوپه زهرو کې هم دانسان دپاره په زرګونو فائدې دي .

دقدرت په کارخانه کې يوشی بيکاره نسته ، غلا ، ډاکه ، بدکاري ، رشوت ، په دوی کې داسې يوشی نسته چې څه نه څه فائده په کښې نه وي ، مګر هرمذهب اوملت اوهره يوه اداره دې ته ګوري چې په څه شي کې نفع زياته اونقصانونه کم وي هغه نفع مند او فائده بولي اوپه کوموکې چې فسادونه زيات او نقصانونه ماسوا وي اوفائدې يې کمې وي هغه مضر اوبې کاره ګڼي قرآن کريم هم دشرابو اوځمار په حرامولو سره دا اعلان وکې چې په دې کې ګناهونه ډيرې دي اودخلګو په کښې څه فائدې هم دي ليکن دګناه تاوان يې دفائدې په مقابله کې زيات دی ، په دې وجه دې شيانوته ښه يافائده‌مند نه سی ويل کيدی ، بلکه ډيرنقصاني اوتباه کوونکي يې ګڼي ځان ساتل يې ورڅخه لازم کړل .

درباء يعنې سود هم دا حال دی په دې کې دسود خور دپاره څه وقتي نفع خامخا ليدل کيږي ، ليکن دنيوي او اخروي تاوان يې ددې نفعې په مقابله کې ډير سخت دی .

په هرشي کې دنفع او نقصان دفساد اواصلاح په موازنه کولوکې دا خبره هم دهرعقلمندپه نزد دکتلو قابله وي چې که په يوشي کې فائده يوازې ديوه وخت دپاره وي اونقصان يې هميشه وي نو يو هوښيارهم دغه شي دفائدې په شيانوکې نه شميرې دغه رنګه که ديو شي نفع ديوه تن دپاره وي اونقصان يې پوره قوم ته رسيږي نو دې ته هم يو سړی دفائدې شي نه وايي ، په غلا اوډاکه کې خو

دغله اوډاکو ښکاره نفع ده مګر ټول قوم ته یې ضرر وي او امن اوسکون یې برباد وي ، نو په دې وجه یوانسان هم غلا اوډاکې ته ښه نه وایي ، ددې بیان څخه وروسته دسود په مسئله نظر واچوی ، نو ترلږغوندې فکر کولوڅخه وروسته به معلومه سې چې په دې کې دسودخور دوقتي فائدې په مقابله کې ده ته روحاني اواخلاقي دومره نقصان رسوي چې دې دسرپټوب څخه باسي او دا چې دده کومه وقتي نفع ده هغه هم دده ذاتي نفع ده ، او ددې په مقابله کې ټول ملت ته یولوی نقصان او معاشي تباهي ده ، لیکن ددنیا دا حال دی چې کله په دې کې یوشي رواج سي نو دهغه خرابي بیا دسترګو څخه پناه سي اویوازې فائدې یې دنظر په وړاندې وي که څه هم دغه فائدې سپکې ذلیله اووقتي وي ، خو دغه شي دغه نقصانونه بیا دوی ته نه ښکاري که هرڅومره سخت اوعام ولې نه وي .

رسم او رواج دانسان دپاره یوه نشه ده چې دې یې بالکل بې څایه کوي ، ډیرکم خلګ وي چې هغوی درسم او رواج خرابیوته اونقصانونو ته ګوري او څان ورباندې پوهوي چې ددې فائدې څومره دي او نقصانونه یې څومره دي ، بلکه که څوك یې پوه هم کې اونقصان یې ښکاره هم سي خو درسم او رواج پابندي یې دنیکي لارې را وستلو ته نه پریږدي .

سود او رباء په دې زمانه کې دوبایي مرض شکل اختیار کړي دی او ددې رواج ټوله دنیاپه خپله غیږه کې رانیولې ده او دانساني فطرت خوند یې بدل کړي دی چې تریخ ورته اوس خوږ ښکاري اوکوم شي چې دټول انسانیت دکاروباري ژوند بربادونکې دې هغه یې دژوند دکاروبار دمسئلې حل ګڼلې دی ، نن که څیرې یودحق فکرکوونکی ددې خلاف آوازلوړکې اوخلق پوهوي نوده ته به خلق پاګل اولیوني وایي دا هرڅه دې مګرهغه ډاکټر ډاکټرنه دی دانسانیت ډاکو دی چې په یوملك کې وبا خپره سي اوعلاج یې بیا نه وي ، او دغه ډاکټر ووینې چې ددې وبا علاج اوس ګران دی نو شروع سي اوخلګو ته وایي چې ددې مرض څخه اوس بیره مه کوی ، دا هیڅ مرض یا نقصان نه دی بلکه دا خو عین شفا او راحت دی ، دیوه ډاکټر په دغه وخت کې هم دا کار دی چې خلګ ددغه مرض دنقصان څخه خبر وي او دعلاج طریقې او تدبیرونه ورته ښیي .

انبیاء علیهم السلام چې دنیاته راځي نو په دوی باندې دخلګو داصلاح کولو ذمه واري اچول سوې وي ، دوی هیڅکله ددې خبرې پرواه نه کوي چې څوك به د دوی خبره واوري اوکه نه دوی که څیرې دخلګو دمنلو یاڅاوریدو انتظار کولی نو ټوله دنیابه په شرك اوکفرسره آباده وای دکلمې د لاَ اِلٰهَ اِلاَّ اللّٰهُ منونکې په هغه وخت کې هیڅ څوك هم نه وه کوم وخت چې خاتم الانبیاء ﷺ ته ددې دتبلیغ اوتعلیم حکم دالله ﷻ دطرفه وسو ، سود او رباء که څه هم نن صبا دژوند په معاملوکې دملا دتیر حیثیت ګڼل کیږي لیکن حقیقت دا دی کوم چې نن هم څینو حاکمانو دیورپ منلې دی چې دا دژوند په معاملوکې دملا دتیر هډوکې نه دی ، بلکه دملا دتیر په هډوکو کې چینجي دي چې لږ لږ یې خوري .

لیکن افسوس دی چی دنن صبا دعلم خاوندان هم هیڅکله درسم او رواج ددی تنګی داثری څخه ځان نه باسی ، او دسوونو کالو تجربی یی هم دی طرف ته نه مخ کوی چی دسود او رباء لازمی نتیجه دا ده چی دخدای ﷺ ټول مخلوق او تمام امت په لوږه تنده او دژوند په جنجالونو کی اخته سی او دوی ترغریب لا غریب ترکیږی او یو څو سرمایه دار دی د دوی دمالونو څخه فائدی اخلی یاداسی روایه چی دقوم وینی چیښی اوخپل بدنونه غټوی اوپالی یي ، او حیرانی خو دا ده چی کله ددی صاحبانو په مخکی دا حقیقت بیانیږی نو ددی د درواغجن کولو دپاره مونږ د امریکی اوانګلیند بازارونوته بیایی اوهغه راته ښیی چی وګوری دا خلګ څنګه دسود او رباء په وجه سره پټ اوماړه دی ، لیکن ددی مثال خو داسی دی لکه چی څوك تاسی ته دسړی خورو دیوقوم او د دوی ددی کار برکتونه ښیی اوتاسی دسړی خورو یوی محلی ته بوزی اوتاسی ته وښیی چی وګوری دوی څومره غټ کټ تازه اوطاقتور دی اوپه دی باندی داثابته کی چی د دوی دا کار څومره ښه کار دی ، لیکن که په دوی باندی یو پوه اوهوښیار سړی پیښ سی نو هغه به ورتهووایی چی تاسی دسړی خورو دعمل برکتونه دسړی خوروپه محله کی نه بلکه هغه محلو اوکلو ته ولاړسی وګوری کوم ځای چی په زرګونو خلګ د دوی ددی عمل په وجه مړه پراته دی او وینه اوغوښی ورڅخه دوی خوړلی دی خانونه یی وربانډی چاغ کړي دی ، اسلام او اسلامی شریعت هیڅ ځای هم داسی کارته صحیح اوفائده مندنه وایی چی نتیجه یی دپوره امت تباهی اوبربادی وی اوڅه خلګ د دوی په مال ځانونه پالی اوځانونه دی وربانډی غټوی او چاغوی .

(دژوند په معاملو کي دسود اوربا خرابي)

په سوداو رباکی که بل عیب ګرسره وای نه ماسوا ددی څخه چی ددی په نتیجه کی یوڅو کسانو ته نفع اونور پوره انسانیت ته نقصان دی نوداهم ددی دبندولو اوددی څخه دنفرت کولو دپاره پوره وه، لیکن حال دادی چی په دی کی ددی څخه علاوه نوری هم معاشی خرابی اوروحانی تباهی بی شمیره پیدا کیږی .
اول په دی ځان پوه کی چی دسودپه ذریعه دقوم تباهی اودخاصو افرادو نفع څنګه ده، دسود اوربا په سوداګری اوپخوانی دزړی زمانی په طریقه کی خو یوه داسی بی عقلی وه چی دعام قوم په ضرر او دیو خاص سړی په فائده خو هر دعقل خاوند پوهیدی ، لیکن دنن صبا نوی رڼا چی ورته نوی تیاره ویل زیات مناسب دی ، دی چی څنګه شراب په مشینونو کی صفاکړه، دغلاګانو اوداکو نوی نوی طریقی یی پیدا کړی ، دبدکاری اوبی حیایی نوی نوی طرزونه یی راویستل اوټولو ته یی داسی رنګونه ورکړل چی سرسری نظر کوونکو ته ددی دننه خرابی په نظرنه ورځی ، دغه شان درباء اوسود دپاره یی په ځای دشخصی دکانونو شریکی کمپنی جوړی کړی چی بینك ورته ویل کیږی ، اواوس ددنیا په سترګوکی دخاورو اچولو دپاره داښوول کیږی چی دسود ددی نوی طریقی څخه ټول ملت (قوم) ته

فائده ده ، ځکه چی عام خلګ خو یا دخپلو روپو په تجارت کولو نه پوهیږی اویا دا چی روپی ورسره کمی وی په دی وجه وربانډی تجارت نه سی کولی ، نو ددی ټولو روپو په بینکونوکی جمع سی او دوی هریوه ته که څه هم لږوی خوبیاهم څه ناڅه نفع دسود په نوم رسیږی، اولویو سوداګروته دا موقع په لاس ورسی چی هغوی ددی بینکونو څخه په سود قرض واخلی اوغټ تجارت وربانډی وکی فائده یی وسی په دی وجه سود داسی مبارك شی جوړ سو چی دقوم ټولو خلګو ته ورڅخه نفع رسیږی.

لیکن که لږ دانصاف څخه کار واخلی نو دا هغه مکر دی کوم چی شراب یی دګنده بوټو څخه صفاسترو هوټلونو ته او دبی حیایی اوعصمت فروشی اډی یی سنیماګانو اوکلبونو ته رابدلی کړی ، زهر یی تریاق او مضر یی دمفید ښوولو دپاره په عمل کی را وستل اولکه څنګه چی دسترګو خاوندته دا خبره ښکاره ده چی اخلاق سوځونکو جرمونو ته دنوی غلاف اغوستولو نتیجه ددی څخه ماسوا نه ده چی دا جرمونه ترمخکی زیات سوه ، دغه حال دسود او رباء دی ، نوی شکل دسود یو څو انی (پیسي) په سلو کی دخلګو په خُلو کی ورکړی یو طرف ته یی هغوی دخان سره په خپله ګناه کی شریك کړه اوبل طرف ته یی دځان دپاره ددی جرم کولو یو لوی میدان تیارکی

څوك په دی نه پوهیږی چی دسود دایوڅو آنی په سلوکی کومی چی دسیونګ بینکونو اوډاکخانو څخه خلقوته رسیږی دا په هیڅ شان هم د دوی دروزګار دپاره نه دی ، نوپه دی وجه دوی مجبوردی چی دخپلی خیتی ډکولو دپاره څه مزدوری یانوکری ولټوی تجارت ته خو اول د دوی خپل فکر هم نه ځی ، اوکه دچا په کښی دی طرف ته مخ هم سی نو دټول قوم سرمایه په بینکونوکی جمع ده، دتجارت شکل یی جوړ کړي دی ، په دی کی دلږ سرمایی والا دپاره داخلیدلٔ خپل مرګ ته دعوت ورکول دی ځکه چی بینك ډیره سرمایه په قرض باندی یوازی هغه چاته ورکوی دچاچی په بازارکی خپل اعتبار اوخپل لوی کاروبار وی دلسو لکو (۱۰۰۰۰۰۰) مالك ته یوکروړ قرض رسیدی سی، دی دخپلوذاتی روپوپه نسبت لس چنده زیات تجارت چلولیٔ سی، اودلږ سرمایی والانه څه خپل اعتبار وی اونه بینك په ده اعتبار کولی سی چی ده ته لس چنده زیاته قرضه ورکی، دیوزر مالك ته لس زره خو پریږده یوزر رسیدل هم ګران دی اوکله چی یوسړی چی دیوه لك (۱۰۰۰۰۰) مالك وی نهه لکه (۹۰۰۰۰۰) دبینك سرمایه ولګوی دلسو لکو تجارت کول کیږی اوفرض کړه که دی په سلوکی یوه روپی وګټی نوګواکی ده په خپلو یولك روپولس فیصده نفع واخیسته اوده په مقابله کی که یوسړی په خپلو ذاتی یولك روپو تجارت کوی نوده ته به یوازی یوفیصد نفع وی چی دابه دده دضروری خرچونو دپاره هم پوره نه سی، بلی خواته چی په مارکیټ کی لوی سرمایه دارته کچه سامان چی په کوم نرخ اورعایت سره ملاویږی هغه لږسرمایی والاته نه ملاویږی په دی وجه کوچنی سرمایه داربی لاسو بی پښو اومحتاجه پاته سی، اوکه دبدبختی څخه ده هم داسی لوی تجارت ته لاس واچوی، نولوی سرمایه دار

دی په خپله خدایی کی شریك وګنی نولږ خپلی غوټی ته نقصان ورکی بازار داسی کمزوری کړی اوراوی غورځوی چی لږ سرمایی والا داصل اونفع دواړو څخه لاس پری مینځی، نوددی نتیجه دا ده چی تجارت یوازی دیوځو تنوپه لاسونوکی بند پاته دی کوم چی لوی سرمایه دار دی.

دا په قوم اوملت څومره لوی ظلم دی چی ټول قوم داصلی تجارت څخه محرومه سوی دی یوازی دسرمایه دارو لاس ته ناست دی هغه چی دوی ته څومره نفع ورکول غواړی دبخشش په طوریی ورکوی ، او دوهم تردی لوی نقصان چی ټول ملك یی په کړکیچ کی راځی د ادی چی دشیانو پرنرخ باندی ددی سرمایه دارو قبضه وی ، دوی یی ترګران لا ګران خرڅوی خپله غوټه مضبوطوی اودټول قوم غوټی ته نقصان رسوی او دقیمت زیاتول چی کله غواړی نو دمال خرڅول بندکی، که دټول قوم سرمایه په بینکونوکی نه جمع کیدی او ددی خودغرضو خلګو پالنه یی نه کولی اودوی مجبوره کیدی یوازی په خپله ذاتی سرمایه یی تجارت کولی، نونه به کوچنیو سرمایه داروته دامصیبت پیښیدی اونه به دا خود غرضه شرمنبان دټول تجارت مالکان جوړیدل چی کوچنیو سرمایه داروته په تجارت کی نفع راتلی نوخلګو به ورڅخه عبرت اخستی او دتجارت کار وبار به عام کیدی ، اوبیابه هریوه ځان ته جلا نوکران منشیان اوځای ساتی چی دزرګونو حاجتمندو روزی به په کښی پیدا کیده او دتجارت نفع به هم عامه وه او دشیانو په ارزانی به هم ښه اثر پریوتی ، ځکه چی دیوبل سره خواخوږی یو داسی شی دی چی ددی په وجه بنده دی ته جوړیږی چی خپله نفع کومه کی.

دی دټګی کار په ټول قوم یو هلاکوونکی بیماری لګولی ده او بل یی د دوی دماغ داسی خراب کړي دی چی دا مرض اوس دوی روغوالی ګڼی.

دبینکونو دسود څخه دقوم یو بل معاشی نقصان ووینی ، چی دچا سره لس زره سرمایه ده او دی دبینك څخه په سود قرضه واخلی دیولك کاروبار کوی ، نوکه چیری دده دا بیړی ډوبه سوه اوپه تجارت کی یی نقصان وکی او ډیوالی سو، نو فکر وکی چی دده یوازی لس فیصده نقصان وسو، باقی لس کم سل فیصده نقصان دقوم وسو، دچاسرمایه چی ده دبینك څخه اخستی وه اولګولی یی وه، که بینك فی الحال دغه دډیوالی نقصان پوره کی نو دا خوښکاره خبره ده چی بینك دقوم جیب دی دده دانقصان آخر په قوم لویږی چی مطلب یی داسوچی کله ده ګټه کوله نو دده یوازی وه دقوم په کښی هیڅ نه وه یاتش برای نام وه ، اوکله چی نقصان راغی نو نوی ۹۰ فیصده په قوم لویږي ، دسود یومعاشی نقصان دا هم دی چی سود خور کله په نقصان کی راسی نو بیایی پښی نه لګیږی ځکه چی دومره سرمایه خووی نه چی نقصان یی دی برداشت کی نو دنقصان په وخت کی په ده غبرګ تاوان راسی یوه خپله نفع اوسرمایه ولاړه سی اوسربیره وربانذی دبینك په قرضه کی هم ډوب سی ، چی دادا کولو یی بیادده سره څه ذریعه نه وی ، او په بی سوده تجارت کی که ټوله سرمایه هم څه وخت ولاړه

سی نو فقیر به سی قرضداری خو به نه سی .
په کال ١٩٥٤میلادی کی په پاکستان کی دپنبه وو په تجارت باندی دقرآنی ارشاد مطابق دمحاق آفت راغی ، نو حکومت په کرو‌ړونو روپی نقصان په ځان واخیستی اوسوداګر یی خلاص کړل لیکن هیڅ‌چا په دی غور ونه کی چی دا دسود بدبختی وه ، ځکه چی دپنبه وو دی سوداګرو په دی کارو بارکی ډیره سرمایه دبینکونو لګولی وه خپله سرمایه یی برای نام وه ، دالله ﷻ په قدرت سره دپنبه وو بازار دومره راکښته سو چی دیوسل پنځه ویشتو ١٢٥ څخه لسو ١٠ ته راغی، سوداګر ددی قابل پاته نه سوه چی بینکونو ته قرض واپس کی نو مجبوره سوه مارکیټ یی بند کی اوحکومت ته یی فریاد وکی، حکومت دلسو په ځای دنوی ٩٠ قیمت ولګوی اوپخپله یی پنبه واخیستل اوپه کرو‌ړونو روپی یی خپلی تاوان کړی داسوداګر یی دډیوالی کیدو څخه خلاص کړل ، دحکومت روپی دچاوی هم ددغه غریب اوناچاره قوم ، غرض دا دی چی دبینکونو دکاروبار ښکاره نتیجه دا ده چی دټول قوم دسرمایی څخه یوڅو تنه فائده اخلی اوکوم ځای چی نقصان وسی نو په ټول ملت اوقوم لویږی .

(دخپل نس ډکولو اوقوم وژلو یوبل چال)

دسود او ربا دقوم دوژلو او دیوڅو تنو دنس ډکولو یوه اجمالی نقشه خوستاسی په مخکی راغله اوس ددی سره یوه بله چالاکی او هوښیاری ووینی چی کله سود خورو په خپله تجربه سره داشی محسوس کی چی دقرآن ارشاد دی چی ، يَمۡحَقُ اللّٰهُ الرِّبٰوا یعنی دسود په مال باندی دمحاق آفتونه راتلل لازمی دی چی بیاددی په نتیجه کی ډیوالی کیدل وی ، نوددی آفتونو څخه دخلاصیدو دپاره یی دوی مستقلی اداری جوړی کړی یوه بیمه (انشورنس) دوهمه سټه بازار ، ځکه چی په تجارت کی نقصان په دوو وجهو کیدی سی یو دځه آسمانی آفت دطرفه چی جهاز ډوب سی یاوسوزی یابل داسی څه آفت راسی ، دوهم دا چی دما ل نرخ ترقیمتِ خرید (اخیستی قیمت) کم سی په دی دواړو صورتونوکی لګولی سرمایه کله چی خپله نه وی دقوم مشترکه سرمایه وی په دی وجه دده نقصان کم او دقوم زیات دی مګر دوی دا خپل لږ نقصان هم دقوم پرسر ورتپی ، او ددی پاره یی یوطرف ته بیمه کمپنیانی جوړی کړی چی په هغه کی دبینکونو په شان دپوره قوم سرمایه جمع وی اوکله چی په څه آسمانی آفت سره په دی سود خوروڅه نقصان راسی نو دبیمی په ذریعه هغه نقصان دقوم په شریکه سرمایه وراچوی خلق داګنی چی بیمه کمپنی دخدای رحمت دی ډوبیدونکی دډوبیدو څخه خلاصوی ، لیکن که ددی حقیقت ته وګوری اوخان ورباندی پوه کی نودلته هم هغه دوکه ده ، دناګهانی آفت په وخت کی دامداد کولو فریب ورکی دقوم سرمایه جمع کی ، لیکن ددی درنو رقمونو فائده یوازی لوړو سرمایه داروته رسیږی ، چی اکثره پخپله خپل خراب موټر وسوزی یایی وجنګوی اودبیمه کمپنی څخه رقم واخلی نوی موټر ورباندی خان ته راولی ، په سلوکی به یوځای یو دوه غریبانان هم داسی وی چی دناګهانی

مرګ په سبب به یی څه پیسی وارثانو ته ورسیږی .
او دوهم قسم یعنی دنرخ دکمیدو دبیری څخه دځان ساتلو دپاره یی سته بازارګرم کړي دی او ددی اثر یی په ټول قوم غورځولی دی چی که دقیمت دکمیدو په وجه څه نقصان کیږی چی هغه هم په قوم وروغورځول سی ، په دی لنډ غوندی بیان کی به تاسی دومره پوه سوی یاست چی دبینکونو سود او ددی تجارت دټول مخلوق دپاره دلوږی تندی اومعاشی تنګدستی سبب دی ، البته دځینو مالدارو په مال کی زیاتوب هم راځی ، لنډه دا چی قوم تباه کیږی اوځوکسان وربانده ښه کیږی او دملك سرمایه را جمع کیږی دهغو لاسونو ته ورځی عام حکمتونه په دی لوی فساد باندی پوه هم سوه ، لیکن هغوی دی ته داسی علاج جوړ کی چی په لویو سرمایه دارو یی دانکم ټیکس شرح زیاته کړه ، تردی چی آخری شرح یی په یوه روپی کی پنځلس نیمی آنی کړه ، ددی دپاره چی سرمایه ددوی څخه بیاواپس سی اوقومی خزانی ته ولاړه سی .
لیکن ټولوته معلومه ده چی ددی قانون په نتیجه کی په عام طور سره دکارخانو حساب فرضی اوجعلی جوړیدل شروع سو .
لنډه دا ده چی د دولت جمع کیدل او دقوم دیوځو تنو په لاس کی بندیدل او دملك په اقتصادی اومعاشی حالت باندی ددی هغه انتهایی ضررناك اثر غورځیدل ټولوته ښکاره دی اوپه دی وجه دانکم ټیکس شرح دومره زیاتیږی ، لیکن په تجربه سره معلومه سوي ده چی دا تدبیر دمرض علاج ثابت نه سوددی اصلی وجه داده چی دمرض اصلی سبب ونه پیژندل سو په دی وجه دعلاج مثال یی دا سو چی
در به بست ودشمن اندر خانه بود
دروازه یی بنده کړه او دښمن دننه په کورکی وو ، د دولت دلویو سرمایه دارو په لاسونوکی دجمع کیدو اصلی سبب یوازی دسود کاروبار او دقومی سرمایی څخه دخاصو خاصو افرادو بی ځایه نفع اخیستل دی ، ترڅو چی داسلامی تعلیماتوپه مطابق دا بند نه سی، او دی خبری ته رواج ورنه کړل سی چی هر سړی دی یوازی په خپله سرمایه تجارت کوی ترهغه وخته پوری ددی مرض علاج نه سی کیدی .
(یوه شُبهه او دهغي جواب)
دلته یو سوال دا پیدا کیږی چی دبینکونو په ذریعه دټول قوم رقم جمع سی نو څه ناڅه فائده خو دوی ته هم رسیږی که څه هم ډیره فائده یی لویو سرمایه داروته رسیږی لیکن که په بینکونوکی دسرمایی داجمع کیده نه وای نونتیجه به یی هغه وای کومه چی په پخوانی زمانه کی وه چی دخلګو سرمایه به په مځکه کی ښخه پرته وه نه به ورڅخه ده ته فائده وه اونه بل ته .
نو ددی جواب دا دی چی اسلام څنګه چی سود حرام کړي دی دادروازه یی بنده کړي ده چی دټول قوم دولت دسرمایه دارو لاسونوته راټول نه سی نو دغه شان زکوة یی دهرمالدار په سرمایه باندی لګولی

دی اوپه دی وجه یی هریومال داریه دی مجبوره کړي دی چی دی خپله سرمایه په بندحالت کی ونه ساتی اوکال په کال ورځخه څلوېښتمه حصه دزکوٰة په شکل کی اداکوی نوپه یوځو کاله کی به دغه سرمایه ختم سی نوپه دی وجه به هر یوه سړی په دی مجبور وی چی خپلی پیسی په کار کی ولګوی په خپله ورځخه هم فائده اُخلی او نورو ته ئرځخه هم فائده رسوی او ددغه نفعی اوفائدی ځخه یی زکوٰة اداکوی۔

(دزکوٰة فریضه په یو وجه سره دتجارت دترقي ضامنه ده)

ددی ځخه دا هم معلومه سوه چی دفرض زکوٰة په ادا کولو کی لکه څنګه چی دالویه فائده ده چی دقوم دفقیرانو اومسکینانو امداد وربانذی کیږی نو دغه شان دا دمسلمانانو دمعاشی حالت دښه کولو دپاره دتجارت طرف ته دمینی پیدا کیدویوه ښکلی ذریعه ده ، ځکه چی هرسړی کله دی خبری ته وګوری چی که سرمایه می بنده کښېښودل نونتیجه به یی دا وی چی نفع به هیڅ نه وی او دکال په ختمیدوبه ورځخه څلوېښتمه حصه کمیږی ، نو خامخابه دده دی طرف ته فکر راګرځی چی دا مال په څه تجارت کی ولګوی ، او بل طرف ته سود دی په هغه کی روپی چلول حرام سوه نو دتجارت به دا صورت هم نه وی چی دلکونو خلګو په سرمایه به یوازی یوتن تجارت کوی ، بلکه هرمال دار به په خپله په تجارت کی دوّرننوتو فکر کوی او چی کله لوی سرمایه دار هم یوازی په خپله سرمایه تجارت کوی نوکوچنیو سرمایه داروته به په تجارت کی دغه مشکلات هم نه راځی کوم چی دبینکونو ځخه په سود دروپو اخیستو او دلوی تجارت چلولو په صورت کی ورته پیښیږی ، دغه شان به په ټول ملك کی تجارت وی او فائدی به یی عامی وی اوپه نتیجه کی به یی دملك غریبانو اوفقیرانو ته فائدی رسیږی

(دسود روحاني بیماري)

ددی ځای پوری دسود دمعاشی او اقتصادی بربادیو بیان وو ، اوس واوری چی دسود کاروبار دانسان په اخلاقو او روحانیت باندی څومره خراب اثر اچوی ، په انسانی خویونو کی ترټولو لوی شی دځان قربانول اوسخاوت دی ، چی په خپله په ځان سخته تیروی خو بل ته دآرام اوراحت رسولو جذبه په کښی وی ، نو دسود دکاروبار لازمی اثر داسی چی دا جذبه ختمه سی ، سودخور خو په خپل ځان چاته نفع رسول خولا پریږده بل په خپل کوشش اوخپله سرمایه سره دده برابر راتلو لیدوته هم دی نه جوړ وی په غم زپلی درحم کولو په ځای دی دهغه دمصیبت ځخه دنا جائز فائدی اخیستو په فکر کي وی۔

دسود خوری په نتیجه کی دمال حرص دومره زیات سی چی ددی په مستی کی بیادی خپل ښه اوبدهم نه پیژنی او دخپل بدانجام ځخه بالکل غافله سی۔

(آیا بغیر دسود څخه تجارت نه چلیږی ؟)

دسود حقیقت او ددی ددنیا اوآخرت دخرابیو بیان څه قدرپه تفصیل وسو ، اوس دریم بحث داپاته دی چی دسود معاشی اوروحانی خرابی اوپه قرآن اوسنت کی ددی سخت حراموالی اوبندیز خوښکاره سو

لیکن په دی اوسنی دورکی چی سود دتجارت یولوی رکن جوړ سوی دی ، دټولی دنیا کاروبار په دی چلیږی ددی څخه دځان خلاصولو تدبیر څه دی ؟ بینك سسنم ختمول خو ګویا په دی زمانه کی تجارت بندول دی ، نو جواب یی دا دی چی کوم یو مرض عام سی او دوباء شکل اختیار کی نوعلاج خو یی ګران خامخاوی ، لیکن بی کاره نه وی ، دحالاتو دسازګار کولو کوشش کول آخر دکار کامیابی وی ، البته دصبر اوثابت قدمی او دهمت څخه کار اخیستل ضروری وی په قرآن شریف کی دا هم دالله ﷻ ارشاد دی.

مَاجَعَلَ اللهُ عَلَيْكُمْ فِي الدِّيْنِ مِنْ حَرَجٍ : الله ﷻ د دین په معامله کی په تاسی څه سختی نه ده اچولی ، نو په دی وجه ضروری خبره ده چی دسود څخه دځان ساتلو به څه داسی لار خامخا وی چی په هغه کی به معاشی اواقتصادی نقصان هم نه وی ، دننه او بهر دتجارت دروازی به هم بندی نه وی او دسود څخه به په کښی نجات هم وی ، په دی کی اوله خبره خو دا ده چی په سرسری نظرسره دبینکونو دی موجوده اصولو ته وکتل سی نو په عام طور سره داسی ګڼل کیږی چی دبینکونو دار مدار پرسود باندی دی ددی څخه بغیربینك نه سی چلیدی ، لیکن دا خیال قطعًا صحیح نه دی ، دسود څخه بغیر هم دبینك سستم هم دغسی قائم پاته کیدی سی ، بلکه تردی ښه اوفائده منده طریقه په کښی راتلی سی ، خوالبته ددی دپاره ضروری ده چی څه په شریعت پوهان خلګ اوڅه دبینکونو ماهران کښینی او دیو بل په تعاون سره څه اصول دنوی سره جوړ کی نو بیا کامیابی لیری نه ده اودکومی ورځی څخه چی دبینکونو کاروبار په شرعی اصولو باندی سو، نوانشآء الله دنیابه ووینی چی په دی کی دقوم اوملت خومره ګټه ده ، ددی اصولو اوقاعدو دتشریح دا موقع نه ده په کوموکی چی دبینکونو کاروبار بغیر دسود څخه چلول کیږی.

دسود اورباء یوضرورت خوڅه دتجارتی غرضونو دپاره وی ، ددی انتظام خو به دبینك په موجوده اصولوکی دترمیم په ذریعه وسی اوبل ضرورت یی په سود کی داخته کیدونکو فقیرانو اومحتاجانو خلګو دناڅاپی اووقتی ضرورتونه وی نو ددی ښه.علاج په اسلام کی دمخکی څخه په صورت دزکوٰة اوصدقو واجبو موجود دی ، لیکن ددین اوعلم دین څخه دبی خبری اوبی پرواهی نتیجه ده چی تراوسه پوری یی دزکوٰة نظام هم معطل کړی دی ، بی شمیره داسی مسلمانان دی چی دلمانځه په شان زکوٰة ورکولو ته هم نژدی نه ورځی اوڅوك چی یی باسی نو هغه یی پوره هم نه باسی ، اوکوم خلګ چی یی پوره هم ورکوی نوهغوی بس دزکوٰة ایستل پیژنی چی دځپل جیب څخه یی باسی ، حال دا دی چی دالله ﷻ حکم دزکوٰة ایستلو نه دی ، بلکه دزکوٰة ادا کول دی اوادا کول هلته صحیح کیدی سی کله چی یی مستحقوته ورسوی اوهغوی یی مالکان کی ، اوس غور وکی چی داسی مسلمانان خومره دی چی دمستحقینو دتلاښ کولو فکر وکی اوبیایی هغوته درسولو انتظام وکی مسلمان قوم که هرخومره

دکمی سرمایی خاوندان وی لیکن که هریومسلمان چی په چا زکوٰة فرض دی هغه پوره زکوٰة ادا کی او دادا کولو صحیح طریقه اختیارکی چی مستحقینوته یی ورسوی او دادا کولو بندوبست یی وکی ، نویقینًا هیڅ یومسلمان ته به دا ضرورت پاته نه سی چی هغه دقرض په ضرورت سره په سودکی اخته اوگیر سی اوکه دشرعی قاعدی مطابق داسلام عادل حکومت جوړسی اوهغه شرعی بیت المال قائم کی اودټولو مسلمانانو دظاهری مالونوزکوٰة په کی جمع کوی نوپه دغه بیت المال سره بیادهریوه حاجتمند حاجت پوره کیدی سی اوکه چیری ډیر رقم ته یی ضرورت راسی نو دقرضی په طور بی سوده ورته هم ورخخه ورکول کیږی اودغه شان دبی کاره گرځیدونکو دپاره دکانونه یاخه روزگارونه ورباندی هم جوړول کیږی ، یوه یورپی ماهر دا صحیح ویلی دی چی ، دمسلمانانو دزکوٰة نظام داسی شی دی چی که مسلمانان ددی پابند سی نو په مسلمان قوم کی به څوك هم بی ماله اوغم ځپلی په نظر را نه سی .

غرض دا دی چی په دی زمانه کی چی دسود معاملی په کښی دوبا په شان خپری سوی دی ، په دی خبره پاته کیدل نه دی په کار چی په موجوده زمانه کی دسود کار وبار پریښوول دمعاشی اواقتصادی حالت خودکشی ده اوپه دی زمانه کی انسان په سودی کاروبار کولو باندی مجبوره دی .

البته دومره ضرورده چی ترڅوټول قوم یادقوم زیات خلق یایو اسلامی حکومت په پوره توجه سره ددی کار بیړه پرسر لوړه نه کی نو دیوه تن دوو یاڅوکسانو دپاره ضرورگرانه ده لیکن معذوره بیاهم نه دی .

دلته زمونږ ددی بیان دوه مقصدونه دی اول دا چی دمسلمانانو ټولگی اوحکومتونه کوم چی داکارپه صحیح طور سره کولی سی دی طرف ته فکر را وگرځوی اومسلمانان بلکه پوره دنیا دسود ددی بیکاره اثراتو څخه خلاصه کی .

دوهم دا چی کم ازکم دټولو علم په دی خبره صحیح کیدل په کار دی چی مرض خو مرض وگڼی دحرامو حلال گڼل چی تردی اولی گناه ډیره لویه ده چی په دی کی خونه اخته کیږی ، په عملی گناه (سود) کی خوڅه ناڅه ظاهری فائده هم ده، لیکن دا دوهمه دعلم او عقیدی گناه چی سود حلال ثابتوی تراولنی گناه هم ډیره لویه ده اوعبث هم ده ، ځکه چی سودحرام گڼل اوپه خپله گناه داوه کیدلوکی خوڅه مالی نقصان هم نسته ، څه تجارت ورباندی هم نه بندیږی ، یعنی په گناه د داوه کیدلو نتیجه به داضروری وی چی څه وخت خو به یی دتوبی توفیق وسی او ددی څخه دخلاصیدو سوچ خوبه ورته راسی .

اوس ددی مقصد دپاره په آخر کی یوڅو دحدیثو روایتونه او دنبی کریم ﷺ ارشادات هم وړاندی کوم چی دقرآن کریم ددغه آیتونو بیان دی په کوموکی چی دسود سخت بندیزونه اوپه هغه سخت عذابونه بیان سوی دی ، ددی دپاره چی گناه خوگناه وگڼل سی او ورڅخه دخلاصیدو په فکر کی وی اوکم ازکم داسی خو نه کیږی چی حرامو ته حلال وایی او دیوی گناه څخه دوه گناهونه جوړ وی ، اولوی لوی نیکان د یندارہ مسلمانان چی دشپی تهجد او دالله ﷻ ذکر کوی اوسهارچی دکان یاکارخانی ته

ورسیږي نودايي ګرسره په خيال کې هم نه راځي چې مونږ دسود او دخمار په معاملاتوکې اخته يو څه ګناه هم کوو.

(دسود په باره کې دنبي کريم ﷺ ارشادات)

(۱) نبی کریم ﷺ فرمايلي دي چې داوو هلاکونکو شيانو څخه ځان ساتي ، صحابه کرامو ؓ پوښتنه وکړه چې يارسول الله ﷺ هغه څشي دي ؟ وي فرمايل يو دالله ﷻ سره (په عبادت کې يادده په خاصو صفتونوکې) څوك شريك جوړول ، دوهم جادوکول، دريم ناحق قتل کول ، څلورم سود خوړل، پنځم ديتيم مال خوړل ، شپږم دجهادپه وخت کې دميدان څخه تښتيدل، اووم په چا پاك دامنی ښځی دزناتهمت لګول (دا حديث په صحيح بخاري او مسلم کې دی)

(۲) دوهم نبی کريم ﷺ فرمايلي دي چې مانن شپه دوه سړي وليدل ، چې ماته راغلل اوزه يې بيت المقدس ته بوتلم بيامونږ مخکې ولاړو نو دوينو يو نهرمې وليدې چې يو سړی په کښې ولاړ دی اوبل سړی دنهر په غاړه ولاړ دی چې دنهر داسړی ددی نهر څخه دباندی راوزی نو دغاړي دا سړی يې پرمخ په کاڼي ولي ددی ګذار سره دی بيابيرته نهرته ولاړسی هغه ځای ته کوم ځای چې دی ولاړوو ، بيادی دراوتو اراده کوي او دغه دغاړي سړی يې دغه شان ولي ، نبی کريم ﷺ فرمايي چې ماددغه خپلو دوو ملګرو څخه پوښتنه وکړه چې دا زه څه واقعه وينم ، هغو وويل چې دا په نهرکې قيد سوی سړی سود خور دی (چې دخپل عمل سزا ويني) (داحديث په صحيح بخاري کتاب البيوع کې دی)

(۳) دريم نبی کريم ﷺ په سود اخيستونکی هم لعنت فرمايلي دی اوپه سود ورکوونکی هم اوپه ځينو رواياتوکې يې دسود په معامله کې په شاهدی ورکوونکو اوپه ليکونکو هم لعنت فرمايلي دی ، او دصحيح مسلم په يوروايت کې يې فرمايلي دي چې دا ټول په ګناه کې برابر دي او په ځينو رواياتو کې په شاهدی اوليکونکی لعنت په دې صورت کې دی کله چې دوی ته علم وي چې دا دسود معامله ده .

(٤) څلورم . او دنبی کريم ﷺ ارشاد دی چې څلور کسان داسی دی چې د دوی په باره کې الله ﷻ په ځان لازمه کړي ده چې دوی به جنت ته نه دا خلوی ، او دجنت نعمتونه به ونه څښی هغه څلور دا دی ، دشرابو څښلو عادی ، او دسود خوړونکی او ديتيم مال په ناحقه خوړونکی ، او دخپل مور اوپلار نافرمانی کوونکی (دا روايت په مستدرك حاکم کې دی)

(٥) پنځم نبی کريم ﷺ فرمايلي دي چې سړی دسود يوه روپی خوری دا ترشپږ ديرش واره بدکاری کولو سخه ګناه ده ، اوپه ځينو رواياتوکی دی چې کومه غوښه دحرام مال څخه جوړه سوه دهغه دپاره اور زيات لايق دی ، ددی سره په ځينو رواياتوکی دی چې ديو مسلمان بی عزتی کول ترسود هم زياته سخته ګناه ده (دا روايت په مسنداحمد طبرانی اونورو کی دی)

(٦) شپږم اوپه يو حديث کی دی چې نبی کريم ﷺ ددی خبری څخه منع کړي ده چې ميوه داستعمال

ترقابل کیدو مخکی خرخوی اوفرمایی کله چی په یو کلی کی بدکاری اودسود کاروبار خپورسی نو دوی الله ﷻ ته په عذاب راوستو دعوت (بلنه) ورکړه (دا روایت په مستدرك دحاکم کی دی)

(۷) اووم . او نبی کریم ﷺ فرمایی چی کله په یو قوم کی دسود معامله رواج سی نوالله ﷻ په دوی دضروری شیانو ګرانی مسلطه کړی اوکله چی په یوقوم کی رشوت عام سی نو ددښمنانو رعب اوغلبه وربانډی زیاته سی (دا روایت په مسند احمد کی دی)

(۸) اتم . اونبی کریم ﷺ فرمایی چی دمعراج په شپه چی مونږ کله اووم آسمان ته ورسیدو نو ماپه ځان دلوړی خوا ځخه رعد اوبرق ولیدل ، ددی ځخه وروسته بیامونږ په یوداسی قوم باندی تیرسوچی نسونه یی لکه د اوسیدو دکورونو هومره پړسیدلی وی او دمارانو ځخه ډکی وی چی دبهر ځخه په نظر راتله ، مادجبرائیل امین ﷺ ځخه پوښتنه وکړه چی دا کوم خلګ دی؟ هغه ﷺ راته وفرمایل چی داسود خواره دی (دا روایت په مسند احمد کی دی)

(۹) نهم ز اونبی کریم ﷺ عوف بن مالك ته وفرمایل چی دهغه ګناهونو ځخه ځان ساته چی نه سی معاف کیدلی چی په دی کی یوه دغنیمت دمال ځخه غلا ده او دوهم سودخوړل دی (طبرانی)

(۱۰) لسم . اونبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی کوم سړی ته تاسی قرض ورکړی وی ، دهغه تُحفه هم مه قبلوی (هسی نه چی هغه داتُحفه دقرض په عوض کی درکړی وی اودا سود دی ، په دی وجه دقرضدار د تُحفی په قبلولو کی احتیاط په کار دی)

دسود او رباء دپیژندو او دهغه دحقیقت او په دی کی ددنیاوی تباهیو متعلق دقرآن مجید اووه آیاتونه او دنبی کریم ﷺ داحادیثو لس ارشادات دلته بیان سوه ، دسوچ اوفکر کونکی مسلمان دپاره دومره پوره ده او ددی مسئلی پرپاتو اړخونو دبحث اومکمل تحقیق دپاره داحقر یو جلا کتاب (مسئله سود) په نوم چاپ سوی دی .

يَآأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا تَدَايَنْتُمْ بِدَيْنٍ

ای مؤمنانو ! کله چی تاسی په خپل مینځ کی معامله کوی دقرض

اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى فَاكْتُبُوْهُ ؕ وَلْيَكْتُبْ بَّيْنَكُمْ كَاتِبٌۢ بِالْعَدْلِ

ترمقرر وخته پوری نو هغه اخلی او په کار ده چی ولیکی ستاسی په مینځ کی لیکونکی

وَلَا يَاْبَ كَاتِبٌ اَنْ يَّكْتُبَ كَمَا عَلَّمَهُ اللّٰهُ فَلْيَكْتُبْ ۚ وَلْيُمْلِلِ

په انصاف سره او انکاردی نه کوی لیکونکی ددی ځخه چی ولیکی داسی چی لکه ښوولی دی ورته الله پس

الَّذِيْ عَلَيْهِ الْحَقُّ وَلْيَتَّقِ اللّٰهَ رَبَّهٗ وَلَا يَبْخَسْ مِنْهُ شَيْـًٔا ؕ

ودی لیکی او ښیی دی هغه څوک چی پر ده باندی قرض دی او ودی بیریږي د الله څخه چی دده رب دی او نه دی

فَاِنْ كَانَ الَّذِيْ عَلَيْهِ الْحَقُّ سَفِيْهًا اَوْ ضَعِيْفًا اَوْ لَا يَسْتَطِيْعُ

کموی ور څخه څه شی پس که هغه سړی چی په ده باندی قرض دی بی عقله یا ضعیف دی یا په خپله نه سی ښوولی نو ودی

اَنْ يُّمِلَّ هُوَ فَلْيُمْلِلْ وَلِيُّهٗ بِالْعَدْلِ ؕ وَاسْتَشْهِدُوْا

ښیی ولی دده (کارنده دده) په انصاف سره او شاهد جوړ وی

شَهِيْدَيْنِ مِنْ رِّجَالِكُمْ ۚ فَاِنْ لَّمْ يَكُوْنَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ

دوه شاهدان دخپلو سړو څخه پس که نه وی دوه سړی نو یو سړی

وَّامْرَاَتٰنِ مِمَّنْ تَرْضَوْنَ مِنَ الشُّهَدَآءِ اَنْ تَضِلَّ اِحْدٰىهُمَا

او دوې ښځی دهغه چا څخه چی تاسی یی خوښوی ، دشاهدانو څخه ددی دپاره که هیر کړی یوه د دوی څخه

فَتُذَكِّرَ اِحْدٰىهُمَا الْاُخْرٰى ؕ وَلَا يَاْبَ الشُّهَدَآءُ اِذَا مَا دُعُوْا ؕ

نو یاد به کړی ورته بله او انکار دی نه کوی شاهدان کله چی دوی را وبلل سی

وَلَا تَسْـَٔمُوْٓا اَنْ تَكْتُبُوْهُ صَغِيْرًا اَوْ كَبِيْرًا اِلٰٓى اَجَلِهٖ ؕ ذٰلِكُمْ

او سستی مه کوی ددې څخه چی ویی لیکی کوچنی وی معامله او که لویه تر میعاده پوری په دی کی

اَقْسَطُ عِنْدَ اللّٰهِ وَاَقْوَمُ لِلشَّهَادَةِ وَاَدْنٰٓى اَلَّا تَرْتَابُوْٓا اِلَّآ

پوره انصاف دی د الله په نزد او ډیره مضبوطه ده دشاهدی دپاره او نژدی ده دی ته چی په شک کی و نه غورځیږی

اَنْ تَكُوْنَ تِجَارَةً حَاضِرَةً تُدِيْرُوْنَهَا بَيْنَكُمْ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ

مگر دا چی سودا وی لاس په لاس چی اخلی ورکوی دا په مینځ خپل کی پس نسته په تاسی باندی

جُنَاحٌ اَلَّا تَكْتُبُوْهَا ؕ وَاَشْهِدُوْٓا اِذَا تَبَايَعْتُمْ ۪ وَلَا يُضَآرَّ

څه گناه چی که دا و نه لیکی او شاهدان نیسی چی کله تاسی سودا کوی او نقصان دی نه کوی

كَاتِبٌ وَّلَا شَهِيْدٌ ۚ وَاِنْ تَفْعَلُوْا فَاِنَّهٗ فُسُوْقٌۢ بِكُمْ ۭ وَاتَّقُوا

دلیکونکی او نه دشاهد او که داسی وکړی نوبیشکه دادګناه خبره ده په تاسی باندی اووبیریږی

اللّٰهَ ۭ وَيُعَلِّمُكُمُ اللّٰهُ ۭ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۲۸۲﴾ وَاِنْ كُنْتُمْ

دالله ﷻ څخه اوښوونه کوی تاسی ته الله تعالی او الله تعالی په هرشی باندی پوه دی ، او که تاسی

عَلٰی سَفَرٍ وَّلَمْ تَجِدُوْا كَاتِبًا فَرِهٰنٌ مَّقْبُوْضَةٌ ۭ فَاِنْ اَمِنَ

په سفر کی یاست او نه کی پیدا لیکونکی نو ګرو په لاس کی ورکول په کار دی ، پس که اعتبار وکی

بَعْضُكُمْ بَعْضًا فَلْيُؤَدِّ الَّذِي اؤْتُمِنَ اَمَانَتَهٗ وَلْيَتَّقِ اللّٰهَ

یو په بل نو په کار دی چی پوره ورکړی هغه سړی چی اعتبار یی ورباندی کړی دی امانت خپل او بیره دی

رَبَّهٗ ۭ وَلَا تَكْتُمُوا الشَّهَادَةَ ۭ وَمَنْ يَّكْتُمْهَا فَاِنَّهٗٓ اٰثِمٌ قَلْبُهٗ ۭ

کوی دالله ﷻ څخه ، چی رب دده دی او مه پټوی شاهدی او کوم سړی چی یی پټه کړی نوبیشکه ګناهګار دی

وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ عَلِيْمٌ ﴿۲۸۳﴾

زړه دده او الله ﷻ ستاسی په کارونو ښه پوه دی .

لنډتفسیر: ای ایماندارو! کله چی معامله کوی دقرض (برابره خبره ده که پیسی قرض وی یاکوم شی چی اخلی هغه قرض وی لکه په بیع دَسلم کی) تریو میعاد (نیتی) مقرری پوری نو هغه (ته په طور دیاد داشت یوخط) ولیکی او دا ضروری ده چی ستاسی په مینځ کی (چی) څوك لیکونکی (وی هغه یې) په انصاف سره ولیکی (یعنی دچا دلحاظ دپاره دی دخط په مضمون کی کموالی یازیاتوالی نه کوی) اولیکونکی دی دلیکلو څخه انکار هم نه کوی څنګه چی خدای ﷻ ده ته (لیکل) ښوولی دی ، ده ته په کار دی چی وی لیکی او (لیکونکی ته دي) هغه سړی (وروښیی او) ورباندی ودی ولیکی دچا په ذمه چی حق واجب وی (څکه چی دخط مطلب دحق اقرار وی نو دچا په ذمه چی حق دی دهغه اقرار ضروری سو) او (دلیکلو په وخت کی دی) دالله ﷻ څخه چی دده رب دی وبیریږی اوپه دی (حق) کی دیوی ذری هم (په ښوولوکی) کمی نه کوی ، بیادچاپه ذمه چی حق واجب وو هغه که عقل یی کم وو (یعنی بی پوهی یالیونی وو) یابدن یی کمزوری وو (یعنی نابالغ یادیر بوډا وو) اویا (په بله څه وجه سره) په خپله

(دبیان کولو او) دلیکلو طاقت یی نه درلودی (مثلاً گونگی وو لیکونکی دده په اشاره نه پوهیدی یادبل ملك وو ژبه یی بدله وه اولیکونکی دده په ژبه نه پوهیدی) نو (په داسی صورت کی دی) دده کار گذارپه صحیح طورسره ولیکی او دوه کسان په خپلوکی شاهدان (هم) جوړکی (اوشرعًا اصلی ثبوت ددعوی په دی شاهدانو سره دی که څه هم خط نه وی اویوازی لیکلی خط بغیر دشاهدانو نه ثبوت دی اونه معتبردی، دخط لیکل یوازی دیاد داشتو پاته کیدو دآسانی دپاره دی چی دخط مضمون ووینی اویا واوری نوټوله واقعه به ورته یاده سی ، لکه چی داسی ډیره نژدی په قرآن شریف کی راروانه ده) بیاکه دغه دوه شاهدان سړی (موجود) نه وی نویو سړی او دوی ښځی (دی شاهدان جوړ سی) دداسی شاهدانو څخه کوم چی تاسی (داعتبار په وجه سره) خوښوی (او دیوه سړی په ځای دوی ښځی په دی وجه مقرری سوی) چی که په دی دواړو ښځو کی دیوی څخه هم (دشهادت څه حصه دفکر څخه یادشهادت بیانولو په وخت کی) هیره سی نو یوه به یی بلی ته ورپه یاد وی (اوتریادیدو وروسته به دشهادت بیان پوره سی) اوشاهدان دی هم انکارنه کوی کله چی (دشاهد جوړیدلو دپاره) را وبلل سی (چی په دی کی مدد دی ددی دخپل ورور) اوتاسی ددی (قرض) د (وار وار) لیکلو څخه ځان ستومانه کوی مه ، برابره خبره ده که دغه (معامله دقرض) لږ وی اوکه ډیره دا لیکل انصاف زیات قائم کول دی دالله ﷻ په نزد اوشهادت ډیر صحیح ساتی او زیات لایق دی ددی خبری چی تاسی (دمعاملی په باره کی) په څه شبهه کی ونه لوېږی (په دی وجه لیکل یی ښه دی) مگرچی کومه سودا لاس په لاس وی چی یوبل ته یی ورکوی او اخلی نو ددی په نه لیکلوکی په تاسی باندی څه الزام (اوضرر) نسته او (دومره په دی کی هم خامخاکوی چی ددی) داخیستلو اوخرڅولوپه وخت کی شاهد نیسی (شایدچی صبا په کښی څه خبره راسی مثلاً خرڅونکی ووایی چی ماته پیسی نه دی رسیدلی یاداسی چی ما گرسره خرڅ کړی نه دی یا اخیستونکی ووایی چی ماخو دواپسی اختیار هم اخستی وو یاتراوسه پوری لاخرڅ سوی شی ماته نه دی رسیدلی) او (لکه څنگه چی مونږ لوړ لیکونکی اوشاهدان منع کړل چی دلیکلو اوشاهدی څخه به انکارنه کوی ، دغه شان مونږ تاسی ته هم تاکیدکوو چی تاسی هم) کاتب ته تکلیف مه ورکوی اونه یوشاهدته (مثلاً دخپلی گټی دپاره دهغه په گټه کی تاوان غورځوی) اوکه تاسی داسی وکی نو تاسی ته به په کښی گناه وی او دخدای ﷻ څخه وبیریږی (اودکومو کارونو څخه چی هغه منع کړی یاست هغه مه کوی) اوالله ﷻ (په تاسی احسان کوی چی) تاسی ته (دفائدی حکمونه) ښیی اوالله ﷻ په هرڅه پوه دی (نوهغه حکم منونکی اونافرمانه هم پیژنی هریوه ته به مناسبه بدله ورکی) اوکه تاسی (دقرض دمعاملی کولو په وخت کی) یوځای په سفر باندی یاست او (دخط لیکلو دپاره هلته) څوك لیکونکی نه کی پیدا نو (په داسی حالت کی دتسلی دپاره) دگرو کولو شیان (دی) چی (دقرض دار دطرف څخه دحق دمالك) په قبضه کی ورکړل سی اوکه (په داسی وخت کی هم) په یوبل اعتبارکوی

(اوپه دی وجه دګرو ضرورت نه ګڼي) نو په کوم سړي چې اعتبار وسي (یعني قرضدار) ده ته په کار دي
چې دبل حق (پوره پوره) ادا کې او دالله ﷻ څخه چې دده پروردګار دی وبیریږي (او دهغه حق ونه وهي)
اوشهادت مه پټوی اوڅوك چې شهادت پټوی دهغه زړه به ګناهګار وی اوالله ﷻ ستاسی کړی کارونه
ښه پیژني (وروسته که څوك شهادت پټ کې نو هغه ضرور په خبر دی نو هغه به ورته سزا ورکړي)

معلومات او مسئلي

(دقرض او نسيا دپاره د اقرار نامي ليکلو هدايت او ددی متعلق احکام)

په دی ذکرسوو آیتونوکی دمعاملو قانون چی نن ضبا ورته دمعاهد قانون وايي ددی ضروری اصول بیان سوی دی اوتردی وروسته بیادشهادت دقانون خاص اصول ذکر دی.

نن صبا خو دلیکلو ویلو زمانه ده اولیك دانسان دژبی په ځای دریدلی دی لیکن دنن څخه څوارلس سوه ۱۴۰۰ کاله مخکی زمانی ته چی مخ واړول سی اووکتل سی نو دغه وخت ددنیا ټول کاروبار یوازی زبانی وو، دلیکلو او اقرار نامی تیارولو اصول ګرسره نه وه ، ترټولو اول قرآن دی طرف ته دخلګوفکر راواړوی اووی فرمایل چی، اِذَا تَدَايَنْتُم بِدَيْنٍ اِلٰى اَجَلٍ مُّسَمًّى فَاكْتُبُوْهُ : یعنی کله چی تاسی په خپل مینځ کی دقرض معامله کوی تر مقرری نیتی پوری نو هغه لیکی ، په دی کی یواصول دا وښوول سو چی دقرض دمعاملو اقرار نامه لیکل په کار دی چی دهیریدو یاانکار په وخت کی په کار راسی.

دوهمه مسئله دا بیان سوه چی کله دقرض معامله کول کیږی نونیټه دی په کښی خامخا مقرر کوی ترغیر مقرری نیتی پوری قرض ورکول اخیستل جائز نه دی څکه چی په دی کی دجګړی اوفساد دروازه خلاصیږی ، په دی وجه فقهاؤ فرمایلی دی چی نیټه به هم داسی مقرریږی چی په هغه کی څه پټ والی نه وی ، میاشت او تاریخ به دواړه مقرر وی څه مبهمه نیټه به نه مقرر وی ، لکه مثلاً دفصل دریکولو تروخته پوری څکه چی په دی کی دموسم په وجه مخکی والی یا وروسته والی راتلی سی اوکله چی لیکل په دغه زمانه کی عام نه وه اونن هم که عام دی خو ددنیا ډیره آبادی داسی ده چی په لیکلو نه پوهیږی ، نو دا کیدی سوه چی لیکونکی څه بل څه ولیکی چی دچافائده اودچا نقصان وسی په دی وجه یی تردی وروسته وفرمایل ، وَلْيَكْتُبْ بَّيْنَكُمْ كَاتِبٌۢ بِالْعَدْلِ : یعنی دا ضروری ده چی ستاسی په مینځ کی یی څوك لیکونکی په انصاف سره ولیکی ، په دی کی خو یوه دا خبره وسول چی لیکونکی دی دیو فریقی خاص سړی نه وی بلکه غیر جانبداردی وی چی دچاورباندی شك اوشبهه نه راځی دوهم لیکونکی ته هدایت وسو چی په انصاف سره دی لیکی ، دبل دفانی نفعی دپاره دی خپل دهمیشه تاوان نه کوی ، ددی څخه لیکونکی ته دا هدایت وسو چی الله ﷻ ده ته دا هنر ښوولی دی چی دی لیکل کولی سی ، نو ددی شکرانه دا ده چی دی دی دلیکلو څخه انکار نه کوی ، تردی وروسته یی دا وښول چی د اقرار نامی لیکل به دچا دطرفه وی ؟ نووی فرمایل ، وَلْيُمْلِلِ الَّذِىْ عَلَيْهِ الْحَقُّ : یعنی

داقرارنامې بيان دې دهغه سړي دخولې وليکل سي چې دچا په ذمه حق دی ، مثلاً سودايي واخسته اوقيمت يې نسيا کې نو په چا باندې چې قرضه ده هغه به داقرارنامې بيان ليکي ، ځکه چې دا به دده دطرفه يوقسم اقرار وي او د اقرار نامې په بيان کې هم دا شك كيدی سوای چې څه کموالی يا زياتوالی په کښې وکي په دې وجه يې وفرمايل : وَلۡيَتَّقِ اللّٰهَ رَبَّهُ وَلَا يَبۡخَسۡ مِنۡهُ شَيۡـًٔا : يعنې دالله ﷻ څخه چې دده پروردګار دی بيره دې کوي او په حق ليکلوکې دې يوه ذره قدري هم کموالی نه کوي ، په معاملوکې کله داسې هم کيدی سي چې په چا حق راځي هغه ناپوهه ياليونی بوډا يانابالغ کوچنی ياګونګی وي يادبوی بلې ژبې ويونکی وي چې ليکونکی وړباندې نه پوهيږي ، په دې وجه داقرارنامې بيان دی نه سي ويلی ، نو په دې وجه يې تردې وروسته وفرمايل چې که چيرې داسې صورت پيښ سي نو دده دطرفه دې دده ولي وليکي دليونی او نابالغ دطرفه څخه خو دولي موجودوالي ښکاره دی ځکه چې د دوی ټولې معاملې دولي په معرفت سره کيږي ، او دګونګی يادبلې ژبې دويونکی ولي هم دا کار کولی سي ، اوکه دوی څوك ځان ته وکيل جوړکي نوهم کيدی سي ، په قرآن کې په دې ځای کې په لفظ دولي کې دواړې معناوې دی .

(دشهادت دقاعدې يوخو مهم اصول)

تردې ځايه پورې په معاملوکې د اقرارنامې دليکلو دمهمو اصولو بيان وو اوس مخکې دا ښوول کيږي چې داقرارنامې يوازې ليکل کافي مه ګڼئ ، بلکه په دې باندې شاهدان هم جوړوی چې که چيرې څه وخت په مينځ کې جګړه را پيښه سي نو په عدالت کې به ددې شاهدانو په شاهدې سره فيصله وسي په دې وجه فقهاؤ فرمايلي دي چې محض ليکلې شرعي دليل نه دی ترڅوپورې چې په دې شرعي شهادت موجود نه وي ، په خالي ليکلو باندې هيڅ فيصله نه سي کيدی ، نن صبا دعامو عدالتونو هم دا دستور دی ، چې په ليکلو باندې بغير دزبانې تصديق اوشهادت څخه څه فيصله نه کوي .

(دشاهدې دپاره دوه سړي يا يو سړی او دوې ښځې موجود کيدل ضروري دي)

تردې وروسته دشهادت دضابطې (قانون اوقاعدې) يوڅو مهم اصول ښوول کيږي ، مثلاً اول شاهدان دوه سړي يايو سړی او دوې ښځې کيدل ضروردی ، يو يوازې سړی يايوازې دوې ښځې په عامو معاملوکې دشاهدې دپاره کافي نه دي .

(دشاهدانو شرطونه)

دوهم دا چې شاهدان دې مسلمانان وي په لفظ د، مِنۡ رِّجَالِكُمۡ : کې دا ښوول سوي ده ، دريم دا چې شاهدان چې ثقه او عادلان وي چې په وينايي يقين راتلی سي فاسقان اوفاجران نه وي په ، مِمَّنۡ تَرۡضَوۡنَ مِنَ الشُّهَدَآءِ : کې دا حکم ذکر دی .

(دشاهدې ورکولو څخه انکار کول بې له شرعي عذره څخه ګناه ده)

تردې وروسته خلګوته دا هدايت وسوچې کله دوی په څه معامله کې دشاهدې دپاره راوبلل سي نو

دوی دی دراتلو څخه انکار نه کوی ، ځکه چی شهادت دحق ژوندی کولو ذریعه او دجګړی ختمولو طریقه ده ، په دی وجه دا یو ضروری او اهم قومی خدمت ګڼل او تکلیف برداشت کول په کار دی تردی وروسته بیا دمعاملی داقرارنامی لیکلو تاکید کوی فرمایی چی معامله کوچنی وی اوکه لویه تولی لیکل په کار دی ، په دی کی ځان مه ستومانه کوی ځکه چی معاملات لیکل انصاف قائمول اوصحیح شهادت ورکول او دشك اوشبهی څخه دخلاصیدو دپاره ښه ذریعه ده ، البته که معامله لاس په لاس وی نسیًا نه وی نو دا که نه لیکی خیر دی ، لیکن دومره دی په دی کی هم کول کیږی چی په معامله دی شاهدان ونیول سی شاید چی څه وخت په جانبینوکی جګړه پیداسی مثلاً خرڅونکی ووایی چی ماقیمت نه دی وصول کړی یا اخستونکی ووایی چی ما اخیستل سوی شی پوره نه دی وصول کړی ، نو په داسی جګړوکی شهادت په کار راځی .

﴿په اسلام کي دعدل او انصاف قائمولو مهم اصول چي شاهدانو ته دی نقصان یاتکلیف نه رسول کیږی﴾

دآیت په شروع کی لیکونکو ته داهدایت سوی دی چی دوی دی دلیکلو یاشاهد جوړیدو څخه انکار نه کوی نو دلته دا احتمال وو چی خلګ به دوی پریشانه کوی ، ددی وجی څخه یی په آخر دآیت کی وفرمایل ، وَلَا يُضَارَّ كَاتِبٌ وَّلَا شَهِيْدٌ : یعنی لیکونکی یاشاهدی کوونکی ته دی نقصان نه رسول کیږی ، یعنی داسی دی نه کوی چی دخپل مصلحت او فائدی دپاره دهغوی مصلحت اوفائدی ته خلل ورسول سی ، بیافرمایی ، وَاِنْ تَفْعَلُوْا فَاِنَّهٗ فُسُوْقٌۢ بِكُمْ : یعنی که تاسی لیکونکی یاشاهد ته نقصان ورسوی نو په دی کی به تاسی ته ګناه وی .

ددی څخه معلومه سوه چی لیکونکی یاشاهدته نقصان رسول حرام دی ځکه فقهاؤ فرمایلی دی چی که لیکونکی دخپلو لیکلو مزدوری غواړی یاشاهد دخپلو تلو راتلو ضروری خرڅ غواړی نو حق یی دی ، دا نه ادا کول هم دوی ته په نقصان رسولو کی دا خل دی او دا جائز نه دی ، اسلام په خپل عدالتی نظام کی چی لکه څنګه شاهد په شاهدی ورکولو مجبوره کړي دی اوشاهدی پټولو ته یی سخته ګناه ویلی ده دغه شان یی ددی هم انتظام وکی چی خلګ دشاهدی څخه په ځان ساتلو مجبوره نه سی ددی دواړه طرفه داحتیاط دا اثر وو ، چی په هره معامله کی رښتینی بی غرضه شاهدان پیداسی اوفیصلی ژر اوآسانی او دحق مطابق وسی ، نن دنیا دا قرآنی اصول پرېښی دی نو ټول نظام دعدالت برباد دی ، دواقعی اصلی او رېښتینی شاهدان پیداکیدل تقریبًاورك دی ، هرسړی دشاهدی څخه په ځان ساتلو مجبوره دی وجه یی دا ده چی دچانوم په شاهدی کی راغی نوکه معامله دپولیس اوفوج داری وی نو روزانه وخت بی وخته به تهانه دارصاحب دی را غواړی اواکثر به یی په ګنټو ګنټو کښینولی وی ، په دیوانی عدالتونوکی هم دشاهد سره داسی معامله کول کیږی لکه دمجرم سره چی یی کوی اوروزانه به دمقدمی پیشیانی بدلیږی تاریخونه به مقرریږی شاهد عاجزبه په خپل کاروبار اومزدوری پاته کولو

او راتلو مجبوره وي اوكه نه راځي نو دوارنړ په ذريعه به گرفتاريږي ، په دي وجه يوشريف اوكاروباري سړي شاهد جوړيدل په څه معامله كي دځان دپاره عذاب گڼي او دخپل وس مطابق ددي څخه په ځان ساتلو مجبورسوي دي ، يوازي كسب كاره شاهدان پيدا كيږي چي په رښتيا اودرواغوكي دهغوي څه فرق نه وي ، قرآن كريم ددي بنيادي ضرورتونو د اهميت په ښوولو سره ددي تولو خرابيو لاري بندي كړي ، دآيت په آخركي فرمايي ، وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَيُعَلِّمُكُمُ اللّٰهُ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ : يعني دالله ﷻ څخه وبيريږي اوالله ﷻ تاسي ته صحيح طريقي ښيي دا دهغه احسان دي اوالله ﷻ په هرڅه پوهيدونكي دي ، كله چي په دي آيت كي ډيراحكام راغلي دي ، ځينو فقهاؤ شل مهمي فقهي مسئلي ددي آيت څخه راايستلي دي او دقرآن كريم عام عادت دي چي دقانون تربيانولو مخكي او وروسته دخداى ﷻ بيره اودقيامت بيره بيان كي دخلكو ذهنونه دحكم منلوته تيار وي ، ددي طريقي په مطابق ددي آيت خاتمه يي هم دخداى ﷻ څخه په بيره سره وكړه او دا يي وښووله چي دالله ﷻ څخه څه پټ نسته ، كه تاسي په څه ناجائزه حيله باندي هم خلاف ورزي وكي نو خداى ﷻ ته دوكه نه سي وركولي ، په دوهم آيت كي يي دوه مهم مضمونونه بيان كړه ، يو دا چي دقرض په معامله كي كه څوك داغواړي چي داعتماد دپاره يوشي گرو كښيږدي نو ددي هم اجازه سته ، مگر په لفظ دمقبوضة سره دي ته اشاره ده چي دگرو سوي شيانو نفع اخيستل دده دپاره جائز نه دي ، گرو كوونكي ته يوازي دومره حق دي چي دخپل قرض تر وصولولو پوري دغه شي په خپله قبضه كي ساتي اوفائدي به يي تولي داصل مالك وي .

دوهم مضمون يي دا وفرمايي چي كوم سړي ته ديو نزاعي معاملي په باره كي صحيح علم وي هغه دي شهادت نه پټوي اوكه پټ يي كي نو دده زړه گنهكار دي ، زړه ته يي گناهكار څكه ورېل چي څوك دا خالي دڅپي گناه ونه گڼي ، څكه چي اول اراده دزړه څخه كيږي نو په دي وجه اول گناه دزړه ده .

لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَإِنْ تُبْدُوا مَا فِي أَنْفُسِكُمْ أَوْ تُخْفُوهُ يُحَاسِبْكُمْ بِهِ

خاص الله لره دي هغه څه چي په اسمانونوكي دي اوپه مځكه كي دي اوكه ښكاره كوي هغه چي په زړه ستاسي كي

اللّٰهُ فَيَغْفِرُ لِمَنْ يَشَاءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَشَاءُ وَاللّٰهُ عَلٰى

ياپټوي هغه حساب به وكړي په هغه ستاسي سره الله ، بيا به وبخښي څوك چي وغواړي او عذاب به كړي څوك

كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢٨٤﴾

چي وغواړي او الله تعالى په هرشي باندي قادر دي .

لنډتفسير: خاص دالله ﷻ په ملكيت كي دي ټول (مخلوقات) څه چي په آسمانونوكي دي او څه چي په

مخکه کي دي (داسي خومخکه آسمان په خپله دده په ملکيت کي دي اوچي کله مالك هغه دي نو هغه ته په خپل ملکيتي شيانوکي دهرقسم قانون جوړولوحق دي ، چا ته په کښي مجال دخبري کولونه دي په کار لکه چي يوقانون داسي دي چي) کومي خبري (دفاسدو عقيدو يادبدو اخلاقو ياپه گناهونو دپوخ قصد اوارادي) چي ستاسي په نفسونوکي دي دغه که تاسي (په ژبه اواندامونو) ښکاره کوي (مثلاً په ژبه سره دکفر کلمه ووايا ست يادخپل تکبر حسد اونور اظهار وکي يادي وي گناه قصدوو هغه وکي) اوکه يي (په زړه کي) پټ ساتي (په دواړو حالتونوکي به) الله ﷻ ستاسي سره (په شان دنورو گناهونو دهغه) حساب وکي بيا (ترحساب) وروسته بغير دشرك اوكفر څخه چاته (چي بخښل) غواړي وبه يي بخښي اوچاته چي (سزا ورکول) غواړي سزابه ورکي اوالله ﷻ په هرڅه باندي پوره قدرت لرونکي دي.

معلومات اومسئلي: په تير آيت کي دشاهدي دښکاره کولو حکم او دپټولو څخه دمنع ذکر وو، دا آيت هم ددغه مضمون دپوره کولو دپاره دي ، په دي کي انسان ته دا وښوول سوه چي دشهادت پټول حرام دي که تاسي ته معامله معلومه وه اوپټه موکړه نوالله ﷻ پوه او خبردار به ستاسي سره حساب کوي ، دحضرت ابن عباس ﷺ عکرمه ﷺ شعبي ﷺ اومجاهد ﷺ څخه يي دا تفسير نقل دي (قرطبي)

اودالفاظو دعام والي په وجه سره عام دي ټولو عقيدو عباداتو اومعاملو ته شامل دي ، دحضرت عبدالله ابن عباس ﷺ مشهورقول ددي آيت په تفسيرکي دا دي اومعنیٰ دآيت دا ده چي الله ﷻ به دخپل مخلوق دټولو عملونو حساب کوي ، دهغو چي ده کم کړي دي او دهغوهم چي دده په زړه کي يي پخه اراده راغلي ده اوپه زړه کي يي پټه ساتلي ده ليکن دکولو موقع يي نه ده راغلي لکه په صحيح بخاري او مسلم کي په روايت دحضرت ابن عمر ﷺ نقل دي چي مادنبي کريم ﷺ څخه او ريدلي دي چي مومن به دقيامت په ورځ خپل رب ته چي لوي اوغالب دي نژدي سي ، تردي چي الله ﷻ به دده يوه يوه گناه ده ته ورپه ياده کي ، اوپوښتنه به ورڅخه وکي چي تاته معلومه ده چي تاداگناه کړي وه ، بنده مومن به اقرار وکي ، الله ﷻ به وفرمايي چي ماپه دنياکي په تا پرده اچولي وه اوستا گناه مي خلکوته نه وه ښکاره کړي او نن زه هغه معاف کوم او دنيکو عمل نامه به ده ته ورکول سي ، ليکن دکافرانو اومنافقانو گناهونه به په عامو خلگوکي بيان سي.

او په يوحديث کي دي چي الله ﷻ به دقيامت په ورځ وفرمايي چي دا هغه ورځ ده چي په دي کي به دپټو شيانو امتحان اخيستل کيږي او دزړونو پټ رازونه به ښکاره سي او دا چي زماعمل ليکونکو ملائکو خو ستاسي يوازي هغه عملونه ليکلي دي چي ښکاره وه ، اوماته هغه هم معلوم دي دکومو څخه چي ملائکي خبري نه دي ، اونه دوي هغه ستاسي په عملنامه کي ليکلي دي ، او اوس هغه ټول تاسي ته ښيم ، او په دي ورسره حساب کوم بيا چي چاته وغواړم معاف به يي کړم او چاته چي وغواړم

په عذاب به یی کړم بیابه مومنان معاف سی او کافرانو ته به عذاب ورکړل سی (قرطبي)
دلته دا شبهه پیدا کیږي چي په حدیث کی دنبی کریم ﷺ ارشاد دی .
اِنَّ اللّٰهَ تَجَاوَزَ عَنْ اُمَّتِیْ عَمَّا حَدَّثَتْ اَنْفُسَهَا مَالَمْ یَتَکَلَّمُوْا اَوْ یَعْمَلُوْا بِهٖ (قرطبي)
الله ﷻ زما دامت څخه معاف کړي دی هغه کوم چي د دوی په زړه کی خیال راسی ترڅوچي یی هغه په ژبه نه وی ویلی یایی ورباندی عمل نه وی کړی ددی څخه خومعلومه سوه چي دزړه په اراده څه عذاب او زورنه نسته ، امام قرطبي فرمایی چي دا حدیث ددنیا داحکامو سره تعلق لري ، طلاق آزادول بیع هبه (چاته یوشي بخښل) اونور محضی دزړه په اراده کولوسره نه سی ثابتیدی ترڅو چي یی په ژبه نه وی ویلی یایی ورباندی عمل نه وی کړی اوپه آیت کی چي کوم ذکر دی دغه دآخرت دحکمونو سره تعلق لري ، نو ددی دواړوپه مینځ کی څه تکراو نسته ، اونورو عالمانو صاحبانو ددی شبهی جواب داکړي دی چي په کوم حدیث کی چي دزړه دپټو شیانو معافی ذکر ده ، ددی څخه مراد هغه وسوسی او داختیار څخه بهر هغه خیالونه دی چي دانسان په زړه کی بغیر دقصد اوارادی څخه راځي ، بلکه ددی په خلاف په اراده کولو سره هم داراځي ، نو په داسی غیرِ اختیاری خیالاتو اووسوسو دا اُمّت الله ﷻ معاف کړي دی ، او په ذکر سوی آیت کی چي دکوم حساب کولو ذکر دی ، ددی څخه مراد هغه ارادی اونیتونه دی چي انسان یی په خپل قصد اواختیار سره په خپل زړه کی ځای کی ، او ددی په عمل کی دراوستو کوشش هم کوی ، بیاپه اتفاقی طور سره څه بندیزونه ورمخ ته سی اوعمل ورباندی ونسی ، دقیامت په ورځ به ددی محاسبه وی ، بیا الله ﷻ چاته چي وغواړي وبه یی بخښی اوچاته چي غواړی په عذاب به یی کی ، لکه چي په ذکر سوی حدیث دبخاری اومسلم کی تیرسوه اوکله چي دذکرسوی آیت په ظاهری الفاظوکی دواړه قسم خیالات دا خل دی که اختیاری وی اوکه غیرِ اختیاری ، په دی وجه چي کله دا آیت نازل سونو اصحاب کرام ، فکرمند اوغمجن سوه ، چي که په غیر اختیاری خیالونو او وسوسو باندی هم نیول کیږی نوبیا خو یو تن هم دخلاصیدو نه دی ، صحابه کرامو ﷺ خپل دا فکر نبی کریم ﷺ ته عرض کی ، نوحضور ﷺ ټولو ته دا تلقین وفرمایی چي دالله ﷻ دطرفه څه حکم نازل سوي دی ، ددی دمنلو او تابعداری پخه اراده وکی اووایاست ، سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا : یعنی مونږ حکم واوریدی او مونږ ومنی ، صحابه کرامو ﷺ هم دغسی وکړل نو په دی دقرآن کریم داجمله نازله سوه لاَ یُکَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلاَّ وُسْعَهَا یعنی الله ﷻ یو چا ته دهغه ترطاقت زیات تکلیف نه ورکوی .
ددی مطلب دا دی چي په غیر اختیاری وسوسو او خیالاتو باندی نیول نسته نو په دی سره داصحابو ﷺ تسلی وسوه ، دا حدیث په صحیح مسلم کی په روایت دابن عباس ﷺ نقل سوی دی (قرطبي) او دا پوره آیت مخ ته راروان دی .
اوپه تفسیرِ مظهری کی دی چي په انسان کوم عملونه دالله ﷻ دطرفه څخه فرض سوی دی یاحرام سوی

دی ، هغه څه دظاهري اندامونو اوبدن سره تعلق لري لکه لمونځ روژه حج زکوٰة اوټول معاملات چې دي دا په دې قسم کې دا خل دي اوڅه عملونه اوحکمونه هغه هم دي چې دانسان دزړه اوباطن سره تعلق لري ، دايمان اوعقيدې ټولې مسئلې په دې کې دا خلې دي او دکفر اوشرك چې ترټولو زيات حرام اوناجائز دي ددې تعلق هم دانسان دزړه سره دي ، ښه خويونه تواضع صبر قناعت سخاوت اونور دغه شان بدخويونه کبر حسد بغض ددنيا محبت حرص اونور چې دا ټول شيان په يوه درجه کې قطعي حرام دي ، ددې ټولو تعلق هم دانسان دزړه اوباطن سره دي .

په دې آيت کې يې دا ښوونه کړې ده چې څنګه دظاهري عملونو حساب به په قيامت کې اخيستل کيږي، دغه شان به دباطني عملونوهم حساب وي اوپه خطا باندې به نيول وي ، دا آيت يې دسورة بقرة په آخرکې راوستي په دې کې لوی حکمت دی څکه چې سورة بقرة دقرآن کريم داسې لوی اومهم سورة دی چې په دې کې دالله ﷻ دحکمونو ډيره لويه حصه راغلې ده ، په دې سورة کې بنيادي اوفرعي ددنيا دژوند او دآخرت متعلق ډير ضروري هدايتونه لمونځ زکوٰة روژه اوقرض دمعاملو دجائزو اوناجائزو طريقوپه تفصيل سره بيان راغلی دی په دې وجه په حديث کې ددې سورة نوم (سنام القرآن) هم راغلی دی ، يعنې دقرآن ترټولو لوړه حصه او ددې ټولو احکامو په منلو او پوره کولوکې دټولو روح اخلاص دی يعنې ديو کار کول يااوڅخه ځان ساتل دواړه خالص دالله ﷻ درضا دپاره وي ، په دې کې دنوم نمائش ياڅه نفساني غرض شامل نه وي او داښکاره خبره ده چې داخلاص تعلق دانسان دباطن اوزړه سره دی ، دټولو صحيح والی په دې باندې دی ، په دې وجه يې دسورة په آخرکې ددې آيت په ذريعه انسان خبردارکړ چې دفرضوپه اداکولو يادحرامو څخه دځان ساتلوپه معامله کې خو به دمخلوق په مخکې په حيله اوبهانه ځان خلاص سي ، مګر الله ﷻ چې پوره اوخبردار دی دهغه څخه هيڅ شی پټ نسته ، په دې وجه نو داګنې چې ساتونکې اوحفاظت کوونکې زماټول ظاهري اوباطني حالات ليکي ، اودټولو حساب به دقيامت په ورځ ورکول وي ، دا هغه روح دی چې قرآن کريم يې په انسانانوکې پيداکوي چې دهرقانون په اول ياپه آخرکې دالله ﷻ ويره او دآخرت دفکر داسې حفاظت کوونکې د دوی په زړونو باندې کښينوی چې بيادې دشپې په تيارو کې هم اوپه تنهايي کې هم دحکم څخه په خلاف ورزی کولو ويريږي .

اٰمَنَ الرَّسُوْلُ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِ مِنْ رَّبِّهٖ

منلی دی رسول څه چې نازل سو په ده ، دده درب دطرفه

وَالْمُؤْمِنُوْنَ ۭ كُلٌّ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَمَلٰۗىِٕكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ ۣ

او مسلمانانو هم ، ټول منی الله او دهغه ملائکې او دهغه کتابونه اودهغه رسولان

لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْ رُّسُلِهٖ قف وَقَالُوْا سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا ق

وایي چې مونږ نه جلا کوو یو دهغه د رسولانو څخه او وایي چې مونږ واوریده او قبول مو کړه

غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَاِلَيْكَ الْمَصِيْرُ ﴿۲۸۵﴾ لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا

ستا څخه بخښنه غواړو ای زمونږ ربه او ستا طرف ته واپس کیدل دي ، الله تکلیف نه ورکوي چا ته مگر

وُسْعَهَا ط لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ ط رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَا

څومره چې دهغه طاقت وي ده ته ورکول کیږي چې ده وگټل او په ده غور ځیږي څه چې ده وکړه ای زمونږ ربه مه

اِنْ نَّسِيْنَا اَوْ اَخْطَاْنَا ج رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَا اِصْرًا كَمَا

نیسه مونږ که زمونږ څخه هیر سي یا خطا سي ای زمونږ ربه مه اچوه په مونږ بار دروند لکه

حَمَلْتَهٗ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِنَا ج رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ

چې اچولی وو تا زمونږ څخه په مخکني باندي ای زمونږ ربه مه باروی په مونږ هغه چې زمونږ طاقت

لَنَا بِهٖ ج وَاعْفُ عَنَّا وقفة وَاغْفِرْ لَنَا وقفة وَارْحَمْنَا وقفة اَنْتَ مَوْلٰنَا فَانْصُرْنَا

ورته نه وي ، او معاف کړه مونږ او وبخښه مونږ او رحم وکړه په مونږ ته زمونږ رب یې مدد وکړه زمونږ

عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۲۸۶﴾ ع

په کافرانو باندي.

لنډتفسير: عقیده لري رسول ﷺ دهغه شي (په حق والي) چې ده ته دده درب دطرفه نازل سوي دي (یعني قرآن) او (نور) مومنان هم (ددي عقیده لري مخ ته په قرآن دعقیده لرلو تفصیل دا دي چې په کوم کوم شي عقیده لرلو ته په قرآن عقیده لرل ویل کیږي) ټول (رسول هم او نور مومنان هم) عقیده لري په الله ﷻ باندي (چې هغه موجود دي او یودي او په ذات او صفات کي کامل دي) او دده په ملائکو (چې هغه موجود دي او دگناهونو څخه پاك دي او په مختلفو کارونو مقرري دي) او دهغه په کتابونو (چې دغه ټول حق دي او په خپل خپل وخت وربا ندي عمل کیدی اوس دقرآن په نازلیدو سره منسوخ دي) او دده په رسولانو (چې پیغمبران دي او رښتیني دي او په پیغمبرانو عقیده لرل په دي شان سره دي چې دا وایي) چې مونږ په دي پیغمبرانو کي په یوتن کي (په عقیده لرلو کي) جلا والی نه کوو (چې څوك پیغمبر

گنو اوځوك نه ګنو) او دي تولو داسي وویل چي مونږ (ستاسي ارشاد) واوریدی او (دامو) په خوشحالي سره ومنی ، ستاڅخه بخښنه غواړو ای زمونږ پروردګاره! اوستا طرف ته (زمونږ دتولو) واپسی ده (یعني مونږ چي په اول آیت کی ویلي دي چي دزړونوپه پټو خبروبه هم محاسبه وی ددی څخه مراد غیرِ اختیاری کارونه نه دي بلکه یوازی اختیاری کارونه دي ځکه چي) الله ﷻ څوك (په احکامو دشرعي کي) نه مکلف کوی (یعني دغه کارونه واجب یاحراموی نه) مګرهغه چي دده په طاقت (اواختیار) کي وی ده ته ثواب هم دهغه دي چي په اراده سره یی وکی اوپه ده به عذاب هم دهغه وی چي په اراده سره یی وکی (اوکوم چي یی دطاقت څخه بهروی په هغه کی یی مکلف کړی نه دی اودکوم سره چي قصد اواراده پیوست نه وی دهغه نه ثواب سته اونه عذاب او وسوسی دطاقت څخه بهردی نو دهغه کول یی حرام اونه کول یی واجب نه کړل اونه یی ورباندی عذاب کښیښوی) ای زمونږ ربه مونږ مه نیسه که زمونږ څخه هیرسی یاغلطي را څخه وسی ای زمونږ ربه (زمونږ دا هم درخواست دی چي) په مونږ داسی سخت حکم مه رالیږه لکه زمونږ په مخکی خلګو چي تالیږلي وو ای زمونږ ربه ! او (مونږ دا درخواست هم کوو چي) په مونږ څه داسی بار ددنیا یا دآخرت څخه) مه غورځوی چي مونږ یی طاقت نه لرو اومعاف کی مونږ اوبخښنه وکی مونږ ته اورحم وکی پرمونږ ته زمونږ کارساز یی (اوکار ساز طرف دار وی) نو مونږ په کافرانو باندی غالب کی .

معلومات اومسئلي

(ددی دوو آیتونو خاص فضیلتونه)

دادسورة بقرة آخری دوه آیتونه دي په صحیح احادیثوکی ددی دوو آیتونولوی فضیلتونه بیان سوی دی، نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چي کوم سړی دشپی دا دوه آیتونه وویل نو دا دهغه دپاره پوره دی او دابن عباس ﷺ په روایت کی دی چي نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چي الله ﷻ دوه آیتونه دجنت دخزانو څخه نازل کړي دی چي دټول مخلوقترپیدا کیدو څخه یی دوه زره ۲۰۰۰ کاله مخکی په خپله رحمٰن په خپلو لاسو سره لیکلی وه ، کوم سړی چي دا دماخستن دلمانځه څخه وروسته ووایی نو دا به ورته دتهجد په ځای ودریږی او دمستدرك حاکم او بیهقی په روایت کی دی چي نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چي الله ﷻ سورة بقرة په دی دوو آیتونو باندی ختم کړي دی کوم چي ماته دخاص خزانی څخه راکړل سوي دی کوم چي دعرش لاندی ده په دی وجه تاسی په خاص طور سره دا آیتونه ازده کړی ، اوخپلو ښځو او کوچنیانوته یی یاد وی ، په دی وجه حضرت فاروق اعظم رضی الله عنه اوحضرت علی مرتضیٰ ﷺ فرمایلی دی چي زمونږ دا خیال دی چي کوم سړی چي په چاکی لږ هم عقل وی هغه به دسورة بقرة ددی دوو آیتونو دویلوڅخه بغیرنه بیده کیږی ددی دوو آیتونو معنوی خصوصیات خو ډیر دی ، لیکن یوښکاره خصوصیت یی دا دی چي په سورة بقرة کی اکثره شرعی حکمونه مختصر اوپه تفصیل سره

ذکر سوی دی ، عقیدی عبادتونه معاملی اخلاق دژوند طریقی اونور او دآخری دوو آیتونو څخه مخکی دفرمانبردارو مومنانو صفت سوی دی چاچی دالله جل شانه په احکامو لبیك ووایه اودحکم منلو دپاره تیارسو اوپه بل آیت کی یی دیوی شبهی جواب ورکی کومه شبه چی ددی دوو آیتونو څخه مخکی اصحابوته پیدا سوی وه ، او ورسره یی دخپل بی حسابه رحمت اوفضل ذکر وکی هغه دا وو چی کله دقرآن کریم دا آیت نازل سو، وَاِنْ تُبْدُوْا مَافِی اَنْفُسِکُمْ اَوْ تُخْفُوْهُ یُحَاسِبْکُمْ بِهِ اللهُ څه چی ستاسی په زړونوکی دی که تاسی یی ښکاره کوی اوکه یی پټوی په هرحال کی به الله ﷻ ستاسی سره ددی حساب کوی ، دآیت مطلب خو دا وو چی په خپل اختیار اواراده سره چی کوم عمل په خپل زړه کی کوی ددی حساب به وی غیراختیاری وسوسه او هیره اوخطا په دی کی دا خل نه دی ، لیکن دقرآن الفاظ په ظاهرسره عام وه ، ددی دعام والی څخه دا ګڼل کیده چی که دانسان په زړه کی په غیرِ اختیاری طور سره څه خیال راسی نو ددی به هم حساب وی ، صحابه کرامو چی دا واوریده نو وبیریدل اونبی کریم ﷺ ته یی عرض وکی چی یا رسول الله ﷺ تراوسه پوری خوموږ داګڼله چی کوم کار موږ په خپله اراده اواختیار سره کوو دهغه عملونوحساب به وی ، دغیرِ اختیاری خیالاتوکوم چی په زړه کی راځی دهغه حساب به نه وی ، مګر ددی آیت څخه معلومه سوه چی هرخیال کوم چی په زړه کی راځی ، دهغه حساب به وی ، په دی کی خو دعذاب څخه خلاصی پیداکول ډیرګران دی ، نبی کریم ﷺ ته خوکه څه هم دآیت صحیح مطلب معلوم وو ، لیکن دالفاظو دعام والی په وجه یی دخپل طرف ته څه ویل خوښ نه کړه ، بلکه دوحی انتظار یی وکی ، او صحابه کرامو ته یی وفرمایل چی دالله ﷻ دطرفه څه حکم راځی برابره خبره ده که آسان وی اوکه ګران دمومن کار دا دی چی دهغه په منلو یوه ذره پس وپیش نه کوی ، تاسی ته په کار دی چی دالله ﷻ ټول حکمونه واوری او دا ووایاست ، سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَاِلَیْكَ الْمَصِیْرُ یعنی ای زموږ پروردګاره! موږ ستا حکم واوریدی اوموږ ومنی ای زموږ پروردګاره! که دحکم په منلوکی زموږ څخه کمی یاقصور سوی وی نومعاف یی کی ځکه چی زموږ دټولو ستا طرف ته واپسی ده، صحابه کرامو ﷺ دنبی کریم ﷺ دحکم مطابق داسی وکړه که څه هم ددوی په ذهن کی داخیال ګرځیدی چی بی اختیاره په زړه کی دراتلونکو خیالونو او وسوسو څخه خوخلاصیدل ډیرګران دی ، په دی باندی الله ﷻ دسورة بقرة دا آخری دوه آیتونه نازل کړل چی په اولنی کی یی دمسلمانانو صفت وکی اوپه دوهم کی یی دآیت اصلی تفسیر وښووی په کوم کی چی اصحابوته شبهه ورپیښه سوی وه ، اوس داول آیت الفاظ وګوری.

اٰمَنَ الرَّسُوْلُ بِمَا اُنْزِلَ اِلَیْهِ مِنْ رَّبِّهٖ وَالْمُؤْمِنُوْنَ كُلٌّ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ لَا نُفَرِّقُ بَیْنَ اَحَدٍ مِّنْ رُّسُلِهٖ وَقَالُوْا سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَاِلَیْكَ الْمَصِیْرُ : یعنی ایمان لری رسول په هغه شی باندی چی ده ته نازل سی دطرفه درب دده څخه ، په دی کی یی دنبی کریم ﷺ صفت وکی او په دی کی یی په ځای دده ﷺ

دنوم اخیستو لفظ درسول وویل ، دنبی کریم ﷺ لویی اوشرافت یی ښکاره کی ، اوتردی وروسته یی وفرمایل وَالْمُؤْمِنُوْنَ : یعنی لکه څنګه چی دنبی کریم ﷺ په خپله وحی باندی ایمان اوعقیده ده دغه شانورباندی دعامو مومنانوهم عقیده ده ، اوپه دی جمله کی چی یی دبیان کوم طرز اختیارکړي دی چی اول یی پوره جمله دنبی کریم ﷺ دایمان په ذکرکی بیان کړه ، تردی وروسته یی دمومنانو دایمان جلا ذکر وکی ، په دی کی اشاره ده چی که په نفسِ ایمان کی نبی کریم ﷺ اوټول مسلمانان شریك دی لیکن دایمان ددرجو په اعتبار سره په دواړوکی لوی فرق دی ، دنبی کریم ﷺ دلیدو او اوریدو په بنا باندی دی اودنورو مسلمانانو علم ایمان بالغیب دی دنبی کریم ﷺ دلیدو په وجه .

تردی وروسته یی ددغه ایمان مجمل تفصیل وښووی چی په دی کی نبی کریم ﷺ اوټول مومنان شریك وه دچادا ایمان وو دالله ﷻ په وجود اوپه یووالی باندی اوپه دی چی په ټولو کاملو صفتونوسره یی صفت سوي دی اوپه ملائکو باندی اودالله ﷻ په کتابونو او په ټولو رسولانو باندی ، اوتردی وروسته یی دا خبره ښکاره کړه چی دأمّت مومنان به دتیرو امتونو په شان داسی نه کوی چی دالله ﷻ په رسولانوکی به جلا والی راولی چی ځینی به منی اوځینی به نه منی لکه یهودوچی حضرت موسیٰ ﷺ اونصاراؤ حضرت عیسیٰ ﷺ نبی منی لیکن خاتم الانبیاء ﷺ یی نبی ونه منی ، ددی امت یی داسی صفت وکی چی دوی دالله ﷻ دیو رسول څخه هم انکارنه کوی اوبیایی دصحابه کرامو په دی جمله باندی تعریف وکی کومه چی دوی دنبی کریم ﷺ د ارشاد موافق په ژبه سره ویلی وه .

سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَاِلَيْكَ الْمَصِيْرُ .

تردی وروسته په دوهم آیت کی یی په یوخاص اندازسره هغه شبهه لیری کړه چی دتیرآیت دځینو جملو څخه پیدا کیده چی که دزړه په پټو خیالاتو باندی حساب وسو دعذاب څخه به څنګه خلاص سی ، ارشاد فرمایی ، لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا : یعنی الله ﷻ چاته دهغه دطاقت څخه ماسوا دکار حکم نه ورکوی ، په دی وجه په غیرِاختیاری طورچی کوم خیالات اووسوسی په زړه کی راسی اوبیاپه دی باندی څه عمل نه وی نو دغه ټول دالله ﷻ په نزد معاف دی حساب اوګرفتاری به یوازی په هغه عمل سره وی چی په اختیار اوارادی سره وی ، تفصیل ددی دا دی چی څنګه دانسان عملونه اوکارونه چی دلاس سر، سترګو اوژبی اونورو سره تعلق لری چی دی ته ظاهری عملونه ویل کیږی ددی دوه قسمونه دی یو اختیاری دی چی په اراده اواختیار سره کول کیږی لکه په اراده سره خبری کول اوپه اراده سره وهل ، دوهم غیرِ اختیاری دی چی بی ارادی واقع سی ، لکه په ژبه سره یی ویل یوڅه اودخولی څخه یی بل څه ووتل یایی دارِتعَاش (ریږدیدو) په وجه بی اختیاره دلاسو څخه چاته تکلیف ورسیدی ، په دی کی ټولو ته معلومه ده چی حساب کتاب اوجزا او سزا په اختیاری کارونو پوری خاص ده په غیر اختیاری کارونو انسان مکلف نه دی او نه ورباندی عذاب اوثواب سته .

دغه شان هغه کارونه چې تعلق يې دزړه سره دی دهغه هم دوه قسمونه دي يو اختياري لکه دکفر اوشرك عقيده چې په قصد او اختيار سره په زړه کی ځای کيږي يابنه په اراده سره ځان لوی ګڼل چې دی ته تکبر ويل کيږي يا پخه اراده کول چې شراب به چيښم، او دوهم غيرِ اختياري دی مثلاً بغير دقصد اوارادې څخه په زړه کی بدخيال راتلل، په دی کی هم حساب کتاب اونيول يوازې پراختياري کارونو باندی دی پرغيرِ اختياري باندی نسته، په دی تفسيرسره چې په خپله قرآن شريف بيان کی دصحابه کرامو تسلی وسوه، چې په غيرِ اختياري وسوسو اوخيالاتو حساب اوکتاب اوپردی به عذاب اوثواب نه وی ددی مضمون په زيات واضح کولوسره په آخرکی فرمايي ، لَهَا مَاكَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَااكْتَسَبَتْ يعنې انسان ته به ثواب هم په هغه کار ورکول کيږي چې په اراده سره يې وکی .

او مراد دا دی چې په ابتداء کی بې واسطی دهغه عمل ثواب ياعذاب به وی چې په قصد اواراده سره يې وکی ، دڅه داسی ثواب اوعذاب په واسطه سره کيدل چې ده يې اراده نه وی کړی ددی منافی نه دی، په دی سره ددی شبهې جواب وسوچې ځينی وخت سړی ته بی دڅه قصد اوارادې څخه هم عذاب ياثواب ورکول کيږي لکه چې دقرآن شريف دنورو آيتونو اوډيرو احاديثو څخه ثابته ده چې کوم سړی داسی نيك کاروکی چې نورو خلګوته هم په دغه سره دنيکی توفيق وسی نوترڅو پوری چې خلګ دغه نيك کارکوی نو ثواب به يې دغه اولنی ته هم رسيږي ، دغه شان که څوك څه دګناه طريقه جاری کی نوچې څومره خلګ دغه ګناه کوی ګناه به يې دغه اولنی سړی ته هم رسيږي چاچې دغه طريقه جوړه کړې ده ، دغه شان دحديثو په روايتونو سره ثابت دی چې کوم سړی دخپل عمل ثواب بل سړی ته وبخښی نوهغه ته دغه ثواب رسيږي ، په دی ټولو صورتونوکی بغير دقصد او ارادې څخه انسان ته ثواب ياعذاب رسيږي .

ددی شبهې جواب دا دی چې دابنکاره خبره ده چې دا ثواب ياعذاب بی دواسطی څخه ده ته نه رسيږي بلکه دبل په واسطه رسيږي ، ددی څخه علاوه کومه واسطه چې جوړه سوې ده په دی کی هم دده داختيار اوعمل دخل دی ، ځکه چې کوم سړی دچا ايجاد کړی بنه يابده طريقه اختيارکړه ، په دی کی داولنی ايجاد کونکی سړی اختياري عمل هم دا خل دی ، که څه هم ده ددی خاص اثر اراده نه وی کړی ، دغه شان که څوك چاته ثواب رسوی نو دا ځکه چې په ده يې مخکی څه احسان کړی وی په هغه لحاظ سره يې ورته دی رسوی او دا ثواب چې ده ته رسيږي نو دا هم په حقيقت کی دده دخپل عمل ثواب ياعذاب دی .

بالکل په آخرکی قرآن کريم مسلمانانوته يوه خاصه دعا وښوولـه چې په هيره اوغلطی اوپه بی واسطه خطاء سره دڅه فعل پرواقع کيدو باندی په کښی معافی غوښتل سوي ده فرمايي ، رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَا إِنْ نَّسِيْنَا أَوْ أَخْطَأْنَا ای زمونږ پروردګاره ! په هيره اوغلطی اوخطاء باندی مونږ مه نيسه بيافرمايي ، رَبَّنَا وَلَا

لَحْمِلْ عَلَيْنَا إِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهُ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِنَا رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَالَا طَاقَةَ لَنَا بِهِ : يعنى اى زمونږ پروردګاره! په مونږ ددرنو اوسختو عملونو بارمه غورځوى لكه چې زمونږ څخه په مخكى خلكو (بنى اسرائيلو) چې غورځيدلى دى اوپه مونږ داسى فرض مه راغورځوى چې مونږ يې طاقت دادا كولو نه لرو .

ددى څخه مراد هغه سخت عملونه دى چې په بنى اسرائيلو باندى مقررسوى وه چې جامه به يې په اوبونه پاكيده پريكوله به يې يابه يې سوزله ، اودقتل څخه بغير به يې توبه نه قبليده يامراد دا دى چې په دنيا كې پرمونږ عذاب مه نازلوى لكه چې پربنى اسرائيلوبه دبدعمل په وجه نازليدى ، او ددى تولو دعاګانو دقبلولو اظهارهم الله ﷻ درسول الله ﷺ په ذريعه كړي دى .

سورة بقرة تمام سو ، الله ﷻ لره ثناء ده اودالله ﷻ شكر دى په اول په آخر په ظاهر په باطن كې ، اودهغه څخه كومك غوښتل كيږى اوخاص هغه كومك كوونكى دى .

﴿ سورة ال عمران ﴾

سُوْرَةُ اٰلِ عِمْرٰنَ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ مِائَتَا اٰيَةٍ وَّعِشْرُوْنَ رُكُوْعًا

سورة ال عمران په مدينه كې نازل سوى دى په دى كې دوه (۲۰۰) ايتونه اوشل (۲۰) ركوع دى.

شروع كوم دالله په نوم سره چې بى حده مهربان او نهايت رحم كوونكى دى .

الٓمّٓ ۝١ اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَیُّ الْقَیُّوْمُ ۝٢ نَزَّلَ عَلَیْكَ الْكِتٰبَ

الله هغه دى چې نسته بل معبود ماسوا دده څخه ژوندى دى تولو لره تينګونكى دى ، نازل يې كې

بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَیْنَ یَدَیْهِ وَاَنْزَلَ التَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِیْلَ ۝٣

په تا كتاب ريښتنى ريښتينى كوى دمخكنيو كتابونو او نازل يې كې تورات او انجيل .

مِنْ قَبْلُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَاَنْزَلَ الْفُرْقَانَ ۝٥ اِنَّ الَّذِیْنَ

ددى كتاب څخه مخكى دخلقو دهدايت دپاره او نازلى يې كړى فيصلى بيشكه څوك چې

كَفَرُوْا بِاٰیٰتِ اللّٰهِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِیْدٌ وَاللّٰهُ عَزِیْزٌ ذُو

منكر سو دايتونو دالله څخه د دوى دپاره عذاب دى سخت او الله تعالى زبردست دى

انْتِقَامٍ ۝۴ اِنَّ اللّٰهَ لَا یَخْفٰى عَلَیْهِ شَیْءٌ فِی الْاَرْضِ وَلَا

بدله اخيستونكى ، په الله تعالى باندى پټ نه دى هيڅ شى په مځكه كې اونه

فِى السَّمَآءِ ۝ هُوَ الَّذِىْ يُصَوِّرُكُمْ فِى الْاَرْحَامِ كَيْفَ يَشَآءُ ؕ

په آسمان کې ، هم هغه ستاسې نقشه جوړوي دمور په نس کې څنګه چې غواړي

لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝

دهيڅا بندګي نسته ما سوا دهغه څخه زبردست دي حکمت والا .

دآيتونو ترون: دا دقرآن کريم د دريم سورة آل عمران اولنی رکوع ده په اول سورة يعنی الحمد کی چی دپوره قرآن خلاصه ده ددی په آخرکی دصراط مستقيم (نيکی لاری) هدايت غوښتل سوي دی ، تردی وروسته سورة بقرة د آلمّ ذٰلِكَ الْكِتٰبُ څخه په شروع کولو کی ګويا دی طرف ته اشاره وسوه چی په سورة فاتحه کی دکومی نيکی لاری سوال سوی دی هغه الله ﷻ قبول کی دا قرآن يی راوليږی چی دنيکی لاری ښوونه کوی ، بيا په سورة بقرة کی اکثره شرعی احکام په اجمال اوتفصيل سره بيان سوه اوپه کښنی ځای په ځای دکفارو مخالفت او د دوی سره دمقابلی ذکر راغلی دی په آخرکی يی دا په ، وَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ : په دعا غوښتونکی جُملہ باندی ختم کی چی دکفاروپه مقابله کی دغلبی پيداکيدو دعايی مطلب وه ، نوپه سورة آلِ عمران کی په عام طورسره دکفارو سره دمعاملو اوپه لاس او ژبه سره د دوی په مقابله کی دجهاد بيان دی چی ګويا د ، وَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ : تشريح اوتفصيل دی .

لنډتفسير: دسورة آل عمران په مخکنی پنځو آيتونوکی دهغه لوی مقصدبيان دی دکوم په وجه چی دکفر او اسلام کافر اومومن تقسيم او د يو بل سره مقابله شروع کيږی اوهغه دالله ﷻ يومنل دی ، ددی منونکوته مومنان اونه منونکوته کافر اوغيرِ مسلم وايی ، ددی رکوع په اول آيت کی دالله ﷻ ديومنلو عقلی دليل بيان سوي دی او په دوهم آيت کی نقلی دليل بيان سو تردی وروسته په آيت کی دکفارو دشکونو جواب دی .

په اولنی آيت کی ارشاد دی ، الٓمّٓ اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ : په دی کی لفظ د آلمّ خو دمتشابهاتو دقرآن څخه دی چی معنی يی دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ په مينځ کی يو راز دی چی تفصيل يی ددی رکوع په آخری آيتونوکی راځی ، تردی وروسته په ، اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ : کی يی دتوحيد مضمون ديوی دعوی په صورت کی پيش کی ، معنٰی يی دا ده چی الله ﷻ داسی دی چی دهغه څخه ماسوا بل څوک دمعبود جوړولو قابل نسته .

تردی وروسته په لفظ د الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ : سره يی دتوحيد عقلی دليل بيان کی چی ددی تشريح دا ده چی عبادت ددی خبری نوم دی چی خپل ځان دچاپه مخکی انتهايی ذليل اوعاجز جوړ کړی پيش کړی او دا بيا ددی خبری غوښتنه کوی چی دچاعبادت کول کيږی هغه دی دلويی اوبلندی ترټولو دلوړ مقام

مالك او په هراعتبار سره كامل وي او دا خو ښكاره خبره ده چې كوم شي خپل وجودقائم نه سي ساتلى په خپل وجود اوخپله بقاء كې دبل محتاج وي دهغه دعزت اولويي څه مقام كيدى سي ؟ نو په دى وجه دا خبره ښكاره سوه چې په دنياكې څومره شيان چې نه په خپله دخپل وجود مالكان دي اونه خپل وجود قائم ساتلى سي هغه برابره خبره ده كه دډبرى تراشل سوى بت وي اوكه اوبه اودرخته وي يا ملائكې اوپيغمبر وي په دوى كې هيڅ څوك هم دعبادت لايق نسته ، دعبادت لايق هغه ذات كيدى سي چې هميشه ژوندى اوموجود دى او هميشه به ژوندى اوقائم وي اوهغه يوازې دالله ﷻ ذات دى ، دهغه څخه ماسوا هيڅ څوك دعبادت لايق نسته ، تردې وروسته يې په دوهم آيت كې دتوحيد نقلي دليل بيان كى ، فرمايي ، نَزَّلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ وَأَنزَلَ التَّوْرَاةَ وَالْإِنجِيلَ . مِن قَبْلُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَأَنزَلَ الْفُرْقَانَ .

ددې خلاصه دا ده چې دالله ﷻ توحيد چې كوم قرآن بيان كړي دى دا څه دقرآن يادپيغمبر اسلام ﷺ خصوصيت نه دى ، بلكه تردې مخكې هم تورات انجيل اونور كتابونه اوانبياء عليهم السلام چې الله ﷻ راليږلي دي ددې ټولو دغه دعوىٰ اودغه كلمه وه ، قرآن شريف چې راغى ددې ټولويې تصديق وكى څه نوى دعوىٰ يې پيش نه كړه چې ګويا خلګو ته په كښې دپوهيدلو يامنلو څه ګرانوالى يا تكليف دى .

په آخرى دوو آيتونوكې يې دتوحيد دكامل كولو دپاره دالله ﷻ دصفاتو دعلم اوقدرت بيان وكى او دالله ﷻ ديووالي دليل يې ورباندې مكمل كى چې كوم ذات دبې انتها ازلي علم مالك اودچاپه قبضه دقدرت كې چې هرشى دى هغه ددې لايق دى چې دهغه عبادت وسى دناقص علم اومحدود قدرت لرونكې ته دا مقام نه سي حاصليدى ، اوس ددې آيتونو لنډ تفسير واورى .

الله ﷻ داسې دى چې دده څخه ماسوا بل څوك ددې قابل نه دى چې معبود جوړ سي اوهغه (هميشه ژوندى دى ټولو شيانو ته سنبالونكې دى ، الله ﷻ تاته قرآن راليږلى دى په حقه سره په دې شان چې رښتينوالي كوى دهغه (آسمانى) كتابونو چې ترده مخكې راغلي دي او (دغه شان) تورات اوانجيل يې راليږلي وو تردې مخكې دخلګو دهدايت دپاره (اوپه دې سره دا هم لازم سوه چې قرآن هم هدايت كونكې دى ځكه چې دهدايت تصديق (رښتيني) كوونكې هم هدايت دى) اوالله ﷻ (دپيغمبرانو دربښتيني كولو دپاره) معجزې راوليږلې بيشكه كوم خلګ چې منكر دي دالله ﷻ د (دې) آيتونو څخه (كوم چې دالله ﷻ په يو والي دلالت كوي) د دوى دپاره سخته سزاده اوالله ﷻ غلبه (اوقدرت) والا دى (چې بدله اخيستى سي او) بدله اخيستونكي (هم) دى ، بيشكه دالله ﷻ څخه څه شي پټ نسته (نه څه شي) په مځكه كې اونه (څه شي) په آسمان كې (نو دده علم هم كامل دى) هغه داسې (پاك) ذات دى چې ستاسې صورت (شكل) جوړوى ځنګه چې وغواړي (دچا يوډول شكل اودچابل ډول شكل نو دهغه

قدرت هم کامل دی ژوند او قائموالی اوعلم او قدرت چی اصلی صفات دی په ده کی په کامل طور سره بی دشرکت دبل څخه موجود دی نو ددی څخه ثابته سوه چی، څوك دعبادت لایق نسته ، بغیر دهغه (پاك ذات) څخه (او) هغه غالب دی (دتوحید دمنکرڅخه بدله اخیستی سی لیکن) حکمت والا (هم) دی (چی دمصلحت په وجه په بدله اخیستو کی تلوارنه کوی ، اوهرڅه لره یی وخت ورکړي دی)

معلومات اومسئلي

(دتوحید طرف ته بلنه دټولو پیغبرانو علیهم السلام مقرر کار وو)

په دوهم آیت کی چی دتوحیدکوم نقلی دلیل پیش سوي دی دهغه تشریح دا ده ، چی په کومه خبره دډیرو خلګو اتفاق وی اوبیا خاص چی هغه دمختلفو ملکونو اوسیدونکی وی اوپه جلا جلا وختونو کی پیدا سوی وی اوپه مینځ کی یی په سوونو په زرګونو کاله فاصله وی او دیوه دخبری بل ته درسیدوڅه ذریعه هم نه وی اوسره ددی چی کوم یو را پورته کیږی هم هغه یوه خبره کوی کومه چی هغه مخکی ویلی ده ، او ټول ددغه یوی خبری اویوی عقیدی پابند وی نو ضمیر دهغه خبری په قبلولو مجبوره وی ، مثلاً دالله ﷻ دوجود اودهغه دیووالی بیان په مخلوق کی ترټولو اول حضرت آدم ﷺ راوړی وو ، او دده په اولاد کی پرلپسی ددی خبری چلیدل خوڅه لیری خبره نه وه، لیکن دډیری زمانی په تیریدو اودحضرت آدم ﷺ په اولاد کی دهغو ټولو طریقو تربدلیدو وروسته بیاحضرت نوح ﷺ راغی او دهغه شی دعوت ورکوی دکوم چی حضرت آدم ﷺ خلګوته بلنه (دعوت) ورکړی وو اوبیا دډیری زمانی تر تیریدو وروسته حضرت ابراهیم حضرت اسمٰعیل حضرت اسحاق اوحضرت یعقوب علیهم السلام په عراق اوشام کی پیدا کیږی او خاص په هم دغه بلنه (دعوت) ورکولو سره راپورته کیږی ، بیاحضرت موسیٰ اوحضرت هارون ﷺ او ددغه سلسلی نور نبیان راځی اوټول هم دغه یوه کلمه دتوحید وایی ، اوهم دغه بلنه ورکوی ، اوپه دوی دډیری زمانی تر تیریدو وروسته حضرت عیسیٰ ﷺ هم ددغه دعوت سره راپورته کیږی اوپه آخرکی دنبیانو سردار حضرت محمد ﷺ هم ددغه دعوت سره تشریف راوړی.

اوس که یوخالی ذهن والا انسان چی داسلام اودتوحید ددعوت سره یی څه بغض اوکینه نه وی په ساده طریقه سره لږ په دی سلسله نظر واچوی چی دحضرت آدم ﷺ څخه واخله دخاتم الانبیاء ﷺ ترزمانی پوری یولك څلیریشت زره پیغمبران په مختلفو زمانوکی په مختلفو ژبوکی په مختلفو ملکونوکی پیدا سول اوټول هم دغه یوه خبره وایی ، اکثره دیو بل سره دیوځای کیدو موقع هم نه ده راغلی اودغه زمانه دکتابونو جوړولو اولیکلوهم نه وه چی یوپیغمبرته دبل پیغمبر څه کتاب یالیکل پاته سوی وی اوهغه ته یی کتلی وی او هغه دعوت یی خپل کړی وی ، بلکه په دوی کی هریو دیوبل څخه په قرنونو لیری پیدا سوی وی او دوی ته ددنیاوی اسبابو په بنا دتیرو انبیاؤ هیڅ خبر نه وی

رسیدلی ، البته دوی دالله ﷻ دطرف څخه وحی پیدا کی او دوحی په ذریعه ورته ټول حالات ښوول کیږی اودالله ﷻ دطرفه دی ددی دعوت دپاره پورته کول کیږی .

اوس که یوسړی په لړشان انصاف سره غوروکی چی که یولك څلیریشت زره انسانان په مختلفو زمانو اومختلفو ملکونوکی یوه خبره بیانوی نوقطع نظرددی څخه چی بیانوونکی ثقه اومعتبر خلگ دی اوکه نه دی ، د دومره لوی جماعت په یوه خبره متفق کیدل دیوانسان دپاره ددی خبری دتصدیق دپاره پوره کیږی اوچی کله دپیغمبرانو په ذاتی خصوصیاتو او د دوی دصدق اوعدل په لوړ معیار باندی نظر واچول سی نو یو انسان ددی یقین کولو څخه بغیر نه سی پاته کیدی چی د دوی خبره صحیح او د دوی دعوت حق او ددنیا اوآخرت دکامیابی دپاره دی ، په اولنیو دوو آیتونوکی چی دتوحیدکوم مضمون بیان سوي دی ، ددی متعلق په حدیث شریف کی روایات دی ، چی ځینی نصارا دنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضرسوه او د دوی سره مذهبی خبری اتری روانی سوی نبی کریم ﷺ دالله ﷻ دیووالی په ثبوت کی دا دوه آیتونه دخدای ﷻ په حکم سره وړاندی کړه چی دنصاراؤ سره یی بیاجواب نه وو، تردی وروسته په دریم اوڅلورم آیتونوکی هم ددی توحید دمضمون تکمیل دی ، په دریم آیت کی دالله ﷻ دلوی علم بیان دی چی دهغه څخه په جهان کی یوه ذره هم پټه نه ده ، اوپه څلورم آیت کی دهغه دقدرت کامله او قادرمطلق کیدو بیان دی چی هغه انسان دمور په نس کی په درو۳ تیاروکی په خپل حکمت بالغه سره جوړ کی او د دوی په شکلونو اورنګونوکی یی څومره کاریګری فرمایلی ده چی په اربونو انسانانوکی هم دیوه شکل دبل سره داسی نه پیدا کیږی چی فرق په کښی نه سی کیدی ، ددی لوی علم اوکامل قدرت عقلی تقاضا دا ده چی عبادت دی یوازی دده وسی ، دده څخه ماسوا نورټول په علم اوقدرت کی دا مقام نه لری په دی وجه دوی دعبادت لایق نه دی .

دغه شان دتوحید دثابتولو دپاره دالله ﷻ څلور مهم صفتونه په دی څلورو آیتونو کی راغله په اولنی او دوهم آیت کی د ازلی اوابدی ژوند اوقومیت (قائموالی) صفتونه بیان سوه ، ددریم آیت څخه ترشپږم آیت پوری په دوی کی دلوی علم اوکامل قدرت اظهار وسوکوم ذات چی ددی څلورو صفتونو جمع کوونکی وی هم هغه دعبادت لایق دی .

هُوَ الَّذِیٓ اَنۡزَلَ عَلَیۡكَ الۡكِتٰبَ مِنۡهُ اٰیٰتٌ مُّحۡكَمٰتٌ هُنَّ اُمُّ الۡكِتٰبِ وَاُخَرُ مُتَشٰبِهٰتٌ

(الله) هغه دی چی نازل یی کی په تاباندی کتاب په دی کی ځینی ایتونه محکم دی یعنی معنی یی ښکاره ده دغه اصل دی دکتاب او نور متشابه دی .

فَاَمَّا الَّذِیۡنَ فِیۡ قُلُوۡبِهِمۡ زَیۡغٌ فَیَتَّبِعُوۡنَ مَا تَشٰبَهَ مِنۡهُ

یعنی معنی یی معلومه یامقرره نه ده ، پس دچا په زړونو کی چی کوږوالی دی هغه تابعداری کوی دمتشابهاتو

ابْتِغَاۤءَ الْفِتْنَةِ وَابْتِغَاۤءَ تَاْوِيْلِهٖ ۚ وَمَا يَعْلَمُ تَاْوِيْلَهٗۤ اِلَّا

دگمراهی خپرولو په غرض سره او دمطلب معلومولو په وجه سره ، او ددی مطلب هیڅوك نه پیژنی ماسوا دالله

اللّٰهُ ؔ وَالرّٰسِخُوْنَ فِى الْعِلْمِ يَقُوْلُوْنَ اٰمَنَّا بِهٖ ۙ كُلٌّ مِّنْ عِنْدِ

ﷻ څخه او مضبوط علم والا وایی مونږ په دی یقین راوړی دی ټول دطرفه درب

رَبِّنَا ۚ وَمَا يَذَّكَّرُ اِلَّاۤ اُولُوا الْاَلْبَابِ ۝۷

زمونږ څخه نازل سوی دی او په پوره کولو باندی هغه پوهیږي چی عقل یی وی.

دآیتونو ترون: په تیرو آیتونوکی دالله ﷻ دیووالی ثبوت وو، په دی آیت کی دتوحید خلاف دځینو شبهو جواب دی ، واقعه ددی دا ده چی یو وار دنجران څه نصارا دنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضرسول ، او دمذهب په باره کی یی خبری شروع کړی ، حضور ﷺ دنصاراؤ دتثلیث (د درو خدایانو) دعقیدی رد ډیر په تفصیل سره وکی او دالله ﷻ یووالی یی ثابت کی ، حضور ﷺ په خپله دعوی باندی دالله ﷻ صفتونه همیشه ژوند کامل قدرت احاطه کوونکی علم او دپیدا کولو قدرت بیان کړل ، دالله ﷻ یووالی یی په دلیل کی راوړه ، او دا ټول نصاراؤ ومنل ، چی توحید ثابت سو نو په دی دتثلیث دعقیدی باطل والی هم ثابت سو، نودی خلکو دقرآن په هغه الفاظوخپل څه شکونه پیش کړه په کوموکی چی یی حضرت عیسی ؑ ته روح یاکلمة الله ویلی دی چی په دی الفاظوسره خودحضرت عیسی ؑ په خدایی کی شریکوالی ثابتیږی الله ﷻ په دی آیت کی دغه شبهه ختمه کړی چی داکلمی متشابهات دی ، ددی ظاهری معنی مراد نه ده ، بلکه دا دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ په مینځ کی یو راز دی چی په حقیقت یی عوام نه سی خبریدی ، عوامو ته ددی الفاظو په تحقیق کی پریوتل هم جائز نه دی ، په دی هم دغسی ایمان راوړل ضروری دی چی هرڅه ددی څخه دالله ﷻ مراد وی هغه حق دی دزیات لټون اوتلاش ضرورت نسته .

لنډتفسیر: هغه (الله ﷻ) داسی دی چی نازل یی کی په تا باندی کتاب چی دهغه یوه حصه هغه آیتونه دی چی دپټ والی دمراد څخه محفوظ دی (یعنی دهغه مطلب ښکاره دی) او دغه آیتونه اصلی مدار دی د (دی) کتاب (یعنی دقرآن) یعنی دکوموچی معنی ښکاره نه وی دهغه معنی ښکاره کول کیږی) اونور آیتونه داسی دی چی مراد یی پټ دی (یعنی مطلب یی ښکاره نه دی برابره خبره ده که دوجه څخه داجمال وی اوکه دبل نص سره یی ټکراو وی چی دهغه نص مراد ښکاره وی) نو دکومو خلکو چی په زړونوکی کوږوالی دی نو هغوی په دغه حصی پسی سوی دی چی مراد یی مشتبه دی (په دین کی)

دګدودی جوړولو په غرض سره او ددی (پټ مراد) د (غلط) مطلب دلټولو په غرض سره (چی دخپلی غلطی عقیدی ددی څخه مطلب حاصل کی) حال دا دی چی ددی (صحیح) مطلب بغیرد الله ﷻ څخه بل هیڅوك نه پیژنی (آیاکه په خپله دقرآن یاحدیث په ذریعه سره صراحةً یااشارةً وښوول سی لکه دلفظ دصلوة مراد چی صراحةً معلوم سو او داستواء علی العرش اونور تاویل دځینوپه رایی په قاعدو کلیو سره معلوم سو نو بس دومره قدر خبر نورو ته هم کیدی سی زیات نه سی معلومیدی لکه دقرآن دمقطعاتو الف لام میم اونور معنٰی هیچاته معلومه نه سوه ، اودځینوپه رایی باندی داستواء علی العرش معنٰی هم معلومه نه سوه) او (په دی واسطه) کوم خلق چی په علم (دین) کی پاخه (اوپوه) دی هغوی (دداسی آیتونو متعلق) داسی وایی چی مونږ په دی (اجمالاً) یقین لروتول (آیتونه که معنٰی یی ښکاره ده اوکه پټه) زمونږ درب دطرفه دی (نو ددی چی هرڅه معنٰی اومرادپه واقع کی وی هغه حق دی) اودنصیحت (خبره) هغه خلګ قبلوی چی دعقل خاوندان وی (یعنی دعقل مقتضاء اوخواهش هم دا دی چی په فائده منه اوضروری خبره کی دی مشغول وی اوپه فضولو قصوکی دی نه اخته کیږی)

معلومات اومسئلي: په اول آیت کی الله ﷻ دمتشابهاتو اومحکماتو آیتونو ذکر وکی ، دیو عام اصول او ضابطی طرف ته یی اشاره وکړه چی په دی دپوهیدو څخه وروسته ډیری شبهی اوجګړی ختمیدی سی چی ددی تفصیل دا دی چی په قرآن مجیدکی دوه قسمه آیاتونه پیدا کیږی یو قسم ته محکمات وایی اوبل قسم ته متشابهات .

محکمات هغه آیتونوته وایی چی مراد یی داسی سړی ته بالکل ښکاره او واضح وی چی دعربی دقاعدو څخه ښه خبروی (یعنی چی په عربی قواعدو باندی ښه پوهیږی) او دکومو آیتونو تفسیر اومعانی چی په داسی سړی باندی ښکاره نه وی هغه ته متشابهات وایی (مظهری) اول قسم آیتونوته الله ﷻ امّ الکتاب وویل چی مطلب یی دا دی چی دټولو تعلیماتو اصل اصول دغه آیتونه دی چی معنٰی اومطلبونه یی دشبهو شکونو اوګډوډ والی څخه پاك وی .

اوپه دوهم قسم آیتونوکی چونکه چی دویونکی مراد پټ اوغیر متعین وی په دی وجه په دی آیتونوکی صحیح طریقه دا ده چی دا اول قسم ته راوګرځول سی او وکتل سی نوچی کومه معنٰی ددی څخه خلاف راسی دهغه قطعًا نفی وسی او دمتکلم (خبری کوونکی) مراد هغه وګڼل سی،کوم چی دآیتونو محکماتو څخه خلاف نه وی اوڅه داسی تاویل اوتوجیه (وجه دبیان) به یی صحیح نه ګڼل کیږی چی دمنلو سرو اصولو اومحکماتو آیتونو خلاف وی ، مثلاً قرآن کریم دمسیح ؑ په نسبت ښکاره ویلی دی چی ، اِنْ هُوَ اِلاَّ عَبْدٌ اَنْعَمْنَا عَلَيْهِ (دغه شان بل ځای ارشاد دی ، اِنَّ مَثَلَ عِيسٰى عِنْدَ اللّٰهِ كَمَثَلِ اٰدَمَ خَلَقَهٗ مِنْ تُرَابٍ .

ددی آیتونو اوددی په مثل دنورو ډیرآیتونو څخه صفامعلومیږی چی مسیح ؑ دالله ﷻ غوره سوی بنده

اودهغه مخلوق دی په دی وجه دنصاراؤ دده په باره کی دخدایی اوزوی والی دعوی کول صحیح نه ده.
اوس که یو سړی ددی تولو محکماتو څخه سترګی بندی کړی یوازی په ، کلمة الله او «روح منه» چی دا متشابهات دی او په دی پسی سی ، او ددی هغه معنی واخلی کومه چی دقرآن دمحکماتو اوپرلپسی بیانونو څخه خلاف وی نو دا به دده کوږوالی اوبی ایمانی وی.
څکه چی دمتشابهاتو صحیح مراد یوازی الله ﷻ ته معلوم دی ، هغه په خپل کرم او احسان سره چی په خومره قدرحصه سره خبرول غوارۍ نوخبر وی ، په دی وجه دداسی متشابهاتو څخه په خپله رایی سره معنی را ایستل صحیح نه دی.
فَاَمَّا الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ زَيْغٌ : په دی آیت سره الله ﷻ بیان وفرمایی چی کوم خلک فطرةً روغ وی هغوی دمتشابهاتو په باره کی زیات تحقیق اوتلاش نه کوی بلکه په داسی آیتونو اجمالاً ایمان راوړی چی دا هم دالله ﷻ حق کلام دی ، که څه هم دڅه مصلحت په وجه هغه مونږ ددی په معنی خبر نه کړو، په حقیقت کی دا طریقه دسلامتیا اواحتیاط ده ، ددی په خلاف څینی داسی خلک هم دی چی په زړونوکی یی کوږوالی دی هغوی دمحکماتو څخه سترګی بندوی دمتشابهاتوپه لټون کی لګیاوی ، او ددی څخه دخپل خواهش په مطابق معنی راباسی خلک په غلطیوکی اچوی ، دداسی خلګو په باره کی په قرآن او حدیث کی دسختی سزا وعده کړی راغلی ده یعنی داسی خلګو ته به سخته سزاوی.
حضرت عائشه ﷺ فرمایی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی کله تاسې داسی خلک ووینی چی دمتشابهاتو په لټون پسی وی نو تاسی دهغوی څخه لیری تښتی ، څکه چی دا هغه خلک دی چی الله ﷻ یی په قرآن کی ذکر کړی دی (بخاری) په یوبل حدیث کی نبی کریم ﷺ ارشاد فرمایی ، چی زما په خپل امت د درو ۳ خبرو بیره ده ، ۱، اول دا چی مال به ورته دیر حاصل سی او دهغه په وجه به دیوبل سره په حسدکی اخته سی ، اوجنګونه قتلونه به کوی ، ۲، دوهم داچی قرآن به ورته خلاص سی (یعنی دترجمی په ذریعه به هر عامی اوجاهل ددی دپوهی دعویدار سی) اوپه دی کی چی کومی خبری دپوهی نه دی یعنی متشابهات دی دهغه دمعنی دزده کولو کوشش به شروع کی ، حال دا دی چی ددی په مطلب یوازی الله ﷻ پوهیږی ، ۳، دریم دا چی علم به یی زیات سی نو ضائع به یی کی او دعلم زیاتولو کوشش به پریږدی (ابن کثیر بحواله طبرانی)
وَالرَّاسِخُوْنَ فِي الْعِلْمِ يَقُوْلُوْنَ اٰمَنَّا بِهٖ : دراسخون فی العلم څخه کوم خلک مراد دی؟ په دی کی دعلماؤ اقوال مختلف دی خو راجح (یعنی منل سوی) قول دا دی چی ددی څخه مراد اهل السنة والجماعة دی کوم چی دقرآن اوسنتو هغه تعبیر اوتشریح صحیح ګڼی کوم چی دصحابه کرامو ﷺ سلف صالحینو رحمهم الله او اجماع دامت څخه نقل وی ، او دقرآنی تعلیماتو مرکز اوبنیاد محکمات منی او دمتشابهاتو کومی معناوی چی د دوی دپوهی اووس څخه پورته وی نو په هغوی کی دخپلی کم علمی

اوناپوهی اقرارکوی او دغه خدای ﷻ ته سپاري ، دوی په خپل علمی کمال اوایمانی قوت نه مغروره کیږی بلکه همیشه دالله ﷻ څخه دثابت قدمی اوزیات فضل اومهربانی طلب کونکی وی ، د دوی طبیعتونه فتنی اوفسادونه نه خوښوی ، چی په متشابهاتو پسی سی ، دوی متشابهات اومحکمات ټول حق ګڼی ، ځکه چی د دوی یقین وی چی دا دواړه قسمه آیتونه دیوی سرچینی څخه راغلی دی البته دیو قسم یعنی دمحکماتو معنٰی معلومول زمونږ دپاره فائده منه اوضروری وه ، نوالله ﷻ دغه پټ ونه ساتل ، بلکه ښکاره ښکاره یی بیان کړه او دوهم قسم یعنی دمتشابهاتو معنٰی یی په خپل مصلحت سره بیان نه کړه نو په دی وجه سره مونږ ته هم ددی معلومول ضروری نه دی ، په داسی آیتونو باندی اجمالاً ایمان راوړل کافی دی ، (مظهری ملخصاً)

رَبَّنَا لَا تُزِغْ قُلُوبَنَا بَعْدَ إِذْ هَدَيْتَنَا وَهَبْ لَنَا مِن لَّدُنكَ رَحْمَةً ۚ إِنَّكَ أَنتَ الْوَهَّابُ ﴿٨﴾

ای ربه زمونږ مه کږوی زړونه زمونږ نودهغه څخه چی تامونږته هدایت وکی اوراکی مونږ ته خپل طرف څخه رحمت

رَبَّنَا إِنَّكَ جَامِعُ النَّاسِ لِيَوْمٍ لَّا رَيْبَ فِيهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ لَا يُخْلِفُ الْمِيعَادَ ﴿٩﴾

خاص ته یی هرڅه ورکوونکی ای ربه زمونږته یی جمع کوونکی دخلقو په یوه ورځ چی نسته شك په هغه کی بیشکه الله ﷻ نه کوی خلاف دوعدی خپلی څخه .

دآیتونو ترون : په تیر آیت کی دحق پرستو دیوکمال ذکر وو چی دوی سره دعلمی کمال دردلو په دی مغروره نه وه ، بلکه الله ﷻ ته یی دخپلی ثابت قدمی اواستقامت سوال کوی په دی آیت کی الله ﷻ د دوی د دوهم کمال بیان فرمایی .

لنډتفسیر: ای زمونږ پروردګاره! زمونږ زړونه مه کږوی وروسته دهغه څخه چی تامونږ ته (دحق طرف ته) هدایت کړي دی او په مونږ دخپل طرف څخه (خاص) رحمت وفرمایی (هغه رحمت دا دی چی مونږ په برابره لاره باندی قائم پاته سو) بیشکه ته دیربخښش کوونکی یي ، ای زمونږ پروردګاره! (مونږ دا دعا چی دکوږوالی څخه دخلاصیدو اوپه حق دقائم پاته کیدو څه ذدنیا دغرض دپاره نه غواړو بلکه محض دآخرت دنجات دپاره ده ځکه زمونږ عقیده ده چی) ته بیشکه ټولو دانسانانو (په میدان دحشرکی) جمع کوونکی یی په هغه ورځ دکومی په راتلوکی چی یوه ذره شك نسته (یعنی دقیامت په ورځ کی اودنه شك وجه یی دا ده چی ددی دراتلو الله ﷻ وعده فرمایلی ده او) بیشکه الله ﷻ خلاف نه کوی دوعدی څخه (په دی وجه دقیامت راتله ضروردی اوپه دی وجه یی زمونږ سره فکر دی)

معلومات اومسئلي: د اولنی آیت څخه معلومیږی چی هدایت اوګمراهی دالله ﷻ دطرفه څخه دی ، الله ﷻ چی چاته هدایت کوی نو زړه یی دنیکی طرف ته مائل کی او دچا چی ګمراه کول غواړی دهغه زړه دنیکی لاری څخه وګرځوی .

دا رنګه په یوحدیث کی نبی کریم ﷺ فرمایی چې یو زړه داسی نسته چې دالله ﷻ دګوتوځخه ددوه ګوتو په مینځ کی نه وی هغه چې ترڅو پوری غواړی په حق یی قائم ساتی او کله چې وغواړی دحق څخه یی ګرځوی ، هغه قادرمطلق دی څه چې غواړی کوی یې ، په دی وجه دکومو خلګو سره چې په دین دپاته کیدو فکر وی ، هغه همیشه دخپل الله ﷻ څخه داستقامت دعاکوی نبی کریم ﷺ به همیشه د استقامت دعا غوښته ، لکه په یوحدیث شریف کی دی ، یَا مُقَلِّبَ الْقُلُوْبِ ثَبِّتْ قُلُوْبَنَا عَلٰی دِیْنِكَ : یعنی ای دزړونو ګرځونکی ! زمونږ زړونه په خپل دین باندی قائم وساتی (مظهری ج۲)

اِنَّ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا لَنْ تُغْنِیَ عَنْهُمْ اَمْوَالُهُمْ وَ

بیشکه کوم خلق چې کافران دی هرګز به په په کار ورنه سی دوی ته د دوی مالونه

لَاۤ اَوْلَادُهُمْ مِّنَ اللّٰهِ شَیْــٴًـا ؕ وَ اُولٰٓىٕكَ هُمْ وَقُوْدُ النَّارِ ۙ ⑩

او نه د دوی اولاد دالله تعالی په مخکی هیڅ او دوی لرګی د دوزخ دی

كَدَاْبِ اٰلِ فِرْعَوْنَ ۙ وَ الَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ كَذَّبُوْا بِاٰیٰتِنَا ۚ

لکه چې دستور وو دفرعونیانو او هغه چې د دوی څخه مخکې وو ، درواغجن کړه دوی آیتونه

فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ بِذُنُوْبِهِمْ ؕ وَ اللّٰهُ شَدِیْدُ الْعِقَابِ ⑪ قُلْ

پس ونیول دوی الله تعالی په ګناهونو د دوی او دالله تعالی عذاب سخت دی ووایه

لِّلَّذِیْنَ كَفَرُوْا سَتُغْلَبُوْنَ وَ تُحْشَرُوْنَ اِلٰی جَهَنَّمَ ؕ وَ بِئْسَ الْمِهَادُ ⑫

کافرانو ته چې اوس به تاسی مغلوب سی ،او را ټول به سی د دوزخ طرف ته او څه بد ځای دا وسیدو دی.

لنډتفسیر: په یقین سره چې کوم خلګ کفر کوی هیڅکله به د دوی په کار ورنه سی د دوی مال (دولت) او نه د دوی اولاد دالله ﷻ په مقابله کی دیوی ذری په قدر هم داسی خلګ به د دوزخ خشاك وی (ددی خلګو معامله داسی ده) لکه چې معامله وه دفرعونیانو او د دوی څخه دمخکی (کافرانو) خلګو (هغه معامله دا وه) چې دوی زمونږ آیتونه (یعنی خبرونه او احکام) درواغجن کړه نو په دی باندی الله ﷻ دوی ونیول د دوی دګناهونو په سبب او الله ﷻ (سخت نیول کوی ځکه چې دهغه شان دا دی چې هغه) سخته سزا ورکوونکی دی (دغه شان معامله به وی چې دوی زمونږ آیتونه درواغجن کړه نو دوی ته به هم دغسی سزاوی او) دی کفرکوونکوخلګوته (داهم) ووایه چې (تاسی دا مه ګڼی چې دا نیول به یوازی

په آخرت کې وي بلکه دلته اوهلته دواړه ځایه به وي ، نو په دنیاکې، به ډیر ژرتاسی (دمسلمانانو په لاس سره) مغلوب سی او (په آخرت کې به) دجهنم طرف ته جمع سوی بوتلل سی او (جهنم) ډیر بد ځای د اوسیدنی دی .

معلومات اومسئلي: قُلْ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا سَتُغْلَبُوْنَ : ممکنه ده چې څوك په دی آیت سره دا شك وکی چې دآیت څخه معلومیږی ، چې کفار به مغلوبه وی حالانکه ټول کفار ددنیا مغلوب نه دی لیکن دا شبهه په دی وجه نه سی کیدی چې دلته دکفارو څخه مراد دټولی دنیا کفار نه دی بلکه دهغه وخت مشریکن اویهود مراد دی ، نو مشرکان یی په قتل اوقید او یهودیان یی دقتل اوقید سره سره دجزیی اوجلا وطنی په ذریعه مغلوب کړی وه .

قَدْ كَانَ لَكُمْ اٰيَةٌ فِيْ فِئَتَيْنِ الْتَقَتَا ؕ فِئَةٌ تُقَاتِلُ

بیشکه تیره سوی ده ستاسی په مخکې یوه نمونه په دوو فوجونو کی چې مقابله یی وسوه یو فوج جنګ

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَاُخْرٰى كَافِرَةٌ يَّرَوْنَهُمْ مِّثْلَيْهِمْ رَاْيَ الْعَيْنِ ؕ

کوی په لاره دخدای ﷻ کی او دویم فوج دکافرانو دی وینی دوی هغوی دخان دوچنده په ښکاره سترګوی سره

وَاللّٰهُ يُؤَيِّدُ بِنَصْرِهٖ مَنْ يَّشَآءُ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّاُولِي الْاَبْصَارِ ⑬

او الله طاقت ورکوی دخپل مدد چاته چې وغواړی ، بیشکه په دی کی عبرت دی لیدونکو ته .

دآیتونو ترون: په تیرآیت کی یی دکفارو دمغلوب کیدو خبر ورکړی ؤ اوس په دی آیت کی دهغه یومثال په طور ددلیل بیانوی .

لنډتفسیر: بیشکه ستاسی (ددلیل) دپاره لویه نمونه ده د دوو ټولګیو (په واقعه) کی چې دیوبل سره (دبدر په جنګ کی) مقابل سوی وه یوه ټولی خو (یعنی مسلمانان) دالله ﷻ په لاره کی جنګیده او دوهمه ټولګۍ‌وکافران خلګ وه (اوکافران دومره زیات وه چې) دی کافرانو به خپلی (ټولی) ته کتل چې تر مسلمانانو څوحصی (زیات) دی (اولیدل هم څه د وهم او خیال نه وه بلکه) په ښکاره سترګو سره یی لیدل (چې څه شك اوشبهه په کښی نه وه لیکن په کفارو سره د دومره زیات شمیر بیاهم الله ﷻ مسلمانان غالب کړه) او (غالب او مغلوب کول خاص دخدای ﷻ په قبضه کی دی) الله ﷻ په خپل کومك سره چاته چې وغواړی قوت ورکوی (نو) بیشکه په دی (واقعه) کی لوی عبرت دی (اونمونه ده) دکتونکو دپاره .

معلومات اومسئلي: په دی آیت کی دجنګ بدر حال بیان سوی دی چې په دی کی کفار تقریبا یوزر

۱۰۰۰ وه چې د دوی سره اووه سوه ۷۰۰ اوښان اوسل ۱۰۰ اسونه وه ، بل طرف ته مسلمانان مجاهدین تر درو سوو ۳۰۰ څه لږ زيات وه چې د دوی سره ټول اويا ۷۰ اوښان دوه ۲ اسونه شپږ ۶ زغرې اواته ۸ تورې وې ، اوتماشه دا وه چې هرې يوې ډلې ته خپل مخالف دځان څخه دوچنده په نظر ورتلې ، چې ددې نتيجه دا وه چې دکفارو په زړه کې دمسلمانانو دزيات ليدوپه وجه رُعب اوهيبت وغورځيږې ، او مسلمانان دځان څخه دوچنده تعداد ووينې نور زيات دحق تعالى طرف ته متوجه سي اوپه کامل توکل او استقلال سره دخداى ﷻ په وعده ، اِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ مِّائَةٌ صَابِرَةٌ يَّغْلِبُوْا مِائَتَيْنِ : باندې اعتماد وکې دفتح او کاميابى اميد وساتى که د دوی پوره شمارچې د دوی درې چنده ووکه دوی ته ښکاره سوی وای نو ممکنه وه چې بيره ورباندې راغلې وې او دا يوبل ته دوچنده ښکاره کيدل ددوارو فريقينو په ځينو وختونوکې وه، کنه نوځينې حالات هغه وه چې هريوه ته به بل فريق دځان څخه کم ښکاريدى لکه چې په سورة انفال کې به راسى .

په هرحال يو ډير لږ اوبې سر وسامانه ټولې دداسې مضبوطې ټولگې په مقابله کې دهغه پيش گويې په مطابق چې په مکه کې ورته سوې وه داسې کاميابول دسترگو لرونکو دپاره ډيره عبرتناکه (او دوعظ ونصيحت) واقعه ده خو چې څوك ورڅخه عبرت واخلې (فوائدِ علامه عثمانى رحمه الله)

زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوٰتِ مِنَ النِّسَآءِ وَالْبَنِيْنَ

غولولې دې خلق دخوندناکو شيانو محبت لکه ښځې اوزامن

وَالْقَنَاطِيْرِ الْمُقَنْطَرَةِ مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَالْخَيْلِ الْمُسَوَّمَةِ

او خزانې جمع کړل سوې دسرو زرو او سپينو زرو او داسونو نښانه داره

وَالْاَنْعَامِ وَالْحَرْثِ ؕ ذٰلِكَ مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَاللّٰهُ عِنْدَهٗ

سرو حيوانانو اوفصلونو دا فائده اخيستل دې ددنيا په ژوند کې او دالله تعالى سره دې

حُسْنُ الْمَاٰبِ ﴿۱۴﴾ قُلْ اَؤُنَبِّئُكُمْ بِخَيْرٍ مِّنْ ذٰلِكُمْ ؕ لِلَّذِيْنَ اتَّقَوْا

ښه ځاى د ورتلو (داوسيدنې) ووايه چې آيا زه وښيم تاسى ته ددې څخه ښه دپرهيز گارانو دپاره

عِنْدَ رَبِّهِمْ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا

دخپل رب سره باغونه دې چې لاندې ورڅخه نهرونه بهيږي هميشه به وې په هغه کې

وَاَزۡوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ وَّرِضۡوَانٌ مِّنَ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ بَصِيۡرٌۢ بِالۡعِبَادِ ۚ﴿۱۵﴾

اوښځې دي پاکې او رضامندي دالله ده او دالله په نظر کې دي بندګان.

اَلَّذِيۡنَ يَقُوۡلُوۡنَ رَبَّنَاۤ اِنَّنَاۤ اٰمَنَّا فَاغۡفِرۡ لَنَا ذُنُوۡبَنَا وَقِنَا عَذَابَ

هغه (خلق) چې وايي اى زمونږ ربه! مونږ ايمان راوړى دى پس وبخښى زمونږ ګناهونه اووساتى مونږ دعذاب

النَّارِ ۚ﴿۱۶﴾ اَلصّٰبِرِيۡنَ وَالصّٰدِقِيۡنَ وَالۡقٰنِتِيۡنَ وَالۡمُنۡفِقِيۡنَ

د دوږخ څخه ، او صبر کوونکي دي او رېښتيني او حکم منونکي او خرڅ کوونکي

وَالۡمُسۡتَغۡفِرِيۡنَ بِالۡاَسۡحَارِ ﴿۱۷﴾

اوبخښنه غوښتونکي دشپې په وروستي برخه کې.

لنډتفسير

دآيتونو ترون : په مخکنيو آيتونوکې دکفارو اومشرکانو دمخالفت او د دوى په مقابله کې دجهاد ذکر وو ، او په دى آيتونوکې دايمان اواسلام مخالفت او دټولو بدو عملونو اصلي منشاء بيان سوي ده چې هغه ددنيا محبت دى څوک دمرتبې او مال په حرص کې دحق مخالفت اختيار وى اوڅوک دنفس دخواهشونو په وجه سره اوڅوک دخپل پلار اونيکه درسمونو دمحبت په سبب دحق مقابلې ته درېږى او ددى ټولوشيانو خلاصه ددنيا محبت دى ، ددى آيتونو لنډ اودتفسير خلاصه دا ده .

ښايسته معلومېږى (اکثرو) خلګو ته محبت دخوندناکو شيانو (مثلاً) ښځې سوى اولاد سو لګيدلي کوټې سوى دسرو اوسپينو زرو نښانه لګيدلي آسونه سوه (ياڼور) حيوانان سوه اوفصلونه سوه (ليکن) دا ټول داستعمال شيان دى ددنيا دژوند او دآخر انجام دکار دکتې (شي) خو دالله ﷻ سره دى (چې وروسته ترمرګ به په کار درځي چې تفصيل يې په راتلونکي آيت کې را روان دى) تاسي (دى خلقوته دا) وفرماياست چې آيازه تاسي ته دا شي وښيم چې (په څوچنده) ښه وى ، تردى (ذکر سوو) شيانو (نو واورى) دداسي خلګو دپاره چې (دالله ﷻ څخه) وېرېږى د دوى د (حقيقي) مالك سره داسي باغونه دى (يعني جنت) چې لاندې به ترى نهرونه بهيږى په دى (جنتونو) کې به هميشه هميشه اوسيږى (او د دوى دپاره) داسي بيبياني دى چې (په هرشان) صافي ستره سوى دى او (د دوى دپاره ، خوشخبرى ده دالله ﷻ دطرف څخه او الله ﷻ ښه ويني (ګورى) دبندګانو (حال نو په دى وجه به بېريدونکو ته دا نعمتونه ورکې ، مخ ته ددى بېريدونکو څينو صفتونه په تفصيل سره بيانيږى دا) داسي خلګ دى چې وايي اى زمونږ پروردګاره! مونږ ايمان راوړى ، نو ته زمونږ ګناهونه معاف کړى اومونږ د دوږخ دعذاب څخه

وساتی (او دغه خلګ) صبرکوونکی دی اوربښتیاویونکی دی او(دالله ﷻ په مخکی عاجزی کوونکی دی او (په نیکو کارونو کی مال) خرڅوونکی دی او دشپی په آخر کی (پورته کیږی) دګناهونو معافی غوښتونکی دی .

معلومات اومسئلي

(ددنيا محبت فطری دی خو په دی کي ورکيدل هلاکت دی)

په حدیث شریف کی ارشاد دی ، حُبُّ الدُّنْيَا رَأْسُ كُلِّ خَطِيْئَةٍ : یعنی ددنیا محبت دهری بدی سر دی ، په اول آیت کی ددنیا دخو خوندناکو شیانو نومونه اخیستل سوی او دا ښوول سوي ده چی دخلګوپه نظرونوکی د دوی محبت ښایسته جوړ سوی دی ، په دی وجه ډیر خلګ یی په دی ظاهری رونق باندی وغولیږی او آخرت هیر کی ، دکومو شیانو نومونه چی په دی ځای کی اخیستل سوی دی داشیان په عام طور سره دانسان دخواهش اومینی مرکزونه دی چی ترټولو اول په کښی ښځه اوبیا اولاد بیان سوي دی ، ځکه انسان چی په دنیاکی دځومره شیانو دحاصلولو په فکر کی پروت وی ددی ټولو اصلی سبب دښځی یاد اولاد محبت وی او د دوی ضرورت وی ، تردی وروسته دسرو اوسپینو زرو حیوانانو اوفصلونو ذکر دی چی دا په دوهم نمبر کی دانسان دخواهش اومینی مرکز وی .

لنډ مطلب دآیت دا دی چی الله ﷻ ددی شیانو محبت په طبعی طورسره دانسانانوپه زړونوکی غورځولی دی چی په دی کی په زرګونو حکمتونه دی په دوی کی یو دا دی چی که انسان په طبعی طور سره دی شیانو ته مائله او د دوی سره مینه کوونکی نه وای نو د دنیا ټول نظام به درهم برهم سوی وای دچابه څه غرض وای چی زمینداری به یی کوله یامحنت اومزدوری به یی کوله یابه یی په تجارت کی خپلی روپی پیسی اومحنت خرڅوی ، ددنیا آبادی اوبقاء په دی کی ده چی دخلګوپه طبیعتونوکی ددی شیانو محبت پیدا سی چی په دی وجه دوی په خپله ددی شیانو په تیارولوکی اودباقی پاته کولو په فکر کی وی ، سهار راکښیني مزدور په دی فکر کی دکوره وزی چی څه پیسی وګټی ، مالدار په دی فکر کی دکوره وزی چی پیسی خرڅ کی مزدور را ولی اوخپل کار وربandی وکی ، سوداګر ښه ښه سامانونه تیار وی دګراك په انتظارکی ناست وی چی پیسی وګټی ، ګراك سل کوششونه کوی پیسی خرڅوی بازارته ځی چی دخپل ضرورت سامان واخلی ، نو چی دی ټولو ته غور اوفکر وکی نو دا ټول ددنیا ددغه خوندناکو شیانو په محبت کی دخپلو خپلو کورونو څخه وزی ، ددنیا تمدّنی (دیوځای اوسیدو) نظام یی ډیر په مضبوطو او محکمو بنیادونو درولی دی .

دوهم حکمت په کښی دا هم دی چی که ددنیا دنعمتونو خواهش اومینه دانسان په زړه کی نه وای نو دآخرت دنعمتونو به ورته نه خوند معلوم وای او نه به یی ورته خواهش کیدی نو بیابه دده څه ضرورت ووچی نیك عمل وکی اوجنت وګټی اودبیکاره کارونوڅخه ځان وساتی چی د دوزخ څخه ځان وساتی .

دریم حکمت چې هغه زیات قابل نظر دی دا دی چې ددی شیانو مینه یې په طبعي طور دانسان په زړه کې څکه پیدا کړه چې دی وربانډی وازمایی یعنی امتحان ورڅخه واخلی چې څوك ددی شیانو په محبت کې اخته کیږی آخرت هیر وی اوڅوك دی چې ددی شیانو په اصل حقیقت او ددی په فانی کیدو اوتلونکو راتلونکو ځان پوه کې په قدر دضرورت ددی په فکر کې وی او دآخرت صحیح کولو په کارونو کې یې ولګوی ، قرآن شریف په یو بل مقام کې په خپله ددنیا ددی زیب او زینت هم دغه حکمت ښوولی دی ، ارشاد فرمایی ، إِنَّا جَعَلْنَا مَا عَلَى الْأَرْضِ زِينَةً لَّهَا لِنَبْلُوَهُمْ أَيُّهُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا : یعنی مونږ چې په مځکه باندی کوم دا دمځکی ښایست جوړ کړي دی دا ددی دپاره چې مونږ خلګ وازمایو چې څوك ښه عمل کوی .

ددی آیت څخه معلومه سوه چې ددنیا داخوندناك شیان دانسان دپاره ښائسته کول هم دالله ﷻ یو داسی فعل دی چې په ډیرو حکمتونو باندی بناډی یعنی ډیر حکمتونه دی په کښی، اوپه ځینو آیتونوکی چې ددا قسم ښائسته والی نسبت شیطان ته سوي دی لکه ، زَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَٰنُ أَعْمَٰلَهُمْ : په دی کی دداسی شیانو ښائسته کول مراد دی چې په شریعت اوعقل سره بیکاره وی ، یادښائست هغه درجه مراد ده چې ترحد دزیاتیدو په وجه بدوی ، کنه نومباح شیان ښائسته کول مطلق بیکاره نه دی ، بلکه په دی کی ډیری فائدی هم دی ، په دی وجه سره یې په ځینو آیتونوکی ښکاره په ښکاره ددی نسبت الله ﷻ ته کړي دی لکه چې اوس بیان کړل سوه .

خلاصه دخبری دا ده چې ددنیا خواږه اوخوندور شیان الله ﷻ په خپل فضل اوکرم اوحکمت سره دانسان په نظر کی ښائسته کړي دی او د دوی محبت یې دده په زړه کی اچولی دی چې په دی کی دډیرو حکمتونو څخه یوحکمت دا هم دی چې دانسان امتحان واخیستل سی چې په دی سرسری اوظاهری خوندناکو او ددی یوڅو ورځو په خوړوالی کی داخته کیدو څخه وروسته دی دخپل ځان او ددی شیانو رب اوخالق اومالك یادوی او دا شیان دهغه دپیژندو اومحبت ذریعه جوړوی اوکه د دوی په محبت کی مبتلی اصلی مالك اوخالق اوپه آخرت کی دهغه په مخکی پیش کیدل اوحساب کتاب هیر وی ، اولنی سړی هغه دی چا چې ددنیا څخه هم فآئده واخیسته اوپه آخرت کی هم کامیاب سو ددنیا دا خوندور شیان دده پښوته ډبری نه سوی بلکه دده دپاره سنګ میل جوړ سو دآخرت دکامیابی ذریعه یې وګرځیده او دوهم سړی هغه دی دچادپاره چې داشیان دآخرت دژوند دبربادی اودهمیشه عذاب سبب جوړسو اوکه په ژور نظرسره وکتل سی نو دا شیان په دنیاکی هم دده دپاره عذاب جوړیږی په قرآن کریم کی دداسی خلکو په باره کی ارشاد دی .

فَلَا تُعْجِبْكَ أَمْوَٰلُهُمْ وَلَآ أَوْلَٰدُهُمْ ۚ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُعَذِّبَهُم بِهَا فِى الْحَيَوٰةِ الدُّنْيَا .

یعنی تاسی ددی کافرانو په دی مالونو او اولاد سره مه حیرانیږی څکه چې دی نافرمانوته مال اواولاد

ورکول د دوی سره کټه نه ده بلکه دا مال اواولاد به په آخرت کی خو به د دوی دپاره عذاب وی خو په دنیا کی هم همیشه شپه او ورځ ددی په فکر اوشغلوکی په عذاب سره گرفتار دی.
غرض دا دی چی ددنیا کوم شیان چی الله ﷻ دانسان دپاره ښائسته اوخوندور جوړ کړي دی، دشریعت په مطابق په اعتدال سره د دوی طلب کول او دضرورت په مطابق یی جمع کول ددنیا اوآخرت کامیابی ده او په ناجائزو طریقو سره د دوی استعمال یاپه جائزو طریقوکی دومره مبالغه کول اومصروف کیدل چی ددی په سبب دآخرت څخه غافله سی، دهلاکت سبب دی، مولانارومی رحمه الله ددی څه ښکلی مثال فرمایلی دی.

آب اندر زیر کشتی پشتی است آب در کشتی هلاك کشتی است

یعنی ددنیاسازوسامان داوبو په مثال دی او په دی کی دانسان زړه دیوی کښتی په شان دی، اوبه چی کله ترکښتی لاندی اوشاوخواپه چاپیره وی نودکښتی دپاه فائده منی دی اومددگاری یی دی او د کښتی دوجوددقائم ساتلودپاره دی اودغه اوبه که په کښتی کی دننه دا خلی سی، نودابیادکښتی د غرقیدواوهلاکیدو سبب جوړ سی، دغه شان ددنیا مال ومتاع چی دانسان په زړه باندی غلبه ونه کړی نو دده دپاره په دین او دنیا مددگار وی اوڅه وخت چی دده په زړه باندی خپاره سی نو دزړه هلاکت دی، په دی وجه یی په ذکر سوی آیت کی ددنیا یوڅو خوندور شیانو ذکر کړه، بیا ارشاد فرمایی.

ذٰلِكَ مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَاللهُ عِنْدَهُ حُسْنُ الْمَآبِ. یعنی دا ټول شیان ددنیاپه ژوندکی یوازی دکار چلولو دپاره دی دزړه لګولو دپاره نه دی او دالله ﷻ سره دی ښه د اوسیدنی ځای، یعنی هغه د اوسیدنی ځای چی هلته همیشه اوسیدل دی اوچی دهغه نعمتونه اوخوندونه نه فنا کیدونکی دی اونه کم یاکمزوری کیدونکی دی.
په دوهم آیت کی یی ددی مضمون دزیات وضاحت دپاره وفرمایل.

قُلْ أَؤُنَبِّئُكُمْ بِخَيْرٍ مِنْ ذٰلِكُمْ لِلَّذِينَ اتَّقَوْا عِنْدَ رَبِّهِمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَأَزْوَاجٌ مُطَهَّرَةٌ وَرِضْوَانٌ مِنَ اللهِ وَاللهُ بَصِيرٌ بِالْعِبَادِ: په دی کی نبی کریم ﷺ ته خطاب کوی فرمایی چی ته دی خلکو ته چی ددنیا په ناقصو اوفانی نعمتونوکی مست سوی دی وفرمایه چی زه تاسی ته تردی دډیرو ښو نعمتونو پته درکوم چی دالله ﷻ سره دی او دهغه څخه بیریدونکو اوفرمان بردارو ته رسیږی هغه نعمتونه ښنه باغونه دی چی لاندی به ورڅخه نهرونه بهیږی او دهر قسم گندگی څخه پاکی صافی ښځی به وی او دالله ﷻ رضامندی او خوشحالی ده، په تیر آیت کی یی ددنیا دشپږو لویو نعمتونو شمیر کړی وو چی خلګ د دوی په محبت کی مست دی یعنی ښځی اولاد دسرو سپینو کوټی اوښه آسونه حیوانان اوفصلونه، ددی په مقابله کی یی دآخرت په نعمتونوکی په ظاهره د درو شیانو بیان وکی، اول دجنت دښنو باغونو دوهم دپاکو صافو ښځو دریم دخدای ﷻ درضا مندی، په باقی

شیانوکی یی د اولاد ذکر ځکه ونه کی چی په دنیاکی خوانسان د اولاد محبت په دی وجه کوی چی داولاد څخه ده ته په خپلو کارونوکی کومك ورسیږی اوتردی وروسته په دوی سره دده نوم ژوندی پاته کیږی ، په آخرت کی به نه ده ته دچادکومك ضرورت وی اونه به دی فنا کیږی چی ترځان وروسته ولی یاوارث تلاش کوی ، ددی څخه علاوه په دنیا کی چی دچا اولاد دی هغه به ټول ده ته په جنت کی ورکول کیږی او دچاچی اولاد په دنیاکی نه وی ده ته خوبه اول په آخرت کی د اولاد خواهش نه ری ، اوکه دچاوی نوالله ﷻ به ورته هغه هم ورکی ، دجامع ترمذی په یوحدیث کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایی دی چی که جنتی ته داولاد خواهش وی نو دکوچنی حمل اوبیایی پیدا کیدل بیادده لوییدل دا ټول به په لږ ساعت کی وسی او دده مقصد به پوره سی ، په دی وجه یی په جنت کی دسرو اوسپینو زرو ذکر ځکه ونه کی چی په دنیاکی خلګ سره اوسپین زر ځکه غواړی چی ددنیاسامان وربانذی واخلی ، او دخپل ضرورت شیان وربانذی حاصل کی ، په آخرت کی به نه چاته داخیستو او خرڅولو ضرورت وی اونه دڅه شی دبدلی ورکولو بلکه جنتی چی څه غواړی هغه به ورته فوراً تیاریږی ددی څخه علاوه په جنت کی په خپله هم دسرو اوسپینو زرو کمی به نه وی ، ځکه چی په روایاتو سره ثابته ده چی دجنت ځینی محلونه به داسی وی چی دهغه به یوه خښته دسرو زرو وی اوبله به دسپینو وی ، په هرحال دآخرت په لحاظ سره به سره او سپین څه قابل ذکرشی نه وی .

دغه ډول دآسونو کار خو په دنیاکی دا دی چی په سفرکی وربانذی سپرلی وکی اومزل وربانذی وکی ، او هلته به نه دسفر ضرورت وی اونه دسپرلی البته په صحیح احادیثوسره ثابت دی ، چی جنتیانوته به دجمعی په ورځ ښکلی آسونه دسپرلی دپاره پیش سی اوپه دی به سپریږی جنتیان به دخپلو دوستانو اوخپلوانو دملاقات دپاره ځی .

لنډه دا ده چی هلته به آسونه څه خاص اهمیت نه لری چی ذکر یی وسی ، دغه شان حیوانان چی زمینداری وربانذی کول کیږی یاشیدی ورڅخه حاصلیږی دا ټول شیان به الله ﷻ په جنت کی بغیر ددی حیوانانو او نورو څخه په خپله ورکوی .

دغه حال دفصل دی چی په دنیاکی خو دزمینداری تکلیف خلګ ځکه پورته کوی چی مختلف قسم غلی پیدا کی او په جنت کی به دا ټول شیان خودبه خود تیاروی هلته به چاته دزمینداری څه ضرورت نه وی او که دچا خامخا دزمینداری کولو سره محبت وی اوزمینداری کوی نو دهغه دپاره به دا هم وسی لکه چی په ځینو روایاتو دحدیث په طبرانی کی دی ، چی دجنتیانو څخه به یو سړی دزمینداری کولوخواهش وکی نوټول دزمینداری سامان به ورته راجمع سی ، بیابه دفصل کرل ، لګول پخیدل اوریبل دا ټول به په څو منټو کی وسی اوتیار فصل به یی مخ ته راسی په دی وجه دجنت په نعمتونوکی یی یوازی دجنت دحورو ذکر کول کافی وګڼل ، ځکه چی دجنتیانو دپاره په قرآن شریف

کی دا وعده هم ده چی ، وَلَهُمْ مَا يَشْتَهُونَ : یعنی دوی ته به هرهغه شی رسیږی دکوم چی دوی خواهش کوی ددی جامع اعلان څخه وروسته دڅه خاص نعمت دذکر کولو ضرورت نه دی پاته لیکن ددی څخه دڅه خاصو نعمتونو ذکر یی وکی چی هرجنتی ته به بیله غوښتلو رسیږی ، یعنی دجنت شنه باغونه اوښائسته اوښکلی ښځی اوتردی جامع نعمتونو وروسته یی ددی ټولو څخه دلوی نعمت ذکر وکی چی په عام طور سره یی انسان تصور هم نه سی کولی ، اوهغه دالله ﷻ همیشه رضامندی اوخوشحالی ده ، چی تردی وروسته به بیادالله ﷻ دناراضه کیدوبیره نه وی ، لکه چی په حدیث شریف کی دی چی کله ټول جنتیان جنت ته ورسیږی خوشحاله سی اوتسلی یی وسی اوبل هیڅ څه خواهش یی داسی پاته نه سی چی پوره سوی نه وی نودغه وخت به الله ﷻ په خپله جنتیانو ته خطاب وفرمایی چی اوس تاسی راضی اوپه تسلی سواست دبل څه شی ضرورت خو درته نسته ؟ دوی به عرض وکی چی ای زمونږ پروردګاره ! تاخو مونږ ته دومره نعمتونه راکړي دی چی تردی وروسته مونږ ته دهیڅ شی ضرورت نسته ، الله ﷻ به ورته وفرمایی چی اوس زه تاسی ته تردی ټولو نعمتونو لوړ یو بل نعمت درکوم ، هغه دا چی تاسی ټولوته زمارضا اوهمیشه نژدیکت حاصل دی اوس دناراضه کیدو هیڅ خطره نسته ؟ نو په دی وجه به دجنت دنعمتونو دلیری کیدو یاکمیدو هم خطره نه وی .

ددی دوو آیتونو خلاصه دا ده کوم چی نبی کریم ﷺ فرمایی .

اَلدُّنْيَا مَلْعُوْنَةٌ وَمَلْعُوْنٌ مَا فِيْهَا اِلاَّ مَا ابْتُغِيَ بِهِ وَجْهُ اللهِ وَفِيْ رِوَايَةٍ اِلاَّ ذِكْرُ اللهِ وَمَا وَالاَهُ اَوْ عَالِمًا اَوْ مُتَعَلِّمًا.

دنیا ملعونه ده اوڅه چی په دی کی دی هغه هم ملعون دی بغیر دهغه شیانو څخه کوم چی دالله ﷻ درضا لټولو ذریعه جوړه سی او په یو روایت کی دا دی چی بغیر دالله ﷻ د ذکر څخه او دهغه شی څخه چی دالله ﷻ خوښ وی اوبغیر دعالم اوطالب علم څخه .

دا روایت ابن ماجه اوطبرانی په روایت دحضرت ابوهریرة ؓ سره نقل کړي دی .

شَهِدَ اللهُ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۙ وَالْمَلٰٓئِكَةُ وَاُولُوا الْعِلْمِ قَآئِمًا ۢ بِالْقِسْطِ ؕ

شاهدی کوی الله تعالی چی هیڅ څوك دعبادت لائق نسته ماسوا دهغه څخه اوملائکی اوعلم والاهم (شاهدی کوی)

لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝۱۸ اِنَّ الدِّيْنَ عِنْدَ اللهِ الْاِسْلَامُ ۟ وَمَا اخْتَلَفَ الَّذِيْنَ

وَمَنْ يَّكْفُرْ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ فَاِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ﴿۱۹﴾

او څوك چې انكار وكړي دالله دحكمونو څخه نوبيشكه الله تعالى ژر حساب اخيستونكى دى.

لنډتفسير

دآيتونو تړون: په مخكې آيت كې دتوحيد «دالله ﷻ ديووالى» بيان سوى دى ، په دى ذكر سوو آيتونوكې په اول آيت كه څه هم دالله ﷻ ديووالي بيان په يوخاص اندازكې سوى دى چې په دې باندې د درو شهادتونو ذكر دى يو په خپله دالله ﷻ شهادت دى دوهم دهغه دملائكو دى دريم د اهل علمو دى دالله ﷻ شهادت خو په طور دمجاز دى ، مراد دا دى چې دالله ﷻ ذات او صفات او دده ټولې نښې نښانې او كاريگرى دالله ﷻ ديو والى ښكاره نښانې دى.

هر گياهى كه از زمين رويد وحده لا شريك له گويد

يعنى هره يوه گياه چې دمځكې څخه راپيدا كيږي دالله ﷻ يووالى بيانوى.

ددى څخه علاوه دهغه دطرفه راليږل سوى پيغمبران اوكتابونه هم ددى توحيد شاهدان دى او دا ټول شيان دالله ﷻ دطرف څخه دى ، نوگويا په خپله ددى شهادت په دى خبره دى چې دهغه څخه ماسوا بل څوك دعبادت لايق نسته.

دوهم شهادت دملائكو ذكر سوى دى چې دالله ﷻ مقرب او دهغه دتكوينى «دپيدا كولو اوپه وجودكې دراوړلو» كارونو كارنده دى ، دوى ټول په پرهه اوليدلو سره شهادت وركوى چې لايق دعبادت دالله ﷻ څخه ماسوا بل څوك نسته.

دريم شهادت دخاوندانو دعلم دى چې دعلم دخاوندانو څخه مراد انبياء عليهم السلام اوعام عالمان داسلام دى ، په دى وجه امام غزالى رحمه الله اوابن كثير رحمه الله فرمايى چې په دى كې دعالمانو لوى فضيلت دى چې الله ﷻ د دوى شهادت دخپل اؤ دملائكو دشهادت سره ذكر كى او دا هم كيدى سى چې داهل علمو څخه مطلق هغه خلك مراد وى چې په علمى اصولو باندى صحيح نظر وكى ياد دنيا په كائناتو كې غور او فكر وكى دالله ﷻ ديووالى علم حاصل كى ، كه څه هم دى دضابطى عالم نه وى ، او په دوهم آيت كې يې دالله ﷻ په نزد يوازى ددين اسلام مقبول كيدل او ددى څخه ماسوا دبل دين او مذهب نه قبليدل بيان كړه دتوحيد مضمون يې ورباندى مكمل كې ، او ددى څخه داختلاف كوونكو تباهى يې بيان كړه ددى دواړو آيتونو دتفسير خلاصه دا

شاهدي ورکړي ده لکه چي ښکاره ده، او دعبادت لایق هم په دي شان سره دي چي (دهرشي) په اعتدال سره انتظام کوونکی دی (اوبیا ویل کیږی چي) دهغه څخه ماسوا بل څوك دعبادت لایق نسته هغه زبردست دی ، حکمت والا دی بیشکه دین (حق اومقبول) په نزد دالله ﷻ یوازی اسلام دی او (ددی په حق والی کی دمسلمانانو سره) اهل کتابو چي کوم اختلاف کړي دی (داسی چي اسلام ته یی باطل ویلی دی) نو تر داسی حالت وروسته چي دوی ته (داسلام دحق والی) دلیل رسیدلی وو محض تر یو بل دځان لوی ګڼلو په وجه سره (یعنی داسلام په حق والی کی څه شك شبه نه ده سوی بلکه په دوی کی ترنورو دځان لوی ګڼلو ماده ده ، او په اسلام را وړلو کی دا سرداری چي دوی ته په عواموکی حاصله ده فوت کیده په دی وجه یی اسلام قبول نه کی بلکه برعکس یی ده ته باطل وویل) اوکوم سړی چي دالله ﷻ دحکمونو څخه انکار وکی (لکه چي دوی وکی) نو بیشکه الله ﷻ ډیر ژر د دوی حساب اخیستونکی دی (اوښکاره خبره ده چي دداسی سړي دحساب انجام به عذاب وی)

معلومات اومسئلي

(دآیت شَهِدَ اللهُ الخ فضیلتونه)

دا دشهادت آیت یوخاص شان لری دتفسیر امام بغوی رحمه الله نقل کړی دی چي دیهودو دوه لوی عالمان دشام څخه مدینی طیبی ته راغله دمدینی کلی چي یی ولیدی نو دیو بل سره یی یی په خبروکی وویل چي داکلی خو داسی دی لکه چي په تورات یی پیش ګویی راغلی ده چي په دی کی به دآخری زمانی نبی اوسیږی ، تردی وروسته دوی ته چاوویل چي دلته یوبزرګ دی چي خلق ورته نبی وایی ، دوی دنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضر سوه ، په ده ﷺ یی په نظر لګیدو سره هغه ټول صفتونه مخ ته راغله کوم چي په تورات کی دده ﷺ په باره کی ښوول سوی وه ، چي حاضر سوه نو عرض یی وکی چي تاسی محمد ﷺ یاست ، نو حضور ﷺ وفرمایل هو زه احمد ﷺ او محمد ﷺ یم ، بیایی عرض وکی چي مونږ ستاسی څخه یوه پوښتنه کوو که تاکه هغه صحیح جواب راکی نو مونږ به ایمان راوړو ، حضور ﷺ ورته وفرمایل چي پوښتنه وکی دوی پوښتنه وکړه چي دالله ﷻ په کتاب کی ترټولو لوی شهادت کوم یو دی ؟ ددی سوال دجواب دپاره دشهادت داآیت نازل سو نوحضور ﷺ ورته واوروی او دوی دواړه هم په دغه وخت کی مسلمانان سوه .

دمسنداحمد په یو روایت کی دی چي په عرفات کی نبی کریم ﷺ داآیت ووایه نوبیایی وفرمایل .

وَاَنَا عَلٰی ذٰلِكَ مِنَ الشّٰهِدِيْنَ يَارَبِّ (ابن کثیر) یعنی ای پروردګاره! زه هم په دی باندی شاهدیم .

او د امام اعمش رحمه الله دیو روایت څخه معلومه سوه چي کوم سړی دا آیت تلاوت کی او بیا دا ووایی ، وَاَنَا عَلٰی ذٰلِكَ مِنَ الشّٰهِدِيْنَ يَارَبِّ : نوالله ﷻ به دقیامت په ورځ ملائکوته ووایی چي (زمادی بنده یوه وعده کړي ده او زه وعده پوره کوونکی یم تر ټولو ، عده پوره کوونکو زیات نو په دی وجه زما

دابنده جنت ته داخل کی. (ابن کثیر)

او دحضرت ابوایوب انصاری ﷺ په حدیث کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی څوك ترهرفرض لمانځه وروسته آیت کرسی اوآیت شَهِدَ اللهُ او قُلِ اللّٰهُمَّ مٰلِكَ تر بِغَيْرِ حِسَابٍ پوری وایی نوالله ﷻ به دده ټول ګناهونه معاف کی اوپه جنت کی به ځای ورکړی او دده اویا ۷۰ حاجتونه به پوره کی چی په هغوکی به ترټولوکم حاجت دده مغفرت (بخښنه) وی (روح المعانی بحواله دیلمی)

(ددین او داسلام دالفاظو تشریح)

په عربی ژبه کی ددین دلفظ څو معناوی دی چی یوه معنٰی یی طریقه اوروش ده ، دقرآن په اصطلاح کی لفظ ددین دهغه اصولو اواحکامو دپاره استعمالیږی کوم چی دحضرت آدم ﷺ څخه دخاتم الانبیاء ﷺ پوری په ټولو انبیاؤ کی شریك دی اولفظ د (شریعت) یا (منهاج) یاپه وروستنیو اصطلاحاتو کی لفظ د (مذهب) دفروعی احکامو دپاره استعمالیږی ، چی په مختلفو زمانو اوپه مختلفو امتونوکی مختلف راغلی دی دقرآن کریم ارشاد دی چی و شَرَعَ لَكُمْ مِنَ الدِّيْنِ مَا وَصّٰى بِهٖ نُوْحًا : یعنی الله ﷻ ستاسی دپاره هغه دین جاری کړي دی دکوم وصیت چی ترتاسی مخکی نوح ﷺ ته او نورو پیغمبرانوته سوی وو ، ددی څخه معلومه سوه چی دین دټولو انبیاؤ علیهم السلام یو وو ، یعنی دالله ﷻ ذات چی دټولو کمالاتو جمع کوونکی دی دټولو نقصانونو څخه پاك دی دده څخه ماسوا بل څوك لایق دعبادت نسته ، په دی باندی په زړه سره ایمان راوړل اوپه ژبه سره یی اقرار کول په ورځ دقیامت او په دی کی په حساب کتاب او جزا اوسزا اوجنت او د ورځ باندی په زړه سره ایمان راوړل اوپه ژبه سره یی اقرارکول دده په رالیږل سوی هر نبی او رسول او د دوی په راوړل سوو احکامو باندی هم دغسی ایمان راوړل .

او دلفظ د (اسلام) اصلی معنٰی ده خپل ځان الله ﷻ ته سپارل او دهغه دحکم تابع کیدل ، ددی معنٰی په اعتبار سره دهرنبی او رسول په زمانه کی چی کومو خلکو په دوی باندی ایمان راوړی او د دوی په راوړو احکامو کی یی د دوی فرمانبرداری وکړه هغه ټول مسلمانان دی او ورته دمسلمان ویلو مستحق دی او د دوی دین دین اسلام وو ، ددی معنٰی په لحاظ سره حضرت نوح ﷺ وفرمایل ، وَاُمِرْتُ اَنْ اَكُوْنَ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ (سورة یونس ۷۲) اوپه دی وجه حضرت ابراهیم ﷺ خپل ځان ته اوخپل امت ته امت مسلمه وفرمایل ، رَبَّنَا وَاجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِنَا اُمَّةً مُّسْلِمَةً لَّكَ : او دحضرت عیسٰی ﷺ حواریانو ددی معنٰی په اعتبار سره ویلی وه ، وَاشْهَدْ بِاَنَّا مُسْلِمُوْنَ (آل عمران ۵۲)

اوپه ځینو وختونوکی دالفظ په خصوصیت سره ددی دین او شریعت دپاره استعمالیږی کوم چی ترټولو په آخرکی خاتم الانبیاء ﷺ راوړی اوچاچی مخکنی ټول شریعتونه منسوخ کړل اوکوم چی ترقیامته پوری به باقی وی ددی معنٰی په اعتبار سره دالفظ یوازی ددین محمدی او امت محمدیه سره

خاص کیږي دحضرت جبرئیل ﷺ یوحدیث چې دحدیثوپه ټولو کتابونوکې مشهور دی په دې کې رسول الله ﷺ داسلام هم دغه خاص تفسیر بیان کړي دی په ذکر سوی آیت کې په لفظ د (اسلام) کې هم د دواړو معناوُ احتمال دی چې اوله معنٰی واخلی نو مطلب به یی داسې چې ، دالله ﷻ په نزد مقبول دین یوازې دین اسلام دی یعنی خپل ځان دالله ﷻ دحکم تابع اوفرمانبردار جوړول اوپه هره زمانه کې چې کوم رسول راغلی دی اوهغه چې څه احکام راوړی دی په هغه ایمان راوړل اودهغه منل . په دې کې ددین محمدی که څه هم تخصیص نسته لیکن ترغامې قاعدې لاندې دحضرت سید الانبیاء ﷺ ترتشریف راوړلو وروسته په ده ﷺ او دده ﷺ په راوړل سوو ټولو احکامو ایمان اوعمل هم په دې کې دا خلیږي چې حاصل به یې داسې چې دحضرت نوح ﷺ په زمانه کې دین مقبول هغه ووکوم چې حضرت نوح ﷺ راوړی وو او دحضرت ابراهیم ﷺ په زمانه کې هغه چې حضرت ابراهیم ﷺ راوړی وو، دغه ډول دحضرت موسٰی ﷺ دزمانې اسلام هغه ووچې دتختو دتورات او دموسوی تعلیماتوپه صورت کې راغلی وو اودحضرت عیسٰی ﷺ دزمانې اسلام هغه وو چې دانجیل اوعیسوی تعلیماتوپه رنګ کې نازل سوی وو اوپه آخر کې به دخاتم الانبیاء ﷺ دزمانې اسلام هغه وی چې دقرآن اوسنتوپه جوړه سوی نقشه باندې جوړسوی وی

خلاصه دا سوه چې دهرنبی په زمانه کې دهغه راوړی دین دین اسلام اوپه نزد دالله ﷻ مقبول ووچې وروسته یوپه بل پسې منسوخ کیده راروان وه په آخرکې دخاتم الانبیاء ﷺ دین ته دین اسلام وویل سوه ، چې دقیامت پورې به باقي وی ، اوکه داسلام بله معنٰی واخیستل سي یعنی هغه شریعت چې حضرت خاتم الانبیاء ﷺ راوړی دی نود آیت مطلب به داسې سي چې په دې زمانه کې یوازې هغه اسلام مقبول دی چې دنبی کریم ﷺ دتعلیماتو مطابق وی تیرو دینونو ته هم که څه هم په هغه وختونوکې اسلام ویل کیدی لیکن اوس هغه منسوخ سوی دی اوپه دواړو صورتونوکې نتیجه دخبرې یوه ده ، چې دهرپیغمبرپه زمانه کې دالله ﷻ په نزد مقبول دین هغه اسلام دی کوم چې ددغه پیغمبر دوحی اوتعلیماتو مطابق وی ددې څخه ماسوا بل یو دین مقبول نه دی ، که هغه مخکښې منسوخ سوی شریعت ولی نه وی ، دراتلونکې زمانې دپاره هغه ته اسلام ویل لایق نه دی ، دحضرت ابراهیم ﷺ شریعت دهغه په زمانه کې اسلام ؤ دحضرت موسٰی ﷺ په زمانه کې چې ددغه شریعت کوم احکام منسوخ سول هغه اوس اسلام پاته نه سو، دغه شان دحضرت عیسٰی ﷺ په زمانه کې چې دحضرت موسٰی ﷺ دشریعت کوم حکم منسوخ سوی دی هغه اوس اسلام پاته نه سو بالکل دغه شان دخاتم الانبیاء ﷺ په زمانه کې چې دتیرو شریعتونو کوم احکام منسوخ سوی دی هغه اوس اسلام نه دی پاته سوی ، په دې وجه چې کوم امت دقرآن مخاطب دی د دوی دپاره که داسلام معنٰی عامه واخلی اوکه خاصه د دواړو حاصل (مطلب) دا دی چې دنبی کریم ﷺ ترراتلو وروسته یوازې ددین اسلام ویلو لایق

هغه دی چی دقرآن اودنبی کریم ﷺ دتعلیماتو مطابق وی ، او دغه دالله ﷻ په نزد مقبول دی ، ددی څخه ماسوا بل هیڅ دین نه مقبول دی اونه دنجات (خلاصون) ذریعه ده ، دا مضمون دقرآن مجید په بی شمیره آیتونو کی په مختلفو عنوانو سره راغلی دی ، دیوه آیت الفاظ دارنگه دی .

وَمَنْ يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِيْنًا فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْهُ .

یعنی کوم سړی چی داسلام څخه ماسوا بل دین اختیار کی نو هغه به دده څخه قبول نه سی اوکوم عمل چی دهغه مطابق وسی هغه ضائع کړل سی .

(په دې زمانه کې نجات په اسلام پوری تړلی دی دغیر مسلمان نیک عمل اونیک اخلاق هم قبول نه دی)

دی آیتونو په پوره وضاحت سره ددی کافرانه نظریی خاتمه وکړه په کومه کی چی داسلام درواداری په نوم سره دکفر اواسلام دیوکولو کوشش سوی دی او دا یی مقرر کړي ده چی ددنیا هرمذهب برابره خبره ده که یهودیت اونصرانیت وی اوکه بت پرستی وی هر یو دنجات ذریعه جوړیدی سی ، په دی شرط چی دنیکو عملونو اوښو اخلاقو پابندی وی او دا په حقیقت کی داسلام بنیادونه نړول دی چی مطلب یی دا جوړیږی چی داسلام څه حقیقت نسته محض یو خیالی شی دی چی دکفر په هره جامه کی هم سمیدی سی ، دقرآن شریف دی آیتونو او دغسی بی شمیره نورو آیتونو په ښکاره ډول سره وښوله چی څنگه رڼا اوتیاره یو شی نه سی کیدی ، دغه شان دا خبره هم ډیره مناسبه اوناممکنه ده چی الله ﷻ ته خپله نافرمانی اوبغاوت هم داسی ښه اوخوښ دی لکه څنگه چی حکم منل اوفرمانبرداری ده ، کوم سړی چی داسلام په اصولوکی دیوشی څخه منکر دی هغه بیشکه دخدای ﷻ باغی او دهغه درسولانو دښمن دی برابره خبره ده که په فروعی اورسمی اخلاقوکی هغه څومره ښه په نظر راځی ، دآخرت دنجات ټولومدار ترټولو اول دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ په فرمانبرداری باندی دی څوك چی ددی څخه محروم پاته سو دهغه هیڅ عمل معتبر نه دی ، په قرآن مجیدکی دداسی خلکو دعمل متعلق ارشاد دی فرمایي .

فَلَا نُقِيْمُ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَزْنًا : یعنی دقیامت په ورځ به د دوی دیوه عمل دپاره هم وزن قائم نه سی .

په دی آیت کی او ددی څخه په مخکی آیت کی کله چی دخبری مخ د اهل کتابو طرف ته دی په دی وجه په آخر کی د دوی بی وقوفی اوغلط کاری څه په دی ډول سره بیان سوي ده فرمایي چی .

وَمَا اخْتَلَفَ الَّذِيْنَ أُوْتُوا الْكِتٰبَ إِلَّا مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًا بَيْنَهُمْ .

یعنی دی خلکوچی کومه دخاتم الانبیاء ﷺ په نبوت اوپه اسلام کی دعوه اچولی ده نوهغه په دی وجه نه ده چی دوی ته په دی معامله کی څه اشتباه یاشك پاته سوی دی ، بلکه دوی ته دخپل کتابونو تورات او انجیل څخه اودنورو ذریعو پوره په پوره داسلام اوپیغمبر اسلام ﷺ حق والی ثابت سوی دی لیکن دمسلمانانو سره دحسد په وجه او دخپلی مرتبی او مال سره دمحبت سبب په اختلاف کی اخته کړي دی

په آخر کی فرمایی : وَمَنْ يَّكْفُرْ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ فَاِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ :

یعنی کوم سړی چی دالله ﷻ دآیتونو څخه انکار کوی نو الله ﷻ ډیر ژر دده څخه حساب اخیستونکی دی اول خو به دمرگ څخه وروسته ددی عالم (دنیا) امتحان به قبرته په داخلیدو په دی عالم کی وی چی برزخ ورته وایی او بیا به پوره په پوره حساب په قیامت کی کیږی ، ددی حساب کتاب په وخت کی به د ټولو دعو حقیقت ښکاره سی باطل پرستو ته به خپل حقیقت ښکاره سی او بیا به ورته ددی سزا مخ ته راسی

فَاِنْ حَآجُّوْكَ فَقُلْ اَسْلَمْتُ وَجْهِيَ لِلّٰهِ وَمَنِ اتَّبَعَنِ ؕ وَقُلْ

بیا هم که تاسی سره جګړه کوی نو ووایه چی ما تابع کی خپل ځان دالله دحکم او هغو هم چی زما سره دی ، او

لِّلَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ وَالْاُمِّيّٖنَ ءَاَسْلَمْتُمْ ؕ فَاِنْ اَسْلَمُوْا فَقَدِ

ووایه کتاب والاوو ته او نا ویونکو ته چی ایا تاسی هم تابع سواست ؟ پس که دوی تابع سوه نو دوی

اهْتَدَوْا ۚ وَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلٰغُ ؕ وَاللّٰهُ بَصِيْرٌۢ بِالْعِبَادِ ﴿۲۰﴾

لاره سیده پیدا کړه او که مخ یی وګرځوی نو ستا په ذمه صرف رسول دی ، او دالله تعالی په نظر کی دی بندګان.

لنډتفسیر

دآیتونو تړون: دسورة په شروع کی دتوحید ثبوت او دتثلیث رد سوی وو، په دی آیتونو کی دمشرکانو او دمنکرینو اهل کتابو ددلیلونو جواب ورکول سوی دی (داسلام په حق والی باندی ددلیل ترقائمیدو وروسته) بیا هم که داخلق ستاسی سره (خامخا) دلیل بازی کوی نو تاسی (په جواب کی) وفرمایاست چی (تاسی منی او که نه منی) ما خپل مخ خاص دالله ﷻ طرف ته کی او څوك چی زما سره دی هغوی هم (خپل مخ خاص دالله ﷻ طرف ته کی ، داکنایه ده ددی څخه چی مونږ ټولو اسلام اختیار کړی دی چی په دی کی په الله ﷻ باندی دعقیدی لرلو په اعتبار سره دزړه مخ خاص دالله ﷻ طرف ته وی څکه چی په نورو مذهبونو کی څه نه څه شرك سوی وو) او (تردی جواب وروسته ددوی څخه دپوښتنی کولو په طور سره) ووایه اهل کتابو ته او (مشرکانو د) عربو ته چی آیا تاسی هم ایمان راوړی نو که دی خلکو اسلام راوړی نو دا خلک به هم په لاری (برابر) راسی او که دا خلک (ددی څخه هم دغه ډول) مخ اړوی نو (تاسی ددی غم هم مه کوی څکه چی) ستاسی په ذمه یوازی (دخدای ﷻ داحکامو) رسول دی او (مخ ته) الله ﷻ په خپله وینی (او ګوری خپلو) بندګانو ته (ستا څخه به د دوی په باره کی څه پوښتنه نه سی کیدی)

اِنَّ الَّذِيْنَ يَكْفُرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَيَقْتُلُوْنَ النَّبِيّٖنَ بِغَيْرِ حَقٍّ ۙ

کوم خلق چی انکار کوی دالله تعالی دحکمونو څخه او قتل کوی پیغمبران په ناحقه

وَيَقْتُلُونَ الَّذِينَ يَأْمُرُونَ بِالْقِسْطِ مِنَ النَّاسِ فَبَشِّرْهُم

او قتل کوی هغه چی حکم کوی دانصاف کولو دخلقو څخه پس خوشخبری

بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٢١﴾ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا

واوروه هغوته دعذاب دردناک ، دا هغه دی چی ضائع سو محنت د دوی په دنیا کی

وَالْآخِرَةِ وَمَا لَهُم مِّن نَّاصِرِينَ ﴿٢٢﴾

او په آخرت کی او هیڅوک نسته د دوی مدد گار

لنډتفسير

دآیتونو ترون: دسورة په شروع کی دخبری زیات مخ دنصاراؤ طرف ته وو ، بیاپه لوړآیت کی په ﴿الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ﴾ سره یهود اونصارا دواړه شامل وه ، اوس په دی آیتونوکی دیهودو دځینو خاصو حالاتو بیان دی ، په روح المعانی کی په روایت دابن ابی حاتم ددی آیت په تفسیرکی په خپله دنبی کریم ﷺ څخه روایت دی چی بنی اسرائیلو درو ځلوېښت ۴۳ نبیان په یووخت قتل کړه ، د دوی دنصیحت دپاره یوسل اویا ۱۷۰ بزرگان پورته سوه په دغه ورځ یی دهغوهم کارتمام کی ﴿بیان القرآن﴾

بیشکه کوم خلک چی کفرکوی دالله ﷻ دآیتونو سره ﴿لکه یهود چی انجیل اوقرآن نه منی﴾ اوقتلوی پیغمبران ﴿اودغه قتلول په خپله د دوی په خیال کی هم﴾ ناحق ﴿وی﴾ او ﴿دارنگه﴾ قتلوی داسی خلک څوک چی ﴿په افعالو اواخلاقوکی﴾ داعتدال تعلیم ورکوی نو داسی خلکو ته خبر واوره دیوی دردناکی سزا ﴿او﴾ دا هغه خلک دی ﴿چی دذکرسوو کارونو په سبب سره﴾ د دوی ټول عملونه ﴿نیک﴾ عبث سوه په دنیاکی ﴿هم﴾ اوپه آخرت کی ﴿هم﴾ او ﴿دسزا په وخت کی به﴾ د دوی هیڅوک حامی اومددگارنه وی .

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ أُوتُوا نَصِيبًا مِّنَ الْكِتَابِ يُدْعَوْنَ إِلَىٰ كِتَابِ اللَّهِ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ

ایا ونه لیده تا هغه خلق چی ورته ورکړل سوه څه یو حصه دکتاب دوی بلل کیږي دالله کتاب طرف ته ددی

يَتَوَلَّىٰ فَرِيقٌ مِّنْهُمْ وَهُم مُّعْرِضُونَ ﴿٢٣﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا لَن

دپاره چی دغه کتاب په دوی حکم وکی، بیامخ اړوی ځینی ددوی څخه اودوی ځان ناخبره کوی، داپه دی وجه چی

تَمَسَّنَا النَّارُ إِلَّا أَيَّامًا مَّعْدُودَاتٍ ۖ وَغَرَّهُمْ فِي دِينِهِم مَّا كَانُوا

وایی دوی مونږ ته به هرگز ونه رسیږي اور د دوږخ مگر څو ورځی دشمیر او دوکه سوی دی په خپل دین کی په

يَفْتَرُونَ ﴿٢٤﴾ فَكَيْفَ إِذَا جَمَعْنٰهُمْ لِيَوْمٍ لَّا رَيْبَ فِيهِ ۚ وَوُفِّيَتْ

خپلو جوړو سوو خبرو باندې نو څه حال به وي کله چې مونږ دوی جمع کړو ، يوه ورځ چې په راتلو کې يې هېڅ شك نسته

كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿٢٥﴾

او پوره به پېدا کې هر يو کس خپل کړي (عملونه) او د دوی حق به نه وهل کيږي

لنډتفسير: (اې محمد ﷺ) آيا تا داسې خلک ونه ليدل چاته چې کتاب (آسماني يعنې د تورات) يوه حصه (پوره) ورکول سوې ده (چې که دوی هدايت طلب کولی نو دغه ورته پوره وو) ، او دغه د الله ﷻ کتاب طرف ته په دې غرض سره دوی رابلل کيږي هم چې هغه د دوی په مينځ کې (د مذهبي اختلاف) فيصله وکې بيا (هم) په دوی کې څينې خلک مخ اړوي بې مخې کوي (او) دا (بې مخي) په دې سبب سره ده چې دغه خلک داسې وايي (او دا عقيده ده د دوی) چې مونږ ته به يوازې دشمير لږ ورځې د دوږخ اور ورسيږي (بيابه وبخښل سو) او دوی په دوکه کې غورځولي دي د دوی د جوړو کړو خبرو (داسې چې دې جوړې سوې عقيدې دوی ته دوکه ورکړه چې مونږ د پيغمبرانو اولاد يو ، او په دې خانداني بزرګي سره به مونږ خامخا خلاص سو ، د دې په نتيجه کې دوی د الله ﷻ د کتاب څخه بې پرواهي شروع کړه) نو (د دې حال اوکار او وينا دکفر په سبب) د دوی به څنګه (بد) حال وي کله چې مونږ دوی په هغه تاريخ کې جمع کو دکوم (په راتلو کې) چې ذره شك نسته او (په دې تاريخ کې به) پوره پوره بدله رسيږي (چې بې له جرمه يا زيات ترجرم سزا به نه وي)

قُلِ اللّٰهُمَّ مٰلِكَ الْمُلْكِ تُؤْتِي الْمُلْكَ مَنْ تَشَاءُ وَتَنْزِعُ الْمُلْكَ مِمَّنْ تَشَاءُ ۖ

ته ووايه اې الله ! مالك د حکومت يې ته حکومت ورکوې چاته چې وغواړې او اخلې حکومت د چا څخه چې

وَتُعِزُّ مَنْ تَشَاءُ وَتُذِلُّ مَنْ تَشَاءُ ۖ بِيَدِكَ الْخَيْرُ ۖ إِنَّكَ عَلٰى كُلِّ

وغواړې او عزت ورکوې چاته چې وغواړې او ذليل کوې چا لره چې وغواړې ستا په لاس کې تولې ګټې دي بېشکه

شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢٦﴾ تُولِجُ الَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَتُولِجُ النَّهَارَ فِي الَّيْلِ ۖ

ته په هر څه قادر يې ته داخلوې شپې په ورځ کې او داخلوې ورځ په شپه کې

وَتُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَتُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ ۖ وَتَرْزُقُ مَنْ

او راباسې ژوندی د مړي څخه او راباسې مړی د ژوندي څخه او ته رزق ورکوې

تَشَآءُ بِغَیۡرِ حِسَابٍ ﴿۲۷﴾

چا ته وغواړی بی حسابه (بی شماره)

لنډتفسير: په دی آیتونوکی امت محمدی ﷺ ته یوه دعا اومناجات په داسی اندازکی ښوول سوي دی چی ددی په ضمن کی دامت محمدی ﷺ په کفارو باندی دغلبه پیدا کیدو طرف ته په کښی هم اشاره ده ، لکه چی دشان نزول څخه یی ثابته ده چی نبی کریم ﷺ دروم اوفارس دفتح کیدو وعده وفرمایله نومنافقانو او یهودو خنداګانی وکړی نو په دی باندی دا آیت نازل سو لکه چی په روح المعانی کی دواحدی دابن عباس ﷺ اوانس ﷺ څخه روایت دی .

لنډتفسیر دآیتونو دا دی : (ای محمد ﷺ) تاسی (الله ﷻ ته) داسی وایاست چی ای الله! مالك دتمام ملك یی ته دملك (څومره حصه چی غواړی) چاته چی یی غواړی غالب کوی اوچاته چی وغواړی ذلیل کوی یی ستاپه اختیارکی دی ټول خیربیشکه ته په هرڅه باندی پوره قدرت لرونکی یي ، ته (په ځینو موسمونو کی) شپه (څه اجزایي) په ورځ کی دا خلوی (چی ورځ درباندی لوییږی) او (په ځینو موسمونوکی) ورځ (څه اجزایي) په شپه کی دا خلوی (چی شپه درباندی لوییږی) اوته دروح شی (یعنی ژوندی) دبی روحه (مړ) څخه راباسی (لکه دهګی څخه چیچی) اوبی روحه دجاندار څخه راباسی (لکه دمرغی څخه هګی) اوته چا ته چی وغواړی بی شماره رزق ورکوی .

معلومات اومسئلي

(ددی آیتونو شان نزول او دخندق واقعه)

په بدر او اُحُدکی دمکی دمشرکانو پرلپسی ماتی اودمسلمانانو خلاف په هرکوشش کی ناکامیابه کیدل او ددی سره دمسلمانانو پرلپسی ترقی او ورځ په ورځ داسلام خپریدل دی خبرو دمکی قریش او نور ټول غیر مسلمانان په یو پریشانی اوحیرانی کی اخته کړی وه چی په دی باندی دوی خپل هرڅه قربانولوته تیار وه چی ددی نتیجه دیوعام سازش په صورت کی داسی ښکاره سوه چی دعربو مشرکان اوټول یهود او نصارا مسلمانانو ته یوه ډله سوه ، اوټول یوځای سوه ، په مدینه یی په یو وار دحملی کولو او دیو فیصله کوونکی جنګ قصد وکی او د دوی دا بی پناه لښکر اسلام اومسلمانان ددنیا څخه دورکولوپه اراده په مدینه راوختی، دی ته په قرآن کی غزوه احزاب اوپه تاریخ کی غزوه خندق وایی څکه چی په دی کی نبی کریم ﷺ داصحابو ﷺ په مشوره سره ددښمن په لاره کی دمدینی منوی څخه بهر دیو خندق کیندلو اراده کړی وه چی خندق دی وکښل سی .

دبیهقی ابونعیم او ابن خزیمه په روایت کی دی چی دخندق کیندلو کار داسلام مجاهدینو صحابه کرامو ﷺ ته وسپارل سو نوڅلویښت څلویښت لاسه اوږد اوخاص ژور اوپلن ووچی دښمن درباندی راپوری نه وزی اوپوره کول یی هم ډیر ژر په کار وو ، په دی وجه ځان قربانوونکی صحابه کرام ﷺ په

ډیرغټ محنت سره په دی مشغول وه داسی چی دقضاء حاجت اوخوراك اوڅیښاك اونورو ضرورتونو دپوره کولو دپاره ورته ددی ځای څخه لیری کیدل مشکل وه ، پرلپسی په لوږه اخته وه کار یی کوی، اویقینًا چی کار هم داسی وو چی دنن صباپه نوو آلاتو باندی پوره پلټنی به هم په دومره لږ وخت کی نه وای پوره کړی مگر دلته ایمانی طاقت کار کوی څکه یی په آسانی سره پوره کی.

دانبیاؤ سردار ﷺ هم دیو سړی په حیثیت سره دکیندلو په دی کار کی شریك وو، ناڅاپه دخندق په یوه حصه کی یو ډیر غټ کانی (ډبره) ښکاره سو، دکومو حضراتو په حصه کی چی دخندق دا ټوټه وه هغویورباندی خپل ټول طاقتونه خرڅ کړل خو عاجزه سوه نوحضرت سلمان فارسی ﷺ یی په حضور ﷺ پسی ولیږی چی حضور ﷺ څه حکم کوی؟ حضور ﷺ په دغه وخت کی دځای کتلوته راغی ، او دوسپنی کدال (ماتړول) یی په خپلو مبارکو لاسونو کی واخیستی یو گذار یی ورکی د ډبری څخه یوه ټوټه ماته سوه او داور یوه شغله ورڅخه پورته سوه چی ترلیری پوری یی رڼا خپره سوه نبی کریم ﷺ وفرمایل چی ماته په دی رڼاکی دفارس دملك محلونه اوآبادی وښوول سوی ، بیایی دوهم گذار ورکی او ورڅخه شغله لوړه سوه ، وی فرمایل چی په دی رڼاکی ماته دروميانو سره سره محلونه اوآبادی وښوول سوی ، بیایی دریم گذار ورباندی وکی او رڼا ورڅخه پورته سوه نووی فرمایل چی په دی رڼاکی ماته دصنعاء یمن لوی لوی محلونه وښوول سواووی فرمایل چی زه تاسی ته خوشخبری درکوم چی ماته جبرائیل امین ﷺ دا خبر راکړي دی چی زما امت به په دی ټولو ملکونو باندی غالب راسی.

دمدینی منافقانو چی دا واوریده نو دخنداگانو او مسخرو موقع په لاس ورغله ، په مسلمانانو پوری یی مذاق شروع کی چی دی خلگو ته وگوری چی دمقابل دښمن دبیری څخه په خندق کیندلوکی داسی مشغول دی چی دخپلو دخپلو ضرورتونو څخه هم خبر نه دی ، دخپل ځان حفاظت نه سی کولی او د فارس روم اودیمن دفتح کولوخوب وینی، نوالله ﷻ ددی بی خبره ظالمانوپه جواب کی داآیت نازل کی

قُلِ اللّٰهُمَّ مٰلِكَ الْمُلْكِ تُؤْتِي الْمُلْكَ مَنْ تَشَاۤءُ وَتَنْزِعُ الْمُلْكَ مِمَّنْ تَشَاۤءُ وَتُعِزُّ مَنْ تَشَاۤءُ وَتُذِلُّ مَنْ تَشَاۤءُ بِيَدِكَ الْخَيْرُ اِنَّكَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ.

په دی کی دمناجات اودعاپه انداز کی دقومونو دترقی اوزوال اودملکونو په انقلاب کی دالله ﷻ دکامل قدرت بیان په یو ډیر زړه ته پریوتونکی انداز کی سوی دی او دفارس اوروم دفتح کیدو په باره کی دنبی کریم ﷺ دپیش گویی طرف ته په کښی اشاره سوي ده ، په دی کی ددنیا دانقلاباتو (بدلیدو رابدلیدو) څخه بی خبر دقومونو دترقی او دزوال دتاریخ څخه ناخبره دقوم دنوح ﷺ اوعاد اوثمود دواقعاتو څخه دغافل اوجاهلو دښمنانو داسلام ته خبرداری ورکړل سوی دی چی تاسی په ظاهری شان وشوکت سره غولیدونکو ته دا نه ده معلومه چی ددنیا ټول طاقتونه اوحکومتونه په جمع سره دیو پاك ذات دقدرت په لاس کی دی عزت اوذلت دهغه په لاس کی دی هغه بیشکه په دی قادر

دی چی غریبان او فقیران دتخت اوتاج مالکان جوړکړی اودلویو لویو بادشاهانو څخه حکومت او دولت واخلی ، دهغه دپاره دا څه گرانه نه ده چی دنن خندق کیندونکو فقیرانو ته صبادشام اوعراق اویمن حکومتونه ورکړی .

ذره ذره دهر کا پابستۀ تقدیر هی   زندگی کی خواب کی جامی یهی تعبیر هی

ددی کائناتو هره یوه ذره دتقدیر په لاس کی گیر ده ای جامی رحمه الله دژوند دخواب تعبیرهم دغه دی .

(کوم شي چي په عادت کي بد گڼل کيږی دانجام په اعتبار سره هغه بد نه وی)

دآیت په آخرکی یی وفرمایل ، بِيَدِكَ الْخَيْرُ: ستاپه لاس کی ده هره گټه ، دآیت په شروع کی دحکومت ورکولو اوبیرته اخیستلو دارنگه دعزت اوذلت دواړو ذکر وو ، نو په دی وجه دلته دا ویل غوښتل چی ، بِيَدِكَ الْخَيْرُ وَالشَّرُّ : ویل سوی دی ، یعنی چی (هره گټه اوبدی ستاپه لاس کی ده) لیکن دلته په آیت کی یی یوازی دلفظ دخیر په راوړو سره دی طرف ته اشاره وکړه چی کوم شی یوسړی یایوقوم بدوالی یا مصیبت گڼی اوهغه ددی خاص قوم دپاره که څه هم مصیبت وی لیکن که په ژورنظرسره وکتل سی نودټول عالم په اعتبار سره هغه بدنه وی ، دقومونوپه ترقی اوزوال اوپه دی کی ترمصیبتونو وروسته دفائدو پرتاریخ چی نظر واچول سی نو دعربی دمشهور شاعر متنبی دا مصرع یو ژوندی حقیقت مخ ته راسی .

مَصَائِبُ قَوْمٍ عِنْدَ قَوْمٍ فَوَائِدُ . دیو قوم مصیبتونه دبل قوم دپاره فائدی وی .

دټول عالم په مصلحتونو اوفائدو نظر کوونکی په څه نه څه درجه کی دی حقیقت ته رسیږی چی په دی کی خومره شیان خراب اوبد گڼل کیږی ، هغه په خپل ذات کی که څه هم بدگڼل کیږی لیکن که ټول عالم یو جسم گڼل کیږی نو دغه به دده دمخ خال اووینبته وی ، خالونه اووینبته که دبدن څخه جلاسی نو ددی څخه خراب شی بل نه وی ، لیکن دغه خالونه اووینبته چی دیوښائسته مخ سره یوځای سی نو دهغه ښائست نور زیات کی .

لنده داچی کوموشیانوته مونږبدوایو اوبیکاره یی گڼودهغوی بدوالی جزوی دی او دکائناتو دخالق او درب العلمین په نسبت اودټول عالم دمصلحت په اعتبارسره یوشی دشریاخراب نه دی چاڅه ښه ویلی دی .

نهی هی چیز نکمّی کوئی زمانی میی   کوئی بُرا نهیی قدرت کی کار خانی میی

په دنیاکی هیڅ شی بیکاره نسته ، دقدرت په کارخانه کی هیڅ شی خراب نه دی .

په دی وجه یی دآیت په ختمیدو سره یوازی په لفظ د (خیر) اکتفاء وکړه وی فرمایل ، بِيَدِكَ الْخَيْرُ څکه چی دکائناتو دخالق دحکمت اوحکومت اودټول عالم دمصلحت په لحاظ سره هر شی خیر او خیر دی ، تر دی ځایه پوری د اولنی آیت مضمون ختم سو ، په کوم کی چی یی دټول کائنات دطاقتونو او ددنیا دټولو حکومتونو دحق تعالی په قبضه دقدرت کی کیدل بیان سوه ، په دوهم آیت کی په آسمانی طاقتونو اوآسمانونو باندی دالله ﷻ دکامل قدرت احاطه داسی بیان فرمایی ، تُولِجُ اللَّيْلَ فِي النَّهَارِ

وَتُولِجُ النَّهَارَ فِي اللَّيْلِ : يعنى الله ﷻ چى كله غواړى دشپى څه حصى په ورځ كى دا خلوى ورځ لويه وى اوكله چى غواړى نو د ورځى څه حصى په شپه كى دا خلوى شپه لويوى ، او دا خو ښكاره خبره ده چى دورځى او شپى دلوى اوكوچنى كيدو دار اومدار دلمر په ختو اوپرلويدو باندى دى او دده په حركتونو باندى دى نو حاصل يى دا سو چى آسمان او ددى سره متعلق لوى ستورى او ترټولو مشهوره سياره سپوږمى ټول دالله ﷻ په احاطه دقدرت كى دى نو بياپه كائناتو او ددنيا په باقى طاقتونو كى دشك اوشبهى څه ګنجائش كيدى سى ؟

ددى څخه وروسته يى په روحانى دنيا دالله ﷻ دقدرت احاطه په داسى شان بيان كړه ، وَتُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَتُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ : يعنى ته ژوندى دمړى څخه راباسى لكه دهګى څخه چيچى يادنطفى څخه انسان يادداني څخه درخته راباسى اومړى دژوندى څخه راباسى لكه دمرغى څخه هګى يادانسان څخه نطفه يا ددرختى څخه دانه اووچه ميوه را وباسى ، اوكه دژوندى اومړى څخه عام مطلب واخلى نو عالم او جاهل اوكامل اوناقص او مومن اوكافر ټولو ته شامليږى چى ددى څخه دالله ﷻ كامل قدرت او دهغه تصرفات په عالم ارواح او روحانياتو باندى واضح كيږى چى هغه كله وغواړى نودكافر څخه مومن يا دعالم څخه جاهل پيداكوى ، دآذرپه كوركى خليل الله پيداسى اودحضرت نوح ﷺ په كوركى دهغه زوى كافر پاته سى ، دعالم اولاد جاهلان پاته سى او دجاهل اولاد عالمان جوړ سى ، ددى تفصيل څخه به تاسى ته معلومه سوى وى چى په څنګه بليغ (په زړه كى كښينستونكى) انداز اوترتيب سره دالله ﷻ دكامل قدرت اوپه ټول كائنات باندى يى احاطه كول په ترتيب سره بيان سوه چى اول يى دعالم عناصر يعنى دنيا او ددى دحكومتي اوقوتونو ذكر وكى ، بيايى دآسمانونو او ددى دقوتونو اوتردى وروسته يى دروح اوروحانيت د در راوړى چى په حقيقت كى دټول عالم په ټولو قوتونوكى ترټولو لوړ قوت دى ، دآيت په آخركى يى وفرمايل ، وَتَرْزُقُ مَنْ تَشَآءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ : يعنى ته چى چاته غواړى بى حسابه رزق وركوى ، چى يو مخلوق يى نه سى معلومولى كه څه هم دخالق په علم كى ذره ذره ليكل سوي ده .

لَا يَتَّخِذِ الْمُؤْمِنُونَ الْكٰفِرِيْنَ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ ۚ وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ فَلَيْسَ مِنَ اللّٰهِ فِيْ

نه دی جوړ وی مؤمنان کافران دوستان ما سوا دمومنانو څخه ، او څوک چی دا کار کوی نونسته ده لره دالله

شَيْءٍ اِلَّآ اَنْ تَتَّقُوْا مِنْهُمْ تُقٰىةً ؕ وَيُحَذِّرُكُمُ اللّٰهُ نَفْسَهٗ ؕ وَاِلَى

سره څه تعلق مګر په داسی حالت کی چی تاسی ورڅخه خپل خان وساتی ، او الله تاسی بیروی دخان څخه او

اللّٰهِ الْمَصِيْرُ ﴿۲۸﴾ قُلْ اِنْ تُخْفُوْا مَا فِيْ صُدُوْرِكُمْ اَوْ تُبْدُوْهُ

دالله طرف ته بیرته تلل دی ، ته ووایه که تاسی پټوی دخپل زړه خبره یایی ښکاره کوی

يَعْلَمْهُ اللّٰهُ ؕ وَيَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى

پیژنی الله پاك هغه او هغه ته معلوم دی هغه څه چی په اسمانونو کی دی او څه چی په مځکه کی دی او الله ﷻ

كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۲۹﴾ يَوْمَ تَجِدُ كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ مِنْ خَيْرٍ

په هر څه باندی قادر دی ، په کومه ورځ چی موجود به پیدا کی هر یو سړی څه چی کړی وی ده نیکی

مُّحْضَرًا ۖۚ وَّمَا عَمِلَتْ مِنْ سُوْٓءٍ ۚۛ تَوَدُّ لَوْ اَنَّ بَيْنَهَا وَبَيْنَهٗٓ اَمَدًا

خپل مخکی او څه چی کړی وی ده بدی ارزو به کوی زما او ده په مینځ کی راغلی فرقی

بَعِيْدًا ؕ وَيُحَذِّرُكُمُ اللّٰهُ نَفْسَهٗ ؕ وَاللّٰهُ رَءُوْفٌ بِالْعِبَادِ ﴿۳۰﴾

دیر لیری او الله بیروی تاسی دخان څخه او الله تعالی دیر مهربانه دی په بندګانو

لنډتفسیر : دآیتونو تړون: په سرکی په ذکر سوو آیتونوکی مسلمانانوته هدایت سوی دی چی کافران دی دوستان نه جوړوی او ددی هدایت څخه دمخالفت کوونکو دپاره دسخت عذاب وعده ده چی څوك دوی دوستان جوړکی دده به دالله ﷻ سره محبت او د دوستی علاقه وشکیږی ، دکافرانو سره باطنی او دزړه دوستی خو مطلقاً حرام ...

اوکوم سړي چي داسي (کار) وکي ، نو دی دالله ﷻ سره د دوستي ساتلو په يوه شميرکي نه دی (ځکه دکومو دوو سړو چي ديو بل سره دښمني وي نو په دوی کي چي ديوه سره دوستي جوړه سي نو دهغه بل سره بيا دوستي دعوی کول داعتماد قابله نه سي پاته کيدی) مگر په داسي صورت کي (دظاهري دوستي اجازه سته) چي تاسي د دوی څخه يو قسم (قوي) فکر لری (هلته ددفع کولو دضرر ضرورت دی) اوالله ﷻ تاسي دخپل ذات (عظيم الشان) څخه بيروي (چي دهغه دذات څخه وبيريږی دحکمونو مخالفت مه کوی) او دخدای ﷻ طرف ته بيرته تلل دی (دهغه وخت دسزا څخه بيره کول ضروري دی) ته (دوی ته) ووايه چي که تاسي (په زړه کي) خپل دزړه رازونه پټ ساتی ياد وی (په ژبه يااندامونو سره) ظاهر وی ، الله ﷻ دا (په هرحال کي) پيژني او (ددی څه تخصيص نسته) هغه هرڅه پيژني څه چي په آسمانونوکي دی اوڅه چي په مځکه کي دی (هيڅ شی دهغه څخه پټ نه دی) او (دعلم اوپوهی سره) الله ﷻ په هرڅه باندی قدرت هم کامل لری (نوکه تاسي څه بيکاره کار وکی برابره خبره ده که ظاهر وی اوکه په باطن سره دهغه تاسي ته سزا درکول کيږی) په کومه ورځ (چي داسي وی) چي هر سړی خپل ښه کارونه مخامخ پيدا کی او خپل بدکارونه (هم پيدا کی په دغه ورځ) ددی خبری آرزو به کوی چي څنگه په ښه وای که ددی سړی او ددی ورځی په مينځ کي يو اوږد مسافت (حائل) وای (چي دا خپل بدعمل يی نه ليدی) او (تاسي ته بيا دوباره ويل کيږی چي) خدای ﷻ تاسي دخپل ذات (عظيم الشان) څخه بيروی (او دا بيرول په دی وجه سره دی چي) الله ﷻ دير مهربانه دی په (خپلو) بندگانو (په حال) باندی (اوپه دی مهرباني سره دا غواړی چي دوی دآخرت دسزا څخه خلاص سي او دخلاصيدو طريقه يی ده دبدو کارونو پريښوول اوبد عملونه پريښوول بغير دبيری څخه نه سي کيدی په دی وجه يی بيروی ، نو پس دا بيرول عين شفقت او رحمت دی)

معلومات اومسئلي: په دی مضمون سره آيتونه په قرآن شريف کي ځای په ځای په ځان ځان ته عنوانو سره دير راغلي دی په سورة ممتحنه کي ارشاد فرمايي.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَاءَ تُلْقُونَ إِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ.

يعني . ای ايماندارو! زمادښمن اوخپل دښمن يعني کافردوست مه جوړوی چي تاسي دوی ته ددوستي پيغام ليږی . بيا ددی په آخر کي فرمايي .

وَمَنْ يَفْعَلْهُ مِنْكُمْ فَقَدْ ضَلَّ سَوَاءَ السَّبِيلِ.

کوم سړی چي ددوی سره دوستي وکړه نوهغه دنيکی لاری څخه گمراه سو. په بل ځای کي ارشاد فرمايي.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُودَ وَالنَّصَارَىٰ أَوْلِيَاءَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ مِنْكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ.

يعني . ای مؤمنانو! يهود اونصارا دوستان مه جوړ وی ځکه چي دوی په خپل مينځ کي ديوبل سره

دوستان دی (دمسلمانانو سره د دوی څه دوستی او همدردی نسته) نو څوك چی د دوی سره دوستی کوی هغه به د دوی سره شمار وی . او په سورة مجادله کی دی .

لَاتَجِدُقَوْمًايُؤْمِنُونَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْأَخِرِيُوَادُّونَ مَنْ حَادَّاللّٰهَ وَرَسُولَهُ وَلَوْكَانُوا اٰبَاءَهُمْ أَوْاَبْنَاءَهُمْ أَوْاِخْوَانَهُمْ أَوْعَشِيْرَتَهُمْ.

یعنی . ته به پیدا نه کړی یوقوم چی یقین لری په الله ﷻ او په ورځ دآخرت چی دوستی به کوی دداسی خلکو سره چی مخالف وی دالله ﷻ اودهغه درسول څخه برابره خبره ده که هغه دده خپل پلار اونیکه وی یاخپل اولاد یاخپل ورور یاخپل خاندان والا .

(دکفارو سره دمسلمانانو تعلقات څنګه په کار دی)

دا مضمون په ډیرو آیتونو دقرآن کی په اجمال اوپه تفصیل سره راغلی دی ، چی په دی کی یی مسلمانان دغیر مسلمانانو دخپلولی دوستی اومحبت څخه په سختی سره منع کړي دی چی دی وضاحتونو ته وګوری نو دحقیقت دحال څخه ناخبره غیر مسلمانانوته داشبه پیداکیږی، چی دمسلمانانو په مذهب کی دغیر مسلمانانو سره دڅه قسم رواداری اوتعلق بلکه دښو اخلاقوهم څه ګنجائش نسته اوبل طرف ته چی ددی په مقابله کی کله چی دقرآن دډیرو آیتونو څخه او دنبی کریم ﷺ دارشاداتو اوعمل څخه دخلفاء راشدینو او نورو صحابه کرامو ﷡ دعمل څخه دغیر مسلمانانو سره دعمل او دخل څخه داحسان سلوك همدردی اوغم خواری احکام او داسی داسی واقعات ثابت دی چی مثالونه یی ددنیاپه نورو قومونو کی پیدا کیدل ګران دی نو یو سرسری نظر لرونکی مسلمان هم په دی ځای کی دقرآن اوسنتوپه احکامو اوارشاداتوکی دیوبل سره مقابله اوټکراو محسوس کوی، لیکن دا دواړه خیالونه په قرآن باندی دسرسری نظر اوناقص تحقیق نتیجه وی ، که دمختلفوځایونو څخه دقرآن شریف آیتونه کوم چی ددی معاملی سره تعلق لری جمع سی اوغور وربانذی وسی نونه به غیر مسلموته دشکایت وجه باقی پاته سی اونه به په روایتونو اوآیتونو کی څه قسم ټکراو باقی پاته سی ، په دی وجه ددی مقام پوره تشریح کول کیږی چی دخپلوی احسان اوسلوك یاپه همدردی اوغم خواری کی فرق او دهریوه حقیقت هم معلوم سی او دا هم معلومه سی چی په دی کی کومه درجه جائزده اوکومه ناجائزه ، اوکومه چی ناجائزه ده دهغه وجه څه ده؟

خبره دا ده چی د دوو سړو یادوو جماعتونو دیوبل سره دتعلقاتو مختلفی درجی وی دتعلیق یوه درجه دزړه خپلولی یادزړه مینه اومحبت دی ، داسی تعلق یوازی دمومنانو سره خاص دی ، دغیرمومن سره دمومن دا تعلق په هیڅ حال کی هم قطعًا جائز نه دی ، دوهمه درجه دمواسات (غم خوردګی) ده چی معنی یی ده همدردی اوخیر خواهی اونفع رسول دا بغیر دحربی کافرانو څخه چی دمسلمانانو سره یی جنګ وی ، دباقی ټولو غیر مسلمو سره جائز ده ، دسورة ممتحنه په اتم ۸ آیت کی ددی تفصیل بیان

سوي دي په هغه کی ارشاد فرمايی.

لاَ يَنْهَاكُمُ اللهُ عَنِ الَّذِينَ لَمْ يُقَاتِلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَلَمْ يُخْرِجُوكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ أَنْ تَبَرُّوهُمْ وَتُقْسِطُوا إِلَيْهِمْ.

يعنی الله ﷻ تاسی نه منع کوی دهغوی څخه چی جنګ نه کوی ستاسی سره په دين کی اونه ياست دوی ايستلی تاسی ستاسی دکورونو څخه چی د دوی سره داحسان او انصاف سلوك کوی.

دريمه درجه دمُدارات (خاطر تواضع) ده، چی معنٰی يی ده ظاهری خوش خلقی او دوستانه سلوك، دا هم دټولو غير مسلمانانو سره جائز دی، کله چی په دی سره دوی ته دينی نفع رسول مقصد وی يايی ميلمه وی يادشر اوضرر رسولو څخه يی ځان ساتل مقصد وی، دسورة آل عمران ددی ذکر سوی آيت،

اِلاَّ اَنْ تَتَّقُوا مِنْهُمْ تُقٰة: څخه هم دا درجه دمدارات مراد ده يعنی دکافرانو سره باهمی دوستی جائز نه ده مګر په داسی حالت کی چی خپل ځان ساتل ورڅخه غواړی او دموالات څخه يی مدارات جلا کی څکه چی په مدارات کی هم دموالات صورت راتلی سی (بيان القرآن)

څلورمه درجه دمعاملاتو ده چی د دوی سره دتجارت مزدوری يانوکری يادصنعت وحرفت معاملات کول کيږی دا هم دټولو غير مسلمو سره جائز دی، بغير دداسی حالت څخه چی عامو مسلمانانوته په دی سره نقصان رسيږی، دنبی کريم ﷺ اودخلفاء راشدينو ﷺ اود نورو صحابه وو ﷺ معاملات په دی باندی شاهد دی، فقهاؤ په دی بنا باندی په اهل حربو کافرانو وسله خرڅول منع فرمايلی دی او دنور تجارت او نورو اجازت يی ورکړي دی او دوی خپل نوکران کول ياپه خپله د دوی په کارخانو يا اداروکی نوکری کول دا ټول جائز دی، ددی تفصيل څخه به تاسی ته معلومه سوی وی چی دزړه دوستی اومحبت ديوه کافر سره په يوه حال کی هم جائز نه دی او احسان همدردی اونفع رسول بغير داهل حربو څخه دنورو ټولو کافرانو سره جائز دی، دغه شان ظاهری خوش اخلاقی دوستانه سلوك هم دټولو سره جائز دی خو چی مقصد يی دميلمه خاطرداری ياغير مسلموته اسلامی معلومات اودينی نفع رسول ياخپل ځان دهغوی دڅه ضرر يانقصان څخه ساتل وی.

نبی کريم ﷺ چی رحمة للعالمين دنياته تشريف راوړی دی ده ﷺ چی دغير مسلموسره دکوم احسان همدردی اوخوش اخلاقی معاملی کړي دی ددی مثال په دنياکی پيدا کول مشکل دی، په مکه باندی قحطی راغله نوچی کومو دښمنانو دی دوطن څخه ايستلی وو په خپله يی دهغوی مدد وفرمايی بيامکه مکرمه فتح سوه دا ټول دښمنان دده ﷺ په واك کی راغله، نوټولوته يی داوفرمايل اوآزاد يی کړه چی، لاَتَثْرِيْبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ يعنی نن تاسی ته نه يوازی دا چی معافی درکول کيږی بلکه نن مونږ ستاسی ستاسی په تيرو ظلمونو او تکليفونو باندی هم ګرفت اونيول نه کوو، چی غير مسلمانان جنګی قيديان به په لاس ورغله نو د دوی سره به يی هغه سلوك کوی چی دخپل اولاد سره يی هم څوك نه کوی، کفاروبه ده ﷺ ته قسم قسم تکليفونه رسول خودده ﷺ لاس مبارك هيڅ ځای هم دبدلی

اخیستو دپاره نه دی لوړ سوی په ژبه مبارکه یی ښراوی هم نه دی کړی ، بنوثقیف چی لا مسلمانان سوی نه وو ، دهغوی یوه ډله په خدمت کی حاضره سوه نو په مسجد نبوی کی یی دوی پاته کړل چی دمسلمانانو دپاره ترټولو زیات دعزت مقام وو .

فاروق اعظم رضی الله عنه غیر مسلمو محتاجو ذمیانو ته دمسلمانانو په شان دبیت المال څخه وظیفی ورکړی، دخلفاء راشدینو اوصحابه کرامو رضی الله عنهم معاملی ددا قسم واقعو څخه ډکی دی داټول دمواسات یامدارات یامعاملاتو صورتونه وه ، دکوم موالات څخه چی منع سوي ده هغه نه وه .

ددی تفصیل اوتشریح څخه یوطرف ته خو دا معلومه سوه چی دغیرمسلمو دپاره په اسلام کی څومره دروا داری اوښه سلوك سبق دی ، دوهم طرف ته کوم چی ظاهری ټکراو دترك موالات دآیت (یعنی چی دوستی ورسره مه کوی) څخه محسوس کیدی هغه ختم سو .

اوس یوه خبره باقی پاته سوه چی قرآن دکفارو سره موالات (خپلولی) او د زړه دوستی اومحبت دومره په سختی سره ولی منع کړي دی چی په هیڅ حال کی یی دهیڅ کافر سره نه ده رواکړی ، په دی کی څه حکمت دی ؟ ددی یوه خاص وجه خو دا ده چی داسلام په نظر کی ددی دنیا دننه دانسانانو وجود دعامو حیوانانو یاځنګلی درختو اوونو اوګیاه ګانو په شان نه دی ، چی پیدا سول او وپالل سول لوی سول مړه سول اوختم سول بلکه دانسان ژوند په دی دنیاکی یومقصدی ژونددی دده دژوند ټول دورونه دده خوړل چښل ولاړیدل کښینستل بیده کیدل ویښیدل تردی پوری چی دده مرګ اوژوند ټول دیوه مقصد پر شاوخوا څرخی ، ترکومه پوری چی دهغه مقصد مطابق وی نو دا ټول کار صحیح او درست دی اوکه ددغه مقصد څخه مخالف وی نو دا ټول غلط دی ، مولانای روم صاحب څه ښه فرمایی

زندگی از بهر ذکر وبندگی است بی عبادت زندگی شرمندگی است

یعنی : ژوند دپاره دذکر او دعبادت دی بی عبادته ژوند خوشرمندګی ده .

مطلب دا دی چی کوم انسان چی ددی مقصد څخه واوړی هغه دمولانای روم او دحقیقت پیژندونکو په نزد باندی انسان نه دی .

آنچه می بینی خلاف آدم اند نیستند آدم غلاف آدم اند

یعنی دکوم انسان ژوندچی دآدمیت (سړیتوب) څخه خلاف وی، دغه انسان نه دی بلکه څرمن وربان‌دی دانسان ده .

قرآن حکیم ددی مقصد اقرار دانسان څخه په دی الفاظوکی اخیستی دی .

قُلْ اِنَّ صَلَاتِیْ وَنُسُکِیْ وَمَحْیَایَ وَمَمَاتِیْ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ .

ته ووایه چی زمالمونځ اوزما قربانی زماژوند اوزما مرګ ټول دالله جل جلاله رب العٰلمین دپاره دی .

اوچی هرکله دانسان دژوند مقصد دالله رب العٰلمین دحکم منلو اوعبادت دپاره سو ، نو ددنیاټول

کاروبار ریاست سیاست خاندانی اوکورنی تعلقات تړول ددی تابع سوه ، نو چی کوم انسان ددی مقصد څخه مخالف وی هغه دانسان ترټولو زیات دښمن دی او په دی دښمنی کی کله چی شیطان ترټولو مخکی دی ، په دی وجه قرآن کریم فرمایی .

إِنَّ الشَّيْطَانَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَاتَّخِذُوهُ عَدُوًّا . یعنی شیطان ستاسی دښمن دی دده دښمنی همیشه یاده ساتی . دغه شان چی کوم خلک دشیطانی وسوسو تابعداری کوی اودانبیاء علیهم السلام په ذریعه دراغلو خدایی حکمونو مخالفت کوی ، دده سره دزړه هم دردی او دزړه دوستی دداسی سړی کیدی نه سی دچا ژوند چی یو مقصدی ژوند وی او دوستی او دښمنی موافقت اومخالفت تړول ددی مقصدتابع وی دا مضمون دصحیح بخاری او مسلم په یو حدیث شریف کی داسی ارشاد فرمایل سوي دی .

مَنْ أَحَبَّ لِلّٰهِ وَأَبْغَضَ لِلّٰهِ فَقَدِ اسْتَكْمَلَ اِيْمَانَهُ :

یعنی کوم سړی چی خپلوی او دښمنی یوازی دالله ﷻ دپاره وقف کړه ، ده خپل ایمان مکمل کی .

معلومه سوه چی ایمان هغه وخت مکمل کیږی چی انسان خپل محبت اودوستی اودښمنی اونفرت دالله ﷻ تابع جوړکی په دی وجه دمومن دزړه خپلولی او دوستی یوازی دالله ﷻ دپاره دهغه چاسره کیدی سی چی ددی مقصد ملګری او دالله ﷻ دحکم تابع وی ، په دی وجه دقرآن کریم په دی ذکر سوو آیتونو کی دکافرانوسره دزړه مینه اومحبت اوددوستی کوونکوپه باره کی وویل سوه چی دوی به دهغوڅخه وی .

دآیت په آخرکی یی وفرمایل چی الله ﷻ تاسی دخپل لوی ذات څخه بیروی هسی نه چی ددنیا ددی څو ورځو دغرضونو اومقصدونو په خاطر دکفارو په دوستی کی اخته سی الله ﷻ ناراضه کی اوکله چی دموالات (خپلولی) تعلق دزړه سره دی او دزړه حال دالله ﷻ څخه ماسوا بل چاته نه دی معلوم ، نو په دی وجه دا کیدی سی چی یو سړی په واقع کی دکفارو سره په موالات اومحبت کی اخته وی مګر په ژبه باندی انکار کوی ، په دی وجه یی په دوهم آیت کی وفرمایل چی ستاسی په زړونو کی چی څه دی الله ﷻ په دی باندی ښه پوه او خبردار دی ، دا انکار اوحیلی دهغه په مخکی نه چلیږی .

کارها باخلق آری جمله راست   با خدا تزویر وحیله کی روا ست

دخلګو سره ټولی معاملی برابر ساتی نو دخدای ﷻ سره مکر او حیله کله روا ده .

قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللّٰهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ

تهووایه که تاسی محبت لری دالله تعالی سره نو زما په لاری ځی چی محبت وکړی تاسی سره الله او وبخښی

وَاللّٰهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿۳۱﴾ قُلْ أَطِيعُوا اللّٰهَ وَالرَّسُولَ ۚ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّ

ګناهونه ستاسی او الله تعالی بخښونکی مهربانه دی ، ته ووایه حکم مني دالله او درسول ﷺ پس که دوی منع

اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْكَٰفِرِينَ ﴿۳۲﴾

وکړه نوبیشکه الله تعالی محبت نه کوی دکافرانو سره .

لنډتفسیر: دآیتو نوتړون: په تیرو آیتونوکی دتوحید (دالله ﷻ دیووالی) ثبوت اودکفر بد والی بیان سو اوس درسالت دعقیدی اودپیغمبر ﷺ دتابعداری واجب والی بیانوی چی معلومه سی چی لکه څنګه دتوحید څخه انکار کفر دی دغه شان درسالت څخه انکار هم کفر دی ، ارشاد فرمایی چی .
ته (خلګوته) ووایه چی که تاسی (په خپل ګمان سره) دخدای ﷻ سره محبت ساتی (او ددی محبت په وجه دا هم غواړی چی خدای ﷻ ستاسی سره محبت وکی) نو تاسی خلګ (ددی مقصد دحاصلولو په طریقو کی) زماتابعداری کوی (څکه چی زه خاص ددی تعلیم دپاره رالیږل سوی یم کله چی داسی وکی) الله ﷻ به ستاسی سره محبت وکی اوستاسی ټول ګناهونه به معاف کی (څکه چی زه ددی معافی طریقه هم درښیم په دی باندی په عمل کولو سره به خامخادوعدی مطابق ګناهونه معاف سی ، مثلاًدګناهونو څخه توبه دالله ﷻ حقوق چی نژدی فوت سوی وی هغه پوره کول دبندګانو حقونه ادا کول یایی معاف کول) اوالله ﷻ لوی معاف کونکی اولوی مهربانی کوونکی دی (او) ته دا (هم) ووایه چی تاسی فرمانبرداری کوی دالله ﷻ (چی اصلی مقصود دغه دی) او (فرمانبرداری کوی) درسول ﷺ (یعنی زمافرمان برداری په دی حیثیت سره ضروری ده چی زه دالله ﷻ رسول یم زماپه معرفت یی دخپلی فرمانبرداری طریقی ښوولی دی) بیا (په دی هم) که دغه خلګ (ستا دفرمانبرداری څخه چی ادنی ددی عقیده درسالت ده) منع وکی نو (دغه خلګ دی واوری چی) الله ﷻ دکافرانو سره محبت نه کوی (اوپه دی صورت کی به دا خلګ کافران وی نودوی ته دالله ﷻ سره دمحبت کولودعوٰی کول یاهوس ددوستی ساتل محض بی حقیقته دی)

معلومات او مسئلې: محبت یو پټ شی دی ، دچا سره دچامحبت سته اوکه نسته کم دی اوکه زیات دی ، ددی هیڅ پیمانه بغیر ددی څخه نسته چی دحالاتو اومعاملو څخه اندازه واخیستل سی اوکومی نښانی او علامی چی وی په هغه سره پیژندل کیږی ، دا خلګ کوم چی دالله ﷻ سره دمحبت دعوٰی کوونکی او دمینی آرزومند وه الله ﷻ دوی ته په دی آیتونوکی دخپل محبت اندازه وښووله ، یعنی که په دنیاکی نن یو سړی دخپل حقیقی مالك دمحبت دعوٰی کوونکی وی نو دده کره (ښه) اوکوټه (خراب) به دمحمد ﷺ په تابعداری سره معلومیږی ، کوم سړی چی څومره په خپله دعوٰی کی ریښتینی وی دومره به دی دنبی کریم ﷺ په تابعداری کی زیات اهتمام کوونکی وی او دهغه راوړی رڼا به دخپلی لاری شمع جوړ وی او څومره چی په خپله دعوٰی کی کمزوری وی دومره به دهغه په تابعداری کی سست اوکمزوری لیدل کیږی .

په يوحديث کې نبي کريم ﷺ ارشاد فرمايي . چاچې دمحمد ﷺ تابعداري وکړه نوده په حقيقت کې دالله ﷻ تابعداري وکړه اوچاچې دمحمد ﷺ نافرماني وکړه نو ده دالله ﷻ نافرماني وکړه (تفسير مظهري ج ۲)

إِنَّ اللَّهَ اصْطَفَىٰ آدَمَ وَنُوحًا وَآلَ إِبْرَاهِيمَ وَآلَ عِمْرَانَ عَلَى الْعَالَمِينَ ﴿٣٣﴾

بيشکه الله غوره کړي دي ادم ﷺ اونوح ﷺ اوال دابراهيم ﷺ او ال دعمران ﷺ په ټول جهان باندې .

ذُرِّيَّةً بَعْضُهَا مِن بَعْضٍ ۗ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٣٤﴾

چې اولاد وو ديو بل او الله اوريدونکی پوهيدونکی دی .

(دتيرو پيغمبرانو ذکر دپاره دتسلي دنبي کريم ﷺ)

کومو خلګو چې دنبي کريم ﷺ دفرمانبرداري څخه په دې وجه منع کوله چې د دوی دده په رسالت اونبوت کې شك وو، د دوی دهدايت دپاره په دې آيتونوکې مثالونه دتيرو پيغمبرانو بيان سوه چې داشکونه ورباندې ليرې سي ، ددې تيرو پيغمبرانو په ذکر کې دحضرت آدم ﷺ حضرت نوح ﷺ آلِ ابراهيم ﷺ اوآل عمران ذکر په اجمال اواختصار (لنډ ډول) سره وسو ، تردې وروسته په اصل کې ذکر دحضرت عيسیٰ ﷺ کول دی ، تردې مخکې دهغه د آنا اودمور هم په تفصيل سره ذکر وسو خو دحضرت عيسیٰ ﷺ په ذکر کې تفصيل ډير زيات سوی دی چې ددې بيان به په مسئله دژوند دعيسیٰ ﷺ کې راسي لنډه دا ده چې دامت محمديه په آخره زمانه کې دحضرت مسيح ﷺ سره کار کول دی په دې وجه دهغه دپيژندلو اونښانو بيانولو اهتمام په قرآن کې ترنوروټولو انبياؤعليهم السلام زيات سوی دی

لنډتفسير: بيشکه الله ﷻ (دنبوت دپاره) خوښ کړي دي (حضرت) آدم ﷺ او (حضرت) نوح ﷺ اود (حضرت) ابراهيم ﷺ په اولاد (کې ځيني لکه حضرت اسمٰعيل حضرت اسحٰق او حضرت يعقوب عليهم السلام او دبني اسرائيلو ټول نبيان دحضرت اسمٰعيل ﷺ په اولاده کې دي) او دعمران په اولاد (کې ځيني که داعمران دحضرت موسیٰ ﷺ پلار وي نو د اولاد څخه يې مراد حضرت موسیٰ اوحضرت هارون ﷺ دي اوکه داعمران دحضرت مريمی ﷺ پلار وي نو داولاد څخه يې مرادحضرت عيسیٰ ﷺ دي ، غرض دا چې داحضرات يې دنبوت دپاره) دټول جهان (پرمخلوقاتو) باندې (خوښ کړي دي) ځيني په دوی کې دځيني اولاد دي (لکه دحضرت آدم ﷺ ټول اولاد دي ، دغه شان دحضرت نوح ﷺ ټول اولاد دي ، او دحضرت ابراهيم ﷺ په اولاد کې اولاد دعمران هم دي) اوالله ﷻ ښه اوريدونکی ښه پوهيدونکی دی (چې دټولو خبرې اوري دټولو حالات پيژني ، نو چې دچاخبرې اوحالات يې مناسب دشان دنبوت سره وليدل هغه يې نبي جوړ کې)

اِذْ قَالَتِ امْرَاَتُ عِمْرٰنَ رَبِّ اِنِّيْ نَذَرْتُ

هر کله چې وويل ښځې دعمران چې ربه ! ما نذر کړه

لَكَ مَا فِيْ بَطْنِيْ مُحَرَّرًا فَتَقَبَّلْ مِنِّيْ ۚ اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿٣٥﴾

ستاځه چې زما په نس کې دی دټولو څخه ازاد ساتلی نو ته يې زما څخه قبول کې ، بيشکه ته يې اصل اوريدونکی

فَلَمَّا وَضَعَتْهَا قَالَتْ رَبِّ اِنِّيْ وَضَعْتُهَآ اُنْثٰى ؕ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ

پوهيدونکی ، نو کله چې هغه وزيږوی وې ويل ای ربه ! ما خو انجلی وزيږوله او الله ﷻ ته ښه

بِمَا وَضَعَتْ ؕ وَلَيْسَ الذَّكَرُ كَالْاُنْثٰى ۚ وَاِنِّيْ سَمَّيْتُهَا مَرْيَمَ وَ

معلومه ده څه چې هغه وزيږول ، او نه دی زوی په شان دلور او ما ددې نوم کښيښوی مريم

اِنِّيْٓ اُعِيْذُهَا بِكَ وَذُرِّيَّتَهَا مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ﴿٣٦﴾

او زه ستا په پناه کې درکوم دا او ددې اولاد دشيطان ترټل سوی څخه

لنډتفسير: (اوهغه وخت هم ديادولو قابل دی) کله چې دعمران (دمريمې پلار) ښځې (په حالت دحمل کې الله ﷻ ته) عرض وکې چې ای زما پروردګاره! ما نذر (يعنی منّت) منلی دی ستا (دعبادت) دپاره ددی کوچنی کوم چې زما په نس کې دی چې دی به (دخدای ﷻ دکور دخدمت دپاره) آزاد (فارغ) ساتل کيږی (او زه به يې په خپل کارکې نه لګوم) نو ته (دی) زما څخه قبول کې بيشکه ته ښه اوريدونکی ښه پوهيدونکی يې (چې زماعرض اوری اوزماپه نيت باندی پوه يې) بياچې کله (دی بی بی) انجلی وزيږوله نو (دا خفه سوه چې داخو دبيت المقدس دخدمت دپاره لائقه نه ده داکار خو دنارينه وو دی په دی وجه په افسوس سره) يې وويل چې ای زما پروردګاره ماخو دحمل څخه انجلی وزيږوله (الله ﷻ فرمايي چې دی په خپل خيال سره افسوس کوی) حالانکه خدای ﷻ ښه پوه دی (ددی انجلی په شان) چې څه دی وزيږول او (په څه شان سره هم) هغه هلك (کوم چې دی غوښتی) ددی انجلی برابرنه دی (نه سی کيدی بلکه دا انجلی ښه ده چې ددی کمالونه به عجيبه او ناشناوی ، دا دالله ﷻ ارشاد په مينځ کې په طور دجملې معترضه وو اوس بياددی بی بی قول دی) اومادذی بی بی نوم مريم کښيښوی اوزه دا او ددی اولاد (که يې اولاد وسی) ستاپه پناه (اوحفاظت) کې درکوم دشيطان ترټل سوی څخه .

معلومات اومسئلې: دتيرو پيغمبرانو په شريعت کې يوه طريقه دعبادت دا هم وه چې په خپل اولاد کې يو کوچنی دالله ﷻ دپاره خاص کړی چې دده څخه به ددنيا څه خدمت نه اخلی دحضرت مريمې ؑ مور

هم ددی قاعدی مطابق دځپل حمل متعلق دامننه ومنل چی دا به خاص دبیت المقدس دخدمت دپاره ساتم ددنیاپه څه کارکی به یی نه لګوم ، لیکن کله چی دحمل څخه انجلی پیدا سوه ، نو په دی خیال سره یی افسوس وکی چی انجلی خو دا کارنه سی کولی لیکن الله ﷻ ددی داخلاص دبرکته هم هغه انجلی قبوله کړه او دا یی ددنیا ترټولو ښځو یو لوړ شان والا کړه ، ددی څخه دا خبره معلومه سوه چی مورته دکوچنی دتعلیم اوتربیت یوقسم ولایت (تصرف) حاصل دی ، ځکه چی که مورته په کوچنی ولایت حاصل نه وای نو دحضرت مریم ﷺ نذر به یی نه منی ، دغه شان دا هم ثابته سوه چی مور ته دا حق هم حاصل دی چی دځپل کوچنی نوم په خپله مقرر کی (جصاص)

فَتَقَبَّلَهَا رَبُّهَا بِقَبُولٍ حَسَنٍ وَّاَنْۢبَتَهَا نَبَاتًا حَسَنًا ۙ وَّكَفَّلَهَا زَكَرِيَّا ۚ

بیا قبوله کړه دا ددی رب په ښه قبلولو سره اولویه یی کړه دا په ښه لویولو سره او وی سپارله زکریا ﷺ ته

كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيْهَا زَكَرِيَّا الْمِحْرَابَ ۙ وَجَدَ عِنْدَهَا رِزْقًا ۚ قَالَ

هر کله چی به راغی ددې خواته زکریا ﷺ محراب ته نو پیدا به یی کی ددې سره څه خوراك وې ویل

يٰمَرْيَمُ اَنّٰى لَكِ هٰذَا ۖ قَالَتْ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ۖ اِنَّ اللّٰهَ يَرْزُقُ

ای مریمی ! دکومی (خوا) څخه راغی ستا خواته دا وې ویل دا دالله ﷻ دخوا څخه راغی ، بیشکه الله تعالی

مَنْ يَّشَآءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿۳۷﴾

رزق ورکوی چا لره چی غواړی بی اندازی .

لنډتفسیر: (حاصل دا دی چی دحضرت مریمی مور دا واخیسته بیت المقدس ته ورسیده او هلته مجاورین اوعبادت کوونکی چی حضرت زکریا ﷺ هم په کښی ناست وو دا ور ته ورغله او وی ویل چی دا انجلی ماخاص دخدای ﷻ دپاره منلی ده ، نو اوس یی زه دځان سره نه سم ساتلی تاسی ته می راوسته تاسی یی واخلی اوساتی یی .

حضرت عمران ددی مسجد امام وو اوچی مریمه دمور په نس کی وه نو هغه وفات سوی وو ، نوتر ټولو زیات مستحق ددی داخیستو دپاره هغه وو ، دانجلی پلار هم وو او دمسجدبیت المقدس امام هم وو ، په دی وجه دبیت المقدس مجاورینو اوعبادت کوونکو هریوه ددی داخیستو خواهش کوی ، خوحضرت زکریا ﷺ دځان دښه والی دا وجه بیان کړه چی زماپه کورکی ددی خاله (دمورخور) ده اوهغه په ځای دمور وی ، نو په دی وجه ترمور وروسته یی هغه دساتلو مستحقه ده ، لیکن نورخلګ په دی راضی اومتفق نه سوه ، آخر په هسکه غورځولو یی اتفاق راغی او صورت دهسکی هم عجیبه نا

آشنا او دعادت څخه خلاف مقرر سو چې بیان یې مخ ته راځي ، په دې کې هم حضرت زکریا ﷺ کامیاب سو

نو حضرت مریمې ده ته ورسیده اوهغه دځینو روایاتو مطابق یوه دایې ددې دشیدو دورکولو دپاره نوکره کړه او په ځینو روایاتوکې دي چې شیدوته ددې کرسره حاجت نه وو راغلی ، دا به په خپله ولاړیده او کښینسته او دا یې دمسجد سره متصل په یوه ښایسته ځای کې وساتله ، چې دې به یوځای ورڅخه تلې نو دروازه به یې ورپسې قلف کړه اوچې راتلی به نو خلاصوله به یې ، ددې قصې مختصر ذکر مخ ته راروان دی یعنی) وروسته دا (مریمه) ددې رب په ښه طریقې سره قبوله کړه اوپه ښه طورسره یې ددې پرورش وکی او (حضرت) زکریا ﷺ یې ددې سرپرست جوړکی ، کله چې به (حضرت) زکریا ﷺ ددې خواته (دغه) ښایسته ځای ته (چې دایې په کښې ساتلې وه) تشریف راوړی نو ددې سره به یې څه دخوراك اوچښاك شیان پیداکړه (او) داسې به یې فرمایل چې ای مریمې! ستا دپاره داشیان دکومه راغله (ځکه چې ځای خوقلف دی ددباندې څخه دچادراتلو څه امکان نسته) هغې به ویل چې دالله ﷻ دطرفه څخه (چې دغیبو کومه خزانه ده دهغه څخه) راغله بیشکه الله ﷻ چاته چې وغواړي بې استحقاقه (بې کاره اوبې روزګاره) رزق ورکوی (لکه چې په دې ځای کې یې محض په خپل فضل سره بې مشقته رزق عطاء وفرمایې)

هُنَالِكَ دَعَا زَكَرِيَّا رَبَّهُ ۚ قَالَ رَبِّ هَبْ لِي مِن لَّدُنكَ ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً ۖ

هلته دعا وکړه زکریا ﷺ دخپل رب څخه ، وې ویل ای ربه زما راکړې ماته دخپل طرف څخه اولاد پاکیزه.

إِنَّكَ سَمِيعُ الدُّعَاءِ ﴿٣٨﴾

بیشکه ته اوریدونکی د دعا یې.

لنډتفسیر: (حضرت زکریا ﷺ دحضرت مریمې علیها السلام په تربیت کې غیرمعمولی نښانې دقدرت ولیدې نو دخپل ځان دپاره یې هم دعاوکړه چې بیان یې دا دی)

په دې موقع دعاوکړه (حضرت) زکریا ﷺ خپل رب ته یې عرض وکی چې ای زماربه ! راکې ماته خاص دخپل طرف څخه یو ښه اولاد ، بیشکه ته ډیر اوریدونکی ددعا یې .

معلومات اومسئلې: هُنَالِكَ دَعَا زَكَرِيَّا : دحضرت زکریا ﷺ تردې وخته پورې اولاد نه وو او زمانه یې دبوډا والی راغلې وه چې عادتًا په دې وخت کې اولاد نه سې پیدا کیدی ، که څه هم دالله ﷻ په قدرت باندې د دوی پوره عقیده وه چې هغه ذات په دې زوړوالی کې هم اولاد راکولی سی . لیکن دالله ﷻ دداسې عادت ده په ډاګه نندارہ نه وه کړې چې هغه بې موقعې اوبې موسمه شیان ورکوی ، په دې وجه دده داولاد دپاره ددعا کولو جرات نه وو سوی (یعنی زړه یې نه وو) ، لیکن په دې وخت کې چې کله ده

ولیده چی الله ﷻ حضرت مریمی علیها السلام ته بی موسمه میوی ورکړی نو اوس دی هم په سوال کولو باندی زړه ورسوچی کوم قادر مطلق بی موقعی میوه ورکولی سی هغه بی موقعی اولاد هم ورکولی سی.

قَالَ رَبِّ هَبْ لِيْ مِنْ لَّدُنْكَ ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً .

ددی آیت څخه معلومه سوه چی د اولاد دپاره دعا کول دپیغمبرانو اونیکانو سنت دی.

په یوبل آیت کی دالله ﷻ ارشاد دی. وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا رُسُلاً مِّنْ قَبْلِكَ وَجَعَلْنَا لَهُمْ اَزْوَاجًا وَّذُرِّيَّةً . یعنی لکه څنګه چی نبی کریم ﷺ ته بیبیانی او اولاد ورکول سوی وه ، دغه شان دا نعمت تیرو پیغمبرانو ته هم ورکول سوی وو ، اوس که یو سړی په څه ذریعه سره د اولاد دپیدا کیدو څخه دبندیدو کوشش کوی ، نو دی یوازی دا نه چی دفطرت خلاف دبغاوت جنډه (بیرغ) لوړ وی بلکه دپیغمبرانو دیو شریک اواتفاقی سنت څخه به هم ځان محرومه کوی ، نبی کریم ﷺ خو دنکاح او اولاد مسئلی ته دومره اهمیت ورکړي دی چی دی ﷺ داسی سړی ته په خپل جماعت (ډله) کی دشامیلدو اجازت هم نه ورکوی ، کوم چی دواده کوزدی او اولاد څخه سره دطاقته منع کوی ، لکه چی فرمایی.

اَلنِّكَاحُ مِنْ سُنَّتِيْ فَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِيْ فَلَيْسَ مِنِّيْ .

یعنی نکاح زما سنت دی ، څوك چی ددی سنتو څخه منع کوی هغه زما څخه نه دی.

وَتَزَوَّجُوا الْوَدُوْدَ الْوَلُوْدَ فَاِنِّيْ مُكَاثِرٌ بِكُمُ الْاُمَمَ :

اوتاسی دخاوند سره د دوستی ساتلو والا او د ډیرو کوچنیانو راوړلو والا سره نکاح کوی څکه چی زه به ستاسی دډیروالی په وجه باندی په نورو امتونو فخر کوم.

په یوبل آیت کی الله ﷻ دداسی خلکو صفت کوی چی داولاد اودښځو دحاصلولو او د دوی دنیك اوصالح کیدو دپاره دخپل الله ﷻ څخه سوالونه کوی لکه ارشادِ باری تعالی دی.

وَالَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ اَزْوَاجِنَا وَذُرِّيّٰتِنَا قُرَّةَ اَعْيُنٍ .

دالله ﷻ فرمانبرداره خلک داسی دی چی دا دعا کوی چی مونږ ته زمونږ ښځی اوکوچنیان داسی راکی چی په لیدو یی زمونږ سترګی یخی او زړه خوشحاله سی.

حضرت حسن بصری رحمه الله فرمایی چی دلته دسترګو دیخوالی څخه مراد دا دی چی خپله ښځه اوکوچنی دالله ﷻ په عبادت کی مشغول ووینی.

په یوحدیث کی راځی چی نبی کریم ﷺ ته ام سلیم رضی الله عنها درخواست وکی چی ته ﷺ دخپل خادم انس رضی الله عنه دپاره څه دعا وفرمایه نوده ﷺ دهغه دپاره داسی دعا وغوښته.

اَللّٰهُمَّ اَكْثِرْ مَالَهُ وَوَلَدَهُ وَبَارِكْ لَهُ فِيْمَآ اَعْطَيْتَهُ .

یعنی ای الله! دده (انس رضی الله عنه) مال او اولادزیات کی او په هغه کی ورته برکت ورکی کوم چی تاده ته ورکړي

دی ددی دعادا اثروسو چی دانس ﷺ ترسلو پوری اولاد وسواوالله ﷻ ده ته دمال فراخی هم ډیره ورکړه.

فَنَادَتْهُ الْمَلٰٓئِكَةُ وَهُوَ قَآئِمٌ يُّصَلِّيْ فِي الْمِحْرَابِ ۙ اَنَّ اللّٰهَ يُبَشِّرُكَ

بیا ده ته اواز وکړی ملائکو کله دی ولاړوو په لمانځه په حجره کی چی الله تاته خوشخبری درکوی

بِيَحْيٰى مُصَدِّقًاۢ بِكَلِمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ وَسَيِّدًا وَّحَصُوْرًا وَّنَبِيًّا

دیحی چی شاهدی ورکوی دالله دحکم او سردار به وی اوښځی ته به نه ورځی اونبی

مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۳۹﴾

به وی دصالحانو

لنډتفسير: نو آواز وکړی ده ته ملائکو کله چی دی ولاړ وو لمونځ يی کوی په محراب کی چی الله ﷻ تاته زيری درکوی ديحيی (په نامه زوی درکولو) چی حالات به يی دا وی چی دی به دکلمة الله (يعنی دحضرت عيسیٰ ﷺ دنبوت) تصديق کوونکی وی او (دوهم) مقتدا (ددين) به وی او (دريم) خپل دنفس به (دخوندونو څخه) ډير منع کوونکی وی او (څلورم) نبی به هم وی او (پنځم) داعلی درجی نيك به وی.

معلومات اومسئلي: كَلِمَةُ الله ، عيسیٰ ﷺ ته كلمة الله په دی وجه سره وايی چی دی محض دالله ﷻ په حکم سره دعادت څخه خلاف بی له واسطی دپلار څخه پيدا سوی دی.

حَصُوْرًا : دحضرت يحيیٰ ﷺ دا دريم صفت بيان سوی دی چی دی به خپل دنفس دخوندونو څخه ډير بندونکی وی او دخوندونو څخه په ځان ساتلو کی دمباحو خواهشونو څخه ځان ساتل هم دا خل دی ، مثلاً ښه خوراك ښه جامه اونكاح او نوركول ، ددی وصف دصفت په موقع باندی دبيانولو څخه په ظاهره داسی معلوميږی چی ښه طريقه دا ده ، حال دا دی چی په احاديثوکی دنكاح ښه والی ثابت دی ، نو ددی تحقيق دا دی چی دکوم سړی حالت دحضرت يحيیٰ ﷺ په شان وی چی په ده دآخرت فکر دومره غالب وی چی ددی غلبی په وجه نه دښځی ضرورت محسوس کوی اونه ورته داهل اوعيال دحقونو دادا کولو فرصت وی نو دداسی سړی دپاره داسی ښه ده په دی وجه سره په کومو احاديثوکی چی دنكاح ښه والی راغلی دی هلته ورسره دا قيد هم ذکر دی چی ، مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمُ الْبَاءَةَ : يعنی کوم سړی چی دنكاح کولو قدرت لری اودخاوندوالی حقونه اداکولی سی نو دهغه دپاره نكاح كول ښه دی اوکه داسی نه وی نو بيانه دی ښه (بيان القرآن)

قَالَ رَبِّ اَنّٰى يَكُوْنُ لِيْ غُلٰمٌ وَّقَدْ بَلَغَنِيَ

وی ويل ای ربه! دکومه به وی ماله اولاد (زوی) اورسيدلی دی ماته

الْكِبَرُ وَامْرَاَتِيْ عَاقِرٌ ۭ قَالَ كَذٰلِكَ اللّٰهُ يَفْعَلُ مَا يَشَاۗءُ ۝۴۰ قَالَ

زوروالي او ښځه زما شنده ده وی فرمایل دغه شان الله کوی چی څه غواړی ، وی ویل

رَبِّ اجْعَلْ لِّيْٓ اٰيَةً ۭ قَالَ اٰيَتُكَ اَلَّا تُكَلِّمَ النَّاسَ ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ

ای ربه مقرر کړه زما دپاره څه نښانه، وي فرمایل نښه ستا دا ده چی خبری به نه سی کولی دخلقو سره دری ورځی

اِلَّا رَمْزًا ۭ وَاذْكُرْ رَّبَّكَ كَثِيْرًا وَّسَبِّحْ بِالْعَشِيِّ وَالْاِبْكَارِ ۝۴۱ ع

مگر په اشاره سره اویادوه خپل رب ډیر او تسبیح وایه دماښام او دسهار .

لنډتفسیر: (حضرت) زکریا ؑ (په دربار دالله ﷻ کی عرض وکی) چی ای زما پروردگاره! زما به څنگه هلك وسی حال دا دی چی ماته زوړوالي راغلي دی او زمابی بی هم (دزوړ والی دوجی څخه) دکوچنی پیدا کولو قابله نه ده الله ﷻ ورته (په جواب کی) وفرمایل چی هم په داسی حالت کی به هلك وسی څکه چی الله ﷻ دڅه اراده کوی نو کوی یی ده عرض وکی چی ای ربه! (نوبیاخو) زمادپاره څه نښانه مقرره کی (چی په هغه سره ماته معلومه سی چی اوس حمل وسو) نوالله ﷻ وفرمایل چی ستانښانه دا ده چی ته به دخلکو سره تردرو ورځو پوری خبری نه سی کولی غیر د (لاس یاسر اونور د) اشاری څخه (چی کله دا نښانه ووینی نو پوه سه چی اوس به زماپه کورکی حمل سوی وی) او (په دغه زمانه کی چی کله دی دخلکو سره دخبرو کولو قدرت پاته نه سی دالله ﷻ په ذکر به قادر یی نو) خپل رب (په زړه سره هم) ډیر یادوه او (په ژبه سره هم) تسبیح (اوپاکی) بیانوه دماښام هم او دسهار هم (ولی چی دذکر الله قدرت به هغه وخت هم پوره کیږی)

معلومات اومسئلي

(دحضرت زکریا ؑ دعا او ددی حکمت)

اَنّٰى يَكُوْنُ لِيْ غُلٰمٌ : حضرت زکریا ؑ سره ددی چی په قدرت دالله ﷻ یی عقیده هم وه اونښانی یی پرلپسی په داگه لیدلی هم وی او هم په خپله یی درخواست کړی وو اودایی هم علم وو چی قبلیږی به ، بیا هم ددی دومره خبرو سره ددی ویناڅه معنی ده چی څنگه به هلك وسی ؟ خبره په حقیقت کی دا ده چی دده دا سوال کول دالله ﷻ په قدرت کی دشك کولو په وجه سره نه وو بلکه مقصد دده په دی سوال کولو سره طریقه معلومول وه ، چی آیا زمونږ د دواړو ښځی اوخاوند چی کوم موجوده حالت دی چی دواړه ښه پوره بوډاگان یو هم دا حالت به وی اوکه نه په دی کی به څه بدلون راځی ، الله ﷻ ورته په جواب کی وفرمایل چی نه ، تاسی به دواړه هم دغه شان بوډاگان یاست اوپه دی حالت کی به ستاسی

کوچنی وسی نو اوس په دی کی څه اشکال پاته نه سو (بیان القرآن)
قَالَ اٰيَتُكَ اَلَّا تُكَلِّمَ النَّاسَ ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ اِلَّا رَمْزًا : دحضرت زکریا علیه السلام دنښانی معلوملو څخه دا مقصد وو چی مونږ ژرخوشحاله سوا و دکوچنی ترپیدا کیدو مخکی په شکرکی مشغول سونو الله ﷻ ورته دانښانه مقرره کړه چی ته به تردرو ورځو پوری دخلکو سره بغیر داشاری څخه هیڅ خبری نه سی کولی په دی نښانه کی خویو دا رازدی چی دنښانی په درخواست کولو سره چی دده کوم یو مقصد وو چی شکر اداکړم نونښانه یی ورته داسی مقرره کړه چی بغیر ددغه کاریعنی شکرکولو څخه به دی بل کارکولی هم نه سی دسلو ۱۰۰ نښانو څخه یوه نښانه سوه اومقصدهم ورڅخه ښه په اعلی درجه سره حاصل سو (بیان القرآن)
اِلَّا رَمْزًا: ددی آیت څخه معلومه سوه چی کله خبری کول گران سی نو اشاره به په ځای دخبری وګڼل سی لکه چی په یوحدیث شریف کی راځی چی نبی کریم ﷺ دیوی مینځی څخه پوښتنه وکړه چی اَيْنَ اللهُ ﷻ چیری دی نوهغی دآسمان طرف ته اشاره وکړه، نونبی کریم ﷺ وفرمایل چی دامینځه مسلمانه ده (قرطبی)

وَاِذْ قَالَتِ الْمَلٰٓئِكَةُ يٰمَرْيَمُ اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰىكِ وَطَهَّرَكِ
او کله چی وویل ملائکو ای مریم! الله تعالی ته خوښه کړی یی او پاکه کړی یی

وَاصْطَفٰىكِ عَلٰى نِسَآءِ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۴۲﴾ يٰمَرْيَمُ اقْنُتِيْ لِرَبِّكِ
اوغوره کړی یی ته دټولی دنیا پرښځو باندی ، ای مریمی! بندګی کوه دخپل رب

وَاسْجُدِيْ وَارْكَعِيْ مَعَ الرّٰكِعِيْنَ ﴿۴۳﴾
اوسجده کوه او رکوع کوه درکوع کونکو سره .

لنډتفسیر: (اوهغه وخت هم دیادولو قابل دی) کله چی ملائکو (حضرت مریمی علیها السلام ته) وویل چی ای مریمی! بیشکه الله ﷻ ته منتخب (یعنی مقبوله) کړی یی او (دټولو ناخوښه کارونو اوخویونو څخه) یی پاکه کړی یی او (دا مقبول جوړول ستا دیوی ښځی یا دوو په نسبت سره نه دی بلکه ددی زمانی، دټول جهان دبیبیانو په مقابله کی یی ستا انتخاب کړي دی (اوملائکو دا هم وویل چی) ای مریمی ! بندګی کوه دخپل پروردګار اوسجده (یعنی لمونځ ادا) کوه او (په لمانځه کی) رکوع (هم) کوه دهغه خلکو سره چی رکوع کوونکی وی .

معلومات اومسئلې: وَاصْطَفٰكِ عَلٰى نِسَآءِ الْعٰلَمِيْنَ : څخه مراد په هغه زمانه کی دټول جهان ښځی دی نوپه دی وجه په حدیث کی د: سَيِّدَةُ نِسَآءِ اَهْلِ الْجَنَّةِ فَاطِمَةُ ارشاد ددی سره څه منافات نه لری.
وَارْكَعِيْ مَعَ الرّٰكِعِيْنَ: دلته یی د اِرْكَعِيْ سره قید دمَعَ الرّٰكِعِيْنَ ذکر کی ، لیکن د وَاسْجُدِيْ سره یی

د مَعَ السّٰجِدِيْنَ قيد ذكر نه كي ددي څخه په ظاهره دي طرف ته اشاره سوه چي خلګ په عام طور سره په ركوع كولو كي كوشش نه كوي بلكه لږ كښته سي بياژر پورته سي دا قسم ركوع ولاړي ته نژدي وي نو په دي وجه په ظاهره داسي معلوميږي چي الله ﷻ د را كِعِيْنَ قيدځكه ذكركي چي خلګوته نمونه وښيي چي ستاسي ركوع دي دكامل ركوع كوونكوپه شان وي .

ذٰلِكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ الْغَيْبِ نُوْحِيْهِ اِلَيْكَ ۚ وَمَا كُنْتَ لَدَيْهِمْ اِذْ يُلْقُوْنَ اَقْلَامَهُمْ اَيُّهُمْ

داخبرونه دغيبودي چي مونږ يي تاته لږو ، او ته نه وي د دوي سره كله چي دوي غورځول خپل قلمونه چي څوك

يَكْفُلُ مَرْيَمَ ۪ وَمَا كُنْتَ لَدَيْهِمْ اِذْ يَخْتَصِمُوْنَ ﴿۴۴﴾

به پرورش كي اخلي مريم لره او نه وي ته د دوي سره كله چي دوي جګړه كوله .

لنډتفسير: دا قصي (كومي چي لوړ ذكرسوي دنبي كريم ﷺ په اعتبار سره په دي وجه چي د دوي سره څه ظاهري ذريعه ددي دمعلومولو نه وه) دغيبو خبرونه دي چي په وحي سره يي مونږ تاته ليږو (ددي په ذريعه سره به ته دا خبرونه معلوم كي نوروته به يي ښيي) او (ښكاره ده چي كومو خلګودحضرت مريمي عليهاالسلام په ساتلوكي اختلاف كوي چي فيصله يي په آخركي په هسكه مقررسوه) ته ددي خلګوسره نه په هغه وخت كي موجود وي كله چي هغو (دهسكي په طور سره) خپل خپل قلمونه (په اوبوكي) وغورځول (او صورت دهسكي ايستلو يي دا مقرر كړي وو چي دچا قلم په اوبوكي دكښته څخه پورته د اوبو خلاف روان سي هغه به مستحق ګڼل كيږي نو دهسكي څخه غرض ددي خبري معلومول وو) چي په دي ټولوكي به كوم سړي دحضرت مريمي عليهاالسلام كفالت (پرورش) كوي (نوته نه دغه وخت موجود وي) اونه ته د دوي سره هغه وخت موجود وي كله چي دغه خلګو (اول دهسكي څخه په دي دعوه كي) ديو بل سره اختلاف كوي (چي ددغه اختلاف ددفع كولو دپاره هسكه مقرره سوه او ددي خبرونو دمعلومولو دپاره دنورو وسيلو نيستوالي هم په يقين سره معلوم دي نو په داسي حالت كي دا غيبي خبرونه ستادنبوت دليل دي)

معلومات اومسئلي: مسئله : په شريعت محمدي ﷺ كي داحنافو په مذهب دهسكي حكم دا دي چي دكومو حقونواسباب په شريعت كي معلوم اومتعين وي په هغه كي هسكه كول ناجائز دي اوپه خُماركي دا خل دي ، مثلاً يومشترك يعني شريك شي وي چي دټولو حقونه په كښي برابر وي اوپه هغه هسكه كوي چي دچاهسكه وخته هغه به يي واخلي اونوربه ورڅخه محرومه سي يادپوكوچني په نسب كي اختلاف وي نو چي دچادنامه هسكه وخيژي هغه به يي پلارګڼل كيږي ، مثلاً شريك كور دي زيد اوعمرو يي تقسيموي نو هسكه په دي وكي چي كه دچاهسكه وخته هغه به مشرقي حصه اخلي او دچا دا چي پاته سوه دهغه به مغربي حصه سي دا ځكه جائز دي چي بغيردهسكي څخه هم كه دواړه شريكان

متفق سی نو داسی کیدی سی او دقاضی په فیصله هم داسی کیدی سی او جائز دی (بیان القرآن)
یاداسی ووایه چې کوم ځای دټولو شریکانو حقونه برابر وی هلته یوطرف دیوه سړی دپاره په هسکه متعین کول جائز دی .

إِذْ قَالَتِ الْمَلَٰٓئِكَةُ يَٰمَرْيَمُ إِنَّ اللَّهَ يُبَشِّرُكِ بِكَلِمَةٍ مِّنْهُ اسْمُهُ الْمَسِيحُ

هرکله چې وویل ملائکو ای مریم ! الله تا ته زیری در کوی دیو خپل حکم چې نوم یې مسیح دی

عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ وَجِيهًا فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَمِنَ الْمُقَرَّبِينَ ﴿٤٥﴾

عیسی زوی دمریم مرتبې والا په دنیا کې او په آخرت کې او دالله دنژدیکانو څخه

وَيُكَلِّمُ النَّاسَ فِي الْمَهْدِ وَكَهْلًا وَمِنَ الصَّٰلِحِينَ ﴿٤٦﴾

او خبری به کوی دخلقو سره کله چې دمور په غیږ کې وی او کله چې دپوره عمر وی او دنیك بختو څخه دی

لنډتفسیر: (هغه وخت یاد کړه) کله چې ملائکو (حضرت مریمی علیها السلام ته دا هم) وویل چې ای مریمی ! بیشکه الله ﷻ تاته زیری درکوی دیوی کلمی چې دطرفه دالله ﷻ څخه به وی (یعنی دیوه کوچنی دپیدا کیدو چې بی له واسطی دپلار څخه دپیدا کیدو په سبب به ورته کلمة الله وایی) دده نوم (اولقب) به مسیح عیسیٰ زوی دمریم وی (دده به دا حالت وی چې) باعزته به وی (دالله ﷻ په نزد) په دنیاکی (به هم دده ته نبوت ورکول سوی وی) او په آخرت کی به (هم چې دخپل امت دمؤمنانو په باره کی به یې شفاعت قبول وی) او (لکه څنګه چې به په ده کی دنبوت او شفاعت صفت وی چې ددی تعلق دنورو سره هم دی ، دغه شان دذاتی کمال صفت به په کښی هم وی) من جلمه دنژدیکانو څخه (په نزد دالله ﷻ) به وی او (صاحب دمعجزو به هم وی) دانسانانو سره به (په دواړو حالتونوکی یوشان) خبری کوی په زانګوکی (یعنی بالکل په کوچنیوالی کی هم) او په لوی عمرکی (هم په دواړو خبروکی به یی فرق نه وی) او (داعلی درجی) دنیك بختو خلکو څخه به وی .

معلومات اومسئلي

(دعیسي ؑ دراکبنته کیدو یو دلیل په لوی عمرکي هم دحضرت عیسیٰ ؑ خبری معجزه ده)

په دی آیت کی دحضرت عیسیٰ ؑ یوصفت دا هم ښوول سوي دی چې دی به په کوچنیوالی په زانګوکی چې کله یوکوچنی دخبرو کولو صلاحیت (طاقت) نه لري په دغه حالت کی به هم دی خبری کوی چې په یو بل آیت کی داسی راغلی دی چې کله خلګو دده ترپیدا کیدو وروسته په حضرت مریمی ؑ باندی دتهمت لګولو په وجه بدی ردی ویل شروع کړل نو دی نوی پیدا سوی کوچنی حضرت عیسیٰ

ﷺ وویل ، اِنِّیْ عَبْدُ اللهِ الخ او ددی سره یی دا هم وفرمایل چی کله دی دزوړوالی په عمرکی سی دغه وخت به هم دخلګو سره خبری کوی ، دلته دا خبره دغور کولو قابله ده چی دکوچنیوالی په حالت کی خوخبری کول یومعجزه او نښانه وه ، ددی ذکر خو دلته کول مناسب دی ، لیکن دزوړوالی په وخت کی خبری کول خو یو داسی شی دی چی هریو انسان مومن کافر عالم جاهل یی کولی سی ، دلته ددی په طور دیوخاص صفت سره ذکرکول څه معنیٰ لری ، ددی سوال یوجواب خو دغه دی کوم چی دبیان القرآن په لنډتفسیرکی تیرسو چی مقصد په اصل کی دکوچنیوالی دخبرو بیان کول دی خوددی سره دلوی عمر دخبرو کولو ذکرپه دی غرض سره وسوچی دده دکوچنیوالی خبری به هم داسی نه وی لکه چی کوچنی یی په اول کی کوی بلکه دهوښیارانو اوعالمانو فصیح اوبلیغ کلام به وی ، لکه چی دزوړ عمرخلق یی کوی ، اوکه دحضرت عیسیٰ ﷺ په واقعه او دده په پوره تاریخ باندی غور وسی ، نودلته دزوړوالی دعمر دخبروکولو ذکر دیوی جلا لویی فائدی دپاره کیدی سی اوهغه داچی داسلامی او قرآنی عقیدی په مطابق باندی حضرت عیسیٰ ﷺ ژوندی آسمان ته پورته سوی دی.

دروایاتو څخه ثابته ده چی دده دپورته بیولو په وخت کی دحضرت عیسیٰ ﷺ عمر تقریبًا ددیرشو پنځه دیرشو کالوپه مینځ کی وو، چی عین دځوانی زمانه وه ، زوړ عمر چی په عربی کی ورته کهل وایی خو دهغه په دی دنیاکی ګر سره سوی نه دی ، نو په دی وجه په زوړ عمر کی دخلګو سره خبری کول خو هلته کیدی سی کله چی هغه دوباره دنیاته تشریف راوړی ، نو پس لکه چی څنګه دده دکوچنیوالی خبری کول معجزه وه دغه شان دده دزوړ والی دعمر خبری کول هم معجزه ده.

قَالَتْ رَبِّ اَنّٰى یَكُوْنُ لِیْ وَلَدٌ وَّلَمْ یَمْسَسْنِیْ بَشَرٌ ؕ قَالَ كَذٰلِكِ اللّٰهُ

وی ویل ای ربه ! دکومه څخه به وی ماته زوی اوماته خو لاس نه دی را وړی یو سړی وی ویل هم دغه شان الله ﷻ

یَخْلُقُ مَا یَشَآءُ ؕ اِذَا قَضٰۤى اَمْرًا فَاِنَّمَا یَقُوْلُ لَهٗ كُنْ فَیَكُوْنُ ﴿۴۷﴾

پیدا کوی څه چی غواړی ، هرکله چی اراده وکړی دیو کار نو هم دا وایی هغه ته چی اوسه نو پس هغه وسی.

لنډتفسیر: حضرت مریمی ﷺ وویل ای زما پروردګاره! څه رنګه به سی زما کوچنی حال دا دی چی ماته یو سړی (په طور دکوروالی) لاس نه دی راوړی (اویوکوچنی په جائزه طریقه سره عادةً بغیر دسړی څخه نه سی پیدا کیدی ، نو معلومه نه ده چی هم دغه شان دخدای ﷻ په قدرت سره به کوچنی وسی اوکه به ماته دنکاح حکم کول کیږی) الله ﷻ ورته (په جواب کی دملائکی په واسطه سره) وفرمایل هم دغسی (بغیر دسړی څخه) به وسی (ځکه چی) الله ﷻ څه چی غواړی هغه پیدا کوی (یعنی دڅه شی دپیدا کولو دپاره یوازی دهغه غوښتنه پوره ده ، دڅه خاص واسطی یاسبب هغه ته حاجت نسته او

دهغه دغوښتلو طريقه دا ده چي) کله دغه شي پوره کول وغواړي نو هغه ته وايي چي (موجود) سه نو
هغه شي (موجود) سي (نو کوم شي ته چي بي داسبابو او واسطو دموجود کيدو ووايي نو هغه هم دغه
شان (بي له اسبابو او واسطو څخه) موجود سي.

وَيُعَلِّمُهُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَالتَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِيْلَ ﴿۴۸﴾ وَرَسُوْلًا

او وبه ښيي ده ته كتاب او ډېرې خبرې او تورات او انجيل ، او كړي به دي رسول

اِلٰى بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ۙ۵ اَنِّيْ قَدْ جِئْتُكُمْ بِاٰيَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ ۙ اَنِّيْٓ

بني اسرائيلو ته بيشكه زه راغلی يم تاسي ته دنښانو سره ستاسي درب طرف څخه

اَخْلُقُ لَكُمْ مِّنَ الطِّيْنِ كَهَيْـَٔةِ الطَّيْرِ فَاَنْفُخُ فِيْهِ فَيَكُوْنُ

چي زه جوړوم تاسي ته دختو څخه دمرغه شكل بيا به په هغه کي .پف کوم نو سي به هغه

طَيْرًا بِاِذْنِ اللّٰهِ ۚ وَاُبْرِئُ الْاَكْمَهَ وَالْاَبْرَصَ وَاُحْيِ الْمَوْتٰى

الوتونكي مرغه دالله په حكم سره او ښه كړم مور زاد ړوند اوپيس او ژوندي كوم مړي

بِاِذْنِ اللّٰهِ ۚ وَاُنَبِّئُكُمْ بِمَا تَاْكُلُوْنَ وَمَا تَدَّخِرُوْنَ ۙ فِيْ بُيُوْتِكُمْ ۙ

دالله په حكم سره او ښيم تاسي ته كوم چي خوري تاسي او كوم چي ساتي تاسي په خپلو كورونو كي

اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۴۹﴾ وَمُصَدِّقًا لِّمَا

په دي كي پوره ښښي دی تاسی ته كه تاسي يقين لرئ. او رېښتوني كوم دهغه

بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرٰىةِ وَلِاُحِلَّ لَكُمْ بَعْضَ الَّذِيْ حُرِّمَ

مخكي كتاب چي تورات دی او ددي دپاره چي حلال كړم په تاسي ځيني هغه شيان چي حرام وو په تاسي

عَلَيْكُمْ وَجِئْتُكُمْ بِاٰيَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ ۟ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿۵۰﴾

او راغلي يم تاسي ته دنښو سره ستاسي درب څخه پس ويرېږئ دالله څخه او زما خبره ومنئ

اِنَّ اللّٰهَ رَبِّيْ وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْهُ ۭ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ ﴿۵۱﴾

بيشكه الله دی رب زما او رب ستاسي پس دهغه بندگي كوئ دا لار سيده ده.

لنډتفسير: (او اې مريمې! ددې نيك بخت كوچنى به دا فضيلتونه وي چې) الله ﷻ به ده ته ور ازده كړي (آسماني) كتابونه او دپوهې خبرې او (خاص) تورات او انجيل او دې به (ټولو) بني اسرائيلو ته (پيغمبر جوړ كي او ددې مضمون سره به يې) ولېږي (د اَنِّيْ قَدْ جِئْتُكُمْ څخه تر مُسْتَقِيْمٌ پورې يعنى) ما تاسې خلكو ته (په خپل نبوت) پوره دليلونه راوړي دي هغه داچې زه ستاسې د (يقين كولود) پاره دختو څخه يو داسې شكل جوړوم ، لكه دمرغه دشكل په شان بيا په دې (جوړ سوي شكل) كې دننه پُف كوم چې په هغه سره به دده څخه (په رښتيا سره روح لرونكى) مرغه جوړ سي دخداى ﷻ په حكم سره (يوه معجزه خو دا سوه) او زه ښه كومه دمورخخه پيدا ړوند او پيس ناروغه اوژوندي كومه مړي دخداى ﷻ په حكم سره (دا دوهمه او دريمه معجزه سوه) اوزه تاسې ته ښيم هرڅه چې تاسې په كورونو كې خوړلي دي اوڅه چې (په كورونو كې تاسې) ايښي دي (دا څلورمه معجزه سوه) بېشكه په دې (معجزو ذكر سوو) كې (زما دپيغمبرۍ) پوره دليل دى ستاسې دپاره كه تاسې ايمان راوړل غواړۍ اوزه په دې طور سره راغلى يم چې رښتيني كوم هغه كتاب چې ترما مخكې (نازل سوى) دى يعنى تورات او ددې دپاره راغلى يم چې په تاسې خلكو ځيني داسې شيان حلال كړم چې (په شريعت دموسىٰ ﷺ كې) په تاسې حرام سوي وه (نو د دوى حراموالى به زما په شريعت كې منسوخ وي) او (زما دا دعوه دمنسوخ كولو بې دليله نه ده بلكه ماثابته كړي ده چې) ما تاسې ته (دنبوت) دليل راوړى دى (اودا دنبوت قول زما په دعوه دنسخ كې دليل دى) حاصل دا چې (كله زمانبي كيدل په دليلونو سره ثابت سوه نو زما دښوونې موافق) تاسې خلگ دالله ﷻ (دحكم دمخالفت) څخه وبيرېږي او (ددين په باره كې) زما خبره ومنى (او خلاصه زما ددينى تعليم دا ده چې) بېشكه الله ﷻ زمارب دى اوستاسې هم رب دى (دا حاصل دى دعقيدې دمكمل كيدو) پس تاسې خلگ دهغه (رب) عبادت كوى (دا حاصل سوه دعمل دكامل كيدو) بس دا ده لاره برابره (ددين چې دعقيدې او دعملونو دواړو تكميل (مكمل والى) په كښې وسو په دې سره نجات اوالله ﷻ ته رسيدل حاصليږي.

معلومات اومسئلي: مسئله : دمرغه شكل جوړول تصوير وو چې په دغه شريعت كې جائزوو ، زمونږ په شريعت كې اوس ددې جائزوالى منسوخ سوى دى يعنى اوس تصوير جوړول جائز نه دى .

فَلَمَّآ اَحَسَّ عِيْسٰى مِنْهُمُ الْكُفْرَ قَالَ مَنْ اَنْصَارِيْٓ اِلَى اللّٰهِ ؕ قَالَ

نو كله چې معلوم كې عيسى ﷺ دبنى اسرائيلو څخه كفر وى ويل څوك دي چې زما مدد وكړي دالله په لاره كې

الْحَوَارِيُّوْنَ نَحْنُ اَنْصَارُ اللّٰهِ ۚ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ ۚ وَاشْهَدْ بِاَنَّا مُسْلِمُوْنَ ﴿۵۲﴾

وويل حواريانو چې مونږ يو مدد كوونكي دالله مونږ يقين راوړو په الله او ته شاهد سه چې مونږ حكم قبول كي

رَبَّنَآ اٰمَنَّا بِمَآ اَنْزَلْتَ وَاتَّبَعْنَا الرَّسُوْلَ فَاكْتُبْنَا مَعَ الشّٰهِدِيْنَ ﴿۵۳﴾

ای ربه امونږ یقین وکی په هغه شی چی تانازل کی اومونږ تابع سو درسول نو ته ولیکه مونږ په منونکو کی.

لنډتفسير: (غرض دا دی چی تردغه ذکر سوی زیری وروسته حضرت عیسیٰ ﷺ په دغه ډول پیدا سو او دبنی اسرائیلو سره یی هم په دغه طریقه خبری وسوی اومعجزی یی ښکاره کړی مگر بنی اسرائیل دده دنبوت څخه منکر پاته سوه) نو هرکله چی حضرت عیسیٰ ﷺ د دوی څخه انکار ولیدی (او دانکار کولو سره سره ده ته په آزار رسولو هم ورپسی سول او اتفاقًا څه خلگ داسی ده ته پیدا سوه چی حواریان به یی ورته وویل) نو (دغه حواریانو ته) ده وفرمایل څوک داسی سړی به هم وی چی (په حق دین کی دمخالفت کوونکو اوانکار کوونکوپه مقابله کی) زما مددگارسی دالله ﷻ دپاره (چی په دی سره ددین په دعوت کی ماته ضرر ونه رسوی) حواریانو وویل چی مونږ یو مددگار دالله ﷻ (ددین) مونږ په الله ﷻ باندی (ستا ددعوت مطابق) ایمان راوړو اوته په دی (خبره) شاهد سه چی مونږ (دالله ﷻ اوستا) فرمانبردار سو (بیا دزیات اهتمام اومحکمی دپاره یی الله ﷻ ته مناجات وکی چی) ای زمونږ ربه ! مونږ ایمان راوړی په هغه شیانو (یعنی په هغه احکامو) چی تانازل کړي دی او فرمانبرداری اختیارکړه مونږ د (دی) رسول پس (زمونږ ایمان قبول کی) مونږ دهغه خلگو سره ولیکی چی (ددی ذکر سوو خبرو) تصدیق کوی (یعنی دکاملو مومنانو په تولی کی مونږ هم شمار کی)

معلومات اومسئلي: قَالَ الْحَوَارِيُّوْنَ: لفظ دحواری دحَوَرَ څخه جوړ دی چی معنٰی یی په لغت کی سپینوالی دی په اصطلاح کی دحضرت عیسیٰ ﷺ مخلصو ملگرو ته د دوی د اخلاص او دصفایی دزړه په وجه سره یا د دوی دسپینو جامو په وجه سره دحواری لقب ورکړل سو، لکه دنبی کریم ﷺ ملگرو ته چی دصحابی لقب ورکړل سوی دی.

خینو مفسرینو دحواریانو شمیر دوولس ښوولی دی ، اوکله لفظ دحواری مطلق دمددگار په معنٰی کی هم استعمالیږی ، په دی معنٰی سره په یوحدیث کی ارشاد فرمایی ، چی دهر نبی حواری یعنی مخلص ملگری وی زما حواری زبیر ﷺ دی (تفسیر قرطبی)

ضروری فائده: په دی آیت کی یی فرمایلی دی چی حضرت عیسیٰ ﷺ ته هرکله چی دخلگو کفر او مخالفت معلوم سو نو دغه وخت دمددگارانوپه تلاش کی سو وی فرمایل ، مَنْ اَنْصَارِیْ الخ په اول کی دنبوت دکار او دعوت شروع کولو په وخت کی یوازی په حکم دعمل کولو دپاره پورته سوی وو اول دخه پارتی یاجماعت جوړولو په فکر کی نه وو ، خو کله چی ضرورت پیښ سو ، نو یو جماعت غوندی جوړ سو چی دی ته فکر وسی نو هر یو کار هم دغه ډول قصد او همت غواړی.

وَمَكَرُوْا وَمَكَرَ اللّٰهُ ؕ وَاللّٰهُ خَيْرُ الْمٰكِرِيْنَ ﴿۵۴﴾ اِذْ قَالَ اللّٰهُ يٰعِيْسٰٓى اِنِّىْ

اومکرو کی دی کافرانو او مکرو کی الله او د الله تدبیر د ټولو څخه ښه دی، هغه وخت چی وویل الله ﷻ ای عیسی!

مُتَوَفِّيْكَ وَرَافِعُكَ اِلَىَّ وَمُطَهِّرُكَ مِنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَ

زه اخلم تا او پورته کوم دی خپل طرف ته او پاکومه تا د کافرانو څخه

جَاعِلُ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْكَ فَوْقَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ ۚ

او ساتم هغه چی ستا تابع دی غالب په هغو خلقو چی انکار کوی د قیامت تر ورځی پوری

ثُمَّ اِلَىَّ مَرْجِعُكُمْ فَاَحْكُمُ بَيْنَكُمْ فِيْمَا كُنْتُمْ فِيْهِ تَخْتَلِفُوْنَ ﴿۵۵﴾

بیا ما ته ستاسی د ټولو راتلل دی بیا به فیصله وکړم په تاسی کی په کومه خبره کی چی تاسی دعوه کوله.

تفسیر: او دغه خلکو (چی په بنی اسرائیلو کی دده د نبوت څخه منکر وه ده ته د هلاکولو اوده ته د ضرر رسولو د پاره) پټ تدبیرونه وکړه (نو په مکر او حیله سره یی دی ګرفتار کی او راخ‌ړولو (په دار کولو) ته یی تیار سوه) او الله ﷻ (دده د محفوظ ساتلو د پاره) پټ تدبیر وکی (چی د دی د حقیقت دغه خلکو ته هم پته ونه لګیده، څکه چی د دغه مخالفینو څخه یو سړی د حضرت عیسیٰ ؑ په شکل جوړ سو او حضرت عیسیٰ ؑ یی آسمان ته لوړ کی په دی سره دی محفوظ پاته سو او هغه هم شکل یی په دار سو، دی خلکو ته د دی تدبیر ګرسره هیڅ پته ونه لګیده نو په دفع کولو به یی څه قدرت راغلی وای) او الله ﷻ تر ټولو تدبیر کوونکو ښه دی (څکه چی د نورو تدبیرونه کمزوری وی او کله بی وخته او بی موقع هم وی او د الله ﷻ تدبیرونه قوی هم وی او همیشه د خیر او حکمت موافق وی او دا تدبیر الله ﷻ په هغه وخت کی وفرمایی) کله چی الله ﷻ (حضرت عیسیٰ ؑ ته چی د ګرفتاری په وخت کی پریشانه او په تَرَدُّد کی سو) وفرمایل ای عیسیٰ (هیڅ غم مه کوه) بیشکه زه ستا (په خپل مقرر وخت او طبعی مرګ سره) وفات کوونکی یم (نو چی ستا د پاره طبعی مرګ مقرر دی نو دا ښکاره خبره ده چی د دی دښمنانو په لاسونو د په دار کولو او روح ورکولو څخه به محفوظ اوسی) او (فی الحال) زه تا خپل (لوړ عالم) طرف ته لوړوم او ستا د دی خلګو (د تهمت) څخه پاکوونکی کړم چی (ستا څخه) منکر دی، او کوم خلک چی ستا خبره منونکی دی د دوی غالب ساتونکی یم په هغه خلګو چی (ستا څخه) منکر دی د قیامت تر ورځی پوری (که څه هم دا وخت د دی منکرینو غلبه او قدرت دی) بیا (کله چی قیامت راسی هغه وخت) به زما طرف ته د ټولو واپسی وی (د دنیا او د برزخ څخه) نو زه به (د غه وخت) ستاسی (ټولو) په مینځ کی (عملی) فیصله وکړم په هغه کارونو کی په کومو کی چی تاسی اختلافات کوله (چی په دی ټولو کی دعوه د حضرت عیسیٰ ؑ هم ده)

(په آیت کې دضروري الفاظو تشريح)

ددی آیت په الفاظو اوپه معناؤ کی ځینو فریقو بدلون (یعنی دځانه غلط تاویل) کړي دی چی دټول امت خلاف دحضرت عیسیٰ ﷺ دژوند اوآخره زمانه کی یی دراکښته کیدو څخه منکر دی.

وَاللهُ خَيْرُ الْمٰكِرِيْنَ: لفظ د (مکر) په عربی ژبه کی باریك اوپټ تدبیرته ویل کیږی نوکه دښه مقصد دپاره وی نوښه دی اوکه دبد مقصد دپاره وی نوبد دی، په دی وجه یی په (وَلاَ يَحِيْقُ الْمَكْرُ السَّيِّءُ) کی دمکر سره د السَّيِّءُ قید لګولی دی، په پښتو او اُردو ژبو اومحاورو کی مَکْر صرف دسازش اوبیکاره تدبیر اوحیلی دپاره استعمالیږی نو په عربی محاورو ددی شبهه نه سی کیدی، په دی وجه یی دلته خدای پاك ته خَيْرُ الْمٰكِرِيْن ویلی دی، مطلب دا دی چی یهودو دحضرت عیسیٰ ﷺ خلاف قسم قسم سازشونه اوپټ تدبیرونه شروع کړل تر دی چی دباچا په غوږکی یی دا خبره واچوله چی دا سړی (معاذ الله) مُلحِد دی تورات بدلول غواړی ټول خلګ بَدْ دینه کوی، نوهغه دحضرت مسیح ﷺ دګرفتاری حکم ورکی، هلته دا کیده او دیخواته الله ﷻ باریك اوپټ تدبیر ددی دماتولو دپاره (یعنی د دوی ددی تدبیر دناکام کولو دپاره) کوی، چی ددی ذکر په راتلونکی آیت کی دی (تفسیر عثمانی)

اِنِّيْ مُتَوَفِّيْكَ: دلفظ مُتَوَفِّيْ مصدر توفی اوماده یې: وفیٰ: ده ددی اصلی معنٰی دعربی لغت په اعتبار سره (پوره پوره اخیستل) دی، وفاء ایفاء استیفاء ددی معنٰی دپلره ویل کیږی، د توفی هم اصلی معنٰی دپوره پوره اخیستلوده، دعربی ژبی ټول دلغت کتابونه په دی شاهددی، اوکله چی دمرګ په وخت کی انسان خپله مقرره نیته پوره کوی او دخدای ﷻ ورکړی روح پوره پوره اخیستل کیږی، په دی مناسبت سره دالفظ په طور دکنایی دمرګ په معنٰی کی هم استعمالیږی، اودمرګ یوه سپکه غوندی نمونه روزانه دانسان خوب دی، ددی دپاره هم په قرآن کریم کی ددی لفظ استعمال سوی دی: اللهُ يَتَوَفَّى الْاَنْفُسَ حِيْنَ مَوْتِهَا وَالَّتِيْ لَمْ تَمُتْ فِيْ مَنَامِهَا: ددی ترجمه دا ده چی، الله ﷻ اخلی روحونه د دوی دمرګ په وخت کی او دچاچی مرګ نه وی راغلی د دوی دخوب په وخت کی.

حافظ ابن تیمیة رحمه الله په الجواب الصحیح ص۸۳ ج۲) کی فرمایی: اَلتَّوَفِّيْ فِيْ لُغَةِ الْعَرَبِ مَعْنَاهَا الْقَبْضُ وَالْاِسْتِيْفَاءُ وَذٰلِكَ ثَلٰثَةُ اَنْوَاعٍ اَحَدُهَا التَّوَفِّيْ فِي النَّوْمِ وَالثَّانِيْ تَوَفِّي الْمَوْتِ وَالثَّالِثُ تَوَفِّي الرُّوْحِ وَالْبَدَنِ جَمِيْعًا.

(ترجمه: په عربی لغت کی دتوفی معنٰی ده قبض کول اوپوره پوره اخیستل او دا په دری قسمه دی یو وفات کول دخوب دی دوهم دمرګ او دریم قبض کول دی دروح اوبدن دواړو)

اوپه کلیات دابوالبقاء کی دی: اَلتَّوَفِّيْ اَلْاِمَاتَةُ وَقَبْضُ الرُّوْحِ وَعَلَيْهِ اِسْتِعْمَالُ الْعَامَّةِ اَوِ الْاِسْتِيْفَاءُ وَاَخْذُ الْحَقِّ وَعَلَيْهِ اِسْتِعْمَالُ الْبُلَغَاءِ (ترجمه: عام خلق دتوفی معنٰی مرګ اوروح قبض کول وایی او بلیغان اوپوهان یی معنٰی پوره اخیستل اوحق اخیستل وایی)

په دی وجه په ذکر سوی آیت کی دلفظ د مُتَوَفِّيْكَ ترجمه اکثرو حضراتوپه پوره اخیستوسره کړي ده،

لکه چي په ترجمه دشيخ الهند کي ذکر ده ، ددي ترجمي په لحاظ سره مطلب ښکاره دي ، چي زه تاديهودو په لاس کي نه پاته کوم ، بلکه تاپه خپل لاس کي اخلم چي طريقه به يې دا وي چي تابه آسمان ته لوړ کړم، اوځينو حضراتو ددي ترجمه په مرګ ورکولو سره کړي ده ، لکه چي دبيان القرآن په لنډ تفسير کي لوړه ذکر ده او دا ترجمه دقرآن دتفسير کوونکي حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ څخه په صحيح سندونو سره نقل سوي ده ، ليکن ددي سره دا هم نقل سوی دی ، چي معنی دآيت دا ده چي الله ﷻ دغه وخت کله چي يهود دده په قتل کولو پسي سوی وه ، دده دتسلي دپاره يې دوه لفظونه ارشاد وفرمايل ، يودا چي ستا مرګ د دوی په لاسونو دقتل په صورت کي نه دی ، بلکه دطبعي مرګ په صورت کي به وي دوهم دا چي دغه وخت ددي خلګو دپنجي څخه دخلاصولو دپاره به مونږ دا طريقه وکړو چي تابه خپل طرف ته پورته کړو، دا تفسير دحضرت ابن عباس ﷺ څخه نقل سوی دی ، په تفسير دُرِّ منثور کي دحضرت ابن عباس ﷺ دا روايت په دي شان سره نقل سوی .

أَخْرَجَ إِسْحٰقَ بِنِ بُشْرٍ وَابْنِ عَسَاكِرٍ مِنْ طَرِيقِ جَوْهَرَ عَنِ الضَّحَّاكِ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ فِيْ قَوْلِهِ تَعَالٰى : إِنِّي مُتَوَفِّيْكَ وَرَافِعُكَ إِلَيَّ يَعْنِي رَافِعُكَ ثُمَّ مُتَوَفِّيْكَ فِيْ آخِرِ الزَّمَانِ (دُرِّ منثور ج۲ ص۳۶)

اسحق بن بشر اوابن عساکر په روايت دجوهر دضحاك څخه دحضرت ابن عباس ﷺ څخه دآيت ، إِنِّي مُتَوَفِّيكَ وَرَافِعُكَ إِلَيَّ په تفسير کي دالفظ نقل کړي دي چي زه به تاخپل طرف ته پورته کړم بيابه دي په آخره زمانه کي په طبعي مرګ سره مړ کړم .

ددي تفسير خلاصه دا ده چي دتوفّي معنی مرګ دی مګر په الفاظو کي مخکي والي او وروسته والي دی د: رَافِعُكَ واقع کيدل به مخکي وي اود : مُتَوَفِّيكَ دا به وروسته وي ، اودلته د مُتَوَفِّيكَ په مخکي ذکر کولو کي حکمت اومصلحت ددي ټولي معاملي طرف ته اشاره کول دي چي مخکي کيدونکي ده، يعني دا دځان طرف ته رابلل دهميشه دپاره نه دي دځو ورځو دپاره دي اوبيابه ته دي دنياته راځي اوپر دښمنانوبه فتح پيداکي اوبيابه په طبعي طورسره ستامرګ واقع سي، په دي شان سره دوباره دآسمان څخه نازليدل اوپه دنيا ترفتح پيداکولو وروسته ورته دمرګ راتلل يوه معجزه هم وه اودحضرت عيسٰی ﷺ عزت او اکرام پوره کول هم ، او دارنګه په دي کي دعيسايانو دالوهيت (خدايي) دعقيدي باطل والي هم وو، که داسي نه واي نو دده آسمان ته په ژوندي تللو سره ددوی داباطله عقيده پخيده چي دی هم دالله ﷻ په شان حيّ قيّوم دی ، په دي وجه يې اول د مُتَوَفِّيكَ لفظ وفرمايي د دوی ټول غلط خيالات يې باطل کړه ، بيايې خپل طرف ته دبللو ذکر وفرمايي .

اوحقيقت دا دی چي دکفارو اومشرکانو مخالفت او دښمني دپيغمبرانو سره همېشه را روانه ده اوعادت دالله ﷻ دا دی چي کله ديو نبي قوم په خپلو فکرونو اوضدونو باندي کلك سي ، دپيغمبر خبره نه مني او د دوی دمعجزو ترليدلو وروسته هم ايمان رانه وړي ، نوپه دوو صورتونوکي ورسره

يوصورت سوي دی ، يايي په دی قوم دآسمان څخه عذاب راليږلی دی تول يی فنا کړي دی ، لکه عاديان ثموديان اوقوم دلوط اوقوم دصالح سره چی سوی دی ، يا بيا دا صورت سوی دی چی په خپل پيغمبر يی ددغه دار الكفر څخه هجرت کړي دی بل طرف ته يی ليږلی دی اوهلته يی ده ته هغه طاقت اوشان ورکړي دی چی بيايی په دی خپل قوم باندی فتح پيدا کړي ده ، حضرت ابراهيم ﷺ دعراق څخه هجرت وکی شام ته راغی هلته يی پناه واخيسته ، دغه شان حضرت موسیٰ ﷺ دمصرڅخه هجرت وکی شام ته يی تشريف راوړی ، اوپه آخرکی خاتم الانبياء ﷺ دمکی څخه هجرت وکی مدينی طيبی ته يی تشريف راوړی ، بيايی دهغه ځای څخه حمله وکړه مکه يی فتح کړه ، ديهودو دپنجی څخه دساتلو دپاره دا آسمان ته بلل يی هم په حقيقت کی يوقسم هجرت وو ، چی تردی وروسته به دی دوباره دنياته راشی په يهودو به مکمله فتح حاصله کی .

پاته سوه دا معامله چی دده دا هجرت ترټولو جلا دآسمان طرف ته ولی دی ؟ نو الله ﷻ ددی په باره کی په خپله فرمايلی دی چی دده مثال دآدم ﷺ په شان دی ، څنگه چی دحضرت آدم ﷺ پيدايشت دعامو مخلوقاتو دپيدائش دطريقی څخه مختلف بغير دمور اوپلار څخه دی ، دغه ډول دده پيدائش دعامو انسانانو دپيدائش څخه په مختلف صورت سره وسو ، اومرگ يی هم په نااشنا اوعجيبه طريقه سره په ستورنو کلونه وروسته دنياته به راسی اوعجيبه به وی ، نو په دی کی څه تعجب دی چی دده هجرت دی هم په داسی عجيبه طريقه وی .

هم دا عجيبه قدرتونه دناپوهو نصاراؤ دپاره په دی عقيده کی داخته کيدوسبب جوړ سوه چی ده ته يی خدای ويل شروع کړه ، حال دا دی چی که ددی عجائباتو په هرقدم اوهر شی باندی غور وسی نوپه هره يوه واقعه کی دده بنده والی اوبندگی اودالله ﷻ دحکم تابعداره کيدل او دده دبشری خويونو دليلونه دی ، او په دی وجه په هره داسی موقع باندی قرآن حکيم دده دخدايی دعقيدی باطلولوته اشاره کړي ده ، آسمان ته په وړلو سره داشبهه ډيره قوی کيږی په دی وجه يي ، مُتَوَفِّيكَ اول بيان کړه او ددی شبهی خاتمه يی وکړه ، ددی څخه معلومه سوه چی په دی آيت کی ديهودو ردخو خاص مقصود دی ، چی يهودو کوم چی دحضرت عيسیٰ ﷺ دقتل کولو اودپه دار کولو قصدکوی ، الله ﷻ د دوی ارادی په خاورو کی واچولی ، ددی مخکی والی او وروسته والی دالفاظو په ذريعه ددی سره دنصاراؤ په عقيده هم رد وسوچی دی خدای نه دی چی دمرگ څخه خلاص دی ، بلکه يو وخت به داسی راځی چی دی به په هغه کی هم مری ، امام رازی ﷺ په تفسير کبيرکی فرمايي چی په قرآن کريم کی دغه شان مخکی والی وروسته والی ددغه شان مصلحتونو دپاره ډير راغلی دی چی کومه واقعه وروسته کيدونکی وه هغه يی اول اواوله واقعه يی وروسته فرمايلی ده (تفسيرِ کبير ص۴۸۱ ج۱)

وَرَافِعُكَ اِلَيَّ: ددی مطلب ښکاره دی چی حضرت عيسیٰ ﷺ ته خطاب سوی دی ورته ويل سوی دی

چې تاخپل طرف ته پورته کوم اوهرڅوك پوهیږي چې دعیسیٰ نوم یوازي دروح نه دی بلکه دروح اوجسم دواړو په جمع دی نودحضرت عیسیٰ ﷺ ذپورته کولو څخه دا مطلب اخیستل چې یوازي روح یې پورته سوی دی جسماني نه دی پورته سوی بالکل غلط دی ، پاته سوه دا خبره چې رفع کله دمرتبې پورته کولو دپاره هم استعمالیږي ، لکه چې په قرآن کریم کې دی ، وَرَفَعَ بَعْضَكُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجَاتٍ او يَرْفَعِ اللهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ اونورو آیتونوکې ذکر دی .

نو دا ښکاره خبره ده چې لفظ د رَفع د درجه په معنیٰ کې استعمالول یو مجاز دی چې دقرینوپه بناء سره په ذکر سوو آیتونوکې سوی دی اودلته حقیقي معنیٰ پاته کول دمجازي معنیٰ اخیستلوڅه وجه نسته ، ددې څخه علاوه دلته یې دلفظ د رفع سره لفظ د الیٰ استعمال کی ، ددې مجازي معنیٰ احتمال یې بالکل ختم کړي دی ، په دې آیت کې یې رَافِعُكَ إِلَيَّ وفرمایل اودسورة نساء په آیت کې کوم ځای چې دیهودو دعقیدې ذکرسوی دی هلته هم داسې فرمایي ، وَمَا قَتَلُوهُ يَقِينًا : بَلْ رَفَعَهُ اللهُ إِلَيْهِ : یعنې یهودیانو یقینًا چې حضرت عیسیٰ ﷺ نه دی قتل کړی بلکه هغه الله ﷻ خپل طرف ته پورته کړي دی ، خپل طرف ته پورته کول دروح سره دبدنه ژوندي پوته کولوته ویل کیږي ، تردې ځایه پورې دآیت دالفاظو تشریح وسوه .

(په ذکر سوي آیت کې دحضرت عیسیٰ ﷺ سره دالله ﷻ پنځه وعدې)

په دې آیت کې الله ﷻ دیهودو په مقابله کې دحضرت عیسیٰ ﷺ سره پنځه وعدې فرمایلې دي .

اوله وعده : ترټولو اوله وعده دا وه چې دده دمرګ به دیهودو په لاسونو دقتل په ذریعه نه وي ، بلکه په طبعي طور سره به په خپله مقرره نیټه وي او دغه مقرر وخت به قیامت ته نژدې راسي ، کله چې حضرت عیسیٰ ﷺ دآسمان څخه مځکې ته نازل سي ، لکه چې په صحیح اومتواترو احادیثوکې ددې تفصیل موجود دی اوڅه حصه به یې مخ ته راسي .

دوهمه وعده: فی الحال عالم بالاته دپورته کولو وه ، دایې په هغه وخت کې پوره کړه چې ددې دپوره کولو خبر دسورة نساء په آیت کې داسې ورکول سوي دی ، وَمَا قَتَلُوهُ يَقِينًا: بَلْ رَفَعَهُ اللهُ إِلَيْهِ يقنًا: دی یهودو نه دی قتل کړی ، بلکه الله ﷻ خپل طرف ته پورته کی .

دریمه وعده: ددې دښمنانو دتهمتونو څخه دپاکولو وه ، وَمُطَهِّرُكَ مِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا او دا داسې پوره سوه چې خاتم الانبیاء ﷺ تشریف راوړی اودیهودو ټول غلط الزامونه یې صفا کړه ، مثلاً یهودو دحضرت عیسیٰ ﷺ بغیر دپلار څخه دپیدا کیدوپه وجه سره دده په نسب باندې طعن کوی ، قرآن کریم دا الزام داسې صفاکې چې داسې یې وفرمایل چې دی محضې دالله ﷻ په قدرت او دهغه په حکم سره بې پلاره پیدا سو، او دا څه دتعجب خبره نه ده دحضرت آدم ﷺ پیدائش ترده زیات دتعجب شی دی چې دمور اوپلار دواړو څخه بغیر پیدا سو .

یهودیانو په حضرت عیسٰی ﷺ دخدایی ددعوی الزام لګوی ، قرآن کریم په ډیرو آیتونوکی دحضرت عیسٰیﷺ ددی په خلاف دخپلی بندګی اوبنده والی اوبشروالی اقرارنقل کړي دی .

خلورمه وعده: په وَجَاعِلُ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْكَ : کی ده چی ستا تابعداران به ستا په منکرانو باندی تر قیامته پوری غالب ساتل کیږی ، دا وعده داسی پوره سوه چی دلته دتابعدارانو څخه مراد دحضرت عیسٰی ﷺ دنبوت عقیده لرل اواقرار مراد دی ، دده په ټولو احکامو باندی ایمان اوعقیده شرط نه ده ، نو په دی شان سره نصارا اومسلمانان دواړه په دی کی دا خل سوه چی دوی دحضرت عیسٰی ﷺ دنبوت اورسالت عقیده لری ، دا دوهمه خبره ده چی یوازی دومره عقیده دآخرت دنجات دپاره پوره نه ده ، بلکه دآخرت نجات په دی باندی موقوف دی چی دحضرت عیسٰی ﷺ په ټولو احکاموباندی عقیده اوایمان ولری او دحضرت عیسٰی ﷺ په قطعی اوضروری احکاموکی یو دا هم ووچی ترهغه وروسته په خاتم الانبیآء ﷺ به هم ایمان راوړی ، نصاراؤ خو ورباندی عقیده اوایمان اختیار نه کی ، په دی وجه دآخرت دنجات څخه محرومه پاته سوه مسلمانانو په دی باندی هم عمل وکی ځکه دآخرت دنجات لایق سوه ، لیکن په دنیا کی په یهودو باندی دغالب پاته کیدو وعده یوازی دحضرت عیسٰی ﷺ په نبوت باندی موقوفه وه ، دغه ددنیا غلبه نصاراؤ اومسلمانانو ته په مقابله دیهودوکی همیشه حاصله سوي ده اویقینًا ترقیامته پوری به وی .

دکله څخه چی الله ﷻ دا وعده فرمایلی وه دهغه وخت څخه ترننه پوری همیشه دا لیدل سوي ده چی دیهودو په مقابله کی همیشه نصارا اومسلمانان غالب راغلی دی ، د دوی حکومتونه په دنیاکی قائم سوی اوپاته سوی دی .

(داسرآئیلو دموجوده حکومت څخه په دی څه شبه نه سي کیدی)

ځکه چی اول خو ددی حکومت حقیقت ددی څخه ماسوا نه دی چی دا دروس اویورپ دنصاراؤ شریکه چاونی (فوجی اډه) ده چی دوی دمسلمانانو خلاف قائمه کړي ده ، دیوی ورځی دپاره هم که دروس او امریکی حکومت اویورپ دنورو ملکونو حکومتونه خپل لاس د دوی دسر څخه لیری کی نو ددنیا دنقشی څخه که د دوی وجود وران سوی به ټوله دنیا ووینی ، په دی وجه دیهودو یااسرائیلو داحکومت دحقیقت پیژندونکو خلکو په نظرکی یو مجاز کیدی سی تر دی زیات یی هیڅ حقیقت نسته ، اوکه بالفرض دا د دوی خپل حکومت هم ومنل سی نو دنصاراؤ اومسلمانانو دمجموعی په مقابله کی د دوی دمغلوب اومقهور (قهر وهل) کیدو څخه یو دعقل خاوند انکار نه سی کولی اوکه دا هم دپامه وغورځول سی نو (بیا جواب دا دی چی) قریب قیامت ته دیوڅو ورځو دپاره خو دیهودو دغلبی خبر په خپله په اسلام کی په متواترو روایتونو سره موجود دی که ددی دنیا اوس زیات نورباقی پاته کیدل نه وی اوقیامت نژدی سوی وی نو ددی حکومت کیدل هم داسلامی روایاتو څخه

خلاف نه دي او داسي ديوځو ورځو شور او شغب ته سلطنت يا حکومت نه سي ويل کيدی.
پنځمه وعده: دقيامت په ورځ ددي مذهبي اختلافونو دفيصلي کولو دغه وعده به هم په خپل وخت خامخا پوره سي لکه چي په آيت کي ارشاد دی، ثُمَّ اِلَیَّ مَرۡجِعُکُمۡ فَاَحۡکُمُ بَیۡنَکُمۡ.

(مسئله دحيات (ژوند) او د نزول (را کښته کيدو) دعيسيٰ ﷺ)

په دنياکي يوازي ديهودو دا وينا ده چي حضرت عيسیٰ ﷺ قتل سوی او په دار سوی دفن سوی دی اوبيا ژوندی سوی نه دی او د دوی ددی خيال حقيقت قرآن کريم دسورة نسآء په آيت کي ښکاره کړي دی او په دي آيت کي هم په وَمَکَرُوۡا وَمَکَرَ اللّٰهُ کي دی طرف ته اشاره سوي ده چي الله ﷻ دحضرت عيسیٰ ﷺ ددښمنانو مکر او تدبير په خپله د دوی طرف ته واپس کی، چي کوم يهوديان دحضرت عيسیٰ ﷺ دقتل کولو دپاره کور ته دننه تللی وه په هغوی کي ديوسړي شکل اوصورت بدل سو، بالکل دحضرت عيسیٰ ﷺ په صورت جوړ سو او حضرت عيسیٰ ﷺ ژوندی آسمان ته وختی، دآيت الفاظ دا دي، وَمَا قَتَلُوۡهُ وَمَا صَلَبُوۡهُ وَلٰکِنۡ شُبِّهَ لَهُمۡ: نه دوی عيسیٰ ﷺ قتل کی او نه يي په دار کی، ليکن دالله ﷻ تدبير دوی په شبهه کي واچول (چي دخپل سړي په قتلولو خوشحاله سوه) ددی زيات تفصيل به په سورة نسآء کي راسي (انشآء الله تعالیٰ)
دنصاراو وينا ده چي حضرت عيسیٰ ﷺ قتل او په دار خو سو مگر بيا دوباره ژوندی سو او آسمان ته پورته سو، په دي ذکر سوی آيت کي يي د دوی دغه غلط خيال هم رد کی، او دا يي وښوول چي لکه څنگه چي يهوديانو خپل سړي قتل کي خوشحالي يي کولي نو دغه شان عيسايان په دي دوکه سوه چي دا قتل سوی حضرت عيسیٰ ﷺ دی نو په دي وجه د شُبِّهَ لَهُمۡ مصداق ديهودو په شان نصارا هم سوه.
ددي دواړو ډلو په مقابله کي داسلام دغه عقيده ده کومه چي په دي آيت او په نورو ډيرو آيتونو کي په وضاحت سره بيان سوي ده چي الله ﷻ دي ديهودو دلاسو څخه دخلاصولو دپاره ژوندی آسمان ته پورته کي نه يي دی قتل کړای سوای او نه په دار وخيژول سو هغه ژوندی په آسمان کي موجود دی او قيامت ته نژدي به دآسمان څخه راکښته سي په يهودو به فتح پيداکی، او په آخرکي به په طبعي مرگ سره وفات پيدا کی په دي عقيده دټول مسلمان امت اجماع او اتفاق دی، حافظ ابن حجر رحمه الله په تلخيص الحبير ص۳۱۹) کي دا اجماع نقل کړي ده، دقرآن مجيد دډيرو آيتونو او داحاديثو په متواترو روايتونو او په اجماع دامت سره دا عقيده ثابته ده، دلته ددي دپوره تفصيل موقع هم نسته اوضرورت يي هم نسته، ځکه چي دامت عالمانو دا مسئله په جلا کتابونو اورسالو کي پوره پوره واضحه کړي ده او ددي څخه دانکار کوونکو جوابونه يي په تفصيل سره کړي دي، دهغه کتل کافي دي، مثلاً دحضرت حجة الاسلام مولانا سيدمحمد انور شاه کشميری رحمه الله کتاب په عربي ژبه عقيدة الاسلام في حياة عيسیٰ ﷺ دحضرت مولانا بدرعالم صاحب مهاجرمدني کتاب په اُردو ژبه حيات

عیسیٰ ﷺ دمولانا سیدمحمد ادریس صاحب کتاب حیات مسیح ﷺ اونوری هم په سوونو وړی اولویې رسالې په دې مسئله باندې چاپ سوې اومشهورې سوې دي ، احقر هم په حکم داستاذ محترم حضرت مولانا سیدمحمد انورشاه صاحب کشمیری ﷺ ترسلو زیات احادیث چې دهغه څخه دحضرت عیسیٰ ﷺ ژوندي پورته کول اوبیا قیامت ته نژدې راکښته کیدل په تواترسره ثابتیږي یومستقل کتاب التصریح بماتواتر فی نزول المسیح کې جمع کړي دي ، چې اوس دحاشیې اوشرح سره دشام یوبزرگ علامه عبدالفتاح ابو غدة په بیروت کې چاپ کړي دي .

اوحافظ ابن کثیر دسورة احزاب دآیت ، وَاِنَّهٗ لَعِلْمٌ لِلسَّاعَةِ په تفسیر کې لیکلي دي .

وَقَدْ تَوَاتَرَتِ الْاَحَادِيْث عَنْ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ اَنَّهُ اَخْبَرَ بِنُزُوْلِ عِيْسٰى قَبْلَ يَوْمِ الْقِيٰمَةِ اِمَامًا عَادِلاً الخ،

یعنې دنبي کریم ﷺ احادیث په دې باره کې متواتر دي چې ده ﷺ دحضرت عیسیٰ ﷺ مخکې ترقیامت دنازلیدو خبر ورکړي دی .

دحضرت عیسیٰ ﷺ ژوندي آسمان ته دلوړولو اوژوندي اوسیدو اوبیا قیامت ته نژدې دنازلیدو عقیده دقرآن کریم په قطعي نصوصو اوپه متواترو احادیثو سره ثابته ده چې دامت عالمانو دمستقلو کتابونو او رسالو په صورت کې شائع کړي ده چې دځینو نومونه لوړ لیکل سوي دي ، دمسئلې دمکمل تحقیق دپاره د دوی طرف ته رجوع کول په کار دي .

دلته یوازې دیوې خبرې طرف ته ستاسې فکر راګرځوم چې که څوك دي ته وګوري نوکه لږ عقل او انصاف په چا کې وي نو په دې مسئله کې به یې هیڅ شك اوشبهه پاته نه سي ، هغه دا ده چې دسورة آل عمران په یوولسمه رکوع کې الله ﷻ دتیرو پیغمبرانو ذکر وفرمایی ، نودحضرت آدم ﷺ نوح ﷺ آل دابراهیم ﷺ آل دعمران دټولو ذکر یې په یوه آیت کې اجمالاً (یعني سرسري) وفرمایی ، تردې وروسته یې په درو ۳ رکوع ګانو یادوه ویشتو۲۲ آیتونو کې دحضرت عیسیٰ ﷺ او دده دخاندان بیان داسې اوږد بحث اوپه تفصیل سره وکی چې په خپله دخاتم الانبیاء ﷺ چې قرآن ورباندې نازل سو دهغه ذکر هم په دومره تفصیل سره نه دی راغلی ، دحضرت عیسیٰ ﷺ دآنا ذکر دهغې دنذر بیان دمور پیدائش نوم او د پرورش (پالنې) ذکر یې په تفصیل سره دحال ترپیدا کیدو وروسته یې مورڅه وخوړل څه یې وڅښل ددې ذکر خپل خاندان ته دکوچني راوړل دهغوی بدې ردې دپیداکیدو سره سم په طور دمعجزې خبرې کول بیا څوانیدل اوقوم ته دعوت دهغوی مخالفت دحوارینو امداد دیهودیانو هجوم دده آسمان ته ژوندي پورته کول اونور بیاپه متواترو احادیثوکې دده زیات صفتونه شکل صورت دجامو اونورپوره تفصیل ، داداسې حالات دي چې په ټول قرآن اوحدیث کې دیوه نبي اورسول حالات په داسې تفصیل سره نه دي بیان سوي ، دا خبره هرانسان ته دفکربلنه ورکوي چې داسې ولې اوپه څه حکمت سره سوي دي ، که لږ هم فکر وسي نو دا خبره صفاکیږي چې حضرت خاتم الانبیاء ﷺ کله چې

آخری نبی اورسول دی بل نبی ترده وروسته راتلونکی نسته ، په دی وجه ده ﷺ په خپلو تعلیماتوکی ددی خبری ډیر انتظام وفرمایی چی ترقیامته پوری کمی کمی مرحلی او منزلونه چی امت ته په مخکی راتلونکی دی دهغه په باره کی ښوونی وکړی ، نوپه دی وجه ده ﷺ یوطرف ته دا انتظام وفرمایی چی ترده ﷺ وروسته به دتابعداری قابل کوم خلګ وی د دوی ذکر یی په بنیادی طورسره دعامو صفتونو سره هم بیان کی ، دځینو حضراتو نومونه یی هم وښوول امت ته یی دهغوی دتابعداری تاکید وفرمایی اود دوی په مقابل کی یی دهغو ګمراهو خلګوهم پته وښووله چی دهغوی څخه دامت دین ته خطره وه .

په وروسته راتلونکو ګمراهوانوکی ترټولو لوی سړی مسیح دجال وو چی دده فتنه ډیره ګمراه کوونکی وه ، دده یی دومره حالات اوصفات بیان کړل چی دده دراتلو په وخت کی امت ته دده په ګمراهی کی دڅه شك اوشبهی ځای پاته نه سی ، دغه شان په وروسته راتلونکو اصلاح کوونکو او داقتداء په قابلو بزرګانو کی تر ټولو زیات لوی حضرت عیسٰی ﷺ دی چی الله ﷻ په نبوت او رسالت سره ولمانځی اوپه فتنه ددجال کی یی دمسلمان امت دامداد دپاره ژوندی په آسمان کی وساتی اوقیامت ته نژدی به هغه ددجال دقتلولو دپاره مامور سی ، په دی وجه ضرورت ووچی دده حالات اوصفات هم امت ته په ډاګه وښوول سی ، چی تر دی وروسته بیا دحضرت عیسٰی ﷺ دنزول په وخت کی دده په پیژندوکی څه شك اوشبه پاته نه سی .

په دی کی ډیر حکمتونه اومصلحتونه دی ، اول دا چی که امت ته دده په پیژندلوکی اشکال (ګران والی) پیښ سی، نو دده دراکښته کیدو مقصد به پوره نه سی ، مسلمانان به دده سره ملګری نه سی، نودی به د دوی مدد څنګه وکړای سی .

دوهم دا چی حضرت عیسٰی ﷺ به که څه هم دغه وخت دنبوت اورسالت په کارونو سره ماموره سوی دنیاته نه راځی ، بلکه دامت محمدی دمشری اوامامت دپاره به په طور دخلیفه درسول ﷺ تشریف راوړی ، مګرکومه ذاتی مرتبه دنبوت او رسالت چی ده ته حاصله ده دهغه څخه به معزوله سوی هم نه وی ، بلکه دغه وخت به دده مثال دهغه والی په شان وی چی دخپل ولایت والی دی مګر په یو ضرورت سره بل ولایت ته تللی دی ، نو دی که څه هم په دغه ولایت کی خودوالی په حیثیت سره نه دی مګر دخپل منصب دوالی توب څخه معزوله هم نه دی ، لنډه دا چی حضرت عیسٰی ﷺ به دغه وخت هم دنبوت او رسالت دصفت څخه جلانه وی اولکه څنګه چی دهغه دنبوت څخه انکار اول کفر وو دغه وخت به هم کفر وی نومسلمان امت چی د اول څخه دهغه په نبوت دقرآنی ارشاداتو مطابق ایمان راوړی دی ، نوکه دنزول په وخت کی دی ونه پیژنی نو په انکارکی به اخته سی په دی وجه دهغه نښو نښانو اوصفتونو ته ډیر زیات ښکاره کولو ضرورت وو .

دریم دا چی دحضرت عیسٰی ﷺ دنزول واقعه به ددنیاپه آخری عمر کی راپیښیږی ، نوکه نښی نښانی

یې شکمنې وي نوممکنه وه چې بل سړی دعویٰ وکې چې زه مسیح عیسیٰ ابن مریم یم، نو په دې نښانو سره به دهغه تردید کول کیږي لکه چې په هندوستان کې مرزا قادیاني دعوه وکړه چې زه مسیح موعود یم او دامت عالمانو ددې نښوپه وجه سره دهغه وینا ردکړه .

لنډه دا چې په دې ځای کې اوپه نورو ځایونوکې دحضرت عیسیٰ ﷺ حالات اوصفات په دومره تفصیل سره بیان کیدل په خپله دهغه قیامت ته نژدې په نازلیدو او دوباره دنیاته دتشریف راوړو خبر ورکوي ، احقر دا مضمون په پوره وضاحت سره په خپله اُردو رساله (مسیح موعود کی پهچان \ دراتلونکي مسیح ﷺ پیژندګلوي) کې بیان کړي ده که څوك غواړي نو هغه دې وګوري .

فَأَمَّا الَّذِينَ كَفَرُوا فَأُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا فِي الدُّنْيَا

نو هغه خلق چې کافران سوه دوي لره به عذاب ورکړم عذاب سخت په دنیاکې

وَالْآخِرَةِ وَمَا لَهُم مِّن نَّاصِرِينَ ۝٥٦ وَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا

او آخرت کې اوڅوك به نه وي د دوي مدد ګار او هغه خلق چې ایمان یې راوړی اونیك

الصَّالِحَاتِ فَيُوَفِّيهِمْ أُجُورَهُمْ ۗ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الظَّالِمِينَ ۝٥٧

کارونه یې وکړل پس دوي لره به پوره ورکړي د دوي حق او الله نه خوښوي بې انصافه ،

ذَٰلِكَ نَتْلُوهُ عَلَيْكَ مِنَ الْآيَاتِ وَالذِّكْرِ الْحَكِيمِ ۝٥٨

دا وایو مونږ په تا باندې ایتونه اوبیان تحقیقي (یعني دحقیقت)

دآیتونو تړون: په لوړ آیت کې ویل سوي دي چې زه به ددې اختلاف کوونکو په مینځ کې دقیامت په ورځ عملي فیصله کوم په دې آیتونوکې ددغه فیصلې بیان دی .

لنډتفسیر: تفصیل (دفیصلې) دا دی چې کوم خلګ (په دې اختلاف کوونکوکې) کافران وه نو دوي ته به (د دوي په کفر باندې) سخته سزا ورکوم (په جمع په دواړو جهانوکې) په دنیاکې هم (چې هغه وسوه) اوپه آخرت کې هم (چې هغه پاته ده) او ددې خلګو به څوك مدد کوونکې (دله کوونکې) نه وي ، اوکوم خلګ چې مومنان وه اوهغوی نیك کارونه کړي وه ، نو دوي ته به الله ﷻ د دوي (دایمان اونیکو کارونو) ثواب ورکې او (کفاروته دسزا رسیدو وجه دا ده چې) الله ﷻ محبت نه ساتي د (داسې) ظلم کوونکوسره (کوم چې دخدای ﷻ یادپیغمبرانو څخه منکر وي ، یعنې کله چې دا ظلم ډیر لوی دی دمعافي قابل نه دی په دې وجه به ورباندې سخت غضب وسي سزا به پیداکي) دا (ذکر سوي قصه) مونږ تاته (په وحې سره) وایو اوروو چې (ستادلیل دنبوت) دي او دحکمت څخه ډك مضامین دي .

معلومات اومسئلې

(ددنیا مصیبتونه دکفارو دپاره نه جبیره کیږی او دمومن دپاره کفاره اوفائده کیږی)

فَأُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ . ددی آیت په مضمون باندی یوسپك غوندی اشکال راځی ، چې بیان دآخرت دفیصلې دی نو په دی کی ددنیا دعذاب څه معنٰی ده ځکه چی په دغه وخت کی خو به ددنیا سزا بیا نه وی .

نو ددی جواب دا دی چی ددی وینا داسی مثال دی لکه چی یو حاکم یو مجرم ته داسی ووایی چی دا وخت خو زه تاته یوکال قید درکوم خوکه په جیل خانه کی دی څه شرارت وکی نو دوه کاله سزا به درکړم فقط ددی مطلب به دا وی چی دا دوه کاله به دنن دتاریخ څخه وی نو په دی بناء باندی دا یقینی ده چی دشرارت څخه وروسته به د دوو کالو حکم صادر وی ، نو حاصل دا سو چی دشرارت په وجه به ورسره دیو کال بل جمع کولو په وجه ټول مجموعه قید دوه کاله سی .

نو دغه شان دلته کښل په کاردی چی ددنیا سزا خو سوی ده خو دآخرت سزا به ورسره پیوست کی نو دقیامت په ورځ به دټولی مجموعه سزا تکمیل وسی ، یعنی د دوی ددنیا سزا به دآخرت دپاره کفاره نه وی (چی ګویا دلته یی سزا خوړلی ده هلته به اوس سزانه وی بلکه په دنیاکی هم په عذاب کی وه او اوس په آخرت کی به هم د دوی دپاره عذاب وی) په خلاف دمومنانو چی په دوی که په دنیاکی مصیبت اونور راځی نوګناه یی معاف کیږی او دآخرت عذاب یی سپك اویادفع کیږی ، اوپه دی وجه یی د دوی طرف ته په لَا يُحِبُّ الظّٰلِمِيْنَ : سره ارشاد وفرمایی . یعنی ایماندار په سبب دایمان سره دالله ﷻ محبوب دی او دمحبوبو (خوښو) سره داسی معامله کیږی ، اوکافران په سبب دکفر سره دالله ﷻ په غضب کی وی او دغضب سوو سره داسی معامله نه سی کیدی (بیان القرآن)

إِنَّ مَثَلَ عِيسَىٰ عِندَ اللَّهِ كَمَثَلِ آدَمَ ۖ خَلَقَهُ مِن تُرَابٍ ثُمَّ قَالَ لَهُ كُن فَيَكُونُ ﴿٥٩﴾

بیشکه مثال دعیسی دالله په نزد په شان دمثال دادم دی جوړ یی کی دی دختو څخه بیایی وویل ده ته چی سه نو سو

الْحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَلَا تَكُن مِّنَ الْمُمْتَرِينَ ﴿٦٠﴾ فَمَنْ حَاجَّكَ فِيهِ

حق دغه دی چی ستارب یی وایی پس ته مه کیږه دشك کوونکو څخه بیاچی څوك جګړه کوی ستاسی په دی قصه

مِن بَعْدِ مَا جَاءَكَ مِنَ الْعِلْمِ فَقُلْ تَعَالَوْا نَدْعُ أَبْنَاءَنَا وَأَبْنَاءَكُمْ

کی وروسته ددی څخه چی راغی تاته خبر بنتینی پس ته ووایه راسی را وبه بلو مونږ خپل اولاد اوستاسی اولاد

وَنِسَاءَنَا وَنِسَاءَكُمْ وَأَنفُسَنَا وَأَنفُسَكُمْ ثُمَّ نَبْتَهِلْ فَنَجْعَل

او خپلی ښځی او ستاسی ښځی اوخپل خانونه اوستاسی خانونه ، بیا به ارزو وکو مونږ ټول اولعنت

لَعْنَتَ اللّٰهِ عَلَى الْكٰذِبِيْنَ ﴿٦١﴾ اِنَّ هٰذَا لَهُوَ الْقَصَصُ الْحَقُّ ۚ

به وکو دالله په هغو چي درواغجن وي بيشکه دا دي بيان رښتيني

وَمَا مِنْ اِلٰهٍ اِلَّا اللّٰهُ ۚ وَاِنَّ اللّٰهَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿٦٢﴾ فَاِنْ تَوَلَّوْا

اونسته دبندگی لايق ماسوا دالله څخه او بيشکه الله چي دی هغه دی زبردست حکمت والا بيا که دوی قبول

فَاِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بِالْمُفْسِدِيْنَ ﴿٦٣﴾

نه کړی نو الله تعالی ته معلوم دی فساد کوونکی.

تفسير: بيشکه حالت عجيبه د (حضرت) عيسیٰ ؑ دالله ﷻ په نزد (يعني دهغه په انتخاب ازلی کی) مشابه دی دحالت عجيبه د (حضرت) آدم ؑ سره چي ده آدم ؑ (يعني دده قالب) دخاورو څخه جوړ کی بيايی دی (قالب) ته حکم وکی چي (جاندار) سه نو هغه (جاندار) سو دا واقعی کار (چي لوړ ذکرسو) ستا دپروردگار دطرفه (نزول سوی) دی، نو ته دشك کوونکو څخه مه کيږه، نو څوك چي ستاسی سره دعيسیٰ ؑ په باره کی (اوس هم) دليل بازی کوی تاته تر (واقعی) علم راتلو وروسته نو ته (په جواب کی داسی) ووايه چي (ښه نوکه دليل نه منی نوبيا) راسی مونږ (اوتاسی) به راجمع کوو خپل اولاد اوستاسی اولاد اوخپلی ښځی اوستاسی ښځی اوخپل ځانونه اوستاسی ځانونه بيابه مونږ (په جمع سره) ښه په زړه سره دعا وکو داسی چي دالله ﷻ لعنت به وليږو په هغو چي (په دی بحث کی) په ناحقه وی بيشکه دا (څه چي) ذکر سو دا دی رښتينی خبری اوبل څوك دعبادت لايق نسته بغير دالله ﷻ څخه (دا ذاتی يووالی سو) اوبيشکه الله ﷻ دی غلبی والاحکمت والا (داصفاتی يووالی سو) بيا (تردی تولو دليلونو وروسته هم) که (دحق قبلولو څخه) مخ اړوی نو (تاسی د دوی معامله خدای ﷻ ته وسپاری څکه چي) بيشکه الله ﷻ ښه پوه دی په فساد کوونکو باندی.

معلومات اومسئلي

(قياس دليل دی)

اِنَّ مَثَلَ عِيْسٰى عِنْدَ اللّٰهِ كَمَثَلِ آدَمَ: ددی آيت څخه معلوميږی چي قياس هم په شرعی دليلونوکی دی څکه چي الله ﷻ وفرمايل چي دحضرت عيسیٰ ؑ پيدائش داسی دی لکه دحضرت آدم ؑ يعنی لکه څنگه چي حضرت آدم ؑ بغير دپلار (اومور) څخه پيدا سو، دغه ډول يی حضرت عيسیٰ ؑ هم بغير دپلار څخه پيدا کی نو دلته الله ﷻ دحضرت عيسیٰ ؑ پيدائش دحضرت آدم ؑ پرپيدائش باندی دقياس کولو طرف ته اشاره وفرمايله (مظهری)

(دمباهلې (یعني یوبل ته ښراوی کول) پیژندل)

فَقُلْ تَعَالَوْا نَدْعُ الخ په دې آیت سره الله ﷻ نبی کریم ﷺ ته دمباهی کولو حکم ورکړي دی چی دهغه تعریف (پیژندل) دا دی چی که چیری دیو کار په حق والی اوباطل والی کی د دواړو فرقینو جګړه جوړه سی او په دلیلونو سره جګړه ختمه نه سی نو بیا دا طریقه اختیارول په کار دی ، چی ټول یو ځای سی او الله ﷻ ته سوال وکی چی څوك په دې کارکی په باطله (یعنی په ناحقه) باندی وی په هغه دی دالله ﷻ دطرفه وبال او هلاکت ولویږی ، ځکه چی دلعنت معنی دخدای ﷻ درحمت څخه لیری کیدل دی اود رحمت څخه لیری کیدل قهر ته نژدی کیدل دی.

نوحاصل دمعنی ددی داسو چی په درواغجن دی قهرنازل سی نوکوم سړی چی درواغجن وی هغه به ددی سزاځکی، دغه وخت به پوره تعین درښتینی اودرواغجن منکرانوته هم ښکاره سی، په دې طریقه دعا کولوته (مباهله) وایی اوپه دې کی اصل په خپله دمباحثه کوونکوجمع کیدل اودعاکول دی دخپلوخپلوانو اوعزیزانو جمع کولو ته ضرورت نسته ، لیکن که جمع سی نو په دې سره یې اهتمام نور هم زیاتیږی.

(دمباهلې واقعه او دروافضو رد)

ددی وروسته منظر (یعنی واقعه دا ده چی نبی کریم ﷺ دنجران نصاراؤ ته یوفرمان ولیږی چی په هغه کی دری ۳ خبری په ترتیب سره ذکر سوی وی.

(۱) اول اسلام قبول کی (۲) دوهم یاجزیه اداکی (۳) دریم یاجنګ ته تیارسی نصاراؤ دیو بل سره مشوره وکړه ، شر حبیل او جباربن فیض یې دنبی کریم ﷺ په خدمت کی ولیږل دا خلک را غلل اوپه مذهبی کارونو کی یې خبری ورڅخه شروع کی ، تردی چی دحضرت عیسٰی ﷺ دخدای ثابتولو دپاره دی خلګو دډیر زیات بحث اوتکرار څخه کار واخیستی ، نو په دې کی داآیت دمباهلی نازل سو ، نوحضور ﷺ نصاراؤ ته دمباهلی دعوت ورکی ، اوپه خپله هم دحضرت فاطمی ﷺ اوحضرت علی کرم الله وجهه امام حسن اوحسین ﷺ سره مباهلی ته تیار سو راووتی ، شرحبیل چی دا ولیدل نو خپلو دواړو ملګروته یې وویل چی تاسی ته معلومه ده چی دا دالله ﷻ نبی دی ، او دنبی سره په مباهله کولوکی زمونږ هلاکت او بربادی یقینی ده ، نو په دې وجه دخلاصون یوه بله لار ولټوی ، ملګرو ورته وویل چی ستا په نزد دخلاصی څه صورت دی؟ هغه وویل زما په نزد ښه صورت دا دی ، چی دنبی ﷺ درایی موافق دی صلح وسی نو په دې باندی دټولو اتفاق راغی نونبی کریم ﷺ په دوی جزیه مقرره کړه اوصلح یې وکړه ، چی دا هغو هم منظوره کړه (تفسیر ابن کثیر)

په دې آیت کی د اَبْنَآءَنَا څخه مراد یوازی صلبی (دخپلی ملا) اولاد نه دی بلکه عام اولاد ورڅخه مراد دی برابره خبره ده که اولاد وی اوکه داولاد اولاد وی ، ځکه چی په عرف کی په ټولو د اولاد اطلاق کیږی ، نو په اَبْنَآءَنَا کی دده ﷺ لمسیان حسنین ﷺ اوزوم حضرت علی کرم الله وجهه داخل دی

اوبیا په خاص طور حضرت علی کرم الله وجهه په اَبْنَآءَنَا کې دا خلول په دې وجه هم صحیح دی چې ده خو پالنه هم دحضور ﷺ په غیږه مبارکه کې پیدا کړې وه ، حضور ﷺ دې دخپلو کوچنیانو په شان پاللی وو او دده دپالنې او پرورش پوره پوره خیال یې ساتلی وو ، په داسې کوچنی باندې په عرف کې دزوی اطلاق کیدی سي .

ددې بیان څخه دا خبره واضحه سوه چې حضرت علی کرم الله وجهه په اولاد کې دا خل دی ، په دې وجه دروافضو دده د اَبْنَآءَنَا څخه خارجول او په اَنْفُسَنَا کې یې دا خلول دده خلافت بلا فصل باندې دلیل نیول صحیح نه دی (چې گویا دی تر نورو خلفاؤ اول متصل دخلافت حقدار وو)

قُلْ يٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ تَعَالَوْا اِلٰى كَلِمَةٍ سَوَآءٍۢ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ اَلَّا نَعْبُدَ اِلَّا اللّٰهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهٖ

ته ووایه چې ای اهل کتابو ! راسئ دیوې خبرې طرف ته چې برابر ده په مینځ زمونږ او ستاسې کې چې بندگي

شَيْـًٔا وَّلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا اَرْبَابًا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۭ فَاِنْ تَوَلَّوْا

به نه کوو مگر دالله او شریك به نه جوړوو دهغه هیڅوك او نه به جوړوي یو څوك بل څوك رب ما سوا دالله ﷻ څخه

فَقُوْلُوا اشْهَدُوْا بِاَنَّا مُسْلِمُوْنَ ۝۶۴

بیا که دوی قبوله نه کړي (داخبره نو) ووایه چې شاهد سئ چې مونږ دحکم تابعدار یو .

لنډتفسیر: (ای محمد ﷺ) ته ووایه چې ای اهل کتابو راسئ دیو داسې خبرې طرف ته چې زمونږ او ستاسې په مینځ کې (منلوته) برابره ده (هغه) دا (ده) چې بغیر دالله ﷻ څخه به مونږ دبل هیڅاعبادت نه کوو او دالله ﷻ سره به هیڅوك نه شریکوو ، او په مونږ کې به څوك بل څوك رب نه مقرر وي چې خدای ﷻ پریږدي ، بیاکه (تردې وروسته هم) دغه خلگ (دحق څخه) منع کوي نوتاسې (مسلمانان) خلگ ووایاست چې تاسې (زمونږ) په دې (اقرار) باندې شاهدان سئ چې مونږخو (ددې خبرې) منونکي یو (که تاسې یې نه منئ نو تاسې پوه سئ)

معلومات اومسئلې

(دتبلیغ او دعوت خاص اصول)

تَعَالَوْا اِلٰى كَلِمَةٍ سَوَآءٍۢ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ : ددې آیت څخه دتبلیغ او دعوت یوخاص اصول معلومیدی سي هغه دا چې که یو سړی یو داسې جماعت (تولگی) ته ددعوت ورکولو خواهشمند وي چې په عقیدو او نظریو کې دده څخه مختلف وي ، نو دهغه طریقه دا ده چې دغه دعقیدې مخالف جماعت ته دې یوازې په دې خبره دجمع کیدو دعوت ورکي په کومه چې د دواړو اتفاق راتلی سي ، لکه نبی کریم ﷺ چې کله دروم باچا هرقل ته دااسلام دعوت ورکي نو دداسې مسئلې طرف ته یې ورکي چې په هغه د

دوارو اتفاق وو، یعنی دالله ﷻ دوحدانیت (یووالی) طرف ته ، هغه دعوت نامه دا ده لاندی نقل کیږی

(بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ مِنْ مُحَمَّدٍ عَبْدِ اللهِ وَرَسُوْلِهٖ إِلٰى هِرَقْلَ عَظِيْمِ الرُّوْمِ ، سَلَامٌ عَلٰى مَنِ اتَّبَعَ الْهُدٰى أَمَّا بَعْدُ فَإِنِّىْ أَدْعُوْكَ بِدِعَايَةِ الْإِسْلَامِ أَسْلِمْ تَسْلَمْ يُؤْتِكَ اللهُ أَجْرَكَ مَرَّتَيْنِ فَإِنْ تَوَلَّيْتَ فَإِنَّ عَلَيْكَ إِثْمَ الْيَرِيْسِيِّيْنَ يَآ أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا إِلٰى كَلِمَةٍ سَوَآءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا اللهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهٖ شَيْئًا وَّلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِّنْ دُوْنِ اللهِ (بخاری)

زه شروع کوم دالله ﷻ په نوم سره چی ډیر مهربانه او زیات رحم کوونکی دی ، داخط دمحمد ﷺ دالله ﷻ دبنده او دهغه درسول دطرفه دی دروم باچا هرقل طرف ته سلامتیا دی وی په هغه سړی باندی چی دهدایت دلاری تابعداری وکی ، وروسته تردی زه تاته داسلام دعوت درکوم اسلام راوړه ته به سلامت پاته سی اوتاته به دوه غبرګ اجر درکی اوکه تامنعه وکړه نوپرتا باندی به وی ګناه ددغه ټولو کسانوکوم چی ستاپه رعیت کی دی ای اهل کتابو! دیوی داسی خبری طرف ته راسی چی جمع سوکومه چی زمونږ اوستاسی په مینځ کی برابره ده هغه داچی مونږ به دالله ﷻ څخه بغیر دبل چاعبادت نه کوو اونه به دهغه سره څوك شریك جوړ وو او نه به مونږ دا کوو چی الله ﷻ پریږدو اوپه خپل مینځ کی به یوبل رب جوړوو.

فَقُوْلُوا اشْهَدُوْا بِأَنَّا مُسْلِمُوْنَ : په دی آیت کی چی یی دا ویلی دی چی تاسی شاهدان اوسی ، په دی سره یی دا تعلیم ورکړی دی چی کله په ښکاره دلیلونو سره هم څوك حق ونه منی نو دحجت پوره کولو دپاره خپل مسلك (دین) ښکاره کول او خبره ختمول په کار دی ، زیات بحثونه اوتکرار کول مناسب نه دی بس خبره پریکول په کار دی .

يٰٓأَهْلَ الْكِتٰبِ لِمَ تُحَآجُّوْنَ فِيْٓ إِبْرٰهِيْمَ وَمَآ أُنْزِلَتِ التَّوْرٰىةُ وَالْإِنْجِيْلُ إِلَّا مِنْۢ بَعْدِهٖ

ای اهل کتابو ! ولی جګړه کوئ دابراهیم ﷺ په باره کی اوتورات او انجیل خو نازل سوی دی دده څخه وروسته

أَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿٦٥﴾ هٰٓأَنْتُمْ هٰٓؤُلَآءِ حٰجَجْتُمْ فِيْمَا لَكُمْ بِهٖ عِلْمٌ فَلِمَ

ولی په تاسی کی عقل نسته ، اوری تاسی خلق په کومه خبره کی چی درته څه پته وه ، جګړه مو وکړه اوس ولی

تُحَآجُّوْنَ فِيْمَا لَيْسَ لَكُمْ بِهٖ عِلْمٌ ۚ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٦٦﴾

جګړه کوئ په کومه خبره کی چی درته هیڅ پته نسته ، او الله پوهیږي او تاسی نه پوهیږي .

مَا كَانَ إِبْرٰهِيْمُ يَهُوْدِيًّا وَّلَا نَصْرَانِيًّا وَّلٰكِنْ كَانَ حَنِيْفًا

نه وو ابراهیم ﷺ یهودی او نه وو نصرانی او لیکن وو حنیف یعنی دټولو دروغو

مُسْلِمًا ۖ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿٦٧﴾ إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِإِبْرَاهِيمَ

مذهبونو څخه بیزاره او حکم منونکی ، اونه وو مشرک ، په خلقو کی زیات مناسب دابراهیم

لَلَّذِينَ اتَّبَعُوهُ وَهَٰذَا النَّبِيُّ وَالَّذِينَ آمَنُوا ۗ وَاللَّهُ وَلِيُّ

سره دهغو وو چی دده سره وو او دی نبی او څوك چی ایمان راوړی په دی نبی ، او الله مددګاردی

الْمُؤْمِنِينَ ﴿٦٨﴾

دمسلمانانو .

تفسیر: ای اهل کتابو! ولی دلیل بازی کوی د (حضرت) ابراهیم په باره کی (چی هغه په طريقه دیهودیت وو اوکه دنصرانیت وو) حال دا دی چی نه دی نازل سوی تورات او انجیل مګر دهغه (ترزمانی) ډیر وروسته (او دا دواړی طريقی ددی دواړوکتابونو ترنازلیدو وروسته ښکاره سوی مخکی خو ددی وجود هم نه وو نوبیا حضرت ابراهیم په دی طريقو باندی څنګه کیدي سی) ولی آیا (داسی دعقل څخه خلاف خبره دخولی څخه باسی او) بیا پوهیږی نه البته تاسی داسی یاست چی په داسی خبره کی مو دلیل بازی کړې ده چی تاسی ته ورباندی څه قدر خبرداری خووه (که څه هم په دی کی موغلطه دعوه جوړه کړه غلطه نتیجه مو ورڅخه وایسته چی مراد ددی څخه خوارق (معجزی) دحضرت عیسیٰ دی چی دا خو دواقع سره مطابق دی خو ددی سره یی غلطه دعوه کړه کړه چی دداسی معجزو ښوونکی الله یازوی دالله به وی ، نوکه څه هم داسی معجزی تاسی دهغه څخه ولیدی نودغلطی اوناپوهی په وجه تاسی غلطه نتیجه ورڅخه وایستله نو په دی کی ستاسی غلطی ښکاره سوه) نو په داسی خبره کی (بیا) ولی دلیل بازی کوی چی په هغه کی تاسی ته بالکل څه علم اوپوهه نسته (ځکه چی ددی دعوی دپاره خوستاسی څه داشتباه سبب هم نسته ، ځکه چی د دوی او دابراهیم دشریعت په فروعو کی څه موافقت هم نه وو) اوالله (دابراهیم طريقه ښه) پیژنی تاسی یی نه پیژنی (کله چی تاسی داسی بی سره اوپښو دعوه کوی چی دهغه علم هم په مثل دنیستوالی دعلم ګڼل کیږی نو اوس دالله څخه دهغه طريقه واوری) ابراهیم نه خو یهودی وو اونه نصرانی وو لیکن (البته) دنیکی لاری والا (یعنی) صاحب داسلام وو او دمشرکانو څخه (هم) نه وو (نو یهودو اونصاراؤ ته خو دمذهبی طريقو په اعتبار سره دهغه سره هیڅ مناسبت ونه سو البته) بیشکه په ټولو خلګوکی زیات خصوصیت لرونکی د (حضرت) ابراهیم سره البته هغه خلګ وه چاچی (دهغه په وخت کی) دهغه تابعداری کړی وه او دا نبی (محمد) دی او دا ایمان والا دی (چی دنبی امتیان دی) اوالله ملګری دایمان دارو دی (چی دوی ته به دایمان ثواب ورکی)

وَدَّتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ لَوْيُضِلُّوْنَكُمْ ط

ارزو ده دخینی اهل کتابو چی په څه شان گمراه کړی تاسی

وَمَا يُضِلُّوْنَ اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۶۹﴾ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ

اوگمراه کوی نه مگر خپل ځانونه اونه پوهیږي ، ای اهل کتابو !

لِمَ تَكْفُرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَاَنْتُمْ تَشْهَدُوْنَ ﴿۷۰﴾ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ

ولی انکار کوی دالله دکلام او تاسی ورباندی قائل یاست ای اهل کتابو !

لِمَ تَلْبِسُوْنَ الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ وَتَكْتُمُوْنَ الْحَقَّ وَاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۷۱﴾ ع

ولی یوځای کوی په رښتیا ؤ کی درواغ او پټوی رښتیا خبره اوتاسی پوه یاست.

لنډتفسير: په زړه سره غواړی خلک داهل کتابوڅخه داکارچی تاسی (ددین حق څخه) گمراه کی نه گمراه کوی مگرخپل ځانونه (دگمراه کولو په گناه کی یی اخته کوی) اوخبر نه دی ورباندی، ای اهل کتابو! ولی کفرکوی د (هغه) آیتونو سره (چی په تورات اوانجیل کی پرنبوت محمدیﷺ باندی دلالت کوی څکه چی دنبی کریم ﷺ دنبوت څخه انکار کوئ ددغه آیتونو درواغجن کول دی چی کفر دی) حالانکه تاسی (په خپله ژبه سره) اقرار کوی (چی دغه آیتونه حق دی دا خو یی ملامت کول سوه په گمراه کولوباندی مخکی اوس د دوی په گمراهی باندی دوی ملامت کوی فرمایی چی) ای اهل کتابو! ولی خلط کوی واقعی (مضمون یعنی نبوت محمدیه) دغیر واقعی (یعنی عبارت بدل سوی یا تفسیر فاسد) سره او (ولی) پټوی واقعی خبری حالانکی تاسی ورباندی پوه یاست (چی حق خبره پټوو)

معلومات اومسئلي: وَاَنْتُمْ تَشْهَدُوْنَ او اَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ: دالفاظو څخه دی دا مطلب نه اخیستل کیږی چی که دوی دحق اقرارونه کی یا دوی ته علم نه وی نو د دوی دپاره به کفر جائز وی ، وجه دا ده چی کفر دخپل ذات په اعتبار سره یو قبیح فعل دی او په هرحالت کی ناجائزه دی ، البته ترعلم او اقرار وروسته په کفر اختیارولو کی ملامتیا نوره زیاتیږی (یعنی گناه او سزا یی نوره زیاته سی په وجه داقرار اوعلم سره)

وَقَالَتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ اٰمِنُوْا بِالَّذِيْٓ

او وویل څینی ومنی اهل کتابو څه چی

أُنْزِلَ عَلَى الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَجْهَ النَّهَارِ وَاكْفُرُوْٓا اٰخِرَهٗ

نازل سوی دی په مسلمانانو دورځی په اول کی او منکر سی د ورځی په اخر کی

لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿۷۲﴾ وَلَا تُؤْمِنُوْٓا اِلَّا لِمَنْ تَبِعَ دِيْنَكُمْ ؕ قُلْ

شاید دوی واپس سی او مه منی مگر دهغه چا چی ځی ستاسی په دین ، ووایه

اِنَّ الْهُدٰى هُدَى اللّٰهِ ۙ اَنْ يُّؤْتٰٓى اَحَدٌ مِّثْلَ مَآ اُوْتِيْتُمْ

چی بیشکه هدایت هغه دی چی الله هدایت وکړی او دا هرڅه ددی دپاره دی چی بل چا ته هم ولی

اَوْ يُحَآجُّوْكُمْ عِنْدَ رَبِّكُمْ ؕ قُلْ اِنَّ الْفَضْلَ بِيَدِ اللّٰهِ ۚ يُؤْتِيْهِ

ورسیږي لکه څه چی تاسی ته رسیدلی وه یا دوی غالب ولی راغله په تاسی باندی ستاسی درب په مخکی

مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴿۷۳﴾ يَّخْتَصُّ بِرَحْمَتِهٖ مَنْ يَّشَآءُ ؕ

ته ووایه لویی دالله په لاس کی ده ورکوی یی چاته چی وغواړی ، او الله دیرفراخی والا دی خبردار خاص کوی

وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ﴿۷۴﴾

په خپله مهربانی چاته چی وغواړی او دالله فضل لوی دی .

لنډتفسیر: اوځینو خلکو داهل کتابو څخه (په طور دمشوره دیوبل سره) وویل چی (دمسلمانانو دگمراه کولو یوتدبیر دا دی چی په ظاهره) ایمان راوړی په دی (کتاب) باندی چی نازل سوي دی (په واسطه درسول الله ﷺ) په مسلمانانو باندی (مراد دا دی چی په قرآن باندی ایمان راوړی) دورځی په سر کی (یعنی دسهار په وخت کی) او (بیا) انکار وکی په آخر دورځ کی (یعنی په ماښام کی) څه عجیبه نه ده (چی په دی تدبیر سره دمسلمانانوهم دقرآن اواسلام په حق کی شك پیداسی او) هغوی (دخپل دین څخه) واپس سی (او دا خیال وکی چی دا خلک علم والا دی او بی تعصبه هم دی چی اسلام یی قبول کړي دی ، نوچی په دی سربیره دوی واپس سوه نوخامخابه داسلام ناحق والی دوی ته په علمی دلیلونو سره ثابت وی اوخامخابه دوی په اسلام کی څه خرابی لیدلی وی ځکه خو ورڅخه دوی واپس سوه اواهل کتابو دا هم دیوبل سره وویل چی مسلمانانو ته دځان بنوولو دپاره یوازی ظاهری ایمان راوړی) او (په صدق دزړه سره) دچاپه مخامخ کی (ددین) اقرارمه کوی مگر دداسی سړی په مخکی چی

ستاسی ددین منونکی وی (دهغه په مخکی تاسی ته دخپل زوړ دین اقرار په خلوص سره کول په کار دی پاته سو دغیر مذهبو یعنی دمسلمانانو په مخکی دذکرسوی مصلحت په بناسره زبانی داسلام اقرار کوی ، الله ﷻ د دوی ددی عبث تدبیر اظهار فرمایی چی) ای محمد ﷺ ته ووایه چی (په دی چالاکیو باندی هیڅ نه کیږی ځکه چی) یقیناً هدایت (کوم چی بندګانوته کیږی هغه) هدایت دالله ﷻ (دطرفه) دی (نوکله چی هدایت په قبضه دالله ﷻ کی دی نوهغه چی چاته په هدایت باندی قائم ساتل وغواړی نوبل څوک یی په هیڅ تدبیرسره نه سی اړولی مخ ته د دوی ددی مشوری اوتدبیر علت بنیی چی ای اهل کتابو! تاسی) داسی خبری ددی دپاره کوی چی یوبل چاته هم داسی شی ورسیږی لکه چی تاسی ته رسیدلی وو (یعنی کتاب اوآسمانی دین) یادغه نورخلک په تاسی غالب راسی (ددی حق دین په تعین کی کوم چی) ستا درب په نزد (دی ، حاصل دعلت دا سو چی ستاسی دمسلمانانو سره حسد دی چی دوی ته آسمانی کتاب ولی ورکړل سو یا دا خلګ په مونږ باندی په مذهبی مناظره کی ولی غالب راځی ددی حسد په وجه سره داسلام اومسلمانانو دتنزل کوشش کوی ، مخ ته ددی حسد رد دی چی) ای محمد ﷺ ! ته ووایه چی بیشکه فضل دخدای ﷻ په قبضه کی دی هغه چی دڅی ځخه چاته غواړی ورکوی اوالله ﷻ ډیر فراخی والا دی (دهغه سره دفضل کمی نسته او) ښه پوهیدونکی دی (چی څه وخت یی چاته ورکول مناسب دی په دی وجه) خاص کوی په خپل رحمت (او فضل) سره څوک چی وغواړی اوالله ﷻ لوی فضل والا دی (نو په دی وخت کی یی په تقاضا دحکمت سره په مسلمانانو باندی فضل او رحمت وفرمایی ، نو په دی کی حسد کول فضول اوجهل یعنی ناپوهی ده)

وَمِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ مَنْ اِنْ تَاْمَنْهُ بِقِنْطَارٍ يُّؤَدِّهٖٓ اِلَيْكَۚ وَمِنْهُمْ مَّنْ اِنْ تَاْمَنْهُ بِدِيْنَارٍ

اوځینی داهل کتابو ځڅه هغه دی چی که ته دهغوی سره امانت کښیږدی کوته دمال نو دربه یی کړی تاته اوځینی د دوی هغه دی چی که ته د دوی سره امانت کښیږدی یوه اشرفی .

لَّا يُؤَدِّهٖٓ اِلَيْكَ اِلَّا مَا دُمْتَ عَلَيْهِ قَآئِمًا ۗ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَالُوْا

نو ادا به یی نه کړی تاته مکر ترڅو چی دده په سر ودریږي ولاړ ، دا په دی وجه چی دوی ویلی

لَيْسَ عَلَيْنَا فِى الْاُمِّيّٖنَ سَبِيْلٌۚ وَيَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ

دی چی نسته په مونږ باندی ددې خلقو په حق اخستلو کی څه ګناه ، او درواغ وایی په الله باندی

وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ۝٧٥

او دوی پوهیږي .

دآيتونو ترون: په لورو آيتونوکی د اهل کتابو ددین خیانت ذکرو و یعنی په آیتونو دالله ﷻ سره د دوی کفر کول اوخلط کول دحق اوباطل اودحق پټولو او دمومنانو دګمراه کولو تدبیر کول ، په دی آیت کی د دوی په مال کی دخیانت ذکر دی او په دوی کی کله چی ځینی امانت دارهم وه نوپه دی وجه یی د دوارو قسمونو ذکر وکی .

لنډتفسیر: اوپه اهل کتابوکی ځینی سړی داسی دی چی (ای مخاطبه) که ته دده سره دمال ډکوټو څخه هم امانت کښیږدی نو دی به یی (دغوښتلو سره) درکی اوپه دوی کی ځینی سړی هغه دی چی که ته دده سره یوه روپی هم امانت کښیږدی نوهغه به هم تاته درنه کی (بلکه دامانت ایښوولو اقرار به هم ونه کی) مګر ترڅو پوری چی (دامانت تر ایښوولو وروسته یې) پر سر (برابر) ودریږی (دغه وخت خوبه انکارنه سی کولی ، اوکه ورڅخه جلا سوی نوبیایی داداکولو هیڅ ذکرهم نسته ګرسره به دامانتو څخه منکر وی) دا (دامانتونو اداکول) په دی سبب سره دی چی دغه خلګ وایی چی په مونږ دغیر اهل کتابو (دمال) په باره کی (که په غلا یی واخلو دمذهب په لحاظ) هیڅ الزام نسته (یعنی دغیر اهل کتابو مثلاً دقریشو مال پټول یاورڅخه په زور اخیستل هرڅه جائز دی ، الله ﷻ مخ ته د دوی دا دعوٰی دروغجنه کوی فرمایی) اودغه خلګ په الله ﷻ درواغ وایی (چی دا کار حلال ګڼی) اوپه زړه کی دوی هم پوه دی (چی الله ﷻ دا نه دی حلال کړی محض دخانه جوړه سوی دعوٰی ده)

معلومات اومسئلي

(دیو غیر مسلم دښو صفتونو تعریف کول جائز دی)

وَمِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ مَنْ إِنْ تَأْمَنْهُ بِقِنْطَارٍ يُؤَدِّهِ إِلَيْكَ .

په دی آیت کی دځینو خلګوپه امانتداری کیدو باندی صفت سوی دی ، که څه هم ددی ځینو څخه مراد هغه اهل کتاب دی چی ایمان یی راوړی وو ، نو د دوی په تعریف کولوکی خوڅه اشکال نسته ، لیکن که خاص مومنان ورڅخه مراد نه وی بلکه مطلق اهل کتاب مراد وی چی غیر مسلمانان په دی کی هم شامل دی ، نو په دی صورت کی دا سوال پیدا کیږی چی دکافر خو څه عمل مقبول نه وی نو بیا د دوی دمدح (صفت) کولو څخه فائده څه ده ؟

جواب یی دا دی چی دیوشی مقبول کیدل جلا خبره ده او مدح کول یی بله خبره ده ، په مدح کولو سره دا نه لازمیږی چی دغه کار دالله ﷻ په نزد مقبول هم دی ددی څخه دا ښوول مقصود دی چی ښه خبره که څه هم دکافروی خو په یوه درجه کی ښه هم ده چی فائده یی په دی دنیاکی نیک نامی ده ، اوپه آخرت کی دعذاب کمی ، ددی بیان څخه دا خبره هم په ډاګه کیږی چی اسلام دتعصب اوتنګ نظری څخه کار نه اخلی بلکه اسلام په خلاصه سینه سره دخپل مخالف دهنر هم دهغه دمرتبی مطابق شاباسی ورکوی.

إِلَّا مَا دُمْتَ عَلَيْهِ قَائِمًا: په دی آیت باندی امام ابوحنیفه رحمه الله دا دلیل نیولی دی چی قرض ورکوونکی

ته دا حق حاصل دی چې دی دقرض دار څخه دخپل حق دوصولو دپاره ترحق وصولولو پوری په قرض دار پسی ورپسی وی (قرطبی)

بَلٰى مَنْ اَوْفٰى بِعَهْدِهٖ وَاتَّقٰى فَاِنَّ اللّٰهَ

ولی نه ده څوک چې پوره کړی خپل اقرار او دی پرهیز گاروی پس الله

يُحِبُّ الْمُتَّقِيْنَ ﴿۷۶﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ يَشْتَرُوْنَ بِعَهْدِ اللّٰهِ وَاَيْمَانِهِمْ

محبت کوی دپرهیزگارانو سره ، کوم خلق چې اخلی په اقرار دالله باندی او په خپلو قسمونو باندی

ثَمَنًا قَلِيْلًا اُولٰٓئِكَ لَا خَلَاقَ لَهُمْ فِى الْاٰخِرَةِ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ

لږ شان مال د دوی هیڅ حصه نشته په اخرت کی او نه به خبری وکړی

اللّٰهُ وَلَا يَنْظُرُ اِلَيْهِمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَلَا يُزَكِّيْهِمْ وَلَهُمْ

د دوی سره الله او نه به وگوری دوی ته دقیامت په ورځ او نه به پاک کړی دوی او د دوی

عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۷۷﴾

دپاره عذاب دردناک دی .

دآیتونو تړون: لورد وَيَقُوْلُوْنَ : څخه د اهل کتابو ددعوی درواغجن والی ذکروو ، مخکی په دی آیتونو سره ددغه درواغجن کولو تاکید او دوعدی پوره کولوفضیلت (ښه والی) او دوعدی دماتولو دبدوالی بیانولو وضاحت اوتصریح ذکر کول کیږی .

لنډتفسیر: (په خیانت کوونکی به) الزام ولی نه وی (خامخابه وی څکه چې ددی په باره کی زمونږ دا دوه قانونه دی ، یو دا چې) کوم سړی خپله وعده (برابره خبره ده که هغه وعده دالله ﷻ سره سوی وی او که یا په دی شرط چې جائزه وی اوکه دبنده سره سوی وی) پوره کړی او دالله ﷻ څخه وبیریږی نوبیشکه الله ﷻ محبت ساتی د (داسی) متقیانو سره (او دوهم قانون دا دی چې) یقیناًکوم خلګ چې بدله (یعنی ددنیا نفع) اخلی په مقابله دهغه وعدی چې کوم (دوی) دالله ﷻ سره کړی وی (مثلاً په پیغمبرانو ایمان راوړل) او (په مقابله) دخپلو قسمونو (کی مثلاً دبندګانو دحقونو اومعاملوپه باره کی قسم خوړل) دی خلګو ته هیڅ حصه په آخرت کی (دهغه ځای په نعمتونوکی) به ونه رسیږی اونه به خدای د دوی سره (په نرمی) خبری وکی او نه به د دوی طرف ته (په نظر دمحبت سره) وګوری دقیامت په ورځ اونه به دوی (دګناهونو څخه) پاک کی او د دوی دپاره به دردناک عذاب (منتخب) سوی وی .

معلومات اومسئلي

(دعهد پيژندل اوددې څخه خلاف کونکوته دعذاب يوڅو زورني)

عهد دهغه خبرې نوم دی چې د دوو فريقو په مينځ کې ديو بل سره په خبرو اتروکې مقرره سي چې په هغه باندې دواړو فريقو ته قائم اوسيدل ضروري وي په خلاف دوعدې څخه چې هغه يوازې ديوه طرف څخه وي يعنې عام دی او وعده خاص ده .

دعهد پوره کولو په قرآن اوحديث کې ډير تاکيد راغلی دی ، هم دارنګه په دې لوړ آيت ۷۷ کې هم دعهد په خلاف ورزی کولو پنځه زورنې ذکر دی .

(۱) اول دوی ته به دجنت دنعمتونو څخه څه حصه نه رسيږي ، په يوحديث کې نبی کريم ﷺ ارشاد فرمايي چې کوم سړی ددرواغو دقسم په ذريعه دمسلمان حق ووهی نو ده دخپل ځان دپاره اور واجب کی ، راوی عرض وکی چې که هغه شي معمولي هم وي نوبيابه دده دپاره اور واجب وي؟ ده ﷺ په جواب کې وفرمايل که څه هم هغه ددختي شنه بناخله ولې نه وي (رواه مسلم بحواله مظهری)

(۲) دوهم الله ﷻ به ورسره په خوشحالي خبرې ونه کي .

(۳)دريم اوالله ﷻ به ده ته دقيامت په ورځ درحمت په نظرسره ونه ګوري .

(۴)څلورم او الله ﷻ به دده ګناهونه معاف نه کي ځکه چې دعهد په خلاف کولو سره دبنده حق ضائع سوی دی او دبنده حق الله ﷻ نه معاف کوي .

(۵)پنځم او د دوی دپاره په دردناك عذاب وي .

وَإِنَّ مِنْهُمْ لَفَرِيقًا يَلْوُنَ أَلْسِنَتَهُمْ بِالْكِتٰبِ

او په دوی کې يو فريقه ده چې په مروړلې ژبه وايي کتاب کتاب ددې دپاره

لِتَحْسَبُوهُ مِنَ الْكِتٰبِ وَمَا هُوَ مِنَ الْكِتٰبِ وَيَقُولُونَ هُوَ

چې تاسي وګڼئ چې دا دکتاب څخه دی او نه دی هغه په کتاب کې او وايي دوی چې

مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ وَمَا هُوَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ وَيَقُولُونَ عَلَى اللّٰهِ

دالله وينا ده او نه ده دغه دالله وينا او په الله باندی درواغ وايي

الْكَذِبَ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿۷۸﴾ مَا كَانَ لِبَشَرٍ أَنْ يُؤْتِيَهُ اللّٰهُ الْكِتٰبَ

سره دپوهی ، ديو بشر کار نه دی چې الله ده ته ورکړی کتاب

وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ ثُمَّ يَقُولَ لِلنَّاسِ كُونُوا عِبَادًا لِّي مِن

او حکمت او پیغمبر یی کړی بیا هغه وایی خلقو ته چی تاسی بندګان سی زما

دُونِ اللَّهِ وَلَٰكِن كُونُوا رَبَّانِيِّينَ بِمَا كُنتُمْ تُعَلِّمُونَ الْكِتَابَ

دالله څخه ما سوا لیکن داسی وایی چی تاسی الله والا سی لکه څنګه چی تاسی ازده کوی کتاب

وَبِمَا كُنتُمْ تَدْرُسُونَ ﴿٧٩﴾ وَلَا يَأْمُرَكُمْ أَن تَتَّخِذُوا الْمَلَائِكَةَ

او لکه څنګه چی تاسی به هغه په خپله وایه ، او نه دا ووایی تاسی ته چی ونیسی ملائکی

وَالنَّبِيِّينَ أَرْبَابًا ۗ أَيَأْمُرُكُم بِالْكُفْرِ بَعْدَ إِذْ أَنتُم مُّسْلِمُونَ ﴿٨٠﴾

او نبیان خدایان ای تاسی ته کفر در زده کوی پس دهغه چی تاسی مسلمانان سوی یاست.

تفسیر: اوبیشکه په دوی کی ځینی داسی دی چی کړوی خپلی ژبی په کتاب (ویلو) کی (یعنی په دی کی څه لفظونه یاتفسیر غلط ګډوی اوغلط ویلوته کوږوالی دژبی وایی) ددی دپاره چی تاسی خلګ (چی دا واوری نو) دغه (ګډسوی شی) به (هم) دکتاب حصه وګڼی ، حال دا دی چی دغه دکتاب حصه نه ده او (یوازی د دوکی ورکولو دپاره په دی عملی طریقه صبر نه کوی بلکه په ژبه سره هم) وایی چی دا (لفظ یاتفسیر) دخدای دطرفه (چی کوم الفاظ یاقاعدی نازلی سوی دی په هغه سره ثابت) دی حالانکه دغه (په هیڅ ډول) دخدای دطرفه نه دی (نو د دوی دروغجن والی ثابت سو اوس مخ ته دتاکید دپاره ددی بیان زیات وضاحت دی) اوپه الله ﷻ دروغ وایی او (خپل دروغجن والی په زړه کی په خپله هم) دوی پیژنی هیڅ بشرته دا خبره نه ده لایقه چی الله ﷻ (خو) ده ته کتاب او (ددین) پوهه اوپیغمبری ورکی (چی په دی کی هربودا غواړی چی کفر اوشرک دی نه وی او) بیادوی خلګوته (داسی) وایی چی زمابندګان (یعنی عبادت کوونکی) جوړ سی دخدای (یووالی) پریږدی (یعنی پیغمبری اوپه شرک سره حکم کول نه سی جمع کیدی) اولیکن (هغه نبی خو به داسی) وایی به چی تاسی خلګ الله ﷻ والا جوړ سی (یعنی یوازی دالله ﷻ عبادت کوی) په وجه ددی چی تاسی کتاب (دالله ﷻ نوروته هم) زده کوی او په وجه ددی چی (په خپله یی هم) وایاست (اوپه دی کتاب کی تعلیم دتوحید دی) اونه (دغه بشرچی ذکر یی وسو یعنی دغه نبی) دا خبره ښیی چی تاسی ملائکی او (یانورو) نبیان رب ونیسی نوآیا دا به تاسی ته دکفر خبره ښیی وروسته تردی چی تاسی (په دی خاص عقیده کی برابره خبره ده که په واقع سره وی یاپه ګمان خپل سره) مسلمانان یاست.

معلومات اومسئلي

(دپیغمبرانو دپاکي یو دلیل)

مَاكَانَ لِبَشَرٍ: دنجران ددغه ډلي په موجودګی کی څینو یهودو اونصاراؤ ویلی وه چی ای محمد ﷺ آیا ته دا غواړی چی مونږ ستادغه شان عبادت کول شروع کړو ، لکه څنګه چی نصارا دعیسیٰ ﷺ زوی دمریمی عبادت کوی؟ نو ده ﷺ وفرمایل پناه غواړم په خدای ﷻ سره دغیرالله دعبادت کولو څخه چی یازه دغیر الله عبادت وکړم اویانور دی ته را وبلم الله ﷻ مونږ ددی کارد پاره نه یو رالیږلی ، نو په دی باندی دا آیت نازل سو (یعنی کوم بنده ته چی الله ﷻ کتاب حکمت اوقوت دفیصلی ورکی او دپیغمبری لویه مرتبه ور ته ورکی چی دی دالله ﷻ پیغام په صحیح طریقه سره ورسوی خلګ دالله ﷻ دبندګی څخه اړوی دخپل ځان یادنور مخلوق بندګان ورڅخه جوړ وی ، ددی خو به دا مطلب سی چی الله ﷻ څوك دکوم منصب (مرتبی) لایق ګڼلی وو او را لیږلی یی وو هغه په واقع کی دهغه لایق نه وو، ددنیا یوحکومت هم که یو سړی په یوه ذمه واره عهده باندی مقرر وی نو اول د دوو ۲ خبرو خیال ساتی

(۱) چی دا سړی دحکومت په پالیسیو باندی پوه اودخپلو فرضو دپوره کولو لیاقت لری او که نه ؟

(۲) دحکومت داحکامو پوره کولو او رعیت ته دحکومت پروفاداری باندی دقائم ساتلو دده څخه څومره امید کیدی سی ، یوباچا یایو پارلمان به داسی سړی دحکومت نائب یاسفیر هیڅ ځای هم مقرر نه کی چی دهغه په باره کی دحکومت په نسبت دبغاوت خپرولو یادحکومت دپالیسیو اوحکمونو څخه دخلاف کولو معمولی دول شك هم وی ، بیشکه دا هم کیدی سی چی دیو سړی دقابلیت یا وفاداری اندازه حکومت په صحیح طورسره ونه کړای سی ، لیکن دالله ﷻ په نزد خو دا هم ممکنه نه ده او نه دا احتمال کیدی سی که یو سړی په نسبت دهغه علم وی چی دی زما دوفاداری اوفرمان برداری څخه دوربښته غوندی تجاوز به نه کوی ، نو دا بیا نه سی کیدی چی په وروسته وخت کی بیا ددی خلافت ثابت سی ، که داسی نه وی نو دا خو به دعلم الهی غلط کیدل لازم سی (العیاذ بالله) ددی څخه دانبیاؤ علیهم السلام پاکدامنی اودپاکدامنی مسئله واضحه کیږی نوچی بیا انبیاء دلږ یعنی معمولی غوندی ګناه څخه هم پاك دی ، نو بیا شرك کول او دخدای پاك په مقابله کی دبغاوت کولو خو ګرسره څه امکان پاته نه سو.

په دی کی دنصاراؤ دا دعویٰ هم رد سوه چی دمسیح ﷺ دزوی والی اوخدایی عقیده مونږ ته په خپله مسیح ښوولی وه اوهغه مسلمانانو ته دورباندی نصیحت وسو کومو چی نبی کریم ﷺ ته عرض کړی وو چی که مونږ دسلام په ځای تاته سجده وکړو ، نو په دی کی څه حرج دی ؟ اواهل کتابو ته په کنبی هم په کنایی سره وویل سوه کوموچی خپلو عالمانو اوراهبانو (شیخانو) ته دخدای درجه ورکړی وه (العیاذ بالله) (فوائدعثمانی)

وَإِذْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ النَّبِيِّينَ لَمَا آتَيْتُكُمْ مِنْ كِتَابٍ وَحِكْمَةٍ

او کله چې واخستی الله پاک عهد دنبیانو څخه چې څه ما تاسی ته درکړه کتاب او علم

ثُمَّ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مُصَدِّقٌ لِمَا مَعَكُمْ لَتُؤْمِنُنَّ بِهِ وَلَتَنْصُرُنَّهُ

بیاراسی تاسی ته یو رسول چې رښتینی کوی ستاسی کتاب نو ایمان به راوړی په دغه رسول اومدد به یې کوی

قَالَ أَأَقْرَرْتُمْ وَأَخَذْتُمْ عَلَىٰ ذَٰلِكُمْ إِصْرِي ۖ قَالُوا أَقْرَرْنَا

وې فرمایل چې آیا تاسی اقرار وکی او په دی شرط باندی مو زما عهد قبول کی ، وې ویل چې مونږ اقرار وکی

قَالَ فَاشْهَدُوا وَأَنَا مَعَكُمْ مِنَ الشَّاهِدِينَ ﴿٨١﴾ فَمَنْ تَوَلَّىٰ

وې فرمایل نو اوس شاهد سی او زه هم ستاسی سره شاهد یم ، بیا چې څوک واپس

بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ ﴿٨٢﴾ أَفَغَيْرَ دِينِ اللَّهِ يَبْغُونَ

سی ددې څخه وروسته نو هغه خلق دی نافرمانه ، اوس څوک بل دین لټوی دالله ددین څخه

وَلَهُ أَسْلَمَ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَإِلَيْهِ

ما سوا او دهغه په حکم کی دی څه چې په اسمانونو او په مځکه کی دی په خوښی سره یاپه لاچاری سره او

يُرْجَعُونَ ﴿٨٣﴾ قُلْ آمَنَّا بِاللَّهِ وَمَا أُنْزِلَ عَلَيْنَا وَمَا أُنْزِلَ

هغه ته به ټول واپس سی ، ته ووایه مونږ ایمان راوړی په الله او په هغه څه چې نازل سوی دی په مونږ او په هغه

عَلَىٰ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ وَالْأَسْبَاطِ

څه چې نازل سوی دی په ابراهیم او په اسمٰعیل او په اسحٰق او په یعقوب او د دوی په اولاد

وَمَا أُوتِيَ مُوسَىٰ وَعِيسَىٰ وَالنَّبِيُّونَ مِنْ رَبِّهِمْ لَا نُفَرِّقُ

او په هغه څه چې رسیدلی دی موسی ته او عیسی ته اونورونبیانو ته د دوی درب دطرف څخه مونږ نه جلاکوو

بَيْنَ أَحَدٍ مِنْهُمْ وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ ﴿٨٤﴾

په دوی کی هیڅوک او مونږ خاص دهغه حکم منونکی یو.

لنډتفسير: (اوهغه هم ديادولو قابل دي) كله چي الله ﷻ وعده واخيسته د (حضراتو) انبياؤ عليهم السلام څخه چي څه زه تاسي ته دكتاب اوعلم (شريعت) څخه دركرم (او) بياتاسي ته يوبل پيغمبر راسي چي برابر (اوموافق) وي دهغه (نبيانو اوعلامو) سره چي ستاسي سره (په كتاب اوشريعت كي) دی (يعني دشريعت په معتبرو دليلونو سره دده رسالت ثابت وي) نوتاسي به خامخا ددغه رسول (په رسالت) باندي (په زړه سره) عقيده هم راوړي او (په لاسو اوپښو سره به) دده مددهم كوی (ددی عهد تربيانولو وروسته يي) وفرمايل چي آياتاسي اقرار وكي او واموخيسته په دی (مضمون) باندی زما وعده (اوحكم موقبول كي) دوی وويل چي مونږ اقرار وكي وی فرمايل نو (په خپل دی اقرار باندی) شاهد هم اوسی (ځكه چي دشاهدی څخه واپس كيدل هر سړی په هرحال كي بدګڼي ، په خلاف داقرار كولو څخه اقرار كوونكی كه صاحب دغرض وی په خپل اقراركی نو په دی وجه دده واپس كيده زيات ليری نه دی نو په دی شان سره تاسي يوازی اقراريان نه بلكه دشاهدانوپه ډول په دی ولاړ اوسی) او زه (هم) په دی (مضمون) باندی ستاسي سره دشاهدانو (يعني دواقعي دخبر اوعلم لرونكو څخه) يم نوكوم سړی (دامتونو څخه) چي وګرځي (ددی وعدی څخه) وروسته تردی (چي ترانبياؤ پوری داعهد اخيستل سوي دی امتونه خو لاپرېږده هغوی په څه شميركی دی) نو داسي خلك (پوره) نافرماني كوونكي (يعني كافران) دی ولي (ددين داسلام څخه چي ددی وعده ورڅخه اخيستل سوی ده روګرداني كوی) بيا (ددی) خدايي دين څخه ماسوا بله طريقه غواړی حال دا دی چي الله ﷻ (دا ډول دی چي دده) د (حكم په) مخكي ټول سركښته كوونكي دی څومره چي په آسمانونوكی (دی) او (څومره چي په) مځكه كی دی (ځيني) په خوښي (اواختيار سره) او (ځيني) په مجبوری سره او (اول خو ددی لويي دا تقاضاوه چي څوك دی دده دوعدی څخه مخالفت نه كوی اوخاص بياچي دراتلونكي سزا بيره هم ورسره وی ، چنانچه) ټول خاص دخدای ﷻ طرف ته (دقيامت په ورځ) به واپس (هم) سي (او دغه وخت به مخالفت كوونكو ته سزا وی) ای محمد ﷺ ته (داسلام ددين دښكاره كولو دپاره په لنډه سره دا) وفرمايه چي مونږ ايمان لرو په الله ﷻ باندی اوپه هغه (حكم) باندی چي مونږ ته راوليږل سواوپه هغه (حكم) باندی چي (حضرت) ابراهيم اواسمٰعيل اويعقوب عليهم السلام اوپه اولاد ديعقوب ﷺ (كي چي كوم نبيان تير سوی دی دهغوی) طرف ته وليږل سواو په هغه (حكم او معجزه) باندی هم كوم چي (حضرت) موسٰی اوعيسٰی ﷺ اونورو نبيانوعليهم السلام ته وركول سوی وو دهغوی درب دطرف څخه (نو مونږ په دی ټولو ايمان لرو اوايمان هم) داسي چي مونږ په دوی (حضراتو) كی په يوكی هم (دايمان راوړوپه معامله كی) فرق نه كوو (چي په چا ايمان لرو اوپه چايي نه لرو) او مونږ خاص دالله ﷻ تابعداريو (هم خاص ده مونږ ته دين وښوی اومونږ يي اختيار كړو)

معلومات اومسئلي

(دالله ﷻ دری عهدونه)

الله ﷻ دخپلو بندگانو څخه دری قسمه عهدونه اخیستی دی ، دیوه عهد ذکرپه سورة اعراف کی په ، أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ : سره ذکر دی ، ددی عهد مقصد دا وو چی تول بنی نوع مخلوق انسان دخدای په ستة والی اوعام رب والی باندی عقیده وساتی څکه چی دمذهب توله آبادی په دی بنیادباندی ده، ترڅوپوری چی دا عقیده نه وی ، په مذهبی میدان کی دعقل اوفکر لار ښوول هیڅ فائده نه سی رسولی ، ددی زیات تفصیل به انشاء الله په خپل مقام باندی راسی .

د دوهم ذکر په ، وَإِذْ أَخَذَ اللّٰهُ مِيثَاقَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ لَتُبَيِّنُنَّهُ لِلنَّاسِ وَلَا تَكْتُمُونَهُ : سره سوي دی ، دا عهد یوازی داهل کتابو دعالمانو څخه اخیستل سوی وو، چی دوی به حق نه پټوی بلکه په صاف او واضح طور سره به یی بیانوی .

ددریم عهد بیان په ، وَإِذْ أَخَذَ اللّٰهُ مِيثَاقَ النَّبِيِّينَ لَمَا آتَيْتُكُمْ مِنْ كِتَابٍ وَحِكْمَةٍ : سره سوي دی ، ددی تفصیل به مخ ته راسی (تفسیراحمدی)

(دمیثاق څخه څه مراد دی او دا کوم ځای وسو ؟)

میثاق کوم ځای وسو ؟ یاپه عالم ارواح کی وسو یاپه دنیاکی په ذریعه دوحی وسو د دواړو احتمال سته (بیان القرآن)

میثاق څه شی دی؟ ددی وضاحت خو قرآن شریف کړي دی، لیکن دامیثاق دڅه شی په باره کی اخیستل سوی دی؟ په دی کی اقوال مختلف دی، حضرت علی اوحضرت ابن عباس رضی الله عنهم فرمایی چی ددی څخه مراد نبی دی یعنی دا وعد الله ﷻ دټولو انبیاؤ علیهم السلام څخه یوازی دمحمد ﷺ په باره کی اخستی وه چی که دوی علیهم السلام په خپله دده ﷺ زمانه پیداکی نو په دده ﷺ به ایمان راوړی او دده ﷺ تائید اومدد به کوی اوخپلو خپلو امتونو ته به هم دا ښوونه اوهدایت کی ، حضرت طاوس حسن بصری اوقتاده رحمهم الله فرمایی چی دامیثاق دانبیاؤعلیهم السلام څخه ځکه اخیستل سوی وو چی دوی به په خپل مینځ کی دیو بل تائید اومدد کوی (تفسیر ابن کثیر)

ددی دوهم قول تائید دالله ﷻ په دی قول ، وَإِذْ أَخَذْنَا مِنَ النَّبِيِّينَ مِيثَاقَهُمْ وَمِنْكَ وَمِنْ نُوحٍ وَإِبْرَاهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ وَأَخَذْنَا مِنْهُمْ مِيثَاقًا غَلِيظًا (احزاب ، ۷) سره هم کیدی سی ځکه چی دا وعده یی د دوی څخه دیوبل دتائید اوتصدیق دپاره اخیستی وه (تفسیراحمدی)

په حقیقت کی په دی ذکر سوو دواړو تفسیرونوکی څه تعارض (ټکر) نسته په دی وجه دواړه مراد کیدی سی (تفسیرابن کثیر)

(دټولو پيغمبرانو عليهم السلام څخه دايمان دمطالبي فائده)

په ظاهره دلته دا شبهه کيدی سی چی الله ﷻ خو عليم اوخبيردی هغه ته خوپه ښه شان سره معلومه ده چی محمد ﷺ به ديونبی په موجودگی کی هم تشريف رانه وړی نوبيا دانبياؤ عليهم السلام دايمان را وړلو فائده څه ده؟ که لږ غوندی غور وسی نو فائده به بالکل معلومه اوښکاره سی چی کله دوی دالله ﷻ په ارشاد دمحمد ﷺ په ذات والا صفاتو باندی دايمان قبلولوپخه اراده وکی نو دهغه وخت څخه به ثواب پيداکی (صاوی بحواله جلالين)

(دحضور نبي اکرم ﷺ دنبوت عام والي)

وَاِذْ اَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ النَّبِيّٖنَ الخ په دی آيتونوکی دا خبره ښکاره بيان سوي ده چی الله ﷻ دټولو انبياؤ عليهم السلام څخه دا پخه وعده واخيسته چی کله په تاسی کی تر يوه نبی وروسته بل نبی راسی چی په يقين سره دمخکنيوپيغمبرانو او د دوی دکتابونو تصديق کوونکی وی (يعنی هغوی ته ريښتيني وايی) نو د اولنی نبی دپاره دا ضروری ده چی ددی وروسته نبی په ريښتينوالی اونبوت باندی په خپله هم ايمان راوړی ، او نورو ته هم ددی ښوونه وکی، دقرآن کريم ددی قاعدی کليي (عامی قاعدی) څخه دړنا ورځی په شان دا خبره په ډاگه کيږی چی الله ﷻ به دمحمد ﷺ په باره که هم داسی وعده دانبياؤ عليهم السلام څخه اخيستی وی لکه چی علامه سبکی رحمه الله په خپله رساله (التعظيم والمنة فی لتومنن به ولتنصرنه) کی فرمايي چی ، په آيت کی درسول څخه مراد محمد ﷺ دی ، بل يو نبی داسی نه دی تيرسوی چی دهغه څخه الله ﷻ د دوی دذات والا صفات په باره کی دتائيد اومدد او په دوی باندی دايمان راوړلو وعده نه وی اخيستی اوبل يوداسی نبی نه دی تيرسوی چی هغه خپل امت ته په ده ﷺ باندی دايمان راوړلو اودتائيد اومدد کولو وصيت نه دی کړی اوکه دنبی کريم ﷺ بعثت (نبی مقرر کيدل) دانبياؤ په زمانه کی وای نو ددی ټولوبه دی ﷺ نبی وای اوهغوی به دده ﷺ په امت کی شمار وای ، ددی څخه معلومه سوه چی دده ﷺ شان محض دامت دنبی نه دی بلکه دنبيانونبی هم دی ، چناچه په يوحديث کی دی ﷺ په خپله ارشاد فرمايي چی که نن موسیٰ عليه السلام هم ژوندی وای نو دهغه به هم زما دتابعداری څخه علاوه بله چاره نه وای ، او په يوبل ځای کی ارشادفرمايي چی کله عيسیٰ عليه السلام نازل سی نو هغه به هم په قرآن حکيم اوستاسی دنبی په احکامو باندی عمل کوی (تفسير ابن کثير)

ددی څخه معلومه سوه چی دده ﷺ نبوت عام اوټولوته شامل دی او دده ﷺ په شريعت کی مخکنی ټول شريعتونه مدغم (پټ) دی ، ددی بيان څخه دده ﷺ دارشاد ، بُعِثْتُ اِلَى النَّاسِ كَافَّةً: صحيح مفهوم ښکاره اوواضح کيږی اوهغه دا چی ددی حديث مطلب داګڼل چی دده ﷺ نبوت دده ﷺ دزمانی څخه ترقيامته پوری دی صحيح نه دی ، بلکه دده ﷺ دنبوت زمانه دومره پراخه ده چی دآدم عليه السلام ترنبوت هم مخکی شروع کيږی ، لکه چی په يوحديث کی دی ﷺ فرمايي چی ، كُنْتُ نَبِيًّا وَآدَمُ بَيْنَ الرُّوْحِ وَالْجَسَدِ

په قیامت کې دلوی شفاعت دپاره وړاندې کیدل او دټولو انسانانو ده ﷺ ترجنډې لاندې جمع کیدل او دمعراج په شپه په بیت المقدس کې دټولو انبیاؤ علیهم السلام امامت کول دحضورنبي اکرم ﷺ ددې عامې سرداری او دلوی امامت دنښانو څخه دی .

وَمَنْ يَّبْتَغِ غَيْرَ الْاِسْلَامِ دِيْنًا فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْهُ ۚ وَهُوَ
اوڅوك چې غواړی ماسوا ددین اسلام څخه بل څه دین پس دده څخه به هرگز قبول نه سی او هغه

فِى الْاٰخِرَةِ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿۸۵﴾
په اخرت کې خراب دی.

لنډتفسیر: اوکوم سړی چې داسلام څخه ماسوا بل دین طلب کې نو دغه (دین) به د (دی سړی) څخه (دخدای ﷻ په نزد) مقبول (اومنظور) نه وی او (دغه سړی به) په آخرت کې دتباه سوو څخه وی (یعنی نجات به نه کې پیدا)

معلومات اومسئلي

(داسلام پیژندل اوپه دی سره خلاصون حاصلول)

داسلام لفظی معنی دحکم منل اوفرمانبرداری ده اوپه اصطلاح کې خاص دهغه دین دحکم منلونوم اسلام دی کوم چې الله ﷻ دخپلو پیغمبرانو په ذریعه دانسانانو دهدایت دپاره رالیږلی دی ځکه چې ددین اصول دټولو انبیاؤ په شریعتونوکې یو دی .

بیا لفظ د (اسلام) کله ددی عام مفهوم (مطلب) دپاره استعمالیږی، اوکله یوازی ددی آخری شریعت دپاره ویل کیږی کوم چې په خاتم الانبیآء ﷺ باندی نازل سوی دی په قرآن کریم کې ورڅخه دا دواړه مطلبونه یعنی معنی اخیستل سوی دی او ددی دواړو دپاره استعمال سوی دی ، دتیروپیغمبرانو خپل ځان ته مسلمان ویل اوخپل امت ته مسلمان امت ویل هم دقرآن په آیتونوسره ثابت دی اوددی نوم دخاتم الانبیاء ﷺ په امت سره خالص والی هم ذکر دی .

هُوَ سَمّٰكُمُ الْمُسْلِمِيْنَ مِنْ قَبْلُ وَفِيْ هٰذَا: لنده دا چې هرخدایی دین چې دکوم نبی اورسول په ذریعه دنیاته راغلی دی هغه ته هم اسلام ویل کیږی، اودامت محمدیه دپاره دیوخاص لقب په طورسره هم استعمالیږی، اوس سوال دا دی چې په قرآن کریم کې دلته داسلام دلفظ څخه کوم مفهوم مراد دی؟

صحیح خبره دا ده چې په دواړوکې هریو مراد واخیستل سی نو دنتیجی په اعتبار سره څه خاص فرق نه راځی ، ځکه چې دتیرو پیغمبرانو دین ته چې کوم داسلام نوم ورکول سوي دی هغه دیوڅو خاصو خلکو اویوخاصی زمانی دپاره وو ، ددغه وخت اسلام هغه وو ، ددغه خاصو خلکو اوامت څخه علاوه دنورو دپاره دغه وخت هم دغه اسلام معتبر نه وو اوکله چې به ددغه نبی څخه وروسته بل نبی راولیږل

سو نو هغه به اوس اسلام پاته نه سو، ددغه وخت به هغه اسلام ووچې دغه نوی نبي به وړاندی کی، په دی کی دا ښکاره خبره ده چې څه اصولي اختلاف به نه وو، لیکن فروعي اختلاف په کښې کیدی سی اوخاتم الانبیاء ﷺ ته چې کوم اسلام ورکول سو هغه دمنسوخ کیدو قابل نه دی اوترقیامته پوری به وی او د ذکرسوی قاعدی مطابق د دوی دبعثت (پیغمبر کیدو) څخه وروسته هغه زاړه ټول دینونه منسوخ سوه، اوس هغه دینونه اسلام نه دی، بلکه اسلام یوازی هغه دین دی کوم چې دنبي کریم ﷺ په واسطه سره رارسیدلی دی، په دی وجه په صحیحو معتبرو احادیثو کی دی چې نبي کریم ﷺ فرمایلی دی، چې نن که حضرت موسٰی ﷺ ژوندی وای نو دغه وخت به په ده هم زما تابعداری لازمه وای، او په یوحدیث کی یی ارشاد فرمایلی دی چې قیامت ته نژدی به حضرت عیسٰی ﷺ نازل سی نو سره ددی چې دځپل نبوت په صفت به موصوف وی یعنی نبي به وی اودنبوت په عهده به قائم وی خوبیابه هم دنبي کریم ﷺ دشریعت تابعداری کوی (او دا دین به چلوی) نو په دی وجه که دلته داسلام عامه معنی مراد سی اوکه خاص دین محمدی ورڅخه مراد واخیستل سی نو نتیجه د دواړو یوه ده چې دخاتم الانبیاء ﷺ تربعثت وروسته به یوازی هغه ته دین اسلام ویل کیږی کوم چې دده ﷺ په ذریعه باندی دنیا ته رسیدلی دی دغه اسلام دټولو خلکو دپاره دخلاصی (نجات) ذریعه ده، په ذکر سوی آیت کی ددی متعلق ارشاد فرمایل سوي دی چې داسلام څخه ماسوا بل دوهم دین چې کوم سړی اختیارکی هغه دالله ﷻ په نزد باندی مقبول نه دی ددی مضمون زیات تفصیل ددی سورة ترآیت، اِنَّ الدِّيْنَ عِنْدَ اللهِ الإِسلَامُ: لاندی په ص ۱۰۵: او وروستی صفحاتو کی تیرسوي دی په همدی دریمه پاره کی.

۸۵ كَيْفَ يَهْدِي اللهُ قَوْمًا كَفَرُوْا بَعْدَ إِيْمَانِهِمْ

څنګه به لار وښیی الله داسی خلقو ته چې کافران سوه تر ایمان را وړلو وروسته

وَشَهِدُوْٓا اَنَّ الرَّسُوْلَ حَقٌّ وَّجَآءَهُمُ الْبَيِّنٰتُ ۭ وَاللهُ لَا

او شاهدی یی ورکړه چې بیشکه رسول رښتینی دی او راغلی دوی ته ښنانی ښکاره او الله پاك هدایت

يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ۸۶ اُولٰٓئِكَ جَزَآؤُهُمْ اَنَّ عَلَيْهِمْ

(لار) نه ورکوی ظالمانو خلقو ته، دداسی خلقو سزا دا ده چې په دوی

لَعْنَةَ اللهِ وَالْمَلٰٓئِكَةِ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ ۸۷ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ

لعنت دی دالله او دملائکو او دخلقو ټولو همیشه به وی په دی کی

لَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنْظَرُونَ ﴿۸۸﴾ إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا

سپك به نه سي د دوی څخه عذاب او نه به دوی ته فرصت ورسيږي مگر چاچې توبه وكړه

مِنْ بَعْدِ ذٰلِكَ وَأَصْلَحُوا فَإِنَّ اللّٰهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿۸۹﴾ إِنَّ

ددې څخه وروسته اونيك كاريې وكې نو بيشكه الله بخښونكی مهربانه دی ، كوم

الَّذِينَ كَفَرُوا بَعْدَ إِيمَانِهِمْ ثُمَّ ازْدَادُوا كُفْرًا لَّنْ تُقْبَلَ

خلق چې منكر سوه وروسته دايمان څخه بيا زيات سو په انكار كې هرگز به قبوله نه سي

تَوْبَتُهُمْ وَأُولٰٓئِكَ هُمُ الضَّآلُّونَ ﴿۹۰﴾ إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَمَاتُوا وَ

د دوی توبه او دغه گمرهان دي كوم خلق چې كافران سول او مړه سول په كفر كې

هُمْ كُفَّارٌ فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْ أَحَدِهِمْ مِّلْءُ الْأَرْضِ ذَهَبًا وَّلَوِ

نوهرگز به قبول نه سي ديو چا داسي څخه مخكه ډكه دسرو زرو كه څه هم

افْتَدٰى بِهٖ أُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ وَّمَا لَهُمْ مِّنْ نّٰصِرِينَ ﴿۹۱﴾

بدله كې وركړي دومره قدر سره دوی لره عذاب دردناك دی اوهيڅوك نسته د دوی مدد گار .

لنډتفسير: (اول ددين څخه دمرتدسوو هغو خلگو بيان دی چې په كفر باندي ولاړ وه اودا كفر يې هدايت گڼي كله چې د دوی عقيده يادعوه دا وه چې الله ﷻ مونږ ته اوس هدايت فرمايلی دی نو په دې وجه د دوی په بدوالي بيانولوكي ددی هدايت نستوالي هم بيانوی فرمايي چې) الله ﷻ به داسي خلگو ته څنگه هدايت كوي چې كافران سوي دي وروسته تر ايمان راوړلو (په زړه سره) اووروسته ترځپل دی اقرار (په ژبه سره) چې رسول (ﷺ په دعوٰی درسالت كې) رښتينی دی اووروسته تردې چې دوی ته ښكاره دليلونه (داسلام دحق والي) رسيدلي وه اوالله ﷻ داسي بې دبه خلگو ته هدايت نه كوي (دا مطلب نه دی چې داسي خلگوته هيڅ ځاى هم داسلام توفيق نه وركوي بلكه مقصود ددوی ددې لوړې ذكر سوی دعوی نفی كول دي چې دوی به ويل چې مونږ چې اسلام پريښی دی او دا طريقه مواختيار كړې ده دا مونږ ته خداى هدايت كړې دی نو ددی نفی خلاصه دا سوه چې كوم سړی دكفر بې دبه لار اختيار كې هغه دالله ﷻ په هدايت باندي نه دی په دې وجه هغه دا نه سي ويلې چې ماته خداى هدايت كړې دی څكه چې دهدايت دالارنه ده بلكه داسي خلگ يقيني گمراه دي او) دداسي خلگو سزا دا ده

چې په دوی دالله ﷻ هم لعنت وی او دملائکو هم او (دډیرو) خلکوهم (غرض) دټولو (اوبیا هغه لعنت به هم په داسی طورسره وی چې) دی به دهمیشه همیشه دپاره په دی (لعنت) کی اوسی (اوکله چې ددی لعنت اثر جهنم دی نو مطلب دا سو چې دی به په جهنم کی همیشه همیشه وی او) دده څخه به عذاب سپک کول کیږی هم نه او نه به (تردا خلیدو مخکی) دده ته (ترڅه میعاده پوری) مهلت ورکول کیږی (مخ ته دهغوی بیان دی چې بیامسلمان سی دوی ددی حکم څخه جلا کوی یعنی) مگر البته ! کوم خلک چې توبه وباسی ددی (کفر) څخه وروسته (یعنی مسلمانان سی) او خپل ځان (دزړه) سره (هم) برابرکی (یعنی دمنافقانو په شان یوازی په ژبه باندی کافی نه ده) نو بیشکه (دداسی خلگو دپاره) خدای بخښونکی دی ، رحمت کوونکی دی ، بیشکه کوم خلک چې کافران سول ترخپل ایمان راوړلو وروسته بیازیات سول په کفر کی (یعنی په کفر یی همیشه والی وکی ایمان یی رانه وړی) د دوی توبه (کومه چې دنورو گناهونو څخه یی کوی) هیڅکله به قبوله نه وی (ځکه چې توبه دگناهونو څخه یو فرعی اطاعت دی او دفرعی عبادت دقبلیدو شرط ایمان دی) او داسی خلق (ددی توبی څخه وروسته هم په دغه دستور سره) یابنه گمراهان دی .

بیشکه کوم خلق چې کافران سوه او د دوی مرگ هم په دغه حالت دکفرکی راغی نو په دوی کی دیوچا څخه (په طوردکفاری سره) دکه مځکه دسرو زرو به هم نه اخیستل کیږی که څه هم دی دغه په بدله کی ورکول هم وغواړی (اوبی ورکولو یی هم څوک پوښتنه کوی؟) دداسی خلگو دپاره به دردناکه سزاوی او د دوی حامی (مددگار) به هم څوک نه وی .

معلومات اومسئلي

(دیوه شک لیری کول)

کَیۡفَ یَهۡدِ اللّٰهُ الخ : ددی آیت څخه په ظاهره دا شبهه (شك) پیداکیږی چې یو سړی ته ترمرتدکیدو وروسته بیا هدایت نه سی نصیب کیدی او حال دا دی چې داسی نه ده ځکه چې ډیرخلک ترمرتد کیدو وروسته ایمان قبول کی او هدایت پیدا کونکی جوړسی .

جواب یی دا دی چې دلته چې دکوم هدایت نفی (نیستوالی) سوی دی ، ددی مثال داسی دی چې لکه یو بدمعاش ته یوحاکم په خپل لاس سره سزا ورکی او دغه بدمعاش بیاوایی چې ماته حاکم په خپل لاس سره خصوصیت راکړي دی یعنی زه یی خاص کړی یم اوپه جواب کی ورته ویل کیږی چې داسی بدمعاش ته مونږ خصوصیت ولی ورکو یعنی دا کار دسره خصوصیت نه دی ، اومطلب یی دا نه وی چې دا سړی په هیڅ شان سره دخصوصیت قابل کیدی نه سی که څه هم دی نیك چلنه اوسم سړی جوړسی (بیان القرآن)

دریمه پاره ختمه سوه